د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د میرویس اباسین لخوا سکین شو




Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

﴿وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ ﴿٤١﴾﴾ [حم السجدة]

او بېشکه دا ذکر (قرآن) هرومرو. کلک (قوي) کتاب دی

# عزیز التفاسیر

د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر

د "المائدة" [۵۱] ایت څخه د "الأعراف" تر [۱۴۱] ایت پورې

## څلورم ټوک

مولوي سلطان عزیز (عزیز) أبو حذیفه عفی الله عنه

حسن خیل مومند، د نجم المدارس پخوانی استاذ

ناشر: دار الکنوز العلمیة

Downloaded from: bawarketabtoon.com

بسم الله الرحمن الرحیم

- د دې کتاب لیکنه د الله ﷻ په توفیق په دار الهجرة (پیښور - پاکستان) کې په ۱۴۱۱/۲/۳ هـ ق = ۱۳۶۹/۶/۲ هـ ش نیټه د جمعې د شپې په دوه بجو پیل، او په ۱۴۲۶/۴/۱۲ هـ ق = ۱۳۸۴/۱/۳۱ هـ ش نیټه پای ته ورسیده.
- په ۱۴۲۹/۱/۱ هـ ق= ۱۳۸۶/۱۰/۲۰ هـ ش نیټه یې بیا کتنه، تصحیح او ډیزاین ترسره شوه او د الله ﷻ په فضل چاپ ته چمتو شو.
- له شروع نه تر پایه وربانديې اوولس کاله، خلور میاشتې او اوولس ورځې تېرې شوي، البته په دې حساب کې هره میاشت د دیرشو ورځو په لحاظ نیولې شوې ده.
- کمپوز: مولوي تبیان الحق عزیز حقاني، تصحیح: قاضي اسامه عزیز، د (دکتور اظهار الحق عزیز، نبراس الحق عزیز او حذیفه عزیز) په همکارۍ، ډیزاین: نبراس الحق عزیز، د حذیفه عزیز په همکارۍ.

## خلورم چاپ

## ۱۴۳۷هـ ق / ۱۳۹۵هـ ش


**د دې کتاب ټول حقوق محفوظ دي**



د اړیکو پتې:

۱) بریښنالیک: azizultafasir@gmail.com

۲) گرځنده تلفون: (۰۰۹۲۳۰۰۵۸۴۶۳۵۱)، (۰۰۹۲۳۱۶۵۲۷۹۳۰۳)



د لاسته راوړلو پتې:

۱) رشیدیه کتب خانه، کابل، افغانستان.

گرځنده تلفون: (۰۷۷۱۹۶۱۰۲۸)، (۰۷۹۰۹۶۲۸۰۷)

۲) رشیدیه کتب خانه، صدف پلازه، محله جنگي، د قصه خواني شاته، پیښور، پاکستان.

تلفون: (۰۹۱۲۵۶۵۵۳۸)


Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَـٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن
يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٥١﴾ فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِى
قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَـٰرِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ ۚ فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأْتِىَ
بِٱلْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِۦ فَيُصْبِحُواْ عَلَىٰ مَآ أَسَرُّواْ فِىٓ أَنفُسِهِمْ نَـٰدِمِينَ ﴿٥٢﴾ وَيَقُولُ
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَهَـٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ ۙ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۚ حَبِطَتْ أَعْمَـٰلُهُمْ
فَأَصْبَحُواْ خَـٰسِرِينَ ﴿٥٣﴾ ﴾

[۵۱] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! یهودان او نصارا (د خپلو خانونو دپاره) کومکیان (او دوستان) مه نیسئ، دوی خپلو د خینو نورو کومکیان دي (ستاسو کومکیان نه دي).
او ستاسو څخه چې هرڅوک هغوی (د مسلمانانو په ضد) کومکیان ونیسي نو یقینًا هغه د هغوی څخه دي (څه چې هغوی ته رسېږي ده ته به هم ورسېږي). بې شکه الله ﷻ ظالم قوم ته لاربنودنه نه کوي.

[۵۲] نو ته به (د ذکر شوي اعلان څخه وروسته) هغه خلک وګورې چې د دوی په زړونو کښې مرض دی چې د هغوی په (موالاة) کښې به تاند وهي، وایي به چې مونږ ډارېږو چې د زمانې حوادث به راورسېږي (او هغوی به مو په کار راشي).
نو شاید چې الله ﷻ فتحه راولي او یا د خپله جانبه یو بل کار (راولي) نو دوی (مریضان) به په هغه شي باندې چې دوی په خپلو زړونو کښې ساتلی دی پښېمانه شي.

[۵۳] او (ته به وګورې) هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی (او په زړونو کښې یې مرض نشته دوی به) خینې خینو نورو ته (په تعجب سره) وایي چې: ایا دغه ډله هغه کسان دي چې په الله ﷻ باندې یې قسمونه کول کلک قسمونه، چې یقینًا دوی خامخا ستاسو سره دی (خو خبره داسې نه ده) د دوی عملونه ضائع شوه نو زیانکاران وګرځېدل.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته توصیه کړې وه چې اهل الکتاب نیت لري چې تا د برابرې لارې څخه واړوي ترڅو ته په قضایاوو کښې په هغه څه باندې فیصلې ونه کړې چې الله ﷻ نازل کړي دي او د دوی د غوښتنو پیرو شې، په دې ایتونو کښې ټول مؤمنان متوجه کړی شوي دي چې د یو پلوه د اهل الکتابو د تېر وېستلو څخه خانونه وساتي او د بله پلوه د مسلمانانو په ضد باندې د دوی سره لاس یو نه کړي.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## شان نزول

مفسرینو کرامو د ذکرو شوو ایتونو د شان نزول په باره کښې متعدد واقعات لیکلي دي[1] څه لرې نه ده چې ټول واقعات به وړاندې ېېرته پېښ شوي وي، خو مونږ د دغو ټولو د جملې څخه لاندې دوه واقعې لیکو، هغه دا چې:

۱ـ یوه ورځې د نبي کریم ﷺ په حضور کښې عبادة بن الصامت ﷺ وویلې چې زه د یهودو څخه ډېر کومکیان لرم چې د پوره قوت خاوندان دي، مګر دوی ټول مې د الله ﷻ او د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ د ولایت او نصرت په خاطر پرېښې دي او د ټولو څخه بېزار یم.

د ده په مقابل کښې عبد الله بن أبي (رئیس المنافقین) وویلې چې زه خو د یهودانو د دوستۍ څخه لاس نه اخلم او خپله بیزاري ترې نه اعلانوم ځکه چې د حوادثو څخه ډارېږم، امکان لري چې په راتلونکې کښې مې په کار شي.

نوموړې ته نبي کریم ﷺ وفرمایل چې په کوم شي باندې چې ته افتخار کوې او لاس ترې نه اخلې هغه دې همدا ستا وي، نوموړي وویلې چې همدا مې قبوله ده[2]. نو الله ﷻ د همدې ایتونو څخه نیولې آن تر [۶۷] ایت پورې اولس (۱۷) ایتونه نازل کړه[3].

۲ـ کله چې د أحد غزا تېره شوه او مسلمانانو شکست وخوړ نو په ځینو خلکو باندې ډېره او ډار غلبه وکړه چې اسلام د منځه تلونکی دی، په کار دي چې د خپلو ځانو دپاره په نورو خلکو کښې د نصرت ځای پیدا کړو. یوه سړي وویلې چې زه به د فلاني یهودي سره یهودي شم، او بل وویلې چې زه خو د فلاني نصراني پورې ننښلم او ورسره نصراني کېږم. نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه[4].

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای هغو کسانو چې د ایمان مدعیان یاست! (برابره خبره ده چې واقعاً مؤمنان یاست او یا مو یوازې په خولو باندې ایمان راوړی دی)، تاسو د مؤمنانو په مقابل کښې مه د یهودو سره لاس یو کوئ او مه د نصاراوو سره، په دې تمه باندې چې د دوی اندیوالي به یو وخت ستاسو په درد باندې وخوري او د زماني د حوادثو په مقابل کښې به مو په کار درشي، ځکه چې:

الف: د یهودو او نصاراوو د هرې ډلې اشخاص د خپلې ډلې د اشخاصو دپاره کومکیان او ناصران دي، هغوی به تر هغه وخته پورې ستاسو کومکیان جوړ نه شي ترڅو چې تاسو د خپل دین څخه لاس واخلئ او د هغوی یقین راشي چې تاسو رښتیا یا یهودان او یا نصرانیان جوړ شوي یاست.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۶ ص۲۴۳

(۲) تفسیر البغوي ج۲ ص۴۴، اسباب النزول للواحدي ص۱۳۲

(۳) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص ۶۹

(۴) الدر المنثور ج۳ ص۹۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نو ستاسو څخه هر څوک چې ذکر شوی چال چلند وکړي هغه به خپل ځان د ظالمانو څخه شمېر کړي او الله ﷻ خو ظالمانو ته هدايت نه کوي، څوک چې عقيدهٔ د هغوی سره ملګری شي نو د هغه په کفر کښې څه شک نه پاتې کېږي او که عملاً يې کومکي جوړ شي نو د الله ﷻ په غضب کښې به ورسره شريک شي، چې کله ورباندې نازل کړی شي.

۲_ ای پيغمبره! ته خو ګورې چې منافقان او ځينې د کمزورو عقيدو والا مسلمانان فعلاً په يهودانو او نصاراوو پورې څومره کلک نښتي دي او د دوی د نصرت په لاس ته راوړلو کښې څومره تاند وهي چې په بده ورځ کښې به يې په کار باندې ورشي، مګر الله ﷻ ته اُميد وکړئ چې د دوی وطنونه د مسلمانانو په لاس باندې فتحه کړي او يا مسلمانان دومره قوي کړي چې حتی مکه معظمه (چې د ټول عربستان مرکز دی) په خپل تسلط کښې راولي، او بالآخره يا الله ﷻ په يهودانو او نصاراوو باندې جزيه وټاکي او يا په دوی باندې يو بل مصيبت نازل کړي چې د دوستانو د نصرت تمه يې وشکوي.

نو کله چې الله ﷻ د ذکر شوو کارونو څخه کوم يو کار وکړي نو هلته به هغه ټول خلک پښېمانه شي کوم چې د اهل الکتابو په لمنو پورې نښتي وه او په تمه وه چې په بده ورځ کښې به يې په درد باندې وخوري او دا څکه چې دوی به په خپلو سترګو باندې وګوري چې هغوی خپل ځانونه د الله ﷻ د نيونې څخه نه شي بچ کولی نو بل چا ته به څنګه نجات ورکړی شي.

لنډه دا چې کله ته (ای پيغمبره!) د يهودو او نصاراوو د عدم موالاة اعلان وکړې نو ته به وګورې چې منافقان او د کمزورې عقيدې خاوندان به د الله ﷻ هدايت او توصيې ته پاملرنه ونه کړي او د کافرانو په لمنو پورې به ونښلي، مګر بالمقابل به د قوی عقيدې خاوندان او کلک مؤمنان وګورې چې دوی به د هغوی د حال څخه تعجب کوي چې عجيبه ده تر نن ورځې پورې يې قسمونه کول چې مونږ ستاسو سره ياستو او اوس يې زمونږ په مقابل کښې د کافرانو صف قوي کړ او د هغوی په صف کښې ودرېده، نو د يو پلوه يې عملونه ضائع شوه البته هغه عملونه چې زمونږ په انډيوالۍ کښې يې کړي وه، او د بله پلوه د لوی زيان او تاوان سره مخامخ شوه، چې دنيا او آخرت يې دواړه خراب شوه.

## توضيحات

۱_ مونږ د الله ﷻ په توفيق سره د [آل عمران:۲۸] ايت لاندې د کافرانو سره د موالاة او نژدېکت درې صورتونه ښه پوره واضحه کړي دي، هيله ده چې يو ځل پرې نظر واچول شي. مګر په دې مقام کښې پرې وراضافه کوو چې:

دلته د اهل الکتابو د موالاة (نژدېکت) څخه هغوی سره د نصرت[1] او خلوص موالاة مطلب دی،

(۱) تفسير الطبري ج۴ ص۲۷۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د مؤمنانو په مقابل کښې د کافرانو سره لاس یو کړي او د هغوی په څنګ کښې ودرېږي، لکه چې په همدې مضمون باندې د شان نزول واقعات ښه دلالت کوي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: ایا په ذکر شوي ډول موالاة (نژدېکت) باندې سړی کافر کېږي، لکه چې ﴿ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡ ﴾ وریاندې دلالت کوي؛ او که څنګه؟

مونږ وایو چې: د ﴿ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡ ﴾ جمله په لاندې ټولو صورتونو باندې صادقېږي:

الف: که یو منافق د مؤمنانو د مقابلې دپاره د کافرانو په صف کښې ودرېږي نو د ذکرې شوې جملې معنی دا ده چې نوموړی اوس منافق نه بلکې ښکاره کافر ګڼل کېږي او منافقت یې په علني کفر باندې بدل شو.

ب: که بالفرض یو مسلمان د کافرانو په قطار کښې د دې کبله ودرېږي چې د هغوی مسلک ورته ښه ښکاري نو د ده په کفر کښې هم هیڅ شک او شبه نشته.

ج: کوم یو مسلمان چې د عقیدې د استقامت سره-سره عملًا د کافرانو په قطار کښې د مسلمانانو په ضد باندې ودرېږي هغه په لاندې حکمونو سره د کافرانو د جملې څخه ګڼل کېږي:

اول: مجاهدینو ته د هغه وژل داسې جائز دي لکه څنګه چې د ده د انډیوالانو وژل ورته جواز لري.

دوهم: د قیامت په ورځ نوموړی هم د خپلو انډیوالانو غوندې دوزخي دی، البته چې انډیوالان به یې پکښې همېشه وي او نوموړی به ترې د ایمان په برکت یو وخت وویستلی شي او جنت ته به بوتللی شي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وایي چې: الله ﷻ د یهودانو او نصاراوو حالات داسې بیان کړي دي چې یوه ډله بلې ته په سپک نظر ګوري.یا په بل عبارت: یوه ډله د بلې ډلې دښمنه ده لکه چې فرمایي: ﴿ وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ لَيۡسَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَقَالَتِ ٱلنَّصَٰرَىٰ لَيۡسَتِ ٱلۡيَهُودُ عَلَىٰ شَيۡءٖ وَهُمۡ يَتۡلُونَ ٱلۡكِتَٰبَ ﴾ [البقرة:۱۱۳] یعني: او یهودان وایي چې: نصارا په چندان (اعتمادي) دین باندې نه دي او نصارا وایي چې یهودان په چندان (اعتمادي) دین باندې نه دي او دوی (دواړه ډلې) کتاب هم لولي.

نو پوښتنه داده چې په دې مقام کښې په څه منظور یوه ډله د بلې دوسته او ناصره ګڼله شوې ده: ﴿ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖ ﴾؟

مونږ وایو چې:

الف: د ﴿ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖ ﴾ معنی دا ده چې یهودان په خپلو منځو کښې سره دوستان او

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کومکیان دي او نصارا په خپلو منځو کښې سره دوستان او کومکیان دي[١]. یا په بل عبارت: ذکره شوې جمله په یوه ډله باندې جدا جدا صادقېږي، داسې نه ده چې دواړه ډلې ورته په ګډه مصداق جوړ شي ترڅو ذکر شوی اعتراض وارد شي.

د ذکرې شوې جملې نظیر دا دی چې الله ﷻ د همدغو دواړو ډلو د حالاتو په بیان کښې داسې عبارت نازل کړی دی چې: ﴿ وَقَالُوا لَن يَدْخُلَ ٱلْجَنَّةَ إِلَّا مَن كَانَ هُودًا أَوْ نَصَٰرَىٰ ﴾ [البقرة: ١١١]

یعنې: او دوی (دواړه ډلې) وایي چې: هیڅکله به جنت ته داخل نه شي مګر هغه څوک چې یا یهودي او یا نصراني وي، یعنې هره یوه ډله فقط خپل خانونه د جنت د دخول مستحق ګڼي، نه بله ډله.

ب: څه لرې نه ده چې د ذکرې شوې جملې مطلب دا وي چې دواړه ډلې هره یوه د بلې ډلې دوسته او ناصره ده مګر د مسلمانانو په مقابل کښې او بس.

او دا خو واقعیت لري چې ټول اهل الکتاب د اسلام په مقابل کښې یو صف دی او ټول سره یو لاس دي، لکه چې مونږ نن ورځ[٢] ګورو چې شرقیان او غربیان ټول په اتفاق سره زیار باسي چې په افغانستان کښې د اسلامي حکومت مخه ونیسي، او د همدې غرض دپاره یې خپلمنځي اختلافات یو طرف ته کړي دي.

مګر دا بېله خبره ده چې ذکرې شوې دواړه ډلې په مجموعي شکل سره وسه نه لري چې زمونږ په مقابل کښې وسلواله یوه جبهه جوړه کړي او په اتفاق سره وجنګېږي، لکه چې ښه وضاحت یې په [المائدة:٦٤] ایت کښې را روان دی، چې دوی دواړه ډلې د قیامت د ورځې پورې په مشترکه لښکرکشۍ باندې توافق ته نه شي رسېدلی.

## دَائِرَة څه معنی؟

٤_ که څه هم د ﴿ دَآئِرَةٌ ﴾ کلمه د "دَوَرَان" څخه اخستله شوې ده او "دَوَرَان" تاوېدلو ته وایي، د همدې کبله هغې سطحې ته دائره وایي چې یوه داسې خط احاطه کړې وي چې د ټولو اطرافو نسبت یې مرکز ته یو برابر وي، او همدارنګه کله-کله په ذکر شوي محیطي خط باندې هم د دائرې اطلاق کېږي[٣]، مګر په استعمال کښې هغې زړه دردوونکې حادثې ته دائره وایي چې سړی یې د هره طرفه احاطه کړی وي او د تېښتې لاره یې ترې ورکه کړې وي[٤].

بالمقابل هغې خوشالوونکې حالت ته "دَوْلَة" وایي چې په یوه طرف کښې یې هم د مخنیوي او د منځه د وړلو اسباب نه لیده کېږي[٥].

---

(١) روح المعاني ج٦ ص١٥٧
(٢) ١٣٧٣/٨/١٢ هـ ش
(٣) روح المعاني ج٦ ص١٥٨
(٤) مفردات الراغب ص١٧٦
(٥) تفسیر القاسمي ج٦ ص٢٤١

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په دې مقام کښې يې حاصل داسې راوځي چې مونږ څکه د يهودو او يا نصاراوو سره موالاة کوو ترڅو مو په داسې ورځ کښې په کار راشي چې په هغې کښې د هره طرفه يوې زره دردوونکې حادثې راګير کړي ياستو او د خلاصون درک مو ورک وي، چې يا راباندې قحطي او وچکالي راشي او دوی راسره کومک او قرضداري وکړي، او يا د مسلمانانو دولت مخ په ځت شي او د پښتو ولوړي چې د دوی د سيوري لاندې ژوند وکړو.

## فتحه او الهي امر څه فرق لري؟

٥ـ په دې مقام کښې الله ﷻ د منافقانو د ندامت او پښېمانۍ دپاره دوه سببونو ته اشاره وکړه چې يو فتحه ده ﴿ أَن يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ ﴾، او بل الهي کار دی ﴿ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ ﴾، نو مفسرينو کرامو د دواړو سببونو په منځکښې ډېر فرقونه ليکلي دي او هر يوه ته يې بيل-بيل مصداقونه ذکر کړي دي[١]، مګر مونږ ته چې په دې مقام کښې کوم شی ښه ښکاره شوی دی هغه دا دی چې:

الف: د "اَلْفَتْح" کلمه اصلاً د دې دپاره وضعه شوې ده چې د يوه شي مشکلات حل شي او موانع يې د منځه يوړل شي[٢]، نو په دې مقام کښې لاندې ټول صورتونه په "اَلْفَتْح" کښې شاملېږي:

اول: چې مسلمانانو ته د اهل الکتابو د مساکنو د قبضه کولو فيصله ورکړې شي، لکه چې خيبر او نور ځايونه مجاهدينو فتحه کړه.

دوهم: چې په هغوی باندې فيصله وکړه شي چې د وطنه يې وشړي، لکه چې بني قينقاع او بني نضير د همدې فيصلې سره مخامخ شوه.

دريم: چې په هغوی باندې د اعدام فيصله وکړې شي لکه چې په بني قريظه وو باندې همدا فيصله عملي شوه (بېخ يې وويستلی شو).

څلورم: چې په هغوی باندې جزيه کېښودله شي او حتی خپل ځانونه هم د دې ذلت څخه خلاص نه کړی شي.

پنځم: چې الله ﷻ د هغوی د رسوائی او شرمولو فيصله وکړي لکه چې عبد الله بن مسعود ﷺ په اوږد حديث کښې وايي چې يوه ورځې مونږ ته نبي کريم ﷺ اوږده خطابه وکړه او په دې خطابه کښې يې وفرمايل چې: «فَمَنْ سَمَّيْتُ فَلْيَقُمْ»[٣] يعني ما چې د چا نوم واخست نو هغه دې پورته شي، او بيا يې په نامه باندې يوه-يوه ته غږ کاوه چې: ای فلانکيه! پورته شه، ای فلانکيه! پورته شه، ای فلانکيه! پورته شه، حتی چې شپږ ډېرش (٣٦) کسه يې د مجلسه پورته کړه.

په همدې حديث کښې عمر ﷺ وايي چې ما يو منافق وليد چې سر يې پټ کړی وه (ډېر غمژن

---

(١) زاد المسير ج٢ ص٢٩٠

(٢) مفردات الراغب ص٣٨٣

(٣) مسند احمد بن حنبل ج٨ ص٣١٧

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معلومېده) ما ترې پوښتنه وکړه چې ولې څه چل دی؟، هغه راته قیصه وکړه (چې مونږ خو رسوا شوو)، نو ما ورته وویلې چې: «بُعْدًا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ» یعنې: په راتلونکې کښې هم ښه ورځ ومه ګورې.

شپږم: دا ډول څه نور مثالونه هم درلودلی شي چې پخوا به تېر شوي وي او یا به راتلونکې کښې تحقق ومومي.

ب: که څه هم ټول کارونه الله ﷻ کوي مګر د مقابلې څخه څرګندېږي چې دلته به د ﴿ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ ﴾ کلمه هغو ټولو کارونو ته شامله وي چې په اهل الکتابو باندې د الله ﷻ د پلوه نازل کړی شي او د بندګانو پکښې هیڅ مداخله نه وي چې په نتیجه کښې د منافقانو او هغو خلکو اُمیدونه د خاورو سره برابر کړي چې هغوی ته په تمه وه. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

اول: چې الله ﷻ یې په زړونو کښې رعب واچوي او په غیبي قوت سره یې شوکت او دبدبه ماته کړي. لکه چې د بني نضیرو په زړونو کښې یې رعب اچولی وه.

دوهم: چې د هغوی په مالونو او زراعتونو باندې اسماني آفت نازل کړي حتی چې د منافقانو او نورو تمه کوونکو تمه ترې وشکېږي.

دریم: چې مشران او د سر سړي یې مړه شي چې د چا ترې سترګه نه سوزي او داسې نور کارونه چې بندګان پکښې دخل ونه لري. څه لرې نه ده چې د قیامت د ورځې پورې په ډېرو څېرو کښې تحقق ومومي.

## یادونه

٦ـ ځینو مفسرینو کرامو(١) دې جملې ﴿ وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا ﴾ الآیة ته د نږدې جملې ﴿ فَيُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا أَسَرُّوا ﴾ الآیة سره ارتباط ورکړی دی، نو د معنی حاصل یې داسې را اوځي چې: کله الله ﷻ د یهودو او نصاراوو قوت مات کړي نو خلک به لاندې دوه ګروپه جوړ شي:

الف: منافقان به د هغوی په موالاة باندې پښېمانه شي او په ډاګه به په خپل منافقت باندې د خطاکارۍ اعتراف وکړي.

ب: سوچه مؤمنان به ځینې ځینو نورو ته ووایي چې عجیبه ده دغو خلکو خو قسمونه کول چې مونږ ستاسو سره یاستو، اوس معلومه شوه چې زمونږ سره نه بلکې د یهودو او نصاراوو سره وه.

٧ـ مګر مونږ ته داسې برېښي چې ذکره شوې جمله د منافقانو د وینا ﴿ يَقُولُونَ نَخْشَىٰ أَن تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ ﴾ سره اړونده ده، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې کله د ایمان دعوه دارانو ته اعلان وکړی شي چې د یهودو او نصاراوو سره د اسلام په ضد موالاة مه کوئ، نو دوی به لاندې دوه ګروپه تشکیل کړي:

(١) روح المعاني ج٦ ص١٥٩؛ البحر المحیط ج٤ ص٢٩٤

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: د چا په زړه کښې چې ناروغي وي هغوی به وايي چې مونږ د راتلونکي ژوند د خاطره د هغوی د مولاة څخه نه شو تېرېدلی، په راتلونکي کښې زمونږ په کار پرېږي.

دوهم: څوک چې د صفا زړه خاوندان دي هغوی به ووايي چې عجيبه ده دغې ډلې (ناروغانو) خو قسمونه کول چې مونږ ستاسو سره ياستو حال دا چې اوس د يهودو او نصاراوو څخه نه تېرېږي او کلک ورپورې نښتي دي. مونږ ځکه د جملو ذکر شوی اړوند خوښ کړ چې د شان نزول د واقعاتو سره ښه سرينښ نيسي او هم ذهن ته په زغرده ورځي.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَسَوْفَ يَأْتِى ٱللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ يُجَـٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٥٤﴾ إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُمْ رَٰكِعُونَ ﴿٥٥﴾ وَمَن يَتَوَلَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فَإِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْغَـٰلِبُونَ ﴿٥٦﴾ ﴾

[۵۴] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! ستاسو څخه چې هرڅوک د خپل دین څخه بېرته تاو شي نو (فقط خپل ځان ته یې تاوان ورساوه، او دا ځکه چې) ډېر ژر به الله ﷻ (د اسلام د نصرت دپاره) داسې قوم راولي چې دوی به الله ﷻ خوښوي او الله ﷻ به دوی خوښوي، دوی به په مسلمانانو باندې نرمي کوونکي او په کافرانو باندې به سختي کوونکي وي، دوی به د الله ﷻ په لاره کښې جهاد کوي او د ملامته کوونکي د ملامتې څخه به نه ډارېږي، دا (ذکر شوي صفات) د الله ﷻ فضل دی، هغه چا ته یې ورکوي چې کوم ته یې اراده وشي، او الله ﷻ د پراخۍ خاوند (او هم) د علم خاوند دی.

[۵۵] یقینًا ستاسو دوست (ناصر) الله ﷻ دی او د ده ﷻ پیغبر ﷺ (هم) او هغه کسان (هم ستاسو ناصران دي) چې ایمان یې راوړی وي هغه کسان چې لمونځونه ودروي او زکاتونه ورکوي په داسې حال کښې چې عاجزي کوونکي (او دوامداره لمونځ کوونکي) دي.

[۵۶] او هر څوک چې الله ﷻ او د ده ﷻ پیغمبر ﷺ او هغه کسان متولیان (دوستان) ونیسي چې ایمان یې راوړی دی، نو (د بل هیچا دوستۍ ته یې ارتیا نشته ځکه چې) یقینًا د الله ﷻ ټولګی همدوی غالب دي.

## ارتباط

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوي دي چې که بالفرض تاسو د یهودو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او نصاراوو سره اړوند او ارتباط زيات قوي کړئ نو د دې خطره شته چې مرتد شئ او د ارتداد په صورت کښې به د خپل ځان ځخه په غير بل هيچا ته ضرر ونه شئ رسولی.

## د مطلب خلاصه

١ـ يعني: ای مؤمنانو! يهود او نصارا به ستاسو ځخه په صرف کومک کولو سره تر هغې خوشاله نه شي چې ترڅو تاسو خپل دين ته شا کړئ او د هغوی معتقدات قبول کړئ.

مګر په ياد ولرئ! چې د ارتداد په صورت کښې به فقط او فقط خپل ځانونه د خسران سره مخامخ کړئ او د هغه ټولګي ځخه به وړيستل شئ کوم چې په الله ﷻ باندې ګران دی او د اسلام په خدمت کښې يې استعمالوي، په دې صورت کښې به د اسلام د خدمت دپاره الله ﷻ بل ټولګی په ميدان کښې ودروي، چې هغوی به لاندې صفات ولري:

الف: الله ﷻ به هغوی خوښوي او په الله ﷻ باندې به ګران وي.

ب: په هغوی باندې به الله ﷻ ګران وي او د ده ﷻ د رضا دپاره به د سر او مال ځخه تېرېږي.

ج: هغوی به په مؤمنانو وروڼو باندې زړونه سوزي او د دوی په ضد باندې به د هيچا سره لاسونه نه يو کوي.

د: هغوی به په کافرانو باندې اسماني تندر وي چې د هيبت ځخه به يې د کافرانو اندامونه په لړزان وي.

هـ: هغوی به صرف د الله ﷻ په لار کښې جهاد کوي نه به ورسره د نوم نشان غم وي او نه به يې په جهاد کښې دنياوي مال او متاع مطلب وي، او نه به بالآخره د همدې اغراضو د کبله يهودو او يا نصاراوو ته د کومک لاس ورغزوي.

و: هغوی به د هيڅ ملامته کوونکي د ملامتې ځخه نه ډارېږي او صرف د الله ﷻ د ملامتې ځخه به خپل ځانونه ژغوري، چې ورباندې په غضب نه شي.

لنډه دا چې هغوی به د ټولو اسلام دښمنه ټولنو په مقابل کښې په جهاد باندې مصروف وي، هغوی به د مرتدانو او هم د دوی د بادارانو (يهودو او نصاراوو او نورو کافرانو) سره په اخلاص سره جهاد کوي.

٢ـ ای هغو مؤمنانو چې تاسو سمدستي د ذکرو شوو ښېړو صفاتو درلودونکي ياست خپلو اخلاقو ته په همدې ډول باندې ادامه ورکړئ، چې دا د الله ﷻ فضل دی او الله ﷻ خپل فضل هغه چا ته ورکوي چې هغه ته يې د ورکړې اراده وشي.

د الله ﷻ خزانې مالامال ډکې دي او په ورکړه باندې پکښې کمبود نه واقع کېږي مګر الله ﷻ د علم خاوند دی مستحق او غير مستحق پېژني.

٣ـ ای مؤمنانو! ستاسو ناصر او مدد ګار نه يهودي کېدلی شي او نه نصراني، ستاسو ناصر او کومک درکوونکي بل هيڅوک نه دی مګر يوازې الله ﷻ ستاسو اصلي کومک کوونکی او ناصر

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی. هوا په تبعي توګه مو د الله ﷻ پيغمبر هم ناصر دی چې الله ﷻ دراستولی دی، او همدارنګه مو په کومک کوونکو کښې په تبعي توګه مؤمنان هم شامل دي، مګر هغه مؤمنان نه چې يوازې په لساني اقرار باندې اکتفاء کوي بلکې هغه مؤمنان چې په ايمان باندې علاوه لاندې خاصيتونه هم ولري:

الف: چې هغوی د لمونځونو د ټولو ارکانو حفاظت کوي او خپل لمونځونه په پښو باندې ودروي او څه نواقص پکښې نه واقع کوي، بلکې ټول بدني عبادتونه کوي.

ب: چې هغوی برسېره په بدني عباداتو، په مالي عبادتونو باندې هم صرفه نه کوي او همېشه زکاتونه ورکوي.

ج: چې هغوی د يوه پلوه د لمانځه په ارکانو باندې حفاظت کوي او په اخلاص سره خيراتونه کوي، او د بله پلوه د لمانځه په اداء کولو باندې په تواضع سره پابندي کوي.

او هر څوک چې الله ﷻ او د ده ﷻ پيغمبر ﷺ او مؤمنان په دوستۍ سره ونيسي نو همدوی يې بس دی، چې په دې صورت کښې به نوموړی په هغه ټولګي کښې شامل شي چې الله ﷻ د هغه ټولګي مددګار دی، او داسې ټولګی چې الله ﷻ يې مددګار دی همدغه ټولګی غالب دی او بس.

## توضيحات

١ـ د تېرو شوو ايتونو څخه د نزول په وخت کښې په دوه مهمو خبرونو باندې د اشارې په توګه مسلمانانو پوه شوه چې په راتلونکي کښې به واقع شي، يو د څينو خلکو بېرته مرتد کېدل، او بل د مرتدانو په مقابل کښې يوه مجاهده ډله ودرېدل. دغه دواړه خبرونه رښتيا واقع شوه او د قرآن کريم دپاره د اعجاز واضحه مثالونه جوړ شوه چې رښتيا يوولس قبائل مرتد شوه او اسلام ته يې شا کړه، درې قبيلې د نبي کريم ﷺ په ژوند کښې کافرې شوې او مشرانو يې د پيغمبری دعوې وکړې، او اوو قبيلو د نبي کريم ﷺ د وفات څخه وروسته د ابو بکر ﷺ په خلافت کښې اسلام پرېښود او بالآخره يوازې يوه قبيله د عمر الفاروق ﷺ په خلافت کښې کافره شوه، چې ټولې يوولس جوړېږي. موږ د مرتدو قومونو زيات تفصيل اوږدو کتابو ته سپارو[1]، يوازې په يوه قيصه باندې اکتفاء کوو چې د اسلام د اجتماعي عدالت دپاره پکښې ډېر ښه واضحه مثال دی. هغه دا چې:

## د بَجَلَه نومي مرتد عجيبه قيصه

٢ـ بَجَلَه د هغې قبيلې مشر او باچا وه چې د عمر الفاروق ﷺ په خلافت کښې نصرانيت ته اوښتی وه. نوموړي ته هم نبي کريم ﷺ د هغو خطونو په جمله کښې يو خط وراستولی وه چې ټولو قبائلو ته يې ورلېږلی وه، نوموړي اسلام قبول کړ او نبي کريم ﷺ ته يې د اسلام راوړلو اطمنان هم ورکړی وه.

---

(١) تفسير الكشاف ج١ ص٦٤٤؛ تفسير المراغي ج٦ ص١٤٠

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نوموړی په اسلام باندې ښه کلک ولاړ وه خو د عمر الفاروق ﷛ په خلافت کښې یې اسلام پرېښود او نصرانیت یې قبول کړ او شام ته وتښتېد، عمر الفاروق ﷛ د شام احبارو او مشرانو ته د بَجَلَه په باره کښې یو لیک ورواستاوه او پکښې لیکلې یې وه چې:

"بَجَلَه" په اسلام باندې مشرف شوی وه او مونږ یې ښه پوره احترام کاوه، خو نوموړی مکې معظمې ته لاړ او هلته په طواف باندې مشغول وه چې د بني فزاره د قبیلې یوه سړي یې د څادر په یوه څنډه باندې پل کېښود. نوموړی په غُصه شو او د فزاري سړي مخ ته یې یوه څپېړه ورکړه چې پوزه یې ورباندې ماته کړه او دوه غاښونه یې ترې وغورزول. د دواړو لانجه ماته راورسېده، ما فیصله وکړه چې یا به فزاري سړی په خپله خوښه عفوه کوي او یا به د نوموړي بَجَلَه څخه قصاص اخلي، بَجَلَه په غُصه شو او ویې ویل چې زه پاچا یم او هغه عادي سړی دی، ایا هغه به ماته په مخ څپېړه راکوي؟. ما وویلې چې دا د اسلام حکم دی په دې کښې پاچا په ګدا باندې څه بهتري نه لري، بجله تر سبا پورې مهلت وغوښت او د شپې د شپې شام ته دروتښتېده او مرتد شو[1].

## دوهم خبر ربښتیا شو

۳ـ ربښتیا هم د مرتدانو په مقابل کښې الله ﷻ یوه مجاهده ډله (د ذکرو شوو شپږو صفاتو خاونده) ودروله چې په سر کښې یې ابو بکر الصدیق ﷛ واقع وه، د مرتدانو غاښونه یې ورمات کړه او قرآني غیبي خبر یې ربښتیا کړ، حتی چې الحسن علیه الرحمة وایي: "هُمْ وَاللهِ أَبُو بَكْرٍ وَأَصْحَابُهُ"[2] یعني: قسم دی چې ذکر شوی ټولګی د ابو بکر الصدیق ﷛ او د ده د ملګرو څخه عبارت دی. د علي ﷛ څخه هم روایت دی چې ذکره شوې مجاهده ډله د ابو بکر الصدیق ﷛ او د ده ملګري دي[3].

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: د ذکرې شوې مجاهدې ډلې څخه خو ځینو مفسرینو کرامو د ابو موسی الاشعري ﷛ قوم (اهل الیمن) مراد کړي دي چې کله ذکر شوی ایت شریف نازل شو نو نبي کریم ﷺ نوموړي صحابي ﷛ ته اشاره وکړه چې: «هُمْ قَوْمُ هَذَا»[4] دا ډله د دغه صحابي (ابو موسی الاشعري ﷛) قوم دی، همدارنګه پکښې مفسرینو کرامو څه نور متعدد اقوال ذکر کړي دي[5]. نو پوښتنه دا ده چې تاسو ترې په څه دلیل د انحصار په توګه ابو بکر الصدیق ﷛ او د ده مجاهدین مراد کړه؟

مونږ وایو چې: زمونږ مطلب دا نه دی چې ذکر شوی ایت شریف په نوموړي خلیفه او د ده په ملګرو کښې منحصر دی بلکې مطلب مو دا دی چې ایت شریف په هغه وخت کښې په همغوی باندې صادقېده او په نورو زمانو کښې به په نورو مجاهدینو باندې صادق شوی وي او یا به لا

(۱) روح المعاني ج۶ ص۱۶۱
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ص۷۰
(۳) تفسیر البغوي ج۲ ص۴۵
(۴) تفسیر الطبري ج۴ ص۲۸۴
(۵) روح المعاني ج۶ ص۱۶۳؛ زاد المسیر ج۲ ص۲۹۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



صادق شي، ځکه چې د ايت شريف مفهوم عام دی، څه لرې نه ده چې زمونږ په زمانه کښې يې يو مصداق د افغانستان مجاهدين وي چې الحمد لله په ډېر اخلاص سره يې د کمونستانو سره جهاد وکړ، او د فاحش شکست سره يې مخامخ کړه.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: د ﴿فَسَوْفَ يَأْتِي ٱللَّهُ بِقَوْمٍ﴾ څخه د سړي ذهن ته ورځي چې د کومې مجاهدې ډلې چې الله ﷻ وعده کړې ده، هغه ډله د ايت شريف د نزول په وخت کښې موجوده نه وه، حال دا چې صحابه کرام ﷺ د ابو بکر الصديق ﷺ په شمول هلته موجود وه، نو په کار دي چې د دوی څخه په غير بله ډله مراده کړی شي؟

مونږ وايو چې: يو شی په اعتباراتو سره داسې ګڼل کېږي لکه چې متعدد وي، د همدې کبله نبي کريم ﷺ هغه خيرات ته چې بي بي بريرې رضي الله عنها ته ورکړې شوی وه د هديې لقب ورکړ، البته کله چې ذکر شوی خيرات د نومورې بي بي رضي الله عنها په لاس باندې نبي کريم ﷺ ته ورکړی شو نو ويې فرمايل چې: «هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ»[1] دا د هغې دپاره صدقه ده او زمونږ دپاره هديه (تحفه) ده.

نو د صحابه وو کرامو ﷺ مجاهده ډله په دې اعتبار سره چې نبي کريم ﷺ يې قائد وه او عمومي قيادت يې په لاس کښې وه، د هغوی څخه په دې اعتبار سره مغايره وه چې ابو بکر الصديق ﷺ يې په سر کښې واقع وه، ته به وايې چې دا ډله الله ﷻ نوې او تازه موجوده کړې وه.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۶_ که څوک وايي چې: نظر د عربيت قانون ته په کار وه چې د ﴿إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾ په عوض "إِنَّمَا أَوْلِيَاؤُكُمُ اللهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا" نازل شوی وی، ترڅو مبتدا او خبر دواړه جمعي جوړې شوې وی، نو د څه حکمت په بنا دغسې نازل نه شو؟

مونږ وايو _والله ﷻ اعلم_ چې: ترڅو په ولايت کښې د اولياوو په تفاوت باندې دلالت وکړي، يعنې ستاسو ولي او ناصر اصلاً الله ﷻ دی، بيا مو ناصر پيغمبر ﷺ دی او په دريمه درجه کښې مو مؤمنان هم کومک کوونکي او ناصران دي؛ نو که بالفرض د ﴿وَلِيُّكُمُ﴾ په عوض "أَوْلِيَاؤُكُمْ" نازل شوی وی نو ذکر شوی مطلب به فوت شوی وی او الله ﷻ او پيغمبر ﷺ او بالآخره مؤمنان به ټول په يوه درجه کښې وليان او ناصران ښودلی شوي وی.

## رُکُوع څه معنی؟

۷_ د ﴿رَٰكِعُونَ﴾ کلمه د "رُکُوع" څخه اخستله شوې ده، "رُکُوع" عاجزی او سرټيټولو ته وايي[2].

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص ۳۵۰
(۲) لسان العرب ج۸ ص۱۳۲؛ مفردات الراغب ص۲۰۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د لمانځه رکوع ته هم ځکه دا نوم ایښودلی شوی دی چې لمونځ کوونکی صرف الله ﷻ ته د عاجزۍ او بندګۍ د کبله خپل سرټیټوي او د ولاړې څخه ځمکې ته ورماتیږي.

په دې مقام کښې جمهورو مفسرینو کرامو د لمانځه رکوع مراده کړې ده او کنایة یې د ټول لمانځه څخه تعبیر کړې ده[1]. نو د معنی حاصل یې داسې کیږي چې: مؤمنان هغه خلک دي چې لمونځونه او زکاتونه په خپله عملي شرعي بڼه کښې اجراء کوي او په عین حال کښې په لمونځونو باندې همېشه والی هم کوي. د دې ایت نظیر الله ﷻ په بل ځای کښې داسې نازل کړی دی چې: ﴿ إِلَّا ٱلْمُصَلِّينَ ۝ ٱلَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَآئِمُونَ ﴾ [المعارج: ٢٢_٢٣] مګر هغه لمونځ کوونکي (بې صبره نه دي) چې دوی په خپل لمانځه باندې دوام کوونکي دي. یعنې دوی د یوه پلوه لمونځونه کوي او د بله پلوه ورباندې همېشه والی کوي.

ځینې نور مفسرین کرام د رکوع څخه لغوي رکوع یعنې عاجزي او الله ﷻ ته د بندګۍ سرټیټونه مرادوي[2]، چې په دې تفسیر باندې یې معنی بالکل واضحه ده او څه اشکال پکښې نشته.

## اهل التشیع څه وایي؟

٨_ اهل التشیع وایي چې د دې ایت ﴿ إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ څخه د علي ﷺ امامت او خلافت مطلب دی. نو په دې سره یې د معنی حاصل داسې راوځي چې ای مؤمنانو! ستاسو امام الله ﷻ دی او بیا د ده پیغمبر ﷺ دی او بالآخره ستاسو امام (خلیفه) هغه څوک دی چې ایمان یې راوړی دی: ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾.

دوی ځکه دا معنی اخلي چې په ځینو روایتو کښې شته چې ذکر شوی ایت شریف د علي ﷺ په باره کښې نازل شوی دی البته کله چې نوموړی ﷺ د لمانځه د رکوع په حالت کښې وه او یوه سوال کوونکي ته یې خپله د لاس زرینه ګوته خیرات ورکړه[3].

مونږ (أهل السنة والجماعة) وایو چې:

الف: د ذکر شوي ایت شریف دپاره خو مفسرینو کرامو یو بل شان نزول هم روایت کړی دی چې یوه ورځې عبد الله بن سلام ﷺ او د ده څه نور ملګري (چې په ایمان باندې مشرف شوي وه) نبي کریم ﷺ ته ورغله او ورته یې وویل چې: ای د الله رسوله! زمونږ کورونه ستاسو څخه په لرې مسافه کښې واقع دي، تاسو ته ژر-ژر رسیدګي نه شو کولی چې ناسته ولاړه درسره وکړو، حال دا چې هلته زمونږ قومیانو تصمیم نیولی دی چې نه راسره خبرې وکړي او نه راسره ناسته ولاړه وکړي او دا ځکه چې مونږ په ایمان باندې مشرف شوي یاستو. ای د الله رسوله! د هغوی دغه وضعه په مونږ باندې

---

(١) المحرر الوجيز ج٥ ص١٣۶
(٢) التفسير الكبير ج١٢ ص٢٥
(٣) احكام القرآن للجصاص ج٢ ص۴۴۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ډېره درنه تمامېږي، نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو او نبي کريم ﷺ ولوست[١]، چې تاسو مه خپه کېږئ ستاسو قوميان تاسو ته څه ضرر نه شي رسولی، الله ﷻ او پیغمبر ﷺ او بالآخره ټول مؤمنان (د علي ﷺ په شمول) ستاسو کومکيان او ناصران دي.

ب: علاوه په دې د شان نزول خصوص خو د ایت شریف مفهوم ته تخصیص نه شي ورکولی، د همدې کبله د علي ﷺ يوه لمسي (ابو جعفر الباقر محمد بن علي بن الحسين بن علي ﷺ) فرمايلي دي چې ذکر شوی ایت شریف ټولو مؤمنانو ته شامل دی او علي ﷺ هم د مؤمنانو د ډلې څخه دی[٢]، يعنې چا چې يوازې علي ﷺ ذکر کړی دی د هغوی حصر مطلب نه دی.

## د اهل التشيع غلطياوې

٩ـ په دې مقام کښې اهل الشيع د لاندې غلطيو مرتکب شوي دي:

الف: دوی د ﴿إِنَّمَا﴾ کلمه د حصر دپاره وايي، او حصر يې د ابو بکر الصديق ﷺ او عمر الفاروق ﷺ او د حضرت عثمان ﷺ په نسبت سره اخلي چې ولايت (امامت) يوازې په علي ﷺ پورې منحصر دی، حال دا چې د ایت شریف مفهوم عام دی ټولو مؤمنانو ته شامل دی، او حصر په نسبت سره يهودو او نصاراوو ته دی چې شان نزولونه ورباندې دلالت کوي.

ب: دوی د هغه "ولاية" څخه چې د ﴿وَلِيُّكُمُ﴾ کلمه ترې اشتقاقه شوې ده د امامت او خلافت معنی اخلي حال دا چې په دې مقام کښې د امامت او خلافت خبره هيڅ مطرحه نه ده او وړاندې او وروسته ټول ايتونه ولاية په معنی د نصرت او کومک سره مطرح کوي، نو د اهل التشيع په تفسير سره د ملغلرو مزي شکېږي او د بليغ کلام خوند او لذت د منځه ځي.

ج: دوی د ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ﴾ په شمول په همدې يوه ايت کښې چې اوه ځايه جمعي ذکرې شوې دي او يا د جمعې ضمائر ذکر دي، ټول په مفرد (يوه کس) علي ﷺ باندې معنی کوي، حال دا چې دا ټول بې ضرورته کار دی، دوی څکه دغسې خلاف التبادر معنی اخستلو ته بدې وهلي دي ترڅو د نوموړي مکرم صحابي ﷺ د خلافت دپاره يو قرآني سند ترلاسه کړي، خو هرڅوک پوهېږي چې په دغسې بعيدو او بې ربطه تاويلونو باندې نه قرآني سند ترلاسه کېدلی شي او نه د علي ﷺ دپاره په خلافت کښې د اوليت حق ثبوت پيدا کولی شي.

که څوک غواړي چې د اهل التشيع په واهياتو او د اهل السنة والجماعة په تحقيقاتو باندې په مفصله توګه پوه شي نو د هغوی کتابونو[٣] او هم د دوی کتابونو[٤] ته دې مراجعه وکړي.

---

(١) اسباب النزول للواحدي ص١٢٣

(٢) الدر المنثور ج٣ ص١٠٦؛ تفسير الطبري ج٤ ص٢٨٨

(٣) تفسير نمونه ج٤ ص٤١٥؛ ج٥ ص٢٨٨

(٤) روح المعاني ج٦ ص١٦٠ـ١٧١؛ التفسير الكبير ج١٢ ص٢٥ـ٣١

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ دِينَكُمْ هُزُوًا وَلَعِبًا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَٱلْكُفَّارَ أَوْلِيَآءَ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٥٧﴾ وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ ٱتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَلَعِبًا ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴿٥٨﴾ ﴾

[۵۷] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو هغه کسان (کومکیان او دوستان) مه نیسئ؛ چې هغوی ستاسو دین په مسخرو او ټوقو سره نیسي چې دوی د هغو خلکو څخه عبارت دي چې ستاسو څخه وړاندې کتاب ورکړی شوی دی، او (هم نور) کافران دوستان (او کومکیان مه نیسئ) او د الله ﷻ څخه وډار شئ که تاسو ایمان درلودونکي یاست.

[۵۸] او کله چې تاسو لمانځه ته اواز (اذان) وکړئ نو دوی هغه (ستاسو اذان) په ټوقو او مسخرو سره نیسي، دا په دې سبب چې یقیناً دوی داسې قوم دی چې د عقل څخه کار نه اخلي.

## ارتباط او شان نزول

۱ـ د ذکرو شوو ایتونو ارتباط خو د وړاندېنیو ایتونو سره بالکل واضحه دی چې هلته مونږ د کافرانو د موالاة څخه منعه کړی شوي وو او دلته راته توصیه شوې ده چې ایا ستاسو غیرت او مسلماني ځنګه دا خبره قبلولی شي چې هغوی ستاسو اسلامي شعائرو پورې خندنی او مسخرې کوي او تاسو ترې د مددګارۍ تمه کوئ؟

۲ـ په شان نزول کښې یې څو متعدد واقعات روایت کړی شوي.دي، یوه واقعه دا ده چې کله کافرانو اذان واورېده نو نبي کریم ﷺ ته ورغونډ شوه او ویې ویل چې ای محمده! که ته د پیغمبرۍ دعوه کوې نو تا خو د ټولو پیغمبرانو څخه مخالفت وکړ او یو نوی شی دې پیدا کړ چې مونږ په پخوانیو اُمتونو کښې نه وه اورېدلی، که دا کار خیر وی نو پخوانیو امتونو کښې به یې سابقه درلودی.

لنډه دا چې دوی ویلې چې "فَمِنْ أَيْنَ لَكَ صِيَاحٌ كَصِيَاحِ الْبَعِيرِ"[۱] نو دا غرغره (اوازه) دې د کومه کړه لکه د اوښ غرغره (اواز)، دا څومره بد اواز دی او څومره بد کار دی؟، نو الله ﷻ ذکر شوی دوهم ایت نازل کړ[۲].

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای مؤمنانو! ایا تاسو هغه چاته د مدد او کومک غوښتلو لاس وراوږدوئ چې د هغوی ستاسو د دین ټول کړه وړه بد ایسي او بلکې لا ورپورې خاندي او ټوقې ټکالې ورپورې کوي،

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۳۴
(۲) تفسیر القرطبي ج۶ ص۲۲۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغوی ته ستاسو دین ملعبه (لوبې) ښکاري او تاسو ته د لوبو کوونکو په نظر ګوري نو د هغوی کومک ته اُمید مه کوئ، که تاسو رښتیانی ایمان لرئ او خپل ایمان درته واقعي ایمان ښکاري نو د هغوی د موالاة څخه ځانونه بچ وساتئ.

۲ـ د دې دپاره چې تاسو ته د کافرانو مسخرې ښې جوتې شي نو د لمانځه د اذان څخه عبرت واخلئ چې کله تاسو د الله ﷻ د یادولو دپاره بلنه وکړئ هغوی وربورې خاندي او اذان ته د اوښ د اواز سره تشبیه ورکوي، لکه څنګه چې د اوښ غرغره بې معنی ده همدارنګه دوی ته ستاسو اذان هم بې معنی شی ښکاري، او دا ځکه چې هغوی د عقل څخه په درستو معناوو کښې استفاده نه کوي، که نه نو په اذان کښې خو د مسخرو یوه کلمه هم نشته، ټولې کلمې یې د الله ﷻ د جلالیت او د نبي کریم ﷺ د رسالت څخه نمایندګي کوي.

نو تاسو ته په کار دي چې د ذکرو شوو ساده ګانو څخه د کومک تمه ونه کړئ.

## توضیحات

۱ـ د "هُزُوًا" کلمه په پټه کښې مسخرو ته ویل کېږي[1]، او د "لَعِبًا" کلمه اصلاً د "لُعَاب" څخه اخستله شوې ده، "لُعَاب" هغه لاړو ته وايي چې بلا اختیاره د ځا د خولې څخه روانې وي[2]، په استعمالاتو کښې د هغه کار څخه په "لَعِب" باندې تعبیر کېږي چې د هغه په کولو کښې کوم مطلب نه وي او محض د سات تیرۍ دپاره اجراء کېږي.

## ټوقه تقاله شوه

۲ـ یوه ورځې په مدینه منوره کښې د نصاراوو څخه یوه نصراني په اذان باندې مسخرې کولې نو کله یې چې د موذن د خولې څخه واورېده چې: "أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله"، غږ یې وکړ چې: "حَرَقِ الْكَاذِب" دروغژن دې اور واخلي، یوه شپه نوموړی په کور کښې د ټولې کورنۍ سره ویده وه چې د خدمتګار څخه یې د اور سپرغۍ ولوېده او ټول کور توره لوخړه شوه، نوموړی دروغژن نصراني او ټول ټبر یې پکښې لولپه شوه[3].

## ټوقه په واقعیت بدله شوه

أبو محذوره ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې وايي چې[4]: نبي کریم ﷺ د حنین د غزا څخه بېرته راستون شوی وه او مونږ د موذن اذان واورېده نو په مسخرو او خندنۍ په ټوکه مو د اذان کلمات

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۴۰

(۲) مفردات الراغب ص۴۷۱

(۳) تفسير القرطبي ج۶ ص۲۲۳

(۴) سنن ابن ماجه ص۵۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حکایت کړه، کله چې نبي کریم ﷺ زما د مسخرو اذان واورېده نو خپل خان ته يې وروغوښتمه او د اذان کلمات يې راباندې په لوړ اواز سره ولوستل او بيا يې راته په برکت سره دعاء وکړه او زما په بدن باندې يې مبارک لاس راکش کړ، نو کينه او عداوت مې په مينه او محبت باندې بدل شو چې په نتيجه کښې نبي کريم ﷺ په مکه معظمه کښې د موذن په حيث وټاکلم. يا په بل عبارت: توقه مې په واقعيت بدله شوه.

﴿ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ هَلْ تَنقِمُونَ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلُ وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٥٩﴾ قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ ٱللَّهِ ۚ مَن لَّعَنَهُ ٱللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ ٱلْقِرَدَةَ وَٱلْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ ٱلطَّٰغُوتَ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ﴿٦٠﴾ وَإِذَا جَآءُوكُمْ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَقَد دَّخَلُوا۟ بِٱلْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا۟ بِهِۦ ۚ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا۟ يَكْتُمُونَ ﴿٦١﴾ ﴾

[٥٩] (ای پیغمبره!) ووايه چې: ای اهل الکتابو! ایا تاسو زمونږ څخه (په بل شي باندې) د عیب ګوته اینبودلی شئ؟، (تاسو ته زمونږ هیڅ کار عیب نه برېښي) مګر دا چې مونږ په الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی او په هغه څه باندې هم چې مونږ ته نازل شوی دی او په هغه څه باندې هم چې تاسو ته درنازل شوی دی، او (مګر دا چې) یقیناً ستاسو اکثره کسان فاسقان دي.

[٦٠] (ای پیغمبره! دوی ته) ووايه چې: ایا تاسو ته د ذکرو شوو شیانو (زمونږ د عقائدو) څخه د جزا د حیثه د الله ﷻ په نزد باندې په ډېر بد شي باندې خبر درکړم؟ (هغه دا چې) د هغو خلکو (عقائد ډېر بد دی) چې الله ﷻورباندې لعنت کړی دی او هم یې وریاندې (خپل) غضب نازل کړی دی او (بالآخره) چې د دوی څخه یې بیزوګان او خنزیران جوړ کړي دي.

او (هم د هغو خلکو عقائد ډېر بد دي چې) دوی د بوتانو عبادت کړی دی، او دغه خلک چې حالات یې وړاندې ذکر شوه) د رتبې د حیثه ډېر بد دي او هم د سمې لارې څخه ډېر لرې وتلي دي (او دا نه دي مګر تاسو یاست).

[٦١] او (ای مؤمنانو!) په هر وخت کښې چې دوی (اهل الکتاب) تاسو ته درشي نو وايي چې: مونږ ایمان راوړی دی، حال دا چې (دوی دروغ وايي) دوی په کفر سره درننوځي، او دوی په دې (کفر) سره درڅخه راووځي (په حالت کښې یې هیڅ تغیر نه واقع کېږي) او الله ﷻ په هغه څه باندې ډېر ښه پوهېږي چې دوی یې (په زړونو کښې) پټوي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: ای پیغمبره! اهل الکتابو ته ووايه چې په څه سبب باندې تاسو زمونږ عباداتو او ديني

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شعائرو پورې خاندئ او مسخرې وریورې کوئ، مونږ خو بل داسې کار نه دی کړی چې ستاسو د مسخرو موجب جوړ شي، غیر د دې چې مونږ په الله ﷻ او د ده ﷻ په ټولو کتابونو باندې ایمان راوړی دی او ستاسو اکثریت په ټولو باندې بې عقیدې یاست.

که بالفرض تاسو په خپل کتاب باندې په صحیحو معناوو کښې ایمان راوړی وی نو ضرور به مو زمونږ په کتاب باندې هم عقیده کړې وی، او دا ځکه چې ټول اسماني کتابونه یو د بل تصدیق کوي، نو په همدې بنا زمونږ په شعائرو باندې خندنې کول په حقیقت کښې په ټولو اسماني ادیانو پورې خندنې کول دي، او حتی تاسو په خپل دین باندې هم مسخره کوونکي جوړیږئ.

۲ـ ای پیغمبره! اهل الکتابو ته ووایه که زمونږ واقعي ایمان تاسو ته د مسخرو جوګه ښکاري او ستاسو په نظر د الله ﷻ په وړاندې د سزا موجب وي نو راشئ چې زمونږ د عقیدې څخه پرته په بله یوه عقیده باندې خبر درکړم چې د هغې عقیدې په خاوندانو باندې الله ﷻ لعنت نازل کړی دی او په غضب باندې یې ککړ کړي دي او بالآخره د هغوی څخه یې بیزوګان او خنزیران جوړ کړي دي، او هم د هغې عقیدې خاوندانو د باطلو معبودانو عبادت کړی دی.

اوس نو تاسو د خپلو ځانو سره ښه چرت ووهئ چې زمونږ عقائد او دیني شعائر د مسخرو لیاقت لري، او که د ذکرو شوو عقائدو خاوندان؟

زمونږ فیصله خو دا ده چې د ذکرو شوو عقائدو خاوندان ډیر بد او ډیر ګمراهان دي، او هم د خندا او مسخرو لیاقت لري، دوی څوک دي؟ دوی همدا تاسو اهل الکتاب (یهود او نصارا) یاست.

۳ـ ای مؤمنانو! تاسو خو هغوی ته د تخجیل دپاره ذکره شوې مقایسوي پوښتنه وروړاندې کړې ترڅو دوی ښه پوه شي چې تاسو د خندا وړنه یاست، بلکې هغوی د خندا وړ دي، مګر دا تمه مه کوئ چې دوی به خپلې کړنلارې ته تغیر ورکړي او د مسخرو څخه به لاس واخلي. ځکه دوی چې تاسو ته په هر وخت کښې د ناستې ولاړې دپاره درغلي دي چې ستاسو په مجالسو کښې اشتراک وکړي او ستاسو خبرې واوري نو په هر ځل باندې د کفر سره درځي او په کفر سره درڅخه بېرته ګرځي، او په هیڅ صورت کښې خپله تګلاره نه بدلوي، او هغه څه خو لا پرېږدئ چې دوی یې په زړونو کښې ساتي په هغو باندې خو یوازې الله ﷻ پوهیږي او بس.

## توضیحات:

۱ـ که څه هم مفسرینو کرامو د ﴿ وَأَنَّ أَكۡثَرَكُمۡ فَٰسِقُونَ ﴾ په اعراب کښې اته ډوله توجیهات کړي دي[1]، چې ټولې توجیهګانې صحت لري، او ښې معناوې ورکوي، مګر مونږ ته ډېره بې تکلفه دا توجیه ښکاري چې په دغه عبارت ﴿ أَنۡ ءَامَنَّا ﴾ باندې عطف شي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: مونږ خو نور بد نه دي کړي فقط همدا بد مو کړي دي.

(۱) البحر المحیط ج۴ ص۳۰۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



چې مونږ صالحان ياستو او تاسو فاسقان ياست، نو تاسو ښه چرت ووهئ چې صالحان د مسخرو ړ دي او که فاسقان.

## د عربيت يوه قاعده

٢_ په ﴿ وَعَبَدَ ٱلطَّٰغُوتَ ﴾ کښې شل قرائتـه اورېدلي شوي دي چې ځينې متواتر دي او ځينې شاذ دي(١). زمونږ په وړاندې چې کوم قرآن اينبنى دى؛ په دې کښې "عَبَدَ" ماضي ده او "الطَّاغُوتَ" يې مفعول واقع شوى دى چې په ﴿ لَعَنَهُ ٱللَّهُ ﴾ باندې عطف ده.

نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې: په مونږ باندې خو الحمد الله، نه الله ﷻ لعنت کړى دى او نه راباندې په غضب شوى دى او بالآخره نه يې راڅخه بيزوګان او خنزيران جوړ کړي دي او نه مونږ د بوتانو او باطلو عبادت کړى دى، او په تاسو کښې ذکر شوي ټول خاصيتونه شته دي نو اوس تاسو انصاف وکړئ چې مونږ به ډېر ناکاره ياستو او که تاسو، مونږ به د خندا وړ ياستو او که تاسو، زمونږ دين به غلط وي او که ستاسو.

﴿ وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٦٢﴾ لَوْلَا يَنْهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ﴿٦٣﴾ ﴾

[٦٢] او ته د دوى (اهل الکتابو) څخه ډېر کسان ګورې (اى پيغمبره!) چې په ګناه او تجاوز کښې او (بالآخره) په حرام خورۍ کښې (په جلتۍ سره) ځغلي، خامخا هغه بد شى دى چې دي دوى چې هغه کوي (چې په ګناهونو کښې د ځغاستلو څخه عبارت دي).

[٦٣] دوى لره ولې الله پرستانو (شيخانو) او علماوو د ګناه د ويلو څخه او د حرامو د خوړلو څخه منعه نه کړه (چې د دوى د قولي او عملي ګناهونو مخه يې نيولې وى).

خامخا هغه بد شى دى چې دي دوى چې هغه په ښه مهارت سره کوي (چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د پرېښودلو څخه عبارت دى).

## د مطلب خلاصه

١_ يعني: اى پيغمبره! د اهل الکتابو نه په عوامو کښې خير شته او نه يې خواص د دې جوګه دي چې د خير تمه ترې وکړى شي، د عوامو اکثريت يې په لازمو او متعدي ګناهونو باندې اخته دي او د حرام خورۍ څخه خو هيڅ مخ نه اړوي.

(١) زاد المسير ج٢ ص٢٩٥

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما خواص (شيخان او عالمان) يې د عوامو سره په خيانتونو او ګناهونو کښې ملګري دي او د غلو سره د جوال خوله نيسي، د همدې کبله يې نه د دروغينې خبرې څخه منعه کوي او نه يې د حرام خوړ مخه نيسي، په قول او عمل دواړو کښې يې فسق او فجور ته خوشي کړي دي، نو عوام او خواص يې ټول په بدکاريو باندې اخته دي.

٢ـ دوى ټول (عوام او خواص) د ډېرو بدوکارونو مرتکب شوي دي، مګر تاسو پام کوئ چې د هغوى په خط السير باندې لاړ نه شئ، تاسو ټول يو تربله د قولي او عملي ګناهونو څخه مخنيوى وکړئ، او خصوصاً ستاسو خواص خو بايد چې په دې باره کښې لږ غفلت هم ونه کړي، چې ستاسو د ټولو د هلاکت باعث به جوړ شي.

## توضيحات

١ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د عامو اهل الکتابو جنايتونه يې په عمل سره تعبير کړه چې: ﴿ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴾، او د خواصو جنايات يې په صنع سره تعبير کړه چې: ﴿ لَبِئْسَ مَا كَانُواْ يَصْنَعُونَ ﴾؟

مونږ وايو چې:

الف: په دواړو تعبيرونو کښې تفنن في العبارة په نظر کښې نيول شوي دي[1]، چې د علم البلاغه يوه مهمه قاعده ده، او په معنى کښې يې څه فرق نشته.

ب: عمل هغه کارکولو ته وايي چې د پوهې د خاوندانو څخه په قصدي توګه صادر شي[2]، خو دا پکښې ضرور نه ده چې کار کوونکې دې پکښې ښه پوره مهارت ولري. د عوامو جنايات د همدې قبيلې څخه وه، ځکه چې د پوهې سره-سره يې په قصدي توګه جنايتونو ته لاس اچولی وه، مګر د شاګردانو په صفت، نه د استاذانو په صفت.

اما صنع دې ته وايي چې کارکوونکی په مهارت سره کار ترسره کړي[3]، يا په بل عبارت: د نورو دپاره استاذ وي. د خواصو جنايات د همدې قبيلې څخه وه ځکه چې دوى د امر بالمعروف او نهي عن المنکر څخه لاس واخست او لکه چې پخوا په طاعتونو کښې استاذان وه دا ځل په جنايتونو کښې استاذان او قائدان جوړ شوه، ته به وايي چې عوامو ته همدوى د جنايتونو لاره ورپه ګوته کړې وه.

## د ايتونو ارشاد

٢ـ په ذکرو شوو ايتونو کښې د هرې زمانې علماوو ته سخت وعيد متوجه دی، البته په هغه صورت کښې چې دوى د امر بالمعروف او نهي عن المنکر څخه لاس واخلي او بيا لا خصوصاً

(١) البحر المحيط ج٤ ص٣١٢
(٢) مفردات الراغب ص٣٦٠
(٣) مفردات الراغب ص٢٩٤

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې عملاً هم د جنايتكارانو په ډله كښې ورګډ شي او د هغوی جرئت بنه وراضافه كړي. لاندې وضاحت ولولئ:

الف: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوُا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللهُ بِعِقَابٍ مِنْهُ»(١) يعني: يقيناً كله چې خلک ظالم وګوري نو لاسونه يې (د ظلم څخه) ونه نيسي، نژدې ده چې الله ﷻ به د خپل جانبه ټولو ته عذاب ورشامل كړي (او ټول به راګير كړي).

ب: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: «مَا فِي الْقُرْآنِ أَشَدَّ تَوْبِيْخًا مِنْ هٰذِهِ الآيَةِ»(٢) يعني: په قرآن كريم كښې (د علماوو دپاره) د همدې ايت شريف څخه ډېر سخت توبيخ كوونكى بل ايت نشته.

﴿ وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغْلُولَةٌ ۚ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ وَلُعِنُوا۟ بِمَا قَالُوا۟ ۘ بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ ۚ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا ۚ وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ ٱلْعَدَٰوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ كُلَّمَآ أَوْقَدُوا۟ نَارًا لِّلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا ٱللَّهُ ۚ وَيَسْعَوْنَ فِى ٱلْأَرْضِ فَسَادًا ۚ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٦٤﴾ ﴾

[۶۴] او يهود وايي چې د الله ﷻ لاس غوراب كړی شوی دی (څه نه شي وركولی)، د دوی لاسونه غوراب كړی شوي دي (د غاړو سره تړلي شوي دي)، او د هغې وينا په سبب چې دوی يې كوي د الله ﷻ د رحمت څخه لرې كړی شوي دي، (دغسې نه ده لكه چې دوی يې وايي) بلكې د الله ﷻ دواړه لاسونه خواره واره (خلاص) دي، څنګه يې چې خوښه وي هغسې نفقه وركوي.

او خامخا ضرور به د دوی څخه ډېرو كسانو ته هغه شی (قرآن كريم) سركشي او كفر ورزيات كړي چې تاته د خپل رب ﷻ د پلوه درنازل كړی شوی دی، او مونږ د دوی (يهودو او نصاراوو) په منځكښې د قيامت د ورځې پورې دښمني او بغض (كينه) اچولې ده.

هر كله چې دوی د جنګ دپاره اور بل كړي (تياری ورته ونيسي) نو هغه (اور) به الله ﷻ مړ كړي. او دوی په ځمكه كښې د فساد دپاره تاند وهي، او الله ﷻ مفسدان نه خوښوي.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنيو ايتونو كښې د اهل الكتابو (خصوصاً د يهودو) د عملي جنايتونو مثالونه ښودلي شوي وه. او په دې ايتونو كښې د هغوی د قولي جنايتونو يو مثال بيان شوی دی يعنې دوی په هيڅ ډول جنايت باندې صرفه نه ده كړې.

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٣٩
(٢) تفسير ابن كثير ج٢ ص٧۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ هلته واضحه شوې وه چې د یهودو مشائخو او علماوو عوام خلک د جنایتي وینا څخه هم نه منعه کول. دلته د جنایتي وینا نمونه ښودله شوې ده.

## شان نزول

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې الله ﷻ په یهودانو باندې خپل نعمتونه ډېر پراخه کړي وه چې د دوی غونډې مالدار بل څوک نه وه[۱]، مګر کله چې دوی نبي کریم ﷺ ته د دروغو نسبت وکړ او نافرماني یې ترې اختیار کړه، نو الله ﷻ ورباندې د خپلو نعمتونو کړۍ لږ څه ورتنګه کړه او څه سختي یې ورباندې وروستله، نو فنحاص بن عازوراء نومې یهودي ذکره شوې خبره وکړه او نورو یې ورسره د خبرې لکۍ تاوه کړه، نو الله ﷻ ایت شریف نازل کړ او د دوی د سپین سترګۍ څخه یې یو ځل بیا پرده پورته کړه[۲].

## د مطلب خلاصه

۱_ یعني: ای پیغمبره! یهودان لکه څنګه چې ستا په باره کښې د سپکو سپورو خبرو څخه ډډه نه کوي، همدارنګه د الله ﷻ په باره کښې هم ډېره زیاته سپین سترګي کوي. مثلاً:

کله چې په دوی باندې د خپل تجاوز او عصیان د امله الله ﷻ څه د رزق تنګسه ورنازله کړي نو په دې عوض چې خپل ځانونه اصلاح کړي، د الله ﷻ په هکله مسخره آمېزه خبرې کوي چې لاس یې تړلي شوي دي، څه ورسره نشته، خزانې یې تشې شوې دي، او یا څه لري خو بخل کوي، او زمونږ رزق نه پراخوي.

۲_ ای پیغمبره! لاسونه د یهودانو تړل شوي دي چې مسکنت او فقیرۍ ورباندې خیمه وهلې ده، که بالفرض هر شی بنه ډېر ولري هم د دوی زړونه نه مړېږي، ځکه چې الله ﷻ په دوی باندې لعنت نازل کړی دی او د خپل رحمت څخه یې لرې کړي دي.

۳_ ای پیغمبره! دغسې نه ده لکه چې یهودان یې وایي بلکې د الله ﷻ دواړه لاسونه خلاص او پراخه دي، تړلي شوي نه دي، ټول مخلوق ته نفقه او روزي ورکوي البته څومره او څنګه یې چې خوښه شي، که یهودان ستا د عصیان څخه لاس واخلي په دوی باندې به هم پراخي ورنازله کړي.

۴_ ای پیغمبره! څرنګه چې الله ﷻ تاته د یهودانو د پټو اسرارو څخه خبر درکړ چې داسې-داسې خبرې کوي، نو په کار وه چې همدغه اخبار دوی د معجزې په شکل منلي وی او په تاباندې یې ایمان راوړی وی، مګر په تاباندې چې هر کله الله ﷻ څه غیبي معجزات درنازل کړي، په عوض د دې چې دوی ترې عبرت واخلي کفر او سرکشي یې لا پسې اضافه کېږي او د دښمنۍ او عداوت اور یې لا پسې تازه کېږي.

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۲ ص۴۱

(۲) تفسیر البغوي ج۲ ص۵۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر په یاد ولره! که دوی هرڅومره د فساد اورونه بل کړي او وغواړي چې تاسو مسلمانان پکښې لولپه کړي او په څمکه کښې فساد خور کړي، نو دا کار به ونه شي کړی او په خپلمنځي اختلاف او دښمنیو باندې به یې الله ﷻ داسې اخته کړي چې تاسو به ترې هېر شئ او د فساد اور به یې ستاسو په هکله مړ کړي، بلکې پخپله به پکښې توره لوخړه شي، او دا ځکه چې الله ﷻ مفسدان نه خوښوي.

## توضیحات

١ـ د ﴿ مَغْلُولَةٌ ﴾ کلمه د "غَلّ" څخه اخستله شوې ده، یو شی د بل شي په منځکښې راوستل، د "غَلّ" په نامه یادېږي، د همدې کبله هغو اوبو ته چې د ونو په منځکښې روانې وي "غَلَل" وايي[1].

او د "غُل" کلمه هم د همدغه مصدر څخه اشتقاقه شوې ده چې په معنی د زولنو او غوراب سره ده.

### "يَدُ اللهِ مَغْلُولَةٌ" څه معنی؟

٢ـ نو د ذکرې شوې جملې لفظې معنی داسې کېږي: یهودان وايي چې د الله ﷻ لاس په غوراب کښې ایسار دی چې یوې خوا ته یې هم نه شي اوږدولی، مګر د هغوی دغه لفظي معنی مراده نه وه، لکه چې د شان نزول واقعه وربانديې دلالت کوي، بلکې د هغوی مطلب دا وه ـ العیاذ بالله ـ چې الله ﷻ یا فقیر دی څه شی نه لري او مونږ غنیان یاستو، او یا بخیل دی چې مونږ ته څه نه راکوي.

دا ډول جملې په ټولو ژبو او همدارنګه په عربي ژبه کښې هم د بخل څخه د کنایه په توګه استعمالېږي او مونږ د [البقرة:١١٥] ایت لاندې مشرح لیکلي دي چې په قرآن کښې د عربي ژبې او هم د عربي محاورې ټول خواص مراعات کړی شوي دي، د همدې کبله یې ټولې دنیا ته د خپلې مقابلې چلنج ورکړی شو، که نه نو د وخت معاندینو به ډېر ژر خپله کمزوري په دې بهانه باندې پټه کړې وی چې مونږ څکه د قرآن کریم په مثل کلام نه شو جوړولی چې زمونږ کلام په عربیت بنا دی او هلته د عربیت مراعات نه دی شوی.

لنډه دا چې په محاورو کښې د لاس لنډون او اوږدوالی د بخل او سخا څخه نمایندګي کوي، دلته د الفاظو انفرادي معناوو ته نه کتل کېږي بلکې عمومي ترکیبي (کنایي) معنی یې مرادېږي او بس.

دا ډول استعمال دومره شهرت لري چې اصلي لفظي معنی ته یې د هیچا خیال نه ورتاوېږي، ته به وايي چې همدا یې حقیقي معنی ده، حتی چې هغه سخي سړي ته هم "طَوِيلُ الْيَدِ" (اوږد لاسی) وايي چې بالفرض بالکل لاسونه ونه لري مګر سخاوت او جوادت ولري. د ښه وضاحت دپاره لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: بي بي عائشه (أم المؤمنین رضی الله عنها) وايي چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ مونږ (د مؤمنانو مورګانو) ته وویلې چې: «أَسْرَعُكُنَّ لَحَاقًا بِي أَطْوَلُكُنَّ يَدًا» یعني: ستاسو څخه به په ما پسې هغه

(١) مفردات الراغب ص٣٧٥

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بي بي چالاکه پيوسته شي (وفاته شي) چې په تاسو کښې د لاس د حيثه اوږده وي. عائشه رضي الله عنها وايي چې: «فَكُنَّ يَتَطَاوَلْنَ أَيَّتُهُنَّ أَطْوَلُ يَدًا» يعنې: نو دوی به سره يو تربله لاسونه په اندازه کول چې کومه يوه د لاس د حيثه اوږده ده؟، زمونږ دا خيال وه چې بي بي سَوْدَه رضي الله عنها به ژر وفاته شي او په نبي کريم ﷺ پسې به پيوسته شي ځکه د هغې لاسونه اوږده وه مګر وروسته څرګنده شوه چې د نبي کريم ﷺ سخاوت مطلب وه او دا ځکه چې «فَكَانَتْ أَطْوَلَنَا يَدًا زَيْنَبُ لِأَنَّهَا كَانَتْ تَعْمَلُ بِيَدِهَا وَتَصَدَّقُ»[١] په مونږ کښې اوږدلاسې (سخاوت کوونکې) بي بي زينبه رضي الله عنها وه ځکه چې نوموړې به په لاس باندې کار کاوه او ګټل شوی مال به يې صدقه کاوه نو په همدې بنا د ټولو بيبيانو څخه وړاندې وفاته شوه او په نبي کريم ﷺ پسې په چالاکۍ سره پيوسته شوه.

ب: ابو هريره رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ څخه يو اوږد حديث روايت کړی دی[٢] چې لنډ مضمون يې دا دی: د بخيل سړي او د سخي سړي مثال داسې دی چې دوه سړي وي او د اوسپنې چپنې يې اغوستې وي، چې د دواړو لاسونه يې په غاړو او سينو پورې تړلي وي، مګر کله چې دوی دواړه خيرات ته نيت وکړي نو هر يو د لاندې کيفيت سره مخامخ شي:

د سخي سړي د اوسپنې کړۍ اوږدې شي حتی چې آن تر ګوتو وغزېږي، ته به وايې چې بالکل په غوراب کښې نه دی راتاو شوی، او په خلاص لاس باندې خيرات وکړي.

اما په بخيل سړي باندې د خيرات په وخت کښې د اوسپنې غوراب ټينګ ورکلک شي چې لاس يې د سينې څخه لږ حرکت هم ونه کړي او کلک يې په غاړې پورې نښتی وي.

ج: څرنګه چې نبي کريم ﷺ بې حده جواد او د سخاوت خاوند وه، نو الله ﷻ ورته په ذکر شوي عبارت سره هدايت وفرمايه چې: ﴿ وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَىٰ عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ ٱلْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَّحْسُورًا ﴾ [الإسراء: ٢٩] يعنې: (ای پيغمبره!) خپل لاس دې خپلې غاړې ته مه غوراب کوه، او مه يې غزوه پوره غزول، نو ته به کښېنې ملامت کړی شوی لوڅ کړی شوی (ستومانه، ناداره).

د: نبي کريم ﷺ په اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «يَدُ اللهِ مَلْأَى لَا تَغِيضُهَا نَفَقَةٌ سَحَّاءُ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ»[٣] يعنې: د الله ﷻ لاس ډک دی، نفقه ورکول يې نه شي کمولی، په دوامداره توګه نازلوونکی دی شپه او ورځ.

## «غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ» څه معنی؟

٣ـ مفسرينو کرامو د دې جملې ﴿ غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ ﴾ لاندې معناوې کړې دي[٤] چې:

(١) صحيح مسلم ج٢ ص٢٩١
(٢) صحيح البخاري ج٢ ص٨٦٢
(٣) صحيح البخاري ج٢ ص٦٧٧
(٤) زاد المسير ج٢ ص٢٩٨

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د دوی لاسونه دې وتړل شي چې د فقر یا ناداری د کبله هیڅ شی چاته ورنه کړی شي، همداسې وشوه چې یهودان په ټوله دنیا کښې د بخل د حیثه اول نمره دي، نو په دې تقدیر ذکره شوې جمله دعائیه جمله جوړېږي.

ب: د دوی لاسونه تړل شوي دي چې چا ته څه شی نه شي ورکولی. په دې تفسیر سره ذکره شوې جمله د یهودانو د بخل څخه اخباریه جمله ګرځي.

ج: ځینو مفسرینو کرامو د یهودانو په اُخروي حالت باندې تفسیره کړې ده چې دوی به په دوزخ کښې غورځول کړی شي او لاسونه به یې د غاړو پورې وتړل شي.

د: او ځینو نورو په دنیاوي غوراب کېدلو باندې تفسیره کړې ده، چې یهودان په دنیا کښې د نورو د لاس لاندې ژوند کوي او هر وخت د رټلو او غوراب کولو جوګه دي.

په دې باره کښې یې لاندې عجیبه قیصه لیکلې ده[1] چې:

## یوه عجیبه قیصه

د عباسیانو په حکومتي دوران کښې یوه یهودي (چې سعد الدوله نومېده) د قرآن کریم څخه دغه جمله ﴿ غُلَّتۡ أَيۡدِيهِمۡ ﴾ محوه کړې وه، ته به وایې چې نوموړی یهودي اشاره کوي چې دا جمله دروغ ده، نه ګورئ چې مونږ دومره اقتدار لرو چې مونږ ورباندې خط راکش کوو او څوک مو مخه نه شي نیولی. یوه هفته لا تېره نه وه چې د وخت پاچا ورباندې په څه وجه په غُصه شو، او د هغو د نیولو امر یې ورکړ، په نتیجه کښې لاس تړلی (غوراب شوی) د پاچا حضور ته وروستلی شو او د اعدام (وژلو) امر یې ورباندې وکړ، او د ﴿ غُلَّتۡ أَيۡدِيهِمۡ ﴾ جمله ورباندې صادقه شوه.

زمونږ په نزد ذکرې شوې ټولې معناوې سره یو تربله څه منافات نه لري، چې د ﴿ غُلَّتۡ أَيۡدِيهِمۡ ﴾ څخه هغه څه مراد کړی شي چې د دې جملې اطلاق پرې کیږي. چې په عربیت کښې ورته عموم مجاز وایي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: ایا داسې به ښه نه وه چې د یهودانو دروغینه وینا ﴿ يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌ ﴾ په خپل مثل وینا "بَلۡ يَدُهُ مَبۡسُوطَةٌ" باندې جواب شوې وی، چې په دواړو کښې د "يَدٌ" کلمه مفرده ده؟

مونږ وایو چې: څرنګه چې د یوه لاس خلاصوالی او غزېدل د ورکړې څخه کنایه اخستل کېږي، نو د دوه وو لاسونو خلاصون خو د ښه وسعت او پراخۍ څخه کنایه ګڼل کېږي، او په عربي محاوره کښې خو مثنی هم د همدې مطلب دپاره استعمالېږي. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ كَرَّتَيۡنِ ﴾ [الملك: ۴] یعنې: بیا-بیا په اسمانو کښې سترګې وګرځوه، ایا څه قصور پکښې شته دی.

---

(۱) تفسیر المنار ج۶ ص۴۵۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو په دې مقام کښې يې معنی داسې کېږي چې: يهودان دروغ وايي، الله ﷻ بې اندازې جواد (سخي) دی چې هر ډول دنياوي او اخروي، معنوي او مادي نعمتونه يې ورکړي دي او لا ورکړه يې په جلتۍ سره روانه ده.

## يوه ډېره ضروري خبره

٥ـ په ذکر شوي تفصيل کښې زمونږ مطلب فقط همدومره وه چې د ايت شريف ترکيبي معنی مو واضحه کړه چې د يهودانو د ﴿ يَدُ ٱللَّهِ مَغْلُولَةٌ ﴾ څخه څه غرض وه او الله ﷻ د هغوی غرض په ﴿ بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ ﴾ سره څنګه رد کړ؟.

پاتې شوه دا خبره چې که مونږ د دې مقام څخه نظر قطعه کړو او صرف دا په نظر کښې ونيسو چې "يَدُ اللهِ" (د الله ﷻ لاس) څه معنی؟ نو وبه وايو چې:

دا پوښتنه يوازې په "يَدُ اللهِ" کښې مطرح نه ده بلکې په هغو ټولو کلماتو کښې مطرحه ده چې مونږ يې معناوې په ممکناتو کښې پېژنو خو چې خالق الممکنات (الله ﷻ) ته يې نسبت وکړی شي نو مونږ پکښې څکه تکني کېږو چې د ذکرو شوو کلماتو معناوې څه لوازم لري چې هغه د الله ﷻ سره مناسب نه دي، د همدې کبله علماء کرام پکښې په لاندې دوه ګروپونو باندې ويشلي شوي دي:

الف: متأخرين علماء عليهم الرحمة ذکرو شوو کلماتو ته د نصوصو په مطابق تاويل ورکوي، ترڅو د معاندينو د اعتراضاتو مخه ونيوه شي او د عوامو د څنګه ـ څنګه ويلو سلسله قطعه شي.

ب: سلف الصالحين عليهم الرحمة تاويل نه ورکوي او په حقائقو باندې يې بلا کيفه عقيده کوي. مثلاً وايي چې الله ﷻ لاس لري خو داسې نه لکه زمونږ لاس، الله ﷻ سترګې لري خو داسې نه لکه زمونږ سترګې او داسې نور. بلکې داسې لاس او سترګې لري چې د الله ﷻ د عالي شان سره مناسب وي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې تفصيل ته متوجه شئ:

مونږ پښتانه وايو چې غوښه پخه شوه، يعنې په اور باندې؛ ميوه پخه شوه، يعنې په لمر باندې؛ خبره پخه شوه، يعنې په شاهدانو او قسمونو باندې؛ علم پوخ شو، يعنې په زيات تدريس باندې؛ ايمان پوخ شو، يعنې په صالح اعمالو باندې؛ بالآخره دوستي پخه شوه، يعنې په زيات اخلاص باندې او داسې نور.

نو په ذکرو شوو مثالونو کښې مونږ پوخوالی پېژنو خو د هر شي د حالت سره مناسب، همدارنګه مونږ لاس او سترګې په ممکناتو کښې په کيفياتو سره پېژنو، اما د خالق الکائنات (الله ﷻ) په هکله ورباندې بلاکيفه عقيده لرو، او کيفيت يې په ممکناتو باندې نه شو قياسولی چې علم پرې نه لرو، او رجماً بالغيب خبره نه شو کولی.

لنډه دا چې د متأخرينو طريقه ګټوره ده خو خطرناکه ده چې په تاويل کښې سړی خطا نه شي، او د متقدمينو طريقه بې خطره ده، په اصطلاح که هغه طريقه سپين زر وي نو دا طريقه به سره زر وي.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## عداوة او بغضاء څه فرق لري؟

۶_ د "عَدَاوَة" کلمه اصلًا د "عَدْوٌ" سره په اصلي حرفونو کښې متحده ده او "عَدْوٌ" تجاوز او د اجزاوو عدم پیوستون ته وايي مګر کله چې د زړونو په متعلق استعماله شي نو د "عَدَاوَة" په نامه يادېږي[١]. او د "بَغْضَاء" کلمه د "بُغْض" څخه جوړه شوې ده چې مقابل يې محبت دی[٢].

په دې مقام کښې چې دواړه کلمې په يوه موضوع کښې استعمالې شوې دي نو مفسرينو کرام وايي چې د "عَدَاوَة" او "بَغْضَاء" ترمنځ عموم خصوص مطلق دی، چرته چې عَدَاوَة وي هلته به ضرور بَغْضَاء (کينه) هم وي، او بَغْضَاء به وي مګر عَدَاوَة (دښمني) به ورسره نه وي[٣]، داسې معلومېږي چې دوی د عَدَاوَة کلمه په جنګ او جګړه باندې تفسيره کړې ده.

په هر تقدير، په دې ايت کښې د ﴿ بَيْنَهُمُ ﴾ ضمير يهودو او نصاراوو (د دواړو ډلو مجموعې) ته راجع دی[٤]، لکه څنګه چې مونږ په تېر شوي يو پنځوسم [٥١] ايت کښې د دواړو د موالاة او تناصر څخه منعه کړې شوي وو. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! ذکرې شوې دواړه ډلې ستاسو په مقابل کښې د قيامت د ورځې پورې سره لاس نه شي يو کولی، چې د دواړو څخه مرکب لښکر جوړ شيَ او ستاسو په مقابل کښې ودرېږي.

هو! دا بېله خبره ده چې ستاسو ګمراه کېدل او د منځه تلل د دواړو آرزو ده، او هر يوه ډله ورته تږې ناسته ده.

## د جنګ اور يعنې څه؟

۷_ په عربو کښې رواج وه چې کله به يوې قبيلې نيت درلود چې جنګ وکړي نو په يوه لوړ ځای باندې به يې اور بل کړ چې ټولې قبيلې ته به ښکارېده ترڅو د جنګ دپاره تياری ونيسي[٥].

محدثينو کرامو په لاندې حديث کښې د «نَارَاهُمَا» يوه ترجمه (د ذکر شوي رواج په بنا) د جنګ په تياری باندې کړې ده چې نبي کريم ﷺ يوه ورځې وفرمايل چې: زه د هر هغه مسلمان څخه بېزار يم چې د مشرکانو په منځکښې اوسېږي، صحابه وو کرامو ﷺ عرض وکړ چې: يا رسول الله! دا ولې؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «لَا تَرَايَا نَارَاهُمَا»[٦] د دواړو اورونه سره يو تربله ليدل نه کوي يعنې توافق نه کوي، چې مسلمان د الله ﷻ دپاره جنګېږي او مشرک د شيطان په لار کښې جنګ کوي.

نو د معنی حاصل يې په دې مقام کښې په لاندې دوه ډولونو باندې رااوځي:

---

(١) مفردات الراغب ص٣٣٨
(٢) مفردات الراغب ص٥٣
(٣) المحرر الوجيز ج٥ ص١٥١
(٤) البحر المحيط ج٤ ص٣١٦
(٥) احکام القرآن للجصاص ج٢ ص٤٤٨
(٦) سنن ابي داوٗد ج١ ص٣٥۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: کله چې اهل الکتاب تاته د جنګ تیاری ونیسي (ای پیغمبره!) نو هغه به الله ﷻ د خاورو سره برابر کړي. لکه چې همداسې وشو، د بني نضیرو، بني قینقاع او بني قریظه وو حالت د هیچا څخه پټ نه دی.

ب: د هر چا سره چې دوی د جنګ اور بل کړي مطلب ته به ونه رسېږي، لکه چې په راتلونکي یو اویا [۷۱] ایت شریف کښې یې څه وضاحت راروان دی او هم ورته د "الإسراء" سورت په اولنیو ایتونو کښې اشاره شوې ده.

﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّقَوْا۟ لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ وَلَأَدْخَلْنَـٰهُمْ جَنَّـٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٦٥﴾ وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا۟ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم ۚ مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ ﴿٦٦﴾﴾

[۶۵] او که چېرې یقینًا اهل الکتابو (واقعي) ایمان راوړی وی او پرهېزګاري یې کړې وی، نو خامخا به مو د دوی ګناهونه پټ کړي (رژولي) وی، او ضرور به مو د نعمتونو باغونو ته ورداخل کړي وی.

[۶۶] او که چېرې دوی تورات (په پښو) ودرولي وی او انجیل هم او (بالآخره) هغه کتاب هم چې دوی ته (په نني عصر کښې) د خپل رب د پلوه ورنازل شوی دی (یعنې قرآن کریم)، نو ضرور به دوی د خپلو خانونو د پاسه او هم د خپلو پښو د لاندې څخه (د الله ﷻ نعمتونه) خوړلي وی (پرېمانه به لاس ته ورغلي وی).

د دوی (صرف) یوه ډله (د افراط او تفریط په منځکښې) میانه روي کوي، او د دوی ډېر (اقتصاد نه کوي)، ډېر ناکاره دی هغه شی چې دوی یې کوي (یعنې عدم اقتصاد).

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندې ایت کښې الله ﷻ واضحه کړې وه چې یهودان د لعنت مستحق دي او په دې ایتونو کښې مهرباني کوي چې اوس هم سر وخت دی، دوی کولی شي چې د لعنت څخه ځانونه خلاص کړي.

۲ـ هلته د هغوی د خولو څخه حکایت شوی وه چې هغوی د روزۍ د تنګسې د کبله په الله ﷻ باندې د مغلول الید نوم ږدي او دلته څرګندېږي چې د روزۍ د تنګسې سبب د همدوی د خپلو لاسونو محصول دی.

## د مطلب خلاصه

یعنې: تر اوسه پورې خو د توبې دروازه نه ده تړلې شوې، که اهل الکتاب په صحیحو معناوو

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې ایمان راوړي نو مونږ به ترې هم ګناهونه ورژوو او پخوانیو سپکو سپورو خبرو ته به یې ونه ګورو او هم به یې د لعنت څخه خلاص کړو او جنتونو ته به یې ورداخل کړو.

همدارنګه که دوی په ټولو کتابونو باندې رښتیانی ایمان راوړي او ټول کتابونه په ښو باندې ودروي نو د روزۍ تنګسه به ترې الله ﷻ پورته کړي او د سر څخه تر پښو پورې به یې په نعمتونو کښې پټ کړي چې د اسمانه به پرې راورېږي او د ځمکې څخه به ورته راخوټېږي.

مګر د اهل الکتابو یوازې یو ټولګی په اسلامي معتدله لاره باندې روان دی او اکثریت یې خپلو بدو کارونو او پوچو خبرو ته ادامه ورکوي، او نه غواړي چې د الله ﷻ د لعنت څخه خپل ځانونه بچ کړي، که نه نو مونږ خو دوی ته د خلاصون لاره واضحه وښودله.

## توضیحات

١ـ د ﴿ أَقَامُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ ﴾ کلمه د "إِقَامَة" څخه اخستله شوې ده، د یو شي اقامه (په ښو ودرول) د دې څخه عبارت دي چې ټول حقوق یې په علم او عمل سره پوره کړی شي[1].

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي: که چېرې اهل الکتاب تورات، انجیل او بالآخره قرآن کریم (چې ټولو خلکو ته نازل شوی دی او د ټولو د جملې څخه دوی هم دي) عقیدةً او عملاً په ښو ودروي نو الله ﷻ به وروباندې د دنیا او آخرت نعمتونه ورنازل کړي.

## سوال جواب

٢ـ که څوک وایي چې: تورات او انجیل خو په قرآن کریم سره منسوخ کړی شوي دي، ایا اوس هم د اهل الکتابو څخه د هغو د تعمیل غوښتنه کېږي؟

مونږ وایو چې: د قرآن کریم د حقوقو پوره کول د تورات او انجیل د حقوقو پوره کول هم دي، چې دا د هغو دواړو مهیمن (څارونکی) دی او هغه دواړه په ده باندې بشارت ورکوونکي دي.

نو که اهل الکتاب واقعاً په خپلو کتابونو باندې حقیقي ایمان راوړي او تحریفات د نظره وغورزوي نو ضرور به د قرآن کریم حقوق هم پوره کړي او د عبد الله بن سلام غوندې به په ایمان باندې مشرف شي.

## ایا په دینداری باندې رزق پراخېږي؟

٣ـ د ذکر شوي ایت شریف څخه څرګندېږي چې د الله ﷻ اطاعت او فرمانداري د روزۍ د پراخه کېدلو یو سبب دی. لاندې تائیدات هم ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا ۝ وَيَرۡزُقۡهُ مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُ ﴾ [الطلاق: ٢، ٣] یعنې: او هر څوک چې د الله ﷻ څخه ډارېږي ده لره به د (غمونو څخه) د وتلو څه چاره

---

(١) مفردات الراغب ص٤٣٣

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جوړه کړي او د داسې طرف څخه به روزي ورکړي چې (د هغه طرف څخه به يې لا) ګومان هم نه وي.

ب: همدارنګه نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايي چې: «وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِالذَّنْبِ يُصِيبُهُ»[1] يعني: او يقيناً سړی خامخا د روزۍ څخه د ګناه په سبب محرومېږي چې ورته اصابت وکړي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې د ذکر شوي تفصيل نتيجه دا راوځي چې بايد ديندار خلک هيڅکله د روزۍ د تنګۍ سره مخامخ نه شي، حال دا چې ډېر تقوی داران په ګېډه باندې ماړه نه دي؟

مونږ وايو چې: په ايت شريف کښې مطلب دا دی چې په چا باندې چې الله ﷻ د غصيان او بې دينۍ د کبله روزي تنګه کړې وي، لکه چې په يهودانو باندې يې د همدې کبله تنګي وروستلې وه، نو هغه تنګي به په دينداري سره الله ﷻ په پراخۍ باندې بدله کړي، اما هغه تنګي چې د بل حکمت غوښتنه وي لکه د الله ﷻ په وړاندې د درجو پورته کيدل يا په امتحان کښې واقع کول نو دا ډول تنګي نه د دينداری سره څه منافات لري او نه يې الله ﷻ په پراخۍ باندې د بدلولو څه وعده کړې ده.

## اقتصاد څه معنی؟

۵_ د ﴿ مُقْتَصِدَةٌ ﴾ کلمه د اقتصاد څخه اشتقاقه شوې ده، اقتصاد داسې تللو ته وايي چې د دوه شيانو په منځکښې صورت ونيسي، نو د طرفينو په اعتبار سره لاندې دوه ډولونه لري[2]:

الف: هغه اقتصاد چې يو طرف يې ښه وي او بل طرف يې ناکاره وي لکه چې څوک د عدل او ظلم په منځ کښې ميانه روي اختياره کړي يعنې داسې کار وکړي چې نه سوچه عدل وي او نه سوچه ظلم وي.

ب: هغه اقتصاد چې دواړه طرفونه يې ناکاره وي لکه "جَوَادَة" چې يو طرف يې بخل دی او بل طرف يې اسراف دی، همدې ډول ته د افراط او تفريط په منځ کښې اعتدال هم وايي. په دې مقام کښې همدغه ډول مطلب دی.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: د اهل الکتابو صرف يو ډله نه د نصاراوو په شان افراط کوي چې عيسی ﷺ ته د معبوديت لقب ورکوي او نه د يهودانو په څېر تفريط کوي چې د پيغمبرانو په وژلو باندې ضرفه نه کوي، دغه ډله عبد الله بن سلام ﷺ او د ده ملګري دي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ
يَعْصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٦٧﴾ ﴾

(۱) سنن ابن ماجه ص۲۹۱
(۲) مفردات الراغب ص۴۱۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۷] ای لېږلی شویه! هغه شی (خلکو ته) ورسوه چې تاته د خپل رب د طرفه درنازل کړی شوی دی، او که ته (دا) فعل ونه کړې نو تا به د خپل رب پیغام نه وي رسولی (او خپله وظیفه به دې نه وي انجامه کړې). او الله ﷻ دې (د ټولو) خلکو څخه ساتي.

یقینًا الله ﷻ کافر قوم ته هدایت نه کوي (څکه دوی حق پسې نه ګرځي).

## شان نزول

د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې د ذکر شوي ایت شریف د نزول څخه وړاندې به نبي کریم ﷺ ساتل کېده (صحابه وو کرامو ﷺ به یې پیره کوله) خو کله چې ذکر شوی ایت شریف نازل شو نو نبي کریم ﷺ د خیمې څخه سر راوویست او پیره دارانو ته یې وویلې چې: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ انْصَرِفُوا فَقَدْ عَصَمَنِي اللهُ»[۱] ای خلکو! لاړ شئ (زما پیره داري مه کوئ) نو یقینًا ما الله ﷻ ساتي (زما حفاظت کوي).

په همدې هکله څه نور شان نزولونه هم مفسرینو کرامو لیکلي دي[۲]، خو مونږ د اوږدوالي د کبله رانقل نه کړه.

## د مطلب خلاصه

څرنګه چې په وړاندېنیو ایتونو کښې د اهل الکتابو په باره کښې ډېرې څیرې خبرې نازلې شوې دي چې دوی مفسدان او بدکاران دي، نو څه لرې نه ده چې د دوی په فکر کښې ورغلي وي چې که مونږ څه تهدید څرګند کړو نو نبي کریم ﷺ به زمونږ په باره کښې څه ایتونه د ډار د کبله پټ کړي، نو الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ په کامل تبلیغ باندې مکلف کړ، او دوی یې په غوږ باندې ووهل چې ذکر شوی خیال د مغزو څخه وباسي.

یعنې: ای پیغمبره! د خپلې وظیفې انجامولو ته په کامله توګه ادامه ورکړه، ستا ساتونکی الله ﷻ دی، نه درباندې د پیریانو زور رسېږي او نه د بنیادمانو، ستا دښمنان دې دا خیال ونه کړي چې تا به د منځه یووړلی شي.

که بالفرض ته د تبلیغ دنده انجامه نه کړې او لږ قصور درڅخه پکښې واقع شي نو ته به داسې وګڼل شې لکه چې بالکل دې خپلې دندې ته شا کړې وي چې دا کار ستا د شان سره هیڅ مناسب نه دی.

پاتې شو د خلکو منل او نه منل، نو دا ستا کار نه دی الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي چې څوک د هدایت وړ دی او څوک یې وړ نه دی، د همدې کبله عنادي کافرانو ته هدایت نه کوي چې د هدایت استعداد یې د لاسه ورکړی دی.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۵

(۲) تفسیر القاسمي ج۶ ص۲۹۹؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۳۵

Downloded from: bawarketaboon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

١_ لکه څنګه چې نبي کریم ﷺ ته الله ﷻ امر کړی وه چې ټول شریعت خلکو ته ورسوه چې ته د همدې کار دپاره استولی شوی یې، نو الحمد لله نبي کریم ﷺ په ډېره زیاته امانتدارۍ سره خپله وظیفه انجام کړه. د ښه وضاحت دپاره لاندې دوه احادیث ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ د هجرت په لسم کال د حجة الوداع په موقع تقریبًا په خپلو څلوېښتو زرو صحابه وو کرامو ﷺ[1] کښې غږ وکړ چې: «أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ؟ قَالُوا: نَعَمْ!» یعنې: ای صحابه وو! ایا ما تاسو ته د الله ﷻ ټول شریعت رسولی دی؟، ټولو په یوه خوله وویلې چې: هوا، بیا نبي کریم ﷺ وویلې چې: «اللَّهُمَّ اشْهَدْ فَلْيُبَلِّغْ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ»[2] ای الله! ته شاهد اوسه چې ما ستا ټول شریعت خلکو ته رسولی دی چې ټول ورباندې اقرار کوي، نو څوک چې دلته حاضر دي هغه دې غائب سړي ته ورسوي چې تر قیامته پورې زما ټول اُمت شاهدان جوړ شي چې ما ټول شریعت رسولی دی او هیڅ شی مې پټ نه دی پرېښی.

ب: بي بي عائشه (أم المؤمنین رضي الله عنها) وایي چې «مَنْ حَدَّثَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا ﷺ كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا أُنْزِلَ عَلَيْهِ فَقَدْ كَذَبَ وَاللهُ يَقُولُ: ﴿ يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ ﴾ الْآيَةَ»[3] یعنې: هر څوک چې درته وواېي چې نبي کریم ﷺ د هغه شي څخه چې په ده ﷺ باندې ورنازل شوی وه څه شی پټ کړی دی (او خلکو ته یې نه دی رسولی) نو بې شکه چې هغه دروغ وایي حال دا چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ ﴾ تر آخره پورې.

### روافض دروغ وایي

٢_ روافض (چې د شیعه ګانو څخه یوه ډله ده) وایي چې نبي کریم ﷺ په تقیه باندې عمل کړی دی او ټول شریعت یې خلکو ته نه دی بیان کړی او د صحابه کرامو ﷺ څخه ډارېده[4]، ته به وایي چې دوی د علي ﷺ خلافت ته اشاره کوي چې الله ﷻ ورته امر کړی وه چې اعلان یې کړه خو نبي کریم ﷺ د حجة الوداع په خطبه کښې د ډاره اعلان نه کړ، العیاذ بالله من هذا الإفتراء.

په دې مقام کښې که څوک اوږد تحقیق غواړي نو څینو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[5] چې ښه پوره شرحه یې ورکړې ده.

### الله ﷻ خپل تضمین پوره کړ

٣_ کوم تضمین چې الله ﷻ د خپل پیغمبر ﷺ د حفاظت په هکله کړی وه هغه تضمین یې ترسره

---

(١) تفسیر القاسمي ج٦ ص٢٨٦
(٢) صحیح البخاري ج١ ص٢٣٥
(٣) صحیح البخاري ج٢ ص٦٦٤
(٤) تفسیر المنار ج٦ ص٤٦٤؛ تفسیر القرطبي ج٦ ص٢٤٣
(٥) روح المعاني ج٦ ص١٩٣_ ١٩٩

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړ چې په بې شمېره مواقعو کښې ورته کافرانو قصد کړی وه چې د منځه يې يوسي (او ترور يې کړي) مګر په هيڅ ځای کښې کامياب نه شوه. ځينو مفسرينو کرامو د سوء قصد ځينې ځايونه ليکلي دي[1]، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هلته دې مراجعه وکړي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: د نبي کريم ﷺ مبارک غاښ د احد په غزا کښې شهيد شو او مبارک مخ يې زخمي شو، ايا دا د حفاظت په تضمين کښې شامل نه وه؟

مونږ وايو چې:

الف: ذکر شوی ايت د احد د غزا څخه وروسته نازل شوی دی[2].

ب: مګر مونږ ته داسې ښکاري چې الله ﷻ صرف د ترور (وژلو) تضمين کړی وه او هغه يې ترسره کړ، اما د وژلو څخه راښکته خو په نبي کريم ﷺ باندې د کافرانو د لاسه د زخمي کېدلو څخه ډېر درانه غمونه ورغلي دي لکه چې په بي بي عائشې رضي الله عنها پورې يې د دروغو تهمت وتاړه، ايا دا د زخمي کېدلو څخه کم وه؟

لنډه دا چې الله ﷻ د ترور (وژلو) څخه په غير د نورو غمونو او دردونو تضمين نه دی کړی. لاندې وضاحت ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوٓا۟ أَذًى كَثِيرًا ﴾ [آل عمران: ١٨٦] يعني: او خامخا ضرور به د هغو خلکو څخه چې ستاسو څخه وړاندې کتاب ورکړی شوی دی او د هغو خلکو څخه هم چې هغوی (د الله ﷻ سره شريک ګرځوي)، ډېر اذيتونه واورئ.

دوهم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «عِظَمُ الْجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ»[3] د اجر لويوالی د بلاء (مشقت) د لويوالي سره تړلی دی. د همدې کبله په نبي کريم ﷺ باندې زښت ډېر مصيبتونه ورغلي دي.

﴿ قُلْ يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ ۗ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَـٰنًا وَكُفْرًا ۖ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٦٨﴾ ﴾

[٦٨] (ای پيغمبره!) ووايه چې: ای اهل الکتابو! تاسو په هيڅ شي (اعتمادي دين) باندې نه ياست ترڅو چې تاسو تورات په (ايمان او عمل) سره ودروئ، او انجيل هم او (بالآخره) هغه شی

---

(١) تفسير القاسمي ج٦ ص٢٩٢

(٢) التفسير الكبير ج١٢ ص٥٠

(٣) سنن ابن ماجه ص٢٩٢

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(قرآن کریم) هم چې تاسو ته (په دې زمانه کښې) د خپل رب د پلوه درنازل کړی شوی دی.
او (مګر په یاد ولره چې) د دوی څخه ډېرو کسانو ته به خامخا هرو مرو هغه شی (قرآن کریم) چې تاته د خپل رب د پلوه درنازل کړی شوی دی سرکشي او کفر اضافه کړي (او ایمان به پرې رانه وړي)، نو ته په کافر قوم باندې مه غمژن کېږه (چې کاشکې د اوره یې نجات موندلی وی).

## ارتباط، د مطلب خلاصه او توضیحات

۱ـ په وړاندې ایت کښې الله ﷻ د نبي کریم ﷺ د حفاظت تضمین وکړ او په دې ایت کښې یې ورته توصیه وکړه چې بالکل په صافه لهجه باندې اهل الکتابو ته ووایه چې ترڅو تاسو په قرآن کریم باندې ایمان رانه وړئ ترهغه ستاسو دین هیڅ شی نه دی.یا په بل عبارت تاسو بې دینه یاست، دا خبره به دوی ته ډېر زور ورکړي او ډېره سخته به وربانذې تمامه شي، بالآخره طغیان او عداوت به یې لا قوي شي خو پام کوه چې ترې ونه ډار شې، ستا په باره کښې یې هیڅ شی د لاسه نه کېږي.
۲ـ په [المائدة:۶۶] ایت کښې همدا مضمون اهل الکتابو ته د غیاب په لهجه وړاندې شوی وه چې که دوی په ټولو کتابونو باندې عقیده وکړي (لکه چې مونږ یې وربانذې کوو) نو د روزۍ تنګي به یې په پراخۍ بدله شي. او دلته همدا مضمون ورته د خطاب په توګه وړاندې کېږي چې څکه تاسو ته د خوشالۍ موندلو دپاره په قرآن باندې بلکې په ټولو کتابونو باندې ایمان راوړل ضروري دي چې فعلًا ستاسو دین هیڅ شی دی او په هیڅ درد باندې نه دوا کېږي.

## قرآن کریم چا ته نازل شوی دی؟

۳ـ قرآن کریم په دې اعتبار سره نبي کریم ﷺ ته نازل شوی دی چې خاص همده ﷺ ته جبرائیل امین ﷺ وحې کړی دی، او په دې اعتبار سره مؤمنانو ته نازل شوی دی چې دوی پرې ایمان راوړی دی او بالآخره په دې اعتبار سره ټولو خلکو ته عمومًا او اهل الکتابو ته خصوصًا نازل کړی شوی دی چې د منحرفو عقائدو څخه حقې عقیدې او حقې لارې ته یې رابلي.
نو څکه په وړاندېني ایت شریف کښې د قرآن کریم د نزول اضافت یو ځل اهل الکتابو ته وکړی شو او بل ځل نبي کریم ﷺ ته وکړی شو.
۴ـ د ﴿ فَلَا تَأْسَ ﴾ څخه مطلب دا دی چې دومره د کافرانو په انحراف باندې مه غمژن کېږه چې په خپل ځان باندې یې بوج کړې او ژوند دې وربانذې تریخ شي، که نه نو د څه اندازه غم څخه خو خلاصی نشته.
همدا موضوع الله ﷻ په بل ځای کښې ډېره ښه واضحه کړې ده چې: ﴿ لَعَلَّكَ بَـٰخِعٌ نَّفْسَكَ أَلَّا يَكُونُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴾ [الشعراء: ۳] یعنې: شاید چې ته د خپل ځان وژونکی وګرځې چې دوی مؤمنان نه جوړېږي (خو دا کار مه کوه).

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلصَّٰبِـُٔونَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٩﴾ ﴾

[۶۹] يقيناً هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او هغه کسان چې په يهوديت کښې داخل دي او (بالآخره) صابيان او نصارا چې په الله ﷺ باندې او په وروستنۍ ورځې باندې (په صحيحو معناوو کښې) ايمان راوړي او صالح عمل وکړي، نو نه په دوی باندې ډار شته او نه به دوی غمژن شي.

## ارتباط او توضيحات

۱ـ په وړاندې ايت شريف کښې يوازې اهل الکتابو ته خطاب شوی وه چې ستاسو دين هيڅ شی دی او په دې ايت کښې اشاره شوې ده چې په نني عصر کښې د محمدي شريعت څخه په غير نور ټول شريعتونه لا شی دي او څه په درد نه خوري. او هم اشاره شوې ده چې د توبې دروازه د ټولو طائفو په مخ خلاصه ده چې د خپلو مزخرفو عقائدو څخه د اسلام مستقيمې عقيدې ته راتاو شي او آخرت او دنيا دواړه وګټي.

۲ـ دا دوهم ځل دی چې الله ﷺ د ټولو اديانو خاوندانو ته د نجات لاره وښودله، اول ځل يې په [البقرة:۶۲] ايت شريف کښې او دوهم ځل په همدې ايت شريف کښې چې اوس د بحث لاندې دی، مونږ لله الحمد هلته مناسب تحليل کړی دی چې دلته يې بيا تکرارول ضرور نه ګڼو.

## د عربيت يوه قاعده

۳ـ د عربيت د قوانينو په مقتضی بايد چې د ﴿ وَٱلصَّٰبِـُٔونَ ﴾ کلمه "وَالصَّابِئِينَ" نازله شوې وی مګر الله ﷺ دغسې نازله نه کړه ترڅو ټول لوستونکي دې خبرې ته متوجه کړي چې د توبې قبول يوازې په اهل الکتابو پورې خاص نه دی بلکې د هر دين پيروان چې خپل باطل دين پرېږدي او په اسلام باندې عقيده وکړي نو هغوی ټولو ته ذکره شوې وعده شامله ده.

نو په ذکر شوي تحليل باندې په ﴿ وَٱلصَّٰبِـُٔونَ ﴾ کلمه کښې يوازې لفظي تغير راغلی دی، اما په معنی کښې د خپلو معطوفاتو سره څه توپير نه لري، زمونږ د همدې نظير پوره شرحه د [النساء:۱۶۲] ايت لاندې تېره شوې ده، ولله الحمد والشکر والنعمة.

اما ځينو مفسرينو کرامو پکښې غير متبادر د تقديم او تاخير او هم د حذف التزام کړی دی چې صورت يې داسې راوځي(۱): "إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالنَّصَارَى مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ، وَالصَّابِئُونَ كَذَلِكَ".

مګر زمونږ په تحليل باندې نه د خلاف التبادر ارتکاب شته او نه د معنی په فهم کښې څه تعقيد وجود لري.

---

(۱) تفسير الکشاف ج۱ ص۶۶۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ رُسُلًا ۖ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا
تَهْوَىٰٓ أَنفُسُهُمْ فَرِيقًا كَذَّبُوا۟ وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ﴿٧٠﴾ وَحَسِبُوٓا۟ أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ
فَعَمُوا۟ وَصَمُّوا۟ ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوا۟ وَصَمُّوا۟ كَثِيرٌ مِّنْهُمْ ۚ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا
يَعْمَلُونَ ﴿٧١﴾﴾

[۷۰] بې شکه مونږ د بني اسرائیلو څخه کلک عهد اخستی وه او دوی ته مو ډېر رسولان وراستولي وه، (خو) هر کله به چې دوی ته یو پیغمبر د هغې شي سره ورغی چې د دوی نفسونو به نه خوښاوه (نو د هغه څخه به یې انکار وکړ نو د همدې کبله) دوی یوې ډلې (پیغمبرانو) ته د دروغو نسبت وکړ او یوه ډله وژني (ووژل).

[۷۱] او دوی ګومان وکړ چې (د پیغمبرانو په تکذیب او قتل باندې به) څه فتنه موجوده نه شي (او الله ﷻ به سزا رانه کړي)، نو دوی ړانده شوه او کاڼه شوه، بیا الله ﷻ په دوی باندې (په رحمت سره) رجوع وکړه (چې مصیبت یې ترې اوچت کړ او توبه یې ورته قبوله کړه مګر) دوی یعنې د دوی اکثره خلک بیا ړانده او کاڼه شوه. او الله ﷻ په هغه شي باندې چې دوی یې کوي بینا دی.

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې اهل الکتابو ته واضحه شوې وه چې ستاسو دین هیڅ شی نه دی، تاسو ته نجات نه شي درکولی، په دې ایتونو کښې د ذکرې شوې خبرې اثبات شوی دی چې که رښتیا دوی په خپل حق دین باندې ولاړ وی نو پیغمبران به یې ولې وژلی؟ او هم به دوی ته د زمانو په دوران کښې ولې ډول-ډول مصیبتونه رسېدلی؟ نو په دوی باندې ډېر زیات غمژن کېدل نه دي په کار.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! اهل الکتاب (بني اسرائیل) په یوه وخت کښې هم په خپل دین باندې ولاړ نه دي پاتې شوي او نه یې د خپلو تعهداتو څه پروا کړې ده، که نه نو مونږ خو د دوی څخه تعهدات اخستي دي او د تعهداتو د تعمیل دپاره مو وخت په وخت ډېر پیغمبران وراستولي دي ترڅو وخت په وخت د دوی لاس نیوی وکړي او د انحراف مخه یې ونیسي.

۲ـ مګر هر کله چې دوی ته زمونږ پیغمبر ورغلی دی او شریعت یې وروړی دی البته هغه شریعت چې د دوی د خواهشاتو سره به یې سمون نه خوړ، د هغه په مقابل کښې یې قیام کړی دی چې په نتیجه کښې یې د چا یوازې تکذیب کړی دی او څوک یې لا وژلي هم دي. اما د دې سره سره به یې ګومان کاوه چې څه فتنه به واقع نه شي او الله ﷻ به وړباندې د جرائمو په سبب څه مصیبت نازل نه کړي. یا په بل عبارت دوی ته به نه د پیغمبر ﷺ تکذیب چندان ګناه ښکارېده او نه به ورته د

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغه وژلو چندان اهمیت درلود، چې د الله ﷻ څخه ډار شوي وی او دغسې کارونو ته یې لاسونه نه اچولی، بلکې ړانده او کاڼه به وګرځېده.

نو د دوی (بني اسرائیلو) د راویښولو دپاره به الله ﷻ ورباندې څه مصیبت نازل کړ ترڅو دوی په خپله ګناه باندې پښیمانه شي او بل ځل دغسې کار ته اقدام ونه کړي.

۳ـ مګر دوی (لجوجو خلکو خپل عادت پرېښبود) نو کله به چې الله ﷻ په دوی باندې په رحمت سره رجوع وکړه او مصیبت به یې ترې پورته کړ، بیا به د اول ځل په څېر په حقائقو باندې ړانده شوه او د نصائحو څخه به کاڼه جوړ شوه، بلکې دا ځل به د اول څخه د دغو ړوندو او کڼو ډله ښه زیاته وه، تا به ویل چې په دوی باندې هیڅکله مصیبت نه دی ورنازل شوی، خو دا ځل به پرې د الله ﷻ د پلوه داسې مصیبت ورنازل شو چې د قیامت د ورځې پورې به پکښې پټ وي او د خلاصون چاره به ترې ونه ګوري. او دا ځکه چې الله ﷻ د دوی په اعمالو باندې بینا دی، که بل ځل پرې انعام وکړي نو بیا به خپل سابقه عادت ته ورتاو شي.

۴ـ لنډه دا چې (بني اسرائیل) یهود دي او که نصارا د خپل دین پابند نه دي او نه یې خپل دین په ښو باندې ودرولی دی، د همدې کبله قرآن کریم نه مني او ستا اطاعت ته غاړه نه ږدي او که ستا په وژلو باندې یې وسه وشي هم صرفه به پرې ونه کړي، نو بیا څه ضرور دی چې ته د دوی په کفر باندې دومره زیات غمژن کېږې.

## توضیحات

۱ـ د ذکرو شوو ایتونو څخه څرګندېږي چې بني اسرائیل دوه ځله ړانده او کاڼه ګرځېدلي دي. اما مفسرینو کرامو په دغو دواړو وارونو کښې څو تفسیرونه کړي دي. مثلاً:

الف: یو ځل ړانده کاڼه شوه او د خوسي عبادت یې وکړ خو الله ﷻ یې توبه قبوله کړه، دوهم ځل بیا ړانده کاڼه شوه او د الله ﷻ د رویت (لیدلو) غوښتنه یې وکړه[1]. مګر دا تفسیر د کلام د سوق څخه مخالف دی ځکه چې خبره په دې کښې راروانه ده چې بني اسرائیلو د موسی عليه السلام څخه وروسته څه وکړه او څه مصائب ورباندې نازل شوه، د همدې کبله د دغو واقعاتو په اول سر کښې د پیغمبر وژنې ذکر شوی دی، حال دا چې د پیغمبر وژنه خو دوی د موسی عليه السلام څخه ډېره وروسته پیل کړې وه.

ب: یو ځل ړانده کاڼه شوه او پیغمبران علیهم السلام یې ووژل لکه زکریا عليه السلام او یحیی عليه السلام، نو الله ﷻ یې د عیسی عليه السلام په مبعوثیت سره سترګې رڼې کړې او غوږونه یې ورته اورېدونکي جوړ کړه، مګر بیا یې غوږونه کاڼه شوه او سترګې یې ړندې شوې حتی چې د عیسی عليه السلام د وژلو سوء قصد یې وکړ خو دا ځل بیا الله ﷻ محمد ﷺ مبعوث کړ خو د ډېرو سترګې ړندې او غوږونه کاڼه پاتې شوه[2].

ج: یو ځل دوی ړانده کاڼه شوه او ارمیا عليه السلام یې شهید کړ، نو الله ﷻ ورباندې بخت نصر یا بابلیان مسلط کړه چې تقریباً اویا (۷۰) کاله یې ورباندې حکومت وکړ او ډېر د ذلت حالات یې

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۲ ص۵۸
(۲) تفسیر البغوي ج۲ ص۵۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وربانديږ وروستل، بيا دوی بيت المقدس ته بوتلل شوه او هلته يې د خوشالۍ استوگنه پيل کړه نو الله ﷻ د دوی د هدايت دپاره ډير پيغمبران ورواستول لکه حزقيال ﷺ حتی د ټولو په آخر کښې عيسی ﷺ ورغی، مگر دا ځل بيا دوی رانده کانه شوه او د عيسی ﷺ د وژلو نيت يې وکړ نو الله ﷻ ورباندې رومانيان مسلط کړه او د دوی کورونه يې د خاورو سره برابر کړه، ترڅو چې الله ﷻ آخر الزمان پيغمبر مبعوث کړ، مگر اکثريت يې اوس هم په پخوانۍ جهالت باندې پاتې دي[١].

مونږ ته وروستنې دواړه تفسيرونه سره څه منافي نه ښکاري، علاوه په دې د بني اسرائيلو شرارتونه څه لږ نه دي چې څوک يې د شمار لاندې راولي، څه لرې نه ده چې د همدې کبله به الله ﷻ په عامو کلماتو باندې د دوی حال بيان کړی وي چې ټولو جنايتونو ته يې شامل شي.

## د عربيت يو قانون

٢ـ په ﴿ ثُمَّ عَمُوا وَصَمُّوا كَثِيرٌ مِنْهُمْ ﴾ کښې د "كَثِيرٌ" کلمه د مخکښې مرفوع ضمير څخه د بدليت په اعتبار سره مرفوع لوستل شوې ده چې که بالفرض د فاعليت په اعتبار سره مرفوع وی نو د "عَمُوا وَصَمُّوا" په عوض به "عمی وصم" دواړه کلمې مفردې نازلې شوې وی.

مونږ د "أَكَلُونِي الْبَرَاغِيثُ" د قبيلې څخه ځکه ونه گڼله چې دا ډول تعريب قليل دی او د الله ﷻ کلام بايد تر وسې-وسې په قليل او نادر قانون باندې حمل نه کړی شي.

﴿ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ ۖ وَقَالَ الْمَسِيحُ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُ مَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴿٧٢﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ ۘ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۚ وَإِنْ لَمْ يَنْتَهُوا عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى اللَّهِ وَيَسْتَغْفِرُونَهُ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٧٤﴾ مَا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ وَأُمُّهُ صِدِّيقَةٌ ۖ كَانَا يَأْكُلَانِ الطَّعَامَ ۗ انْظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْآيَاتِ ثُمَّ انْظُرْ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٧٥﴾ قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ۚ وَاللَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٧٦﴾ ﴾

---

(١) تفسير القاسمي ج٦ ص٢١١

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷۲] بې شکه هغه کسان کافران شوي دي چې وايي: يقيناً الله ﷻ همدا المسيح (عيسى ؑ) د بي بي مريمې رضي الله عنها زوی دی، (حال دا چې) عيسى ؑ (دوی ته) ويلي وه چې: ای بني اسرائيلو! (يوازې) د الله ﷻ عبادت وکړئ چې زما رب هم دی او ستاسو رب هم دی.

بې شکه شان دا دی چې هرڅوک د الله ﷻ سره شريک ودروي نو يقيناً الله ﷻ په هغه باندې جنت حرام کړی دی، او د استوګنې ځای يې اور (دوزخ) دی او ظالمانو ته هيڅ کومک کوونکی نشته.

[۷۳] بې شکه هغه کسان کافران شوي دي چې وايي: يقيناً الله ﷻ د درېوو (معبودانو) درېيم (معبود) دی، حال دا دی چې د عبادت لائق هيڅوک نشته مګر يو معبود دی (چې الله ﷻ دی).

او که دوی د هغې وينا څخه منعه نه شي چې دوی يې وايي، نو ضرور خامخا به هغو کسانو ته دردناک عذاب ورسېږي چې د دوی د جملې څخه کافر شوي دي.

[۷۴] ايا نو دوی الله ﷻ ته په پښېمانۍ سره نه ورتاوېږي او د ده ﷻ څخه بښنه نه غواړي. او الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

[۷۵] المسيح بن مريم (عيسى ؑ) نه دی مګر پيغمبر دی، يقيناً د ده ؑ څخه وړاندې ډېر پيغمبران تېر شوي دي او د ده مور (بي بي مريمه رضي الله عنها) صديقه (ډېره رښتينې) وه، دوی دواړه وه چې خوراکونه يې خواړه (او انساني عادات يې درلوده).

(ای پيغمبره!) ته وګوره چې دوی (کافرانو) ته مونږ خپل ايتونه څومره واضحه بيانوو، بيا وګوره چې کوم طرف ته دوی اړول کېږي.

[۷۶] (ورته) ووايه چې ايا تاسو د الله ﷻ څخه په غير د داسې شي عبادت کوئ چې تاسو لره نه د ضرر رسولو توان لري او نه (درته) څه ګټه (رسولی شي)، او الله ﷻ همدی ﷻ اورېدونکی (او) د علم والا دی.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندې ايتونو کښې د اهل الکتابو تفريط بيان شوی وه چې دوی به پيغمبران وژل، او په دې ايتونو کښې د دوی افراط بيانېږي چې پيغمبران به يې د معبوديت درجې ته پورته کول.

يا په بل عبارت: هلته يې په عهد ماتونې کښې د تفريط مثالونه ښودلي شوي وه او دلته يې پکښې د افراط مثالونه ښودل کېږي.

۲ـ هلته واضحه شوې وه چې هغوی د هدايت په وړتلو سره څو کرته رانده او کاڼه شوه، او دلته يې يو مثال ښودلی شوی دی چې دوی ته د عيسى ؑ هدايت ورغی خو دوی پرې دومره رانده او کاڼه شوه چې حتی پخپله عيسى ؑ ته يې هم د معبود لقب ورکړ، حال دا چې هغه به ورته په چيغو-چيغو نارې وهلې چې زما عبادت مه کوئ زما د معبود (الله ﷻ) عبادت وکړئ.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعني: ای پيغمبره! دا ځل د اهل الکتابو نصاراوو افراط خپل امت ته واوروه او د مثال

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په توګه د دوی د دوه وو ډلو عقائد ورته په لانديې ډول واضحه کړه:

الف: د نصاراوو يوه ډله د ديې افراط د کبله کافره شويې ده چې دوی وايي يقيناً الله ﷻ همدغه عيسی ﷺ دی بل څوک نه دی، حال دا چې عيسی ﷺ دوی ته په پوره څرګندو عبارتونو کښې د معبوديت څخه خپله بېزاري اعلانه کړې وه چې ای بني اسرائيلو! يوازيې د الله ﷻ عبادت وکړئ چې زما رب هم دی او ستاسو رب هم دی، او همدی ﷻ د عبادت مستحق او لائق دی او بس.

هرڅوک چې د همدغې عقيدې څخه افراط وکړي او په عبادت کښې د الله ﷻ سره بل څوک شريک کړي نو په هغه باندې الله ﷻ جنت حرام کړی دی او د اوسېدانې ځای يې ورته دوزخ ټاکلی دی چې هيڅوک به يې ترې خلاص نه کړی شي، نو تاسو ته په کار دي چې په ماباندې د معبود ګومان ونه کړئ، زه ستاسو غوندې د الله ﷻ د بندګانو څخه يو بنده يم چې د رسالت انعام يې راباندې کړی دی، که نه نو زه خو د بندګی څخه وتلی نه يم.

ب: او د نصاراوو بلې ډلې افراطي عقيده دا ده چې يقيناً الله ﷻ د درې معبودانو (الله ﷻ، عيسی ﷺ، بي بي مريم رضي الله عنها) د جملې څخه يو معبود دی، چې دوی درېواړه د عبادت مستحق دي حال دا دی چې د عبادت مستحق بل هيڅوک نه دی يوازې او يوازې يو الله ﷻ دی او بس.

دوی ته په کار دي چې د دغې مزخرفې عقيدې او ښکاره کفر څخه لاس واخلي او په توحيد باندې معتقد شي، که نه نو د دردناک عذاب سره به مخامخ شي.

۲ـ ای پيغمبره! اهل الکتاب عجيبه خلک دي چې د توبې دروازه ېبرته ده او الله ﷻ هم ښښونکی او مهربان دی، خو دوی په خپل کفر باندې کلک دي، نه توبه اوباسي او نه د الله ﷻ څخه د خپلو جنايتونو ښښنه غواړي، که بالفرض دوی دا کار وکړي، نو الله ﷻ به يې هم توبه قبوله کړي او هم به د پخوانيو ګناهونو څخه ورتېر شي، او د خپلو دوستانو په قطار کښې به يې ودروي.

۳ـ ای پيغمبره! اهل الکتاب چتې په چتې په خپلو باطلو عقائدو باندې کلک دي، دوی کولی شي چې لږ څه دقت وکړي نو په خپلو خطاوو باندې به پوه شي. او دا ځکه چې:

الف: عيسی ﷺ خو بل څوک نه دی مګر د الله ﷻ يو پيغمبر دی او د ده څخه پخوا ډېر پيغمبران تېر شوي دي، نو که بالفرض پيغمبري د معبوديت څخه عبارت وی نو اهل الکتابو ته په کار وه چې ټولو پيغمبرانو ته يې نوموړی لقب ورکړی وی، ځکه چې ټول پيغمبران د الله ﷻ محبوب بندګان دي او ټولو ته يې ډول-ډول معجزات ورکړي دي،ايا د يو پيغمبر په لاس د خارق العاده څرګندېدل د معبوديت معنی ورکوي؟

ب: برسېره په دې د عيسی ﷺ خو مور معلومه ده چې صديقه بي بي ده، ايا معبود هم مور درلودلی شي؟ همدارنګه دوی بې ځايه بي بي مريمې ته د معبوديت لقب ورکوي، ايا د يوه پيغمبر مور جوړېدل د معبوديت غوښتنه کوي؟ که بالفرض دغسې وی نو پخوانيو ټولو پيغمبرانو (د آدم ﷺ څخه په غير) ميندې (مورګانې) درلودلې، نو هغوی ته د وخت خلکو ولې د معبودانو

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لقب نه دی ورکړی؟ نو ای اهل الکتابو! تاسو هغوی ولې د معبودانو په نامه نه یادوئ؟.

ج: عیسی ﷺ او هم د ده مور (بي بي مریمې رضي الله عنها) خو خوړو او څښلو ته ضرورت درلود چې په دې باندې پخپله اهل الکتاب هم قائل دي، نو انصافًا وواياست چې هغه څوک معبود کېدلی شي چې خوراک او څښاک ته اړتیا لري او د خوراک او څښاک ټول لوازم وربانديې تېرېږي راتيرېږي؟.

نو پوره واضحه ده چې جواب منفي دی، خو د دې سره-سره اهل الکتاب خپلې تګلارې ته تغير نه ورکوي او کلک وربانديې ولاړ دي، ته به وايي چې چا يې په څټ باندې لاس ايښی دی او خوځيدلو راخوځيدلو ته يې نه پرېږدي.

۴_ بالآخره ای پیغمبره! د اهل الکتابو د تخجيل دپاره يو ځل دا پوښتنه هغوی ته وروړاندې کړه چې ای ساده ګانو! ايا تاسو د الله ﷻ څخه په غير د هغه څه عبادت کوئ کوم چې نه ستاسو د ضرر توان لري او نه مو د ګټو او منافعو واکدار دی؟ تاسو لږ څه په خپلو ګرېوانو کښې سرونه ښکته کړئ، دا کار هیڅ باشعوره انسان ته په کار نه دی چې واکدار پرېږدي او بې واکه ته په سجده باندې سر ښکته کړي.

۵_ ای پیغمبره! دوی ته ذکره شوې خبره وکړه او نور يې پرېږده، الله ﷻ هم اورېدونکی دی او هم په هر شي باندې پوه دی، د دوی خبرې او چټيات اوري او په زړونو باندې يې عالم دی، موافقه جزا به ورکړي.

## توضیحات

۱_ په ذکرو شوو ایتونو کښې الله ﷻ د اهل الکتابو څخه د ﴿ لَقَدۡ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ ﴾ جمله دوه ځلې حکايت کړه او د دواړو جملو په منځکښې يې عاطف "و" هم نازل نه کړ ترڅو مونږ پوه کړي چې دا د هغوی د متعددو ډلو حالات دي، هسې نه چې يوه ډله په يو وخت کښې يوه خبره کوي او په بل وخت کښې بله خبره کوي.

## په ياد ولرئ!

۲_ په ياد ولرئ چې په ايت شريف کښې د نصاراوو د ديندارو خلکو حال بيان شوی دی، اما د دوی په اصطلاح بي دينه خلک خو د هيڅ شي پرواګير نه دي محض په خوله باندې خپل ځانونه عيسويت ته منسوبوي.

همدا نن[۱] د انګرېزانو راديو (BBC) نشر کړه چې د انګلستان د خلکو اکثريت عيسوي مذهبه دی مګر په عملي ساحه کښې يوازې په سلو کښې څلور کسه د مذهب پابند دي، نور ټول خلک خپل ځانونه د هيڅ قيد لاندې نه واقع کوي او په خپله خوښه روان دي.

(۱) ۱۳۷۳/۸/۲۴ هـ ش.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## صدیق څوک دی؟

۳ـ مونږ د صدیق په باره کښې د [النساء: ۶۹] ایت لاندې ښه پوره څېړنه کړې ده چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، په دې مقام کښې یوازې همدومره خبره وراضافه کوو چې الله ﷻ بي بي مریمې رضي الله عنها ته د "صدیقه" لقب ورکړ، نو معلومه شوه چې پیغمبره نه وه او نه په زنانه وو کښې الله ﷺ بله کومه پیغمبره استولې ده، بلکې ټول پیغمبران په نارینه وو کښې تېر شوي دي.

که بالفرض نومورې بي بي پیغمبره وی (لکه چې ځینې خلک خیال کوي)(۱) نو په کار وه چې د "نبیّة" لقب ورکړی شوی وی، ځکه چې دا د ستاینې او تمجید مقام دی، چې باید ډېر لوړ صفت یې ذکر شي.

﴿ قُلْ يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لَا تَغْلُوا۟ فِى دِينِكُمْ غَيْرَ ٱلْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوٓا۟ أَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا۟ مِن قَبْلُ وَأَضَلُّوا۟ كَثِيرًا وَضَلُّوا۟ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ﴿٧٧﴾ ﴾

[۷۷] (ای پیغمبره!) ووایه چې: ای اهل الکتابو! په خپل دین کښې د (شرعي حد) څخه ناحقه تجاوز مه کوئ، او د داسې قوم د خواهشاتو پیروي مه کوئ چې (د نن څخه لا) وړاندې بې لارې شوی دی. او ډېر خلک یې بې لارې کړي دي او سمه سیده لاره یې ورکه کړې ده.

### ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې واضحه شوه چې اهل الکتاب د خپلو مزخرفو عقائدو د اثبات دپاره هیڅ دلیل په لاس کښې نه لري او د دوی د عقائدو د ابطال په باره کښې چې الله ﷻ څه دلایل نازلوي د هغو رد هم نه شي کولی، نو څه باعث دی چې دوی په باطلو باندې دومره کلک دي؟

په دې ایت کښې د همدې سوال جواب نازل شوی دی چې بل باعث نشته صرف د پخوانیو ګمراهانو ړوند تقلید دی چې په باطلو عقائدو باندې یې کلک کړي دي.

### د مطلب خلاصه

یعني: ای پیغمبره! اهل الکتابو ته ووایه چې راشئ په خپل دین کښې د افراط او تفریط په منځکښې متوسطه لاره اختیاره کړئ چې قرآن کریم راوړې ده، او په ناحقه باندې د خپلو پخوانیو د خواهشاتو ړوند تقلید مه کوئ، چې پخوانیو خپله لاره ورکه کړې وه او هرڅومره خلکو چې د هغوی پیروي کړې ده هغوی ټول یې بې لارې کړي دي. ایا تاسو غواړئ چې د نورو ګمراهانو په شان تاسې هم ګمراهان شئ او سمه سیده لاره پرېږدئ؟ دا خو د عقل د خاوندانو سره مناسب کار نه دی.

(۱) تفسیر القاسمي ج۶ ص۳۱۸.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

مونږ د [النساء: ۱۷۱] ایت لاندې د "غُلُوّ" د کلمې تحلیل کړی دی چې بیا تحلیل ته یې اړتیا نه ګورو، هیله ده چې علاقمندان یو ځل هلته مراجعه وکړي.

﴿ لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ۚ ذَٰلِكَ
بِمَا عَصَوا۟ وَّكَانُوا۟ يَعْتَدُونَ ﴿٧٨﴾ كَانُوا۟ لَا يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ ۚ
لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٧٩﴾ تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ
لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ أَن سَخِطَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ وَفِى ٱلْعَذَابِ هُمْ خَٰلِدُونَ ﴿٨٠﴾ وَلَوْ
كَانُوا۟ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلنَّبِىِّ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَا ٱتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا
مِّنْهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٨١﴾ ﴾

[۷۸] د بني اسرائیلو ځنې هغه کسان چې کافران شوي دي د داوُد ﷺ په ژبه لعنت کړی شوي دي او د عیسی بن مریم ﷺ په ژبه هم (لعنت کړی شوي دي).

دا (لعنتي کېدل) په دې سبب وه چې دوی نافرماني کوله او دوی وه چې د (شرعي حدودو ځنې) یې تېرېدنه کوله.

[۷۹] دوی وه چې یو تربله یې د بد عملی (منکر) ځنې منعه نه کوله چې دوی به کاوه، خامخا بد شی دی هغه چې دوی به کاوه (چې د منکر ځه نه منعه کول وه).

[۸۰] (ای پیغمبره!) ته به د دوی (بني اسرائیلو) ځنې ډېر کسان وګورې چې هغه کسان به په دوستۍ سره نیسي چې هغوی کافران شوي دي (مشرکان دي).

خامخا بد شی دی کوم چې دوی ته خپلو نفسونو وړاندې استولی دی (هغه دا چې) په دوی باندې (په دنیا کښې) الله ﷻ غضب نازل کړی دی او (د آخرت) په عذاب کښې به همدوی همېشه وي.

[۸۱] او که چېرې دوی (بني اسرائیل) وی چې په الله ﷻ باندې یې (په صحیحو معناوو کښې) ایمان راوړی وی، او په پیغمبر (محمد ﷺ) باندې هم او په هغه شي (قرآن) باندې هم چې ده (پیغمبر) ته ورنازل کړی شوی دی، نو دوی به هغوی (کافران) دوستان نه وی نیولي، مګر د دوی ځنې زیات کسان فاسقان دي (د شریعت د چوکاټ ځنې وتلي دي).

## ارتباط

په وړاندې ایت شریف کښې الله ﷻ اهل الکتابو ته توصیه کړې وه چې د خپلو اسلافو پیروي

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مه کوئ چې هغوی پخپله هم بې لاري وه او نور خلک يې هم بې لارې کړي وه. په دې ايتونو کښې د هغوی د ضلالت او گمراهۍ څو نمونو ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې را اوځي:

## د مطلب خلاصه

اى پيغمبره! د بني اسرائيلو د اسلافو لاندې څو مثالونه دوی ته وړاندې کړه، شايد چې دوی عبرت واخلي او د هغوی د پيروۍ څخه ځانونه په څنگ کړي. مثالونه دا دي:

۱ـ د بني اسرائيلو د اسلافو څخه د داوُد ﷺ په زمانه کښې بيزوگان جوړ شوي وه چې بحث يې په [الأعراف:۱۶۳] ايت شريف کښې راروان دی، که بالفرض دوی په سمه لاره باندې روان وی او د وخت د پيغمبر (داوُد ﷺ) اطاعت يې کړی وی نو ولې به ترې بيزوگان جوړېده او ولې به ورته نوموړي پيغمبر ښېراوې کولې.

۲ـ د دوې څخه د عيسى ﷺ په زمانه کښې خنزيران جوړ شوه او د الله ﷻ په لعنت باندې ککړ شوه چې بحث ته يې په [المائدة:۱۱۲] ايت کښې اشاره شوې ده، ايا د هغو خلکو څخه هم خنزيران جوړېږي چې هغوی په سمه لاره باندې روان وي، همدارنگه په زبور او انجيل دواړو کتابونو کښې په کافرو بني اسرائيلو باندې لعنت نازل شوی وه. او دا ځکه چې:

الف: دوی د الله ﷻ او د ده ﷺ د پيغمبرانو څخه نافراني کوله او د شرعي چوکاټ څخه يې تجاوز کاوه.

ب: دوی د نهي عن المنكر څخه بالكل لاس اخستی وه، چې يوه به بل نه منعه کاوه او بلکې پخپله به هم ورسره په منکراتو کښې انډيوال جوړېده.

۳ـ اى پيغمبره! ستا په زمانه کښې هم د بني اسرائيلو مشران، يا په بل عبارت د دوی نژدې اسلاف چې د مرگ څخه يې ډېر وخت نه دی تېر شوی، هم په سمه لاره باندې روان نه دي د همدې کبله الله ﷻ په دوی باندې هم په دنيا او هم په آخرت کښې په غضب دی، چې دلته پرې آفتونه نازلوي او هلته به په دوزخ کښې همېشه وي.

لنډه دا چې که بالفرض بني اسرائيلو په صحيحو معناوو کښې په الله ﷻ او په پيغمبر (محمد ﷺ) او بالآخره په قرآن کريم باندې ايمان راوړی وی، نو د کافرانو (مشرکانو) موالاة به يې نه وی کړې. خو خبره دا ده چې د دوی اکثريت فاسقان دي او د خپلو کتابونو د غوښتنو څخه هم وتلي دي چې د مسلمانانو په مقابل کښې د مشرکانو سره يې لاس يو کړی دی.

## توضيحات

۱ـ د داوُد ﷺ او د عيسى ﷺ په ژبه باندې د بني اسرائيلو لعنتي جوړېدل لاندې دوه معناوې درلودلی شي:

الف: يوه دا چې د دغو دواړو پيغمبرانو په زمانو کښې د دوی څخه بيزوگان او خنزيران جوړ شوي وه چې دوی دواړو ورته په خپلو وختونو کښې ښېراوې کړې وې.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: بله دا چې د ذکرو شوو دواړو پیغمبرانو په کتابونو (زبور، انجیل) کښې دا جمله نازله شوې وه چې "مَلْعُونٌ مَنْ يَكْفُرُ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ بِاللهِ تَعَالَى"(۱) یعنې د بني اسرائیلو څخه هغه څوک ملعون دی چې په الله ﷻ باندې کافر کېږي.

## یادونه

۲ـ د عبد الله بن عباس رضی‌الله‌عنهما څخه روایت دی(۲) چې څرنګه د بني اسرائیلو ملعونیت په تورات او قرآن کریم کښې واضحه وه، ذکر ته یې څه اړتیا نه وه، نو چې په زبور کښې او انجیل کښې هم د دوی ملعونیت ثابت شو، د معنی حاصل یې داسې را اوځي چې: ایا هغه څوک د پیروی لیاقت لري چې په څلورو واړو اسماني کتابونو کښې وریاندې لعنت ویل شوی وي؟.

۳ـ د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په باره کښې مونږ د [آل عمران: ۱۰۴، ۱۱۰] ایتونو لاندې څه تحقیق لیکلی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، یوازې همدومره خبره وراضافه کوو چې ځینو مفسرینو کرامو(۳) د همدې موضوع مربوط احادیث راغونډ کړي دي که علاقمندان یې ولولي ډېره ښه خبره ده.

## کافران یعنې مشرکان

۴ـ په دې مقام کښې د ﴿ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ څخه مشرکان مراد دي(۴) چې د احد د غزا څخه وروسته د یهودانو اویا کسیزه جرګه د کعب بن اشرف په مشرۍ مکې معظمې ته لاړه او هلته یې د مشرکانو سره د مسلمانانو په ضد تعهد وکړ او د دوستۍ لاس یې ورکړ تردې چې همدغه جرګه د احزابو د غزا سبب شوه، چې پوره بیان یې د [النساء: ۵۱] ایت په شان نزول کښې تېر شوی دی.

﴿ لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ ۖ وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّا نَصَٰرَىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٨٢﴾ ﴾

[۸۲] (ای پیغمبره!) ته به هرو مرو ضرور د خلکو څخه هغو کسانو ته، چې ایمان یې راوړی دی، د عداوة (دښمنۍ) د حیثه ډېر کلک یهودان مونده کړې، او هغه کسان چې دوی (د الله ﷻ) سره شریک دروي.

---

(۱) روح المعاني ج۶ ص۲۱۱

(۲) المحرر الوجیز ج۵ ص۱۶۵

(۳) المحرر الوجیز ج۵ ص۱۶۵؛ تفسیر القاسمي ج۶ ص۳۲۷؛ الدر المنثور ج۳ ص۱۲۶

(۴) تفسیر الطبري ج۴ ص۳۲۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او هرومرو ضرور به ته هغو کسانو ته کومو چې ایمان راوړی دی د دوستۍ د حیثه ډېر نژدې هغه کسان مونده کړې چې دوی وایي چې: یقیناً مونږ نصارا یاستو.

دا د دې کبله چې د دوی (نصاراوو) څخه ځینې علماء دي او (ځینې) راهبان (شیخان) دي، او (هم د دې کبله) چې دوی (ځینې) تکبر (لویي) نه کوي.

## ارتباطونه

۱_ په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ فرمایلي وه چې اهل الکتاب د مشرکانو سره دوستي کوي، او دلته فرمایي چې دوی صرف د هغوی په دوستۍ باندې ولاړ نه دي، بلکې بالمقابل د مؤمنانو سره عداوت کوي، که څه هم عداوتونه یې تفاوت لري.

۲_ دلته د یهودانو او مشرکانو د انډیوالۍ او دوستۍ سبب وښودل شو، دوی ځکه سره ډېر کلک دوستان دي چې دواړه جانبه د مؤمنانو سره کلکه دښمني لري.

۳_ بالاخره د اهل الکتابو د اوږد بیان څخه وروسته الله ﷻ د دوی د عداوت مراتب ښودلي دي، ترڅو هغې ډلې ته د ایمان راوړلو زیات امید وکړی شي چې د هغوی عداوت لږ څه کم دی، او د چا چې عداوت ډېر زیات دی د هغوی په ایمان نه راوړلو باندې نبي کریم ﷺ زیات غمژن نه شي.

## شان نزولونه

د ذکر شوي ایت شریف او هم د راتلونکو ایتونو د شان نزول په هکله څو متعدد واقعات روایت شوي دي[1]. لاندې څو واقعات د مثال په توګه ولولئ:

الف: کله چې په مکه معظمه کښې قریشو په مسلمانانو باندې ظلم او تېری زیات کړ نو نبي کریم ﷺ دوی ته اجازه ورکړه چې حبشې ته هجرت وکړي، اول ځل چې د مهاجرینو ټولګی هلته لاړ په هغوی کښې جعفر بن ابي طالب ﷺ هم شامل وه، نوموړي په حبشه کښې د هغه مملکت په پاچا باندې د قرآن کریم څو ایتونه ولوستل چې د پاچا او نورو د مجلس په خلکو باندې یې پوره اثر واچاوه او د راهبانو او علماوو په شمول یې د سترګو څخه اوښکې وبهېدلې.

ب: د حبشې پاچا د جعفر بن ابي طالب ﷺ په شمول نبي کریم ﷺ ته شپېته کسیز هیئت ورواستاوه چې کله په دوی باندې نبي کریم ﷺ د "یس" سورت ولوست، نو د ټولو د سترګو څخه اوښکې رواني شوې.

دواړه واقعات سره څه منافات نه لري، کېدی شي چې د دواړو په باره کښې یې نزول موندلی وي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه که څوک غواړي چې د اولني هجرت قیصه مفصله ولولي او په جزئیاتو باندې یې ځان پوه کړي نو هیله ده چې ځینو اوږدو کتابونو ته[2] مراجعه وکړي.

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۳۶

(۲) تفسیر القرطبي ج۶ ص۲۵۵؛ تفسیر الخازن ج۲ ص۳۳۰؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۵۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای پیغمبره! که څه هم اهل الکتاب (یهود او نصارا) حتی د مشرکانو په شمول ټول ستاسو سره عداوت لري خو د مراتبو په تفاوت سره.

یهود ستاسو په عداوت کښې دومره کلک او قوي دي چې حتی نژدې دي چې د مشرکانو څخه هم دوی ستاسو کلک دښمنان جوړ شي، ته به وایې چې دوی نه کتاب لوستی دی او نه یې چرته د کوم پیغمبر د پیروۍ دعوه کړې ده.

اما هغه کسان چې ځانونو ته نصارا وايي د هغوی دښمني د یهودو په نسبت لږ څه کمزوري ده، او مؤمنان (تاسو) یې هومره بد نه ایسي لکه چې د یهودانو بد ایسي.

یا په بل عبارت ستاسو دوستان خو د کافرانو یوه ډله هم نه شي کېدلی، اما دوستۍ ته لږ څه ورنژدې صرف همدغه نصارا دي او بس.

۲ـ د ذکرې شوې تفرقې وجه دا ده چې که څه هم د نصاراوو کفر ډېر قوي دی او د توحید څخه ډېر لرې واقع دي مګر کینه او عداوت یې لږ دی، دوی د علم او عبادت سره زیاته مینه لري او تواضع او نرمي پکښې زیاته ده.

د همدې کبله په دوی کښې دومره علماء شته چې هومره په یهودانو کښې نشته، او هم په دوی کښې د راهبانو ډله شته چې د الله ﷻ د رضا دپاره په عبادت کښې ډېر مشکلات ګالي، که څه هم د دوی عبادت د الله ﷻ په نزد مقبول نه دی او دوی د عبادت لاره خطا کړې ده، مګر دوی خو د الله ﷻ په رضاء پسې تاند وهي، اما په یهودانو کښې دغسې ډله نشته.

۳ـ د ذکر شوي بیان نتیجه دا را اوځي چې دوی به ډېر کسان په اسلام باندې مشرف شي او دوی ته د یهودو په نسبت زیات امید په کار دی، د همدې کبله د حبشې نصارا په ډله ییزه توګه په اسلام باندې مشرف شوه او د قرآن کریم په اورېدلو سره یې د اوښکو څخه سترګې ډکې شوې، مګر دغسې ډله ییز ایمان راوړنه په یهودو کښې نه ده تېره شوې او نه به تېره شي.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: په کار وه چې یا د ﴿ لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةً ﴾ په عوض "لَتَجِدَنَّ أَبْعَدَ النَّاسِ مَوَدَّةً" نازل شوی وی چې ترڅو د راتلونکې جملې ﴿ وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً ﴾ سره په ښکاره توګه مقابله واقع شوې وی، او یا بل العکس راتلونکې جمله داسې "وَلَتَجِدَنَّ أَضْعَفَهُمْ عَدَاوَةً" نازله شوې وی چې د اولنۍ جملې سره یې ښه تقابل راغلی وی، نو په دې کښې څه حکمت دی چې د پورتنیو دواړو عبارتونو څخه یو هم نازل نه کړی شو؟

مونږ وایو چې:

الف: په ذکرو شوو دواړو جملو کښې به د معترض وړاندیز په هغه وخت کښې په ځای وی چې دوهمې جملې هم د اولنۍ په شان د کافرانو (نصاراوو) عداوت بیانولی. خو خبره داسې نه ده، په

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهمه جمله کښې د مسلمانو نصاراوو د دوستۍ اندازه ښودلې شوې ده. نو د معنی حاصل یې داسې را اوځي چې په ټولو کافرانو کښې د مؤمنانو سره یهود او مشرکان کلک عداوت لري، او په ټولو قومونو کښې د دوی سره مسلمانان نصارا نژدې دوستي لري.

اما کافران (نصارا) خو د یهودانو څخه په عداوت کښې څه کم نه دي، مسلمانان وژني او ښارونه او جوماتونه یې تخریبوي او داسې نور[1].

مګر مونږ ته دا جواب د منلو وړ نه دی، ځکه چې مسلمانان نصارا (لکه نجاشي او د ده ملګري) خو په ﴿ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ کښې شامل دي، او په دې باندې علاوه مسلمان یهودان هم د نجاشي او د ده د ملګرو څخه په دوستۍ کښې څه کمزوري نه دي، نو ایا دا خبره د منلو وړ ده چې نصراني مسلمان د مؤمنانو سره نژدې دوست وي او د یهودي مسلمان (لکه عبد الله بن سلام او د ده د ملګرو) د دوستۍ دې هیڅ تذکر ونه کړی شي.

ب: نو ښه دا ده چې په جواب کښې ووایو چې ځکه د ذکرو شوو دواړو عبارتونو څخه یو هم د نزول دپاره خوښ نه کړی شو ـ والله ﷻ اعلم ـ چې ترڅو الله ﷻ دې ته اشاره وکړي چې د یهودانو او مشرکانو عداوت په نهایي لوړه رتبه کښې واقع دی، ته به وایې چې د مودت (دوستۍ) پکښې یو وړوکی بخری هم نشته او سوچه عداوت دی.

او د نصاراوو عداوت دومره کمزوری دی چې ته به وایې چې عداوت نه دی بلکې د دوستۍ (مودت) یوه کمزورې رتبه ده، نو که بالفرض د معترض د وړاندیز کوم یو عبارت نازل شوی وی نو ذکره شوې اشاره به فوته شوې وی، بلکې په اول عبارت باندې به دواړه د مودت ډولونه جوړ شوي وی، او په دوهم عبارت باندې به دواړه د عداوت انواع ګرځیدلي وی.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د ذکر شوي دوهم جواب په بنا په کار دي چې کافران نصرانیان تکبر ونه کړي او د قرآن کریم د تلاوت په وخت کښې یې باید په مخونو باندې اوښکې رواني شي، حال دا چې خبره داسې نه ده، نو څرګنده شوه چې په دوهمه جمله کښې مسلمانان نصرانیان مراد دي؟

مونږ وایو چې: دا سوال خو به هله واردېدلی چې تواضع او د زړه نرمي الله ﷻ د ټولو نصاراوو دپاره ثابته کړې وی خو خبره داسې نه ده، لکه چې په ﴿ مِنۡهُمۡ قِسِّيسِينَ ﴾ کښې ورباندې د "من" توری شاهدي وایي.

نو د معنی حاصل یې داسې را اوځي چې: په کافرو نصرانیانو کښې داسې-داسې خلک هم شته چې په لا شعوري توګه یې ټول نصرانیان د څه اثر څخه نه خالي کېږي، اما په یهودانو او مشرکانو کښې دغسې هیڅوک نشته چې عوام یې د څه ناڅه اثر لاندې راشي.

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۴۵۱؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۵۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## خو په یاد ولرئ!

۳_ خو په یاد ولرئ چې الله ﷻ د نصاراوو د عداوت د کمبود سبب د راهبانو او قسیسانو موجودیت ښودلی دی.

نو په هره زمانه کښې چې په دوی کښې ذکره شوې ډله قوي کېږي نو عداوت به یې کمېږي او چې ذکره شوې ډله پکښې کمزورې کېږي او یا بالکل د منځه ځي نو د دوی عداوت به هم یا زیاتېږي او یا به دومره قوت مونده کوي چې تقریبًا د یهودانو عداوت ته به رسېږي. خو نن ورځ په هغوی کښې ذکره شوې ډله نشته نو ځکه یې عداوت د یهودانو څخه کم نه دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: په کفر کښې خو د یهودانو څخه نصارا ډېر غلیظ او بدتر دي چې د تثلیث د غلیظي عقیدې مرتکبین دي، نو په کار وه چې د دوی عداوت په نسبت سره یهودانو ته زیات وی؟

مونږ وایو چې: رښتیا د نصارا وو کفر ډېر غلیظ دی مگر دنیاوي حرص یې کم دی او حسد او بدنیتي پکښې سپکه ده، اما یهودان په دنیا باندې ډېر حارصان دي او حسد او کینه یې زیاته ده، رښتیا چې د دنیا محبت د هرې گناه سر دی.

## قسیس څه معنی؟

۵_ د ﴿ قِسِّيسِينَ ﴾ کلمه د "قِسِّيس" جمعه ده چې د "قَاسّ" دپاره د مبالغې صیغه ده لکه څنگه چې صدیق د صادق مبالغه ده، د "قَاسّ" کلمه د "قِسّ" څخه اشتقاق شوې ده، "قِسّ" په شپه کښې د یوه شي پلټنې ته وایي[1]، مگر په استعمال کښې د "قِسِّيس" کلمه د نصاراوو دیني او علمي مشر ته لقب گرځېدلې ده[2].

لنډه دا چې د نصاراوو علماء درې لقبونه لري[3] چې تفصیل یې دا دی:

الف: د نصاراوو د ټولو څخه لوی عالم ته "أُسْقُف" وایي.

ب: دوهمه درجه عالم یې د "قِسِّيس" په نامه یادېږي.

ج: او د ټولو څخه د ټیټې درجې عالم ته د "شماس" لقب ورکول کېږي.

هو! ځینې علماء کرام وایي چې "قِسِّيس" عجمي لفظ دی چې په رومي ژبې کښې د عالم معنی ورکوي[4]. که داسې وي نو د اشتقاق تحلیل ته هیڅ حاجت نه پاتې کېږي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۱۸
(۲) البحر المحيط ج۴ ص۳۴۱
(۳) تفسير المراغي ج۷ ص۴
(۴) روح المعاني ج۷ ص۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## راهب چا ته وايي؟

۶_ د "رُهْبَان" کلمه د راهب جمعه ده چې د "رَهْبَة" څخه اخستل شوې ده، "رَهْبَة" ډار او وېرې ته وايي، مګر ذکره شوې کلمه د نصاراوو په عبادت کوونکو کښې استعمالېږي، البته هغه عبادت کوونکي چې د دنيَا لذتونه يې په ځانو باندې حرام کړي دي او د دوی په ګومان يې عبادتونه په ډول-ډول عذابونو کښې نغښتي دي آن تر دې چې ځينې کسان يې خپل ځانونه خصيانوي او ځينې يې په خپلو غاړو کښې د اوسپنې زنځيرونه (غوراب) اچوي او داسې نور[1].

که څوک غواړي چې د رهبانانو په احوالاتو باندې ډېر ښه خبر شي نو د سلمان الفارسي ﷺ قيصه دې ولولې چې د دوی حالات يې پوره شرحه کړي دي[2].

لنډه دا چې دا ډول عبادت په اسلام کښې جائز نه دی، نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «لِكُلِّ نَبِيٍّ رَهْبَانِيَّةٌ وَرَهْبَانِيَّةُ هَذِهِ الْأُمَّةِ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ»[3] يعني د هر پيغمبر دپاره رهبانيت وه او د دې امت رهبانيت في سبيل الله جهاد دی او بس.

په همدې ځای باندې د شپږمې سپارې پښتو ترجمه او تفسير ختم شو، والحمد لله ﷻ.

اللَّهُمَّ ثَبِّتْنَا عَلَى دِينِكَ بِرَحْمَتِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ.

۱۳۷۳/۸/۲۷ هـ ش

---

(۱) روح المعاني ج۷ ص۳

(۲) الدر المنثور ج۳ ص۱۳۲، ۱۳۸

(۳) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۵۳۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ ۖ يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ ﴿٨٣﴾ وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا جَاءَنَا مِنَ الْحَقِّ وَنَطْمَعُ أَن يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصَّالِحِينَ ﴿٨٤﴾ فَأَثَابَهُمُ اللَّهُ بِمَا قَالُوا جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿٨٦﴾ ﴾

[۸۳] او کله چې دوی هغه څه واوري چې پیغمبر ﷺ ته ورنازل کړی شوی دی (یعني قرآن)، ته د دوی سترګې ګورې چې اوښکې تویوي (بهېږي) د هغه شي د وجې څخه چې دوی پېژندلی دی چې د حق څخه عبارت دی.

دوی وايي چې: ای زمونږ ربه! مونږ ایمان راوړی دی نو ته مونږ د شهادت ورکوونکو څخه ولیکه.

[۸۴] او مونږ لره څه دي چې مونږ به په الله ﷻ او په هغه شي باندې ایمان رانه وړو چې مونږ ته راغلی دی چې د حق څخه عبارت دی، او (مونږ لره څه دي چې مونږ دې خبرې ته) تمه (ونه) کړو چې مونږ خپل رب د صالح قوم سره (جنت ته) داخل کړي.

[۸۵] نو الله ﷻ دوی ته د دوی د وینا د کبله داسې جنتونه اجر ورکړ چې لاندې ترې ویالې (لښتې) بهېږي، دوی به پکښې همېشه وي. او دغه د نیکي کوونکو جزا ده.

[۸۶] او هغه کسان چې دوی کافر شوي دي او زمونږ ایتونو ته یې د دروغو نسبت کړی دی، نو دوی د سوزوونکي اور اندېولان (دوزخیان) دي.

## ارتباط او شان نزول

۱ـ دغو ایتونو د وړاندېني ایت موضوع تعقیبه کړې ده چې په نصاراوو کښې راهبان او علماء شته دي چې دوی د یو پلوه تکبر او لويي نه کوي او د بله پلوه کله چې ایتونه ورباندې ولوستلی شي د سترګو څخه یې اوښکې روانېږي. او برسېره په دې لکه څنګه چې د هغوی حالاتو څخه تواضع او نرمي معلومېږي همدارنګه د هغوی ژبې هم په واقعیت باندې چلېږي او حقائق ښکاره کوي.

۲ـ اما د شان نزول دوه مثالونه یې هلته تېر شوي دي څکه چې دا ایتونه د هغه ایت تتمه ده، نو بیا لیکلو ته یې ضرورت نه ګورو خو فقط لاندې یو مطلب ورباندې وراضافه کوو[۱]:

کله چې مسلمانان د مکې معظمې څخه په هجرت کولو باندې بریالي شوه او په څو ټولګیو کښې

(۱) سیرت ابن هشام ج۱ ص۳۵۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حبشې ته ورسېده (چې د ماشومانو څخه په غير د دوی شمار درې اتيا کسانو ته پورته شو) نو قريش په دې خبره باندې سخت غمژن شوه چې مسلمانانو ته پناځای مونده شو. مشوره يې وکړه چې په هر صورت سره چې امکان ولري بايد د مسلمانانو ژوند هلته تريخ کړو او حتی دې ته يې مجبور کړو چې بېرته مکې ته راستانه شي او زمونږ د لاس لاندې د کړاوونو سره ژوند وکړي.

نو په نتيجه کښې يې دوه کسانو ته ډېرې تحفې او هدايا ورکړې، ترڅو يې په حبشه کښې د پاچا سره د خبرو کولو څخه وړاندې په ديني مشرانو باندې ووېشي چې ترڅو هغوی هم پاچا ته مشوره ورکړي چې مهاجرين بېرته وطن ته را وشړي.

کله چې دغه نقشه ټوله عملي شوه او ذکرو شوو دواړو کسانو د پاچا په حضور کښې خپل عرض وړاندې کړ چې مهاجرين بېرته مکې ته وشړئ، يا په بل عبارت: مونږ ته يې تسلم کړئ. نو ديني مشرانو د دوی وړانديز تائيد کړ او تحفې بې اثره پاتې نه شوې.

مګر پاچا د ښه تحقيق دپاره مهاجرين راوغوښتل چې ايا ربښتيا دوی د حق دين څخه باطل دين ته اوښتي دي، لکه چې د قريشو نمايندګان يې ادعا کوي او که څنګه؟.

په استنطاق کښې جعفر الطيار ﷺ وويلې چې: مونږ بوت پرستان وو او مرداري به مو خوړې، لورګانې به مو ژوندی خخولې او ډول ډول ظلمونه به مو کول، خو الله ﷻ مونږ ته داسې يو سړی د پيغمبر په صفت راواستاوه چې د جمله بداخلاقيو څخه يې منعه کړو او په صلة الرحم او زړه سوي باندې يې راته ارشاد وکړ (او داسې نورې خبرې يې وکړې) اما دغو خلکو چې دوه نمايندګان يې دلته ناست دي په مونږ باندې بې اندازې ظلمونه او تېري پيل کړه چې بېرته خپل پلارني دين (بوت پرستی) ته ورتاو شو، نو مونږ مجبور شوو چې ستا مملکت ته راغلو (ای پاچا!) ترڅو د دوی د ظلم څخه نجات مونده کړو، خو د مکې قريش مو دلته هم په ارام باندې نه پرېږدي او غواړي چې تا راته په غُصه کړي چې د وطنه مو وشړې.

پاچا (النجاشي) وويلې چې: ايا هغه څه درسره شته چې پيغمبر ﷺ د الله ﷻ دپلوه راوړي دي، که درسره وي نو مونږ ته يې ولوله.

جعفر الطيار ﷺ د سورت مريم د اول څخه څو ايتونه قرائت کړه چې په اورېدلو سره يې د پاچا سترګې د اوښکو څخه ډکې شوې او مبارکه ږيره يې پرې لمده شوه او چارچاپېر ټول ديني مشران په ژړا شوه.

بيا پاچا وويلې قسم دی چې دا لوستلی شوی کلام او هغه کلام چې عيسى ﷺ راوړی دی د يوې ډيوې څخه منشأ اخلي.

بيا يې د قريشو نمايندګانو ته مخ ورواړاوه چې لاړ شئ، قسم دی چې دغه مهاجر به زه هيڅکله تاسو ته تسليم نه کړم.

بله ورځ نمايندګانو په مهاجرينو باندې دوهمه ادعا وکړه چې دوی د عيسى ﷺ په هکله بدې بدې خبرې کوي، ترڅو پاچا په غُصه کړي چې هغه هم تر هغه وخت عيسوي مذهبه وه.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو بله ورځ بیا مهاجرین د استنطاق دپاره د پاچا حضور ته وغوښتل شوه او د عیسی ﷺ په باره کښې یې ترې د توضیحاتو مطالبه وکړه، په دې ورځ هم جعفر الطیار ؓ د پاچا د قناعت دپاره د عیسی ﷺ په باره کښې اسلامي عقیده بیانه کړه چې: عیسی ﷺ د الله ﷻ پیغمبر دی او د الله ﷻ بنده دی چې په معجزانه ډول سره بي بي مریمې رضي الله عنها (پېغلې) ته ورکړی شوی دی.

نو په دې ورځ هم پاچا قانع شو او د ځمکې څخه یې یو وړوکی خلی راپورته کړ او وې ویل قسم دی چې عیسی ﷺ د همدغه بیان څخه د دې خلي په اندازه هم پورته نه دی. نو امر یې وکړ چې د نمایندګانو تحفې بېرته ورمستردې کړئ او رخصت ورکړئ چې خپل وطن ته بېرته ناأمیده لاړ شي.

## پاچا په ایمان مشرف شو

۲ـ د حبشې پاچا (النجاشي) په اسلام باندې مشرف شو او نبي کریم ﷺ ته یې د ایمان راوړلو څخه د لیک په ذریعه خبر ورکړ چې: "أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، وَأَشْهَدُ أَنَّ عِيسَى بْنَ مَرْيَمَ رَسُولُ اللهِ وَعَبْدُهُ" زه شاهدي وایم چې د عبادت لایق د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک نشته او محمد ﷺ د الله ﷻ پیغمبر دی او هم شاهدي وایم چې عیسی بن مریم د الله ﷻ پیغمبر او د الله ﷻ بنده دی.

ذکر شوی لیک یې په شپېته کسیز هیئت کښې د خپل زوی (آزهی) په لاس باندې نبي کریم ﷺ ته ورواستاوه، خو تقدیري خبره وه ذکر شوی هیئت ټول په دریاب کښې غرق شو او اصلي ځای ته ونه رسېده[1].

بیا د حبشې پاچا یو بل هیئت د جعفر الطیار ؓ په معیت سره نبي کریم ﷺ ته واستاوه، کله چې په دوی باندې نبي کریم ﷺ د قرآن کریم څو ایتونه ولوستل نو د دوی سترګې د اوښکو څخه ډکې شوې او بیا جاري شوې[2] او ذکرې شوې ویناوې یې وکړې چې په ایتونو کښې ورته اشاره شوې ده، چې خلاصه یې دا ده:

## د مطلب خلاصه

۱ـ او کله چې دوی هغه څه واوري چې د الله ﷻ پیغمبر ته ورنازل کړی شوي دي چې قرآن کریم او نبوي احادیث دي، نو دستي حق پېژني او زړونه یې نرمښت مونده کوي چې په همدې سبب باندې یې د سترګو څخه اوښکې بهېږي.

دوی الله ﷻ مخاطب جوړوي چې: ای الله! مونږ په تاباندې او ستا په نازل کړی شوي کتاب باندې ایمان راوړی دی، نو زمونږ ایمان قبول کړې او د شاهدانو د ټولګي په شمار کښې مو محاسبه کړې، ترڅو د قیامت په ورځ په همدې ډلګۍ کښې د ځمکې څخه راپورته شو او هلته هم ستا د پیغمبرانو او کتابونو په حقانیت باندې اقرار وکړو او شاهدي ورباندې ورکړو.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۵۷

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۸۶؛ الدر المنثور ج۳ ص۱۳۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ دوی په خپلو منځو کښې وايي چې عجیبه موقع په لاس راغله چې د الله ﷻ د پیغمبر په ملاقات باندې مشرف شوو او آخر الزمان پیغمبر مو مونده کړ، نو مونږ ته به هیڅ مناسبه نه وي چې دا موقع د لاسه ورکړو او پوره ګټه ترې وانه خلو، او دا ځکه چې مونږ ته څه مناسبه ده چې په الله ﷻ باندې عقیده ونه کړو، او یا په هغه حق باندې معتقد نه شو چې همدا زمونږ دپاره راغلی دی.

او مونږ ته به څه مناسبه وي چې مونږ خپل رب ته تمه ونه کړو چې د صالحانو په ټولګي کښې مو شامل کړي او څه چې هغوی ته ورکوي هغه مونږ ته هم راکړي.

۳_ نو الله ﷻ د دغسې خلکو وینا او ایمان راوړل او بالآخره د هغوی تمه چرته د نظره غورزوي چې هیڅ ارزښت ورنه کړي او بې اجره یې پرېږدي، بلکې همدوی ته جنتونه ورکوي چې ویالې به پکښې بهېږي او دوی به پکښې همېشه وي، او دا ځکه چې دوی نیکي کوونکي دي او الله ﷻ نیکي کوونکو ته دغه جزا او اجر ټاکلی دی.

۴_ بالمقابل چې څوک د حق په اورېدلو او د حق په لیدلو باندې د تاثیر لاندې نه راځي، زړه یې نرمښت نه مونده کوي او په عناد او تعصب کښې لاهو وي او بالآخره خپل کفر ته ادامه ورکوي او زمونږ د ایتونو تکذیب کوي نو دغو خلکو ته مو دوزخ تیار کړی دی او دوی د سوزوونکي اور اندېوالان دي، داسې اندېوالان چې هیڅکله به یې د اور سره اندېوالي پرې نه کړی شي.

## توضیحات

۱_ که څه هم په ﴿ وَإِذَا سَمِعُواْ ﴾ کښې مستتر ضمیر د نصاراوو دیني مشرانو ته راجع دی (چې په وړاندېني ایت کښې ترې په راهبانو او قسیسانو سره تعبیر کړی شوی دی) او د مفهوم په اعتبار سره عام دی مګر په دې مقام کښې ترې د هغو یوه خاصه ډله مطلب ده چې د قرآن کریم د اورېدلو سره یې ژړلي وه او په ایمان باندې مشرف شوي وه.

په عربي محاوره او بلکې په ټولو محاوراتو کښې دا دستور دی چې د یوه خاص ټولګي کړه وړه ټول قوم ته نسبتېږي، همدا موضوع د [البقرة: ۷۲] ایت لاندې ښه واضحه شوې ده، د همدې کبله د ذکرې شوې ایمانداري ډلې څخه په عامو تعبیراتو سره إخبار وکړی شو چې ټولو دیني مشرانو ته پکښې ضمیر راجع کړی شو.

## په یاد ولرئ!

۲_ خو په یاد ولرئ چې ذکر شوي ایتونه د نزول څخه وروسته د واقعاتو په اعتبار سره معجزات ګڼل کېږي چې بالغیب إخبار کټ مټ واقع شو، لکه چې د ابو بکر الصدیق ﷺ په خلافت کښې د نصاراوو یوه ډله د څه غرض دپاره مدینې منورې ته راغلې وه، خو چې کله په هغوی باندې قرآن ولوستل شو نو ټول په ژړا شوه او سترګې یې د اوښکو څخه ډکې شوې[1].

---

[1] المحرر الوجیز ج۴ ص۱۷۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## فيض څه معنى؟

۳_ د ﴿ تَفِيضُ﴾ كلمه د "فَيْض" څخه اخستله شوې ده، "فَيْض" دېته وايي چې يو لوښی د اوبو څخه ډک شي او د ډکوالي د کبله يې اوبه په څنډو باندې راتويې شي[۱].

نو دلته يې د معنى حاصل داسې راوځي چې: د قرآن په اورېدلو سره د هغوی سترګې د اوښکو څخه ډکې شوې او بيا ترې ښکته راتوی شوې.

البته چې دا حالت په هغه وخت کښې په سړي باندې عارضېږي چې زړه يې د زيات تاثير لاندې راشي. يو پښتون شاعر (عبد الرحمن مومند) وايي[۲]:

وسيلاب ته د ډنډوکي څه حاجت وي :: چې زړه ژاړي سترګې څه رنګ ژړا نه که

## ارشاد

۴_ د وړاندېني بيان څخه څرګندېږي چې په علماوو کرامو باندې ژړا غلبه کوي مګر بې هوشه کېږي نه، او نه چيغې او کوکې وهي، غمژن کېږي خو ځانونه نه وژني[۳]، که بالفرض د حق د پېژاندلو په سبب سره سړی بې هوشه کېدلی او يا يې چيغې وهلی نو ذکر شوی ټولګي به دا کار کړی وی.

## شهادت ورکوونکي څوک دي؟

۵_ د ﴿ مَعَ ٱلشَّـٰهِدِينَ ﴾ څخه مفسرين کرام لاندې ډولونه شهادت ورکوونکي مرادوي:

الف: د نبي کريم ﷺ ټول اُمت د "شاهدانو" په نامه ياد شوی دی ځکه چې ذکر شوي ژړېدونکي ټولګي ته د خپلو کتابونو د پلوه ثابته وه چې "مختار الأمم" اُمت به د قيامت په ورځ په نورو اُمتونو باندې شهادت ورکوي چې دوی ته خپلو خپلو پيغمبرانو په ربښتيا سره الهي شريعتونه رسولي دي[۴].

ب: هر څوک چې د نبي کريم ﷺ او قرآن کريم په حقانيت باندې شاهدي ورکوي هغوی ټول دلته مطلب دي[۵].

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُحَرِّمُوا۟ طَيِّبَـٰتِ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٨٧﴾ وَكُلُوا۟ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَـٰلًا طَيِّبًا ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾ ﴾

---

(۱) التفسير الكبير ج۱۲ ص۶۸
(۲) د عبد الرحمن مومند ديوان
(۳) تفسير القرطبي ج۶ ص۲۵۸
(۴) تفسير المظهري ج۳ ص۱۵۶
(۵) روح المعاني ج۶ ص۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸۷] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو (په خپلو ځانونو باندې) هغه (پاکیزه) څیزونه مه حراموئ چې الله ﷻ درته حلال کړي دي، او تاسو (د شرعي حد څخه) تجاوز مه کوئ. یقیناً الله ﷻ د حد څخه تجاوز کوونکي نه خوښوي.

[۸۸] او د هغه شیانو څخه خورئ چې الله ﷻ درته روزي کړي دي حلال پاکیزه. او د هغه الله ﷻ څخه وډار شئ چې تاسو پرې معتقد یاست (چې بې شکه هرڅه د ده ﷻ په واک اختیار کښې دي).

## ارتباط او شان نزولونه

څرنګه چې په وړاندینیو ایتونو کښې د نصاراوو د عداوت د کمبود وجه دا ښودلې شوې وه چې په هغوی کښې راهبان شته چې د دنیا لذیذ او خوندور خوراک او څښاک یې په ځانونو باندې حرام کړی دی او بې د شرعي موجبه خپل ځانونه د مشقاتو سره مخامخ کوي.

نو د دې خطر موجود وه چې د دې اُمت ځینې متقیانو ته رهبانیت ښه ښکاره شي لکه چې همداسې وشوه. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وایي چې: نبي کریم ﷺ ته یو سړی ورغی او ورته یې وویلې چې: یا رسول الله! کله چې د غوښې څخه زه څه استفاده وکړم نو ښځو ته مې زړه راجګ شي او شهوت مې ونیسي، نو ما په خپل ځان باندې غوښه حرامه کړه. نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه[۱].

ب: یوه ورځې درې کسانو صحابه وو کرامو رضي الله عنهم د نبي کریم ﷺ د عبادت پوښتنه وکړه چې په شپه او ورځ کښې څومره عبادت کوي، نو کله چې دوی ته د نبي کریم ﷺ عبادت وښودل شو نو لکه چې دوی لږ وګڼه، او بیا یې په خپلو منځو کښې سره فیصله وکړه چې نبي کریم ﷺ خو د الله ﷻ معصوم پیغمبر دی که عبادت لږ وکړي هم نو څه باک یې دی، مونږ ته په کار دي چې ډېر عبادت وکړو او دا ځکه چې مونږ د ګناه څخه معصوم نه یاستو. نو درېواړو په لاندې ډول سره تصمیم ونیوه:

یوه وویلې چې زه به ټوله شپه عبادت کوم او نه به ویده کېږم. دوهم وویلې چې زه به ټول عمر روژه نیسم او نه به بوزه کېږم. درېم وویلې چې زه به د زنانه وو څخه خپل ځان په څنګ وساتم او په ټول عمر کښې به واده نه کوم.

نو نبي کریم ﷺ راغی دوی ته یې وویلې چې: ایا تاسو درېواړو داسې داسې تصامیم نیولي دي؟ «أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي»[۲] یعنې: خبردار! قسم دی چې زه د الله ﷻ څخه په تاسو کښې زیات ډارېدونکی یم او همده ﷻ له ستاسو څخه ډېر تقوی دار یم، مګر روژه نیسم او بوزه کېږم هم، او لمونځ کوم او ویده کېږم هم، او (بالآخره) زنانه هم په نکاح اخلم، نو څوک چې زما د طریقې څخه میلان وکړي نو هغه زما څخه نه دی.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۵

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۷۵۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په يوه اوږده حديث کښې يوه ورځې سلمان ﷺ ابو الدرداء ﷺ ته وويلې چې: «إِنَّ لِرَبِّكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَلِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا وَلِاهلكَ عَلَيْكَ حَقًّا فَأَعْطِ كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ» يعنې: يقيناً په تاباندې خپل رب ﷻ حق لري او خپل ځان دې هم درباندې حق لري او (بالآخره) د خپل کور والا هم درباندې حق لري، نو هر يوه حقدار ته خپل حق ورکړه.

أبو الدرداء ﷺ نبي کريم ﷺ ته ورغی او د سلمان ﷺ خبره يې ورته حکايت کړه چې داسې-داسې يې ويلې، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «صَدَقَ سَلْمَانُ»[١] سلمان ﷺ رښتيا ويلي دي.

په دې موضوع کښې زښت ډېر احاديث روايت شوي دي چې ځينو مفسرينو کرامو[٢] راغونډ کړي دي، وجزاهم الله خير الجزاء.

## د مطلب خلاصه

١ـ يعنې: ای مؤمنانو! تاسو په خپلو ځانونو باندې هغه خوندور او لذيذ شيان مه حراموئ چې الله ﷻ ستاسو دپاره حلال کړي دي، حال دا چې دا کار د شرعي حدودو څخه تجاوز دی او الله ﷻ هر ډول تجاوز کوونکی نه خوښوي برابره خبره ده چې په خوندورو شيانو کښې تجاوز وکړي چې د اسراف مرتبې ته يې ورسوي او يا حرام شيان په ځانو باندې حلال جوړ کړي.

٢ـ ای مؤمنانو! تاسو الله ﷻ ته داسې عبادت مه کوئ چې شريعت درته نه وي ښودلی بلکې د خپلو ځانو څخه مو اختراع کړی وي، نو همېشه د شريعت ارشاد په ياد ولرئ چې پاکيزه حلال شيان خورئ چې الله ﷻ د همدې استفادې دپاره در روزي کړي دي.

او د همغه الله ﷻ څخه وډار شئ چې ايمان مو پرې راوړی دی او په هغه عبادت باندې کلک شئ چې الله ﷻ درته ښودلی دی، ستاسو تقوی او ديندارې په همدغې طريقې باندې تحقق موندلی شي او بس، نه په رهبانيت او نه په غير شرعي رياضت باندې.

## توضيحات

١ـ الله ﷻ محمدي (ﷺ) اُمت ته رهبانيت د لاندې حکمتونو د کبله نه دی مشروع کړی:

الف: ترڅو د دوی زړونه او دماغونه کمزوري نه شي او د الله ﷻ په مصنوعاتو او مخلوقاتو کښې لکه څنګه چې مناسبه ده فکر وکړي او د الله ﷻ د قدرتونو مثالونه پکښې راښکاره کړي.

ب: انسان په ځمکه کښې خليفه درولی شوی دی او خليفه ته په کار دي چې د ځمکې د نعمتونو څخه د يو پلوه استفاده وکړي او د بله پلوه يې اباده کړي او ښکاره ده چې د ځمکې ابادي راهبان نه شي کولی، د همدې کبله په محمدي (ﷺ) اُمت کښې اختراعات په نسبت سره پخوانيو اُمتونو ته زيات دي.

---

(١) صحيح البخاري ج١ ص٢٦٤

(٢) تفسير الطبري ج٥ ص٨؛ الدر المنثور ج٣ ص١٣٩

Downloded from: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



## په ياد ولرئ!

٢_ خو په ياد ولرئ چې د اختراعاتو دپاره سالم عقل په سالم بدن كښې په كار دی، مګر دا په كار نه دي چې مخترع بايد كافر وي، بلكې د مسلمان عقل د كافر د عقل څخه په څو چنده قوي دی خو په كار يې نه دی اچولی حال دا چې كافران ترې كار اخلي. د اسلام په اولنيو قرنونو كښې مخترعين مسلمانان وه، بلكې د دنيا حِرَف او اكساب كفايي فرض دي لكه چې مونږ د [البقرة: ٢٢٠] ايت لاندې څه شرحه وركړې ده، والحمد لله ﷻ.

## تحريم څه معنی؟

٣_ د ﴿لَا تُحَرِّمُواْ﴾ كلمه د تحريم څخه اشتقاقه شوې ده، او د تحريم ډولونه مونږ د [المائدة: ٢٦] ايت لاندې ليكلي دي چې بيا ليكلو ته يې اړتيا نه ګورو مګر په دې مقام كښې د بندګانو تحريم مطلب دی چې مفسرينو كرامو په لاندې معناوو باندې تفسير كړی دی[١]:

الف: تاسو په هغه شي باندې د حرام عقيده مه كوئ كوم چې الله ﷻ تاسو ته حلال كړی وي.

ب: تاسو په ذكر شوي شي باندې د حرام اطلاق مه كوئ او د حرام نوم ورباندې مه ږدئ.

ج: تاسو بل چا ته په حلال شي باندې فتوی مه وركوئ چې دا حرام دی.

د: تاسو په حلالو شيانو كښې د حراموالي التزام مه كوئ چې يا ترې قسم وكړئ او يا يې په خپلو ځانونو باندې عدم استفاده نذر كړئ.

ه: تاسو د خپل حلال مال سره حرام مال مه ګډوډوئ چې بالكل ونه پېژاندل شي او په نتيجه كښې درباندې خپل حلال مال هم حرَام جوړ شي، ترڅو چې ترې حرام مال جدا كړئ.

و: تاسو د حلالو مالونو د استفادې څخه داسې اجتناب مه كوئ لكه چې د حرامو څخه اجتناب كوئ. يا په بل عبارت: د حلالو مالونو عدم استفادې ته دومره كلک عزم مه كوئ، ته به وايې چې دا حلال نه دی بلكې حرام دی، البته په دې غرض چې ستاسو د تقوی درجه پورته وخېژي او ښه متقيان او د الله ﷻ څخه ډېر ډارېدونكي جوړ شئ.

## تبصره

٤_ كه څه هم د ذكرو شوو ټولو شپږو معناوو اراده كول سره څه منافات نه لري او د مجاز د عموم په طريقه باندې ايت شريف ټولو ته شاملېدلی شي، مګر د سياق او سباق سره او بالآخره د شان نزول د واقعاتو سره شپږمه معنی په زړه پورې ښكاري[٢]، اما لاندې تحريمونه په دې مقام كښې هيڅ مطرح نه دي:

---

(١) التفسير الكبير ج١٢ ص٧١؛ تفسير القاسمي ج٦ ص٣٤٧

(٢) البحر المحيط ج٤ ص٣٨٩

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ارشادي تحريم، چې يو مشفق أستاذ خپل مخلص شاګرد ته د خوب د کثرت تحريم توصيه کړي چې په خپلو درسونو کښې جد او جهد وکړه.

ب: طبي تحريم، چې کوم يو ډاکټر په مريض باندې د ځينو شيانو خوراک او څښاک بند کړي.

ج: عقلي تحريم، چې د يوه شي په خوراک باندې سړی د هلاکت سره مخامخ کېږي، البته کله چې ذکر شوی خوراکي شی په خطرناک ځای کښې موجوديت ولري او داسې نور.

## اعتداء څه معنی؟

۵ـ د ﴿ وَلَا تَعْتَدُوٓاْ ﴾ کلمه د "اعتداء" څخه اخستله شوې ده او "إعتداء" تجاوز ته وايي، مګر په دې مقام کښې مفسرينو کرامو په لاندې معناوو باندې تفسيره کړې ده:

الف: اعتداء مه کوئ چې حلال شی د حرامو رتبې ته ورسوئ. په دې تقدير دا جمله د وړاندېنۍ جملې دپاره تاکيد واقع کېږي[۱].

ب: لکه څنګه چې په تاسو باندې لازمه ده چې حلالو ته د حرامو لقب ورنه کړئ، همدارنګه تاسو ته په کار دي چې بالعکس حرام شی حلال ونه ګڼئ[۲].

ج: حلال شيان خورئ او څښئ مګر د شرعي حدودو څخه تجاوز مه کوئ[۳] چې اسراف پکښې وکړئ، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَكُلُواْ وَٱشْرَبُواْ وَلَا تُسْرِفُوٓاْ ﴾ [الأعراف: ۳۱] يعنې: او خورئ او څښئ او إسراف مه کوئ.

درېواړه معناوې يوه د بلې څخه ښه ده، په اوله معنی کښې تاکيد دی او په نورو دواړو کښې تاسيس دی، که څه هم د تاسيس څخه تاکيد بهتر وي مګر په دې مقام کښې تاکيد ډېر مزناک دی.

## د ايت شريف ارشاد

۶ـ ذکر شوي ايتونه مونږ ته ارشاد کوي چې بايد د الله ﷻ د نعمتونو څخه په مشروعه طريقه باندې استفاده وکړو او په مقابل کښې يې د خپلې وسې او توان په اندازه شکر وکړو. يا په بل عبارت: بايد خپل ځانونه د الله ﷻ عبادت او نيکو کارونو ته په حلالو خوراکونو باندې تقويه کړو او خپل تشويشونه پرې پورته کړو، ترڅو په فارغ زړه سره د الله ﷻ اطاعت وکړو.

هو! که په کوم يوه مباح شي کښې د عصيان خطر وي چې سړی به پکښې واقع شي نو د هغه پرېښودل (په داسې حال کښې چې د اباحت صفت يې په عقيده کښې څه تغير ونه مومي) هيڅ باک نه لري. لکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ أَنْ يَكُونَ مِنَ الْمُتَّقِينَ حَتَّى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ

---

(۱) زاد المسير ج۲ ص۳۱۲

(۲) تفسير القرطبي ج۶ ص۲۶۳

(۳) روح المعاني ج۷ ص۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به حَذَرًا لِمَا بِهِ الْبَأْسُ»[١] بنده به دې خبرې ته چې د متقيانو څخه وشمېرل شي تر هغه ونه رسېږي ترڅو چې هغه څه ترک کړي چې په هغه کښې څه باک نه وي، د دې ډار د کبله چې په دې کښې باک شته دی. يعنې: د دې ډار د کبله چې چرته به په ګناه کښې واقع شم.

## يوه عجيبه قيصه

٧ـ حسن البصري عليه الرحمة ته يو سړی ورغی او لاندې سوال جواب يې ورسره وکړ[٢]:

سړی: زما يو ګوانډي دی چې فالوده نه خوري.

حسن البصري عليه الرحمة: ولې په څه دليل؟

سړی: هغه وايي چې زه يې شکر نه شم اداء کولی.

حسن البصري عليه الرحمة: ايا ستا ګوانډي اوبه څښي؟

سړی: هو.

حسن البصري عليه الرحمة: يقينًا چې ستا ګوانډی ناپوه دی، ځکه چې د الله ﷻ نعمت خو په هغه باندې په سړو اوبو کښې ډېر دی د فالودې څخه.

﴿ لَا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغْوِ فِىٓ أَيْمَـٰنِكُمْ وَلَـٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ ٱلْأَيْمَـٰنَ ۖ فَكَفَّـٰرَتُهُۥٓ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَـٰكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ ۖ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَـٰثَةِ أَيَّامٍ ۚ ذَٰلِكَ كَفَّـٰرَةُ أَيْمَـٰنِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ ۚ وَٱحْفَظُوٓا۟ أَيْمَـٰنَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمْ ءَايَـٰتِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٨٩﴾ ﴾

[٨٩] (ای مؤمنانو!) الله ﷻ تاسو په قسمونو کښې په لغو (قسم) باندې نه نيسي مګر قسمونو لره مو په خپلو غوټه کولو باندې نيسي (البته کله چې په غوټه کړی شوې خبره باندې ونه درېږئ).

نو د دغه (منعقد قسم) کفاره په لسو مسکينانو باندې طعام خوړل دي د هغو متوسطو څيزونو څخه چې تاسو يې په خپلو فاميلونو باندې خورئ، او يا د دوی (لسو مسکينانو) جامه ده، او يا د يوې رقبې (غلام) ازادول دي.

نو هر هغه څوک چې (د ذکرو شوو درې کَفّارو څخه يوه هم) مونده نه کړي (د قدرت لاندې يې رانه شي) نو (د ده کفاره) درې (پيوسته) روژې دي، دا ستاسو د سوګندونو کفاره ده کله چې تاسو سوګندونه وکړئ. او خپل سوګندونه وساتئ.

دغه شان الله ﷻ تاسو ته خپل ايتونه (واضحه) بيانوي شايد چې تاسو شکر وکړئ.

---

(١) سنن ابن ماجه ص ٣١١

(٢) تفسير القرطبي ج ٦ ص ٢٦٢

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او شان نزول

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې کله وړاندېنۍ ایت شریف نازل شو چې په خپلو ځانونو باندې پاکیزه حلال شیان مه حراموئ، نو صحابه کرام رضي الله عنهم نبي کریم ﷺ ته ورغله او ورته یې وویلې چې: «كَيْفَ نَصْنَعُ بِأَيْمَانِنَا» یعنې: ای د الله ﷻ پیغمبره! مونږ اوس په قسمونو باندې څنګه وکړو؟، نو ذکر شوی ایت شریف نازل شو[1]، او دوی ته یې د قسمونو څخه د خلاصون طریقه وښودله چې د قیامت د ورځې پورې د ټولو مسلمانانو دپاره لارښوونه ده.

برسېره په دې د یوه حلال شي په خپل ځان باندې حرامول بدون د قسم څخه هم د قسم معنی ورکوي. د همدې کبله کله چې نبي کریم ﷺ د بي بي زینب (أم المؤمنین رضي الله عنها) په کور کښې په خپل ځان باندې د شاتو خوراک حرام کړی وه نو الله ﷻ ایت شریف نازل کړ چې: ﴿ قَدْ فَرَضَ ٱللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَـٰنِكُمْ ﴾ [التحريم: ۲]، یعنې ای پیغمبره! ته ولې په خپل ځان باندې حلال شیان حراموې؟ یقیناً الله ﷻ ستاسو دپاره د قسمونو څخه د خلاصون چاره ټاکلې ده چې کفاره ده نو کفاره ورکړه او د قسم څخه ځان خلاص کړه.

همدا د احنافو علیهم الرحمة مذهب دی چې بدون د قسم څخه هم د حلالو شیانو تحریم په معنی کښې قسم دی[2].

### د مطلب خلاصه

یعنې: ای مؤمنانو! د نن څخه وروسته تاسو په خپلو ځانونو باندې حلال لذیذ شیان مه حراموئ او که د نن څخه وړاندې مو حرام کړي وي هغه بېرته خپل اصلي محور (تحلیل) ته ورواړوئ.

هو! که ستاسو څخه کوم یوه د حلالو شیانو څخه قسم کړی وي نو باید په لاندې تفصیل باندې عمل وکړي:

۱_ که ستاسو د خولو څخه قسم بې اختیاره وتلی وه او د تاکید قصد مو نه وه بلکې د دې کبله ستاسو د خولو څخه وتلی وه چې ورسره عادت شوي یاست نو په دې ډول قسم کښې په تاسو باندې څه کفاره نشته او الله ﷻ مو ورباندې نه نیسي، مګر کوښښ وکړئ چې دا عادت پرېږدئ او د الله ﷻ د نامه څخه تکیه کلام جوړ نه کړئ.

۲_ الله ﷻ تاسو په منعقد قسم باندې نیسي، چې ووایئ: په الله ﷻ باندې مې دې قسم وي چې دا فلانی لذیذ حلال شی به ونه خورم؛ البته په هغه صورت کښې چې تاسو په خپل قسم باندې وفا ونه کړئ او پکښې حانث شئ (حلال شی وخورئ).

نو که تاسو د حلالو شیانو د خوراک څخه قسم کړی وي باید خپل ځانونه حانث کړئ او د الله ﷻ د نیونې څخه په لاندې ډول ځانونه خلاص کړئ او کفاره ورکړئ:

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۶ ص۲۶۴

(۲) الفقه الإسلامي وادلته ج۳ ص۲۸۶؛ هداية كتاب الأيمان ج۲ ص۱۷۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

الف: لسو تنو مسکینانو ته داسې متوسط خوراک ورکړئ کوم چې په خپل فامیل باندې خوروئ. دا خوراک باید د کمیت په لحاظ هم متوسط وي چې په ځلېرشتو ساتونو کښې باید هر یوه ته دوه خلې ورکړی شي لکه سبا او بېګاه، او یا بېګاه او چرګ بانګ.

همدارنګه باید د کیفیت په لحاظ سره هم میانه وي چې نه ډېر قیمتي وي او نه ډېر ارزان وي.

ب: او یا د خپلو فامیلونو د لباس په نسبت لسو تنو مسکینانو ته متوسطې جامې وکړئ، دا هم باید په کم او کیف کښې میانه حالې جامې وي.

ج: او یا یو تن غلام یا وینځه ازاده کړئ.

د: که بالفرض د ذکرو شوو شیانو څخه مو یو شی هم مونده نه کړ او وسه مو ورته نه کېده نو بیا پیوسته (پرلپسې) درې روژې ونیسئ.

۳ـ ای مؤمنانو! د قسمونو ذکره شوې کفاره یوازې هغو خلکو پورې خاصه نه ده چې هغوی حلال شیان په خپلو ځانونو باندې په قسم سره حرام کړي وه، بلکې دا ستاسو ټولو د قسمونو کفاره ده په هغه وخت کښې چې تاسو قسم وکړئ او بیا پکښې حانث شئ او یا ځانونه حانث کړئ.

۴ـ مګر ای مؤمنانو! تاسو د الله ﷻ د نامه څخه د غشو ویشتلو ښبه مه جوړوئ چې په هره وړه او غټه خبره باندې قسمونه کوئ، خو چې کله مو قسم وکړ په هغه باندې ښه په کلکه ودرېږئ او هغه ترسره کړئ او ښه حفاظت یې وکړئ.

هو! که حانث کېدلو ته مجبور شوئ او یا مو د مجبوریت څخه په غیر ځانونه حانث کړه او بالآخره یا درته حانث کېدل ګټور ښکاره شوه او یا درته د شریعت د پلوه د حانث کېدلو توصیه متوجه وه، نو په دغو ټولو صورتونو کښې د خپلو قسمونو حفاظت په کفارو سره وکړئ او بې اهمیته ورته مه ګورئ.

۵ـ ای مؤمنانو! الله ﷻ په دغه ډول سره تاسو ته خپل ایتونه درنازلوي او احکام درته واضحه کوي، ترڅو تاسو په یوه حادثه کښې هم متحیر پاتې نه شئ، او په هره وړه او غټه خبره کښې شرعي حکم ولرئ. دا د یو پلوه، او د بل پلوه الله ﷻ په دغسې ډول باندې تاسو ته اسان احکام درنازلوي ترڅو تاسو شکر وکړئ.

یا په بل عبارت: الله ﷻ ستاسو څخه په دې نه راضي کېږي چې حلال شیان په ځانونو باندې حرام کړئ بلکې په دې درڅخه راضي کېږي چې د نعمتونو څخه استفاده وکړئ او د خپل توان په اندازه شکر اداء کړئ.

## توضیحات

۱ـ مونږ ـ لله الحمد ـ د [البقرة:۲۲۵] ایت لاندې د قسم درې ډولونه (یمین اللغو، یمین الغموس او یمین المنعقد، او موارد یې) پوره بیان کړي دي چې بیا لیکلو ته یې حاجت نه ګورو.

Downloaded from: hawalketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## قَسم خاص د الله ﷻ په نامه

۲ـ ټول علماء کرام متفق دي چې د الله ﷻ د نومونو څخه په هر نامه باندې قسم کول جائز دي او همدا شرعي قَسم دی، که بالفرض څوک د الله ﷻ د نامه څخه په غیر د مخلوق په نامه باندې قسم وکړي لکه پیغمبران، کعبه او داسې نور. نو هغه سړی یقینًا ګناهګار دی او قسم یې څه شرعي اعتبار نه لري.

او که د قَسم کولو په وخت کښې مخلوق ته د الله ﷻ په تعظیم باندې معتقد شي نو ګناه لا څه چې کافر کېږي پرې هم. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللهِ فَقَدْ كَفَرَ أَوْ أَشْرَكَ»[1] هر څوک چې د الله ﷻ د نامه څخه په غیر د بل چا په نامه باندې قَسم وکړي نو یقینًا هغه کفر وکړ او یا یې شرک وکړ.

## چې د الله ﷻ نوم کنايةً ذکر شي

۳ـ د قَسم په هکله دا ضرور نه ده چې د الله ﷻ د نومونو څخه یو نوم په صراحت سره ذکر شي بلکې کله-کله د الله ﷻ نوم کنايةً ذکر کېږي او قَسم ورباندې شرعي قَسم ګڼل کېږي. لاندې مثالونه ولولئ[2]:

الف: که ده (چې څوک خپل ځان وښايي) دا کار وکړ نو دی به یهودي یا نصراني او یا مجوسي وي.

ب: که ده دا کار وکړ نو دی به د اسلام څخه بېزاره وي او داسې نور.

نو په ذکرو شوو دواړو جملو کښې که څه هم د الله ﷻ نوم نه دی یاد شوی مګر په عُرف او عادت کښې داسې ګڼل کېږي لکه چې د الله ﷻ په نامه باندې یې قَسم یاد کړی وي، نو که په خپل قَسم باندې یې وفا وکړه ډېره ښه ده او که نه نو باید چې کفاره ورکړي، مګر دا حکم په یمین المنعقد کښې دی، اما په یمین الغموس کښې چې په دروغو باندې ذکر شوی قَسم وکړي ګنهګار دی مګر کافر نه دی.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ حَلَفَ بِمِلَّةٍ سِوَى الْإِسْلَامِ كَاذِبًا فَهُوَ كَمَا قَالَ»[3] هرڅوک چې د اسلام څخه په غیر په بل دین باندې په دروغو قَسم وکړي نو هغه همغسې دی لکه چې ده وویل. یعنې: که ځان یې یهودي ګڼلی وه نو هغه یهودي شو او که ځان ته یې د نصراني لقب ورکړی وه نصراني وګرځېده (کافر شو).

مونږ وایو چې: څرنګه چې ایمان د زړه شی دی نو ترڅو پورې چې څوک کفري عقیده خپله نه کړي

---

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۲۸۰

(۲) بدائع الصنائع ج۳ ص۸: الفقه الإسلامي وادلته ج۳ ص۳۸۴

(۳) سنن النسائي ج۲ ص۱۴۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کفر ته نه اوځي، اما په ځينو ګناهونو باندې تغليظًا د کفر اطلاق کېږي لکه چې د لمانځه تارک ته هم دا لقب ورکړی شوی دی. نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ»[1] يعني: زمونږ او د کافرانو په منځکښې فقط لمونځ دی نو څوک چې لمونځ ترک کړي نو يقينًا هغه کافر شو.

همدارنګه ګناه ده او کفر نه دی[2] چې څوک په دروغو سره ووايي چې الله ﷻ شاهد دی چې دا خبره داسې ده حال دا چې واقعيت هغسې نه وي. نو دا ډول دروغينه خبره په حقيقت کښې دروغين سوګند دی چې يمين الغموس ورته وايي.

## يو نظير

۵_ په بالکنايه د الله ﷻ په نامه سوګند يو نظير دا دی چې څوک ووايي چې زه به خپله دغه جامه په کعبه شريفه باندې ووهمه، نو دا جمله بالکنايه د تصدق څخه عبارت ده يعني زه به دا جامه خيرات کړم.

## ايا توريه په قَسم کولو کښې څه اثر لري؟

۶_ توريه دې ته وايي چې داسې لفظ استعمال کړی شي چې دوه معناوې ولرې، يوه فهم ته نژدې وي او بله د فهم څخه لرې وي، مخاطب خيال وکړي چې نژدې معنی مراده ده، حال دا چې د متکلم لرې معنی مراده وي[3].

نو پوښتنه دا ده: چې څوک په قَسم کښې توريه استعماله کړي نو د مخاطب فهم ته اعتبار دی او که د متکلم نيت او اراده اعتبار لري؟

جواب يې دا دی چې: د الله ﷻ په وړاندې خو صرف د متکلم نيت اعتبار لري او دا څکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ»[4] يعني: يقينًا ټول عملونه په نيتونو سره دي او قَسم کول هم يو عمل دی، او الله ﷻ ته پټ او ښکاره ټول يو برابر دي.

اما د بندګانو په اعتبار سره پکښې دوه ډوله احاديث روايت شوي دي چې د يوه څخه معلومېږي چې د مخاطب فهم معتبر دی او د بل څخه څرګندېږي چې د متکلم نيت اعتبار لري، احاديث دا دي:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «يَمِينُكَ عَلَى مَا يُصَدِّقُكَ عَلَيْهِ صَاحِبُكَ»[5] ستا قَسم په هغه شي (معنی) باندې واقع کېږي چې په هغې باندې ستا انډيوال (مخاطب) ستا تصديق کوي. يعني: د مخاطب فهم ته اعتبار دی.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۹۰

(۲) الفقه الإسلامي وادلته ج۳ ص۳۸۴

(۳) مختصر المعاني. فن البديع ص۴۵۶

(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۲

(۵) صحيح مسلم ج۲ ص۴۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: سوید ﷺ وايي چې يوه ورځې مونږ د کوره ووتلو چې نبي کريم ﷺ ته مو د ورتللو نيت درلود او زمونږ سره وائل بن حجر ﷺ هم ملګری وه چې په لاره کښې دښمن ونيوه (او غوښتل يې چې زمونږ څخه يې جدا کړي) مګر ما ورته قسم وکړ چې دا زما ورور دی (هغه څوک نه دی چې تاسو يې په لټه کښې ياست) نو زما په قسم سره يې زمونږ د ملګري لاره پرېښودله. کله چې مونږ نبي کريم ﷺ ته وروروسېدو نو ما ورته ذکره شوې ټوله قيصه بيانه کړه چې ما په قسم کښې توريه وکړه او خپل ملګری مې د دښمن څخه راخلاص کړ نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «صَدَقْتَ الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ»[١] رښتيا دې ويلي دي هر مسلمان د بل مسلمان ورور دی. يعنې نبي کريم ﷺ په توريه باندې ملامته نه کړم چې د ورور څخه مخاطب نسبي ورور مراد کړ او ما ترې ديني ورور اراده کړ.

## تبصره

٧ـ د ذکرو شوو دوارو ډلو احاديثو تطبيق احناف عليهم الرحمة داسې کوي چې که قسم کوونکی (متکلم) په قسم کولو کښې ظالم وه او غوښتل يې چې د دوه مخو کلماتو په استعمال سره په چا باندې ظلم وکړي او د دې سره سره خپل ځان ته برائت هم ورکړي نو په دغسې موضوع کښې د مخاطب فهم معتبر دی او په توريه باندې قسم کوونکی د دروغينې قسم په خوړلو سره د ګناه څخه برائت او نجات نه شي موندلی.

بالمقابل که قسم کوونکی مظلوم وه او د ظالم څخه د نجات په خاطر يې په قسم کولو کښې دوه مخې کلمې استعمالې کړې نو د همده نيت اعتبار لري او په توريه باندې د ګناه څخه برائت او نجات موندلی شي[٢].

## "إن شاء الله" د قسم د انعقاد مخه نيسي

٨ـ که څوک د قسم کولو سره متصل "إِنْ شَاءَ الله" ووايي نو قسم يې انعقاد نه مومي. نبي کريم ﷺ (چې تقريباً په خپل عمر شريف کښې يې څه د پاسه اتيا قسمونه کړي دي) په ټولو قسمونو کښې يې په لاندې تفصيل سره معامله کړې ده[٣]:

الف: د ځينو قسمونو سره يې د "إِنْ شَاءَ الله" کلمه متصله ويلې ده چې منعقد نه شي.

ب: په ځينو کښې يې د انعقاد څخه وروسته خپل ځان حانث کړی دی او کفاره يې ورکړې ده. لکه د عسلو (شاتو) په قيصه کښې.

ج: په ځينو باندې يې د خپل قسم سره سم وفا کړې ده.

اما په لاندې درې مقامونو کښې الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته امر کړی دی چې قسم وکړي:

---

(١) سنن ابي داوُد ج٢ ص١٠٨

(٢) بدائع الصنائع ج٣ ص٢٠

(٣) تفسير القاسمي ج٦ ص٣٥٨ نقلاً عن زاد المعاد.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: ﴿ قُلْ إِی وَرَبِّیٓ إِنَّهُۥ لَحَقٌّ ﴾ [یونس:۵۳] یعني: ورته ووایه چې: هو! په خپل رب مې دې قسم وي چې دا (د قیامت راتگ) حق دی.

دوهم: ﴿ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّی لَتَأْتِيَنَّكُمْ ﴾ [سبأ: ۳] یعني: ورته ووایه چې دغسې نه ده (لکه چې تاسو خیال کوئ) په خپل رب مې دې قسم وي چې د قیامت ورځ به تاسو ته راشي.

دریم: ﴿ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّی لَتُبْعَثُنَّ ﴾ [التغابن: ۷] یعني: ورته ووایه چې دغسې نه ده (لکه چې تاسو خیال کوئ) په خپل رب مې دې قسم وي چې تاسو به (د قبرونو څخه) راپورته کړی شئ.

## اطعام څه معنی؟

۹ـ د "إطْعَام" د کلمې مجرد "طُعَام" دی. "طُعَام" د یوه شي خوړلو ته وایي، او کله چې ترې "إطْعَام" جوړ شي نو په یو بل چا باندې د یوه شي د خوړلو معنی ورکوي.

په دې مقام کښې د ﴿ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَٰكِينَ ﴾ د معنی حاصل داسې راوځي چې په لسو تنو مسکینانو باندې څه خوراکي شیان وخوروئ (هغوی پرې ماړه کړئ).

نو د احنافو علیهم الرحمة په نزد باندې ذکره شوې معنی په لاندې دوه صورتونو سره إجراء کېدلی شي[1]:

الف: چې مسکینانو ته خوراکي شیان په وړاندې کېښودلی شي ترڅو پرې ماړه شي او پخپله باندې یې بس کړي. دغه ډول ته إباحت الطعام وایي.

ب: چې هغوی ته خوراکي شیان ورکړی شي، نور نو د هغوی خوښه چې په هرځای کښې پرې خپل ځانونه مړوي. دغه ډول ته تملیک وایي.

شوافع علیهم الرحمة وایي چې صرف په تملیک باندې کفاره جواز لري او په اباحت باندې نه شي اداء کېدلی، لکه څنگه چې د زکات په ورکړه کښې تملیک ضرور دی او په اباحت باندې نه اداء کېږي همدارنگه کفاره هم درواخلئ.

مگر (په دې لحاظ سره نه چې مونږ احناف یاستو بلکې د انصاف په لحاظ سره) مونږ ته د احنافو علیهم الرحمة اجتهاد قوي ښکاري او دا څکه چې:

اول: د زکات په باره کښې الله ﷻ د "إطْعَام" کلمه نه ده نازله کړې بلکې د "الإيْتَاء" کلمه یې نازله کړې ده چې په معنی د ورکړې سره ده او ورکړه خو د تملیک معنی ورکوي، نو په إباحت سره جواز نه لري. نو یو په بل قیاسول صحیح نه دي.

دوهم: الله ﷻ د کفارې إطعام د هغه إطعام سره تشبیه کړې دی چې سړی یې خپل عیال ته ورکوي، او ښکاره ده چې خپل عیال ته خو سړی په إباحت او تملیک دواړو ډولونو سره خوراک ورکوي نو باید چې په کفاره کښې هم دواړه ډولونه جواز ولري.

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۴۵۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

١٠_ که څوک وايي چې: د إباحت په صورت کښې خو د موړوالي اندازه معيار دی، اما د تمليک په صورت کښې بايد څومره خوراک ورکړي چې مسکينان ورباندې ماړه شي؟ حال دا چې ځينې خلک په لږ شي مړيږي او ځينې خېټور وي اسانه نه مړيږي.

مونږ وايو چې: د يوه مسکين دپاره بايد د غنمو نيمه پيمانه ورکړي (چې د افغانستان په وزن خورد کم يو چارک غنم کېږي) او دا ځکه چې:

الف: نبي کريم ﷺ کعب بن عجرة ﷺ ته په اوږده حديث کښې فرمايلي دي: «أَوْ أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ لِكُلِّ مِسْكِينٍ نِصْفُ صَاعٍ مِنْ طَعَامٍ وَاحْلِقْ رَأْسَكَ»[١]. يعنې: او يا شپږو مسکينانو ته طعام ورکړه د هر مسکين دپاره د طعام نيمه پيمانه، او خپل سر دې وخرېيه.

ذکره شوې قيصه مونږ د [البقرة:١٩٦] ايت لاندې مفصله ليکلې ده چې نوموړي صحابي ﷺ د حديبيه په صلحه کښې د عمرې احرام تړلی وه او د إحرام د اوږدوالي د کبله سپږو په تکليف کړی وه چې نبي کريم ﷺ ورته د سر د خريلو اجازه ورکړه او د کفارې هدايت يې ورته وکړ.

څرنګه چې ټول علماء کرام متفق دي چې په کفاراتو کښې د طعام اندازه تفاوت نه لري[٢]، نو په ذکر شوي حديث شريف سره لکه څنګه چې د محرم دپاره د کفارة الجناية اندازه وټاکله شوه همدارنګه پرې د کفارة اليمين د طعام اندازه هم ټاکله کېږي.

ب: په ذکر شوي مقدار باندې د عمر الفاروق ﷺ، علي ﷺ او د عائشې رضي الله عنها او د څه نورو صحابه وو ﷺ او تابعينو عمل هم روايت شوی دی، حتی چې عمر الفاروق ﷺ خپل غلام ته (چې "يَرْفَأ" نومېده) ويلي وه چې کله-کله زه قسم وکړم چې فلاني خيلو ته به څه شی ورنه کړم خو بيا راته ورکول ښه ښکاره شي او څه شی ورکړم، نو هر کله چې ما دغسې کار وکړم (او په قسم کښې حانث شوم) نو ته لسو مسکينانو ته طعام ورکړه «نِصْفُ صَاعٍ مِنْ حِنْطَةٍ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ»[٣] هر مسکين ته د غنمو نيمه پيمانه او د خرماوو يوه پيمانه.

د احنافو عليهم الرحمة په نزد لکه چې د غنمو يا خرماوو جنس ورکول جائز دي همدارنګه جائزه ده چې د ذکرو شوو اجناسو قيمتونه ورکړي[٤]، او دا ځکه مسکين سړی خو يوازې خوراک ته محتاج نه وي بلکې نور ضروريات هم لري چې هغه په قيمت سره د ښه ښه پوره کېږي.

### اوسط طعام کوم يوه ته وايي؟

١١_ څرنګه چې عادةً سړی خپل فاميل ته درې وخته خوراک او څښاک ورکوي نو متوسط

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٦٤٨
(٢) احكام القرآن للجصاص ج٢ ص٤٥٨
(٣) بدائع الصنائع ج٥ ص١٠٢
(٤) الفقه الإسلامي وادلته ج٣ ص٤٩٣

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خوراک او څښاک په دوه وخته باندې تحقق موندلی شي، نو د قسم د کفارې (کفارة الیمین) دپاره باید یوه مسکین ته دوه وخته خوراک ورکړی شي چې لاندې ټول صورتونه پکښې شاملېږي[۱]:

الف: چې لسو مسکینانو ته دوه وخته سبا او بېګاه او یا چړګ بانګ او ماښام خوراک ورکړی شي.

ب: چې، شل مسکینان یو وخت ماړه کړی شي.

ج: چې یو مسکین لس ورځې او شپې موړ وساتي که څه هم دغه عدد په کال کښې پوره کړي.

د: چې یو مسکین ته شل ورځې یوازې بېګاه او یا یوازې چړګ بانګ خواړه ورکړي.

## په طعام کښې کتغ ضرور نه دی

۱۲ـ څرنګه چې په ایت شریف ﴿ فَكَفَّـٰرَتُهُۥٓ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَـٰكِينَ ﴾ کښې د ﴿ إِطْعَامُ﴾ کلمه مطلقه نازله شوې ده چې کتغ (لنګولی) ورسره وي او که نه، نو ځکه احناف علیهم الرحمة وايي چې که وچه ډوډۍ ورکړي هم کفاره پرې خلاصېږي[۲].

## په کومه جامه باندې کفاره خلاصېږي؟

۱۳ـ څرنګه چې الله ﷻ په کفاره کښې مطلقه جامه ذکره کړې ده نو په هغو ټولو جامو باندې کفاره خلاصېږي چې په عُرف کښې پرې سړی د بربنډ د نامه څخه خلاصون مومي لکه اوږد کمیس، لوی څادر، چپنه او داسې نور چې بدن وربانديې پټېږي.

اما هغه جامې چې اغوستونکی یې بربنډ ګڼل کېږي نو په هغې سره کفاره نه خلاصېږي، لکه یوازې پټې، یوازې خولۍ او داسې نور چې فقهاوو کرامو ښه پوره واضحه کړي دي[۳].

مګر په یاد ولرئ چې په جامه کښې تملیک شرط دی او د طعام په شان په اِباحت باندې پرې کفاره نه خلاصېږي، ترڅو د فقیر ملکیت وګرځي.

یا په بل عبارت: د خوراکي شیانو څخه صرف په خوراک سره د مالک ملکیت قطعه کېږي اما په جامې کښې تر هغه باقي دی چې ترڅو یې مسکین ته تملیک نه کړي.

## عدم وجدان یعني څه؟

۱۴ـ په ایت شریف کښې په روژو سره د کفارې خلاصون په عدم وجدان باندې شرط کړی شوی دی چې: ﴿ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَـٰثَةِ أَيَّامٍ ﴾ یعني: نو هر څوک چې د ذکرو شوو درېواړو څخه یو هم مونده نه کړي نو هغه دې درې ورځې روژې ونیسي، چې تفصیل یې فقهاوو کرامو داسې کړی دی[۴].

---

(۱) بدائع الصنائع ج۵ ص۱۰۵

(۲) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۴۵۸

(۳) بدائع الصنائع ج۵ ص۱۰۵؛ احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۴۶۰

(۴) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۱۳۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



امام الشافعي علیه الرحمة وايي چې: هرڅوک چې دومره روزي لري چې پخپله يې وخوري او هم يې خپل عيال ته ورکړي، او علاوه په دې، لسو مسکينانو ته هم کفايت کوي نو دغه سړي ته په روژو سره د کفارې خلاصون جواز نه لري،بايد په اطعام سره يې خلاصه کړي.

اما امام ابو حنيفه علیه الرحمة وايي چې: عدم وجدان د دې څخه عبارت دی چې څوک د نصاب خاوند نه وي، يعنې دومره مال ونه لري چې په هغه باندې زکات لازمېږي نو دغسې سړي ته په روژو سره کفاره خلاصول جائز دي.

## په روژو کښې تتابع شرط ده

۱۵_ که څه هم په ايت شريف کښې ﴿ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ أَيَّامٍ ﴾ جمله نازله شوې ده او د "مُتَتَابِعَاتٍ" تکی ورسره نشته، د همدې کبله ځينې علماء کرام وايي چې د کفارة اليمين په روژو کښې تتابع (پیوستون) ضرور نه دی مګر بهتر دی[۱].

اما احناف علیهم الرحمة وايي چې: د عبد الله بن مسعود ﷺ په قرائت کښې ورسره د "مُتَتَابِعَاتٍ" کلمه شته دی[۲]. ځکه چې دغه قرائت ټولو صحابه وو کرامو ﷺ ته مقبول وه او د دوی ترمنځ يې شهرت درلود نو د مشهور حديث حکم يې واخيست، او قاعده دا ده چې په مشهور حديث سره په کتاب الله باندې زيادت جائز دی. نو ځکه دوی په روژه کښې تتابع ضرور ګڼلې ده که په منځکښې يې څه فاصله واقع شوه نو بايد چې روژې بيا د سره ونيسي.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ رِجۡسٞ مِّنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٩٠﴾ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ فِي ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِ وَيَصُدَّكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّنتَهُونَ ﴿٩١﴾ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَٱحۡذَرُواْۚ فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿٩٢﴾ ﴾

[۹۰] ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! بې شکه شراب او جواري او (بالآخره) بوتان او د (هو او نه) غشی (دا ټول) پليت دي، د شيطان د عمل څخه دي نو اجتناب ترې وکړئ، شايد چې تاسو فلاح (کاميابي) مونده کړئ.

[۹۱] يقينًا شيطان غواړي چې ستاسو په منځو کښې د شرابو او جوارۍ په سبب دښمني او حسد واچوي او (هم) مو د الله ﷻ د يادولو څخه او د لمانځه څخه واړوي.

(۱) تفسير الطبري ج۵ ص۳۱
(۲) بدائع الصنائع ج۵ ص۱۱۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ايا تاسو (د: ذکرو شوو مفاسدو سره سره د شرابو او قماربازۍ څخه) منعه کېدونکي ياست؟ (بلکې ترې منعه شئ او لاس ترې واخلئ).

[۹۲] او د الله ﷻ اطاعت وکړئ او (هم) د پيغمبر ﷺ پيروي وکړئ او وډار شئ (چې د تخلف په صورت کښې دربانديې عذاب نازل نه شي).

نو که تاسو (د اطاعت څخه) مخونه واړول نو تاسو پوه شئ (چې دا کار همدا تاسو ته ضرر دی او بس څکه چې) يقيناً زمونږ په پيغمبر ﷺ باندې (فقط) څرګنده رسونه ده (او دا په ښه وجه باندې ترسره شوه).

## ارتباط

په وړاندې ايتونو کښې الله ﷻ توصيه کړې وه چې پاکيزه حلال شيان په ځانونو باندې مه حراموئ او که داسې کار مو کړی وي نو په کفارة اليمين سره يې جبيره وکړئ، او په دې ايتونو کښې توصيه کوي چې تاسو د هغو شيانو څخه هم ځانونه بچ وساتئ چې الله ﷻ دربانديې حرام کړي دي. لکه شراب او نور، چې دا پاکيزه شيان نه دي بلکې نجس او پليت دي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې: ای مؤمنانو! تاسو خو د الله ﷻ د عبادت دپاره ځينې پاکيزه حلال شيان په ځانونو باندې حرام کړي وه ترڅو ډېر عبادت وکړئ او الله ﷻ درڅخه راضي شي، مګر د الله ﷻ د رضا د موندلو دغه لاره غلطه ده بلکې سمه لاره يې دا ده چې شرعي حرام شيان په ځانونو باندې حرام کړئ او کامل اجتناب ترې وکړئ چې د همدغو د جملې څخه لاندې څلور شيان هم دي چې:

شراب خوري مه کوئ، او قماربازي مه کوئ، او هم د بوتانو د عبادت څخه ځانونه وساتئ، او په غشو باندې فالونه مه نيسئ. او دا ځکه چې په دغو څلور واړو کښې لاندې مفاسد شته دي:

الف: دا ناپاکه او پليت شيان دي که څه هم نظر ځينو اذهانو ته پکښې پاکيزګي ښکاري.

ب: دا شيطاني اعمال دي چې په دنيا او آخرت کښې د مشکلاتو اسباب دي.

ج: د دغو شيانو څخه اجتناب کول ستاسو د کاميابۍ او فلاح لاره ده.

د: خصوصاً په شرابو او قمار کښې ستاسو کينې او عداوتونه نغښتي دي او شيطان غواړي چې په همدغو دواړو سره ستاسو په منځو کښې جګړې او دنګلې واچوي چې ترڅو ارام ژوند ونه کړئ.

هـ: خصوصاً همدغه دواړه تاسو هم د الله ﷻ د يادولو څخه غافلوي او هم مو لمونځونه د ياده وباسي، حال دا چې دغه دواړه ډوله غفلتونه ستاسو دپاره زهر قاتل دي چې د ډېرو ګناهونو باعث جوړېږي.

۲ـ نو ای مؤمنانو! چې کله تاسو ذکر شوي ټول مفاسد په اذهانو کښې ونيسئ او هغه حوادثو ته ښه خير شئ چې روزمره تاسو ته د همدغو شيانو څخه درپېښېږي نو د دې خبرې جواب راکړئ چې: ايا تاسو ترې لاس اخستونکي ياست؟ بلکې لاس ترې واخلئ!.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ــ ای مؤمنانو! تاسو د الله ﷻ اطاعت وکړئ او هم د نبي کریم ﷺ هدایات او لاربنوونې عملي کړئ، او د تخلف په صورت کښې وډار شئ چې څه آفت به دربانديې نازل کړی شي.

او دا څکه چې زمونږ په لیږلي شوي پیغمبر باندې د احکامو د رسونې څخه په غیر بل هیڅ شی نشته، نو ستاسو تخلف پخپله تاسو ته ضرر دی او همدارنګه ستاسو محاسبه هم د هغه په غاړه نه ده بلکې دا زمونږ کار دی. نو د الله ﷻ د محاسبې دپاره تیاری ونیسئ.

## توضیحات

۱ــ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۲۱۹] ایت لاندې ښه مشرح لیکلي دي چې "مَیْسِر" څه ته وایي او څه مفاسد لري؟ او هم مو لیکلي دي چې شراب په څلورو مرحلو کښې حرام کړی شوي دي، او د هرې یوې مرحلې د نزول اسباب مو هم بېل-بېل واضحه کړي دي. او بالآخره دا مو هم لیکلي دي چې دغه ایت شریف چې اوس د بحث لاندې دی په څلورمه مرحله کښې نازل شوی دی چې شراب یې په قطعي توګه حرام کړي دي. نو د ذکر شوي بحث بیا لیکلو ته ضرورت نه ګورو یوازې دومره زیاتوو چې:

وړاندېنیو دریوو مرحلو د شرابو د تحریم دپاره زمینه دومره برابره کړې وه چې کله (د ذکري شوې څلورمې مرحلې) ایت نازل شو نو ټولو مؤمنانو په ډېرې جلتۍ سره عملي کړ. لاندې یو مثال یې ولولئ:

أنس ﷺ وایي چې ما د ابو طلحه ﷺ په کور کښې راغونډو شوو خلکو ته شراب ورځښل چې اعلان مو واورېده، نو ماته ابو طلحه ﷺ وویل چې دا د څه شي اعلان دی؟ چې ما وکتل د شرابو د تحریم اعلان وه چې: «أَلَا إِنَّ الْخَمْرَ قَدْ حُرِّمَتْ» خبردار! شراب یقینًا حرام شوه. نو امر یې راته وکړ چې ورشه دا ټول توی کړه «فَجَرَتْ فِي سِكَكِ الْمَدِينَةِ»[۱] نو د مدینې منورې په کوڅو کښې وبهېدل. یعنې د همدې اعلان سره ټولو شراب درلودونکو چاټۍ ماتې کړې او شراب یې په کوڅو کښې توی کړه[۲].

## د شرابو متعلق احادیث

۲ــ که څوک غواړي چې د شرابو پورې مربوط احادیث ولولي نو ځینو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[۳] چې تقریبًا د پنځه ویشتو شاوخوا احادیث یې په همدې موضوع کښې راغونډ کړي دي، الله ﷻ دې اجرونه ورکړي.

## أنصاب او ازلام څه معنی؟

۳ــ مونږ د [المائدة:۳] ایت لاندې د انصاب او ازلام دوه کلمو په شرحه او ډولونو کښې ښه پوره

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۳۳۲؛ ج۲ ص۶۶۴
(۲) تفسیر القرطبي ج۶ ص۲۹۲
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۹۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څېړنه کړې ده چې بیا لیکل یې د اوږدوالي څخه پرته بله ګټه نه لري، نو د محترمو لوستونکو څخه هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړي، په دې مقام کښې صرف لاندې سوال جواب وراضافه کوو:

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: په دې مقام کښې خو مخاطبه د مؤمنانو سره ده چې په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ﴾ سره پیل شوې ده، نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنا د شرابو او قمار په سلسله کښې د بوتانو او غشو ﴿ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ ﴾ نومونه هم واخستل شوه حال دا چې دغه دواړه خو د مشرکانو کار وه نه د مؤمنانو؟

مونږ وایو چې: شاید چې د دې کبله به ورسره د بوتانو او غشو نهي مقارنه شوې وي ترڅو مؤمنانو ته د شرابو او قمار مفاسد او اضرار ښه څرګند کړي، ته به وایي چې دغه دواړه هم د هغو دواړو څخه کم نه دي، نو څرنګه چې همدغه مطلب د ایت په اول سر کښې ترلاسه شو نو د ایت په آخر کښې یوازې د شرابو او قمار نومونه واخستل شوه او بس.

## رِجس څه شي ته وایي؟

۵_ د ﴿ رِجۡسٌ ﴾ کلمه د پلیت په معنی سره ده او پلیت هغه شي ته وایي چې د هغه څخه سړی نفرت کوي، برابره خبره ده چې طبعي نفرت وي او که عقلي او بالآخره یا شرعي نفرت وي او یا د درېواړو د کبله وي[1]. په دې مقام کښې ذکرو شوو څلورو واړو شیانو ته د "رِجْس" لقب د دې امله ورکړی شوی دی چې عقلًا او شرعًا پلیت دي اګر چې ځینې طبائع ورته میلان کوي.

## د شرابخورۍ حد اتیا دُرې دی

۶_ نبي کریم ﷺ وفات شو خو د شرابخور دپاره د دنیاوي عقوبت په باره کښې څه ټاکلی حد مقرر نه وه، که چا به شراب وڅښل نو په پڼو او څپېړو او بالآخره په همساګانو به وهل کېده.

د ابو بکر الصدیق ﷺ په خلافت کښې شرابخواره لږ څه زیات شوه نو نوموړي خلیفه ورته حد څلوېښت دُرې وټاکه.

همدغه حد د عمر الفاروق ﷺ د خلافت په اولنیو وختونو کښې هم په شرابخور باندې اجراء کېده، خو د ده په زمانه کښې شرابخورۍ لږ څه نوره هم وراضافه شوه، نو نوموړي خلیفه ﷺ د صحابه وو کرامو ﷺ سره مشوره وکړه چې باید د شرابخورو عقوبت لږ څه نور هم درووند شي.

نو علي ﷺ مشوره ورکړه چې د شرابخور حد د قذف حد ته ورسولی شي چې اتیا دُرې دی او دا ځکه کله چې څوک شراب وخوري نو بې هوشه شي او چې بې هوشه شو نو اوتې بوتې وایي چې په

Downloded from: bawarketabtoon.com

(۱) مفردات الراغب ص۱۹۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدې جمله کښې په قذف باندې هم بندوواز نه وي، نو په کار دی چې همدغه د قذف حد وربانديې جاري کړی شي «فَأَمَرَ بِهِ عُمَرُ»[1] نو په همدې باندې عمر الفاروق ﷺ امر وکړ.

﴿ لَيْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوٓاْ إِذَا مَا ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّءَامَنُواْ ثُمَّ ٱتَّقَواْ وَّأَحْسَنُواْ ۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٩٣﴾ ﴾

[۹۳] په هغو کسانو باندې چې ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي په هغه شي کښې څه ګناه نشته چې دوی (د تحریم څخه وړاندې) خوړلي دي (لکه شراب او یا د قمار پیسې. په دوی باندې عمومًا څه ګناه نشته او خصوصًا لا) په هغه وخت کښې چې دوی پرهېزګاري کوي او خپل ایمان ته ادامه ورکوي او (بالآخره) نېک عملونه کوي، بیا هم پرهېزګاري کوي او خپل ایمان ته ادامه ورکوي، بیا هم پرهېزګاري کوي او مخلصانه کارونه کوي او الله ﷻ مخلصان خوښوي.

## ارتباط او شان نزول

د اُحد د غزا په وخت کښې شراب نه وه حرام کړی شوي نو ځینو صحابه وو کرامو ﷺ د سهار په وخت کښې شراب څښلي وه چې په عین همدغې ورځې کښې شهیدان شوه، نو کله چې د شرابو د تحریم ذکر شوی قطعي حکم نازل شو نو ځینو صحابه وو کرامو ﷺ ته تشویش پېښ شو چې: «قُتِلَ قَوْمٌ وَهِيَ فِي بُطُونِهِمْ»[2] یعنې: ځینې خلک خو په داسې حال کښې شهیدان شوي دي چې شراب یې په ګېډو کښې وه، نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ او د دوی اشتباه او تشویش یې پورته کړ.

مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوی تشویش به اصلاً منافقانو مطرح کړی وي او بیا به وربانديې ځینو صحابه وو کرامو ﷺ هم تلفظ کړی وي، لکه څنګه چې د قبلې په تحویل کښې منافقانو همدارنګه تشویش ایجاد کړ چې د هغو صحابه وو کرامو ﷺ لمونځونه به ضائع شوي وي چې د قبلې د تحویل څخه وړاندې وفات شوي دي. نو الله ﷻ وفرمایل چې: ﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَٰنَكُمْ ﴾ [البقرة: ۱۴۳] او الله ﷻ داسې نه دی چې ستاسو ایمان (لمونځونه) ضائع کړي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای مؤمنانو! تاسو تشویش مه کوئ په هر ځای کښې قانون په آینده باندې اثر اچوي او په تېرو شوو واقعاتو پورې تماس نه نیسي، بلکې ټول قوانین او شرائع د راتلونکو واقعاتو دپاره وضعه کېږي او بس.

۲ـ نو په همدې بنا په هغو کسانو باندې هیڅ تشریعي مواخذه او نیونه نشته کوم چې مؤمنان

(۱) تفسیر القرطبي ج۶ ص۲۹۷
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۶۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي او صالح عملونه يې کړي دي مګر د تحريم څخه وړاندې يې شراب هم څښلي دي او د قمار پيسې يې هم خوړلې دي، برابره خبره ده چې هغوی شهيدان شوي وي او يا په خپل مرګ باندې وفات شوي وي او بالآخره يا ژوندي وي او د مرګ يا شهادت په انتظار دي.

نو لکه چې د تحريم څخه په وړاندېنيو شراب څښلو او قماربازۍ باندې يې الله ﷻ نه نيسي، همدارنګه به يې الله ﷻ بالکل مواخذه نه کړي چې د الله ﷻ څخه ډارېږي او د ډار د کبله يې ايمان راوړی وي او نېک عملونه کوي، حتی چې ذکر شوی تشويش دوی ته هم د تقوی د کبله وروليږدلی وي چې په تېرو شوو شرابخورۍ باندې ونه نيولی شو.

بلکې دوی دې ته چمتو دي چې هر شی په دوی باندې حرام کړی شي هغه به عقيدةً او عملاً قبول کړي او هيڅ ډول نقصان به پکښې واقع نه کړي او نسخه په سر او سترګو مني.

د دوی تقوي او ايمانداري يوازې په شرابو پورې ځانګړې نه ده بلکې دوی په دوامداره توګه د الله ﷻ څخه ډارېږي او د خپلو ځانونو په حفاظت کښې تاند وهي، د دوی تقوی د ادامې د کبله آن د احسان درجې ته رسېږي چې خپل عبادتونه په زيات حضور سره کوي، ته به وايې چې الله ﷻ په خپلو سترګو باندې ګوري، نو ځکه د واجباتو لا څه چې د مستحباتو مراعات هم کوي.

او الله ﷻ خو احسان کوونکي او ښه کارکوونکي بندګان خوښوي نو ولې به يې په تېرو شوو شرابخورۍ باندې نيسي چې په هغه وخت کښې يې الله ﷻ لا د تحريم حکم نه وه نازل کړی.

## توضيحات

۱_ که څه هم د ﴿ طَعِمُوٓا ﴾ کلمه د "طَعَم" څخه اخستله شوې ده او "طَعَم" اصلاً په خوراکي شيانو کښې استعمالېږي مګر په عُرف او رواج کښې د څښلو په شيانو کښې حتی په خوب کښې يې هم استعمال موندلی دی. لکه چې وايي: "لَمْ أَطْعَمْ خُبْزًا وَلَا مَاءً وَلَا نَوْمًا"[۱] يعني: نه مې ډوډۍ خوړلې ده او نه اوبه او بالآخره نه خوب.

په دې مقام کښې د همدغه عُرفي استعمال د کبله په شرابو کښې هم د طعم کلمه نازله شوې ده، مګر زمونږ (د پښتنو) په محاوره کښې په شرابو کښې څښل نه استعمالېږي بلکې خوړل پکښې استعمال مومي، نو ځکه مونږ شرابي ته "شراب خور" وايو، شراب څښونکی ورته نه وايو.

## د غلط تاويل يوه قيصه

۲_ قدامه بن مظعون ﷺ د بدر د غازيانو څخه وه او د عمر الفاروق ﷺ په خلافت کښې د بَحرَين والي مقرر شوی وه او بالآخره د عمر الفاروق اوښی (د مېرمنې ورور) وه، نوموړی د ذکر شوې ايت شريف په تاويل کښې غلط شوی وه او ګومان يې کړی وه چې په تقوی دار سړي باندې په شراب خوړلو کښې څه ګناه نشته.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۶ ص۲۹۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کله چې په هغه باندې د خپلې میرمنې (هند بنت الولید) په شمول شاهدان تېر شوه حتی چې په هغو شاهدانو کښې آبو هریره ﷺ هم شامل وه، نو د عمر الفاروق ﷺ سره یې په لاندې ډول سوال جواب وکړ:

الفاروق ﷺ: زه غواړم چې په تاباندې د شرابخورۍ حد (اتیا دُرې) جاري کړم.

قدامه ﷺ: ته حق نه لرې چې حد راباندې اجراء کړې.

الفاروق ﷺ: ولې؟ ایا شراب قطعي حرام نه دي؟

قدامه ﷺ: ځکه چې الله ﷻ فرمایي ﴿ لَيْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوٓاْ ﴾ الآية. یعنې: په هغو کسانو باندې په شرابخورۍ کښې څه ګناه نشته چې هغوی ایمان راوړی وي او نېک عملونه یې کړي وي، او ما خو -الحمد لله- هم ایمان راوړی دی او هم مې نېک اعمال کړي دي، آن تردې چې د بدر په غزا کښې مې برخه اخستې ده. نو کله چې الله ﷻ ما په شرابخورۍ سره نه نیسي نو ته حق نه لرې چې حد راباندې جاري کړې؟

الفاروق ﷺ: «أَخْطَأْتَ التَّأْوِيلَ» یعنې: د ایت شریف په تاویل کښې خطا شوې، او دا ځکه که ته د نیکو اعمالو خاوند او تقوی دار وی نو شرابخوري به دې نه وی کړې چې قطعي حرام عمل دی.

یا په بل عبارت: په ایت شریف کښې خو د ﴿ فِيمَا طَعِمُوٓاْ ﴾ کلمه نازله شوې ده چې د نزول څخه وړاندې شرابخورۍ ته اشاره ده، که بالفرض د نزول څخه وروسته شراب خوري مطلب وی نو "فِيمَا يَطْعَمُونَ" به نازل شوی وی.

نو کله چې قدامه ﷺ په سوال جواب کښې پړ شو نو الفاروق ﷺ آمر وکړ چې نوموړی دې په حد شي، مګر د مجلس حاضرینو اعتذار وړاندې کړ چې قدامه ﷺ مریض دی، هیله ده چې تر هغه یې په حد کول ټال کړی شي چې ترڅو صحت ومومي، هسې نه چې د دُرو لاندې ووژل شي.

مګر الفاروق ﷺ د لږ ځنډ څخه وروسته وویلې: «لِأَنْ يَلْقَى اللهَ وَهُوَ تَحْتَ السِّيَاطِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَلْقَاهُ وَهُوَ فِي عُنُقِي»[1] یعنې: چې نوموړی د الله ﷻ سره په داسې حال کښې ملاقي (مړ) شي چې د حد د دُرو لاندې وي، دا راته د دې څخه بهتره ده چې زه د الله ﷻ سره ملاقي شم او قدامه ﷺ مې په غاړه کښې پروت وي (چې حد مې وړباندې نه وي جاري کړی).

## سوال جواب

۳- که څوک وايي چې: وړاندې ذکره شوه چې دا ایت شریف د شهیدانو په باره کښې نازل شوی دی چې شراب یې خوړلي وه او د شهادت لوړې درجې ته ورسېده خو وروسته د شرابو قطعي حکم نازل شو، حال دا چې په ایت شریف کښې د شهیدانو حالت نه دی بیان شوی بلکې د ژوندیو حالت واضحه شوی دی چې په پخوانۍ شرابخورۍ باندې نه نیولی کېږي.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۵ ص۱۸۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدې کبله په ایت شریف کښې د ﴿ إِذَا مَا ﴾ کلمه نازله شوې ده چې د استقبال دپاره وضعه شوې ده. که بالفرض د شهیدانو د حالاتو بیانول مطلب وی نو د "إذْ" کلمه به نازله شوې وی چې ماضي پورې مختصه ده.

مونږ وایو چې: صحابه کرامو ﷺ ته لکه څنګه چې د شهیدانو په هکله تشویش پیدا شوی وه همدارنګه دوی د خپلو ځانونو په باره کښې هم مشوش وه چې په پخوانۍ شرابخورۍ باندې به ګناهګار یاستو چې توبه وباسو او که څنګه؟

نو الله ﷻ د دوی د خپلو ځانونو پورې مربوط تشویش په عبارة النص سره جواب کړ چې تاسو پرې ګناهګار نه یاست، او د شهیدانو پورې مربوط تشویش پخپله په دلالة النص سره جواب شو، چې تاسو پرې نه نیولی کېږئ نو هغوی به پرې څنګه ونیولی شي؟

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: د ﴿ إِذَا مَا اتَّقَوا ﴾ د جملې څخه څرګندېږي چې د تحریم څخه په وړاندېنۍ شرابخورۍ باندې نه ګنهګارېدل په دې پورې مشروط دي چې په راتلونکې کښې تقوی ولري حال دا چې خبره داسې نه ده؟

مونږ وایو چې: ذکره شوې جمله په مشروطیت باندې دلالت نه کوي، بلکې په اولویت دلالت کوي چې: د تحریم څخه په وړاندېنۍ شرابخورۍ باندې هیڅوک نه نیولی کېږي، خصوصاً تاسو چې په هر وخت کښې د الله ﷻ حکم ته لبیک وایئ او هر یو نوی حکم چې نازل شي هغه ته منقاد یاست او د همېشه دپاره د الله ﷻ څخه ډارېږئ، حتی چې د الله ﷻ د رضا تحصیل دپاره په مستحباتو او إحساناتو باندې هم کلک یاست او د زیات احتیاط د کبله د تحریم څخه په وړاندېنۍ شرابخورۍ کښې تشویش درلودېږي.

## درې ځله تقوی ذکره شوې ده

۵ـ څرنګه چې په ایت شریف کښې درې ځله د ﴿ اتَّقَوا ﴾ کلمه نازله شوې ده چې د "تقوی" څخه یې اشتقاق موندلی دی، نو مفسرین کرام یې په لاندې دوه ډولونو باندې تفسیروي:

الف: ځینې مفسرین کرام وايي چې: ذکر شوی تکرار د تاکید دپاره دی، لکه چې د ﴿ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ۝ ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾ [التكاثر: ۳ـ۴] تکرار د تاکید معنی ورکوي[1].

ب: ځینې نور یې په تاسیس سره ترجمه کوي او د هر ځل دپاره بېل-بېل متعلقات مقدروي، لاندې څو مثالونه یې ولولی[2]:

---

(۱) البحر المحیط ج۴ ص ۳۶۰

(۲) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۱۴۴؛ التفسیر الکبیر ج۱۲ ص۸۴؛ المحرر الوجیز ج۵ ص۱۸۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: دوی د شرک څخه ځانونه ساتي او همدې حال ته ادامه ورکوي او بالآخره تقوی او ايمانداري يې دېرې لوړې درجې ته پورته کېږي چې نوافل او مستحبات هم عملي کوي.

دوهم: دوی د شريعت د تعميل التزام کوي او د کبائرو څخه اجتناب کوي او بالآخره د صغائرو څخه هم خانونه ساتي.

دريم: دوی په شخصي احوالاتو او هم په اجتماعي حالاتو او بالآخره په حقوق الله کښې هم متقيان وي.

څلورم: دوی په تقليدي ايمان او په يقيني ايمان او بالآخره په عياني ايمان کښې د تقوی داری درلودونکي دي.

پنځم: دوی په ځوانۍ او په پوخ عمر کښې او بالآخره په بوډاتوب کښې هم تقوی داري کوي.

شپږم: دوی په تېره شوې زمانه کښې تقوی کړې وي او په حالي زمانه کښې هم متقيان وي او بالآخره په راتلونکې کښې هم تقوی د لاسه نه ورکوي.

اووم: دوی د محرماتو او مشتبهاتو او بالآخره د ځينو مباحاتو څخه هم اجتناب کوي چې چرته په حرامو کښې واقع نه شي.

## تبصره

۶ـ مونږ ته بهتره ښکاري چې ذکر شوی تکرار په تاکيد باندې حمل کړی شي، ځکه چې: د ﴿ اتَّقَوا﴾ کلمه په ايت شريف کښې مطلقه ذکره ده، نو د يوه پلوه يې په يوه زمانه کښې په يوه حالت او يا په يوې ګناه باندې مقيد جوړول بې دليله خبره ده، بايد چې سړی په تفسير کښې د دغسې قيوداتو د زيادښت څخه ځان وساتي.

او د بله پلوه ذکره شوې جمله ﴿ اتَّقَوا﴾ په خپل اطلاق سره په هر ځل سره د تقيداتو ذکرو شوو ټولو صورتونو ته شامله برېښي نو په مقيد جوړولو کښې يې ګټه نشته.

نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې: دوی په هر وخت کښې د الهي تحليل او تحريم منونکي دي او د قيامت د ورځې پورې همدغه قانون ته غاړې ږدي.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وايي چې: شريعت خو کمال ته رسېدلی دی او د نبي کريم ﷺ په وفات سره د نسخې دروازه تړلې شوې ده، بيا بيا تقوی داري خو به په هغه وخت کښې صورت مونډلی وي چې د تحليل او تحريم قانون جريان درلودی؟

مونږ وايو چې: د تحليل او تحريم قانون خو که څه هم د نزول په اعتبار سره پای ته رسېدلی دی او د تجديد وړ نه دی، مګر د اشخاصو په اعتبار خو تجديد قبلوي، چې څوک احرام وتړي او يا په حرم شريف کښې داخل شي په هغه باندې بيا بيا ځينې شيان حرامېږي او تقوی يې د ابتلاء لاندې نيوله کېږي، لکه چې راتلونکی ايت شريف ورته اشاره کوي.

Downloaded from: bawarketaboon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَيَبۡلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلصَّيۡدِ تَنَالُهُۥٓ أَيۡدِيكُمۡ وَرِمَاحُكُمۡ لِيَعۡلَمَ
ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ فَمَنِ ٱعۡتَدَىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٩٤﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ
ءَامَنُواْ لَا تَقۡتُلُواْ ٱلصَّيۡدَ وَأَنتُمۡ حُرُمٞۚ وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدٗا فَجَزَآءٞ مِّثۡلُ مَا قَتَلَ مِنَ
ٱلنَّعَمِ يَحۡكُمُ بِهِۦ ذَوَا عَدۡلٖ مِّنكُمۡ هَدۡيَۢا بَٰلِغَ ٱلۡكَعۡبَةِ أَوۡ كَفَّٰرَةٞ طَعَامُ مَسَٰكِينَ أَوۡ عَدۡلُ
ذَٰلِكَ صِيَامٗا لِّيَذُوقَ وَبَالَ أَمۡرِهِۦۗ عَفَا ٱللَّهُ عَمَّا سَلَفَۚ وَمَنۡ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنۡهُۚ وَٱللَّهُ
عَزِيزٞ ذُو ٱنتِقَامٍ ﴿٩٥﴾ أُحِلَّ لَكُمۡ صَيۡدُ ٱلۡبَحۡرِ وَطَعَامُهُۥ مَتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِلسَّيَّارَةِۖ وَحُرِّمَ
عَلَيۡكُمۡ صَيۡدُ ٱلۡبَرِّ مَا دُمۡتُمۡ حُرُمٗاۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ إِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴿٩٦﴾﴾

[۹۴] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! خامخا هرو مرو به الله ﷻ تاسو په یوه شي سره امتحان کړي چې (هغه شی) د ښکار څخه عبارت دی، (داسې ښکار) چې ستاسو لاسونه او ستاسو نېزې به ورته رسېږي (په اسانۍ سره به یې رانیولی شئ)؛ د دې دپاره چې الله ﷻ هغه څوک معلوم کړي چې د الله ﷻ څخه په غیب سره ډارېږي.

نو هرڅوک چې د دې (بیان) څخه وروسته تجاوز وکړي نو ده لره دردناک عذاب دی.

[۹۵] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په داسې حال کښې ښکار مه وژنئ چې تاسو په احرام (یا حرم شریف) کښې یاست، او هرڅوک یې چې ستاسو څخه په قصدي توګه ووژني، نو (په ده باندې) جزا (واجبه) ده، (داسې جزا) چې د هغه ښکار مثله وي چې وژلی یې دی. (دغه مثلي جزا- یا) د چارپایانو څخه عبارت ده چې ستاسو (مسلمانانو) څخه پرې دوه د عدل (انصاف) خاوندان حکم وکړي، په داسې حال کښې چې (دغه چارپایان) کعبې شریفې (حرم شریف) ته رسېدونکي قرباني وي.

یا (دغه مثلي جزا) کفاره وي چې (دا) د مسکینانو خوراک دی، یا (دغه مثلي جزا) د همدې (د مسکینانو د خوراک) اندول وي د روژو د حیثه (چې د هرې نیمې پیمانې غنمو په عوض کښې یوه روژه ونیسي. دا) د دې دپاره چې هغه (ذکر شوی جنایتکار) د خپل کار دروندوالی (په دنیا کښې) وڅکي.

الله ﷻ د هغه څخه عفوه کړې ده چې پخوا تېر شوي دي (په هغه باندې مو نه نیسي)، او هرڅوک
چې (د ښکار کېدونکو حیواناتو وژلو ته په احرام یا حرم شریف کښې) ورتاو شي نو الله ﷻ به ترې 6
انتقام واخلي (اُخروي جزا به ورکړي). او الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی، (او هم) د انتقام (بدلې اخستلو) څښتن دی.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹۶] (ای مؤمنانو!) تاسو ته د دریاب (اوبو) ښکار (مطلقًا) او د (دریاب) خوراکي ښکار (ماهیان خصوصًا) حلال کړی شوي دي، ستاسو د استفادې دپاره (چې تازه یې وخورئ) او د کاروانیانو دپاره (چې وچ یې کړي او د خانونو سره یې د خوړي په توګه یوسي).

او په تاسو باندې د وچې ښکار (د حیواناتو وژل) ترهغه پورې حرام کړی شوي دي ترڅو چې تاسو محرمان (یا په حرم شریف کښې) یاست.

او د هغه الله ﷻ څخه وډار شئ چې همده ﷻ ته به ورټولیږئ (او محاسبه به درسره کوي).

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې هغه شیان ذکر شوي وه چې په قطعي توګه د تل دپاره حرام شوي دي، لکه شراب خوري او قمار بازي، او په دې ایتونو کښې هغه شیان بیانیږي چې کله-کله په سړي باندې حرامیږي چې یا إحرام وتړي او یا په حرم شریف کښې داخل شي.

۲ـ هلته په نږدې ایت کښې د مؤمنانو په صفاتو کښې واضحه شوې ده چې دوی په هر وخت کښې د الله ﷻ حکم ته لبیک وایي نو هر وخت کښې چې ورباندې حرام کړی شي دوی پکښې خپله تقوی داري ساتي، او دلته د هغه حکم مثال ښودلی شوی دی چې په بېلو بېلو وختونو او حالاتو کښې سړي ته حلالیږي او هم ورته حرامیږي، ترڅو مسلمانان په دائمي توګه باندې د امتحان او ازمېښت لاندې وساتل شي.

## شأن نزول

د مقاتل بن حیان علیه الرحمة څخه روایت دی چې: «أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فِيْ عُمْرَةِ الْحُدَيْبِيَةِ فَكَانَتِ الْوَحْشُ وَالطَّيْرُ وَالصَّيْدُ تَغْشَاهُمْ فِي رِحَالِهِمْ لَمْ يَرَوْا مِثْلَهُ قَطُّ فِيْمَا خَلَا فَنَهَاهُمُ اللهُ عَنْ قَتْلِهِ وَهُمْ مُحْرِمُوْنَ»(۱) یعني: په وړاندېنیو ایتونو کښې اولنی ایت په هغه وخت کښې نازل شوی دی چې صحابه کرام ﷺ عمرې ته روان وه او ایله تر حدیبیه مقامه پورې ورسېده، په همدې سفر کښې به وحشي حیوانات او مرغان او بالآخره نور ښکاري شیان د دوی منزلونو ته په داسې ډول تله راتله چې د هغه څخه وړاندې هیڅکله نه وه لیدلي شوي، چې هر چا ته یې رانیول اسان وه حتی په لاس باندې هم نیول کېدلی شوه او په غشو باندې هم په اسانۍ سره ویشتل کېدلی شوه، نو الله ﷻ صحابه کرام ﷺ د ښکار د قتل څخه منعه کړه. یا په بل عبارت: د ذکرو شوو ایتونو دوهم ایت یې په داسې حال کښې نازل کړ چې دوی احرام تړلی وه.

## تبصره

مونږ ته د مقاتل علیه الرحمة د روایت څخه داسې بریښي چې د ذکرو شوو ایتونو څخه اولنی ایت په داسې وخت کښې نازل شوی دی چې صحابه کرامو ﷺ لا احرامونه نه وه تړلي، الله ﷻ دوی ته په

Downloded from: bawarketabtoon.com

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۹۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل فضل سره د راتلونکي امتحان اطلاع ورکړه ترڅو ځانونه د ناکامۍ څخه بچ وساتي او د «أصحاب السبت» په شان پکښې ناکام نه شي، مګر وخت يې ورته نه وه ټاکلی چې په فلاني وخت کښې به تاسو د امتحان لاندې واقع کېږئ.

کله چې صحابه کرامو ﷺ د عمرې دپاره احرامونه وتړل او د مکې معظمې په لور باندې روان شوه نو ذکره شوې اطلاعيه متحققه شوه چې د يوه پلوه د ښکار کېدونکو حيواناتو پرېماني شوه او د بله پلوه دوهم ايت شريف نازل شو، چې خلاصه مطلب يې داسې را اوځي:

## د مطلب خلاصه

۱_ ای مؤمنانو! ضرور به الله ﷻ تاسو په يوه ناچيزه شي امتحان کړي چې هغه به د ښکاري حيواناتو څخه عبارت وي، دا حيوانات به دومره پرېمانه وي چې هم به يې په لاس باندې رانيولی شئ او هم به يې په غشو باندې ويشتلی شئ او هم به يئ په نېزو سره وهلی شئ، لنډه دا چې په ډېرې اسانۍ سره به يې ترلاسه کولی شئ.

د امتحان صورت به داسې جوړ شي چې د ښکار کېدونکو حيواناتو په ښه پرېمانۍ کښې به درباندې الله ﷻ فرمان نازل کړي چې ښکار کېدونکي حيوانات قتل نه کړئ، ترڅو الله ﷻ خپل ځان ته په عملي شکل کښې هم معلومه کړي چې د الله ﷻ څخه بالغيب څوک ډارېږي او ترڅو تاسو ته هم معلومه شي چې ستاسو کوم يو د الله ﷻ څخه زيات په ډار کښې دی او کوم يو ښه تقوی دار دی.

نو په ياد ولرئ هرڅوک چې د فرمان د نزول څخه وروسته په ښکار کېدونکو حيواناتو باندې تجاوز وکړي او خپله تقوی داري مراعاته نه کړي نو د هغه دپاره دردناک عذاب دی.

۲_ ای مؤمنانو! اوس چې ښکار کېدونکي حيوانات ښه ډېر دي او تاسو کولی شئ چې په ډول ډول طريقو باندې يې ترلاسه کړئ، الله ﷻ تاسو ته توصيه کوي چې ښکار کېدونکي حيوانات مه وژنئ او مه يې زوروئ چې يا ترې ښکې وباسئ او يا يې زخمي کړئ.

او هرڅوک چې ښکار کېدونکي حيوانات په قصدي توګه ووژني نو په هغه باندې جزا لازمه ده، چې بايد د لاندې درې کارونو څخه يو کار وکړي:

الف: يا د وژلي شوي ښکار کېدونکي حيوان په مثل سره اهلي (کورنی) ځاروی د کعبې شريفې په شاوخوا کښې د قربانۍ په توګه ذبحه کړي، البته هغه کورنی ځاروی چې دوه مسلمانان د عدل خاوندان يې په مثليت باندې حکم وکړي.

ب: يا دې د وژلي شوي ښکار کېدونکي حيوان په مثل سره مسکينانو ته خوراک ورکړي. يا په بل عبارت: د وژلي شوي ښکار په قيمت باندې دې يا غنم راونيسي او هر يوه مسکين ته دې نيمه پيمانه ورکړي او يا دې پرې کجورې خريداري کړي او هر يوه مسکين ته دې پوره يوه پيمانه ورکړي، برابره خبره ده چې مسکينان د حرم شريف په داخل کښې وي او که په غير د حرم څخه په زمينۍ حل کښې وي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: بالآخره یا دې د مسکینانو طعام معیار ونیسي او د هرې نیمې پیمانې غنمو څخه دې یوه یوه ورځ روژه ونیسي، نور یې خوښه چې په حرم شریف کښې روژه کېږي او که په غیر د حرم څخه دغه کار ته اقدام کوي.

ذکره شوې جزا څکه د ښکار کېدونکي حیوان په قاتل باندې لازمه کړی شوه ترڅو په دنیا کښې د خپل کار (جنایت) څه ناځه دروندوالی وڅکي.

خو په یاد ولرئ لکه څنګه چې الله ﷻ د تحریم څخه په وړاندې شرابخورۍ او قماربازۍ باندې ونه نیولئ، همدارنګه مو د ذکر شوي تحریمي فرمان څخه په وړاندې ښکار وژنه باندې نه نیسي، که څه هم الله ﷻ کولی شو چې په وړاندېنیو جنایتونو باندې یې هم نیولي وی خو الله ﷻ درته عفوه وکړه او د نیونې څخه درتېر شو.

۳_ لنډه دا چې د پخوانیو جرائمو څخه الله ﷻ درتېر شوی دی خو پام کوئ چې د تحریمي فرمان څخه وروسته بېرته ورتاو نه شئ، او هرڅوک چې بیا د ښکار کېدونکو حیواناتو سره داسې معامله وکړي لکه چې د تحریمي فرمان څخه وړاندې به یې ورسره کوله نو الله ﷻ به ترې انتقام واخلي او اُخروي جزا به ورکړي، او دا څکه چې الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی (هیڅوک یې د ارادې مخه نه شي نیولی) او هم د انتقام خاوند دی (جنایتکارانو ته بالمثل جزا ورکوي).

۴_ ای مؤمنانو! تاسو یوازې په بري (د وچې) ښکار کېدونکو حیواناتو باندې د امتحان لاندې راوستلي شوي یاست او بحري ښکار کېدونکي حیوانات درته حلال کړی شوي دي، برابره خبره ده چې د خوراک ذپاره یې ښکار کړئ او یا د پوستکي او نورو ګټو په ملحوظ یې ووژنئ، دا د دې دپاره چې تاسو ترې سمدستي استفاده وکړئ او یا یې په سفرونو او کاروانونو کښې د ځانونو سره انتقال کړئ او د حاجت په وخت کښې یې د استفادې لاندې ونیسئ.

اما یو ځل بیا واورئ چې په تاسو باندې بري (د وچې) ښکار کېدونکي حیوانات تر هغه وخته پورې حرام کړی شوي دي چې یا په إحرام او یا په حرم شریف کښې یاست، نو د هغه الله ﷻ څخه وډار شئ او د عذابه یې ځانونه وساتئ چې همده ﷻ ته به ورغونډ کړی شئ.

## توضیحات

۱_ مفسرینو کرامو د دې جملې چې ﴿ تَنَالُهُۥٓ أَيۡدِيكُمۡ وَرِمَاحُكُمۡ ﴾ لاندې معناوې کړې دي[۱]:

الف: د دې جملې څخه نژدې او لرې ښکار شوي حیوانات مطلب دي، چې نژدې په لاس سره رانیولی کېږي او لرې په غشو باندې ویشتل کېږي یا په نېزو سره وهلی کېږي.

ب: په لاس باندې ترې د حیواناتو بچي مراد دي چې نه منډه وهلی شي او نه الوتلی شي ترڅو ځان خلاص کړي، او په غشو او نېزو باندې ترې هغه حیوانات مراد دي کوم چې هم په منډه ځان خلاصولی شي او هم په الوتنه.

(۱) البحر المحیط ج۴ ص۳۶۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر ظاهره دا ده[۱] چې د لاسونو او غشو یا نېزو ذکر صرف د مثال دپاره دی او حصر یې مطلب نه دی، نو په لاس رانیولو کېښې په لغته وهل او په تلاک یا پړي باندې رانیول هم شامل دي او همدارنګه په غشو باندې ویشتل هغو تولو ویشتلو ته شاملېږي چې د لرې مسافې څخه پرې وویشتلی شي که څه هم د غشي څخه په غیر د ویشتلو بل شی وي لکه ډبره او داسې نور. بلکې مونږ ته په دې ډول کېښې په باز او بانبې سره ښکار کول هم شامل برېښي.

په هر تقدیر، الله ﷻ صحابه کرام ﷺ په بري (د وچې) ښکار کېدونکو حیواناتو باندې امتحان کړه خو ـ الحمد لله ـ د امتحان څخه کامیاب راووتل، او بني اسرائیل (أصحاب السبت) یې په بحري حیواناتو (ماهیانو) باندې وازمائل، چې قیصه یې په [الأعراف:۱۶۳] ایت کېښې راروانه ده، خو هغوی پکښې ناکام شوه.

## حُرُم څه معنی؟

۲ـ د ﴿ حُرُم﴾ کلمه د "حرام" جمعه ده چې په نارینه او زنانه دواړو باندې یې اطلاق کېږي، "حرام" هغه نارینه او یا زنانه ته وایي چې یا د مکې معظمې په حرم شریف کېښې داخل شي او یا د حج او عمرې احرام وتړي[۲].

## ایا د إحرام په جنایت کېښې قصد ضرور دی؟

۳ـ جمهور علماء کرام وایي چې: د إحرام یا حرم شریف په جنایت کېښې قصد ضرور نه دی بلکې په هغه چا باندې هم د ښکار کېدونکو حیواناتو جزا لازمېږي چې په سهوه او خطأً سره یې قتل کړي[۳]، که څه هم أخروي عذاب ورته نشته. او دا ځکه چې:

الف: په [البقرة:۱۹۶] ایت شریف کېښې الله ﷻ په هغه محرم سړي باندې هم کفاره لازمه کړې ده چې د مرض د کبله خپل سر وخریي، او یا په بل عبارت: چې معذور وي.

ب: نبي کریم ﷺ کعب بن عجره ﷺ ته د سر د خریلو اجازه ورکړه کله چې هغه د احرام په حال کېښې سپږو ډېر وارخطا کړی وه مګر د کفارې امر یې هم ورته وکړ[۴].

نو معلومه شوه چې په خطا او نسیان کېښې په محرم باندې د ښکار شوي حیوان جزا لازمېږي، ځکه چې خطا یا نسیان خو بل شی نه دی بلکې د أعذارو څخه یو عذر دی.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: په ایت شریف کېښې د وژلي شوي ښکار جزا په ﴿ مُتَعَمِّدًا﴾ تکي

(۱) المحرر الوجيز ج۵ ص۱۸۸
(۲) تفسير القرطبي ج۶ ص۳۰۵
(۳) أحكام القرآن للجصاص ج۲ ص۴۶۹
(۴) صحيح المسلم ج۱ ص۳۸۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې مقيده کړی شوې ده، نو په کار دي چې په دې جنايت کښې خطا او نسيان بلکې ټول اعذار اعتبار ولري؟

مونږ وايو چې: د احنافو عليهم الرحمة نظر دا دی چې په قيد باندې صراحت کول په مقيد کښې د حکم ثبوت فائده کوي او بس، بلکې د مقيد څخه په غير نور حوادث په سکوت کښې پرېږدي، چې د أصول الفقه کتابونو يې ښه تحقيق کړی دی[1].

نو د همدې قاعدې په بنا د ايت شريف د معنی حاصل داسې راوځي چې: هر محرم چې په قصدي توګه د ښکار کېدونکي حيوان د وژلو مرتکب شي په هغه باندې جزا لازمه ده، او چې په قصدي توګه نه وي بلکې د آعذارو (لکه خطا او نسيان) د کبله يې وژلی وي نو د هغه د جزا څخه دا ايت شريف ساکت دی، چې نه پکښې هو وايي او نه نه. اما د شريعت په نورو ځايونو کښې ورباندې صراحت راغلی دی چې د آعذارو سره-سره هم ورباندې جزا لازمېږي، لکه چې لږ وړاندې يې دوه مثالونه (ايت او حديث) تېر شوه.

## د محرم په جزا کښې مثليت ضرور دی

**٥**ـ ټول فقهاء کرام په دې متفق دي چې د محرم د جنايت په جزا کښې مثليت شرط دی، مګر د مثل په تعريف کښې اختلاف دی[2]، چې مونږ يې لنډيز په لاندې ډول سره محترمو لوستونکو ته وړاندې کوو:

الف: الشافعي عليه الرحمة وايي چې: په هغه ښکار کېدونکي حيوان باندې چې په کورنيو حيواناتو کښې نظير ولري، لکه هوسۍ او ګوره خر چې نظائر يې اوزې او غوايان دي او يا داسې نور، نو په هغو کښې صوري مثليت مراد دی، او که نظير ونه لري، لکه کوتره او نور مرغان، نو دلته يې معنوي مثل مطلب دی چې د قيمت څخه عبارت دی او د دوه وو عادلانو سړيو په تقويم (قيمت کولو) سره تحقق مومي، ځکه چې الله ﷻ د مثل د تعين دپاره د ﴿ مِنَ ٱلنَّعَمِ ﴾ کلمه د بيان په توګه نازله کړې ده، نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: کله وحشي وژل شوي حيوان مثل درلود، نو د مثل ذبحه کول يې د کعبې شاوخوا ځايونو کښې واجب دي چې مثل يې د کورنيو ځارويو څخه عبارت دی.

ب: ابو حنيفه عليه الرحمة وايي چې: د ذکر شوي مثل څخه معنوي مثل مطلب دی چې د قيمت څخه عبارت دی، ځکه چې:

اول: د مثل د کلمې خو د اشتراک په توګه هم په معنوي مثل (قيمت) او هم په صوري مثل ـ هر يوه ـ باندې اطلاق کېږي، نو کله چې د بې نظيره ښکار کېدونکي حيوان په وژلو کښې بالاتفاق معنوي مثل مراد دی نو بايد چې په نظير والاوو کښې هم معنوي مثل (قيمت) مراد کړی شي، که نه نو مشترک

---

(١) نور الأنوار ص١٥٣

(٢) بدائع الصنائع ج٢ ص١٩٨

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لفظ به یو ځل په دوه وو معناوو کښې استعمال شي او دا خو د عربیت د قوانینو څخه مخالف او غیر بلیغ استعمال دی، په کار دي چې په کلام الله کښې د دغسې استعمال څخه ځان وساتل شي.

دوهم: په شریعت کښې خو په مثلیاتو کښې معنوي او صوري مثل ته اعتبار ورکول کېږي لکه غنم، جوار او داسې نور، او په قیمي شیانو کښې یوازې معنوي مثل ته اعتبار ورکول کېږي لکه حیوانات او نور شیان، اما یوازې صوري مثل په شریعت کښې متعارف نه دی نو په کار دي چې په دې مقام کښې هم په شریعت کښې غیر متعارفه معنی وانه خیستلی شي.

دریم: په ایت شریف کښې د مثل د پېژندلو دپاره د دوه کسانو عادلانو نظر شرط ګرځولی شوی دی نو معلومه شوه چې د مثل څخه صوري مثل مطلب نه دی چې عادل او غیر عادل پکښې یو برابر دی هرڅوک یې پېژني، بلکې معنوي مثل (قیمت) ترې مراد دی ترڅو د وژلي شوي ارزښت په ښه دقت سره څرګند کړي چې جنایتکار پرې یا هدیه خریداري کړي او د حرم شریف په شاوخوا کښې یې ذبحه کړي او یا پرې طعام راونیسي او په مسکینانو باندې یې توزیع کړي او بالآخره یا د اندازه کړی شوي طعام په مقابل کښې د هرې نیمې پیمانې غنمو څخه یوه ورځ روژه ونیسي.

ابو حنیفه رحمة الله علیه وایي چې: یوازې د ﴿ مِنَ ٱلنَّعَمِ ﴾ ټکی د ﴿ مِّثۡلُ مَا قَتَلَ ﴾ بیان نه دی واقع شوی بلکې د معطوفاتو سره مجموعه بیان واقع کېږي ځکه چې ﴿ مِنَ ٱلنَّعَمِ ﴾ محلًا مرفوع دی او ﴿ كَفَّٰرَةٌ ﴾ او ﴿ عَدۡلُ ذَٰلِكَ ﴾ دواړه ورباندې عطف شوي دي، ته به وایې چې داسې عبارت نازل شوی دی چې: "فَالْوَاجِبُ جَزَاءُ مُمَاثِلٍ لِلْمَقْتُولِ هُوَ مِنَ النَّعَمِ أَوْ طَعَامُ مَسَاكِينَ او صِيَامُ بِعَدَدِ هِمْ"[1] یعنې: نو داسې جزا واجبه ده چې د وژلي شوي ښکار کېدونکي حیوان سره (په قیمت کښې) مماثله وي چې هغه د کورنیو چارپایانو یا د مسکینانو د طعام او بالآخره یا د مسکینانو د شمار په اندازه د روژو څخه عبارت ده.

## عَوْد څه معنی؟

۶ـ د ﴿ وَمَنۡ عَادَ ﴾ کلمه د "عَوْد" څخه اشتقاقه شوې ده، "عَوْد" بېرته ګرځېدلو ته وایي، په دې مقام کښې یې ځینو علماوو کرامو داسې معنی اخستې ده چې: که محرم سړی په اول ځل باندې ښکار کېدونکی حیوان ووژني نو د ذکرو شوو درېګونو کَفارو څخه به یوه کَفاره اداء کوي او د آخرت د نیونې څخه خلاصېږي او که بل ځل پرې مبتلا شو نو تول بار یې آخرت ته پاتې کېږي.

مګر د احنافو علیهم الرحمة اجتهاد دا دی چې په محرم باندې یوازې په اول ځل نه بلکې په هر ځل باندې ذکره شوې کفاره لازمېږي.

هو! لکه څنګه چې د [المائدة: ۳۳] ایت لاندې مونږ د الله ﷻ په توفیق شرحه کړې ده چې د کفارې سره-سره اُخروي نیونه هم ممکنه ده، ځکه چې دنیاوي عقوبات زواجر دي، جبائر نه دي چې

(۱) روح المعاني ج۷ ص۲۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ګناهونو جبیرې جوړې شي، ترڅو چې ورسره توبه ملګرې نه شي، نو په همدې لحاظ یې د معنی حاصل داسې کېږي: چې څوک د کفارو د وجوب سره-سره بیا-بیا د إحرام یا حرم شریف جنایتونو ته عَود کوي، نو الله ﷻ به یې په أُخروي عذاب باندې هم مبتلا کړي البته که اراده یې وشي.

## صید او ډولونه یې

۷_ د "صَیْد" کلمه د هغې وحشي حیوان نوم دی چې د انسانانو څخه په اصل خلقت کښې متنفر وي او په پښو باندې ترې تښتي او یا په وَزرونو باندې ترې الوزي[۱].

نو روږدي (اموخته) هوسۍ د ښکار څخه نه وځي، ځکه چې په اصل خلقت کښې متنفره ده او اموختوالی یې عارضي (موقتي) دی، او همدارنګه هغه غوایه یا أُوښ د صید په تعریف کښې نه داخلېږي چې په عارضي توګه د انسانانو څخه نفرت اختیار کړي او په اصطلاح سارانی شي.

صید (ښکار) په دوه ډوله دی، یو بري صید (د وچې ښکار) او بل بحري صید (د اوبو ښکار) دی. بري صید هغه ښکار ته ویل کېږي چې تولد یې په وچه کښې وي که څه هم د روزۍ د موندلو دپاره په اوبو کښې ګرځي راګرځي، لکه هیلۍ او ځینې نور مرغان. او بحري صید هغه ښکار ته ویل کېږي چې تولد یې په اوبو کښې تحقق مومي. لکه ماهیان او داسې نور.

په محرم سړي باندې او یا په حرم شریف کښې بري ښکار کول په مطلقه توګه حرام دي، برابره خبره ده چې حلال ښکار وي لکه هوسۍ او داسې نور، او یا حرام ښکار وي خو د پوستکي دپاره ښکار کړی شي، لکه ګیدړه او داسې نور.

اما د موذي (ضرري) حیوان وژل ورته جائز دي، لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «خَمْسٌ مِنَ الدَّوَابِّ لَا حَرَجَ عَلَى مَنْ قَتَلَهُنَّ الْغُرَابُ وَالْحِدَاءُ وَالْفَأْرَةُ وَالْعَقْرَبُ وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ»[۲] یعني: په ځمکه باندې د حرکت کوونکو څخه پنځه شیان دي چې په هغه چا باندې څه ګناه نشته چې ویې وژني، چې یو کارغه دی، بل تپوس دی، بل مږک دی، بل لړم دی، او بل خوړونکی سپی دی (لکه پړانګ، زمری او داسې نور).

اما محرم ته د بَحري حیواناتو ښکار کول مطلقًا جائز دي، برابره خبره ده چې د خوړلو دپاره یې ښکار کړي او یا د نورو ګټو دپاره، لکه پوستکی او یا د ګیډې ملغلرې او داسې نور.

نو په دې مقام کښې الله ﷻ داسې عبارت: ﴿ أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ ٱلْبَحْرِ وَطَعَامُهُۥ ﴾ نازل کړی دی، چې ﴿ وَطَعَامُهُۥ ﴾ یې په ﴿ صَيْدُ ٱلْبَحْرِ ﴾ باندې عطف کړی دی ترڅو مونږ ته واضحه کړي چې په بحري ښکار کښې تاسو ته ډېره مهمه أذوقه (خوراک څښاک) جائزه کړی شوې ده چې ماهیان هم تازه خورئ او هم یې وچوئ چې په سفرونو کښې ترې کار اخلئ.

---

(۱) بدائع الصنائع ج۲ ص۱۹۶

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۲۴۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلْكَعْبَةَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ قِيَـٰمًا لِّلنَّاسِ وَٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ وَٱلْهَدْىَ وَٱلْقَلَـٰٓئِدَ ۚ
ذَٰلِكَ لِتَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَأَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ
(۹۷) ٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ وَأَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (۹۸) مَّا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا
ٱلْبَلَـٰغُ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ (۹۹) قُل لَّا يَسْتَوِى ٱلْخَبِيثُ وَٱلطَّيِّبُ وَلَوْ
أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ ٱلْخَبِيثِ ۚ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَـٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَـٰبِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (۱۰۰) ﴾

[۹۷] الله ﷻ کعبه، محترمه کوټه، د خلکو دپاره (په پښو باندې) د ودرولو سبب ګرځولې ده، او محترمه میاشت (میاشتې) هم او قرباني هم او د څارویو غاړکۍ هم.

دا د دې دپاره چې تاسو پوه شئ چې یقیناً الله ﷻ په هغه څه باندې پوهېږي چې په اسمانونو کښې دی او په هغه څه باندې هم (پوهېږي) چې په ځمکو کښې دی، او (هم د دې دپاره چې تاسو پوه شئ چې) یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی.

[۹۸] (ای مؤمنانو!) پوه شئ چې بې شکه الله ﷻ سخت عذابی دی، او بې شکه الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

[۹۹] په لیږلي شوي (محمد ﷺ) باندې هیڅ شی نشته مګر (د شریعت) رسونه، او الله ﷻ په هغه شي باندې پوهېږي چې تاسو یې ښکاره کوئ او په هغه شي باندې هم (پوهېږي) چې تاسو یې پټوئ.

[۱۰۰] (ورته) ووایه چې: پلیت او پاکیزه برابر نه دي، اګر که تا لره د پلیت شي ډېروالی په تعجب کښې اچوي، نو د الله ﷻ څخه وډار شئ ای د سوچه عقلونو خاوندانو! شاید چې تاسو بری ومومئ.

## ارتباط

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی چې د کعبې شریفې احترام وکړئ او په حرم شریف یا په احرام کښې د وچې ښکار کېدونکو حیواناتو ته تعرض مه کوئ، بلکې د کعبې شریفې ټولو مناسکو ته په درنه سترګه وګورئ که څه هم ستاسو عقل یې حکمتونو ته نه رسېږي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای مؤمنانو! تاسو ته هیڅ مناسبه نه ده چې د کعبې شریفې سپکاوی وکړئ، کعبه شریفه خو څه معمولي کوټه نه ده، بلکې د احترام څخه ډکه کوټه ده چې الله ﷻ د ټولو خلکو دپاره (که څه هم کافر وي) د کارونو او ژوند دپاره د انتظام ذریعه جوړه کړې ده. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د کعبې شریفې په خاطر الله ﷻ په کال کښې څلور میاشتې د خلکو په زړونو کښې محترمې ګرځولې دي چې خلک پکښې حج یا عمرې ته په امن سره لاړ شي او راشي، او ښه په بې غمۍ سره پکښې د ټول کال اذوقه ترلاسه کړي.

ب: کومې قربانۍ چې کعبې شریفې ته روانې کړې شوې وي او په غاړکیو او نورو شیانو باندې په نښه کړې شوې وي چې دا د کعبې شریفې په لور باندې روانې دي، هغو ته هیڅوک تعرض نه کوي.

ج: بالآخره څوک چې د کعبې شریفې څخه بهرته د کور په طرف باندې ستون شي او په خان باندې داسې نښې نښانې وزړوي چې خلک یې وپېژني، هغه هم هیڅوک نه زوروي او په ډاډه زړه باندې کور ته رسېږي.

۲_ دا چې الله ﷻ په تکویني توګه د خلکو په زړونو کښې د کعبې شریفې محبت اچولی دی حتی د خپله کعبې لا څه چې د زیارت کوونکو احترام یې هم څوک نه پرېږدي، دا د دې دپاره چې تاسو پوه شئ چې یقیناً الله ﷻ په هغو ټولو شیانو باندې عالم دی چې په اسمانونو کښې دي او په هغو باندې هم چې په ځمکو کښې دي، او بلکې الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی.

د همدې علم د کبله یې د انسانانو د ژوند د انتظام دپاره کعبه شریفه لا د ډېر پخوا څخه سنبول ټاکلې ده، چې د بشري حکومتونو د نشتوالي په وخت کښې هم انسانان اداره کړي او د کار او کسب فرصت ورکړي، که نه نو په خینو وختونو کښې خو به دوی د داخلي جګړو او جنګونو د کبله د لوږې مړه شوي وی.

۳_ ښه نو چې کعبه شریفه ستاسو د ژوند او د ښه انتظام دپاره ډېر لوی کردار اداء کوي، نو تاسو ته په کار دي چې علاوه په تکویني احترام، تشریعي احترام یې هم د نظره ونه غورزوئ، او د الله ﷻ څخه وډار شئ چې د سخت عذاب خاوند دی.

هو! که ستاسو څخه قصور واقع کېږي نو د الله ﷻ څخه ښښنه وغواړئ او هغه ته توبه تائب شئ، د قصور څخه به درتېر شي ځکه چې الله ﷻ هم ښښونکی دی او هم مهربان.

۴_ ای مؤمنانو! زمونږ د پیغمبر ﷺ په غاړه باندې یوازې د شریعت رسونه ده او دا یې په ډېره ښه طریقه باندې ترسره کړه، نور نو ستاسو کار دی چې عمل پرې کوئ او که نه، زمونږ په پیغمبر باندې ستاسو ځارنه نه ده لازمه کړې شوې چې د هر یوه لاس به د بدوکارونو څخه نیسي که نه نو دی به نیولی کېږي، او نه په ده باندې ستاسو محاسبه شته، او بالآخره نه مو خپل پیغمبر ته دومره عمر ورکړی دی چې د قیامت د ورځې پورې به ژوندی وی او تاسو ته به تازه تازه وحې دراوړوي، نن دی او که سبا دی نبي کریم ﷺ به وفات شي او د وحې دروازه به وتړله شي او تاسو ته به دغسې وصایا نه کېږي لکه چې اوس درته کېږي.

نو تاسو ته په کار دي چې د وخت څخه ګټه پورته کړئ او په ډېر اخلاص سره د الله ﷻ شرائعو ته تابع شئ، الله ﷻ ته ستاسو پټ او ښکاره ټول ښکاره دي او په هرڅه باندې پوهېږي.

Downloaded from: Lawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵_ ای پیغمبره! یو ځل بیا مؤمنانو ته ووایه چې: د الله ﷻ په نزد باندې پلیت او پاکیزه شیان یو برابر نه دي، که څه هم بالفرض ستاسو هر یوه ته د پلیتو شیانو ډېروالی ښه ښکاره شي او په تعجب کښې یې واچوي.

نو په همدې اساس باندې تاسو د احرام په حال کښې او یا په حرم شریف کښې د وچې د ښکاري حیواناتو د وژلو څخه ځانونه وساتئ ځکه چې دا پلیت دي او پلیت شیان برکت نه لري او عاقبت یې خراب وي، او د پاکیزه شیانو په رانیولو پسې تاند ووهئ، ځکه چې پاکیزه شیان که څه هم د کم او کیف په اعتبار سره لږ وي خو برکت یې زیات دی او د تقوی او دینداری روحیه په تاسو کښې ژوندۍ کوي چې د لا زیات عبادت توفیق مو په برخه کېږي.

۶_ مګر په یاد ولرئ چې ذکره شوې د پلیت او پاکیزه شیانو په تمیز باندې یوازې هوښیاران او د عقل خاوندان پوهېږي، د ساده ګانو ورباندې سرونه نه خلاصېږي، نو د الله ﷻ څخه وډار شئ ای د سالم عقل خاوندانو! شاید چې تاسو فلاح او کامیابي مونده کړئ.

## توضیحات

۱_ بیت الله شریف د لاندې وجوهو د کبله د "كَعْبَة" په لقب باندې هم یادېږي[۱]:

الف: "كَعْبَة" د تکعیب سره په اصلي حروفو کښې متحده ده، تکعیب خو د تربیع په معنی سره دی او بیت الله شریف هم مربع ده چې څلور واړه خواوې یې سره یو تربله برابرې دي.

ب: "كَعْبَة" د "كَعْبُ الإِنْسَان" څخه اخستله شوې ده، او "كَعْبُ الإِنْسَان" هغه نبغ هډوکی دی چې د هرې پښې تقریبًا په لاندینۍ څنډه کښې واقع دی او قدم او لینګی سره جدا کوي.

څرنګه چې د بیت الله شریف سره متصله ابادي نشته او په ځمکه باندې نبغه ښکاري، نو ته به وایې چې دا په پښه کښې ښنګری دی.

## کعبه شریفه په پښو دروونکې ده

۲_ که څه هم مفسرینو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ قِيَمًا ﴾ دپاره ډېر تفسیرونه کړي دي[۲]، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: بیت الله شریف او د دې لوازم، لکه محترمې میاشتې او قربانۍ او بالآخره د نښانې دپاره غاړکۍ، د مکې معظمې د اوسېدونکو دپاره د رزق د پراخۍ سببونه دي چې د هره طرفه هلته خلک سفرونه کوي او تجارتي مالونه ورې راوړي.

ب: بیت الله شریف او نور لوازم یې د آمن اسباب دي چې هلته هیڅوک لوټماري نه کوي.

---

(۱) روح المعاني ج۷ ص۷۵

(۲) البحر المحیط ج۴ ص۳۷۳؛ زاد المسیر ج۲ ص۳۲۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د بیت الله شریف په سبب سره د هغه ځای اوسېدونکي اهل الله ګڼل کېږي او خلک ورته په احترام باندې قائل دي.

د: هلته د حج مناسک اداء کېږي چې د خلکو د دنیا او آخرت ګټې پکښې نغښتې دي.

مګر څرنګه چې الله ﷻ د ﴿ قِيَمًا﴾ سره متصله د ﴿ لِّلنَّاسِ﴾ کلمه نازله کړې ده نو داسې معلومېږي چې دلته به هغه معنی مراده وي چې تولو خلکو ته حتی کافرانو ته هم شامله وي، هغه دا چې د دنیا بقاء او ابادي به ترهغه وخته پورې دوام وکړي چې ترڅو کعبه شریفه ودانه وي او خلک ورته ځي راځي او بالآخره د حج او عمرې مناسک اجراء کېږي، نو کله چې د همدغو کارونو سلسله قطعه شي ـالعیاذ باللهـ نو بیا به دنیا ورانېږي او عمر به یې ختم شي، لاندې دوه حدیثونه د استشهاد په توګه ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایي چې: «يُخَرِّبُ الْكَعْبَةَ ذُو السُّوَيْقَتَيْنِ مِنَ الْحَبَشَةِ»[1] کعبه شریفه به د حبشې څخه د دوه وو لینګیو خاوند تخریبه کړي. یعنې کله چې الله ﷻ د دنیا د ورانولو اراده وکړي، نو ډېر حقیر سړی به کعبه ورانه کړي که څه هم د الله ﷻ د ارادې څخه وړاندې د أصحاب الفیل غوندې جبابره وو هم نه شوه تخریبولی.

دوهم: د قتاده ﷺ څخه روایت دی چې: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى لَا يُحَجَّ الْبَيْتُ»[2] د قیامت ورځ به تر هغه قائمه نه شي ترڅو چې حج ونه کړی شي. یعنې ترڅو چې حج اداء کېږي دنیا به اباده وي. دا حدیث که څه هم د صحیح البخاري د معلقاتو څخه دی مګر الحاکم علیه الرحمة د أحمد بن حنبل علیه الرحمة په سلسله باندې وصل کړی دی[3]. همدارنګه ځینو نورو محدیثینو[4] هم مرفوع روایت کړی دی.

## د محرم په لاس ښکار شوی حیوان پلیت دی

۳ـ که بالفرض محرم سړی د وچې ښکار کېدونکی حیوان د الله ﷻ په نامه باندې ذبحه هم کړي هغه مردار او پلیت دی، نو که محرم د اضطرار په حال کښې وه او هلته مرداره او ښکار دواړه موجود وه نو فقهاء کرام د ده په باره کښې لاندې نظرونه لري[5]:

الف: زُفر علیه الرحمة وایي چې: باید مرداره وخوري او د ښکار کېدونکي حیوان څخه ځان وساتي.

ب: أبو حنیفه او أبو یوسف رحمة الله علیهما وایي چې: باید بالعکس د ښکار غوښه وخوري او کفاره دې ورکړي.

ج: د أبو حنیفه علیه الرحمة په یو قول او د محمد علیه الرحمة په نظر د مرداري خوراک بهتر دی.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۱۶

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۲۱۷

(۳) عمدة القاري ج۹ ص۲۳۵

(۴) المستدرک ج۴ ص۵۰۰؛ صحیح ابن حبان ج۱۵ ص۱۵۱

(۵) روح المعاني ج۷ ص۲۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

ده نو د سپي غوښه بهتره ده.

د: ابو یوسف او حسن رحمة الله علیها دواړه وايي چې که ښکار کېدونکی حیوان او سپی دواړه موجود

## پاک او ناپاک برابر نه دي

۴ـ دا موضوع ـ چې پلیت او پاکیزه شیان برابر نه دي ـ نبي کریم ﷺ په لاندې حدیث کښې ډېره ښه تفسیره کړې ده:

یوه ورځې یو سړی تېرېده نو نبي کریم ﷺ په حاضرینو کښې د یو کس څخه پوښتنه وکړه چې: په دې سړي کښې څه نظر لرې؟ هغه وویل چې: دا د اشرافو څخه دی، که د خپلولی غوښتنه وکړي باید چې خپلولي ورسره وکړی شي او که په څه موضوع کښې شفاعت وکړي باید شفاعت یې قبول کړی شي. نبي کریم ﷺ هیڅ ونه ویلې.

بیا په همدغه مجلس باندې یو بل سړی تېر شو، نو نبي کریم ﷺ ذکر شوي یو کس ته وویلې چې: په دې کښې دې څه نظر دی؟ هغه وویلې چې: دا د فقیرانو مسلمانانو څخه دی، که د خپلولی آرزو وکړي باید پوره نه کړی شي او که د چا په باره کښې شفاعت وکړي نو باید چې ونه منل شي. نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «هَذَا خَيْرٌ مِنْ مِلْءِ الْأَرْضِ مِثْلَ هَذَا»[1] یعني: دا د هغه د مثل څخه د ځمکې د ډکوالي په اندازه بهتر دی.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَسۡـَٔلُواْ عَنۡ أَشۡيَآءَ إِن تُبۡدَ لَكُمۡ تَسُؤۡكُمۡ وَإِن تَسۡـَٔلُواْ عَنۡهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلۡقُرۡءَانُ تُبۡدَ لَكُمۡ عَفَا ٱللَّهُ عَنۡهَاۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ حَلِيمٞ ﴿١٠١﴾ قَدۡ سَأَلَهَا قَوۡمٞ مِّن قَبۡلِكُمۡ ثُمَّ أَصۡبَحُواْ بِهَا كَٰفِرِينَ ﴿١٠٢﴾﴾

[۱۰۱] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! د داسې شیانو څخه پوښتنه مه کوئ چې که درته څرګند کړی شي، نو غمژن به مو کړي، او (هم تاسو د داسې شیانو څخه غوښتنه مه کوئ چې) که تاسو ترې په داسې وخت کښې غوښتنه وکړئ چې قرآن کریم نازلېدلی شي نو هغه به درته څرګند کړی شي (او بیا به پرې خپه یاست).

الله ﷻ (تاسو ته) د دغسې پوښتنو کولو څخه عفوه کړې ده (کومې چې د نن څخه وړاندې تاسو کړې دي). او الله ﷻ ښښونکی د حلم خاوند دی (قصور ښښي چې اراده یې وشي او په عقوبت باندې عجله نه کوي).

[۱۰۲] (ای مؤمنانو!) ستاسو څخه وړاندې یقیناً یوه قوم (د پیغمبر امتیانو) دغسې غوښتنې کړې وې خو بیا پرې کافران جوړ شوه (او عقیده یې ورباندې ونه کړه او یا یې عملي نه کړې، نو تاسو د هغوی په شان مه کېږئ).

[1] صحیح البخاري ج۲ ص۹۵۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ د پیغمبر ﷺ وظیفه بیانه کړې وه چې په ده باندې د تبلیغ څخه پرته بل شی نشته، او دلته مهرباني کوي چې کله د احکامو رسونه د ده ﷺ وظیفه ده نو حاجت نشته چې تاسو ترې سوال وکړئ او د احکامو په بیان کښې تعجیل وغواړئ، ځکه د کوم شي په بیان باندې چې پیغمبر ﷺ مامور شوی دی هغه به ستاسو د غوښتنې څخه پرته هم درته بیانوي.

۲ـ هلته الله ﷻ فرمایلي وه چې پاکیزه او پلیت سره یو برابر نه دي، نو څه لرې نه ده چې د ځینو مسلمانانو په زړونو کښې به څه سوالونه پیدا شوي وي چې دا-دا شی به د پلیتو څخه وي او که د پاکیزه وو څخه، نو دلته د همدغسې سوالونو مخنیوی وشو چې ستاسو پوښتنو ته اړتیا نشته، په کوم شي پورې چې د دین کمال ارتباط ولري هغه به ضرور بیانېږي.

## شان نزول

د ذکرو شوو ایتونو د شان نزول په باره کښې متعدد واقعات روایت کړی شوي دي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

۱ـ یوه ورځې نبي کریم ﷺ صحابه وو کرامو ﷺ ته خطابه وکړه چې: الله ﷻ په تاسو باندې حج فرض کړی دی. نو الاقرع بن حابس ﷺ غږ وکړ چې ای د الله رسوله! ایا هر کال راباندې حج فرض دی؟ نبي کریم ﷺ ساکت پاتې شو، ترڅو چې نوموړي صحابي ﷺ خپله پوښتنه د دریم ځل دپاره تکراره کړه نو بیا یې خپل سکوت مات کړ او ویې فرمایل چې: «لَوْ قُلْتُ نَعَمْ لَوَجَبَتْ ثُمَّ إِذًا لَا تَسْمَعُونَ وَلَا تُطِيعُونَ وَلَكِنَّهُ حَجَّةٌ وَاحِدَةٌ»(۱) یعني: که زه ووایم چې "هو" نو (هر کال) به واجب شي، بیا به یې تاسو (عملًا) قبول نه کړئ او (عملًا) اطاعت به ونه کړئ، مګر شان دا دئ چې فرضي حج فقط یو حج دی.

۲ـ د اوږد حدیث شریف مضمون دی چې نبي کریم ﷺ ته دا خبره رسېدلې وه چې منافقان د ناآشنا پوښتنو نیت لري ترڅو نبي کریم ﷺ (د دوی په خیال) جواب ونه شي ویلی او دوی ته د پروپاګند زمینه برابره شي.

لنډه دا چې ځینو خلکو د منافقت د کبله او ځینو صحابه کرامو ﷺ د زیات اخلاص د کبله پوښتنې کولې، نو نبي کریم ﷺ په داسې حال کښې په ممبر باندې ودرېده چې د غُصې نښې نښانې پکښې ښکارېدلې، او ویې فرمایل چې: «فَلَا تَسْأَلُونِي عَنْ شَيْءٍ إِلَّا أَخْبَرْتُكُمْ مَا دُمْتُ فِي مَقَامِي هَذَا»(۲) یعني: نو تاسو به زما څخه د هیڅ شي پوښتنه ونه کړئ مګر زه به یې خبر (جواب) درکړم تر هغه چې زه په دې مقام (ممبر) باندې اوسم.

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۱

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۷۷، ج۲ ص۱۰۵۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ټول صحابه کرام ﷺ ډېر خپه او په ژړا شوه او نبي کريم ﷺ همدا خبره تکراروله چې: «سَلُونِي» وکړئ پوښتنې، وکړئ پوښتنې.

په دې منځکښې عبد الله بن حُذافه ﷺ راپورته شو او پوښتنه يې وکړه چې: «مَنْ أَبِي؟» زما پلار څوک دی؟. نو نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «أَبُوكَ حُذَافَةُ» ستا پلار حذافه دی. يعنې ستا په نسب کښې چې خلک څه خبره کوي هغه دروغ ده.

بيا عمر الفاروق ﷺ د ټولو صحابه وو کرامو ﷺ په استازيتوب نبي کريم ﷺ ته اعتذار وړاندې کړ او نبي کريم ﷺ د «سَلُونِي» کلمې د ويلو څخه چپ شو.

۳ـ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) وايي چې ځينې خلک وه چې د نبي کريم ﷺ څخه به يې د مسخرو په توګه پوښتنې کولې چې زما پلار څوک دی؟ او چې اوښه به يې ورکه شوې وه نو ورته به يې ويلې چې: «أَيْنَ نَاقَتِي؟» زما اوښه چېرته ده؟ «فَأَنْزَلَ اللهُ فِيهِمْ هَذِهِ الْآيَةَ»(۱) نو الله ﷻ په دوی کښې دغه ايت نازل کړ.

۴ـ آن تردې چې يوه سړي د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې: «أَيْنَ مَدْخَلِي يَا رَسُولَ اللهِ»(۲) يعنې: ای د الله ﷻ پيغمبره! زما د داخلېدلو ځای چېرته دی (دوزخ دی او که جنت دی)؟. نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې «النَّارُ» يعنې: ستا د داخلېدلو ځای اور (دوزخ) دی.

## تبصره

۵ـ ذکر شوي واقعات او يا د هغو نور امثال سره څه منافات نه لري، کېدلی شي چې د ټولو په هکله ذکر شوي ايتونه نازل شوي وي، او د صحابه کرامو ﷺ عادت وه چې د ايتونو په مصداقاتو باندې به يې د شان نزول اطلاق کاوه(۳).

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: په ذکرو شوو واقعاتو کښې ځينې داسې واقعات دي چې د مسلمانۍ سره منافات لري، لکه چې ځينو خلکو به د نبي کريم ﷺ څخه د مسخرو په توګه پوښتنې کولې، او په پيغمبر باندې مسخرې کول خو د کفر څخه په غير بل شی نه دی، حال دا چې ايت شريف په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ﴾ سره پيل شوی دی چې ټوله مخاطبه د مؤمنانو سره ده؟

مونږ وايو چې:

الف: دلته د مؤمنانو څخه ټول هغه خلک مطلب دي چې ځانونو ته مؤمنان وايي، برابره خبره ده چې قلبًا هم مؤمنان وي او يا يوازې په خولو باندې ځانونه مؤمنان بولي.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۶۶۵
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۸۳
(۳) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسير المنار ج۹ ص۶۴۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو د منافقانو په شان طرز العمل مه کوئ چې هره بې
ب: دلته مؤمنان پوه کړی شوي دي چې ... پوښتنه نبي کريم ﷺ ته راجع کړئ. او دا ځکه چې منافقان په پوښتنو کښې زړه صافي نه دي غواړي چې د يو پلوه نبي کريم ﷺ په بې ځايه پوښتنو کښې مصروف کړي او د بله پلوه يې ستاسو بې لارې کول مطلب دي.

نو په دې تقدير باندې به دا ايت شريف د هغه ايت شريف نظير واقع شي چې: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَقُولُوا۟ رَٰعِنَا وَقُولُوا۟ ٱنظُرْنَا ﴾ [البقرة: ١٠٤] يعني: اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو د (يهودانو په شان) د "راعنا" کلمه مه واياست او (په بدل کښې يې) "أنظرنا" وايئ.

## د مطلب خلاصه

١_ يعني: اى مؤمنانو! تاسو د نبي کريم ﷺ څخه بې هوده پوښتنې مه کوئ چې په لا شعوري توګه د منافقانو په قدم باندې لاړ شئ، خصوصاً داسې پوښتنې چې د هغو په جواب کښې د دې خبرې خطره وي چې تاسو ورباندې غمژن شئ، يا د رسوايي او خجالت سره مخامخ شئ او بالآخره يا د دې لوى خطر وي چې اسان حکم درباندې په جواب سره درون کړی شي او داسې نور.

٢_ اى مؤمنانو! که تاسو ذکر شوې پوښتنې په داسې وخت کښې مطرح کړئ چې وحي جاري ده، نبي کريم ﷺ ژوندى دى او بالآخره د قرآن کريم د نزول وخت نه دى ختم شوى، او په خپلو پوښتنو باندې زيات زور واچوئ نو الله ﷻ به يې جواب درنازل کړي نو احتمال شته چې د خفګان سره مخامخ شئ او په خپلو پوښتنو باندې پښيمانه شئ.

کله چې په بې ضرورته پوښتنو کښې د غمژن کېدلو احتمال شته نو تاسو ته په کار دي چې دغسې د خطر ځاى ته خپل ځانونه ورواندې نه کړئ او په لوى لاس ځانونه غمژن جوړ نه کړئ.

هو! د دې څخه ښخوا مو چې څه بې ځايه پوښتنې کړې دي د هغو څخه الله ﷻ درتېر شوى دى او په هغو باندې مو نه نيسي، خو د دې ارشاد څخه وروسته خپل ځانونه اداره کړئ.

لنډه دا چې الله ﷻ بښونکى دى که څه قصور درڅخه واقع شي نو د بښنې په تمه اوسئ او هم د حلم خاوند دى چې د عذاب تاخير يې په بښنه باندې دلالت نه کوي، نو د همېشه دپاره د الله ﷻ په نسبت په خوف او رجا کښې اوسئ چې همدا د ايمان غوښتنه ده.

٣_ اى مؤمنانو! ستاسو څخه وړاندې هم ځينو قومونو د خپلو پيغمبرانو څخه د دول دول غوښتنې کړې وې، خو چې کله به ورته پيغمبرانو غوښتلې شوې پوښتنې جوابې کړې او څه به يې چې غوښتل هغه به يې ورکړه، نو يا به په عملي بې اطاعتۍ کښې واقع شوه او يا به لا ورباندې بالکل کافر جوړ شوه، او انکار به يې ترې وکړ، نو د همدې کبله تاسو ته توصيه وکړی شوه چې د بې ځايه غوښتلو څخه خپل ځانونه بچ وساتئ چې علاوه په غمژن کېدلو د بې اطاعتۍ سره مخامخ نه شئ.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# توضيحات

١_ په دې مقام کښې الله ﷻ د ﴿ أَشْيَآءَ ﴾ د کلمې څخه وروسته درې جملې نازلې کړې دي، مونږ غواړو چې د الله ﷻ په توفیق په هره یوه جمله کښې بېل-بېل بحث وکړو.

## لومړۍ جمله:

٢_ لومړۍ جمله دا ده چې: ﴿ إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ ﴾، دا جمله د ﴿ أَشْيَآءَ ﴾ د کلمې دپاره صفت واقع شوې ده. نو د معنی حاصل یې داسې را اوځي چې: د داسې شیانو څخه پوښتنه مه کوئ چې د هغو په جوابونو کښې ستاسو د غمژن کېدلو او مشقت احتمال وي، نو خپل ځانونه په لوی لاس په سختیو کښې مه وراچوئ او ځانونو ته غم مه جوړوئ.

لنډه دا چې پوښتنه کول په لاندې دوه ډوله دي:

الف: یو ډول هغه پوښتنې دي چې سړی یې جواب ته ضرورت لري او جواب یې په تعمیل کښې اثر لري، نو دغه ډول پوښتنې برسېره په دې چې ممنوع نه دي بلکې مشروع دي، ځکه چې د دغسې پوښتنو په جوابونو باندې سړی خوشالېږي چې د ځير څخه پرې نجات پیدا کوي او غمژن کېږي پرې نه. لاندې تشریحات ولولئ:

اول: الله فرمايي: ﴿ فَسْـَٔلُوٓاْ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ [النحل: ٤٣] نو د علم خاوندانو څخه پوښتنه وکړئ که تاسو یاست چې نه پوهېږئ.

دوهم: جابر ؓ په یوه اوږده حدیث کښې وايي چې: مونږ په سفر باندې وه چې زمونږ د یو ملګري په سر باندې ډبره راولوېده او زخمي شو، خو همدغه زخمي ملګری محتلم شو او غسل ورباندې واجب شو نو د ملګرو څخه يې پوښتنه وکړه چې ایا ماته په تیمم وهلو کښې اجازه مونده کوئ؟ هغوی وویلې چې نه، ته خو د اوبو په استعمال باندې قدرت لرې. نو نوموړي زخمي په اوبو باندې غسل وکړ چې د همدې غسل په سبب باندې مړ شو.

کله چې نبي کریم ﷺ په ذکره شوې قیصه باندې خبر شو نو ويې فرمایل چې: «قَتَلُوهُ قَتَلَهُمْ اللهُ أَلَا سَأَلُوا إِذْ لَمْ يَعْلَمُوا فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَالُ»[1] وژلی یې دی دوی دې الله ﷻ ووژني، ضرور به یې پوښتنه کړې وی چې کله دوی په خپله نه پوهېده (او بې علمه فتوی به یې نه ورکولی) ځکه چې د جهل شفاء خو پوښتنه کول دي. یعنې د ناپوهۍ علاج پوښتنه ده.

ب: دوهم ډول پوښتنې هغه دي کومو ته چې ضرورت نه وي او لا په جوابونو کښې یې د غمژن کېدلو خطره هم وي، نو په ذکره شوې جمله کښې همدغه ډول پوښتنې ممنوع ښودلې شوې دي. لاندې نصوص د ښه وضاحت دپاره ولولئ:

---

(١) سنن ابي داوٗد ج١ ص٤٩

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ»[۱] یعنې: د سړي د اسلام د ښه والي څخه د هغه شي پرېښودل هم دي چې ده ته مطلبي شی نه وي. لکه چې څوک پوښتنه وکړي چې د موسی ﷺ د مور نوم څه وه؟ او د فرعون پلار څه نومېده؟ او داسې نور.

دا ډول پوښتنې د دې څخه پرته چې د سړي وخت پرې ضائع شي بله نتیجه نه لري، خصوصاً د هغو خلکو د خولو څخه کوم چې د دین په ضروري مسائلو باندې نه پوهېږي خو پوښتنه يې هم نه کوي.

دوهم: یوه ورځې عمر الفاروق ﷺ د خپلو څو نفرو ملګرو سره یوه حوض (ډنډ) ته ورسېد، نو یوه ملګري يې د حوض د خاوند څخه پوښتنه وکړه چې: ای د ډنډ خاونده! دغه ډنډ ته درندګان راځي او که نه (اوبه ترې څښي او که څنګه)؟. نو د دې څخه وړاندې چې د حوض خاوند جواب ورکړي، عمر الفاروق ﷺ وویلې چې: «يَا صَاحِبَ الْحَوْضِ لَا تُخْبِرْنَا»[۲] ای د حوض خاونده! مونږ ته جواب مه راکوه. یعنې: مونږ مکلف نه یاستو چې دغسې دقیقې پوښتنې وکړو، نو کله چې مکلف نه یاستو نو حاجت نشته چې ته جواب راکړې!.

نو د همدې کبله مونږ دې ته ضرورت نه لرو چې د قصاب څخه تحقیق وکړو چې دغه ذبیحه ستا خپله ده او که پردی؟ د ذبحې په وخت کښې دې وړباندې د الله ﷻ نوم یاد کړی دی او که نه؟ او داسې نور.

دریم: معاویه ﷺ وایي چې: «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى عَنِ الْغُلُوطَاتِ»[۳] یعنې: نبي کریم ﷺ منعه کړې ده د داسې پوښتنو څخه چې مطلب پکښې صرف د مخاطب غلطول او پېښې ښوېول وي (چې دا ډول مسائل اکثره د فتنو باعث جوړېږي).

همدارنګه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُونَ»[۴] هلاک شوه په (اقوالو او افعالو کښې) د حد څخه تجاوز کوونکي، دغه جمله يې درې خله وویلې. یعنې: څوک چې د مسائلو په تعمق کښې غلوه او تیری کوي.

څلورم: یوه ورځې د مالک بن انس رحمه الله علیه څخه چا د استواء په باره کښې پوښتنه وکړه، نو هغه جواب ورکړ چې: «الِاسْتِوَاءُ مَعْلُومٌ وَالْكَيْفِيَّةُ مَجْهُولٌ وَالسُّؤَالُ عَنْهُ بِدْعَةٌ»[۵] استواء خو معلومه ده (پوښتنې ته اړتیا نه لري) او څرنګوالی يې مجهول دی (چې یوازې الله ﷻ ته معلوم دی) او پوښتنه ترې بدعت دی (داسې مسئله نه ده چې مونږ وړباندې مکلف یاستو).

پنځم: یوه ورځې د عمر بن عبد العزیز رحمه الله علیه څخه چا د صفین د جنګ یعنې د صحابه وو ﷺ د

(۱) سنن ابن ماجه ص۲۸۶
(۲) موطا الإمام مالک ج۱ ص۱۷
(۳) سنن ابي داؤد ج۲ ص۱۵۹
(۴) صحیح مسلم ج۲ ص۳۳۹
(۵) تفسیر القاسمي ج۶ ص۲۹۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جنګ په باره کښې پوښتنه وکړه (چې هلته څوک په حقه وه)، نو هغه جواب ورکړ چې: «تِلْكَ دِمَاءٌ كَفَّ اللهُ عَنْهَا يَدِيْ فَلَا أُحِبُّ أَنْ أَلْطَخَ بِهَا لِسَانِيْ»(١) دا داسې وینې دي چې الله ﷻ ترې زما لاس بچ ساتلی دی (چې ګډون مې پکښې نه دی کړی) نو زه دا خوښوم چې خپله ژبه هم پرې ککړه نه کړم. (یا په بل عبارت: د قیامت په ورځ به زما څخه دا پوښتنه ونه شي چې تا ولې د علي ﷺ او معاویه ﷺ په هکله د حق او باطل نظر نه دی ورکړی، نو ضرورت نشته چې بې ځایه خپل ځان د ګناه په خطره کښې ورواچوم).

شپږم: نبي کریم ﷺ خپلو صحابه وو کرامو ﷺ ته توصیه کړې وه چې: «لَا يُبَلِّغُنِي أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ مِنْ أَصْحَابِي شَيْئًا فَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَخْرُجَ إِلَيْهِمْ وَأَنَا سَلِيمُ الصَّدْرِ»(٢) هیڅوک دې زما د ملګرو څخه د هیچا په باره کښې څه شی ماته نه رارسوي، ځکه چې یقیناً زه دا خبره خوښوم چې په داسې حال کښې ورووځم چې په زړه کښې مې هغوی ته څه نه وي. یعنې: ماته دې څوک داسې خبره نه رارسوي چې زما د صحابه وو کرامو ﷺ سره زړه بداوی پیدا شي. نو باید چې سړی د دغسې شیانو د پوښتنو څخه هم ډډه وکړي چې د حسد او کینې باعث جوړېږي.

اووم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایي چې: «وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَحَسَّسُوا»(٣) او تاسو د خلکو د پټو شیانو پوښتنې مه کوئ او هم مه ورته ګورئ او مه ورته غوږ نیسئ.

د ټولو ذکرو شوو وضاحتونو څخه څرګنده شوه چې مونږ ته د بې ځایه او بې فائدې پوښتنو کولو څخه د ځان ساتنې توصیه شوې ده، برابره خبره ده چې د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې وي او که آن د قیامت د ورځې پورې په نورو زمانو کښې، همدارنګه برابره خبره ده چې د شرعي احکامو پوښتنې وي او که داسې پوښتنې وي چې شریعت پورې اړوند نه وي، لکه چې د شان نزول د روایت سره سم د نبي کریم ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! زما ورکه شوې اوښه به چېرته وي؟!

**دوهمه جمله:**

٢ـ دوهمه جمله چې د ﴿أَشْيَآءَ﴾ د کلمې دپاره صفت واقع شوې ده، دا جمله ده چې: ﴿وَإِن تَسْـَٔلُوا۟ عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلْقُرْءَانُ تُبْدَ لَكُمْ﴾.

ځینو مفسرینو کرامو(٤) ته تعجب دی چې د ذکرې شوې جملې څخه د سوال کولو اباحت اخلي، حال دا چې دا جمله د ﴿أَشْيَآءَ﴾ د کلمې دپاره صفت واقع شوې ده او د نهي ﴿لَا تَسْـَٔلُوا۟﴾ څخه لاندې ده.

---

(١) تفسیر القاسمي ج٦ ص٢٩٤
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٢٢٨
(٣) صحیح البخاري ج٢ ص٧٧٢
(٤) البحر المحیط ج٤ ص٣٨١؛ تفسیر القرطبي ج٦ ص٣٣٣

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوي يې د معنی حاصل داسې اخستی دی چې: تاسو ابتداءً پوښتنه مه کوئ خو که الله ﷻ په خپله تاسو ته څه حکم درنازل کړ او په هغه کښې ستاسو څه پوښتنو ته اړتیا وه او پوښتنې مو وکړې نو څه باک يې نشته، الله ﷻ به ستاسو پوښتنو ته جواب درکړي او څه خفا چې په تاسو باندې درغلې وي هغه به درته واضحه او څرګنده کړي.

مونږ ته داسې برېښي ـوالله ﷻ اعلمـ چې د دې جملې د معنی حاصل داسې واخستلی شي چې: تاسو په هره زمانه او په هر ډول واقعه کښې عمومًا د بې ځايه پوښتنو څخه خانونه بچ وساتئ او په خاصه توګه د نبي کريم ﷺ په مبارک عصر کښې خو د بې ځايه پوښتنو څخه بالکل خپل خانونه بچ کړئ، چې د يو پلوه به نبي کريم ﷺ په بې ځايه پوښتنو باندې په بې ګټو شيانو کښې مشغول کړئ او د بله پلوه د دې خبرې خطره هم شته چې ستاسو د پوښتنو د کبله داسې حکم نازل شي چې تاسو او ستاسو غونډې نور مسلمانان په حرج کښې واچوي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحه ولولئ:

الف: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «ذَرُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ»[1] ما پرېږدئ تر هغه چې ما تاسو پرېښې ياست. يعنې: ما پرېږدئ چې شريعت درته بيان کړم، کوم شی چې ضرور وي هغه زه ستاسو د پوښتنو څخه په غير هم درته بيانوم، نو پوښتنو ته څه حاجت دی.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ أَعْظَمَ الْمُسْلِمِينَ جُرْمًا مَنْ سَأَلَ عَنْ شَيْءٍ لَمْ يُحَرَّمْ فَحُرِّمَ مِنْ أَجْلِ مَسْأَلَتِهِ»[2] يعنې: يقينًا په مسلمانانو کښې د ګناه د حيثه هغه څوک ډېر لوی دی چې د داسې يوه شي څخه پوښتنه وکړي چې هغه نه وي حرام شوی خو د ده د پوښتنې د کبله حرام کړی شي.

ج: انس ﷺ وايي چې مونږ د دې څخه منعه کړی شوي وه چې د نبي کريم ﷺ څخه د څه شي په باره کښې پوښتنه وکړو: «فَكَانَ يُعْجِبُنَا أَنْ يَجِيءَ الرَّجُلُ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ الْعَاقِلُ فَيَسْأَلَهُ وَنَحْنُ نَسْمَعُ»[3] نو زمونږ به دا خبره خوښېدله چې د بيديا څخه يو سارانی هوښيار سړی راشي او د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړي او مونږ يې واورو.

د: ابو امامه ﷺ په يوه اوږده حديث کښې وايي چې کله ذکر شوی ايت شريف نازل شو او مونږ د پوښتنې کولو څخه منعه کړی شو نو مونږ يوه اعرابي (سارايي) سړي ته يو څادر ورکړ او بيا مو ورته وويلې چې: «سَلِ النَّبِيَّ ﷺ»[4] يعنې: د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنې وکړه (چې ترڅو يې مونږ جوابونه واورو).

هـ: المغيره بن شعبه ﷺ په اوږده حديث کښې وايي چې: «وَكَانَ يَنْهَى عَنْ قِيلَ وَقَالَ وَكَثْرَةِ السُّؤَالِ

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۱

(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۸۲

(۳) صحيح مسلم ج۱ ص۳۰

(۴) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۳۰۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَإِضَاعَةِ الْمَالِ»[۱] یعني: او وه نبي کریم ﷺ چې منعه به یې کوله د قیل او قال (تا ویلو ما ویلو) څخه او د ډېرو پوښتنو څخه او (بالآخره) د مال د ضائع کولو څخه (چې په حرامو کښې مصرف شي).

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي: چې کله صحابه کرام ﷺ د نبي کریم ﷺ د پوښتنو څخه منعه کړی شوي وه نو په کار وه چې دوی ترې هیڅ یوه پوښتنه هم نه وی کړې، حال دا چې د دوی پنځلس پوښتنې الله ﷻ په قرآن کریم کښې جوابې کړې دي، لکه چې د [البقرة:۱۸۹] ایت کښې یې څه شرحه تېره شوې ده، او که بالفرض کوم صحابي ﷺ پوښتنې کړې وی نو په کار وه چې هغه ته هیڅ جواب نه وی ورکړی شوی.

مونږ وایو چې:

الف: د صحابه وو کرامو ﷺ کوم سوالونه چې په قران کریم کښې جواب شوي دي هغه د ذکر شوي ایت شریف د نزول څخه وړاندې وه مګر دا جواب محض یو احتمال دی قاطع جواب نه شي جوړېدلی.

ب: لکه څنګه چې په دوهمې توضیح کښې واضحه شوې ده چې صحابه کرام ﷺ د مطلقو پوښتنو څخه نه وه منعه کړی شوي بلکې د هغو پوښتنو اجازه ورته نه وه چې د هغو جوابولو ته به چندان حاجت نه وه.

برسېره په دې، لږ وړاندې تېر شوه چې دا حکم څه داسې قاطع حکم نه وه چې د لمانځه او زکات په شان د اسلام یو رکن ګرځېدلی وی او خاص او عام ټول وربانديې مکلف وی، بلکې أعراب (د بېدیا اوسېدونکي) د دې حکم څخه وتلي وه[۲]، او هم په وفودو باندې (چې د اطرافو څخه به د جرګو په صفت باندې راتله) دا حکم واجب نه وه.

د همدې کبله النواس بن سمعان ﷺ وایي چې ما د نبي کریم ﷺ سره په مدینه منوره کښې یو کال د زیارت کوونکي (میلمه) په صفت تېر کړ او خپل هجرت مې ټال کړو او دا څکه چې: «كَانَ أَحَدُنَا إِذَا هَاجَرَ لَمْ يَسْأَلْ رَسُولَ اللهِ ﷺ عَنْ شَيْءٍ»[۳] زمونږ هر یوه نفر به چې هجرت وکړ نو هغه به د نبي کریم ﷺ څخه د هیڅ شي پوښتنه نه کوله. یعنې: دغه بندیز یوازې په مهاجرینو باندې وه او ما غوښتل چې د نبي کریم ﷺ څخه ډېرې پوښتنې وکړم، نو که هرڅومره ژر مې د خپل وطن څخه مدینې منورې ته هجرت کړی وی نو هومره ژر به د پوښتنو څخه منعه کړی شوی وی.

په دې باندې علاوه، که بالفرض یوې بې ځایه پوښتنې ته هم جواب نه وی ورکړی شوی نو معاندینو به همدا پلمه نیولې وی او خلکو ته به یې د نبي کریم ﷺ په نبوت کښې شک وراچولی وی نو د همدې کبله یې هغه چا ته جواب ورکړ چې هغه پوښتنه کوله چې زه به د قیامت په ورځ چرته یم؟ او نبي کریم ﷺ ورته جواب ورکړ چې: «فِي النَّارِ» ته به په اور کښې یې. لکه چې وړاندې تېر شو.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۵۸
(۲) تفسیر القاسمي ج۶ ص۳۸۹
(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۳۱۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د صحابه وو کرامو ﷺ زمانه او پوښتنې

٥ـ د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته هم صحابه وو کرامو ﷺ خپلې پخوانۍ کړنلارې ته ادامه ورکوله چې بې ضرورته پوښتنې یې نه په خپله جوابولې او نه یې څوک د دغسې پوښتنو کولو ته پریښوده. د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحه ولولئ:

الف: د زید بن ثابت الانصاري ﷺ څخه به چې چا څه پوښتنه وکړه، هغه به د جواب څخه وړاندې معلومات واخستل چې: ایا دا حادثه پیښه شوې ده چې زما څخه پکښې فتوی غواړې؟

نو که ورته به وویل شو چې: هو، نو د خپلو معلوماتو په رڼا کښې به یې جواب ورکاوه او که نه نو ویل به یې چې: «ذَرُوهُ حَتَّى يَكُونَ»[1] نو پرېږدئ چې ترڅو پېښه شي (نو بیا به پکښې فیصله کوو).

ب: یوه ورځې یو سړی مدینې منورې ته راغی چې د قرآن کریم د متشابهاتو په باره کښې یې پوښتنې کولې، نو عمر الفاروق ﷺ ورته د خرما د ونې شاخونه تیار کړه او خپل حضور ته یې راوغوښت! چې لاندې سوال جواب او معامله یې ورسره وکړه:

عمر الفاروق ﷺ: ته څوک یې؟.

نوموړی سړی: زه د الله ﷻ بنده "صُبَيغ" یم.

عمر الفاروق ﷺ: زه د الله ﷻ بنده "عمر" یم.

د همدې خبرې سره سم یې د هغه سر د خرما د ونې په یو لرګي باندې وواهه آن تردې چې سر یې پرې مات کړ او سرې وینې پرې راوبهېدلې!.

نوموړی سړی: «يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ! حَسْبُكَ قَدْ ذَهَبَ الَّذِي كُنْتُ أَجِدُ فِي رَأْسِي»[2] ای امیر المؤمنینه! بس دی (نور مې مه وهه)، یقینًا څه چې ما په خپل سر (دماغ) کښې مونده کول (چې د هغو په اثر باندې مې پوښتنې کولې) هغه مې د سره ووت. یعنې: بیا داسې نه کوم.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

٦ـ که څوک وایي چې مجتهدینو ته په کار وه چې دوی هم د صحابه وو کرامو ﷺ په شان کړنلاره غوره کړې وی او د فرضي حوادثو په باره کښې یې احکام نه وی استنباط کړي؟

موږ وایو چې:

الف: د صحابه وو کرامو ﷺ په زمانه کښې واقعات دومره ډېر نه وه چې د استنباطاتو دروازه داسې پرانستله شوې وی لکه څنګه چې د دوی څخه په وروسته زمانو کښې پرانستله شوه، د دوی د مبارکې زمانې حوادث اکثره په نصوصو باندې حل او فصل کېده اجتهاد ته ډېر ضرورت

---

(١) سنن الدارمي ج١ ص٤٧

(٢) سنن الدارمي ج١ ص٥١

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه پېښېده، او وروسته چې د اجتهاد دروازه ببرته شوه نو طبعي وه چې د فرضي مسائلو دپاره هم جوابونه ورکړی شي چې د قيامت د ورځې پورې ترې مسلمانان استفاده وکړي.

ب: د صحابه وو کرامو ﷺ ډېره درنه وظيفه د نبي کريم ﷺ د احاديثو رسونه وه، نو که دوی په فرضي مسائلو باندې مصروف شوي وی نو د يو پلوه به په ذکر شوي وظيفه کښې قصور واقع شوی وی، او د بله پلوه به اجتهاديات او منصوصات سره ګډوډ شوي وی، سړی به نه پوهېدی چې دا د صحابي قول دی او که د نبي کريم ﷺ حديث دی.

د دې نظير دا دی چې: نبي کريم ﷺ د خپلو احاديثو د ليکلو څخه منعه کړې وه ترڅو د قرآن کريم سره ګډوډ نه شي، لکه چې فرمايي: «لَا تَكْتُبُوا عَنِّي وَمَنْ كَتَبَ عَنِّي غَيْرَ الْقُرْآنِ فَلْيَمْحُهُ»[1] يعنې: زما څخه (د قرآن کريم څخه په غير) بل شی مه ليکئ او هر چا چې زما څخه د قرآن کريم څخه په غير بل شی (حديث) ليکلی وي نو هغه دې محوه کړي. مګر د دې سره-سره يې د يوه صحابي ﷺ دپاره -چې د يمن څخه وه- د ليکلو امر وکړ کله چې هغه ترې وغوښتل: ای د الله رسوله! دغه احکام چې تاسو په همدغې خطابه کښې بيان کړه ماته يې وليکه. نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «اكْتُبُوا لِأَبِي فُلَانٍ»[2] ابو فلان يعنې "ابو شاه" ته يې وليکئ.

نوموړي صحابي (ابو شاه) ﷺ ته يې څکه د ليکلو اجازه ورکړه چې هغه د لرې وطن وه او په عمومي اجتماع کښې ثابته شوه چې قرآن يې نه دی ليکلی بلکې احاديث يې ليکلي دي، نو د اختلاط خطر د منځه لاړ.

همدارنګه د صحابه وو کرامو ﷺ د زمانې څخه وروسته د ايت او حديث پېژاندل په هيڅ باندې خفي نه وه او د اجتهادياتو سره بيلتون پوره واضحه شوی وه.

ج: په دې باندې علاوه، الله ﷻ فضل وکړ او سلفو صالحينو ته يې د اجتهادياتو فکر په زړونو کښې ورواچاوه چې ټوله اسلامي تګلاره په صريحو الفاظو کښې په هره ژبه ميدان ته راوباسي، که بالفرض الله ﷻ دغه فضل نه وی کړی نو د اسلامي شريعت کمال به په ټولو زمانو او ټولو ځايونو کښې نه وی څرګند شوی.

درېمه جمله:

۶- په دې مقام کښې الله ﷻ د ﴿ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهَا ﴾ جمله رانازله کړې ده چې مفسرين کرام يې په لاندې دوه ډولونو باندې تفسيروي:

الف: دا جمله هم د تېرو شوو دواړو جملو په شان د ﴿ أَشْيَآءَ ﴾ د کلمې دپاره صفت واقع شوې ده[3]،

---

[1] صحيح مسلم ج۲ ص۴۱۴
[2] صحيح البخاري ج۴ ص۲۲
[3] البحر المحيط ج۴ ص۳۸۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! د داسې شیانو څخه پوښتنې مه کوئ چې د هغو ذکر الله ﷻ عفوه کړی دی، یعنې پرېښی یې دی.

په همدې مضمون باندې لاندې حدیث دلالت کوي چې:

«سُئِلَ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ السَّمْنِ وَالْجُبْنِ وَالْفِرَاءِ فَقَالَ الْحَلَالُ مَا أَحَلَّ اللهُ فِي كِتَابِهِ وَالْحَرَامُ مَا حَرَّمَ اللهُ فِي كِتَابِهِ وَمَا سَكَتَ عَنْهُ فَهُوَ مِمَّا عَفَا عَنْهُ»[1] یعنې: یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه د غوړیو او پنیر او (بالآخره) د پوستین په باره کښې پوښتنه وشوه، نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: حلال هغه دی چې الله ﷻ په خپل کتاب کښې حلال کړی دی او حرام هغه دی چې الله ﷻ په خپل کتاب کښې حرام کړی دی او هغه څه چې الله ﷻ ترې سکوت کړی دی نو هغه د هغې جملې څخه دي چې الله ﷻ یې (د بیان څخه) عفوه کړې ده. ته به وایې چې ذکرې شوې جملې ته اشاره کوي.

ب: دا جمله د ﴿أَشْيَآءَ﴾ د کلمې دپاره صفت نه ده بلکې مسلمانانو ته پکښې داد ورکړی شوی دی چې پخوانیو سوالونو باندې نه نیولی کېږئ چې د دغه ایت شریف څخه وړاندې مو کړي وه، ته به وایې چې دغه جمله د "إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ" معنی ورکوي[2].

## د پخوانیو قومونو د سوالونو مثالونه

۸ـ په دې مقام کښې الله ﷻ د پخوانیو قومونو سوالونو ته اشاره کړې ده چې د خپلو خپلو پیغمبرانو څخه به یې په خپلو خولو باندې غوښتنې کولې مګر کله به چې ورته جواب ورکړی شو نو بیا به یې عمل ته ملاوې ماتې وې، حتی چې په ځینو وختونو کښې به لا پرې کافر هم شوه. د دغسې پوښتنو لاندې مثالونه ولولئ:

الف: بني اسرائیلو د موسی ؑ څخه د غوا په باره کښې متعددې پوښتنې کړې وې خو په هر ځل جواب کښې یې عمل نه کاوه او د پوښتنو سلسله به یې اوږدوله، تر دې چې د ډېر مشقت سره مخامخ شوه. د [البقرة:۶۷] ایت.

ب: بني اسرائیلو د خپل وخت د پیغمبر څخه د قومندان د درولو غوښتنه کوله خو کله چې ورته الله ﷻ طالوت علیه الرحمة مشر مقرر کړ بیا یې متابعت ونه کړ. د [البقرة:۲۴۶] ایت.

ج: د عیسی ؑ څخه خپل قوم د مائدې غوښتنه کوله، لکه چې په [المائدة:۱۱۲] ایت کښې یې بحث راروان دی؛ مګر چې کله نازله شوه د هغې په غوښتنه یې عمل ونه کړ.

د: د صالح ؑ څخه خپل قوم د معجزې اوښه وغوښتله خو چې کله ورته موجوده کړی شوه نو دوی ورباندې کافر شوه او مړه یې کړه. د [الشمس:۱۳] ایت.

---

(۱) جامع الترمذي ج۱ ص۳۰۳

(۲) روح المعاني ج۷ ص۴۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذکره شوې موضوع نبي کریم ﷺ خپل اُمت ته څومره ښه تشریح کړې ده چې: «أَيُّهَا النَّاسُ! لَا تَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ وَسَلُوا اللهَ الْعَافِيَةَ فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا»[۱] ای خلکوا دښمن ته د مخامخ کېدلو آرزو مه کوئ (د جنګ غوښتنه مه کوئ) او د الله ﷻ څخه عافیت وغواړئ، خو کله چې ورسره مخامخ شوئ نو صبر وکړئ (او تېښته مه کوئ هسې نه چې د پخوانیو قومونو په شان د یوه شي غوښتنه وکړئ او بیا یې په عمل کښې ناکام پاتې شئ).

﴿مَا جَعَلَ ٱللَّهُ مِنۢ بَحِيرَةٍ وَلَا سَآئِبَةٍ وَلَا وَصِيلَةٍ وَلَا حَامٍ وَلَٰكِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۖ وَأَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ﴿١٠٣﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ قَالُواْ حَسۡبُنَا مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ءَابَآؤُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا يَهۡتَدُونَ ﴿١٠٤﴾﴾

[۱۰۳] نه ده ګرځولې (مشروعه کړې) الله ﷻ هیڅ بحیره او نه سائبه او نه وصیله او نه حام، مګر هغه کسان چې کافر شوي دي په الله ﷻ باندې دروغ تړي (چې ذکر شوي څاروي الله ﷻ مشروع ګرځولي دي او د ده ﷻ د نژدېکت اسباب دي).

او د دوی (کافرانو) اکثریت د عقل څخه (په سمه توګه) کار نه اخلي (بلکې د پلرونو روند تقلید کوي).

[۱۰۴] او کله چې دوی ته وویل شي چې تاسو هغه شي ته راشئ چې الله ﷻ نازل کړی او (هم) پیغمبر ﷺ ته (راشئ! روند تقلید پرېږدئ، نو) دوی وايي چې زمونږ هغه شی بس دی (د دین په حیث) چې مونږ پرې خپل پلرونه موندلي دي. (ورته ووایه چې) ایا (تاسو دا تقلید کوئ؟) اګر که پلرونه مو په هیڅ (دیني) شي باندې نه پوهېده او نه یې سمه سیده لاره موندلې وه.

## ارتباط او شان نزول

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی[۲] چې د نبي کریم ﷺ څخه چا د ذکرو شوو څلورو څارویو په باره کښې هم پوښتنه کړې وه. نو الله ﷻ لوستل شوي ایتونه نازل کړه. یا په بل عبارت: وړاندې د پوښتنو ممنوعیت بیان شوی وه او دلته د ممنوعو پوښتنو څو مثالونه ښودلی کېږي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای مؤمنانو! څرنګه چې د جاهلیت په زمانه کښې مشروع او غیر مشروع شیان سره ګډوډ شوي دي نو لکه چې لږ وړاندې الله ﷻ تاسو ته واضحه کړه چې د کعبې شریفې احترام او هم

---

[۱] صحیح البخاري ج۱ ص۴۲۴
[۲] تفسیر القرطبي ج۶ ص۳۳۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د څلورو میاشتو احترام او بالآخره د هدایاوو احترام شرعي شیان دي چې باید مراعات یې وکړی، همدارنګه تاسو ته دلته توصیه کوي چې د بحیرې او سائبې او بالآخره د وصیلې او حام په نومونو باندې څاروي خوشي کول الله ﷻ نه دي مشروع کړي، بلکې دا د کافرانو افتراګانې دي چې د الله ﷻ په دین باندې یې په قصدي توګه ورتپلي دي.

۲ـ د دغو خلکو اکثریت ساده ګان دي، داسې عقل نه لري چې شرعي استفاده ترې وکړي او پوه شي چې الهي دین خو هغه دین دی چې الله ﷻ پخپله خلکو ته ورنازل کړی دی او هسې نه چې خلک د خپلو ځانونو څخه څه دروغین مسائل راغونډ کړي او د الله ﷻ د دین نومورباندې کېږدي.

او کله چې هغوی ته وویل شي چې دین هغه شی نه دی چې تاسو راغونډ کړي دي بلکې دین د هغو مسائلو مجموعه ده چې الله ﷻ په خپل پیغمبر باندې نازله کړې ده، نو راشئ د خپلو پخوانیو مزخرفاتو څخه تېر شئ او هغه څه ته چې الله ﷻ نازل کړي دي او د ده پیغمبر ﷺ ته مراجعه وکړئ چې په سمه لاره برابر شئ؛ نو د دوی جواب دا دی چې مونږ ته پلارنۍ تګلاره کفایت کوي د دې څخه بله خوا نه شو اوښتلی.

۳ـ نو ای پیغمبره! دوی ته ووایه چې: ایا تاسو په پلارنۍ تګلاره باندې په هر حال کښې کلک یاست، که څه هم پلرونه مو د دین په باره کښې په هیڅ شي باندې نه پوهېده او نه په سمه لاره باندې روان وه؟ ایا د سادګانو او ګمراهانو پسې اقتداء کول د عقل د خاوندانو سره مناسب دي؟

که تاسو په همدغې پلارنۍ طریقه باندې په هر حال او د همېشه دپاره ولاړ یاست نو معلومه شوه چې تاسو هم د هغوی په شان سادګان او ګمراهان یاست.

## توضیحات

۱ـ څرنګه چې د بحیرې، سائبې، وصیلې او حام دپاره مفسرینو کرامو زښت ډېر تعریفونه کړي دي[۱] نو که څوک په ټولو تعریفونو باندې ځان پوهوي نو هیله ده چې همهلته مراجعه وکړي، مونږ یې دلته صرف په یو-یو تعریف باندې اکتفاء کوو، هغه دا چې[۲]:

الف: "بَحِیرَة" د "بَحَرْتُ الْبَعِیرَ" څخه اخستل شوې ده[۳]، یعني: د اوښ غوږ مې ښه پوره څیرلی وه.
د جاهلیت په زمانه کښې "بَحِیرَة" د هغې اوښې نوم وه چې د بوتانو په نامه باندې به پرېښودله شوه او هیچا به نه لوشله چې په ټولو خلکو باندې به یې شوده حرام ګڼل کېده او د نښې دپاره به یې د هغې غوږ څیرلی وه.

ب: "سَائِبَة" د "سَیَّبْتُ الدَّابَّةَ" څخه اخستله شوې ده، یعني څاروی مې خوشې کړی وه چې هرې

(۱) زاد المسیر ج۲ ص۳۲۷؛ التفسیر الکبیر ج۱۲ ص۱۰۹
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۶۵
(۳) مفردات الراغب ص۳۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس،اباسین لخوا سکین شو



خوا ته خي لاړ دې شي. د هغې زمانې خلکو به هغه څاروی د سائبه په نامه یاداوه چې د بوتانو په نامه به پرېښودل شو او هیچا به حق نه درلود چې د هغه څخه د سورلۍ استفاده وکړي.

دغه نامشروع رواج عربستان ته د عَمرو بن عامر یا عَمرو بن لُحَيّ په لاس باندې وارد کړې شوی وه چې نوموړی په هغه وخت کښې د خلکو مشر او پاچا وه.

د همده په باره کښې نبي کریم ﷺ فرمایي: نوموړی مې ولید چې «يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ وَكَانَ أَوَّلَ مَنْ سَيَّبَ السَّوَائِبَ»[۱] کولمې یې په دوزخ کښې راکشولې او نوموړی هغه اولنی سړی دی چې د بوتانو په نامه باندې یې اوښې خوشې کړې ترڅو ترې څوک د سورلۍ استفاده ونه کړي.

د ذکر شوي روایت په تعقیب نبي کریم ﷺ وفرمایل چې نوموړی د "معبد بن اکثم ؓ" غوندې وه.

د دغې خبرې په اورېدلو سره سمدستي دغه صحابي (معبد بن اکثم ؓ) وویلې چې: ای د الله ﷺ پیغمبره! آیا ماته د دغه مشابهت څخه څه خطر شته؟

نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «لَا أَنْتَ مُؤْمِنٌ وَهُوَ كَافِرٌ وَهُوَ أَوَّلُ مَنْ جَمَعَ الْعَرَبَ عَلَى الْأَصْنَامِ»[۲] یعني: نه (تاته خطر نشته چې) ته مؤمن یې او دا کافر دی او هم دا اولنی هغه سړی دی چې عرب یې په بوتانو باندې راغونډ کړي وه.

ج: "وَصِيلَة" خو د "وَصَل" (پیوستون) څخه اشتقاق شوې ده. د جاهلیت د زمانې خلکو به هغې اوښې ته نوموړی لقب ورکاوه چې دوه ښځې جونګۍ به یې پیوسته وزېږولې چې په منځکښې به یې نر جونګی تولد نه شو، دوی به دغه ډول اوښه هم د بوتانو په نامه باندې خپل سر ته خوشې کوله او استفاده به یې ترې نه کوله.

د: "حَام" خو د "حِمَايَة" څخه اخستل شوی دی. دوی به هغه نر اوښ ته د "حَام" لقب ورکاوه چې د هغوی په نظر به په څو معدودو (شمارل شوو) اوښو باندې څو شو. یا په بل عبارت: هغه نر اوښ یې د "حَام" په نامه باندې باله چې لس اوښې به یې تېرې کړې او د ده څخه به حملدارې شوې، دوی به ویلې چې ذکر شوي اوښ خپله شا د خلکو د سورېدلو څخه وساتله او د خپلې شا حمایت یې وکړ. او دا څکه چې دا به هم د بوتانو په نامه باندې پرېښودل کېده.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د دې څه وجه ده چې د ذکرو شوو څلورو څارویو دپاره مفسرینو کرامو زښت ډېر تعریفونه لیکلي دي؟

مونږ وایو چې: د دې اصلي وجه دا ده چې د قومونو او منطقو په لحاظ باندې رواجونو او دودونو توپیر درلود او هر چا په خپل کتاب کښې خپل معلومات لیکلي دي چې یوه قوم یا یوې منطقې پورې به یې ارتباط درلود.

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۹۹

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۵۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٠٥ ﴾

[۱۰۵] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! په تاسو باندې خپل ځانونه (ساتل) لازم دي، تاسو ته به هغه خلک ضرر ونه رسوي چې ګمراه شوي دي (البته) په هغه وخت کښې چې تاسو پخپله په سمه لاره باندې روان یاست، خاص الله ﷻ ته ستاسو ټولو رجوع ده، نو په هغه شي باندې به مو خبر کړي کوم چې تاسو لګیا یاست چې کوئ یې.

## ارتباط

په وړاندې ایت شریف کښې الله ﷻ مؤمنان په اشارې سره پوه کړي وه چې تاسو بې دینانو او کافرانو ته دعوت ورکړئ: ﴿ وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ﴾ نو څه لرې نه ده چې د چا په زړه کښې تېر شوي وي او یا تېر شي چې که هغوی زمونږ دعوت قبول نه کړ نو د هغوی په کفریاتو باندې به مونږ نیولی کېږو او که څنګه؟ نو همدغه شبه ذکر شوي ایت شریف جوابه کړه.

## شان نزول

۱ـ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه د یوه اوږده حدیث په ضمن کښې روایت دی چې کله نبي کریم ﷺ د اهل الکتابو څخه جزیه قبوله کړه حال دا چې د مشرکانو په باره کښې یې فیصله کړې وه چې د دوی سره به یا مقاتله (جنګ) روان وي او یا به اسلام قبلوي.

نو منافقانو همدغه موضوع د پروپاګند دپاره پلمه جوړه کړه چې عجیبه کار دی نبي کریم ﷺ د اهل الکتابو څخه په جزیه قبلولو باندې د جنګ څخه لاس اخلي او د مشرکانو څخه جزیه نه قبلوي، حال دا چې دواړه ډلې د ده د دین څخه مخالفې دي؟

نو دغه پروپاګند په مسلمانانو باندې ډېر دروند تمام شو «فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: ﴿ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡ ﴾ الآية»[۱] نو الله ﷻ ذکر شوی ایت شریف نازل کړ.

۲ـ ابن زید علیه الرحمة وایي: چې کله به څوک په اسلام باندې مشرف شو نو منافقانو به ویل چې تا خو خپلو پلرونو ته د ګمراهۍ نسبت وکړ، تاته په کار وه چې د هغوی د مسلک تائید دې کړی وی او بل دین ته نه وی اوښتی. یعني: دا خبره په مسلمانانو باندې سخته تمامېده، نو الله ﷻ د دوی داطمنان دپاره ذکر شوی ایت شریف نازل کړ[۲].

## د مطلب خلاصه

یعني: ای مؤمنانو! کله چې تاسو په خپله سمه لاره باندې روان یاست او د نورو خلکو (فاسقانو

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۴۲
(۲) زاد المسیر ج۲ ص۳۳۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او کافرانو) د لاربښوونې دپاره مو خپله دنده هم ترسره کړې وي نو بیا مه د منافقانو د پروپاګند پروا لرئ او مه درسره دا خطره ساتئ چې د هغوی په ګناه باندې به تاسو ونیولی شئ او هغه به تاسو ته ضرر وکړي.

خبره داسې نه ده، بلکې خبره داسې ده چې تاسو ټول به د قیامت په ورځ د الله ﷻ حضور ته ورتولېږئ او هلته به مو الله ﷻ په هغه څه باندې خبر کړي چې تاسو کړي وي، که څه هم تاسو پرې خپل ځانونه کاڼه اچولي وي چې مونږ خو د سره خبر نه یاستو چې فلانی ګناه به مو کړې وي، او یا ربښتیا ستاسو ځخه هېر وي چې مونږ لا فلانی نیکي هم کړې ده؟

## توضیحات

۱_ مونږ د دعوت په باره کښې د [آل عمران:۱۰۴] ایت لاندې ګڼور مطالب لیکلي دي چې بیا لیکلو ته یې حاجت نه ګورو، لکه د دعوت طریقه، د دعوت مراحل او بالآخره دا خبره چې دعوت فرض عین دی او که فرض کفایي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: ایا د دې جملې ﴿ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡ ﴾ ځخه دا نه معلومېږي چې دعوت فرض نه دی؟

مونږ وایو چې:

الف: ځینو مفسرینو کرامو د عبد الله بن مبارک علیه الرحمة د خولې ځخه لیکلي دي چې دا ایت شریف په امر بالمعروف او نهي عن المنکر باندې ډېر قوي دلیل دی او دا ځکه چې د ﴿ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡ ﴾ معنی دا ده چې په تاسو باندې لازمه ده چې خپل ځانونه په لاره باندې برابر کړئ[۱]، یعنې: خپل دیني ورونه د دعوت لاندې ونیسئ، د خپلو دیني ورونو ځخه په ﴿أَنفُسَكُمۡ ﴾ سره تعبیر شوی دی لکه چې الله ﷻ مهرباني کوي چې: ﴿ وَلَا تَلۡمِزُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ ﴾ [الحجرات:۱۱] او تاسو د خپلو ځانونو عیب مه وایاست. یعنې: د خپلو دیني ورونو عیب مه بیانوئ.

ب: د ذکر شوي سوال جواب په ﴿ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡ ﴾ جمله کښې پټ دی. یعنې: تاسو ته د نورو خلکو د جنایتونو ضرر نه رسېږي خو په هغه وخت کښې چې تاسو لاره موندونکي یاست چې خپله غاړه مو په امر بالمعروف او نهي عن المنکر باندې خلاصه کړې وي، که نه نو بیا خو په تاسو باندې د ﴿ إِذَا ٱهۡتَدَيۡتُمۡ ﴾ جمله نه صادقېږي.

د همدې مضمون د اثبات دپاره لاندې دلایل ولولئ:

اول: ابو ثعلبه الخشني رضی الله عنه په یوه اوږده حدیث کښې وایي چې ما د نبي کریم ﷺ ځخه د ذکر شوي ایت په باره کښې پوښتنه وکړه نو هغه راته وفرمایل چې: تر هغه امر بالمعروف او نهي عن المنکر

---

[۱] التفسیر الکبیر ج۱۲ ص۱۱۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوئ «حَتَّى إِذَا رَأَيْتَ شُحًّا مُطَاعًا وَهَوًى مُتَّبَعًا وَدُنْيَا مُؤْثَرَةً وَإِعْجَابَ كُلِّ ذِي رَأْيٍ بِرَأْيِهِ فَعَلَيْكَ بِخَاصَّةِ نَفْسِكَ وَدَعِ الْعَوَامَّ»[1] یعنې: ترڅو چې کله ته سخت بخل وګورې چې اطاعت یې کېږي، او نفساني خواهشات وګورې چې پیروي یې کېږي، او دنیا وګورې چې غوره کېږي، او (وګورې چې) د هر فکر خاوند ته خپل فکر (نظر) ښه ښکاري، نو په تاباندې خاص د خپل ځان ساتنه لازمه ده او (په دغه وخت کښې) عوام پرېږده (چې خپله غاړه دې خلاصه کړې ده او څوک دې خبره نه مني).

دوهم: عبد الله بن مسعود ﷺ په ذکر شوي ایت کښې فرمایلي دي چې: «قُولُوهَا مَا قُبِلَتْ مِنْكُمْ فَإِذَا رُدَّتْ عَلَيْكُمْ فَعَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ» یعنې: ذکر شوی ایت خلکو ته قرائت کوئ او د بدو کارونو څخه یې پرې رامنعه کوئ ترڅو چې ستاسو څخه قبلېږي، کله چې په تاسو باندې بېرته درتاو کړی شو نو بیا درباندې فقط د خپلو ځانونو حفاظت لازم دی، چې په دغه وخت کښې به د فاجرانو غلبه وي او دعوت ته به څوک غوږ نه ږدي. لکه چې همدغه حال په سلفو صالحینو باندې د حجاج بن یوسف په زمانه کښې ورغلی وه، حتی چې یو خلې نوموړی د جمعې په ورځ په ممبر باندې وختوت او په یو او بل پسې یې پروپاګند کاوه، آن تردې چې لمر زیړی زیړی شو نو بیا یې د جمعې لمونځ وکړ او ورپسې یې د مازدیګر لمونځ اداء کړ او بالآخره بیا یې دستي د ماښام لمونځ وکړ، درې واړه لمونځونه یې په یوه وخت کښې وکړه خو سلفو صالحینو یوه هم اواز نه شو پورته کولی چې داسې ولې کوې[2]؟!.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ شَهَٰدَةُ بَيۡنِكُمۡ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ حِينَ ٱلۡوَصِيَّةِ ٱثۡنَانِ ذَوَا عَدۡلٖ مِّنكُمۡ أَوۡ ءَاخَرَانِ مِنۡ غَيۡرِكُمۡ إِنۡ أَنتُمۡ ضَرَبۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَأَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةُ ٱلۡمَوۡتِۚ تَحۡبِسُونَهُمَا مِنۢ بَعۡدِ ٱلصَّلَوٰةِ فَيُقۡسِمَانِ بِٱللَّهِ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ لَا نَشۡتَرِي بِهِۦ ثَمَنٗا وَلَوۡ كَانَ ذَا قُرۡبَىٰ وَلَا نَكۡتُمُ شَهَٰدَةَ ٱللَّهِ إِنَّآ إِذٗا لَّمِنَ ٱلۡأٓثِمِينَ ﴿١٠٦﴾ فَإِنۡ عُثِرَ عَلَىٰٓ أَنَّهُمَا ٱسۡتَحَقَّآ إِثۡمٗا فَـَٔاخَرَانِ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا مِنَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَحَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَوۡلَيَٰنِ فَيُقۡسِمَانِ بِٱللَّهِ لَشَهَٰدَتُنَآ أَحَقُّ مِن شَهَٰدَتِهِمَا وَمَا ٱعۡتَدَيۡنَآ إِنَّآ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠٧﴾ ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يَأۡتُواْ بِٱلشَّهَٰدَةِ عَلَىٰ وَجۡهِهَآ أَوۡ يَخَافُوٓاْ أَن تُرَدَّ أَيۡمَٰنُۢ بَعۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡمَعُواْۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ﴿١٠٨﴾ ﴾

(١) جامع الترمذي ج٢ ص١٣٦
(٢) احكام القرآن للجصاص ج٢ ص٤٨٨

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۰۶] ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! ستاسو د منځ شاهدي چې ده، کله چې ستاسو کوم یوه ته مرګ ورحاضر شي (او پوه شي چې نور مړ کېږم)، د وصیت کولو په وخت کښې (شاهدي) د دوه کسانو ده، چې ستاسو د جملې څخه د عدل (انصاف) خاوندان وي.

یا د نورو دوه کسانو (شاهدي ده) چې ستاسو څخه غیر وي (مسلمانان نه وی) که چرته تاسو په ځمکه کښې سفر کاوه نو د مرګ مصیبت تاسو ته ورسېد (نژدې وه چې دروړسېږي او هلته مو مسلمانان شاهدان مونده نه کړه).

ذکر شوي دواړه شاهدان به (مسلمانان وي او که کافران) د مازدیګر د لمانځه څخه وروسته را ایسار کړئ، نو دوی به په الله ﷻ سره (په دې شرط) قسم وکړي که چرته تاسو (ورباندې) څه شک ولرئ (داسې قسم چې) مونږ په دې قسم باندې څه پیسې نه اخلو (په ناحقه قسم نه کوو) که څه هم هغه (څوک چې مونږ د هغه دپاره قسم کوو زمونږ) د قرابت خاوند وي، او مونږ د الله ﷻ شهادت نه پټوو، یقیناً مونږ به په دغه وخت کښې (چې یا د قرابت مراعات وکړو او یا د الله شاهدي پټه کړو) خامخا د ګناهګارانو څخه یاستو.

[۱۰۷] نو که چېرې (خبرتیا) مونده کړی شوه چې یقیناً دوی دواړه ګناه لره مستحق شوي دي (شاهدي یې په ناحقه ویلې وه)، نو دوه نور سړي دې د دوی دواړو په ځای باندې (د قسم کولو دپاره) ودرېږي، (داسې دوه سړي) چې د هغو کسانو څخه وي په کومو باندې چې قسم کول حق ګرځېدلی دی (قسم ورته راجع شوی دی. دغه دوه کسان به څوک وي؟ دوی به مړي ته نژدې دوه وارثان وي).

نو دوی دواړه به په الله ﷻ باندې قسم وخوري چې خامخا زمونږ شهادت (قسم) د هغوی د شهادت (قسم) څخه ښه درست دی (چې هغه په ناحقه وه او زمونږ په حقه دی) او مونږ تجاوز نه دی کړی. یقیناً مونږ به په دغه وخت (د تجاوز کولو په حال) کښې ضرور د ظالمانو څخه یاستو.

[۱۰۸] دا (طرز العمل) دې ته نژدې دی چې دوی به خپله څېره باندې شاهدي (خبرتیا) وړاندې کړي، یا (دې ته نژدې دی) چې دوی د دې څخه وډار شي چې سوګند به یې د سوګند خوړلو څخه وروسته مسترد کړی شي.

او د الله ﷻ څخه وډار شئ او (ارشادات یې) واورئ (قبول کړئ)، او الله ﷻ فاسق قوم ته هدایت نه کوي (چې د هدایت پلټنه نه کوي).

## ارتباط

وړاندې ایت شریف په دې تمام شوی وه چې خاص الله ﷻ ته به ټول ورټولېږي او هغه ﷻ به ټولو ته عملنامې په لاسونو کښې ورکړي، په دې ایتونو کښې یوې قیصې ته اشاره شوې ده چې دوه کسانو غلا کړې وه او الله ﷻ په دنیا کښې رسوا کړه، د آخرت رسوایي خو لا پاتې ده، نو د الله ﷻ څخه په هر حال (پټ او ښکاره) ډار په کار دی.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## شان نزول

که څه هم تقریبًا ټول علماء کرام متفق دي چې ذکر شوي ایتونه د دوه نصرانیانو (تمیم الداري، عدي بن بداء) او د یوه مسلمان په باره کښې نازل شوي دي[1]، مګر په ځینو جزیاتو کښې یې اختلاف شته دی، مثلًا:

١ـ د مسلمان سړي نوم ځینو "بُدَیل" ښودلی دی او ځینو "بُزَیل". په هر تقدیر دغه مسلمان سړی د "سهم" د قبیلې څخه وه.

٢ـ همدارنګه په ځینو روایتونو کښې لیکلي شوي دي چې دواړو نصرانیانو چې د مسلمان سړي جام یې غلا کړی وه هغه په مکه معظمه کښې ښکاره شو، چې بالآخره په دواړو غلا ثابته شوه، او ځینې روایات وایي چې تمیم الداري چې کله په اسلام باندې مشرف شو، نو د دې دپاره چې د ګناه څخه خلاص شي په خپله خوښه یې د غلا شوي سرو زرو جام نیم قیمت "پنځه سوه درهمه" د مسلمان سړي وارثانو ته ورکړ چې ټول قیمت یې یو زر درهمه وه[2]، او خپل ځان یې د ګناه څخه خلاص کړ.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د تمیم الداري ﷺ په اسلام باندې مشرف کېدل ثابت دي مګر دا نه ده ثابته چې د ده ملګری (عدي بن بدّاء) به په اسلام باندې مشرف شوی وي، که څه هم ځینو متاخرینو دا هم په صحابه وو کښې حساب کړی دی[3].

٣ـ ذکر شوی جام په ځینو روایتونو کښې د سپینو زرو څخه او په ځینو کښې د سروزرو څخه جوړ ښودلی شوی دی[4]، مګر اصلًا جام د سپینو زرو څخه جوړ وه خو نقش او سنګار یې د سرو زرو څخه تیار کړی شوی وه.

په هر تقدیر، مونږ غواړو چې ذکره شوې قیصه د هغه روایت په بنیاد واضحه کړو چې الامام البخاري علیه الرحمة ورته اشاره کړې ده[5]. قیصه داسې وه چې:

الف: تمیم الداري او عدي بن بدّاء (چې دواړه نصرانیان وه) او هم بُزَیل یا بُدَیل السهمي ﷺ (چې مسلمان وه) درېواړه د مدینې منورې څخه د شام په سفر باندې د تجارت دپاره لاړه.

بُزَیل یا بُدَیل ﷺ چې څه درلوده د هغو ټولو نوملیک یې د خپلو سامانونو په پټ ځای کښې ایښې وو. بله ورځ بُزَیل یا بُدَیل ﷺ مریض شو او خپلو دواړو ملګرو ته یې وصیت وکړ چې که زه مړ شوم نو دغه سامان به زما وارثانو ته ورسوئ، او په همدې وصیت باندې یې دواړه شاهدان وټاکل.

ب: کله چې نوموړی وفات شو نو دواړو ملګرو یې سامان تالاشي کړ، ګوري چې د سرو زرو یو جام هم په سامان کښې شامل دی چې وزن یې درې سوه مثقاله سرو زرو ته رسېده، مګر دوی دواړه

---

(١) اسباب النزول للواحدي ص١٤٢؛ اللباب في علوم الكتاب ج٧ ص٥٦٣
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص١٣٦
(٣) المحرر الوجيز ج٥ ص٢١٨
(٤) تفسير الخازن ج٢ ص٣٦٢
(٥) صحيح البخاري ج١ ص٣٩٠

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د سامان په نوملیک باندې رانده کانه شوه چې بُزَیل یا بُدَیل ﷺ مرحوم پکښې غلی کړی وه.

دواړو په مشورې سره د سامان څخه ذکر شوی جام غلا کړ او په یو زر درهمه باندې یې خرڅ کړ چې د هر یوه برخه پنځه سوه درهمه شوه، او متباقي سامان یې د بېرته راتګ په وخت کښې د مرحوم خپلوانو ته په مدینه منوره کښې وسپاره.

ج: د مرحوم وارثانو ته په سامان کښې د مرحوم کاغذ هم لاس ته ورغی چې په هغه کښې د سرو زرو د جام ذکر هم وه، دوی د مرحوم د ملګرو څخه د جام پوښتنه وکړه چې په کاغذ کښې شته او په سامان کښې نشته، خو هغوی دواړو ترې انکار وکړ چې مونږ د جام څخه خبر نه یاستو او څه یې چې مونږ ته سپارلي وه هغه مو تاسو ته درکړي دي.

لانجه د نبي کریم ﷺ حضور ته ورغله چې د استنطاق په وخت کښې دوی دواړو انکار وکړ، نو نبي کریم ﷺ دواړو ته قَسم ورکړ چې تاسو دواړو جام نه دی غلا کړی او هیڅ علم ورباندې نه لرئ چې څه شو؟ دواړو په همدې مضمون قَسم وکړ او لانجه ختمه شوه او د مرحوم وارثان د خپلې دعوې څخه تېر شوه.

د: بله ورځ ذکر شوی جام په مکه معظمه کښې د چا په لاس کښې ښکاره شو، کله چې د هغه څخه پوښتنه وشوه چې دا دې د کومه کړی دی، هغه جواب ورکړ چې دا مې د تمیم الداري او عدي بن بداء څخه په یو زر درهمه باندې رانیولی دی.

کله چې د مرحوم وارثان د جام په کیفیت باندې خبر شوه نو خپله دعوه یې بیا د سره پیل کړه چې د مرحوم ملګرو په دروغو باندې قَسم کړی وه، جام خو دواړو غلا کړی دی او د مکې معظمې په یوه اوسېدونکي باندې یې خرڅ کړی دی.

ﻫ: د تحقیق په جریان کښې د مرحوم ملګرو دعوه وکړه چې جام خو مونږ د مرحوم څخه خریداري کړی وه او بیا مو په یو زر درهمه باندې خرڅ کړ، خو په ړومبي تحقیق کښې مونږ څکه دا خبره ښکاره نه کړه چې مونږ شاهدان نه درلوده او په ثبوت مو نه شوه رسونې.

و: نو نبي کریم ﷺ د مرحوم دوه نژدې وارثان راوغوښتل چې اوس تاسو دواړه قَسم وکړئ، څکه چې دا خل تاسو د جام د خریدارۍ څخه انکار کوئ او قَسم په منکر کس باندې دی.

نو دواړو قَسمونه وکړه چې ذکر شوی جام هغوی دواړو نه دی خریداري کړی او د هغوی دواړو د قَسمونو څخه زمونږ دواړو قَسمونه بهتر دي، څکه چې هغوی په دروغو قَسمونه کړي وه او حق یې د پښو لاندې کړی وه او مونږ رښتیا وایو او حق راژوندی کوو.

## توضیحات

۱ـ څرنګه چې د ذکرو شوو ایتونو د اکثرو مطالبو بیان د شان نزول په قیصه کښې تېر شو، نو د همدې کبله مو په توضیحاتو باندې پیل وکړ او د خپل عادت په مطابق مو د (مطلب خلاصه) عنوان ونه لیکه.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## شَهَادَة څه معنی؟

۲_ د ﴿ شَهَٰدَةُ ﴾ کلمه په قرآن کریم په څو متعددو معناوو باندې استعماله شوې ده[۱]، لکه حضور، اقرار، حکم کول او بالآخره قسم کول، مګر په دې مقام کښې علماء کرام پکښې په لاندې دوو اختلاف لري:

الف: ځینې وايي چې دلته په معنی د قسم سره ده، لکه چې په ذکر شوي دوهم ایت کښې د قسم په معنی باندې استعماله شوې ده چې: ﴿ فَيُقْسِمَانِ بِٱللَّهِ لَشَهَٰدَتُنَآ أَحَقُّ مِن شَهَٰدَتِهِمَا ﴾[۲].

مګر دا معنی په دې مقام کښې مناسبه نه ده، ځکه چې متبادره نه ده او ترڅو پورې چې متبادره معنی صحت ولري باید چې غیر متبادره معنی مراده نه کړی شي.

هو! په ذکر شوي دوهم ایت کښې رښتیا چې شهادت د قسم په معنی سره دی خو هلته ورسره قرینه ذکره ده، چې د ﴿ فَيُقْسِمَانِ ﴾ کلمه ده.

ب: اکثره علماء وايي چې دلته د ﴿ شَهَٰدَةُ ﴾ کلمه په خپله متبادره معنی سره ده[۳]. د "شَهَادَة" د کلمې متعارفه او متبادره معنی دا ده چې: "إِخْبَارُ صَادِقٍ لِإِثْبَاتِ حَقٍّ بِلَفْظِ الشَّهَادَةِ فِي مَجْلِسِ الْقَضَاءِ"[۴] یعنې: چې یو رښتیا ویونکی سړی د یوه حق د اثبات دپاره د قضاء په مجلس کښې د شهادت په لفظ سره خبر ورکړي چې زه شاهدي وایم چې دا خبره چې زه یې وایم، حقه ده.

او په حقوق العباد کښې یې په خاصه توګه داسې تعبیر کوو چې: "الشَّهَادَةُ هُوَ الْإِخْبَارُ عَنْ كَوْنِ مَا فِي يَدِ غَيْرِهِ لِغَيْرِهِ"[۵] یعنې: شهادت دې ته وايي چې سړی په أشهد سره خبر ورکړي چې هغه څیز چې د بل سړي په لاس کښې دی د هغه خپل نه دی او زما هم نه دی، بلکې د بل چا دی.

د ښه وضاحت دپاره د لاندې څلورو کلمو تعریفونه ولولئ:

اول: "شَاهِدْ" هغه چا ته وايي چې د بل چا دپاره د بل چا په لاس کښې شي باندې د أشهد په کلمه باندې إخبار وکړي.

دوهم: "مُقِرْ" هغه چا ته وايي چې د خپل لاس په شي باندې د بل چا دپاره خبر ورکړي.

دریم: "مُدَعِي" هغه چا ته وايي چې د بل چا د لاس شی خپل ځان ته نسبت کړي.

څلورم: "مُدَعَى عَلَيْهِ" هغه څوک دی چې د خپل لاس شی د خپل ځان دپاره نسبت کړي خو بل څوک یې ورسره نه مني.

پنځم: "مُزَكِّي" هغه چا ته وايي چې د بل چا د لاس شی همغه ته ورانتساب کړي چې دا شی د همده خپل دی.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۶ ص۴۴۷
(۲) تفسیر الطبري ج۵ ص۱۰۲
(۳) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۴۸۹
(۴) الفقه الإسلامي وأدلته ج۶ ص۵۵۶
(۵) بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع ج۶ ص۲۶۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای مؤمنانو! ستاسو په منځکښې همدا ستاسو د جملې (مسلمانانو) څخه د دوه وو عادلانو شهادت د اعتبار وړ دی، البته کله چې تاسو ته مرګ حاضر شي او د وصيت کولو وخت درورسېږي، نو تاسو ته په کار دي چې په خپل وصيت باندې دوه مسلمانان عادلان شاهدان ودروئ او دريم سړي ته وصيت وکړئ او که دريم سړی نه وه همدغه دوه نفره هم شاهدان جوړ کړئ او هم وصيان.

هو! که تاسو په سفر باندې ياست او د مرګ د مصيبت سره مخامخ شئ، نژدې وي چې وفات شئ، خو دوه مسلمانان عادلان په لاس درنه شي چې په خپل وصيت باندې يې شاهدان جوړ کړئ، نو بيا ستاسو د مسلمانانو څخه په غير د کافرانو څخه د شاهدانو کار واخلئ.

## ايا په مسلمان باندې د کافر شاهدي صحت لري؟

۳ـ په دې مقام کښې الله ﷻ د ﴿ أَوْ ءَاخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ ﴾ کلمې رانازلې کړې او د ايت شريف متبادره معنی دا ده چې د ﴿ مِنْ غَيْرِكُمْ ﴾ څخه کافران مراد شي ځکه چې د ايت په سر کښې الله ﷻ ټول مؤمنان مخاطب کړي دي چې: ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ او د ﴿ بَيْنِكُمْ ﴾، ﴿ أَحَدَكُمُ ﴾، ﴿ مِّنكُمْ ﴾ ټولې کلمې د مؤمنانو څخه عبارت دي، نو معلومه شوه چې د مخاطبينو څخه په غير بل څوک نه دي مګر کافران دي.

۴ـ که څوک وايي چې: ايا د کافر شاهدي په مسلمان باندې جائزه ده حال دا چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَٱسْتَشْهِدُوا۟ شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْ ﴾ [البقرة: ۲۸۲] يعني او تاسو دوه شاهدان ونيسئ د خپلو نارينه وو څخه، يعني د مسلمانانو څخه. لکه چې همدا د جمهورو علماوو نظر دی غير د حنابله وو څخه[۱].

مونږ وايو چې:

الف: ځينو مفسرينو کرامو د همدغه سوال د کبله د ﴿ مِنْ غَيْرِكُمْ ﴾ معنی په "مِنْ غَيْرِ قَبِيْلَتِكُمْ" سره کړې ده[۲]، يعني: اول خو تاسو شاهدان د خپلو اقاربو او خپلو قوميانو څخه ودروئ او که نه نو بيا يې د پرديو څخه جوړ کړئ.

مګر دا جواب غير متبادر دی او لکه چې لږ وړاندې ذکر شو د ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾ د مقتضی څخه مخالف دی.

ب: د ﴿ مِنْ غَيْرِكُمْ ﴾ معنی همدا ده چې که تاسو مسلمانانو موجوديت نه درلود نو بيا د کافرانو څخه دوه شاهدان په خپل وصيت باندې ودروئ[۳].

پاتې شوه دا خبره چې د کافرانو خو په مؤمنانو باندې شاهدي نشته، د دې جواب دا دی چې د

---

(۱) الفقه الإسلامي وادلته ج۶ ص۵۸۶
(۲) التفسير الكبير ج۱۲ ص۱۱۵
(۳) تفسير الطبري ج۵ ص۱۰۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"البقرة" د سورت ذكر شوی ايت په نزول كښې وروستنی ايت دی نو په وصيت كښې د كافرانو شاهدي په مؤمنانو باندې نسخه شوې ده.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ كه څوک وايي چې: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې دا سورت (المائدة) د قرآن كريم وروستنی نازل شوی سورت دی «إِنَّهُ لا مَنْسُوخَ فِيهَا»[۱] او په دې سورت كښې منسوخ حكم نشته؟

موږ وايو چې: د سورت د وروسته نازلېدلو څخه دا نه لازمېږي چې ټول ايتونه دې وروسته نازل شوي وي، نو څه لرې نه ده چې د المداينې ايت [البقرة: ۲۸۲] د دې سورت د ذكر شوي ايت څخه وروسته نازل شوی وي او بيا د "المائدة" سورت تكميل شوی وي[۲].

برسېره پر دې، د صحابي ﷺ نظر خو د قرآن كريم د ايت شريف مقاومت نه شي كولی نو كله چې په ايت كښې د كافر شاهدي په مسلمان باندې نسخه شي نو موقوف حديث خو معمول نه شي ګرځېدلی.

## تبصره

۶_ كله چې سړی د قرآن كريم ايتونو او د دواړو جانبو دلايلو ته په دقت سره وګوري نو داسې ښكاري چې په دې مقام كښې د احمد بن حنبل عليه الرحمة نظر د تائيد وړ دی، چې د كافرانو شهادت په خاصه موضوع (وصيت) كښې، په خاص وخت كښې (چې مسلمانان موجوديت ونه لري) په مسلمانانو باندې جائز دی. ځكه چې:

الف: د عمومي قانون سره د يوې خاصې موضوع وتل څه منافات نه لري، لكه چې عموماً د معاملاتو دپاره دوه شاهدان ضرور دي، مګر د خزيمه ﷺ شهادت د دې قانون څخه وتلی وه چې يوازې د ده شهادت د دوه وو شاهدانو د شهادت سره برابر وه[۳].

ب: د نسخې دپاره دا ضرور ده چې د دوه وو نصوصو مفاهيم سره منافات ولري او د وړاندې او وروسته تاريخ په احتمال سره نه بلكې په قطعي توګه ثابت وي او دلته په قطعي توګه نه دی ثابت.

ج: علاوه په دې، د ضرورت په وخت كښې د مردارې خوراک هم جائز دی، لكه چې وايي: "الضَّرُورَاتُ تُبِيحُ الْمَحْظُورَاتِ" يعني: ضرورتونه ممنوع شيان هم مباح جوړوي.

نو كله چې يو مسلمان د كافر شهادت ته مجبور شي او مال يې ضائع كېږي، څه لرې نه ده چې د كافر وصي يا شاهد دروغ په ورته مباح وي.

د: يو ځل يو سړی په "دَقُوقَاء" نومې مقام كښې د مرګ په مرض باندې مريض شو او مسلمانان يې مونده نه كړه چې په خپل وصيت باندې يې شاهدان ودروي، نو د مجبورۍ د كبله يې د اهل

---

(۱) تفسير القرطبي ج۶ ص۳۵۰
(۲) احكام القرآن للجصاص ج۲ ص۴۹۱
(۳) سنن ابي داود ج۲ ص۱۵۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الکتابو څخه دوه نفره شاهدان ونیول، دغه دواړه اهل الکتاب (کافران) کوفې ته راغله او هلته یې ابو موسی الأشعري ﷛ ته شاهدي او وصیت نامه او بالآخره متروک (پاتې شوی) مال وړاندې کړ.

نو نوموړي صحابي ﷛ وویلې چې: دا اول ځل دی چې د نبي کریم ﷺ د زمانې یوه واقعه تکرارېږي (د شان نزول قیصې ته یې اشاره وکړه). نو د ایت شریف حکم سره سم یې د مازدیګر د لمانځه څخه وروسته دواړو اهل الکتابو ته قسم ورکړ چې: ستاسو دې په الله ﷻ قسم وي چې په دغه وصیت کښې مو نه خیانت کړی دی، نه مو پکښې دروغ ویلي دي، نه مو تبدیل کړی دی نه مو ترې څه غلا کړې ده او بالآخره نه مو کوم شي ته پکښې تغیر ورکړی دی، او ستاسو دې قسم وي چې همدا د مرحوم وصیت دی او همدا یې ترکه ده. نو کله چې دواړو په ذکر شوي ډول سره قسم وکړ «فَأَمْضَىٰ شَهَادَتَهُمَا»[1] نو د دواړو شاهدي یې تېره کړه. یعنې: د اعتبار وړ یې وګڼله. نو که بالفرض ذکر شوی ایت نسخه شوی وی نو هغه به پرې عمل نه وی کړی.

## حَبس څه معنی؟

۷ـ د ﴿ تَحْبِسُونَهُمَا ﴾ کلمه د "حَبْس" څخه اشتقاقه شوې ده، په دې مقام کښې د "حَبْس" څخه بندي کول مطلب نه دي چې جنایتکاران ورباندې تعزیر کېږي، ځکه چې نبي کریم ﷺ نه بندیخانه درلوده او نه یې ذکرو شوو دواړو شاهدانو سره د بندیتوب عمل وکړ، بلکې مطلب دا دی چې را ایسار یې کړئ او د لمانځه څخه وروسته قسم ورکړئ چې درځخه لاړ نه شي ترڅو مو چې قسم نه وي ورکړي، البته په هغه صورت کښې چې تاسو د هغوی په شهادت کښې څه شک ولرئ.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وایي چې: په بل هیڅ ځای کښې شاهدانو ته قسم نه دی متوجه شوی نو په دې کښې څه حکمت دی چې دلته شاهدانو ته قسم متوجه کړی شو؟

مونږ وایو چې: دلته هم په شاهدانو باندې قسم نشته خو چې کله د خیانت د اشتباه لاندې راغله چې تاسو د مړي څه سامان غلا کړی دی او مونږ ته مو ټول سامان نه دی تسلیم کړی، لکه چې د ﴿ إِنِ ٱرْتَبْتُمْ ﴾ جمله ورباندې شاهدي وایي، نو په دې تقدیر دوی دواړه د دعوې لاندې راغله او دوی ترې انکار وکړ او منکر ته خو قسم راجع کېږي.

## دلته کوم یو لمونځ مراد دی؟

۹ـ څرنګه چې الله ﷻ د ﴿ مِنۢ بَعْدِ ٱلصَّلَوٰةِ ﴾ کلمه مطلقه نازله کړې ده، نو ځینو مفسرینو کرامو مطلق لمونځ مراد کړی دی، خو عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او څه نورو مشرانو د مازدیګر په لمانځه باندې تفسیره کړې ده، ځکه چې په دغه وخت کښې د خلکو ګڼه ګونه ډېره وي او د شپې او ورځې

---

[1] سنن ابي داوٗد ج۲ ص۱۵۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ملائک هم سره بدلېږي رابدلېږي(۱)، د همدې کبله ابو موسی الأشعري ؓ د مازدیگر د لمانځه څخه وروسته قسم ورکړ، لکه چې لږ وړاندې په شپږمه توضیح کښې تېر شو.

## عُثُور څه معنی؟

۱۰_ د "عُثِرَ" کلمه د "عُثُور" _لکه قبُول_ څخه اخستله شوې ده. که څه هم دا کلمه اصلاً د سقوط معنی ورکوي مگر د کنایې په توگه هغې خبرتیا ته عُثُور وایي چې بې د پلټنې څخه پرې سړی پوه شي(۲). نو د معنی حاصل یې داسې کېږي: که چرته پرته ستاسو د کوښښ څخه څرگنده شوه چې دواړو شاهدانو په دروغو باندې شاهدي تېره کړې وه، نو په کار دی چې د مړي د نژدې وارثانو څخه دوه نفره د هغوی دواړو په ځای باندې ودرول شي. او د مازدیگر د لمانځه څخه وروسته را ایسار کړی شي ترڅو دواړه قسمونه وخوري چې: پخوانیو شاهدانو دروغ ویلي وه او قسمونه یې په ناحقه کړي وه، زمونږ قسمونه د هغوی څخه بهتر دي چې فیصله وربانديې وکړی شي، مونږ تجاوز نه دی کړی، که نه نو مونږ به د ظالمانو د ډلې څخه یاستو.

## سوال جواب

۱۱_ که څوک وایي چې: نبي کریم ﷺ خلکو ته په یوه خطابه کښې وفرمایل چې: «الْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينُ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ»(۳) یعنې: شاهدان په دعوه کوونکي باندې دي او قسم په دعوه کړی شوي باندې دی چې د بل چا د دعوې لاندې راغلی وي او پخپله ترې منکر وي؛ نو پوښتنه دا ده چې په ذکره شوې مسئله کښې خو د مړي وارثان مدعیان دي نو په څه منظور دوی ته قسم متوجه کړی شو؟

مونږ وایو چې: لکه څنگه چې په شان نزول کښې واضحه شوې ده کله چې ورک شوی جام موندل شوه او دا ثابته شوه چې تمیم الداري او عدي بن بداء خیانت کړی دی، نو دوی دواړو دعوه وکړه چې ذکر شوی جام مونږ د مرحوم څخه په بیه باندې اخستی وه چې بیا مو په مکیانو باندې خرڅ کړی دی، او د مرحوم وارثانو د همدې خبرې څخه انکار وکړ، او منکر ته خو قسم راجع کېږي.

یا په بل عبارت: په اولنۍ دعوه کښې دواړه کسان مدعی علیهما وه او د مرحوم څخه د جام په خریدارۍ کښې دواړه مدعیان جوړ شوه، نو ځکه د دوی دواړو سره په دواړو ځایونو کښې مناسب چال چلند وکړی شو.

## دوه نحوي تحلیلونه

۱۲_ دا جمله ﴿ فَإِنْ عُثِرَ عَلَىٰٓ أَنَّهُمَا ٱسْتَحَقَّآ إِثْمًا ﴾ شرطیه ده، او دا جمله ﴿ فَـَٔاخَرَانِ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا مِنَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ ﴾ جزائیه ده، خو په دغې جزائیه جمله کښې مفسرینو کرامو

(۱) تفسیر القاسمي ج۶ ص۴۱۰
(۲) مفردات الراغب ص۳۲۳
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۲۴۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زښت ډېر تحلیلونه کړي دي[۱]، مګر مونږ ته لاندې دوه تحلیلونه بهتر ښکاري چې عبارتونه چندان تغیر نه خوري او مطلبي معنی لاس ته راځي.

## اول تحلیل:

الف: ﴿ فَـَٔاخَرَانِ ﴾ مبتدأ ده او ﴿ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا ﴾ يې خبر دی.

ب: ﴿ مِنَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ ﴾ د متعلق (ثابتان) په اعتبار سره د ﴿ فَـَٔاخَرَانِ ﴾ د کلمې دپاره صفت دی چې د مبتدأ توب دپاره يې جوګه کړې ده.

ج: ﴿ ٱسْتَحَقَّ ﴾ معلومه ماضي ده چې په معنی د حق سره ده، او د فاعل ضمیر پکښې مستتر دی چې هغه قَسم ته راجع دی چې په وړاندې ایت کښې وړاندې ﴿ فَيُقْسِمَانِ ﴾ دلالت کوي.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: نو نور دوه کسان دې د هغوی په ځای ودرېږي، البته د هغو کسانو څخه چې په هغوی باندې قَسم کول حق دي، چې د مړي نژدې وارثان دي.

## دوهم تحلیل:

په دې تحلیل کښې د اولني تحلیل اولنۍ دواړه نُکتې (الف، ب) په خپل ځای دي او یوازې دریمه نکته (ج) په لاندې ډول تغیر خوري:

ج: ﴿ ٱسْتَحَقَّ ﴾ معلومه ماضي ده چې د فاعل ضمیر پکښې مستتر دی او هغه ﴿ إِثْمًا ﴾ ته راجع دی چې په شرطیه جمله کښې مذکور دی.

د: ﴿ ٱسْتَحَقَّ ﴾ په معنی د "وَجَبَ" یا "ثَبَتَ" سره ده.

هـ: په ﴿ عَلَيْهِمُ ﴾ کښې د "عَلَى" کلمه په معنی د "فِي" سره ده، لکه چې په ﴿ عَلَىٰ مُلْكِ سُلَيْمَٰنَ ﴾ [البقرة: ۱۰۲] کښې د "فِي" معنی ورکوي.

نو د معنی لنډ مطلب يې داسې راوځي چې: که په هغوی دواړو کښې خیانت ثابت شو نو دوه سړي به د هغوی په ځای باندې قَسم ته ودرېږي، البته دا دوه سړي به د هغو خلکو څخه وي چې په هغوی کښې جنایتکارانو ته ګناه واجبه شوې وه چې په مال باندې يې تړې ګېډه اچولې وه.

### سوال جواب

۱۳ـ که څوک وايي چې: د ﴿ ٱلْأَوْلَيَانِ ﴾ کلمه په اعراب کښې څه شی واقع شوې ده؟

مونږ وايو چې:

اول: د ﴿ ٱلْأَوْلَيَانِ ﴾ کلمه د ﴿ فَـَٔاخَرَانِ ﴾ مبتدأ دپاره دوهم صفت ده چې په اولني صفت باندې مخصصه شوې ده او د مخصصې نکرې دپاره خو معرفه صفت واقع کېدلی شي[۲].

---

(۱) البحر المحیط ج۴ ص۳۹۷؛ روح المعاني ج۷ ص۵۰

(۲) تفسیر البغوي ج۲ ص۷۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: دغه کلمه د محذوفي مبتدأ دپاره خبر واقع کېږي، ته به وايې چې داسې عبارت نازل شوی دی چې: "مَنْ هُمَا، هُمَا الْأَوْلَيَانِ"[۱] يعنې: د وارثانو د جملې څخه به دا دواړه څوک وي، دا دواړه به مړي ته ډېر نژدې وارثان وي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۴ـ که څوک وايي چې: که مړي دوه کسان نژدې وارثان نه درلوده بيا بايد څنګه وکړي؟

مونږ وايو چې: دا د واقع بيان دی[۲] چې دوه تنو وصيانو قسم وکړ او هم دوه تنو وارثانو ته قسم ورکړی شو، که نه نو مسئله په دوه.وو تنو کښې منحصره نه ده، د حوادثو په اعتبار سره اختلاف قبلوي چې يا يو نفر قسم وکړي او يا يې درې تنه او لا زيات سوګند ته متوجه شي.

﴿يَوْمَ يَجْمَعُ اللَّهُ الرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَا أُجِبْتُمْ قَالُوا لَا عِلْمَ لَنَا إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿١٠٩﴾﴾

[۱۰۹] (ای پیغمبره!) داسې ورځ (وریاده کړه) چې الله ﷻ ټول پیغمبران راټول کړي نو (ورته) ووايي چې: څه شی دی هغه چې تاسو ته (د خپلو اُمتونو د پلوه) جواب درکړی شوی وه؟ دوی (پیغمبران) به ووايي چې مونږ لره هيڅ علم نشته (مګر هغه علم چې تا رابښودلی دی) يقيناً ته چې يې همدا ته په ټولو غيبو باندې پوه يې.

## ارتباط

د وړاندې ايتونو په اخر کښې الله ﷻ توصيه کړې وه چې د الله ﷻ څخه وډار شئ او د پيغمبرانو ارشادات د زړونو په غوږونو سره واورئ، په دې ايت کښې د ذکر شوې توصيې وجه بيانه شوې ده چې حاصل يې دا دی:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! مومنانو ته داسې ورځ ورياده کړه چې په هغې کښې يوازې دوی لا څه چې پيغمبران به هم د الله ﷻ د سوال جواب سره مخامخ شي چې: ای پيغمبرانو! د دعوت په دوران کښې تاسو ته د خپلو-خپلو اُمتونو د پلوه څه-څه جواب درکړی شو؟ يا په بل عبارت: ستاسو دعوت يې قبول کړ او که رد.

پيغمبران عليهم السلام به ووايي چې: ای زمونږ ربه! ستا د علم په مقابل کښې زمونږ علم هيڅ ارزښت نه لري، مونږ په هغه څه باندې پوهېږو چې تا رابښودلي دي، ستا علم اصلي او کامل دی او زمونږ علم عارضي او ناقص دی، مونږ په غيبو باندې نه پوهېږو او ته علام الغيوب يې.

(۱) تفسير الکشاف ج۱ ص۶۸۸
(۲) تفسير ابي السعود ج۳ ص۹۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لنډه دا چې زمونږ ناقص علم د هغو شيانو څخه هاغه خوا او دې خوا نه تېرېږي کوم چې زمونږ په وړاندې وه، او تا ته وړاندې او ېرته هيڅ تفاوت نه لري، هر څه درته معلوم دي.

## توضيحات

۱_ د قيامت په ورځ لکه چې د هر پيغمبر د أمتيانو څخه پوښتنه کېږي، همدارنګه هر يو پيغمبر هم د استنطاق لاندې نيولی کېږي، الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ [الأعراف:۶] يعنې: نو خامخا هرو مرو به د هغو کسانو څخه پوښتنه وکړو چې دوی ته (پيغمبران) ورلېږل شوي وه، او خامخا هرو مرو به د لېږلو شوو (پيغمبرانو) څخه هم پوښتنه وکړو.

مګر د پيغمبرانو عليهم السلام استنطاق به د کافرانو او بې دينانو د تخجيل دپاره وي ترڅو د دوی (کافرانو) د اعتذار خوله بنده شي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: الله ﷻ خو د پيغمبرانو په حالاتو کښې فرمايي چې دوی به د قيامت په ورځ په خپلو خپلو أمتونو باندې شاهدي وايي چې: ﴿ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍۭ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰٓؤُلَآءِ شَهِيدًا ﴾ [النساء:۴۱] يعنې: نو په هغې ورځ به څه حال وي چې مونږ د هر أمت څخه (په دوی باندې) شاهد راولو او تا هم په دغو (محمدي ﷺ أمت) باندې د شاهد په حيث راولو؟. نو پوښتنه دا ده چې: ايا دا ايت ﴿ لَا عِلْمَ لَنَآ ﴾ د هغه ايت سره منافات نه لري؟

مونږ وايو چې: مفسرينو کرامو د ﴿ لَا عِلْمَ لَنَآ ﴾ جملې دپاره زښت ډېر تفسيرونه کړي دي، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: پيغمبران عليهم السلام به د خپلو ځانونو څخه حقيقي او محيط علم نفي کړي او وبه وايي چې په ټولو حقائقو باندې محيط علم همدا ستا دی او بس[1].

مګر دا جواب راته کمزوری ښکاري، ځکه چې الله ﷻ خو به د پيغمبرانو عليهم السلام څخه د بشري علم پوښتنه کوي نه د حقيقي او محيط علم.

ب: دا پوښتنه به په ډېر هولناک وخت کښې مطرحه شي چې د پيغمبرانو څخه به هم وړاندې ېرته غلط وي او هيبت به نيولي وي[2].

مګر دا جواب هم کمزوري لري، ځکه چې الله ﷻ ته أميد دی چې، په پيغمبرانو باندې به داسې حالت ورنه ولي چې وړاندې او ېرته ترې غلط شي او هرڅه يې هېر شي، او که بالفرض داسې حالت ورباندې ورشي نو أميد دی چې په همدې موقع به ورته دا سوال راجع نه کړي چې: ﴿ مَاذَآ أُجِبْتُمْ ﴾ نو تاسو ته څه جواب درکړی شو.

---

[1] تفسير القرطبي ج۶ ص۳۶۱

[2] التفسير الكبير ج۱۲ ص۱۲۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د خپلو خانو څخه د علم نفي كول يو ډول شكايت دى چې: اى ربه! د دغو جنايتكارانو په جنايتونو باندې همدا ته ډېر ښه پوهېږې دوى ته مناسبه جزا وركړه[1].

دا تفسير هم مزه ناک نه دى، ځكه چې دلته خو د ټول أمت خبره مطرحه ده چې صالحان او جنايتكاران ټول پكښې شامل دي، كه بالفرض يوازې د بدانو خبره مطرحه وى نو ذكر شوي جواب به مزه كړې وى.

د: مونږ ته هغه تفسير ډېر ښه ښكاري چې د رئيس المفسرين (ابن عباس رضي الله عنهما) د پلوه روايت شوى دى[2] چې: اى ربه! زمونږ علوم ستا د علم پلوشې دي، مونږ سره داسې علوم نشته چې هغه ستا سره نه وي، تاته د ټولو خلكو جوابونه ډېر ښه معلوم دي چې مونږ ته يې هو ويلى دى او كه نه.

دا جواب ځكه ښه دى چې:

اول: دا تفسير د پيغمبرانو عليهم السلام د مؤدبانه شان سره ډېر ښه مناسب دى.

دوهم: دا تفسير د عيسى عليه السلام د جواب سره ښه پيوند لري چې په راتلونكې [١١٦] ايت كښې راروان دى چې: اى ربه! كه بالفرض ما خلكو ته ويلي وى چې ما او زما مور د معبودانو په حيث ونيسئ نو ته به پرې پوه وى، تاته خو هر څه معلوم دي.

نو څرنګه چې عيسى عليه السلام د پيغمبرانو ﴿ ٱلرُّسُلَ ﴾ د جملې څخه يو پيغمبر دى او د ده جواب به د دوى د جوابونو د جملې څخه يو جواب وي نو دا به د مثال په توګه ذكر شوى وي، د همدې كبله په دواړو مقامونو كښې ايتونه د ﴿ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴾ په كلمه باندې ختم شوي دي.

پاتې شوه د تطبيق خبره، د دې جواب دا دى چې: ذكر شوي دواړه ايتونه سره څه منافات نه لري ځكه چې د پيغمبرانو څخه په دوه حيثه پوښتنه كېږي، يو په حيث د رسالت او بل په حيث د شهادت.

په دې ايت كښې چې اوس د بحث لاندې دى د رسالت په حيث پوښتنه مطرحه شوې ده، د همدې كبله د ﴿ ٱلرُّسُلَ ﴾ په كلمه باندې د پيغمبرانو څخه تعبير كړى شوى دى.

او په هغه ايت شريف كښې، چې په اعتراض كښې ذكر دى، د شهادت په حيث د پوښتنې حال بيان شوى دى، لكه چې د ﴿ بِشَهِيدٍ ﴾، ﴿شَهِيدًا ﴾ كلمې ورباندې دلالت كوي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٣ـ كه څوک وايي چې: په دې كښې څه حكمت دى چې پيغمبرانو ته د رسالت په حيث پوښتنې راجع كېږي، حال دا چې الله ﷻ ته هر څه معلوم دي؟

مونږ وايو چې ـوالله ﷻ اعلمـ: دا ځكه چې د هغو معلوماتو دپاره مقدمه جوړه شي چې الله ﷻ به يې په دغې ورځې كښې څرګند كړي چې فلانى د اور لائق دى او فلانى دې جنت ته لاړ شي.

---

(١) روح المعاني ج٧ ص٥٥

(٢) المحرر الوجيز ج٥ ص٢٢٩

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدې مضمون باندې لاندې حديث ډېر ښه دلالت کوي چې:

«أَلَا إِنَّهُ يُجَاءُ بِرِجَالٍ مِنْ أُمَّتِي فَيُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ فَأَقُولُ يَا رَبِّ أَصْحَابِي فَيُقَالُ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ»[1] خبردار! بې شکه شان دا دی چې زما د اُمت څخه به څو سړي راوستلی شي او په ذات الشمال ډله کښې به ونیولی شي نو زه به ووایم چې ای ربه! دوی خو زما اصحاب دي، نو وبه ویلی شي چې: ته په هغه شي باندې خبر نه یې چې ستا څخه وروسته دوی کړي دي یعنې دوی ستا څخه وروسته مرتد شوي دي.

او رښتیا چې د نبي کریم ﷺ د وفات څخه وروسته د ابو بکر الصدیق رضي الله عنه په خلافت کښې د اعرابو څخه ځینې کسان مرتد شوه.

## د دې پوښتنې یو نظیر

۴_ د ذکرې شوې پوښتنې نظیر د موسی عليه السلام د همسا پوښتنه ده چې الله ﷻ ورڅخه د مقدمې په شکل پوښتنه وکړه چې: ﴿ وَمَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴾ [طه: ١٧] یعنې: او دغه په ښي لاس کښې دې څه شی دی ای موسی؟. ترڅو د اژدها د جوړلو دپاره مقدمه جوړه شي چې په وړیسې متصلو ایتونو کښې شرحه شوې ده.

﴿ إِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱذْكُرْ نِعْمَتِى عَلَيْكَ وَعَلَىٰ وَٰلِدَتِكَ إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ تُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِى ٱلْمَهْدِ وَكَهْلًا ۖ وَإِذْ عَلَّمْتُكَ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحِكْمَةَ وَٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ ۖ وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ ٱلطِّينِ كَهَيْـَٔةِ ٱلطَّيْرِ بِإِذْنِى فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًۢا بِإِذْنِى ۖ وَتُبْرِئُ ٱلْأَكْمَهَ وَٱلْأَبْرَصَ بِإِذْنِى ۖ وَإِذْ تُخْرِجُ ٱلْمَوْتَىٰ بِإِذْنِى ۖ وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَنكَ إِذْ جِئْتَهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْهُمْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٠﴾ وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى ٱلْحَوَارِيِّۦنَ أَنْ ءَامِنُوا۟ بِى وَبِرَسُولِى قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَٱشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ ﴿١١١﴾ ﴾

[١١٠] (ذکره شوې ورځ به) هغه وخت وي چې الله ﷻ به عیسی (عليه السلام) د مریمې زوی ته ووایي چې: زما نعمتونه په تا او ستا په (ماجدې) والدې باندې یاد کړه (چې هغه مې د خپلې زمانې په ټولو زنانه وو باندې غوره ګرځولې وه او تاته مې لاندې نعمتونه درکړي وه).

کله چې ته مې په روح القدس (جبرائیل امین عليه السلام) سره تائید کړی وې، چې د خلکو سره به دې په زانګو (طفولیت) کښې او په پاخه عمر (په بوډاتوب) کښې خبرې کولې.

[1] صحيح البخاري ج٢ ص٦٩٣

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او کله چې تا ته مې لیکنه او د حکمت څخه ډکې خبرې وښودلې او تورات او انجیل (مې هم درزده کړي وه)، او کله چې تا به د خټو څخه زما په اجازه د مرغه جوګه جوړوله، نو په هغې کښې به دې پوکی کاوه، نو هغه (جوړه کړې جوګه) به زما په اجازه (واقعي) مرغه جوړ شو.

او (کله به چې) تا زما په اجازه باندې مورزادي ړوند او د برګي مرض مريض روغاوه.

او کله به چې تا زما په اجازه باندې مړي (ژوندي کول او د قبرونو څخه به دې) راویستل.

او کله چې مونږ ستا څخه بني اسرائیل منعه کړه (چې تا ته څه ضرر دورسوي) کوم وخت چې تا هغوی ته معجزات وروړه، نو د دوی څخه هغو کسانو وویلې چې کافر شوي وه چې: دا (ذکر شوي معجزات) نه دی مګر ښکاره جادو دی.

[۱۱۱] او کله چې مونږ (ستا) حواریينو ته (ستا په ذریعه) وحې وکړه (او یا مو ورته الهام وکړ) چې په ما باندې او (هم) زما په پیغمبر (عیسی ﷺ) باندې (دوامداره) ایمان راوړئ، نو دوی وویلې چې: مونږ ایمان راوړی دی او ته شاهد اوسه (ای الله!، او یا ای عیسی!) چې یقیناً مونږ غاړه اینښودونکي یاستو.

## ارتباط

دا ایتونه د وړاندې ایتونو د مضمون یوه بېلګه بیانوي، چې هلته د ټولو پیغمبرانو سوال جواب ته په اجمالي توګه اشاره شوې وه او دلته خاص د عیسی ﷺ سره مباحثه لږ څه تشریح شوې ده چې د نورو پیغمبرانو سره مباحثه وړباندې قیاس کړی شي.

## د مطلب خلاصه

یعنې: الله ﷻ به د قیامت په ورځ عیسی ﷺ ته هغه نعمتونه یو-یو وربه یاد کړي چې ده او د ده صدیقې مور (بي بي مریمې ؓ) ته یې ورپېرزو کړي وه، هغه دا چې:

۱_ ای عیسی! ته خو هغه وخت دربه زړه کړه چې په جبرائیل امین ﷺ سره مو ستا تائید کړی وه چې چرته به ته ګرځېدلې هلته به درسره ګرځېده، آن تردې چې بالآخره یې اسمانونو ته پورته کړې.

۲_ او هغه وخت هم په یاد کړه چې د طفولیت په دوره کښې به دې داسې صافې او پخې خبرې کولې لکه د پاخه عمر په منګ به چې دې کولې، نو ځکه دې علی رؤس الاشهاد د خپلې مور برائت په اثبات ورساوه او معاندینو ته دې قناعت ورکړ.

۳_ او هغه وخت هم دربه یاد کړه چې په خپل وخت کښې مو مثالي لیک درزده کړی وه چې ستا غوندې لیکنه د هیچا زده نه وه، او برسېره پر دې د حکمت څخه ډکې خبرې مو درښودلې وې چې آن د ماشومی له دورې څخه به دې په ډېره هوښیاره لهجه باندې خبرې کولې.

او بالآخره د تورات او انجیل دوه وو مهمو کتابونو په علومو باندې مو هم پوه کړی وې، حتی چې انجیل مو لا په همدا تاباندې نازل کړی وه.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ هغه وخت هم درپه زړه کړه چې همدا زما په اجازه باندې به دې د ختو څخه د مرغانو په څېره جوړې جوړولې او په هغو کښې به دې پوکی کاوه، چې همدا زما په اجازه به د هغو څخه واقعي (ربښتياني) مرغان جوړېده.

۵_ او هغه هم در په ياد کړه چې زما په اجازه به دې مورزادي ړانده او هم په برګي مرض باندې اخته مريضان روغول.

۶_ او هغه وخت هم چې زما په اجازه به دې د قبرونو څخه مړي ژوندي راپاڅول.

۷_ او هغهٔ وخت کښې هم چې بني اسرائيلو غوښتل چې په تاباندې حمله وکړي خو مونږ د هغوی د حملې څخه بچ کړې، البته کله چې تا هغوی ته معجزات وروړه او په هغو باندې کافرانو (بني اسرائيلو) د جادو نوم کېښود، که تاته عظيم الشان نعمتونه او معجزات نه وی درکړی شوي نو هغوی به پرې د جادو نوم نه وی ايښی.

۸_ او بالآخره هغه وخت هم د تذکر وړ دی چې مونږ حواريانو (ستا مخلصو انډيوالانو) ته الهام وکړ چې په ماباندې او هم زما په پيغمبر (عيسی ﷺ) باندې په دوامداره توګه ايمان راوړئ، او هغوی د همدې الهام په غوښتنه ايمان ته ادامه ورکړه او حتی زه يې په خپلو خانونو باندې شاهد کړم چې مونږ په دائمي توګه غاړه اېښودونکي ياستو.

لنډه دا چې: ای عيسی! ايا ذکر شوي نعمتونه تا پخپله خپل ځان ته ورکړي وه؟ ايا د نعمتونو درلودل د دې معنی ورکوي چې څوک پرې د الوهيت درجې ته وخېژي؟ ايا د دغسې لويو نعمتونو او لويو معجزاتو خاوند سره دا مناسبت لري چې څوک يې د وژلو نيت وکړي او سپکې سپورې خبرې ورواوروي؟

## توضيحات

۱_ مفسرين کرام وايي چې د نعمتونو او د معجزاتو ذکر شوی تعديد او تذکر به په آخرت کښې صورت ونيسي[۱]، خو څرنګه چې د ذکرې شوې مباحثې واقع کېدل يقيني دي، هيڅ شک پکښې نشته، نو الله ﷻ ترې په ماضي ﴿ قَالَ ﴾ سره تعبير وکړ او د مضارع (يَقُولُ) کلمه يې نازله نه کړه خکه چې کله د راتلونکي شي واقع کېدل بې شکه وي نو د هغه څخه په محاوراتو کښې په ماضي سره تعبير کېږي چې واقع کيدل يې حتمي دي، ته به وايې چې دا کار واقع شوی دی.

## يادونه

۲_ که څوک غواړي چې د ذکرو شوو معجزاتو او نعمتونو په باره کښې پوره معلومات ترلاسه کړي نو لطفًا دې د [آل عمران: ۴۶_۴۹] ايتونو تفسير ته مراجعه وکړي چې مونږ د الله ﷻ په توفيق مشرح ليکلي دي نو دوهم ځل ليکل يې ضرور نه دي.

(۱) المحرر الوجيز ج۵ ص۲۳۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ به د قيامت په ورځ عيسى ﵇ ته معجزات وربه زړه کړي چې: دا ياد کړه او دا ياد کړه؟

مونږ وايو چې: د عيسى ﵇ په باره کښې خلک په لاندې دوه ډلونو باندې کافر شوي وه:

الف: ځينې خلک پرې د دې کبله کافر شوه چې د ده رسالت يې نه مانه او سپکې سپورې خبرې به يې وربسې کولې حتى چې د ده د وژلو نيت يې لا هم کړی وه.

ب: ځينو خلکو د عيسى ﵇ په توقير کښې إفراط وکړ، ترديې چې د ده معجزات يې د دې خبرې سبب جوړ کړه چې ده ته او هم د ده مور (مريمې رضي الله عنها) ته په الوهيت قائل شوه.

نو الله ﷻ به د ذکرو شوو دواړو ډلو د تخجيل دپاره عيسى ﵇ ته د خپلو معجزاتو او نعمتونو د يادښت امر وکړي ترڅو د ده د رسالت منکران په غوږ ووهي چې تاسو د عيسى ﵇ د رسالت څخه د معجزاتو سره-سره انکار کړی دی نو هيڅ د اعتذار حق نه لرئ.

او هم ترڅو افراطيان (د حد څخه تجاوز کوونکي) پوه کړي چې د عيسى ﵇ ټول معجزات زما په اجازې سره وه، تاسو به هلته د الوهيت په لقب ورکولو کښې معذور ګڼل کېدلی چې بې زما د اجازې څخه يې ذکر شوي کارونه کړي وي.

﴿ إِذْ قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَن يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ۖ قَالَ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾ قَالُوا۟ نُرِيدُ أَن نَّأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعْلَمَ أَن قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿١١٣﴾ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ ٱللَّهُمَّ رَبَّنَآ أَنزِلْ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ تَكُونُ لَنَا عِيدًا لِّأَوَّلِنَا وَءَاخِرِنَا وَءَايَةً مِّنكَ ۖ وَٱرْزُقْنَا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿١١٤﴾ قَالَ ٱللَّهُ إِنِّى مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ۖ فَمَن يَكْفُرْ بَعْدُ مِنكُمْ فَإِنِّىٓ أُعَذِّبُهُۥ عَذَابًا لَّآ أُعَذِّبُهُۥٓ أَحَدًا مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١١٥﴾ ﴾

[۱۱۲] هغه وخت چې حوارينو ووېلې چې: ای عيسى د مريمې زويه! ايا ستا رب کولی شي چې په مونږ باندې د اسمانه (د خوراکي شيانو څخه ډک) دسترخوان (خوانچه) نازل کړي (ايا دا کار به وکړي او که نه)؟. ده (عيسى ﵇) ووېلې چې: د الله ﷻ څخه وډار شئ که تاسو مؤمنان ياست (دغسې غوښتنې مه کوئ).

[۱۱۳] دوی ووېلې چې: مونږ غواړو چې د هغه (دسترخوان) څخه (د تبرک دپاره) وخورو او زمونږ زړونه مطمئن شي او (بالآخره) مونږ (په حق اليقين سره) پوه شو چې يقيناً تا مونږ ته رښتيا

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ویلي دي او په همدې (مائدې) باندې مونږ د شاهدانو څخه جوړ شو (او نورو خلکو ته اطمنان او قناعت ورکړو، دا غوښتنه د شک د کبله نه کوو).

[۱۱۴] عیسی بن مریم (چې کله د دوی په استدلال باندې قانع شو) وویلې چې ای الله! ای زمونږ ربه! په مونږ باندې د اسمانه څخه (د خوراکي شیانو څخه ډک) دسترخوان نازل کړې چې زمونږ د وړاندېنیو او وروستنیو دپاره اختر (خوشالي) جوړ شي او هم ستا د پلوه یوه معجزه (جوړه شي).

او مونږ ته (ذکر شوی غیبي رزق) راپېرزو کړې، او ته چې یې د روزي ورکوونکو خیر (او بهتر) یې (ستا غوندې روزي څوک چاته نه شي ورکولی).

[۱۱۵] الله ﷻ (د عیسی ﷺ سوال قبول کړ او) ویې ویلې چې: یقینًا زه په تاسو باندې د دې (مائدې) نازلوونکی یم، نو هرڅوک چې ستاسو څخه (پکښې) ناشکري وکړي (حواري وي او که غیر حواري) نو بې شکه زه به هغه په داسې عذاب باندې معذب کړم (چې د ده څخه وروسته به) د ټولو عالمونو څخه هیڅوک په هغه عذاب باندې معذب نه کړم (چې ډېر شرموونکی عذاب به وي).

## ارتباط

دا ایتونه د وړاندېنیو ایتونو څخه د وروستني ایت تفصیل او بیان واقع شوی دی، او یا په بل عبارت: دا د هغه سوال جواب دی چې د ذکر شوي ایت څخه د چا ذهن ته ورځي، هغه دا چې د عیسی ﷺ حواریین (د ده اصحاب او ملګري) خو مؤمنان وه نو دوی څه عجیبه معجزه ولیده چې یو ځل یې بیا په ډېر جرئت سره وویلې چې: ﴿ ءَامَنَّا وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّنَا مُسۡلِمُونَ ﴾ مونږ ایمان راوړی او ته شاهد اوسه چې یقینًا مونږ غاړه ایښودونکي یاستو. د جواب حاصل په لاندې کرښو کښې لوستلی شئ.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: د حوارییونو د ذکرې شوې وینا وجه دا وه چې یوه ورځې دوی عیسی ﷺ ته خطاب وکړ چې: ای روح الله! ایا الله ﷻ برسېره په ډېرو معجزاتو باندې مونږ ته دا معجزه هم راکولی شي چې د اسمانه څخه راباندې د خوراکي شیانو څخه ډک دسترخوان نازل کړي؟ یا په بل عبارت: ایا دا کار د کولو دی؟ ایا مونږ د دې جوګه یاستو چې دا غوښتنه مو پوره کړې؟ ایا په دې باره کښې به ستا سوال ومني؟.

۲ـ نو عیسی ﷺ ورته جواب ورکړ چې د الله ﷻ څخه وډار شئ او دغسې فرمایشي معجزې مه غواړئ دا ډول غوښتنې د مؤمنانو سره مناسبې نه دي دا ډول غوښتنې د بې ایمانو سره مناسبې دي.

حوارییونو وویلې چې: مونږ ذکره شوې غوښتنه د ایمان د کمزورۍ یا د ایمان د نشتوالي د کبله نه وړاندې کوو چې د بې دینانو سره تشابه ولرو، بلکې په دغسې غوښتنه کښې زمونږ مطالب دا دي:

الف: چې مونږ د ذکر شوي اعجازي دسترخوان څخه خوراک وکړو او تبرک پرې حاصل کړو، او لکه څنګه چې مونږ په خپلو دښمنانو باندې په ایمان سره ویاړو همدارنګه وراندې په معجزانه خوراک سره هم ویاړ او سرلوړي ترلاسه کړو.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: چې مونږ قلباً مطمئن شو چې الله ﷻ یقیناً په هر شي باندې د قدرت څښتن دی، لکه څنګه چې ابراهیم ؑ د څلورو مرغانو په راژوندي کېدلو سره قلباً مطمئن شوی وه.

ج: چې زمونږ پوهه او علم د علم الیقین له درجې څخه د حق الیقین مرتبې ته پورته شي او بر خل بیا الهي معجزات په سترګو باندې وګورو او په خولو باندې یې وخورو، او پوه شو چې ته هر څه وایې هغه ټول رښتیا دي او هیڅ د شک او شبهې ځای پکښې نشته، او بالآخره پوه شو چې مونږ هم د الله ﷻ په نزد څه قدر لرو.

د: چې مونږ د یو پلوه ذکره شوې معجزه د خپلو سترګو لاندې مشاهده کړو او د خوشالی سترګې پرې یخې کړو او د بله پلوه د غائبینو او د هغو خلکو دپاره چې نوي پیدا کېږي د شهادت ورکوونکو څخه جوړ شو او حتی د قیامت په ورځ د معجزاتو په منکرینو باندې شاهدي ورکړو، ترڅو چې د دعوت او شهادت اجرونه مو په برخه شي.

۳ـ نو کله چې عیسی ؑ د خپلو حوارینو په جواب باندې قانع شو نو د الله ﷻ په حضور کښې یې د خپلې بندګۍ او عاجزۍ سوال داسې پیل کړ چې:

الف: ای زمونږ الله! ای زمونږ ربه! په مونږ باندې د اسمانه څخه د خوراکي شیانو ډک دسترخوان نازل کړې چې ترڅو:

اول: د دسترخوان د نزول وخت زمونږ دپاره د اختر حیثیت ولري چې وړاندېني او وروستني ټول به ورباندې ویاړو، او دښمنانو (کافرانو) ته به مو پرې شملې ښې نېغې شي.

دوهم: دا به ستا د معجزاتو څخه یوه امتیازي معجزه وي چې هم به معنوي معجزه وي او هم به مادي معجزه جوړه شي.

ب: ای زمونږ ربه! مونږ ته غیبي روزي راکړې ځکه چې ستا غوندې روزي ورکوونکی هیڅوک نه شي کېدلی او ستا هرڅه د لاسه پوره دي.

۴ـ نو الله ﷻ د عیسی ؑ سوال قبول کړ چې: یقیناً د دې کار کاوونکی یم، خو دا په یاد ولرئ! چې څومره یو نعمت لوېږي په همغې پیمانه باندې یې ناشکري هم د لویې جزا سبب جوړېږي، نو که ـبالفرضـ تاسو د ذکرې شوې معجزې او لوی غیبي نعمت په شکرګزارۍ کښې ناکام شوئ نو په دنیا کښې به داسې جزا درکړم چې ستاسو څخه وروسته به یې هیچا ته ورنه کړم. هو! که ستاسو څخه وړاندې مې چا ته ورکړې وي نو هغه بېله خبره ده.

یا په بل عبارت: ستاسو څخه به بیزوګان او خنزیران جوړ کړم لکه چې ستاسو څخه وړاندې مې د یهودانو څخه بیزوګان جوړ کړي وه، مګر ستاسو څخه وروسته به هیچا ته دغه جزا ورنه کړم.

۵ـ هو! کله چې الله ﷻ غوښتله شوې معجزه نازله کړه نو د عیسی ؑ حواریینو په یوه خوله باندې چیغې کړې چې: ﴿ ءَامَنَّا وَٱشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ ﴾ مونږ ایمان راوړی دی او ته شاهد اوسه ـای عیسی!ـ چې یقیناً مونږ غاړه اېښودونکي یاستو او په ذکره شوې معجزه کښې ناشکري نه کوو او د الله ﷻ څخه لا زیات توفیق او اطمنان غواړو.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ الحمد لله د نبي کریم ﷺ صحابه وو کرامو ﷺ د ایمان راوړلو څخه وروسته ـیوه هم ـ د اطمنان دپاره معجزه نه ده غوښتې مګر د عیسی ﷺ صحابه وو کرامو (حواریینو) ذکره شوې معجزه غوښتې وه، دا دی د دواړو پیغمبرانو د اصحابو په باره کښې څرګند فرق او توپیر.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې د ﴿ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ ﴾ د کلمې څخه ظاهراً څرګندېږي چې د عیسی ﷺ حواریینو د الله ﷻ په قدرت کښې شک درلود؛ ایا دغه معنی صحت لري؟

مونږ وایو چې: تقریبًا ټول علماء کرام متفق دي چې حواریین ښه سوچه مسلمانان وه[1]، همدا مضمون د کلام د سیاق او سباق څخه په واضحه توګه بربښي نو د اعتراض دپاره لاندې جوابونه کوو:

الف: د ﴿ هَلْ يَسْتَطِيعُ ﴾ کلمه په عربي ژبه کښې کله-کله د ادب په وخت کښې هم استعمالېږي[2]، لکه چې یوه ورځې د عبد الله بن زید بن عاصم ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې: «هَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تُرِيَنِي كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَتَوَضَّأُ»[3] ایا ته دا کولی شي چې ماته راولید کړې چې نبي کریم ﷺ په څه ډول سره اودس کاوه؟ یعني: د پوښتنه کوونکي زړه غوښتل چې د نبي کریم ﷺ اودس راته عملًا راوښایي خو داسې یې ورته ونه ویلې چې زما د وړاندې د نبي کریم ﷺ غوندې اودس وکړه چې زه دې وګورم، بلکې په مؤدبانه توګه باندې یې ورته وړاندیز وکړ چې: ایا دا کار کولی شې؟ او یا زه ستا په نزد دومره منزلت لرم چې زما ذکره شوې غوښتنه پوره کړې؟

ب: د ﴿ يَسْتَطِيعُ ﴾ کلمه د "يُطِيعُ" په معنی سره ده. یعني: ایا ستا خبره ستا رب ﷻ مني او د قبول درجې ته رسېږي چې زمونږ دپاره داسې-داسې سوال وکړې؟[4].

په همدې مضمون باندې لاندې حدیث شریف ډېر ښه دلالت کوي:

یو ځل نبي کریم ﷺ د خپل تره (ابو طالب) پوښتنې ته ورغی چې مریض وه، نو نبي کریم ﷺ ته یې وویلې چې: ای وراره! الله ﷻ ته سوال وکړه چې د دې مرض څخه عافیت راکړي. نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «اللَّهُمَّ اشْفِ عَمِّي» یعني: ای الله! زما تره جوړ کړې. نو الله ﷻ سمدستي روغ رمټ کړ تا به ویل چې په پړي باندې تړلی وه او پرانستل شو. نو ابو طالب وویلې چې: ای وراره! یقینًا هغه رب چې ته یې عبادت کوې ستا اطاعت کوي (خبره دې مني). نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «وَأَنْتَ يَا عَمَّاهُ لَئِنْ أَطَعْتَ اللهَ لَيُطِيعَنَّكَ»[5] او ته ای کاکا! که چرته ته د الله ﷻ اطاعت وکړې نو هرومرو او

---

(۱) المحرر الوجیز ج۵ ص۲۳۵
(۲) تفسیر القاسمي ج۶ ص۴۲۹
(۳) موطا الإمام مالک ج۱ ص۱۲
(۴) التفسیر الکبیر ج۱۲ ص۱۲۹
(۵) المعجم الأوسط للطبراني ج۴ ص۲۰۰؛ مستدرک الحاکم ج۱ ص۷۲۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ضرور به الله ﷻ ستا اطاعت هم وکړي. يعني که ته يې خبره ومنې او ايمان ورباندې راوړې ستا سوالونه به هم قبول کړي.

## تبصره

۳_ څرنګه چې د حوارينو د غوښتنې کلمات چندان مزه ناک نه وه او د غير مطلبي معنى اشتباه ترې پيدا کېده نو ځکه ورته عيسى ﷺ ووېلې چې: ﴿ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ د الله ﷻ څخه وډار شئ که تاسو رښتياني مؤمنان ياست. خو چې کله هغوی خپله لفظي غلطي تصحيح کړه نو بيا يې د الله ﷻ په دربار کښې د سوال لاسونه پورته کړه. که بالفرض هغوی د ړومبي ځل څخه څرګند او واضحه کلمات استعمال کړي وی نو ممکنه وه چې عيسى ﷺ به ورته ذکره شوې جمله نه وی استعماله کړې.

## مائده څه معنى؟

۴_ "مَائِدَة" هغه مېز يا دسترخوان ته وايي چې خوراکي شيان ورباندې د خوړلو دپاره تيار ايښي وي، که نه نو بيا ورته "مَائِدَة" نه وايي. مګر په دې مقام کښې ترې مېز مراد نه دی بلکې هغه دسترخوان ترې مطلب دی چې خوراکي شيان ورباندې ايښي وي[1].

"مَائِدَة" د "مِيْد" څخه اخستله شوې ده، "مِيْد" دوه معناوې لري، چې يا په معنى د ورکړې سره دی او يا په معنى د حرکت سره[2]، دسترخوان ته ځکه ذکر شوی نوم (مائده) اېښودل شوی دی چې يا خلکو ته خوراک او څښاک ورکوي او مُعْطِيْ دی، او يا د هغه په لور خلک حرکت کوي چې شاوخوا ترې راتاو شي او خانونه ترې ماړه کړي.

نو په دې تقدير د "مَائِدَة" کلمه په معنى د "مَمِيْد" مفعول سره جوړېږي، لکه چې په ﴿ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴾ کښې د ﴿ رَّاضِيَةٍ ﴾ کلمه په معنى د "مَرْضِيَّة" سره ده.

## ايا مائده نازله شوه؟

۵_ ځينې علماء کرام وايي چې: "مَائِدَة" نازله نه شوه ځکه چې حوارينو د جزا څخه وډار شوه چې چرته راڅخه ناشکري صادره نه شي، نو الله ﷻ به راباندې سخت عذاب نازل کړي[3].

مګر جمهور علماء کرام وايي چې: "مَائِدَة" نازله شوې ده او الله ﷻ خپله خبره رښتيا کړې ده چې: ﴿ إِنِّى مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ ﴾ يقيناً زه په تاسو باندې د مائدې نازلوونکی يم[4]، يعني دا کار خو

---

(۱) روح المعاني ج۷ ص۶۰؛ تفسير القرطبي ج۶ ص۳۷۳
(۲) تفسير القرطبي ج۶ ص۳۶۷
(۳) تفسير القاسمي ج۶ ص۴۲۳
(۴) تفسير الطبرى ج۵ ص۱۳۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېدونکی دی مګر تاسو یوه بله خبره واورئ چې که چا پکښې ناشکري وکړه هغه به د سخت عذاب سره مخامخ شي.

## د مائدې په باره کښې څه معلومات

۶ـ څرنګه چې مفسرينو کرامو د مائدې په هکله زښت ډېر معلومات ليکلي دي[۱] چې د لاندې پوښتنو دپاره پکښې جوابونه موندل کېږي:

الف: مائده په څه ډول طعام باندې مشتمله وه؟

ب: څومره وخت د مائدې نزول دوام وکړ؟

ج: ايا سبا او بېګاه نازلېدله او که يوه شپه بعد؟

د: په مائده کښې په کوم کيفيت سره طعام ايښودل شوی وه؟

ه: څومره کسان پرې مړېده؟

و: د مائدې نزول په څه سبب باندې قطعه شو؟

ز: د نازلې شوې مائدې عاقبت څه شو؟

ح: څومره خلکورباندې خنزيران جوړ شوه؟!

ط: د خنزير جوړېدلو اسباب يې څه شی وه؟

ي: ايا ذکره شوې مائده د يکشنبې (اتوار) په ورځ اول ځل نازله شوه چې د نصاراوو په نزد محترمه ورځ ده؟. او داسې نور.

مګر مونږ د دغو ټولو معلوماتو څخه صرف نظر شوو، ځکه چې د يو پلوه يې روايتونه د ډاډ وړ نه دي او د بله پلوه پکښې څه ګټه نشته، که بالفرض څه ګټه پکښې وی نو الله ﷻ به مونږ ته په قرآن کريم کښې او يا د نبي کريم ﷺ په احاديثو کښې ضرور په څرګنده توګه واضحه کړې وی.

نو د همدې کبله مونږ د لاندې يوه حديث په ذکر باندې اکتفاء کوو، که څوک د نورو معلوماتو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي. حديث دا دی چې:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أُنْزِلَتِ الْمَائِدَةُ مِنَ السَّمَاءِ خُبْزًا وَلَحْمًا وَأُمِرُوا أَنْ لَا يَخُونُوا وَلَا يَدَّخِرُوا لِغَدٍ فَخَانُوا وَادَّخَرُوا وَرَفَعُوا لِغَدٍ فَمُسِخُوا قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ»[۲] يعني: د اسمانه څخه مائده نازله کړی شوې وه چې ډوډی او غوښه (وه)، او دوی (بني اسرائيلو) ته امر کړی شوی وه چې خيانت پکښې مه کوئ او د سبا دپاره يې مه زخيره کوئ، نو هغوی پکښې هم خيانت وکړ او هم يې زخيره کړه او (بالآخره) د سبا دپاره يې ترې (څه برخه) پورته کړه، نو دوی د بيزوګانو او خنزيرانو په څېره واړولی شوه (او مسخه شوه).

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۱۱۶؛ تفسير البغوي ج۲ ص۷۹؛ زاد المسير ج۲ ص۳۴۱؛ روح المعاني ج۷ ص۶۳؛ تفسير القرطبي ج۶ ص۳۶۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۳۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَإِذْ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ءَأَنتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِى وَأُمِّىَ إِلَٰهَيْنِ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ
قَالَ سُبْحَٰنَكَ مَا يَكُونُ لِىٓ أَنْ أَقُولَ مَا لَيْسَ لِى بِحَقٍّ ۚ إِن كُنتُ قُلْتُهُۥ فَقَدْ عَلِمْتَهُۥ ۚ تَعْلَمُ
مَا فِى نَفْسِى وَلَآ أَعْلَمُ مَا فِى نَفْسِكَ ۚ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴿١١٦﴾ مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَآ
أَمَرْتَنِى بِهِۦٓ أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ رَبِّى وَرَبَّكُمْ ۚ وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ ۖ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِى
كُنتَ أَنتَ ٱلرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴿١١٧﴾ إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۖ وَإِن
تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿١١٨﴾ ﴾

[۱۱۶] او (د پیغمبرانو د راغونډولو ورځ به) هغه وخت (وي) چې الله ﷻ به ووايي چې: اې عيسى د مريمې زويه! آيا تا خلکو ته ويلي وه چې: ما او زما مور د الله ﷻ څخه په غير دوه معبودان ونيسئ؟. هغه (عيسى عليه السلام) به ووايي چې: تا لره (د دغسې وينا څخه) پاکي ده، ماته مناسب نه دي چې زه هغه خبره وکړم چې ما لره (د هغې په ويلو کښې) حق نه وي. كه (بالفرض) زه وى چې دا خبره مې کړې وى نو يقيناً ته به پرې عالم وى (ستا علم خو محيط دى)، ته په هغه څه باندې پوهېږې چې زما په زړه کښې دي او زه په هغه څه باندې نه پوهېږم چې هغه ستا سره دي، يقيناً ته چې يې همدا ته په غيبو باندې عالم يې.

[۱۱۷] ما (خو) دوى ته نه وه ويلي مګر هغه (خبره) چې تا راته پرې امر کړى وه (چې ورته يې ووايم. هغه دا) چې د الله ﷻ عبادت وکړئ چې زما رب دى او ستاسو رب (هم) دى.

او ترڅو پورې چې زه په دوى کښې وم (اوسېدم) نو په دوى باندې شاهد وم (چې په دعوت سره به مې دوى سمې لارې ته رابلل)، نو کله چې تا زه د دوى د منځ څخه واخستلم (او اسمانونو ته دې پورته کړم) نو (يوازې) همدا ته په دوى باندې څارونکى شوې (لکه چې زما په حضور کښې پرې څارونکى وې)، او همدا ته په هر شي باندې حاضر يې (چې هيڅکله درڅخه څه شى نه شي غائب کېدلى).

[۱۱۸] که دوى معذبوې نو يقيناً دوى ستا بندګان دي (څوک يې درڅخه نه شي خلاصولى) او که ته دوى ته ببننه کوې نو (څوک دې د مغفرت مخه نه شي نيولى څکه) ته چې يې همدا ته د کلکې ارادې خاوند يې (هيڅوک دې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلى او همدا ته) د حکمت څښتن يې (چې هر کار دې د حکمت څخه ډک دى).

## ارتباط

مونږ د وړاندېنيو ايتونو په ارتباط کښې ليکلي وه چې هغه ايتونه د يوه سوال جواب واقع شوي وه کوم چې د حواريينو د خبرو څخه د سړي په ذهن کښې ګرځېده، نو کله چې د ذکر شوي سوال جواب ختم شو نو په دې ايتونو کښې د کلام مخ بېرته اصلي خبرې ته اړولى شوى دى.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: د قیامت په ورځ به الله ﷻ د عیسی ؑ استنطاق نور هم اوږد کړي او د نعمتونو د تذکر څخه وروسته به ورته ووایي چې: ای عیسی! کله چې ته د الله ﷻ په نزد غوره او مختار بنده وې چې بې شمېره معجزې او نعمتونه یې درپېرزو کړي وه، ترڅو د معجزاتو په رڼا کښې ته خپل ځان خلکو ته وروپېژنې چې زه د الله ﷻ پیغمبر او بنده یم، او همدارنګه خپله رښتینې مور هم په خلکو باندې وپېژنې چې دا د پیغمبر مور ده، نه د معبود مور.

مګر د دې سره-سره خلکو همدا ته او همدا ستا مور دواړه په الوهیت سره ونیوه، نو ستا څخه دا دی اوس علی رؤس الأشهاد پوښتنه کوم چې: ایا تا خلکو ته ویلي وه چې ما او زما مور دواړه معبودان جوړ کړئ؟

عیسی ؑ به ووایي چې:

الف: ای الله! تاته پاکي ده د دې خبرې څخه چې ستا سره څوک په عبادت او الوهیت کښې شریک شي، ته واحد او لا شریک یې، هیڅوک ستا سره شریک نه شي جوړېدلی که څه هم ډېر مقرب بنده وي.

ب: ای الله! ماته څه مناسبه ده چې عموماً ناحقه خبره وکړم، او بیا لا خصوصاً داسې ناحقه خبره چې ستا سره شریک درول دي، نو لکه څنګه چې تاته د شریک څخه پاکي ده، همدارنګه ماته د کفري او ناحقې وینا د کولو څخه پاکي ده، کفري ویناګانې خو کافران کوي.

ج: ای الله! ما خو خلکو ته معجزات د خپل نبوت د پېژاندلو دپاره وړاندې کړه، نه د دې دپاره چې مونږ ته د معبودانو لقب راکړي، مګر هغوی ترې زمونږ د ناخوښۍ سره-سره معکوسه نتیجه واخستله او په مونږ باندې یې ذکر شوی لقب راوتاپه.

د: ای الله! تاته خو هرڅه معلوم دي، داسې موجود نه دی تېر شوی او نه به تېر شي چې ستا د محیط علم څخه وتلی وي، نو که بالفرض ما ذکره شوې کفري وینا کړې وی نو تاته به معلومه وي.

ای الله! تاته خو معلومه ده چې ذکره شوې وینا مونږ نه ده کړې بلکې دا خلکو د خپلو ځانونو څخه اختراع کړې ده او دروغ یې راپورې تړلي دي.

ه: ای الله! ذکره شوې کفري خبره زما په زړه کښې هم نه ده تېره شوې پاتې لا دا چې په ژبه باندې یې جاري کړم، که بالفرض زما په زړه کښې تېره شوې هم وی تاته به معلومه وي، ځکه چې ستا علم کامل دی او د هره حیثه محیط دی، زما په ټولو علومو او کوائفو باندې ته عالم یې، مګر په هغو علومو باندې چې ستا سره دي، نه زه پوهېږم او نه بل څوک، ځکه چې ته علام الغیوب یې، لنډه دا چې زما علم د همغو معلوماتو پورې منحصر دی چې تا راښودلي دي او بس.

و: ای الله! ما خلکو ته (د دعوت په ارتباط) بله خبره نه ده کړې مګر همغه خبره چې تا راته وړباندې امر کړی وه، هغه دا چې: ای خلکو! تاسو یوازې او یوازې د الله ﷻ عبادت وکړئ چې هغه ﷻ زما رب هم دی او ستاسو رب هم دی او شریک ورسره مه دروئ.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ز: ای الله! ترڅو پورې چې زه د خلکو ترمنځ په ځمکه کښې اوسېدمه نو ما د دوی حفاظت کاوه او په دعوت او تبلیغ سره مې لارې ته سمول، په همدې موده کښې چې چا په ماباندې په سمه توګه ایمان راووړ او چا راڅخه انکار وکړ په هغوی ټولو باندې شاهد یم، اما کله چې زه تا په خپل فضل سره د دوی د منځ څخه ژوندی اسمان ته پورته کړم او د دوی کفري پلانونه دې شنډ کړه نو نور ستا کار دی او همدا ته ﷻورباندې پوه یې، او همدا ستا د مراقبت او څارنې لاندې وه، او ته خو په هر شي باندې څارونکی او مراقب یې.

ح: ای الله! زما د اُمت د مجرمانو په باره کښې زما وروستنی خبره دا ده چې تاته د هغوی ټول جرمونه او جنایات معلوم دي، نو که دوی ته عذاب ورکوې نو دوی خو همدا ستا بندګان دي مګر عبادت او بندګي یې ستا نه ده کړې او ستا سره یې شریک درولی دی، خو ستا د لاس لاندې دي هیڅوک یې درڅخه نه شي خلاصولی، نه په زور سره او نه په شفاعت سره، بلکې کافران د شفاعت جوګه هم نه دي، د همدې کبله زه یې ستا په حضور کښې شفاعت هم نه کوم او که بالفرض ته هغوی ته مغفرت وکړې هم، کولی یې شې ستا هر څه د لاسه کېږي.

هو! دا بېله خبره ده چې کافرانو ته مغفرت کول د حکمت په خلاف دي او ته خو برسېره پر دې چې عزیز (د کلکې ارادې خاوند) یې حکیم هم یې چې ټول کارونه دې د حکمت په غوښتنه برابر دي.

## توضیحات

۱_ دا ایتونه ﴿ وَإِذْ قَالَ ٱللَّهُ ﴾ الآیات، په وړاندېنیو ایتونو ﴿ وَإِذْ قَالَ ٱللَّهُ ﴾ الآیات باندې عطف دي او ټول د قیامت د ورځې حال شرحه کوي[1]، او د معطوف او معطوف علیه ترمنځ څلور ایتونه ﴿ إِذْ قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ ﴾ الآیات د معترضې جملې شکل لري، لکه چې وړاندې واضحه شوې دي.

## عیسی علیه السلام په اسمانو کښې ژوندی دی

۲_ مونږ د [آل عمران:۵۵] ایت لاندې په دې خبره کښې پوره تحقیق کړی دی چې الله ﷻ عیسی علیه السلام ژوندی اسمان ته خېژولی دی، بیا لیکلو ته یې حاجت نه وینو، مګر دلته ورباندې یو دلیل اضافه کوو هغه دا چې که بالفرض د "تَوَفّی" څخه مرګ مطلب وی نو عیسی علیه السلام به د قیامت په ورځ د ﴿ تَوَفَّيْتَنِي ﴾ په مقابل کښې د ﴿ مَّا دُمْتُ فِيهِمْ ﴾ کلمه نه وی استعماله کړې، بلکې د "مَا حَيِيْتُ فِيهِمْ" کلمه به یې استعماله کړې وی. یعنې: ترڅو پورې چې زه په دوی کښې ژوندی وم. نو معلومه شوه چې عیسی علیه السلام ژوندی روغ رمټ اسمانونو ته خېژولی شوی دی.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: الله ﷻ د عیسی علیه السلام د خولې څخه حکایت وکړ چې نوموړی به د قیامت

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۱۰۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په ورځ ووايي چې: ﴿ إِن تُعَذِّبْهُمْ ﴾ تر آخره پورې. نو پوښتنه دا ده چې: ايا دا جمله د شفاعت معنى نه ورکوي، حال دا چې کافرانو ته خو شفاعت کول جائز نه دي؟

مونږ وايو چې: مفسرينو کرامو د ذکر شوي سوال دپاره مختلف جوابونه کړي دي[۱]، مګر کوم جواب چې مونږ ته ښه ښکاري هغه په لاندې ډول دی:

چې کله د کافرانو د تخجيل دپاره الله ﷻ عيسى ﷺ په قهر آميزه جمله باندې مخاطب کړي چې ايا تا خلکو ته ويلي وه چې ما او زما مور د معبودانو په حيث ونيسئ؟ نو عيسى ﷺ به وارخطا شي او د خپل ځان د برائت په بيان کښې به دا جمله هم ووايي چې: اى الله! دا جنايتکاران ستا بندګان دي، که څه هم دوى ستا اختياري بندګي نه ده کړې مګر ستا د بندګۍ څخه يې نه په دنيا کښې خانونه خلاص کړي دي او نه يې دلته خلاصولی شي، هلته هم د دوى مغفرت او نه مغفرت ستا په لاس وه او دلته هم ستا کار دی. که بالفرض مونږ څه د معبوديت استحقاق درلودلی نو هلته يا دلته به مو د دوى په کارونو کښې هم څه د لاسه پوره وی، نو کله مو چې څه د لاسه نه کېږي نو نه د معبوديت حق لرو او نه د دې حق لرو چې چا ته د خپل معبوديت دعوت ورکړو.

لنډه دا چې که بالفرض د عيسى ﷺ په ذکرې شوي جملې باندې د شفاعت کول مطلب وی نو خپلې خبرې به يې د ﴿ فَإِنَّكَ أَنتَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴾ په عوض په "فَإِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ" باندې ختمې کړې وی، خو خبره به داسې نه وی بلکې عيسى ﷺ به د خپل ځان څخه د دفاع په غم کښې وی.

نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې د عيسى ﷺ په باره کښې فرمايلي دي چې: په ده باندې به هم داسې وخت ورشي چې يوازې او يوازې د خپل ځان غم به ورسره وي او وايي به چې: «نَفْسِي نَفْسِي نَفْسِي»[۲].

﴿ قَالَ ٱللَّهُ هَٰذَا يَوْمُ يَنفَعُ ٱلصَّٰدِقِينَ صِدْقُهُمْ ۚ لَهُمْ جَنَّٰتٌ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۚ رَّضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿١١٩﴾ لِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌۢ ﴿١٢٠﴾ ﴾

[۱۱۹] الله ﷻ به ووايي چې: دا داسې ورځ ده چې رښتينو خلکو ته به د دوى رښتيا ويل ګټه ورسوي (البته په دې شرط سره چې په دنيا کښې يې رښتيا ويلي وي. هغه ګټه دا ده چې:) دوى لره داسې جنتونه شته چې لاندې ترې (ځلور) ويالې بهېږي، په داسې حال کښې چې دوى به په هغو کښې هميشه وي، هميشه. الله ﷻ به د دوى څخه راضي وي (چې هيڅکله به پرې په غضب نه شي) او دوى به د الله ﷻ څخه راضي وي (چې پرېمانه نعمتونه به يې ورکړي وي)، دا لويه کاميابي ده:

---

(۱) روح المعاني ج۷ ص۷۱: البحر المحيط ج۴ ص۴۱۹

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۷۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[١٢٠] خاص الله ﷻ ته د اسمانو او ځمکو پاچاهي ده او د هغه شي (هم) چې په دغو (دواړو اسمانو او ځمکو) کښې دي، او همدی ﷻ په هر شي باندې د قدرت څښتن دی.

## توضیحات

١_ څرنګه چې الله ﷻ مونږ ته د قیامت د ورځې په بیان کښې واضحه کړه چې د عیسی ﷺ د اعتذاریه وینا په آخره کښې به الله ﷻ ووایي چې نن ورځ صادقانو ته خپل صدق ګټه رسوي، نو دا دې ته اشاره ده چې الله ﷻ به د عیسی ﷺ خبرې تصدیقې کړې چې بالکل تا رښتیا ویلي، نن ورځ تاته هیڅ ملامته نه متوجه کېږي، ټوله ملامته جنایتکارانو ته متوجه ده.

## سوال جواب

٢_ که څوک وایي چې: د ذکر شوي اعلان څخه سړي ته ذهن ته ورځي چې د قیامت په ورځ به هر صادق ته د هغه صدق فائده وکړي، حال دا چې په هغې ورځې باندې ایمان راوړل کافرانو ته ګټه نه کوي او حتی نه به د شیطان رښتیانې خبره هغه ته په درد وخوري، الله ﷻ یې حکایت کوي چې: ﴿وَقَالَ ٱلشَّيْطَٰنُ لَمَّا قُضِيَ ٱلْأَمْرُ إِنَّ ٱللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ ٱلْحَقِّ﴾ [إبراهيم:٢٢] یعني: او شیطان به ووایي کله چې کار فیصله شي (د قیامت په ورځ) یقیناً الله ﷻ ستاسو سره حقه وعده کړې وه.

مونږ وایو چې: دلته مطلب دا دی چې د قیامت ورځ د رښتیا وو ورځ ده، رښتیا پکښې نه ضائع کېږي، اما په دنیا کښې خو داسې وختونه وه چې په رښتیا وو باندې به رښتیني خلک د مشکلاتو سره مخامخ کېده. او داسې مطلب نه دی چې دنیاوي کاذب ته به هم هلته رښتیا ویل څه ګټه وکړي، د همدې کبله ګټه په جنتونو سره تفسیره شوې ده.

## د ټولو نعمتونو څخه لوی نعمت

٣_ د الله ﷻ رضا د جنت د ټولو نعمتونو څخه لوی نعمت دی، لکه چې لاندې حدیث شریف ورباندې ډېر ښه دلالت کوي چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ په ډېر اوږده حدیث کښې وفرمایل چې کله الله ﷻ جنتیانو ته په جنت کښې بې شماره نعمتونه ورکړي، نو دوی ته به وایي چې زما سره داسې نعمت شته چې هغه د دغو ټولو نعمتونو څخه افضل دی، نو دوی به ووایي چې: «يَا رَبَّنَا أَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ هَذَا» ای زمونږ ربه! هغه به کوم شی وي چې د دې څخه بهتر وي؟. نو الله ﷻ به ورته ووایي: «رِضَايَ فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا»[1] یعني: (هغه) زما رضا ده چې زه به دربانديې د دې څخه وروسته د همېشه دپاره نه په غضب کېږم.

د "المائدة" سورت پښتو ترجمه او تفسیر د الله ﷻ په توفیق ختم شو.

اللَّهُمَّ ارْزُقْنَا رِضَاكَ وَرِضْوَانَكَ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ سَخَطِكَ وَغَضَبِكَ يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ.

١٣٧٣/١٠/٥ هـ ش.

(١) صحیح مسلم ج١ ص١٠٣

Downloded from: bawarketabtoon.com

# الأنعام (٦)



Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سريزه

د دې دپاره چې د دې سورت په مضامينو باندې لوستونكي ښه پوه شي لازمه ګڼو چې په لاندې موضوعګانو كښې څه لنډ او خلص معلومات وركړو:

## د سورت نوم

١ـ دا سورت په "الأنعام" باندې نومول شوی دی چې د دې سورت په [١٣٦] ايت شريف كښې يې ذكر راغلی دی. شايد چې ذكر شوی نوم به د دې كېله ورته خوښ كړی شوی وي چې دغه نوم د دې سورت د مضامينو سره ډېر قوي ارتباط لري او دا څكه چې (لږ وروسته به إن شاء الله تعالیٰ واضحه شي) دا سورت په عقائدو پورې ارتباط لري او د جاهليت د زمانې د عقيدوي فساد ډېر مهم عامل "الأنعام" يعنې څاروي هم وه چې يا به يې د بوتانو په نامه باندې ذبحه كول او يا به يې د خپل مشركانه دستور سره سم خوشې كول چې نه به پرې څوک سورېدل او نه به ترې چا څه نوره استفاده كوله لكه چې لږ څه شرحه يې د [المائدة:٣ ١٠] ايت لاندې تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ. نو الله ﷻ دا سورت په ذكر شوي نوم باندې ونوماوه، ته به وايې چې دې ته اشاره كوي چې دا هغه سورت دی چې د شرک ټول اړخونه پكښې عمومًا او د څارويو شرک پكښې خصوصًا رد شوی دی.

٢ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: ټول ايتونه يې يو سلو پنځه شپېته (١٦٥) دي[١]، چې ټول د هجرت څخه وړاندې نازل شوي دي، مګر د ځينو مفسرينو كرامو په نزد څو ايتونه يې په مدينه منوره كښې د هجرت څخه وروسته نازل شوي دي[٢]، چې د بحث په وخت كښې به إن شاء الله تعالیٰ ورته اشاره وكړی شي چې دا ايت مدني دی او دا ايت مكي دی.

ب: د كلماتو شمېر يې درې زره دوه پنځوس (٣٠٥٢) دی، او د حرفونو شمېر يې دولس زره څلور سوه دوه ويشت (١٢٤٢٢) دی[٣].

## سوال جواب

٣ـ كه څوک وايي چې: د ذكر شوي سورت په باره كښې خو زښت ډېر احاديث روايت شوي دي لاندې څو روايتونه د مثال په توګه ولولئ:

الف: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «نُزِلَتْ عَلَيَّ سُورَةُ الْأَنْعَامِ جُمْلَةً وَاحِدَةً وَشَيَّعَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ لَهُمْ زَجَلٌ بِالتَّسْبِيحِ وَالتَّحْمِيدِ»[٤] يعنې: په ما باندې د "الأنعام" سورت په يو ځل نازل شوی دی په

---

(١) تفسير ابي السعود ج٣ ص١٠٣
(٢) المحرر الوجيز ج٦ ص١
(٣) اللباب في علوم الكتاب ج٨ ص٢
(٤) المعجم الصغير للطبراني ج١ ص١٤٥

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



داسې حال کښې چې اویا زره ملائکو یې مشایعت کاوه چې دوی له په تسبیح او تحمید باندې زوږ پورته کېده.

ب: د عبد الله بن عباس رضی‌الله‌عنهما څخه روایت دی چې سورت الأنعام په مجموعي توګه یوه شپه په مکه معظمه کښې په داسې حال نازل شو چې: «حَوْلَهَا سَبْعُوْنَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجْاَرُوْنَ بِالتَّسْبِيْحِ»(۱) شاوخوا یې اویا زره پرښتې وې او د الله ﷻ په تسبیحاتو باندې یې اوازونه پورته کول.

نو پوښتنه دا ده چې د ذکرو شوو روایتونو څخه خو څرګندېږي چې په دغه سورت کښې مدني ایتونه نشته او ټول ایتونه یې مکي دي؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو ذکر شوي روایات ضعیف ګڼلي دي(۲). دوی وایي چې ټول په یو ځل نه دي نازل شوي.

مګر مونږ ته دا جواب څکه کمزوری ښکاري چې که بالفرض ذکر شوي روایات ضعیفه هم وي خو اسناد یې متعدد دي او دا خو پوره واضحه ده چې د اسنادو په تعدد سره ضعیف حدیث قوي کېږي. د همدې کبله مونږ دې ته ترجیح ورکوو چې په ذکرشوي سورت کښې مدني ایتونه نشته. کوم ایتونه چې ځینو مفسرینو کرامو مدني بللي دي (لکه [۹۱، ۹۲] ایتونه) د څه روایت استناد نه لري بلکې اصلي سبب یې د تفسیر اشکال دی. لله الحمد مونږ ته یې په تفسیر کښې څه اشکال په نظر نه راځي (چې په خپل ځای کښې به ان شاء الله ﷻ واضحه شي) نو مدني هم ورته نه شو ویلی.

اما څوک چې په دې سورت کښې د مدني ایتونو په موجودیت باندې کلک ولاړ دي نو شاید چې هغوی به د ذکر شوي سوال څخه لاندې جوابونه کوي:

اول: مونږ د [البقرة:۳۴] ایت لاندې لیکلي دي چې په عربي محاوره کښې کله-کله د اقلیت د ذکر څخه صرف نظر کېږي نو دلته هم مدني ایتونه چې بالکل قلیل دي د نظره غورزولي شوي دي.

دوهم: دا هم څه لرې نه ده چې ذکر شوي روایات د هغه وخت څخه وړاندې وي چې ځینې مدني ایتونه د نوموړي سورت په ځینو مناسبو ځایونو کښې کېښودلی شي او نبي کریم ﷺ ورته ځایونه ټاکلي وي.

## د دې سورت محتویات

۴- څرنګه چې قرآن کریم د الله ﷻ کلام دی او غیر متناهي علوم پکښې پټ دي، نو هیڅوک نه شي کولی چې د یوه ایت او یا یوه سورت محتویات داسې تشخیص کړي لکه څنګه چې د یوه بشري کلام محتویات څوک تشخیصوي. نو د همدې کبله مونږ په بشري ناقص علم باندې وایو چې:

دا سورت د قرآن کریم د نورو سورتونو په شان مختلفو علومو ته اشارې کوي مګر د ټولو بحثونو محور او چورلیز یې په لاندې موضوعاتو پورې ارتباط لري:

---

(۱) الدر المنثور ج۳ ص۲۴۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

(۲) روح المعاني ج۷ ص۷۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده.
الف: د الله ﷻ د وجود اثبات، چې د دهريانو عقيده رد شوې ده.
ب: د الله ﷻ د وحدانيت اثبات، چې د مشركانو د عقائدو مختلف ډولونه پكښې باطل شوي دي.
ج: د نبي كريم ﷺ د رسالت اثبات، چې په يهودو او نصاراوو او نورو كافرانو باندې د هغوی عقائد رد كړی شوي دي.
د: په دې سورت كښې د مرګ څخه وروسته بيا راژوندي كېدل او د نېكۍ يا بدۍ جزا د ګاللو دپاره د الله ﷻ په حضور كښې دربدل پوره څېړل شوي دي.
ذكر شوي محتويات په ډول-ډول طرزونو باندې د بحث لاندې نيولي شوي دي، په هر ځل چې ورباندې بحث كېږي نو ته به وايې چې دا نوی بحث دی او د دې څخه وړاندې مې هيڅ نه دی اورېدلی.

## د دواړو سورتونو ارتباط

۵_ په وړاندېنې سورت (المائدة) كښې په قصدي توګه هغه عقيدوي انحرافات رد شوي وه چې اهل الكتابو (يهودو او نصاراوو) رامنځ ته كړي وه او په دې سورت (الأنعام) كښې هغه عقيدوي مزخرفات رد شوي دي چې د اهل الكتابو څخه په غير نورو كافرانو په الله ﷻ باندې افتراء كړي وه، او هم هغه مزخرفات ابطال شوي دي چې د الله ﷻ څخه منكرانو (دهريانو) ورباندې عقيده درلوده، نو په دواړو سورتونو كښې د مطلقې انحرافي عقيدې جرړې ويستلې شوې دي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَ ۖ ثُمَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟
بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ﴿١﴾ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن طِينٍ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلًا ۖ وَأَجَلٌ مُّسَمًّى عِندَهُۥ ۖ
ثُمَّ أَنتُمْ تَمْتَرُونَ ﴿٢﴾ وَهُوَ ٱللَّهُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَفِى ٱلْأَرْضِ ۖ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ
مَا تَكْسِبُونَ ﴿٣﴾ ﴾

د الله ﷻ په نامه چې ډېر مهربان (او) ډېر د رحم خاوند دی.
[۱] ټولې ستاينې هغه الله ﷻ ته ثابتې دي چې اسمانونه او ځمكې يې (په معينو اندازو) پيدا كړې دي او تيارې او رڼا يې (هم د بدلون رابدلون سره) خلق كړې دي، بيا هغه كسان چې په خپل رب باندې كافران شوي دي (ناتوانه بوتان په عبادت كښې) برابروي.
[۲] الله ﷻ هغه (اقدس) ذات دی چې تاسو يې د خټو څخه پيدا كړي ياست، بيا يې (ستاسو د ټولو كړو وړو دپاره) نېټه ټاكلې ده، او (د ټول عالم) معينه نېټه چې ده هغه د ده ﷻ په نزد ده (ده ﷻ پورې مختصه ده). بيا لا تاسو (د الله ﷻ په وحدانيت كښې) شک كوئ!

Downloaded from: bawarkitabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳] او دا ﷻ هم په اسمانونو او هم په ځمکو کښې الله (معبود) دی، ستاسو په پټو باندې پوهېږي او ستاسو په ښکاره وو (باندې هم پوهېږي) او په هغه شي باندې هم پوهېږي چې تاسو یې کوئ (په شپه کښې وي او که په ورځ کښې).

## ارتباط

۱ـ وړاندېنی سورت په دې مضمون باندې تمام شوی وه چې الله ﷻ په هر شي باندې قدرت لري او د دې سورت په پیل کښې د الله ﷻ د قدرت نمونې ښودلې شوې دي.

۲ـ هلته واضحه شوې وه چې د اسمانونو او ځمکو ملکیت الله ﷻ پورې مختص دی د همدې کبله عبادت یوازې د همده ﷻ خاصه ده، او عیسی ﷺ د هیڅ شي واک او اختیار نه لري حتی چې په خپل ځان کښې یې هم واک نشته، او دلته واضحه شوې ده چې د همدې کبله ټول محامد او عبادتونه یوازې همده ﷻ پورې اختصاص لري.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای خلکو! تاسو خبر اوسئ چې ټولې ستاینې او محامد د الله ﷻ پورې خاص دي، تاسو ته په کار دي چې صرف د الله ﷻ حمد او ثناء ووایاست او بس. ځکه چې:

۱ـ الله ﷻ هغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکې یې پیدا کړې دي او څه چې په دغو دواړو کښې دي هغه یې هم ټول پیدا کړي دي. یا په بل عبارت: هر شی چې تاسو ته د ستاینې وړ ښکاري همغه شی هم الله ﷻ پیدا کړی دی، حتی ستاسو ناحقه معبودان هم د الله ﷻ مخلوق دی، د دوی د وسې پوره نه ده چې په ځمکو او اسمانونو کښې یو ماشي او یا یو مچ ته موجودیت ورکړي.

۲ـ ټولې تیارې الله ﷻ پیدا کړې دي او مطلقه رڼا د همده ﷻ مخلوق ده، د غمونو او مصیبتونو مالک همدی ﷻ دی او خوشالۍ او تازه ګۍ د همده ﷻ په لاس دي، توره شپه په رڼا ورځ همدی ﷻ بدلوي او د رڼا ورځې ځخه توره شپه همدی ﷻ جوړوي، او بالآخره هدایت او ضلالت هم د الله ﷻ په واک او اختیار کښې دي، او همدی ﷻ د ټول مخلوق حتی د کافرانو هم مربي او پالونکی دی.

مګر عجیبه خبره دا ده چې کافران د خپل داسې مربي سره ـ چې صفات یې وړاندې بیان شوه او دوی دا هم مني چې ذکرې شوې ستاینې رښتیا دي ـ بیا هم د ده ناتوانه مخلوق برابروی، چې هم یې عبادت کوي او هم ترې د خپلې ګټې غوښتنه کوي او بالآخره هم پرې د مصائبو څخه پناه غواړي.

۳ـ ای خلکو! لکه څنګه چې تاسو ته ثابته شوه چې په ټوله دنیا کښې د الله ﷻ څخه په غیر هیڅوک هیڅ شی نه شي پیدا کولی، همدارنګه په وړوکې دنیا (انساني نړۍ) کښې هم دا کار د بل هیچا د لاسه پوره نه دی. او دا ځکه چې:

الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو (انسانانو) اصل (آدم ﷺ) یې د خټې څخه پیدا کړ او شنه خټه یې په سره غوښه باندې بدله کړه او ... هم د غه یو اصل څخه یې هغه ته جوړه (بي بي حواء

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رضي الله عنها) هم مخلوقه کړه چې د قيامت د ورځې پورې د همدغو دواړو اصلونو څخه ستاسو توالد او تناسل ښه په زغرده روان دی، نو په حقيقت کښې الله ﷻ تاسو ټول د ختې څخه پيدا کړي ياست.

علاوه په دې، ستاسو نشأ او نمو د منيو څخه صورت نيسي او مني د غذا په سلسله د ځمکې د جنس څخه ده، نو په حقيقت کښې تاسو ټول د ځمکې او شنې ختې څخه جوړ ياست.

نو ای خلکو! تاسو وواياست چې: ايا ستاسو باطلو معبودانو ذکر شوي کارونه کوم يو کړي دي او يا يې کولی شي؟

۴_ لکه څنګه چې ستاسو پيدايښت د الله ﷻ په قدرت کښې دی همدارنګه ستاسو د هر يو د مرګ فيصله هم د همده ﷻ په قدرت کښې ده، ستاسو عمرونه نه څوک لنډولی شي او نه اوږدوالی ورکولی شي، او د همدغه مقرر وخت علم هم الله ﷻ پورې خاص دی او بس. الله ﷻ تاسو ته په اجمالي توګه دومره پوهه درکړې ده چې عادةً په موجوده زمانه کښې تر يو سل کالو څخه اضافه سرې ژوندی نه پاتې کېږي مګر هيچا ته يې د مرګ ټاکلی وخت نه دی ښودلی.

اما د ټولې دنيا د رنګېدلو وخت خو صرف د الله ﷻ خاصه ده، نه څوک په اجمالي توګه پوهېږي او نه په تفصيلي ډول چې قيامت به څه وخت او يا څومره کلونه وروسته واقع شي. همدارنګه په دې هم څوک نه پوهېږي چې څومره موده به په قبرونو کښې وي او څومره موده وروسته به راپاڅولی شي.

عجيبه خو لا دا ده چې د انسانانو روزمره مړه کېدل او ژوندي کېدل ستاسو د نظره تېرېږي او تاسو پوهېږئ چې د الله ﷻ څخه په غير پکښې د هيچا وسه نشته خو بيا هم تاسو د الله ﷻ په کامل قدرت کښې شک کوئ او د قيامت د ورځې څخه منکرېږئ.

۵_ ای خلکو! کوم اقدس ذات چې د ټولو کماليه صفاتو درلودونکی دی او د ټولو نواقصو څخه پاک او منزه دی او تاسو يې هم د الله په نامه يادوئ همغه اقدس ذات هم په اسمانونو کښې د همدغو صفاتو څښتن دی او هم په ځمکو کښې ورپورې ذکر شوي صفات او تنزيهات مختص دي، مګر دا ببله خبره ده چې په ځمکه کښې ورسره تاسو مخلوقات شريکوئ او سوچه عبادت يې نه کوئ.

۶_ ای خلکو! لکه څنګه چې الله ﷻ په قدرت کښې سيال او مثل نه لري همدارنګه د ده ﷻ د علم او پوهې مخی هم هيڅوک نه شي کېدلی، او دا څکه چې الله ﷻ ستاسو په پټ او ښکاره ټولو باندې پوهېږي او ستاسو هيڅ ډول احتياج ترې نه پټېږي او همدارنګه ستاسو ټول کړه وړه ورته څرګند او معلوم دي، ايا ستاسو ناحقه معبودان په څه شي قدرت لري او يا په څه باندې پوهېږي؟

## توضيحات

۱_ الله ﷻ د قرآن کريم پنځه سورتونه (الفاتحة، الأنعام، الکهف، سبأ، فاطر) د ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ په جمله باندې پيل کړي دي او دا پنځه واړه مکي سورتونه دي.

شايد چې په دې کښې به دې خبرې ته اشاره وي چې په مکه معظمه کښې خلکو بوت پرستي کوله او د الله ﷻ سره يې په عبادت کښې مخلوقات شريکول، نو الله ﷻ هغوی په غوږ باندې ووهل

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې تولې ستاینې الله پورې مختصې دي، بل څوک ورسره پکښې مه شریکوئ او صرف د الله ﷻ ستاینه او عبادت وکړئ.

نو د ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ﴾ جمله که څه هم خبریه جمله ده مګر انشائیه جملې ته متضمنه ده چې "إحْمَدُو الله" خاص الله ﷻ ته ستاینې او حمدونه ثابت کړئ او بس.

## خَلَقَ او جَعَلَ څه فرق لري؟

۲_ که څه هم "خَلَقَ" او "جَعَلَ" دواړه کلمې یوه د بلې په ځای کښې استعمالېږي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: ﴿وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا﴾ [النساء: ۱].

ب: ﴿وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا﴾ [الأعراف: ۱۸۹].

مګر دواړه کلمې سره یو تربله لاندې فرقونه لري:

اول: د "خَلَقَ" کلمې په مفهوم کښې تقدیر او اندازه کول پراته دي او د "جَعَلَ" په مفهوم کښې د کیفیت بدلون رابدلون نغښتی دی.

دوهم: د "خَلَقَ" کلمه یوازې په تکویني ایجاد (پیداکولو) کښې استعمالېږي او د "جَعَلَ" کلمه عامه ده په تشریعي ایجاد کښې هم استعمال مومي، مثلًا: "جَعَلَ اللهُ الصَّلاةَ" الله ﷻ لمونځ مشروع کړی دی، ویلی شي، مګر "خَلَقَ اللهُ الصَّلاةَ" نه شي ویلی.

څرنګه چې په دې مقام کښې د اسمانونو او ځمکو پیدا کول د الله ﷻ د قدرت یوه نښه ده او د دواړو د اندازو او میعیارونو برابرول یې بله نښه ده، نو الله ﷻ د اسمانونو او ځمکو د ایجاد په بیان کښې د "خَلَقَ" کلمه نازله کړه ترڅو ذکرو شوو دواړو نښو ته اشاره وکړی شي.

او څرنګه چې "ظُلُمَات" او "نُور" دواړه کیفیتونه دي، نو دلته یې د "جَعَلَ" کلمه نازله کړه ترڅو مونږ په غوږ ووهي چې د تیارو او رڼاوو پیدا کول د قدرت یوه نښه ده او بدلون رابدلون یې بله نښه ده.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د ﴿ٱلظُّلُمَٰتِ﴾ کلمه جمعه نازله کړه او بالمقابل د "النُّور" کلمې په إفراد سره نزول ومومند، حال دا چې د تناسب د کبله خو د "الأنوَار" د کلمې نزول په کار وه؟

مونږ وایو چې: مونږ د [البقرة:۲۵۷] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق د ذکرو شوو دواړو کلمو په هکله ښه پوره بحث کړی دی چې د یوه پلوه مو د تیارو او رڼاوو (ظلمات او نور) دولونه ښودلي دي او د بله پلوه مو د ذکر شوي سوال جواب لیکلی دی، مګر په دې مقام کښې ورباندې لاندې څه نور جوابونه هم وراضافه کوو چې:

الف: څرنګه چې په معطوف علیها جمله ﴿خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ﴾ کښې یوه کلمه جمعه ذکره

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ده او بله مفرده، نو په معطوفه جمله کښې هم د همدغه تناسب د کبله اوله کلمه (الظُّلُمَات) جمعه او دوهمه کلمه (النُّور) مفرده نازله کړی شوه[۱].

ب: د "النُّور" څخه جنس مراد دی چې مفرداتو او جمعو ټولو ته شاملېږي، لکه څنګه چې د "الْأَرْض" د کلمې څخه جنس مطلب دی چې ټولو (اوو وارو) ځمکو ته شاملېږي[۲].

ج: څرنګه چې "نُور" (رڼا) د وحدت او اتفاق سنبول دی، لکه چې په یوه اوږده حدیث کښې ورته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده[۳]، او د "ظُلُمَات" (تیارې) سره تفرق او بې اتفاقي ملګرې ده، د همدې کبله رڼا ته حشرات ورغونډېږي او چې رڼا مړه شي خواره واره شي. نو الله ﷻ د ظلمات کلمه جمعه او د نُور کلمه مفرده نازله کړه. ته به وایې چې دې ته اشاره کوي که تاسو د اسلام په رڼا باندې راغونډ شئ نو اتفاق او اتحاد به مو هم ښه قوي وساتل شي، که نه نو ټول به خواره واره او ګډوډ شئ، بالآخره په عداوتونو باندې به اخته شئ.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: "ظُلُمَات" خو بل شی نه دی مګر د "نُور" نشتوالی دی، یا په بل عبارت: "ظُلُمَات" خو د "عَدَمُ النُّور" څخه عبارت دی چې د ایجاد لاندې نه راځي، نو په ایت شریف کښې په څه ملحوظ د "جَعَلَ" دپاره مفعول واقع شوی دی او د ایجاد لاندې راوستلی شوی دی؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د الله ﷻ په توحید باندې دلایل اقامه کول مطلب دي، نو معلومه شوه چې دلته د "ظُلُمَات" څخه اصلي ظُلمَت مراد نه دی چې عدمي شی دی او ایجاد ورته متوجه نه دی او بالآخره د انسانانو د حواسو لاندې نه واقع کېږي چې د الله ﷻ په کامل قدرت باندې یې براهین جوړ کړي، بلکې دلته عارضي ظُلمَت مطلب دی چې د نُور په تعقیب باندې ورته الله ﷻ وجود ورکوي او د انسانانو د حواسو لاندې واقع کېږي.

## دلته عدل څه معنی؟

۵ـ د ﴿ يَعۡدِلُونَ ﴾ کلمه د "عَدۡل" څخه اشتقاقه شوې ده چې په دې مقام کښې یې مفسرینو کرامو لاندې معناوې کړې دي:

الف: "عَدۡل" د "عُدول" ـلکه: قُبول ـ (تجاوز) په معنی دی، او په ﴿ بِرَبِّهِمۡ ﴾ کښې د "ب" توری د "عَنۡ" معنی ورکوي[۴]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: الله ﷻ د هر شي خالق دی او حتی د مشرکانو هم روزي رسوونکی دی مګر دوی د خپل رب څخه په عبادت کښې تجاوز کوي او مخلوق ورسره پکښې شریکوي.

---

(۱) روح المعاني ج۷ ص۸۲
(۲) تفسیر القرطبي ج۶ ص۳۸۶
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۰
(۴) اضواء البیان ج۲ ص۱۶۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د "تعدل" کلمه د تسویه (برابرولو) معنی ورکوي[۱]. نو د معنی حاصل یې داسې را اوځي چې: د الله ﷻ قدرت په ټوله دنیا کښې ښکاره او واضحه دی مګر مشرکان د خپل همدغه با قدرته رب سره ناتوانه مخلوق برابروي چې په عبادت کښې یې ورسره شریک ګڼي او د خیر رسونې نه ترې کوي.

مونږ ته همدا دوهمه معنی بهتره برېښي ځکه چې الله ﷻ مونږ ته د مشرکانو د خولو څخه حکایت کوي چې دوی به د قیامت په ورځ اعتراف وکړي چې: ﴿ تَاللَّهِ إِن كُنَّا لَفِى ضَلَـٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ [الشعراء:۹۷_۹۸] یعنې: په الله ﷻ باندې مو دې قسم وي چې یقینًا مونږ په ښکاره ګمراهۍ کښې وو کله مو چې تاسو (ای بوتانو!) د رب العالمین سره برابرولئ.

## انسان د ختو څخه جوړ شوی دی

۶_ په دې مقام کښې الله ﷻ ټول انسانان مخاطب کړي دي چې تاسو ټول د ختو څخه جوړ کړی شوي یاست، یقینًا هر انسان په لاندې لحاظونو سره د خاورې او بالآخره د ختې څخه جوړ دی:

الف: آدم ﷺ د ټولو انسانانو اصل دی نو کله چې اصل د خاورو او ختو څخه جوړ دی، نو په ټولو انسانانو باندې دا جمله صادقېږي چې دوی ټول د خاورو او ختو څخه جوړ شوي دي.

نبي کریم ﷺ په یوه اورږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَالنَّاسُ بَنُو آدَمَ وَخَلَقَ اللهُ آدَمَ مِنْ تُرَابٍ»[۲] یعنې: او ټول خلک د آدم ﷺ اولاده ده او الله ﷻ آدم ﷺ د خاورو څخه پیدا کړی دی.

ب: د آدم ﷺ څخه راوروسته هر انسان د نطفې څخه جوړ شوی دی، او ښکاره ده چې نطفه د وینې څخه، او وینه د غذاګانو څخه جوړېږي او ټولې غذاګانې که څه هم د حلالو څارویو غوښې وي د ځمکې څخه جوړښت مومي، همدارنګه د هر انسان نشأ او نمو د خاورو څخه سرچینه اخلي او بالآخره خاوره په غوښه بدلېږي؛ نو هر انسان د خاورې او ختې څخه جوړښت مومي.

ج: د ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا وَقَدْ ذُرَّ عَلَيْهِ مِنْ تُرَابِ حُفْرَتِهِ»[۳] هیڅ مولود نه دی مګر په ده باندې د خپل قبر خاوره شیندله کېږي. یعنې: د هر چا د نطفې سره د همغه ځای خاوره خلطېږي (ګډېږي) چې نوموړی پکښې دفن او خاورې کېږي.

په همدې مضمون باندې د عبد الله بن مسعود ﷺ څخه موقوف حدیث هم روایت شوی دی[۴] چې حکمًا مرفوع ګڼل کېږي.

مونږ ته داسې ښه برېښي چې په ذکرو شوو تفسیرونو کښې یوه ته هم تخصیص ورنه کړو، ځکه چې څه منافات سره نه لري او په دریوارو لحاظونو سره انسان د خاورو څخه خلق شوی دی.

---

(۱) روح المعاني ج۷ ص۸۵
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۲
(۳) حلیة الأولیاء للأصفهاني ج۲ ص۲۸۰
(۴) البحر المحیط ج۴ ص۴۳۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## أجَل څه معنی؟

۷ـ د یوه شي دپاره ټاکلې شوې موده د "أجَل" په نامه باندې یادېږي[۱]. مګر په دې مقام کښې علماوو کرامو د "أجَل" د کلمې زښتې ډېرې معناوې کړې دي چې تقریباً دولسو ته رسېږي[۲]، خو مونږ ته چې کومه معنی ښه ښکارېږي هغه دا ده چې:

الف: په ﴿ ثُمَّ قَضَىٰٓ أَجَلًا ﴾ کښې دېته اشاره ده چې الله ﷻ د خپل ځان سره فیصله کړې ده چې هر یو انسان به څه وخت د مور ځخه تولد کېږي او ترڅو به ماشوم وي او څومره وخت به جوړ او څومره موده به ناجوړه او بالآخره په څومره عمر به مړ کېږي؟ او داسې نور.. نو څرنګه چې د هر انسان ټولو کړو وړو ته نېټې ټاکل څه وړه خبره نه ده که بالفرض ایجاد (پیداکول) ورسره ملحوظ نه کړی شي هم کفایت کوي چې د مشرکانو د شرک مانع جوړ شي، نو ځکه الله ﷻ د عاطفه حروفو څخه د "ثُمَّ" حرف نازل کړ چې په تاخیر باندې دلالت کوي، ته به وایې چې مونږ ته توصیه کوي چې ایجاد او د نېټو ټاکل هر یو بېل‌بېل ملحوظ کړئ.

ب: په ﴿ وَأَجَلٌ مُّسَمًّى عِندَهُۥ ﴾ کښې د ټولې دنیا عمر ته اشاره ده چې څه وخت به ټول ساکنیان مړه کېږي او ترڅو پورې به په خاورو کښې خلط ملط وي او بالآخره څه وخت به د قبرونو څخه راپورته کېږي او څه وخت به په جنت او دوزخ باندې د الله ﷻ د ارادې مطابق توزیع کېږي؟ او داسې نور.

نو په دې تقدیر به د ذکر شوي ایت شریف مضمون دې ایت شریف ته ورته ښکاره شي چې فرمایي: ﴿ كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِٱللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَٰتًا فَأَحْيَٰكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴾ [البقرة: ۲۸] تاسو څنګه په الله ﷻ باندې کافر کېږئ، حال دا چې تاسو بې روحه شیان وئ نو الله ﷻ ژوندي کړئ، بیا مو مړه کوي، بیا به مو ژوندي کوي، بیا به خاص همده ﷻ ته ورتاو کړی شئ.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وایي: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د قیامت د نېټې سره د اختصاص کلمه ﴿ عِندَهُۥ ﴾ نازله کړه او د انسانانو د نېټو سره یې نازله نه کړه؟

مونږ وایو چې: که څه هم هیچا ته د خپل عمر په باره کښې مشخص معلومات نشته چې په کوم تاریخ باندې به مړ کېږي، مګر دومره پوهېږي چې د فلاني وخت څخه وروسته ژوندی نه شي پاتې کېدلی، اما د قیامت د قیام تاریخ د الله ﷻ څخه په غیر هیچا ته معلوم نه دی، اګر که مقرب پیغمبر ﷺ او یا مقربه پرښته وي. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: یوه شپه نبي کریم ﷺ د خپل عمر په وروستیو کښې د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته صحابه وو کرامو ﷺ ته وویلې چې: ایا تاسو د دغې شپې په حالت باندې خبر یاست؟ (حالت یې دا

---

(۱) مفردات الراغب ص ۶

(۲) البحر المحیط ج۴ ص ۴۳۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی چې) «فَإِنَّ رَأْسَ مِائَةِ سَنَةٍ مِنْهَا لَا يَبْقَى مِمَّنْ هُوَ عَلَى ظَهْرِ الْأَرْضِ أَحَدٌ»[۱] یعنې: د دې شپې څخه د سلو کالو د سره (تمامه) پورې به د هغه چا څخه چې (نن شپه) د ځمکې په مخ باندې دي هیڅوک باقي (ژوندی) پاتې نه شي.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَعْمَارُ أُمَّتِي مَا بَيْنَ السِّتِّينَ إِلَى السَّبْعِينَ وَأَقَلُّهُمْ مَنْ يَجُوزُ ذَلِكَ»[۲] یعنې: زما د اُمت عمرونه په مابین د شپېتو کښې دي تر اویاوو پورې، د دوی به ډېر لږ هغه خلک وي چې د دې څخه تېر شي.

ج: یوه ورځې جبرائیل امین عليه السلام د نبي کریم ﷺ څخه (د تعلیم دپاره) پوښتنه وکړه چې قیامت به کله وي؟ نو نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «مَا الْمَسْئُولُ بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ»[۳] (په دې باره کښې) مسئول د سائل څخه ښه نه پوهېږي. یعنې نه پرې ته پوهېږې او نه پرې زه پوهېږم. بیا نبي کریم ﷺ د استشهاد دپاره دا ایت شریف ولوست چې: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ ﴾ [لقمان: ۳۴] یقینًا الله ﷻ چې دی خاص د همده ﷻ په نزد د قیامت د قیام علم دی او بس.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹_ که څوک وایي چې: د عربیت قانون دی چې په اعلامو پورې حرف جَار تعلق نه نیسي، حال دا چې په ﴿ وَهُوَ ٱللَّهُ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَفِى ٱلْأَرْضِ ﴾ کښې حرف جاره (فِي) په مبارکه کلمه ﴿ ٱللَّهُ ﴾ پورې تعلق نیولی دی چې د ټولو کائناتو د خالق دپاره عَلَم (نوم) دی؟

مونږ وایو چې: حرف جاره د هغه عَلَم (نوم) پورې هم تعلق نیسي چې په کوم وصف باندې شهرت ولري، په دې مقام کښې د ﴿ ٱللَّهُ ﴾ جلیله کلمه په معبودیت سره بلکې په ټولو کمالیه صفاتو باندې شهرت لري چې په همدغه لحاظ سره ورپورې د (فِي) توری تعلق نیسي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د ټول عَالَم خالق هغه الله ﷻ دی چې په اسمانونو کښې هم معبود دی او په ځمکو کښې هم د معبودیت مستحق دی.

همدا مضمون په بل ځای کښې الله ﷻ ښه واضحه بیان کړی دی چې: ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى فِى ٱلسَّمَآءِ إِلَٰهٌ وَفِى ٱلْأَرْضِ إِلَٰهٌ ﴾ [الزخرف: ۸۴] یعنې: او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په اسمان کښې هم معبود دی او په ځمکه کښې هم معبود دی.

﴿ وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ مِّنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا۟ عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤﴾ فَقَدْ كَذَّبُوا۟ بِٱلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ۖ فَسَوْفَ يَأْتِيهِمْ أَنۢبَٰٓؤُا۟ مَا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٥﴾ أَلَمْ يَرَوْا۟ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۲۲
(۲) سنن ابن ماجه ص۳۱۲
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۱۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مِّن قَرْنٍ مَّكَّنَّـٰهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّن لَّكُمْ وَأَرْسَلْنَا ٱلسَّمَآءَ عَلَيْهِم مِّدْرَارًا وَجَعَلْنَا ٱلْأَنْهَـٰرَ تَجْرِى مِن تَحْتِهِمْ فَأَهْلَكْنَـٰهُم بِذُنُوبِهِمْ وَأَنشَأْنَا مِنۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا ءَاخَرِينَ ﴿٦﴾

[۴] او نه ورځي دوی (کافرانو) ته هیڅ (تکویني یا قرآني) ایت (نښه) د خپل رب د نښو څخه مګر دوی ترې مخونه اړوونکي دي (بلکې لا تکذیب یې هم کوي).

[۵] نو بې شکه دوی حق (قرآن) ته (په جلتۍ سره) د دروغو نسبت وکړ کله چې دوی ته ورغی (تکذیب یې فکر ته تال نه کړ)، نو ډېر ژر به دوی ته د هغه شي خبرونه ورشي چې دوی وه چې په هغه باندې یې ملنډې وهلې (ډېر ژر به دوی ته حقیقت څرګند شي).

[۶] ایا دوی (کافرانو) نه دي کتلي (پرې خبر نه دي) چې د دوی څخه وړاندې مونږ څومره ډېر داسې خلک هلاک کړي دي چې هغوی ته مو په ځمکه کښې دومره اسودګي ورکړې وه چې هغومره اسودګي (امکانیات) مو لا تاسو ته نه دي درکړې (هغه دا چې) په هغوی باندې مو بارانونه په شېبو. شېبو اورولي وه او (د آبادۍ د کبله) د دوی په (لاس) لاندې (ځمکو کښې مو ویالي ګرځولې وې چې بهېدلې به.

نو (د دې سره-سره) دوی مو د خپلو ګناهونو په سبب هلاک کړه، او د دوی څخه وروسته مو نور قرنونه (خلک) پیدا کړه (او ځمکه مو ورباندې آباده کړه).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ په قرآني ایتونو سره خلک تکویني ایتونو ته متوجه کړه ترڅو دوی پکښې سوچ وکړي او د کفریاتو او مشرکانه اعمالو څخه لاس واخلي، او په دې ایتونو کښې د خلکو (مشرکانو) غبرګون بیان شوی دی چې حاصل یې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ د الله ﷻ د هدایتونو په مقابل کښې د مشرکانو او ملحدانو غبرګون دا دی:

الف: کله چې دوی ته د بل چا د پلوه نه، بلکې د خپل رب او حقیقي إنعام کوونکي د پلوه څه دلایل ورسېږي نو دوی پکښې هیڅ فکر نه کوي او بلکې مخونه ترې اړوي، ته به وایې چې نه بې څه اورېدلي دي او نه یې څه لیدلي دي.

ب: نو د همدې کبله د وررسېدلو سره سم د دې په ځای چې تصدیق یې وکړي، په تکذیب باندې پیل کوي او لږ څه تال هم پکښې نه کوي.

ج: د اعراض او تکذیب د پاسه لا پسې استهزاء او مسخرې هم کوي او په خپل کفر باندې د پاسه بل کفر اضافه کوي.

نو د دوی د ذکر شوي غبرګون په مقابل کښې به دوی د الله ﷻ د پلوه د مهلک غبرګون سره مخامخ شي او د خپلو خندنیو او مسخرو جزا به علاوه په آخرت، په دنیا کښې هم وګوري.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ ای پیغمبره! مشرکان او ملحدان په دې باندې غره دي چې مونږ دوی ته مادي نعمتونه ډېر ورکړي دي، او ښه په خوشالۍ او عیش او نوش کښې وخت تېروي، د دوی دا فکر دی چې مونږ به دوی د معنوي نعمتونو (د قرآن او ستا د مبعوثیت) په کفران او ناشکرۍ باندې ونه نیسو او جزا به ورنه کړو، او یا یې دا فکر دی چې دوی به په مادي قوت باندې زمونږ د ارادې مخه ونیسي، مګر د دوی دغه دواړه خیالونه باطل او بې نتیجې دي.

۳_ ای پیغمبره! د خپل وخت مشرکانو او ملحدانو ته ووایه چې تاسو د پخوانیو زمانو د ملحدانو تاریخ په نظر کښې ونیسئ چې هغوی ته مو دومره بدني قوتونه ورکړي وه چې تاسو ته مو نه دي درکړي، هغوی ته مو دومره امکانیات ورکړي وه چې تاسو ته مو نه دي درکړي، هغوی ته مو دومره اوږده عمرونه ورکړي وه چې تاسو ته مو نه دي درکړي، همدارنګه تاسو د هغوی په نسبت ډېر کمزوري او ضعیفان یاست، بالآخره په هغوی باندې مو وخت په وخت په شېبو شېبو بارانونه کړي وه چې ټول وطن یې ګل ګلزار وه او هرې خوا ته یې ویالې او نهرونه روان وه، حال دا چې تاسو (د مکې ملحدان) په وچه کانګړه کښې پراته یاست.

لنډه دا چې د ذکر شوو نعمتونو سره-سره مو هغوی په ګناهونو باندې ونیوه، نه یې زمونږ سره څه مقابله وکړی شوه او نه یې توان درلود، او بلکې په همغه وخت کښې پوه شوه چې ذکر شوي نعمتونه د اِکرام او اِعزاز د کبله نه بلکې د استدراج د کبله ورکړی شوي وه.

۴_ زمونږ قدرت دومره محدود نه دی چې یو قوم هلاک کړو نو دنیا به ورانه شي او نور اوسېدونکي به ورته پیدا نه کړی شو بلکې زمونږ قدرت کامل دی، کله مو چې ذکر شوي ملحدان هلاک کړه او د ځمکې مخ مو ترې خالي کړ، نو د هغوی په عوض مو نور خلک پیدا کړه او ځمکه مو ورباندې اباده کړه، نو که بالفرض ستا د زمانې ملحدان په خپل کفر باندې کلک شي نو دوی به هم هلاک کړو او په ځای به یې نور قومونه په ځمکه باندې آباد کړو.

## توضیحات

۱_ الله ﷻ خپله خبره ربښتیا کړه چې د مکې مشرکانو د اسلام د وړاندې تګ مخه ونه نیولی شوه او الله ﷻ خپل دین ټولې دنیا ته ورساوه حتی چې مکه معظمه فتحه شوه او دوی هک پک حیران شوه، همدارنګه یې په دوی باندې د دنیاوي عذاب یوه ځنډه د بدر په غزا کښې هم ورنازله کړه او د آخرت دائمي عذاب ته خو ورروان دي.

همدارنګه به د قیامت د ورځې پورې ټول کافران او ملحدان د ناکاره برخلیک سره مخامخ شي او د الله ﷻ د ارادې مخه به ونه شي نیولی.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: مونږ به ملحدانو ته څه جواب ورکړو که بالفرض هغوی په ﴿ أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم ﴾ کښې د خبرې مخ مونږ ته راواړوي او ووایي چې:

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ایا تاسو زمونږ د ژوند تضمین کوئ که په نبي کریم ﷺ باندې ایمان راوړو؟
ب: که پخوانیو قومونو ایمان راوړی وی نو ایا هغوی به ژوندي پاتې شوي وی؟
ج: ایا پخواني مسلمانان په دې زمانه کښې څوک ژوندي شته دي؟
د: ایا تاسو به ژوندي پاتې شئ چې ایمان مو راوړی دی؟
ه: د نوح ﷺ قوم خو هلاک شو نو ایا په خپله نوح ﷺ ژوندی پاتې شو؟

مونږ وایو چې: د ذکرې شوې جملې مطلب دا نه دی چې که پخوانیو قومونو کفر نه وی کړی نو هغوی به ژوندي پاتې شوي وی؛ ځکه چې ﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ﴾ [آل عمران: ۱۸۵] یعنې: هر نفس د مرګ څکونکی دی؛ بلکې مطلب یې دا دی چې:

اول: څرنګه چې کافران په غیر الله باندې اتکا لري چې د مصیبت په وخت کښې به یې په کار ورشي، نو دوی په غوږ وهلی کېږي چې د مرګ څخه لوی مصیبت خو نشته مګر بوتانو هیڅوک د مرګ څخه نه دي خلاص کړي ځکه چې غیر الله (بوتان) ناتوانه دي، الله ﷻ فرمایي: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَن يَخْلُقُواْ ذُبَابًا وَلَوِ ٱجْتَمَعُواْ لَهُۥ ﴾ [الحج: ۷۳] یعنې: ای خلکوا یقیناً هغه کسان چې تاسو یې په دعوت (عبادت) باندې (د الله ﷻ څخه په غیر) مصروف یاست، دوی به هیڅکله یو مچ هم خلق نه کړی شي اګر که دوی ورته راټول شي او یو بل ته لاس ورکړي.

دوهم: د کافرانو په نزد خو د الله ﷻ نعمتونه د اعزاز نښه ده، نو دوی ګومان کوي چې الله ﷻ د دوی په کړنلاره باندې راضي دی او خپل عذاب به پرې نازل نه کړي، لکه چې د دوی د خولو څخه الله ﷻ حکایت کوي چې: ﴿ وَقَالُواْ نَحْنُ أَكْثَرُ أَمْوَٰلًا وَأَوْلَٰدًا وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴾ [سبا:۳۵] یعنې: او دوی وایي چې مونږ هم د مالونو د حیثه او هم د اولادونو د حیثه زیات یاستو او مونږ معذب کړی شوي نه یاستو.

نو جواب ورکړی شو چې تاسو ته نعمتونه درکول د اعزاز دپاره نه بلکې د استدراج دپاره دي چې د الله ﷻ په عذاب باندې ښه پوره ککړ شئ، لکه چې پخواني ورباندې ککړ شوي وه.

درېیم: څرنګه چې کافران په الله ﷻ باندې سمه عقیده نه لري او د پیغمبرانو څخه د مسخرو د پاسه انکار هم کوي، ته به وایې چې دوی د الله ﷻ سره زور آزمایي کوي او غواړي چې د ده ﷻ د ارادې مخه ونیسي؛ نو دوی پوه کړی شوي دي که بالفرض تاسو د الله ﷻ د ارادې په وړاندې وسه درلودی نو پخواني قومونه به نه وی هلاک شوي. لکه چې په بل ځای کښې الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ لَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مُعْجِزِينَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ [النور: ۵۷] یعنې: (ای مخاطبه!) په هغو خلکو باندې هیڅکله ګومان مه کوه چې دوی کافران شوي دي، (دا ګومان چې) دوی په ځمکه کښې (د الله ﷻ) عاجزوونکي دي (دوی ورباندې زورور دي).

څلورم: ربښتیا ده چې د پخوانیو زمانو مؤمنان او کافران ټول مړه شوي دي، مګر مؤمنان به اعزاز سره او کافران په توهین سره مړه شوي دي لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې

Downloaded from: karwanketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فرمايي چې: کافر ته د روح د قبض په وخت کښې ويل کېږي چې: اى پليته روحه! د الله ﷻ غضب ته رابهر شه، او مؤمن ته ويل کېږي چې: «أَيَّتُهَا النَّفْسُ الطَّيِّبَةُ كَانَتْ فِي الْجَسَدِ الطَّيِّبِ»[۱] يعنې: اى پاکه روحه! د پاک جسد څخه د الله ﷻ رضاء ته رابهر شه.

د إعزازي مرګ او د توهيني مرګ مثالونه په انسانانو کښې دا دي چې دوى ليوني سپي په ډېرو باندې په ډېره توهين آمېزه طريقه سره رجم کوي ترڅو مردار شي، مګر بالمقابل د قرباني ځاروى په ډېره إعزازي طريقه باندې ذبحه کوي او د ذبحې په وخت کښې هغه صحنه ورپه زړه کوي کومه چې د ابراهيم ﷺ او د اسماعيل ﷺ په منځکښې تېره شوې ده، ته به وايې چې يا د خپل خان او يا د خپل اولاد فديه د الله ﷻ په دربار کښې وړاندې کوي.

پنځم: بالآخره په پخواني تاريخ کښې د کافرانو د ډله ييزې مړينې واقعې ډېرې پېښې شوې دي حتى چې پخپله کافران هم ترې انکار نه شي کولى، لکه عاديان، ثموديان، د نوح ﷺ قوم، د لوط ﷺ قوم او يا لکه اصحاب الفيل او داسې نور.

مګر هيڅکله په ټول تاريخ کښې مسلمانان په اجتماعي توګه نه دي هلاک شوي، که بالفرض هلاک شوي وى نو د وخت کافران به د اعتراض څخه پټه خوله نه وى پاتې شوي.

نو پورتنيو دلايلو ته په کتو سره د ﴿ أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم ﴾ د جملې مخ مونږ (مؤمنانو) ته څوک نه شي راااړولى.

## قَرن څه معنى؟

۳ـ د "قَرْن" کلمه په لغت کښې په لاندې دوه وو معناوو باندې استعمالېږي:

الف: "قَرْن" د نېغ ودرېدلو په معنى[۲]، لکه چې د غره څوکې ته "قَرْنُ الْجَبَلْ" وايي.

ب: د پيوستون په معنى، چې دوه يا ډېر شيان په يوه صفت کښې پيوستون ولري[۳]. د همدې کبله د غوايه دواړو ښکرونو ته قَرنَين وايي چې دواړه د غوايه په سر باندې يو تربله پيوسته نېغ ولاړ وي، او هم هغه خلک چې په يوه زمانه کښې ژوند کوي د "قَرْن" په نامه يادېږي چې په "قُرُون" باندې جمعه کېږي.

اما په دې کښې د علماء کرامو اختلاف دى چې هغه څومره زمانه ده چې اهل يې د "قَرْن" په نامه يادېږي، چې تقريباً ټول اقوال پکښې پنځلسو ته رسېږي[۴]، مګر جمهور علماء کرام وايي چې يو قَرن د سلو کالو څخه عبارت دى[۵].

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۳۱۴
(۲) تفسير القرطبي ج۶ ص۳۹۱
(۳) مفردات الراغب ص۴۱۶
(۴) البحر المحيط ج۴ ص۴۲۶
(۵) المحرر الوجيز ج۶ ص۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما زمونږ په نزد په دې مقام کښې د ﴿ قَرْنٍ ﴾ څخه هغه خلک مطلب دي چې د يوه پيغمبر په
دعوت کښې يې اشتراک درلود او بيا ټول د هغه په تکذيب کښې سره شريک شوي دي، برابره خبره
ده چې عمر يې د سلو کالو څخه زيات وه او يا کم او بالآخره يا پوره سل کاله وه، مونږ ځکه ذکر
شوې معنی خوښه کړه چې د نوح ﷺ د قوم عمر خو اقلاً نهه نيم سوه (٩٥٠) کاله وه خو هغوی ته
په ايت شريف کښې په "قُرون" (جمعې) سره اشاره نه ده شوې، بلکې د "قَرْن" په نامه ياد شوي او ټول
يو قرن ګڼل شوي دي.

﴿ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتَٰبًا فِي قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ لَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا
سِحْرٌ مُّبِينٌ ۝٧ وَقَالُوا۟ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ۖ وَلَوْ أَنزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِىَ ٱلْأَمْرُ ثُمَّ لَا
يُنظَرُونَ ۝٨ وَلَوْ جَعَلْنَٰهُ مَلَكًا لَّجَعَلْنَٰهُ رَجُلًا وَلَلَبَسْنَا عَلَيْهِم مَّا يَلْبِسُونَ ۝٩
وَلَقَدِ ٱسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُوا۟ مِنْهُم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ
يَسْتَهْزِءُونَ ۝١٠ قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ ثُمَّ ٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُكَذِّبِينَ ۝١١ ﴾

[٧] او که مونږ په تاباندې (ای پيغمبره! په ورو-ورو) په کاغذ کښې کتاب نازل کړی وی نو دوی په خپلو لاسونو باندې مسه کړی هم وی، نو ضرور به هغو کسانو چې کافران شوي دي ويلي وی چې دا نه دی مګر ښکاره جادو دی.

[٨] او دوی (مشرکان) وايي چې: په ده (نبي کريم ﷺ) باندې ولې پرښته نازله نه کړی شوه، او که مونږ پرښته نازله کړې وی نو ضرور به کار فيصله شوی وی (ټول به هلاک شوي وی)، بيا به نه وی وروسته کړی شوي (مهلت به نه وی ورکړی شوی).

[٩] او که مونږ هغه (شاهد، نذير، رسول) پرښته ګرځولې وی نو ضرور به مو سړی ګرځولی وی، او ضرور به مو په دوی (مشرکانو) باندې داسې اشتباه وراچولې وی لکه چې دوی پکښې خپل ځانونه وراچولي دي (چې اوس هم پکښې پراته دي).

[١٠] او بې شکه ستا څخه پخوا هم په ډېرو پيغمبرانو باندې ملنډې وهلې شوې دي، نو په هغو کسانو باندې چې د دوی (پيغمبرانو) څخه به يې ملنډې وهلې د هغه شي (جزا) ورچاپېره شوې ده د کوم په سبب به يې چې ملنډې وهلې.

[١١] (ورته) وايه (ای پيغمبره!) چې په ځمکه کښې سياحت وکړئ (لاړ شئ) بيا وګورئ چې د مکذبانو (د دروغو نسبت کوونکو) انجام څنګه شوی دی (همغسې انجام ستاسو هم دراخلي).

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې په استدلالي توګه د کافرانو د عقيدوي انحراف مخنيوی د الله ﷻ په

Downloded from: bawarketaptoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وحدانيت كښې بيان شوى وه او په دې ايتونو كښې د نبي كريم ﷺ په نبوت كښې د دوى عقيدوي انحراف په اثبات رسېږي او د منحرفينو اشتباهاتو ته جواب وركول كېږي.

## شان نزول

۱ـ يوه ورځې د مكې مكرمې مشركانو نبي كريم ﷺ ته وويلې چې: مونږ به په تاباندې ترهغه ايمان رانه وړو چې ترڅو مونږ ته د اسمان څخه د الله ﷻ د جانبه كتاب راوړې، او هم چې ترڅو د همدغه كتاب سره څلور ملائک رانښكته شي چې زمونږ په وړاندې شاهدي وركړي چې بې شكه دا كتاب د الله ﷻ د جانبه دى او چې بې شكه ته د الله ﷻ رالېږلى شوى يې[۱].

په ذكر شوي روايت كښې د ملائكو غوښتنه او هم د كتاب غوښتنه يوه واقعه په ګوته شوې ده، اما په ځينو روايتونو كښې د كتاب غوښتل يوه واقعه او د ملائكو غوښتل بله واقعه ښودل شوې ده چې تفصيل يې دا دى:

الف: يوه ورځې عبد الله بن ابي اُميه نبي كريم ﷺ ته وويلې چې: تر هغه به په تا باندې ايمان رانه وړم ترڅو چې د اسمانه كتاب رانښكته كړې چې ماته پكښې امر شوى وي چې زه ستا تصديق وكړم، بيا هم ګومان نه كوم چې ايمان به درباندې راوړم[۲].

نوموړى وروسته په ايمان باندې مشرف شو او د "رضي الله عنه" وړ جوړ شو، حتى چې د طائف په غزا كښې يې شهادت هم په برخه شو.

ب: يوه ورځې نبي كريم ﷺ ته مشركانو وويلې چې: ولې درباندې ملكه نه نازلېږي چې خلكو ته دې تصديق وكړي (خلكو ته دې وروپېژني)؟؛ نو الله ﷻ دا ايت نازل كړ چې: ﴿ وَقَالُواْ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ مَلَكٌ ﴾ الآية[۳].

مونږ ته داسې برېښي چې ذكر شوې دواړه غوښتنې به واقع شوې وي، چا به انفرادي مطرحې كړې وي او چا به په دواړو باندې په يو ځل صراحت كړى وي.

## سوال جواب

۲ـ كه څوک وايي چې: د دې سورت (الأنعام) په سريزه كښې تاسو ليكلي دي چې دا ټول مكي ايتونه دي او په يو ځل باندې نازل شوي دي، حال دا چې د شان نزول ذكر شوي واقعات دلالت كوي چې ايتونه يې متفرق دي (په بېلو بېلو وختونو كښې يې نزول موندلى دى)؟

مونږ وايو چې: د سلفو صالحينو عادت وه چې د شان نزول اطلاق يې د ايتونو په مصداقاتو باندې هم كاوه[۴]، او په مصداقاتو كښې خو دا ضرور نه ده چې فقط د نزول په وخت كښې دې واقع

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۴۲
(۲) المحرر الوجيز ج۶ ص۹
(۳) الدر المنثور ج۳ ص۲۵۱
(۴) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسير المنار ج۹ ص۶۲۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوي وي، بلکې د مصداقاتو معنی دا ده چې د ایتونو مفاهیم ورباندې صادقېږي که څه هم د نزول د وخت څخه وړاندې او یا وروسته یې تحقق موندلی وي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! هر چا ته چې الله ﷻ هدایت نه وي په برخه کړی که هرڅومره خوارق هغوی ته ورکړی شي او حتی د هغوی فرمائشي معجزې هم ورپوره کړی شي هغوی ایمان نه راوړي.

نو که بالفرض د مشرکانو د فرمائش سره سم مونږ په تاباندې د اسمانه (د غیبو) څخه په کاغذ باندې لیکلی شوی کتاب درنازل کړو، او مشرکان یې برسېره په لیدلو باندې (چې په معجزانه توګه نازل شي) په لاسونو باندې هم مسه کړي او ښه پوه شي چې دا تخیل نه دی بلکې واقعیت دی، نو بیا به هم دوی ترې انکار وکړي او د بهانې په توګه به ورباندې د جادو نوم کېږدي او تا به د جادوګر په نامه وبولي.

۲ـ ای پیغمبره! لکه چې ذکره شوې معجزه مشرکان محض د مسخرو او ټوقو په توګه غواړي، همدارنګه د ملکو په نزول کښې هم دوی محض سات تېری کوي او د ایمان راوړل یې مطلب نه دی.

علاوه په دې، که مونږ د دوی د غوښتنو په مطابق پرښتې ورنازلې کړو نو د لاندې دوه وو احتمالونو څخه به خالي نه وي، چې په دواړو کښې دوی ته څه ګټه نه رسوي بلکې په ضرر باندې یې تمامېږي، احتمالونه دا دي:

الف: که ملکه یا ملکې په خپلو اصلي څېرو باندې نازلې کړو نو محض په لیدلو سره به د مشرکانو زړونه وچوي او مړه به شي او حتی دومره به هم د دوی مرګ ټال نه شي چې ملکې د دوی په وړاندې شهادت ووایي.

ځکه چې: مشرکان بلکې جمله انسانان د پیریانو د لیدلو طاقت نه لري نو د ملکو لیدل خو د هیڅچا په وسه کښې نه دي. هو! دا بېله خبره ده چې الله ﷻ خپلو خاصو بندګانو (پیغمبرانو) ته فوق العاده قوت ورکړي او د ملاقات او مکالمې توان پکښې د هغوی سره واچوي.

ب: نو که بالفرض مونږ د مشرکانو فرمایش پوره کوو نو وراستولی شوې ملکه به د سړي په څېره اړوو ترڅو یې دوی د لیدلو او مباحثې طاقت ولري، مګر په دې صورت کښې به خپله اشتباه د سره پیل کړي چې دا ملکه نه ده، دا خو زمونږ په شان یو سړی دی، په کار دي چې الله ﷻ یوه بله ملکه نازله کړي ترڅو زمونږ د وړاندې شاهدي ووایي چې دا را استولې شوې ملکه ده، نو دا سلسله به تر قیامته قطعه نه شي.

یا په بل عبارت: په دې تقدیر به مشرکان مونږ په هغې اشتباه کښې سر په څړې ورګذار کړو چې دوی لا پکښې د وړاندې څخه پراته وه او کوښښ یې کاوه چې دا اشتباه رفعه کړي.

۳ـ نو ای پیغمبره! لکه څنګه چې دوی په تاباندې د توحید په دلایلو کښې منلډې وهي، همدارنګه د نبوت په اثبات کښې هم دوی د مسخره چیانو لاره غوره کړې ده، او ذکر شوي وړاندېزونه د منلو په غرض نه کوي بلکې فقط سات تېری کوي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ته خپله حوصله مه خرابوه او مه غمژن کېږه، د پخوانیو پیغمبرانو سره هم د کافرانو د پلوه همدغسې چال چلند شوی دی، ته یوازې نه یې د هر ملګري دې پخوا تېر شوي دي.

۴ـ نو لکه څنګه چې د پخوانیو مسخره کوونکو څخه الهي عذاب راتاو شو او د استهزاء جزا یې د آخرت څخه وړاندې په دنیا کښې هم ولیده، همدارنګه به ستا د زمانې مسخره کوونکي او تکذیب کوونکي هم د ذکر شوي برخلیک سره مخامخ شي، دا د الله ﷻ قانون دی او دا قانون بدلون نه مومي، که د دوی شک وي نو ورته ووایه چې په دنیا کښې وګرځئ راوګرځئ او د پخوانیو مکذبینو او مسخره کوونکو په عاقبت باندې ځانونه خبر کړئ او ښه چرت پکښې ووهئ چې څنګه مو هلاک کړي دي او د ځمکې مخ مو ترې څنګه پاک کړی دی.

## توضیحات

۱ـ د اسماني کتاب څخه د مشرکانو مطلب لاندې دوه احتماله لري:

الف: لکه چې د شان نزول څخه څرګندېږي، د هغوی مطلب د کتاب څخه الهي فرمان وه چې خاص-خاص د دوی په نومونو باندې لیکونه نازل کړی شي، لکه چې الله ﷻ د دوی د خولو څخه حکایت کوي چې: ﴿ حَتَّىٰ تُنَزِّلَ عَلَيۡنَا كِتَٰبٗا نَّقۡرَؤُهُۥ ﴾ [الإسراء:۹۳] یعنې: تر هغه به په تابانده‌ې ایمان رانه وړو ترڅو چې په مونږ باندې مکتوب (الهي فرمان) نازل کړې چې مونږ یې ولولو.

ب: د هغوی مطلب دا وه چې دغه کتاب (قرآن کریم) دې په کاغذ باندې لیکلی شوی نازل کړی شي او د ملائکو بدرګه دې ورسره په څرګنده توګه ملګرې وي[۱].

په هر تقدیر، د جواب څخه معلومېږي چې مشرکانو په فرمایشي کتاب کښې لاندې شرطونه هم غوښتي وه:

اول: دوی غوښتي وه چې باید اسماني کتاب څو کرته نازل شي هسې نه چې په تېزۍ سره نازل شي چې څوک یې وګوري او څوک یې ونه ګوري بلکې ښه په کرارۍ او دمه (مزه-مزه) باید نازل شي، نو الله ﷻ په جواب کښې د ﴿ نَزَّلۡنَا ﴾ کلمه نازله کړه چې د تنزیل څخه اشتقاقه شوې ده او په اکثره وختونو کښې په دفعي (تدریجي) نزول باندې دلالت کوي، نه په یو ځل نزول.

دوهم: دوی غوښتي وه چې باید کتاب په کاغذ باندې لیکلی شوی وي، که بالفرض په کاڼي لیکلی شوی وي نو کوېږي به مو راماتې کړي؛ الله ﷻ ځکه د ﴿ فِي قِرۡطَاسٖ ﴾ کلمه نازله کړه چې "قِرۡطَاس" کاغذ ته وایي[۲].

دریم: دوی دا هم شرط کړی وه چې باید مونږ ذکر شوی فرمایشي کتاب (برسېره په لیدلو باندې) په لاس سره هم مسه کړو، هسې نه چې زمونږ په سترګو باندې څه خیالي څېره راښکاره شوې وي او کتاب واقعیت ونه لري څو کله چې د سترګو سره لاس هم ملګری شي نو دغه احتمال به د منځه لاړ

---

(۱) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۱۵۳

(۲) روح المعاني ج۷ ص۹۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي؛ نو ځکه الله ﷻ په جواب کښې د ﴿ فَلَمَسُوهُ ﴾ کلمه هم زیاته کړه.

څلورم: د دوی د شرطونو څخه دا هم وه چې باید مونږ ذکر شوی مکتوب په لاسونو کښې واړوو او راواړوو او یو بل ته یې ورکړو، هسې نه چې د څو کسانو په لاس کښې پاتې شي او یا د منځه لاړ شي؛ نو الله ﷻ د ﴿ بِأَيْدِيهِمْ ﴾ کلمه هم ور اضافه کړه چې د "يَدٌ" جمعه ده او د ټولو د لاسونو څخه عبارت ده.

د جواب حاصل دا دی چې: مشرکانو ذکر شوی فرمایشي مکتوب د ایمان راوړلو دپاره نه، بلکې د عناد او استهزاء په خاطر غواړي. که بالفرض ذکر شوی فرمائش یې هو بهو پوره کړی شي هم ایمان به رانه وړي او د جادو لقب به ورکړي او تا به د جادوګر په لقب وبلي.

## د پرښتو د نزول غوښتنه

۲ـ داسې معلومېږي چې مشرکانو په لاندې درې ډولونو باندې د ملکو (پرښتو) د نزول غوښتنه کړې وه:

الف: چې د اسمانه (د غیبو) څخه کتاب یا مکتوب ښه په قراره قراره نازل کړی شي او د ملکو (پرښتو) یو ټولګی هم ورسره د شهادت دپاره رابښکته شي؛ په دې ډول باندې د شان نزول یو روایت دلالت کوي[1].

ب: چې د نبي کریم ﷺ سره په رسالت کښې برخه واخلي چې دا د الله ﷻ ربښتیانی پیغمبر دی او زه ورسره د خلکو په إنذار (ډارولو) کښې د همکار په حیث را استولی شوی یم. الله ﷻ د مشرکانو د خولو څخه حکایت کوي چې: ﴿ لَوْلَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُونَ مَعَهُۥ نَذِيرًا ﴾ [الفرقان:۷] یعني: ولې ده (نبي کریم ﷺ) ته پرښته نه رابښکته کول کېږي نو چې د ده سره (هغه هم) ډارونکې شي (او په دعوت کښې ورسره همکاري وکړي).

ج: چې د نبي کریم ﷺ په عوض د نبوت ستر مسئولیت ملائک (پرښتې) په غاړه واخلي. لکه چې الله ﷻ د مشرکانو څخه حکایت کوي چې: ﴿ قَالُواْ لَوْ شَآءَ رَبُّنَا لَأَنزَلَ مَلَٰٓئِكَةً ﴾ [فصلت:۱۴] یعني: دوی وایي چې که زمونږ د رب اراده شوې وی (چې مونږ ته پیغام راولېږي) نو ضرور به یې ملائک (پرښتې) را استولې وی.

نو څرنګه چې د یوې پرښتې جواب او د ډېرو پرښتو جواب څه فرق نه لري نو الله ﷻ د یوې پرښتې جواب نازل کړ، ته به وایې چې دې ته إشاره کوي چې کله د یوې پرښتې د نزول غوښتنه سادګي ده نو د ډېرو پرښتو د نزول غوښتنه خو بالکل لیونتوب دی.

نو حاصل یې داسې کېږي چې: دا پرښته به خالي نه وي، یا به په خپله اصلي څېره نازلېږي او یا به د انسان په څېرو اړول کېږي او بیا به رابښکته کېږي، لکه څنګه چې ابراهیم ﷺ ته د انسانانو په

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۴۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خبره کښې د بشارت (زیري) دپاره ورغلې وې. دوهم صورت خو مشرکانو ته هیڅ په درد نه خوري او اشتباه یې نه شي پورته کولی، لکه چې د "مطلب خلاصه" عنوان لاندې پکښې پوره څېړنه شوې ده، اما په اول صورت کښې خو به ﴿ لَّقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ﴾ سمدستي کار فیصله شي.

## د کار فیصله کېدل څه معنی؟

۳_ د ﴿ لَّقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ﴾ د جملې یا د (کار د فصیله کېدلو) لاندې تفسیرونه ولولئ:

الف: ځینې مفسرین کرام وایي چې: د الله ﷻ په نزد خو هغه ایمان معتبر دی چې بالغیب وي، او کله چې دوی په خپلو سترګو باندې ملائک وګوري نو که دوی ایمان راوړي نو ایمان به یې بالغیب نه بلکې بالمشاهده جوړ شي، او د مکلفیت لمن به ټوله شي، او چې کله دوی غیر مکلف وګرځېده نو بیا یې په دنیا کښې ژوند څه په کار دی ځکه چې دنیا خو دار التکلیف دی.

مګر مونږ ته دا جواب علاوه په دې چې متبادر نه دی، مقبول نه ښکاري، ځکه چې الله ﷻ د مجبورونکې معجزې سره فقط د غاړې اېښودل ضرور کړي دي، نه مړه کېدل. لکه چې فرمایي: ﴿ إِن نَّشَأۡ نُنَزِّلۡ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ءَايَةٗ فَظَلَّتۡ أَعۡنَٰقُهُمۡ لَهَا خَٰضِعِينَ ﴾ [الشعراء: ۴] یعني که چېرې زمونږ اراده وشي نو په دوی باندې به د اسمانه (مجبوروونکې) معجزه ورنازله کړو، نو د دوی غاړې به ورته ذلیله (ماتې) شي (او په ایمان به مجبور شي). خو داسې یې ونه ویلې چې که مجبوروونکې معجزه نازله کړو نو دوی به مړه شي.

همدارنګه الله ﷻ په دنیا کښې مړي راژوندي کړي دي او مکلفیت یې نه دی ختم شوی او په عقیدوي اُمورو کښې قیاس کار نه ورکوي، لکه چې د [البقرة:۲۴۳] ایت لاندې یې بحث تېر شوی دی.

ب: ځینې وایي چې: مشرکان به ځکه مړه شوي وی چې د الله ﷻ عادت دی چې غوښتله شوې معجزه څوک ونه مني هغوی هلاک کېږي، لکه څنګه چې د صالح ؑ قوم هلاک شو کله چې هغوی د اوښې معجزه ونه منله حال دا چې پخپله باندې یې غوښتې وه.

مګر دا جواب هم چندان مزه ناک نه دی، ځکه چې د یو پلوه تقدیر ته حاجت لري چې تقدیر یې داسې کېږي: "وَلَوْ أَنزَلْنَا مَلَكًا وَكَذَّبُوا لَقُضِيَ الْأَمْرُ". حال دا چې تقدیر خلاف الأصل دی، بې ضرورته یې سړی نه شي منلی، او د بله پلوه راته د الله ﷻ ذکر شوی عادت کلي نه ښکاري، ځکه چې انس ؓ وایي: د مکې مشرکانو د نبي کریم ﷺ څخه وغوښتل چې دوی ته یوه معجزه ورولېده کړي: «فَأَرَاهُمُ انْشِقَاقَ الْقَمَرِ»[۱] نو دوی ته یې د سپوږمۍ دوه ټوټې کېدل وروښودل، مګر هغوی ونه منله او د جادو نوم یې ورباندې کېښود؛ الله ﷻ همدې قیصې ته اشاره کوي چې: ﴿ وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةٗ يُعۡرِضُواْ وَيَقُولُواْ سِحۡرٞ مُّسۡتَمِرّٞ ﴾ [القمر: ۲] یعني: او که دوی معجزه وګوري نو د هغې څخه اعراض کوي او وایي

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۲۲؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


بلا نازله نه شوه چې دا قوي جادو دی. حال دا چې د مکې په مشرکانو باندې د اسمانه سمدستي بلا نازله نه شوه چې تول یې بوپنا کړي وی او د صالح علیه السلام د قوم په څېر تول هلاک شوي وی.

ج: مونږ ته هغه تفسیر ښه ښکاري کوم چې د خپله ایتونو څخه څرګندیږي، هغه دا چې که ملائک په خپله اصلي څېره باندې نازلې کړی شوې وی نو د مشرکانو زړونه به پرق چاودي وی او تول به مړه شوي وی؛ مونږ څکه دا تفسیر غوره کړ چې:

اول: الله ﷻ د ملکې د راښکته کولو سره د مشرکانو مرګ تړلی دی چې ﴿ وَلَوۡ أَنزَلۡنَا مَلَكٗا لَّقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ﴾ یعنې: که مونږ پرښته په خپله اصلي څېره باندې راښکته کړې وی نو دوی به دې ته نه وی پاتې شوي چې کلمه درسته کړي او ایمان راوړي، بلکې د لیدلو سره سم به یې ارواګانې قبض کړی شوې وی او ژوند به یې ختم شوی وی، نو دا غوښتنه د دوی په ضرر ده.

دوهم: نو څکه الله ﷻ د پرښتې د نزول عملي صورت دا ښودلی دی چې د سړي په څېره باندې راښکته شي ترڅو دوی ژوندي پاتې شي ﴿ وَلَوۡ جَعَلۡنَٰهُ مَلَكٗا لَّجَعَلۡنَٰهُ رَجُلٗا ﴾.

## د پرښتې لیدل او مرګ څه ارتباط لري؟

۴_ الله ﷻ د انسان حواس کمزوري پیدا کړي دي چې ترڅو ترې په فاني دنیا کښې کار واخلي، د همدې کبله که څوک د مرضونو څخه بچ پاتې شي نو ضرور به په بوډاتوب باندې مړ کېږي.

یوه ورځې د نبي کریم ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې: ایا مونږ دارو درمل وکړو؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: هو! دارو درمل وکړئ ای د الله بندګانو! څکه چې الله ﷻ داسې مرض نه دی پیدا کړی چې د هغه دپاره یې شفا او دارو نه وي پیدا کړي، مګر یو مرض (چې هغه دارو نه لري). نو صحابه وو کرامو رض وویلې چې هغه کوم مرض دی؟ نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «الْهَرَمُ»[1] هغه بوډاتوب دی.

هو! کله چې الله ﷻ خپل بندګان د قیامت په ورځ بېرته راژوندي کړي نو داسې قوي بدنونه او قوي حواس به ورکړي چې د ابدي پاتې کېدلو صلاحیت به پکښې نغښتی وي.

نو د انسان دنیاوي حواس کمزوري دي، د همدې کبله کله-کله د خپلې کمزورۍ د کبله د مرګ سره مخامخ کېږي. لاندې څو مثالونه د ښه وضاحت دپاره ولولئ:

الف: الله ﷻ د یوه کافر قوم د هلاکولو په قیصه کښې فرمایي چې: ﴿ إِن كَانَتۡ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ فَإِذَا هُمۡ خَٰمِدُونَ ﴾ [یس: ۲۹] یعنې: په دوی باندې مونږ د هلاکت دپاره کوم غټ لښکر نه وو رالېږلی ستاوه، بلکې هلاکوونکی آفت نه وه مګر یوه چیغه وه، نو ناڅاپه دوی یخ پخ (مړه) پراته وه.

ب: د بدر په غزا کښې دوه کسان د غره په سر باندې ختلي وه ترڅو سیل وکړي چې په جنګ کښې کومه ډله غلبه مومي (مؤمنان که مشرکان)؟، مګر کله چې جنګ زور واخیست او د اسمانه ملائک راښکته شوه او د جنګ په شدت کښې دواړو د ملائکو دا چیغه واورېده چې:

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۲۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

«أَقْدِمْ حَيْزُومُ»[۱] يعني: پرې وروړاندې شه ای حيزومه!، نو سمدستي د ذكرو شوو دواړو سړيو څخه يو كس مړ شو او زړه يې وچاود. علماء وايي چې "حَيْزُوم" د جبرائيل امين ﷺ د اس نوم وه او چيغه د ملكې وه.

## د پرښتو ليدل اسان كار نه دی

۵ـ د ملكو ليدل اسان كار نه دی هرڅوک يې طاقت نه لري، د ښه وضاحت دپاره لاندې دوه مثالونه ولولئ:

الف: كله چې نبي كريم ﷺ په اول ځل د جبرائيل امين ﷺ سره د حراء په غار كښې د يوه سړي په څېره كښې ملاقي شو نو مبارک زړه يې ودرزېده او صحت يې ګډوډ شو د همدې كبله يې خديجة الكبرى رضي الله عنها ته امر وكړ چې: «زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي»[۲] يعني: په بړستن كښې ما راتاو كړئ، راتاو كړئ.

د نبي كريم ﷺ د پرښتو سره ملاقات په اكثره وختونو كښې د سړي په څېره باندې خصوصاً د دحيَةُ الكلبي ﷺ په څيره باندې متحقق كېده، لكه چې فرمايي: «وَيَتَمَثَّلُ لِيَ الْمَلَكُ أَحْيَانًا رَجُلًا فَيُكَلِّمُنِي فَأَعِي مَا يَقُولُ»[۳] او په ځينو وختونو كښې راته پرښته د سړي په څېره شي نو خبرې راسره وكړي نو زه ترې هغه څه حفظ كړم چې هغه يې وايي.

ب: نبي كريم ﷺ جبرائيل امين ﷺ په خپله اصلي څېره باندې صرف دوه ځله ليدلی دی لكه چې بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې: «وَلَكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ ﷺ فِي صُورَتِهِ مَرَّتَيْنِ»[۴] يعني: مګر نبي كريم ﷺ جبرائيل امين ﷺ په خپله اصلي څېره باندې صرف دوه ځله ليدلی دی، يو ځل په ځمكه باندې چې ټول اُفق (د اسمان څنډه) يې بنده كړې وه، او بل ځل په اسمانونو كښې د سِدرَةُ المُنتَهى په شاوخوا كښې.

اما دا خبره چې د نبي كريم ﷺ څخه په غير نورو پيغمبرانو جبرائيل امين ﷺ په خپله اصلي څېره باندې كوم ځل ليدلی دی او كه نه؟، نه پكښې "هو" ثابته ده او نه "نه"[۵]، د همدې كبله پكښې مونږ نه "هو" وايو او نه "نه".

## سوال جواب

۶ـ كه څوک وايي چې: د ﴿وَلَوْ جَعَلْنَاهُ مَلَكًا﴾ د جملې بارز ضمير څه شي ته راجع دی چې بايد وړاندې ذكر وي؟

---

(۱) المحرر الوجيز ج۵ ص۱۰
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۳
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۴۵۷
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۷۲۰
(۵) روح المعاني ج۷ ص۹۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو: لکه څنګه چې د ذکرې شوې دوهمې توضیح څخه څرګندېږي، د پرښتو غوښتنه مشرکانو په لاندې درې ډولونو باندې کړې وه:

الف: د شاهد او مُصدق په توګه، چې یا د نبي کریم ﷺ په نبوت باندې او یا په اسماني فرمائشي کتاب باندې شاهدي ورکړي او تصدیق یې وکړي.

ب: د نذیر (ډاروونکي) په توګه، چې د نبي کریم ﷺ سره په نبوت کښې برخوال شي.

ج: د مستقل رسول په توګه، چې پخپله پرښته د نبي کریم ﷺ څخه په غیر د نبوت دړنده وظیفه په غاړه واخلي.

نو ذکر شوی ضمیر شاهد یا نذیر او یا رسول ته راجع دی چې هر یو حُکمًا ذکر دی چې بحث ورباندې دلالت کوي، نحویان وایي چې د مرجع دپاره حُکمي ذکر هم کفایت کوي.

﴿قُل لِّمَن مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ قُل لِّلَّهِ كَتَبَ عَلَىٰ نَفْسِهِ ٱلرَّحْمَةَ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٢﴾ وَلَهُۥ مَا سَكَنَ فِي ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١٣﴾ قُلْ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ قُلْ إِنِّيٓ أُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٤﴾ قُلْ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾﴾

[۱۲] (ای پیغمبره!) ووایه چې: هغه څه چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي چا لره دي؟ (بیا پخپله جواب ورکړه) ووایه چې: (دا ټول) خاص الله ﷻ لره دي، همده ﷻ په خپل ځان باندې (احسانًا) مهرباني لازمه کړې ده.

خامخا ضرور به تاسو د قیامت د ورځې دپاره راټول کړي (داسې ورځ) چې په هغې کښې څه شک نشته. هغه کسان چې هغوی خپل ځانونه په زیان (تاوان) کښې اچولي دي، نو دوی ایمان نه راوړي.

[۱۳] او خاص ده لره هغه څه دي چې په شپه او ورځ کښې سکون (او یا حرکت) کوي، او همدی ﷻ اورېدونکی (او) د علم څښتن دی.

[۱۴] (ای پیغمبره دوی ته) ووایه چې: ایا زه د الله ﷻ څخه په غیر بل دوست ونیسم (لکه چې تاسو نیولی دی، داسې الله ﷻ) چې د اسمانونو او ځمکو رومبی پیدا کوونکی دی (ترمیمونکی یې نه دی)، او همدی ﷻ روزي ورکوي (د خلکو احتیاجات پوره کوي) او ده ﷻ ته روزي نه ورکوله کېږي (چې نه روزۍ او نه بل شي ته اړتیا لري)؟

(ورته) ووایه چې: یقینًا زه په دې خبره باندې مامور کړی شوی یم چې هغه اولنی سړی جوړ شم چې غاړه یې (الله ﷻ ته) ایښې وي او (هم راته توصیه شوې ده) چې ته د مشرکانو څخه مه جوړېږه.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۵] (ورته) ووایه چې: که (بالفرض) زه د خپل رب څخه عصیان وکړم نو زه یقیناً د لويې ورځې د عذاب څخه ډارېږم (نو باید چې تاسو هم ترې ودار شئ).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د نبي کریم ﷺ د نبوت د اثبات دلایل او په نبوت باندې د مشرکانو د فرمائشاتو جوابونه بیان شوي وه، او په دې ایتونو کښې یو ځل بیا د توحید دلایلو ته د کلام مخ وراړولی شوی دی او په یو بل ډول باندې پرې دلایل اقامه شوي دي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای پیغمبره! د کافرانو څخه پوښتنه وکړه چې کله تاسو د الله ﷻ سره نور شریکان جوړوئ نو دا راته ووایاست چې اسمانونه او ځمکې د چا مخلوق دی، د چا ملک دی، او بالآخره د چا د ادارې لاندې دی؟ نو ښکاره ده چې د همدې پوښتنې په جواب کښې به هغوی خپل سرونه ټیټ کړي او ساکت به پاتې شي.

ځکه چې دوی نه شي ویلی چې: د الله ﷻ سره د اسمانو او ځمکو په پیداکولو کښې بل څوک اشتراک لري. ځکه چې دا ظاهر البطلان خبره ده او پخپله دوی هم پرې عقیده نه لري.

او هم نه شي ویلی چې هیڅوک ورسره شرکت نه لري. ترڅو دوی ته سوال ورتاو نه کړی شي چې بیا نو د غیر الله عبادت په څه دلیل باندې کوئ؟

۲ـ نو ای پیغمبره! کله چې دوی غلي شوه نو ته پخپله ذکر شوي سوال ته داسې جواب ورکړه چې:

الف: دا ټول مخلوقات د الله ﷻ ملک دی او د همده ﷻ په واک او اختیار کښې دي، نو همدی ﷻ د عبادت مستحق دی او بس.

ب: الله ﷻ په خپل ځان باندې د مهربانۍ د مخې رحمت لازم کړی دی چې تاسو مشرکان هم ترې په دنیا کښې استفاده کوئ او ژوند کوئ، که نه نو تاسو خو سمدستي د هلاک وړ یاست.

ج: ای مشرکانو! الله ﷻ به تاسو او بلکې ټول انسانان په داسې ورځ کښې راغونډ کړي چې د هغې ورځې په راتګ کښې څه شک او شبه نشته، هلته به تاسو د یو پلوه پوه شئ چې ربښتیا الله ﷻ د هر شي مالک او په هر شي باندې قادر دی، او د بله پلوه به تاسو ته د الله ﷻ د کامل رحمت اظهار وکړی شي چې د یوې نېکۍ په عوض اقلًا لس معادلې جزاګانې ورکوي، مګر د بدۍ جزا د یو په یو څخه نه اضافه کوي.

خو ای مشرکانو! په هغې ورځ کښې به تاسو د الله ﷻ د کامل رحمت څخه محروم یاست ځکه چې تاسو په دنیا کښې خپل ځانونه د کامل خُسران (تاوان) سره مخامخ کړي دي چې نن ورځ ایمان نه راوړئ او په دلایلو کښې غور نه کوئ.

۳ـ ای پیغمبره! مشرکانو ته د الله ﷻ په وړپېژندنه کښې دا هم ووایه چې: الله ﷻ لکه چې د ټولو

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مکانیاتو خاوند دی، چې هر شي او هر چا ته یې د هغه سره مناسب استوګنځای ټاکلی دی، ځوک په اسمانونو کښې اُوسوي او ځوک په ځمکو کښې، د ځینو ځای په هوا کښې دی او ځینې په دریابونو کښې اوسېږي، ځینو ته یې بیابان ټاکلی دی او ځینې د ځمکې په تل کښې استوګنه کوي؛ همدارنګه الله ﷻ د ټولو زمانیاتو مالک هم دی، چې ځوک یې وړاندې پیدا کړي دي او ځوک په وروسته پیدا کړي، ځوک د ورځې تولد کېږي او ځوک په شپه کښې د مور څخه زېږېږي، ځینې شیان په ورځ کښې ساکن او آرام پراته وي او د شپې د روزۍ تلاش کوي، او ځینې شیان بالعکس د شپې خوب کوي او د ورځې په کار او کسب باندې مشغول وي.

لنډه دا چې سکون او حرکت او ناسته ولاړه دا ټول د الله ﷻ په اراده باندې صورت نیسي او بس. خو د دې سره سره الله ﷻ په هره نقطه کښې (چې مونږ ته ډېره لرې او پټه ښکاري) د خپل مخلوق اواز اوري او په احتیاجاتو باندې یې هم علم لري او هم یې د ورپوره کولو بندوبس کوي.

وړته ووایه چې: ایا ستاسو ناحقه معبودان ذکر شوي کارونه کولی شي؟

۴_ ای پیغمبره! کافرانو ته دا هم ووایه _ترڅو په غوږ ووهل شي_ چې: ایا زه ستاسو غوندې دالله ﷻ څخه په غیر بل ځوک دوست ونیسم او خپل احتیاجات ترې وغواړم؟ حال دا چې الله ﷻ هم اسمان پیدا کړی دی او هم ځمکه، او بل ځوک دغه کار نه کولی شي او نه یې توان لري.

او هم حال دا دی چې الله ﷻ هر چا او هر شي ته د همغه سره مناسبه روزي ورکوي او اړتیاوې یې پوره کوي او پخپله الله ﷻ نه خوراک څښاک ته ضرورت لري ځکه چې خوراک او څښاک د ممکناتو خاصه ده، او نه د چا وسه شته چې د ده کوم یو مخلوق ته روزي ورکړي او حاجت یې ورپوره کړي.

ایا ستاسو باطل معبودان دا کولی شي چې کوم یوه ساکښ ته په ځمکه یا په اسمان او بالآخره په هوا او یا دریاب کښې روزي ورکړي او حاجت یې پوره کړي؟

۵_ ای پیغمبره! کافرانو او مشرکانو _بلکې ټولو انسانانو ته_ ووایه چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ماته یې د دې خبرې امر کړی دی چې زه اولنی هغه سړی وګرځم کوم چې الله ﷻ ته غاړه ږدي. یا په بل عبارت: ماته یې امر کړی دی چې زه په خپل نبوت باندې د هر چا څخه وړاندې پخپله معتقد جوړ شم.

او دا یې راته هم توصیه کړې ده چې د مشرکانو د ډلې څخه خپل ځان په څنګ وساتم، نو زه په ذکر شوي امر او په ذکره شوې توصیه باندې عمل کوم او د زړه د کومېورباندې قانع یم، چې تاسو پرې قناعت نه لرئ دا نو ستاسو کار دی.

۶_ ای پیغمبره! دوی ته په آخر کښې ووایه چې: که بالفرض زه د الله ﷻ هدایتونو ته غاړه کښېنږدم او عصیان ترې وکړم، حال دا چې همدا ﷻ زما رب دی او زه یې د نشت څخه شته کړم، نو زه خو د لویې ورځې د عذاب څخه ډارېږم، اما چې تاسو د خپل خالق او رازق څخه نه ډارېږئ او په ناحقه د بوتانو عبادت کوئ نو ناکاره عاقبت به یې همدا تاسو ګالئ او بس.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱_ د الله ﷻ رحمت نبي كريم ﷺ په احاديثو كښې ډېر ښه تفسير كړى دى[۱]، ترڅو مونږ هم په خپلو منځو كښې يو په بل رحم او زړه سوى وكړو، او ترڅو مونږ پوه شو چې الله ﷻ ارحم الراحمين دى، چې په دنيا كښې آن تر هغه وخت پورې د كافر توبه قبلوي چې ترڅو يې سا مرې ته نه وي رسېدلې او هم په دنياوي تعذيب كښې عجله نه كوي چې د عاصيانو څخه د توبې چانس فوت نه شي. لاندې احاديث د مثال په توګه ولولئ:

الف: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ الْخَلْقَ إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي»[۲] يقيناً الله ﷻ د هغه څخه وړاندې چې مخلوق پيدا كړي، يو كتاب وليكه چې بې شكه زما رحمت زما په غضب باندې مخكښې دى. يعنې: رحمت بې د استحقاقه وركول كېږي مګر بې د استحقاقه په چاباندې د الله ﷻ غضب نه نازلېږي، هغه خو لا پرېږده چې چا ته عفوه وكړى شي.

ب: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «جَعَلَ اللهُ الرَّحْمَةَ مِائَةَ جُزْءٍ فَأَمْسَكَ عِنْدَهُ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ جُزْءًا وَأَنْزَلَ فِي الْأَرْضِ جُزْءًا وَاحِدًا فَمِنْ ذَلِكَ الْجُزْءِ يَتَرَاحَمُ الْخَلْقُ حَتَّى تَرْفَعَ الْفَرَسُ حَافِرَهَا عَنْ وَلَدِهَا خَشْيَةَ أَنْ تُصِيبَهُ»[۳] يعني: الله ﷻ خپل رحمت سل برخې كړى دى، نو نهه نوي (۹۹) برخې يې د ځانه سره ساتلي دي، او په ځمكه كښې يې يوه برخه نازله كړې ده، نو د همدغې يوې برخې رحمت (بركت) دى چې مخلوقات يو تربله سره رحم كوي آن تردې چې اسپه د خپل بچي (كوتي) څخه سوم (پښه) پورته كوي د دې ډاره چې هغه ته مصيبت جوړ نه كړي (او كوم اندام يې زخمي نه كړي).

ج: نبي كريم ﷺ په يو اوږده حديث كښې فرمايلي دي چې: «وَأَخَّرَ اللهُ تِسْعًا وَتِسْعِينَ رَحْمَةً يَرْحَمُ بِهَا عِبَادَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۴] يعني: او الله ﷻ نهه نوي رحمتونه وروسته كړي دي چې د قيامت په ورځ به پرې په خپلو بندګانو باندې رحم وكړي.

د: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ إِلَّا مِنْ شَقِيٍّ»[۵] يعني: نه اخستل كېږي رحمت (د زړه نرموالى) مګر د بدبخت سړي څخه.

### د "إلى" كلمه څه معنى؟

۲_ كه څه هم په ﴿إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ﴾ كښې د "إلى" د توري دپاره مفسرينو كرامو په دې مقام كښې زښتې ډېرې معناوې كړې دي[۶]، مګر ډېره بهتره معنى يې دا ده چې د "إلى" توري دلته په

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۵۶_۳۵۸
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۲۷
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۸۸۷
(۴) صحيح مسلم ج۲ ص۳۵۶
(۵) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴
(۶) روح المعاني ج۷ ص۱۰۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معنی د "ل" سره دی، لکه چې په بل ځای کښې ورباندې صراحت شوی دی چې: ﴿ رَبَّنَآ إِنَّكَ جَامِعُ ٱلنَّاسِ لِيَوۡمٍ لَّا رَيۡبَ فِيهِ ﴾ [آل عمران: ٩] یعني ای زمونږ ربه! یقیناً ته د خلکو راغونډونکی یې د داسې ورځې دپاره چې په هغې کښې څه شک او شبه نشته، نو دلته یې دمعنی حاصل داسې کېږي چې: الله ﷻ به تاسو د قیامت د ورځې دپاره –چې شک او شبه پکښې نشته– راغونډ کړي او حساب کتاب به درسره وکړي.

## سوال جواب

٣– که څوک وايي چې: الله ﷻ په ﴿ قُل لِّمَن مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ کښې اشاره وکړه چې ټول مکانیات د الله ﷻ ملک دی، او په ﴿ وَلَهُۥ مَا سَكَنَ فِي ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ ﴾ کښې اشاره کوي چې ټول زمانیات د الله ﷻ ملک دی. نو پوښتنه دا ده: هر شی چې مکاني وي هغه به ضرور زماني هم وي، نو د څه حکمت دپاره یې د مخلوقاتو څخه په دوه تعبیرونو سره تعبیر وکړ؟

مونږ وایو: لکه څنګه چې د یوه شي په یوه ځای کښې اوسول او همدلته د هغه د احتیاجاتو بندوبس کول د الله ﷻ د قدرت یوه نښه ده او د همدغه شي په یوه خاصه زمانه کښې ژوندي ساتل –چې نه وړاندې کېږي او نه بېرته کېږي– دا د قدرت بله نښه ده؛ نو الله ﷻ په هرې یوې نښې باندې جدا-جدا صراحت وکړ او خلک یې ورته متوجه کړه.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

٤– که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د ﴿ مَا سَكَنَ ﴾ په نزول باندې اکتفاء وکړه او د "مَا تَحَرَّكَ" کلمه یې نازله نه کړه، ترڅو چې په سکون او حرکت دواړو باندې صراحت شوی وی؟

مونږ وایو چې: علماوو کرامو د ذکرې شوې پوښتنې دپاره ډېر جوابونه کړي دي[1]، لاندې جوابونه د مثال په توګه ولولئ:

الف: سُکون څکه خاص کړی شو چې سُکون عام دی، د هر حرکت سره سکون ملګری وي. د همدې کبله مونږ ځینو حرکتونو ته "سَرِیْع" (تېز حرکت) وایو او په ځینو باندې د "بَطِيْء" (سست حرکت) نوم ږدو، د دغو دواړو حرکتونو تفاوت خو په بل شي باندې نه دی ولاړ، مګر په دې چې په تېز حرکت کښې وقفې (دربدل) وړې-وړې وي او په سست حرکت کښې لږ څه اوږدې-اوږدې وي؛ که څه هم مونږ دواړه ډوله وقفې نه شو حس کولی[2].

مونږ ته دا جواب خوندور نه ښکاري چې نه متبادر دی او نه عام فهمه دی، بلکې د فلاسفه وو په دقیقو قواعدو باندې ولاړ دی.

---

(١) زاد المسير ج٣ ص٩
(٢) روح المعاني ج٧ ص١٠٩

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دلته سکون په معنی د استقرار او ثبوت سره دی، نه په معنی د هغه سکون چې د حرکت مقابل دی، که څه هم ثبوت او استقرار په مکان کښې تحقق مومي نه په زمان کښې، او شپه او ورځ خو دواړه زماني دي، مګر زمان مجازاً داسې ګڼل شوی دی لکه مکان(١).

دا جواب هم مزه ناک نه دی، ځکه چې د یو پلوه مجاز خلاف الأصل دی، بې ضرورته یې التزام کول ښه نه دي، او د بله پلوه په دې مقام کښې زمان د مکان په مقابل کښې ذکر شوی دی ترڅو واضحه شي چې الله ﷻ لکه څنګه چې د مکان او مکانیاتو مالک دی همدارنګه د زمان او زمانیاتو مالک هم دی، او د مجازي معنی په التزام سره تقابل د منځه ځي.

ج: مګر ډېر ښه جواب یې دا دی چې: په دې مقام کښې د یو ضد (سکون) په ذکر باندې اکتفاء شوې ده چې بل ضد (حرکت) ترې فهمېږي، خلک وايي چې: "تُعْرَفُ الْأَشْيَاءُ بِأَضْدَادِهَا" شیان په خپلو ضدونو سره پېژندل کېږي. د دې نظیر په قرآن کریم کښې شته دی چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَٰبِيلَ تَقِيكُمُ ٱلْحَرَّ ﴾ [النحل: ٨١] یعنې: او الله ﷻ ستاسو دپاره جامې (لباس) پیدا کړې دي چې د ګرمۍ څخه مو ساتي، او هم مو د یخنۍ څخه ساتي چې په دې مقام کښې د "وَتَقِيكُمْ الْبَرْدَ" جمله ذکره نه شوه ځکه چې مذکوره جمله ﴿ تَقِيكُمُ ٱلْحَرَّ ﴾ ورباندې دلالت کوي.

## د فَاطِر معنی او یوه قیصه

۵ـ د ﴿ فَاطِرِ ﴾ د کلمې اصلي حرفونه "ف، ط، ر" دي چې "فَطْر" ترې جوړېږي، "فَطْر" درز او چاود ته ویل کېږي چې په کلک شي کښې تحقق مومي(٢)، لاندې وضاحت ولولئ:

الف: "اِفْطَارُ الصَّوْمِ" د همدې حرفونو څخه جوړ شوی دی چې د روژې ماتولو معنی ورکوي، ته به وایې چې روژه کلکه او قوي کلا ده او په روژه ماتي سره پکښې درز (چاود) پیدا کېږي (او د منځه ځي).

ب: ﴿ إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتْ ﴾ [الانفطار: ١] یعنې: کله چې اسمان وچوي.

ج: ﴿ هَلْ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ ﴾ [الملك: ٣] یعنې: په اسمانونو کښې سترګې واړوه راواړوه، ایا ته پکښې څه درز (چاود) ګورې؟

نو څرنګه چې ذکره شوې معنی په ﴿ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ کښې په ښه ډول سره پیوند نیسي د همدې کبله رئیس المفسرین ؓ وايي چې زه د "فَاطِر" په معنی نه پوهېدم تر هغې چې دوه أعرابیانو ما ته د یوې څا (کوهي) په باره کښې دعوه راوړه او د استنطاق په جریان کښې یوه اعرابي وویلې چې: دا کوهی زما دی ځکه: «أَنَا فَطَرْتُهَا. يَقُوْلُ: أَنَا اِبْتَدَأْتُهَا»(٣) یعنې: دا کوهی ما ړومبی کنودی دی.

(١) التفسیر الکبیر ج١٢ ص١٦٨
(٢) مفردات الراغب ص٣٩٦
Downloded from: bawarketabtoon.com
(٣) الدر المنثور ج٣ ص٢٥٥

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د ﴿ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ د معنى حاصل داسې کېږي چې: الله ﷻ اسمانونه او ځمکه نشت څخه پيدا کړي دي، هسې نه چې رومبی بل چا پيدا کړي دي او الله ﷻ يې ترميم کړی دی.

﴿ مَّن يُصْرَفْ عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهُۥ ۚ وَذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٦﴾ وَإِن يَمْسَسْكَ ٱللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُۥٓ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِن يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾ وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ ۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْخَبِيرُ ﴿١٨﴾ ﴾

[۱۶] هغه څوک چې په دغې ورځې کښې ترې (د عذاب مخ) تاو کړی شي نو يقيناً الله ﷻ په هغه باندې مهرباني وکړه. او همدا ځرګنده کاميابي ده.

[۱۷] او که تاته الله (ﷻ) کومه سختي دوررسوي نو هغې سختۍ لره هيڅ لرې کوونکی نشته مګر همدی (ﷻ) دی (او بس)، او که څه خير (نعمت) دوررسوي نو همدی ﷻ په هر څه باندې قدرت لري.

[۱۸] او همدی ﷻ د خپلو بندګانو دپاسه د غلبې خاوند دی (چې د ذلت سره يې مخامخ کولی شي)، او همدی ﷻ د حکمت خاوند (او) د خبرتيا څښتن دی.

## ارتباط

وړاندېنې ايتونه په دې اشاره تمام شوي وه چې نبي کريم ﷺ هم د عصيان په فرضي صورت کښې د لوېې ورځې د عذاب څخه ډارېږي، او په دې ايتونو کښې د همدغه ډار وجه ښودلې شوې ده چې ولې به نه ډارېږي، چې د هغې ورځې د عذاب څخه د نجات لاره همدا يوه ده ـ او بس ـ چې د الله ﷻ رحم او مهرباني ده.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې: ای پيغمبره! د دې کبله کافرانو ته ووايه چې د عصيان په صورت کښې ـ هر ډول عصيان چې وي وړوکی وي او که غټ ـ زه هم د لوېې ورځې د عذاب څخه په ډار کښې يم، نو تاسو ته څه مناسب دي چې د شرک او کفر سره د نوموړي عذاب څخه نه ډارېږئ، په دغې ورځ کښې به ټولو خلکو ته عذاب متوجه وي، مګر هغه څوک چې الله ﷻ پرې مهرباني وکړي او د عذاب څخه يې بچ وساتي، نو دغه کسان به د ښکاره او په ډاګه برياليتوب سره مخامخ شي.

۲ـ ای پيغمبره! لکه څنګه چې د لوېې ورځې د عذاب څخه يوازې د الله ﷻ مهرباني د بچ پاتې کېدلو ذريعه ده او بس، همدارنګه د هغو کسانو دپاره هم د خلاصون بله لاره نشته چې په عذاب باندې هلته او يا دلته مبتلا شي، حتی تاته هم که کومه سختي ورسېږي د الله ﷻ څخه په غير يې درڅخه هيڅوک نه شي پورته کولی، او که تاته الله ﷻ څه ښېګڼې درکړي نو هم هيڅوک يې درڅخه د الله ﷻ څخه په غير مخ نه شي اړولی او دا ځکه چې الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت څښتن دی، سختي او اسانی ټولې د ده ﷻ په واک کښې دي او بس.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ او همدی ﷻ په خپلو بندګانو باندې د پوره کامليې سلطې خاوند دی، که څوک د ذلت سره مخامخ کوي او که چا ته عزت ورکوي، هر څه کولی شي، مګر د همدې کامليې سلطې سره-سره د حکمت څښتن هم دی چې ذلت او عزت هر يو ته په مناسب ځای کښې تحقق ورکوي، او هم د هر شي څخه باخبره دی چې شکر کوونکي او ناشکران ټول ورته ښه څرګند دي.

## توضيحات

۱_ پوره کاميابي دا ده چې سړی د دوزخ څخه نجات ومومي او جنت ته داخل شي؛ الله ﷻ فرمايي چې: ﴿فَمَن زُحْزِحَ عَنِ ٱلنَّارِ وَأُدْخِلَ ٱلْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ﴾ [آل عمران: ۱۸۵] يعني: نو هر چا ته چې د اور (دوزخ) څخه نجات ورکړی شي او جنت ته داخل کړی شي، نو يقيناً هغه کامياب دی.

که څه هم د دوزخ څخه نجات او جنت ته داخليدل سره يو تربله نه بېلېدونکي دي، چا ته چې د قيامت په ورځ د دوزخ څخه نجات ورکړی شي نو هغه به ضرور بالآخره جنت ته داخلېږي، مګر بوازې د دوزخ څخه نجات که په انفرادي توګه ملحوظ کړی شي نو دا هم څرګنده کاميابي ده. د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث ولولئ:

کله چې عمر الفاروق ؓ سخت زخمي کړی شو او دا خبره يقيني شوه چې د دې زخم څخه جوړېدونکی نه دی، نو حاضرينو هر يوه د ده د ډاډينې دپاره څه ناڅه خبرې ورواوروليې، حتی چې يوه ځوان وويلې چې: ای خليفه! خوشاله اوسه، د مخې دې رڼا ده چې د نبي کريم ﷺ مخلص انديوال وې او په مسلمانانو کښې قدامت لرې، لکه چې تا ته پخپله معلومه ده، او بالآخره په خپل خلافت کښې دې عدل وکړ او دا دی اوس دې شهادت په برخه کېږي.

نو الفاروق ؓ وويلې چې: «وَدِدْتُ أَنَّ ذَٰلِكَ كَفَافًا لَا عَلَيَّ وَلَا لِي»[۱] يعني: زه دا خوښوم چې ذکر شوي ټول شيان زما دپاره د عذاب د مخنيوي په هکله يو برابر شي، چې نه را ته عذاب جوړ شي او نه را ته اضافه ګټه ورسوي.

## خير او شر دواړه د الله ﷻ په واک کښې دي

۲_ ذکره شوې موضوع نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې ډېره ښه تفسيره کړې ده چې: «وَاعْلَمْ أَنَّ الْأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ لَكَ وَإِنِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ عَلَيْكَ رُفِعَتِ الْأَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ»[۲] يعني: او پوه شه! که ټول اُمت (ټول مخلوق) راټول شي چې تا ته د يو شي ګټه ورسوي، نو ګټه به درته ونه شي رسولی مګر هغه چې الله ﷻ درته ليکلي وي، او که ټول په دې اتفاق وکړي چې تا ته په يو شي باندې ضرر ورسوي، نو ضرر به درته ونه شي رسولی مګر هغه چې الله ﷻ درباندې ليکلي وي (او دا ځکه چې) قلمونه پورته شوي دي او کاغذونه وچ شوي دي (تقدير نه بدلېږي).

[۱] صحيح البخاري ج۱ ص۵۲۴
[۲] جامع الترمذي ج۲ ص۷۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## قهر څه معنی؟

۳_ د ﴿ٱلْقَاهِرُ﴾ کلمه د "قَهْر" څخه اخستله شوې ده، د "قَهْر" په مفهوم کښې دوه جزونه پراته دي چې یو جزء یې غلبه ده، او بل جزء یې ذلت ورکول دي. هو! کله-کله په یوازې غلبې او یا یوازې ذلت ورکولو کښې هم استعمالېږي[۱].

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای مشرکانو! تاسو د الله ﷻ څخه د باطلو معبودانو څخه په کوم دلیل د خیر تمه کوئ، حال دا چې هر څه د الله ﷻ په واک اختیار کښې دي او همدی ﷻ په خپلو مخلوقاتو باندې پوره قاهریت لري او هیڅوک د ده ﷻ د ارادې څخه په غیر د خیر په ورکړه کښې او د شر په مخنیوي کښې څه توان نه لري؛ ایا مقهور د قاهر په مقابل کښې څه کولی شي؟

﴿قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَٰدَةً ۖ قُلِ ٱللَّهُ ۖ شَهِيدٌۢ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ ۚ وَأُوحِىَ إِلَىَّ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَ ۚ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ ٱللَّهِ ءَالِهَةً أُخْرَىٰ ۚ قُل لَّآ أَشْهَدُ ۚ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ وَإِنَّنِى بَرِىٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿١٩﴾ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَعْرِفُونَهُۥ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَآءَهُمُ ۘ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾﴾

[۱۹] (ای پیغمبره! مشرکانو ته) ووایه چې: کوم شیٔ د شهادت د حیثه ډېر لوی دی؟ (بیا ورته) ووایه چې: الله ﷻ (د شهادت د حیثه ډېر لوی دی)، (بیا ورته ووایه چې: همدا لوی شاهد) زما ترمنځ او ستاسو ترمنځ شاهدي ورکوونکی دی (چې زه په رښتیا را استولی شوی یم).

او دغه قرآن (چې تاسو یې د مقابلې څخه عاجز یاست) راته د دې دپاره وحې کړې شوی دی چې هم پرې تاسو وډار کړم او هم هغه څوک چې دا (قرآن کریم) ورته ورسېږي (هرڅوک چې وي او په هر خای او هره زمانه کښې چې وي).

(او بیا ترې دا پوښتنه وکړه چې) ایا یقیناً تاسو پخپله شهادت ورکوئ چې بې شکه د الله ﷻ سره نور معبودان (په عبادت کښې شریکان) شته دي؟ (بل شاهد خو نه لرئ؟).

(بیا ورته) ووایه چې: زه خو (دارنګه) شاهدي نه وایم. (ورته) ووایه چې: (زه خو داسې شاهدي وایم چې) بې شکه الله ﷻ یو معبود دی (او هیڅ شریک نه لري)، او (دا هم ورته ووایه چې) یقیناً زه د هغه شي څخه بېزار یم چې تاسو یې (ورسره) شریکوئ.

[۲۰] کوم کسان چې مونږ هغوی ته کتاب ورکړی دی، هغوی دا (پیغمبر) داسې پېژني لکه څنګه چې خپل زامن پېژني، (مګر د ذکر شوي اثبات سره-سره) کوم کسان چې هغوی خپل خانونه

(۱) مفردات الراغب ص۴۲۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په ناوان کښې اچولي دي نو هغوی چې دي ایمان نه راوړي (ته به وایې چې دوی ته هیڅ ثبوت نه دی وړاندې شوی).

## ارتباط

په وړاندېنيو ایتونو کښې د الله ﷻ په وحدانیت باندې په مخلوقاتو سره استدلال قائم کړی شوی وه او په دې ایتونو کښې پرې د الله ﷻ په شهادت سره استدلال نیولی کېږي او هم پکښې د نبي کریم ﷺ رسالت د الله ﷻ په شهادت سره په اثبات رسولی شوی دی.

## شان نزول

د ذکر شوو ایتونو په شان نزول کښې متعدد روایتونه شته دي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

۱ـ د مکې مشرکانو یوه ورځ نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې ستا د رسالت په باره کښې مونږ د یهودو او نصاراوو څخه پوښتنه وکړه، هغوی عقیده څرګنده کړه چې ستا یادونه ورسره نشته، نو «فَأَرِنَا مَنْ يَشْهَدُ لَكَ أَنَّكَ رَسُولٌ كَمَا تَزْعُمُ»[۱] مونږ ته راوښایه چې هغه څوک دی چې ستا دپاره شاهدي ورکړي چې بې شکه ته استولی شوی یې لکه چې ته ګومان کوې.

۲ـ کله چې په تېرو شوو ایتونو کښې مشرکانو ته واوروله شوه چې خیر او شر ټول د الله ﷻ په اختیار کښې دی، نو هغوی وویلې چې په دې خبره باندې به نو څوک شاهدي ورکړي[۲].

۳ـ د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې: درې کسان مشرکان نبي کریم ﷺ ته ورغله چې: ایا ته نه پوهېږې چې الله ﷻ په عبادت کښې شریکان لري[۳]؟.

څه لرې نه ده چې ذکر شوي ټول واقعات به پېښ شوي وي او په ایتونو کښې د ټولو جوابونه شته دی. برسېره په دې، سلفو صالحینو په مصداقاتو باندې هم د شان نزولونو اطلاق کاوه[۴].

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای پیغمبره! مشرکان خو ستا څخه د الله ﷻ په وحدانیت او ستا په رسالت او بالآخره د قرآن کریم په حقانیت کښې د شاهد مطالبه کوي، نو د دوی څخه د جواب ورکولو څخه وړاندې پوښتنه وکړه چې د ټولو شاهدانو لوی شاهد څوک دی چې په حقیقي معناوو سره شهادت ورکوي، نه یې په شهادت کښې د دروغو او نه د خطاکېدلو او بالآخره نه د سهوې او نه د طرفدارۍ احتمال شته؟ بیا نو سمدستي پخپله جواب ورکړه چې: د ټولو څخه لوی شاهد الله ﷻ دی. د مشرکانو جواب ته انتظار مه کوه ځکه چې همدا جواب د دوی په نزد هم واقعیت لري.

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۴۳
(۲) البحر المحیط ج۴ ص۴۵۸
(۳) روح المعاني ج۷ ص۱۱۷
(۴) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


بیا مشرکانو ته ووایه چې: زما او ستاسو ترمنځه همدا لوی شاهد (الله ﷻ) شهادت ورکوي چې ذکرې شوې درېواړه خبرې حقیقت لري.

۲_ که دوی تا ته بیا ووایي چې: په څه دلیل الله ﷻ په ذکرو شوو حقائقو باندې شهادت ورکوي؟ نو په جواب کښې دوی مخاطب کړه چې: دلیل یې همدغه قرآن کریم دی چې د یوې خوا څخه خپل حقانیت په اثبات رسوي او د بلې خوا زما په رسالت او د الله ﷻ په وحدانیت باندې لاربنوونه کوي.

که تاسو دا دلیل نه منئ نو ولې د قرآن کریم مقابله نه شئ کولی، چې د دې قرآن د سورتونو په شان نه یو سورت جوړولی شئ او نه یې د ایتونو په شان څه ایتونه جوړولی شئ که څه هم د ټولې دنیا فصیحان او بلیغان د ځانونو سره ملګري کړئ.

۳_ په دې باندې علاوه ورته ووایه چې کله د قرآن کریم حقانیت په اثبات ورسېد او لوی شاهد (الله ﷻ) پرې شهادت ورکړ، نو تاسو په دې باندې پوه شئ چې دا قرآن کریم د سات تېرې دپاره نه دی نازل شوی، بلکې د دې دپاره نازل شوی دی چې زه پرې تاسو او هغه خلک د الله ﷻ د عذاب څخه وډار کړم کوم چې د قیامت تر ورځې پورې په هر ځای او په هر جنسیت سره په دنیا کښې موجود دي او یا به موجود کړی شي.

او هم د دې دپاره یې نزول موندلی دی چې ایمان راوړونکو ته د جنتونو او د الله ﷻ د رضایت زیری او بشارت ورکړم.

۴_ ای مشرکانو! اوس نو تاسو ووایاست چې تاسو په خپلو شرکیاتو باندې څه دلیل لرئ، او هغه کوم شاهد دی چې ستاسو دپاره شهادت ورکړي؟

کله چې مشرکان په جواب کښې ساکت پاتې شوه او سرونه یې ښکته کړه، نو د دوی څخه بیا پوښتنه وکړه چې: ایا تاسو د خپلو ځانونو دپاره په خپله شاهدي ورکوئ چې د الله ﷻ سره نور معبودان هم شریکان دي؟

ایا تاسو د خپلو ځانونو څخه په غیر په ځمکو او یا اسمانونو کښې کوم یو بل وړوکی شاهد موندلی شئ چې ستاسو د مزخرفاتو تائید او تصدیق وکړي؟

ایا د خپلې مدعي دپاره پخپله د مدعي شهادت د منلو وړ دی؟

۵_ ای پیغمبره! مشرکان خو ستا څخه تمه لري چې ته به د دوی په شرکیاتو باندې شهادت ورکړې او یا به اقلاً ورته په برخه قائل شې او معجوني دین به ورسره جوړ کړې.

خو دغه تمه یې هم ورغوڅه کړه او ورته ووایه چې زه خو په باطلو او شرکیاتو باندې شهادت نه ورکوم بلکې رد یې کوم.

ورته ووایه چې: زه خو داسې شاهدي وایم لکه څنګه چې لوی شاهد (الله ﷻ) شاهدي وایي، هغه دا چې بې شکه الله ﷻ یوازې او یوازې په حقه معبود دی او هیڅوک او هیڅ شی ورسره په عبادت کښې څه برخه نه لري.

دا هم ورته ووایه چې ای مشرکانو! علاوه په دې چې زه په شرکیاتو باندې شاهدي نه وایم،

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ستاسو او ستاسو د بوتانو او معبودانو څخه خپله بېزاري هم اعلانوم.

۶_ ای پیغمبره! مشرکانو ته دا هم ووایه: کوم اهل الکتاب چې هغوی د خپل کتاب په غوښتنه باندې ولاړ دي هغوی هم د لوی شاهد (الله ﷻ) په شان شاهدي ورکوي، د شرکیاتو څخه ځانونه ساتي او قرآن کریم ورته حق کتاب ښکاري او د حقائقو څخه سترګې نه پټوي.

ورته ووایه چې: ذکر شوي اهل الکتاب خو د الله ﷻ پیغمبر (چې زه یم) داسې پېژني لکه څنګه چې خپل زامن پېژني، د همدې کبله پرې ایمان راوړي.

یا په بل عبارت: ما خو ټول اهل الکتاب ښه پوره پېژني، مګر دا ښېله خبره ده چې د دوی عنادیان رابانديې ایمان نه راوړي او کله چې ترې تاسو زما په باره کښې پوښتنه وکړئ نو هغوی زما د سابقه ذکر څخه انکار کوي چې مونږ یې نه پېژنو، که نه نو تاسو د اهل الکتابو د منصفانو (لکه عبد الله بن سلام) څخه پوښتنه وکړئ چې هغه درته څه وايي.

۷_ ای پیغمبره! که ته هر څومره دلایل وړاندې کړې، نو چا چې خپل ځان خوار کړی دی او په لوی تاوان کښې یې په قصدي توګه اچولی دی، هغوی ایمان نه راوړي او وجه یې صرف عناد دی او بس، نه د دلایلو کمښت او نقصان.

## توضیحات

۱_ ځینې علماء کرام وايي چې: دا پوښتنه چې ﴿ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَٰدَةً ﴾ جواب ته اړتیا نه لري، بلکې مطلب پکښې دا دی چې مشرکان د شهادت قوت ته متوجه شي[1]، او دا جمله ﴿ قُلِ ٱللَّهُ شَهِيدٌۢ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ﴾ د ذکر شوي مطلب دپاره بیان واقع شوې ده، ځکه چې د اجمال څخه وروسته تفصیل په ذهن کښې ډېر ښه ځای نیسي، نو په دې تقدیر په ﴿ قُلِ ٱللَّهُ ﴾ باندې وقف نشته.

اما اکثره مفسرین کرام وايي چې: په ﴿ قُلِ ٱللَّهُ ﴾ باندې وقف شته دی چې د ذکرې شوې پوښتنې دپاره جواب واقع شوی دی او د ﴿ شَهِيدٌۢ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ﴾ جمله د مبتدأ (هُوَ) په تقدیر سره د استیناف په توګه دوهمه جمله ده[2].

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای پیغمبره! اول د مشرکانو څخه پوښتنه وکړه چې: ایا ډېر لوی شاهد پېژنئ؟ بیا پخپله دوی ته لوی شاهد وروپېژنه او ورته ووایه چې: لوی شاهد الله ﷻ دی، بیا نو د مشرکانو اصلي غوښتنې ته جواب ورکړه چې همدغه لوی شاهد زما شاهد دی.

د مقام په لحاظ سره همدا جواب خوندور ښکاري.

## د الله ﷻ د شهادت ډولونه

۲_ الله ﷻ په خپل وحدانیت او د نبي کریم ﷺ په رسالت باندې په لاندې ډولونو سره شهادت ورکوي:

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۶ ص۴۸۰

(۲) تفسیر الکشاف ج۲ ص۱۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په إخبار سره شهادت، لکه چې فرمايي: ﴿ شَهِدَ ٱللَّهُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ﴾ [آل عمران:۱۸] الله ﷻ په دې خبره باندې شاهدي ورکوي چې يقيناً شان دا دی چې په حقه باندې هيڅ معبود نشته مګر همدی ﷻ دی. او فرمايي چې: ﴿ مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِ ﴾ [الفتح: ۲۹] يعنې: محمد ﷺ د الله ﷻ لېږلی شوی دی.

ب: په کونيه دلايلو سره، لکه چې فرمايي: ﴿ سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ ﴾ [فصلت: ۵۳] يعنې: ژر دی چې دوی ته به خپل دلايل د دنيا په اطرافو او ددوی په خپلو نفسونو کښې ورونبايو، او هم په معجزاتو سره، چې د ټولو څخه لويه معجزه قرآن کريم دی.

ج: په بشري فطرت سره، لکه چې د عالَم الذر واقعه ورباندې دلالت کوي چې ټولو انسانانو يې په ربوبيت باندې اقرار کړی دی.

د: په پخوانيو کتابونو سره، چې تر اوسه پورې هم په تورات او انجيل کښې د نبي کريم ﷺ د رسالت دلايل موندلی کېږي چې د تحريفاتو سره سوچه د منځه نه دي تللي.

## د نبي کريم ﷺ رسالت عام دی

۳ـ د ايت شريف د دې جملې ﴿ لِأُنذِرَكُم بِهِۦ وَمَنۢ بَلَغَ ﴾ څخه په صراحت سره څرګندېږي چې د نبي کريم ﷺ رسالت د ټولې دنيا عربو او عجمو او حتی پيريانو ته هم د قيامت د ورځې پورې شامل دی، ځکه چې په دغو ټولو باندې د ﴿ وَمَنۢ بَلَغَ ﴾ ټکی صادقېږي. يعنې: ماته د دې دپاره وحې کړه شوې ده چې هغه ټول مخلوقات د الله ﷻ د عذابه وډار کړم چې زما وحې ورته ورسېږي، که څه هم زما د وفات څخه وروسته وي.

په همدې مضمون باندې دا ايت شريف دلالت کوي چې: ﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِى نَزَّلَ ٱلْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِۦ لِيَكُونَ لِلْعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ﴾ [الفرقان: ۱] يعنې: هغه اقدس ذات ډېر برکتناک دی چې په خپل بنده باندې يې د دې دپاره فُرقان (قرآن) نازل کړی دی چې د ټولو عالمونو دپاره ډاروونکی جوړ شي.

اما د پيريانو په باره کښې د سُورَةُ الْجِنْ څخه علاوه لاندې څو احاديث هم ولولئ:

الف: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايي چې: «إِنَّ بِالْمَدِينَةِ جِنًّا قَدْ أَسْلَمُوا»[1] يعنې: يقيناً په مدينه منوره کښې ځينې پيريان شته چې مسلمانان شوي دي.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې د خرو په لډوکانو او هم په هډوکو باندې استنجاء مه کوئ «فَإِنَّهُ زَادُ إِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِّ»[2] ځکه چې دا ستاسو د پيريانو ورونو توښه ده. يعنې لډوکان يې د څارويو توښه ده او په هډوکو باندې پخپله دوی ته غوښه شنه کېږي.

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۲۳۵؛ موطأ الإمام مالک ص۶۰۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۱۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو دلته پیریانو ته د مؤمنانو د ورونو لقب ورکړې شوی دی، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ ﴾ [الحجرات: ۱۰] يعني: يقيناً ټول مؤمنان ورونه دي.

ج: د همدې کبله به نبي کريم ﷺ ته د پيريانو وفدونه (جرګې) ورتللې او د احکامو د زده کولو څخه وروسته به بېرته خپلو قومونو ته ورستنېدلې، لکه چې عبد الله بن مسعود ﷺ په يوه اوږده حديث کښې وايي: «قَدِمَ وَفْدُ الْجِنِّ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ»[1] نبي کريم ﷺ ته د پيريانو وفد (جرګه) راغله.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: نبي کريم ﷺ لکه چې نذير (ډاروونکی) دی همدارنګه بشير (زيری ورکوونکی) هم دی، نو د څه حکمت په بنا په دې مقام کښې يوازې ﴿ لِأُنذِرَكُم ﴾ په کلمه باندې اکتفاء وکړې شوه؟

مونږ وايو چې:

الف: مونږ د [الأنعام:۱۳] ايت لاندې ليکلي دي چې په عربي ژبه بلکې په قرآن کريم کښې کله کله د يوه ضد په ذکر سره د بل ضد د ذکر څخه صرف نظر کېږي، څکه چې هر شی په خپل ضد باندې دلالت کوي؛ نو د نَذير ذکر په بَشير باندې هم دلالت کوي.

ب: په دې مقام کښې مشرکانو ته مستقيماً خطاب متوجه دی، نو د دوی د حال سره يوازې د 'نَذِير' د کلمې ذکر ښه مناسب وه.

## اهل الکتابو نبي کريم ﷺ پېژاند

۵ـ په دې باره کښې ـ چې د وخت اهل الکتابو نبي کريم ﷺ د خپلو زامنو په شان پېژاند ـ مونږ د [البقرة:۱۴۶] ايت لاندې د الله ﷻ په توفيق پوره بحث کړې دی چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

مګر دومره وربانـدې اضافـه کوو چې په دې مقام کښې مفسرينو کرامو د ﴿ يَعْرِفُونَهُ ﴾ د ضمير مرجع توحيد يا قرآن کريم هم ښودلې ده[2]. نو په دې تقدير به يې معنی داسې شي چې: اهل الکتاب د الله ﷻ وحدانيت او د قرآن کريم حقانيت د خپلو زامنو په شان پېژني.

مګر مونږ ته دغه دواړه احتماله د تشبيه په اعتبار سره خوندور نه برېښي، برسېره په دې، د نبي کريم ﷺ د پېژندنې سره د الله ﷻ د وحدانيت او د قرآن کريم د حقانيت پېژندنې لازمي دي، نو حاجت نشته چې په تشبيه کښې ښه مناسبه وجه پرېږدو او لږ څه لرې وجه واخلو.

﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَـٰتِهِۦٓ ۗ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴿٢١﴾

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ لِلَّذِينَ أَشْرَكُوٓا۟ أَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٢٢﴾

---

(۱) سنن ابي داوُد ج۱ ص۶

(۲) المحرر الوجيز ج۶ ص۲۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ ثُمَّ لَمْ تَكُن فِتْنَتُهُمْ إِلَّآ أَن قَالُواْ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴿٢٣﴾ ٱنظُرْ كَيْفَ كَذَبُواْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ ۚ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾ ﴾

[۲۱] او د هغه چا څخه ډېر زيات ظالم څوک دی چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي او يا يې ايتونو ته د درغو نسبت کوي. يقيناً شان دا دی چې ظالمان فلاح (خلاصون او کاميابي) نه شي موندلی (نو ډېر ظالم به يې څنګه مونده کړي؟).

[۲۲] او داسې ورځ (ورياده کړه) چې دوی ټول مونږ راغونډ کړو (او) بيا هغو کسانو ته ووايو چې هغوی شريکان درولي دي چې: چرته دي ستاسو هغه شريکان چې (په دنيا کښې به) تاسو پرې ګومان کاوه؟.

[۲۳] بيا به نو د دوی (د بوتانو سره) محبت نه وي مګر دا چې وبه وايي چې: په الله ﷻ باندې، چې زمونږ رب دی قَسم کوو چې مونږ (په دنيا کښې) مشرکان نه وو.

[۲۴] وګوره (ای پيغمبره!) چې څنګه په خپلو ځانونو باندې دروغ وايي (چې مونږ مشرکان نه وو) او (وګوره چې) هغه شيان ترې (څنګه) ورک (تالاترغه) شوه چې دوی به يې دروغ تړل.

## ارتباط

د وړاندېنيو ايتونو مضمون دا وه چې نبي کريم ﷺ د مشرکانو پوښتنه جوابه کړه، اما مشرکان د نبي کريم ﷺ د پوښتنې جواب کښې پړه پاتې شوه او خپل شرکيات يې په اثبات ونه شو رسولی. په دې ايتونو کښې د دغو عناديانو حال بيان شوی دی.

## شان نزول

يوه ورځې د "النضر" په نوم يوه غټ مشرک نبي کريم ﷺ ته وويلې چې: د قيامت په ورځ به لات او عزٰی (دوه بوتان) زما شفاعت وکړي، نو ذکر شوي ايتونه نازل کړی شوه[۱].

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې: کله چې مشرکانو خپل شرکيات په اثبات ونه شو رسولی او بلکې بطلان يې په ډېره واضحه طريقه باندې ښه څرګند شو، نو اوس که د هر منصف سړي څخه پوښتنه وکړی شي چې: د هغه ظالم څخه بل زيات ظالم څوک دی چې په بل چا نه بلکې په الله ﷻ باندې دروغ تړي چې الله ﷻ د بوتانو شفاعت قبلوي او يا ورسره په عبادت کښې اشتراک لري؟ او يا د هغه ظالم څخه چې د الله ﷻ ايتونو ته د دروغو نسبت کوي او وايي چې دا نبي کريم ﷺ د خانه جوړ کړی دی؟ او بالآخره د هغه ظالم څخه چې د ذکرو شوو دواړو جنايتونو مرتکب شي چې هم په الله ﷻ باندې دروغ وتړي او هم يې پيغمبر ﷺ ته د کاذب لقب ورکړي، ډېر زيات ظالم څوک دی؟.

---

(۱) الدر المنثور ج۳ ص۲۵۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو هر انصافدار سړی به ووايي چې د ذکر شوي ظالم څخه بل غټ ظالم نشته، نو معلومه شوه چې مشرکان غټ-غټ ظالمان دي، او دا خو يقيني ده چې وړوکی ظالم نه په دنيا کښې کامیابي موندلی شي او نه په آخرت کښې خپل مطلب ته رسېدلی شي، نو غټ ظالم به څنګه مطلب ته ورسېږي.

۲_ ای پيغمبره! اوس نو خلکو ته د مشرکانو اُخروي حالت بيان کړه چې په نن او سبا کښې د دوی مخې ته ور روان دی، هغه دا چې:

کله مونږ وړاندېني او ېېرتني ټول مشرکان راټول کړو او بيا د دوی څخه په مجموعي توګه د دوی د تخجيل دپاره پوښتنه وکړو چې: ای مشرکانو! نن ورځ ستاسو معبودان چرته دي چې ترڅو مو زما څخه په شفاعت او يا په زور سره خلاص کړي، کوم معبودان چې تاسو به هغوی ته د شريکانو لقب ورکاوه؟

نو ټول مشرکان به د ذکرې شوې پوښتنې په جواب کښې هيڅ ونه ويلی شي بې د دې څخه چې د خپلو شرکياتو څخه به انکار وکړي چې مونږ په الله ﷻ باندې (چې زمونږ حقيقي رب دی) قسم کوو چې مونږ په دنيا کښې مشرکان نه وو، او ټول ژوند مو د موحدينو په صفت تېر کړی دی.

۳_ نو وګوره ای پيغمبره! او يا ای انصافداره! مشرکان څنګه په خپلو ځانونو باندې دروغ تړي او وايي چې مونږ مشرکان نه وو، او هم وګوره چې د دوی څخه خپل باطل معبودان څنګه تالا ترغه شوه چې هيڅ په ښه باندې يې ورنغله، بلکې په داسې موقع کښې ترې ورک شوه چې دوی ورته زښت ډېر په تمه وه چې هلته به يې په درد باندې دوا شي.

## توضيحات

۱_ لکه څنګه چې مشرکان په الله ﷻ باندې دروغ تړي او باطل معبودان ورسره په عبادت کښې شريکان ګڼي او يا ملائک د بنات الله په نامه يادوي او بالآخره نبي کريم ﷺ د ساحر او جادوګر په نامه بلي، همدارنګه يهود او نصارا هم مفتريان دي چې عُزير عليه السلام او هم عيسى عليه السلام هر يوه ته د ابن الله لقب ورکوي او د نبي کريم ﷺ صفاتو او خپلو اسماني کتابونو ته تحريف ورکوي؛ لنډه دا چې ﴿وَمَنْ أَظْلَمُ﴾ کلمه په ټولو کافرانو باندې صادقېږي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: مشرکانو خو باطل معبودان د خپلو ځانونو سره شريک نه ګڼل، نو په کوم لحاظ يې دوی ته اضافت وکړی شو چې: ﴿أَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ﴾ ستاسو شريکان چرته دي؟

مونږ وايو چې: په اضافت کښې دا ضرور نه ده چې مضاف دې په مضاف اليه پورې ځانګړی وي، بلکې کله-کله په ډېر ادنی ارتباط سره هم تحقق مومي، لکه چې کرايي کښې سړي ته هم خلک وايي چې "هَذَا دُكَّانُكَ وَدَارُكَ" دا ستا دوکان او ستا کور دی.

په دې مقام کښې ادنی ارتباط دا دی چې باطل معبودان خو فقط کافرانو شريکان جوړ کړي دي،

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که نه نو دوی خو د الله ﷻ د مخلوقاتو څخه دي. همدې مطلب ته د ﴿ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ﴾ کلمات اشاره کوي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وایي چې: د ﴿ أَيۡنَ شُرَكَآؤُكُمُ ﴾ (یعنې ای کافرانو! ستاسو شفاعتګر چرته دي؟) څخه معلومېږي چې د مشرکانو څخه به خپل معبودان غائب وي، حال دا چې الله ﷻ د قیامت ورځې حال داسې بیانوي: ﴿ ٱحۡشُرُواْ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ وَأَزۡوَٰجَهُمۡ وَمَا كَانُواْ يَعۡبُدُونَ ﴾ [الصافات:۲۲] یعنې: ملائکو ته به امر ورکړی شي چې ظالمان او د دوی اندیوالان (شیطانان) او هم هغه شیان چې په دنیا کښې به یې هغوی عبادت کاوه، دا ټول سره یو ځای حشر کړئ (چې ټول سره ګوري راګوري)؟

مونږ وایو چې: که څه هم علماوو کرامو ذکر شوې پوښتنې ته ډېر جوابونه کړي دي[۱]، مګر مونږ ته هغه جواب په زړه پورې ښکاري کوم چې پخپله د ﴿ شُرَكَآؤُكُمۡ ﴾ د کلمې څخه څرګندېږي، هغه دا چې: په دغې ورځ کښې به د دوی باطل معبودان په واک او اختیار کښې د برخوالو په صفت وجود ونه لري، لکه چې دوی ورته تمه درلوده، نو که د یوه مخلوق په حیث د دوی سره حضور ولري څه منافي خبره نه ده.

## فتنه څه معنی؟

۴_ که څه هم مونږ د [البقرة:۱۹۱] ایت لاندې د "فِتۡنَة" د کلمې تحلیل او متعددې معناوې لیکلي دي، مګر په دې مقام کښې علماوو کرامو ذکره شوې کلمه په لاندې معناوو باندې تفسیره کړې ده:

الف: په اختبار (امتحان) سره[۲]، یعنې: د مشرکانو د دنیاوي ازمېښت نتیجه به دا شي چې په آخرت کښې به د خپلو معبودانو څخه په قسم سره انکار وکړي.

ب: په کفر سره[۳]، یعنې: د دوی د کفر عاقبت به بل شی نه شي بې د دې چې په قسم سره به ترې منکر شي.

ج: په کلام سره[۴]، یعنې: مشرکان به د دې پوښتنې په جواب کښې (چې ستاسو بوتانو نن ورځ چرته دي) بل جواب ونه شي ویلی بې د دې چې د عبادت څخه به یې منکران جوړ شي.

د: په معذرت سره[۵]، یعنې: په دغې ورځ کښې به مشرکان نه معذرت وړاندې کړی شي او نه به په خپلو شرکیاتو باندې څه د حجت پرده واچولی شي بې د دې چې انکار ته اقدام وکړي.

---

(۱) روح المعاني ج۷ ص۱۲۱
(۲) تفسیر القرطبي ج۶ ص۴۰۱
(۳) تفسیر القاسمي ج۶ ص۴۹۰
(۴) زاد المسیر ج۳ ص۱۴
(۵) تفسیر البغوي ج۲ ص۹۰؛ الدر المنثور ج۳ ص۲۵۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۸: په محبت سره(۱)، یعني دوی به په دغې ورځ کښې د خپلو باطلو معبودانو دپاره دښمنان جوړ شي او د عبادت څخه به یې قسمیان شي او ویه وایې چې مونږ خو د الله ﷻ سره په عبادت کښې هیڅ شریک نه دی درولی.

که څه هم ذکرې شوې تولې معناوې سره یو تربله منافات نه لري،کیدی شي چې تولې مرادې کړی شي، مګر مونږ ته وروستنۍ معنی ډېر په زړه پورې ښکاري چې د ﴿وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ ٱلْأَسْبَابُ﴾ [البقرة: ۱۶۶] ایت څخه هم اشارهٔ څرګندېږي، چې د پیوستون تول سببونه به پرې کړی شي او محبت به په دښمنۍ بدل شي.

## سوال جواب

۵- که څوک وایي چې: ایا په دغې ورځې کښې مشرکان نه پوهېږي چې دروغ څه ګټه نه شي رسولی، چې د بوتانو د عبادت څخه انکار ته لاس اچوي؟

مونږ وایو: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو(۲) په ذکر شوي سوال کښې ډېر اوږد بحث کړی دی، مګر ډېر ښه په زړه پورې جواب یې دا دی چې: په دغې ورځ کښې به مشرکان د ډېر دهشت لاندې راشي او څه چې په خوله ورځي هغه به وایي، که څه هم د دوی یقین وي چې څه ګټه نه شي رسولی. خلک وایي چې اوبو وړی هر بوټي ته لاس اچوي.

د همدې کبله دوی مرګ غواړي او ښه پوهېږي چې مرګ نشته، الله ﷻ د دوزخیانو د خولو څخه حکایت کوي چې: ﴿وَنَادَوْاْ يَـٰمَـٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ قَالَ إِنَّكُم مَّـٰكِثُونَ﴾ [الزخرف:۷۷] یعني: او دوی (دوزخیان) به اوازونه کوي چې ای مالکه (د دوزخ خازنه)! ضرور دې په مونږ باندې ستا رب د مرګ فیصله وکړي، هغه به ورته ووایي چې یقیناً تاسو (دلته) تالبدونکي یاست (مرګ نشته).

﴿وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِىٓ ءَاذَانِهِمْ وَقْرًا وَإِن يَرَوْاْ كُلَّ ءَايَةٍ لَّا يُؤْمِنُواْ بِهَا ۚ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوكَ يُجَـٰدِلُونَكَ يَقُولُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنْ هَـٰذَآ إِلَّآ أَسَـٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٥﴾ وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْـَٔوْنَ عَنْهُ ۖ وَإِن يُهْلِكُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾﴾

[۲۵] او د دوی (مشرکانو) څخه ځینې هغه کسان دي چې تاته (ای پیغمبره! د اعتراض په غرض) غوږ نیسي او مونږ د دوی په زړونو باندې (د دې خبرې څخه) پردې ګرځولې (اچولې) دي چې په قرآن کریم باندې (د زړه د کومې) پوه شي، او د دوی په غوږو باندې مو دروندوالی (اچولی دی).

(۱) المحرر الوجیز ج۶ ص۲۵
(۲) التفسیر الکبیر ج۱۲ ص۱۸۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او (د همدې کبله) که دوی هره یوه معجزه وګوري هم ایمان نه راوړي، آن تردې پورې په هغه وخت کښې چې تاته په داسې حال کښې درشي چې ستا سره جګړې کوي، نو هغه کسان وایې چې کافر شوي دي (چې:) نه دی دا (قرآن) مګر د پخوانیو خلکو (عبث) قیصې دي.

[۲۶] او دوی (مشرکان) چې دي د ده (قرآن کریم د اورېدلو) څخه خلک منعه کوي (چې څرنګه یې په زړونو کښې اثر ونه کړي)، او دوی ترې (پخپله هم د اورېدلو څخه وروسته) ډډه کوي (ترڅو اسلام خور نه شي)، او (دوی چې دي) نه هلاکوي (نه زیانمن کوي) مګر خپل ځانونه، او دوی شعور نه لري (چې د اسلام د وړاندې تګ مخه نه شي بندولی).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د مشرکانو د قیامت حال بیان شوی وه او په دې ایتونو کښې د دوی دنیاوي حالات بیانېږي ترڅو په مقایسوي توګه باندې ولوستلی شي چې عناد یې ښه څرګند شي.

## شان نزول

۱ـ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې یوه ورځې د مشرکانو یو ټولګی نبي کریم ﷺ ته ورغی ـچې "النضر" مشرک هم پکښې شامل وه_ او قرآن کریم ته یې غوږ کېښود، نو بیا نورو ملګرو یې د "النضر" نومي مشرک څخه پوښتنه وکړه چې ته څه نظر ورکوې چې دا قرآن څه شی دی؟ نوموړي وویلې چې: قسم دی چې زه فقط همدومره پوه شوم چې "محمد ﷺ" شونډې ښورولې او نور پوه نه شوم چې دی څه وایي. یا په بل عبارت: زما نظر دا دی چې دا قرآن بل هیڅ شی نه دی مګر د پخوانیو خلکو قیصې دي، لکه چې زه تاسو ته د اعاجمو قیصې کوم چې رستم پهلوان داسې وه او بهمنیار داسې. نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه[۱].

## یادونه

۲ـ په ځینو روایتو کښې د "النضر" په عوض "مالک بن النضر" ذکر شوی دی، په هر تقدیر، د نوموړي مشرک د اعاجمو پهلوانانو ډېرې قیصې زده وې، چرته به چې نبي کریم ﷺ ناست وه هلته به په نژدې ځای کښې نوموړی کښېناسته او خلک به یې خپل ځان ته دعوت کول چې هغه ته غوږ مه ږدئ ماته غوږ کېږدئ، زما قیصې د هغه د قیصو څخه خوږې او مزه ناکې دي[۲].

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای پیغمبره! په مشرکانو کښې ځینې داسې خلک هم شته چې تاته د قرآن کریم د اورېدلو دپاره درځي ترڅو پکښې دوی څه د ګوتې د ایښودلو ځای مونده کړي او بیا یې خلکو ته د اعتراض په توګه وړاندې کړي چې د قرآن کریم څخه زړه تورن شي.

نو که ذکرو شوو کافرانو د حقیقت د پلټنې دپاره قرآن کریم ته غوږ ایښودی نو مونږ به توفیق

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۴۴

(۲) في ظلال القرآن ج۲ ص۱۰۶۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورکړې وی او په ایمان به مشرف شوي وی، خو خبره داسې نه ده، دوی صرف د مسخرو او ملنډو دپاره ورته غوږ ږدي، د همدې کبله مونږ د دوی زړونه د حقیقت د قبول څخه په پرده کښې اچولي دي او د دوی په غوږونو باندې مو کونوالی ورنازل کړی دی، دوی په هیڅ ډول معجزه باندې عقیده نه خپلوي او ایمان پرې نه راوړي، بلکې د معجزاتو په لیدلو او اورېدلو سره یې کفر لا پسې قوي کېږي او د رد کولو دپاره درسره جګړې هم کوي او وایي چې دا قرآن خو بل څه نه دی مګر د پخوانیو خلکو (لکه عادیانو او ثمودیانو) قیصې دي.

ذکر شوي عنادیان خلک خپلو ځانونو ته وربلي چې راشئ مونږ درته د اعاجمو ښې خوږې قیصې واوروو. دوی غواړي چې په همدې پلمه باندې د قرآن کریم د اورېدلو څخه خلک منعه کړي چې ورنږدې نه شي، هسې نه چې چرته د قرآن کریم حقانیت د دوی په زړونو کښې ځای ونیسي او په ایمان مشرف شي.

۲ـ د دوی غرض دا دی چې د خپلو ځانونو په شان نور خلک هم د قرآن کریم د متابعت څخه لرې وساتي او د اسلام ډېوه مړه کړي، مګر په دې مطلب باندې نه شي کامیابېدلی خو دوی په خپلې ناکامۍ باندې سمدستي نه پوهېږي، داسې وخت به پرې پوه شي چې وخت به یې د لاسه وتلی وي او د سوچه پښېمانۍ سره به مخامخ شي.

## توضیحات

۱ـ څرنګه چې د انسانانو عقلونه او ذکاوتونه سره یو برابر نه دي نو مشرکان هم په نظر سره قرآن کریم ته په لاندې ډولونو باندې ویشلي شوي وه:

الف: یوه ډله ښه پوهېده چې دا قرآن کریم د بشر کلام نه دی ځکه چې په فصاحت او بلاغت او نورو مفاهیمو کښې یې هیڅوک مقابله نه شي کولی؛ نو دغه ډله صرف د عناد د کبله په کفر باندې اخته وه.

ب: بله ډله داسې وه چې د قرآن کریم په مراد باندې نه پوهېده یا د دې کبله چې د پلرونو تقلید یې سترګې پټې کړې وې او یا د دې کبله چې ساده ګان وه او په خبرو باندې یې سرونه نه خلاصېده او د زړونو رڼاګانې یې بالکل د منځه تللې وې. په ذکر شوي ایت شریف کښې همدغې دوهمې ډلې ته اشاره شوې ده.

## "أَكِنَّةً" څه معنی؟

۲ـ د ﴿أَكِنَّةً﴾ کلمه د "كِنَان" جمعه ده، "كِنَان" هغې پردې ته وایي چې په هغې کښې کوم شی ساتل کېږي[1]. نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: د مشرکانو په زړونو باندې مونږ پردې خورې کړې دي چې د قرآن کریم په حقانیت باندې پوهېدل ترې نه شي ورتېرېدلی چې هلته ځای ونیسي، ځکه چې دوی د حقائقو پلټونکي نه دي.

---

[1] مفردات الراغب ص۴۵۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: ځينو مفسرينو کرامو(۱) د ﴿ وَهُمْ ﴾ ضمير ابو طالب او د ده ملګرو ته راجع کړی دی او د ﴿ عَنْهُ ﴾، ﴿ عَنْهُ ﴾ دواړه ضمائر يې نبي کريم ﷺ ته راجع کړي دي او په دې باره کښې يې ښه اوږده قيصه ليکلې ده، چې په دې تقدير يې د معنی حاصل داسې راوځي چې: ابو طالب (د نبي کريم ﷺ تره) او د ده ملګري نور خلک د نبي کريم ﷺ د اذيت څخه منعه کوي او پخپله پرې د ايمان د راوړلو څخه ډډه کوي.

نو پوښتنه دا ده چې: تاسو په څه منظور باندې دغه ډول تفسير خوښ نه کړ؟

مونږ وايو چې: که څه هم د ابو طالب قيصه واقعيت لري ځکه چې خپل ټول ژوند يې د نبي کريم ﷺ د حفاظت دپاره وقف کړی وه خو د دې سره سره په ايمان مشرف نه شو، مګر په دې مقام کښې ذکر شوې قيصه د ايت شريف دباره تفسير واقع کول ډېر لرې بريښي، او دا ځکه چې د ايتونو د لړې سياق او سباق (وړاندې او ورسته) د عمومي مشرکانو حالات بيانوي نو په منځکښې ځينو ايتونو ته په ابو طالب پورې تخصيص ورکول د ملغرو د امېل د پرې کولو څخه په غير نور څه نه دي.

﴿ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ وُقِفُوا۟ عَلَى ٱلنَّارِ فَقَالُوا۟ يَـٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِـَٔايَـٰتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٧﴾ بَلْ بَدَا لَهُم مَّا كَانُوا۟ يُخْفُونَ مِن قَبْلُ ۖ وَلَوْ رُدُّوا۟ لَعَادُوا۟ لِمَا نُهُوا۟ عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَـٰذِبُونَ ﴿٢٨﴾ وَقَالُوٓا۟ إِنْ هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٢٩﴾ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ وُقِفُوا۟ عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ قَالَ أَلَيْسَ هَـٰذَا بِٱلْحَقِّ ۚ قَالُوا۟ بَلَىٰ وَرَبِّنَا ۚ قَالَ فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ ﴿٣٠﴾ ﴾

[۲۷] او که چېرې ته وګورې کوم وخت چې دوی (کافران) په اور باندې ودرولی شي (نو ډېره عجيبه منظره به وګورې) نو دوی به ووايي چې: ای ارمانه چې مونږ بېرته (دنيا ته) تاو کړی شو او (هلته) د خپل رب په ايتونو باندې تکذيب ونه کړو او د مؤمنانو (د ډلې) څخه جوړ شو.

[۲۸] (د دوی ذکر شوی ارمان د حقيقت د موندلو دپاره نه دی) بلکې (د دې کبله دی چې) دوی ته هغه حقائق ښکاره شوه چې دوی مخکښې (په دنيا کښې) وه چې هغه به يې (د خپلو خانونو څخه هم) پټول (او کلک انکار به يې ترې کاوه)، او که (بالفرض) دوی بېرته (دنيا ته) تاو کړی شي (نو ضرور به دوی هغه څه ته بيرته وروګرځي چې دوی ترې منعه کړی شوي وه (خو ترې منعه نه شوه) او يقينًا دوی ضرور دروغژنان دي.

(۱) تفسير القرطبي ج۶ ص۴۰۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۹] او دوی وايي چې: دا (ژوند) نه دی مګر زمونږ نږدې ژوند دی او مونږ (د قبرونو څخه) بورته کړی شوي نه یاستو (مونږ نه ژوندي کېږو).

[۳۰] او که چېرې ته کوم وخت چې دوی په خپل رب باندې ودرولی شي وګورې (چې د الله ﷻ حضور ته د حساب کتاب دپاره بوتللی شي، نو ته به ډېره عجیبه منظره وګورې هغه دا چې:) الله ﷻ به دوی ته وروايي چې: ایا دا (بَعث بعد الموت) حق نه دی؟ دوی (کافران) به وروايي چې ولې نه؟ (دا حق دی) زمونږ دې په خپل رب باندې سوګند وي.

(نو) الله ﷻ به (ورته) ووايي چې: نو په دې سبب باندې عذاب وڅکوئ چې (تاسو په دنیا کښې) وئ چې کفر مو اختیار کړی وه.

## ارتباط

وړاندېني ایتونه په دې تمام شوي وه چې مشرکان په خپله ګټه او تاوان باندې شعور نه لري او په لوی لاس خپلې سپینې غوټوي او ځانونه د هلاکت کندې ته اچوي، په دې ایتونو کښې د هغوی هغه حالت بیان شوی دی چې هغوی پکښې په خپل هلاکت باندې شعور ومومي او پوه شي چې د دنیاوي حقیر ژوند څخه په غیر بل حقیقي ژوند هم شته.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! نن ورځ خو مشرکان په تاباندې ملنډې وهي او د اعتراض جوړولو دپاره تاته غوږ نیسي چې په نتیجه کښې په قرآن کریم باندې د قیصو نوم ږدي، مګر کله چې ته د دوی د قیامت ورځې حالت وګورې نو بالکل به دې ورته حیرت یوسي، هغه دا چې:

هغه وخت چې دوی د دوزخ په غاړه ودرولی شي، نه به ورته بوتان څه ګټه ورسولی شي او نه به ورته د خپل شرک څخه منکرېدل څه په ګټه تمام شي او بالآخره نه به یې د تېښتې لاره وي چې ځانونه خلاص کړي؛ نو په دغه وخت کښې به ووايي چې: ای زمونږ ارمانه! راشه همدا دې وخت دی، کاشکې چې مونږ دنیا ته بېرته تاو کړی شو نو هلته به د خپل پخواني خوی څخه صرف نظر وکړو، د خپل رب په ایتونو (قرآن کریم) باندې به ملنډې نه وهو او تکذیب به یې نه کوو، بلکې د رښتیانیو مؤمنانو د جملې څخه به جوړ شو.

۲ـ ای پیغمبره! په دغې ورځې کښې به هم د مشرکانو ذکره شوې وینا رښتینې نه وي بلکې دوی به غواړي چې په ذکره شوې بهانه باندې د عذاب څخه نجات مونده کړي.

یا په بل عبارت: بلکې ذکره شوې وینا به د دې کبله کوي چې هغه څه ورښکاره شوه چې دوی زیار ویست چې پټ یې کړي او خاورې ورباندې ورواړوي.

۳ـ ای پیغمبره! د مشرکانو ذکره شوې وینا او ارمان ځکه په دروغو دی چې که بالفرض دوی دنیا ته بوتللی شي نو بېرته به خپل اصلي خوی او عادت ته عود وکړي، دوی په دائمي توګه دروغژنان دي، په دنیا او آخرت دواړو کښې دروغ وايي.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به مشرکان خپله پخوانۍ خبره یو ځل بیا تکرار
او دنیا ته د بېرته ستنولو په صورت کښې به مشرکان خپله پخوانۍ خبره یو ځل بیا تکرار کړي، هغه دا چې ژوند نه دی مګر همدغه نژدې ژوند دی او کله چې مونږ مړه شو نو بیا به د لمړي ځل په شان راپورته نه کړی شو.

۴ـ ای پیغمبره! د مشرکانو دغه بله حیرانوونکې او متناقضه خبره هم واوره، هغه دا چې دوی نن ورځ وايي چې فقط همدغه ژوند دی بل ژوند نشته خو کله چې سبا ورځ (د قیامت په ورځ) د الله ﷻ په حضور کښې ودرولی شي او ورته ووايي چې: ایا دا ژوند حق نه دی چې تاسو ترې په دنیا کښې انکار کاوه؟. نو دوی به ووايي چې ولې حق نه دی؟! زمونږ دې قسم وي په رب خپل باندې. نو الله ﷻ به ورته ووايي چې اوس نو د خپل کفر مزه وڅکئ.

## توضیحات

۱ـ که څه هم مفسرینو کرامو د ﴿ إِذْ وُقِفُوا۟ عَلَى ٱلنَّارِ ﴾ د جملې دپاره تقریباً شپږ معناوې کړې دي[۱]، مګر کومه معنی چې مونږ ته ښه ښکاري هغه دا ده چې کله څوک د یوه ډېر خطرناک شي څخه ډارولی کېږي خو هغه ترې نه ډارېږي او نه پرې باور کوي، آن تردې چې د لاسه ونیولی شي او خطرناک شی ورونبودل شي او ورته وویل شي چې خطرناک شی دغه دی اوس دې باور کېږي او که نه؟ نو د دغه سړي په باره کښې په محاوراتو کښې ویل کېږي چې: "وُقِفَ عَلَى الشَّيْءِ الْخَطِيرِ" فلانی سړی په خطرناک شي باندې ودرولی شو.

په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: مشرکان خو درګرده د دوزخ د اوره ډارول کېږي خو دوی ترې نه ډارېږي او باور ورباندې نه کوي، خو کله چې دوی په دوزخ باندې ودرولی شي او د بلا په خوله کښې ورکړی شي نو بیا به د عجیب حیرت سره مخامخ شي او بې اختیاره به دنیا ته د بېرته ورستنېدلو آرزو وکړي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: د ﴿ وَلَا نُكَذِّبَ ﴾ جملې ته څه شي نصب ورکړی دی؟

مونږ وایو چې: دغه جمله د تمنی ﴿ يَٰلَيْتَنَا ﴾ دپاره جواب واقع شوې ده، او د تمنی جواب خو منصوب وي چې کلمه په "ف" باندې مصدر وي او کله په "و" باندې[۲]. مثلا: "يَالَيْتَنِي لِي مَالٌ فَأُنْفِقَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ" یا "وَأُنْفِقَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ" یعنې: ای کاش! چې ما لره مال وی نو (او) د الله ﷻ په لار کښې مې مصرف کړی وی.

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای کاشکې! چې مونږ بېرته دنیا ته بوتلل شوي وی او هلته مو د خپل رب ایتونو ته (قرآني ایتونه وي او که آفاقي) د دروغو نسبت نه وی کړی او عقیده مو ورباندې خپله کړې وی.

---

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۸؛ التفسیر الکبیر ج۱۲ ص۱۹۱
(۲) شرح الجامي (بحث نصب المضارع)

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## څه شی به د قیامت په ورځ ښکاره شي؟

۳_ دا جمله چې ﴿ بَلْ بَدَا لَهُم مَّا كَانُواْ يُخْفُونَ مِن قَبْلُ ﴾ مفسرینو کرامو په زښتو ډېرو ډولونو سره تفسیره کړې ده چې تقریبًا لسو ډولونو ته رسېږي[۱]. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: د محشر خلکو ته به هغه حقائق په ډاګه شي چې په دنیا کښې پرې منافقانو د خپلو عقائدو په هکله پردې اچولې وې[۲].

ب: د محشر په میدان کښې به هغه څه څرګند شي چې په دنیا کښې اهل الکتابو د نبي کریم ﷺ د صفاتو په باره کښې د خلکو څخه پټ کړی وه او حتی تحریفونه یې پکښې واقع کړي وه[۳].

ج: تابعانو مشرکانو ته به هغه ټول حقیقت څرګند شي چې په دنیا کښې ورته خپلو مشرانو په دروغو ښکاره کاوه، حال دا چې خپله یې ورباندې په زړه کښې یقین درلود[۴].

مګر ذکر شوي درېواړه تفسیرونه خوندور نه دي، ځکه چې د یو پلوه د تخصیص دپاره هیڅ وجه نشته چې یا د منافقانو او اهل الکتابو پورې خاص شي او یا یوازې پیروانو کافرانو پورې اختصاص ورکړی شي.

د: مشرکانو ته به هغه کفر ورڅرګند شي چې دوی د محشر په میدان کښې پټ کړی وه او ترې منکر شوي وه او ویلي یې وه چې: ﴿ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴾ [الأنعام: ۲۳] په الله ﷻ باندې، چې زمونږ رب دی، مونږ سوګند کوو چې مونږ مشرکان نه وه.

البته دا څرګندېدل به هغه وخت صورت ومومي چې خپل اندامونه پرې شهادت ورکړي او په خولو باندې یې مهر ولګولی شي[۵].

مګر دا جواب هم زړه ته نه لوېږي ځکه چې متبادره معنی یې دا ده چې دوی ته به هغه څه ورښکاره شي چې په دنیا کښې یې پټ کړی وه، نه هغه چې د محشر په میدان کښې یې ترې انکار کړی وه.

هـ: دلته د ﴿ يُخْفُونَ ﴾ کلمه د "يَكْفُرُونَ" معنی ورکوي، ځکه چې د کفر کلمه هم په لغت کښې د پټولو په معنی ده. نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې: کافرانو ته به خپل کفر ورڅرګند شي[۶].

مګر دا تفسیر هم چندان مزه ناک نه دی او دا ځکه چې باید مجازي معنی د ضرورت په وخت کښې مراده کړی شي او دلته ورته ضرورت نشته.

---

(۱) تفسیر المنار ج۷ ص۳۵۳

(۲) تفسیر القرطبي ج۶ ص۴۱۰

(۳) التفسیر الکبیر ج۱۲ ص۱۹۴

(۴) المحرر الوجیز ج۶ ص۳۲

(۵) تفسیر البغوي ج۲ ص۹۲

(۶) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۱۲۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و: د ﴿يُخْفُونَ﴾ کلمه په خپله حقیقي معنی سره ده. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: کافران ته به هغه ټول حقائق (لکه بیا ژوندي کېدل، حساب، دوزخ او داسې نور) په آخرت کښې درڅرګند شي چې دوی به په دنیا کښې د خپلو ځانونو څخه هم پټول او په کلکه به یې ترې انکار کاوه.

په همدې تفسیر باندې په ذکرو شوو څلورو ایتونو کښې درېم او څلورم دواړه ایتونه ښه پوره راځي چې فرمایي: ﴿إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ﴾ یعنې: کافران وایي چې: بل هیڅ ژوند نشته، مونږ به هیڅکله بیا ژوندي نه کړی شو. ته به وایې چې آخرت یې د خپلو ځانونو څخه هم پټ کړ حتی چې د حصر کلمات (إِنْ، إِلَّا) یې استعمال کړه، خو چې کله د هغوی څخه د قیامت په ورځ پوښتنه وکړه شي چې: ایا دا بیا ژوندي کېدل حق نه دي؟ نو دوی به ووایي چې: ﴿بَلَىٰ وَرَبِّنَا﴾ یعنې: ولې حق نه دي زمونږ دې په خپل رب باندې سوګند وي.

## سوال جواب

۴ــ که څوک وایي چې: ایا د خپله ځانه هم څه شی پټېږي چې کافران په دنیا کښې د خپلو ځانونو څخه حقائق پټ کړي؟

مونږ وایو چې: په همدې ارتباط مونږ د [آل عمران:۲۴] ایت لاندې څه شرحه لیکلې ده چې کله کله ځیني خلک خپل ځانونه په دروغینو خبرو باندې غولوي، خو دلته وروباندې دومره اضافه کوو چې د پټولو څخه په محاوراتو کښې داسې تعبیر هم کېږي چې: فلانی شی ما د خپله ځانه هم پټ کړ. یعنې: په ډېره سختۍ سره مې پټ ساتلی دی چې هیڅوک وروباندې خبر نه دی. د همدې قبیلې څخه لاندې حدیث شریف هم ګڼل کېږي چې:

نبي کریم ﷺ فرمایي چې: د محشر په میدان کښې به هغه سړی هم د الله ﷻ د رحمت د سیورې لاندې وي چې: «تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ»[1] یعنې: څه خیرات وکړي او دا خیرات ډېر پټ کړي آن تردې چې کیڼ لاس یې په هغه څه باندې پوه نه شي چې ښي لاس یې نفقه کړي.

پوره واضحه ده چې دلته د کنایې په توګه دې ته اشاره ده چې خیرات په ډېره کلکه سره پټ ورکړئ، ته به وایې چې خپل لاسونه یې هم یو په بل خبر نه دي.

## د عربیت یوه قاعده

۵ــ په ﴿إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا﴾ کښې د "هِيَ" ضمیر "حَيَاة" ته راجع دی چې وروسته ذکر دی، مګر په عربیت کښې داسې قاعده شته چې د یوه شي د تفخیم عظمت څرګندولو دپاره کله کله "اضمار قبل الذکر" په کار اچولی کېږي، لکه په "نِعْمَ رَجُلًا" کښې د "نِعْمَ" مستتر ضمیر "رَجُلًا" ته راجع دی. دغه ډول تقدم ته حکمي تقدم وایي[2].

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۱۹۱
(۲) شرح الجامي (بحث الضمائر)

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿قَدْ خَسِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱللَّهِ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتْهُمُ ٱلسَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُواْ يَٰحَسْرَتَنَا عَلَىٰ مَا فَرَّطْنَا فِيهَا وَهُمْ يَحْمِلُونَ أَوْزَارَهُمْ عَلَىٰ ظُهُورِهِمْ أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ﴿٣١﴾ وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَلَلدَّارُ ٱلْأَخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يَتَّقُونَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٣٢﴾﴾

[۳۱] يقيناً په زيان كښې واقع شوي دي هغه كسان چې لِقاء الله (بيا ژوندون) ته د دروغو نسبت كوي، آن تر هغه پورې چې دوى ته ناڅاپه قيامت (مرګ) ورورسېږي، نو دوى به (په همدغه وخت كښې) وايي چې: اى زمونږ په هغه قصور باندې حسرته (ارمانه راشه) كوم چې مونږ د قيامت (مرګ) په باره كښې خپل كړى وه. حال دا چې دوى به (د ګناه) خپل پيټي په خپلو شاګانو باندې بار كړي وي. خبردار! هغه ډېر بد شى دى چې دوى په شا كړى دى (چې د ګناهونو بارونه دي).

[۳۲] او دغه نژدې (حقير) ژوند نه دى مګر لوبې او (د آخرت څخه) مشغولتيا ده، او خامخا ورستنى كور د هغه كسانو دپاره ډېر بهتر دى چې دوى پرهېزګاري كوي. ايا نو تاسو د عقل څخه كار نه اخلئ (چې په دواړو كورونو كښې په ښه او بد باندې پوه شئ)؟.

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو كښې د مشركانو د خولو څخه هغه څه حكايت شوي وه چې ورڅخه څرګندېدله چې دوى د اُخروي ژوندون څخه منكر دي او يوازې دنياوي ژوند خپل نهايي هدف ګڼي. په دې ايتونو كښې د يو پلوه د دغسې بې فكره خلكو عاقبت بيان شوى دى او بل پلو ته پكښې د هغې دنيا حقيقت ښودلى شوى دى چې د هغې څخه د آخرت په ګټه كار وانخستلى شي او نهايي هدف وګڼله شي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې: كوم خلك چې د لقاءُ الله (آخرت) څخه انكار كوي هغوى خپل ځانونه د ډېر لوى تاوان سره مخامخ كړي دي، دوى د دغه ژر تېرېدونكې دنيا ژوند خپل نهايي هدف ګڼي او تر هغې ادامه وركوي چې ناڅاپه د مرګ سره مخامخ شي او وروكى قيامت ورباندې قائم شي، نو په دغه وخت كښې به په خپلې هغې عقيدې باندې پښېمانه شي چې د قيامت په باره كښې يې د خپله ځانه سره درلوده هغه دا چې همدغه نژدې ژوند دى او بل ژوند نشته.

۲ـ ذكر شوي خلك به لكه چې د مرګ په وخت كښې په خپله كړنلاره باندې پښېماني څرګنده كړي او حسرت او ارمان ته به ناړې كړي، همدارنګه به دوى د لوى قيامت د قيام په وخت كښې هم د لوى حسرت سره لاس او ګرېوان شي او په داسې حال كښې به د كاشكې-كاشكې چيغې ووهي چې د خپلو ګناهونو ښه غټې پېټى به يې په شا وي، د ګناه پېټى ډېر ناكاره پېټى دى.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ څوک چې دنیا خپل نهايي هدف ګڼي دوی زښت زیات تېروتلي دي او دا ځکه چې په دنیاوي ژوند کښې چې د اُخروي ژوند دپاره څه کار ونه کړی شي نو دنیاوي ژوند د لوبو او محض د خپل ځان د مشغول ساتلو څخه پرته بل شی نه وي ځکه چې عاقبت یې هیڅ دی، اما د آخرت ژوند ډېر بهتر او ګټور دی چې دائمي دی او د ښېګڼو څخه ډک دی، البته د هغه چا دپاره چې هغه ورته په دنیا کښې تیاری نیولی وي او پرهېزګاري یې کړې وي او د شرکي عقائدو څخه یې ځان ساتلی وي.

هو! دنیاوي ژوند او اُخروي ژوند ډېر لوی تفاوت لري مګر په دغه تفاوت او فرق باندې یوازې هغه خلک پوهېږي چې هغوی خپل عقل په کار واچوي او د دواړو عاقبت وسنجولی شي.

## توضیحات

۱_ ﴿ ٱلسَّاعَةُ ﴾ کلمه اصلاً د زمانې یوې برخې ته وضعه شوې ده[۱]، لکه چې زمونږ د (افغانانو) په عرف کښې د شپې او ورځې ټول وخت په څلېرشتو برخو وېشلی شوی دی چې هرې یوې برخې ته یې ساعت (سات) وایو، مګر په دې مقام کښې د ﴿ ٱلسَّاعَةُ ﴾ څخه د زمانې ډېره وړه (کوچنۍ) برخه مطلب ده.

د قیامت د ورځې د نومونو څخه یو نوم "سَاعَة" هم دی، او دا ځکه چې د قیامت د ورځې قیام څه اوږد وخت نه نیسي بلکې د اسرافیل ﷺ د شپېلۍ د پوکولو سره سمه به دنیا دستي ړنګه شي، همدارنګه په بل ځل پوکولو سره به سمدستي مړي د قبرونو څخه په سات کړۍ کښې راپورته شي او اوږد وخت به وانه خلي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د ﴿ حَتَّىٰٓ ﴾ کلمه خو د ﴿ كَذَّبُوا۟ ﴾ پورې تعلق نیسي، نو د معنی حاصل یې داسې را اوځي چې د کافرانو تکذیب آن د قیامته پورې امتداد پیدا کوي، حال دا چې د تکذیب نهايي پړاو خو د مرګ حالت دی؟

مونږ وایو چې: د ساعت (قیامت) اطلاق په لاندې معناوو باندې کېږي:

الف: لوی قیامت، چې ټوله دنیا ورانه شي، لکه چې معترض پرې خپل اعتراض بنا کړی دی.

ب: متوسط قیامت، چې د یوې پېړۍ همزمان (همزولي) خلک مړه شي، دې ته "مَوْتُ الْأَقْرَان" (د همزولو مرګ) هم وایي.

ج: وړوکی قیامت، چې یو کس مړ شي او خاص په ده باندې ودانه دنیا ړنګه (ورانه) شي.

همدې معنی ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې یوه ورځې ترې یوه سړي پوښتنه وکړه چې: «مَتَى تَقُومُ السَّاعَةُ؟» ای د الله ﷺ پیغمبره! قیامت به کله قائم شي؟ نو نبي کریم ﷺ یوه هلک ته اشاره وکړه

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۵۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې په مجلس کښې حاضر وه) او بیا یې وفرمایل چې: «إِنْ يَعِشْ هَذَا الْغُلَامُ فَعَسَى أَنْ لَا يُدْرِكَهُ الْهَرَمُ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ»(۱) که دغه هلک ژوندی پاتې شي نو اُمید دی چې ده ته به لا بوډاتوب نه وي رسېدلی چې قیامت به قائم شي. یعنې: دا هلک به لا نه وي بوډا شوی چې ته به مړ شې او ستا وړوکی قیامت به قائم شي.

نو په دې مقام کښې د ﴿ٱلسَّاعَةُ﴾ څخه همدغه دریمه معنی مراده ده ځکه چې د مرګ په حالاتو کښې په هر چا باندې د لوی قیامت ښې یا بدې وړانګې پرېوځي، د همدې کبله ورته د قبر څخه یا د جنت یوه باغچه او یا د دوزخ یوه کنده جوړېږي. نو د معنی حاصل به داسې شي چې: د زیانکارانو تکذیب آن د مرګه پورې امتداد پیدا کوي چې د توبې د فوت کېدلو وخت دی.

## وِزر څه معنی؟

۳ـ د ﴿أَوْزَارَهُمْ﴾ کلمه د "وِزْر" ـ لکه "مِصْر" ـ جمعه ده، "وِزْر" دروندوالي ته وایي، او "وَزَر" ـ لکه "ثَمَر" ـ د غره پناګاه ته ویل کېږي، او بالآخره "وَزِیْر" د پاچا د کومکي نوم دی چې د حکومت درانده کارونه په اوږو باندې اخلي(۲).

"أَوْزَار" لکه څنګه چې د سلاګانو او ګناهو معنی ورکوي، همدارنګه د ګناهونو په معنی باندې هم استعمالېږي، په دې مقام کښې همدا معنی مراده ده.

د ګناهونو ثقل (دروندوالی) یا د جزاګانو په اعتبار سره دی چې د درنو عذابونو څخه عبارت دی او یا به الله ﷻ د قیامت په ورځ د ګناهونو څخه درانه بارونه جوړ کړي چې د ګناهګارانو په سرونو باندې بلکې په شاګانو (اوږو) باندې به یې بار وي. ځینو مفسرینو کرامو(۳) په همدې باره کښې د سلفو صالحینو څخه څه آثار هم روایت کړي دي، مونږ ته همدغه ماثور تفسیر ښه برېښي، الله ﷻ په هر څه باندې قدرت لري.

د همدې مضمون څه وضاحت د [آل عمران: ۱۶۱ـ ۱۸۰] ایتونو لاندې تېر شوی دی.

## لهو او لعب څه معنی؟

۴ـ لَهْو: هغه شي ته "لَهْو" ویل کېږي چې انسان د اصلي مقصود څخه مشغولوي خو د لږ تلذذ څخه وروسته د منځه ځي(۴)، برابره خبره ده چې ذکر شوی شی کور کهول او اولادونه وي او یا بل څیز. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿أَلْهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ﴾ [التکاثر: ۱] یعنې: تاسو (په خپلو منځو کښې) یو په بل باندې ډېروالي (د آخرت څخه) مشغول کړي یاست.

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۴۵۵
(۲) مفردات الراغب ص۵۵۸
(۳) تفسیر الطبري ج۵ ص۱۷۹
(۴) مفردات الراغب ص۴۷۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لَعِب: مونږ د [المائدة:۵۷] ایت لاندې د "لَعِب" د کلمې په اصلیت کښې تحقیق کړی دی چې دا کلمه اصلاً د "لُعَاب" څخه اخستلې شوې ده او "لُعَاب" بهېدونکو لاړو ته ویل کېږي چې د لاړجن د خولې څخه بې اختیاره او بې هدفه روانې وي، او هیڅ فائده پرې مرتبه نه وي؛ نو کوم کار یا شی چې په هغه کښې څه مهم مطلب مرموز نه وي بلکې محض د وخت اړولو (سات تېری) په غرض اجراء کېږي هغه د "لَعِب" (لوبو) په نامه یادېږي، چې ماشومان او سادګان پکښې په اکثره وختونو کښې اخته وي.

په دې مقام کښې الله ﷻ دغه ژوند د بلیغې تشبیه په توګه (چې د تشبیه حرف پکښې ذکر نه دی) لَهو او لَعِب ګڼلی دی، او دا څکه چې:

د دنیا ټول کارونه او ټول شیان په دې اعتبار سره لَهو دي چې په سړي باندې سترګې پټوي او د آخرت د هېرېدلو باعث یې جوړېږي، او کله چې د آخرت (اخروي ژوند) څخه غافل شي نو بیا دنیا ته د هدف په نظر ګوري، نو په دې اعتبار سره دنیا ته د متاع الغُرور (د غولېدلو سامان) لقب ورکولی شو.

همدارنګه دنیاوي سازوسامان په دې اعتبار سره لعب او لوبې ګڼل کېږي چې آخر یې هیڅ دی او د مرګ په حالت کښې ترې هرڅوک خالي لاس اوځي، ته به وایې چې دنیادار یو ماشوم وه چې لوبې یې وکړې او اوس یې بس کړې، لکه څنګه چې هیڅ لوبغاړی د لوبو په پای کښې د سات تېري څخه په غیر د څانه سره څه شی نه شي وړلی همدارنګه حالت په هر دنیا غاړي باندې ورتلونکی دی.

دا موضوع ځینو مفسرینو کرامو[1] د زښتو ډېرو وجوهو په ذکر کولو سره شرحه کړې ده، که څوک زیات تفصیل غواړي نو هلته دې مراجعه وکړي.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: د قرآن کریم ټولې ویناګانې واقعیت لري او په هیڅ وجه د واقعیت څخه تخلف نه کوي، حال دا چې په دې مقام کښې یې د حصر په حرفونو (ما، إلا) سره دنیاوي ژوند په لَهو او لعب باندې ملقب کړی دی، نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې په دنیاوي ژوند کښې هیڅ ګټه او فائده نشته.

دا د یو پلوه، د بل پلوه د دنیا د سازوسامان په بهترۍ کښې زښت ډېر نصوص (ایتونه او احادیث) شته دي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿وَٱبْتَغُواْ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ﴾ [الجمعة:۱۰] یعنې: کله چې تاسو د جمعې د لمانځه څخه فارغ شوئ نو په ځمکه کښې د کار او کسب دپاره خواره واره شئ او د الله ﷻ فضل (حلال مال) طلب کړئ. په دغه ایت شریف کښې حلال مال ته د "فَضْلُ الله" لقب ورکړی شوی دی.

[1] التفسیر الکبیر ج۱۲ ص۲۰۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «التَّاجِرُ الْأَمِينُ الصَّدُوقُ الْمُسْلِمُ مَعَ الشُّهَدَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[1] يعني: امانتګر، رښتينی، مسلمان تجارت کوونکی به د قیامت په ورځ د شهیدانو سره یو ځای وي.

ج: يوه ورځې نبي كريم ﷺ د انس رضی الله عنه دپاره دعاء وکړه چې: «اللَّهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ وَوَلَدَهُ وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ»[2] يعني: ای الله! د ده (انس رضی الله عنه) مال او اولاد ډېر کړې او ده ته په هغه شي کښې برکت راچوې چې تا ورکړی دی.

نو غوښتنه دا ده چې: د نصوصو ترمنځ د علمي قواعدو په بنا تطبيق وکړئ؟

مونږ وايو چې: د عربيت قانون دی چې کله يوه کلمه د تعريف په توګه ذکره شوې وي او همدغه کلمه دوهم ځل بيا د تعريف په ډول ذکره شي، نو په دواړو وارونو کښې ترې يوه معنی اخستله کېږي[3]؛ نو په همدې بنا، کله چې الله ﷻ د کافرانو د خولو څخه د "حَيَاة" کلمه يو ځل په تېر شوي [۲۹] ايت کښې د تعريف په توګه ذکره کړې وه چې: ﴿ إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا ﴾ يعني: ژوند همدا يو ژوند دی، نه بل ژوند شته او نه د قبرونو څخه بيا راپورته کېدل.

نو په [۳۲] ايت کښې يې بيا ذکره شوې کلمه ﴿ حَيَاتُنَا ﴾ د تعريف په ډول نازله کړه. نو معلومه شوه چې دلته د "حَيَاة" څخه همغه ذکر شوی "حَيَاة" مراد دی چې د کافرانو د خولو څخه حکايت شوی وه.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: دغه نژدې ژوند (چې د بل أُخروي حقيقي ژوند لحاظ ورسره نه وي) د مشغولتيا او لوبو څخه په غير بل شی نه دی. همدې مضمون ته په لاندې حديث شريف کښې اشاره شوې ده:

نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «الدُّنْيَا دَارُ مَنْ لَا دَارَ لَهُ، وَلَهَا يَجْمَعُ مَنْ لَا عَقْلَ لَهُ»[4] يعني: دنيا د هغه چا کور دی چې هغه په بل کور باندې عقيده نه لري، او خاص د دنيا دپاره (چې د آخرت لحاظ پکښې بالکل نه وي) هغه څوک هلې ځلې کوي چې مفيد عقل نه لري.

همدا مضمون يو پښتون شاعر په څومره ښه توګه په خپلو اشعارو کښې ځای په ځای کړی دی چې[5]:

ښه ده ښه ده دا دنيا :: چې توښه ده د عقبا
په دنيا کښې بدي نشته :: چې بدي نه وي له تا
د دنيا په بازار کېږي :: د هغه جهان سودا

---

[1] سنن ابن ماجه ص۱۵۵
[2] صحيح البخاري ج۲ ص۹۴۴
[3] نور الانوار ص۸۱؛ حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۴۷۱
[4] مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۳۴۴
[5] د عبد الرحمن مومند دېوان

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


﴿ قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُۥ لَيَحْزُنُكَ ٱلَّذِى يَقُولُونَ ۖ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ بِـَٔايَٰتِ
ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ فَصَبَرُوا۟ عَلَىٰ مَا كُذِّبُوا۟ وَأُوذُوا۟ حَتَّىٰٓ
أَتَىٰهُمْ نَصْرُنَا ۚ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِ ۚ وَلَقَدْ جَآءَكَ مِن نَّبَإِى۟ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٣٤﴾ وَإِن
كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ فَإِنِ ٱسْتَطَعْتَ أَن تَبْتَغِىَ نَفَقًا فِى ٱلْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا فِى ٱلسَّمَآءِ
فَتَأْتِيَهُم بِـَٔايَةٍ ۚ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى ٱلْهُدَىٰ ۚ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْجَٰهِلِينَ ﴿٣٥﴾ إِنَّمَا
يَسْتَجِيبُ ٱلَّذِينَ يَسْمَعُونَ ۘ وَٱلْمَوْتَىٰ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ ثُمَّ إِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٣٦﴾ ﴾

[۳۳] بې شکه مونږ پوهېږو چې يقيناً شان دا دی چې ضرور تا هغه څه خپه کوي چې دوی (کافران) يې وايي. نو (ته مه غمږن کېږه ځکه چې) يقيناً دوی تاته د دروغو نسبت نه کوي مګر ظالمان (د خپل ظلم په سبب) د الله ﷻ د ايتونو څخه انکار کوي (يعنې ستا تکذيب زمونږ تکذيب دی).

[۳۴] او بې شکه ستا څخه وړاندې هم ډېرو پيغمبرانو ته (د خپلو اُمتونو د پلوه) د دروغو نسبت کړی شوی وه نو هغوی په خپل دروغژن بلل کېدلو باندې او په خپل ضررمند کېدلو تر هغه صبر کړی وه چې زمونږ نصرت به ور ورسېد (نو ته هم زمونږ د نصرت په انتظار صبر وکړه).

او د الله ﷻ د خبرو (وعدو) دپاره خو بالکل بدلوونکی (تغير ورکوونکی) نشته (وعدې يې رښتيا دي)، او بې شکه تاته خو (زمونږ د پلوه) د پيغمبرانو د خبرونو څخه (څه ناڅه) درغلي دي (چې ستا د حوصلې او صبر دپاره کفايت کوي).

[۳۵] او يقيناً په تا باندې د دوی (کافرانو د اسلام څخه) مخونه تاوول درانه تماميږي نو که وسه دې کېږي چې ته په ځمکه کښې يوه سوړه (سورنګ) ولټوې او يا په اسمان کښې زينه (طلب کړې) چې دوی ته (فرمايشي يا مجبوروونکې) معجزه راوړې؛ (نو دا کار هم وکړه مګر دغه ډول معجزې ته الله ﷻ اراده نه ده کړې چې د حکمت په خلاف ده) او که (بالفرض) الله ﷻ (ورته) اراده وکړي نو ضرور به دوی ټول په هدايت (اسلام باندې) راغونډ کړي، نو ته بالکل د جاهلانو د جملې څخه مه کېږه (او د حکمت څخه خلاف معجزه مه غواړه).

[۳۶] بې شکه (ستا) اجابت هغه کسان کوي چې هغوی اوري (او ژوندي دي)، او مړي (کافران) به الله ﷻ (د قبرونو څخه) راپورته کړي (هلته به بې ګټې اجابت وکړي)، بيا به خاص همده ﷻ ته ورتاو کړی شي (او مطابقه جزا به وګوري).

## ارتباط

څرنګه چې د سورت د اول سر څخه تردې ځايه الله ﷻ د کافرانو د قناعت دپاره د سالمې عقيدې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په باره کښې پوره قناعت ښښونکي دلایل نازل کړه، امکان لري چې د نبي کريم ﷺ به غټه تمه وه چې هغوی به قناعت وکړي او د کفر څخه به لاس واخلي او بالآخره په ایمان باندې به مشرف شي، خو د ذکرو شوو دلایلو د اورېدلو سره-سره هغوی پرې خپل غوږونه کاڼه کړه او د قرآن کريم په مقابل کښې يې عناد او تعنت لا زیات شو، نو دا کار په نبي کريم ﷺ باندې غټ بوج جوړ شو، او دا څکه چې د نبي کريم ﷺ مبارک زړه د هغوی په ایمان راوړلو باندې زیات حارص وه.

نو په دغو ایتونو کښې الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته تسلي ورکړه چې باید د نورو پیغمبرانو په شان د صبر څخه کار واخلي او خپله حوصله خرابه نه کړي.

## شان نزول

د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې خو متعددې حادثې روایت شوې دي چې ځینو مفسرینو کرامو[1] راغونډې کړې دي، مونږ صرف د لاندې دوه حادثو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

۱- يوه ورځې الاخنس بن شريق د ابو جهل سره ملاقي شو او د نبي کريم ﷺ په باره کښې يې ترې نظر وغوښت چې دی صادق دی او که کاذب؟ حال دا چې زه او ته دلته دوه په دوه یو چې د قومیانو څخه راسره هیڅوک نشته، نو اصلي خبره راته وکړه. ابو جهل جواب ورکړ چې: زما دې په الله ﷻ قسم وي چې محمد ﷺ صادق دی مګر کله چې د دې ټبر (بني قصي) د بېرغ خاوندان دي، حجاجو ته د زمزم د اوبو څړوبول د دوی په لاس دي او د شوراګانو مشري د همدوی ده نو که مونږ د ده په صداقت باندې اعتراف وکړو نو نبوت به هم د همدوی شي، نو دا راته ووایه چې نورو قریشو ته به څه پاتې شي. نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه[2].

۲- يوه ورځې جبرائيل امين ﷺ د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې څنګه غمژن ناست يې؟ نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې «كَذَّبَنِيْ هٰؤُلَاۤءِ»[3] دغو (کافرانو) راته د دروغو نسبت وکړ، نو جبرائيل امين ﷺ ورته تسلي ورکړه چې دوی خو تاته د دروغو نسبت نه کوي بلکې دوی په حقیقت کښې ستا خبرې تکذیبوي. یا په بل عبارت: دوی ستا تکذیب نه کوي بلکې دوی د الله ﷻ تکذیب کوي او ستا د نبوت څخه منکر دي.

## د مطلب خلاصه

۱- يعني: ای پیغمبره! مونږ خو پوهېږو چې د کافرانو په کفر باندې ته څومره زیات غمژن يې او د دوی کفري خبرې تا څومره زیات زوروي خصوصاً لا د دوی هغه خبرې چې په تا باندې د جادوګر نوم کېږدي او قرآن کريم ته د جادو لقب ورکوي، نو څکه مونږ ستا توجه لاندې ټکاتو ته اړوو ترڅو متسلي شې او حوصله دې خرابه نه شي:

---

(۱) في ظلال القرآن ج۲ ص۱۰۷۴
(۲) اسباب النزول للواحدي ص۱۴۵
(۳) الدر المنثور ج۳ ص۲۶۴، اخرجه ابن جرير عن ابي صالح ج۵ ص۱۸۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ای پیغمبره! کافران ډېر غټ-غټ ظالمان دي چې د الله ﷻ سره شریک دروي، په دې کښې خو تا ځلوښت کاله د صداقت عمر تېر کړی دی چې په هیڅ یوه خبره کښې یې درڅخه دروغ نه دي اورېدلي، دوی اوس هم په تاباندې یقین لري چې ته دروغژن نه یې، نو د هغوی تکذیب په حقیقت کښې د الله ﷻ ایتونو ته راجع کېږي. یا په بل عبارت: دوی په اصل کښې الله ﷻ ته د دروغژن نسبت کوي، نو څوک چې الله ﷻ ته د دروغو په نسبت باندې ډېل نه وي د هغوی څخه څ ګیله ده چې د الله ﷻ پیغمبر دروغژن وګڼي. نو لکه څنګه چې د الله ﷻ په نومونو کښې یو نوم "صبور" هم دی نو ته هم باید د صَبر څخه کار واخلې او د الله ﷻ په صفاتو باندې خپل ځان موصوف کړې.

ب: ای پیغمبره! د کافرانو په تکذیب کښې خو ته یوازې نه یې چې زیات بوج درباندې ولوېږي بلکې تېر شوي پیغمبران ټول ستا سره پکښې شریک دي چې هر یوه ته د وخت کافرانو د دروغژن نسبت کړی دی خو هغوی وریاندې صبر کړی دی او خپلې حوصلې یې نه دي خرابې کړې او د موذیانو (ضرر رسوونکو) اذیتونو یې ګاللي دي آن تر هغه وخته پورې چې زمونږ نصرت او کومک به وررورسېد دوی ته به مو نجات ورکړ او په ظالمانو باندې به مو خپل غضب ورنازل کړ، نو ته هم خپل نصرت او د ظالمانو پوپنا کولو ته منتظر اوسه.

ج: دا د الله ﷻ خبره ده او د الله ﷻ خبره هیڅوک نه شي بدلولی بلکې هیڅ بدلوونکی (اړوونکی) نه لري، که بالفرض د الله ﷻ په خبره کښې څه کوز او پاس وی نو کوم یو کافر قوم خو به د الله ﷻ د عذاب څخه بچ شوی وی او د پوپنا کولو څخه به یې نجات موندلی وی، تاته خو د پیغمبرانو څه ناڅه خبرونه درغلي دي او په حالاتو کښې یې په کافي اندازه معلومات درکړی شوي دي، ایا د کافر قوم څخه چرته هم چا د عذاب مخه اړولې ده؟

۲_ ای پیغمبره! مونږ پوهېږو چې په تاباندې د کافرانو انکار او کفر ډېر دروند تمامېږي آن تردې چې زړ -ې غوارې چې دوی ته د دوی د غوښتنې سره سمې فرمائشي معجزې هم ورکړی شي ګوندې په ایمان باندې مشرف شي او د الله ﷻ د غضب څخه نجات مونده کړي، نو تاته په کار دي چې د خپلې تسلی دپاره لاندې موادو ته خپله توجه ورتاوه کړې:

الف: که بالفرض ته خپل ځان په سخت مشقت کښې واچوې او په ډېره ګرانه طریقه باندې کافرانو ته فرمایشي معجزې وربښکاره کړې، چې یا د فرمایشي معجزې د موندلو دپاره په ځمکه کښې ننوځې او د ځمکې د تل څخه یې ورته راپورته-کړې او یا اسمان ته زینه کېږدې او د اسمانه یې ورته رابښکته کړې هم، په دواړو صورتونو کښې به دوی په ایمان مشرف نه شي، دوی به نه په خپله وعده باندې وفا وکړي چې د فرمایش د پوره کېدلو په صورت کښې به ایمان راوړي او نه به یې په تاباندې زړه وسوخي چې د فرمایش د پوره کولو دپاره دې ډېر زیات زحمت تېر کړ په کار دي چې په ایمان مشرف شو.

ب: نو ای پیغمبره! که د ذکرشوو دواړو کارونو څخه کوم یو کار کولی شې هغه وکړه خو د دوی

Downloaded from: Sawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په ايمان باندې د مشرف کېدلو تمه مه کوه، ځکه چې د دوی په زړونو باندې مُهر وهلی شوی او د توفيق استعداد يې بالکل د لاسه ورکړی دی.

د دوی د ايمان راوړلو فقط همدا يوه لاره پاتې ده چې الله ﷻ اراده وکړي او دوی ټول په هدايت باندې راټول کړي چې يو کس يې هم ګمراه پاتې نه شي، مګر الله ﷻ دغسې کار نه کوي او هغو کافرانو ته توفيق نه ورکوي چې د هغوی په زړونو باندې مُهر لګول شوی دی او د ايمان استعداد يې د لاسه ورکړی دی، او دا ځکه چې دنيا د ابتلاء او ازمېښت ميدان دی نو دغسې کار کول د حکمت غوښتنه نه ده، او د الله ﷻ څخه د غير حکيمانه کار تمه کول د ناپوهانو کار دی، نو پام کوه (اې پيغمبره!) چې ته د ناپوهانو او جاهلانو څخه جوړ نه شې.

۳ـ د حکمت غوښتنه دا ده چې الله ﷻ هغه چا ته د ايمان راوړلو توفيق ورکوي چې هغوی خبره اوري ترڅو پکښې فکر وکړي او هم هغوی د حق پلټنه کوي او د حق په موندلو پسې تاند وهي، اما څوک چې دغه خاصيتونه پرېږدي او د حق سره عناد کوي نو دوی د مړو په شان دي، نو لکه ځنګه چې په مړو کښې د ايمان راوړلو استعداد ختم دی همدارنګه دوی هم خپل استعداد ختم کړی دی.

او د قيامت په ورځ به الله ﷻ د دغو مړو (کافرانو) په شمول ټول مړي راژوندي کړي او په خپل حضور کښې به يې ودروي، نو په دغه وخت کښې به ټول کافران ايمان راوړي خو د دغه وخت ايمان د الله ﷻ په نزد باندې مقبول نه دی، هغه خو د جزا وخت دی، د ابتلاء او امتحان وخت خو نه دی.

## توضيحات

۱ـ د ﴿ قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُۥ لَيَحْزُنُكَ ٱلَّذِى يَقُولُونَ ﴾ د جملې څخه لاندې ټکو ته اشارې معلومېږي:

الف: نبي کريم ﷺ د اِلهي ادب په خاطر ټول غمونه په مبارک زړه کښې ساتلي وه او يوازې الله ﷻ ورباندې خبر وه چې په زړونو باندې علم لري.

ب: د کافرانو په کافر پاتې کېدلو باندې نبي کريم ﷺ دومره زيات غمژن کېده چې په اندازه باندې يې يوازې الله ﷻ پوهېده او بس.

ج: که څه هم نبي کريم ﷺ د کافرانو په کفري افعالو باندې هم غمژن کېده مګر کفري اقوال يې ځکه د غمژن کېدلو په وجه کښې مشخص کړه چې د دوی مسلمانېدل په قول پورې تړلي وه، نه په فعل پورې.

د: بالآخره کفري اقوال يې مشخص نه کړ ځکه چې د دوی کفري اقوال او ويناوې زښتې ډېرې وې چې په عدم تشخيص سره ټولو ته شامل شي.

## تکذيب څه معنی؟

۲ـ د ﴿ لَا يُكَذِّبُونَكَ ﴾ کلمه د "تکذيب" څخه اشتقاقه شوې ده چې په دې مقام کښې يې مفسرينو کرامو متعددې معناوې کړې دي. لاندې څو مثالونه يې ولولئ[1]:

---

(۱) زاد المسير ج۳ ص۲۲؛ التفسير الکبير ج۱۲ ص۲۰۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ای پیغمبره! ستا په تکذیب (د دروغو په نسبت) باندې کافران کوم حجت او برهان نه لري، بلکې د دوی تکذیب په عنادي جحود (انکار) باندې ولاړ دی.

ب: دوی وايي چې ته دروغ نه وايي (تا دروغو ته قصد نه دی کړی) خو ستا خبرې دروغ دي، یا په بل عبارت: قرآن دروغ وايي چې په لا شعوري توګه ستا په ژبه باندې جاري دی.

ج: که کافران پخوانیو کتابونو او ستا معجزاتو ته پاملرنه وکړي نو دوی به تاته ونه شي ویلی چې ته دروغ وايي.

د: دوی پټ په زړونو کښې تا رښتینی ګڼي خو په ژبه باندې اقرار نه کوي او عناد نیولي دي.

هـ: ای پیغمبره! لکه څنګه چې ستا اطاعت د الله ﷻ اطاعت او ستا نه منل د الله ﷻ نه منل دي، همدارنګه تاته د دروغو نسبت کول په حقیقت کښې الله ﷻ ته د دروغو نسبت کول دي.

مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوې معناوې سره څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې ټولې مرادې وي او د تکذیب څخه "ما یطلق علیه التکذیب" مراد کړی شي ترڅو د کافرانو ټولو ګروپونو ته شامل شي ځینو ته په یوه اعتبار سره او ځینو ته په بل اعتبار سره.

## کلمات الله څه معنی؟

۳_ که څه هم مفسرینو کرامو ﴿ وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِ ٱللَّهِ ﴾ دپاره تقریبًا پنځه ډوله تفسیرونه کړي دي[۱] مګر مونږ ته داسې برېښي چې په دې مقام کښې د "کلمات الله" څخه هغه جملې مرادې دي چې په قرآن کریم کښې ځای په ځای نازلې شوې دي او د کافرانو په مغلوبیت او پوپنا کولو باندې دلالت کوي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: ﴿ كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِىٓ ﴾ [المجادلة: ۲۱] یعنې: الله ﷻ (په لوح محفوظ) کښې لیکلي دي چې خامخا ضرور به زه غالب کېږم او زما پیغمبران هم.

ب: ﴿ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ [إبراهيم: ۱۳] یعنې: کله به چې کافرانو پیغمبرانو ته غابښ چیچې وکړ نو دوی ته به خپل رب وحې وکړه چې خامخا ضرور به ظالمان هلاک کړو، او په ځمکه کښې به د هغوی په عوض تاسو اوسېدونکي وګرځوو.

مونږ ته ځکه ذکر شوی تفسیر غوره ښکاره شو چې متصله جمله ﴿ حَتَّىٰٓ أَتَىٰهُمْ نَصْرُنَا ﴾ ورباندې دلالت کوي. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای پیغمبره! لکه څنګه چې مونږ د پخوانیو پیغمبرانو د نصرت وعده کړې وه او بیا مو ورته رښتیا هم کړه همدارنګه ستا سره هم د نصرت وعده کوو او تاته به یې هم رښتیا کړو، د الله ﷻ یوه خبره هم څوک د خپلې تګلارې څخه نه شي اړولی.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: د څه حکمت په بنا الله ﷻ په ﴿ وَإِن كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ ﴾ الآیة

۱) زاد المسیر ج۳ ص۲۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې په عتاب آميزه کلماتو باندې نبي کريم ﷺ مخاطب کړ چې:

الف: ای پيغمبره! که د فرمائشي معجزې د راوړلو دپاره د ځمکې په کومه سوړه کښې ننوتلی شې نو په سوړه کښې ننوځه او معجزه ورته راوړه، او يا که اسمان ته ختلی شې نو زينه کېږده او اسمان ته وخېژه او معجزه ورته راوړه خو په دواړو صورتونو کښې به کافران ايمان رانه وړي.

ب: د دغو کافرانو د ايمان تمه مه کوه دا د جاهلانو کار دی، پام کوه چې د جاهلې ډلې څخه خپل ځان جوړ نه کړې.

مونږ وايو چې: ـوالله ﷻ اعلمـ ربښتيا په ذکر شوي ايت شريف کښې د عتاب وړمه شته، خو دغه عتاب اصلاً کافرانو ته په لاندې نُکاتو کښې متوجه دی:

اول: د نبي کريم ﷺ کار (دنده) دعوت دی او بس، نو ده ته د معجزاتو فرمائش ورکول د زوررولو څخه په غير بله معنی نه لري.

دوهم: نبي کريم ﷺ د کافرانو په ايمان راوړلو باندې دومره حريص وه که بالفرض د معجزې راوړل د ده د زيار ويستلو پورې تړلي وی نو په ځمکه کښې په ننوتلو او اسمان ته په ختلو باندې به يې هم صرفه نه وی کړې، حال دا چې دواړه کارونه عادةً محال دي.

مګر بالمقابل کافران دومره بې رحمه دي چې که نبي کريم ﷺ د دوی د هدايت دپاره د خپلې وسې څخه پورته مشقت په غاړه واخلي هم د دوی به پرې زړونه ونه سوزي او د ده ﷺ د خوشالۍ دپاره به هم په ايمان مشرف نه شي.

دريم: نبي کريم ﷺ ته دومره معجزات ورکړی شوي دي چې د نبوت د ثبوت دپاره يې کفايت کوي، نو په دغو معجزاتو باندې د پاسه د مشخصې معجزې پورې د ايمان ځنډول د بهانه نيولو څخه په غير بل شی نه دی او د جاهلانو کار دی.

څلورم: په دغه عتاب آميزه لهجه باندې کافران په غوږ وهل شوي دي چې په راتلونکې کښې نبي کريم ﷺ ونه زوروي او د معجزاتو فرمائش ورنه کړي، او دا ځکه چې د دوی په زړونو باندې مُهر لګېدلی دی او د ايمان راوړلو يې فقط همدا يوه لاره پاتې ده چې الله ﷻ مجبوروونکې معجزه نازله کړي، مګر دغه ډول معجزه نازلول د يو پلوه د ازمېښت سره منافي دي حال دا چې دنيا خو د ازمېښت ځای دی، او د بله پلوه د حکمت غوښتنه نه ده او الله ﷻ د حکمت څښتن دی چې د ده ﷻ څخه د غير حکيمانه کار تمه کول او يا غوښتل د جاهلانو کار دی.

## "الموتی" څه معنی؟

۵ـ که څه هم د "الْمَوْتَىٰ" کلمه د "مَيِّت" جمعه ده او "مَيِّت" مړي ته وايي مګر مفسرينو کرامو په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه په کفارو سره تفسيره کړې ده[1]، چې د قرآن کريم په نورو ايتونو کښې په همدې معنی سره استعماله شوې ده، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَٰهُ ﴾ [الأنعام: ۱۲۲]

[1] روح المعاني ج۷ ص۱۴۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعني: ایا هغه څوک چې مړ وي (کافر وي) نو هغه مونږ ژوندي کړو (په اسلام باندې یې مشرف کړو) نو د معنی حاصل یې داسې را اوځي چې: ذکر شوي عنادي کافران به (چې په یوه دلیل باندې هم قناعت نه کوي او د خپل کفر دپاره ډول-ډول بهانې تراشي) مونږ د مرګ څخه وروسته بېرته راژوندي کړو نو هلته به دوی قناعت وکړي خو د هغه وخت قناعت به دوی ته په درد ونه خوري.

﴿وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ءَايَةٌ مِّن رَّبِّهِۦ قُلْ إِنَّ ٱللَّهَ قَادِرٌ عَلَىٰٓ أَن يُنَزِّلَ ءَايَةً وَلَٰكِنَّ
أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٧﴾ وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا طَٰٓئِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمْثَالُكُم
مَّا فَرَّطْنَا فِى ٱلْكِتَٰبِ مِن شَىْءٍ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ ﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا بِـَٔايَٰتِنَا صُمٌّ
وَبُكْمٌ فِى ٱلظُّلُمَٰتِ مَن يَشَإِ ٱللَّهُ يُضْلِلْهُ وَمَن يَشَأْ يَجْعَلْهُ عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٩﴾﴾

[۳۷] او دوی (کافران) وايي چې: ولې په ده (نبي کریم ﷺ) باندې د خپل رب ﷻ د پلوه (زمونږ د غوښتنې مطابقه) معجزه نازله نه شوه.

ته ورته ووایه چې: یقیناً الله ﷻ په دې باندې قادر دی چې (فرمائشي) معجزه نازله کړي مګر ددوی اکثریت نه پوهېږي (چې دا ډول غوښتنې کوي).

[۳۸] او نه دي هیڅ خوزېدونکی (ساکښ) په ځمکه کښې او نه دی هیڅ الوتونکی چې په خپلو دوه وو وزرونو باندې الوزي، مګر (دا ټول) ستاسو غوندې اُمتونه دي (خو تاسو ورباندې په عقل سره بهتري لرئ) مونږ خو په قرآن کریم کښې هیڅ ضروري شی نه دی پرېښودلی (حتی چې د ضرورت په اندازه معجزات هم پکښې شته)، بیا به خپل رب ﷻ ته ټول (ساکښان) ورغونډ کړی شي.

[۳۹] او هغه کسان چې زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي (دوی) کاڼه او ګونګان (او) په تیارو کښې دي. هر څوک چې الله ﷻ (ورته) اراده وکړي نو ګمراه کوي یې (توفیق نه ورکوي) او هر څوک چې (الله ﷻ ورته) اراده وکړي په سمه سیده لاره باندې یې ګرځوي (روانوي او توفیق ورکوي).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د دوه وو مطلبونو بیان ته اشاره شوې وه، یو دا چې مشرکان فرمائشي معجزې غواړي او په موجوده معجزو باندې اکتفاء نه کوي، او بل دا چې د معجزو فرمائش جاهلانه کار دی. په دې ایتونو کښې په ذکرو شوو دواړو مطلبونو باندې صراحت شوی دی چې خلاصه یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! کافران خو وايي چې ولې په ده (پیغمبر ﷺ) باندې د خپل رب ﷻ د پلوه فرمائشي معجزې نه رالېږلې کېږي ترڅو مونږ قانع شو او ایمان ورباندې راوړو؟.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو ته ورته ووايه چې: الله ﷻ د هر ډول معجزو په رانازلولو باندې د قدرت څښتن دی مګر دغه ډول غوښتنې د غوښتونکو بې علمي (بې عقلي) ثابتوي. يا په عبارت: دا غوښتنه د لاندې وجوهو د کبله جاهلانه کار دی:

الف: که غوښتل شوې معجزه په ایمان راوړلو باندې مجبوروونکې وي نو په نزول سره به يې اختيار سلب شي او د امتحان (ازمېښت) مفهوم به د منځه لاړ شي او جبري ايمان خو د الله ﷻ په نزد باندې مقبول نه دی، نو ايا په دار التكليف كښې دغه ډول معجزه غوښتل ناپوهي نه ده؟

ب: که غوښتل شوې معجزه مجبوروونکې نه وي نو بيا يې هم غوښتنه د پوه سړي کار نه دی ځکه چې د الله ﷻ د قانون سره سم چې هرڅوک په فرمايشي معجزې باندې ايمان رانه وړي نو د هغوی بېخ او بنياد ويستلی کېږي، لکه څنګه چې د ثموديانو بېخ او بنياد وويستلی شو البته کله چې هغوی د اوښې په فرمايشي معجزه باندې ايمان رانه وړ نو ايا دغسې معجزه غوښتل خپل ځان ته پخپله قبر کنودل نه دي؟

ذکر شوي دواړه ډوله معجزې غوښتل د هوښيار سړي کار نه دی، خصوصًا لا په داسې وخت کښې چې د عاقلانو دپاره ښې کافي معجزې هم موجودې وي خو هغه د نظره وغورځولی شي.

۲_ ای پيغمبره! مشرکانو ته ووايه: که تاسو د عقل څخه کار وانه خلئ نو په لوی لاس به خپل ځانونه د ځارويو رتبې ته ورښکته کړئ، ځکه چې تاسو خو د هغو څخه صرف په عقل سره راجدا شوي ياست او د ځمکې واکداري درکړی شوې ده، که نه نو په وچه او لمده کښې بلکې د ځمکې په هر ځنډه کښې خوزېدونکي ساکښان او هم په هوا کښې _د هر ځای هوا چې وي_ په دوه وو وزرونو باندې الوتونکي ساکښان خو نور څه نه دي مګر ستاسو غوندې اُمتونه دي، د عقل څخه په غير تاسو په هغو باندې څه فضيلت لرئ؟

۳_ دا هم ورته ووايه: که تاسو د عقل څخه کار واخلئ نو صرف همدا يوه معجزه (قرآن کريم) ستاسو د ايمان د راوړلو دپاره ښه پوره كفايت كوي، مونږ داسې شی نه دی پرېښی چې هغه ته تاسو ضرورت ولرئ مګر هغه مو په قرآن کريم کښې په يوه وجه باندې بيان کړی دی، حتی چې ستاسو د ايمان راوړلو د ضرورت وړ معجزې مو هم پکښې درج کړې دي چې د قيامت تر ورځې پورې ايمان راوړونکو ته د نبوت ثبوت ورکوي.

۴_ ای پيغمبره! که کافران د يو پلوه په قرآني اعجاز کښې د عقل څخه کار نه اخلي او د بله پلوه د فرمائشي معجزو په غوښتلو باندې ټينګار کوي، نو ډېر ژر به د دوی په شمول ټول ساکښان د خپل رب ﷻ حضور ته ورټول کړی شي او د حساب کتاب څخه وروسته به نېکان جنت ته واستوي او جنايتکاران به دوزخ ته ورواچوي او بالآخره حشرات او ځاروي به د خپلو منځو د بدل اخستلو څخه وروسته په تکويني امر سره بېرته خاورې کړي، لکه څنګه چې لړ وړاندې خاورې وه.

۵_ ای پيغمبره! ذکر شوي کافران لکه څنګه چې خپل عقلونه په کار نه اچوي همدارنګه دوی خپل ټول حواس د کاره غورزولي دي، ته به وايې چې موږزادي کاڼه او موږزادي ګونګان دي او

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بالآخره په تکو تورو تیارو کښې پراته دي، او د هدایت ټولې دروازې وربانډې تړلې شوي دي.

۶_ اصلي خبره دا ده چې الله ﷻ چا ته د ضلالت اراده وکړي نو هغه ګمراه کوي او د توفیق نه ورکوي او چا ته چې د هدایت اراده وکړي هغه په سمه سیده لاره بانډې برابروي او د نیک لا زیات توفیق ورکوي، او دا ځکه چې هغوی ضلالت پسې تاند وهي او دوی د هدایت خلې کوي او الله ﷻ هره یوه ډله خپل مراد ته رسوي او په رسېدلو کښې ورته اسانتیاوې برابروي

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: د ﴿ دَآبَّةٍ ﴾ کلمه هغه ساکښ ته ویل کېږي چې په ځمکه بانډې حرکت کوي، نو د ﴿ فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ په نزول کښې څه حکمت دی؟ همدارنګه د ﴿ طَٰٓئِرٍ ﴾ کلمه د هغه ساکښ نوم دی چې په وزرونو بانډې الوزي، نو د ﴿ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ ﴾ د جملې په نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې: که څه هم مفسرینو کرامو ذکرې شوې پوښتنې ته زښت ډېر جوابونه کړي دي[۱] مګر کوم جواب چې مونږ ته ښه ښکاري هغه دا دی چې:

څرنګه چې په ځمکه بانډې حرکت کوونکي ساکښان زښت ډېر ډولونه لري، چې ځینې په سینه بانډې ښویږي او ځینې په دوه وو پښو بانډې حرکت کوي او بالآخره ځینې په څلورو یا زیاتو پښو بانډې ګرځي راګرځي، همدارنګه ځینې ساکښان د ځمکې په مخ بانډې په حرکت کښې دي او ځینې د ځمکې په ګېډه کښې استوګنه کوي او داسې نور، نو که بالفرض ذکره شوې کلمه الله ﷻ نه وی نازله کړې نو د ساکښانو ټولو ډولونو ته به د چا نه وی فکر شوی.

په همدې توګه الوتونکي ساکښان لکه څنګه چې د خلقت په اعتبار سره د الله ﷻ د قدرت نښې دي، همداسې د الوتنې په اعتبار سره هم پکښې د قدرت بې شماره نښې نغښتې دي چې کله په بندو وزرونو بانډې او کله په پرانستو وزرونو بانډې الوتنې کوي او بالآخره کله د وزرونو د حرکت څخه استفاده کوي او کله یې پرانستې پرېږدي او حرکت نه ورکوي او داسې نور.

نو که ذکره شوې جمله ﴿ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ ﴾ نه وی نازله شوې نو ذکرو شوو قدرتونو ته به د چا نه وی پام شوی.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه د ذکرې شوې کلمې او د ذکرې شوې جملې په نزول سره د ساکښانو مختلفو ډولونو ته هم د مخاطبینو توجه اړولې شوې ده، چې په یوه ډول بانډې هم بدون د عقل څخه څه بهتري نه لري او بلکې لا ترې لاندې یاست که عقل په صحیحو معناوو کښې په کار وانه چوئ.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: هغه اقدس ذات ﷻ به ستاسو ضروریات څنګه نه وي پوره کړي چې د هر ډول ساکښانو ضروریات یې پوره کړي دي حال دا چې تاسو په هغو بانډې اشرف او مکرم یاست، نو ستاسو د معجزو ضرورت یې هم پوره کړی دی خو چې لږ سترګې وغړوئ او د عقل څخه کار واخلئ.

(۱) روح المعاني ج۷ ص۱۴۳؛ التفسیر الکبیر ج۱۲ ص۲۱۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



## أمّة څه معنى؟

۲_ د ﴿أُمَمٌ﴾ کلمه د "أمّة" جمعه ده، "أمّة" هغو متعددو افرادو ته وايي چې په يوه شي کښې سره اشتراک ولري[1] لکه يوه زمانه، يو وطن، يو قوم، يو دين او داسې نور، برابره خبره ده چې ذکر شوی مشترک شی په اختيار سره مشترک وي لکه د يوه پيغمبر پيروان، او يا د خلقت په توګه د دوی په منځو کښې مشترک وي لکه د ځارويو خاصيتونه چې ځينې غوښې خوري او ځينې حبوبات (دانې) خوري او داسې نور. نو که بالفرض د مشترکه وصف لحاظ ونه ساتلی شي نو بيا وريانديې د "أمّة" اطلاق نه کېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې حديث شريف ولولئ:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَوْلَا أَنَّ الْكِلَابَ أُمَّةٌ مِنَ الْأُمَمِ لَأَمَرْتُ بِقَتْلِهَا كُلِّهَا»[2] يعني: که سپي د امتونو څخه يو امت نه وی نو ما به د ټولو په وژلو باندې امر کړی وی. يعنې د سپيو خلقت هم بې حکمته نه دی نو بالکل د بېخ ويستل يې (چې په ټوله نړۍ کښې يو هم پاتې نه شي) ښه کار نه دی.

## انسان او د نورو حيواناتو مماثلت

۳_ په دې مقام کښې اکثرو مفسرينو کرامو د ﴿أُمَمٌ أَمْثَالُكُم﴾ دپاره د انسانانو او نورو حيواناتو د مماثلت (يو رنګوالی) زښت ډېر وجوه ليکلي دي[3]. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: نور حيوانات هم د انسانانو په شان د الله ﷻ حمد او ثناء وايي.

ب: هغوی د انسانانو په شان د توالد او تناسل په سلسله دنيا ته راځي او بيا د همدوی په شان مړه کېږي او خپل ځايونه راتلونکې نسل ته پرېږدي.

ج: د هغو احتياجات او اړتياوې هم الله ﷻ د دوی د اړتياوو په شان پوره کوي.

د: د هغو ټول کړه وړه (عمر، رزق او داسې نور) هم د دوی د کړو وړو په شان مقدر دي.

هـ: هغوی به هم د دوی په شان د قيامت په ورځ حشر کېږي او د مظلوم قصاص به د ظالم څخه اخستل کېږي.

مګر مونږ ته داسې برېښي چې دلته به د مماثلت (يورنګوالي) وجه فقط أُمتيت وي. نو د معنى حاصل به يې داسې راووځي چې: ای مشرکانو! تاسو خو د نورو حيواناتو د أُمتونو (ګروپونو) څخه يو امت (يو ګروپ) ياست خو صرف په يوه شي کښې په نورو ګروپونو باندې امتياز لرئ چې د هغه شي عقل نوم دی.

نو که تاسو په موجوده معجزاتو کښې خپل عقل په کار وانه چوئ او د فرمائشي معجزاتو غوښتنې ته ادامه ورکړئ نو په لوی لاس به خپل امتياز د خاورو سره برابر کړئ او د ځارويو او ساکښانو د ګروپونو څخه به هيڅ امتياز ونه لرئ.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۹

(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۷۴

(۳) التفسير الکبير ج۱۲ ص۲۱۳؛ البحر المحيط ج۴ ص۲۰۵؛ تفسير المنار ج۷ ص۳۹۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ځکه ذکره شوې معنی اختیاره کړه چې د ایتونو د سیاق او سباق (وړاندې وروسته) سره په ډېره ښه وجه تطبیق خوري او بس.

## دلته کوم یو کتاب مراد دی؟

۴_ ځینې مفسرین کرام[1] وایي چې دلته د ﴿ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ څخه لوح محفوظ مطلب دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: مونږ په لوح محفوظ کښې د هیڅ شي قصور هم نه دی کړی بلکې څومره شیان چې موجود شوي دي او یا موجودېږي ټول مو پکښې ثبت کړي دي، برابره خبره ده چې انسانانو پورې ارتباط نیسي او یا د حیواناتو په نورو ګروپونو پورې اړه ولري.

خو مونږ ته داسې برېښي چې دلته د کتاب څخه قرآن کریم مراد دی، ترڅو د وړاندې بېرته ایتونو اړوند په خپل ځای پاتې شي او د ملغلرو امېل ونه شکېږي.

نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: که کافران خپل عقلونه په کار واچوي نو فرمائشي معجزې به هیڅکله ونه غواړي، ځکه چې مونږ په قرآن کریم کښې ټول ضروریات نازل کړي دي نو هغومره معجزې چې د یوه هوښیار سړي د مسلمانېدلو دپاره کفایت کوي هغه هم پکښې شته دي.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: که د کتاب څخه دلته قرآن کریم مراد کړی شي نو په کار دي چې په قرآن کریم کښې د هر شي بیان تحقق ولري، حال دا چې د هر شي بیان پکښې نشته.

مونږ وایو چې: قرآن کریم د انسان د ټولو ضروریاتو بیانوونکی دی، برابره خبره ده چې دنیا پورې اړه ولري او که د آخرت پورې مربوط وي، همدارنګه بیانول عام دي چې په صراحت سره وي او یا په إشارة النص او بالآخره یا په إقتضاء النص او دلالة النص سره وي، بلکې د أصول الفقه په علم کښې په ثبوت رسېدلې ده چې قرآن کریم خپل مفاهیم او معناوې په اتیا (۸۰) ډوله باندې خلکو ته ورښیي[2].

برسېره پر دې، څه چې په سنت او اجماع او بالآخره په قیاس سره بیان شوي دي هغه هم په حقیقت کښې د قرآن کریم بیان دی، او دا ځکه چې د دغو درېواړو (سنت، اجماع، قیاس) شرعي دلایل توب په قرآن کریم باندې په ثبوت رسېدلی دی او بس.

مونږ ځکه ذکر شوی تفسیر اختیار کړ چې په همدې تفسیر باندې د ﴿ فَرَّطْنَا ﴾ کلمه لارښوونه کوي. هغه دا چې "فَرَّطْنَا" اصلاً د "فَرَط" _لکه "شَرَف"_ څخه اخستله شوې ده، "فَرَط" هغه چا ته ویل کېږي چې کاروانیان او یا مسافرین یې د خپلو ځانونو څخه وړاندې هغه منزل (مېنې) ته واستوي چرته چې دوی دمه کول (شپه تېرول) په نظر کښې نیولي وي ترڅو دوی ته د دوی د وررسېدلو څخه

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۶ ص۴۲۰
(۲) نور الانوار ص۱۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وړاندې ټول ضروريات تهيه او تيار کړي، لکه بوقه، پړی، د خيمو وهلو ځايونه او داسې نور[١]؛ نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أَنَا فَرَطُكُمْ عَلَى الْحَوْضِ»[٢] يعني: زه ستاسو وړاندې لېږلی شوی يم په حوض کوثر باندې (ترڅو ستاسو د څړوبولو بندوبس وکړم).

نو کله چې ذکره شوې کلمه (فَرَطَ) د إفعال د باب لاندې راشي نو "إِفْرَاط" ترې جوړېږي، "إِفْرَاط" هغه تجاوز ته ويل کېږي چې د مقصودي منزل څخه وړاندې تېر شي[٣]، او په عوض د دې چې ضروريات تهيه کړي، ضررناک شيان راټول کړي لکه چې نصاراوو په عقيده کښې د مقصودي منزل څخه تجاوز وکړ او عيسى عليه السلام ته په الوهيت قائل شوه.

او کله چې ذکره شوې کلمه (فَرَط) د تفعيل د باب لاندې واقع شي نو مصدر يې "تَفْرِيْط" راځي، "تَفْرِيْط" هغه استولو ته وايي چې منزل ته ونه رسېږي او د ضرورياتو پوره کول ناقص پاتې شي، چې د لغت کتابونه ترې په تقصير يا ضائع کولو سره تعبير کوي[٤]، لکه چې يهودانو د عقيدې په هلکه تفريط وکړ او پيغمبران يې د حق ګڼلو په عوض ووژل او شهيدان يې کړه.

نو په دې مقام کښې يې د معنى حاصل داسې کېږي چې: انسانانو ته هيڅ مناسب نه دي چې فرمايشي معجزې وغواړي، حال دا چې دوی ته مو په نورو حيواناتو باندې په عقل سره امتياز ورکړی دی او د دوی ټول ضروريات مو (د ضروري معجزاتو په شمول) په قرآن کريم کښې په کامله توګه بيان کړي دي او هيڅ قصور او لنډون مو پکښې نه دی کړی. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

الف: يوه ورځې يوه ملحد (کافر) د سلفو صالحينو د يوه کس څخه پوښتنه وکړه چې ايا په قرآن کريم کښې د حلوا د پخولو بيان شته، تاسو خو مدعيان ياست چې په قرآن کريم کښې د هيڅ شي د بيان قصور نشته؟

هغه جواب ورکړ چې: هو! الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ فَسْـَٔلُوٓاْ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ [النحل:٤٣] نو د اهل الذکر (اهل العلم) څخه پوښتنه وکړئ که تاسو ياست چې نه پوهېږئ. يعنې: که حلوا نه شې پخولی نو د حلوا پخوونکي څخه پوښتنه وکړه[٥].

ب: د يوه اورږد حديث مضمون دی چې: يوه ورځې يوې ښځې -چې أم يعقوب نومېده- د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه سره لاندې سوال جواب وکړ البته کله چې دغه صحابي رضي الله عنه په خالګرو ښځو باندې لعنت وويلې:

(١) مفردات الراغب ص ٣٩٠
(٢) صحيح البخاري ج٢ ص١٠٤٥
(٣) لسان العرب ج٧ ص٣٦٩
(٤) لسان العرب ج٧ ص٣٧٠
(٥) تفسير القاسمي ج٦ ص٥١٦

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أم يعقوب: ماته رسېدلې ده چې تا په فلانۍ-فلانۍ ښځې باندې لعنت ويلی دی.
عبد الله بن مسعود ﷺ: زه به په هغه چا باندې ولې لعنت نه وايم چې په هغه باندې نبي كريم ﷺ لعنت ويلی دی او هغه په قرآن كريم كښې هم ثابت دی.
أم يعقوب: ما په دوه وقايو كښې ټول قرآن كريم ولوست خو كومه خبره چې ته وايې هغه مې پكښې مونده نه كړه (چې خالكره ښځه ملعونه ده)؟
عبد الله بن مسعود ﷺ: كه تا رښتيا قرآن كريم قرائت كړی وي نو ضرور به دې پكښې دا ايت شريف موندلی وي چې: ﴿ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُواْ ﴾ [الحشر: ٧] يعني: او هغه شی چې تاسو ته پيغمبر ﷺ دركړي (دروړي) نو هغه واخلئ (عملي يې كړئ) او هغه شی چې تاسو ترې منعه كړي نو د هغه څخه منعه شئ.
أم يعقوب: هوا ذكر شوی ايت شريف مې په قرآن كريم كښې لوستلی دی.
عبد الله بن مسعود ﷺ: «فَإِنَّهُ قَدْ نَهَى عَنْهُ»[1] نو يقيناً نبي كريم ﷺ د خالكرۍ څخه منعه كړې ده (او په لعنت سره يې تائيده كړې ده).
أم يعقوب: ستا ماندينه (مېرمن) هم ذكر شوی كار كوي (هغه ولې نه منعه كوې؟).
عبد الله بن مسعود ﷺ: ته ورشه پلټنه وكړه (چې زما ماندينې خالونه وهلي دي؟).
أم يعقوب د ذكر شوي صحابي ﷺ ماندينه تفتيش كړه خو خبره دروغ وختله.
عبد الله بن مسعود ﷺ: كه بالفرض زما مېرمنې خالونه وهلي وی نو زما سره به نه وی يو ځای شوې (يعني ما به نه وی نكاح كړې).

## يادونه

۵ـ ځينو علماوو كرامو قرآن كريم د هر شي بيانوونكی ګڼلی دی، برابره خبره ده چې ضروري شيان وي او كه غير ضروري، حتی چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: «لَوْ ضَاعَ لِيْ عِقَالُ بَعِيْرٍ لَوَجَدْتُهُ فِي كِتَابِ اللهِ تَعَالَى»[2] كه زما څخه د اوښ د پښې د تړلو پړی ضائع (ورك) شي هم نو ضرور به يې زه د الله په كتاب (قرآن كريم) كښې مونده كړم (او پته به يې ولګوم).
مونږ وايو چې: كه ذكر شوی طرز بيان حقيقت ولري هم نو دا به د ډېرو خاصو كسانو دپاره وي چې مشركان ورباندې نه ملزم كېږي، نو د همدې كبله مونږ دغه تفسير خوښ نه كړ.

## ځاروي هم حشر كېږي

۶ـ د ﴿ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ ﴾ په جمله كښې دواړه ضميرونه ذكرو شوو ټولو ساكښانو ته

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۲۵
(۲) روح المعاني ج۷ ص۱۴۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راجع دي، که څه هم اصلاً دوی ته نه دي وضعه شوي مګر ټول ساکښان د نارينه وو انسانانو (د تغليب په قانون سره) توابع ګڼل شوي دي، لکه چې د همدې قانون په بنا د مور او پلار (أم، اب) څخه په «أبوَين» باندې تعبير کېږي.

نو د معنى حاصل یې داسې راوځي چې: ټول ساکښان د څارويو او حشراتو په شمول به د قيامت په ورځ حشر کړی شي او د الهي عدالت لاندې به راشي. لکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «لَتُؤَدُّنَّ الْحُقُوقَ إِلَى أَهْلِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ مِنَ الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ»[۱] يعني: خامخا ضرور به ټول حقونه خپلو مستحقينو ته د قيامت په ورځ ورکړی شي، حتى چې بې ښکره مېږه به د ښکرورې مېږې څخه خپل قصاص (بدل) واخلي (چې په دنيا کښې یې په ښکرونو باندې وهلې وي).

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وايي چې: څاروی خو مکلف نه دی نو په څه منظور د حقوقو په تلف کولو باندې مسئول وګڼل شو؟

مونږ وايو چې: د ذکر شوي حديث شريف شارحينو ليکلي دي چې قصاص (بدل اخستل) په دوه ډوله دي: يو قصاص د تکليف دی چې په څارويو باندې نشته او بل قصاص د مقابلې دی چې دا په څارويو او ليونيانو او بالآخره په ماشومانو باندې هم شته دی. يا په بل عبارت: عقل صرف په حقوق الله کښې شرط دی او بس، نه په حقوق العباد او حقوق المخلوقات کښې.

﴿ قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُ ٱللَّهِ أَوْ أَتَتْكُمُ ٱلسَّاعَةُ أَغَيْرَ ٱللَّهِ تَدْعُونَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٠﴾ بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِن شَآءَ وَتَنسَوْنَ مَا تُشْرِكُونَ ﴿٤١﴾ ﴾

[۴۰] (ای پيغمبره! مشرکانو ته) ووايه چې: خبر راکړئ که تاسو ته د الله ﷻ عذاب درشي او يا تاسو ته د قيامت ورځ (يا مرګ) درشي، ايا تاسو به (په دغه وخت کښې) د الله ﷻ څخه په غير (بل چا يا بل شي ته) بلنه کوئ (او نجات به ترې غواړئ)؟

که تاسو (په شرکي عقيده کښې) رښتيني ياست (نو "هو" ووایاست).

[۴۱] (دغسې نه ده) بلکې تاسو به (په دغه وخت کښې) خاص همده ﷻ ته بلنه کوئ، نو الله ﷻ به ستاسو څخه هغه شی لرې کوي چې تاسو یې ورته بلئ (خو په دې شرط چې اراده یې وشي. او تاسو به هغه شی هېروئ چې (د الله ﷻ سره په عبادت کښې) یې برخوال ګڼئ.

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې مشرکان دې خبرې ته هڅولي شوي وه چې خپل ځانونه د څارويو په څېر

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص ۳۲۰؛ جامع الترمذي ج۲ ص ۶۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رانده کاږه او په تورو تیارو کښې پرېښږدئ او خپل عقلونه په کار واچوئ. په دې ایتونو کښې د عقل د کار د اچولو دپاره یوه موضوع مطرحه کړې شوې ده چې حاصل یې داسې را اوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! مشرکانو ته ووایه چې: ای مشرکانو! زه ستاسو څخه پوښتنه کوم خو باید چې تاسو خپل عقلونه په کار باندې واچوئ او ښه په دقت سره پکښې فکر وکړئ.

پوښتنه دا ده که تاسو ته د الله ﷻ څه لوی عذاب متوجه شي او تاسو خپل ځانونو ته په غېئ آفت کښې لوېدونکي وګورئ او یا تاسو ته د قیامت ورځ راشي او پوه شئ چې دنیا ورانېدونکې ده او بالآخره یا خپل ځانونه د مرګ د خطر سره مخامخ ووینئ، نو دا راته ووایاست چې په داغسې وخت کښې ایا تاسو د الله ﷻ څخه په غیر نور معبودان بلئ، ایا د هغوی څخه د خپلو ځانونو بچ کول غواړئ؟ نو که بالفرض تاسو د الله ﷻ سره په شریک درولو کښې رښتیني یاست نو هو ووایاست.

پوره واضحه ده چې په داغسې خطري حالت کښې تاسو یوازې او یوازې الله ﷻ ته سوالونه کوئ او د همده ﷻ څخه د خطراتو مخنیوی غواړئ، او هغه ټول معبودان هېروئ چې تاسو یې په عبادت کښې د الله ﷻ سره شریکان ګڼئ او سرونه ورته په ځمکه باندې ږدئ.

۲ـ په ذکره شوې غوښتنه کښې تاسو په حقه یاست او دا غوښتنه مو په هوښیارۍ باندې ولاړه ده، ځکه چې په داغسې مواقعو کښې د باطلو معبودانو هیڅ شی د لاسه پوره نه دی او ټول واک د الله ﷻ دی، که خوښه یې شي نو هغه آفت به درڅخه په ځنګ کړي چې تاسو یې وارخطا کړي یاست او د ډاره مو د سوال لاسونه پورته کړي دي.

۳ـ نو ای مشرکانو! دا راته ووایاست چې د هغه معبود عبادت څه په کار دی چې د خپلو عابدینو هیڅ مشکل نه شي حل کولی بلکې عابدین یې د حل کولو تمه هم نه لري.

لنډه دا چې کله تاسو یوازې د الله ﷻ څخه د اختصاص په ډول د مشکلاتو حل کول غواړئ نو په کار دي چې عبادت هم ورته د اختصاص په توګه وکړئ او شریک ورسره ونه دروئ.

## توضیحات

۱ـ په عربي محاوره کښې بلکې د هرې ژبې په محاورو کښې داسې کلمات هم استعمالېږي چې د همغې ژبې د قواعدو څخه بهر وي، د همدې قبیلې څخه د ﴿أَرَءَيْتَكُمْ﴾ کلمه هم ده. په دې کلمه کښې د "تَ" توری د خطاب دپاره دی او د فاعل ضمیر دی چې د مفرد، مثنی او بالآخره د جمعې په درېواړو حالونو کښې ورباندې څه تفاوت نه پرېوزي. اما د "كُمْ" توری هم د خطاب دپاره دی مګر اسم نه دی، حرف دی چې نحویان یې د حرفي خطابي توري په نامه باندې یادوي لکه چې د "ذٰلِكُمْ" د کلمې "كُمْ" ته همدغه نوم ږدي. ذکر شوی حرفي خطابي توری یوازې د مخاطب په عدد باندې دلالت کوي او بس، چې په ترجمه کښې ترې څه تعبیر صورت نه شي موندلی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څوک په همدې موضوع کښې د اوږد بحث خيال لري نو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[1].

نو څرنګه چې په ايت شريف کښې ټول کافران مخاطب دي نو ځکه د جمعې ﴿ أَرَءَيْتَكُمْ ﴾ صورت نازل شو او "أَرَأَيْتَكَ، أَرَأَيْتَكُمَا" نازل نه شو. په هر تقدير، ذکر شوې جمله د "أَخْبِرُونِي" (ماته خبر راکړئ) په معنی سره ده.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: تاسو د [الأنعام: ۳۱] ايت لاندې ليکلي دي چې په ﴿ إِذَا جَآءَتْهُمُ ٱلسَّاعَةُ ﴾ کښې د ﴿ ٱلسَّاعَةُ ﴾ کلمه په دريو معناوو (خپل مرګ، د همزولو مرګ، د قيامت ورځ) کښې استعمالېږي. نو پوښتنه دا ده چې: الله ﷻ نه د مرګ نېټې ته او نه د قيامت وخت ته تغير ورکوي، نو دا جمله به څنګه صحت مونده کړي چې: ﴿ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ ﴾ نو الله ﷻ درڅخه هغه شی په څنګوي چې تاسو د هغه دپاره بلنه کوئ (د سوال لاسونه مو ورته پورته کړي دي)؟

مونږ وايو چې: الله ﷻ د ذکرې شوې جملې سره د ﴿ إِن شَآءَ ﴾ جمله متصله کړې ده، نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: الله ﷻ ستاسو سوالونه قبلوي او د ذکر شوي خطر څخه مو بچ کوي خو په دې شرط چې اراده يې وشي، مګر دا بيله خبره ده چې د څينو خطراتو پورته کولو ته يې اراده نه کېږي، لکه د مرګ يا قيامت خطر، اما ستاسو باطل معبودان په هيڅ شي باندې قادر نه دي.

## يوه قيصه

۳_ مشرکان هم په دې خبره باندې باور کوونکي وه چې د مشکلاتو په حل کولو کښې د بوتانو هيڅ وسه نه کېږي، که بالفرض دوی په ذکره شوې خبره باندې باور نه درلودی نو د ايت شريف مضمون به يې رد کړی وی او ويلي به يې وی چې داسې نه ده مونږ خو په هره سختۍ کښې خپلو بوتانو ته مخ اړوو. د ښه وضاحت دپاره لاندې قيصه ولولئ[2]:

کله چې مکه معظمه فتحه شوه نو عکرمه بن ابي جهل (چې لا په هغه وخت کښې د "رضي الله عنه" لايق نه وه جوړ شوی) وتښتېد او د خپل ځان د خلاصون په غرض په يوه بېړۍ کښې سور شو، بېړۍ طوفاني شوه، د بېړۍ ټولو سورليو په يوه خوله اواز پورته کړ چې: په دغه وخت کښې بوتان په ښه نه راځي يوازې الله ﷻ ته سوالونه او زارۍ وکړئ چې نجات راکړي.

عکرمه وايي چې: ما فکر وکړ چې کله ماته په درياب کښې د عقيدوې اخلاص څخه پرته بل شی نجات نه شي راکولی نو معلومه شوه چې په وچه کښې هم د سوچه عقيدې څخه په غير بل شی د نجات وسيله نه شي جوړېدلی، نو د الله ﷻ سره مې دا عهد دی که ژوندی وچې ته ورسېدم نو خپل لاس به د نبي کريم ﷺ په لاس کښې ورکړم (خپل ځان به ورته تسليم کړم).

---

[1] روح المعاني ج۷ ص۱۴۸؛ البحر المحيط ج۴ ص۷، ۵؛ حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۲ ص۱۶۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

[2] الإصابة في تميز الصحابة ج۲ ص۴۹۶

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کله چې د طوفان څخه بچ شو نو په اسلام باندې مشرف شو او د شرکي عقيدې څخه يې خپل ځان خلاص کړ، او پاتې ټول عمر يې په جهاد کښې تېر کړ، تر دې پورې چې د ابو بکر الصديق ﷺ په خلافت کښې په يوه غزا کښې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد، رضي الله عنه.

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰٓ أُمَمٍ مِّن قَبْلِكَ فَأَخَذْنَٰهُم بِٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُونَ ﴿٤٢﴾
فَلَوْلَآ إِذْ جَآءَهُم بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا۟ وَلَٰكِن قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ مَا كَانُوا۟
يَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ فَلَمَّا نَسُوا۟ مَا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَٰبَ كُلِّ شَىْءٍ حَتَّىٰٓ إِذَا
فَرِحُوا۟ بِمَآ أُوتُوٓا۟ أَخَذْنَٰهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ ﴿٤٤﴾ فَقُطِعَ دَابِرُ ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟
وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٥﴾ ﴾

[۴۲] او بې شکه مونږ ستا څخه وړاندې (ډېرو) اُمتونو ته (پيغمبران) وراستولي وه، نو هغوی مو په تنګ لاسۍ او مرضونو سره ونيوه، شايد (د دې دپاره) چې دوی عاجزي (زارۍ) وکړي.

[۴۳] کله چې دوی ته زمونږ عذاب ورغی نو ولې دوی (الله ﷻ ته) زارۍ (عاجزي) ونه کړې (بايد چې کړې يې وی)، مګر د دوی زړونه (لکه کاڼي) کلک شوه او دوی ته شيطان (په دروغينو وعدو سره) هغه څه ښائسته کړه چې دوی به کول.

[۴۴] نو هر کله چې دوی هغه څه هېر کړه (پرېښودل) چې دوی ته پرې پند ورکولی شوی وه، نو مونږ په دوی باندې د هر شي (بندې کړې شوې) دروازې وروپرانستلې (او دوی په کفرياتو کښې وړاندې لاړه) آن تردې چې دوی په هغه شي باندې (د تکبر) خوشالي وکړه چې دوی ته (د استدراج په توګه) ورکړې شوی وه (او د هر خطر څخه بې غمه شوه) نو دوی مو ناڅاپه (په عذاب سره) ونيول نو (د نيولو سره) سم دوی نااُميده (حيران هک پک) پاتې شوه.

[۴۵] نو د هغه قوم چې ظلم يې کړی وه (د اول نفر څخه نيولې آن) وروستنی نفر هم پرې کړې شو (هلاک شو)، او ټولې ستاينې خاص الله ﷻ لره دې چې د ټولو عالمونو رب دی.

## ارتباط

د وړاندېنيو ايتونو مضمون دا وه چې مشرکان د ډېرو سختو مشکلاتو حل کول د الله ﷻ څخه غواړي او په دغه وخت کښې خپل باطل معبودان بالکل هېروي، په دې ايتونو کښې د هغوی يوې عنادي ډلې ته اشاره شوې ده چې په زړونو باندې يې مهر وهلی شوی دی او حتی د ډېرو سختيو په وخت کښې هم الله ﷻ ته رجوع نه کوي، نو د دغې ډلې سره الله ﷻ په لاندې ډول چال چلند کوي چې حاصل يې داسې راوځي:

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! د خپلې زمانې د کافرانو په زیات لجاجت باندې مه بې حوصلې کېږه، ځکه چې دغه ډول کافران په پخوانیو اُمتونو کښې هم تېر شوي دي چې پیغمبران مو هغوی ته وراستولي وه او په هغوی باندې مو مالي تاوانونه (لوږې، تندې) او هم بدني مشقتونه (مرضونه او دردونه) ورنازل کړه ترڅو د عناد او لجاجت څخه لاس واخلي، مګر دوی دغه کار ونه کړ بلکې زړونه یې لا سخت شوه او شیطانانو ورته خپل جنایات او کړه وړه ښائسته کړه.

بالآخره زړونه یې داسې مرحلې ته ورسېده چې د کانو څخه ډېر کلک شوه، او کومو د خیر خبرو ته چې دوی وربلل کېده ترڅو ترې پند واخلي، هغه یې ټولې شاته واچولې او هېرې یې کړې.

بیا مو په ذکرو شوو عنادیانو باندې د هر شي دروازې ببرته کړې او د هر حیثه مو ورباندې پراخي ورنازله کړه، چې مالونه یې ډېر شوه، د ځمکو حاصلات یې پرېمانه شوه، اقتصاد یې پیاوړی شو، په سیاسي اُمورو کښې وراندئ لاړه، په دنیا کښې یې رسوخ زیات شو او بالآخره د هرې خوا څخه مو په دوی باندې د ضرورت وړ شیان د کم او کیف په اعتبار سره پرېمانه کړه، ترڅو دوی دا خل د الله ﷻ نعمتونه په نظر کښې ونیسي او د شیطاني لارې څخه ځانونه بچ کړي.

۲ـ مګر دوی د نعمتونو د اثر لاندې هم رانغله بلکې په نعمتونو باندې یې ګمراهي لا پسې اضافه شوه او د تکبر خوشالي یې پوره اوج ته ورسېده.

یا په بل عبارت: دوی ته د نعمتونو د پریمانۍ څخه مصیبت جوړ شو چې په کراره کراره (د استدراج په توګه) د الهي غضب لاندې واقع شوه، نو د همدې کبله مو په ناڅاپي ډول سره د نااُمیدۍ په حال کښې د دغو ظالمانو بېخ وویست او ټول مو پوښنا کړه آن تردې چې د دوی وروستنی کس مو هم هلاک کړ او ځمکه مو د دوی د ظلم او شر څخه پاکه کړه، چې د وخت مسلمانانو د الله ﷻ د شکر او منني اوازونه پورته کړه چې "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ" ټولې ستاینې خاص الله ﷻ لره دي چې د ټولو عالمونو رب او واکدار دی.

۳ـ نو ای پیغمبره! ستا د زمانې کافرانو ته هم په کار دي چې د ذکر شوي بیان څخه عبرت واخلي او د نعمتونو په پرېمانۍ باندې ونه غولېږي، هسې نه چې کوم آفت ورباندئ نازل شي، الله ﷻ په هر شي باندې قدرت لري او همېشه ستایلی شوی دی.

## توضیحات

۱ـ مونږ د [البقرة:۲۱۴] ایت لاندې لیکلي دي چې "الضَّرَّاء" هغه مصیبتونو ته وایي چې د ابدانو سره تعلق نیسي، او "الْبَأْسَاء" هغو مصائبو ته وایي چې د ابدانو څخه پرته په نورو اعتباراتو سره د چا سره پیوسته شي. مګر په دې مقام کښې ورباندئ اضافه کوو چې:

الف: څرنګه چې هلته ذکرې شوې دواړه کلمې د مسلمانانو بلکې د مجاهدینو په ارتباط نازلې شوې دي نو مونږ د دواړو دپاره داسې مثالونه ښودلي وه چې د مسلمانانو او مجاهدینو د حال سره

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یې مناسبت درلود، دلته باید ورته داسې مثالونه په ګوته کړی شي چې د کافرانو د حالاتو سره توافق ولري، لکه مرضونه، لوږې، تندې او داسې نور. یا لکه مالي تاوانونه، اقتصادي کمزورۍ، سیاسي ضعف او داسې نور.

ب: ذکرې شوې دواړه کلمې مونثې صبغې دي او د هرې یوې مقدر موصوف مصیبت دی، دواړه کلمې مذکرې کلمې نه لري، لکه څنګه چې د "حَمْرَاءُ" مونثه کلمه "أَحْمَرُ" مذکره کلمه لري[۱].

## تزیین څه معنی؟

۲ـ د "زُیِّنَ" کلمه د "تَزْیِین" څخه اشتقاقه شوې ده، او "تَزْیِین" (ښائسته کول) په دوه ډوله دی: یو هغه دی چې په سترګو ښه ښکاري او بل هغه دی چې طبائع ورته میلان کوي، که په دواړو باندې د ظاهري ښائسته کولو او طبعي ښائسته کولو نومونه کېږدو هم بده نه ده.

پاسني هر ډول ښائسته کول د خلق او ایجاد په اعتبار سره الله ﷻ ته نسبتېږي او بدون د خلق (ایجاد) څخه د دعوت او وسوسې او بالآخره د ترتیب او تزویر (دروغین نمایش) په اعتبار سره انسان یا شیطان ته منسوبېږي، لکه چې په دې مقام کښې شیطان ته نسبت شوی دی. د دې موضوع نور بحث د [البقرة:۲۱۲] ایت لاندې تېر شوی دی ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

## د دې ایت ماثور تفسیر

۳ـ ذکر شوي ایتونه نبي کریم ﷺ ډېر ښه تفسیر کړي دي. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا رَأَیْتَ اللهَ یُعْطِي الْعَبْدَ مِنَ الدُّنْیَا عَلَی مَعَاصِیهِ مَا یُحِبُّ فَإِنَّمَا هُوَ اسْتِدْرَاجٌ» یعنې: کله چې ته وګورې چې الله ﷻ یوه بنده ته د ده په ګناهونو باندې (د ګناهونو سره-سره) د دنیا څخه هغه څه ورکړي چې نوموړی بنده یې خوښوي نو یقیناً هغه استدراج دی (په ورو-ورو نیول دي). بیا نو د الله ﷻ پیغمبر ذکر شوی ایت شریف «﴿ فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُکِّرُوا بِهِ ﴾ الآیة» (د استشهاد په توګه) ولوست[۲].

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ إِنَّ أَمْرَهُ کُلَّهُ لَهُ خَیْرٌ وَلَیْسَ ذَلِكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَکَرَ فَکَانَ خَیْرًا لَهُ وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ فَکَانَ خَیْرًا لَهُ»[۳] یعنې: د مومن کار ته تعجب دی، یقیناً چې ټول کار یې ورته خیر دی، او دا د هیچا دپاره نه دی مګر د مومن دپاره (هیڅوک د دې ده غوندې نه شي کېدلی)، که چرته ورته خوشالي ورسېږي نو شکر کوي نو دا (شکر) ورته خیر دی او که چرته ورته خفګان ورسېږي نو صبر کوي نو دا ورته خیر دی.

---

(۱) روح المعاني ج۷ ص۱۵۱

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۱۲۲

(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۴۱۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَصَابَهُ السَّقَمُ ثُمَّ عَفَاهُ اللهُ مِنْهُ كَانَ كَفَّارَةً لِمَا مَضَى مِنْ ذُنُوبِهِ وَمَوْعِظَةً لَهُ فِيمَا يَسْتَقْبِلُ وَإِنَّ الْمُنَافِقَ إِذَا مَرِضَ ثُمَّ أُعْفِيَ كَانَ كَالْبَعِيرِ عَقَلَهُ أَهْلُهُ ثُمَّ أَرْسَلُوهُ فَلَمْ يَدْرِ لِمَ عَقَلُوهُ وَلَمْ يَدْرِ لِمَ أَرْسَلُوهُ»[۱] یعني: یقیناً کله چې مومن ته مرض ورسېږي بیا ورته د مرض څخه الله ﷻ خلاصون ورکړي نو دا (مرض) د ده د ګناهونو څخه د تېرو شوو دپاره کفاره جوړېږي او د ده دپاره په راتلونکي زمانه کښې موعظه (نصیحت) ګرځي. او یقیناً کله چې منافق مریض شي بیا (وژته) عفوه وکړی شي، نو نوموړی د داسې اوښ غوندې جوړېږي چې خاوند یې تړلی وي بیا یې پرانېزي، نو اوښ نه پوهېږي چې د څه دپاره یې تړلی وه او نه پوهېږي چې د څه دپاره یې خوشې کړ.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: الله ﷻ د ذکرو شوو عنادیانو کافرانو په باره کښې فرمایلي دي چې ﴿فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ﴾ په دوی باندې مو د هر شي دروازې ورخلاصې کړې. او ښکاره ده چې د هر شي څخه خو د توبې او د توفیق دروازې هم دي چې په دوی باندې نه دي وربېرته شوې، همدارنګه د دوی څخه د الله ﷻ د رحمتونو بې شماره دروازې هم بندې پاتې وې؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې د ټولو دروازو څخه ټولې بندې دروازې مطلب دي چې د ﴿فَأَخَذْنَٰهُم بِٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ﴾ په جملې سره ورته اشاره شوې وه، یعنې: په دوی باندې مو د مرضونو په عوض د صحتمندۍ دروازه، او د اقتصادي کمزورۍ په عوض د اقتصادي پیاوړتیا دروازه او داسې نورې تړلې شوې دروازې ورپرانستلې.

## "بغتة" څه معنی؟

۵ـ "بغت" یا "بَغْتَة" د یوه شي ناڅاپه پېښېدلو ته وایي چې د داسې خوا څخه صورت ونیسي چې د چا ګومان هم نه وي[۲]، او ښکاره ده چې په دغسې حالت کښې (چې سړی په عیش او نوش کښې مشغول وي) د ناڅاپه مصیبت واقع کېدل ډېر تریخ تمامېږي.

## ابلاس څه شي ته وایي؟

۶ـ د ﴿مُبْلِسُون﴾ کلمه د "إِبْلاس" څخه اخستله شوې ده، "إِبْلاس" ډېرې معناوې لري، لکه د رحمت او نجات څخه بلکې د هر خیر څخه نااُمیده کېدل، رسوایي، هلاکت، پښېماني، سخت غمژن کېدل، د حجت د نه درلودلو د کبله چپ کېدل او داسې نورې[۳].

که څه هم ذکرې شوې ټولې معناوې یو تربله سره نژدې دي او څه منافات سره نه لري مګر د دې

---

(۱) سنن ابي داؤد ج۲ ص۸۴
(۲) مفردات الراغب ص۵۲
(۳) روح المعاني ج۷ ص۱۵۲؛ زاد المسیر ج۳ ص۲۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مقام په لحاظ سره مونږ ته وروستنۍ معنی ډېره په زړه پورې ښکاري. نو د معنی حاصل به داسې راووځي چې کله ذکر شوي معاندين نه د سختيو د تاثير لاندې واقع شول او نه وربانديې پراخيو څه اغېز وکړ چې په سمه سيده لاره باندې روان شوي وی، نو د عذاب د نزول په وخت کښې بې حجته پاتې شول او د اعتذار د ټولو وجوهو څخه يې لاسونه خالي او خولې چپې شوې.

﴿ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ ٱللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَـٰرَكُمْ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم مَّنْ إِلَـٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِهِ ٱنظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ ٱلْـَٔايَـٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُونَ ﴿٤٦﴾ قُلْ أَرَءَيْتَكُمْ إِنْ أَتَىٰكُمْ عَذَابُ ٱللَّهِ بَغْتَةً أَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ﴿٤٧﴾ وَمَا نُرْسِلُ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ۖ فَمَنْ ءَامَنَ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٤٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا يَمَسُّهُمُ ٱلْعَذَابُ بِمَا كَانُوا۟ يَفْسُقُونَ ﴿٤٩﴾ ﴾

[۴۶] (ای پیغمبره! مشرکانو ته) ووايه چې: تاسو خبر راکړئ که چرته الله ﷻ ستاسو غوږونه (سامعه قوه) او سترګې (باصره قوه) واخلي او په زړو باندې مو مهر ووهي (عاقله قوه درڅخه واخلي) نو د الله ﷻ څخه په غير بل کوم يو معبود دی چې تاسو ته اخستلې شوې قوې بېرته درکړي. وګوره مونږ څنګه خپل (د قدرت او توحيد) دلايل تکرارًا بيانوو (خو بيا دوی (ترې) مخونه اړوي.

[۴۷] (ورته) ووايه: خبر راکړئ که چرته تاسو ته د الله ﷻ عذاب په ناڅاپه او يا په ډاګه درشي، نو ايا هلاک به کړی شي (هلاک به نه کړی شي) مګر ظالم قوم (او هيڅوک به يې مخه ونه نيولی شي).

[۴۸] او مونږ پيغمبران نه لېږو مګر په داسې حال کښې چې دوی زېرې ورکوونکي او ډاروونکي دي (نو ته هم په دغه حال باندې استولی شوی يې).

نو هغه څوک چې ايمان راوړي او (خپل ځان) اصلاح کړي، نو په دوی باندې به نه ډار وي او نه به دوی غمژن شي.

[۴۹] او هغه کسان چې زمونږ ايتونو ته د دروغو نسبت وکړي، دوی ته به د دې کبله عذاب ورسېږي چې دوي وه چې فسق به يې کاوه (او هيڅ يوه برهان او دليل به وربانديې اثر نه شو کولی).

## ارتباطونه

١_ په کوم مطلب (د الله ﷻ توحيد) باندې چې په تېرو شوو ايتونو کښې استدلال قائم کړی شوی وه په همغه مطلب باندې په دې ايتونو کښې يو بل غاښ ماتوونکی استدلال دروليّ شوی دی.

٢_ هلته استدلال په افاقي نعمتونو باندې ولاړ وه او دلته په انفسي نعمتونو باندې څرخېږي.

٣_ هلته د پخوانيو اُمتونو د کفر عاقبت بيان شوی وه او دلته د دې اُمت کافران د خپل کفر عاقبت ته متوجه کړی شوي دي، هسې نه چې د دوی سره هم د هغوی غوندې چال چلند وکړی شي.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱_ یعني: ای پیغمبره! د خپل اُمت کافران یو ځل بیا د الله ﷻ وحدانیت ته متوجه کړه او لاندې دوه پوښتنې ترې وکړه شاید دوی د باطلو معبودانو د عبادت څخه لاس واخلي:

الف: اول خو دا ورته ووایه چې که الله ﷻ ستاسو څخه غوږونه او سترګې واخلي چې یا مو بالکل کاڼه او ړانده کړي او یا مو د حق اورېدلو او حق لیدلو استعداد ختم کړي، همدارنګه که الله ﷻ ستاسو په زړونو باندې مهر ولګوي چې د پوهېدلو استعداد درڅخه واخلي او یا مو بالکل د عقل څخه خلاص کړي او تول لیونیان جوړ کړي؛ نو دا راته ووایاست چې د الله ﷻ څخه په غیر بل معبود شته چې تاسو ته اخستل شوي غوږونه یا سترګې او بالآخره یا زړونه (عقلونه) بېرته درکړي؟ او یا اخستل شوی استعداد بېرته درکړي؟.

نو پوره واضحه ده چې د ذکرې شوې پوښتنې په جواب کښې به دوی سرونه ټیټ کړي او ساکت به پاتې شي، نو که ته په جواب باندې زیات ټینګار وکړې نو دوی به ضرور اعتراف وکړي چې د الله ﷻ څخه پرته بل هیڅوک د اخستلي شوي شي په بېرته راکړې باندې قدرت نه لري لکه څنګه بې چې په لومړنی ورکړې باندې قدرت نه درلود.

نو ای پیغمبره! دوی ته ووایه چې د شرک څخه توحید ته راتاو شئ، د خپلو حواسو او عقل شکریه وکړئ او حقیقي انعام کوونکي (الله ﷻ) سره په عبادت کښې څوک مه شریکوئ، اوس هم سر وخت دی استعداد مو باقي دی او د توبې دروازه بنده نه ده.

ای پیغمبره! وګوره چې په څومره موثره توګه دوی ته مونږ د خپل توحید دلایل بیا-بیا قائموو چې په هر ځل باندې پرې د شرک جرړې وباسو خو مشرکان بیا-بیا اعراض کوي او د شرکیاتو څخه لاس نه اخلي.

ب: بیا ورته دا ووایه چې: ای مشرکانو! لکه څنګه چې د اَنفسي خطراتو څخه د بچ کولو دپاره د الله ﷻ څخه په غیر تاسو بل څوک نه لرئ همدارنګه آفاقي خطرات هم درڅخه خپل باطل معبودان نه شي په څنګولی، نو څکه زه تاسو ته وایم چې: که د الله ﷻ عذاب تاسو ته ناڅاپه درشي چې بالکل د مخنیوي د اسبابو د تهیه کولو فرصت درنه کړي او یا په ډاګه درشي چې دومره فرصت ولرئ چې د خپلو باطلو معبودانو څخه پکښې مرسته وغواړئ او د خپلو کومکیانو ښه قوي جبهه جوړه کړی شئ.

نو ماته خبر راکړئ او د زړه خبره وکړئ چې په دواړو صورتونو کښې به په ذکر شوي عذاب باندې ستاسو ظالمانو څخه په غیر بل څوک هلاک کړی شي او یا به درڅخه د عذاب مخ بل پلو ته واړولی شي او تاسو به نجات مونده کړئ؟.

۲_ نو کله چې د ذکرو شوو دواړو پوښتنو جواب منفي دی نو تاسو ته په کار دي چې د حقیقي منعم او حقیقي قادر (الله ﷻ) په عبادت کښې ناوړه مخلوق ته برخه ورنه کړئ.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ ای پیغمبره! کله چې تا د خپلې زمانې مشرکانو ته د الله ﷻ په توحید باندې ښه قناعت بښونکي دلایل وړاندې کړه نو اوس دې خپله توجه لاندې دوه ټکو ته واړوه:

الف: یو دا چې مونږ ستا په شمول ټول پیغمبران په بل کیفیت باندې نه دي استولي مګر په دې کیفیت سره چې نېکانو ته زېرى ورکړي او بدان د الله ﷻ د عذابه وډار کړي، دوى نه څوک په زور مسلمانولی شي او نه چا ته فرمایشي معجزې راوړلی شي او نه باید چې دا تمه ترې څوک وکړي.

ب: بل دا چې اوس هم د توبې دروازه بېرته ده که څوک ایمان راوړي او خپل خان اصلاح کړي نو نه به په ده باندې ډار واقع شي چې په تېرو شوو شرکیاتو باندې ونیولی شي، او نه به غمژن شي چې کاشکې چې ایمان مو راوړی وی. بالمقابل چې څوک خپلو شرکیاتو ته ادامه ورکړي او زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت وکړي نو دوی ته به د دوی د فسق په سبب ضرور عذاب ورسېږي چې نه به یې په دنیا کښې ترې څوک خلاص کړی شي او نه په آخرت کښې.

## توضيحات

۱_ د ﴿ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُم ﴾ جمله مفسرینو کرامو په لاندې دوڵونو سره تفسیره کړې ده[۱]:

الف: چې ستاسو په زړونو باندې مهر ولګوي او د ایمان راوړلو توفیق درڅخه واخلي، لکه چې همدغه معنی په [البقرة:۷] ایت شریف کښې مراده ده.

ب: چې ستاسو څخه بالکل عقل واخلي او پوهه مو ختمه کړي او په نتیجه کښې درڅخه لیونیان جوړ شي، همدا معنی د ﴿ إِنْ أَخَذَ ٱللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَٰرَكُمْ ﴾ سره ډېره ښه نښلي.

که څه هم دواړه تفسیرونه سره څه منافات نه لري مګر مونږ ته د مقام په اعتبار سره دوهم تفسیر په زړه پورې ښکاري.

۲_ په ﴿ يَأْتِيكُم بِهِ ﴾ کښې ذکرو شوو درېوو (سَمْع، أبْصَار، قُلُوب) څیزونو ته یا د مذکور په تاویل سره او یا د "كُلّ وَاحِد" په اعتبار سره د مفرد مذکر ضمیر راجع کړی شوی دی او څه نور احتمالات هم پکښې شته دي[۲].

۳_ کله چې "جَهْرَة" په خپله معنی (ځرګند) سره وي نو په مقابل کښې یې د "خُفْيَة" کلمه استعمالېږي، مګر په دې مقام کښې د ﴿ جَهْرَة ﴾ معنی په مدار او تدریج سره راتلل دي نو ځکه یې په مقابل کښې د ﴿ بَغْتَةً ﴾ (ناڅاپه) کلمه نازله شوې ده.

نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: د الله ﷻ د عذاب مخه په هیڅ حالت کښې نه نیوله کېږي، برابره خبره ده چې د دفاع دپاره یې څوک د تیاري نیولو فرصت مونده کړي او که نه.

---

(۱) روح المعاني ج۷ ص۱۵۲؛ التفسير الكبير ج۱۲ ص۲۲۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

(۲) زاد المسير ج۳ ص۳۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څه هم ځینو علماوو کرامو د ﴿ بَغۡتَةً ﴾ څخه شپه او د ﴿ جَهۡرَةً ﴾ څخه ورځ مراده کړې ده[۱] مګر دا متبادره معنی نه ده.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې د [الأنفال:۲۵] ایت مضمون دی چې: ای مؤمنانو! د داسې ګناهونو څخه ځانونه وساتئ چې اثر یې د ظالمانو څخه تجاوز کوي او غیر ظالمانو ته هم رسېږي. او د ﴿ هَلۡ يُهۡلَكُ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ د جملې مضمون دا دی چې: که د الله ﷻ د پلوه د جنایت د کبله کوم عذاب نازلېږي نو هغه د ظالمانو څخه تجاوز نه کوي؛ ایا دا تناقض نه دی؟

مونږ وایو چې: هلته د غیر ظالمانو څخه توابع مطلب دي لکه ماشومان او بوډاګان، او دلته ترې هغه څوک مراد دی چې د توابعو څخه نه وي، نو دلته یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: ای مشرکانو! که د الله ﷻ عذاب نازل شي، نو همدا تاسو او ستاسو توابع به ورباندې هلاک کړی شي او مونږ ته به الله ﷻ نجات راکړي.

﴿ قُل لَّآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ إِنِّي مَلَكٌۖ إِنۡ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّۚ قُلۡ هَلۡ يَسۡتَوِي ٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡبَصِيرُۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ۝٥٠ وَأَنذِرۡ بِهِ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحۡشَرُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ لَيۡسَ لَهُم مِّن دُونِهِۦ وَلِيّٞ وَلَا شَفِيعٞ لَّعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ۝٥١ ﴾

[۵۰] (ای پیغمبره!) ووایه چې: زه خو تاسو ته نه وایم چې زما په نزد د الله ﷻ خزانې دي (زه یې واکدار یم)، او نه زه په غیبو باندې پوهېږم (چې قیامت به کله راځي)، او نه زه تاسو ته وایم چې زه یقیناً پرښته یم (او د بشر د توان څخه پورته کارونه کولی شم).

زه پیروي نه کوم مګر د هغه شي چې ماته وحې کېږي، (بیا ورته) ووایه چې: ایا ړوند او بینا یو برابر دي؟ ایا تاسو نو فکر نه کوئ (چې په فرق باندې یې پوه شئ)؟.

[۵۱] او (ای پیغمبره! تاته) په وحې کړی شوي (قرآن کریم) باندې هغه کسان وډار کړه کوم چې د دې څخه وېرېږي چې خپل رب ته به په داسې حال کښې حشر کړی شي چې نه به دوی لره د الله ﷻ (د اجازې) څخه په غیر دوست وي او نه شفاعتګر؛ شاید چې د دوی پرهېزګاري ښه کلکه شي.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د پیغمبرانو اصلي وظیفه مشخصه ښودلې شوې ده چې د دوی وظیفه صرف تبشیر او انذار دی. په دې ایتونو کښې ذکر شوی مضمون ښه تاکید شوی دی چې د معنی حاصل یې داسې راوځي:

(۱) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۲ ص۱۴۴؛ تفسير ابي السعود ج۳ ص۱۳۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! لکه څنګه چې مونږ د ټولو پیغمبرانو په ضمن کښې ستا وظیفه ښه مشخصه کړې ده، همدارنګه ته په خپله خوله باندې هم د خپلې وظیفې تشخیص وکړه او مشرکان په لاندې ټکو باندې مخاطب کړه چې:

۱_ ای مشرکانو! زه خو تاسو ته داسې نه وایم چې د الله ﷻ د نعمتونو خزانې زما په لاس دي ترڅو تاسو فرمایش راکړئ چې فلانی، فلانی معجزه راوړه او یا د مکې معظمې وچه بیدیا خړوبه کړه او ویالې پکښې روانې کړه او یا خپل ځان ته د سرو زرو کوټه جوړه کړه او داسې نور.

۲_ همدارنګه زه په غیبو باندې هم نه پوهېږم ترڅو تاسو ته خبر درکړم چې د قیامت ورځې ته دومره وخت پاتې دی، او یا به په تاسو باندې په فلاني تاریخ باندې عذاب نازل کړی شي او بالآخره تاسو به په فلاني فلاني وختونو باندې مړه شئ او فلانی ورک شوی شی به په فلاني ځای کښې مونده کړئ.

۳_ او نه زه تاسو ته وایم چې زه پرښته یم چې په عادي توګه اسمان ته وخېژم او ستاسو د وړاندې اسمان ته زینه کېږدم او یا داسې درانه او ثقیله کارونه وکړم چې عادةً د بشري قوت څخه پورته وي. او یا خوراک او څښاک او په بازارونو کښې ګرځېدل راګرځېدل او بالآخره یا نکاح کول زما دپاره عیب جوړ شي، نو که بالفرض ما د نبوت نه،بلکې د مَلَکیَت دعوه کړې وی نو ستاسو اعتراض به په ځای وی.

لنډه دا چې زما ټول کړه وړه د نبوت سره څه منافات نه لري چې ستاسو د ګوتې د اېښودلو ځای په لاس درشي.

۴_ زما مشخصه دنده (وظیفه) دا ده چې زه صرف د همغه شي پیروي کوم چې ماته وحي کړی شوې وي، هغه نه دی مګر په قرآن کریم سره انذار او تبشیر دی.

۵_ بیا ورته ووایه چې: ای مشرکانو! دا راته ووایاست چې: ایا ړوند او بینا یو برابر دي؟ ایا تاسو زما دلایل اورئ او فکر پکښې نه کوئ چې هغه زما په وظائفو کښې شامل دي او که نه؟ نو بالفرض المحال که زه د خپلو دندو په خلاف د هغو کارونو ادعاء وکړم چې الله ﷻ یې ماته صلاحیت نه دی راکړی نو زه به ړوند یم او که نه نو تاسو ړانده یاست، په کار دي چې فکر وکړئ او خپل ځانونه بینا کړئ.

۶_ بالآخره ای پیغمبره! که څه هم ته د ټولو خلکو د انذار (ډارولو) دپاره استولی شوی یې خو چې د چا زړونه ړانده دي هغوی ستا انذار ته څه اعتناء (پاملرنه) نه کوي، نو تاته په کار دي چې په هغه شي باندې چې تاته وحي کېږي (چې د قرآن کریم څخه عبارت دی) هغه خلک هم وډار کړئ چې هغوی د دې څخه وېرېږي چې خپل رب ته به په داسې حال کښې حشر کړی شي چې هلته به د الله ﷻ د اجازې څخه په غیر نه دوست مونده کړي او نه شفاعت کوونکی چې په درد یې وخوري.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۷_ ای پیغمبره! ته څکه دا کار وکړه چې دوی ستا د إنذار څخه ګټه اخلي او تقوی او دینداري یې لا زیاته قوي کېږي، هسې نه چې ستا ټوله توجه مشرکانو (ړندو او کڼو) ته واوړي او سوچه مسلمانان درڅخه هېر شي.

## توضیحات

۱_ د ﴿ خَزَآئِنُ ﴾ کلمه د "خَزَانَة" جمعه ده، "خَزَانَة" د هغه مکان نوم دی په کوم کښې چې شیان ساتل کېږي[1]، د غوښې بدبویه کېدلو ته ځکه "خَزِن" یا "خَنَز" وایي چې عادةً یې د ساتلو سره بدبویي ترلې وي. عرب وایي چې: "خُزِنَ اللَّحْم" یا "خُنِزَ اللَّحْم"[2] غوښه بدبویه شوې وه.

په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: زه د دې خبرې مدعي نه یم چې د الله ﷻ مقدورات او پراخه ورکړې زما په لاس دي ترڅو راته د ملامتې ګوته ونیسئ چې زمونږ فرمایش ولې نه پوره کوئ.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د ﴿ وَلَآ أَعْلَمُ ٱلْغَيْبَ ﴾ جمله د عطف په اعتبار سره د ﴿ لَآ أَقُولُ ﴾ څخه لاندې ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: زه خو تاسو ته نه وایم چې زه په غیبو باندې نه پوهېږم. حال دا چې دا ډول معنی خو مراده نه ده؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو ذکره شوې جمله په لاندې دوه ډولو باندې تفسیره کړې ده چې:

الف: ذکره شوې جمله په لا اقول باندې عطفه ده او ترې لاندې نه ده، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: زه په غیبو باندې نه پوهېږم[3]، لکه څنګه چې مونږ د خلاصه مطلب په بیان کښې ورته اشاره کړې ده.

ب: ذکره شوې جمله د ﴿ لَآ أَقُولُ ﴾ څخه لاندې ده مګر د "لا" توری پکښې د عطف د تاکید دپاره دی، نو د عبارت تقدیر یې داسې کېږي چې: "وَلا أَقُولُ لَكُمْ أَعْلَمُ الْغَيْبَ" او زه تاسو ته نه وایم چې زه په غیبو باندې پوهېږم او دا خو مطلوبه معنی ده[4].

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وایي چې: په دې مقام کښې الله ﷻ خپل پیغمبر مامور کړ چې مشرکانو ته د خپل ځان په پېژاندنه کښې دا هم ووایي چې زه په غیبو باندې نه پوهېږم، حال دا چې د قرآن کریم ټول علوم د غیبو څخه دي که نبي کریم ﷺ ورباندې نه پوهېدلی نو مونږ ته به یې څنګه بیان کړي وی؟

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۶ ص۵۳۴
(۲) مفردات الراغب ص۱۴۷
(۳) البحر المحیط ج۴ ص۵۱۸
(۴) روح المعاني ج۷ ص۱۵۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


مونږ وایو چې: د ﴿ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ ﴾ د جملې معنی دا ده چې زه د بشریت په اعتبار سره په غیبو باندې نه پوهېږم چې بې د وحې څخه راته غیبي علوم څرګند شي. او یا په بل عبارت: په غیبو باندې پوهېدل زما کسبي شی نه دی چې زما د وسې لاندې وي او چې هر څه غواړم هغه خاوند حاضرولی شم، بلکې په غیبو باندې زما پوهېدل موهبي دي که الله ﷻ راته څه راوښیي نو خاص په همغه باندې پوهېږم او بس.

## د غیب ډولونه

۴ـ غیبي علوم دوه ډوله دي، چې یوه ته حقیقي غیبي علوم وایي او بل ته اضافي غیبي علوم[1]. د دواړو تعریفونه لاندې لوستلی شئ:

الف: حقیقي غیبي علوم هغه دي چې د ټولو مخلوقاتو څخه غائب وي او د الله ﷻ څخه په غیر پرې هیڅوک نه پوهېږي، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُ ﴾ [النمل:۶۵] یعنې: ورته ووایه چې: په غیبو باندې هغه څوک چې په اسمانو کښې دي او چې په ځمکو کښې دي نه پوهېږي مګر الله ﷻ (پرې پوهېږي او بس).

ب: اضافي غیبي علوم هغه دي چې ځینو مخلوقاتو ته په نسبت سره غیبي وي او ځینو نورو ته بالمشاهده وي، لکه چې ملائک په خپل ملکي عَالَم کښې په ځینو شیانو باندې علم لري چې انسانانو ته الله ﷻ هغه علم نه دی ورکړی چې ضرورت ورته نه لري.

مګر په یاد ولرئ چې غیبي علوم د هغو علومو نوم دی چې د اسبابو څخه پرته چاته ورکړی شي علاوه په دې، غیبي علوم هغو علومو ته وایي کوم چې د غلطۍ احتمال پکښې بالکل نه وي بلکې سراسري یقیني وي. اما هغه علوم چې د اسبابو په ذریعه کشف کړی شي که څه هم ځینو خلکو ته به غیب ښکاري، خو هغه غیبي نه بلکې کسبي علوم دي. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

اول: لکه چې د جغرافیې د علم پوهان د خسوف او کسوف او د فضا د نورو کائناتو په باره کښې څه معلومات ورکړي.

دوهم: لکه چې د بې مزي مخابرې او یا ګرځنده ټلیفون په ذریعه د ډېرې لرې مسافې په موجودیت سره سړی په ځینو احوالو باندې خبر شي.

دریم: لکه چې ځینې خلک په خپل سالم فراست او ذکاوت سره د ځینو کارونو عواقب سنجولی شي او کله لا په الهام سره هم ورته څه معلومات کېږي، مګر په دغو ټولو کسبي علومو کښې سړی ترهاغه نه شي مطمئن کېدلی ترڅو چې واقع شي.

## یادونه

۵ـ مفسرینو کرامو[2] په دې مقام کښې دا موضوع مطرحه کړې ده چې ملائک بهتر دي او که

---

(۱) تفسیر المراغی ج۷ ص۱۲۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

(۲) تفسیر الکشاف ج۲ ص۲۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پیغمبران؟، مونږ ـ لله الحمد والمنة ـ په ذکره شوي موضوع باندې د [النساء:١٧٢] ایت لاندې د ضرورت په اندازه بحث کړی دی، بیا لیکلو ته یې اړتیا نه وینو.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې: د ذکر شوي دوهم ایت انذار که چرته کافرانو ته متوجه وي نو د ﴿ يَخَافُونَ أَن يُحْشَرُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ ﴾ د جملې سره سمون نه خوري، ځکه چې کافران خو په حشر باندې عقیده نه لري، او که چرته مؤمنانو ته متوجه وي نو د ﴿ وَلَا شَفِيعٌ ﴾ د کلمو سره نه جوړېږي ځکه چې مؤمنان خو په دغې ورځ کښې هم دوستان لري او هم شفاعتګر؟

مونږ وایو چې:

الف: ځینې مفسرینو کرامو[1] اولنی شق اختیار کړی دی او ذکر شوي اعتراض ته یې داسې جواب کړی دی چې په کافرانو کښې ځینې داسې ډلې شته چې من وجهٍ د حشر څخه ډارېږي. لاندې صورتونه یې ولولئ:

اول: کتابي کافران په حشر عقیده لري خو په دې کښې خطا شوي دي چې د پلرونو شفاعت حتمي ګڼي.

دوهم: ځینې مشرکان هم په حشر باندې قائل دي خو د بوتانو شفاعت ته په تمه دي.

دریم: ځینې مشرکان د حشر په احتمالي تحقق باندې قائل دي او یقین یې ورباندې نشته.

نو نبي کریم ﷺ مامور کړی شو چې د عنادي کافرانو څخه خپله توجه ذکرو شوو کافرانو ته واړه وي، ګوندې د خپلو عقائدو څخه نېمګړتیاوې لرې کړي او په سمه سیده معنی سره په حشر عقیده وکړي.

مګر مونږ ته ذکر شوی جواب برسېره پر دې چې متبادر نه دی د ذوق څخه هم مخالف ښکاري.

ب: مونږ ته دوهم شق بهتر برېښي او پوره واضحه ده چې د قیامت په ورځ مؤمنانو لره هم بې د الله ﷻ د اذن څخه نه دوست شته او نه شفاعتګر.

دا جواب ځکه بهتر دی چې بې دلیله د تخصیص ارتکاب پکښې نشته او د راتلونکي ایت شریف سره په زړه پورې پیوستون خوري، چې الله ﷻ بلونکي مؤمنان د خپله ځانه مه شړه بلکې ځان ته یې رانژدې کړه.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای پیغمبره! کله چې د کافرانو په انذار باندې ستا سترګې یخې نه شوې او ستا خبره یې ونه منله نو خپله خوا د مؤمنانو په انذار باندې سره کړه ترڅو دوی خپلې تقوی او دینداری ته دوام ورکړي او په حشر باندې یې عقیدې ښې کلکې شي.

---

[1] تفسیر ابي السعود ج٣ ص١٣٧

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَلَا تَطْرُدِ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ ۖ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٢﴾ وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لِّيَقُولُوٓا۟ أَهَٰٓؤُلَآءِ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنۢ بَيْنِنَآ ۗ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٥٣﴾ ﴾

[۵۲] (ای پیغمبره!) او (ته د خپلو مجالسو څخه) هغه کسان مه شړه چې هغوی خپل رب سبا او بېگاه (ټول اوقات) بلي، (حال دا چې) د ده ﷻ رضا غواړي؛ (ځکه چې) د دوی د محاسبې څخه په تاباندې هيڅ شی نشته او نه ستا د محاسبې څخه په دوی باندې هيڅ شی شته (بلکې د هر چا محاسبه د الله ﷻ سره ده چې په ظاهر او باطن دواړو باندې پوه دی. نو که ته يې وشړې) نو وبه يې شړې نو ته به د ظالمانو د ډلې څخه وشمېرلی شې (چې دوی ته به دې خپل حق نه وي ورکړی).

[۵۳] او په دغه ډول (عظيم الشان امتحان سره) مونږ (په پخوانيو زمانو کښې) د خلکو ځينې په ځينو نورو باندې امتحان کړي دي (همدا امتحان ستا په اُمت کښې هم جاري دی)، د دې دپاره چې (په نتيجه کښې) کافران (مؤمنانو فقيرانو ته اشاره وکړي او) ووايي چې: ايا دغه دي (هغه خلک) چې الله ﷻ وربادې زمونږ د مجموعې څخه احسان کړی دی؟ (او په ايمان مشرف شوي دي؟ دوی په ايمان کښې دروغژن دي).

(ای پیغمبره! ته دوی ته ووايه چې) ايا الله ﷻ په شکرګزارانو باندې ښه عالم نه دی؟ (بلکې الله ﷻ يې ډېر ښه پېژني).

## ارتباط

په وړاندې نږدې ايت شريف کښې الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ ته امر کړی وه چې د مؤمنانو انذار (ډارولو) ته خپله توجه واړه وه چې د يو پلوه وربادې ستا سترګې يخې شي او د بل پلوه کافران پوه کړی شي چې قرآن کريم بې پيروانو پاتې نه دی که څه هم تاسو وربادې عقيده نه لرئ.

په دې ايتونو کښې ذکر شوی مضمون تائيد شوی دی چې: د قرآن کريم پيروان د خپله خانه مه شړه، د نصائحو څخه يې مه محرومه.

## شان نزولونه

د ذکرو شوو ايتونو په شان نزول کښې ځينو مفسرينو کرامو تقريبًا شپږ روايتونه راغوند کړي دي[۱] چې مونږ يوازې د يوه روايت په ليکلو باندې اکتفاء کوو او د نورو روايتونو څخه صرف څو نکات ليکو:

---

(۱) تفسير الجواهر للطنطاوي ج۴ ص۳۲؛ اسباب النزول للواحدي ص۱۴۷.

Downloaded from: bawarketaptoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د سعد بن ابي وقاص ﷺ څخه روايت دی چې: يوه ورځې مونږ شپږ نفره (د بلال ﷺ او ابن مسعود ﷺ په شمول) د نبي کريم ﷺ سره وو چې مشرکانو ورته وړانديز وکړ چې دغه ډله د خپل حضور څخه وشړه چې په مونږ باندې جرئت پيدا نه کړي. نو د نبي کريم ﷺ په مبارک زړه کښې هغه څه تېر شوه چې الله ﷻ يې د تېرېدلو اراده کړې وه (يعنې چې مونږ ته جدا مجلس وټاکي)؛ نو الله ﷻ ذکر شوی ايت شريف نازل کړ[1].

د نورو روايتونو نکات په لاندې ډول دي:

۱ـ د مکې معظمې مشرکانو نبي کريم ﷺ ته د ابو طالب په سلسله وړانديز وکړ چې: غريب خلک د خپله درباره وشړې مونږ د دوی په مجلس کښې په ناسته باندې شرمېږو، که دا کار وکړې نو مونږ به په مجالسو کښې ګډون وکړو، کېدلی شي چې ايمان راوړو.

۲ـ عمر الفاروق ﷺ هم نبي کريم ﷺ ته مشوره ورکړه چې که دا کار وکړې نو بده به نه وي ترڅو وګورو چې دوی څه کوي.

۳ـ خينو مشرکانو نبي کريم ﷺ ته وړانديز وکړ چې: فقيران د خپل مجلس څخه وشړه ځکه چې مونږ ته ترې بوی راځي، که دا کار نه کوې نو اقلاً مونږ ته خاص مجلس وټاکه چې دوی پکښې ګډون ونه لري.

۴ـ نبي کريم ﷺ د جدا مجلس خبره منظوره کړه او علي ﷺ يې راوغوښت چې منظوره شوې خبره وليکي ځکه چې مشرکانو يې په کتابت باندې ټينګار کاوه.

۵ـ کله چې ايت شريف نازل شو نو نبي کريم ﷺ غريبانو صحابه وو کرامو ﷺ ته مخ ورواړاوه او ورې فرمايل چې: ﴿ سَلَـٰمٌ عَلَيۡكُمۡ ۖ كَتَبَ رَبُّكُمۡ عَلَىٰ نَفۡسِهِ ٱلرَّحۡمَةَ ﴾ يعنې: په تاسو باندې دې سلام وي ستاسو رب ﷻ په خپل ځان باندې احساناً رحمت لازم کړی دی.

## دنيا پرستان فقيري عيب ګڼي

دنياپرستانو ته په هره زمانه کښې فقيري عيب ښکاري او فقيرانو ته د اهانت او حقارت په نظر ګوري. د مثال په ډول په روانه زمانه کښې کله چې کمونستي رژيم راوپرځيد او مجاهدين تقريباً په دوه وو کالو کښې د يوه اسلامي حکومت په قيام باندې ونه توانېدل او چور چپاول زيات شو، نو د الله ﷻ په فضل په لږ وخت کښې د فقيرانو طالبانو يوه ټولګي تقريباً د افغانستان په درېمه برخه باندې تسلط ترلاسه کړ. خو غربيان دغو فقيرانو ته د حکومت حق نه ورکوي او روزمره ورپسې پروپاګند کوي. لکه د بي بي سي (BBC) راديو[2] چې د دوی د فقيرۍ او بې وزلۍ زښت ډېر مثالونه د توهين او تحقير په غرض نشر کړه.

بالمقابل د الله ﷻ عادت دی چې کمزورو خلکو ته قوت ورکوي چې د قدرت يوه نمونه جوړه شي، نو ځکه د تاريخ په اوږدو کښې د پيغمبرانو لومړني پيروان فقيران او کمزوري خلک تېر شوي دي.

---

[1] صحيح مسلم ج۲ ص۲۸۱

[2] ۱۳۷۳/۱۲/۲۰هـ ش

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! څوک چې د حشر د ورځې څخه په ډار کېښې دي هغوی د خپلو قیمتي ارشاداتو څخه مه بې برخه کوه او علاوه په دې، د دوی په باره کېښې د مشرکانو غوښتنو ته اعتنا مه کوه او د خپل بافیضه دربار څخه یې مه شړه، دوی خو سبا او بېګاه او بلکې ټول وخت په دې کېښې مصرفوي چې خپل رب وبولي او د ده ﷻ رضا حاصله کړي، او دغه مطلب ته د رسېدلو یوازېنۍ ذریعه ستا سره ملاقات او ستا سره ناسته ولاړه ده، د قیامت په ورځ خو د هر چا خپل خپل حساب دی نو ځکه دوی کوښښ کوي چې د ذکرې شوې ورځې دپاره ځه نېک عملونه تیار کړي، دوی خو د قیامت د ورځې څخه په خوف کېښې دي.

که بالفرض په هغې ورځ کېښې د دوی جواب ستا په غاړه وی نو بیا به یې د شړلو او د هدایتونو څخه د محروم ګرځولو څه پروا نه وی، تا به ورته مفتې لویې درجې ورکړې وی. خو خبره داسې نه ده، د دوی محاسبه ټوله د الله ﷻ سره ده لکه څنګه چې ستا محاسبه یوازې د الله ﷻ سره ده، نو دوی ته موقع ورکړه چې ستا د بابرکته فیضه ښه غټه برخه واخلي او لوړې درجې ترلاسه کړي.

۲ـ په دې باندې علاوه، که کافران د دوی ایمان ته په سپک نظر ګوري چې دوی واقعي مسلمانان نه دي نو د دې خبرې سپیناوی هم ستا په غاړه نه دی بلکې دا هم د الله ﷻ کار دی، نو که د خپله درباره مؤمنان د کافرانو د غوښتنې په اساس وشړې نو ته به د ظالمانو د ډلې څخه جوړ شې او په مؤمنانو باندې به دې ظلم کړی وي حال دا چې ته خو دنیا ته د ظلم د مخنیوي دپاره استولی شوی یې.

۳ـ ای پیغمبره! په دغسې عظیم الشان امتحان سره مونږ په پخوانیو اُمتونو کېښې هم ځینې د ځینو نورو په سبب باندې د امتحان لاندې واقع کړي دي او ستا په اُمت کېښې هم دغه امتحان روان دی چې څوک مو غنیان او څوک مو فقیران ګرځولي دي، ترڅو یوه ډله په بلې باندې د ازمېښت لاندې راولو، که نه نو د الله ﷻ په نزد صرف تقوی اعتبار لري، نه غِنٰی د عزت نښه ده او نه فقر د ذلت دلیل دی، د همدې کبله د کافرانو په امتحان کېښې پېښې وشوېدلې او ستا څخه یې د فقیرانو د شړلو غوښتنه وکړه، او د حقارت او استهزاء په توګه یې فقیرانو ته اشاره وکړه او ویې ویلې چې: ایا زمونږ د جملې څخه په دغو ذلیلانو باندې الله ﷻ احسان کړی دی او په ایمان یې مشرف کړي؟ که په ایمان باندې مشرف کېدل د عزت او احسان نښه وی نو د هغوی څخه مخکېښې به مونږ ورباندې مشرف شوي وی، ځکه چې په خیر او بهترۍ کېښې مونږ په هغوی وړاندې یاستو، د همدې کبله مونږ غنیان یاستو او هغوی فقیران دي. یا په بل عبارت: هغوی په حقیقت کېښې په ایمان نه دي مشرف شوي بلکې هغوی غواړي چې د دروغین ایمان په ذریعه خپلو خانونو ته کور، کالي، ډوډۍ (احتیاجات) مونده کړي. اما که مونږ ایمان راوړو نو دا به حقیقي ایمان وي چې مونږ د دغو شیانو موندونکي یاستو؛ نو هغوی د خپله څنګه وشړه او مونږ ته د ناستې شرائط برابر کړه.

۴ـ لنډه دا چې (ای پیغمبره!) که ته د دوی غوښتنه ومنې هم دوی به ایمان رانه وړي، ځکه چې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي ايمان راوړل توهين کڼي، نو مؤمنانو ته په کار دي چې د کافرانو خبرو ته اعتناء ونه کړي او خپل خانونه ورته حقير او سپک ښکاره نه شي لکه چې هغوی ته حقير او سپک برېښي.
ايا الله ﷻ په شکرګذارانو باندې پوه نه دی، ايا شکر کوونکي نه پېژني؟ ايا کافران ښه پوهېږي چې فلاني رښتيا ايمان راوړی دی او فلاني په دروغو؟ داسې نه ده.

## توضيحات

۱ـ د "غداة" کلمه د ورځې اولې برخې ته وضعه شوې ده[۱] يعنې د سهار څخه تر زواله پورې. او د زوال څخه آن تر راتلونکي سهاره پورې ټول وخت د "عشي" په نامه يادېږي[۲].
که څه هم په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو[۳] د ذکرو شوو دواړو کلمو څخه دوه لمونځونه اخستي دي چې په مکه معظمه کښې دوه لمونځونه فرض وه او بيا وروسته پنځو ته ورسېده، مګر موږ ته بهتره ښکاري چې دواړه کلمې په خپلو اصلي معناوو باندې پرېښودلی شي، نه په لمونځونو پورې اختصاص ورکړی شي او نه په خاصو وختونو پورې مختصې وګرځولی شي.
نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې: هغه خلک د خپله درباره مه شړه چې په دائمي توګه خپل رب ﷻ يادوي، کله د لمونځو په صورت کښې او کله د قرآن کريم د لوستلو په څېره کښې او بالآخره کله د انساني او قلبي ذکر په توګه.

## د نظائرو مراعات په کار دی .

۲ـ کله چې د قرآن کريم يو ايت د دوه وو يا د ډېرو تفسيرونو احتمال ولري نو په کار دي چې په هغه تفسير باندې حمل کړی شي کوم چې په بل ايت کښې ښه پوره څرګند وي، څکه چې په ايتونو کښې د نظائرو (امثالو) مراعات ضرور دی چې ځينې ايتونه ځينې نور تفسيروي.
د همدې جملې څخه په دې مقام کښې دا تکره هم ده چې ﴿ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ ﴾، چې تفصيل يې لاندې لوستلی شي:
الف: که د ﴿مِنْ حِسَابِهِم﴾ ضمير کافرانو ته راجع کړی شي، لکه چې ځينو مفسرينو کرامو راجع کړی دی[۴]. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې مؤمنان د خپله درباره مه شړه ګوندې چې کافران ايمان راوړي، څکه چې د کافرانو حساب خو په تا باندې نشته چې د قيامت په ورځ درڅخه پوښتنه وکړی شي چې هغوی ولې کافر پاتې شوه، نو تا خو خپله ذمه واري پوره کړه او ښه پوره دعوت دې ورکړ نور نو که ايمان راوړي او که ايمان رانه وړي په تاباندې کوم مسئوليت نشته.
ب: که ذکر شوی ضمير مؤمنانو (فقيرانو) ته راجع شي نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې

---

[۱] مفردات الراغب ص۳۷۱
[۲] مفردات الراغب ص۳۴۷
[۳] المحرر الوجيز ج۶ ص۵۷
[۴] المحرر الوجيز ج۶ ص۵۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! مؤمنان فقیران د خپله درباره مه شړه ځکه چې د دوی محاسبه خو په تاباندې نه (ستا دپاره خو دوی عبادت نه کوي) ته خو دوی ته د قیامت په ورځ لوړې درجې نه شې ورکولی، د دوی محاسبه صرف د الله ﷻ سره ده او د همده ﷻ عبادت کوي، او د نیکو عملونو اجرونه به همدی ﷻ ورکوي، دوی غواړي چې ستا په نژدېکت سره ستا د انوارو څخه استفاده وکړي او د الله ﷻ په نزد لوړې درجې مونده کړي، نو د دې کبله چې په تاباندې د دوی محاسبه نشته نو د دوی په ظاهر باندې اکتفاء وکړه او باطني اُمور یې الله ﷻ ته وسپاره. په زړونو باندې د الله ﷻ څخه په غیر بل هیڅوک نه پوهېږي که څه هم پیغمبر وي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ»(۱) یعنې: یقیناً الله ﷻ ستاسو څېرو او ستاسو مالونو ته نه ګوري مګر ستاسو زړونو او ستاسو عملونو ته ګوري (اما انسان ظاهري حال ته ګوري).

## تبصره

۳ـ نو په همدې بنا مونږ ته دوهم تفسیر غوره ښکاري ځکه چې همدغه دول غوښتنه د نوح ﷺ څخه خپل قوم کړې وه او ویلې یې وه چې: ستا څخه فقیرانو احاطه کړې ده او مونږ د دغو رذیلانو سره په ناسته باندې شرمېږو، علاوه په دې دوی د فقیرۍ د کبله خپل ځانونه مؤمنان معرفي کړي دي اصلاً دوی مؤمنان نه دي. خو نوح ﷺ جواب ورکړ چې: ﴿ إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّي ۖ لَوْ تَشْعُرُونَ ﴾ [الشعراء: ۱۱۳] یعنې: د دوی محاسبه نه ده مګر زما په رب ﷻ باندې ده (په ماباندې نه ده) که تاسو شعور لرئ، زه د مؤمنانو شړونکی نه یم، زه فقط ښکاره ډاروونکی یم، ماته د دوی ظاهري ایمان د اعتبار وړ دی او بس.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: که هر تفسیر واخستل شي په ذکره شوې جمله باندې د عدم طرد (شړلو) استدلال پوره کېږي، نو د دوهمې جملې ﴿ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَيْءٍ ﴾ په نزول کښې څه حکمت دی حال دا چې پوره واضحه ده چې د نبي کریم ﷺ محاسبه نه په مؤمنانو ده او نه په کافرانو؟

مونږ وایو چې: دوهمه جمله محض د اولې جملې د تاکید دپاره نازله شوې ده، لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي: ﴿ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴾ [الأعراف: ۳۴] یعنې: نو کله چې د دوی نېټه راشي نو دوی به نه بېرته شي او نه به وړاندې. او دا ځکه چې د نېټې د راتګ په وخت کښې د وروسته کېدلو احتمال شته خو الله ﷻ نفي کړ، اما د وړاندې کېدلو احتمال خو بالکل نشته مګر الله ﷻ د اولنۍ جملې د تاکید دپاره وړاندې کېدل هم نفي کړي دي(۲).

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۳۱۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

(۲) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۱۳۹

﴿ وَإِذَا جَآءَكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِـَٔايَـٰتِنَا فَقُلْ سَلَـٰمٌ عَلَيْكُمْ ۖ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ ٱلرَّحْمَةَ ۖ أَنَّهُۥ مَنْ عَمِلَ مِنكُمْ سُوٓءًۢا بِجَهَـٰلَةٍ ثُمَّ تَابَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُۥ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝٥٤ وَكَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْـَٔايَـٰتِ وَلِتَسْتَبِينَ سَبِيلُ ٱلْمُجْرِمِينَ ۝٥٥ ﴾

[۵۴] او کله چې تاته (اى پيغمبره!) هغه کسان درشي چې زمونږ په ايتونو باندې ايمان راوړي نو (دوى ته) ووايه چې: په تاسو باندې دې سلام وي، ستاسو رب ﷻ په خپل اقدس ذات باندې رحمت ليکلى (لازم کړى) دى (چې) يقيناً شان دا دى هر څوک چې ستاسو څخه په سادګۍ (ناپوهۍ) سره بدې وکړي بيا (وروسته) ترې توبه وباسي او (خپل ځان) اصلاح کړي نو بې شکه الله ﷻ (ده لره) بښونکى (او) مهربان دى.

[۵۵] او (اى پيغمبره!) مونږ دغه رنګه (لکه چې پخوا تېر شوه) خپل ايتونه په تفصيل سره بيانوو (ترڅو د مؤمنانو لاره ښه مشخصه شي) او د دې دپاره چې د مجرمانو لاره (هم) ښه پوره واضحه شي.

## شان نزول او ارتباط

په ذکرو شوو ايتونو کښې مفسرين کرام په لاندې دوه ګروپونو باندې وېشل شوي دي:

۱ـ ځينې وايي چې دا ايتونه د وړاندېنيو ايتونو مضمون تعقيبوي[١] چې: اى پيغمبره! برسېره په دې چې فقيران د خپله درباره مه شړه، نورې مهرباني هم ورباندې وکړه او د الله ﷻ د رحمت زېرى ورکړه. په دې تفسير سره يې ارتباط بالکل څرګند دى.

۲ـ ځينې نور مفسرين کرام[٢] وايي چې دلته ذکر شوى مضمون نه دى تعقيب شوى بلکې دا ايتونه د يو بل مضمون پيل دى هغه دا چې نبي کريم ﷺ ته يوه ډله خلک ورغله او ورته يې وويلې چې: يا رسول الله! مونږ د لويو ګناهونو مرتکب شوي ياستو. خو نبي کريم ﷺ ورته هيڅ ونه ويلې، «فَلَمَّا ذَهَبُوْا وَتَوَلَّوْا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ»[٣] نو کله چې هغوى لاړه او بېرته تاو شوه نو الله ﷻ ذکر شوى ايت شريف نازل کړ.

نو په دې تقدير باندې يې د ارتباط وجه دا ده چې هلته د فقيرانو مؤمنانو په باره کښې نبي کريم ﷺ ته د نرمښت توصيه شوې وه او دلته ورته د ټولو مؤمنانو په هکله توصيه کېږي.

مونږ وايو چې: ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري ځکه چې دواړه د ايت شريف مصداقات واقع کېدلى شي او صالحينو سلفو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه[۴].

[١] تفسير البغوي ج٢ ص١٠٠

[٢] تفسير الطبري ج٥ ص٢٠٨

[٣] اسباب النزول للواحدي ص١٤٧

[۴] تفسير القاسمي ج١ ص٢٧؛ تفسير المنار ج٩ ص٦٤٢

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! برسېره په دې چې باید فقیران د خپل بافیضه درباره ونه شړې، کله چې تاته څه مؤمنان د خپلو ګناهونو څخه د خلاصون دلارو چارو د زده کړې او یا د نورو شرایعو او مسائلو د پوښتنو دپاره درشي نو د دوی سره زیات نرمښت کوه او د دوی د خوشالۍ دپاره ورته د سلامتۍ خبره ورکوه او د "السَّلامُ عَلَيكُمْ" جمله ورته استعمالوه.

۲ـ علاوه په دې، هغوی ته دا خبر هم ورکړه چې ستاسو رب ﷻ په خپل ځان باندې استحساناً رحمت لازم کړی دی او رحمت یې په غضب باندې وړاندې دی.

د رحمتونو د جملې څخه یې یو لوی رحمت دا دی چې ستاسو د ډلې څخه چې هرڅوک په ناپوهۍ سره څه ګناه وکړي، بیا توبه تائب شي او خپل ځان اصلاح کړي نو الله ﷻ به ورته ګناهونه وبښي ځکه چې الله ﷻ بښونکی او مهربان دی.

۳ـ ای پیغمبره! مونږ په ذکر شوي ډول سره تاته هدایات او دلایل بیانوو ترڅو د یو پلوه درته د مؤمنانو سره کړنلاره ښه پوره واضحه شي چې باید ته ورسره څه چال چلند وکړې او دوی ستا سره څنګه مؤدبانه ناسته ولاړه غوره کړې، او ترڅو د بله پلوه تاته د مجرمانو تګلاره واضحه شي چې هغوی مؤمنانو ته په څومره اهانت او تحقیر سره ګوري او ستا او د دوی تر منځه د بېلولو او جدا کولو څومره چلونه په کار اچوي، دا ټول د دې دپاره چې د قیامت د ورځې پورې ترې ټول مؤمنان عبرت واخلي او د ځانونو دپاره ترې د لارې مشال جوړ کړي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ ﴾ جمله مفسرینو کرامو په دوه ډوله تفسیره کړې ده:

الف: په مؤمنانو باندې د سلام په اچولو کښې سبقت (مخکې والی) وکړه[۱]، لکه چې په همدې مضمون باندې په شان نزول کښې یو حدیث ذکر شو.

ب: د الله ﷻ د پلوه مؤمنانو ته ورسوه چې الله ﷻ په تاسو باندې سلام وایي[۲]. د دې نظیر په جنتیانو ته د الله ﷻ سلام ویل وي لکه چې فرمایي: ﴿ سَلَٰمٞ قَوۡلٗا مِّن رَّبّٖ رَّحِيمٖ ﴾ [یس: ۵۸] یعنې: په جنتیانو باندې د مهربان رب ﷻ د پلوه سلام استول کېږي.

که څه هم دواړه تفسیرونه سره څه منافات نه لري مګر مونږ ته دوهم تفسیر غوره ښکاري، ځکه چې:

اول: ذکره شوې جمله د ﴿ وَإِذَا جَآءَكَ ﴾ د جملې څخه وروسته ده او سنت طریقه دا ده چې راتلونکی کس په ناستو خلکو باندې په سلام اچولو کښې سبقت وکړي او ناست خلک ورته جواب

(۱) روح المعاني ج۷ ص۱۶۴
(۲) زاد المسیر ج۳ ص۳۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درکړي. نو په دې تقدير به نبي كريم ﷺ ته د سلام په سبقت باندې په هغه وخت کښې توصيه شوې وي چې د ده ﷺ سره مؤمنان په روانه کښې مخامخ شي، کومې توصيې ته چې په ذكر شوي حديث شريف کښې اشاره شوې ده.

دوهم: په دې تقدير به د ﴿ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ ﴾ د جملې دپاره د ﴿ كَتَبَ رَبُّكُمۡ عَلَىٰ نَفۡسِهِ ٱلرَّحۡمَةَ ﴾ جمله تفسير واقع شي او د قيامت د ورځې پورې به ټولو مؤمنانو ته د سلامتی او رحمت بشارت وي، لکه چې همدا مضمون په ﴿ كَتَبَ عَلَىٰ نَفۡسِهِ ٱلرَّحۡمَةَ ﴾ [الأنعام: ۱۲] ايت کښې تېر شوی دی او هلته يې ښه پوره بحث ليکلی شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## ګناهونه په جهالت سره

۲ـ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النساء:۱۷] ايت لاندې د توبې د قبول په ارتباط د جهالت معناوې کړې دي او ښه ګټور معلومات مو ليکلي دي چې بيا ليکلو ته يې ارتيا نه ګورو، مګر دلته ورباندې دومره اضافه کوو چې د ايت شريف د نزول په وخت کښې چې کله به څينې خلک په ايمان باندې مشرف شوه نو هغوی به خپلو پخوانيو ګناهونو انديښمن کړه چې الله ﷻ به مو پرې ونيسي او که څنګه؟ نو الله ﷻ د دغسې پوښتنو جواب په عمومي توګه نازل کړ چې د قيامت د ورځې پورې د ټولو مؤمنانو انديښنې پورته کوي.

## د عربيت څو قواعد

۳ـ په کار دي چې په دې مقام کښې محترم لوستونکي د عربيت لاندې څو قواعد ولولي:

الف: د ﴿ كَتَبَ رَبُّكُمۡ عَلَىٰ نَفۡسِهِ ٱلرَّحۡمَةَ أَنَّهُۥ مَنۡ عَمِلَ مِنكُمۡ سُوٓءَۢا بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ تَابَ مِنۢ بَعۡدِهِۦ وَأَصۡلَحَ فَأَنَّهُۥ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ کلماتو نحوي ترکيب په لاندې ډول دی[1]:

اول: ﴿ ٱلرَّحۡمَةَ ﴾ مبدل منه دی.

دوهم: د ﴿ أَنَّهُ ﴾ د "هـ" ضمير د شان ضمير دی او د "أنّ" دپاره اسم دی.

درېم: د ﴿ مَنۡ ﴾ کلمه د خپلو متعلقاتو سره مبتداء ده.

څلورم: په ﴿ فَأَنَّهُ ﴾ کښې د "هـ" ضمير د الله ﷻ څخه کنايي دی او د "أنّ" دپاره اسم دی.

پنځم: د ﴿ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ کلمات د "لَهُ" په تقدير سره د همدغه "أنّ" خبر دی.

شپږم: دغه جمله ﴿ فَأَنَّهُۥ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴾ د "مَنۡ" دپاره خبر ده.

اوم: دغه جمله په "أَنَّهُ" کښې د "أنّ" دپاره خبر ده.

اتم: دغه جمله د ﴿ ٱلرَّحۡمَةَ ﴾ دپاره بدل ده.

نو حاصل يې هغسې راځي چې په ژباړه او مطلب خلاصه کښې ورته اشاره شوې ده.

(۱) تفسير ابي السعود ج۳ ص۱۴۱؛ روح المعاني ج۷ ص۱۶۴؛ تفسير القرطبي ج۶ ص۴۳۶؛ البحر المحيط ج۴ ص۵۲۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د ﴿ وَلِتَسْتَبِينَ سَبِيلُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴾ په جمله کښې د "و" توري عاطف دی او معطوف علیه یې مقدر دی چې تقدیر یې داسې کېږي چې: "لِتَستَبينَ سَبِيلُ الْمُؤْمِنِينَ" یعنې: مونږ خپل ایتونه په تفصیل سره بیانوو ترڅو د مؤمنانو لاره ښه پوره واضحه شي او د مجرمانو لاره هم ښه پوره مشخصه شي او یوه د بلې سره ګډه نه شي.

ج: د ﴿سَبِيل﴾ کلمه په عربي محاوره کښې سماعي مؤنثه ده چې تذکیر او تانیث پکښې دواړه جائز دي، خو په ذکر شوي ایت شریف کښې ورته د "تستبين" د کلمې مؤنث ضمیر راجع شوی دی.

﴿ قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ ٱلَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۚ قُل لَّآ أَتَّبِعُ أَهْوَآءَكُمْ ۙ قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾ قُلْ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَكَذَّبْتُم بِهِۦ ۚ مَا عِندِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦٓ ۚ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ ۖ يَقُصُّ ٱلْحَقَّ ۖ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْفَٰصِلِينَ ﴿٥٧﴾ قُل لَّوْ أَنَّ عِندِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦ لَقُضِيَ ٱلْأَمْرُ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۗ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٨﴾ ﴾

[۵۶] (ای پیغمبره! کافرانو ته) ووایه چې: یقینًا زه د دې څخه منعه کړی شوی یم چې زه د هغو کسانو عبادت وکړم چې تاسو یې د الله ﷻ څخه په غیر بلنه کوئ (نو ماته تمه مه کوئ).

(بیا ورته تاکیدًا) ووایه چې: زه ستاسو د خواهشاتو پیروي نه کوم، بې شکه زه به په دغه وخت (د پیروۍ په صورت) کښې ګمراه شوی یم او زه به د لارې موندونکو څخه نه یم.

[۵۷] (ورته) ووایه چې: یقینًا زه د خپل رب ﷻ د پلوه په څرګند دلیل باندې یم، حال دا چې تاسو ورته د دروغو نسبت کوئ، (او د قرآن کریم په ښکاره دلیل باندې مو سترګې پټې کړې دي).

زما په نزد هغه شی (عذاب) نشته چې تاسو یې (زما څخه) په جلتۍ سره غواړئ، حکم (د نازلولو فیصله) خو نه دی مګر خاص الله ﷻ لره دی (او بس، چې الله ﷻ) حق بیانوي (څه چې وایي هغه ټول حق دي) او الله ﷻ د ټولو فیصله کوونکو بهتر (فیصله کوونکی) دی.

[۵۸] (ورته) ووایه چې: که چرته یقینًا زما په نزد (زما په لاس کښې) هغه شی (عذاب) وی چې تاسو پرې تادي کوئ نو زما او ستاسو په منځکښې به کار فیصله شوی وی ("هو" یا "نه" به مې درته ویلي وی). او الله ﷻ په ظالمانو باندې ډېر ښه پوهېږي.

## ارتباط

په ذکرو شوو ایتونو کښې د مؤمنانو او مجرمانو (د دواړو) په ټګلارې باندې څه رڼا اچولې شوې ده، په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته توصیه شوې ده چې خپله کړنلاره کافرانو ته یو ځل بیا ښه پوره واضحه کړه چې په بې ځایه غوښتنه باندې دې ونه زوروي او تکلیف درنه کړي.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

یعني: ای پیغمبره! خپله کړنلاره د ټولې دنیا کافرانو ته یو ځل بیا په لاندې ډول ورڅرګنده کړه چې:

۱ـ ورته ووایه: زه نه د ځان دپاره پخپله باندې لاره ټاکم او نه ستاسو غوندې د رانده تقلید پیروي کوم، زه همېشه په هغې لاره باندې ځم چې د الله ﷻ د پلوه راته ښودلې شوې ده.

نو ای کافرانو! زما ځخه دا تمه مه کوئ چې زه به د هغو کسانو عبادت وکړم چې تاسو یې د الله ﷻ ځخه پرته بلنه کوئ او دا ځکه چې زه د دې کار ځخه منعه کړی شوی یم.

۲ـ ورته ووایه چې: زه ستاسو د ارزوګانو پیروي هم نه کوم چې یا مؤمنان د خپله درباره وشړم او یا تاسو ته په اختصاصي ناسته باندې قائل شم، نو که بالفرض زه د ذکرو شوو کارونو ځخه د هر یو کار مرتکب شم نو ما به په دغه وخت کښې لاره ورکه کړې وي او زه به د لاره موندونکو ځخه نه یم، لکه ځنګه چې تاسو لاره ورکه کړې ده او د لارو موندونکو ځخه نه یاست.

۳ـ ورته ووایه چې: یقیناً زه د خپل رب د پلوه په واضحه دلیل باندې یم، په خپل دین باندې مې د زړه د کومې یقین او باور دی، شک او شبه مې پکښې نشته، نو زما ځخه دا تمه مه کوئ چې په خپلو شبهاتو او اشتباهاتو به مې تېر باسئ.

اما تاسو هغه شي ته د دروغو نسبت کوئ چې ماته د لمر په څېر څرګند او واضحه دی، نو تاسو ته په کار دي چې په خپلو کړو وړو باندې تجدید النظر وکړئ.

۴ـ هغه شی چې تاسو یې زما ځخه په عجله سره غواړئ، چې هله ژر کړه په مونږ باندې موعود (وعده کړی شوی) عذاب رانازل کړه او یا قیامت قائم کړه او بالآخره یا فرمایشي معجزې په تادی سره راوړه او یا داسې نور، دا یو شی هم زما سره نشته او نه زه د دغو شیانو د ورکړې دپاره استولی شوی یم، بلکې د هر شي فیصله کول (چې دا دې وکړی شي او دا دې ونه کړی شي) فقط په الله ﷻ پورې مختص دي چې د حکمت د غوښتنې سره سم یې بیانوي او فیصله ورباندې کوي.

او څه چې الله ﷻ فیصله کړي همغه حق او د واقع سره برابر دي ځکه چې د الله ﷻ په شان حقه او بهتره فیصله څوک کولی شي او د چا وسه کېږي؟.

۵ـ د ښه تاکید دپاره دا هم ورته ووایه ـ تر څو یې یقین او باور راشي ـ چې: که بالفرض هغه څه زما سره وی او زما په توان کښې وی چې تاسو یې زما ځخه غوښتنې کوئ او په تادی سره یې راځخه غواړئ نو ضرور به زما او ستاسو په منځکښې کار فیصله شوی وی چې یا به مې درته په قطعي توګه هو ویلي وی او تاسو چې څه غوښتلی هغه به مې درته درکړي وی، او یا به مې په قاطع ډول سره درته د نه جواب درکړی وی، او خبره به دومره نه وی اوږده شوې لکه چې اوس اوږده شوې ده چې نه درته هو ویلی شم او نه درته په نه سره جواب درکولی شم، او دا ځکه چې د هو او د نه جواب د الله ﷻ په اختیار کښې دی او بس. او همدی ﷻ په ظالمانو باندې ښه پوه دی او د دوی

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غوښتني ورته ټولې معلومې دي، البته چې د حکمت په مطابق کار به ورسره وکړي، ځکه چې هر کار او هره فیصله یې د حکمت څخه ډکه ده.

## توضیحات

۱ـ د هغو شیانو مثالونه ولولئ چې کافرانو به پرې عجله کوله:

الف: کله به چې دوی د الله ﷻ د عذاب څخه وډارول شوه نو دوی به استهزاء او استبعاد کاوه لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ﴾ [یونس:۴۸] یعنې: او دوی وایي چې دغه وعد (د عذاب نازلېدل) به کله وي؟ که تاسو رښتیني یاست (نو وخت یې راته وټاکئ).

ب: کله به چې د قیامت د ورځې څخه تخویف ورکړی شو نو دوی به ویلې چې دا ورځ به کله راځي لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿يَسْـَٔلُكَ ٱلنَّاسُ عَنِ ٱلسَّاعَةِ ۖ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِندَ ٱللَّهِ﴾ [الأحزاب: ۶۳] یعنې: ستا څخه خلک، قیامت د ورځې په هکله پوښتنه کوي (چې کله به وي)، نو ته ورته ووایه چې یقینًا د قیامت د قائم کېدلو علم خاص د الله ﷻ په نزد دی (او بس).

ج: کله-کله به دوی د دې دپاره په عجلې سره د عذاب غوښتنه کوله ترڅو عوامو ته فریب ورکړي چې قرآن کریم د الله ﷻ نازل کړی شوی کتاب نه دی. الله ﷻ فرمایي: ﴿وَإِذْ قَالُوا۟ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ﴾ [الأنفـال: ۳۲] او هغه وخت یاد کړه چې دوی وویلې چې: ای الله! که چرته دغه (قرآن کریم) ستا د نزد څخه همدا حق وي (په حقه نازل شوی وي) نو په مونږ باندې د اسمان څخه د کاڼو باران وکړه او یا مونږ ته (بل) دردناک عذاب راوړه.

یعنې: نو چې نه به پرې د کاڼو باران وشو او نه به سمدستي ورباندې دردناک عذاب نازل شو، دوی به عوامو ته په فریبانه ډول ویلې چې: دا قرآن رښتیانی د الله ﷻ کتاب نه دی.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د یوه اوږد حدیث شریف مضمون دی چې په مکه معظمه کښې نبي کریم ﷺ د کافرانو څخه یو وخت ډېر په تنګ شو نو الله ﷻ ملک الجبال (د غرونو پرښته) ور واستوله او ورته یې وویل چې که ستا خوښه وي نو دوی به د دوه وو غرونو څخه لاندې کړم (او ټول به پوړنا کړم)، مګر نبي کریم ﷺ دا کار خوښ نه کړ او ویې فرمایل چې: «بَلْ أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَ اللهُ مِنْ أَصْلَابِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللهَ وَحْدَهُ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا»[1] یعنې: بلکې زه اُمید لرم چې الله ﷻ د دوی د نسل څخه هغه څوک راوباسي (وزېږوي) چې یوازې د الله ﷻ عبادت وکړي او هیڅ شی ورسره شریک نه کړي.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا دغه آیت شریف ﴿لَّوْ أَنَّ عِندِى مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِۦ لَقُضِىَ ٱلْأَمْرُ بَيْنِى وَبَيْنَكُمْ﴾ د ذکر شوي حدیث شریف سره څه منافات نه لري؟

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۵۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: دلته منافات ځکه نشته چې:

الف: حديث شريف د انتقام په باره کښې دی چې نبي کريم ﷺ په کافرانو باندې د انتقام د کبله عذاب ورښکته نه کړ که څه هم د د ده ﷺ په اختيار کښې واچول شو، او ايت شريف د غوښتنې په شکله دی چې که بالفرض د عذاب نزول د نبي کريم ﷺ په اختيار کښې وی او کافرانو يې په نزول باندې داسې اصرار کړی وی لکه چې اوس يې ورباندې کوي نو ضرور به يې ورباندې ورنازل کړی وی او د دوی کار به يې فيصله کړی وی[1].

ب: مګر مونږ چې د نبي کريم ﷺ زړه سوی او د کافرانو په مسلمانېدلو باندې د ده حرص ته ګورو نو په جواب کښې وايو چې د ﴿ لَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ﴾ معنی دا نه ده چې په تاسو باندې به مې غوښتلی شوی عذاب درنازل کړی وی، بلکې معنی يې دا ده ـ والله ﷻ اعلم ـ چې د "هو" يا "نه" جواب به مې درکړی وی خو زه اوس هيڅ نه شم ويلی ځکه زما په لاس کښې هيڅ شی نشته او ټول اختيار د الله ﷻ سره دی چې په خپلو حکيمانه کارونو باندې ډېر ښه پوهېږي.

﴿وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَۚ وَيَعۡلَمُ مَا فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِۚ وَمَا تَسۡقُطُ مِن
وَرَقَةٍ إِلَّا يَعۡلَمُهَا وَلَا حَبَّةٖ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلۡأَرۡضِ وَلَا رَطۡبٖ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ
(٥٩) وَهُوَ ٱلَّذِي يَتَوَفَّىٰكُم بِٱلَّيۡلِ وَيَعۡلَمُ مَا جَرَحۡتُم بِٱلنَّهَارِ ثُمَّ يَبۡعَثُكُمۡ فِيهِ لِيُقۡضَىٰٓ
أَجَلٞ مُّسَمّٗىۖ ثُمَّ إِلَيۡهِ مَرۡجِعُكُمۡ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ (٦٠) وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ
عِبَادِهِۦۖ وَيُرۡسِلُ عَلَيۡكُمۡ حَفَظَةً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ تَوَفَّتۡهُ رُسُلُنَا وَهُمۡ لَا
يُفَرِّطُونَ (٦١) ثُمَّ رُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوۡلَىٰهُمُ ٱلۡحَقِّۚ أَلَا لَهُ ٱلۡحُكۡمُ وَهُوَ أَسۡرَعُ ٱلۡحَٰسِبِينَ (٦٢)﴾

[۵۹] او د الله ﷻ په نزد د غيبو خزانې دي (چې) هيڅوک ورباندې نه پوهېږي مګر همدی ﷻ (او بس). او الله ﷻ په هغه شي باندې پوهېږي چې په وچه کښې دي او چې په درياب کښې دي، او هيڅ يوه پاڼه نه پرېوزي مګر الله ﷻ پرې پوهېږي (او په علم کښې يې شته). او هيڅ يوه دانه د ځمکې په تيارو کښې (نه لوېږي) او نه لوند شی او نه وچ شی (پرېوزي) مګر (برسېره د الله ﷻ پر علم) په روښانه کتاب (لوح محفوظ) کښې هم دی.

[۶۰] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په شپه کښې تاسو اخلي (ويده کوي) او په هغه څه باندې پوهېږي چې تاسو يې د ورځې کسب کړي وي، بيا مو (د ويده کولو څخه وروسته) په ورځ کښې راپورته کوي (راويښوي) د دې دپاره چې تاکله شوې نېټه (عمر مو) پوره کړی شي.

---

[1] تفسير ابن کثير ج۲ ص۱۳۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

بیا خاص الله ﷻ ته ستاسو بېرته ورتلل دي، بیا به الله ﷻ تاسو په هغه څه باندې خبر کړي چې تاسو یاست چې کوئ یې.

[۶۱] او همدی (الله ﷻ) په خپلو بندګانو باندې (په قدرت سره) د پاسه دی (هیڅوک یې د ارادې څخه خپل ځان نه شي بچ کولی) او په تاسو باندې ساتونکې پرښتې (هم) استوي، آن تردې پورې چې کله ستاسو یو کس ته مرګ ورشي نو زمونږ لېږلې شوې (پرښتې) یې پوره واخلي (روح یې قبض کړي)، حال دا چې دوی (دغه استولې شوې پرښتې) هیڅ قصور نه کوي (او کامل اطاعت کوي).

[۶۲] بیا دوی ټول (انسانان) خاص الله ﷻ ته چې د دوی په حقه مالک دی ورتاوول کېږي. خبردار! خاص الله ﷻ لره حکم (فیصله) ده او همدی ﷻ د ټولو حسابګرو ډېر چابک (او تېز) دی.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې دې ته اشاره شوې وه چې د عذابونو نازلول او د فرمایشي معجزاتو واقع کول د الله ﷻ په قدرت کښې دي او همده ﷻ ته یې د نزول او وقوع وخت معلوم دی، په دې ایتونو کښې د الله ﷻ علم او قدرت ته څه تفصیل ورکړی شوی دی چې حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! مشرکانو ته د الله ﷻ کامل علم او کامل قدرت په لاندې ډول ښه پوره تشریح کړه چې ترڅو د یو پلوه په راتلونکې کښې تا په بې ځایه غوښتنو باندې ونه زوروي او د بله پلوه دوی خپل حقیقي مالک وپېژني او د بوتانو د پیروۍ څخه لاس واخلي:

الف: د ټولو غیبو خزانې په الله ﷻ پورې خاصې دي او په یوه ډول غیب کښې هم هیڅوک پوهه نه لري. یا په بل عبارت: د ټولو غیبي شیانو کونجیګانې صرف د الله ﷻ سره دي چې د ده ﷻ څخه په غیر ورباندې هیڅوک نه پوهېږي.

هو! دا بېله خبره ده چې الله ﷻ په خپل فضل سره په خپلو خاصو بندګانو باندې څه لطف وکړي او د غیبو یوه څنډه ورڅرګنده کړي او په څه باندې یې پوه کړي.

ب: الله ﷻ په هغو ټولو شیانو باندې پوهېږي چې په وچه کښې دي او یا په دریابونو کښې دي لکه څنګه چې ورته د وچې ټول غرونه، کانې، ساکښان، بوټي او نور معلوم دي، همدارنګه ورته د دریابونو ټول ساکښان او خزائن څرګند دي.

ج: په هیڅ یوه ونه کښې یوه پاڼه نه شنه کېږي او نه سقوط کوي مګر د هغې ټول کیفیتونه ورته معلوم دي چې څومره یې وزن دی او څومره یې طول او عرض دی او بالآخره څومره وخت به شنه وي کله به سقوط کوي او وروستنۍ مرحله به یې چرته او څنګه وي؟

د: هیڅ یوه دانه د ځمکې په ځبته کښې نه لوېږي (که څه هم ډېره کوچنۍ وي) مګر الله ﷻ ورباندې پوهېږي چې کله به راشنه شي، څومره شاخونه به وکړي، څومره دانې به ونیسي او عاقبت به یې څه کېږي؟. برابره خبره ده چې ذکره شوې دانه غوزېدلې وي او یا اچولې شوې (کرلې شوې) وي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵: همدارنگه هیڅ لوند شی او هیڅ وچ شی نه ښکته کیږي او نه پورته کیږي، نه خوځي او نه لوېږي مګر ټول برسېره په دې چې د الله ﷻ په علم کښې دي په لوح محفوظ کښې هم ثبت او لیکلي شوي دي، دا ده د الله ﷻ د علم لږ څه شرحه چې الله ﷻ د خپلو غیبي خزانو څخه درنازله کړه.

۲ـ ای پیغمبره! د خپل دعوتي امت کافرانو ته د الله ﷻ د قدرت لاندې نمونې بیانې کړه:

الف: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د شپې د مخې تاسو ویده کوي چې نه څه اورېدلی شئ او نه څه لیدلی شئ او نه څه کار او کسب کولی شئ، بلکې ارام پراته اوسئ چې نابلده سړی درباندې د مړو ګومان کوي، مګر د ورځې د مخې تاسو دومره لوی لوی کارونه او دومره غټې-غټې خبرې کوئ چې د هغو په کیفیاتو باندې یوازې الله ﷻ پوه دی، آن تردې چې ستاسو د ځینو شرکي خبرو د کېله نژدې وي چې اسمان ټوټې شي او ځمکه وچوي او بالآخره غورونه دړې وړې شي، هغه دا خبره چې د الله ﷻ سره شریک دروئ، نو که بالفرض ستاسو د شپې ناتواني او د ورځې تکبر سره یو ځل مقائسه کړی شي نو داسې به ښکاره شي چې دغه متکبرین هغه څوک نه دي چې د شپې بې سده پراته وه او د خپلو خانونو څخه یې مچ هم نه شو شړلی.

ب: که بالفرض الله ﷻ تاسو د درانه خوبه راویښ نه کړي نو د قیامت تر ورځې پورې به هم راویښ نه شئ او ویده به پراته یاست، خو الله ﷻ تاسو د ورځې د مخې بېرته راویښوي ترڅو کاروبار پیل کړئ او د قیامت ورځ درپه زړه کړئ چې همدغه ډول به د قبرونو څخه راپورته کړی شئ، همدغه سلسله (ویده کول او راویښول) به ترهغه جریان لري ترڅو مو چې د مرګ ټاکلې نېټه پوره کړی شي.

کله چې پوره شوه نو بیا مو الله ﷻ په دائمي خوب باندې ویده کوي او ارواګانې مو په کامله توګه قبض کوي او بدنونه مو منحل کوي چې د قیامت په ورځ کښې به مو بېرته راژوندي کړي او د الله ﷻ په حضور کښې به ودرولی شئ چې بیا به مو الله ﷻ په هغو ټولو کړو وړو باندې خبر کړي چې تاسو اوس لګیا یاست او کوئ یې.

ج: خاص الله ﷻ په خپلو مخلوقاتو باندې قاهر (د غلبې څښتن) دی چې دوی ټول یې په مقابل کښې ناتوانه دي او په هیڅ شي باندې وسه نه لري.

د: د الله ﷻ د کامل قدرت یوه نمونه دا ده چې په تاسو باندې ستاسو د اعمالو د ثبت او حفظ کولو دپاره څه پرښتې درلېږي، چې تاسو ترې په هیڅ ډول سره خپل ځانونه نه شئ بچ کولی او نه ترې کوم عمل پټولی شئ.

ه: ذکره شوې عملیه تر هغه وخته پورې مسلسله جریان لري ترڅو چې د الله ﷻ په امر سره ستاسو کوم یوه ته مرګ ورسېږي، نو په دغه وخت کښې زمونږ نورې لېږلې شوې پرښتې تاسو په کامله توګه قبض کوي او د الله ﷻ په امریه کښې هیڅ قصور نه کوي، او څنګه یې چې ورته هدایت کړی وي په همغه ډول سره یې ټول کیفیات مراعات کوي چې نه وراندې والی کوي او نه

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وروسته والی، نه شدت او نه تخفیف او داسې نور.

یا په بل عبارت: دا ځل مو په داسې خوب باندې ویده کوي چې د قیامت تر ورځې نه شئ راویښېدلی.

و: بیا نو ټول انسانان (مسلمانان وي او که کافران) الله ﷻ ته وروستل کېږي چې د ټولو حقیقي او واقعي تولګه مالک دی او هیڅوک توان نه لري چې هلته د وروستلو څخه انکار وکړي او یا ترې ځان بچ کړي.

۳ـ ای پیغمبره! په آخره کښې کافرانو ته اعلان وکړه چې: خبردار! خاص الله ﷻ لره په دنیا او آخرت دواړو کښې حکم او فیصله کول دي چې په ډېرې تېزۍ سره محاسبه کوي او هر چاته فیصله ورکوي چې فلانی د دې شي مستحق دی او د فلاني دپاره دا ډول جزا په کار ده.

۴ـ نو ای کافرانو! هر کله چې ټول شیان د الله ﷻ پورې هم د علم او هم د قدرت د حیثه اختصاص لري نو ماته مه د علمي شیانو فرمایش راکوئ چې قیامت به کله راشي او مه راڅخه قدرتي شیان غواړئ چې فلانی فرمایشي معجزه راوړه او یا راباندې عذاب رانازل کړه او یا داسې نور.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ مَفَاتِحُ ﴾ کلمه یا د "مَفْتَح" جمعه ده (د میم په زوَر سره)، "مَفْتَح" خزانې ته وايي. او یا د "مِفْتَح" جمعه ده (د میم په زیر سره)، "مِفْتَح" کنجي ته وايي[1].

## په یاد ولرئ!

۲ـ په یاد ولرئ کونجي ته په دې اعتبار سره مفتح یا مفتاح وايي چې د خزانې قلف ورباندې پرانستلی کېږي، او په دې اعتبار سره "مِغْلَق" یا "مِغْلاق" نومېږي چې خزانه ورباندې بندېږي او قلف ورباندې وراچولی کېږي.

په هر تقدیر، ذکر شوي دواړه نومونه د کنایې په توګه د ښه یا بد سړي په باره کښې هم استعمالېږي. نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «إِنَّ مِنَ النَّاسِ مَفَاتِيحَ لِلْخَيْرِ مَغَالِيقَ لِلشَّرِّ وَإِنَّ مِنَ النَّاسِ مَفَاتِيحَ لِلشَّرِّ مَغَالِيقَ لِلْخَيْرِ فَطُوبَى لِمَنْ جَعَلَ اللهُ مَفَاتِيحَ الْخَيْرِ عَلَى يَدَيْهِ وَوَيْلٌ لِمَنْ جَعَلَ اللهُ مَفَاتِيحَ الشَّرِّ عَلَى يَدَيْهِ»[2] یعني: یقینًا ځینې د خلکو څخه د خیر دپاره د پرانستلو کونجیګانې دي او د شر دپاره د قلف (بندولو) کونجیګانې دي، او یقینًا ځینې د خلکو څخه (بالعکس) د شر دپاره د پرانستلو کونجیګانې دي، او د خیر دپاره د قلف کولو (بندولو) کونجیګانې دي، نو د هغه چا دپاره پاکیزګي (خوشالي) ده چې الله ﷻ د ده په لاس باندې د خیر کونجیګانې وګرځوي، او افسوس (حسرت) دی هغه چاله چې الله ﷻ د ده په لاس باندې د شر کونجیګانې وګرځوي.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۵ ص۲۱۳

(۲) سنن ابن ماجه ج۱ ص۲۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په هر تقدیر، په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راوځي چې د غیبو تولې خزانې الله ﷻ پورې خاصې دي. او یا یې د معنی حاصل داسې راځېږي چې د غیبو تولې کونجیګانې په الله ﷻ پورې مختصې دي او د ده ﷻ څخه په غیر د نورو ټولو په مخ ترلې دي.

هو! دا بېله خبره ده چې په خپل فضل سره خپلو خاصو بندګانو ته د غیبي خزانو څخه څه شی وربېرزو کړي، لکه چې فرمايي: ﴿ وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُطۡلِعَكُمۡ عَلَى ٱلۡغَيۡبِ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يَجۡتَبِي مِن رُّسُلِهِۦ مَن يَشَآءُ ﴾ [آل عمران: ۱۷۹] یعني: او الله ﷻ نه دی چې تاسو په غیبو باندې مطلع (خبر) کړي مګر الله ﷻ د خپلو پیغمبرانو څخه هغه څوک غوره کوي چې اراده یې ورته وشي (او وحې ورته وکړي).

## غیب څه معنی؟

۳ـ مونږ د غیبي علومو په باره کښې د [الأنعام: ۵۰] ایت لاندې څه معلومات لیکلي دي چې یو خل کتل یې بد نه دي، مګر دلته ورباندې لاندې معلومات وراضافه کوو:

الف: د "غَیْب" کلمه مصدر ده مګر د اسم فاعل (غائب) په معنی باندې استعمالېږي[۱].

ب: نو غیب یا د هغه موجود شي څخه عبارت دی چې د حواسو څخه غائب وي او یا د هغه معدوم شي څخه عبارت دی چې د وجود څخه غائب وي چې لا موجود شوی نه وي.

ج: د الله ﷻ علم په موجوداتو باندې بالمشاهده دی چې هیڅ موجود ترې نه شي غائب کېدلی، او په معدوماتو باندې بالغیب دی چې موجود به شي او که نه، که موجود شي نو په څه کیفیت به وي او داسې نور[۲].

د: اما د بندګانو علم په هغو موجوداتو باندې بالمشاهده دی چې د حواسو لاندې یې واقع کېږي او په هغو موجوداتو او یا معدوماتو باندې بالغیب دی چې د ده د حواسو لاندې واقع نه وي او د دوی د علم لاندې راشي چې په ایت یا حدیث سره ثابت وګرځولی شي.

## یادونه

۴ـ څینو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ ﴾ دپاره ډېر تفسیرونه کړي دي[۳]، لکه د اجرونو خزانې، د عذابونو خزانې، د رزقونو خزانې او داسې نور.

مګر مونږ ته داسې برېښي چې مفسرینو کرامو به د ﴿ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ ﴾ دپاره فقط مثالونه ښودلي وي او حصر به یې مطلب نه وي، نو په دې تقدیر عالم الأرواح، عالم الجن، عالم الانس، عالم البحار، عالم البر او داسې نور ټول د ذکرې شوې کلمې لاندې راځي لکه چې همدې مضمون ته په ایت شریف کښې اشارې شته.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۸۱
(۲) تفسیر المنار ج۷ ص۴۵۸؛ تفسیر الطبري ج۵ ص۲۱۲
(۳) زاد المسیر ج۳ ص۳۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: يو ځل نبي کريم ﷺ د ﴿ مَفَاتِحُ ٱلْغَيْبِ ﴾ د کلمې په تفسير کښې وفرمايل چې: «مَفَاتِحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ»[1] يعني: غيبي خزانې او يا غيبي کونجيګانې پنځه دي. او د استشهاد په توګه يې د [لقمان:۳۴] ايت شريف ولوست په کوم کښې چې دغه لاندې پنځه شيان ذکر دي:

اول: د قيامت د ورځې علم د الله ﷻ پورې خاص دی.

دوهم: په باران باندې يوازې الله ﷻ پوهېږي چې کله به وورېږي.

دريم: يوازې الله ﷻ په هغه شي باندې پوهېږي چې په رحمونو کښې تقرر لري.

څلورم: همدارنګه يوازې الله ﷻ ته معلومه ده چې سبا ته به مثلاً خلک څه څه کارونه کوي.

پنځم: او د الله ﷻ څخه پرته په دې باندې هم هيڅوک نه پوهېږي چې په کومه ځمکه به مرکېږي.

نو پوښتنه دا ده چې: په دې کښې څه حکمت دی چې نبي کريم ﷺ ذکره شوې کلمه صرف په پنځو غيبو باندې تفسيره کړه او بس؟

مونږ وايو چې:

الف: ځينو مفسرينو کرامو[2] زيات زور لګولی دی چې د الله ﷻ ټولې غيبي خزانې يا د غيبي خزانو کونجيګانې په ذکرو شوو پنځو خزانو يا په پنځو کونجيګانو کښې منحصرې کړي، ته به وايې چې درياب ته په کوزه کښې د بندولو نيت لري، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې بعيد تاويلونه ولولي.

ب: مونږ ته داسې برېښي چې د ذکرو شوو پنځو خزانو نومونه د مثال په توګه اخستل شوي دي او حصر پکښې مطلب نه دی، شايد چې د دغو پنځو په ذکر کښې به لاندې حکمتونه وي، والله اعلم:

اول: د قيامت د ورځې پوښتنه ډېر خلک کوي، څوک د تعنت (عناد) د کبله او څوک د دې کبله چې تياری ورته ونيسي.

دوهم: د باران ورښت ته هم خلک سترګې په لار وي چې کله به ځمکه خړوبه شي، د همدې کبله د باران د ورښت په دروغينو معلوماتو باندې جوګيان د خپلو ځانونو دپاره په خلکو کښې د مقبوليت موندلو هڅې کوي.

دريم: د ما في الارحام په معلوماتو باندې هم خلک مينه کوي چې د زوی پلار به جوړ شي او که د لور؟ خصوصاً په موجوده زمانه (۱۳۷۳ هـ ش) کښې خو دا شبهه ډېره ښکته پورته کېږي چې د مور په ګېډه کښې نارينه او ښځينه اولاد په پېژاندنه باندې ځينې ډاکټران بريالي شوي دي، خو-ان شاء الله الرحمن- مونږ به ورته د [الرعد:۸] ايت او د [لقمان:۳۴] ايت لاندې غانبن ماتوونکی جواب ورکړو که الله ﷻ په خپل فضل سره هلته د رسېدلو توفيق راکړ.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۶۶۴
(۲) تفسير المنار ج۷ ص۴۶۸.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څلورم: هرڅوک د خپلو روزمره کارونو دپاره مهال وېش ټاکي. او په حکومتونو باندې خو د خطه المشي (تګلارې) بیانول حتمي شی دی.

پنځم: که هرڅومره مغروره او غافل انسان وي هم د خپل مرګ څخه نه شي بې غمه کېدلی چې کله به مړ کېږي او چرته به خاورو ته سپارل کېږي او داسې نور.

لنډه دا چې د ذکرو شوو پنځو خزانو د معلوماتو دپاره اکثره خلک تږي دي نو الله ﷻ د ټولو نه غوڅه کړه چې د الله ﷻ څخه پرته وربانديې بل څوک نه پوهېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې قيصه ولولئ:

## یوه عجیبه قیصه

۶_ مونږ اورېدلي دي چې کوم یوه باچا ملک الموت ﷺ په خوب کښې ولید او وپوښتنه یې ترې وکړه چې زما به څومره عمر پاتې وي؟ ملک الموت ﷺ ورته د لاس په پنځو ګوتو باندې اشاره وکړه. باچا چې د خوب څخه راویښ شو نو د ډېرې زیاتې وارخطائی سره مخامخ شو او ګومان یې کاوه چې البته عمر به یې د ګوتو په شمار پنځه ورځې یا پنځه میاشتې او بالآخره یا پنځه کاله پاتې وي. د مملکت د تعبیر المنام (د خوبونو د تعبیر کولو) پوهان ټول چپ وه او په خلکو باندې د غم تیاره خوره شوه، مګر په همدې منځکښې یوه باشعوره عالم دوی د غمه خلاص کړه او باچا یې مخاطب کړ چې: ملک الموت ﷺ تاته جواب درکړی دی چې ستا د عمر معلومات ماته نشته، ځکه چې دا د هغو پنځو خزانو څخه دي چې کونجیګانې یې یوازې او یوازې د الله ﷻ سره دي او بس. نو په دې تعبیر سره باچا خوشاله شو او ذکر شوي عالم ته یې ډېر غټ انعام ورکړ.

## سوال جواب

۷_ که څوک وايي چې: د ذکرو شوو تشریحاتو په بنا د ﴿ وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ ﴾ جمله ټولو غیبي خزانو ته شامله شوه، نو په دې کښې څه حکمت دی چې په عین ایت شریف کښې د ځینو په نومونو باندې صراحت وکړی شو، لکه وچه، لمده، خزان شوې پاڼه، لوېدلې دانه، ساقط شوی لوند شی، او یا لوېدلی وچ شی؟

مونږ وايو چې: حکمت پکښې دا دی ـ والله ﷻ اعلم ـ چې:

الف: هلته اجمال وه او وروسته یې تفصیل دی او د اجمال څخه وروسته په ذهن کښې تفصیل ډېر ښه کښیني.

ب: ذکره شوې جمله ﴿ وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ ﴾ د الله ﷻ د علم په عموم باندې عقلًا دلالت کوي نو په متباقي ایت شریف کښې د ځینو محسوساتو نومونه هم واخستل شوه ترڅو د انسان په پوه کولو کښې عقل او خواس دواړه سره لاسونه یو کړي، ترڅو د ټولو طبقاتو انسانان پرې عقیده وکړي.

ج: ترڅو خلک پوه شي چې الله ﷻ بې ارزښته شی (لکه خزان شوې پاڼه) هم بې لیکنې نه دی پرېښې نو د انسان کړه وړه به یې څنګه نه وي لیکلي چې ثواب او عقاب ورپورې ارتباط لري.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "کتاب مبین" د کوم کتاب نوم دی؟

۸_ ځینو مفسرینو کرامو⁽¹⁾ په دې مقام کښې د ﴿ كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴾ څخه د الله ﷻ علم مراد کړی دی چې د وړاندېني مضمون دپاره تاکید واقع کېږي او د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: تکراراً واورئ چې د ټولو خزانو کونجیګانې د الله ﷻ پورې خاصې دي او ټول شیان د الله ﷻ په علم کښې دي.

مګر دا تفسیر د یو پلوه متبادر نه دی او د بل پلوه تاکید دی او د تاکید څخه تاسیس بهتر دی. نو ځکه مونږ وایو چې ﴿ كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴾ په دې مقام کښې د الله ﷻ د یوه ازلي کتاب څخه عبارت دی چې الله ﷻ پکښې د ټولو مخلوقاتو ټول کیفیات د دنیا د پیدایښت څخه وړاندې لیکلي دي، چې په لیکلي شوي توګه مخلوقات پیدا کېږي او فنا کېږي او دا سلسله به د قیامت د ورځې پورې روانه وي.

ذکر شوی کتاب د "اُم الکتاب" په نوم هم یاد شوی دی، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَعِندَهُۥٓ أُمُّ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ [الرعد:۳۹] یعني: او د الله ﷻ په نزد اُم الکتاب (اصلي کتاب) دی. او لوح محفوظ هم ورته ویل شوی دی، الله ﷻ فرمایي: ﴿ فِى لَوْحٍ مَّحْفُوظٍ ﴾ [البروج:۲۲] یعني: الله ﷻ قرآن کریم هم په لوح محفوظ کښې ساتلی دی.

همدې کتاب ته د "إمَام مُبین" لقب هم ورکړی شوی دی، الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَكُلَّ شَىْءٍ أَحْصَيْنَٰهُ فِىٓ إِمَامٍ مُّبِينٍ ﴾ [یس:۱۲] یعني: او هر شی مو شمېرلی دی په څرګند امام (لوح محفوظ) کښې.

په ذکر شوي کتاب باندې عقیده کول ضرور دي، اما د هغو معلوماتو څخه علاوه چې په ایت یا حدیث کښې ثابت دي، بله خبره کول پکښې په کار نه ده. لاندې وضاحت ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایي: ﴿ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآ ﴾ [الحدید: ۲۲] یعني: هیڅ مصیبت نه په ځمکه کښې او نه ستاسو په نفسونو کښې رسېږي مګر هغه په یوه کتاب کښې (لیکلی شوی) دی، د دې څخه وړاندې چې نوموړی مصیبت مونږ خلق (پیدا) کړو.

ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا أَنْتَ لَاقٍ»⁽²⁾ یعني: په هغه شي باندې قلم وچ شوی دی چې ته ورسره پیوسته کېدونکی یې (تغیر نه قبلوي).

عبد الرحمن مومند علیه الرحمة د همدې حدیث مضمون په خپلو اشعارو کښې څومره په ښه توګه انځور کړی دی چې:

عاقبت به د تقدیر ښکلی وربیښ شي :: که په اوښکو د چا ټول جهان چقړ شي⁽³⁾

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۳ ص۱۱
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۰
(۳) د عبد الرحمن مومند دیوان

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو .



## یادونه

۹_ مونږ د [آل عمران:۵۵] ایت لاندې لیکلي دي چې د "تَوَفِّي" کلمه په قرآن کریم کښې هم د خوب (ویده کولو) په معنی او هم د روح د قبض په معنی باندې استعماله شوې ده، دلته ورباندې نقط همدومره ورزیاته وو چې: په ذکرو شوو ایتونو کښې یې په دواړو معناوو کښې استعمال موندلی دی چې شرحه یې دا ده:

الف: د ﴿ يَتَوَفَّـٰكُم ﴾ کلمه د "توفی" څخه اخستله شوې ده چې د ویده کولو معنی ورکوي، لکه چې ﴿ ثُمَّ يَبۡعَثُكُمۡ فِيهِ ﴾ جمله ورباندې دلالت کوي. یعنې: الله ﷻ تاسو د شپې د مخې اوده کوي بیا مو په ورځ کښې راویښوي ترڅو خپل ټاکلي عمرونه تر پایه ورسوئ.

ب: د ﴿ تَوَفَّتۡهُ ﴾ کلمه هم د "توفی" څخه اشتقاقه شوې ده چې د روح د قبض په معنی سره ده، لکه چې ﴿ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ ﴾ جمله ورباندې رڼا اچوي. یعنې: د ملائکو لیکنه او د کړو وړو ثبت مو تر هغه وخته پورې جریان لري ترڅو چې ستاسو ارواګانې زمونږ ملائک قبض کړي.

### فَوقیت څه معنی؟

۱۰_ که څه هم مونږ د [الأنعام:۱۸] ایت لاندې د ﴿ وَهُوَ ٱلۡقَاهِرُ فَوۡقَ عِبَادِهِۦ ﴾ د جملې ښه پوره شرحه لیکلې ده مګر په دې مقام کښې ورباندې زیاتوو چې د ﴿ فَوۡقَ ﴾ کلمه په لاندې ګڼ شمېره معناوو کښې استعمالېږي[1]:

الف: فوقیت (پورته والی) د مکان په اعتبار سره. لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِيَ مِن فَوۡقِهَا ﴾ [فصلت: ۱۰] یعنې: الله ﷻ په ځمکه کښې د دې دپاسه غرونه پیدا کړي دي.

ب: فوقیت د هوا (فضا) په اعتبار سره. لکه ﴿ قُلۡ هُوَ ٱلۡقَادِرُ عَلَىٰٓ أَن يَبۡعَثَ عَلَيۡكُمۡ عَذَابٗا مِّن فَوۡقِكُمۡ أَوۡ مِن تَحۡتِ أَرۡجُلِكُمۡ ﴾ [الأنعام: ۶۵] یعنې: الله ﷻ قادر دی چې ستاسو د پاسه د فضا له طرفه درباندې عذاب دربښکته کړي او یا یې درباندې د پښو له طرفه درواستوي.

ج: فوقیت د لوړې او ژورې په اعتبار سره. لکه ﴿ إِذۡ جَآءُوكُم مِّن فَوۡقِكُمۡ وَمِنۡ أَسۡفَلَ مِنكُمۡ ﴾ [الأحزاب: ۱۰] یعنې: هغه درپه زړه کړئ چې د کافرانو لښکر تاسو ته ستاسو د پاسه هم درغی او ستاسو د لاندې خوا څخه هم درغی.

د: فوقیت د عدد په اعتبار سره. لکه ﴿ فَإِن كُنَّ نِسَآءٗ فَوۡقَ ٱثۡنَتَيۡنِ ﴾ [النساء:۱۱] یعنې: که د مړي لورګانې د دوه وو څخه د پاسه وي.

ه: فوقیت د غټوالي او کوچنیوالي په اعتبار سره. لکه ﴿ مَثَلٗا مَّا بَعُوضَةٗ فَمَا فَوۡقَهَا ﴾ [البقرة:۲۶] یعنې: الله ﷻ تاسو ته د میاشي لا د ده څخه (د صغر او کبر په لحاظ) د ورپورته ساکښانو مثال بیانوي.

---

[1] مفردات الراغب ص ۴۰۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


و: فوقيت د دنياوي فضيلت په اعتبار سره. لكه ﴿ وَرَفَعْنَا بَعْضَهُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَٰتٍ ﴾ [الزخرف: ۳۲] يعني: مونږ په دنياوي رتبو كښې ځينې خلک په ځينو نورو باندې د پاسه كړي دي. يا لكه چې وايي: "الْيَاقُوتُ فَوْقَ الْحَدِيْدِ"(۱) يعني: د ياقوتو شان او منزلت په اوسپنه باندې د پاسه دی.

ز: فوقيت د اُخروي فضيلت په اعتبار سره. لكه ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْاْ فَوْقَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ [البقرة: ۲۱۲] يعني: متقيان (چې د شرک او كفر څخه يې ځانونه ساتلي وي) په كافرانو باندې د قيامت په ورځ د پاسه دي.

ح: فوقيت د قهاريت او غلبې په لحاظ سره. لكه همدغه ايت شريف چې اوس د بحث لاندې دی ﴿ وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ ﴾ (الآية) يعنې: الله ﷻ په خپلو مخلوقاتو باندې د قهاريت او غلبې په لحاظ سره د پاسه دی، هرڅه چې وغواړي ورباندې اجراء كولی يې شي.

## حفظه ملائک د كومو ملائكو نوم دی؟

۱۱ـ كوم ملائک چې د انسانانو سره موظف دي په قرآن كريم كښې په لاندې صفاتو سره ياد شوي دي:

الف: په ذكر شوي ايت شريف كښې په ﴿ حَفَظَةً ﴾ سره موصوف شوي دي چې د حافظ جمعه ده، يعنې: ساتونكي ملائک.

ب: د [الأنفطار: ۱۱] ايت كښې په ﴿ كَٰتِبِينَ ﴾ سره موصوف شوي دي، يعنې ليكونكي ملائک.

په هر تقدير، په دې مقام كښې ځينې علماء كرام وايي(۲) چې: د حفظه ملائكو څخه كرام كاتبين (ليكونكي ملائک) مراد دي، ځكه چې همدوی د بنيادمانو كړه وړه ليكلي او د حفظ (ثبت) لاندې يې واقع كوي.

او ځينې نور وايي(۳) چې دلته ترې هغه ملائک مراد دي چې د هر انسان سره د حفاظت او ځارنې دپاره گرځي راگرځي، كه بالفرض دغه ملائک نه وی نو انسان به په ځمكه كښې د پيريانو او نورو افتونو څخه ژوند نه وی كړی.

مگر مونږ ته بهتره ښكاري چې په دې مقام كښې د حفظ د كلمې څخه فقط ساتونكي ملائک مراد شي، برابره خبره ده چې اعمال حفظ (ثبت) كوي او كه د آفتونو څخه يې حفاظت كوي.

مونږ ځكه دغه عامه معنی واخستله چې د ﴿ وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ ﴾ د جملې سره ښه سمون خوري. يعنې: الله ﷻ په خپلو بندگانو باندې په علم او قدرت سره دومره د پاسه دي چې د هر انسان سره يې ملائک ټاكلي دي چې ورسره گرځي راگرځي او هيڅوک ترې خپل عمل نه شي پټ كولی او نه يې د ځانه څخه يو طرف ته كولی شي.

(۱) المحرر الوجيز ج۶ ص۶۶
(۲) تفسير البغوي ج۲ ص۱۰۲
(۳) البحر المحيط ج۴ ص۵۲۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څوک غواړي چې د هغو ملائکو په هکله پوره معلومات حاصل کړي کومې چې د هر انسان سره ګرځي راګرځي، چې شمېره یې څومره ته رسېږي او په څه کیفیت باندې یې د زره په حسناتو او سیئاتو باندې پوهېږي؟ او داسې نور، نو ځینو تفاسیرو[۱] ته دې مراجعه وکړي. خو په دې کتاب کښې په همدې اړوند د [الرعد: ۱۱] ایت لاندې ان شاء الله ﷻ څه نور وضاحت هم راروان دی.

## سوال جواب

۱۲_ که څوک وایي چې: الله ﷻ د کافرانو په باره کښې فرمایلي دي چې: ﴿ وَأَنَّ ٱلْكَـٰفِرِينَ لَا مَوْلَىٰ لَهُمْ ﴾ [محمد: ۱۱] یعنې: الله ﷻ ځکه کافران پوښتنا کوي چې دوی مَولٰی نه لري. حال دا چې په دې مقام کښې الله ﷻ خپل اقدس ذات د ټولو انسانانو دپاره (چې کافران هم پکښې شامل دي) مولی ښودلی دی چې: ﴿ ثُمَّ رُدُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ مَوْلَىٰهُمُ ٱلْحَقِّ ﴾، ایا دا تناقض نه دی؟

مونږ وایو چې: هلته د کلام سیاق او سباق (وړاندې بېرته) دلالت کوي چې د مولٰی څخه ناصر مطلب دی او کافران خو ناصر نه لري، او دلته ترې حقیقي مالک مراد دی[۲]، او ښکاره ده لکه څنګه چې الله ﷻ د مؤمنانو حقیقي مالک دی همدارنګه د کافرانو حقیقي مالک هم دی.

## د حساب د سرعت معنی

۱۳_ په ﴿ وَهُوَ أَسْرَعُ ٱلْحَـٰسِبِينَ ﴾ کښې د "أَسْرَعُ" کلمه د "سَرِيعٌ" دپاره د تفضیل صیغه ده چې په زیات سرعت باندې دلالت کوي.

د حساب سرعت علي ﷺ په ډېره ښه طریقه باندې تفسیر کړ، البته کله چې ترې پوښتنه وشوه چې: الله ﷻ د خپلو ټولو بندګانو سره په یوه حال کښې څنګه محاسبه کوي؟

ورته یې وفرمایل چې: «كَمَا يَرْزُقُهُمْ فِيْ حَالَةٍ وَاحِدَةٍ فِي الدُّنْيَا»[۳] یعنې: لکه څنګه چې الله ﷻ خپلو ټولو بندګانو ته په یوه آن کښې په دنیا کښې روزي ورکوي او د یوه روزي ورکول یې د بل د روزي ورکولو څخه نه غافل کوي، همدارنګه به د قیامت په ورځ په یوه وخت کښې د ټولو سره محاسبه وکړي او د یوه حساب به د بل په حساب باندې څه تاثیر وانه چوي.

﴿ قُلْ مَن يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَـٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ تَدْعُونَهُۥ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً لَّئِنْ أَنجَىٰنَا مِنْ هَـٰذِهِۦ لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلشَّـٰكِرِينَ ﴿٦٣﴾ قُلِ ٱللَّهُ يُنَجِّيكُم مِّنْهَا وَمِن كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ أَنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٦٤﴾ قُلْ هُوَ ٱلْقَادِرُ عَلَىٰٓ أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ

---

(۱) روح المعاني ج۷ ص۱۷۵.

(۲) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۱۴۵

(۳) المحرر الوجیز ج۶ ص۶۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ ۗ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ
يَفْقَهُونَ ﴿٦٥﴾ وَكَذَّبَ بِهِ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ۚ قُل لَّسْتُ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ ﴿٦٦﴾ لِّكُلِّ نَبَإٍ
مُّسْتَقَرٌّ ۚ وَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٦٧﴾ ﴾

[۶۳] (ای پیغمبره! خلکو ته) ووایه چې: هغه څوک دی چې تاسو ته د وچې او لمدې (بیابان او دریاب) د تیارو (مشکلاتو) څخه نجات درکوي چې تاسو یې په زاریو (څرګنده توګه) او په پټه توګه باندې بلئ، (داسې بلنه چې) قسم دی که مونږ ته د دغو (مشکلاتو) څخه نجات راکړي، نو خامخا به مونږ د شاکرانو د ډلې څخه جوړ شو (جواب راکړئ! بلل شوی څوک دی؟).

[۶۴] (ای پیغمبره! د دوی د جواب څخه وړاندې ورته) ووایه (جواب ورکړه) چې: الله ﷻ تاسو ته د دغو (مشکلاتو) څخه او د هرې سختۍ څخه نجات درکوي، بیا تاسو (ورسره په عبادت کښې) شریکان جوړوئ (او خپل قسمونه د پښو لاندې کوئ).

[۶۵] (ورته) ووایه چې: همدی ﷻ په دې باندې (هم) قادر دی چې په تاسو باندې ستاسو د پاسه عذاب درولېږي، یا ستاسو د پښو لاندې خوا څخه (مو په عذاب باندې اخته کړي، او) یا مو (د عداوت د حیثه) په داسې حال کښې ګډوډ کړي چې ډلې ډلې یاست، او څینو ستاسو ته د څینو نورو جنګ وروڅکي. ګوره چې مونږ څنګه بیا-بیا (دوی ته) خپل ایتونه (دلایل) بیانوو، شاید چې دوی (په ژورې پوهې سره) پوه شي.

[۶۶] او دې (قرآن کریم) ته ستا قوم د دروغو نسبت کوي، حال دا چې همدا حق دی (د واقع سره مطابق دی). ورته ووایه چې: زه خو په تاسو باندې د وکیل په حیث نه یم استولی شوی (چې ستاسو د کفریاتو ذمه واري زما په غاړه شي).

[۶۷] د هر خبر (وینا) دپاره د ثبات (تقرر او تحقق) ځای (او زمانه) شته، او ژر دی چې تاسو به (پرې) پوه شئ.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د الله ﷻ د کامل قدرت دوه وو مثالونو ته اشارې شوې دي:

۱ ــ یعنې: ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې تاسو ته څه مناسب دي چې د الله ﷻ سره په عبادت کښې نور شیان شریکوئ حال دا چې د الله ﷻ څخه په غیر نه د واقع شوي عذاب څخه بل څوک نجات درکولی شي او نه درڅخه د واقع کېدونکي عذاب مخه بل څوک اړولی شي. نو د دې دپاره چې ذکر شوی مضمون مو په زړونو کښې ښه ځای ونیسي، د لاندې پوښتنو جوابونه راکړئ:

الف: ای خلکو! هغه څوک دی چې تاسو ته په وچه او لمده (بیابان او دریاب) کښې د مشکلاتو څخه نجات درکوي چې په ډېرې عاجزۍ سره یې بلئ او هم په څرګنده توګه او هم په زړه کښې ترې د

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مشکلاتو حل غواړئ او بالآخره په ډېر اخلاص په قسمونو سره کلکې وعدې ورکوئ او وایئ چې که مونږ ته یې د دغه واقع شوي مشکل څخه نجات راکړ نو مونږ به خپل ځانونه د شاکرانو له ډلې څخه جوړ کړو او په عبادت کښې به ورسره شریک ونه دروو؟.

ای خلکو! ووایاست چې په دغسې خطرناک حالت کښې تاسو د چا څخه د نجات تمه لرئ؟ او چا ته په قسمونو سره د خلوص وعدې ورکوئ؟

ای پیغمبره! که څه هم مشرکان د دې څخه په غیر بل جواب نه لري چې په دغسې خطري حالت کښې مونږ د الله ﷻ څخه د نجات تمه لرو او همده ﷻ ته د اخلاص وعدې ورکوو، مګر د دوی د جواب څخه وړاندې د دوی جواب شرحه کړه چې تاسو په دغسې حالت کښې الله ﷻ ته تمه لرئ او همده ﷻ ته د توحید وعدې ورکوئ، ترڅو ستا دپاره ذکر شوی جواب د معجزې بڼه ولري.

او دا ځکه که بالفرض الله ﷻ تاته د دوی د زړونو کیفیت نه وی شرحه کړی نو ته به څه پوه شوی وی چې دوی چاته زاری کوي او په زاریو کښې مخلص دي او که نه؟.

نو ای پیغمبره! بیا ورته ووایه چې الله ﷻ خو صرف د هغه مشکل څخه نجات درکوونکی نه دی چې تاسو پرې اخته یاست او د وارخطایئ سره یې مخامخ کړي یاست، بلکې الله ﷻ خو تاسو ته د هر مشکل څخه نجات درکوي خو تاسو په خپل عهد او لوظ باندې نه درېږئ چې د نجات څخه وروسته بېرته خپل مشرکانه کړنلارې ته ورګرځئ؛ ته به وایې چې نه مو د توحید عهد کړی دی او نه مو چېرته د مشکلاتو څخه نجات موندلی دی.

ب: ای پیغمبره! خلکو ته دا هم ووایه چې د الله ﷻ قدرت خو په دې کښې منحصر نه دی چې تاسو ته د واقع شوي مشکلاتو څخه نجات درکوي (که اراده یې وشي) بلکې الله ﷻ په هره ګړۍ کښې قادر دی چې یا درباندې د پاسه عذاب نازل کړي لکه څنګه یې چې د لوط ﷺ په قوم او هم په اصحاب الفیل باندې نازل کړی وه، او دا یې هم د وسې پوره ده چې د ځمکې د پلوه مو په سخت عذاب باندې اخته کړي لکه څنګه یې چې قارون په ځمکنې عذاب باندې اخته کړی وه چې ځمکې ښکته خپل ځان ته ورکش کړ.

یا په بل عبارت: اسمان او ځمکه دواړه د الله ﷻ په واک او اختیار کښې دي او تاسو د دواړو په منځکښې راګیر یاست او د تېښتې هیڅ لاره نه شئ موندلی.

او بالآخره الله ﷻ په دې باندې هم قادر دی چې د پاس او یا لاندې څخه نه، بلکې ستاسو د داخل څخه درباندې لوی مصیبت درنازل کړي چې ډلې-ډلې شئ او یوه ډله د بلې ډلې دپاره مصیبت جوړ شئ، اتفاق او اتحاد مو د منځه لاړ شي، په جګړو او دنګلو باندې اخته شئ او دوستي او وروروليمو په عداوت او کینې باندې بدله شي.

که الله ﷻ د ذکرو شوو مصیبتونو څخه کوم یو مصیبت درباندې درنازل کړي ایا د الله ﷻ څخه پرته بل څوک شته چې نجات درکړي او د مصیبت څخه مو وژغوري؟

۲ـ ای پیغمبره! وګوره چې مونږ خلکو ته د خپل وحدانیت دلایل په څومره واضحه توګه بیا-بیا

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


بیانونو او په ډول-ډول اسالیبو سره يې ورته واضحه کوو، د دې دپاره چې دوی د دقیقې پوهې څخه کار واخلي او د شرک څخه توحید ته راتاو شي، مګر په هره زمانه کښې داسې خلک تېر شوي دي چې زمونږ واضحه دلایلو ته يې توجه نه ده کړې او په شرکیاتو باندې کلک پاتې شوي دي.

د دوی د جملې څخه (ای پیغمبره!) ستا د قوم او ستا د اُمت مشرکان هم دي چې قرآن کریم ته دروغو نسبت کوي، حال دا چې دا حق کتاب دی، د واقع سره مطابق دی، دروغ لا څه چې هیڅ شک هم پکښې نشته.

۳_ نو ای پیغمبره! د ذکرو شوو دلایلو په آخر کښې ورته ووایه چې: ما خو خپله رساپارلې شوې دنده ترسره کړه او د څه شي دپاره چې الله ﷻ را استولی وم هغه مې درته په کامله توګه ورسوله، نور نو زه خو په تاسو باندې د وکیل په صفت نه یم استولی شوی چې د قیامت په ورځ ستاسو د شرکیاتو پوښتنه زما څخه وکړی شي.

د قرآن کریم بیانات ټول حق او اخبارات يې د واقع سره مطابق دي مګر د هر شي دپاره د استقرار (تحقق) وخت ټاکلی شوی دی چې د هغه څخه وړاندې-ېرته نه کېږي، نو کله چې د قرآن کریم د اظهاراتو ټاکلی شوی وخت راشي نو ډېر ژر به پرې تاسو پوه شئ خو د هغه وخت پوهه به درته څه ګټه ونه رسوي.

## توضیحات

۱_ که څه هم د ﴿ ظُلُمَٰتِ ﴾ کلمه د "ظُلْمَة" جمعه ده او "ظُلْمَة" تیارې ته وایي، مګر په دې مقام کښې د "ظُلُمَات" څخه مشکلات او سختۍ مرادې دي، لکه چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه همدا ډول تفسیر روایت کړی شوی دی[۱]، بلکې په هره ژبه کښې د مشکلاتو څخه د کنایي په توګه په تیارو سره تعبیر کېږي، لکه چې په پښتو کښې غمژن سړی وایي چې "په ما باندې توره شپه ده".

### "تَضَرُّع" څه معنی؟

۲_ د ﴿ تَضَرُّعًا ﴾ کلمه په اصل کښې د "ضَرْع النَّاقَة" څخه اخستله شوې ده[۲] چې د اوښې غولانزې ته ویل کېږي، څرنګه چې هر کوچنی ساکښ د خپلې مور غولانزې ته په ډېرې عاجزۍ سره وړاندې کېږي او خپله کمزوري په اواز او هم په هیئت کښې ښه څرګند وي، نو د هر چا عاجزي څرګندول او زارۍ کول د "تَضَرُّع" په لفظ سره تعبیرېږي، د همدې کبله يې په مقابل کښې د "خفية" کلمه هم استعمال مومي چې د پټولو معنی ورکوي.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: د مشکلاتو په وخت کښې تاسو هم په څرګنده توګه او هم په پټه په زړونو کښې په ډېر اخلاص سره د الله ﷻ څخه د خپلو مشکلاتو حل غواړئ، په دغه وخت کښې مو خپل باطل معبودان بالکل هېر کړي وي.

---

(۱) روح المعاني ج۷ ص۱۷۹
(۲) مفردات الراغب ص۲۰۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دلته څوک مخاطب دي؟

۳ـ مفسرینو کرامو لیکلي دي[۱] چې د ځینو علماوو کرامو دا نظر دی چې په ﴿أن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ﴾ کښې مشرکان مخاطب دي او ځینې نور وايي چې دلته خطاب مسلمانانو ته متوجه دی او بالآخره ځینې نور وايي چې د ایت شریف اوله برخه (د دوه وو عذابونو برخه) مشرکانو ته متوجه ده او په آخرنی برخه (د خپل منځي اختلاف عذاب په برخه) کښې مسلمانان مخاطب دي.

مګر مونږ وايو چې: د مقام په اعتبار سره یوازې مشرکان مخاطب دي، ځکه چې د ایتونو د بحث لړۍ په همدوی کښې روانه ده او د مفهوم په اعتبار سره ټول اُمت ته خطاب متوجه دی، چې د قیامت د ورځې پورې پکښې ټول شامل ښکاري او باید چې ټول ترې د عبرت درس واخلي.

## پاسني او لاندېني عذابونه

۴ـ په هر تقدیر، علماوو کرامو پاسني او لاندېني عذابونه په دوه ډوله تفسیر کړي دي:

الف: پاسنی عذاب (چې په ﴿مِّن فَوْقِكُمْ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده) د هغه عذاب څخه عبارت دی چې د هوا د طرفه پر چا نازل شي ـالعیاذ بالله ـ، لکه اسماني تندر، د ډبرو باران، ږلۍ، د ابابیل غونډې د عذاب مرغان، وچکالي او داسې نور.

او لاندېنی عذاب (چې په ﴿مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده) د هغه عذاب څخه عبارت دی چې د ځمکې د پلوه یې د واقع کېدلو خطره وي، لکه په دریاب کښې غرقېدل، په زلزله باندې د اباديو ړنګېدل، په ځمکه کښې خسف کېدل او داسې نور[۲].

ب: د پاسني عذاب څخه هغه عذاب مراد دی چې د ظالمانو د مشرانو د پلوه په کوم قوم باندې نازل شي چې په خپل رعیت باندې ظلم کوي، شخصي ملکیتونه ترې مصادره کړي، کفري حکومتونه خپل مملکت ته دعوت کړي، او یا داسې نور ظلمونه وکړي.

او لاندېنی عذاب د هغه عذاب څخه عبارت دی چې د ظالمانو کشرانو څخه یې منشا نیولې وي[۳]، مثلاً چې چاته د خپلو خدمتګارانو او اولادونو څخه بلا جوړه شي او یا د یوه ارام مملکت ارامي په کودتا سره د منځه لاړه شي لکه څنګه چې په افغانستان کښې د کمونستانو په کودتا سره ټول خلک نارامه او در په در شوه.

مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوي دواړه تفسیرونه سره څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې ایت شریف دواړو ته شامل وي خو اولنی تفسیر به په عبارة النص سره مراد وي او دوهم تفسیر ته به په اشارة النص سره اشاره کړی شوې وي، والله ﷻ اعلم.

خو د دې سره-سره مونږ وايو چې علماوو کرامو د عذابونو دپاره محض څو مثالونه ښودلي دي

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۴۲؛ المحرر الوجیز ج۶ ص۷۰
(۲) روح المعاني ج۷ ص۱۸۰
(۳) تفسیر الخازن ج۲ ص۴۲۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او حصر يې مطلب نه دی، او دا خکه چې ډېر هوايي او ځمکني عذابونه شته چې د ایت شریف لاندې راتلای شي خو چا نه دي ذکر کړي لکه په ننۍ زمانه کښې د جنګي الوتکو بمبارد، د غټو توپونو (چې قوسي انداخت کوي) مرمیات، د اسکټ توغندیو ورول، د زهرجن ګاز پاشل، د کمیاوي وسلو استعمالول، د طاعون او نورو امراضو خوربدل، او یا لکه د مختلفو ماینونو چاودنې، د غرونو بنوېدل، د اور شندل، د قحطۍ د ملخانو حمله کول او داسې نور.

## دلته ماثور تفسیر

۵ـ که څه هم د دې مقام په ارتباط سره د نبي کریم ﷺ څخه زښت ډېر احادیث روایت کړی شوي دي چې تقریباً ډېرشو احادیثو ته رسېږي او ځینو مفسرینو کرامو راغونډ کړي دي(۱)، مګر مونږ د اوږدوالي د کبله یوازې د لاندېنیو احادیثو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: جابر بن عبد الله ﷺ وايي: کله چې د درېګوني عذاب ایت شریف ﴿ قُلْ هُوَ ٱلْقَادِرُ ﴾ الآیة، نازل شو نو نبي کریم ﷺ د ﴿ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ ﴾ سره وویلې چې: «أَعُوذُ بِوَجْهِكَ» یعنې: ای ربه! ستا په اقدس ذات باندې د دغه ډول عذاب څخه پنا غواړم چې اُمت مې د اصحاب الفیل په شان پوپنا کړې، او د ﴿ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ ﴾ سره یې هم وویلې چې:«أَعُوذُ بِوَجْهِكَ» یعنې: ای ربه! زه ستا په اقدس ذات باندې د دغه ډول عذاب څخه پنا غواړم چې زما د اُمت د قارون غوندې ببخ وباسې، او بالآخره د ﴿ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ ﴾ سره یې وفرمایل چې: «هَذَا أَهْوَنُ أَوْ هَذَا أَيْسَرُ»(۲) یعنې: دا عذاب سپک دی او یا یې وفرمایل چې دا اسان دی، خو پنا یې ترې ونه غوښتله.

ب: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «سَأَلْتُ رَبِّي ثَلَاثًا فَأَعْطَانِي اثْنَتَيْنِ وَمَنَعَنِي وَاحِدَةً، سَأَلْتُ رَبِّي أَنْ لَا يُهْلِكَ أُمَّتِي بِالسَّنَةِ فَأَعْطَانِيهَا وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُهْلِكَ أُمَّتِي بِالْغَرَقِ فَأَعْطَانِيهَا وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يَجْعَلَ بَأْسَهُمْ بَيْنَهُمْ فَمَنَعَنِيهَا»(۳) یعنې: ما د خپل رب ﷻ څخه درې غوښتنې وکړې چې دوه غوښتنې یې راکړې او یوه یې راڅخه منعه کړه (منظوره یې نه کړه): ما د خپل رب ﷻ څخه وغوښتل چې زما اُمت په وچکالۍ باندې هلاک نه کړي نو دا غوښتنه یې راکړه، او ما ترې وغوښتل چې زما اُمت (د فرعونیانو غوندې) په غرقولو سره هم هلاک نه کړي (چې پوپنا شي) نو دا غوښتنه یې هم راکړه، او ترې مې غوښتل چې د دوی په خپلو منځو کښې جنګ واقع نه کړي نو دا غوښتنه یې راڅخه منعه کړه.

## یادونه

۶ـ مونږ د [البقرة:۲۱۳] ایت لاندې د اختلاف ډولونه لیکلي دي چې ځینې روا او ځینې حرام دي

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۱۳۹؛ الدر المنثور ج۳ ص۲۸۷
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۶۶
(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۳۹۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هيله ده چې هلته يو ځل بيا مراجعه وکړی شي. خو دلته فقط همدومره اضافه کوو چې په دې مقام کښې ناجائز اختلاف مراد دی چې د الله ﷻ لوی عذاب دی او په موجوده وخت⁽¹⁾ کښې په افغانستان باندې مسلط دی چې مجاهدين ډلې-ډلې شوي دي او هرې يوې ډلې د بلې ډلې په مقابل کښې وسلې ته لاس کړی دی او د خپلو ورونو په وينو تويولو اخته دي، الله ﷻ دې په خپل فضل سره ذکر شوی عذاب زمونږ څخه پورته کړي.

## مُسْتَقَرٌّ څه معنی؟

٧_ د ﴿مُسْتَقَرٌّ﴾ کلمه اصلاً د "قَرّ" څخه اخستله شوې ده چې د برودت (يخنی) معنی ورکوي، او په مقابل کښې يې د "حَرّ" کلمه استعمالېږي چې معنی يې حرارت (ګرمي) ده⁽²⁾.

نو څرنګه چې برودت د سکون غوښتنه کوي او حرارت د حرکت غوښتونکی دی نو ځکه په دې مقام کښې د ﴿مُسْتَقَرٌّ﴾ کلمه د کنايې په توګه په ثبات او ځای په ځای ودرېدلو کښې استعماله شوې ده.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: د قرآن کريم هره يوه خبره ثابت وخت او ثابت ځای لري، چې د همغه وخت او همغه ځای څخه نه وړاندې کېږي او نه ترې وروسته کېږي.

﴿وَإِذَا رَأَيْتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا۟ فِى حَدِيثٍ غَيْرِهِۦ ۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ ٱلشَّيْطَٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ ٱلذِّكْرَىٰ مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٦٨﴾ وَمَا عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٦٩﴾ وَذَرِ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُوا۟ دِينَهُمْ لَعِبًا وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ۚ وَذَكِّرْ بِهِۦٓ أَن تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ لَيْسَ لَهَا مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِىٌّ وَلَا شَفِيعٌ وَإِن تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَآ ۗ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ أُبْسِلُوا۟ بِمَا كَسَبُوا۟ ۖ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌۢ بِمَا كَانُوا۟ يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾﴾

[٦٨] او (ای پيغمبره!) کله چې ته هغه خلک وګورې چې زمونږ په ايتونو کښې (باطل) بحث پيل کړي، نو ته د دوی څخه مخ واړوه (د دوی سره مه کښينه) آن تر هغه چې دوی د ذکر شوي بحث څخه

---

(١) ١٣٧٤/٢/١ هـ ش

(٢) مفردات الراغب ص ٤١٢

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په غیر په بل بحث کښې شروع وکړي، او که (بالفرض) ستا څخه خامخا (زمونږ توصیه) هېره کړه، نو ته د ظالم قوم سره (د هغې) د تذکر څخه وروسته مه کښېنه.

[۶۹] او په هغو کسانو باندې چې پرهېزګاري کوي، د دوی (ظالم قوم) د محاسبې څخه هېڅ شی نشته (چې دوی يې په جنايتونو باندې ونيولی شي)، مګر (په دوی باندې د وسې په اندازه قولاً او عملاً) پند ورکول (شته دي)، شايد چې دوی (ظالم قوم) پرهېزګاري وکړي (او د ظلم څخه لاس واخلي).

[۷۰] او (ای پیغمبره!) هغه خلک پرېږده (ډېر پرې مه غمژن کېږه) چې خپل دین (قرآن کریم) يې لوبې او مسخرې جوړ کړی دی، او دوی لره دغه نژدې (خسیس) ژوند تېر ویستلي دي.

او (ای پیغمبره!) په دې (قرآن کریم) سره پند ورکولو ته ادامه ورکړه (څکه) چې د جنت څخه به (هر ظالم) نفس د هغه څه په سبب محروم کړی شي چې ده کړي وي، دغه (جنايتکار نفس) ته به د الله ﷻ څخه په غیر نه دوست وي او نه شفاعتګر، او که (بالفرض) هر ډول عوض فدیه کړي هم ترې قبوله به نه کړی شي.

دغه (ظالم قوم) هغه خلک دي چې د خپلو کسبونو په سبب به (د جنتونو څخه) محروم کړی شي، دوی لره د خوټېدلو اوبو څخه څښاک او دردناک عذاب د دې کبله شته دی چې دوی دي چې په (دوامداره توګه) کفر کوي.

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې د سورت د اول څخه د توحيد او نبوت د دلايلو سلسله راروانه ده او په دې ايتونو کښې د يو پلوه د دلايلو نتيجه بيانه شوې ده چې مشرکان په خپلو شرکياتو باندې کلک پاتې شوه او په قرآن کريم باندې يې د تکذيب او ملنډو وهلو څخه لاسونه وانخستل، او د بله پلوه مسلمانان توصيه شوي دي چې مشرکانو ته يو ځل بيا عملي وعظ وکړي او د ملنډو وهلو په وخت کښې يې د مجالسو څخه پورته شي او ګډون پکښې ونه کړي.

## د مطلب خلاصه

۱_ يعنې: ای پیغمبره! تا خو د مشرکانو دپاره زښت ډېر او پوره قوي دلايل وړاندې کړه، دوی په خپلو زړونو کښې هک پک پاتې دي خو د عناد د کبله د خپلو کفرياتو څخه لاس نه اخلي او علاوه لا په دې زمونږ په ايتونو او قرآن کريم باندې ملنډې او مسخرې هم وهي.

نو کله چې تا دوی په ذکر شوي حالت باندې وليده نو د مجالسو څخه يې اعراض وکړه او تر هغه وخته پورې يې مجالس ترک کړه ترڅو چې دوی په ملنډو او مسخرو باندې ډېره کېږدي، دا د دې دپاره چې دوی عملاً په غوږ ووهلی شي چې دوی په ډېر قبيح مجلس کښې اخته دي، څه لرې نه ده چې عملي وعظ کول دوی ته ګټور واقع شي، او په خپله کړنلاره باندې تجديد النظر وکړي.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ ای پیغمبره! که بالفرض ستا څخه ذکره شوې توصیه شیطان هېره کړې وه او د هغوی په غیر شرعي مجالسو کښې دې اشتراک کړی وه، نو په مجردې یادېدلو سره د هغوی د مجالسو څخه پورته شه او دا ځکه چې د دغسې ظالمانو په مجالسو کښې ستا اشتراک هیڅ مناسب نه دی.

۳ـ ای پیغمبره! ذکره شوې توصیه یوازې تاته متوجه نه ده بلکې ستا د اُمت ټول مؤمنان (ر) سره پکښې شریک دي، نو دوی هم باید د مشرکانو د مجالسو څخه اجتناب وکړي او که سهواً پکښې کېناستلو ته دې ادامه نه ورکوي.

۴ـ ای پیغمبره! تاسو د مشرکانو د مجالسو د اشتراک څخه د دې کبله نه یاست منعه کړې شوي چې د هغوی محاسبه به په تاسو باندې درشي او د هغوی په عوض به تاسو د اُخروي جزا سره مخامخ شئ، هیڅکله به داسې نه کېږي، تاسو خو متقیان یاست او د مشرکانو محاسبه په متقیانو باندې بالکل نشته.

بلکې تاسو ته د دې دپاره امر کړی شوی دی چې د مجالسو څخه یې پورته شئ ترڅو ستاسو کړنلاره د هغوی دپاره د عبرت درس جوړه شي. یا په بل عبارت: چې تاسو هغوی ته عملي وعظ وکړئ شاید چې هغوی په خپلو عقایدو باندې تجدید النظر وکړي او د توحید عقیدې ته راتاو شي.

۵ـ ای پیغمبره! کله چې تا او ستا پیروانو د مشرکانو کفري مجالس ترک کړه او خپل خانونه مو اداره کړه او بالآخره عملي وعظ مو هم ورته وکړ، نو دوی پرېږده څه چې کوي هغه دې وکړي، دوی خو هغه خلک دي چې لوبې او مسخرې یې خپل دین ګرځولی دی، او دومره په شوق او ذوق سره پکښې اخته دي ته به وایې چې دا کارونه د دوی دیني شعائر دي.

یا په بل عبارت: دوی هغه خلک دي چې په خپل حقیقي دین باندې (چې الله ﷻ د دوی دپاره ستا په ذریعه وراستولی دی) ملنډې وهي او لوبې ورباندې کوي.

۶ـ مګر ای پیغمبره! په قرآن کریم سره ذکرو شوو مشرکانو او بلکې ټولو خلکو ته پند او نصیحت کوه. لنډه دا چې د مجالسو څخه یې اجتناب وکړه خو د دې سره‌سره د پند ورکولو څخه یې صرف نظر مه کوه، او حتی ستا پیروان هم باید د خپلو وسو په اندازه په پند ورکولو کښې برخه واخلي.

او دا ځکه چې داسې ورځ راروانه ده چې هر ظالم نفس به د خپلو کړو وړو په سبب باندې د نعمتونو څخه محروم کړی شي او د هلاکت کندې ته به وغورزولی شي. په دغه وخت کښې به د الله ﷻ څخه په غیر نه کوم دوست مونده کړي او نه شفاعتګر او بالآخره نه به ترې د جنایتونو څه فدیه قبوله کړی شي، بلکې د خلاصون ټول ذرائع به ورباندې وتړلی شي.

نو د ذکر شوي وخت یادونه باید تاسو په دوامداره توګه خلکو ته وکړئ، شاید چې د هر یوه عقل سر ته ورشي او د خپل ځان د خلاصون بندوبس وکړي.

۷ـ ای پیغمبره! ذکر شوي ملنډې وهونکي هم هغه خلک دي چې د خپلو کسبونو په سبب د جنت څخه محروم دي او د دوزخ کندې ته لوېدلي دي.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوی لره به په دوزخ کښې د څښلو دپاره خوټېدلې اوبه او دردناک عذاب وي، ځکه چې دوامداره توګه په خپلو کفریاتو کښې مشغول دي او د خپل دین څخه یې ملعبه جوړه کړې ده.

## توضیحات

۱ـ مونږ د [النساء: ۱۴۰] ایت لاندې د منکراتو د مجالسو ډولونه او په هغو کښې د کولو حکمونه لیکلي دي، بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ ﴾ الآیة کښې یوازې نبي کریم ﷺ ته مطلب ده چې د کفري مجالسو څخه خپل ځان په څنګ کړي، او که ټولو مؤمنانو ته توصیه متوجه ده؟

مونږ وایو: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو ذکر شوی حکم یوازې نبي کریم ﷺ ته متوجه دی[1]، مګر بهتره دا ده چې په دغه حکم باندې ټول مؤمنان هم مکلفیت ولري او دا ځکه چې:

الف: الله ﷻ یوازې نبي کریم ﷺ نه بلکې ټول مؤمنان مخاطب کړي دي او فرمایلي یې دي چې: ﴿ وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي ٱلْكِتَٰبِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا۟ مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا۟ فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِۦٓ ۚ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ﴾ [النساء: ۱۴۰] یعنې: ای مؤمنانو! الله ﷻ خو په تاسو باندې د نن څخه وړاندې (په مکه معظمه کښې) هم په قرآن کریم کښې دا حکم در نازل کړی دی چې کله تاسو واورئ چې د الله ﷻ په ایتونو باندې کفر کېږي او ملنډې پرې وهلی کېږي نو تاسو د دغو مجلس کوونکو سره (په مجلس کښې) مه کښېنئ ترڅو چې هغوی په بله خبره کښې مشغول شي (او د خندنی او مسخرو بحث ختم کړي)، ځکه چې یقیناً تاسو به د دغه اشتراک په وخت کښې د همدوی غوندې یاست.

مفسرین کرام[2] وایي چې په مکه معظمه کښې پخوا نازل شوی حکم د همدغه ایت څخه عبارت دی چې سمدستي د بحث لاندې دی، نو معلومه شوه چې دلته د ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ ﴾ په خطاب کښې د قیامت د ورځې پورې ټول مؤمنان هم بالتبع شامل دي.

ب: ذکر شوی حکم صحابه وو کرامو ﷺ خپلو ځانونو ته هم شامل ګڼلی وه، چې کله ذکر شوی ایت شریف نازل شو نو دوی نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! د دغه حکم د عملي کولو په صورت کښې خو مونږ نه شو کولی چې یا په حرم شریف کښې کېنو او یا طواف وکړو[3]، ځکه چې داسې وخت نه موندلی کېږي چې مشرکان په حرم شریف کښې په کفري مجالسو کښې اخته نه وي.

(۱) تفسیر الخازن ج۲ ص۴۲۴

(۲) البحر المحیط ج۴ ص۲۰۲: تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۱۴۴

(۳) روح المعاني ج۷ ص۱۸۴: تفسیر ابي السعود ج۳ ص۱۴۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو الله ﷻ ذکر شوی دوهم ایت شریف ﴿ وَمَا عَلَى ٱلَّذِينَ يَتَّقُونَ ﴾ الآية نازل کړ. یعني: په مؤمنانو باندې ذکر شوی حکم د دې کبله نه دی فرض کړی شوی چې دوی به د مشرکانو په جنایتونو باندې ونیولی شي حتی چې دوی ورته حرم شریف هم پرېږدي او په خپل عبادت کښې خلل واقع کړي، بلکې د دې دپاره پرې فرض کړی شوی دی چې د مجالسو څخه په پورته کېدلو سره هغوی ته خپله ناخوښي ورڅرګنده کړي او په عملي شکل سره هغوی ته وعظ وکړي، شاید چې په راتلونکې کښې څه حیا وکړي او د دوی د وړاندې په ایتونو باندې ملنډې ونه وهي.

نو که په ذکر شوي خطاب ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ ﴾ کښې د مؤمنانو شمول مطلب نه وی نو اول خو به مؤمنانو نبي کریم ﷺ ته وړاندیز نه وی کړی، او که بالفرض کړی یې وی نو نبي کریم ﷺ به جواب ورکړی وی چې تاسو تشویش مه کوئ په ذکر شوي خطاب کښې تاسو شامل نه یاست.

نو د ذکر شوي بیان په بنا ټول مؤمنان مکلف دي چې په کفري او بدعتي مجالسو کښې اشتراک ونه کړي او بلکې خپله ناخوښي ورباندې څرګنده کړي، ترڅو دغه مجالس توهین شي او توقیر نه شي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ وَقَّرَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ فَقَدْ أَعَانَ عَلَى هَدْمِ الإِسْلَامِ»[۱] یعني: هر څوک چې د بدعت خاوند توقیر (درونړ) کړي نو یقیناً هغه د اسلام په ړنګولو باندې کومک وکړ.

## ایا د پیغمبرانو څخه ځیني احکام هېر شوي دي؟

۳ـ که د چا اوږد بحث ته زړه نه په تنګېږي نو ځینو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[۲] ترڅو ورته معلومه شي چې په پیغمبرانو باندې په خپلو خپلو وختونو کښې نسیان (هېربدل) عارضیدلی شو، مګر مونږ په همدې هکله صرف د لاندې ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: پیغمبران علیهم السلام خو انسانان وه او د انسانیت (بشریت) د خواصو څخه خالي نه وه، نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایي چې: «إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ أَنْسَى كَمَا تَنْسَوْنَ فَإِذَا نَسِيتُ فَذَكِّرُونِي»[۳] یعني: یقیناً زه ستاسو غوندې بشر یم، هېرول کوم لکه چې تاسو هېرول کوئ، نو کله چې ما (کوم شی) هېر کړ نو تاسو یې رایاد کړئ.

ب: اما د نبوت په لحاظ سره د پیغمبرانو څخه هغه څه هېرېږي چې الله ﷻ یې د هېرولو اراده کړې وي او هغه څه ترې نه هېرېږي چې الله ﷻ یې د نه هېربدلو اراده کړې وي. لاندې وضاحت ولولئ:

اول: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ مَا نَنسَخْ مِنْ ءَايَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ أَوْ مِثْلِهَآ ﴾ [البقرة: ۱۰۶] یعنې: مونږ چې (د) کوم ایت (حکم) نسخه کړو او یا یې (د یاد ساتونکو څخه) هېر کړو نو په عوض کښې یې د هغه څخه بهتر او یا (اقلاً) د هغه مثل نازلوو.

دوهم: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ سَنُقْرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ۝ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ [الأعلى: ۶، ۷] یعني:

---

(۱) شعب الایمان للبیهقي ج۷ ص۶۱؛ المعجم الاوسط للطبراني ج۷ ص۳۵

(۲) روح المعاني ج۷ ص۱۸۲؛ تفسیر المنار ج۷ ص۵۰۷

(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۵۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زر به مونږ په تاباندې (قرآن کریم) ولولوو، نو ته به یې نه هېروې مګر هغه چې د الله ﷻ (یې هېرول ته) اراده وشي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: ایا شیطان د پیغمبرانو څخه عموماً څه شی هېرولی شي؟ حال دا چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ إِنَّ عِبَادِي لَيْسَ لَكَ عَلَيْهِمْ سُلْطَانٌ إِلَّا مَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْغَاوِينَ ﴾ [الحجر:۴۲] یعني: یقیناً زما (مخلص) بندګان چې دي، تالره (ای ابلیسه!) په دوی باندې څه سلطه نشته مګر هغه څوک چې ستا پیروي کوي چې د باطل پرستانو څخه عبارت دي.

او د نبي کریم ﷺ څخه خصوصاً څه شی هېرولی شي؟ حال دا چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث شریف کښې فرمایلي دي چې زما سره هم د پیریانو څخه اندیوال (شیطان) شته دی: «وَلَكِنَّ اللهَ أَعَانَنِي عَلَيْهِ فَلَا يَأْمُرُنِي إِلَّا بِحَقٍّ»[۱] یعني: مګر الله ﷻ ما سره په هغه باندې کومک کړی دی نو ما ته امر نه کوي مګر په حق سره.

مونږ وایو چې:

الف: شیطان خو په عادي خلکو باندې هم سلطه نه لري پاتې لا پیغمبران، او دا څکه چې سلطه دې ته ویل کېږي چې څوک په چاباندې په زور او جبر سره اجراءات کولی شي[۲] لکه چې رعیت د سلطان (پاچا) د لاس لاندې وي. هو! دا بېله خبره ده چې څوک په خپل خان باندې د شیطان آمریت ومني او سلطې ته یې غاړه کېږدي.

الله ﷻ د شیطان د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ وَمَا كَانَ لِيَ عَلَيْكُم مِّن سُلْطَانٍ ﴾ الآیة [إبراهیم: ۲۲] یعني: د قیامت په ورځ به شیطان خپلو پیروانو ته ووایي چې ما خو په تاسو باندې څه سلطه نه درلوده، ما خو تاسو ته صرف دعوت درکړ او تاسو قبول کړ آن تر دې چې په سلطه باندې راته قائل شوئ، نو ما ته د ملامتی ګوته مه نیسئ بلکې خپل ځانونه ملامته کړئ.

شیطان انسان ته صرف وسوسه وراچولی شي، او وسوسه دې ته وایي چې د سړي په زړه کښې څه غیر مطلوب خیالات خطور (تېرېدنه) وکړي او څه تقرر او ثبات مونده نه کړي، ته به وایې چې د ګانو څه باریکه غوندې شرنګاری دی[۳].

ب: مونږ وړاندې په دوهمه توضیح کښې لیکلي دي چې په ﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ ﴾ په خطاب کښې ټول مؤمنان په نظر کښې نیولی شوي دي نو د ﴿ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ ﴾ په جمله کښې د نبي کریم ﷺ څخه په غیر د نورو مؤمنانو مراعات شوی دی.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۲۹
(۲) مفردات الراغب ص۲۴۴
(۳) مفردات الراغب ص۵۵۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدې جواب تائید د راتلونکي ایت ﴿ قُلْ أَنَدْعُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا ﴾ [الأنعام: ٧١] څخه هم لاس ته راځي، چې خطاب یوازې نبي کریم ﷺ ته شوی دی مګر د خبرې مخ اولو مؤمنانو ته اړولی شوی دی. یعنې ای پیغمبره! مشرکانو ته ووایه چې ایا مونږ (زما مؤمن امت) د الله ﷻ څخه په غیر د هغه شي بلنه (عبادت) وکړو چې مونږ ته نه ګټه رسولی شي او نه مو په مصیبت ککړولی شي؟

ج: بالآخره، ذکره شوې جمله په فرض باندې بنا ده، یعنې: ای پیغمبره! که بالفرض شیطان درڅخه ذکر شوی حکم هېر کړ نو د یادښت څخه وروسته ورسره مه کښېنه.

د دې نظیر دا دی چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ ﴾ [الزمر: ٦٥] یعنې: ای پیغمبره! که بالفرض ته پخپله د الله ﷻ سره شریک ودروې نو ستا عمل به هم ضائع شي او د زیانکارانو څخه به جوړ شي.

## ذکرى څه معنى؟

۵- د "ذِكْرىٰ" کلمه اسم مصدر ده چې کله د تذکر (یادېدلو) په معنى استعمالېږي او کله د ذکر (یادولو) معنى ورکوي[١]، زمونږ په فکر د لوستلو شوو ایتونو څخه په اول ایت کښې به په معنى د تذکر سره وي چې په مقابل کښې یې نسیان (هېرېدل) استعمال شومي او په دوهم ایت کښې به د تذکیر (پند ورکولو) په معنى وي، لکه چې مونږ ورته په خلاصه مطلب کښې اشاره کړې ده نو دغه اول تفسیر د دواړو مقامونو سره په ډېره ښه توګه پیوند نیسي.

## بسل څه معنى؟

۶- د ﴿ تُبْسَلَ ، أُبْسِلُوا ﴾ دواړه کلمې اصلاً د "بَسْل" -لکه "ضَرْب"- څخه اخستلې شوې دي. د "بَسْل" دپاره مفسرینو کرامو ډېرې معناوې کړې چې تقریبًا اوو معناوو ته رسېږي[٢]، مونږ ته دا اولې معناوې د اصلي معنى لازمي معناوې ښکاري، او دا ځکه چې دا کلمه اصلا په معنى د "حَرَام" سره ده، خو د "حَرَام" کلمه په شرعي حراموالي او تکویني (قهري) حراموالي دواړو کښې استعمالېږي، اما د "بَسْل" کلمه یوازې د تکویني (قهري) حراموالي معنى ورکوي او بس[٣].

نو په دې مقام کښې یې د معنى حاصل داسې کېږي چې: ای پیغمبره! په قرآن کریم باندې خلکو ته پند ورکړه، ځکه چې هر جنایتکار نفس به د خپلو جنایتونو په سبب سره د ثوابونو څخه محروم کړی شي او د هلاکت کندې ته به وغورزولی شي، چې د همدې قبیلې څخه ستا د زمانې مشرکان هم دي.

---

(١) لسان العرب ج۴ ص۳۰۸
(٢) زاد المسیر ج۳ ص۴۵
(٣) مفردات الراغب ص۴۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د لهو او لعب معناوې

۷_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۳۲] ایت لاندې د لهو او لعب د معناوو په اړه ښه پوره وضاحت لیکلی دی چې ډېره فاصله هم نه لري نو هیله ده چې علاقه مندان هلته مراجعه وکړي مګر په دې مقام کښې ورباندې دومره وراضافه کوو چې خپل دین لهو او لعب جوړول دوه معناوې لري او دواړه د دې ایت سره سمون خوري، مګر اوله معنی ورسره ډېره په ښه توګه نښلي ځکه چې د ایتونو مجموعه په دې پیل شوې ده چې د ملنډو وهونکو سره مه کښېنئ. دواړه معناوې یې دا دي:

الف: مشرکان داسې خلک دي چې خپل اصلي دین (اسلام) یې -چې په دوی باندې یې مل... فرض دي- لهو او لعب جوړ کړی دی چې په مسخرو باندې یې مشغول دي او په ملنډو باندې یې سات تېرې کوي..

ب: مشرکانو د لهو او لعب (بوت پرستیو او نورو مزخرفاتو) څخه دین جوړ کړی دی او داسې ورته غاړه اېښودونکي دي ته به وایې چې همدا د دوی د تقوی او دیانت معیار دی.

﴿ قُلْ أَنَدْعُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلَىٰٓ أَعْقَابِنَا بَعْدَ إِذْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ كَٱلَّذِى ٱسْتَهْوَتْهُ ٱلشَّيَـٰطِينُ فِى ٱلْأَرْضِ حَيْرَانَ لَهُۥٓ أَصْحَـٰبٌ يَدْعُونَهُۥٓ إِلَى ٱلْهُدَى ٱئْتِنَا ۗ قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰ ۖ وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٧١﴾ وَأَنْ أَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّقُوهُ ۚ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٧٢﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِٱلْحَقِّ ۖ وَيَوْمَ يَقُولُ كُن فَيَكُونُ ۚ قَوْلُهُ ٱلْحَقُّ ۚ وَلَهُ ٱلْمُلْكُ يَوْمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ ۚ عَـٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَـٰدَةِ ۚ وَهُوَ ٱلْحَكِيمُ ٱلْخَبِيرُ ﴿٧٣﴾ ﴾

[۷۱] (ورته) ووایه چې: ایا مونږ د الله ﷻ څخه په غیر د هغه شي بلنه (مناجات) وکړو چې نه مونږ ته ګټه رسولی شي او نه مو په ضرر اخته کولی شي؟

او (دا هم ورته ووایه چې ایا) مونږ په خپلو پوندو باندې بېرته تاو شو د هغه څخه وروسته چې الله ﷻ مونږ ته هدایت وکړ (او مطلب ته یې ورسولو)؟

(نو که بالفرض زمونږ یو کس ذکر شوی کار وکړي نو هغه به) د هغه چا غوندې (وي) چې هغه لره شیطانانو د ځمکې په (کندو) کښې ورغورزولی وي په داسې حال کښې چې حیران (هک پک) وي، (او) ده لره اندیوالان وي چې هدایت ته یې وربلي (او ورته وایي چې) مونږ ته راشه (خو د دوی خبره هم نه مني).

(ورته) ووایه چې یقیناً د الله ﷻ هدایت همدا (کامل) هدایت دی، او (دا هم ورته ووایه چې) مونږ

Downloded from: bawarkefabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مامور کړی شوي یاستو چې رب العالمین ته منقاد شو.

[۷۲] او (دا هم راته ویل شوي دي) چې خاص الله ﷻ ته لمونځونه ودروئ او (خاص) د همده ﷻ نه ډار شئ او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې خاص همده ﷻ ته به ورغونډ کړی شئ.

[۷۳] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې اسمانونه او ځمکې یې په حقه پیدا کړي دي (عبث او بې حکمته نه دي)، او هغه ورځ چې الله ﷻ ووایي چې شه (مړو! ژوندي شئ) نو هغه وشي (مړي ژوندي شي)؛ د الله ﷻ فرمان حق دی (رښتیا دی). او خاص الله ﷻ لره به داسې ورځ تولواکي ده چې په شپیلۍ کښې پوکی وکړی شي.

(همدی ﷻ) په پټو او ښکاره وو باندې عالم دی او همدی ﷻ د حکمت څښتن (او) خبردار دی.

## ارتباط

د وړاندېنیو ایتونو په مضمون (د کفري مجالسو څخه په اجتناب کولو کښې لاندې دوه مهم مطالب په نظر کښې نیولی شوي وه:

الف: ترڅو مشرکان په عملي توګه اسلام ته دعوت کړی شي شاید چې په ایمان مشرف شي.

ب: ترڅو د مشرکانو د دعوت مخه بنده کړی شي چې مؤمنان کفر ته ورونه بلي.

لومړني مطلب ته خو په وړاندېنیو ایتونو کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَلَٰكِن ذِكۡرَىٰ لَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ ﴾ [الأنعام: ۶۹]. په دغو ایتونو کښې دوهم مطلب واضحه شوی دی چې حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! مشرکانو ته ووایه چې زما د پیروانو څخه دا تمه مه کوئ چې دوی به اسلام ته شا کړي او ستاسو مزخرف عقائد به ومني او دا څکه چې:

۱ـ ایا مونږ (زما پیروان) به د الله ﷻ څخه په غیر د هغه شي او یا د هغو شیانو (بوتانو) عبادت وکړو او په الوهیت به یې وبولو چې هغوی مونږ ته د منلو په وخت کښې نفعه نه شي رسولی او د عدم اطاعت په صورت کښې راته د څه ضرر توان نه لري؟

۲ـ ایا مونږ (زما پیروان) به د اسلام څخه بېرته په شا لاړ شو او مرتد به شو حال دا چې مونږ ته الله ﷻ هدایت کړی دی او مطلب ته یې رسولي یاستو او ـ الحمد لله ـ ایمان مو په زړونو کښې ښه پوخ ځای نیولی دی؟ ایا ستاسو دا خیال دی چې مونږ به دغه اطمنان او ډاډینه په اضطراب او تزلزل باندې بدله کړو؟ هیڅکله به داسې ونه کړو.

۳ـ که بالفرض زمونږ کوم یو کس ذکره شوې کړنلاره اختیار کړي نو د هغه د مثال به د هغه جا مثال وي چې شیطانانو د ځمکې په کندو کښې غورزولی وي او د خپلو ملګرو څخه یې جدا کړی وي او بالآخره هک پک متحیر ولاړ وي چې د هلاکت د کندو څخه خپل ځان ته څنګه نجات

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورکړي؟. په عين وخت کښې نوموړي متحير سړي ته انډيوالان نارې وهي چې سمه لاره دغه ده ستا نجات په دغې خوا کښې دی، په دغې لارې باندې مونږ ته راشه. مګر هغه د خپلو انډيوالانو خواخوږو خبره هم نه مني او بلنې ته يې التفات نه کوي.

اى مشرکانو! مونږ خو ذکر شوی مثال په خپلو ځانونو باندې نه تطبيقوو، حال دا چې عين مثال په تاسو باندې تطبيق دی. او دا ځکه چې شيطانانو تاسو د هلاکت په کندو کښې اچولي ياست او مونږ مو سمې لارې ته رابولو چې د نجات لاره دا ده، مګر تاسو زمونږ په دعوت پورې ملنډې وهئ او خندنې وربورې کوئ.

۴_ اى پيغمبره! کافرانو ته ووايه چې کوم هدايت چې په حقيقي معناوو کښې هدايت دی هغه صرف د الله ﷻ هدايت دی چې مونږ ورباندې روان ياستو، د الله ﷻ د هدايت څخه په غير بله هره يوه لاره ګمراهي ده او خپل ځان په هلاکت کښې غورزول دي. ځکه چې:

الف: په همدې هدايت سره سړی د بنده د بندګۍ څخه نجات مونده کوي او د رب العالمين دپاره غاړه ايښودونکي جوړېږي. تاسو انصافًا ووايأست چې مخلوق ته غاړه ايښودل ښه دي او که خالق ته؟ مونږ په همدې مامور کړی شوي ياستو چې يوازې خالق ﷻ ته منقاد شو او بس.

ب: مونږ په دې باندې هم مکلف کړی شوي ياستو چې رب العالمين ته په پوره ادابو سره لمونځونه وکړو او د همده ﷻ څخه وډار شو. زمونږ عبادت او لمونځ ستاسو د عبادت او لمونځونو په مثل نه دی چې د بيت الله شريف څخه چارچاپېر لاسونه ټړقوئ، د تخرګونو څخه اوازونه وباسئ او بالآخره غومبر وهئ او اتڼ کوئ او بيا يې لا د عبادت په نامه يادوئ.

ج: رب العالمين هغه اقدس ذات ﷻ دی چې خاص همده ﷻ ته به تاسو هم ورغونډ کړی شئ او هلته به د سوال جواب سره مخامخ شئ. ايا تاسو د همدې حشر دپاره څه تياری په نظر کښې نه لرئ؟

د: تاسو دا خيال ونه کړئ چې د الله ﷻ حضور ته به حشر نه کړی شئ او يا به الله ﷻ تاسو حشر نه کړي. او د، ځکه الله ﷻ خو هغه اقدس ذات دی چې اسمانونه او ځمکې يې په حقه پيدا کړي دي، د دنيا پيدائښت ملعبه او سات تېري نه ده، دا ټول نظام د بې شمېره حکمتونو څخه ډک دی، نو د دنيا په پای کښې تصفيه ضرور راتلونکي ده، که بالفرض د قيامت ورځ راتلونکې نه وی (لکه چې تاسو خيال کوئ) نو دنيا به د ملعبې څخه په غير بل شی نه وی، دا باطل خيال دی.

هـ: لکه څنګه چې الله ﷻ ته ستاسو بلکې د ټولې دنيا اول ځل پيدا کول کوم مشکل کار نه دی همدارنګه دغه ﷻ ته بيا راژوندي کول هم څه مشکلات نه لري، په هر وخت کښې چې کوم شي ته د ايجاد (تکويني) امر وکړي چې: شه، نو هغه دستي کېږي؛ کله چې امر وکړي چې قيامت دې موجود شي او مړي دې راژوندي شي نو سمدستي به قيامت قائم شي او مړي به د قبرونو څخه راپورته شي، نو اى مشرکانو! په هغې ورځ به ستاسو څه حال وي، د څومره حسرت سره به مخامخ شئ کله چې الله ﷻ ذکر شوی فرمان صادر کړي او قيامت قائم شي؟

و: د الله ﷻ هره يوه وينا حقه ده، د واقع سره مطابقه ده څه کوز پاس پکښې نشته.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ز: خاص الله ﷻ لره په هغې ورځ باندې ظاهري او باطني پاچاهي او واکداري ده چې کله په شپېلۍ کښې د قيامت د قيام دپاره پوکی وکړی شي او قيامت قائم شيْ. په دغې ورځ کښې به هیڅوک نه وي چې د ظاهري واکدارۍ ادعاء قدرې وکړی شي.

ح: رب العالمين هغه اقدس ذات دی چې په ښکاره وو او پټو ټولو باندې عالم دی، پاچاهي او واکداري د همده ﷻ سره مناسبه ده او عبادت او اطاعت کول د همده ﷻ سره ښه ښکاري، د ده ﷻ نه په غیر نه څوک کامل علم لري او نه کامل قدرت.

ط: بالآخره، الله ﷻ چې د کامل علم او کامل قدرت سره-سره تاسو ته (ای مشرکانو!) وخت درکوي چې په خپل اختیار سره توبه تائب شئ نو دا تالول يې د حکمت غوښتنه ده. هسې نه چې ستاسو په کفریاتو باندې ناخبر دی.

## توضيحات

۱ـ د ﴿ ٱسْتَهْوَتْهُ ﴾ کلمه د "اسْتِهْوَاء" څخه اخستله شوې ده چې لاندې دوه معناوې درلودلی شي[۱]:

الف: که مجرد یې "هَوَى يَهْوِي" ـ لکه "ضَرَبَ يَضْرِبُ" ـ شي نو د غورزولو او سقوط معنی ورکوي. یعني: د مرتد سړي مثال د هغه چا دی چې هغه شیطانانو د ځمکې په کړنګونو کښې غورزولی وي او سرګردان او هک پک پکښې پروت وي.

ب: که مجرد یې "هَوِيَ يَهْوَى" ـ لکه "عَلِمَ يَعْلَمُ" ـ شي نو د محبت او ښائسته کولو په معنی استعمالېږي. یعني: د مرتد مثال داسې دی لکه چاته چې شیطانانو په ځمکه کښې غلطه تګلاره ښائسته کړې وي چې د تحیر په حال کښې د سمې لارې په سر بسر نه پوهېږي او نه د چا خبره اوري.

که څه هم ذکرې شوې دواړه معناوې د مقام سره ښه پیوند نیسي مګر د ﴿ فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ د ټکي سره اوله معنی ښه تناسب لري.

## د عربيت یو قانون

۲ـ د دې جملې ﴿ وَيَوْمَ يَقُولُ كُن فَيَكُونُ قَوْلُهُ ٱلْحَقُّ ﴾ په اعراب کښې مفسرینو کرامو زښت ډېر ډولونه اټکل کړي دي[۲]، مګر کوم ډول اعراب چې اکثرو مفسرینو کرامو ته مقبول دی هغه دا دی چې: ﴿ قَوْلُهُ ٱلْحَقُّ ﴾ (موصوف او صفت) مبتدأ مؤخره ده او ﴿ وَيَوْمَ يَقُولُ كُن فَيَكُونُ ﴾ خبر مقدم دی[۳].

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د الله ﷻ حقه وینا په هغې ورځې کښې هم واقع کېدونکې ده چې الله ﷻ د مړو د ژوندي کولو په هکله فرمان صادر کړي چې راژوندي شئ نو ټول

---

(۱) لسان العرب ج۱۵ ص۳۷۳؛ حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۲ ص۱۷۶

(۲) البحر المحيط ج۴ ص۵۵۶

(۳) تفسير الكشاف ج۲ ص۳۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


راژوندي شي او د قبرونو څخه راپورته شي.
مونږ وایو چې: که څه هم ذکر شوی تعریب (ترکیب) ښه معنی ورکوي مګر د عربیت د قوانینو په لحاظ غیر متبادره ده، نو ښه دا ده چې ذکر شوې جمله د بلې مقدرې جملې دپاره ظرف واقع شي کومه چې د ﴿ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴾ څخه سرې ته ذهن ته ورځي چې: "كَيْفَ حَالُكُمْ يَوْمَ يَقُولُ كُنْ فَيَكُونُ" یعنې: ای مشرکانو! تاسو خو د قبرونو څخه راپورته کېدل نه کېدونکي ګڼئ، مګر کله چې الله ﷻ په همدې هکله فرمان صادر کړي چې: پورته شئ، او ټول راپورته شئ نو تاسو به په څومره حیرت کښې واقع شئ، د الله ﷻ هره یوه وینا حقه ده دا کار کېدونکی دی.

## صُور څه معنی؟

۳ـ که څه هم ځینو علماوو کرامو د "صُور" کلمه د "صُورَة" جمعه اخستې ده چې په معنی د بدنونو سره ده، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: الله ﷻ لره په هغې ورځ باندې هم مطلقه واکداري ده چې په بدنونو کښې ارواګانې پو کړی شي[1].
مګر ذکره شوې معنی په دې مقام کښې څکه په زړه پورې نه ده چې په بدنونو کښې خو په یو ځل باندې ارواګانې پو کولی شي او د صُور په باره کښې خو الله ﷻ داسې هم فرمایلي دي چې: ﴿ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَىٰ ﴾ [الزمر: ۶۸] یعنې: بیا به په صُور کښې بل ځل پوکی وکړی شي.
د همدې کبله جمهور علماء کرام وایي چې د صُور کلمه د شپېلۍ څخه عبارت ده چې دوه ځله به پکښې پوکی وکړی شي، په یوه ځل سره به ټوله دنیا ورانه او ټول ساکښان به مړه شي او په بل ځل پوکولو باندې به ټول مړي بېرته راژوندي شي. او حتی ځینې علماء کرام لا په درې ځله شپېلۍ پوکولو باندې قائل دي، دوی وایي چې د ذکرو شوو دواړو وارونو څخه وړاندې به یو ځل شپېلۍ پو کړی شي او ټول خلک به بې هوشه شي.
په هر تقدیر، د شپېلۍ پورې مربوط بحث به ـ إن شاء الله ﷻ ـ د قرآن کریم په نورو ځایونو کښې عمومًا او د [الزمر:۶۸] ایت لاندې خصوصًا ښه مشرح راشي، که الله ﷻ توفیق راکړ.
د ذکر شوې شپېلۍ په کیفیاتو باندې مونږ په هماغې اندازه باندې پوهېږو چې په ایت یا حدیث کښې بیان شوي وي، د همدې کبله لاندې احادیث د ښه وضاحت دپاره لیکو او بس:
الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «الصُّورُ قَرْنٌ يُنْفَخُ فِيهِ»[2] یعنې: صُور یو ښکر (شپېلۍ) ده چې پوکی به پکښې وکړی شي.
ب: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «وَكَيْفَ أَنْعَمُ وَصَاحِبُ الْقَرْنِ قَدْ الْتَقَمَ الْقَرْنَ وَاسْتَمَعَ الْأُذُنَ مَتَى يُؤْمَرُ بِالنَّفْخِ فَيَنْفُخُ»[3] یعنې: او څنګه به زه خوشاله (بې غمه) شم حال دا چې د شپېلۍ خاوند شپېلۍ

---

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۴۸
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۲۹۶
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۶۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په خوله کښې نیولې ده او غوږ یې ایښی دی چې کله به ورته په پوکولو باندې امر وکړی شي چې پوکی (پکښې) وکړي (او دنیا ورانه شي).

## څو یادونې

۴_ د دې مقام په ارتباط سره لاندې څو یادونې په نظر کښې ونیسئ!:

الف: مشهوره دا ده چې د شپیلۍ خاوند اسرافیل ﷺ نومېږي او ځینې وايي چې دوه ملکې پرې مقررې دي[۱]، والله ﷻ اعلم.

ب: ځینو مفسرینو کرامو د صُور (شپیلۍ) په باره کښې او هم د قیامت د ورځې د ټولو احوالاتو په هکله ښه مفصل او مرتب بحث کړی دی[۲]، که څوک زیات تفصیل غواړي نو همهلته دې مراجعه وکړي.

ج: مونږ د [الأنعام: ۵۰_۵۹] ایتونو لاندې د علم الغیب او علم الشهادة په اړوند د الله ﷻ په توفیق اوږد بحث کړی دی چې بیا یې لیکلو ته اړتیا نه ګورو.

﴿وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ ءَازَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا ءَالِهَةً إِنِّيٓ أَرَىٰكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ۝٧٤ وَكَذَٰلِكَ نُرِيٓ إِبْرَٰهِيمَ مَلَكُوتَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ ٱلْمُوقِنِينَ ۝٧٥﴾

[۷۴] او (ای پیغمبره! خپل قوم ته دې په استدلال کښې) هغه وخت (وریه زړه کړه) چې ابراهیم ﷺ خپل پلار آزر ته وویلې چې: ایا ته بوتانو لره د معبودانو په صفت نیسې؟ یقیناً زه تا او ستا قوم (ټول مشرکان) په ښکاره ګمراهۍ کښې ګورم.

[۷۵] او په دغه شان (ښودانې سره چې تفصیل یې وروسته راروان دی) مونږ ابراهیم ﷺ ته د اسمانونو او ځمکو عظیم الشان مُلک (د ډېرو حکمتونو دپاره) وروښود او هم د دې دپاره چې نوموړی (د الله ﷻ په وحدانیت باندې) د یقین کوونکو (استدلال کوونکو) څخه هم جوړ شي.

## ارتباطونه

۱_ په وړاندېنیو ایتونو کښې د بحث اهمه موضوع د الله ﷻ توحید وه چې په ډول-ډول اسالیبو باندې پرې دلایل قائم کړی شوه. په دغو ایتونو کښې په ذکره شوې موضوع باندې، د ابراهیم ﷺ استدلال ته اشاره شوې ده (چې د ځینو ارتباطاتو په ذریعه باندې یې آن تر [۹۴] ایت پورې امتداد موندلی دی) ترڅو د یو پلوه مشرکان په غوږ ووهلی شي چې که چرته تاسو رښتیا په ابراهیمي (ﷺ) ملت باندې یاست نو باید چې د شرک څخه لاس واخلئ ځکه چې ابراهیم ﷺ (ستاسو نیکه) څو موحد بلکې رئیس الموحدین وه، او د بل پلوه نبي کریم ﷺ ته توصیه شوې ده چې د خپل نیکه

---

[۱] روح المعاني ج۷ ص۱۹۱

[۲] تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۱۴۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ابراهیم ﷺ) استدلال یو ځل بیا تازه کړي او مشرکانو ته یې وړیه زړه کړي، څه لرې نه ده چې تاثیر وربانديې وکړي.

۲ـ هلته مؤمنان تلقین شوي وه چې: ایا مونږ د هغه شي عبادت وکړو چې هغه نه چا ته ضرر رسولی شي او نه ګټه. دلته د ذکر شوي شي درې مصداقونه ښودل شوي دي چې د ستورو او سپوږمۍ او بالاخره د لمر څخه عبارت دی.

۳ـ هلته توصیه شوې ده چې پوخ هدایت د الله ﷻ هدایت دی او دلته په همدې پوخ هدایت باندې د مهتدیانو د یوه ټولګي نومونه اخستلي شوي دي، لکه فلاني پیغمبر او فلانی پیغمبر.

۴ـ بالآخره، دلته نبي کریم ﷺ ته ډاډ ورکړی شوی دی چې د دعوت د مشکلاتو په لاره کښې څو ته یوازې نه یاست بلکې په دې لاره کښې ټول پیغمبران ستا ملګري دي، لکه څنګه چې هغوی مشکلات ګاللي دي ته به هم مشکلات ګالې. او هم مطمئن کړی شوی دی چې خپله حوصله مه خرابوه، که مشرکان د هدایت دعوت قبول نه کړي نو دوی ته نقصان دی او بس، پخوا هم ډېرو خلکو هدایت قبول کړی دی او وروسته به یې هم قبول کړي، نو ته به یوازې پاتې نه شې.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! د خپلې زمانې مشرکانو ته دې د ابراهیم ﷺ استدلال هم وړیه زړه کړه چې په څومره موثره توګه یې د مشرکانو په مقابل کښې عمومًا او د خپل مشرک پلار (آزر) په مقابل کښې خصوصًا قیام وکړ او ورته یې وویلې چې: ای پلاره! ایا ته بوتان د آلهه وو (معبودانو) په صفت باندې نیسې؟ د همدې کبله زه خو تا او ستا مشرک قومیان په ښکاره توګه بې لارې ګورم، تاسو ټولو سمه سیده لاره خطا کړې ده او په غلطه لاره باندې روان یاست.

۲ـ ای پیغمبره! په دغه ډول وړښودلو سره (چې بیان یې په راتلونکو ایتونو کښې راروان دی) مونږ ابراهیم ﷺ ته د اسمانونو او ځمکو پراخه پاچاهي او د دغو دواړو عجائب او غرائب په دوامداره توګه وروښودل چې په هره مناسبه موقع کښې به یې وربانديې استدلال نیوه او د مشرکانو غاښونه به یې وربانديې ماتول. ته به وایې چې همدا اوس یې هم وړښایو.

ذکر شوې ښودانه مو د ډېرو حکمتونو دپاره په کار اچولې وه چې یو حکمت پکښې دا وه چې ترڅو ابراهیم ﷺ د یو پلوه په خپل وخت کښې د خپل ځان غوندې د الله ﷻ په توحید باندې د کلک یقین درلودونکې ډله تربیه کړي، او د بله پلوه د قیامت د ورځې پورې ټولو خلکو ته د توحید د پېژاندلو د یوې موثرې طریقې بنیاد کېږدي.

یا په بل عبارت: ترڅو ابراهیم ﷺ د موحدینو په ډله کښې د یوه مشر او بنیاد ایښودونکې په حیث شمولیت ولري (لکه چې همداسې وشوه چې د قیامت د ورځې پورې یې د رئیس الموحدین لقب وګاټه).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ مونږ د [البقرة:۱۲۴] ایت لاندې د ابراهیم عليه السلام پورې مربوط څه معلومات لیکلي دي چې بیا لیکلې ته بې اړتیا نه ګورو، خو په دې مقام کښې وړباندې لاندې څو معلومات وراضافه کوو:

الف: ابراهیم عليه السلام دوه لقبونه لري چې یو لقب یې "أب الأنبیاء" دی (د پیغمبرانو علیهم السلام پلار) چې د دۀ څخه وروسته ټول پیغمبران علیهم السلام د ده عليه السلام د زوزات څخه دي، او بل لقب یې "رئیس الموحدین" دی چې ټولو ملتونو ته منل شوی شخصیت دی.

ب: نوموړی د عراق د کوفې په ښار کښې د نمرود پاچا په زمانه کښې(۱) د آدم عليه السلام د خلقت څخه درې زره درې سوه او دېرش (۳۳۳۰) کاله وروسته او د نوح عليه السلام د طوفان څخه یو زر دوه سوه درې شپېته (۱۲۶۳) کاله وروسته زېږېدلی دی(۲).

ج: که څوک د ابراهیم عليه السلام د شمائلو په هکله زیات معلومات غواړي نو ځینو کتابونو(۳) ته دې مراجعه وکړي.

## آزر څوک وه؟

۲ـ آزر د ابراهیم عليه السلام د پلار نوم وه، چې بوت جوړونکی مشرک وه او نمرود مشرک پاچا ته ډېر مقرب او نژدې سړی وه.

## سوال جواب

که څوک وایي چې: ځینو کتابونو(۴) خو د ابراهیم عليه السلام د پلار نوم "تارح" ښودلی دی، نه "آزر"؛ ایا په دې مقام کښې تطبیق ته اړتیا نشته؟

مونږ وایو چې: د صریح قرآن په مقابل کښې د تواریخو خبره څه ارزښت نه لري چې سړی یې تطبیق ته اړ شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحه ولولئ:

الف: یوه ورځې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دا ایت شریف ﴿لَا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا ٱللَّهُ﴾ [إبراهيم:۹] ولوست یعنې: د عادیانو او ثمودیانو او بلکې د نورو وړاندې او وروسته مخلوقاتو په حالاتو باندې نه پوهېږي مګر الله جل جلاله او بس.

او بیا یې وفرمایل چې: «كَذَبَ النَّسَّابُونَ»(۵) یعنې: د انسابو بیانوونکي خلک دروغ وایي چې فلانی د فلاني زوی دی البته په هغه صورت کښې چې د نصوصو سره مقابل واقع شي.

ب: په عین عبارت سره په احادیثو کښې هم روایت شوی دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۱۵۱
(۲) تفسیر القرطبي ج۷ ص۲۴
(۳) تفسیر المنار ج۷ ص۵۳۴
(۴) تفسیر الكشاف ج۲ ص۳۹
(۵) تفسیر البغوي ج۳ ص۲۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



«يَلْقَى إِبْرَاهِيمُ أَبَاهُ آزَرَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۱] يعني: د قيامت په ورځ به ابراهيم ﷺ د خپل پلار آزر سره ملاقي شي.

ج: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: «بَيْنَ إِبْرَاهِيمَ وَبَيْنَ عَدْنَانَ ثَلاثُونَ قَرْنًا لا يَعْلَمُهُمْ إِلَّا اللهُ»[۲] د ابراهيم ﷺ او د ده د نيکه (عدنان) ترمنځ دېرش (۳۰) قرنه تېر شوي دي چې د الله ﷻ څخه په غير پرې بل څوک علم نه لري.

د: الامام مالک بن انس رحمه الله عليه وايي چې سړي ته مکروه دي چې خپل ځان پلار په پلار آدم ﷺ ته ورسوي، همدارنګه د نسب سلسله بيانول د نبي کريم ﷺ په باره کښې کراهيت لري (چې يقين ورباندې وکړي) او دا ځکه چې: «لَا يَعْلَمُ أُولَئِكَ الْآبَاءَ أَحَدٌ إِلَّا اللهُ»[۳] په دغو پلرونو باندې واقعي علم نه لري مګر الله ﷻ او بس.

هـ: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې آزر د ابراهيم ﷺ د پلار نوم وه[۴].

## څه تطبيقونه

۳ـ ځينو علماوو کرامو د قرآن کريم د ذکر شوي ايت او د تواريخو د کتابونو ترمنځ په لاندې ډول څه تطبيقونه کړي دي:

الف: د ابراهيم ﷺ د پلار "تارخ" يا "تارح" نوم وه خو دغه نوم چې کله په عربي محاوره کښې استعمال شو نو آزر ترې جوړ شو[۵] چې په قرآن کريم کښې په همدغه جوړ کړی شوي نوم باندې ياد شوی دی.

مونږ وايو چې: دا ډول تطبيق محض يو عقلي احتمال دی او څه ثبوت نه لري.

ب: آزر د هغه بوت نوم دی چې تارخ به يې عبادت کاوه. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ايا ته آزر بوت او د ده نور امثال په معبودانو سره نيسې؟[۶].

مونږ وايو: دا تطبيق د يو پلوه عقلي احتمال دی او د بله پلوه د ايت شريف څخه د تکلف څخه په غير نه شي اخستلی کېدلی چې په کلماتو کښې د تقديم او د تاخير ارتکاب وکړی شي.

ج: آزر او تارخ دواړه د يو سړي نومونه دي چې يو لقبي نوم دی چې د ګمراه او يا خطاکار معنی ورکوي او بل محضه دی چې په ذات باندې دلالت کوي، نو دواړه نومونه لفظًا متعدد او مصداقًا متحد دي[۷].

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۷۳
(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۲۷
(۳) تفسير البغوي ج۳ ص۲۷
(۴) البحر المحيط ج۴ ص۵۶۱
(۵) مفردات الراغب ص۱۳
(۶) الدر المنثور ج۳ ص۳۰۰
(۷) تفسير الطبري ج۵ ص۲۴۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: دا تطبيق هم د عقلي احتمال څخه په غير بل شی نه دی او ثبوتي بنه نه لري.

د: اهل التشيع او ځینې اهل التسنن وايي چې قرآن کريم د ابراهيم عليه السلام د خپل تره سره محاوره حکايت کړې ده چې آزر نومېده او مشرک وه، او تواريخو د هغه د پلار ذکر کړی دی چې تارخ نومېده او مسلمان وه، او په تره باندې خو کله-کله د پلار اطلاق کېږي، لکه چې په [البقرة:۱۳۳] کښې اسماعيل عليه السلام د يعقوب عليه السلام په پلرونو کښې شمېرل شوی دی[۱].

مونږ وايو چې: ربنتيا په تره باندې د مجاز په توګه د اب (پلار) اطلاق صحت لري خو په هغه ځاى کښې چې حقيقي معنى هلته متعذره (مشکله) وي، لکه چې د "البقرة" په ذکر شوي ايت شريف کښې همدا مشکل شته دی. اما په دغه ايت شريف کښې -چې اوس د بحث لاندې دی- د اب (پلار) څخه د عم (تره) معنى اخستل صحت نه لري ځکه چې حقيقي معنى مرادول دلته کوم اشکال او تعذر نه لري.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: دلته هم د "أب" څخه حقيقي معنى اراده کول لاندې اشکال لري او په اصطلاح صارفه قرائن شته دي:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَمْ أَزَلْ أَنْقُل مِنْ أَصْلابِ الطَّاهِرِيْنَ إلى أرْحَامِ الطَّاهِرَاتِ»[۲] يعني: په دوامداره توګه زه د پاکانو پلرونو د شاګانو څخه د پاکانو ميندو رحمونو ته راانتقال شوی يم (آن تردې چې د خپل پلار او خپلې مور څخه تولد شوم). حال دا چې الله ﷻ په [التوبة:۲۸] ايت کښې مشرکان نجس بنودلي دي؛ نو معلومه شوه چې د ابراهيم عليه السلام پلار به هم مشرک نه وه ځکه چې د نبي کريم ﷺ په نيکونو (پلرونو) کښې شامل دی.

مونږ اول دا وايو چې: په ذکر شوي حديث کښې د کفر څخه طهارت مطلب نه دی بلکې د نحاشی څخه طهارت مراد دی، يعني: زه پلار د پلار ثابت النسب يم او زما په پلرونو او نياګانو کښې فحاشي نه ده تېره شوې. لکه چې همدا مضمون نبي کريم ﷺ په بل حديث کښې داسې تعبير کړی دی چې: «وُلِدْتُ عَنْ نِكَاحٍ لا عَنْ سِفَاحٍ»[۳] يعني: که څه هم د جاهليت په زمانه کښې کچنيتوبونه عام وه مګر زه پلار په پلار د نکاح څخه تولد شوی يم، نه د زنا څخه.

او بيا دا وايو چې که بالفرض په حديث شريف کښې د طهارت څخه طهارت عن الشرک (د شرک څخه طهارت) مراد کړی شي نو حديث (چې خبر واحد دی) د ايت شريف په معارضه کښې د سقوط سره مخامخ کېږي؛ نو په کار دي چې په لوی لاس حديث شريف ساقط نه کړی شي.

د ذکر شوي بيان نظير دا دی چې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د [التحريم: ۱۰] ايت لاندې ويلي

---

(۱) تفسير نمونه ج۵ ص۳۰۳

(۲) روح المعاني ج۷ ص۱۹۵

(۳) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۲ ص۱۷۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي چې: «خَانَتَاهُمَا فِي الدِّينِ وَكَانَتَا مُشْرِكَتَيْنِ وَمَا بَغَتْ إمْرَأَةُ نَبِيٍّ قَطُّ»[١] یعنې: د نوح ﷺ او لوط ﷺ مېرمنې دوی دواړو د خپلو خاوندانو سره په دین کښې خیانت کړی وه چې دواړه مشرکې وې، اما دا خیانت یې نه وه کړی چې ـالعیاذ بالله ـ فحاشي یې کړې وي ځکه چې د هیڅ پیغمبر مېرمنې هیڅکله زناکاري نه ده کړې.

یا په بل عبارت: د پیغمبرانو علیهم السلام په پلرونو او مورګانو او بالآخره په مېرمنو کښې یا مشرکان تېر شوي دي مګر زناکارانې او زناکاران پکښې نه دي تېر شوي.

ب: وراثت په روحیاتو کښې اثر لري نو هیڅکله نه شي کېدی چې یو پیغمبر او یا یو اولو العزم پیغمبر د مشرک پلار څخه تولد شوی وي[٢].

مونږ وایو چې: دا وجه خو هیڅکله ایت شریف ته د تاویل ورکولو توان نه لري، حال دا چې الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی، د همدې کبله رئیس المفسرین (عبد الله بن عباس رضي الله عنهما) راتلونکی [٩٥] ایت شریف داسې تفسیر کړی دی چې: «يَخْرُجُ الْمُؤْمِنُ مِنَ الْكَافِرِ كَمَا فِيْ حَقِّ إِبْرَاهِيْمَ وَالْكَافِرُ مِنَ الْمُؤْمِنِ كَمَا فِيْ حَقِّ وَلَدِ نُوحٍ ﷺ وَالْعَاصِيَ مِنَ الْمُطِيعِ وَبِالْعَكْسِ»[٣] یعنې: مؤمن د کافر څخه تولد کېږي لکه چې ابراهیم د آزر (مشرک) څخه زېږېدلی وه، او کافر د مؤمن څخه تولد کېږي لکه چې د نوح ﷺ څخه کافر زوی زېږېدلی وه، همدارنګه نافرمانه او فرمانبردار یو تربله سره زېږول کېږي.

ج: څوک چې د ابراهیم ﷺ د پلار په نامه باندې یاد شوی دی، د هغهٔ د استغفار څخه خو پخپله ابراهیم ﷺ د برائت اعلان کړی دی. الله ﷻ فرمایي: ﴿ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ ﴾ [التوبة: ١١٤] یعنې: ابراهیم ﷺ د خپل پلار د استغفار څخه هغه وخت خپله بېزاري اعلان کړه کله چې ورته ثابته شوه چې نوموړی د الله ﷻ دښمن (کافر) دی، او د ایمان راوړلو چانس یې د لاسه وتلی دی. او یا په بل عبارت: کله چې ورته څرګنده شوه چې په کفر باندې مړ شو.

مګر د دې سره‐سره ابراهیم ﷺ د خپل پلار دپاره چې د والد په نامه باندې یې یاد کړی دی د برائت څخه وروسته استغفار غوښتی دی، الله ﷻ د ده د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ رَبَّنَا ٱغْفِرْ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ ٱلْحِسَابُ ﴾ [إبراهيم: ٤١] یعنې: ای زمونږ ربه! ماته او زما والدینو (مور او پلار) او ټولو مؤمنانو ته په داسې ورځ کښې مغفرت وکړې چې حساب (قیامت) قائم شي.

نو که بالفرض د "اب" څخه تره مطلب نه شي نو د بېزارۍ د اعلان څخه وروسته به د مغفرت غوښتنه څه معنی ولري؟[٤].

مونږ وایو چې: دغه ځل مغفرت غوښتنه هم د برائت د اعلان څخه وړاندې وه، لکه چې ځینو

(١) تفسير القرطبي ج١٨ ص٢٠٢
(٢) تفسير نمونه ج٥ ص٢٠٣
(٣) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٢ ص١٩٠
(٤) تفسير نمونه ج٥ ص٢٠٤

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مفسرینو کرامو(١) ورباندې صراحت کړی دی، او وروسته نه وه ترڅو د مجازي معنی اراده کولو ته اړتیا پېښه شي.

## یادونه

٥ـ د "اصنام" د کلمې په باره کښې ـچې د "صَنَم" جمعه ده ـ مونږ د [المائدة:٣] ایت لاندې ځه ګڼور معلومات لیکلي دي چې بیا لیکنې ته یې اړتیا نه ګورو.

## سوال جواب

٦ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَكَذَٰلِكَ ﴾ کښې د "ذَٰلِكَ" کلمه کوم شي ته اشاره ده چې د اسمانونو او ځمکو ښودانه ورسره تشبیه شوې ده؟

مونږ وایو چې: که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د "ذَٰلِكَ" کلمه د وړاندېنۍ جملې مضمون ته اشاره ګڼلې ده، چې د معنی حاصل یې داسې کېږي: لکه څنګه چې مونږ ابراهیم ﷺ ته د ده د قوم په باره کښې حق وروښود همدارنګه مو نوموړي ته د ټولې دنیا عجائب او غرائب هم وروښودل(٢).

مګر مونږ ته دا غوره برېښي چې د "ذَٰلِكَ" کلمه به هغه مضمون ته اشاره وي چې تفصیل یې په ﴿ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ ٱلَّيْلُ ﴾ باندې پیل شوی دی. نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې: دغه عجیبه ډول ښودانه مو ابراهیم ﷺ ته ورعنایت کړه چې وروسته یې تفصیل درروان دی، ښه ورته متوجه شي.

## اِرَاءَة څه معنی؟

٧ـ د ﴿ نُرِيَ ﴾ کلمه په اصل کښې د "رُؤيَة" څخه اشتقاقه شوې ده چې د لیدلو معنی ورکوي، برابره خبره ده چې د زړه لیدل (بصیرت) وي او یا د سترګو لیدل (بَصر) وي. کله چې "رُؤيَة" د افعال د باب لاندې راشي، لکه چې په دې مقام کښې ترې لاندې راغلې ده، نو بل چا ته د ورلېدلو معنی ترې مرادېږي چې مونږ ترې په وربښودلو یا ورڅرګندولو سره تعبیر کوو.

نو د ﴿ نُرِيَ ﴾ کلمې په تفسیر کښې مفسرین کرام په لاندې دوه وو ګروپونو باندې وېشلي شوي دي:

الف: په دې کلمه کښې د سترګو ښودانه مطلب ده چې الله ﷻ ابراهیم ﷺ ته د خپل قدرت عجائب او غرائب ټول ورڅرګند کړه، حتی چې د عرش العظیم او د تحت الثری ترمنځ یې ورته ټول مخلوقات وروښودل(٣).

ب: په ذکره شوې کلمه کښې د زړه ښودانه (بصیرت) مراد دی چې الله ﷻ ورته د خپل وحدانیت دلایل په ټوله دنیا کښې وروښودل(٤).

---

(١) تفسیر ابن کثیر ج٢ ص٥٤١
(٢) تفسیر المنار ج٧ ص٥٥٤
(٣) روح المعاني ج٧ ص١٩٧
(٤) تفسیر ابن کثیر ج٢ ص١٥٠

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر مونږ ته الله ﷻ داسې راوښودل چې دلته به د ﴿ نُرِىٓ ﴾ کلمه د ما يطلق عليه الاراءة څخه اشتقاقه شوې وي چې ذکرو شوو دواړو تفسيرونو ته شامليږي. نو د معنى حاصل به يې داسې شي چې: الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره ابراهيم عليه السلام ته د ټولې دنيا عجائب او غرائب هم په سترګوا او په زړه باندې وروښودل چې د شرک ابطال يې پرې واضحه کړ.

## سوال جواب

۸ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَلِيَكُونَ ﴾ کښې خو د "و" توری د عطف دپاره دی، نو پوښتنه دا ده چې دلته يې معطوف عليه څه شی دی؟

مونږ وايو چې: د بلاغت کتابونه وايي چې کله-کله حذف د عموم دپاره تحقق مومي[1]، زمونږ په فکر دلته همدغه قاعده د اجراء لاندې نيولې شوې ده او معطوف عليه يې محذوف دی ترڅو په ډېرو مطالبو باندې دلالت وکړي. نو د معنى حاصل به يې داسې راووځي چې: مونږ ابراهيم عليه السلام ته د ځمکو او اسمانونو ښودانه د ډېرو مطالبو دپاره وکړه، يو مطلب مو دا وه چې نوموړی په دوامداره توګه د يقين کوونکو د ډلې څخه وشمېرل شي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۹ـ که څوک وايي چې: ايا تر دغه وخته پورې ابراهيم عليه السلام د الله ﷻ په وحدانيت باندې عقيده نه درلوده، العياذ بالله؟

مونږ وايو چې: "يقين" د هغه استدلالي (کسبي) علم نوم دی چې کله يې سړی په يوه مسئله کښې ترلاسه کړي نو زړه يې د نور تالاش څخه لاس اخلي[2] چې په پښتو کښې ترې مونږ په "باور" باندې تعبير کوو.

نو د معنى حاصل يې داسې کېږي چې: مونږ څکه ابراهيم عليه السلام ته ذکره شوې ښودانه وکړه ترڅو نوموړی برسېره په لدني (غير کسبي) علم باندې د کسبي علم هم خاوند شي، چې مشرکانو ته غاښ ماتوونکی جواب ورکړي، لکه چې همداسې وشوه، چې خپل خان ته يې د وختونو په تېرېدلو سره د يقين کوونکو يو ښه غټ ټولګی جوړ کړ.

﴿ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ ٱلَّيْلُ رَءَا كَوْكَبًا ۖ قَالَ هَٰذَا رَبِّى ۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلْأَفِلِينَ
﴿٧٦﴾ فَلَمَّا رَءَا ٱلْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هَٰذَا رَبِّى ۖ فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَئِن لَّمْ يَهْدِنِى رَبِّى لَأَكُونَنَّ
مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٧٧﴾ فَلَمَّا رَءَا ٱلشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هَٰذَا رَبِّى هَٰذَآ أَكْبَرُ ۖ فَلَمَّا

(۱) مختصر المعاني في البلاغة ص۱۷۵
(۲) مفردات الراغب ص۵۷۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَلَمَّآ أَفَلَتْ قَالَ يَٰقَوْمِ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشْرِكُونَ ﴿٧٨﴾ إِنِّي وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ حَنِيفٗاۖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٧٩﴾

[۷۶] نو کله چې په ده (ابراهیم ﷺ) باندې (د جګړې په حال کښې) شپه تیاره شوه (نو ستوری یې ولید، وېې ویلې: (فرض کړئ چې) دا زما رب دی. نو کله چې ستوري غروب وکړ (نو) وېې ویلې چې: زه غروب کوونکی (د ربوبیت دپاره) نه خوښوم (په کار دي چې تاسو یې هم خوښ نه کړئ).

[۷۷] نو کله یې چې سپوږمۍ د راختلو په حال کښې ولیده وېې ویلې: (فرض کړئ چې) دا زما رب دی. نو کله چې سپوږمۍ (هم) ولوېده، وېې ویلې چې: که الله ﷻ ماته (په دوامداره توګه) هدایت ونه کړي نو ضرور خامخا به زه د ګمراه قوم څخه وشمېرل شم (لکه چې تاسو همداسې یاست).

[۷۸] نو کله یې چې د لمر سترګه د راختلو په حال کښې ولیده (نو) وېې ویلې: (فرض کړئ چې) دا زما رب دی. دا (د ټولو څخه) لوی دی. نو کله چې دا (د لمر سترګه) ولوېده، وېې ویلې چې: ای زما قومه! یقیناً زه د هغه شیانو څخه بېزار یم چې تاسو یې (د الله ﷻ سره په عبادت کښې) شریکوئ.

[۷۹] بې شکه ما خپل مخ هغه اقدس ذات ته اړولی دی چې اسمانونه او ځمکې یې (بې د سابق مثل څخه) پیدا کړي دي (د ده ﷻ په مخلوقاتو کښې ذکر شوي روښانه اجرام هم شامل دي). په داسې حال کښې چې زه (د ټولو باطلو ادیانو څخه) حق دین ته اووښتونکی یم او (هم) حال دا چې زه د مشرکانو څخه هم نه یم.

## د مطلب خلاصه

دا ایتونه د وړاندېنیو ایتونو دپاره تفصیل دی چې ابراهیم ﷺ د الهي ښودانې په رڼا کښې په څه ډول سره د الله ﷻ په وحدانیت باندې استدلال قائم کړ او خپل قوم ته یې په څه ډول باندې د هغوی ضلالت او ګمراهي ورڅرګنده کړه. چې حاصل یې داسې راوځي:

ای پیغمبره! د خپلې زمانې مشرکانو ته د ابراهیم ﷺ استدلال په تفصیل سره بیان کړه چې د الله ﷻ په وحدانیت باندې یې په کائناتو باندې په څه ډول سره استدلال قائم کړ او د شرک جرړې یې وریستلې، چې تفصیل یې دا دی:

۱ـ ابراهیم ﷺ د خپل مشرک پلار او مشرک قوم سره د توحید په جګړه بوخت وه چې په ده باندې په همدې جګړه کښې شپه ښه تیاره شوه او یو ستوری یې د نظر لاندې ورغی، نو مشرکان یې مخاطب کړه چې: فعلاً چې ټوله دنیا توره تیاره ده او یوازې هماغه ستوری شغلې وهي او په نورو ټولو موجوداتو باندې غوره دی او روښانه ځلېږي، نو که بالفرض د الله ﷻ څخه په غیر کوم یو مخلوق د الوهیت استحقاق درلودی شي نو هغه به همدا ځلېدونکی ستوری وي او همدا به زما رب لا څه چې دا به ستاسو رب هم وي.

مګر کله چې ذکر شوی ستوری ولوېد نو ابراهیم ﷺ ورته ووېلې چې زه خو لوېدونکي

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شیان د الوهیت دپاره نه خوښوم، چې اقلا خپل ځان د سقوط څخه نه شي ساتلی نو زما به څه په درد وخوري؟.

دا دی زما نظر، نو تاسو ته په کار دي چې تاسو هم ـ زما غونديـ د هغو شیانو عبادت ونه کړئ کوم چې یو وخت د عدم سره مخامخ کېږي.

۲ـ بیا چې کله سپوږمۍ په ښه غوره کښې راپورته شوه او ټوله دنیا یې رڼا کړه او حتی وارهـ واړه ستوري یې ټول د مخې سره د سترګو څخه پټ شوه، نو ابراهیم ﷵ وفرمایل چې: ای زما قومه! بالفرض دا زما رب دی او ستاسو رب هم دی چې رڼا یې د ستورو څخه زیاته او ګټه یې دېره ده. یا په بل عبارت: ای قومه! که بالفرض تاسو مخلوق ته د الوهیت لقب ورکوئ نو دغه سپوږمۍ د همدغه لقب دپاره ښه مناسبه ده.

مګر مجردې چې سپوږمۍ ولوېدله او غروب یې وکړ نو ابراهیم ﷵ په لوړ اواز سره غږ وکړ چې هرڅوک چې داسې مخلوقات په معبودیت سره نیسي کوم چې خپل ځانونه د سقوط څخه نه شي بچ کولی، نو یقیناً هغه سمه سیده لاره خطا کړه او په کندو باندې سر شو.

العیاذ بالله که ماته خپل رب هدایت ونه کړي او یا همدغه هدایت ته مې ادامه ورنه کړي نو زه به هم د ګمراهانو د ډلې څخه وشمېرل شم.

۳ـ بیا چې ابراهیم ﷵ د لمر سترګه په راختلو کښې ولیده چې په ډېر ډول او سنګار سره د أفق څخه راپورته شوه او دنیا یې داسې سپینه رڼا کړه چې د ستورو او سپوږمۍ رڼاګانې یې بالکل پوښنا کړې او یوازې د همدې په رڼا باندې دنیا روښانه شوه او خلکو په کاز او کسب باندې پیل وکړ او هیڅوک او هیڅ شی یې د فوائدو څخه محروم پاتې نه شو، نو ابراهیم ﷵ سمدستي مشرکانو ته غږ وکړ چې که تاسو مخلوقات په معبودیت سره نیسئ نو راشئ چې دغه د ټولو څخه روښانه مخلوق په معبودیت سره ونیسو، چې د ټولو څخه منور او د ټولو څخه ګټور دی، دا به زما رب هم وي او دا به ستاسو رب هم وي، العیاذ بالله.

خو مجردې چې د لمر سترګې غروب وکړ او په داسې حال کښې یې د دنیا څخه خپله منوره او روښانه څېره پټه کړه چې ټول مخلوق ورته محتاج وه او ټولو یې د بقا تمه درلوده مګر د دې سره سره مخ په زوال شوه او د مخلوقیت خواص پکښې ټولو ته ورڅرګند شوه، نو ابراهیم ﷵ خپل مشرک قوم مخاطب کړ چې: ای قومه! زه په دې باندې باور لرم چې تاسو خطا شوي یاست او خپل حقیقي معبود مو هېر کړی دی، نو زه خو د هغو ټولو معبودانو څخه خپل برائت (بېزاري) اعلانوم کوم چې تاسو یې د الله ﷻ سره په عبادت کښې شریکوئ او د معبودیت لقب ورکوئ.

ما خو خپل مخ د هغه اقدس ذات ﷻ عبادت ته په اختصاصي توګه اړولی دی چې ستوري او سپوږمۍ بلکې لمر لا څه چې ټول اسمانونه او ټولې ځمکې یې د نشت څخه موجود کړي دي او روزمره پکښې خپل تصرف جاري ساتي، چې ځینې راخېژوي او ځینو ته غروب ورکوي. یا په بل عبارت: چې څوک مړه کوي او چا ته ژوند وربښي او هر څه د همده ﷻ په لاس او قدرت کښې دي.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای قومه! زه خو د ټولو باطلو ادیانو څخه همدغه حق دین ته وراوښتی یم او حتی (ای مشرکانو!) ستاسو د شرکي دين څخه هم خپل برائت اعلانوم. دا وه زما نظر او دا ده زما عقیده، تاسو ته په کار دي چې زما غوندې تاسو هم د ټولو باطلو اديانو څخه حق دين ته راتاو شئ او د بوتانو عبادت نه شا کړئ. څکه چې کله په مخلوقاتو کښې غوره او روښانه مخلوق څه واک، او اختيار نه لري، نو ستاسو هغه بوتان به څه واک ولري کوم چې تاسو په خپلو لاسونو باندې جوړ کړي او تراشلي دي.

## توضيحات

۱ـ ځيني علماء کرام وايي چې: ابراهیم ﷺ ذکر شوي دربواړه دلايل د خپلې عقيدې د تثبيت دپاره ذکر کړي دي. مګر حقيقت دا دی چې دغه دلايل يې د خپل پلار او خپل قوم سره د مناظرې د کبله وړاندې کړي دي[1]. څکه چې:

الف: الله ﷻ د ابراهیم ﷺ د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ إِنِّيٓ أَرَىٰكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴾ [الأنعام:۷۴] يعني: ای پلاره! زه باور لرم چې ته او ستا قوم په ښکاره ګمراهۍ کښې ياست. دا ايت د مناظرې حالت بيانوي.

ب: همدارنګه نوموړي د دلايلو د ذکر څخه وروسته خپل قوم مخاطب کړ چې: ﴿ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ﴾ يقينًا زه د هغو بوتانو څخه بېزاري اعلانوم چې تاسو يې د الله ﷻ سره په عبادت کښې شريکوئ.

ج: الله ﷻ خو ابراهیم ﷺ ته د عقيدې سمون او حقيقت ته رسېدنه آن په ماشومتوب کښې عنايت کړې وه، او دې ته اړتيا نه وه چې د دلايلو په زور باندې يې تثبيت کړي، لکه چې فرمايي: ﴿ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ إِبۡرَٰهِيمَ رُشۡدَهُۥ مِن قَبۡلُ ﴾ [الأنبياء: ۵۱] يعني: او يقينًا مونږ ابراهيم ﷺ ته لا د وړاندې څخه (په ماشومتوب کښې) د عقيدې سمون ورکړی وه. لکه چې ځينو علماوو کرامو دغه ايت شريف همداسې تفسير کړی دی[2].

۲ـ که څه هم مفسرينو کرامو ليکلي دي چې ابراهيم ﷺ څکه د توحيد دلايل په ستورو او سپوږمۍ او بالآخره د لمر په سترګې کښې وښودل چې دوی برسېره په بوتانو باندې د ذکرو شوو شيانو هم عبادت کاوه[3]، مګر مونږ ته يې د تخصيص وجې داسې ښکاري چې:

الف: ترڅو مشرکان د توحيد دلايل واوري او فکر پکښې وکړي. که نه نو دوی خو د خپلو بوتانو د علم الوهيت دلايلو ته ساکت نه شوه پاتې کېدلی او په دې باره کښې يې د تفکر حوصله نه درلوده، که بالفرض دلايل يې د بوتانو په نامه پيل کړي وی نو مشرکانو به ورته هيڅ غوږ نه وی ايښی.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۱۵۱
(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۲۴۷
(۳) تفسير الکشاف ج۲ ص۴۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لځوا سکین شو



ب: ترڅو د بوتانو عدم الوهیت په طریق اولی (غوره طریقه) باندې اثبات شي. او دا څکه کله چې ذکر شوي دري شیان د الوهیت لیاقت نه لري حال دا چې نه د بندګانو په لاس جوړ شوي دي او نه د بوتانو په شان کثیف او خیرن دي، نو بوتان خو باید چې هیڅکله دغې رتبې ته ونه خېژولی شي.

ج: بالآخره، ترڅو د بوتانو عدم الوهیت د کنایې په توګه اثبات شي او کنایي خو د صریح څخه ابلغه ده.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: ابراهیم ﷺ خو د اولو العزم پیغمبرانو علیهم السلام څخه وه او ټول ژوند یې کوښښ یې دا وه چې مشرکان د شرک څخه خلاص کړي، نو پوښتنه دا ده چې: ایا د نوموړي سره مناسبه وه چې غیر الله ته اشاره وکړي او وایي چې "هَٰذَا رَبِّي" دا زما رب دی؟

مونږ وایو چې: د همدې پوښتنې د جوابولو دپاره تفاسیرو[1] زښت ډېر جوابونه لیکلي دي چې د ټولو دلته رانقلول اسانه خبره نه ده، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: ځینې علماء وایي چې: ابراهیم ﷺ ذکره شوې جمله ﴿ هَٰذَا رَبِّي ﴾ د ماشومتوب په وخت کښې ویلې وه چې لا تکلیف ورته متوجه نه وه. دوی د دغه جواب د ثبوت دپاره ډېره غریبه او عجیبه قیصه لیکلې ده که څوک یې د تفصیلي لوستلو شوق لري نو هملته[2] دې مراجعه وکړي خو مونږ یې دلته لاندې څو مهمو ټکو ته اشاره کوو:

اول: نمرود (د وخت پاچا) خوب لیدلی وه، چې د وخت پوهانو ورته د یوه هلک په زېږېدلو باندې تعبیر کړ چې د ده پاچاهي به د هغه په ذریعه درې ورې شي[3] او یا همدغه خبره د پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام د ارشاداتو څخه په خلکو کښې پاتې وه چې نمرود ورباندې خبر شو[4].

دوهم: په هر تقدیر، نوموړي پاچا د ټولو هغو هلکانو د وژلو امر صادر کړ کوم به چې تازه زېږېده.

درېیم: د همدې کبله د ابراهیم ﷺ مور د خپل زوی د ولادت دپاره یوه غار ته پناه وېوړه او د تولد څخه وروسته یې ابراهیم ﷺ هملته پرېښود.

څلورم: ابراهیم ﷺ هلته په معجزانه توګه تقریبًا آن تر لسو یا زیاتو کلونو پورې په همغه غار کښې ژوند کاوه[5] چې په همدغې موده کښې یې نه لمر لېدلی وه او نه سپوږمۍ او بالآخره نه ستوري او نه اسمان.

پنځم: کله چې د ذکرې شوې مودې د تېرولو څخه وروسته د باندې راوویستلی شو نو د ماشومتوب په حال کښې یې ذکر شوي استدلالات مور او یا پلار ته وړاندې کړه.

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۳ ص۴۹؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۱۱۰
(۲) الدر المنثور ج۳ ص۳۰۴
(۳) تفسیر القرطبي ج۷ ص۲۴
(۴) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۰۸
(۵) المحرر الوجیز ج۶ ص۹۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې:
ذکر شوی جواب بالکل باطل دی مونږ صرف د ردولو دپاره ذکر کړ ترڅو ورباندې څوک ونه غولېږي، او د بطلان دلایل یې دا دي:
اول: ځینې وایي چې دا قیصه یهودانو اختراع کړې ده او چا چې رانقل کړې ده او دروغژنه یې نه ده ګڼلې نو هغه خطا شوی دی[۱].
دوهم: ذکره شوې قیصه د اسرائیلیاتو څخه ده، بې قید او شرطه پرې باور کول جواز نه لري[۲].
دریم: دا قیصه د قرآن د سیاق او سباق (وړاندې او بېرته) سره سمون نه خوري[۳].
څلورم: ځینو مفسرینو کرامو[۴] لیکلي دي چې ابراهیم ﷺ ذکر شوي د توحید دري دلایل د نبوت څخه مخکښې مشرکانو ته وړاندې کړي وه مګر مونږ ته دا بهتره ښکاري چې ذکر شوي دلایل به یې په نبوت باندې د مشرف کېدلو څخه وروسته وړاندې کړي وي[۵]، د همدې کبله الله ﷻ په دغه بحث کښې د اتلسو پیغمبرانو نومونه اخیستي دي او بیا یې فرمایلي دي چې: ﴿ فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقْتَدِهْ ﴾ [الأنعام: ۹۰] یعنې: نو د همدوی په کړنلاره پسې اقتداء وکړه او په همدې باندې خپل ځان متسلي کړه.
پنځم: پیغمبران علیهم السلام د ګناه څخه او هم د کفري خبرې څخه آن د ماشومتوب په حالت کښې هم معصوم دي.
ب: ځینې نور علماء کرام وایي چې دلته ورسره د "عَلَى زَعْمِكُمْ" کلمه مقدره ده. یعنې: ستاسو په ګومان باندې دا زما رب دی. د دې نظیر دا دی چې د قیامت په ورځ به الله ﷻ مشرکانو ته ووایي چې: ﴿ أَيْنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴾ [القصص: ٦۲] یعنې: ای مشرکانو! ستاسو په ګومان زما هغه شریکان چرته دي چې تاسو یې اټکل کاوه.
ج: ځینې وایي چې دلته د استفهام همزه مقدره ده او استفهام د استهزاء او یا توبیخ دپاره دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ای مشرکانو! ایا دا زما رب دی؟
د دې نظیر دا دی چې: الله ﷻ فرمایي: ﴿ فَهُمُ ٱلْخَـٰلِدُونَ ﴾ [الأنبیاء: ۳٤] یعنې: ای پیغمبره! نو که ته مړ شې (چې کافران ورته خوشالېږي) نو ایا دوی همیشه پاتې کېدونکي دي؟.
دغه درې جوابونه که څه هم درست دي او په قرآن کریم کښې نظائر هم لري مګر د مقام په اعتبار سره زړه ته نه ورځي، نو ښه دا ده چې په جواب کښې ووایو:
د: ذکره شوې جمله ابراهیم ﷺ د فرض په اعتبار سره ویلې وه ترڅو یې په ابطال باندې مشرکانو ته قناعت ورکړي، لکه چې همدا ډول استدلال په ټولو محاورو کښې رواج دی. نو د معنی

(۱) تفسیر المنار ج۷ ص۵۵۷
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۱۸۱
(۳) البحر المحیط ج۴ ص۵٦۵
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۴
(۵) تفسیر الخازن ج۲ ص۴۳۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حاصل یې داسې کېږي چې: ای مشرکانو! فرض مې کړه چې دا زما رب دی، حال دا چې دلایل یې پوره واضحه دي او د ثبوت دلایل یې بالکل نشته، نو که تاسو یې اثباتولی شئ نو دا میدان، اثبات یې کړئ.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: په تجربه ثابته ده چې کله د شپې د څه برخې د تېرېدلو څخه وروسته سپوږمۍ طلوع وکړي نو په همدې شپه کښې د لمر د راختلو څخه وړاندې غروب نه شي کولی، حال دا چې د ایتونو صورت حال داسې دی چې سپوږمۍ د ستوري (زهره یا مشتري) د غروب څخه وروسته طلوع وکړه او په عین شپه کښې د لمر د راختلو څخه وړاندې ولوېده؟

مونږ وایو: که ذکرو شوو درېواړو دلایلو په یوه شپه کښې تحقق موندلی وی لکه چې اکثرو مفسرین کرام وایي[۱]، نو غرب ته د سپوږمۍ میلان مجازاً غروب ګڼل شوی دی که څه هم حقیقتاً یې غروب نه وي کړی. دغه صورت حال د میاشتې د پنځلسمې (۱۵) څخه آن تر پنځه ویشتم (۲۵) پورې په واضحه توګه تحقق موندلی شي[۲].

او که درې واړه دلایل په یوه شپه کښې نه وي متحقق شوي، لکه چې محققین علماء کرام پرې قول کوي[۳] نو بیا خو نه سوال ته حاجت شته او نه جواب ته. مونږ ته همدغه نظر ښه برېښي ځکه چې د "ف" توری په تعقیب باندې دلالت کوي، نه په اتصال باندې، لکه چې عرب وایي: "فُلَانٌ نَکَحَ فَوَلَدَ" فلاني نکاح وکړه نو اولاد یې وزېږاوه، یعنې نهه میاشتې وروسته مثلاً.

## د عربیت یو قانون

۵ـ د ﴿ اَلشَّمْسَ ﴾ کلمه سماعي مونثه ده چې تذکیر او تانیث پکښې دواړه جائز دي، نو ځکه په ایت شریف کښې ورته د ﴿ بَازِغَةً ﴾، ﴿ أَفَلَتْ ﴾ مونث ضمائر راجع کړی شوي دي او په ﴿ هَٰذَآ أَكْبَرُ ﴾ کښې ورته د مذکر اشاره شوې ده[۴].

## د لمر سترګه لویه ده

۶ـ د لمر سترګه د رڼا په حیث د ستورو او سپوږمۍ څخه لویه ده، بلکې په رڼا کښې د ټولو نوراني اجرامو اصله ده او نور یې فروعات دي. اما د جسم او حجم په اعتبار سره هم ډېره لویه ده، که بالفرض د لمر د سترګې څخه شپږ زره شپږ سوه او څه د پاسه څلور څلوېښت (۶۶۴۴) ټوټې جوړې کړی شي نو یوه ټوټه به یې د سپوږمۍ سره برابره شي[۵].

(۱) البحر المحیط ج۴ ص۵۶۷
(۲) المحرر الوجیز ج۶ ص۹۲
(۳) روح المعاني ج۷ ص۲۰۱
(۴) زاد المسیر ج۲ ص۵۳
(۵) روح المعاني ج۷ ص۲۰۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَحَآجَّهُۥ قَوْمُهُۥ ۚ قَالَ أَتُحَٰٓجُّوٓنِّى فِى ٱللَّهِ وَقَدْ هَدَىٰنِ ۚ وَلَآ أَخَافُ مَا تُشْرِكُونَ بِهِۦٓ إِلَّآ
أَن يَشَآءَ رَبِّى شَيْـًٔا ۗ وَسِعَ رَبِّى كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ۗ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٨٠﴾ وَكَيْفَ أَخَافُ
مَآ أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُم بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنًا ۚ فَأَىُّ
ٱلْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِٱلْأَمْنِ ۖ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨١﴾ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَلَمْ يَلْبِسُوٓا۟ إِيمَٰنَهُم
بِظُلْمٍ أُو۟لَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٨٢﴾﴾

[۸۰] او د ده (ابراهيم ﷺ) سره د ده قوم جګړه وکړه (او د بوتانو د اذيت څخه يې ودار کړ، نو ده (ابراهيم ﷺ ورته) وويلې چې: ايا تاسو ما سره د الله ﷻ (د وحدانيت) په باره کښې جګړې کوئ، حال دا چې ماته يې هدايت کړی دی (مطلب ته يې رسولی يم)؟

او زه د هغو شيانو څخه نه ډاريږم چې تاسو يې د الله ﷻ سره (په عبادت کښې) شريکوئ، مګر که زما د رب ﷻ کوم يوه شي ته اراده وشي (نو هغه به راته رسيږي او بس)، زما رب ﷻ د علم د حيثه هر شي ته رسېدلی دی (او هر څه ورته معلوم دي)، ايا نو تاسو تذکر قدرې هم نه کوئ (او پند نه اخلئ)؟

[۸۱] او زه به د هغو شيانو څخه څنګه وډار شم چې تاسو شريکان جوړ کړي دي، حال دا چې تاسو (د دې کار د خطر څخه) نه ډاريږئ چې د الله ﷻ سره مو هغه شيان شريکان ګرځولي دي چې الله ﷻ يې (د ثبوت په باره کښې) په تاسو باندې هيڅ دليل نه دی نازل کړی (او نه په واقع کښې د ثبوت کوم دليل لرئ).

نو (جواب راکړئ چې) د دواړو ډلو کومه يوه (مونږ که تاسو) په امن سره ډېره حقداره ده (او د خطر څخه بچ ده)؟ که تاسو پوهيږئ (نو د امن مستحق به وپېژنئ).

[۸۲] (په دې باره کښې د الله ﷻ فيصله دا ده چې) هغه کسان چې ايمان يې راوړی وي او خپل ايمان يې د ظلم (شرک) سره نه وي ګډ کړی، دغه کسان چې دي همدغو لره امن (د خطر څخه بچ کېدل) ثابت دی او همدوی (سمه سيده) لاره موندونکي دي.

## د مطلب خلاصه

په دغو ايتونو کښې د ابراهيم ﷺ د دلايلو په مقابل کښې د مشرکانو غبرګون واضحه شوی دی چې دوی په خپله شرکي عقيده باندې څومره کلک پاتې شوه او په څومره کمزوري دليل پورې يې ځانونه ونښلول، چې حاصل يې داسې راوځي:

۱ـ د ابراهيم ﷺ د غابن ماتوونکودري دلايلو څخه وروسته د ده مشرک قوم زور ولګاوه چې په هغه باندې په دلايلو کښې برلاسي شي مګر د ډېر زيات کوښښ سره سره د هغوی ډېر غټ حجت

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او برهان دا وه چې: ای ابراهیمه! د بوتانو بدي مه وایه او په عبادت باندې یې زمونږ غوندې مه شه که نه نو د بوتانو د لاسه به په کوم آفت باندې مبتلا شې، یا به دې لیونی کړي او یا به دې په کوم بل مرض باندې اخته کړي.

۲ـ ابراهیم ﷺ د مشرکانو د همدغه کمزوري برهان په مقابل کښې هغوی مخاطب کړه چې: ډېره عجیبه ده چې تاسو زما سره د الله ﷻ د وحدانیت په باره کښې جګړې کوئ او زما په ښښونکو دلایلو باندې د عناد د کبله قناعت نه کوئ، حال دا چې د ده ﷻ په وحدانیت باندې ټول مخلوقات دلالت کوي او ټول پرې شهادت ورکوي مګر تاسو پرې ځانونه کاڼه اچولي دي. ماته خو الله ﷻ هدایت کړی دی او مطلب ته یې رسولی یم په توحید باندې مې سر خلاص دی او د زړه څخه پرې قناعت لرم ستاسو کمزوری دلیل راباندې هیڅ اثر نه شي اچولی.

علاوه په دې، زه خو ستاسو د بوتانو څخه په هیڅ صورت باندې نه ډارېږم چې څه ضرر به راته ورسوي، ځکه چې دوی نه چا ته ضرر رسولی شي او نه چا ته د ګټې د رسولو توان لري. هو! دا بېله خبره ده چې زما حقیقي رب ﷻ ماته د کوم شي اراده وکړي چې هیڅوک یې مخنیوی نه شي کولی. یا په بل عبارت: که بالفرض ماته څه اذیت ورسېږي او په څه مرض باندې اخته شم او یا راباندې کوم دېوال سقوط وکړي او پرې زخمي شم او بالآخره یا راباندې د اسمان څخه کوم یو ستوری راولوېږي او یا داسې بل کوم آفت راباندې نازل شي نو هغه به هم زما د خپل رب ﷻ د پلوه وي او صرف د همده ﷻ په اراده باندې به یې تحقق موندلی وي، د بوتانو به پکښې هیڅ مداخله نه وي، یوازې د ده ﷻ هر څه په اختیار کښې دي. او هر شي ته یې علم رسېدلی دی چې څوک د اذیت او مشقت مستحق دی او څوک د خوشالۍ او پراخۍ استحقاق لري.

۳ـ ای مشرکانو! د الله ﷻ په کامل قدرت او کامل علم باندې پوهېدل بالکل واضحه دي چندان دقیق فکر ته اړتیا نه لري محض یو تذکر (لږ توجه) ورته کفایت کوي. ایا تاسو لږ توجه هم نه کوئ چې پند واخلئ او په خپله کړنلاره باندې پښېمانه شئ؟

۴ـ ابراهیم ﷺ مشرکان مخاطب کړه چې: ای مشرکانو! زه او تاسو اوس په عجیبه حالت کښې قرار لرو چې تفصیل یې دا دی:

الف: زه تاسو د الله ﷻ (واحد لا شریک) څخه ډاروم چې هر څه یې په واک او اختیار کښې دي او په حقانیت باندې یې ټول مخلوقات لارښودانه کوي چې ځینې دلایل یې تاسو په سترګو او بالآخره په سپوږمۍ او لمر کښې واورېدل او ولیدل.

ب: او تاسو ما د بوتانو څخه ډاروئ چې نه څه واک او اختیار لري او نه یې په ثبوت باندې څه دلیل شته. که بالفرض بوتانو څه واقعیت درلودی نو ضرور به الله ﷻ د هغو په ثبوت باندې څه دلیل نازل کړی وی، الله ﷻ خو حقائق بې دلیله نه پرېږدي.

اوس پوښتنه دا ده چې: ایا زه او زما ملګري په امن کښې یاستو او د خطر څخه بچ یاستو، او که تاسو د امن مستحق یاست او په خطر کښې واقع یاست.

Downloaded from: ...

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵ـ ای پیغمبره! که څه هم د ابراهیم ﷺ د ذکر شوې پوښتنې په جواب کښې مشرکان ګونګ پاتې شوه او څه یې ونه ویلې مګر په دې باره کښې د الله ﷻ عمومي فیصله یوې زمانې پورې هم اختصاص نه لري، هغه دا چې هغه کسان چې ایمان راوړي او د خپل ایمان سره لوی ظلم (شرک) خلط ملط نه کړي نو همدغه کسان د امن حقدار دي (د خطر څخه بچ دي) او همدوی حقه لاره مونډونکي دي (د ضلالت څخه بچ دي).

## توضیحات

۱ـ د ﴿وَحَآجَّهُۥ﴾، ﴿أَتُحَٰٓجُّوٓنِّي﴾ دواړه کلمې د "مُحَاجَّة" ـلکه "مُضَارَبَة"ـ څخه اخستل شوې دي، "مُحَاجَّة" دې ته وایي چې د جګړه کوونکو هر یو طرف کوښښ کوي چې مقابل طرف مات کړي او د هغه استدلال د منلو څخه ساقط کړي[1].

په دې مقام کښې مشرکانو غوښتل چې د ابراهیم ﷺ دلایل د قبول څخه وغورزوي چې د الله ﷻ وحدانیت ثابت نه کړی شي او ابراهیم ﷺ غوښتل چې د مشرکانو د شرکي عقیدې استدلال باطل کړي، چې په نتیجه کښې ابراهیم ﷺ بریالی شو، لکه چې د ایتونو لړۍ ورباندې ښه پوره لارښوونه کوي.

## یادونه

۲ـ که څه هم ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې دا جواب: ﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ﴾ الآیة الله ﷻ د ابراهیم ﷺ د خولې څخه حکایت کړی دی[2]، یعنې: کله چې مشرکان د مطرح شوي سوال په وړاندې هک پک پاتې شوه نو ابراهیم ﷺ د دوی سکوت مات کړ او جواب یې واضحه کړ.

مګر مونږ ته دا بهتره ښکاري چې ذکر شوی ایت شریف به الله ﷻ د فیصلې په توګه نازل کړې وي ترڅو د ټولو زمانو مشرکان په غوږ ووهي چې د خطر څخه د بچ کېدلو دپاره دوه شیان په کار دي: یو د الله ﷻ په موجودیت باندې عقیده، چې دهري نه وي، او بل یې په وحدانیت باندې عقیده چې مشرک نه وي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې: ظلم خو دې ته وایي چې یو شی د خپل ځای څخه په غیر په بل ځای کښې کېښودل شي او یا یې اقلاً خپل اصل ځای ته په زیادت او نقصان او بالآخره د مکان یا زمان په اعتبار سره تغیر ورکړی شي. یا په بل عبارت: ظلم خو د حق څخه تجاوز ته وایي، چې ټول ګناهونه د ظلم په مفهوم کښې شامل ګڼلي کېږي[3].

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۰۶
(۲) المحرر الوجیز ج۶ ص۹۶
(۳) مفردات الراغب ص۳۲۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو پوښتنه دا ده چې: ايا د ذکر شوي ايت شريف دپاره د پيغمبرانو څخه په غير (چې د ګناهونو څخه معصوم دي) بل څوک مصداق جوړېدلی شي؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې د صحابه کرامو ﷺ او تابعينو په اتفاق سره د ظلم څخه شرک مراد دی[۱]، نو ټول مومنان د ايت شريف مصداقات دي. د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحه ولولئ: د عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روايت دی چې کله ذکر شوی ايت شريف نازل شو نو د نبي کريم ﷺ صحابه کرام ﷺ ډېر خپه شوه او وېې ويلې چې: «وَأَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ» او زمونږ کوم يو ظلم (ګناه) نه ده کړې بلکې هر يو لږ يا ډېره ګناه لرو. «فَنَزَلَتْ: ﴿ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾» [لقمان: ۱۳][۲] نو دا ايت شريف نازل شو چې: يقينًا شرک لوی ظلم دی. يعنې دلته د ظلم څخه ګناه مراده نه ده بلکې شرک مراد دی.

## په تفسير يا مصداق باندې د شان نزول اطلاق

۴ـ په ذکر شوي حديث کښې د ﴿ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾ د ايت سره د «فَنَزَلَتْ» کلمه روايت شوې ده، ته به وايې چې د صحابه وو کرامو ﷺ تشويش پورته کول يې شان نزول وه. مګر په بل حديث کښې نبي کريم ﷺ ذکر شوی ايت شريف د تفسير په شکل قرائت کړی دی. نو معلومه شوه چې په تفسير يا مصداق باندې د شان نزول اطلاق کېږي، ذکر شوی اطلاق په ياد ولرئ چې په ډېرو ځايونو کښې په کار درځي او مشکلات پرې حل کېږي.

حديث دا دی چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: «إِنَّهُ لَيْسَ بِذَاكَ أَلَا تَسْمَعُ إِلَى قَوْلِ لُقْمَانَ لِابْنِهِ: ﴿ إِنَّ ٱلشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾»[۳] يعنې: ای صحابه وو! تاسو تشويش مه کوئ، ايا تاسو کوم يوه د لقمان خبره د خپل زوی دپاره نه ده اورېدلې؟ هغه دا چې يقينًا شرک لوی ظلم دی. نو دلته ګناه مراده نه ده بلکې دلته شرک مراد دی او تاسو خو د شرک څخه پاک ياست.

## سوال جواب

که څوک وايي: د أهل السنة والجماعة عقيده دا ده چې ايمان د خوف (ډار) او د رجاء (اُميد) ترمنځ دی، او د ايت شريف څخه معلومېږي چې سوچه مؤمنان په امن کښې دي څه خطر ورته نشته. يا په بل عبارت: سوچه ايمان ټوله رجاء ده او د خوف څنډه نه لري؟

مونږ وايو چې: د دې جملې "ايمان د خوف او رجاء ترمنځ دی" معنی دا ده چې که د الله ﷻ توفيق د مؤمن لاس نيوی ونه کړي نو ايمان يې باقي نه شي پاتې کېدلی؛ يا په بل عبارت: لکه څنګه چې په ايمان باندې مشرف کېدل د الله ﷻ په توفيق سره صورت نيسي همدارنګه ايماندار پاتې کېدل هم د الله ﷻ د توفيق څخه په غير تحقق نه شي موندلی[۴].

---

(۱) تفسير القاسمي ج۶ ص۶۰۵
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۶۶۶
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۴
(۴) شرح العقائد ص۱۲۱؛ النبراس ص۲۴۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما کله چې ایمان د زوال د خطر څخه بچ شي او آن د وروستنۍ سلګۍ پورې پکښې څه خلل واقع نه شي بیا نو ایمان تول امن دی، او په ذکر شوي ایت شریف کښې همدغه حالت ته اشاره شوې ده، لکه چې فرمايي: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسْتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحْزَنُواْ وَأَبْشِرُواْ بِٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴾ [فصلت: ٣٠] یعني: یقیناً هغه کسان چې دوی وایي چې زمونږ رب الله ﷻ دی (او بس) بیا (په همدې عقیده) برابر (ثابت) پاتې شي، نو (د مرګ په وخت کښې به) ورباندې د رحمت ملائک وربښکته شي چې مه ډارېږئ او مه غمژن کېږئ او په هغه جنت باندې زېرى قبول کړئ چې ستاسو سره یې وعده کړې شوې وه، اللهم اجعل آخر کلامنا لا إله إلا الله محمد رسول الله.

﴿ وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ ءَاتَيْنَٰهَآ إِبْرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ ۚ نَرْفَعُ دَرَجَٰتٍ مَّن نَّشَآءُ ۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٨٣﴾ وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ ۚ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ وَنُوحًا هَدَيْنَا مِن قَبْلُ ۖ وَمِن ذُرِّيَّتِهِۦ دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَٰنَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٨٤﴾ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَىٰ وَعِيسَىٰ وَإِلْيَاسَ ۖ كُلٌّ مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٥﴾ وَإِسْمَٰعِيلَ وَٱلْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا ۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٦﴾ وَمِنْ ءَابَآئِهِمْ وَذُرِّيَّٰتِهِمْ وَإِخْوَٰنِهِمْ ۖ وَٱجْتَبَيْنَٰهُمْ وَهَدَيْنَٰهُمْ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٨٧﴾ ذَٰلِكَ هُدَى ٱللَّهِ يَهْدِى بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۚ وَلَوْ أَشْرَكُواْ لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿٨٨﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ۚ فَإِن يَكْفُرْ بِهَا هَٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُواْ بِهَا بِكَٰفِرِينَ ﴿٨٩﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُ ۖ فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقْتَدِهْ ۗ قُل لَّآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٠﴾ ﴾

[٨٣] او دغه زمونږ حجت دی چې ابراهیم ؑ ته مو په خپل قوم باندې ورکړې وه، مونږ د هغه چا درجې پورته کوو چې زمونږ ورته اراده وشي؛ یقیناً ستا رب ﷻ (اې پیغمبره!) د حکمت څښتن (او) د علم خاوند دی.

[٨٤] او ده (ابراهیم ؑ) ته مو اسحاق ؑ (زوی) او یعقوب ؑ (لمسی هم) وربښلی وه، هر یوه ته مونږ لاربښوونه کړې وه، او د دوی څخه وړاندې مو نوح ؑ (د ابراهیم ؑ نیکه) ته هم لاربښوونه کړې وه، او هم مو د ده (ابراهیم ؑ) د اولادې څخه داود ؑ ته او سلیمان ؑ ته او

Downloaded from: bawarketabton.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایوب ﷺ ته او یوسف ﷺ ته او موسی ﷺ ته او هارون ﷺ ته (هدایت کړی وه)، او همدارنګه مونږ نیکو کارانو ته (نېکه) جزا ورکوو.

[۸۵] او (هم مو) زکریا ﷺ ته او یحیی ﷺ ته او عیسی ﷺ ته او الیاس ﷺ ته (هدایت کړی وه)، (دوی) هر یو د صالحانو د ډلې څخه وه.

[۸۶] او (هم مو) اسماعیل ﷺ ته او الیسع ﷺ ته او یونس ﷺ او لوط ﷺ ته (لارښوونه کړې وه) او (دوی) هر یو مو (د خپلو خپلو زمانو) په عالمونو باندې بهتر ګرځولی وه.

[۸۷] او (هم مو) د دوی د پلرونو څخه او د دوی اولادونو څخه او (بالآخره) د دوی ورونو څخه (زښتو ډېرو ته لارښوونه کړې وه). او دوی (ټول) مو غوره جوړ کړي وه او د برابرې لارې هدایت مو ورته کړی وه.

[۸۸] دغه د الله ﷻ هدایت دی چا ته یې چې د خپلو بندګانو څخه اراده وشي نو هغه ته پرې هدایت کوي. او که (بالفرض) دوی (ذکرو شوو پیغمبرانو) شرک اختیار کړی وی نو د دوی څخه به ضرور هغه نېک عملونه ضائع شوي وی چې دوی کړي وه.

[۸۹] دغه (ذکر شوي کسان) هغه کسان دي چې مونږ ورته کتاب (تورات، انجیل، زبور، صحائف) ورکړی وه. او د حکمت څخه ډکې (فیصله کوونکې خبرې) هم او پیغمبری هم.

نو که دوی (ستا د زمانې خلک) په دې (ستا په شریعت یا نبوت) سره کافر شي نو (هیڅ بې صبره کېږه مه څکه) یقینًا چې مونږ ورته (ستا شریعت ته) داسې قوم تاکلی (پیدا کړی دی او پیدا کوو یې) چې هغوی به پرې کافر نه وي (او کلکه عقیده به پرې لري او په اخلاص سره به ورته خدمت کوي).

[۹۰] دغه (پیغمبران علیهم السلام) هغه کسان دي چې الله ﷻ (ورته) هدایت کړی وه، نو د دوی د هدایت پسې اقتداء وکړه (او د هغوی غوندې با عزمه اوسه).

(ای پیغمبره! په آخره کښې دوی ته) ووایه چې: زه خو ستاسو څخه په دې (دین یا قرآن) باندې څه بدله نه غواړم، نه دی دا (دین یا قرآن) مګر د ټولو عالمونو دپاره پند (او خیر غوښتنه) ده.

## د مطلب خلاصه او توضیحات

۱ـ ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د ﴿ وَتِلْكَ ﴾ کلمه همدغه نږدې حجت ته اشاره ده چې ﴿ فَأَيُّ ٱلْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِٱلْأَمْنِ ﴾[۱]، مګر مونږ ته داسې برېښي چې دغه کلمه به د ذکرو شوو ټولو دلایلو مجموعې ته اشاره وي کوم چې د ﴿ فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ ٱلَّيْلُ ﴾ څخه پیل شوي دي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ذکر شوي ټول دلایل په حقیقت کښې زمونږ دلایل دي چې مونږ ابراهیم ﷺ ته د مشرکانو د ملامته کولو دپاره ورکړي وه، که بالفرض نوموړي ته مونږ تلقین نه وی کړی او په مخلوقاتو کښې مو بصیرت نه وی ورکړی نو نه به یې په توحید باندې دلایل بېر کړي وی او نه به یې مشرکان پره کړي وی.

---

۱) تفسیر الطبري ج۵ ص۲۵۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدغو دلايلو برکت وه چې مونږ ابراهيم ﷺ په دنيا او آخرت کښې لوړو درجو ته ورساوه، دا اجر ورکول يوازې ابراهيم ﷺ پورې اختصاص نه لري بلکې د قيامت د ورځې پورې هرڅوک چې د دين په لوړولو کښې زيار باسي هغه ته مونږ لوړې رتبې ورکوو.

مګر اې پيغمبره! ستا رب ﷻ هم د حکمت څښتن دی او هم پوه دی چې د اشخاصو استعدادونه ورته معلوم دي او د توفيق ورکړه يې بې حکمته نه ده.

## نېکه اولاده هم نعمت دی

۲ـ الله ﷻ د ابراهيم ﷺ د لوړو درجو په تفصيل کښې د نېک زوزات ذکر هم وکړ لکه اسحاق ﷺ (زوی) او يعقوب ﷺ (لمسی). ترڅو مونږ ته څرګنده شي چې د نېک زوزات ورکړه ډېر لوی نعمت دی او هم راته ښکاره شي چې د نېکو پلرونو برکات تر ډېرو زمانو پورې په اولاده کښې پاتې کېږي.

نو لکه څنګه چې الله ﷻ نوح ﷺ ته (چې د مشرکانو په مقابله کښې يې زښت زيات اذيتونه ليدلي وه) ابراهيم ﷺ وباښه همدارنګه يې ابراهيم ﷺ ته د ده څخه وروسته د آخر الزمان پيغمبر ﷺ په شمول ټول پيغمبران وربښلي دي.

## په "مِنْ ذُرِّيَّتِهِ" کښې ضمير چا ته راجع دی؟

۳ـ ځينې مفسرين کرام وايي چې په ﴿ وَمِن ذُرِّيَّتِهِ ﴾ کښې ضمير ﴿ وَنُوحًا ﴾ ته راجع دی، چې نژدې ذکر دی، او مرجع چې څومره نژدې وي هغومره بهتره وي[1].

مګر مونږ ته دا بهتره ښکاري چې ذکر شوی ضمير ابراهيم ﷺ ته راجع شي چې د همده ﷺ په فضائلو او درجاتو کښې بحث روان دی، حتی چې د نوح ﷺ ذکر هم په دې مقام کښې د همدغه بحث يوه برخه ده؛ نو په کار دي چې بې ضرورته د بحث څخه د وتلو التزام ونه کړی شي.

نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې:

د ابراهيم ﷺ د اولادې څخه مو داود ﷺ، سليمان ﷺ، ايوب ﷺ، يوسف ﷺ، موسی ﷺ او هارون ﷺ ته هم هدايت کړی وه، او همدارنګه مونږ په هره زمانه کښې نېکوکارانو ته نېکه جزا په دنيا او آخرت دواړو کښې ورکوو.

او زکريا ﷺ او عيسی ﷺ مو هم مطلب ته رسولي وه او عيسی ﷺ او الياس ﷺ مو هم په هدايت (نبوت) باندې سرلوړي کړي وه، دوی هر يو د صالحينو د ډلې څخه وه او د ابراهيم ﷺ دپاره افتخار وه.

همدارنګه مو اسماعيل ﷺ، اليسع ﷺ، يونس ﷺ او لوط ﷺ هم په نبوت باندې مشرف کړي وه او د ابراهيم ﷺ زوزات مو پرې ښائسته کړي وه. او د دوی هر يو مو په خپلو خپلو زمانو کښې په ټولو عالمونو باندې بهتر ګرځولی وه.

---

[1] تفسير الطبري ج۵ ص۲۶۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: یونس ﷺ او لوط ﷺ خو د ابراهیم ﷺ په اولاده کښې شامل نه دي او په ذکرې شوې شرحې سره دوی دواړه هم د ده په اولاده کښې شمېرل کېږي؟

مونږ وايو چې: لکه څنګه چې په [البقرة:۱۳۳] ایت کښې اسماعیل ﷺ د یعقوب ﷺ په پلرونو کښې د مجاز په توګه شمېرل شوی دی همدارنګه په دې مقام کښې ابراهیم ﷺ د لوط ﷺ پلار ښودلی شوی، حال دا چې د ده تره دی، او په تره باندې د پلار اطلاق کېږي کله چې صارفه قرینه موجوده وي لکه چې دلته موجوده ده، هغه دا چې شرعًا ثابته ده چې لوط ﷺ د ابراهیم ﷺ زوی نه بلکې وراره وه[۱].

اما د یونس ﷺ په باره کښې ځینې علماء کرام وايي چې نوموړی د ابراهیم ﷺ په اولاده کښې شامل دی[۲]، که داسې وي نو نه سوال ته حاجت شته او نه جواب ته، او که نه نو تغلیبًا به د ده په اولاده کښې شمېرل شوی وی او تغلیب خو د عربیت ښه منلی شوی قانون دی.

## یادونه

که څوک غواړي چې د ذکرو شوو پیغمبرانو علیهم السلام د ترتیب او ځینو شمائلو په باره کښې معلومات حاصل کړي نو اوږدو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[۳].

## عجیبه قیصه

۵_ یوه ورځې حجاج بن یوسف د وخت یوه عالم (یحیی بن یعمر) ته څوک واستاوه ترڅو ورځنه وپوښتي چې: ایا ته رښتیا حسن ﷺ او حسین ﷺ د نبي کریم ﷺ د اولادې څخه ګڼې حال دا چې ما خو قرآن کریم د اول څخه تر آخره پورې ولوست او ذکره شوې خبره مې پکښې مونده نه کړه؟

ذکر شوي عالم همدغو ایتونو ته اشاره وکړه، کوم چې اوس د بحث لاندې دي، او جواب یې ورواستاوه چې: ایا عیسی ﷺ د ابراهیم ﷺ د اولادې څخه نه دی شمېرل شوی حال دا چې انتساب یې هغه ته یوازې د مور (بي بي مریمې) په سلسله شوی دی، نو همدارنګه د حسنینو رضي الله عنهما انتساب هم نبي کریم ﷺ ته د مور (بي بي فاطمې رضي الله عنها) په سلسله صحت لري.

نو حجاج ذکر شوی استدلال تسلیم کړ او ویې ویلې چې: "صَدَقْتَ"[۴] رښتیا دې وویلې.

## درې ضمائر

۶_ د ﴿ وَمِنْ ءَابَآبِهِمْ وَذُرِّيَّتِهِمْ وَإِخْوَانِهِمْ ﴾ درېواړو کلمو ضمیرونه د ذکرو شوو پیغمبرانو علیهم السلام

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۱۳
(۲) روح المعاني ج۷ ص۲۱۲
(۳) تفسیر القاسمي ج۶ ص۶۱۳؛ روح المعاني ج۷ ص۲۱۵؛ تفسیر المنار ج۷ ص۵۸۷
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۱۵۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مجموعي ته راجع دي چې د ابراهیم ﷺ په شمول اتلس تنو ته رسېږي؛ ذکر شوي ضمائر دا غوښتنه نه کوي چې هر پیغمبر دې پلار او زوزات او بالآخره ورور ولري، ترڅو د عیسی ﷺ په هکله اعتراض وارد شي[۱]. نو د مطلب خلاصه یې داسې راوځي چې:

د ذکرو شوو پیغمبرانو د پلرونو، اولادې او بالآخره د ورونو د جملې څخه هم مونږ ډېر کسان بهتر ګرځولي وه چې ځینې مو په نبوت سره او ځینې مو په ولایت سره د خپلو خپلو زمانو په خلکو باندې غوره جوړ کړي وه او برابرې لارې ته مو ورته هدایت کړی وه.

ای پیغمبره! د الله ﷻ هدایت دغه هدایت دی چې چا ته یې د خپلو بندګانو د جملې څخه اراده وشي نو هغه پرې سرلوړی کوي او تر ډېرو زمانو پورې یې برکات په دنیا کښې هم څرګندوي.

۷_ ای پیغمبره! ذکر شوي پیغمبران او د دوی نور اقارب څکه د الله ﷻ په نزد غوره بنده ګان وه چې دوی د ابراهیمي ملت (دین) ساتونکي وه او هر یوه د خپل توان په اندازه ورته خدمت کاوه، که بالفرض هغوی د ابراهیمي تګلارې څخه اوښتي وی او د بوت پرستانو غونډې شرک یې اختیار کړي وی نو ډېر ژر به د ورکړی شوو رتبو څخه غورزولي شوي وی او هم به یې پخواني نېک عملونه ټول ضائع شوي وی؛ لنډه دا چې الله ﷻ په خپلو حقوقو کښې هر څه بښي، چې اراده یې وشي، مګر شرک او کفر نه بښي که څه هم (بالفرض) د یوه پیغمبر څخه صادر شي.

## سوال جواب

۸_ که څوک وایي چې: ذکرو شوو ټولو پیغمبرانو هر یوه ته کتاب نه وه ورکړی شوی حال دا چې د ﴿ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ﴾ جملې مفهوم دا دی چې ټولو ته کتابونه ورکړی شوي وه؟

مونږ وایو چې: د کتاب ورکړه په دوه ډوله ده: یوه دا چې د اسمانهورباندې نازل شوی وي، او بل دا چې د وړاندېني پیغمبر څخه ورته په وراثت سره پاتې وي؛ نو په دې تعمیم سره هر یوه پیغمبر ته کتاب ورکړی شوی دی.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: ذکرو شوو ټولو پیغمبرانو (چې د چا نوم اخستل شوی دی او چا ته اشاره شوې ده) هر یوه ته مونږ هم کتاب ورکړی وه او هم د فیصلو کولو قوت (د حکمت څخه ډکې خبرې) او هم نبوت؛ نو چا چې ورباندې عقیده وکړه نو هغه خپل ځان ته ویاړ حاصل کړ او چا چې ونه منل نو فقط خپل ځان یې د هلاکت په کنده کښې ورواچاوه.

ای پیغمبره! تاته مو هم په کتاب (قرآن کریم) باندې علاوه حکمت او نبوت درکړی دی، نو که څوک درباندې باور وکړي او د پیغمبر په صفت دې وپېژني نو خپل ځان به د هلاکت څخه بچ کړي او که کفر اختیار کړي نو ستا دین ته څه ضرر نه شي رسولی، د ایمان افتخار به یې د لاسه وباسو او د دین د پیروۍ دپاره به نور خلک پیدا کړو او د دین په خدمت باندې به یې وګمارو چې هغوی به ورته په ډېر احترام قائل وي او د زړه د کومې به پرې معتقد وي.

[۱] روح المعاني ج۷ ص۲۱۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۹_ که څوک وايي چې: هغه کوم قوم دی چې الله ﷻ وعده کړې ده چې د دین د خدمت دپاره به يې په دنیا کښې موجود کړي او یا يې موجود کړی دی؟

په جواب کښې مفسرینو کرامو[1] متعدد اقوال ذکر کړي دي، مګر مونږ ته داسې بریښي چې په دې ایت شریف کښې به د موعود قوم څخه هغه قوم مراد وي د کوم څخه چې الله ﷻ حکایت کوي او فرمايي چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَسَوْفَ يَأْتِى ٱللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُۥٓ ﴾ [المائدة: ۵۴] يعني: ای مؤمنانو! ستاسو څخه چې هر څوک د خپل دین څخه بېرته تاو شي نو ډېر ژر به الله ﷻ داسې قوم راولي چې دوی به الله ﷻ خوښوي او الله ﷻ به دوی. نو د ذکر شوي قوم تحقیق هلته تېر شوی دی بیا لیکلو ته يې اړتیا نه ګورو.

## اقتداء څه معنی؟

۱۰_ د ﴿ ٱقْتَدِهْ ﴾ کلمه د "اقْتِدَاء" څخه اشتقاقه شوې ده، "اقْتِدَاء" دېته وايي چې څوک د بل چا په کړو وړو کښې د موافقت پلټنه وکړي[2]، پاتې شوه دا خبره چې په دې مقام کښې نبي کريم ﷺ په کومو شیانو کښې مامور شوی وه چې نورو پیغمبرانو علیهم السلام پسې اقتداء وکړي؛ نو په دې کښې علماء کرامو ډېر تفسيرونه کړي دي[3]، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: دلته په عقائدو او په هغو احکامو کښې اقتداء مطلب ده کوم چې په ټولو اسماني ادیانو کښې د نسخې لاندې نه دي واقع شوي، لکه د الله ﷻ توحید، د الله ﷻ څخه ډار، تقوی او داسې نور.

ب: دلته په نېکو اخلاقو او حمیده خویونو کښې پیروي مراده ده، يعني: ای پیغمبره! د تېرو شوو ټولو پیغمبرانو علیهم السلام ښه خویونه په خپل ځان کښې پیاده کړه.

او ښکاره ده چې نبي کريم ﷺ خو ذکر شوی امر عملي کړی دی نو په دې تقدیر به په نبي کريم ﷺ کښې د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام حمیده اخلاق راټول کړی شوي وي، لکه چې یوه دري ژبي شاعر ترې په لاندې نظم کښې ډېر ښه تعبیر کړی دی:

خط سبز و لب لعل و رُخ زیبا داري :: حسن یوسف دم عیسی ید بیضا داري
شیوهٔ شکل وشمائل حرکات وسکنات :: آنچه خوبان همه دارند تو تنها داري

مګر مونږ ته دا بهتره ښکاري چې دلته به د دې ایت شریف مضمون منعکس شوی وي چې فرمايي: ﴿ فَٱصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُوْلُواْ ٱلْعَزْمِ مِنَ ٱلرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِل لَّهُمْ ﴾ [الأحقاف: ۳۵] يعني: نو داسې صبر کوه لکه چې د قوي عزم خاوندانو صبر کړی وه چې د پیغمبرانو علیهم السلام څخه عبارت دي.

---

(۱) زاد المسير ج۳ ص۵۶
(۲) تفسير القرطبي ج۷ ص۳۵
(۳) التفسير الكبير ج۱۳ ص۶۹؛ تفسير الكشاف ج۲ ص۴۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او دوی لره (په عذاب غوښتنه کښې) تادي مه کوه.
نو په دې تقدير به يې د معنی حاصل داسې راوخېژي چې: ای پيغمبره! په ذکرو شوو پيغمبرانو پسې کلکه اقتداء وکړه، د هغوی په شان تکاليف وګاله او د مشرکانو په شرکياتو باندې خپله حوصله د لاسه مه ورکوه، بلکې دوی مخاطب کړه (لکه څنګه چې پخوانيو پيغمبرانو خپل-خپل قومونه مخاطب کړي وه) چې: زه خو ستاسو څخه د الهي دين په رسونه باندې څه اجر او مزدوري نه غواړم او نه ورباندې درڅخه د شاباس تمه لرم، زما اجر او مزدوري خو صرف په الله ﷻ باندې ده او بس.
علاوه پر دې، دا هم ورته ووايه چې: په ما باندې نازل شوی کتاب (قرآن کريم) خو د دې دپاره نه دی نازل شوی چې زه پرې ستاسو څخه پيسې راغونډې کړم او نه ورسره دا کار مناسب دی، څکه چې دا (کتاب) خو د قيامت د ورځې پورې د ټولو عالمونو دپاره پند او د خير غوښتنه ده او بس. په دغسې کتاب باندې د اُجرت غوښتنه څومره بده خبره ده.

## د عربيت يو قانون

۱۱ـ په عربي ژبه کښې قانون (قاعده) ده چې کله په يوه کلمه باندې خبره پيل کېږي او د هغې کلمې اولنی توری ساکن وي نو همزه ورسره زياتوي، چې د وصليه همزې په نامه باندې يادېږي، ترڅو د اولني توري د سکون ساتنه وکړي چې په حرکت باندې بدل نه شي څکه چې په ساکن باندې د خبرې پيل کول په عربي ژبه کښې محال (نه کېدونکی) کار دی.
مګر مجردې چې د ذکرې شوې کلمې سره بله کلمه وصله (پيوسته) شي چې د خبرې پيل په هغې باندې واقع شي نو ذکره شوې همزه د تلفظ څخه لوېږي، لکه "اُنْصُرْ، وَانْصُرْ".
بالمقابل کله د يوې کلمې د آخرني توري د حرکت د ساتنې دپاره "ه" اضافه کېږي ترڅو يې حرکت په سکون باندې بدل نه شي څکه چې په متحرک باندې خو وقف کول غير قانوني دی.
دغه "ه" د هاء السکت (د سکتې د ه) په نامه يادېږي؛ د ﴿ اَقْتَدِهْ ﴾ په کلمه کښې د "ه" توری همدغه ذکره شوې "ه" ده او ضمير نه دی، چې د "د" حرکت (زېر) يې د سقوط څخه ساتلی دی.
په دې کښې قياس دا دی چې کله وقف د منځه لاړ شي نو بايد چې "ه" هم د منځه لاړه شي مګر خلاف القياس کله-کله په وصل کښې هم باقي پاتې کېږي[۱].

﴿ وَمَا قَدَرُوا۟ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦٓ إِذْ قَالُوا۟ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٍ مِّن شَىْءٍ ۗ قُلْ مَنْ أَنزَلَ ٱلْكِتَـٰبَ ٱلَّذِى جَآءَ بِهِۦ مُوسَىٰ نُورًا وَهُدًى لِّلنَّاسِ ۖ تَجْعَلُونَهُۥ قَرَاطِيسَ تُبْدُونَهَا وَتُخْفُونَ كَثِيرًا ۖ وَعُلِّمْتُم مَّا لَمْ تَعْلَمُوٓا۟ أَنتُمْ وَلَآ ءَابَآؤُكُمْ ۖ قُلِ ٱللَّهُ ۖ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِى خَوْضِهِمْ يَلْعَبُونَ

(۱) روح المعاني ج۷ ص۲۱۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ مُبَارَكٌ مُّصَدِّقُ ٱلَّذِى بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنذِرَ أُمَّ ٱلْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا ۚ وَٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱلْءَاخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ۖ وَهُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴿۹۲﴾﴾

[۹۱] او دوی (مشرکانو) د الله ﷻ تعظیم ونه کړ د ده ﷻ حق تعظیم، کله چې دوی وویلې چې: الله ﷻ هیڅ شی په کوم بشر باندې نه دی نازل کړی.

(ورته) ووایه چې: هغه کتاب چا نازل کړی دی چې موسی ﷺ راوړی دی په داسې حال کښې چې د خلکو دپاره رڼا او هدایت دی، چې تاسو یې (د یهودو په پیروی) کاغذونه (پاڼې پاڼې) ګرځوئ چې دا (کاغذونه د هغوی په متابعت) ښکاره کوئ او ډېر (یې) پټوئ.

او (برسېره په دې، ورته ووایه چې) تاسو ته (ای مشرکانو!) داسې ښودانه شوې ده (د قرآن کریم په نزول سره) چې پخوا (ورباندې) نه تاسو پوهېدئ او نه ستاسو پلرونه (نو دا چا نازل کړی دی؟).

(ای پیغمبره! پخپله جواب ورکړه او ورته) ووایه چې: الله ﷻ (هم تورات نازل کړی دی او هم قرآن).

بیا (د همدې جواب څخه وروسته) دوی پرېږده چې په خپلو باطلو کښې لوبېږي.

[۹۲] او (دا هم ورته ووایه چې) دغه (قرآن کریم) داسې کتاب دی چې مونږ نازل کړی دی، د برکتونو څخه ډک کړی شوی دی، (چې) د هغه کتاب (هر یو چې وي) تصدیق کوونکی دی چې د ده څخه وړاندې (نازل شوی) دی.

(دا کار مونږ د ډېرو مطالبو دپاره کړی دی) او د دې دپاره چې مکه (خلک یې) او هغه خلک چې د دې چارچاپېر (آن تر شرق او غرب پورې) واقع دي وډار کړې. او هغه کسان چې په وروستنۍ ورځې باندې عقیده کوي (هغوی) په دې (کتاب) هم عقیده کوي او دوی په خپلو لمونځونو باندې ساتنه کوي.

## ارتباط

د قرآن کریم د عمده مضامینو څخه درې بحثونه دي چې د الله ﷻ د توحید، د پیغمبر ﷺ د نبوت او بالآخره د بیا ژوندي کېدلو بحثونه دي؛ نو کله چې په وړاندېنیو ایتونو کښې د توحید بحث په ښه موثره توګه تېر شو نو په دغو ایتونو کښې دا دی د نبوت او د معاد (بیا ژوندي کېدلو) په بحث باندې پیل کېږي.

## شان نزول

که څه هم مفسرینو کرامو د دغو ایتونو په هکله زښت ډېر شان نزولونه لیکلي دي[۱] چې تقریباً اوو ته رسېږي، مګر ټول روایات په دوه وو ګروپونو باندې وېشلی کېږي، د یوه ګروپ غوښتنه دا ده چې ذکر شوي ایتونه د هجرت څخه وروسته په مدینه منوره کښې نازل شوي دي، چې همدا نظر

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۵۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جمهورو مفسرینو کرامو خوښ کړی دی، او بل ګروپ روایات تقاضا کوي چې دا ایتونه دې په مکه معظمه کښې د هجرت څخه وړاندې نازل شوي وي.

مونږ ته همدغه دوهم نظر غوره ښکاري چې دلایل به یې ـ ان شاء الله تعالی ـ په توضیحاتو کښې واضحه شي. نو په همدې اعتبار سره یې خلاصه مضمون په لاندې ډول راخېژي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! که څه هم دا قرآن کریم چې په تاباندې نازل شوی دی د ټولو عالمونو دپاره پند او نصیحت او د هغو کتابونو څخه یو کتاب دی چې د اسمان څخه د بشریت د لارښوونې دپاره ځمکې ته نازل کړی شوی دی. یا په بل عبارت: دا قرآن په حقیقت کښې د هغو حقونو څخه یو حق دی چې الله ﷻ پخپله په خپله خوښه په خپل ځان باندې لازم کړي دي چې بشریت به بې هدایته نه پرېږدي، خو دوی وایي چې الله ﷻ د بشریت د هدایت دپاره هیڅ بندو بس نه دی کړی.

مګر ستا د زمانې مشرکانو الله ﷻ هغسې نه دی پېژاندلی لکه څنګه چې د ده ﷻ د شان سره د بشریت د هدایت په هکله مناسب دي. دوی اقرار کوي چې اسمانونه او ځمکې الله ﷻ پیدا کړي دي، مګر د دې سره-سره په عبادت کښې یې شریکان دروي او په کلکه باندې وایي چې الله ﷻ په هیڅ بشر باندې هیڅ شی نه دی نازل کړی، نه یې چا ته وحې کړې ده، نه یې کوم پیغمبر را استولی دی او نه یې کتاب یا کومه صحیفه راښکته کړې ده بلکې بشریت یې په ځمکه کښې خپل سره خوشې کړی دی چې په غیر مسئولانه او غیر معقولانه توګه هغه څه وکړي کوم چې ورته ښه ښکاري.

۲ـ نو ای پیغمبره! دوی ته د ذکرې شوې خبرې د رد او د دوی د الزام دپاره ووایه چې که بالفرض همداسې وی لکه چې تاسو یې ادعا کوئ نو دا راته ووایاست چې هغه کتاب (تورات) چا نازل کړی دی کوم چې موسی ؑ راوړی وه او د ټولو خلکو دپاره په خپل وخت کښې رڼا او هدایت وه چې د همدې کتاب په برکت باندې بني اسرائیل د مصریانو د کرغېړنو خاصیتونو څخه پاک شوه او د هغوی د غلامۍ څخه خلاص شوه.

موسی ؑ خو تاسو هم د پیغمبرۍ په حیث منئ او کتاب ته یې حق کتاب وایاست مګر د پیروۍ څخه یې فقط په همدې بهانه باندې خانونه ژغورۍ چې هغه د بني اسرائیلو پورې خاص وه او مونږ مکلف نه یاستو چې ایمان ورباندې راوړو.

که بالفرض موسی ؑ او د ده کتاب تاسو ته حق نه ښکارېدی نو اهل الکتابو ته به مو د علماوو او پوهانو لقب نه ورکولی او په مهمو مسائلو کښې به مو هغوی ته مراجعه نه کولی، همدارنګه د هغوی غونډې به مو تورات پاڼې-پاڼې نه کولی چې څینې هغه برخې یې خلکو ته ښکاره کوئ کومې چې ستاسو د خواهشاتو سره نه ټکر کېږي او ډېرې برخې یې د خلکو څخه پټوئ.

یا په بل عبارت: که تورات تاسو ته په بني اسرائیلو پورې مختص اسماني کتاب ښکارېدلی نو په خپلو باطلو معتقداتو باندې به مو ورباندې استدلال نه نیولی او د حقائقو په پټولو کښې به مو د بني اسرائیلو پیروي نه کولی؛ تاسو هم د هغوی د رانده تقلید په اثر هغه څه پټوئ چې هغوی یې

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پټوي او هغه څه څرګندوئ چې هغوی یې څرګندوي او د تورات په پاڼه-پاڼه کولو یو د بل تائید کوئ او یو د بل سره لاس کوئ.

۳ـ ای پیغمبره! د وخت مشرکانو ته دا هم ووایه چې تاسو ته خو په نني عصر کښې داسې علم درکړی شوی دی چې د نن څخه وړاندې نه ستاسو زده وه او نه مو پرې پلرونه پوهېده، نن ورځ تاسو څه اړتیا نه لرئ چې د بني اسرائیلو د محرف کتاب څخه څه رنده-کنه پیروي وکړئ، نن ورځ خو علمي سیادت ستاسو په لاس کښې دی او د ټولې دنیا شرف تاسو ته درکړی شوی دی.

لنډه دا چې تاسو ته قرآن نازل شوی دی چې ستاسو د دنیا او آخرت شرف پکښې نغښتی دی، خو افسوس چې تاسو د ډېر زیات عناد د کبله د جمله اسماني کتاب څخه انکار کوئ او په لوی لاس خانونه د ذلت په کنده کښې ورغورزوئ.

۴ـ ای پیغمبره! کله چې مشرکان د ذکرې شوې پوښتنې په جواب کښې هک پک پاتې شوه او یا یې پرې خپل خانونه رانده-کاڼه واچول، ته پخپله ورته جواب ورکړه او ورته ووایه چې ذکر شوی اسماني کتاب (تورات) چې تاسو یې نیمکله په حقانیت باندې قائل یاست، الله ﷻ نازل کړی دی. دا ورته ووایه او بیا یې په خپلو خبرو او مباحثه کښې پرېږده چې سات تېرې پکښې کوي څه وخت وروسته به پوه شي چې دوی په غلطه لاره باندې روان وه.

۵ـ عجیبه خو دا ده چې مشرکان د یو پلوه تحریف شوي کتاب (تورات) ته په ارزښت قائل دي او د بله پلوه کله چې دوی د قرآن کریم منلو ته دعوت کړی شي نو د ډېرې غُصې د کبله د تورات څخه لا څه بلکې د جمله اسماني کتاب د نزول څخه انکار کوي، حال دا چې دا کتاب (قرآن کریم) په همغه حالت باندې پاتې دی او پاتې به وي چې مونږ نازل کړی دی، نه پکښې د تورات غوندې چا ګوتې وهلې دي، نه پکښې څوک ګوتې وهلی شي او بالآخره نه یې څوک پاڼې-پاڼې کولی شي.

حال دا چې دا کتاب (قرآن کریم) د ټولو اسماني کتابونو (د تورات په شمول) تصدیق کوونکی دی نو څوک چې هغه مني باید چې دا هم قبول کړي. یا په بل عبارت: چا چې پخواني کتابونه نازل کړي دي همغه اقدس ذات ﷻ دا کتاب هم نازل کړی دی.

دا کتاب (قرآن کریم) د مکې معظمې د خلکو دپاره په خاصه توګه د وېرې او سرلوړۍ سبب دی چې دوی وړباندې لومړني مخاطبین دي، ترڅو دوی د هر چا څخه وړاندې د بوت پرستۍ څخه لاس واخلي او بیا ورته ټوله دنیا د شرق څخه تر غربه پورې دعوت کړي.

۶ـ ای پیغمبره! څوک چې د قیامت د ورځې څخه منکر وي او عقیده نه لري چې د دې دنیا د حساباتو دپاره تصفیه ضرور ده، هغوی په حقیقت کښې الله ﷻ په عدالت سره نه پېژني او دنیا ورته نهایي هدف برېښي.

بالمقابل څوک چې په آخرت باندې معتقد دي هغوی په دې کتاب باندې ایمان راوړي او خپل عبادت خاص د الله ﷻ دپاره ګرځوي او بس، د بوت پرستۍ څخه خانونه بچ ساتي او په خپلو لمونځونو باندې همېشه والې کوي ترڅو ورسره د عقیدې په بنه قوت کښې لاس وکړي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ که څوک وايي چې: مفسرين کرام د ﴿وَمَا قَدَرُوا۟ ٱللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِۦٓ﴾ جمله داسې تفسيروي چې: "وَمَا عَظَّمُوهُ حَقَّ عَظَمَتِهِ"[۱] دوی د الله ﷻ د شان سره مناسب تعظيم نه دی کړی او په مناسبې پېژندنې باندې يې نه دی پېژندلی؛ نو پوښتنه دا ده چې: دا کار خو د هيچا د لاسه پوره نه دی؟

مونږ وايو چې: په دې مقام کښې مطلب دا دی چې مشرکانو الله ﷻ د هدايت د حيثه نه دی پېژندلی او د جمله اسماني کتاب څخه منکر شوي دي حال دا چې دا د هر چا د وسې پوره ده چې الله ﷻ په ذکر شوي صفت سره وپېژني او عقيده پرې وکړي. يعني په هغې اندازې باندې يې د الله ﷻ تعظيم نه دی کړی په څومره تعظيم باندې چې دوی مکلف دي او د وسې يې پوره دي.

۲_ جمهور مفسرين کرام[۲] وايي چې ذکر شوي ايتونه د يهودانو حالت بيانوي او د هجرت څخه وروسته په مدينه منوره کښې نازل شوي دي، او په ﴿وَمَا قَدَرُوا۟ ٱللَّهَ﴾ کښې ضمير همدوی ته راجع دی. مګر مونږ ته دا غوره ښکاري چې دا ايتونه به د نورو ايتونو غوندې د مشرکانو په باره کښې دي او په مکه معظمه کښې به نازل شوي وي، لکه چې په خلاصه مطلب کښې يې وضاحت تېر شو، مونږ څکه دغه ډول تفسير خوښ کړ چې:

الف: د دې سورت په سريزه کښې مونږ ليکلي دي چې د دې ايتونو د مدني توب يوازنی دليل د تفسير اشکال دی، نو څرنګه چې د الله ﷻ په فضل سره دغه اشکال پورته شو نو په کار دي چې د روايتونو مطابق دا ايتونه هم مکي وګڼلی شي.

ب: څرنګه چې وړاندې د اهل الکتابو (يهودو) ذکر نشته نو په ﴿وَمَا قَدَرُوا۟ ٱللَّهَ﴾ کښې هغوی ته په ضمير راجع کولو سره اضمار قبل الذکر لازمېږي او بې ضرورته د دغسې کار مرتکب کېدل ګټور نه ښکاري.

ج: د دې ايتونو سياق او سباق (وړاندې او وروسته) په قريشو او مشرکانو پورې خاص دی نو په منځکښې د يهودانو بحث اچول د امېل پرېکول او د ملغلرو دانه-دانه کول دي.

د: په دې ټولو باندې علاوه، د رئيس المفسرين (عبد الله بن عباس رضي الله عنهما) څخه روايت شوی دی چې ذکر شوي ايتونه د مشرکانو د حالت د بيان په باره کښې نازل شوي دي[۳].

## سوالونه او جوابونه

۳_ په دې مقام کښې مونږ غواړو چې هغه اشکالات د سوالونو او جوابونو په شکل وړاندې کړو کوم چې د ايتونو مکي والي ته ترجيح ورکوي:

---

(۱) تفسير البغوي ج۳ ص۱۱۴
(۲) روح المعاني ج۷ ص۲۱۹
(۳) تفسير القرطبي ج۷ ص۳۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: که څوک وايي چې: دا خبره خو د مشرکانو ده چې ﴿ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ عَلَىٰ بَشَرٍ مِّن شَىْءٍ ﴾ الله ﷻ په هیڅ بشر باندې کوم شی نه دی نازل کړی. مګر دا الزام چې ﴿ مَنْ أَنزَلَ ٱلْكِتَـٰبَ ٱلَّذِى جَآءَ بِهِۦ مُوسَىٰ ﴾ دا کتاب (تورات) چې موسی ﷺ راوړی دی چا نازل کړی دی، خو مشرکانو ته نه شي متوجه کېدلی څکه چې دوی خو د یهودو غوندې د تورات په حقانیت باندې عقیده نه درلوده.

مونږ وایو چې: مشرکان د تورات په حقانیت باندې قائل وه مګر د ایمان راوړلو څخه یې په دې بهانه غاړې غړولې چې دا د یهودو پورې مختص دی او مونږ ته نه دی نازل شوی[1]، څکه چې:

اول: الله ﷻ د مشرکانو د خولو څخه حکایت کوي چې: ﴿ وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ لَئِن جَآءَهُمْ نَذِيرٌ لَّيَكُونُنَّ أَهْدَىٰ مِنْ إِحْدَى ٱلْأُمَمِ ﴾ [فاطر: ۴۲] یعني: او دوی (مشرکان) په الله ﷻ باندې سوګند کوي کلک سوګند خپل، چې خامخا که چېرې دوی ته ډاروونکی (پیغمبر) ورشي (لکه چې یهودو او نصارا وو ته ورغلی وه) نو ضرور به دوی د ټولو ډلو د یوې ډلې (د هرې یوې ډلې) څخه ډېر ښه لار موندونکي جوړ شي.

دوهم: د هجرت څخه وړاندې قریشو څو نفره هیئت یهودانو ته استولی وه[2] ترڅو د هغوی څخه د نبي کریم ﷺ په باره کښې معلومات حاصل کړي، څکه چې دوی ورته اهل العلم ښکارېده.

ب: بله پوښتنه دا ده چې: دا جمله خو د یهودانو سره مناسبه ده چې: ﴿ تَجْعَلُونَهُۥ قَرَاطِيسَ تُبْدُونَهَا وَتُخْفُونَ كَثِيرًا ﴾ په موسی ﷺ باندې نازل شوی کتاب (تورات) تاسو پاڼې-پاڼې ګرځوئ چې ډېرې برخې یې ښکاره کوئ او ډېرې برخې یې پټوئ. څکه چې دا کار خو مشرکانو نه وه کړی.

مونږ وایو چې: رښتیا ده چې ذکر شوی تحریف یهودانو کړی وه مګر مشرکانو یې هم ورسره تائید کاوه. یا په بل عبارت: کله به چې یهودو په خپل کتاب کښې د نبي کریم ﷺ صفاتو ته تغیر ورکړ نو مشرکانو به ورباندې آفرین وایه او د دوی خبره به یې تائیدوله، نو داسې وګڼل شوه لکه چې دوی هم تورات پاڼې-پاڼې کړی وي، په یو کار باندې خوشالېدل (رضا کېدل) خو په فعل سره تعبیرېږي، لکه چې د [البقرة: ۹۱] ایت لاندې یې تحقیق تېر شوی دی.

ج: درېمه پوښتنه دا ده چې: ځینو مفسرینو کرامو د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې لیکلي دي چې: یوه ورځې یو یهودي چې مالک بن الصیف نومېده د نبي کریم ﷺ سره په مباحثه کښې په غصه شو او دا خبره یې هم د خولې څخه ووتله چې: "مَا أَنْزَلَ اللهُ عَلَى بَشَرٍ مِنْ شَيْءٍ" الله ﷻ په هیڅ بشر باندې هیڅ شی نه دی نازل کړی[3]؛ نو پوښتنه دا ده چې: د نبي کریم ﷺ مباحثې خو د یهودانو سره په مدینه منوره کښې واقع شوې دي نو معلومه شوه چې ذکر شوي ایتونه مدني دي نه مکي؟

مونږ وایو چې: په ځینو روایاتو کښې شته چې نوموړي مالک د نبي کریم ﷺ سره په مکه معظمه

(۱) تفسیر المنار ج۷ ص۶۱۷
(۲) روح المعاني ج۲۰ ص۹۱
(۳) اسباب النزول ص۱۴۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كښې ذكر شوى سوال جواب كړى وه او هلته د ناندريو دپاره ورغلى وه[1].
او كه بالفرض ذكره شوې ماجرا په مدينه منوره كښې تېره شوې وي هم څه باك يې نشته ځكه چې مونږ د [الأنعام: ٨٢] ايت لاندې ليكلي دي چې صحابه وو كرامو رضي الله عنهم د ايتونو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق كاوه او د مصداقاتو تعدد خو مطلب ته څه صدمه نه رسوي.

## "مُبَارَكٌ" څه معنى؟

۴_د ﴿مُبَارَكٌ﴾ كلمه اصلاً د "بَرَكَةٌ" څخه اشتقاقه شوې ده. لكه څنګه چې مونږ د [آل عمران: ٩٦] ايت لاندې ليكلي دي، د "بَرَكَةٌ" په كلمه كښې دوه معناوې نغښتې دي چې يوه د هر خير دى او بله دوام او همېشه والى دى؛ نو په دې مقام كښې يې د معنى حاصل داسې كېږي چې:
دا قرآن كريم د خير څخه ډك كتاب دى چې هم په دنيا او هم په آخرت كښې خپلو معتقدينو ته (چې عمل ورباندې وكړي او په اخلاص سره يې خدمت وكړي) خير رسوي، بلكې دا د الله ﷻ عادت دى چې د دې كتاب خدمتګارانو ته د دواړو دنياوو عزت او سرلوړي وربښي[2].
علامه الوسي عليه الرحمة وايي چې په قرآن كريم باندې مو په دنيا كښې عزت او شرافت حاصلول په سترګو وليده د الله ﷻ څخه اميدوار يم چې د قرآن كريم د اخروي بركاتو څخه مو هم محروم نه كړي[3].
زه (د كتاب مصنف) وايم چې: مونږ هم په دنيا كښې د قرآن كريم زينت د هر بركتونه په سترګو وليدل او استفاده مو ترې _لله الحمد والشكر_ وكړه، چې وقار او عزت مو ورباندې زيات شو، اقتصاد مو ورباندې پياوړى شو، د حرام خورۍ څخه ورباندې بچ پاتې شوو، د انقلاب په اوږدو كښې مو پرې عهدونه وساتلى شول، لنډه دا چې كه مونږ د قرآن كريم په سترګو ليدلي بركتونه شرحه كړو نو يو غټ كتاب به ترې جوړ شي. علاوه پر دې، د بركاتو لړۍ يې لا روانه ده او قطعه شوې نه ده، الله ﷻ ته اميدوار يو چې د قرآن كريم د بركاتو څخه دا هم وګرځوي چې د دې تفسير د بشپړ كېدو توفيق راكړي او د موانعو مخنيوى يې وكړي، بالآخره مونږ هم د علامه الوسي عليه الرحمة په شان د الله ﷻ څخه اُميد كوو چې د قرآن كريم د اُخروي بركاتو څخه مو بې برخې نه كړي او هلته هم راباندې د بركتونو باران وكړي.
بالمقابل څوك چې د دې مبارك كتاب سپكاوى كوي هغوى الله ﷻ ذليله كوي او د بې عزتۍ په كنده كښې يې ورغورزوي.
نبي كريم ﷺ ذكرو شوو دواړو مضامينو ته اشاره كړې ده چې: «إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهَذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهِ آخَرِينَ»[4] يعني: يقيناً الله ﷻ په دې كتاب (قرآن كريم) سره د هر قومونه پورته كوي (چې

(١) تفسير البغوي ج٢ ص١١٤؛ حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٢ ص١٨٦
(٢) التفسير الكبير ج١٣ ص٨٠
(٣) روح المعاني ج٧ ص٢٢١
(٤) صحيح مسلم ج١ ص٢٧٢

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اخلاص ورسره ښکاره کړي) او ځينې نور قومونه ورباندې ښکنته کوي (چې کله يې بې احترامي او سپکاوی وکړي).

## أم القرى د کوم ځای نوم دی؟

۵_ مونږ د [آل عمران:۹۶] ايت لاندې ليکلي دي چې د مکې معظمې نومونه تقريباً شلو ته رسيږي، نو د همدې نومونو څخه يې يو نوم "أُمُّ القُرى" هم دی، دا نوم ورباندې څکه ايښودلی شوی دی چې:

الف: په عربي ژبه کښې عادت دی چې کوم شی چې د نورو دپاره علمي يا تربيتي او بالآخره يا اصلاحي مرکز وي او يا ترې کوم شی پيل کيږي هغه ته د "أُمّ" لقب ورکول کيږي. د همدې جملې څخه د "أُمُّ الأضياف، أُمُّ الْمَسَاكِين" لقبونه هم دي او يا لکه چې سرلښکر ته "أُمُّ الْجَيْش" ويل کيږي[1].

نو څرنګه چې ټوله ځمکه _د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د روايت په بنا_ د مکې معظمې څخه خوره شوې ده[2] نو دې ته د "أُمُّ القُرى" لقب ورکړی شوی دی.

ب: مکه معظمه د ټولې ځمکې وسط او منځنی نقطه ده[3].

ج: مکه معظمه په هغه اولنی کوټې (کعبې شريفې) باندې مشتمله ده چې د عبادت دپاره په ځمکه باندې رومبی جوړه شوې ده.

د: مکه معظمه د ټولو عربي قبائلو مرکز وه چې په ځينو وختونو کښې به ورټولېده.

ه: مکه معظمه د هر ځای څخه وراندې د اوبو څخه لوڅه شوې ده[4].

﴿ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ قَالَ أُوحِيَ إِلَيَّ وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَيْءٌ وَمَن قَالَ سَأُنزِلُ مِثْلَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ ۗ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِى غَمَرَٰتِ ٱلْمَوْتِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓا۟ أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوٓا۟ أَنفُسَكُمُ ۖ ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ ٱلْهُونِ بِمَا كُنتُمْ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيْرَ ٱلْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ ءَايَٰتِهِۦ تَسْتَكْبِرُونَ ﴿٩٣﴾ وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَٰدَىٰ كَمَا خَلَقْنَٰكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَتَرَكْتُم مَّا خَوَّلْنَٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُورِكُمْ ۖ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَٰٓؤُا۟ ۚ لَقَد تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٩٤﴾ ﴾

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۸
(۲) زاد المسير ج۳ ص۵۸
(۳) المحرر الوجيز ج۶ ص۱۰۷
(۴) موضح القرآن ص۲۶۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹۳] او د هغه چا څخه زيات ظالم څوک دی چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي (هر ډول دروغ چې وي)، او يا (په دروغو باندې) وايي چې ماته وحې شوې ده حال دا چې هيڅ شی ورته نه وي وحې کړی شوی؟.

او (هم) د هغه چا څخه (زيات ظالم بل څوک دی) چې وايي ژر دی چې زه هم د هغې (وحې) په شان (وحې) نازله کړم کومه چې الله ﷻ نازلوي.

او (ای پيغمبره!) که ته هغه وخت وګورې چې ظالمان (واړه او غټان ټول) د ځنکدن په مشکلاتو کښې (واقع) وي حال دا چې (د قبض د ارواګانو) پرښتې (ورته) د خپلو لاسونو غځوونکې وي چې ارواګانې مو راوباسئ؛ (نو ته به وګورې چې ظالمان څومره د ذلت په حالت کښې راګير دي).

(ملائک به ورته وايي چې) نن ورځ به تاسو ته سپکوونکی عذاب جزا درکړی شي څکه چې وئ تاسو چې په الله ﷻ باندې به مو ناحقه خبرې کولې (دروغ به مو تړل) او وئ تاسو چې د ده ﷻ د ايتونو څخه به مو سرکشي (او تکبر) کاوه.

[۹۴] او (ورته ووايه چې) ضرور به تاسو موږ ته يوازې-يوازې (تنها-تنها) راشئ (چې تفصيل يې دا دی):

(په داسې شان به د قبرونو څخه راپورته شئ) لکه څنګه چې موږ تاسو اول ځل پيدا کړي ياست (بربنډ او لوڅې پښې) او هغه څه به تاسو تر خپلو شاګانو (په دنيا کښې) پريښي وي کوم چې موږ (هلته) درکړي وه.

او موږ به ستاسو سره هغه شفاعتګر نه ګورو په کومو باندې چې تاسو ګومان کاوه چې يقيناً (دوی) په تاسو کښې شريکان دي (او ونډه لري).

بې شکه ستاسو ترمنځ به (ذکر شوی خيالي پيوستون) پرې شي او هغه (شفاعتګر) به درڅخه ورک شي چې وئ تاسو چې (د شفاعتګرو) ګومان به مو (ورباندې) کاوه.

## ارتباط او شان نزولونه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د هغه چا ذکر وه چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي او بالکل د وحې څخه انکار کوي، او په دې ايتونو کښې د هغو ظالمانو بيان دی چې په الله ﷻ باندې افتراء کوي او خپل ځان ته په وحې باندې قائل وي او يا وايي چې زه هم د الله ﷻ په شان کتاب نازلولی شم.

اما د شان نزول په باره کښې يې دوه ډوله حادثات روايت شوي دي، د ځينو روايتونو غوښتنه دا ده چې ذکر شوي ايتونه دې د هجرت څخه وړاندې نازل شوي وي، او ځينې روايات غواړي چې د هجرت څخه وروسته په مدينه منوره کښې دې نازل شوي وي چې تفصيل يې دا دی:

۱ـ ذکر شوي ايتونه د مُسيلمة الكذاب او الأسود العنسي په باره کښې نازل شوي دي[1] چې دواړو په مدينه منوره کښې د نبوت ادعاګانې کړې وې او ځانونه يې پيغمبران ګڼل.

[1] تفسير البغوي ج۲ ص۱۱۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ دا ایتونه د النضر بن الحارث په هکله معلومات ورکوي چې په قرآن کریم باندې به یې دروغ جوړول، مثلاً: یوه ورځې یې د ﴿ وَٱلنَّٰزِعَٰتِ غَرۡقٗا ۝ وَٱلنَّٰشِطَٰتِ نَشۡطٗا ﴾ په مقابل کښې ویلې را چې: "وَالزَّارِعَاتِ زَرْعًا وَالْخَابِزَاتِ خُبْزًا"(۱) او داسې نور.

۳_ ځینې علماء کرام وایي چې: ذکر شوي ایتونه د عبد الله بن سعد بن أبي السرح په باره کښې نازل شوي دي(۲).

د عبد الله قیصه داسې وه چې: نوموړي اسلام راوړی وه او نبي کریم ﷺ ته به یې وحې لیکله، کله چې الله ﷻ په [المؤمنون: ۱۲_۱۴] ایتونو کښې د انسان د خلقت عجیبه کیفیت بیان کړ او لیکنه په ﴿ ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَ ﴾ باندې ودرېده، نو نوموړي وویلې چې: "فَتَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ" نو نبي کریم ﷺ ورته امر وکړ چې: «اُكْتُبْهَا»(۳) یعني همدغه جمله هم ولیکه چې تاورباندې تلفظ وکړ. د نبي کریم ﷺ د امر په اورېدلو سره : هغه په زړه کښې شک پیدا شو چې اسماني ایتونه خو زه هم جوړولی شم، او مرتد شو العیاذ بالله. نور کیفیات یې ان شاء الله په توضیحاتو کښې راروان دي.

مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوي واقعات او داسې نور ټول د ایتونو مصداقات دي چې ځینې په مکه معظمه کښې پېښ شوي دي او ځینو په مدینه منوره کښې تحقق موندلی دی، او په مصداقاتو باندې خو صحابه وو کرامو ﷺ د شان نزول اطلاق کاوه(۴).

نو زمونږ په نظر ایتونه به د سیاق او سباق (وړاندې او ېږرته) په استناد سره په مکه معظمه کښې نازل شوي وي، ترڅو د ملغلرو امېل ونه شکوو او ملغلرې شیت په شیت نه کړو.

## د مطلب خلاصه

۱_ یعنې: ای پیغمبره! د ذکر شوي لوی ظالم (چې د نبوت څخه بالکل منکر دی) په شمول د ځو نورو لویو ظالمانو ذکر هم خپل امت ته وکړه ترڅو یې وپیژني او په خبرو باندې یې ونه غولېږي، هغوی دا دي:

الف: د هغه چا څخه لوی ظالم بل څوک دی چې په الله ﷻ باندې دروغ وتړي او ووایي چې الله ﷻ په هیڅ بشر باندې څه شی نه دی نازل کړی؟! یا په بل عبارت: چې د نبوت څخه په قطعي توګه منکر شي لکه چې وړاندې تېر شو.

ب: بل د هغه چا څخه غټ ظالم بل څوک دی چې د خپل ځان دپاره د نبوت ادعا وکړي، چې ماته وحې شوې ده، حال دا چې وحې ورته نه وي شوې؟!

ج: بل د هغه چا څخه بل لوی ظالم څوک دی چې وایي زه هغسې ویناوې نازلولی شم (کولی شم

(۱) المحرر الوجیز ج۶ ص۱۰۹
(۲) زاد المسیر ج۳ ص۶۰
(۳) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۱۶۳
(۴) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷: تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوم چې یوه پیغمبر ته د الله ﷻ د پلوه د وحې په ذریعه وراستولی کېږي؟! یا په بل عبارت: زه بې د اسماني وحې څخه پیغمبر یم، یا د پیغمبر څخه بهتر یم چې وحې ته هم څه اړتیا نه لرم او په غیبو باندې پوهېږم.

د ذکرو شوو درېواړو غټو ظالمانو (د هر یوه څخه) بل غټ ظالم نشته، ټول په الله ﷻ باندې په دروغ تړلو کښې شریک دي او هر یوه ته چې په انفرادي توګه وکتلی شي ته به وایې چې همدا ډېر لوی ظالم دی.

۲ـ ای پیغمبره! د ذکرو شوو افتراګانو اصلي سبب تکبر دی، نو که ته ذکر شوي ظالمان منکبران د مرګ په حالت کښې وګورې چې د ارواګانو د قبض ملائکو ورته لاسونه اوږده کړي وي چې ارواګانو مو د الله ﷻ غضب ته راوباسئ، او دا هم وګورې چې په عین وخت کښې هیڅوک هلته موجود نه وي او یا یې وسه نه کېږي چې د ارواګانو د قبض څخه یې بچ کړي، دوی به په دې حال کښې طوعًا او کرهًا (په خوښه او ناخوښه) د الله ﷻ قهر ته ورروان وي او خپل ځان به په هیڅ وجې سره نه شي بچ کولی او د ذلت څخه به یې نه شي خلاصولی؛ نو ته به ډېر عجیبه حالت وګورې چې ایا دا ذلیل هماغه ظالم دی چې داسې-داسې خبرې به یې کولې؟.

۳ـ نو ای پیغمبره! ذکرو شوو ظالمانو ته به هلته د روحي تعذیب دپاره پخوانی تکبر وربه زړه کړی شي او ورته به وویلی شي چې: نن ورځ به تاسو ته د سپکوونکي عذاب جزا درکړی شي، ځکه چې تاسو په الله ﷻ باندې افتراګانې کولې او د ده ﷻ د ایتونو څخه مو تکبر کاوه چې د مسخرو په توګه به کله د نبوت څخه منکر شوئ او کله به مو د خپلو ځانونو دپاره د نبوت دعوه وکړه او بالآخره کله به مو ویلې چې زه کولی شم چې په بل چا باندې وحې ورنازله کړم او پیغمبر ترې جوړ کړم.

۴ـ ای پیغمبره! مشرکان (کافران) یو ځل بیا پوه کړه چې تاسو ټول به مونږ ته هر یو یوازې-یوازې راشئ لکه څنګه مو چې تاسو ټول هر یو یوازې-یوازې پیدا کړي یاست، البته کله چې د مور څخه تولد شوئ او په دنیاوي ژوند کښې مو قدم کېښود.

۵ـ د یوازېتوب معنی مو دا ده چې د مرګ په وخت کښې به درڅخه هغه ټول شیان شاته پاتې شي کوم چې مونږ تاسو ته په ژوند کښې درکړي وه او تاسو یې تکبر ته هڅولي وئ، نه به دولت درلرئ، نه پیسې او اعتبار، نه به درسره لښکري وي او نه چوکۍ او د ګوندونو مشران او انډیوالان، بالآخره مونږ به هغه شفاعت کوونکي هم درسره ونه ګورو کوم چې تاسو ګومان کاوه چې دوی ستاسو په عبادت کښې د الله ﷻ شریکان دي او یو وخت به مو په درد باندې وخوري او د الله ﷻ د عذاب څخه به نجات راکړي.

په دغسې ورځ کښې به ستاسو او ستاسو د باطلو معبودانو پیوند وشلېږي او دوستي به مو په دښمنۍ باندې بدله شي او بلکې هلته به یې د نصرت په صفت په سترګو هم ونه ګورئ او په درک باندې به یې هم پوه نه شئ چې هغوی څه شول او څه حال یې دی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## توضيحات

۱ـ د عبد الله بن سعد بن أبي السرح ﷺ د قيصې لاندې څو مهم ټکي ولولئ چې ځينو علماء كرامو(۱) ليکلي دي:

الف: د نوموړي مور عثمان ﷺ ته تی ورکړی وه چې د ده ﷺ رضاعي ورور وه.

ب: په نوموړي باندې نبي کريم ﷺ د مکې معظمې د فتحې په ورځ د اعدام حکم صادر کړی وو چې باید ووژل شي.

ج: څو نوموړی د فتحې په ورځ په مکه معظمه کښې چرته پټ شو.

د: کله چې وضعه لږ څه ارامه شوه نو عثمان ﷺ ورته د نبي کريم ﷺ څخه امان وغوښت.

هـ: نبي کريم ﷺ د امان غوښتلو په وخت کښې تر ډېره وخته پورې ساکت پاتې شو، چې نه يې "هو" ويلې او نه "نه". بالآخره يې په «نَعَمْ» يعني "هو" باندې جواب ورکړ او نوموړی د اعدام څخه بچ شو.

و: کله چې عثمان ﷺ د امان غوښتلو مجلس ترک کړ نو نبي کريم ﷺ د چپ پاتې کېدلو داسې بيانه کړه چې: «مَا صَمَتُّ إِلَّا لِيَقُوْمَ إِلَيْهِ بَعْضُكُمْ فَيَضْرِبَ عُنُقَهُ» يعني: زه تر ډېره وخته پورې چپ پاتې نه شوم مګر د دې دپاره چې ستاسو څخه څوک ورپورته شي او (د نوموړي مرتد) (سر يې د تنې څخه جدا کړي).

ز: يوه سړي وويلې چې: ای د الله رسوله! ماته به دې اشاره کړې وی. نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِنَبِيٍّ أَنْ تَكُونَ لَهُ خَائِنَةُ الْأَعْيُنِ»(۲) يعني: يقيناً شان دا دی چې هيڅ پيغمبر ته مناسب نه دي چې ده لره دې خائنې سترګې وي.

ح: نوموړي د امان اخستلو څخه وروسته خپل ايمان ښه پوره سوچه کړ او په ريښتينو معناوو کښې مسلمان شو، چې په ډېرو غزاګانو کښې يې اشتراک وکړ او افريقا د همده په لاس باندې فتحه شوه.

ط: نوموړي د عثمان ﷺ د شهادت څخه وروسته د مسلمانانو په اختلافاتو کښې بالکل اشتراک ونه کړ، نه يې معاويه ﷺ ته او نه علي ﷺ ته د بيعت لاس وراندې کړ، په اصطلاح په کور باندې کښېناست.

ي: نوموړي به الله ﷻ ته سوال کاوه چې: «اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ خَاتِمَةَ عَمَلِيْ صَلَاةَ الصُّبْحِ» ای الله! زما د عملونو پای د سبا لمونځ وګرځوې. الله ﷻ يې همدغه سوال قبول کړی وه چې د سهار په لمانځه کښې يې يوه طرف ته سلام ګرځولی وه او د بلې خوا د سلام ګرځولو څخه وړاندې يې الله ﷻ په قاعده کښې مبارک روح قبض کړ. فإنا لله وإنا إليه راجعون ورضي الله عنه.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۷ ص۴۰؛ الإصابة في تميز الصحابة ج۳ ص۳۱۶
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## غمرات څه معنی؟

۲ـ د ﴿ غَمَرَٰتِ ﴾ کلمه د "غَمْرٌ" ـ لکه "نَصْرٌ" ـ جمعه ده چې په اصل کښې د یوه شي نښو او آثارو محوه کولو ته وایي، مګر په سختیو کښې هم استعمالېږي[۱] چې په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده، چې مونږ ترې د ځنکدن په سختیو باندې تعبیر کوو. نبي کریم ﷺ همدغو سختیو ته په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ»[۲] یعنې: یقیناً مرګ ته سختی شته (چې سړی د سکر او بې هوشۍ حالت ته رسوي).

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د خپل ځان څخه د روح جدا کول خو د چا د وسې پوره نه دي. یا په بل عبارت: دا خو د ملائکو کار دی، نو په دې باندې د مشرکانو مخاطب ګرځول څه معنی لري چې: ﴿أَخْرِجُوٓا أَنفُسَكُمُ﴾ ارواګانې مو د بدنونو څخه راوباسئ؟.

مونږ وایو چې: د همدې پوښتنې دپاره مفسرینو کرامو ډېر جوابونه کړي دي، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: دا په حقیقت کښې د الله ﷻ تکویني امر دی چې د ملائکو په خولو سره وریاندې مشرکان مخاطب ګرځوي[۳]، او مونږ د [البقرة:۱۱۷] ایت لاندې لیکلي دي چې په تکویني امر کښې محض صورت د امر وي، په واقعیت کښې خبره صرف د الله ﷻ په ارادې پورې تړلې وي.

خو د ﴿ أَخْرِجُوٓا ﴾ څخه د تکویني امر مرادول ډېر غیر متبادر ښکاري.

ب: د ﴿ أَخْرِجُوٓا ﴾ معنی دا ده چې: ای مشرکانو! خپل ځانونه مو د عذاب څخه خلاص کړئ او یا زمونږ د نیولو څخه ځانونه وژغورئ، تاسو خو په ژوند کښې په خپل خیال د هر شي مقابله کولی شوه[۴].

دا معنی ښه ده خو د ﴿ بَاسِطُوٓا أَيْدِيهِمْ ﴾ د کلمې څخه پیوند نه نیسي. ځکه چې د دې کلمې متبادره معنی دا ده چې ملائکو به د روحونو د قبض دپاره ورته لاسونه اوږده کړي وي او ورته به وایي چې ارواګانې مو راکړئ، نه دا چې ځانونه راڅخه وژغورئ.

ج: مونږ ته په جواب کښې دا ښه ښکاري چې دلته په ﴿ أَخْرِجُوٓا ﴾ کښې مطلب دا نه دی چې ملائک د مشرکانو څخه د ارواګانو بهر کول غواړي او خپل کار ته د هغوی پورې ارتباط ورکوي، نو څو سوال وارد شي. بلکې ذکره شوې جمله د هغوی د توهین او تخجیل دپاره استعمالېږي ته به

(۱) مفردات الراغب ص۳۷۸
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۴
(۳) تفسیر الطبري ج۵ ص۲۸۶
(۴) تفسیر القرطبي ج۷ ص۴۲؛ تفسیر الکشاف ج۲ ص۴۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وایې چې د هغوی څخه الله ﷻ خپل لوی نعمت (ارواګانې) بېرته اخلي او ورته وایي چې ای ناشکرانو! ارواګانې مو بېرته راکړئ چې تاسو یې حق اداء نه کړ او بدې استفادې مو ترې وکړې په همدې مضمون باندې د "عذاب الهون" ټکی هم دلالت کوي.

## فُرادی څه معنی؟

۴_ د ﴿ فُرَٰدَىٰ ﴾ کلمه د "فَرْد" جمعه ده، "فَرْد" هغه شي ته وایي چې بل شی ورسره خلطېږي ورته لري برابره خبره ده چې مثل یې وي او که نه[۱]، چې مونږ ترې په تنها او یوازیتوب سره تعبیر کوو، په دې مقام کښې مفسرینو د ﴿ فُرَٰدَىٰ ﴾ دپاره ډېر تفسیرونه کړي دي[۲]، مګر کوم تفسیر چې مونږ ته غوره ښکاري هغه دا دی چې راتلونکي ایتونه ذکره شوې کلمه په لاندې شرحې سره تفسیروي:

الف: ﴿ كَمَا خَلَقۡنَٰكُمۡ أَوَّلَ مَرَّةٖ ﴾ یعنې: په داسې حال کښې به د الله ﷻ په حضور کښې ودرېږئ چې لوڅ پوڅ به یاست، او صرف هغه اندامونه به ولرئ کوم مو چې د تولد په وخت کښې درلوده[۳].

نبي کریم ﷺ د حشر په باره کښې یوه ورځ وفرمایل چې: «تُحْشَرُونَ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا» تاسو به حشر کړی شئ په داسې حال چې پښې لوڅې، بربنډ او نا سنته به یاست. بي بي عائشې رضي الله عنها ورته وویلې چې نارینه او زنانه به ګډوډ وي چې یو تربله سره ګوري؟. نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «الأَمْرُ أَشَدُّ مِنْ أَنْ يُهِمَّهُمْ ذَاكِ»[۴] کار (حال) د دې څخه سخت دی چې دوی ته دغه (یو بل ته کتل) څه اهمیت ورکړي. یعنې: هلته به هر څوک په خپل غم کښې ډوب وي او یو به بل ته نه ګوري.

ب: ﴿ وَتَرَكۡتُم مَّا خَوَّلۡنَٰكُمۡ ﴾ یعنې: تاسو به هغه شیان په دنیا کښې پرېښي وي کوم چې مونږ تاسو ته درکړي دي، نه به درسره مال او دولت وي او نه ریاست او پاچاهي او داسې نور.

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «يَقُولُ الْعَبْدُ مَالِي مَالِي، إِنَّ مَا لَهُ مِنْ مَالِهِ ثَلَاثٌ، مَا أَكَلَ فَأَفْنَى أَوْ لَبِسَ فَأَبْلَى أَوْ أَعْطَى فَاقْتَنَى، مَا سِوَى ذَلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ وَتَارِكُهُ لِلنَّاسِ»[۵] یعنې: بنده وایي چې زما مال، زما مال، یقینًا هغه څه چې ده لره دي (چې په ګټه یې تمامېږي) د ده د ټول مال څخه درې ډوله مالونه دي، هغه چې ویې خوړي (استفاده ترې وکړي) نو مصرف یې کړي، او یا یې واغوندي نو زوړ یې کړي، او یا یې (د الله ﷻ په لاره کښې) ورکړي نو خپل ځان ته یې زخیره کړي، د ذکرو شوو مالونو څخه په غیر نور مالونه چې دي نومړي ترې تلونکی دی او خلکو ته یې پرېښودونکی دی.

ج: ﴿ وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمۡ شُفَعَآءَكُمُ ﴾ الآیة یعنې ستاسو سره به نه کومکیان وي، نه ساتونکي، نه شفاعت کوونکي او نه انډیوالان (د ګوند ملګري) او داسې نور.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۸۹
(۲) زاد المسیر ج۳ ص۶۱
(۳) تفسیر القرطبي ج۷ ص۴۳
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۶
(۵) صحیح مسلم ج۲ ص۴۰۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سګین شو



## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: په ﴿ لَقَد تَّقَطَّعَ بَيۡنَكُمۡ ﴾ کښې مستتر ضمير څه شي ته راجع دی؟

مونږ وايو چې: ذکر شوی ضمير هغه اتصال (پيوستون) او ارتباط ته راجع دی چې د ﴿ مَعَكُمۡ ﴾ کلمه ورباندې دلالت کوي. نو د معنی حاصل به يې داسې راووځي چې: ای مشرکانو! کوم پيوستون (معيت) او قوي ارتباط چې ستاسو په خيال تاسو د بوتانو او يا نورو نا مشروعو انډيوالانو سره درلود، هغه به پرې شي او دوستی به مو په دښمنيو باندې بدلې شي او هيڅ په درد به مو ونه خوري.

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ فَالِقُ ٱلۡحَبِّ وَٱلنَّوَىٰۖ يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَمُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتِ مِنَ ٱلۡحَيِّۚ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ تُؤۡفَكُونَ ۝٩٥ فَالِقُ ٱلۡإِصۡبَاحِ وَجَعَلَ ٱلَّيۡلَ سَكَنٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ حُسۡبَانٗاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ۝٩٦ ﴾

[۹۵] يقيناً الله ﷻ د (تخمونو) دانو او زړو (هستو) چاودونکی دی (چې بوټي او ونې ترې راوباسي) ژوندی (روح لرونکی) شی د مړي (بې روحه) شي څخه وباسي او هم د ژوندي (روح لرونکي) شي څخه د مړي (بې روحه) شي راويستونکی دی.

ای انسانانو! دغه (کارونه کوونکی) الله ﷻ دی (نه باطل معبودان). نو کوم طرف تاوول کېږئ؟

[۹۶] (الله ﷻ) د سبا (سپېده داغ) چاودونکی دی (چې روښانه ورځ ترې راوباسي) او هم ده ﷻ شپه د ارامۍ وخت ګرځولې ده او لمر او سپوږمۍ يې د حساب کولو اسباب (جوړ کړي دي).

دغه (ټاکنه) د کلکې ارادې (او) د پوهې د خاوند الله ﷻ ټاکنه ده (چې د بل هيچا د لاسه پوره نه ده او نه يې څوک دعوه کولی شي).

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې الله ﷻ د مشرکانو د معتقداتو او د دوی د اُخروي حالاتو بيان وکړ او دوی يې متوجه کړه چې په توحيد او رسالت او بالآخره په معاد باندې عقيده وکړي او د باطلو معبودانو پيروي پرېږدي چې په هيڅ درد باندې درته نه دواکېږي.

په دې ايتونو کښې يې په ذکرو شوو درېګونو مطالبو باندې شپږ دلايل نازل کړي دي چې درې دلايل ځمکني دي او درې دلايل اسماني، چې حاصل يې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! خلکو ته يو ځل بيا الله ﷻ په ځانګړو صفاتو باندې وروپېژنه ترڅو دوی متوجه شي او د ښه تفکر څخه وروسته د باطل پرستۍ څخه توحيد پرستۍ ته راتاو شي، چې:

۱_ الله ﷻ د تخم ډېرې کوچنۍ دانې بهر ته کوي او چاودنه ورکوي ترڅو د همغو تخمي دانو څخه

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د اسمان طرف ته ښه شین تازه بوټی رازرغون کړي او د ځمکې په داخل کښې ترې بې شماره جرړي (ريښې) اووځي چې هلته قيام او ثبات مونده کړي.

همدارنګه د کلکو زړو (هستو) ځخه د چودولو (څيرولو) ځخه وروسته اسمان طرف ته ښې ډنګې ونې راوباسي او د ثبات او قوام دپاره ترې د ځمکې په داخل کښې ښې مضبوطې او قوي جرړې (ريښې) وباسي، ته به وايې چې د يوه تخمي زړي ځخه يوه ونه اسمان طرف ته پورته خېژي او بله ونه ترې د ځمکې په ګېډه کښې مخ ښکته وراوړدېږي او مضبوطېږي.

۲ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات ﷻ دی چې د يوه داسې شي ځخه چې په مجموعي توګه مړ (بې روحه) وي، ژوندي (روح لرونکې) شيان راوباسي، لکه د نطفې ځخه انسان او د هګۍ ځخه چرګه او بالآخره په بې روحه غذاګانو باندې ژونديو شيانو ته نشأ او نمو ورکوي او د ژوندي بدن غوښې او نورې برخې يې ورزياتوي او غټوي.

۳ـ همدارنګه بالعکس الله ﷻ د يوه داسې شي ځخه هم (چې په مجموعي توګه ژوندی وي) بې روحه جزونه او برخې راجدا کوي، لکه د انسان ځخه نطفه او د چرګې ځخه هګۍ او بالآخره د غذا خوړونکو ساکښانو ځخه فضلات يا وېښتان او نوکان.

ای انسانانو! ستاسو رب دغه اقدس ذات دی چې دُ عجيبه قدرت څو نمونې يې درته شرحه شوې، نو ايا تاسو اوس هم ورباندې سوچه عقيده نه کوئ؟ نو دا راته ووايأست چې تاسو کوم طرف ته تاوول کېږئ؟ ته به وايې چې په څټونو باندې مو چا لاس ايښی دی او بل خوا ته مو تاووي.

۴ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د شپې توره تياره څيروي او سپين داغ پکښې پيدا کوي او بيا همدغه سپين داغ (رڼا) په ټول اُفق کښې خوروي او بالآخره يې په رڼا ورځې باندې بدلوي. ايا د الله ﷻ ځخه په غير دا کار بل څوک کولی شي؟

۵ـ الله ﷻ همدغه رڼا ورځ په توره شپه باندې بدلوي چې ټول ساکښان پکښې ارام کوي او په اتفاقي توګه کاروبار بندېږي. ايا د الله ﷻ ځخه په غير بل څوک دغه بدلون ته څه تحقق ورکولی شي؟

۶ـ الله ﷻ د لمر سترګه او همدارنګه سپوږمۍ د حساباتو او عمرونو او بالآخره د ميعادونو دپاره معيارونه ټاکلي دي چې د لمر په سترګې باندې شپه او ورځ، اونۍ او مياشتې او بالآخره کلونه او پېړۍ پېژندل کېږي اما لږ دقت غواړي، مګر په سپوږمۍ (مياشتې) باندې خو هغه څوک هم وختونه او ميعادونه پېژندلی شي چې هيڅ ليک او لوست ونه لري خو فقط سترګې ولري او اسمان ته کتلی شي.

ای پيغمبره! خلکو ته ووايه چې ذکرې شوې ټاکنې ټولې الله ﷻ کړې دي چې لمر او هم سپوږمۍ بلکې ټولو ستورو ته يې د حرکت او تګلارې تعينات کړي دي چې نه پکښې څوک ګوتې وهلی شي او نه پکښې بدلون واقع کېږي. او دا ځکه چې الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی هيڅوک يې په اراده کښې خلل نه شي اچولی او هم د کامل علم او پوهې څښتن دی چې په ډېره دقيقه توګه يې د ټولو فلکياتو دپاره د حرکت اندازې او هم د حرکت خطونه ټاکلي دي چې هيڅکله يو تربله نه ټکر کېږي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ ذکر شوي شپږ دلایل، لکه څنګه چې د الله ﷻ وحدانیت په اثبات رسوي همدارنګه د نبوت او معاد اثبات هم کوي، په دې اعتبار سره د الله ﷻ د وحدانیت دلایل دي چې د ده ﷻ څخه په غیر بل هیڅوک ذکر شوي اجراءات نه شي کولی، او په دې اعتبار سره نبوت او رسالت په اثبات رسوي چې چا چې د بدنونو د تربیت او روزنې دپاره ذکر شوی انتظام پیدا کړی دی نو همدغه اقدس ذات به هیڅکله د انسان روحیات بې تربیته نه وي پریښي او د پیغمبرانو علیهم السلام سلسله به یې جاري کړې وي لکه چې همداسې ده.

بالآخره ذکر شوي دلایل د معاد (آخرت) ثبوت ته هم اشاره کوي، یعنې: هغه الله ﷻ چې د تخمي دانو او زړو څخه بوټي او دنګې ونې راوباسي، په دې باندې هم قادر دی چې د عجب الذنب څخه انسان راوباسي او د قبر څخه یې راپورته کړي.

د هر انسان په ملا کښې یو باریکه هډوکی دی چې "عجب الذنب" نومېږي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «كُلُّ ابْنِ آدَمَ يَأْكُلُهُ التُّرَابُ إِلَّا عَجْبَ الذَّنَبِ مِنْهُ خُلِقَ وَفِيهِ يُرَكَّبُ»[1] یعنې: ټول انسانان خاورې کېږي مګر یوازې عجب الذنب (نه خاورې کېږي) چې د همدې څخه جوړ شوی دی او په همدې کښې (په دوهم ځل) ترکیب کېږي.

### د "فَلَق، حب، نَوی" معناوې

۲ـ د "فَالِقُ" کلمه د "فَلَقَ" څخه اشتقاقه شوې ده او "فَلَقَ" د چاودنې او انفلاق ورکولو په معنی ده[2].

"حَبّ" د "حَبَّة" جمعه ده[3] (لکه چې "تَمْر" د "تَمْرَة" جمعه ده)، "حَبَّة" هرې ورې او غټې دانې ته وایي چې بوټي ترې زرغونېږي، لکه د غنمو او نورو شیانو دانې.

"نَوی" د "نَوَاة" جمعه ده، "نَوَاة" زړي ته ویل کېږي[4]، لکه د خرما، شفتالو او نورو شیانو زړي.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: الله ﷻ ټولې د تخم دانې او د تخم زړي بېرته کوي او د منځه یې د یو پلوه بوټي او ونې راوباسي چې اسمان طرف ته لوړېږي، او د بله پلوه ترې جرړې (ریښې) راوباسي چې د بوټو یا ونو د تحکیم دپاره د ځمکې په ګېډه کښې یو پلو-بل پلو ته ځغلي.

که څوک غواړي چې په همدې اړوند د الله ﷻ د کامل قدرت او کامل علم پوره وضاحتونه ولولي نو هیله ده چې ځینو اوږدو تفاسیرو[5] ته مراجعه وکړي.

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۴۰۷
(۲) مفردات الراغب ص۳۹۹
(۳) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۱۷
(۴) تفسیر القاسمي ج۶ ص۶۳۷
(۵) التفسیر الکبیر ج۱۳ ص۹۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۳_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران:۲۷] ایت لاندې د مړي او ژوندي په تخارج کښې (چې یو د بل څخه وځي) ښه مفصل بحث کړی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو. برسېره پر دې، که څوک غواړي چې د هر کوچني حیوانات وپېژني نو څېنو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[۱] مونږ یې د اوږدوالي د کبله دلته نه شو رانقلولی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې د مړي څخه د ژوندي د ویستلو په بیان کښې د مضارع فعل ﴿ يُخْرِجُ ﴾ کلمه نازله شوه، او د ژوندي څخه د مړي د ویستلو په ذکر کښې د اسم فاعل ﴿ وَمُخْرِجُ ﴾ کلمه استعماله شوه؟

مونږ وایو چې: که څه هم مفسرینو کرامو د ذکر شوي حکمت په بیان کښې د هر اوږده بحثونه کړي دي[۲]، مګر مونږ ته بهتره دا ښکاري چې دا به "تفنن في العبارة" وي چې د بدیع د علم یو مهم قانون دی حال دا چې په [آل عمران:۲۷] ایت کښې په دواړو کښې فعلونه نازل شوي دي.

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: "الْإِصْبَاح" خو د "أَصْبَحَ" دپاره مصدر دی مګر په دې مقام کښې په معنی د "الصُّبح" سره دی[۳]، نو نظر د "فَلَق" معنی ته _چې په دوهمه توضیح کښې ذکر شوه_ د ﴿ فَالِقُ ٱلْإِصْبَاحِ ﴾ د معنی حاصل داسې راوځي چې: الله ﷻ د سباوون چاودوُنکی دی او د سبا په انفلاق سره تیاره پیدا کوي. حال دا چې دا خو مطلوبه معنی نه ده.

مونږ وایو چې:

الف: دلته عبارت د مضاف په حذف سره دی یعنې: "فَالِقُ ظُلْمَةِ الْإِصْبَاحِ"[۴] الله ﷻ د سباوون د تیارې څیرونکی دی، البته هغه تیاره چې د سبا د رڼا سره اتصال او پیوستون لري، ته به وایې چې د سبا رڼا د تیارې په غلاف کښې تاوه ده او په څیرولو سره یې ترې رابهر کړه.

ب: مګر څرنګه چې حذف خلاف الأصل دی نو مونږ یې معنی داسې کوو چې: الله ﷻ صبح کاذب (دروغژن سبا) ته انفلاق ورکوي چې رڼا یې د یوه نري تار او یا نرۍ لښتې غوندې ښکاري او په انفلاق سره ترې لویه رڼا (روښانه ورځ) راوباسي. د همدې کبله ورپسې د ﴿ وَجَعَلَ ٱلَّيْلَ سَكَنًا ﴾ جمله پیوسته کړی شوې ده چې د دواړو معنی داسې کېږي: الله ﷻ ورځ او شپه دواړه پیدا کړي دي.

---

(۱) الجواهر ج۴ ص۸۱
(۲) روح المعاني ج۷ ص۲۲۷؛ التفسير الكبير ج۱۳ ص۹۸؛ تفسير الكشاف ج۲ ص۴۷؛ تفسير القاسمي ج۶ ص۶۴۱
(۳) تفسير البغوي ج۲ ص۱۱۷
(۴) التفسير الكبير ج۱۳ ص۹۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## حُسبان څه معنی؟

۴_ د "حُسْبَان" کلمه مصدر ده چې د شمارلو معنی ورکوي. عرب وایي چې: "لا يَعْلَمُ حُسْبَانَهُ إلّا الله"[1] یعني: د دغه فلاني شي په شمارلو باندې یوازې الله ﷻ پوهېږي او بس. په دې مقام کښې یې لاندې دوه معناوي کېدلی شي:

الف: الله ﷻ لمر او سپوږمۍ د حساباتو او شمارلو دپاره اسباب او آلات جوړ کړي دي، ته به وایې چې دوی دواړه پخپله شمارل او حساب کول دي. په دغو دواړو باندې ورځې، میاشتې، کلونه، عمرونه او نور شیان محاسبه کېږي[2].

ب: د لمر او سپوږمۍ هر یوه د دوران دپاره وختونه معلوم او ټاکلي شوي دي، هر کله چې دوی دواړه خپل محاسبه شوي وختونه بشپړ کړي نو همدا به وروستنۍ ورځ وي او قیامت به قائم شي[3].

مونږ ته د مقام په اعتبار او د وړاندې ببرته سره، چې نعمتونو ته اشارې شوې دي، لومړنی تفسیر غوره ښکاري.

﴿وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلنُّجُومَ لِتَهْتَدُوا۟ بِهَا فِى ظُلُمَٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٩٧﴾ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَكُم مِّن نَّفْسٍ وَٰحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَمُسْتَوْدَعٌ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَفْقَهُونَ ﴿٩٨﴾ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ نَبَاتَ كُلِّ شَىْءٍ فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا وَمِنَ ٱلنَّخْلِ مِن طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَجَنَّٰتٍ مِّنْ أَعْنَابٍ وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَٰبِهٍ ۗ ٱنظُرُوٓا۟ إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ وَيَنْعِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكُمْ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٩٩﴾﴾

[۹۷] او دی (الله ﷻ) هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته یې ستوري د دې دپاره ګرځولي (پیدا کړي) دي چې تاسو پرې د بیابان او دریاب په تیارو کښې لاره مونده کړئ. یقیناً مونږ د داسې قوم دپاره چې پوهېږي ایتونه (او دلایل) ښه په تفصیل سره بیانوو.

[۹۸] او دی (الله ﷻ) هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې د یو نفس (آدم ﷺ) څخه پیدا کړئ، نو تاسو لره د استقرار ځای او د امانت ځای شته. یقیناً مونږ د داسې قوم دپاره چې په دقیقه توګه پوهېږي خپل ایتونه (او دلایل) ښه مفصل بیانوو.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۱۵
(۲) البحر المحیط ج۴ ص۵۵۳
(۳) تفسیر الطبري ج۵ ص۲۸۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹۹] او دی (الله ﷻ) هغه اقدس ذات دی چې د اسمان (د طرف) څخه اوبه رابښکته کوي (وروي) نو په دې (اوبو) سره د هر شي بوټي (د ځمکې څخه) راوباسو (چې تفصیل یې دا دی:) نو موږ د دغه بوټي (د ټولو اجزاوو) څخه (لوږي) شین تبغ راوباسو، د همدغه (نري تبغ) څخه (بوټی جوړوو او بیا ترې) یوه په بل باندې سوړې (ګڼې) دانې راوباسو؛ او نژدې (نژدې) وږي د کجورې بلکې د هغې د غلاف (پردې) څخه (ویستل کړی شوي) دي.

او (په دغو اوبو سره) باغونه (راوباسو) چې د انګورو څخه عبارت دي او (همدارنګه پرې) زیتون (ښوون) او انار هم (د ځمکې څخه راوباسو)، په داسې حال چې (د هرې نوعې میوجات د یو پلوه) یو بل ته ورته دي او (د بله پلوه) یو بل ته ورته نه دي.

تاسو دغه (د ذکرو شوو شیانو د هر یوه) میوې ته وګورئ کله چې میوه ونیسي، او هم یې د میوې پوخوالي ته (وګورئ چې څنګه پیدا کېږي او څنګه پخېږي).

یقیناً په دې (ذکر شوي بیان) کښې د داسې قوم دپاره چې (په الله ﷻ باندې) عقیده کوي ضرور ښه (قوي) دلایل دي.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د وړاندېنیو ایتونو غونډې د الله ﷻ د وحدانیت او د نبي کریم ﷺ د نبوت او بالآخره د معاد (آخرنۍ ورځې) اثبات د بحث لاندې نیولی شوی دی چې حاصل یې داسې راوځي:

ای پیغمبره! خلکو ته د الله ﷻ څه اختصاصي صفات نور هم ورزده کړه ترڅو خپل حقیقي معبود وپېژني او د باطل پرستی څخه لاس واخلي، هغه دا دي چې:

۱ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو ته یې په اسمان کښې ستوري پیدا کړي دي، په دغو ستورو کښې یو مهم مطلب دا هم دی چې تاسو ترې په وچه او په لمده کښې استفاده وکړئ او کوم طرف ته چې د تللو نیت لرئ هغه طرف ورباندې وپېژنئ، که نه نو په یوه لوی بیابان او لوی عظیم الشان دریاب کښې به تاسو خپل خط السیر په څه شي باندې پېژندلی وی.

ایا د الله ﷻ څخه په غیر د ستورو په خلقت او ترتیبولو کښې بل څوک څه مداخله کولی شي؟.

ای پیغمبره! موږ خپل ایتونه او دلایل په دغومره ښه تفصیل سره بیانوو خو البته چې هغه خلک ترې ګټه اخلي څوک چې لږ څه پوهه لري که څه هم دقت ونه کړي.

۲ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې (ای انسانانو!) د یو نفس (آدم ﷺ) څخه پیدا کړي یاست، ستاسو د مزل سلسله د آدم ﷺ څخه پیل کېږي او آن په جنت یا دوزخ باندې پای ته رسیږي چې په ځینو ځایونو کښې ډېره اوسېدانه کوئ ته به وایې چې دا مو اصلي مقر او استوګنځی دی، او په ځینو کښې لږ وخت تېروئ لکه چې یو مسافر د لږ وخت څخه وروسته د خپل اصلي منزل په لور خپل سفر ته ادامه ورکوي او روانېږي.

ای پیغمبره! موږ خپل دلایل او ایتونه په ډېر ښه تفصیل سره بیانوو مګر د فقاهت خاوندان ترې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته اخلي چې لږ څه د مطالبو په لاس ته ورو‌ړلو کښې دقت کوي او لږ د تعمق څخه کار اخلي او سوچ کوي چې زه چا راروان کړی یم او کوم طرف ته مې بیایي؟ ایا زه خپل ځان ته څه تګلاره ټاکلې شم؟ ایا د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک زما د تګلارې د ټاکنې څه اختیار لري؟

۳_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو (ای انسانانو!) د مادي تربیت دپاره یې د اسمان د طرف څخه د باران اوبه نازلې کړې دي لکه څنګه یې چې ستاسو د روحي روزنې دپاره د اسمان څخه وحې نازله کړې ده.

په دغو اسماني اوبو سره (چې یو جنس دی او مختلف شیان وریاندې اوبه کېږي) مونږ د ځمکې څخه د هر ډول نباتاتو بوټي رازرغونوو، چې تفصیل یې دا دی:

د هر څه څخه وړاندې تخمي دانې انفلاق وکړي او یو نری تېغ ترې رابهر شي، بیا مونږ همدغه نري تېغ ته وده ورکوو آن تردې پورې چې ښه په سور کښې بوټی ترې جوړ شي، بیا ترې دانې راوباسو چې ښې ګڼې او یو تربله سورې وي؛ ایا د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک دا کار کولی شي؟

او همدارنګه د زړي څخه نری تېغ راوباسو او بیا وده ورکوو آن تردې چې غټه ونه ترې جوړه شي، بیا د همدغې غټې او دنګې ونې څخه ګل راوباسو چې په پوښ (شخولې) کښې پوښلې شوی وي، په ورو ورو شخولې ښېرته کړو او د خرما وږی ترې راوباسو، په دغه وږي کښې ډېرې نژدې دانې وي چې د نژدېوالي سره-سره هره یوه بېل-بېل پوستکی لري او یوه د بلې سره نه نښلي. ایا دا کار د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک کولی شي؟

همدارنګه مونږ د تخمي زړو څخه د نورو ډول-ډول میوجاتو باغونه راوباسو او په هغه یو جنس اوبو باندې وده ورکوو، لکه د انګورو او زیتونو او بالآخره د انارو باغونه.

د ذکر شوو باغونو میوجات په شکل او څېره کښې د یوې ونې د بلې ونې سره یو رنګ ښکاري خو په خوند او مزه کښې یو بل ته ورته نه دي.

یا په بل عبارت: ذکر شوي ټول بوټي او ټولې ونې او باغونه په دې کښې یو بل ته ورته دي چې په یو ډول اوبو باندې خړوبېږي، په یوه ځمکه کښې وده کوي او یوه هوا وریاندې چلېږي، مګر په خوند، رنګ، بوی، څېره او نورو شیانو کښې زښت ډېر توپیر لري. ایا دا کار د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک کولی شي.

ای انسانانو! د ټولو په آخر کښې تاسو د ذکرو شوو شیانو څخه د هر یوه مېوې ته ښه په ځیر سره وګورئ چې په څه کیفیت سره وده کوي او وخت په وخت یې مزه څنګه بدلون مومي آن تردې چې پخه شي او خوراک ته جوړه شي او د بېل-بېل خوند درلودونکې شي.

ای انسانانو! همدا ذکر شوی بیان کفایت کوي چې تاسو یوازې په یوه الله ﷻ باندې معتقد شئ او د باطل پرستۍ څخه خانونه بچ کړئ او یا یې ترې بچ وساتئ؛ مګر حقیقت دا دی چې د پخې عقیدې د خاوندانو څخه په غیر نور څوک ترې ګټه نه شي پورته کولی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

١ـ الله ﷻ د ستورو دپاره لاندې درې ګټې په قرآن کريم کښې په صراحت سره ذکرې کړې وي:
الف: شيطانان ورباندې ويشتل کېږي، چې بحث به يې ـان شاء اللهـ په خپل ځاى کښې راشي
ب: د اسمان ډول او سنګار ورباندې برابر ذى چې هرڅوک يې ګوري.
ج: په بيابانونو او دريابونو کښې ورباندې لاره او طرف پېژندل کېږي که نه نو د درياب او بيديا مسافرو به په توره شپه کښې خپله تګلاره نه وى معلومه کړې او سرګردان به ګرځېدى، لکه چې همدا ايت شريف ورته اشاره کوي کوم چې د بحث لاندې دى.

## په ياد ولرئ!

٢ـ په ياد ولرئ چې په ستورو باندې د هدف معلوممول چندان دقت نه غواړي نو ځکه الله ﷻ په دې مقام کښې د ﴿ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴾ جمله ذکره کړه. يعنې: د ستورو څخه د محض علم خاوندان استفاده کولی شي که څه هم لږ علم ولري.
امّا په ننې عصر کښې د ځينو آلاتو په کشف سره ذکره شوې استفاده نوره هم اسانه شوې ده، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:
الف: لمونځ کوونکی په ډېره اسانۍ سره د قبله نما په ذريعه قبله معلومولی شي.
ب: يو مجاهد د قطب نما او شاخيز (يوه لکړه ده) په استعمال سره د هغو وسلو په ذريعه، چې قوسي ګوزار کولی شي، د غره هغې خوا خپل هدف د اور لاندې نيسي.
ج: همدارنګه په الوتکو کښې ځينې آلات نصب دي چې په ستورو باندې د لارې موندلو کار يې ډېر اسان کړى دى. او داسې نور.

## ايا د علم النجوم زده کړه جواز لري؟

٣ـ په دې برخه کښې (چې د علم النجوم زده کړه جواز لري او که نه) ځينو مفسرينو کرامو[١] ډېر ښه په زړه پورې بحث کړى دى، مګر مونږ په لاندې يوه حديث باندې اکتفاء کوو چې دغه موضوع يې ښه واضحه کړې ده:
يو خلې د شپې د پلوه باران شوى وه او نبي کريم ﷺ خپل صحابه کرام ﷺ د سبا د لمانځه څخه وروسته مخاطب کړه چې: ايا تاسو پوهېږئ چې ستاسو رب ﷻ څه وايي؟ دوى عرض وکړ چې الله ﷻ او د ده ﷻ پيغمبر ښه پوهېږي.
نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: ستاسو رب ﷻ فرمايي «أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ، فَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِهِ فَذَلِكَ مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ وَأَمَّا مَنْ قَالَ بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا فَذَلِكَ كَافِرٌ بِي وَمُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ»[٢] يعنې: زما د بندګانو څخه په ماباندې ځينې مؤمنان وګرځېده او ځينې کافران،

---
(١) روح المعاني ج٧ ص٢٣٤
(٢) صحيح البخاري ج١ ص١٤١

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو هرڅوک چې ووايي چې په مونږ باندې د الله ﷻ په فضل او رحمت سره باران وورېده نو هغه په ما باندې مؤمن دی او په ستوري باندې کافر، او هر څوک چې ووايي چې په مونږ باندې باران د هغه او دغه ستوري د ختلو یا پرېوتلو د کبله وورېده نو هغه په ما باندې کافر دی او په ستوري باندې مؤمن. ذکر شوی حدیث مونږ ته د علم النجوم په باره کښې څرګند حکم راکوي چې د دغه علم په زده کړه کښې څه نقصان نشته البته چې کله د سړي عقیده درسته وي او باور لري چې د هر شي کوونکی الله ﷻ دی او بس، د ده ﷻ په کارونو کښې هیڅوک مداخله نه شي کولی.

مګر چې د دې سره-سره د هغو کارونو څخه ځان وساتي چې شریعت اجازه نه وي ورکړې لکه کوډګري (جادوګري) د غیبو ویل او داسې نور.

## یادونه

۴_ که څوک غواړي چې د ستورو په باره کښې په ډېرو عجائبو او غرائبو باندې پوه شي نو ځینو اوږدو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[۱].

## مُستَقَر او مُستَودَع څه معنی؟

۵_ که څه هم مفسرینو کرامو د ذکرو شوو دواړو کلمو په تفسیرونو کښې زښت ډېر قولونه کړي دي چې تقریبًا پنځلسو اقوالو ته رسېږي[۲]، مګر کوم تفسیر چې مونږ ته په دې مقام کښې ښه ښکاري هغه په لاندې څو لنډو مقدمو باندې ولاړ دی:

الف: د "مُسْتَقَرّ" کلمه د قرار څخه ده چې د ثبات او تال معنی ورکوي[۳]، او د "مُسْتَوْدَع" کلمه د "وَدِيعَة" څخه ده چې د لږ وخت پرېښودلو او د عدم استقرار معنی پکښې پرته ده[۴].

ب: انسان د نطفې د حالت څخه په دېخوا په لاندې ځایونو کښې لږ ډېر وخت تېروي او یا لا پکښې دائمي پاتې کېږي: ۱_ أصلاب (د پلرونو شاګانې). ۲_ أرحام (د مورګانو رحمونه). ۳_ دنیا یا ځمکه. ۴_ قبر. ۵_ جنت. ۶_ دوزخ (البته د ګنهکار مؤمن دپاره).

ج: د ذکرو شوو شپږو واړو ځایونو څخه په هر یوه باندې د اعتباراتو په لحاظ سره هم د مستقر او هم د مستودع اطلاق کېږي، چې شرحه یې دا ده:

اول: صلب (د پلار شا) د نطفې دپاره مستقر دی چې همدلته خلق کېږي او دا یې اصلي مقر دی. خو په دې اعتبار سره ورته مُستودع ویلی شو چې خلقت یې اصلا د ارحامو دپاره شوی دی او دلته یې تالبدل موقتي دي.

دوهم: رحم (د مور ګېډه) د نطفې دپاره مستقر ده چې خلقت یې د همدې ځای دپاره شوی دی،

---

(۱) الجواهر للطنطاوي ج۴ ص۸۷

(۲) زاد المسیر ج۳ ص۶۴: التفسیر الکبیر ج۱۳ ص۱۰۳

(۳) مفردات الراغب ص۴۱۳

(۴) مفردات الراغب ص۵۵۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او په دې اعتبار سره يې مُستَودَع هم جوړېږي چې د پلار د پلوه هلته اچوله کېږي ته به وایې چې هلته يې امانته ږدي.

دریم: ځمکه د انسان دپاره مستقر ده چې طبعي استقرار يې همدلته دی او کورونه او ښارونه همدلته جوړوي، مګر په دې اعتبار سره يې مُستودع ږدي چې د انسان اصلي خلقت د آخرت دپاره دی.

څلورم: قبر د مړي دپاره مستقر دی چې د قیامت د ورځې ځخه وړاندې ترې ځوک نه شي ښوربدلی، مګر په دې اعتبار سره ورته مُستَودَع دی چې د وارثانو د پلوه هلته دفن کېږي، ته به وایې چې د امانت په توګه يې ږدي، او هم دلته اوسېدانه عارضي ده په بیا راژوندي کېدلو باندې اختتام پیدا کوي.

پنځم: دوزخ د کافرانو دپاره مستقر دی چې هلته به همېشه وي، مګر د عاصیانو مؤمنانو دپاره مُستودع دی چې څه وخت وروسته به ترې بهر شي.

شپږم: همدارنګه په جنت باندې هم د هغه جنتي دپاره د کامل مستقر اطلاق کولی شو چې نه يې د دوزخ دوره تېره کړې وي او نه په اعراف کښې تال شوی وي.

او د هغه جنتي په اعتبار سره (چې یا يې د دوزخ دوره تېره کړې وي او یا په اعراف کښې څه وخت تال شوی وي) که د مستودع اطلاق وکړو هم بده نه ده چې جنت ته د داخلېدلو څه وخت ترې په دوزخ یا اَعراف باندې فوت شوی وي. اما د دخول ځخه وروسته خو د ټولو جنتیانو دپاره جنت دائمي استقرار ځای دی.

## تبصره

۶_ د ذکرو شوو مقدماتو په نظر کښې نیولو سره سړی پوهېږي چې مفسرینو کرامو د مُستقر او مستودع دواړو کلمو ته محض مثالونه ښودلي دي او حصر يې مطلب نه دی، ځکه چې د ذکرو شوو ټولو مراحلو ځخه په هره یوه مرحله باندې هم د مستقر او هم د مستودع اطلاق کېدلی شي. مګر لږ څه دقت غواړي، د همدې کبله الله ﷻ ذکر شوی ایت د ﴿ لِقَوۡمٖ يَفۡقَهُونَ ﴾ په کلمه باندې ختم کړی دی. یعنې: په ذکر شوي مضمون باندې هغه خلک ښه پوهېږي چې ښه دقیق علم ولري ځکه چې د ﴿ يَفۡقَهُونَ ﴾ کلمه د "فِقهٌ" ځخه اخستله شوې ده او "فِقهٌ" په یوې پټې معنی باندې د پوهېدلو ځخه عبارت ده. فقیه ته ځکه دا نوم ایښودلی شوی دی چې په دقت سره د احکامو استنباط کوي[۱].

لنډه دا چې په ذکر شوي ایت شریف کښې الله ﷻ مونږ پوه کړو، لکه چې ستاسو اصلي خلقت د الله ﷻ په اختیار کښې دی همدارنګه د یوې مرحلې ځخه بلې مرحلې ته انتقالول مو هم د ده ﷻ ځخه په غیر بل ځوک نه شي کولی نو تاسو ته په کار دي چې د همده ﷻ ځخه په غیر د بل چا عبادت ونه کړئ.

(۱) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۲ ص۱۹۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدغو مراحلو څخه یوه پښتون شاعر څومره په زړه پوري تعبیر کړی دی چې[۱]:

خبر نـه یـم چې یـې راوستـم د کـومـه :: بیا مې کومې خوا ته استوي چې درومه
لکه ړوند چې لاس د بل په اوږه کېږدي :: هـیـڅ ژوره لـوړه نـه وي ورمـعـلـومـه
خدای راپېښـه نـرۍ لار کـړه نـالـېدلې :: لکه ورانـه مـشـوره چې وي سـرګـومـه

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې: ﴿ خَضِرًا ﴾ خو هغه نري تېغ یا شنه ډکي ته ویل کېږي چې د هر څه څخه وړاندې د ځمکې څخه رازرغونېږي او په مرور د وخت سره تري بوټی (نبات) جوړېږي[۲]؛ نو پوښتنه را ده چې په ﴿ فَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهُ خَضِرًا ﴾ کښـې د "مِنۡهُ" ضمیر ﴿ نَبَاتَ ﴾ ته راجع دی[۳]، نو د معنی حاصل بې داسې کېږي چې: تېغ د بوټي څخه راوباسو. نه دا چې بوټی د تېغ څخه راوباسو؟!

مونږ وایو چې: ذکره شوې جمله د ﴿ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ نَبَاتَ كُلِّ شَيۡءٖ ﴾ دپاره تفصیل واقع شوی دی او وروباندې تفریع نه ده چې اعتراض وارد شي. نو د معنی حاصل بې داسې کېږي چې: مونږ په اوبو سره د هر شي بوټی د ځمکې څخه راوباسو، چې تفصیل یې دا دی چې د هر شي څخه وړاندې د زرغونېدونکي بوټي څخه د هغه نرۍ څوکه (تېغ) د ځمکې څخه راوباسو.

## د کجورې نومونه

۸_ که څه هم د خرما د ونې میوجات د اول څخه تر آخره پورې اولس (۱۷) نومونه لري چې وروستنی نوم یې "تَمۡرَة" (کجوره) ده، مګر په ایت شریف کښې لاندې دوه نومونه ذکر شوي دي:

الف: "طَلۡع"، دا د هغه غلاف نوم دی چې د هر څه څخه وړاندې د هغې ونې څخه راوځي چې مېوې نیولو ته ځان جوړوي[۴] چې په دري ژبه کښې ترې په "شګوفه" باندې تعبیر کوي، چې وروسته وروباندې ـ په پښتو کښې ـ د "شخولې" نوم ږدو.

ب: "قِنۡوٌ"، کله چې ذکر شوی غلاف (پرده) څیرې شي نو ګلان توی شي او خپل ځای یوه بل شي ته پرېږدي چې په عربي کښې ورته "قِنۡوٌ" وایي[۵] مونږ ترې په "وږي" سره تعبیر کوو. "قِنۡوٌ" په "قِنۡوَان" سره جمعه کېږي[۶].

په دې مقام کښې د ﴿ قِنۡوَانٌ ﴾ کلمه په ﴿ دَانِيَةٌ ﴾ سره موصوفه شوې ده چې مفسرین کرام یې لاندې تفسیرونه کوي:

---

(۱) د عبد الرحمن مومند دیوان ص۱۶۹
(۲) التفسير الكبير ج۱۳ ص۱۰۸
(۳) تفسير الكشاف ج۲ ص۵۱
(۴) تفسير القرطبي ج۷ ص۴۸
(۵) مفردات الراغب ص۴۲۹
(۶) روح المعاني ج۷ ص۲۳۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: د ﴿ دَانِيَةٌ ﴾ کلمه خو د نژدې معنی ورکوي مګر د خپل ضد ("بَعِيدَة" لرې) څخه هم نمایندګي کوي. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ذکر شوی د خرما د ونې وږې ځينې ځمکې ته نژدې وي چې ونه يې نه وي لوړه شوې او ځينې لرې وي چې ونه يې لوړه وي[1].

دوهم: ذکر شوي وږي يو تربله نژدې وي ښه ګڼ او ډېر وي[2].

مونږ وايو چې: ذکر شوې معناوې سره څه منافات نه لري، کېدی شي چې دواړه مرادې وي او علاوه پر دې، دا هم څه لرې نه ده چې ذکره شوې کلمه د دانو په ډېروالي او نژدېوالي باندې تفسير کړو، لکه چې لږ وړاندې ترې په ﴿ مُتَرَاكِبًا ﴾ سره تعبير کړی شوی وه. يعنې: د وږي دانې ډېرې او ګڼې وي چې يوه بلې ته نژدې وي ته به وايې چې يوه په بله باندې سُوَره ده خو د دې سره يوه د بلې پورې نښتې نه وي او په منځو کښې پردې لري.

## د عربيت يوه قاعده

٩ـ علماء کرامو د ﴿ وَمِنَ ٱلنَّخْلِ مِن طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ ﴾ د جملې ترکيب په متعددو ډولونو سره کړی دی چې په معنی باندې يې چندان اثر نه لوېږي[3] مګر بهتر ترکيب يې (چې ډېرو تقديرانو ته اړتيا نه لري) دا دی چې: ﴿ قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ ﴾ (موصوف او صفت) مبتدأ مؤخره ده او ﴿ وَمِنَ ٱلنَّخْلِ مِن طَلْعِهَا ﴾ (بدل او مبدل منه) د متعلق "مُخْرَجَة" په اعتبار سره خبر مقدم دی[4]، نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې: او نژدې وږي د خرما د ونې څخه (بلکې) د دې (د وږي) د غلاف (پوښ) څخه (په دائمي توګه) ويستل کړی شوي دي...

## متشابه او غير متشابه څه معنی؟

١٠ـ که څه هم په ايت شريف کښې اوله کلمه د افتعال د باب څخه ده او دوهمه کلمه د تفاعل په باب باندې بنا ده، خو څرنګه چې دواړه بابونه په دې مقام کښې په معنی کښې يو تربله نژدې دي[5] نو ځکه مونږ دواړو ته د تفاعل د باب عنوان ورکړ، او د همدې عنوان لاندې يې شرحه کوو چې: تشابه دې ته وايي چې دوه شيان سره په کيفياتو کښې يو رنګوالی ولري، مګر دغه يو رنګوالی ځينو مفسرينو کرامو[6] په زيتون او رمان (انار) کښې شرحه کړی دی چې دغه دواړه ونې په ځينو کيفياتو کښې يوه بلې ته ورته ده، لکه د پاڼو اندازه او لوړوالی، اما په ځينو نورو کيفياتو کښې سره بېلې-بېلې دي، لکه د پاڼو رنګ او د مېوې خوند او کيفيت.

---

(١) تفسير القرطبي ج٧ ص٤٨
(٢) تفسير أبي السعود ج٣ ص١٦٦
(٣) البحر المحيط ج٤ ص٥٩٧
(٤) تفسير الكشاف ج٢ ص٥١
(٥) مفردات الراغب ص٢٦٠: روح المعاني ج٧ ص٢٤٠
(٦) تفسير القرطبي ج٧ ص٤٩

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر بهتره دا ده چې ذکره شوې تشابه او عدم تشابه د میوجاتو د ذکرو شوو درېواړو ډولونو په هر یوه کښې ـ د بدلیت په اعتبار سره ـ شرحه شي. او دا ځکه چې دا مقام د الله ﷻ د قدرتونو د مظاهرې دی او دا مطلب په همدې توګه ډېر ښه لاس ته راځي.

نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې: د انګورو دانې يوه بلې ته ورته ښکاري خو په عين حال کښې یوه د بلې څخه په خوند، رنګ، وزن او نورو شیانو کښې جدا وي. همدارنګه د زیتون او انار دانې هم یو تربله متشابه او غیر متشابه دي حال دا چې د یوې ځمکې څخه يې نشئت کړی دی، په یو ډول اوبو باندې خړوب شوي دي او یو ډول هوا ورباندې چلېږي. که بالفرض دا د طبیعت کار وی لکه چې دهریان يې وايي نو ذکر شوی تفاوت به يې نه درلودی.

﴿وَجَعَلُوا۟ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ٱلْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ ۖ وَخَرَقُوا۟ لَهُۥ بَنِينَ وَبَنَٰتٍۭ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٠٠﴾ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُۥ وَلَدٌ وَلَمْ تَكُن لَّهُۥ صَٰحِبَةٌ ۖ وَخَلَقَ كُلَّ شَىْءٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿١٠١﴾ ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ ۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ فَٱعْبُدُوهُ ۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ وَكِيلٌ ﴿١٠٢﴾ لَّا تُدْرِكُهُ ٱلْأَبْصَٰرُ وَهُوَ يُدْرِكُ ٱلْأَبْصَٰرَ ۖ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ ﴿١٠٣﴾﴾

[١٠٠] او دوی (مشرکانو) الله ﷻ ته (په عبادت کښې) پیریان (شیطانان) شریکان ګرځولي (درولي) دي حال دا چې الله ﷻ دوی پیدا کړي دي (او د ده ﷻ مخلوق دی).

او (بل) دوی الله ﷻ ته پرته د علم (دلیل) څخه زامن او لورګانې تراشلي دي.

ده ﷻ ته (د دغسې نسبتونو څخه) پاکي ده او د هغو شیانو څخه پورته دی چې دوی يې بیانوي (او ورپورې يې تړي).

[١٠١] (الله ﷻ) د نشت څخه د اسمانونو او ځمکو پیدا کوونکی دی. ده ﷻ لره ولد (زوی یا لور) څنګه کېدی شي، حال دا چې ده ﷻ لره اندیواله نشته (بلکې دا نه کېدونکی نسبت دی).

او هر شی يې پیدا کړی دی (په خلق کښې ټول یو برابر دي) او دی ﷻ په هر شي باندې پوه دی.

[١٠٢] (ای بندګانو!) دا الله ﷻ ستاسو رب دی (نه تراشل شوي بوتان)، د عبادت لایق نه دی مګر همدی ﷻ دی. (چې) د هر شي پیدا کوونکی دی نو د همده ﷻ عبادت وکړئ (او شریک ورسره مه دروئ) او همدی ﷻ په هر شي باندې وکیل دی (خارنه يې کوي او کارونه يې ورجوړوي).

[١٠٣] سترګې د الله ﷻ لیدنه (د احاطې په توګه) نه شي کولی او دی ﷻ د سترګو (او سترګورو) احاطه کوي (يو يې هم د خارنې څخه نه شي وتلی).

او همدی ﷻ (په خپلو بندګانو باندې) د نرمۍ خاوند (او) خبردار دی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

څرنګه چې په وړاندېنيو ایتونو کښې الله ﷻ په خپل وحدانیت باندې پوره دلایل تېر کړه او فرمایلې یې وه چې په دې دلایلو باندې د علم دقیقې پوهې او بالآخره د پخې عقیدې خاوندان ګټه اخلي، نو په دې ایتونو کښې یې هغه خلک وښودل کوم چې نه علم نه دقیقه پوهه او بالآخره نه پخه عقیده لري. نو د دغسې خلکو د ښه پوه کولو دپاره الله ﷻ څه اختصاصي صفات نور هم بیان کړه ترڅو دوی د نه منلو د غونډۍ څخه راښکته شي او په توحید باندې قانع شي.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! د وړاندېنيو دلایلو په مقابل کښې د ناپوهانو او جهالو خلکو غبرګون دا دی چې:

۱ـ دوی د الله ﷻ سره په عبادت او اطاعت کښې شریکان درووي، که څه هم دا شریکان دوی د بوتانو په څېرو کښې وړاندې کوي خو په حقیقت کښې دوی د پیریانو (شیطانانو) اطاعت او عبادت کوي، ته به وایې چې پخپله شیطانان د دوی بوتان دي.

په هر تقدیر، مشرکان او د دوی معبودان (پیریان وي او که بل شی) ټول د الله ﷻ مخلوق دي؛ ایا مخلوق د خالق سره برابرول د جاهلانو کار نه دی؟

۲ـ بل جاهلانه غبرګون یې دا دی چې دوی الله ﷻ ته زامن او لورګانې تراشلي دي، نصرانیان وایي چې عیسی علیه السلام د الله ﷻ زوی دی، یهودان وایي چې عُزیر علیه السلام د الله ﷻ زوی دی او مشرکان وایي چې پرښتې د الله ﷻ لورګانې دي؛ د دوی د ولدیت ادعا په لاندې دلایلو باطله ده:

الف: د دوی ذکره شوې ادعا محض تخیل او خیال پرستي ده او هیڅ علمي بنه نه لري. یا په بل عبارت: دوی په خپله ادعا باندې نه عقلي دلیل وړاندې کولی شي او نه نقلي.

ب: الله ﷻ د دغسې خبرو او د دغسې اتهاماتو څخه پاک او منزه دی. ځکه چې د ولدیت سره د هر لوازم ملګري دي چې ټول د الله ﷻ سره منافي دي، لکه احتیاج، تجزیه او داسې نور.

ج: الله ﷻ خو ټوله دنیا (اسمانونه او ځمکې) د هغو مخلوقاتو په شمول چې مشرکان یې الله ﷻ ته د ولدیت په صفت منسوبوي بې د سابق مثال څخه پیدا کړي دي، که بالفرض د دوی خبره درسته وی نو معنی به یې دا وی چې دغه او هغه مخلوق یې سابق مثل لري او ـ العیاذ بالله ـ د الله ﷻ څخه راجدا شوي دي. حال دا چې الله ﷻ ته ټول مخلوقات د خلق په نسبت کښې یو برابر دي.

د: که بالفرض د کافرانو خبرې صحت درلودی نو الله ﷻ به انډیواله هم درلودی حال دا چې په انډیواله باندې ورته یوه کافره ډله هم قائله نه ده، دا هله که د ولدیت څخه په دنیا کښې متعارف ولدیت مراد کړی شي.

هـ: او که د ولدیت څخه د کافرانو مطلب دا وي چې اولادونه د الله ﷻ څخه بې اختیاره جدا کېږي او خورېږي لکه څنګه چې د ګل څخه خوشبويي خورېږي نو بیا د ولدیت د بطلان دلیل دا دی

Downloaded from: bewarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې الله ﷻ خو هر شی په اختیار سره پیدا کړی او داسې مخلوق نشته چې موجودیت ولري او الله ﷻ ورته اختیاري وجود نه وي ورکړی او د الله ﷻ د ارادې څخه په غیر موجود شوی وي.
د: په دې ټولو باندې د پاسه، الله ﷻ په هر شي باندې په کامله توګه عالم دی، نو بالفرض المحال که الله ﷻ ولد درلودی نو ده ﷻ ته به معلوم وی او تاسو ته به یې خبر درکړی وی چې فلانی زما ولد دی.
عجیبه خو دا ده چې الله ﷻ پخپله په صراحت سره فرمایي چې زه ولد نه لرم او کفار وایي چې دغسې نه ده، ته ولد لرې. یا په بل عبارت: دوی وایې چې الله ﷻ ولد لري خو ورباندې خبر نه دی او یوازې مونږ ورباندې علم لرو، د الله ﷻ څخه زمونږ علم زیات دی، العیاذ بالله.
٣ـ ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې دغه اقدس ذات، چې وړاندې یې تنزیهات بیان شوه، الله ﷻ دی او ستاسو رب دی، روزمره ستاسو تربیه کوي او کارونه مو درجوړوي، یوازې همدی ﷻ د معبودیت لیاقت لري، او همدی ﷻ ستاسو او ستاسو د باطلو معبودانو په شمول د هر شي خالق دی، نو خاص د همده ﷻ عبادت وکړئ او د خیالي معبودانو څخه صرف نظر وکړئ چې ستاسو کارونه نه شي درجوړولی، د هر شي کارسازی یوازې الله ﷻ دی او صرف همدی ﷻ یې څارنه کوي.
۴ـ ای پیغمبره! خلکو ته الله ﷻ په لاندې صفاتو باندې هم وروپېژنه:
اول: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په کامله توګه یې سترګې نه شي لیدلی او بلکې په دنیا کښې د ده ﷻ د لیدلو څخه عاجزې دي؛ ایا نو تاسو ورسره هغه مخلوق برابروئ کوم چې تاسو یې په سترګو باندې په کامله توګه لیدلی شئ او په لاس باندې یې مسه کولی شئ او حتی د ختو او نورو څېزونو څخه یې جوړولی شئ او لا په خپلولاسونو باندې مو جوړ کړي دي؟!
دوهم: الله ﷻ ـ بالمقابل ـ ټول سترګې درلودونکي په کامله توګه ګوري او هیڅوک ترې خپل ځان نه پټولی او نه په څنګولی شي.
ایا ستاسو باطل معبودان تاسو او ستاسو ټول مشکلات ګوري؟ دوی خو په رڼو سترګو ویده دي نو تاسو ته به څه په درد وخوري؟
په آخره کښې ورته ووایه چې الله ﷻ د ذکر شوي عالي شان سره-سره په خپل مخلوق باندې مهربان دی او د هر باریکه احتیاجات یې هم پوره کوي او په ټولو احوالاتو باندې یې خبردار دی او ټول کړه وړه یې ورته څرګند دي.
که بالفرض خبیر وی او لطیف نه وی نو ټول به یې پوښنا کړي وی او د نعمتونو څخه د استفادې فرصت به یې ورته نه وی پرېښی.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: مشرکانو خو د بوتانو عبادت کاوه حال دا چې الله ﷻ د دوی څخه حکایت کوي چې: ﴿ وَجَعَلُواْ لِلَّهِ شُرَكَآءَ ٱلۡجِنَّ ﴾ دوی الله ﷻ ته شریکان جنیان دروي؟

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې:
الف: دوی د بوتانو عبادت د شیطان په پیروۍ باندې کاوه نو داسې وګڼل شوه لکه چې پخپله د شیطان عبادت یې کړی وي[1]، لکه الله ﷻ چې د ابراهیم ؏ د خولې څخه حکایت کوي: ﴿ يَٰٓأَبَتِ لَا تَعۡبُدِ ٱلشَّيۡطَٰنَ ﴾ [مریم: ۴۴] ای پلاره! د شیطان عبادت مه کوه. یعنې د ده په لمسون د بوتانو عبادت پرېږده.

نو په دې جواب کښې د ﴿ ٱلۡجِنَّ ﴾ څخه شیطانان مرادېږي. که څه هم ابلیس یو کس دی مګر هر څوک چې په ګمراه کولو کښې د شیطان (ابلیس) ملاتړ کوي هغوی ټول شیطانان ګڼل کېږي حتی چې همدغه لقب ګمراه کوونکو انسانانو ته هم شاملېږي.

که څه هم دا جواب په خپل ذات کښې درست دی مګر د مقام په اعتبار سره په زړه پورې پېوند نه اخلي، ځکه چې بحث په هغه شرک کښې راروان دی چې مستقیمًا یې څوک مرتکب شي، نه هغه چې بالواسطه یې مرتکب شي.

ب: په ملائکو باندې هم د "الجِن" اطلاق کېږي، ځکه چې "جِن" خو په اصل کښې د حواسو څخه د یوه شي پټولو ته ویل کېږي نو د انسان حواسو ته په کتلو سره ملائک، پېریان او شیطانان ټول د "جِن" په کلمه کښې شاملېږي[2]، نو څرنګه چې ځینو مشرکانو ملائک بنات الله ګڼل، چې د جزییت څخه نمایندګي کوي، نو داسې وګڼل شوه لکه چې د الله ﷻ سره یې ملائک شریکان درولي وي[3].

مګر دا جواب ځکه غوره نه ښکاري چې همدا مضمون په ﴿ وَخَرَقُواْ لَهُۥ بَنِينَ وَبَنَٰتِۢ بِغَيۡرِ عِلۡمٖۚ ﴾ کښې شامل دی او تاسیس خو د تاکید څخه بهتر دی.

ج: په زړه پورې جواب دا دی چې: په ذکره شوې جمله کښې یوې خاصې ډلې مشرکانو ته اشاره ده کومه چې ـ العیاذ بالله ـ په دوه خالقانو باندې قائل دي. دوی وایي چې الله ﷻ د رڼا، خلکو، څارویو او نورو بهترو شیانو خالق دی او شیطان (ابلیس) د تیارو، درنده ګانو، مارانو، لړمانو او نورو مضرو شیانو خالق دی[4].

نو څوک چې دغه عقیده لري هغوی ابلیس او د ده لښکر او خاص ملګري ټول د الله ﷻ سره شریکان ګڼي، اګر که ابلیس یو کس دی او دلته د ﴿ شُرَكَآءَ ﴾ کلمه (جمعه) نازله شوې ده.

## د زندیق د کلمې تحلیل

۲ـ ځینې مفسرین کرام[5] وایي چې په ذکر شوي دریم جواب کښې خاصه ډله مجوس مراد دي چې همدغه عقیده لري، دوی ته زندیقان هم وایي.

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۶۶
(۲) مفردات الراغب ص۹۶
(۳) تفسیر القرطبي ج۷ ص۵۳؛ تفسیر الطبري ج۵ ص۲۹۶
(۴) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۱۹
(۵) التفسیر الکبیر ج۱۲ ص۱۱۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د "زندیق" د کلمې تحلیل داسې دی چې کوم کتاب چې زردشت خیال کاوه چې وربانديې نازل شوی دی د "زند" په نامه یادېده، چې د نسبت په وخت کښې ترې "زندي" جوړېږي او کله چې په عربي کښې استعمال شي نو "زندیق" ته اړول کېږي چې جمعه يې زنادقه راځي.

## خَرق څه معنی؟

۳_ د ﴿ وَخَرَقُواْ لَهُ ﴾ کلمه د "خَرق" څخه اخستله شوې ده، "خَرْق" د یو شي پرېکولو ته وايي چې بې فکره او بې سوچه يې د فساد په نیت پرې کړي[۱]، په دې مقام کښې يې استعمال دېر په ځای دی او دا ځکه چې مشرکانو به الله ﷻ ته د فساد په نیت باندې زامن او لورګانې تراشلې.

## په جنت کښې د الله ﷻ دیدار حق دی

۴_ که څه هم د الله ﷻ دیدار (رُؤیة) موضوع عقیدوي موضوع ده او مربوط بحثونه يې د عقائدو په کتابونو پورې اړه لري[۲] او ځینو اوږدو تفاسیرو هم پکښې بحث کړی دی[۳] مګر مونږ يې د ایت شریف د ارتباط په اعتبار سره فقط لاندې څو ټکو ته اشاره کوو:

الف: د أهل السنة والجماعة عقیده دا ده چې د جنتیانو دپاره په جنت کښې د الله ﷻ دیدار (د مراتبو په تفاوت سره) حق دی (الله ﷻ دې راته نصیب کړي)، اما کیفیت يې د نورو اخروي شیانو په شان مجهول دی چې د کیفیت جهالت د اصل په ثبوت باندې څه اثر نه اچوي. نو مونږ يې په بلا کیف ثبوت باندې ښه کلک معتقد یاستو.

ب: د الله ﷻ د دیدار په هکله زښت دېر ایتونه نازل شوي دي چې ټولو ته تاویل ورکول بې انصافي ده، مثلاً الله ﷻ فرمايي: ﴿ كَلَّآ إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ ﴾ [المطففين:۱۵] یعني: دغسې نه ده لکه چې کافران خیال کوي، یقیناً دوی به په دغې ورځ کښې د خپل رب د دیدار څخه په حجاب (پرده) کښې وي او په دیدار باندې به يې مشرف نه شي.

امام مالک رحمه الله علیه وايي: بالفرض که مؤمنانو هم په جنت کښې د الله ﷻ دیدار نه شوی کولی نو الله ﷻ به کافرانو ته د عتاب په موقع د ﴿ لَّمَحْجُوبُونَ ﴾ کلمه نه وی استعماله کړې، ځکه چې په دې تقدیر خو به مؤمنان او کافران ټول یو برابر په پرده کښې وی[۴].

ج: احادیث خو د "رُؤیَة" (دیدار) د ثبوت په باره کښې دومره دېر روایت شوي دي چې د معنوي تواتر درجې ته رسېږي[۵] ټولو ته د عقلي دلایلو په بنا تاویل ورکول بې عقلي ده.

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۴۷
(۲) شرح المقاصد ج۲ ص۱۱۱
(۳) التفسیر الکبیر ج۱۳ ص۱۳۳؛ روح المعاني ج۷ ص۲۴۵؛ تفسیر خازن ج۲ ص۴۵۸
(۴) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۱۹
(۵) تفسیر القاسمي ج۶ ص۶۶۴؛ تفسیر الطبري ج۵ ص۲۰۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

## په نزد جنتیانو ته د الله ﷻ دیدار اجماعي عقیده

د: د همدې کبله د أهل السنة والجماعة عقیده ده او ټول پرې متفق دي[1].

هـ: اهل الاعتزال[2] او اهل التشیع[3] عقیده لري چې د الله ﷻ دیدار (رؤیة) په جنت کښې جنتیانو ته نشته.

و: د دوی اکثره دلایل په عقلیاتو باندې ولاړ دي او په دې باندې اتکاء لري چې د آخرت کارونه یې په دنیاوي کارونو باندې قیاس کړي دي[4]. یا په بل عبارت: دوی د سپړې دپاره پوستین په اور اچوي (د کیفیاتو د جهالت د کبله د اصل څخه منکر شوي دي)، حال دا چې د آخرت اکثره شیان د کیفیت د حیثه مونږ ته مجهول دي خو انکار ترې په کار نه دی.

ز: د انکار کوونکو نقلي دلیل دا دی چې: الله ﷻ په ﴿ لَّا تُدْرِكُهُ ٱلْأَبْصَٰرُ ﴾ کښې د خپل اقدس ذات څخه د سترګو ادراک نفي کړی دی، نو کله چې د سترګو څخه ادراک منفي شو نو لیدل او دیدار ترې هم منفي وګرځېد، دا ځکه چې د سترګو ادراک خو د لیدلو او دیدار څخه په غیر بل شی نه دی.

مونږ وایو چې:

اول: ﴿ لَّا تُدْرِكُهُ ﴾ کلمه د "إدْرَاك" څخه اشتقاقه شوې ده او "إدْرَاك" په معنی د احاطې سره دی[5] نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: سترګې په الله ﷻ باندې احاطه نه شي کولی. بلکې د الله ﷻ هر یو وصف د مخلوق د علم څخه بهر دی او احاطه پرې نه شي کولی، لکه چې فرمایي: ﴿ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلْمًا ﴾ [طه: ۱۱۰] یعني: مخلوقات په الله ﷻ باندې د علم د حیثه احاطه نه شي کولی.

د ښه وضاحت دپاره لاندې ایت شریف ولولئ، چې د سترګو لیدلو پکښې تحقیق موندلی دی مګر ادراک نه دی متحقق شوی:

الله ﷻ فرمایي: ﴿ فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ۝ قَالَ كَلَّآ ۖ إِنَّ مَعِىَ رَبِّى سَيَهْدِينِ ﴾ [الشعراء: ۶۱ـ ۶۲] یعني: کله چې دواړو ډلو (بني اسرائیلو او فرعونیانو) یو تر بل سره ولیده نو د موسی ﷺ ملګرو وویلې چې یقینًا مونږ احاطه کړی شوو (ونیولی شوو)، نو موسی ﷺ ورته داډ ورکړ چې دغسې نه ده (لیدل وشوه خو ادراک به نه کېږي) ځکه چې زما سره خپل رب ملګری دی د نجات لاره به راوښایي. په نتیجه کښې الله ﷻ خپله وعده ریښتیا کړه او ویې فرمایل چې: ﴿ لَّا تَخَٰفُ دَرَكًا وَلَا تَخْشَىٰ ﴾ [طه: ۷۷] یعني: ای موسی! بني اسرائیلو ته په دریاب کښې لاره جوړه کړه چې نه به د فرعونیانو د احاطه کولو څخه داربږې او نه به په دریاب کښې د ډوبېدلو څخه وېرېږې.

---

(۱) المحرر الوجیز ج۶ ص۱۲۲
(۲) تفسیر الطبري ج۵ ص۳۰۱
(۳) تفسیر نمونه ج۵ ص۳۸۱
(۴) المحرر الوجیز ج۶ ص۱۲۳
(۵) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۲۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

دوهم: كه بالفرض ادراک محض د رؤيت په معنى سره شي نو د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د روايت په بنا د ﴿لَّا تُدْرِكُهُ ٱلْأَبْصَـٰرُ﴾ تفسير داسې دى چې: په دنيا كښې الله ﷻ نه شي ليدل كېدلى[1]؛ نزځو د ټولو نصوصو تطابق ترلاسه شي، نه دا چې په بالكل نه شي ليدل كېدلى.

## لطيف څه معنى؟

۵_ د "لَطِيف" كلمه درې معناوې لري: چې حواس (سترګې) ورباندې احاطه نه شي كولى او چې په ډېرو دقيقو شيانو باندې پوهېږي او بالآخره چې نرمي كوونكى دي[2]، الله ﷻ په درېواړو معناوو سره لطيف دى.

كه څه هم ځينو علماوو كرامو په دې مقام كښې اوله معنى خوښه كړې ده[3] مګر مونږ ته دريمه معنى غوره ښكاري، لكه چې فرمايي: ﴿ٱللَّهُ لَطِيفٌۢ بِعِبَادِهِۦ﴾ [الشورى:۱۹] يعني: الله ﷻ په خپلو بندګانو باندې نرمي كوونكى دى (د همدې كبله په ګناه سره د چا څخه روزي نه قطعه كوي).

﴿قَدْ جَآءَكُم بَصَآئِرُ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَنْ عَمِىَ فَعَلَيْهَا ۚ وَمَآ أَنَا۠ عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ﴿١٠٤﴾ وَكَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلْـَٔايَـٰتِ وَلِيَقُولُوا۟ دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهُۥ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿١٠٥﴾ ٱتَّبِعْ مَآ أُوحِىَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ وَأَعْرِضْ عَنِ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٠٦﴾ وَلَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكُوا۟ ۗ وَمَا جَعَلْنَـٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا ۖ وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِوَكِيلٍ ﴿١٠٧﴾﴾.

[۱۰۴] يقينًا تاسو ته د خپل رب ﷻ د پلوه (روښانه) دلايل درغلي دي، نو چا چې (ورباندې) ليدل وكړه نو د خپل ځان دپاره يې دي، او څوک چې (ورباندې) ړوند شو نو د همده په ځان باندې (بار) دى. او زه (خو) په تاسو باندې حفاظت كوونكى نه يم (تاكلى شوى).

[۱۰۵] او همدارنګه مونږ ايتونه (دلايل) بيا بيا (د ډېرو مطالبو دپاره) بيانوو او هم د دې دپاره چې دوى (مشركان تاته) ووايي چې تا درس ويلى دى (قرآن كريم دې زده كړى دى) او (بل) د دې دپاره چې مونږ د داسې قوم دپاره قرآن كريم ښه واضحه كړو چې دوى پوهېږي (حال دا چې مشركان ورته بشري كلام وايي).

[۱۰۶] (اى پيغمبره! په دوامداره توګه) د هغه شي پيروي كوه چې تاته د خپل رب د پلوه وحي كېږي (داسې رب ﷻ چې) د عبادت لايق نشته مګر همدى ﷻ دى (او بس). او د مشركانو څخه مخ تاو كړه (نانديږه ورسره مه ږهه).

---

[1] تفسير القرطبي ج۷ ص۵۴

[2] مفردات الراغب ۴۷۰

[3] البحر المحيط ج۴ ص۶۰۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

[۱۰۷] او که د الله ﷻ اراده شوې وی (چې دوی دې ایمان راوړي نو) دوی به شرک نه وی کړی، او مونږ خو ته په دوی باندې حفاظت کوونکی (ساتونکی) نه یې ټاکلی (چې د دوی په جنایتونو باندې به ته ونیولی شې). او نه یې ته (ای پیغمبره!) په دوی باندې وکیل (کارساز او ذمه وار).

## ارتباطونه

۱ـ په دې ایتونو کښې د یوه پلوه نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړې شوې ده او د بل پلوه هغه اشتباه جوابه کړې شوې ده د کومې چې د وړاندېنیو ایتونو څخه د راپورته کېدلو امکان وه، هغه دا چې کله الله ﷻ د نظر لاندې د احاطې په توګه نه شي راتلای نو په کار دي چې مشرکان په شرکیاتو کښې معذور وګڼلی شي څکه چې په نالیدلي شي باندې خلک ډول-ډول ګومانونه کوي.

۲ـ هغه ایتونه د الله ﷻ په دوه صفتونو باندې ختم شوي وه چې ﴿ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ﴾ او په دې ایتونو کښې د همدغو دواړو صفاتو څه اثرات ښودلي شوي دي چې خلاصه یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! زما د طرفه خلکو ته ووایه چې لکه څنګه چې الله ﷻ ستاسو په احتیاجاتو او بلکې په ټولو حالاتو باندې خبردار دی همدارنګه په تاسو باندې زښت ډېر مهربان هم دی، نو که تاسو ته یې داسې سترګې نه دي درکړې چې خپل رب ورباندې د احاطې په توګه وګورئ نو دومره دلایل او بصیرتونه خو یې درکړي دي چې خپل رب ورباندې وپېژنئ او د شرکیاتو څخه ځانونه بچ کړئ.

یا په بل عبارت: ای انسانانو! ایا تاسو ته دومره عقل نه دی درکړی شوی چې په ټوله دنیا او حتی په خپلو ځانونو کښې ورباندې د الله ﷻ وحدانیت کشف کړئ؟ ایا یو لک څلیرشت زره ـزیات یا کمـ پیغمبران علیهم السلام او ښه پوره کافي کتابونه تاسو ته نه دي دراستولي شوي، چې د پیغمبرانو علیهم السلام سلسله په آخر الزمان پیغمبر ﷺ او د کتابونو سلسله په قرآن کریم باندې ختمه شوې ده؟ نو ایا تاسو خپل ځانونه د شرکیاتو په ارتکاب سره معذور ګڼئ؟.

۲ـ لنډه دا چې تاسو ته الله ﷻ د زړونو سترګې درکړې دي چې هیڅوک ترې انکار نه شي کولی، نو څوک چې د زړه په سترګو لیدنه وکړي او حق ته ځان ورسوي نو خپل ځان ته یې ګټه ده او که څوک ورباندې خپل ځان ړوند واچوي نو خپل ځان ته یې ضرر دی او ماته هیڅ ضرر نه متوجه کېږي څکه چې زه خو په تاسو باندې څارونکی او ساتونکی نه یم ټاکلی شوی، زما وظیفه خو صرف دعوت دی او ـلله الحمدـ په دعوت کښې راڅخه څه قصور نه دی واقع شوی.

۳ـ ای پیغمبره! مونږ خپل دلایل بیا-بیا په داسې ډول سره بیانوو ترڅو خلک متوجه شي او د شرکیاتو څخه لاس واخلي، خو د خلکو په حال افسوس دی، چې کله په ښه موثره توګه دلایل واوري او نژدې وي چې په زړونو کښې یې رڼا پیدا شي نو په دې بهانه په خپلو کفریاتو باندې کلکېږي او تاته خطاب کوي چې دا کتاب (دلایل) د الله ﷻ د پلوه نه دي بلکې ته یې روزمره د کوم بنده څخه درس په توګه زده کوې او بیا یې مونږ ته لولوې.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴ـ ای پیغمبره! مونږ دغه ستر نعمت (قرآن کریم) د دوی د ناشکرۍ د کبله نه قطعه کوو او نزول ته یې ادامه ورکوو ترڅو د پوهې خاوندان ترې ګټه واخلي، اګر که ذکر شوي جاهلان ورباندې کفران کوي.

نو څرنګه چې د مشرکانو انکار په کوم دلیل باندې بنا نه دی او بالمقابل د هدایت دلایل په ډېره روښانه توګه تاته درنازلېږي، نو که اوس هم دوی په تاباندې ایمان نه راوړي نو ته غمژن کېږه مه، ځیل قیمتي وخت ورباندې مه ضائع کوه، د خپل رب د وحې کړی شوي کلام په دوامداره توګه پیروي کوه، ځکه چې د عبادت او پیروۍ لائق یوازې او یوازې همدی ﷻ دی، او بالآخره د دوی سره ناندرۍ مه وهه او د مقابلې څخه یې مخ واړوه، اما د انذار څخه یې لاس مه اخله.

۵ـ ای پیغمبره! ته د مشرکانو په حالت باندې ځکه ډېر مه غمژن کېږه چې که الله ﷻ اراده کړې وی چې دوی دې په ایمان باندې مشرف شي نو دوی به شرک نه وی کړی، خو الله ﷻ تر اوسه دغسې اراده نه ده کړې.

یا په بل عبارت: د مشرکانو شرک هم د الله ﷻ په اراده باندې صورت نیسي ځکه چې د شیانو د جملې څخه د دوی شرک هم یو شی دی او هر شی د الله ﷻ په اراده باندې تحقق مومي. هو! دا بېله خبره ده چې په شرکیاتو باندې راضي (خوښ) نه دی مګر د ارادې څخه یې هیڅ شی وتلی نه دی.

۶ـ ای پیغمبره! مشرکان دې یو ځل بیا واوري چې: ته خو مونږ په دوی باندې نه څارونکی ټاکلی یې چې د ګمراهۍ پوښتنه به یې ستا څخه کېږي او نه زمونږ د طرفه په دوی باندې وکیل ګرځولی شوی یې چې د دوی د شرکیاتو جواب په تا باندې وي، په تا کښې هیڅ قصور نشته، تا خو خپله ذمه واري پوره کړه نور نو دوی پوهېږي او کار یې.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ بَصَآئِرُ ﴾ کلمه د "بَصِيرَة" جمعه ده، "بَصِيرَة" هغه قوت ته وایي چې د انسان زړه ورباندې د شیانو درک کولی شي او ورباندې پوهېږي[1]، همدغه قوت ته الله ﷻ اشاره کوي چې: ﴿ وَلَٰكِن تَعْمَى ٱلْقُلُوبُ ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ ﴾ [الحج: ۴۶] یعنې: د مشرکانو (کافرانو) سترګې ړندې نه دي مګر هغه زړونه یې ړانده دي چې په سینو کښې یې دي.

## د عربیت یوه قاعده

۲ـ د ﴿ وَلِيَقُولُواْ ﴾ په کلمه کښې د "واو" توری د عطف دپاره دی مګر معطوف علیه کلام یې د عموم دپاره نه دی ذکر شوی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: مونږ عقلي او نقلي دلایل د ډېرو وجوهو د کبله بیا-بیا بیانوو، یوه وجه یې دا ده چې مشرکان وایي چې دا د الله ﷻ کلام نه دی بلکې تا د چا څخه زده کړی دی او یا یې روزمره زده کوې او بیا یې مونږ ته قرائت کوې. که

---

(۱) مفردات الراغب ص ۴۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


بالفرض مونږ خپل دلایل په ذکره شوې موثره توګه نه وی بیان کړي نو مشرکانو به ذکره شوې خبره نه وی کړې او د حجت اتمام به وربانديې نه وی ثابت شوی، او الله ﷻ به یې جواب نه وی ورکړی چې: ﴿ وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّهُمْ يَقُولُونَ إِنَّمَا يُعَلِّمُهُۥ بَشَرٌ ﴾ [النحل:١٠٣] یعنې: یقینًا مونږ پوهېږو چې بې شکه مشرکان وایي چې په یقین سره (ای محمده!) تاته کوم یو انسان تعلیم کوي. حال دا چې چاته چې دوی د قرآن کریم نسبت کوي هغه عجمي سړی دی او دا په فصیحه عربي ژبه کلام دی حتی چې اصلي عربان یې هم د مقابلې څخه عاجزان دي.

## یادونه

٣ـ مونږ د [آل عمران:٧٩] ایت لاندې د درس او د تعلیم معناوې او توپیرونه لیکلي دي چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

﴿ وَلَا تَسُبُّوا۟ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَسُبُّوا۟ ٱللَّهَ عَدْوًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ كَذَٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِم مَّرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٠٨﴾ ﴾

[١٠٨] او (ای مؤمنانو!) تاسو هغه کسانو (شیانو) ته کنځل مه کوئ چې دوی (مشرکان) یې د الله ﷻ څخه په غیر بلنه (عبادت) کوي، نو چې دوی (مشرکان) الله ﷻ ته د تجاوز د کبله بدون د علم څخه (په جاهلانه ډول) کنځل وکړي (او همدغه یې نتیجه جوړه شي).

همدغه ډول مونږ هرې ډلې ته (د دوی د کړو وړو د کبله) خپل عمل ښایسته کوو (ترڅو د امتحان لاندې واقع شي). بیا (نو) د دوی (ټولو) بېرته ورتاوېدل یوازې خپل رب (الله ﷻ) ته دي نو دوی به په هغو اعمالو باندې خبر کړي چې دوی وه چې په دنیا کښې به یې کول.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته او بلکې په غیر مستقیمه توګه ټولو مؤمنانو ته توصیه کړې وه چې د مشرکانو څخه اعراض وکړئ او په دې ایتونو کښې یې د اعراض مطلب واضحه کړی دی چې، د دعوت او انذار څخه علاوه، اضافه غرض ورسره مه کوئ حتی چې بوتان یې وکنځئ.

## شان نزول

که څه هم مفسرینو کرامو د ذکر شوي ایت په شان نزول کښې ډېر روایتونه لیکلي دي[١] خو مونږ په لاندې یوه روایت باندې د مثال په توګه اکتفاء کوو، هغه دا چې یو ځل داسې هم پېښه شوې وه چې مؤمنانو به د مشرکانو بوتان کنځل او مشرکانو به یې رد کاوه، نو الله ﷻ مؤمنان د دې کار څخه منعه کړه ترڅو د دوی رب (الله ﷻ) ته بالمقابل جاهلان کنځل ونه کړي[٢].

(١) تفسیر البغوي ج٢ ص١٢١
(٢) اسباب النزول للواحدي ص١٤٩

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱_ یعني: ای مؤمنانو! مونږ پوهېږو چې تاسو هم د کافرانو په کفر باندې ډېر غمژن کېږئ خو پام کوئ چې خپلې حوصلې خرابې نه کړئ چې د خپلو ځانونو اداره ونه کړی شئ او د مشرکانو بوتانو (معبودانو) ته کنځلې وکړئ. که بالفرض تاسو دغسې کړنلاره غوره کړئ نو په لوی لاس به خپل حقیقي معبود (الله ﷻ) د هغوی د کنځلو هدف وګرځوئ. دوی خو جاهل خلک دي په دې باندې نه پوهېږي چې الله ﷻ خو ستاسو د ټولو خالق او رازق دی.

لنډه دا چې د بوتانو کنځل د الله ﷻ د کنځلو سبب جوړېږي، لکه چې تاسو پخپله الله ﷻ کنځلی وي، او دا کار ستاسو سره مناسب نه دی.

۲_ په دنیا کښې مونږ د امتحان او ازمېښت دپاره هر چا ته خپله کړنلاره دولې ګرځولې ده او هرڅوک په خپلې تګلارې باندې خوښ دی، چې کنځل یې ورباندې نه لوړېږي.

هو! د دغو ټولو کړو وړو د سپیناوي دپاره د قیامت ورځ راروانه ده نو هلته به الله ﷻ هر څوک د خپل عمل او کړنلارې په نتیجه باندې پوه کړي او هر چا ته به مناسبه جزا ورکړي.

## توضیحات

۱_ ذکر شوی ایت شریف مونږ ته ارشاد کوي چې د خپلو ټولو شرایعو احترام وساتو او د داسې کار یا قول څخه اجتناب وکړو چې د الله ﷻ یا پیغمبرانو او بالآخره یا د قرآن کریم او یا بل شرعي حکم د توهین او سپکاوي سبب جوړېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مِنَ الْكَبَائِرِ أَنْ يَشْتُمَ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ» یعني: د لویو ګناهو څخه دا هم ده چې کوم سړی خپل مور او پلار ته کنځلې وکړي. صحابه وو کرامو ؓ عرض وکړ چې: «يَا رَسُولَ اللهِ! وَهَلْ يَشْتُمُ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ؟» ای د الله رسوله! ایا خپل مور او پلار ته هم کوم سړی کنځلې کوي؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «نَعَمْ! يَسُبُّ أَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ أَبَاهُ وَيَشْتُمُ أُمَّهُ فَيَشْتُمُ أُمَّهُ»(۱) هو! (کله چې) د بل سړي پلار ته کنځلې وکړي نو هغه د ده پلار ته (بالمقابل) کنځلې وکړي او د بل سړي مور ته سپکه وینا وکړي نو هغه د ده مور ته سپکه وینا وکړي (نو داسې کېږي لکه چې پخپله یې خپل مور او پلار ته سپکې ویناوې او کنځلې کړې وي).

ب: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې کله به نبي کریم ﷺ (په مکه معظمه) کښې په قرآن کریم باندې جهر وکړ نو مشرکانو به نبي کریم ﷺ ته او هغه چا ته چې قرآن کریم یې نازل کړی دی (الله ﷻ ته) او بالآخره هغه چا ته چې قرآن کریم یې راوړی دی (جبرائیل امین ته) کنځلې کولې، نو الله ﷻ دا ایت شریف نازل کړ چې: ﴿ وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ﴾(۲) [الإسراء: ۱۱۰]

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۴۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یعني: او ته په خپل لمانځه مه جهر کوه او مه یې خفیه کوه او د دغو دواړو ترمنځ (متوسطه) لاره ولټوه چې نه ټول جهري شي او نه ټول خفیه شي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: مشرکانو خو په الله ﷻ باندې عقیده درلوده، د همدې کبله یې (په خپل خیال) د بوتانو عبادت کاوه ترڅو یې الله ﷻ ته د نژدېکت ذریعه وګرځوي؛ نو پوښتنه دا ده چې: ﴿فَيَسُبُّواْ ٱللَّهَ عَدۡوَۢا بِغَيۡرِ عِلۡمٍ﴾ څه معنی؟

مونږ وایو چې:

الف: لکه څنګه چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د ذکر شوي روایت څخه څرګندېږي چې مشرکانو الله ﷻ ته په قصدي توګه کنځلې نه کولې بلکې د دوی د جوابي وېناګانو څخه الله ﷻ ته کنځل څرګندېده. یا په بل عبارت: مشرکانو ته خو قرآن کریم د الله ﷻ د پلوه نازل شوی کتاب نه ښکارېده نو مؤمنان به یې مخاطب کړه چې دا کتاب خو الله ﷻ نه دی نازل کړی نو هر چا چې نازل کړی دی هغه به یې کنځل.

په همدې جواب باندې د ﴿بِغَيۡرِ عِلۡمٍ﴾ کلمه دلالت کوي. یعنې: ای مؤمنانو! تاسو د مشرکانو بوتان په ناکاره نامه باندې مه یادوئ که نه نو دوی به تاسو ته داسې جوابونه درکړي چې په هغو کښې به په غیر علمي (غیر قصدي) توګه د الله ﷻ سپکاوی نغښتی وي.

ب: کله-کله چې سړی ډېر په غُصه شي د خپل ځان اداره د لاسه ورکوي او حتی خپلو معتقداتو ته سپکې سپورې خبرې کوي. د ښه وضاحت دپاره لاندې قیصه ولولئ:

## یوه عجیبه قیصه

یوه ورځې د یوه جاهل سُني په وړاندې ځینې روافضو د شیخینو رضي الله عنهما په کنځلو کښې ډېر زیادت وکړ، کله چې ناپوه سُني ډېر په غُصه شو نو د علي ﷺ په کنځلو باندې یې پیل وکړ. چا ورته وویلې چې: دا ولې؟ مونږ سُنیان خو د علي ﷺ په شمول د ټولو صحابه وو کرامو درناوی کوو؟

هغه جواب ورکړ چې دا کار مې د دې کبله وکړ چې رافضیان داسې په غُصه کړم لکه څنګه یې چې زه په غُصه کړی وم چې خپل ځان مې اداره نه کړی شو. نو نوموړي ته توصیه وکړی شوه چې د دغه لوی جهل څخه توبه وباسه[۱].

## یادونه

۳_ کله-کله چې ځینې عاصیان د ګناه سره عادي شي نو خپله ګناه ورته ښه ښکاري، د همدغه حالت څخه په ختم او یا تزیین (ښایسته کولو) سره تعبیر کېږي چې پوره تحقیق یې د [البقرة:۷، ۱۱۲] اینونو لاندې تېر شوی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

(۱) روح المعاني ج۷ ص۲۵۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَأَقْسَمُوا۟ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَـٰنِهِمْ لَئِن جَآءَتْهُمْ ءَايَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا ۚ قُلْ إِنَّمَا ٱلْـَٔايَـٰتُ عِندَ ٱللَّهِ ۖ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَآ إِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٩﴾ وَنُقَلِّبُ أَفْـِٔدَتَهُمْ وَأَبْصَـٰرَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا۟ بِهِۦٓ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَنَذَرُهُمْ فِى طُغْيَـٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١١٠﴾﴾

[۱۰۹] او دوی (مشرکان) په الله ﷻ باندې په خپلو کلکو قسمونو سره سوګند کوي چې که خامخا دوی ته (فرمایشي) معجزه ورشي نو ضرور هرو مرو به پرې دوی ایمان راوړي.
ته ووایه (ای پیغمبره!) چې یقینًا ټول معجزات د الله ﷻ په نزد دي (د ده ﷻ د قدرت لاندې دي) او تاسو څه شي خبر کړئ (ای مؤمنانو! بلکې تاسو خبر نه یاست چې) یقینًا (فرمایشي) معجزات چې کله (دوی ته) ورشي دوی به ایمان رانه وړي؟ (او مونږ خبر یو چې دوی به ایمان رانه وړي).

[۱۱۰] او (دا ځکه چې) مونږ به (د دوی د جنایتونو د کبله) د دوی زړونه او د دوی سترګې (د ایمان راوړلو څخه) واړوو. (نو دوی به ایمان رانه وړي) لکه څنګه یې چې په قرآن کریم باندې په اول ځل (نزول) سره ایمان نه وه راوړی، او دوی به په خپلو سرکشیو کښې د پرېشانۍ په حال کښې پرېږدو (او فرمایشي معجزات به ورته هیڅ ګټه ونه رسوي).

## ارتباط

د وړاندېنې ایت مضمون دا وه چې هر چا ته خپله-خپله کړنلاره غوره ښکاري. په دې ایتونو کښې همدغه مضمون د یوه مثال په ضمن کښې تائید شوی دی چې: مشرکان په سوګند سره د ایمان راوړلو وعده کوي خو د دې سره-سره په خپل عهد باندې نه درېږي او خپله کړنلاره نه پرېږدي.

په دې علاوه، په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د مشرکانو د خولو څخه د قرآن کریم د شک او رد په باره کښې د ﴿ دَرَسْتَ ﴾ کلمه حکایت کړې ده، چې دا قرآن کریم تا د چا څخه زده کړی دی. او په دې ایتونو کښې یې د دوی په اصطلاح د شک د پورته کولودپاره د فرمایشي معجزاتو د غوښتنې بیان نازل شوی دی.

## شان نزول

د یوه اوږد حدیث شریف مضمون دی چې یوه ورځې قریشو د نبي کریم ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ:

قریش: ای محمده! ته خو مونږ ته د پخوانیو پیغمبرانو معجزات بیانوې لکه د موسی ؑ د همسا څخه ښامار جوړېدل یا د عیسی ؑ د مړو ژوندي کول او داسې نور، نو که ته پخپله دغه معجزات راوړې نو مونږ به درباندې ایمان راوړو.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو څه ډول معجزه غواړئ؟
نبي کريم ﷺ: تاسو څه ډول معجزه غواړئ؟
قريش: مونږ غواړو چې د صفا غونډۍ سره زر جوړه کړه او يا ځينې پخواني مړي بېرته راژوندي کړه چې مونږ ترې ستا په باره کښې پوښتنه وکړو او بالآخره يا پرښتې راښکته کړه چې ستا په رسالت باندې شاهدي ورکړي.
نبي کريم ﷺ: رښتيا ووایاست، که ذکره شوې کومه يوه معجزه راوړم نو تاسو به زما تصديق وکړئ؟.
قريش: هو! په الله ﷻ مو دې سوګند وي چې مونږ به ټول په تاباندې ايمان راوړو.
په عين وخت کښې د مسلمانانو هم تمه پيدا شوه چې ګوندې قريش ټول په ايمان باندې مشرف شي، نو دوی هم نبي کريم ﷺ ته د فرمايشي معجزاتو د ښودلو وړانديز وکړ.
نبي کريم ﷺ الله ﷻ ته په سوال کولو باندې پيل وکړ چې ای الله! د صفا غونډۍ د معجزې په توګه سره زر جوړه کړې. چې په نتيجه کښې جبرائيل ﷺ راښکته شو او نبي کريم ﷺ ته يې په لاندې دوه وو شقونو کښې اختيار ورکړ:
۱ــ الله ﷻ به د صفا غونډۍ سره زر جوړ کړي نو که بيا هم قريش ايمان رانه وړي نو په دوی باندې به اسماني عذاب نازلېږي او ټول به پوپنا کېږي.
۲ــ او که دې خوښه وي نو په موجوده معجزاتو باندې به اکتفاء وکړو او د فرمايشي معجزاتو د نازلولو څخه به صرف نظر وکړو، څه لرې نه ده چې په آينده کښې څوک توبه وباسي او يا د دوی د نسل څخه ښه مسلمانان تولد شي.
نو نبي کريم ﷺ همدغه دوهم شق غوره کړ او ذکر شوي ايتونه نازل شوه[1] چې د مضمون خلاصه يې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ــ ای پيغمبره! مشرکان خو تاته په کلکو سوګندونو سره وعده درکوي چې د فرمايشي معجزاتو د تحقق په صورت کښې به په ايمان باندې مشرف شي او مؤمنان هم درڅخه د غوښتلو شوو معجزاتو د نزول آرزو کوي، نو ته مؤمنان مخاطب کړه او مشرکان په غوږ باندې ووهه چې:
معجزات خو د الله ﷻ په واک او اختيار کښې دي، د نزول وخت او حالت يې ډېر ښه پېژني چې هر يو کار يې په حکمت باندې ولاړ دی. نو څرنګه چې تاسو ته د فرمايشي معجزاتو د نزول پايله نه ده معلومه او په دې باندې نه پوهېږئ که مشرکان فرمايشي معجزات وګوري هم په ايمان باندې به مشرف نه شي نو ځکه يې د نزول آرزو کوئ، که بالفرض تاسو په دې خبره باندې پوهېدلئ چې د غوښتلې شوې معجزې د نزول په وخت کښې هم مشرکان ايمان نه راوړي نو تاسو به ذکره شوې آرزو نه وی کړې.

[1] تفسير البغوي ج۲ ص۱۲۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ ای مؤمنانو! تاسو په دې باندې هم نه پوهېږئ چې که بالفرض مونږ مشرکانو ته فرمایشي معجزې ورنازلې کړو نو د دوی د کړنلارې د کبله به د دوی زړونه د ایمان راوړلو څخه تاو کړو او سترګې به یې د معجزاتو د تحقیقي لیدنې څخه واړوو. او دا ځکه چې د دوی په زړونو باندې مهر وهلی شوی دی او په سترګو باندې یې پردې دي.

نو لکه څنګه چې دوی د اولې ورځې څخه ایمان ته شا کړې ده د فرمایشي معجزاتو د نزول په وخت کښې به هم ایمان راوړلو ته مخ وروانه نه کړي او خپلو کفریاتو ته به ادامه ورکړي. نو څنګه چې وړاندې مونږ په سرکشیو کښې سرګردانه پرېښي وه، وروسته به یې هم په همدغه حالت باندې پرېږدو. او که د الله ﷻ اراده وشي نو د خپل عادت په مطابق به یې پوپنا کړي او د معجزو نزول به ورته د ګټې په عوض ضرر وکړي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ جَهْدَ ﴾ کلمه په معنی د مشقت او وسعې سره ده[۱] چې د ﴿ أَيْمَـٰنِهِمْ ﴾ کلمې ته یې اضافت شوی دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د مشرکانو چې څومره وسه کېږي په هماغې اندازه کلک قَسمونه کوي. لکه چې څوک د "الله" د کلمې سره "بالله ثم تالله" هم ملګري کړي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د ﴿ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَآ إِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ جمله خو مؤمنانو ته د توبیخ دپاره نازله شوې ده چې تاسو څه شي پوه کړئ چې مشرکان د فرمایشي معجزاتو د تحقق په صورت کښې ایمان راوړي، حتی چې تاسو هم د هغوی د فرمایشي معجزاتو د نازلېدلو آرزو کوئ.

نو په کار وه چې د ﴿ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ په عوض د "يُؤْمِنُونَ" جمله نازله شوې وی ترڅو د توبیخ په وجه باندې صراحت راغلی وی.

مونږ وایو چې: که څه هم علماوو کرامو د ذکر شوي سوال دپاره متعدد جوابونه لیکلي دي[۲] مګر بهتره دا ده چې ذکره شوې جمله د توبیخ دپاره نه ده بلکې د اخبار دپاره نازله شوې ده. او دا ځکه چې انکاري استفهام کله د "لِمَ" (ولې) په معنی سره وي، چې د توبیخ معنی ورکوي، او کله د "لا" (نه) په معنی سره[۳].

په دې مقام کښې ذکره شوې جمله ﴿ وَمَا يُشْعِرُكُمْ ﴾ په دوهمه معنی سره ده چې د معذوریت مفهوم پکښې پټ دی. یعنې: ای مؤمنانو! تاسو څه شي پوه کړئ، بلکې هیڅ شي پوه کړي نه یاست، چې مشرکان د فرمایشي معجزاتو د تحقق په صورت کښې هم ایمان نه راوړي. که بالفرض تاسو پوه وی نو دغه آرزو به مو نه وی کړې.

---

[۱] مفردات الراغب ص۹۹
[۲] تفسیر البغوي ج۲ ص۱۲۳ : تفسیر القاسمي ج۶ ص۶۸۲
[۳] روح المعاني ج۷ ص۲۵۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویش اباسین لخوا سکین شو


## تقلیب څه معنی؟

٣_ د "تُقَلِّبُ" کلمه د "تقلیب" څخه اشتقاقه شوې ده او "تَقْلِیب" د انسان د یو فکر څخه بل
د اړولو څخه عبارت دی[١]. مګر علماوو کرامو یې په دې مقام کښې څو متعددې معناوې کړې
خو مونږ ته هغه معنی ډېره په زړه پورې ښکاري چې په لاندې حدیث شریف کښې واضحه
انس ﷺ وایي چې: نبي کریم ﷺ به دا جمله: «يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ» ډېره
(یعني: ای د زړونو تاوونکیه! زما زړه ستا په دین باندې ثابت پاتې کړې.) ما ورته وویلې چې: ای
الله ﷺ پیغمبره مونږ په تا باندې ایمان لرو او په هغه شي باندې هم چې تا مونږ ته راوړی دی
شوې جمله خو ته زمونږ دپاره د تعلیم په توګه تکراروې) نو ایا ته په مونږ باندې ډارېږې
به کفر ته واوړو)؟. نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «نَعَمْ! إِنَّ الْقُلُوبَ بَيْنَ أُصْبُعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ اللهِ يُقَلِّبُهَا كَيْفَ
يَشَاءُ»[٣] یعني: هو! یقیناً تول زړونه د الله ﷻ د بلا کیفه ګوتو څخه د دوه وو ګوتو ترمنځ دي
یې چې اراده وشي هغسې یې تاووي.

اما د دې خبرې تحقیق (چې الله ﷻ د زړونو تاوونکی دی او د دې سره‌سره په ګناهونو
جنایتونو باندې نېونه کوي) د [البقرة:۶] ایت لاندې تېر شوی دی که څوک زحمت نه حس کوي
هملته دې مراجعه وکړي.

## قلب او فُؤاد څه فرق لري؟

۴_ که څه هم د قلب او فؤاد دواړه کلمې په مصداق کښې څه فرق نه لري دواړه په هغې یو
غوښې باندې صادقېږي چې د هر یو انسان د سینې په چپه خوا کښې خلق کړی شوې ده او نبي
کریم ﷺ په همدې هکله فرمایلي دي چې: «أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا
فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ»[۴] یعني: خبردار! په بدن کښې یوه ټوټه غوښه ده که چې هغه
صالحه شي نو ټول بدن ورسره صالح کېږي او که چې هغه فاسده شي نو ټول بدن ورسره فاسد
کېږي. خبردار! ذکره شوې ټوټه غوښه د زړه څخه عبارت ده.

مګر همدغې غوښې ته د دې کبله "قَلْب" وایي چې اوړي او راوړي او یوه خوا او بله خوا
کېدل پکښې ډېر پېښېږي[۵]، او د دې کبله ورته فُؤاد وایي چې د رڼا او اور بلولو معنی پکښې
پرته ده[۶] چې کله پکښې د غم اور بلېږي او کله پکښې د خوشالۍ رڼاګانې شغلې وهي؛ نو د "قلب"

---

(١) مفردات الراغب ص۴۲۶
(٢) زاد المسیر ج٣ ص٧٢
(٣) جامع الترمذي ج٢ ص٣۶
(۴) صحیح البخاري ج١ ص١٣
(۵) مفردات الراغب ص۴۲۶
(۶) مفردات الراغب ص٣٨٣

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جمعه "قُلُوب" استعمالېږي او "فُؤَاد" په "أَفْئِدَة" باندې جمعه کېږي.
مګر په یاد ولرئ چې ډېر کرته هغو معناوو باندې هم د مجاز په توګه د "قَلْب" اطلاق کېږي چې په زړه پورې خانګړې دي، لکه روح، شجاعت او داسې نور، حتی په پښتو ژبه کښې هم دغه ډول استعمال شته دی، لکه چې د ډار په وخت کښې خلک وايي چې "زړه راځخه بهر شو" يعنې نژدې وه چې ساه مي وتلې وی. او هم وايي چې "فلانی زړه ور سړی دی" يعنې شجاعت لري.

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: د ﴿ أَوَّلَ مَرَّةٍ ﴾ د کلمې څخه د سړي ذهن ته ورځي چې مشرکانو ته يو ځل فرمايشي معجزې ورکړی شوې وې او ايمان يې ورباندې نه وه راوړی مګر دوی يې دوهم ځل غوښتنه وکړه او ذکر شوي ايتونه نازل شوه؛ حال دا چې دا خو مطلوبه معنی نه ده؟

مونږ وايو چې: ذکر شوی اعتراض په هغه وخت کښې په ځای ګڼل کېږي چې د ﴿ لَمْ يُؤْمِنُواْ بِهِ ﴾ په جمله کښې د "بِهِ" ضمير د "مَا جَاءَ" په تاويل سره فرمايشي معجزاتو ته راجع شي، لکه چې ځينو مفسرينو کرامو[1] غوره کړی دی.

او که ذکر شوی ضمير قرآن کريم ته راجع شي، لکه چې مونږ ته غوره ښکاري، نو ذکر شوی اعتراض نه واردېږي او د معنی حاصل يې داسې کېږي چې:

که بالفرض مونږ مشرکانو ته فرمايشي معجزې ورکړو هم نو دوی به د شرک څخه لاس وانخلي او په خپلو باطلو عقائدو باندې به داسې کلک پاتې شي لکه څنګه چې مونږ په اول ځل سره لويه معجزه (قرآن کريم) نازل کړ او دوی ورباندې ايمان رانه ووړ.

يا په عبارت: د مشرکانو په زړونو باندې مهر وهلی شوی دی نو لکه څنګه يې چې د اول ځل معجزې څخه انکار کړی وه همدارنګه به په دوهم ځلې معجزې باندې هم څه باور ونه کړي.

په همدې ځای باندې د اومې سپارې پښتو ترجمه او تفسير ختم شو ـ والحمد لله ﷻ.

اللَّهُمَّ يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ وَوَفِّقْنِي لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضَى.

۱۳۴/۳/۳۰ هـ ش

---

[1] تفسير ابي السعود ج۳ ص۱۷۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَلَوْ أَنَّنَا نَزَّلْنَآ إِلَيْهِمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ ٱلْمَوْتَىٰ وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَىْءٍ قُبُلًا مَّا كَانُوا۟ لِيُؤْمِنُوٓا۟ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ ﴿١١١﴾ ﴾

[۱۱۱] او که یقینًا مونږ دوی (مشرکانو) ته پرښتې ورښکته کړې وی، او مړو ورسره خبرې کړې وی او (بالآخره) په دوی باندې مو هر شی مخ په مخ (ټولګی-ټولګی، یا د ضامنانو په حیث) ورغونډ کړې وی هم، دوی به ایمان نه وی راوړی مګر هله چې د الله ﷻ اراده شوې وی خو د دوی (مؤمنانو) اکثریت نه پوهېږي (ځکه د مشرکانو دپاره د فرمایشي معجزاتو د نزول آرزو کوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ـ په دې آیت کښې د وړاندینیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی چې که بالفرض د معجزاتو په باره کښې د مشرکانو فرمایش پوره هم شي نو دوی به ایمان رانه وړي چې حاصل یې داسې راوځي:

۲ـ ای پیغمبره! مؤمنان ځکه د فرمایشي معجزاتو د نزول آرزو کوي چې دوی ته د مشرکانو ناکاره استعداد نه دی معلوم، دوی ګومان کوي چې د فرمایش د پوره کېدلو په وخت کښې به سمدستي مشرکان په ایمان باندې مشرف شي. خو خبره داسې نه ده.

که بالفرض مونږ دوی ته د اسمانه ښې ډېرې پرښتې ورښکته کړو او د دوی د غوښتنې په مطابق هغوی شاهدي ورکړي چې محمد ﷺ په حقه پیغمبر دی او قرآن کریم په رښتیا د الله ﷻ کتاب دی، او یا پخواني مړي راژوندي کړو او هغوی په سترګو لیدلی حال بیان کړي چې بیا ژوندي کېدل رښتیا دي او د جنت او دوزخ په موجودیت کښې هم شک نشته، او بالآخره یا هر شی (جمادات او حیوانات) د مشرکانو په وړاندې ټولګی-ټولګی ودروو، او دوی په معجزانه توګه شاهدي ورکړي چې د نبي کریم ﷺ په نبوت کښې دروغ نشته او ټولې ویناګانې یې سراسري رښتیا دي؛ نو په دغو ټولو صورتونو کښې به هم مشرکان په نظر سره خپل استعداد ته ـچې د خاورو سره یې برابر کړی دیـ په ایمان باندې مشرف نه شي او ذکر شوو معجزاتو ته به هم بهانې آنې وتراشي چې د جادو په قوت سره جماداتو او حیواناتو خبرې وکړې او یا په جادو سره مړي راژوندي شوه او داسې نور.

۳ـ هو! دا بېله خبره ده چې الله ﷻ د خپل عادت په خلاف د مشرکانو د بې استعدادۍ سره سره د دوی د ایمان راوړلو اراده وکړي، خو الله ﷻ دغسې کار نه کوي ځکه چې دا د حکمت څخه مخالف دی او په دې صورت کښې د امتحان او ازمېښت مفهوم د منځه ځي.

۴ـ ای پیغمبره! اکثره مؤمنان چې د فرمایشي معجزاتو د نزول تمه کوي اصلي وجه یې دا ده چې دوی د مشرکانو د بې استعدادۍ څخه ناخبره دي، که نه نو دوی به دغسې آرزو نه وی کړې؛ همدارنګه که مشرکان پوه وی چې الله ﷻ دنیاوي کارونه د استعداداتو په مطابق تر سره کوي او دوی خپل استعدادونه د لاسه ورکړي دي نو دوی به هم سوګندونه نه وی یاد کړي چې د فرمایش د پوره کېدلو په حالت کښې به مونږ ضرور په ایمان باندې مشرف شو.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱_ د ﴿قُبُلًا﴾ كلمه مفسرينو كرامو په لاندې ډولونو سره تفسيره كړې ده:

الف: د ﴿قُبُلًا﴾ كلمه مصدر ده چې د "مُقَابَلَة" _لكه مُوَاجَهَة_ په معنى سره ده[۱] لكه چې په همدې معنى باندې الله ﷻ په بل ځاى كښې استعماله كړې ده چې فرمايي: ﴿إِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٍ﴾ [يوسف:۲۶] يعني: كه د يوسف عليه السلام كميس د مخې د پلوه څيرلى شوى وي.

نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې: او مونږ دوى ته هر شى د شهادت د وركولو دپاره مخامخ ودروو.

ب: د ﴿قُبُلًا﴾ كلمه د "قبيل" د كلمې دپاره جمعه ده او قبيل د كفيل (ضامن) په معنى سره دى. د همدې كبله هغه سند ته قباله وايې چې د ځمكې خرڅوونكى يې د ځمكې اخستونكي ته وركوي ترڅو په راتلونكي كښې د بيعې دپاره د ضامن په حيث ودرېږي[۲].

نو د معنى حاصل به يې داسې شي چې: او مونږ هر شى د ضمانت كرو په صفت د دوى په حضور كښې ودروو چې د نبي كريم ﷺ د نبوت تضمين وكړي، كه څه هم ذكر شوي شيان جمادات وي او نطق نه شي كولى خو په خارق العاده توګه ګويان شي.

ج: د ﴿قُبُلًا﴾ كلمه د "قبيل" جمعه ده او "قبيل" د "قبيلة" جمعه ده. يا په بل عبارت: ذكره شوې كلمه جمع الجمع ده[۳].

نو د معنى حاصل يې داسې كېږي: او يا مونږ ټول شيان ډلې-ډلې د مشركانو په وړاندې د شهادت او تضمين دپاره ودروو، كه څه هم دوى جمادات يا ځاروي (حيوانات) وي.

مونږ وايو چې ذكر شوې ټولې معناوې په دې مقام كښې ښې خوندورې ښكاري، نو اړتيا نه ګورو چې يوه ترې واخلو او نورې پرېږدو، ښه داده چې د ﴿قُبُلًا﴾ د كلمې څخه ما يطلق عليه القبل (د مجاز د عموم په توګه) واخلو ترڅو درېواړو معناوو ته شامله شي.

### يادونه

۲_ ځينو مفسرينو كرامو د ﴿يَجْهَلُونَ﴾ ضمير مشركانو ته راجع كړى دى[۴] او د معنى حاصل يې داسې اخستى دى چې مشركان په كلكو سوګندونو سره وايي چې د معجزاتو د ليدلو په وخت كښې به په ايمان باندې مشرف شي، كه څه هم دوى د ايمان راوړلو استعداد د خاورو سره خاورې كړى دى، د دوى خيال دى چې په ايمان راوړلو كښې د الله ﷻ د ارادې څه اثر نشته، چې كله د دوى زړه وغواړي چې ايمان راوړي نو ايمان به راوړي او چې كله يې خوښه شي نو كفر به اختياروي،

---

(۱) تفسير القرطبي ج۷ ص۶۶
(۲) روح المعاني ج۸ ص۲
(۳) تفسير الطبري ج۸ ص۲
(۴) تفسير الطبري ج۸ ص۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


خو خبره داسې نه ده؛ هر شی د الله ﷻ په ارادې پورې مربوط دی او بس.
د ذکرو شوو مشرکانو ایمان راوړلو ته د الله ﷻ اراده نشته، که بالفرض اراده ورته وکړي نو د لاندې صورتونو څخه به ضرور یو صورت تحقق مومي:

الف: چې د دوی څخه د بدی (کفر) استعداد بالکل واخلي او ملکې ترې جوړې کړي.

ب: چې د بد استعداد څخه یې نېک کارونه (ایمان راوړل) صادر کړي.

ج: چې بد استعداد یې په خپل تکویني امر سره په نېک استعداد باندې بدل کړي.

د: بالآخره چې مشرکان په زور (اکراه) سره په ایمان باندې مشرف وګرځوي.

نو څرنګه چې ذکر شوي ټول صورتونه ـ هر یو ـ د الله ﷻ د حکمت څخه مخالف دي نو الله ﷻ د دوی د ایمان راوړلو اراده هم نه کوي.

د استعداد په باره کښې که څوک د ښه تحقیقي بحث شوق لري نو ځینو اوږدو تفاسیرو(۱) ته دې مراجعه وکړي. مګر لکه څنګه چې مونږ وړاندې د [۱۰۹] آیت لاندې لیکلي دي چې په ﴿ وَمَا يُشْعِرُكُمْ ﴾ کښې مؤمنان مخاطب دي او مشرکان په غوږ وهلی شوي دي، دلته هم زمونږ نظر دا دی چې ذکر شوی ضمیر مؤمنانو ته راجع دی او مشرکان په غوږ وهلی شوي دي چې که مؤمنان پوهېدلی چې مشرکانو خپل د ایمان استعداد د لاسه ورکړی دی نو د دوی د فرمایشي معجزانو د پوره کېدلو آرزو به یې نه وی کړې، خو د دوی اکثریت نه پوهېږي څکه یې آرزو کوي. نو کله چې مؤمنان په دې باره کښې ناخبره دي نو مشرکان به څنګه ناخبره نه وي.

﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَٰطِينَ ٱلْإِنسِ وَٱلْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ ٱلْقَوْلِ غُرُورًا ۚ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ (۱۱۲) وَلِتَصْغَىٰٓ إِلَيْهِ أَفْـِٔدَةُ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوا۟ مَا هُم مُّقْتَرِفُونَ (۱۱۳) ﴾

[۱۱۲] او (ای پیغمبره!) همدارنګه مونږ هر پیغمبر ته (په خپل وخت کښې) دښمنان ګرځولي (پیدا کړي) وو چې جني شیطانان او انسي شیطانان وه، ځینو به ځینو نورو ته د غولولو په غرض باطلې ویناوې (چې ظاهراً به ښې ښکارېدلې د وسوسې په توګه) وحې کولې.

او که چېرې ستا د رب ﷻ اراده شوې وی نو دوی به دا کار نه وی کړی، نو دوی د هغه شي سره پرېږده چې د دروغو په ډول یې جوړوي.

[۱۱۳] او د دې دپاره (به یې وسوسې وراچولې) چې همدې (باطلې وینا) ته د هغو کسانو زړونه میلان وکړي چې په آخرت باندې عقیده نه کوي، او په دې غرض چې خوښ یې کړي، او په دې غرض چې د هغو (باطلو) اعمالو کسب وکړي (ادامه ورکړي) چې دوی یې کسب کوونکي دي.

Downloded from: bawarketabtoon.com

(۱) روح المعاني ج۸ ص۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

وړاندې په شرک باندې د مشرکانو کلکوالی بیان شوی وه چې په هیڅ وجه ایمان راوړلو ته چمتو نه دي. په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړه شوې ده چې د خپل عادت په مطابق دېر مه غمژن کېږه.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني ای پیغمبره! ته په دې باره کښې یوازې نه یې چې ستا په امت کښې سخت لجوج (جګړمار) خلک شته او الله ﷻ یې په ایمان باندې د مشرف کېدلو اراده نه ده کړې، بلکې دغه ډول دښمنان هر یوه پیغمبر په خپل وخت کښې درلوده او د هغوی په ایذاء (ضرر رسولو) باندې به یې صبر کاوه. یا په بل عبارت: مونږ د خپل حکمت په مطابق هر پیغمبر ته دښمنان پیدا کړي وه چې ځینې جني شیطانان (ورانکاري) وه او ځینې انسي، چې دواړو ډلو به سره لاس یو کاوه او د خلکو په غولونې کښې به سره متفق وه او یو تر بله به یې سره مزخرفې او باطلې ویناګانې ښودلې او یو تربله به یې سره د غولولو چلونه زده کول. د ذکر شوو شیطانانو غولونه یوازې په انسانانو پورې خاصه نه وه بلکې په جنیاتو (پیریانو) کښې یې هم د غولونې سلسله جاري ساتله.

۲ـ نو څرنګه چې پخوانیو پیغمبرانو علیهم السلام صبر کاوه، ته هم صبر کوه او حوصله مه خرابوه. په یاد ولره چې د شیطانانو تخریب او ورانکاري د الله ﷻ په اراده باندې متحققه شوې ده چې همدا د حکمت غوښتنه ده. ای پیغمبره! که ستا د رب ﷻ اراده وشي نو دوی به هیڅ ورانکاري ونشي کړی او که اراده یې شوې وی نو هیڅ ورانکاري به یې نه وی کړې، نو ته ځان مه په تکلیف کوه او د کفریاتو سره یې پرېږده.

۳ـ ذکرو شوو شیطانانو د غولونې د غرض څخه علاوه د لاندې غرضونو دپاره هم د مزخرفو خبرو په ښودانه کښې یو تربله سره قصور نه کاوه:

الف: ترڅو باطلو خبرو ته د هغو خلکو زړونه میلان وکړي چې د آخرت په ورځ عقیده نه لري.

ب: ترڅو په همدغو خبرو باندې راضي او خوښ شي او د مرګ د ورځې پورې د پیغمبرانو علیهم السلام د حقو ویناوو د تاثیر لاندې واقع نه شي.

ج: ترڅو دوی خلک د شرائعو د قیوداتو څخه ازاد کړي او څه یې چې زړونه وغواړي هغه په دوامداره توګه وکړي.

## توضیحات

څومره چې په یوه غم کښې د سړي ملګري زیاتېږي په هماغې اندازه غم تخفیف پیدا کوي، د همدې کبله الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته خطاب کوي چې: ﴿مَا يُقَالُ لَكَ إِلَّا مَا قَدْ قِيلَ لِلرُّسُلِ مِن قَبْلِكَ﴾ [فصلت:۴۳] یعني ای پیغمبره! تاته د کافرو د پلوه نه ویل کېږي مګر هغه څه چې ستا څخه وړاندې نورو پیغمبرانو ته هم ویل شوي وه.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدې کبله په یوه اوږده حدیث کښې ورقه بن نوفل ﷺ نبي کریم ﷺ ته د نبوت په اول وخت کښې ویلي وه چې: «لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ قَطُّ بِمِثْلِ مَا جِئْتَ بِهِ إِلَّا عُودِيَ»[۱] ستا څخه وړاندې یوه سړي هم داسې شی نه دی راوړی لکه چې تا راوړی دی؛ مګر د هغه سړي دښمني کړه شوې ده (او خلکو ورسره عداوت کړی دی نو ستا سره به یې هم کوي او د وطنه به دې وباسي).

## شیاطین الجن والانس څوک دي؟

۲_ مونږ د [البقرة:۱۴] آیت لاندې د الله ﷻ په توفیق د "شیاطین" د کلمې تحلیل لیکلی دی او هم مو لیکلي دي چې په شریعت کښې هر بې لارې کوونکی د شیطان په نامه یادېږي که څه هم د ابلیس د اولادې څخه نه وي. اما دلته ورباندې اضافه کوو چې مفسرین کرام په دې مقام کښې د ﴿شَيَـٰطِينَ ٱلْإِنسِ وَٱلْجِنِّ﴾ د کلمې په تفسیر کښې په لاندې دوه ګروپونو باندې ویشلی شوې دي:

الف: په ذکره شوې کلمه کښې اضافت، لامي اضافت دی[۲]، لکه په "غلام زید" کښې چې لامي اضافت دی. نو په دې تفسیر باندې د شیاطین د کلمې څخه د ابلیس اولاده مرادېږي چې حاصل یې داسې راوځي: مونږ د هر پیغمبر دپاره په خپل وخت کښې ابلیس او د ده اولاده دښمنان ګرځولي وه چې ځیني به د پیریانو په غولونه باندې اخته وه او ځیني نور به د انسانانو په غولونه کښې بوخت وه.

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې «إِنَّ لِلْجِنِّ شَيَاطِينَ يُضِلُّونَهُمْ مِثْلَ شَيَاطِينِ الْإِنْسِ يُضِلُّونَهُمْ، فَيَلْتَقِي شَيْطَانُ الْإِنْسِ وَشَيْطَانُ الْجِنِّ فَيَقُولُ هذَا لِهذَا: أَضِلَّهُ بِكَذَا وَأَضِلَّهُ بِكَذَا»[۳] یعنې: یقیناً پیریان هم داسې شیطانان لري او په ګمراه کولو کښې یې اخته دي، لکه څنګه چې د انسانانو شیطانان د دوی په بې لارې کولو کښې مصروف دي. کله چې ذکر شوې دواړه ډلې شیطانان سره یو تربله ملاقي شي نو یو بل ته وایې چې په دې طریقه باندې یې ګمراه کړه او په دې چل باندې یې بې لارې کړه، او یو بل ته د غولولو طریقي او چلونه ښایي.

ب: ځینې نور علماء کرام وایي چې په ذکره شوې کلمه کښې اضافت بیاني اضافت دی[۴]، لکه څنګه چې په "خاتمِ فِضَّة" کښې بیاني اضافت دی. نو په دې تفسیر سره یې د معنی حاصل داسې کېږي چې: مونږ د هر پیغمبر دپاره (د ځینو حکمتونو په منظور) جني شیطانان یعني کافران پیریان او هم انسي شیطانان یعني کافران انسانان دښمنان ګرځولي وه، چې مونږ خپل همدغه عادت ستا د زمانې په پیریانو او انسانانو هم تطبیق کړی دی، لاندې څو وضاحتونه ولولئ:

اول: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې ټول پیریان خو شیطانان نه دي، شیطانان خو د ابلیس اولاده ده چې د خپل پلار سره به په یو ځل مړه کېږي او پیریان خو د انسانانو غوندې

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۳
(۲) البحر المحیط ج۴ ص۶۲۴؛ المحرر الوجیز ج۶ ص۱۳۲
(۳) الدر المنثور ج۳ ص۳۴۲
(۴) روح المعاني ج۸ ص۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



روزمره مره کېږي، چې: «مِنْهُمُ الْمُؤْمِنَ وَ الْكَافِرِ»(١) ځينې يې مؤمنان او ځينې کافران دي.

دوهم: ابو ذر ﷺ وايي چې ماته نبي کريم ﷺ وويلې: ای ابا ذره! د جني او انسي شيطانانو د شر څخه پناه وغواړه(٢)، ما عرض وکړ چې ای د الله رسوله! ايا انسانان هم شيطانان لري؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «نَعَمْ هُمْ شَرٌّ مِنْ شَيَاطِيْنِ الْجِنِّ»(٣) هو، دوی د جني شيطانانو څخه د ډېر شر اچوونکي دي.

درېيم: مالک بن دينار عليه الرحمة وايي چې ماته د جني شيطانانو څخه د خپل ځان ساتل د انسي شيطانانو په نسبت ډېر سخت دي، او دا ځکه کله چې زه "اعوذ بالله" ووايم نو جني شيطان راڅخه تښتي اما انسي شيطان راته راځي او په ډاګه مې ګناهونو ته راکاږي(٤).

څلورم: ځينې علماء کرام وايي چې کله جني شيطان د مؤمن په غولونه کښې پاتې راشي نو بيا د انسي شيطان څخه کار اخلي او د مؤمن په غولونه کښې يې استخداموي(٥).

## تبصره

که څه هم لومړنی نظر واقعيت لري مګر د آيت شريف د تفسير په حيث دوهم نظر په زړه پوری ښکاري چې نبي کريم ﷺ ته د لجوجو او معاندو مشرکانو د اذيتونو په باره کښې د تسلی او ډاډ ورکولو سره ډېر ښه سمون خوري.

## وحې څه معنی؟

٣ـ د ﴿يُوحِي﴾ کلمه اصلاً د وحې څخه اشتقاق شوې ده چې مونږ د الله ﷻ په توفيق د [النساء: ١٦٣] آيت لاندې ښه پوره شرحه کړې ده. مګر په دې مقام کښې ورباندې اضافه کوو چې د شيطانانو يو تربله د چلونو زده کول او يو د بل سره لاس يو کول لاندې صورتونه درلودلی شي:

الف: چې يو جني شيطان بل جني شيطان ته د غولونې طريقه ورزده کړي او يو د بل سره مرسته وکړي.

ب: چې يو انسي شيطان بل انسي شيطان ته د مسلمانانو په تېر ويستلو کښې مشوره ورکړي. لکه چې نن ورځ(٦) مونږ د نړۍ شيطاني مملکتونه ګورو چې د افغانستان په داخلي چارو کښې لاس وهنه کوي او د مجاهدينو يوه ډله د بلې ډلې په مقابل کښې په ډول-ډول چلونو سره راپورته کوي او په جنګ باندې يې اچوي.

ج: چې جني شيطان انسي شيطان ته وسوسه ورواچوي او په غير مشروعو کارونو باندې يې اخته کړي.

---

(١) روح المعاني ج٨ ص٥
(٢) سنن النسائي ج٢ ص٣١٨؛ مسند احمد بن حنبل ج٨ ص٣٠١
(٣) تفسير البغوي ج٢ ص١٢٤
(٤) تفسير القرطبي ج٧ ص٦٨
(٥) حاشية الشيخ زاده علي تفسير البيضاوي ج٢ ص٢٠١
(٦) ١٣٧٤/٤/٥ هش

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## زخرف او اقتراف څه معنی؟

۴_ د "زخرف" کلمه اصلًا سرو زرو ته وضعه شوې ده مګر په استعمال کښې هغه شي ته هم ویل کېږي چې په غیر واقعي توګه د بل شي رنګ ورکړی شوی وي(۱)، لکه چې مسو ته د سرو زرو اوبه ورکړی شي، او یا بدې خبرې د ښو خبرو په قالب کښې واچولی شي. په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده.

او د ﴿وَلِيَقْتَرِفُواْ﴾، ﴿مُقْتَرِفُونَ﴾ دواړه کلمې د "اقتراف" څخه اشتقاقي شوې دي. اقتراف خو اصلًا دېته ویل کېږي چې د یوه شي څخه ټوټه پرې کړی شي مګر په استعمال کښې د اکتساب معنی ورکوي، خو اکثره استعمال یې په هغه کسب کښې دی چې په شر او ګناهونو کښې وي(۲). په دې مقام کښې همدغه معنی مطلب ده.

﴿أَفَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ إِلَيْكُمُ ٱلْكِتَٰبَ مُفَصَّلًاۚ وَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُۥ مُنَزَّلٌ مِّن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّۖ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ ﴿١١٤﴾ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًاۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١١٥﴾﴾

[۱۱۴] (ای پیغمبره! ورته ووایه چې) ایا نو د الله ﷻ څخه په غیر (بل څوک) فیصله کوونکی ولټوم؟! حال دا چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په تاسو باندې یې تفصیلوار کتاب نازل کړی دی (دا بېله خبره ده چې تاسو ورته څه التفات نه کوئ).

او هغه کسان چې هغوی ته مونږ کتاب (تورات، انجیل) ورکړی دی هغوی پوهېږي چې یقینًا دا کتاب (قرآن کریم) ستا د رب ﷻ د پلوه په حقه نازل کړی شوی دی. نو ته د شک کوونکو څخه مه کېږه.

[۱۱۵] او (ای پیغمبره!) ستا د رب ﷻ خبره د رښتینتوب او د انصاف د حیثه پوره ده، د ده ﷻ د خبرې دپاره هیڅ تبدیلوونکی هم نشته، او همدی ﷻ اوریدونکی (او) پوه دی.

### شان نزول او ارتباط

کله چې د مشرکانو د فرمایشي معجزاتو غوښتلو پلان ناکام شو او هم واضحه کړې شوه چې د معجزاتو د تحقق په صورت کښې هم دوی ایمان نه راوړي نو مشرکانو یوه بله دسیسه جوړه کړه. او یا په بل عبارت: جني شیطانانو انسي شیطانانو (مشرکانو) ته پلمه ورزده کړه. هغه دا چې دوی نبي کریم ﷺ ته وراندیز وکړ چې زمونږ او ستا لانجه دېره اوږده شوه راشه چې دا خبره په منصفانو باندې

(۱) مفردات الراغب ص۲۱۶
(۲) البحر المحیط ج۴ ص۶۲۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بېينه کړو، منصفان يعنې د يهودانو علماء او يا د نصاراوو پاپان، دوی به د خپلو کتابونو په رڼا کښې ستا په باره کښې فيصله وکړي چې ايا ته په رښتيا پيغمبر يې؟. نو الله ﷻ ذکر شوي ايتونه نازل کړه[١].

که مونږ ووايو چې ذکر شوی ورانديز د ايتونو يو مصداق جوړ شو هم بده نه ده ځکه چې سلفو صالحينو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه[٢].

## د مطلب خلاصه

١ـ يعنې: ای پيغمبره! کله چې د مشرکانو د معجزاتو دسيسه شنډه شوه او قناعت ښونکي جوابونه يې واورېده، نو دا ځل دوی تا ته بله دسيسه وړاندې کړه چې خبره د غير الله حکميت ته وسپارې.

د غير الله څخه د مشرکانو مطلب يهود او نصارا دي، دوی ځکه د غير الله حکميت ته خوشالېږي چې هغوی به ضرور د دوی په ګټه فيصله کوي ځکه چې دوی ټول د يوه استاذ (ابليس) شاګردان دي او د حق په مقابل کښې يې متحده جبهه تشکيله کړې ده. که بالفرض همدا وجه نه وی نو مشرکانو به د غير الله د حکميت وړانديز نه وی کړی.

يا په بل عبارت: که بالفرض ذکر شوې دواړه ډلې د قرآن کريم تصديق هم وکړي نو دوی به ورته غاړه کښېښږدي او دا ځکه که دوی ته دغه ډلې په حقه ښکاريدلی نو لا د پخوا څخه به په يوه ډله کښې شامل شوي وی او بېل ګوند به يې نه وی جوړ کړی، بلکې دوی پوهېږي چې هغوی د دوی سره په دغې خاصې موضوع کښې هم نظره دي ځکه يې د حکميت وړانديز کوي.

لنډه دا چې مشرکان د خپلې عقيدې څخه اوښتونکي نه دي اګر که يا ورته د معجزاتو فرمايش پوره کړی شي او يا يې د غير الله د حکميت فرمايش ومنل شي.

٢ـ نو ای پيغمبره! د مشرکانو دوهم وړانديز داسې جواب کړه چې: ايا دا ما سره مناسبه ده چې زه د غيرالله فيصلې ته خبره واچوم، حال دا چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د فيصلو دپاره يې ماته لا څه چې تاسو او بلکې ټولې دنيا ته مفصل کتاب را استولی دی، په دې کتاب کښې حق ته حق ويل شوي دي او باطل ته د باطل لقب ورکړی شوی دی؟.

که تاسو رښتيا د حکميت پورې خپل ايمان تړلی وي نو راشئ چې همدغه کتاب ته موضوع وړاندې کړو چې ايا زه په رښتيانی توګه پيغمبر يم او که نه؟. دغه کتاب په تاسو ټولو باندې، بلکې د قيامت د ورځې پورې په ټولو خلکو باندې، خپل حکميت منلی دی او ټولې دنيا ته يې د مقابلې چلنج ورکړی دی. ټول يې د معارضې څخه عاجز شوي دي او ټول يې په حقانيت باندې پټ په زړه کښې قانع دي، حتی دغه اهل الکتاب چې تاسو يې په حکميت باندې قائل ياست هم د زړه

(١) تفسير البحر المحيط ج۴ ص۶۲۷

(٢) تفسير القاسمي ج١ ص٢٧؛ تفسير المنار ج٩ ص۴۴۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


د کومې پوهېږي چې دا کتاب په حقه توګه ستا د رب ﷻ د پلوه نازل کړی شوی دی. مګر دا بېله خبره ده چې خولې یې پرې پټې کړې دي او اظهار یې نه کوي.

۳_ نو ای پیغمبره! خپل همدغه حالت ته ادامه ورکړه او د شک کوونکو څخه مه جوړېږه چې په زړه کښې دې د مشرکانو د ایمان راوړلو تمه پیدا شي او د غیر الله حکمیت ته دې میلان متحقق شي.

۴_ ای پیغمبره! یو ځل بیا واوره او مشرکان دې هم واوري چې ستا د رب ﷻ هره وینا هم د رښتیاتوب د حیثه پوره ده او سراسري رښتیا ده چې د دروغ کېدلو هیڅ احتمال نه لري، او هم د عدل او انصاف د حیثه کمال ته رسېدلې ده چې د هیچا خبره ورسره سیالي نه شي کولی.

برسېره په دې د الله ﷻ د ویناګانو نه څوک صداقت ته بدلون ورکولی شي چې دروغژنه یې ثابته کړي او نه یې څوک په عدالت کښې بدلون واقع کولی شي چې د څه ظلم او بې انصافۍ بخرې پکښې مونده کړي. اما د غیر الله په ویناګانو او فیصلو کښې نه صداقت شته او نه عدل، چې د وخت په تېریدنې سره پکښې هم دروغ موندل کېږي او هم بي انصافي او بي عدالتي. الله ﷻ هم اوریدونکی دی چې مشرکان څه وایي، او هم پوه دی چې د دوی په زړونو کښې څه دي.

## توضیحات

۱_ د "الْحَکَم" او "الْحَاکِم" دواړه کلمې یوه معنی لري چې حکم کوونکی او فیصله ورکوونکی ده، مګر په حکَم کښې مبالغه زیاته ده ځکه چې دا د هغه چا نوم دی چې په فیصله ورکولو کښې تخصص لري، په همدې فن کښې ماهر وي او بالآخره خلک یې په فیصله باندې راضي وي[1].

## زوړ ورانديز بیا تازه شو

۲_ سبحان الله! څه دپاسه څوارلس سوه کاله وروسته د پخوانیو مشرکانو وړاندیز یو ځل بیا تازه شو او همدا نن سبا[2] ورباندې بنه ګرم بحث روان دی، هغه دا چې ځینې غیر اسلامي ټولنې غواړي چې د افغانستان د مجاهدینو لانجه د بین الملل حکمیت ته وسپاري او حتی ځینې لا وایي چې د دې لانجې د حل کولو بله هیڅ لاره نشته؛ ته به وایې چې نه د قرآن کریم په موجودیت باندې خبر دي او نه ورته دا معلومه ده چې د قرآن کریم څخه پرته ټول غیر اسلامي اکثریتونه ګمراه او ګمراه کوونکي دي.

د افغانستان موجوده لانجه که څه هم اصلاً عملي موضوع ده مګر اوس تري عقیدوي موضوع جوړه شوې ده، ځکه چې غیر اسلامي ټولنې غواړي چې ائتلافي حکومت جوړ کړي او مجاهدین اشتراک حق ورنه کړي، مګر هغوی پکښې ځانونه حقدار ګڼي او بین الملل یې هم ملاتړ کوي.

(۱) مفردات الراغب ص۱۲۶؛ تفسیر المراغي ج۸ ص۸.
(۲) ۱۳۷۴/۴/۵ هـ ش نېټه

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تمام څه معنی؟

٣_ د "تمّت" کلمه د "تمام" څخه اخستله شوې ده. د یو شي تمامیت د دې څخه عبارت دی چې داسې حد ته ورسیږي چې په خپل تمامیت کښې خارجي څیز ته اړتیا ونه لري، چې په مقابل کښې بې "ناقص" استعمالیږي[1].

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کیږي چې: د الله ﷻ د هر یو کلام، او که بل کتاب، صداقت او عدالت یې په داسې اندازې کښې پوره دی چې په پوره کیدلو کښې څه شي ته حاجت نه لري او نه یې ذکرو شوو مفاهیمو ته څوک څه تغیر یا تبدیل ورکولی شي.

## سوال جواب

٤_ که څوک وایي چې: د الله ﷻ په کلماتو کښې خو د اهل الکتابو د پلوه تحریف واقع شوی دی نو ایا دا تبدیل نه دی؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې مطلب دادی چې د صداقت د حیثه څوک تبدیل نه شي ورکولی چې د ربښتیا کیدلو مخه یې ونیسي، او نه یې څوک د عدل،انصاف مخه نیولی شي چې د انصاف عملي کولو ته یې پرینږدي. د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحه ولولئ:

د خیبر په غزا کښې نبي کریم ﷺ ته الله ﷻ خبر ورکړی وه چې صرف هغه کسان به درسره لاړ شي کومو چې ستا سره په حدیبیه کښې برخه اخستې وه، مګر غزا ته د نللو په وخت کښې ځینو خلکو زور ولګاوه چې ځانونه پکښې شریک کړي حال دا چې په حدیبیه کښې یې اشتراک نه دړلود.

د دغو خلکو تالاش الله ﷻ د خپلو خبرو په تبدیل سره تعبیر کړ چې: ﴿ذَرُونَا نَتَّبِعۡكُمۡ يُرِيدُونَ أَن يُبَدِّلُواْ كَلَٰمَ ٱللَّهِ﴾ [الفتح:١٥]، یعنې دوی غنیمت په نظر کښې نیولی دی او زور لګوي چې د خیبر په غزا کښې ګډون وکړي حال دا چې په حدیبیه کښې یې اشتراک نه دی کړی ته به وایې چې دوی غواړي چې د الله ﷻ دا خبره دروغژنه کړي چې په خیبر کښې به د اهل الحدیبیه وو څخه په غیر نور څوک اشتراک نه لري، مګر دا کار یې د وسي پوره نه دی.

﴿وَإِن تُطِعۡ أَكۡثَرَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ﴿١١٦﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ مَن يَضِلُّ عَن سَبِيلِهِۦۖ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿١١٧﴾﴾

[١١٦] او (ای پیغمبره!) که ته (بالفرض) چېرې د هغو اکثرو خلکو خبره ومنې چې په ځمکه کښې اوسیږي (هر وطن چې وي) نو د الله ﷻ د لارې څخه به دې (د خپلو ځانو په څېر) بې لارې کړي. دوی (دځمکي اکثریت) د بل شي پیروي نه کوي مګر د ګومان، او دوی نه دي مګر اټکل کوي (په حقائقو باندې روان نه دي).

(١) مفردات الراغب ص٧٢

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


[۱۱۷] (ای پیغمبره!) یقیناً ستا رب ﷻ همدا (ستا رب ﷻ) په هغه چا باندې ښه پوه دی چې د ده ﷻ د لارې څخه بې لارې دي، او همدا (ستا رب ﷻ) په سمه لاره موندونکو باندې هم ښه پوه دی.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندینیو ایتونو د مضمون دپاره وجه بیانه شوې ده چې حاصل یې داسې کېږي:

۱_ ای پیغمبره! څرنګه چې د الله ﷻ کلام د صدق او عدل د حیثه پوره دی او د نورو کلامونو هم په صدق کښې نقصان دی او هم په عدل کښې، بلکې دغه دواړه صفتونه د اکثرو خلکو په خبرو کښې نشته. برسېره پر دې ستا رب ﷻ هم اورېدونکی دی او هم پوه دی او مخلوق خو نه پوره اورېدل کولی شي او نه پوره علم لري، نو که بالفرض ته د خپل رب ﷻ د کتاب په حکمیت باندې د بل چا حکمیت ته ترجیح ورکړې او د نړیوالو د اکثریت تابع شې نو هغوی به ضرور تا د خپلو خانونو په څېر د الله ﷻ د لارې څخه واړوي او په کندو به دې سر کړي، او دا ځکه چې د خلکو اکثریت د واقعیاتو پیروي نه کوي بلکې د خیالاتو او اټکلونو پسې ځغلي، بیا به ته هم د خیالاتو او ګومانونو پیرو اوسې، چې دا کار ستا سره نه مناسب دی او نه ورته اړتیا لرې.

۲_ ای پیغمبره! ستا رب ﷻ په ګمراهانو او لاره موندونکو باندې ډېر ښه پوهېږي او ډېر ښه یې پېژني د همدې کبله یې درته د دواړو ډلو تګلاره واضحه کړه.

## توضیحات

۱_ الله ﷻ ذکر شوی آیت په بل ځای کښې ډېر ښه تفسیر کړی دی چې: ﴿وَمَآ أَكۡثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوۡ حَرَصۡتَ بِمُؤۡمِنِينَ﴾ [یوسف: ۱۰۳] یعنې: او د خلکو اکثریت ایمان راوړونکي نه دي که څه هم ته حرص کوې (او زړه دې غواړي چې په ایمان مشرف شي).

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې په دنیا کښې د خلکو اکثریت د اسلام په مقابل کښې متحد دي او د اسلام رد کوي که څه هم په خپلو منځو کښې سره یو تربله عمیق اختلافات لري. نو په ذکر شوي غیر اسلامي اکثریت کښې د یوه کس اطاعت هم داسې دی لکه چې څوک د ټولو اطاعت وکړي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د آیت شریف څخه څرګندېږي چې د ګومان پیروي ګمراهي ده. نو پوښتنه دا ده چې ایا قیاسي (اجتهادي) مسائل په ګومان (ظن) باندې بناء نه دي؟

مونږ وایو چې: د دې مقام وړاندې او بیرته ایتونه دلالت کوي چې دلته په عقیده کښې بحث روان دی، او په عقیدوي مسائلو کښې خو ګومان (ظن) د ګمراهي څخه پرته بل شی نه دی، د همدې کبله فقهاوو کرامو په عقائدو کښې اجتهاد ته ځای نه دی ورکړی، اما د فقهي اجتهاد موضوع په دې مقام کښې هیڅ مطرحه نه ده.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿فَكُلُوا۟ مِمَّا ذُكِرَ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ إِن كُنتُم بِـَٔايَـٰتِهِۦ مُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا۟ مِمَّا
ذُكِرَ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا ٱضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا
لَّيُضِلُّونَ بِأَهْوَآئِهِم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُعْتَدِينَ ﴿١١٩﴾ وَذَرُوا۟ ظَـٰهِرَ ٱلْإِثْمِ
وَبَاطِنَهُۥٓ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْسِبُونَ ٱلْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا۟ يَقْتَرِفُونَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا تَأْكُلُوا۟
مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُۥ لَفِسْقٌ ۗ وَإِنَّ ٱلشَّيَـٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِهِمْ
لِيُجَـٰدِلُوكُمْ ۖ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ ﴿١٢١﴾﴾

[١١٨] نو (ای مؤمنانو!) د هغو مذبوحو څخه خورئ چې د الله نومورباندې یاد شوی وي که تاسو د ده ﷻ په ایتونو باندې ایمان درلودونکي یاست.

[١١٩] او (ای مؤمنانو!) تاسو لره څه دي چې د هغو مذبوحو څخه نه خورئ په کومو باندې چې د الله ﷻ نوم یاد شوی وي، حال دادی چې الله ﷻ تاسو ته هغه شیان مفصل بیان کړي دي چې په تاسو باندې یې حرام ګرځولي دي، مګر هغه چې تاسو (یې خوراک ته) مجبور کړی شئ. او یقیناً د خلکو اکثریت ضرور په خپلو خواهشاتو سره پرته د علم څخه (نور خلک) بې لارې کوي. بې شکه ستا رب ﷻ په تجاوز کوونکو باندې ډېر ښه پوهېږي.

[١٢٠] او (ای مؤمنانو!) ښکاره ګناه او پټه ګناه (دواړه) پرېږدئ، بې شکه هغه کسان چې د ګناه کسب کوي ډېر ژر به (د هغې ګناه په موافق) جزا ورکړی شي چې دوی وه چې (دا بد) کسب یې کاوه.

[١٢١] او (ای مؤمنانو!) تاسو د هغو څارویو څخه مه خورئ په کومو باندې چې (د ذبحې په وخت کښې) د الله ﷻ نوم نه وي یاد کړی شوی، او یقیناً دا (خوراک) فسق (ګناه) ده.

او بې شکه شیطانان (جني وي او که انسي) خپلو دوستانو ته خامخا وسوسه وراچوي (او چلونه ور زده کوي) چې ستاسو سره (د مذبوحو په هکله هم) جګړې وکړي. او که (بالفرض) تاسو د دوی اطاعت (پیروي) وکړئ (او د ذکر شوو مذبوحو غوښې حلالې وګڼئ) نو یقیناً تاسو به (په دغه وخت کښې) مشرکان یاست.

## ارتباط او شان نزولونه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون داوه چې د خلکو اکثریت ګمراه کوونکي دي، باید چې د پیروۍ څخه یې ځان وساتل شي. په دې ایتونو کښې د همدغه مضمون یو مثال ښودلی شوی دی چې د شان نزول د لاندې روایتونو څخه ډېر ښه څرګندېږي:

١ ـ عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وایي چې شیطانانو خپلو پیروانو (دوستانو) ته توصیه کوله چې:

Downloaded from: dawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



«مَا ذَبَحَ اللهُ فَلَا تَأْكُلُوهُ وَمَا ذَبَحْتُمْ أَنْتُمْ فَكُلُوهُ»(۱) يعني: هغه ځاروي چې الله ﷻ ذبحه کړي وي (د بندګي ذبحې څخه په غير سا ورکړي او مردار شي) نو هغه مه خورئ، او هغه چې تاسو يې (بدون د الله ﷻ د نامه څخه) ذبحه کړئ نو هغه خورئ.

۲_ د نوموړي صحابي ﷺ څخه دا روايت هم راغلی دی چې يوه ورځې يهودان نبي کريم ﷺ ته ورغله او ورته يې وويلې چې: أَنَأْكُلُ مِمَّا قَتَلْنَا وَلَا نَأْكُلُ مِمَّا قَتَلَ اللهُ(۲) يعني: (عجيبه ده) ايا ته هغه ذبيحه خورې چې مونږ وژلې (حلاله کړې) وي او د هغې څخه نه خورې چې الله ﷻ وژلې (مرداره) کړې وي.

۳_ دا هم د نوموړي صحابي ﷺ روايت دی چې يوه ورځې مشرکانو د مؤمنانو سره په جګړه کښې دوی مخاطب کړه چې عجيبه ده، کوم ځاروي چې الله ﷻ ذبحه کړي (وژلي) وي هغه نه خورئ او کوم ځاروي چې تاسو پخپله ذبحه کړي وي هغه خورئ(۳).

۴_ مشرکانو نبي کريم ﷺ ته وويلې چې ايا ستا دا عقيده ده (ايا دا مسلماني ده) چې کوم ځاروی چې ته او ستا ملګري يې ووژني (ذبحه کړي) هغه حلال دی او کوم شی چې (ښکاري) سپی او شاهين ووژني هغه هم حلال دی، اما کوم ځاروی چې الله ﷻ ووژني (مردار شي) هغه حرام دی(۴)؟.

۵_ د فارس مجوسو د مکې مشرکانو ته خط استولی وه چې: "إِنَّ مُحَمَّدًا وَأَصْحَابَهُ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ يَتَّبِعُونَ أَمْرَ اللهِ ثُمَّ يَزْعُمُونَ أَنَّ مَا ذَبَحُوا فَهُوَ حَلَالٌ وَمَا ذَبَحَ اللهُ فَهُوَ حَرَامٌ"(۵) يعني: محمد ﷺ او د ده ملګري د يو پلوه خيال کوي چې دوی د الله ﷻ د امر تابع دي. خو د بل پلوه خيال کوي چې کوم ځاروي چې دوی ذبحه کړي وي هغه حلال دي او کوم چې الله ﷻ ذبحه کړي (وژلي) وي هغه حرام دي. نو د مسلمانانو څخه د ځينو خلکو په زړونو کښې څه تشويش ولويده نو الله ﷻ دغه آيت شريف نازل کړ، چې خلاصه يې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

ای مؤمنانو! نو کله چې ستاسو سرونه خلاص شول چې د اکثريت پيروي د ګمراهی څخه په غير بل شی نه دی، او هم په دې باندې پوه شوئ چې اکثريت ستاسو ګمراه کيدلو ته پوره سترګې په لار دي چې د سمې لارې څخه مو واړوي، نو تاسو ته په کار دي چې د ځارويو د تحليل او تحريم په باره کښې لاندې نکاتو ته متوجه شئ:

۱_ فقط د هغو ځارويو غوښې خورئ چې د الله ﷻ نوم ورباندې د ذبحې په وخت کښې ياد کړی شوی وي، برابره خبره ده چې ذبحه کوونکی ستاسو څخه کوم يو مؤمن وي او يا د اهل الکتابو څخه څوک وي، خو چې مشرک او دهري نه وي.

---

(۱) سنن ابي داود ج۲ ص۳۳
(۲) سنن ابي داود ج۲ ص۳۳
(۳) سنن النسائي ج۲ ص۲۰۹
(۴) اسباب النزول للواحدي ص۱۵۰
(۵) روح المعاني ج۸ ص۱۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څه لرې نه ده چې مشرکان ستاسو د تشویش دپاره ډول-ډول شبهات دروړاندې کړي چې ایا تاسو هغه څاروي حلال ګڼئ چې پخپله مو ذبحه کړي وي حال دا چې د الله ﷻ وژلی څاروی (په اصطلاح الله ﷻ ذبحه کړی څاروی) حرام بولئ؟! ایا په ذکر شوي صورت کښې د الله ﷻ بې احترامي نه واقع کېږي؟.

۲_ ای مؤمنانو! د ذکر شوې شبهې په باره کښې تاسو مشرکانو ته داسې جواب ورکړئ چې:

الف: د هر څاروي روح اخستونکی الله ﷻ دی که څه هم ذبحه کوونکی یې انسان وي.

یا په بل عبارت: د هر شي روح هغه څوک اخلي چې روح یې ورکړی دی، انسان خو هیڅ څاروي ته روح نه شي ورکولی نو په هیڅ صورت روح قبض کوونکی هم نه شي بلل کېدلی.

ب: نو په همدې بنا مونږ پخپله د ذبحه کړی شوي څاروي غوښه د دې کبله خورو چې مونږ وربانديې د الله ﷻ نوم یاد کړی دی، نه د دې کبله چې مونږ په خپل لاس ذبحه کړی دی، که بالفرض مونږ یې په خپل لاس ذبحه کړو او د الله ﷻ نوم وربانديې یاد نه کړو نو هم مونږ یې مردار بولو او غوښه یې نه خورو. نو معلومه شوه چې زمونږ په کړنلاره کښې د الله ﷻ د نامه بې احترامي نه، بلکې پوره احترام کېږي.

۳_ ای مؤمنانو! مشرکان خو غواړي چې تاسو بې لارې کړي او د شبهاتو په زور باندې مو دې ته اړ باسي چې یا مردارې وخورئ او یا د هغه څاروي غوښه هم حرامه وبولئ چې تاسو وربانديې د الله ﷻ نوم یاد کړی وي، مګر تاسو ته څه مناسب دي چې د ذکرو شوو دواړو کارونو څخه په یوه کار باندې اخته شئ؟، څکه چې تاسو خو د تحلیل او تحریم کړنلاره پخپله خپلو ځانونو ته نه ده ټاکلې چې مشرکان شبهات درمخې ته کړي، بلکې تاسو ته خو الله ﷻ همدغه موضوع ښه پوره تفصیلواره بیانه کړې ده، حدود یې درته ټاکلي دي، حتی چې د اضطرار (مجبوری) د حالت حکم یې هم درته ښه څرګند کړی دی، چې هلته د څارویو په غوښو کښې د الله ﷻ د نامه یادول شرط نه دي، او حتی دا یې هم درته پوره بیانه کړې ده چې د فلاني فلاني ساکښانو غوښې دربانديې حرامې دي ځکه د سپي، پړانګ او داسې نورو) که څه هم د الله ﷻ نوم وربانديې یاد کړئ، نو پوره متوجه اوسېږئ چې مشرکان په نورو شبهاتو باندې هم صرفه نه کوي.

۴_ او دا څکه چې د دنیا اکثریت غواړي چې خلک بې لارې کړي او د شبهاتو په زور سره یې د خپلو خواهشاتو پیرو جوړ کړي، دوی پخپله د حقې لارې څخه تجاوز کړی دی نو غواړي چې نور خلک هم ترې متجاوز کړي، مګر الله ﷻ یې ډېر ښه پېژني او دسیسې یې افشاء کوي.

۵_ ای مؤمنانو! تاسو ته په کار دي چې په هیڅ ډول سره د الله ﷻ د احکامو څخه تجاوز ونه کړئ، نه په ښکاره ډول سره چې یا مردارې وخورئ او یا د هغه څاروي غوښه هم حرامه وبولئ چې د الله ﷻ نوم مو وربانديې یاد کړی وي، او نه په پټه د الله ﷻ احکام د ښنو لاندې کړئ چې زړونه مو وربانديې په شک کښې اوسي او په یقیني توګه وربانديې باور ونه کړئ. او دا څکه هر څوک چې د

Downloded from: bawarketabtoon.com

نو ضرور به د خپلو کړو وړو او د بوې ګناه کسب په هر ډول باندې وکړي ـ پټه وي او که په ښکاره ـ
فاسدو اعمالو جزا ورکړی شي.

۶ـ ای مؤمنانو! یو ځل بیا واورئ چې د هغو څارویو غوښې مه خورئ چې د الله ﷻ نوم ورباندې نه وي یاد شوی، دا کار فسق دی او د الله ﷻ د اطاعت څخه وتل دي، او کوم اعتراض چې په تاسو باندې مشرکان کوي هغه په حقیقیت کښې اعتراض نه دی چې څه د واقعیت بنه ولري، بلکې محض یوه شبهه ده چې ځینې انسي شیطانان یې (لکه مجوس او یهودان) خپلو دوستانو (مشرکانو) ته د دې دپاره د وسوسې په توګه ورزده کوي چې ستاسو سره جګړه وکړي او په خپل حق دین کښې مو شکمن کړي او بالآخره دې ته مو اړ باسي چې د مشرکانو پیروي وکړئ او په تحلیل او تحریم کښې د هغوی خبره ومنئ، مګر تاسو په دې باندې پوه شئ که دا کار مو وکړ نو تاسو به د هغوی په شان په یقیني توګه مشرکان یاست، په تاسو لازم دي چې خپل ایمانونه د شرک څخه بچ وساتئ.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: د هغه څاروي غوښه خو مشرکانو او مؤمنانو ټولو حلاله ګڼله چې د الله ﷻ نوم ورباندې یاد شوی وي، نو په دې کښې څه حکمت دی چې په دې مقام کښې الله ﷻ مؤمنان مکلف وګرځول چې د ذکر شوې مذبوحې غوښه خورئ؟

مونږ وایو چې: مشرکانو خو لکه څنګه چې د ذکر شوې مذبوحې غوښه خوړه همدارنګه یې د هغه څاروي غوښه هم خوړه چې د الله ﷻ نوم به ورباندې نه وه یاد شوی، برابره خبره ده چې چا به ذبحه کړی وه او که پخپله به مړ شوی وه[۱].

نو الله ﷻ مؤمنان مخاطب کړه چې دا خورئ او هغه مه خورئ او د مشرکانو په څېر دواړه مساوي (برابري) مه ګڼئ. د همدې کبله یې په وروستنې آیت کښې ورباندې صراحت وکړ چې: ﴿ وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ ﴾ یعنې: او د هغه څاروي څخه مه خورئ چې د الله ﷻ نوم ورباندې نه وي یاد کړی شوی.

## یادونه

۲ـ مونږ د [البقرة:۱۷۳] آیت لاندې د الله ﷻ په توفیق لیکلي دي چې الله ﷻ د حرام کړی شوو څارویو فهرست (د احادیثو څخه علاوه) په قرآن کریم کښې څلور ځله بیان کړی دی، دوه ځلې په مدني سورتونو کښې او دوه ځلې په مکي سورتونو کښې، د مکي سورتونو څخه یو همدغه سورت دی چې اوس پکښې بحث روان دی چې په راتلونکي [۱۴۵] آیت کښې ورباندې صراحت کړی شوی دی. شاید چې په ﴿ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم ﴾ کښې به همدغه راتلونکي آیت ته اشاره وي.

همدارنګه مونږ هلته د اضطراري حالت بنه پوره بیان لیکلی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

---

(۱) تفسیر المنار ج۸ ص۱۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ظاهري ګناه او باطني ګناه کومې کومې دي؟

۳ـ که څه هم یوه ورځې نواس بن سمعان ﷺ د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې بر (نېکي) څه شی دی؟ او اثم (ګناه) څه شی دی؟. نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې «الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي نَفْسِكَ وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ»[١] یعني: نېکي د نېک خوی څخه عبارت ده، او ګناه هغه ده چې ستا په زړه کښې تردد (اضطراب) پیدا کوي او (ته د یوه مسلمان په حیث) نه خوښوې چې خلک وربانديې اطلاع پیدا کړي (او وربانديې خبرشي).

مګر په دې مقام کښې علماوو کرامو ظاهري او باطني ګناهونه په لاندې ډول تفسیر کړي دي:

الف: ظاهري ګناه د ښکاره (بېرغي) زنا څخه عبارت ده او باطني د پټې یارانې څخه کنایه ده، په جاهلیت کښې یوازې اول ډول ګناه ګڼله کېده او بس[٢].

ب: ظاهري ګناه دا ده چې څوک په لوڅه بانديې طواف وکړي او باطني ګناه یې د زنا څخه عبارت ده[٣].

خو بهتره دا ده چې په آیت شریف کښې به د ټولو ګناهونو څخه د خپل ځان د بچ کولو امر شوی وي او دا ځکه چې هیڅ یوه ګناه د ذکرو شوو دواړو ډولونو څخه نه شي خالي کیدلی. مثلاً په پټ ځای کښې ګناه د خلکو څخه پټه ده مګر الله ﷻ ته ښکاره ده، همدارنګه په عقیدوي ګناه بانديې که خلک نه پوهیږي چې په زړونو باندې علم نه لري نو الله ﷻ ته خو ظاهره ده. شاید چې د علماوو کرامو به محض د مثالونو ښودل مطلب وي او حصر به یې مراد نه وي.

## ایا په مذبوحه کښې د الله ﷻ د نامه یادونه ضرور ده؟

۴ـ ذکره شوې مسئله په فقهي کتابونو کښې ډیره ښه څېړل شوې ده[٤] خو مونږ یې د آیت شریف د تفسیر په ارتباط لاندې څو نکاتو ته د محترمو لوستونکو توجه رااړوو:

الف: چې یو څاروی هیڅ ذبحه نه کړی شي او مړ شي (د الله ﷻ نوم وربانديې یاد نه کړی شي)، چې په پښتو کښې ورته "مردار" وایو او په عربي کښې د "مَيْتَة" په نامه یادیږي؛ نو د دې ډول څاروي غوښه په اتفاق سره حرامه ده.

ب: چې کوم څاروی ذبحه کړی شي مګر د ذبحې په وخت کښې وربانديې د غیر الله اواز پورته کړی شي نو دا هم بالاتفاق حرام دی، لکه چې د [البقرة:۱۷۳] ایت لاندې یې ښه شرحه تېره شوې ده.

ج: چې په کوم څاروي باندې نه د الله ﷻ نوم او نه د الله ﷻ څخه په غیر د بل چا نوم یاد کړی شي نو په دې صورت کښې علماء کرام په لاندې ډول اختلاف لري:

---

(١) صحیح مسلم ج۲ ص ۳۱۴
(٢) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۵
(٣) زاد المسیر ج۳ ص۷۸
(٤) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: امام الشافعي رحمة الله عليه او ځينې نور علماء كرام وايي چې په دغه (د سكوت په صورت كښې) ځاروى حلال دى برابره خبره ده چې د الله ﷻ نوم يې په قصدي توګه او يا د سهوې په توګه نه وي ذكر كړى[1]. او دا ځكه چې د ايتونو سياق او سباق (وړاندې او بيرته) د مشركانو حالت بيانوي اما د مؤمنانو ذبيحه دلته هيڅ مطرحه نه ده، د همدې كبله ذكر شوي مضمون په دې جمله اختتام مومندلى دى چې: ﴿ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ ﴾ يعني: كه تاسو د مشركانو پيروي وكړئ او د هغې ذبيحې څخه د حلال ګڼلو په خيال وخورئ نو په دغه وخت كښې به تاسو هم د هغوى په څېر مشركان ياست.

دوهم: جمهور علماء كرام د ابو حنيفه رحمة الله عليه په شمول وايي: رښتيا چې خبره د مشركانو په ذبيحه كښې راروانه ده اما په فقهي احكامو كښې (چې مانع ونه لري) د مفهوم عموم ته اعتبار دى.

نو د معنى حاصل به داسې كېږي چې: اى مؤمنانو! تاسو د هغې مذبوحې څخه مه خورئ كومه چې د ذكر شوو درېوو ډولونو څخه يو ډول وي. نو په دغه صورت كښې ځاروى حرام دى.

## سوال جواب

۵_ كه څوك وايي چې: نظر پاسني عموم ته په كار ده چې د هغې مذبوحې غوښه هم حرامه كړى شي په كومې باندې چې د سهوې د كبله د الله ﷻ نوم نه وي ياد شوى حال دا چې دا حلاله ده؟

مونږ وايو چې: دغه مذبوحه د آيت شريف د عموم څخه وتلې ده، او دا ځكه چې د ﴿ وَإِنَّهُ ﴾ ضمير هغه "اكل" ته راجع دى چې ﴿ وَلَا تَأْكُلُوا ﴾ جمله ورباندې مشتمله ده[2].

نو د معنى حاصل يې داسې كېږي چې د ذكرې شوې مذبوحې غوښه خوړل فسق دى يعني ګناه ده، حال دا چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ لِيْ عَنْ أُمَّتِي الْخَطَأَ وَالنِّسْيَانَ وَمَا اسْتُكْرِهُوا عَلَيْهِ»[3] يعني: يقيناً الله ﷻ زما د خاطره زما د امت په باره كښې د هغو ګناهونو څخه تېر شوى دى د كومو چې يا په خطا باندې او يا په هېرېدلو او بالآخره يا د اكراه (زور) په توګه څوك مرتكب شي. نو كله چې د سهوې او هېرېدلو په صورت كښې سړى په ګناه باندې نه نيولى كېږي نو فاسق هم نه جوړېږي، نو معلومه شوه چې دغه صورت ترې وتلى دى.

كه څوك زيات تحقيق غواړي نو ځينو اوږدو تفاسيرو ته دې مراجعه وكړي[4].

﴿ أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَٰهُ وَجَعَلْنَا لَهُۥ نُورًا يَمْشِى بِهِۦ فِى ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِى ٱلظُّلُمَٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَٰفِرِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢٢﴾

(۱) البحر المحيط ج۴ ص۶۲۳
(۲) تفسير الطبري ج۸ ص۱۵.
(۳) سنن ابن ماجه ص۱۴۷
(۴) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۲ ص۲۰۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَٰبِرَ مُجْرِمِيهَا لِيَمْكُرُوا۟ فِيهَا ۖ وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿١٢٣﴾

[۱۲۲] ایا هغه څوک چې مړ وه نو مونږ ژوندی کړ او ده لره مو داسې رڼا پیدا (نازله) کړه چې د همدې (رڼا) په سبب په خلکو کښې مزل (تلل) کوي (او د هیچا د تاثیر لاندې نه راځي) د هغه چا په شان دی چې د هغه حالت داسې وي چې په تیارو کښې (واقع) وي چې بهرته ترې راوتونکی نه وي؟! (نه هغه د ده په شان نه دی) دغه رنګه کافرانو ته هغه کارونه ښائسته کړی شوي دي چې دي چې دوی چې کوي یې.

[۱۲۳] او (ای پیغمبره! لکه چې په مکه معظمه کښې مو فاسقان لویان جوړ کړي دي) همدارنګه مو په هره قریه (ښار) کښې د هغې مجرمان (فاسقان) لویان ګرځولي وه چې چلونه پکښې وکړي. او دوی چلونه (پټ غلط تدبیرونه) نه کوي مګر د خپلو ځانونو سره، حال دا چې دوی پرې شعور نه لري (وربانده نه پوهېږي).

## ارتباط

په وړاندینیو ایتونو کښې الله ﷻ مؤمنانوته توصیه کړې وه چې د کافرانو د پیروۍ څخه ځانونه بچ وساتئ ترڅو د هغوی غونډې په کفر او شرک باندې اخته نه شئ. په دې ایتونو کښې دواړه ډلې (مؤمنان او کافران) د موازنې په توګه شرحه شوي دي چې یوه د بلې څخه زښته ډېره فاصله لري. ځینو مفسرینو کرامو یې د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې څه مصداقات ښودلي دي، لکه حمزه ﷺ او ابوجهل، یا لکه عمر ﷺ او ابو جهل او داسې نور[۱].

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای مؤمنانو! تاسوته څه مناسب دي چې د مشرکانو په پیروۍ سره خپل ځانونه په لوی لاس د جهالت او هلاکت کندو ته ورغورزوئ او کومه رڼا چې الله ﷻ درپېرزو کړې ده د هغې څخه خپل ځانونه محروم جوړوئ. د ښه وضاحت دپاره دا محسوس مثال ولولئ:

ایا هغه څوک چې مړ وي او مونږ یې را ژوندی کړو او د کاملې رڼا مشال په لاس ورکړو چې په داډه زړه او اطمنان سره ژوند کوي حتی نور خلک هم کولی شي چې د ده پیروي وکړي او ځانونه د خطراتو څخه بچ کړي، نو ایا دغه سړی د هغه چا غونډې دی کوم چې په تورو تیارو کښې مړ پروت وي، د وتلو هیڅ لاره ورته معلومه نه وي او بالآخره په هر آن کښې د بل چا کومک ته محتاج وي چې د وتلو لاره ورته ګوته کړي او لاس نیوی یې وکړي؟.

۲ـ ای مؤمنانو! په تاسو او ستاسو په حریفانو (کافرانو) باندې ذکر شوی مثال ښه تطبیق دی

(۱) زاد المسیر ج۲ ص۸۰؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۱۲۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


چې الله ﷻ په تاسو باندې لطف کړی دی او په معنوي ژوند باندې یې ژوندي کړې یاست او د قرآن کریم مثال یې په لاس درکړی دی چې په اطمنان سره د خلکو په کڼه کوڼه کښې روان یاست. اما کافران د کفر په تورو تیارو کښې په معنوي مړګ باندې مړه پراته دي او د وتلو لاره ترې ورکه ده.

مګر د دې سره‌سره دوی ته خپله کفري کړنلاره ښائسته کړی شوې ده.

نو که بالفرض تاسو د هغوی پیروي وکړئ نو خپل چراغ به ګل کړئ او د کفر په تورتم کښې به د هغوی غوندې خپل ځانونه ورواچوئ.

۳ـ ای پیغمبره! ډېر مه غمژن کېږه، ستا د زمانې د عنادي کافرانو غوندې عنادي کافران مونږ په هره زمانه، هر امت، او حتی په هر ښار کښې پیدا کړي وه چې د مشرانو په حیث به یې په چلونو سره خلک ګمراهي ته دعوت کول او دا کار به ورته ښه ښکاریده. دوی په حقیقت کښې د خپلو ځانونو سره چل کاوه او په عذاب باندې به یې اخته کول مګر دوی شعور نه درلود چې د چلونو تاوان په واقع کښې چاته راجع دی، همدارنګه ستا د زمانې عنادي مشران کافران هم شعور نه لري چې دوی څوک په عذاب کښې اخته کوي؟، خپل ځانونه او که نور خلک؟.

مګر په یاد ولره! چې دغه مشري او غورویش د څو ورځو څخه زیاته بقا نه لري، ډېر ژر به په آخرت کښې لاځه چې په دنیا کښې به هم په خپلو کړو وړو باندې پښېمانه او نادم شي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿أَكَٰبِرَ﴾ کلمه د "اكْبَر" جمعه ده[۱]. "اكْبَر" په دې مقام کښې د هغه چا څخه عبارت دی چې د خلکو په نظر کښې لوی ښکاري او د مال او منصب په اعتبار سره د نورو څخه زیات وي، چې په مقابل کښې یې د "أَرْذَل" او "أَرَاذِل" کلمې استعمالیږي، لکه چې الله ﷻ د نوح ﷺ د قوم د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿أَنُؤْمِنُ لَكَ وَٱتَّبَعَكَ ٱلْأَرْذَلُونَ﴾ [الشعراء: ۱۱۱] یعني: ایا مونږ ستا پیروي وکړو ای نوحه! حال دا چې ستا پیروي رذیلان (غریبان) کوي.

## یو نحوي تحلیل

۲ـ د ﴿جَعَلْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ أَكَٰبِرَ مُجْرِمِيهَا﴾ جملې په تعریب کښې مفسرینو کرامو متعددې وجهې ذکرې کړې دي[۲]، خو د ټولو څخه بهتره مونږ ته دا ښکاري چې ﴿مُجْرِمِيهَا﴾ د ﴿جَعَلْنَا﴾ دپاره اول مفعول دی او ﴿أَكَٰبِرَ﴾ یې دوهم مفعول دی او ﴿فِى كُلِّ قَرْيَةٍ﴾ ورپورې متعلق دی.

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: په هر وطن او هر ښار کښې مونږ فاسقانو او سرکشانو ته مشري او زعامت ورکړی دی ترڅو دوی پخپله هم د امتحان لاندې واقع شي او نور خلک هم ورباندې امتحان کړو، مګر عاقبت د مؤمنانو دپاره دی او بس.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۲۸

(۲) البحر المحیط ج۴ ص۶۲۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَإِذَا جَآءَتۡهُمۡ ءَايَةٞ قَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ حَتَّىٰ نُؤۡتَىٰ مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ رُسُلُ ٱللَّهِۘ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ حَيۡثُ
يَجۡعَلُ رِسَالَتَهُۥۗ سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْ صَغَارٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا كَانُواْ
يَمۡكُرُونَ ﴿١٢٤﴾ فَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يَهۡدِيَهُۥ يَشۡرَحۡ صَدۡرَهُۥ لِلۡإِسۡلَٰمِۖ وَمَن يُرِدۡ أَن يُضِلَّهُۥ
يَجۡعَلۡ صَدۡرَهُۥ ضَيِّقًا حَرَجٗا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي ٱلسَّمَآءِۚ كَذَٰلِكَ يَجۡعَلُ ٱللَّهُ ٱلرِّجۡسَ
عَلَى ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿١٢٥﴾ وَهَٰذَا صِرَٰطُ رَبِّكَ مُسۡتَقِيمٗاۗ قَدۡ فَصَّلۡنَا ٱلۡأٓيَٰتِ
لِقَوۡمٖ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾ لَهُمۡ دَارُ ٱلسَّلَٰمِ عِندَ رَبِّهِمۡۖ وَهُوَ وَلِيُّهُم بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٢٧﴾﴾

[۱۲۴] او کله چې دوی (مشرکانو) ته یوه معجزه ورشي نو دوی وایي چې هیڅکله به مونږ ترهغه (ورباندي) عقیده خپله نه کړو ترڅو چې مونږ ته د هغه شي په مثل را کړی شي چې د الله ﷻ لېږلو شوو ته ورکړی شوی دی (چې مونږ هم پیغمبران جوړ شو او وحي راته وکړی شي).

الله ﷻ په هغه ځای باندې ښه عالم دی (په کوم ځای کښې) چې خپل رسالت ږدي. ژر دی چې هغو کسانو ته به د الله ﷻ په نزد (قیامت په ورځ) ذلت او سخت عذاب په دې سبب باندې ورسېږي چې دوی وه چې بد تدبیرونه (چلونه) یې کول.

[۱۲۵] نو هرڅوک چې الله ﷻ یې د هدایت اراده وکړي د هغه سینه د اسلام دپاره پراخه کړي (مسلمانېدل ورته اسان شي)، او هرچاته چې د ګمراه کولو اراده وکړي نو د هغه سینه تنګه کړي، ښه تنګه، داسې لکه چې یقینًا دی په اسمان کښې پورته کېږي (مسلمانیدل ورته ګران او سخت شي). دغه ډول الله ﷻ ناپاکي (کفر او عذاب) په هغو خلکو باندې وراچوي (او د هدایت توفیق نه ورکوي) چې دوی ایمان نه راوړي.

[۱۲۶] او دا (اسلام) ستا د رب ﷻ لاره ده په داسې حال کښې چې سمه سیده ده، یقینًا مونږ بیا بیا د داسې قوم دپاره ایتونه (او دلایل) بیانوو چې هغوی پند اخلي (او په زړونو باندې یې مهر نه وي وهلی شوی).

[۱۲۷] دغه کسانو لره (چې پند اخلي) د دوی د رب ﷻ په نزد د سلامتۍ کور (جنت) دی، او په دې سبب الله ﷻ د دوی دوست (او کار ساز) دی چې دوی وه چې (نېک) عملونه یې کول.

## ارتباطونه

۱_ آن د [الأنعام:۱۰۷] آیت څخه را په دېخوا دا مضمون تعقیب شوی دی چې که بالفرض مشرکانو ته فرمایشي معجزې ورکړی شي او یا د نبي کریم ﷺ د نبوت موضوع د یهودانو او نصاراوو حکمیت ته وسپارلی شي او هغوی په فرضي صورت سره په واقعیت اعتراف هم وکړي، نو مشرکان به ایمان رانه وړي . په دې ایتونو کښې هم دغه مضمون باندې یو ځل بیا صراحت

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړی شوی دی چې دوی په ایمان باندې مشرف کېدل په خپل نبوت باندې موقوفوي او د بل چا په نبوت اعتراف نه کوي.

۲ـ دلته د وړاندې نژدې ایتونو دپاره یو مصداق ښودلی شوی دی چې د مکې فاسدو زعیمانو د خلکو د ګمراه کولو دپاره ډول-ډول چلونه جوړ کړه، مګر په لاشعوري توګه یې خپل ځانونه خسارمند کړه چې زعامت یې ختم شو، د اسلام د پر مختګ مخه یې ونه شوه نیولی او بالآخره پخپله ګمراه پاتې شوه او نور خلک په اسلام باندې مشرف شوه.

## شان نزولونه

۱ـ یوه ورځې ابو جهل وویلې: په الله ﷻ مې دې سوګند وي چې زه به د نبي کریم ﷺ په نبوت باندې راضي نه شم او نه به د ده پیروي وکړم، مګر هله چې مونږ ته هم وحې راشي لکه چې ده ته راځي ترڅو د بني عبد مناف سره زمونږ سيالي برابره شي(۱).

۲ـ یو ځل الولید بن المغیره نبي کریم ﷺ مخاطب کړ چې: "لَوْكَانَتِ النُّبُوَّةُ حَقًّا لَكُنْتُ أَوْلَى بِهَا مِنْكَ لِأَنِّي أَكْبَرُ مِنْكَ سِنًّا وَ أَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا"(۲) یعني: که بالفرض نبوت حق وی نو ستا څخه ورباندې زه بهتر یم (چې پیغمبر شم) ځکه چې زه ستا څخه د عمر د حیثه مشر یم او د مال د حیثه درڅخه زیات یم. نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه. یا په بل عبارت، ذکرې شوې دواړه واقعې د ایتونو مصداقونه دي او سلفو صالحینو خو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه(۳).

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای پیغمبره! تاسو ته خو الله ﷻ پخوا خبر درکړی وه چې مشرکان ایمان نه راوړي که څه هم مړي ورته د هدیرو څخه کفن په سر ورشي یا ورباندې ملائک د شهادت دپاره ورښکته کړی شي او یا د دوی بله فرمایشي معجزه پوره کړی شي.

اوس نو همدغه مضمون د مشرکانو د خولو څخه واورئ چې پخپله ورباندې اعتراف کوي هغه دا چې دوی ته هره یوه معجزه وروړله شي نو دوی وایي چې مونږ به ترهغه ایمان رانه وړو ترڅو چې مونږ ته هم هغه څه راکړی شي کوم چې د الله ﷻ پیغمبرانو علیهم السلام ته ورکولی کېږي، چې وحې راته وکړی شي او کتاب راباندې رانازل کړی شي.

د مشرکانو په فکر د نبوت منصب د قوم د مشرۍ یا سپین ږیرتوب او بالآخره یا د مال او ثروت د ډېروالي پورې اړه لري، مګرخبره داسې نه ده، د نبوت عالي رتبه څه کسبي شی نه دی چې ذکر شوي شیان پکښې څه اثر ولري، دا صرف د الله ﷻ فضل او غیبي احسان دی چې الله ﷻ یې د اینبودلو خای ډېر ښه پېژني.

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۸۱
(۲) البحرالمحیط ج۴ ص۶۲۷
(۳) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځرنګه چې د مشرکانو د ایمان نه راوړلو اصلي سبب دا دی چې دوی تکبر او لويي کوي او غواړي چې نور خلک هم بې لارې کړي، نو الله ﷻ به دوی ته په ذلت او سخت عذاب سره جزا ورکړي، د تکبر کاسه به يې نسکوره شي، په ذلت سره به ختم شي او کوم چل چې د نورو خلکو دپاره جوړوي په هغه کښې به پخپله ولوېږي.

۲_ ای پیغمبره! د ایمان راوړل په معجزاتو پورې مربوط نه دي بلکې د الله ﷻ په ارادې پورې توقف لري، نو چاته چې الله ﷻ د هدایت اراده وکړي د هغه سینه د اسلام دپاره پراخه کړي، که معجزات وګوري او یا يې ونه ګوري. بالمقابل چاته چې الله ﷻ د هغه د استعداد په مطابق اراده وکړي چې ګمراه يې کړي نو د هغه سینه تنګه کړي چې په هیڅ صورت سره پکښې ایمان تقرر نه شي موندلی، که څه هر ډول معجزات وګوري. د همدې کبله نوموړي ته ایمان راوړل دومره سخت ښکاري ته به وایې چې پورته په هوا کښې اسمان ته خېژي خو ختلی نه شي، او کفر ورته دومره اسان ښکاري لکه چې د لوړې ځایه ژورې ته ورښکته کېږي.

الله ﷻ په دغه ډول سره د کفر ناپاکي په هغو خلکو باندې واقع کوي چې هغوی عناد نیولي وي او قصد يې کړی وي چې یوې معجزې ته هم غاړه کښېنږدي.

۳_ ای پیغمبره! دا (اسلام) ستا د رب د پلوه برابره لاره ده چې پخپله معجزه ده، خو برسېره په دې مونږ معجزات او دلایل د هغه قوم دپاره بیا-بیا تفصیلوار بیان کړي دي کوم چې پند او عبرت اخلي او استعدادونه يې د لاسه نه وي ورکړي.

د متکبرانو په مقابل کښې دغو مؤمنانو ته الله ﷻ د داسې جنت وعده ورکوي چې په نومونو کښې يې یو نوم "دار السلام" دی، چې د هر ډول ذلت او سپکاوي څخه پکښې امن دی. او دا ځکه چې الله ﷻ د همدوی دوست دی چې نېک عملونه يې کړي دي او د همدې ځای د اوسېدانې دپاره يې هلې ځلې کړې دي.

## توضيحات

۱_ الله ﷻ په نورو ځایونو کښې د مشرکانو حالت بیان کړی دی چې ﴿ بَلْ يُرِيدُ كُلُّ ٱمْرِيٍٕ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴾ [المدثر: ۵۲] یعنې: بلکې د دوی (د مشرکانو) څخه هریو سړی تمه لري (او غواړي) چې پرانستلې شوې صحیفې دې ورکړی شي.

﴿ وَقَالُواْ لَوْلَا نُزِّلَ هَـٰذَا ٱلْقُرْءَانُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ ٱلْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ﴾ [الزخرف: ۳۱] یعنې: او دوی (مشرکان) وايي چې دا قرآن د دغو دوه وو ښارونو (مکه، طائف) څخه ولې په یوه لوی سړي باندې نازل نه کړی شو؟

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د ﴿ حَتَّىٰ نُؤْتَىٰ مِثْلَ مَآ أُوتِيَ رُسُلُ ٱللَّهِ ﴾ جملې څخه سړي ته ذهن ته ورځي

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې مشرکان د نبوت په سلسله باندې قائل وه، حال دا چې خبره داسې نه وه؟
مونږ وايو چې: د مشرکانو مطلب دا نه وه چې د نبوت سلسله حقه ده بلکې د هغوی مطلب دا وه که بالفرض دغه سلسله حقه هم وي نو مونږ به يې ترهغې تسليم نه کړو چې مونږ پکښې برخوال ونه ګڼل شو.

## صَغار څه معنی؟

٣ـ د ﴿ صَغَار ﴾ کلمه د وړوکوالي په معنی سره ده چې په مقابل کښې يې کبر او لويوالی استعمالېږي. مګر وړوکوالی کله په عمر کښې وي، کله په جثه کښې او بالآخره کله په رتبه او منزله کښې تحقق مومي[١].
په دې مقام کښې دوهمه او درېمه معناوې دواړه مرادې دي چې مونږ ترې په ذلت سره تعبير کوو او په لاندې دوه احاديثو کښې په ډېره ښه توګه تفسيري شوي دي:

الف: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايي چې: «يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَمْثَالَ الذَّرِّ فِي صُوَرِ النَّاسِ يَعْلُوهُمْ كُلُّ شَيْءٍ مِنَ الصَّغَارِ»[٢] يعني: متکبران به د قيامت په ورځ د انسانانو په څېره کښې د سرو مېږتنو په شان حشر کړی شي چې د ذلت (اوسپکاوي) هر شی به وربانديې وراچولی شوی وي (د هر ډول ذلت څخه به لاندې وي).

ب: نبي کريم ﷺ فرمايي چې: «لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ عِنْدَ اسْتِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[٣] يعني: د قيامت په ورځ به هر غدر کوونکی د خپل کوناټي سره بيرغ ولري (چې د غدر دلويوالي او کوچنيوالي څخه به يې نمايندګي کوي، او د رسوايي سره به يې مخامخ کوي).

## حَرَج څه معنی؟

٣ـ لکه څنګه چې د ﴿ ضَيِّقًا ﴾ کلمه په تنګي باندې دلالت کوي همدارنګه د ﴿ حَرَجًا ﴾ کلمه هم همدا معنی ورکوي مګر په ﴿ حَرَجًا ﴾ کښې تنګي ډېره ده.

يوه ورځې عمر (أمير المؤمنين) ﷺ د يوه اعرابي څخه پوښتنه وکړه چې: «يَا فَتى مَا الْحَرَجَةُ عِنْدَكُمْ» يعني: ای ځوانه! ستاسو په نزد "الْحَرَجَة" څه شی دی؟. هغه جواب ورکړ: «الشَّجَرَةُ تَكُونُ بَيْنَ الأَشْجَارِ لاتَصِلُ إِلَيْهَا رَاعِيَةٌ وَلا وَحْشِيَّةٌ»[٤] يعني: "الحرجه" د داسې ونې څخه عبارت ده چې د ډېرو ونو ترمنځ (په تنګ ځای کښې) ولاړه وي چې نه ورته د شپونکي لکړه ورسېږي چې پانې ترې راوځنډي او نه ورته د ځاروي خوله ورسېږي چې پخپله ترې پانې وخوري.

---

(١) مفردات الراغب ص٢٨٩
(٢) مسند احمد بن حنبل ج٢ ص٥٩٦
(٣) صحيح مسلم ج٢ ص٨٣
(٤) المحرر الوجيز ج٦ ص١٤٦

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر کومه تنګي چې د ذکرو شوو دوارو کلمو څخه څرګندېږي هغه د ﴿ كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِ ﴾ په جملې سره لازياته تاکیده شوې ده.

نو د معنی حاصل یې داسي کېږي چې: هرچا ته چې الله ﷻ د هدایت توفیق ورنه کړي نو مسلمانېدل ورته دومره سخت شي چې په زړه کښې یې په هیڅ وجه د تقرر موندلو ځای نه وي بلکې زړه یې د اسلام څخه نفرت کوي او مسلمانېدل ورته محال (نه کېدونکی) کار ښکاري لکه څنګه چې اسمان ته ختل نه کېدونکی کار دی[۱].

## دار السلام د جنت نوم دی

۴ـ د جنت د نومونو څخه یو نوم "دَارُ السَّلَام" دی، چې په لاندې وجهو سره ورته دا نوم ایښودلی شوی دی:

الف: د ﴿ السَّلَامِ ﴾ کلمه د الله ﷻ نوم دی او د ﴿ دَارُ ﴾ اضافت ورته تشریفي دی، لکه چې په بیت الله کښې همدغه اضافت دی[۲].

ب: د ﴿ السَّلَامِ ﴾ کلمه مصدر دی چې د سلامتیٰ معنیٰ ورکوي، او جنت خو داسې مقام دی چې د هر ډول آفتونو او غمونو څخه په امن کښې دی او اوسیدونکي یې د هرڅیز نه سلامت دي.

ج: د ﴿ السَّلَامِ ﴾ کلمه د "السَّلَامُ عَلَيْكُمْ" څخه کنایه ده، یعنې په جنتیانو باندې الله ﷻ سلامونه وراستوي، چې په ﴿ سَلَامٌ قَوْلًا مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ ﴾ [یس:۵۸] کښې ورته اشاره شوې ده، او پرښتې هم وربانديې سلامونه اچوي لکه: ﴿ سَلَامٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ ﴾ [الرعد:۲۴] یعنې په تاسو باندې دې سلام وي چې تاسو په اسلام باندې کلک ولاړ وئ. او بالآخره جنتیان به یو تربله زیارتونه کوي او یو تربله به سلامونه اچوي، نه به هلته چټي او فاسدې خبرې اوري او نه سپکې سپورې وېناګانې.

﴿ وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا يَا مَعْشَرَ الْجِنِّ قَدِ اسْتَكْثَرْتُم مِّنَ الْإِنسِ ۖ وَقَالَ أَوْلِيَاؤُهُم مِّنَ الْإِنسِ رَبَّنَا اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَبَلَغْنَا أَجَلَنَا الَّذِي أَجَّلْتَ لَنَا ۚ قَالَ النَّارُ مَثْوَاكُمْ خَالِدِينَ فِيهَا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ ۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٢٨﴾ وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ الظَّالِمِينَ بَعْضًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٢٩﴾ ﴾

[۱۲۸] او په داسې ورځ کښې چې الله ﷻ دوی (پیریان او انسانان) ټول راغونډ کړي (نو ورته به ووایي چې) ای د پیریانو ټولګیه! تاسو خو د انسانانو څخه زښت ډېر (ګمراه) کړي دي. (دوی به

---

(۱) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۲۰۷

(۲) المحرر الوجیز ج۶ ص۱۴۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سکوت وکړي) او د انسانانو څخه به د دوی دوستان (اعترافًا او اعتذارًا) ووايي چې ای زمونږ ربه! (په دنیا کښې) ځینو زمونږ په ځینو نورو باندې ګټه اخستله (دوستي مو د ښې ګذارې په غرض وه، نه ستا د عصیان په غرض) او (اوس) هغې نیټې ته ورسېدو چې تا راته ټاکلې وه (دنیا تېره شوه نو عفوه راته وکړه).

الله ﷻ به (ورته) ووايي چې دوزخ ستاسو دپاره د اوسېدانې ځای دی په داسې حال کښې چې هلته به همېشه یاست مګر (که بالفرض) د الله ﷻ اراده وشي (او د دوزخ څخه مو وباسي خو داسې اراده الله ﷻ نه کوي)، یقینًا ستا رب ﷻ د حکمت څښتن دی (او) د پوهې خاوند دی.

[۱۲۹] او همدارنګه مونږ ځینې ظالمان ځینو نورو ته دوستان جوړوو، په دې سبب چې دې دوی چې (د بدۍ) کسبونه کوي (څو د پوره امتحان لاندې واقع شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ــ په وړاندینیو ایتونو کښې الله ﷻ مهرباني کړې وه چې شیطانان په دوه ډوله دي: یو انسي شیطانان دي او بل جني شیطانان، او دا یې هم فرمایلي وه چې یوه ډله بلې ډلې ته باطلې خبرې او چلونه ورزده کوي او د خلکو په بې لارې کولو کښې سره یو تربله لاس کوي. په دې ایتونو کښې الله ﷻ د دواړو ډلو شیطانانو عاقبت بیان کړی دی چې حاصل یې داسې راوځي:

۲ــ کله چې الله ﷻ ټول مخلوقات (انسانان او پیریان) حشر کړي نو الله ﷻ به جني شیطانان مخاطب کړي چې تاسو ښه ډېر انسانان بې لارې کړي دي او د خپلو بدو اعمالو پېټی مو ښه پوره دروند کړی دی. نو دوی به څه جواب ونه شي ویلی مګر بالمقابل به د همدوی شاګردان (انسي شیطانان) د اعتذار او اعتراف په توګه ووايي چې:

ای زمونږ ربه! په دنیا کښې چې مونږ د جني شیطانانو څه پیروي کړې ده، دا محض یوه ګذاره وه چې هلته مو ورباندې خپلې ورځې او شپې تېرې کړې او یو تربله مو سره لږ او ډېره ګټه واخستله، آن تردې چې اوس هغه وخت ته ورسېدو چې تا راته ټاکلی وه، نو زمونږ اعتذار قبول کړه او د پخوانیو خطاګانو څخه راتېر شه.

نو الله ﷻ به جواب ورکړي چې په دې ورځ کښې نه چاته اعتذار ګټه رسولی شي او نه اعتراف د چا په درد باندې خوري، ستاسو د اوسیدانې ځای اور دی چې همیشه به پکښې پراته یاست. هو! دا ببله خبره ده چې الله ﷻ ستاسو د دوزخ خلود (همېشوالی) مات کړي او د دوزخ څخه مو راوباسي، مګر الله ﷻ ستاسو په باره کښې دغسې عملیه نه اجراء کوي او تاسو به پکښې همېشه یاست.

۳ــ ای پیغمبره! یقینًا ستا رب ﷻ هم د حکمت څښتن دی او هم د علم (پوهې) خاوند دی، د کافرانو په ابدي توګه سره تعذیب هم په حکمت باندې بنا دی او هم د علم او پوهې غوښتنه ده.

۴ــ ای پیغمبره! په ذکرې شوې شرحې سره مونږ ځینو ظالمانو ته ځینې نور ظالمان په دنیا کښې دوستان ټاکو نو بیا د دواړو ډلو عاقبت هغه څه کېږي چې وړاندې بیان شو.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ د "مَعْشَرْ" کلمه جمعه ده او د خپل لفظ څخه مفرد نه لري، لکه څنګه چې "نفر، قوم، رَهط" جمعې دي او مفردات نه لري. معشر د هغه ټولګي په معنی سره استعمالېږي چې افراد يې په خپلو منځو کښې څه مشترکه متحده وجه ولري، لکه "مَعْشَرُ الْمُسْلِمِين" او "مَعْشَرُ الْكَافِرِين"[١].

### استکثار څه معنی؟

۲_ د ﴿اَسْتَكْثَرْتُم﴾ کلمه د "اِسْتِكْثَار" څخه اشتقاقه شوې ده، "اِسْتِكْثَار" دېته وايي چې څوک د يو شي په ډېروالي کښې رغبت وکړي[٢] او د هغه څخه ښه غټه برخه ترلاسه کړي. نو په دې مقام کښې به د معنی حاصل داسې کېږي چې ای پېريانو (شيطانانو)! تاسو خو د انسانانو څخه ښه غټه برخه بې لارې کړې ده.

### سوال جواب

۳_ که څوک وايي‌چې: د ﴿اَسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ﴾ څخه څرګندېږي چې پېريان هم د انسانانو څخه څه ګټه اخلي، نو پوښتنه دا ده چې هغه کومې ګټې دي چې انسانان يې پېريانو ته رسوي؟

مونږ وايو چې: ځينو علماوو کرامو ليکلي دي[٣] چې د ذکرې شوې جملې معنی دا نه ده چې پېريان او انسانان هره يوه ډله د بلې څخه استفاده کوي، بلکې مطلب يې دا دی چې يوازې انسانان د پېريانو څخه استفاده کوي او بس. نو معنی يې داسې کېږي چې ای زمونږ ربه! ځينو زمونږ (انسانانو) د ځينو نورو (پېريانو) څخه په لاندې شيانو کښې استفاده کړې وه:

الف: مونږ انسانانو به په بيابانو او بيدياوو کښې د ضرر رسوونکو پېريانو څخه په يوه مشر پېري باندې پناه غوښتله چې: "أَعُوذُ بِسَيِّدِ هَذَا الْوَادِي"[٤] يعنې زه د دغه ډاګ او بيديا په مشر باندې پناه غواړم چې ضرر رسوونکی راته څه ضرر ونه رسوي.

ای ربه! زمونږ دا عقيده وه چې ټوله ځمکه د پېريانو څخه ډکه ده او څوک چې د پېريانو په کوم يوه مشر پورې خپل ځان ونه نښلوي نو د نورو پېريانو څخه ژوندی نه پاتې کېږي[٥]. او هم مونږ په دې عقيده وو چې ټول ښکاري حيوانات د پېريانو څاروي دي، که بالفرض مونږ د پېريانو په کوم مشر پورې ارتباط ونه لرو نو د ښکار په کولو باندې به مو پېريان ببخ وباسي[٦].

ب: ای زمونږ ربه! مونږ خو د پېريانو څخه په دنيا کښې جادو او کوډګري زده کوله[٧]، چې زمونږ

(١) تفسير المراغي ج٨ ص٢٧
(٢) لسان العرب ج٥ ص١٣٣
(٣) تفسير الخازن ج٢ ص٤٨٣
(٤) زاد المسير ج٣ ص ٨٤
(٥) البحر المحيط ج٤ ص٦٤٤
(٦) البحر المحيط ج٤ ص٦٤٤
(٧) زاد المسير ج٣ ص٨٥

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ژوند دپاره ډېره ګټوره ذریعه وه او ډېري پیسي به مو ورباندې موندلې.

ج: مونږ خو د پیریانو څخه دا استفاده هم کوله چې دنیاوي خوندونه او لذتونه به یې راته ښایسته کول او مونږ به د دوي په لاس نیوي سره پکښې پوره زیار ایسته چې د خوارِه خوب څخه به تېرېدلو او کرې شپې به مو ډمانو ته رڼې کولې[۱].

اما ځینې علماء کرام وایي چې پیریان هم په دنیاوي ژوند کښې د انسانانو څخه څه استفاده کوي، دوی وایي چې همدا خبره صحت لري چې استفاده د ددواړو جانبو څخه ده[۲]، نو دوی د پیریانو د استفادې دپاره لاندې څو مثالونه ښودلي دي:

اول: کله چې ځینې پیریان په انسانانو کښې پیروان مونده کړي او خپل امارت ورباندې ښه تثبیت کړي نو د هغوی رتبه او قدر زیاتېږي. همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې اشاره کوي چې: «يَبْعَثُ الشَّيْطَانُ سَرَايَاهُ فَيَفْتِنُونَ النَّاسَ فَأَعْظَمُهُمْ عِنْدَهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً»[۳] یعني: شیطان (ابلیس) خپلې لښکرې ولېږي چې خلک په فتنو کښې واچوي، نو د ده په نزد د درجې د حیثه هغه څوک لوی وي کوم چې د فتنې د حیثه لوی وي.

دوهم: برسېره په دې د انسانانو شپېلولو شوو هډوکو باندې پیریانو ته الله ﷻ غوښه زرغونوي، او د هغوی د څارویو لډوګان د دوی د څارویو دپاره واښه جوړوي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تَسْتَنْجُوا بِالرَّوْثِ وَلَا بِالْعِظَامِ فَإِنَّهُ زَادُ إِخْوَانِكُمْ مِنَ الْجِنِ»[۴] یعني: په لډوانو او هډوکو باندې استنجا مه کوئ چې یقینًا د دغو دواړو هر یو ستاسو د پیریانو ورونو توښه ده، هډوکي د دوی دپاره او لډوګان د دوی د څارویو دپاره.

## تبصره

۴ـ مونږ وایو چې دا جمله ﴿ٱسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ﴾ خو الله ﷻ د هغو کافرانو د خولو څخه حکایت کړې ده کوم چې ابدي دوزخیان او پاخه دروغژنان دي، څه ضرورت نشته چې د هغوی د وینا د تصحیح دپاره د استفادو احتمالات بیان کړو، په هغوی خو دا متل صادق دی چې "اوښه کوم ځای دې برابر دی پاتې دې لا غاړه؟".

د ذکرې شوې جملې څخه د هغوی مطلب په خپلو کفریاتو باندې پرده اچول او ځانونه د ملامتی څخه خلاصول دي، لکه چې هغوی به یو وخت په خپل شرک باندې هم پرده واچوي او انکار به ترې وکړي چې: ﴿وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ﴾ [الأنعام:۲۳] یعني: په خپل رب الله ﷻ مو دې سوګند وي چې مونږ په دنیا کښې مشرکان نه وو.

هغوی په حقیقت کښې اعتذار وړاندې کوي چې مونږ خو د شیطانانو سره محض د استفادې

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۱۸۴
(۲) تفسیر القرطبي ج۸ ص۸۴
(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۳۷۶
(۴) جامع الترمذي ج۱ ص۱۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ارتباطات درلودل، که مونږ پوهېدلي چې دا کار غیر شرعي دی او ته ورباندې ناراض جوړېږي نو مونږ به ترې خانونه ساتلي وی، هیله ده چې مونږ ته د ابدي دوزخ څخه نجات راکړې. نو الله ﷻ به د دوی ذکر شوی اعتذار رد کړي چې: ﴿ٱلنَّارُ مَثۡوَىٰكُمۡ خَٰلِدِينَ فِيهَآ﴾ ستاسو د اوسېدانې ځای دوزخ دی او په دی کښې به همیشه یاست، ماته حقائق معلوم دي.

## کافران به په دوزخ کښې همیشه وي

۵ـ ځینو خلکو ته د دې جملې ﴿ٱلنَّارُ مَثۡوَىٰكُمۡ خَٰلِدِينَ فِيهَآ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُ﴾ څخه داسې پوښتنه ذهن ته ورځي چې ایا کفار به هم په یو وخت کښې د دوزخ څخه نجات مومي او خلود به یې ماتېږي کله چې د الله ﷻ اراده وشي؟

مونږ وایو: که څه هم په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو د ذکر شوې پوښتنې د جوابولو دپاره اوږده بحثونه کړي دي(۱) چې دا کتاب یې د رانقلولو وسه نه لري، مگر اکثرو مفسرینو کرامو ذکره شوې پوښتنه د [هود:۱۰۷] آیت لاندې مطرحه کړې ده او په زړه پورې تحلیلونه یې پکښې کړي دي، نو پوره بحث یې مونږ هم د همغه آیت تفسیر ته پرېږدو او په دې مقام کښې، د الله ﷻ په توفیق، د لاندې جوابونو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: ځینې مفسرین کرام وایې چې ذکره شوې جمله د آیت شریف د نزول د وخت کافرانو ته خطاب دی او د "ما" توری د "مَنْ" د توري معنی ورکوي(۲). نو حاصل یې داسې کېږي چې ای د وخت کافرانو! ستاسو د اوسېدانې ځای ابدي دوزخ دی مگر د هغه چا دپاره نه چې د الله ﷻ اراده وشي او په ایمان باندې مشرف شي.

مونږ وایو: آیت شریف په ذکر شوي ډول باندې معنی کول د وراندینیو ایتونو څخه شکوي چې د قیامت د ورځې حالت بیانوي، نو په کار دي چې د ملغلرو امېل ونه شکولی شي.

ب: ځینې نور وایې چې د ﴿ٱلنَّارُ﴾ د کلمې څخه گرم دوزخ مراد دی. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې ای کافرانو! تاسو به همېشه په گرم دوزخ کښې یاست مگر هله چې الله ﷻ اراده وکړي او د زمهریر د دورې دپاره مو څه وخت هلته بوځي.

د عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې "زمهریر" په سختې یخنی سره یو ډول عذاب دی، حتی چې کله پکښې دوزخیان واچولی شي نو دوی به الله ﷻ ته سوال وکړي چې ای الله! دوی ته د یوې ورځې زمهریري عذاب په مقابل کښې یوزر کاله د گرم دوزخ عذاب ورکړه چې: «أَهْوَنُ عَلَيْهِمْ مِنْ عَذَابِ الزَّمْهَرِيرِ يَوْمًا وَاحِدًا»(۳) یعنې په گرم اور باندې یو زر کاله تعذیب د زمهریر د یوې ورځې تعذیب څخه اسان دی.

---

(۱) البحر المحيط ج۴ ص۶۴۵: تفسير المنار ج۸ ص۶۹

(۲) المحررالوجيز ج۶ ص۱۵۱

(۳) تفسير القرطبي ج۱۹ ص۱۳۸ سورة الدهر

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته دا ډول جواب هم په زړه پورې نه ښکاري، ځکه چې د ﴿ٱلنَّارُ﴾ د کلمې متبادره معنی مطلق دوزخ بریښي، برابره خبره ده چې ګرم وي او که سوړ.

ج: مونږ ته په جواب کښې دا ښه ښکاري چې د ذکرې شوې جملې معنی به دا وي چې ای کافرانو! تاسو به په دوزخ کښې همېشه یاست مګر هله چې د الله ﷻ اراده وشي او خلود (همېشتوب) مات کړي، خو الله ﷻ دغسې اراده نه کوي.

## تولیه څه معنی؟

۶_ د ﴿نُوَلِّي﴾ کلمه د "تَوْلِيَةٌ" څخه اشتقاقه شوې ده چې اصل مجرد یې "وَلْيٌ" دي، "وَلْيٌ" په معنی د نژدیکت دی خو په دې مقام کښې یې مفسرین کرام په لاندې دوه ډولونو باندې تفسیر کوي:

الف: لکه څنګه چې مونږ شیطانان په کافرو انسانانو باندې مقرروو، همدارنګه ځینې ظالمان په انسانانو کښې هم په ځینو نورو ظالمانو باندې ټاکو او په هغوی باندې ورته ولایت او حاکمیت ورکوو. د ښه وضاحت دپاره لاندې شرحه ولولئ:

اول: یوه ورځې د الاعمش علیه الرحمة څخه چا پوښتنه وکړه چې د ذکر شوې آیت په تفسیر کښې دې څه اورېدلي دي؟ هغه جواب ورکړ چې د سلفو صالحینو څخه مې پکښې اورېدلي دي چې: "إِذَا فَسَدَ النَّاسُ أُمِّرَ عَلَيْهِمْ شِرَارُهُمْ"[1] کله چې خلک فاسد شي نو الله ﷻ ورباندې د دوی شریران مقرروي.

دوهم: الفضیل بن عیاض علیه الرحمة وايي چې: "إِذَا رَأَيْتَ ظَالِمًا يَنْتَقِمُ مِنْ ظَالِمٍ فَقِفْ وَ انْظُرْ فِيهِ مُتَعَجِّبًا"[2] یعنې کله چې یو ظالم وګورې چې د بل ظالم څخه انتقام اخلي نو ودرېږه او په تعجب سره پکښې نظر وکړه.

ب: لکه څنګه چې مونږ په شیطانانو او کافرو انسانانو کښې ځینې ځینو نورو ته دوستان جوړوو، همدارنګه په ظالمانو کښې هم ځینې ځینو نورو ته دوستان او نژدېکان ګرځوو چې د ابتلاء او ازمېښت دپاره یو تربله سره په ظلم کښې لاس یو کړي، او په ګډه توګه د ظلم پروژه مخ په وړاندې بوځي[3]. مونږ ته د مقام په اعتبار سره همدغه دوهم تفسیر غوره ښکاري.

﴿يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِى وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هَٰذَا ۚ قَالُوا۟ شَهِدْنَا عَلَىٰٓ أَنفُسِنَا ۖ وَغَرَّتْهُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَشَهِدُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوا۟ كَٰفِرِينَ ﴿١٣٠﴾ ذَٰلِكَ أَن لَّمْ يَكُن رَّبُّكَ مُهْلِكَ ٱلْقُرَىٰ بِظُلْمٍ

(۱) الدر المنثور ج۳ ص۳۵۸
(۲) تفسیر القاسمي ج۶ ص۷۲۱
(۳) تفسیر الطبري ج۸ ص۳۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَأَهْلُهَا غَٰفِلُونَ ﴿١٣١﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجَٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوا۟ ۚ وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا يَعْمَلُونَ
﴿١٣٢﴾ وَرَبُّكَ ٱلْغَنِىُّ ذُو ٱلرَّحْمَةِ ۚ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِنۢ بَعْدِكُم مَّا يَشَآءُ
كَمَآ أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ ءَاخَرِينَ ﴿١٣٣﴾ إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَءَاتٍ ۖ وَمَآ أَنتُم
بِمُعْجِزِينَ ﴿١٣٤﴾ قُلْ يَٰقَوْمِ ٱعْمَلُوا۟ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّى عَامِلٌ ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن
تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِ ۗ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿١٣٥﴾

[۱۳۰] ای د پیریانو او انسانانو ټولګیو! ایا تاسو ته همدا ستاسو څخه پیغمبران علیهم السلام نه وه راغلي چې په تاسو باندې به یې زما ایتونه (او احکام) بیانول او ستاسو د دغې ورځې د ملاقات څخه به یې تاسو ډارولئ؟ دوی به (په جواب کښې) ووایې چې: مونږ په خپلو ځانونو باندې شاهدي وایو (اقرار کوو چې راغلي وه).

(ای پیغمبره! د دوی همدا بده کړنلاره ده چې په دنیا کښې) حقیر ژوند تېر ویستل او (په آخرت کښې) یې مجبور کړه چې په خپلو ځانونو باندې شهادت ورکړي چې یقیناً دوی کافران وو.

[۱۳۱] (ای پیغمبره!) دغه (د پیغمبرانو سلسله ځکه جاري ساتلې شوې ده) چې ستا رب ﷻ په کفریاتو سره په داسې حال کښې د ښارونو هلاکوونکی نه دی چې اهل (اوسیدونکي) یې (د الله ﷻ د احکامو څخه) ناخبره وي.

[۱۳۲] او (بل ځکه چې) د هرې ډلې دپاره (نیکان وي او که بدان) د هغه څه څخه چې دوی یې کوي (مختلف) مراتب دي (او دا مراتب په امتحان باندې ځرګندېږي چې د پیغمبرانو علیهم السلام د سلسلې سره تړلي دي)، او ستا رب ﷻ خو د هغو کړو وړو څخه ناخبر نه دی چې دوی یې کوي.

[۱۳۳] او (د پیغمبرانو علیهم السلام په لېږ لو کښې د بندګانو ګټه ده ځکه چې) ستا رب ﷻ (د هر شي څخه) بې پروا دی (او) د رحمت (مهرباني) څښتن دی، که اراده یې وشي (ای خلکو!) تاسو به د منځه یوسي او ستاسو څخه وروسته به هغه کسان خلیفه ګان کړي چې خوښه یې شي (چې هغوی به ستاسو غوندې ناشکره نه وي)، لکه چې تاسو یې د بل قوم د اولادې څخه پیدا کړئ (چې هغوی هم ستاسو غوندې ناشکره نه وه، لکه د نوح علیه السلام د بېړۍ ملګري).

[۱۳۴] بې شکه هغه څه چې ستاسو سره یې وعده کېږي ضرور راتلونکي دي او تاسو (د الله ﷻ عاجز (کمزوري) کوونکي نه یاست (چې د ارادې مخه یې ونیسی).

[۱۳۵] (ورته) ووایه چې ای زما قومه! (چې زما خبره نه منئ نو) په خپل حالت باندې عمل کوئ زه هم عمل کوونکی یم، نو ژر به تاسو پوه شئ چې هغه څوک دی چې هغه لره د کور (آخرت) ښه انجام دی. یقیناً شان دا دی چې ظالمان فلاح (کامیابي) نه شي موندلی.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


# د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی چې د قیامت په ورځ کښې د کفري جنایتونو څخه اعتذار د الله ﷻ په نزد مقبول نه دی. نو د معنی حاصل یې دا دی:

۱ـ ای د پیریانو او انسانانو کافرو ټولګیو! نن ورځ چې تاسو اعتذار وړاندې کوئ، ایا تاسو ته په دنیا کښې زما پیغمبران علیهم السلام نه وه درغلي چې زما ایتونه به یې درباندې لوستل او د کارونو لاربښوونه به یې درته کوله، چې دا کوئ او دا مه کوئ، او بالآخره د همدغې ورځې څخه به یې ډارولئ چې په دې کښې به د حساب کتاب سره مخامخ شئ؟.

دوی به په جواب کښې ووایي چې هو! ستا پیغمبران مونږ ته راغلي وه، مونږ په خپلو ځانونو باندې شاهدي وایو چې مونږ ته یې ټولې لاربښوونې کړې وې او د دغې ورځې څخه یې خبر کړي وو، مګر مونږ د هغوی خبرې نه واوریدلې او نه مو پکښې څه د عقل څخه کار واخست.

۲ـ ای پیغمبره! کافران خو به په دغې ورځ کښې د پیغمبرانو علیهم السلام په ورتګ باندې اقرار وکړي خو دا به ونه وایي چې څه وجه وه چې دوی د هغوی په نصائحو باندې غوږونه کاڼه کړي وه؟.

د دې کار وجه دا ده چې کافران نژدې ژوند غولولي او آخرت ته یې شا کړې ده، آن تر دې چې د قیامت په ورځ به په خپلو ځانونو باندې د کفر شاهدي ورکړي او د خوب څخه به راویښ شي، مګر په هغه وخت کښې به ورته هیڅ ګټه ونه رسوي.

۳ـ ای پیغمبره! څکه مونږ په دنیا کښې د پیغمبرانو علیهم السلام سلسله جاري ساتلې ده چې ستا رب ﷻ د غفلت په حال کښې د ښارونو هلاکوونکی نه دی ترڅو چې هغوی ته پیغمبر ورشي او د غفلت د خوبه یې راویښ کړي، که بیا هم راویښ نه شي نو د عادیانو او ثمودیانو غوندې یې په بلا اخته کوي. نو ستا د زماني کافران هم باید چې ستا په ورتګ سره د غفلت د خوبه را بیدار شي او په لوی لاس خپل ځانونه په بلا اخته نه کړي.

۴ـ ای پیغمبره! د پیغمبرانو علیهم السلام په استولو کښې بله د حکمت خبره دا ده چې هم د نیکانو او هم د بدانو مراتب ورباندې ټاکل کېږي چې د فلاني او فلاني ایمانداري په کومه رتبه کښې ده او یا د فلاني او فلاني کفریات څومره څومره اندازې لري. نو د قیامت په ورځ به هر چاته، نیکو کار وي او که بد کار، د خپلو کړو وړو په معیار مراتب ټاکلی کېږي او ستا رب ﷻ د خلکو د اعمالو څخه ناخبر نه دی.

۵ـ ای پیغمبره! ستا رب ﷻ هم غني دی او هم د مهربانۍ خاوند دی، نو د پیغمبرانو علیهم السلام سلسله یې د دې کبله جاري نه ده ساتلې چې د خلکو عبادت ته احتیاج دی بلکې دا کار د ده ﷻ صرف رحمت او مهرباني ده چې خلک ورباندې د خپلو نعمتونو مستحقین جوړ کړي.

نو زما د پلوه د خپل امت خلکو ته ووایه چې الله ﷻ تاسو ته هیڅ اړتیا نه لري او دا کولی شي چې تاسو د منځه یوسي او ستاسو په عوض دنیا په نورو خلکو باندې آباده کړي، لکه څنګه یې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې د اولادونو په حيث د خپلو پلرونو په عوض دنيا آباده کړې ده. يا په بل عبارت: ستاسو په پوهنا کولو باندې دنيا نه پوهنا کېږي، خپلو ځانونو ته مه غره کېږئ.

راتلونکې دي او بيا واورئ د کوم شي چې تاسو ته وعده درکوله کېږي هغه ضرور راتلونکى دى او تاسو بې وسه نيوونکي نه ياست چې د خپلې ارادې په مقابل کښې د الله ﷻ اراده عاجزه او کمزورې کړئ او د قيامت د راتللو مخه ونيسئ.

٦- اى پيغمبره! خپل امت ته دې مخاطب کړه چې ما خو د الله ﷻ احکام تاسو ته ورسول، د قيامت د ورځې حالات مې درته شرحه کړه او دې ته مې په مستنده توګه راوبللئ چې د کفر څخه لاس واخلئ او د قيامت د ورځې د ندامت او پښېمانۍ څخه ځانونه بچ کړئ. نو که تاسو اوس هم په خپلو کفريانو باندې کلک ياست نو تاسو خپل کار کوئ او زه به خپل، تاسو په خپل کفري حالت باندې کلک اوسئ او زه به په خپل دعوتي حالت باندې، نتيجې ته به ګورو چې د چا په ګټه تماميږي. خو زر دى چې درته به معلومه شي چې نېک عاقبت د چا په برخه کېږي؟ زما که ستاسو؟ مګر د ومره درته وايم چې تاسو د کفر په ارتکاب سره ظالمان ياست او يقيناً ظالمان فلاح او کاميابي نه شي موندلى او د آخرت د پښېمانۍ سره مخامخ کېږي.

## توضيحات

١- علماء کرام په دې کښې اختلاف لري چې ايا د پيريانو څخه پيغمبران استولى شوي دي او که نه؟، نو مونږ غواړو چې د محترمو لوستونکو توجه لاندې نکاتو ته راواړوو:

الف: ټول علماء کرام متفق دي چې د نبي کريم ﷺ رسالت عام دى او پيريانو ته هم شامل دى، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبْدُ ٱللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُواْ يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴾ [الجن:١٩] يعني: او ما ته يقيناً دا وحې کړى شوې ده چې کله د الله ﷻ بنده (محمد ﷺ په بيت النخله مقام کښې) پورته شو چې د خپل رب ﷻ عبادت وکړي نو پيريان نژدې وه چې په ده باندې (د ډېر ازدحام د کبله) سر په سر پرېوزي، هر يو د قرآن کريم اوريدلو ته لېوال وه.

ب: په دې کښې هم اختلاف نشته چې د پيريانو ځينو کسانو د قرآن کريم د زده کولو څخه وروسته خپل قوم ته رجوع کړې ده، هغوى يې ايمان راوړلو ته هڅولي او د الله ﷻ د عذابه يې دارولي دي، لکه چې په [الاحقاف:٢٩] آيت کښې ورته اشاره شوې ده.

ج: دا خبره هم اتفاقي ده چې انسانانو ته ټول پيغمبران عليهم السلام د خپل جنس څخه استولى شوي دي او په دوى کښې کوم يو پېرى نه دى تېر شوى.

د: اما په دې کښې اختلاف دى چې ايا پيريانو ته د خپل جنس څخه پيرى پيغمبر استولى شوى دى او که څنګه؟

اکثره علماء کرام په دې نظر دي چې پيرى پيغمبر نه دى تېر شوى بلکې پيغمبري په انسانانو پورې خانګړې ده، د دوى په نزد د ﴿ أَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ ﴾ معنى داسې راوځي چې: ايا تاسو ته

Downloaded from: bawarkelabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ستاسو د مجموعې څخه خاص خاص انسانان د پیغمبرانو په صفت نه وه درغلي؟!
د دې نظر تائیدات ځینو مفسرینو کرامو راغونډ کړي دي(١) که څوک يې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي.
ځینې نور علماء کرام وايي چې په پیریانو کښې هم پیغمبران تېر شوي دي. دوی د همدې مطلب د تائید دپاره ډېر نصوص راغونډ کړي دي(٢) او د ذکر شوې جملې معنی داسې راوباسي چې: ایا تاسو ته همدا ستاسو څخه خاص خاص کسان د انسي یا جني پیغمبرانو په حیث نه وه درغلي؟!
دوی وايي چې يو جني پیغمبر د "یوسف" په نامه باندې هم تېر شوی دی(٣).

## تبصره

٢ـ زمونږ په نظر په ذکره شوې موضوع کښې توقف په کار دی، چې د دې امت کوم تکلیفي حکم وړپوري تعلق نه لري نو څه ضرور نه ده چې په بحث باندې يې وخت مصرف کړو. شاید چې الله ﷻ به زمونږ څخه د قیامت په ورځ پوښتنه ونه کړي چې ستاسو څه عقیده وه چې مونږ جني پیغمبر دنیا ته استولی وه او که نه.

## یادونه

٣ـ مونږ د [النساء:٣٢] آیت لاندې لیکلي دي چې د قیامت په ورځ کښې په کافرانو باندې مختلف حالات ورځي چې په خپلو کفریاتو باندې به کله اقرار کوي، لکه همدغه آیت چې اوس د بحث لاندې دی، او کله به ترې انکار کوي، لکه د همدې سورت [٢٣] آیت چې شرحه يې پخوا تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

## د "ظلم" د کلمې دوه تفسیرونه

٤ـ په دې مقام کښې علماء کرامو د ﴿ بِظُلْمٍ ﴾ د کلمې دپاره لاندې دوه تفسیرونه کړي دي:
الف: ځینې وايي چې دلته د ظلم څخه شکلي ظلم مراد دی. نو حاصل يې داسې کېږي چې ای پیغمبره! ستا رب ﷻ په ظلم سره ښارونه نه هلاکوي چې د پیغمبر د وړلېږلو څخه وړاندې د غفلت په حال کښې ورباندې کوم آفت ورښکته کړي(٤).
دوی وايي چې حقیقي ظلم خو د الله ﷻ په یوه کار کښې هم نه متحقق کېږي ځکه چې ټول مخلوقات د ده ﷻ ملک دی او په خپل ملک کښې تصرف کول ظلم نه ګڼل کېږي، هو! دا بېله خبره ده چې الله ﷻ د خپل فضل او مهربانی د کبله ذکر شوي تصرف ته د ظلم نوم ږدي.
ب: اکثره علماء کرام وايي چې دلته ظلم په خپله حقیقي معنی سره استعمال شوی دی(٥). نو د

---

(١) تفسیر ابن کثیر ج٢ ص١٧٧
(٢) تفسیر المنار ج٨ ص١٠٦
(٣) البحر المحیط ج٤ ص٦٤٨
(٤) التفسیر الکبیر ج١٢ ص١٩٧
(٥) تفسیر الطبري ج٨ ص٣٧؛ المحرر الوجیز ج٤ ص١٥١

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معنی حاصل به داسې کېږي چې ای پیغمبره! ستا رب ﷻ په ظلمونو او کفریاتو باندې ترهغه نیول نه کوي ترڅو چې هغوی ته پیغمبر ورواستوي او هغوی د پیغمبر لارښوونو ته شا کړي.

مونږ ته همدغه دوهمه معنی په دې مقام کښې په زړه پورې ښکاري.

## یادونه

۵ـ په دې باره کښې چې الله ﷻ د ښت د هر رحمت خاوند دی، مونږ د [الأنعام: ۱۲] آیت لاندې څو احادیث د مثال په توګه د الله ﷻ په توفیق لیکلي دي هیله ده چې د دې مقام د ښه پوهیدلو دپاره بو خل ولوستلی شي. برسیره پر دې ځینو مفسرینو کرامو وربانديې په دې مقام کښې هم پوره رڼا اچولې ده[۱] چې دا کتاب یې د اوږد والي د کبله نه شي رانقل کولی.

## د "قَوۡمٍ ءَاخَرِينَ" څخه دلته څوک مراد دي؟

۳ـ ځینې مفسرین کرام وایې چې دلته د ﴿قَوۡمٍ ءَاخَرِينَ﴾ (بل قوم) څخه هغه خلک مراد دي کومو چې د نوح ﷺ سره په کشتۍ کښې نجات موندلی وه[۲]. نو د معنی حاصل به یې داسې شي: لکه چې تاسو د ښو نېکانو خلکو (د نوح ﷺ د کشتۍ د ملګرو) خلیفه ګان یاست همدارنګه الله ﷻ قادر دی چې ستاسو خلیفه ګان هم نېکان خلک وګرځوي.

مګر مونږ ته داسې ښکاري چې ذکر شوی تفسیر به د مثال په توګه ښودلی شوی وي، ځکه چې د هرې طبقې خلک د پخوانۍ طبقې دپاره خلیفه ګان ګڼل کېږي او هم دا چې نېکان خلک خو یوازې د نوح ﷺ په ملګرو کښې انحصار نه لري.

﴿وَجَعَلُواْ لِلَّهِ مِمَّا ذَرَأَ مِنَ ٱلۡحَرۡثِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ نَصِيبٗا فَقَالُواْ هَٰذَا لِلَّهِ بِزَعۡمِهِمۡ وَهَٰذَا لِشُرَكَآئِنَاۖ فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمۡ فَلَا يَصِلُ إِلَى ٱللَّهِۖ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمۡۗ سَآءَ مَا يَحۡكُمُونَ ۝١٣٦ وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٖ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ قَتۡلَ أَوۡلَٰدِهِمۡ شُرَكَآؤُهُمۡ لِيُرۡدُوهُمۡ وَلِيَلۡبِسُواْ عَلَيۡهِمۡ دِينَهُمۡۖ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ مَا فَعَلُوهُۖ فَذَرۡهُمۡ وَمَا يَفۡتَرُونَ ۝١٣٧﴾

[۱۳۶] او مشرکانو الله ﷻ ته د هغه شي څخه برخه ټاکلې ده چې ده ﷻ پیدا کړی دی چې د کښتونو او څارویو څخه عبارت دی (او بوتانو ته یې ترې هم برخه ټاکلې ده)، نو دوی وایې چې دا (برخه) خاص الله ﷻ لره ده، د دوی په ګومان، او دا (برخه) خاص زمونږ شریکانو (بوتانو) لره ده.

---

(۱) تفسیر المنار ج۸ ص۱۱۵
(۲) روح المعاني ج۸ ص۳۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو هغه برخه چې د ذوی د شریکانو (بوتانو) دپاره وي نو (هغه د) الله ﷻ (برخې) ته نه وصل کېږي (چې ورباندې زیاته شي) او هغه برخه چې الله ﷻ لره وي نو هغه د دوی (د) بوتانو (شریکانو برخې) ته وصل کېږي (ورباندې زیاتوي یې).

هغه شی ډېر بد دی چې دوی (ورباندې) حکم کوي (کوم چې وړاندې ذکر شو).

[۱۳۷] او (ای پیغمبره!) لکه څنګه چې مشرکانو ته دغه ذکر شوی حکم شریکانو او بوتانو ښائسته کړی دی) همدارنګه ډېرو مشرکانو ته د دوی شریکانو (بوتانو) د دوی د اولادونو وژل هم ښائسته کړي دي، د دې دپاره چې دوی (په معنوي مرګ باندې) هلاک کړي او د دې دپاره چې په دوی باندې خپل دین ګډ وډ کړي.

او که د الله ﷻ اراده شوې وی نو دغه (ذکر شوي کارونه) به یې نه وی کړي، نو (ای پیغمبره!) مشرکان د هغه څه سره پرېږده چې دوی یې (په الله ﷻ باندې) دروغ تړي.

## ارتباط

په وړاندې نژدې آیت کښې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته توصیه کړې وه چې مشرکان مخاطب کړه چې ای مشرکانو! په کوم حالت باندې چې تاسو یاست په همغه حالت باندې اوسئ، ډېر ژر به په نتیجه باندې خبر او ډېر ژر به په خپلو کړو باندې پښیمانه شئ.

د دې ایتونو څخه نیولې تر ډېرو ایتونو پورې د مشرکانو حالت بیان شوی دی چې دوی د عقیدې او عمل د حیثه په کومو حالاتو باندې وه.

## شان نزول یا د ایتونو مصداق

څرنګه چې د ایتونو شان نزول په حقیقت کښې د ایتونو دپاره مصداق په ګوته کوي او په تفسیر باندې په پوهیدلو کښې د لوستونکو سره زیات کومک کوي، نو مونږ غواړو چې په دې مقام کښې د لوستونکو توجه لاندې نکاتو ته ورواړوو چې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما او نورو علماوو کرامو څخه روایت شوي دي[۱]:

۱ـ د ایتونو د نزول په وخت کښې د مشرکانو دا عادت وه چې د خپلو غلو (دانو) میوجاتو او بالآخره د خپلو څارویو څخه به یې څه برخه د الله ﷻ په نامه باندې بېلوله ترڅو الله ﷻ ترې راضي شي، او څه برخه به یې د بوتانو په نوم باندې ټاکله ترڅو بوتان د دوی سره لاس وکړي او الله ﷻ ته یې نژدې کړي.

۲ـ د هغوی په اصطلاح، د الله ﷻ برخه به یې په میلمنو او مسکینانو باندې مصرفوله او د ماشومانو په تربیه کښې به یې ترې کار اخست، او د بوتانو برخه به یې د بوت خانو په جوړونه، ترمیم، قربانیو او بالآخره د منجاورانو په مصارفو کښې لګوله[۲].

---

(۱) المحرر الوجیز ج۶ ص۱۵۶؛ روح المعاني ج۸ ص۳۲
(۲) تفسیر المراغي ج۸ ص۴۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ مشرکانو به د الله ﷻ د برخې هومره رعایت او حفاظت نه کاوه څومره رعایت او حفاظت به یې چې د بوتانو د برخې کاوه. که څه هم دوی به د همدې فرق وجه دا بیانوله چې بوتان فقیران دي په برخو باندې یې پاملرنه په کار ده او الله ﷻ غني دی، که برخه یې ضایعه شي هم باک یې نشته، مګر اصلي وجه یې داوه چې د دوی د یو پلوه د بوتانو سره د الله ﷻ په نسبت محبت زیات وه او د بله پلوه څومره چې د بوتانو څخه دارېدل هومره د الله ﷻ څخه نه دارېدل. لاندې څو مثالونه د نظره تېر کړئ:

الف: که باد به د بوتانو د برخې څخه څه شی د الله ﷻ برخې ته وروالوزاوه نو هغه به یې بېرته خپل ځای ته انتقالاوه، اما د عکس په صورت کښې به یې په خپل حال پرېښوده او د بوتانو برخه به یې ورباندې غځوله.

ب: که د بوتانو پورې د مربوطې کروندې څخه به د الله ﷻ مربوطې کروندې ته اوبه وبهېدلې نو سمدستې به یې بندولې خو د عکس په صورت کښې به هیڅ خبره نه وه او د بوتانو کرونده به یې ورباندې خړوبوله.

ج: که د بوتانو په برخه به څه اسماني آفت پېښ شو او څه زیان به یې ورته ورساوه نو د هغه جبیره به یې د الله ﷻ د برخې څخه کوله او د تاوان په اندازه به یې پکښې زیادت کاوه، اما د عکس په صورت کښې به یې پوره کولو ته حاضر نه وه.

د: که اشد ضرورت به وردمخه شو نو د الله ﷻ د برخې څخه به یې اجراء کاوه اما د بوتانو برخې ته به یې په هیڅ صورت کښې لاس نه وروړ، په اصطلاح چې لاس یې ګوزن ونه وهي.

ه: که د الله ﷻ برخې به ښه وده وکړه او ښه حاصلات به یې ونیوه او د بوتانو د برخې حاصلات به مزه ناک نه وه نو برخې به یې سره تبدیل کړې، د الله ﷻ په برخه باندې به یې د بوتانو د برخې نوم کېښود او د بوتانو برخې ته به یې د الله ﷻ د برخې لقب ورکړ.

و: که د بوتانو برخه به تمامه شوه او د منجاورانو او بوت خانو مصرف به پوره نه شو نو پاتې مصارف به یې د الله ﷻ د برخې څخه د ا جراء لاندې نیوه، اما که د مسکینانو او مېلمنو مصارف به د الله ﷻ د برخې څخه پوره نه شوه او د بوتانو په برخه کښې به زیات وه نو هغه ته به یې ګوتې نه وروړې چې بوتان خپه نه شي.

ز: د الله ﷻ د برخې په څاروي باندې به د حج یا عمرې دپاره سورېده خو د بوتانو د برخې په څاروي باندې به په هیڅ صورت کښې نه سورېده.

ح: بالآخره د الله ﷻ د برخې څاروی به یې د بوتانو په نامه سره ذبحه کاوه مګر د بوتانو د برخې په څاروي باندې به یې د ذبحې په وخت کښې د الله ﷻ نوم نه یاداوه.

لنډه دا چې الله ﷻ په دغو ایتونو کښې د مشرکانو ذکر شوي جنایات او هم د اولاد وژنې جنایات منعکس کړي دي او د دوی د بې عقلۍ څخه یې پرده پورته کړې ده چې حاصل یې داسې راوځي:

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ـ ای پیغمبره! د مشرکانو د غیر مشروع حالاتو څخه دا حالت هم دی چې د یو پلوه عقیده لري چې کروندې او څاروي، بلکې هر شی الله ﷻ پیدا کړی دی او بوتان ورسره پکښې برخوال نه دي، خو د بلې خوا یې په خپلو کروندو او څارویو کښې لکه څنګه چې د الله ﷻ دپاره برخه ټاکي همدارنګه بوتان هم بې برخي نه پرېږدي او په خپل خیال داسې وېش کوي چې دا د الله ﷻ برخه ده او دا زمونږ د شریکانو (بوتانو) برخه ده، حال دا چې په خلقت کښې داسې نه شي ویلی چې دا الله ﷻ پیدا کړي دي او دا زمونږ شریکانو (بوتانو) پیدا کړي دي.

۲ـ په دې باندې علاوه، د مشرکانو بله سپین سترګي او بې ادبي دا ده چې د هغې برخې ډېر حفاظت او ساتنه کوي کومه یې چې بوتانو ته ټاکلې وي چې په هیڅ صورت باندې د همدې برخې څخه څه شی د الله ﷻ برخې ته نه ورکول کېږي، مګر بالعکس د بوتانو په برخه کښې که څه نواقص پیدا شوه نو د الله ﷻ په برخه باندې یې تبدیلوي او که هغه تمامه شوه په دې باندې یې پوره کوي او داسې نور.

۳ـ ای پیغمبره! د مشرکانو یو کفر دا دی چې بوتان په مالي عباداتو کښې هم برخوال ګڼي لکه څنګه چې دوی ته په بدني عباداتو کښې برخه ورکوي، او بل کفر یې دا دی چې په عباداتو کښې د الله ﷻ په نسبت د بوتانو زیات احترام کوي، نو دا ډېره بده عقیده او بد حکم دی چې دوی یې کوي.

۴ـ ای پیغمبره! لکه څنګه چې مشرکانو ته د دوی شریکانو (بوتانو) په مالي عباداتو کښې ذکره شوې کړنلاره ښایسته کړې ده، همدارنګه یې دوی ته د خپلو اولادونو وژل هم ډېلي ګرځولي دي ترڅو دوی د هلاکت کندې (دوزخ) ته وغورزوي او دینورباندې ګډوډ کړي، حتی چې جنایات هم ورته عبادات څرګندېږي بلکې جنایات یې د دین جزء ګڼلی دی.

۵ـ ای پیغمبره! دنیا د ازمېښت او امتحان ډګر دی د همدې کبله الله ﷻ دوی ته ازادي ورکړې ده، که نه نو که د الله ﷻ اراده شوې وی چې دغه کارونه دې ونه کړي نو یو کار به یې هم نه وی کړی. نو د خپلو دروغینو عباداتو او دروغینو اعمالو سره یې پرېږده، ډېر ورباندې مه غمژن کېږه، د قیامت ورځ راروانه ده ډېر ژر به دوی د ندامت سره مخامخ شي.

## توضیحات

۱ـ په آیت شریف کښې مطلب دا نه دی که بالفرض مشرکانو د الله ﷻ د برخې ساتنه د بوتانو د برخې د ساتنې سره برابره کړې او یا یې ترې اضافه کړې وی نو دوی ته به د ملامتی لقب نه وی ورکړی شوی، بلکې مطلب یې دا دی چې دا کار په شرک باندې علاوه یوه بله بې ادبي او بله بې احترامي ده چې دوی یې مرتکب شوي دي.

د مشرکانو عادت وه چې د یوه کفر په داخل کښې به یې بل کفر ته لاس اچاوه، الله ﷻ فرمایې: ﴿وَيَجْعَلُونَ لِلَّهِ الْبَنَاتِ سُبْحَانَهُ وَلَهُم مَّا يَشْتَهُونَ﴾ [النحل: ۵۷] یعنې: مشرکان الله ﷻ ته لورګانې

Downloaded from: bawarketaptoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جوړوي، ده ﷻ ته پاکي ده، حال دا چې خپلو ځانونو ته هغه څه غواړي چې مینه او محبت ورسره لري چې زامن دي.

نو الله ﷻ ته د اولاد ثابتول یو کفر دی او په اولاد کښې ورته ـ د دوی په نزد ـ د حقیر اولاد لورګانو ثابتول بل کفر دی.

## "شُرَكَائِهِمْ" څه معنی؟

۲ـ په دې مقام کښې مفسرینو کرامو د ﴿ شُرَكَآؤُهُمْ ﴾ دپاره ډېرې معناوې کړې دي(۱)، لکه شرکي انډیوالان، د بوتانو منجاوران، انسي یا جني شیطانان. مګر مونږ د لنډون په غرض په بوتانو سره معنی کړ چې ټولو ته شامل شي، دا ځکه چې بوت خو یوازې متعارفو جماداتو پورې مختص نه دی بلکې هر شی چې د الله ﷻ د عبادت څخه غافلوونکی وي د سړي دپاره د بوت په نوم یادېږي، برابره خبره ده چې په عمل کښې وي او که په عقیده کښې.

نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي چې «تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ وَعَبْدُ الْخَمِيصَةِ إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ وَإِنْ لَمْ يُعْطَ سَخِطَ»(۲) یعنې: هلاک شو د دینار (طلاوو) بنده، او د پیسو بنده او (هم) د زونډې دار څادر بنده، که (د دغو شیانو څخه څه شی) ورکړی شي راضي کېږي او که ورنه کړی شي په غُصه کېږي. یعنې خوشالي او خفګان یې د الله ﷻ د رضا په حاصلولو پورې تړلی نه وي بلکې په مادیاتو پورې نښتې وي.

## د اولاد وژنې وجوهات

۳ـ دا قاعده ده چې هر ظالم د ظلم کولو دپاره څه بهانه تراشي که څه هم د هغې بطلان ښه پوره څرګند وي. نو مشرکانو به هم د خپلو اولادونو د وژلو دپاره لاندې بهانې تراشلې(۳):

الف: ځینو به خپل اولادونه (لورګاني یا زامن) د فقر د کبله وژل چې یا به یې سمدستې لاس تنګ وه او یا به د تنګ لاسۍ څخه ډارېده چې په نفقه باندې به یې د فقر سره مخامخ شي.

ب: ځینو به خیال کاوه چې د اولاد په قربانۍ سره به الله ﷻ ته یا بوتانو ته نژدې شي لکه څنګه چې ابراهیم ﷺ د خپل زوی (اسماعیل ﷺ) ذبحه کولو ته چمتو شوی وه. مګر دې ته به یې فکر نه وه چې هغه ته خو الله ﷻ امر کړی وه او دوی یې ترې منعه کړې دي.

ج: ځینو به د خپلو اولادونو ذبحه کول په خپلو ځانونو باندې نذر اینبوده، لکه څنګه چې عبد المطلب (د نبي کریم ﷺ نیکه) په لسو زامنو کښې د یوه زوی ذبحه کول په خپل ځان باندې نذر کړې وه، چې د سیرت کتابونو یې مفصله قیصه لیکلې ده(۴). د همدې کبله د نبي کریم ﷺ په القابو کښې

---

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۸۹

(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۴۰۴

(۳) روح المعاني ج۸ ص۳۲؛ تفسیر المراغي ج۸ ص۴۴

(۴) سیرت ابن هشام ج۱ ص۱٦۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یو لقب "ابْنُ الذَّبِيحَيْن" دی[1] یعنې د دوه وو ذبحه کړی شوو زوی، چې یو یې پلار (عبدالله) دی او بل یې نیکه (اسماعیل ﷺ) دی.

د: څینو به لورګانې د دې کبله ژوندی ښخولې چې د لور ودېدل به ورته شرم ښکارېده او هم د دې کبله چې په کورنیو جنګونو کښې به د بندی په حیثه ونیوله شي او پیغور به راته ترې جوړ شي.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: مشرکانو د لورګانو د وژلو او د ژوندیو ښخولو دپاره څه بنیاد درلود؟

مونږ وایو چې: دا بې رحمي صرف په غُصه باندې پیل شوې وه هغه دا چې[2]:

یو خل په کورنیو جنګونو کښې څه زنانه بندیانې بیولې شوې وې چې په دوی کښې د قیس بن عاصم لور هم وه، بله ورځ جګړه په سوله فیصله شوه او د سولې یو جز دا وه چې بندیانې زنانه دې پرېښودلې شي چې خپلو کورونو ته ستنې شي.

ټولې بندیانې ستنې شوې مګر د قیس بن عاصم لور بیرته ستنه نه شوه، او چا چې بندی کړې وه د همغه سره خوښه شوه، نو قیس سوګند یاد کړ که په کور کښې یې لور تولده شي نو هغه به ژوندی ښخه کړي. قیس په خپلو نورو (نوو زیږېدونکو) لورګانو باندې همدغه نقشه عملي کړه او په مشرکانو جاهلانو کښې یې د بې رحمۍ دېره کښېښودله.

﴿وَقَالُوا۟ هَٰذِهِۦٓ أَنْعَٰمٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ لَّا يَطْعَمُهَآ إِلَّا مَن نَّشَآءُ بِزَعْمِهِمْ وَأَنْعَٰمٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا وَأَنْعَٰمٌ لَّا يَذْكُرُونَ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهَا ٱفْتِرَآءً عَلَيْهِ ۚ سَيَجْزِيهِم بِمَا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿١٣٨﴾ وَقَالُوا۟ مَا فِى بُطُونِ هَٰذِهِ ٱلْأَنْعَٰمِ خَالِصَةٌ لِّذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰٓ أَزْوَٰجِنَا ۖ وَإِن يَكُن مَّيْتَةً فَهُمْ فِيهِ شُرَكَآءُ ۚ سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ ۚ إِنَّهُۥ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٣٩﴾ قَدْ خَسِرَ ٱلَّذِينَ قَتَلُوٓا۟ أَوْلَٰدَهُمْ سَفَهًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ وَحَرَّمُوا۟ مَا رَزَقَهُمُ ٱللَّهُ ٱفْتِرَآءً عَلَى ٱللَّهِ ۚ قَدْ ضَلُّوا۟ وَمَا كَانُوا۟ مُهْتَدِينَ ﴿١٤٠﴾﴾

[۱۳۸] او مشرکان (په خپل ګومان سره) وایي چې دغه، څاروي دي او کـه غلې، منعه کړی شوې (حرامې) دي، نه به یې خوري مګر هغه څوک چې زمونږ خوښه وي (مونږ یې ورته تاکو)؛ او (هم وایي چې دغه) څاروي دي چې سورلي یې حرامه کړی شوې ده. او (هم وایي چې دغه) څاروي دي چې د

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۴ ص۱۶
(۲) روح المعاني ج۸ ص۳۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ نوم ورباندې دوی نه يادوي (بايد ورباندي ياد يې نه کړي) (دا ټول دروغ ويل دي) په الله ﷻ باندې دروغ ويل، ژر دی چې دوی ته به په هغه څه جزا ورکړی شي چې دي دوی چې دروغ تړي.

[۱۳۹] او مشرکان وايي چې هغه څه چې د دغو څارويو (چې د بوتانو په نامه نذر کړی شوي دي) په ګېډو کښې دي خاص زمونږ د نارينه وو دپاره دي او زمونږ په زنانه وو باندې حرام کړی شوي دي (خو په دې شرط چې ژوندي ترې وزېږېږي)، او که هغه مړه وي (مړه وزېږېږي) نو دوی (نارينه او زنانه ټول) پکښې شريک دي. ژر دی چې الله ﷻ به د همدې (دروغين) بيان جزا ورکړي، يقيناً همدی ﷻ د حکمت څښتن (او) د علم خاوند دی.

[۱۴۰] بې شکه هغه کسان زيانکاران شوه چې د حماقت د کبله يې بدون د پوهې څخه خپل اولادونه وژلي او هغه مالونه يې (په خپلو څانونو باندې) حرام کړي کوم چې الله ﷻ دوی ته روزي کړي دي، (دا دروغ تړل دي) په الله ﷻ باندې دروغ تړل. يقيناً دوی بې لارې شوه او دوی لاره موندونکي نه دي.

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې هم د وړاندينيو ايتونو مضمون تعقيب شوی دی او د مشرکانو نامشروعو کارونو ته اشاره شوې ده ترڅو مؤمنان ترې عبرت واخلي او په دين کښې بدعتونه جوړ نه کړي، نو حاصل يې داسې راوځي: ای پيغمبره! د مشرکانو د څينو نورو بې ځايه تصرفاتو يادونه په لاندې ډول وکړه:

۱_ مشرکان څينو څارويو ته او د څينو غلو دانو حاصلاتو ته اشاره کوي او وايي چې دا به نه خوري مګر هغه څوک چې مونږ ورته د خوراک او استفادې دپاره په خپل خيال خاص کړي دي. هغه دا چې د بوتانو په مصارفو به لګېږي، د بوت خانو ترميم به پرې کېږي او بالآخره د بوت خانو منجاوران به ترې خپل خوراک او څښاک برابروي، په نورو ټولو خلکو باندې ترې استفاده کول حرام دي، که چا ترې استفاده وکړه هغه ګناهګار دی.

۲_ دوی څينو نورو څارويو ته ګوته نيسي چې دا د بوتانو په نامه باندې خوشي کړی شوي دي چې هيڅاته جواز نه لري چې د سورلۍ استفاده ترې وکړي او په لوی لاس خپل ځان ګنهګار کړي.

۳_ دوی څينې نور څاروي د بوتانو په نامه په ګوته کوي چې په دغو باندې به هيڅوک د ذبحې په وخت کښې د الله ﷻ نوم نه يادوي او په هرچا باندې واجبه ده چې د بوتانو په نامه باندې يې ذبحه کړي، علاوه په دې دا هم چاته روا نه ده چې د سورلۍ استفاده ترې وکړي او د عمرې يا د حج او يا د بل نېک کار سفر ورباندې وکړي او په شا باندې يې د "لبيک اللّهم لبيک" چيغه پورته کړي.

ای پيغمبره! ذکر شوي تعينات د الله ﷻ د جانبه نه دي شوي بلکې الله ﷻ ذکر شوي څاروي او د غلو دانو حاصلات د ټولو بندګانو دپاره خلق کړي دي، مګر مشرکان د دغو ټولو تعيناتو نسبت الله ﷻ ته کوي او په الله ﷻ باندې دروغ تړي، نو ده بر ژر به يې جزا وګوري.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴ـ مشرکان ځینو نورو څارویو ته اشاره کوي او وايي چې د دغو څارویو اولادونه فقط د نارینه وو پورې اختصاص لري چې غوښه یې وخوري او په زنانوو باندې یې خوراک حرام دی، هو! که د دغو څارویو اولادونه مړه وزېږېده نو بیا پکښې نارینه او زنانه ټول شریک دي چې غوښې یې وخوري، هیڅوک یې په خوراک باندې نه ګناهګارېږي.

ډېر ژر دی چې الله ﷻ به د دغه بیان او د دغو تعیناتو جزا هم ورکړي، خو سمدستي جزا ورکول د حکمت غوښتنه نه ده ترڅو ابتلاء او ازمېښت تکمیل شي. یقیناً الله ﷻ برسیره پر دې چې حکیم دی، د پوهې خاوند هم دی د هرچا د جزا وندہ ورته معلومه ده.

۵ـ ای پیغمبره! هغه خلک چې په بې عقلۍ سره بدون د شرعي دلیل څخه خپل اولادونه وژني او یا په الله ﷻ باندې دروغ تړي او په خپلو ځانونو باندې حلال رزقونه حراموي دوی د یو پلوه د ابدي دوزخ سره مخامخ کیدونکي او تاوانیان دي او د بله پلوه په دنیا کښې هم خساره مند دي، چې هم د اولادونو د نعمت او هم د مالونو د نعمت څخه بې برخې شوه او هم تري الله ﷻ راضي نه شو بلکې ورباندې په غضب شو.

لنډه دا چې دوی ګمراهان شوه او په راتلونکي کښې هم لاره موندونکي نه دي، که څه هم دوی خپل ځانونه لاره موندونکي ګڼي.

## توضیحات

۱ـ ځینو مفسرینو کرامو(۱) لیکلي دي چې په ﴿وَأَنْعَٰمٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا﴾ جمله کښې هغو څلورو ډلو څارویو ته اشاره ده کوم چې په [المائدة:۱۰۳] ایت کښې د "بَحِيْرَة، سَائِبَة، وَصِيْلَة، حَام" په نومونو باندې یاد شوي دي، چې همځلته یې شرحه تېره شوې ده، هیله ده چې لوستونکي یې یو ځل وګوري.

۲ـ مفسرینو کرامو د ﴿وَأَنْعَٰمٌ لَّا يَذْكُرُونَ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهَا﴾ جمله په لاندې دوه تفسیرونو باندې تفسیره کړې ده(۲):

الف: چې په دغو څارویو باندې به د ذبحې په وخت کښې د الله ﷻ نوم نه یادېږي ترڅو بوتان ناراض نه شي.

ب: چې د حج یا عمرې سفرونه به ورباندې نه کول کېږي چې په شا باندې یې د الله ﷻ نوم یاد کړی شي، او نه به پرې بل نېک کار کول کېږي.

څرنګه چې مونږ ته دواړه تفسیرونه سره منافي نه ښکاري نو ځکه مو په خلاصه مطلب کښې دواړو ته اشاره وکړه.

---

(۱) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۹؛ المحرر الوجیز ج۶ ص۱۶۰
(۲) [illegible] ج۲ ص۴۹۲؛ تفسیر البغوي ج۲ ص۱۳۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ما في البطن څه معنی؟

٣ـ ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ ٱلْأَنْعَٰمِ ﴾ دکلماتو څخه دوه شیان اخستي دي، یو د همدغو څارویو شوده او بل د همدغو څارویو بچي کوم چې د دوی په ګېډو کښې وي او لا زیږېدلي نه وي، او دغه مفهوم خو د څارویو په شودو او بچې (جنین) دواړو باندې صادقېږي څکه چې دواړه د څارویو په بُطون (په داخل) کښې دي[1].

مګر مونږ ته بهتره ښکاري چې دلته یوازې جنین مراد کړی شي څکه چې:

الف: په راتلونکي [١٤٣] آیت کښې د همدې څخه په ﴿ أَمَّا ٱشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ ٱلْأُنثَيَيْنِ ﴾ باندې تعبیر کړی شوی دی چې د شودو اراده کولو څای پکښې نشته.

ب: د ما في البطون دوهم حالت په ﴿ وَإِن يَكُن مَّيْتَةً ﴾ پورې اختصاص لري څکه چې په شودو باندې د ﴿ مَّيْتَةً ﴾ اطلاق نه کېږي، نو متبادره دا ده چې فقط جنین به مطلب وي او بس، والله ﷻ أعلم.

## سوال جواب

٤ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د مشرکانو دوه شرکیات (د څارویو او کروندو تحریم او د اولادونو وژنه) په ذکرو شوو ایتونو کښې خلط ملط بیان کړه؟

مونږ وایو چې: دا د دې کبله ـ والله ﷻ اعلم ـ چې دواړه شرکیات سره یو تربله متناقض ښکاري، څکه چې مشرکان د یو پلوه د فقیرۍ د ډاره خپل اولادونه وژني او د بله پلوه خپل مالونه ضایع کوي او په خپلو ځانونو باندې یې حراموي، ته به وایې چې دوی د فقر څخه بالکل نه ډارېږي.

دوی ته په کار وه چې مالونه یې په خپلو اولادونو باندې مصرف کړي وی او د وژلو څخه یې صرف نظر شوي وی، نو په اصطلاح سر او مال به یې دواړه د خطر څخه بچ وی، حال دا چې دوی په دواړو کښې د تاوان متحمل شوه. یا په بل عبارت: د بارانه وتښتیده او د ناوې لاندې یې شپه شوه، او غوږ یې ګاټه سر یې بایلود، چې هم یې مالونه ضایع شوه او هم یې اولادونه.

﴿ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَنشَأَ جَنَّٰتٍ مَّعْرُوشَٰتٍ وَغَيْرَ مَعْرُوشَٰتٍ وَٱلنَّخْلَ وَٱلزَّرْعَ مُخْتَلِفًا أُكُلُهُۥ
وَٱلزَّيْتُونَ وَٱلرُّمَّانَ مُتَشَٰبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَٰبِهٍ ۚ كُلُوا۟ مِن ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ وَءَاتُوا۟ حَقَّهُۥ
يَوْمَ حَصَادِهِۦ ۖ وَلَا تُسْرِفُوٓا۟ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُسْرِفِينَ (١٤١) وَمِنَ ٱلْأَنْعَٰمِ حَمُولَةً
وَفَرْشًا ۚ كُلُوا۟ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَٰنِ ۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ (١٤٢)
ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ ۖ مِّنَ ٱلضَّأْنِ ٱثْنَيْنِ وَمِنَ ٱلْمَعْزِ ٱثْنَيْنِ ۗ قُلْ ءَآلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ

Downloded from: bawarketabtoon.com

(١) تفسیر الطبري ج٨ ص٤٨

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا ٱشۡتَمَلَتۡ عَلَيۡهِ أَرۡحَامُ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ نَبِّـُٔونِي بِعِلۡمٍ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿١٤٣﴾ وَمِنَ
ٱلۡإِبِلِ ٱثۡنَيۡنِ وَمِنَ ٱلۡبَقَرِ ٱثۡنَيۡنِۗ قُلۡ ءَآلذَّكَرَيۡنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلۡأُنثَيَيۡنِ أَمَّا ٱشۡتَمَلَتۡ عَلَيۡهِ
أَرۡحَامُ ٱلۡأُنثَيَيۡنِۖ أَمۡ كُنتُمۡ شُهَدَآءَ إِذۡ وَصَّىٰكُمُ ٱللَّهُ بِهَٰذَاۚ فَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ ٱفۡتَرَىٰ
عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا لِّيُضِلَّ ٱلنَّاسَ بِغَيۡرِ عِلۡمٍۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٤٤﴾

[۱۴۱] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې (ډول-ډول) باغونه يې پيدا کړي دي چې (په لرګيو باندې) پورته کړی شوي دي او (په لرګيو باندې) نه دي پورته کړی شوي، او (هم يې) د کجورو ونې او کښتونه (پيدا کړي دي) چې خوراک يې مختلف دی، او (هم يې) د زيتون او انارو (ونې پيدا کړې دي) چې (په يو حيث) يو بل ته ورته دي او (په بل حيث) يو بل ته ورته نه دي.

(دلته د الله ﷻ حکم دا دی چې) د دې (ذکرو شوو) ونو (او بوټو) د ميوجاتو (او حاصلاتو څخه) خورئ کله چې حاصل ورکړي (او ميوه ونيسي). او حق (زکات) يې د پرېکولو (حاصل ټولولو) په وخت کښې ورکړئ، او اسراف (د شرعي حد څخه تجاوز) مه کوئ. يقيناً الله ﷻ اسراف کوونکي نه خوښوي.

[۱۴۲] او (الله ﷻ) د څارويو څخه بار اوچتوونکي او (په ځمکه باندې) خورېدونکي (هم پيدا کړي دي).

(دلته هم د الله ﷻ حکم دا دی چې) د هغو څارويو څخه خورئ (او نورې استفادې ترې کوئ) چې الله ﷻ درته روزي کړي دي او د شيطان د قدمونو (غوښتنو) پيروي مه کوئ، يقيناً شيطان ستاسو دپاره ښکاره دښمن دی (د دښمن پيروي کول ګمراهي ده).

[۱۴۳] (يا په بل عبارت: الله ﷻ اته جوړې (پيدا کړې دي) چې د ګډو څخه دوه جوړې دي (نر او ښځه) او د اورو څخه هم دوه جوړې دي (نر او ښځه).

(ای پیغمبره! مشرکانو ته) ووايه چې ايا الله ﷻ (د ذکرو شوو څلورو جوړو څخه) نران (ګډه، وز) حرام کړي دي او که ښځې (ګډه، اوزه) يې حرامې کړې دي او يا يې هغه بچيان (حرام کړي دي) چې د ښځو (ګډو، اوزو) رحمونه (ګېډې) ورباندې مشتملې دي؟ په (يقيني) علم سره خبر راکړئ (چې الله ﷻ د ذکرو شوو څلورو جوړو څخه کوم يو حرام کړی دی) که تاسو رښتيني ياست (چې ذکر شوي تحريمونه الله ﷻ کړي دي).

[۱۴۴] او (الله ﷻ) د اوښانو څخه هم دوه جوړې (اوښ، اوښه پيدا کړې دي) او د غوايانو څخه يې هم دوه جوړې (غوا، غوايه پيدا کړي دي).

(ای پیغمبره! دلته هم ورته) ووايه چې ايا الله ﷻ نران (اوښ، غوايه) حرام کړي دي او يا ښځې (اوښه، غوا) او يا يې هغه بچيان (حرام کړي دي) چې د ښځو (اوښو، غواوو) رحمونه ورباندې اشتمال لري؟

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(که د پیغمبر د خولې سند نشئ وړاندې کولی نو) ایا تاسو هغه وخت حاضر وئ چې الله ﷻ تاسو ته په همدغه تحریم باندې توصیه کوله (د کوم چې تاسو مدعیان یاست)؟.

(یا په بل عبارت: ایا تاسو پخپله پیغمبران یاست چې الله ﷻ درته د خپل حکم وحې کړې وي)؟.

(نو هر کله چې د دواړو جوابونه منفي دي)نو د هغه چا څخه غټ ظالم به بل څوک وي چې په الله ﷻ باندې د دې دپاره دروغ تړي چې بدون د یقیني علم څخه خلک گمراه کړي، بې شکه الله ﷻ ظالم قوم ته لارښوونه نه کوي (او د ایمان راوړلو توفیق نه ورکوي چې استعداد یې د خاورو سره خاورې کړی وي):

## ارتباط

په وړاندینیو ایتونو کښې په څارویو او د کروندې په حاصلاتو کښې د مشرکانو مزخرف (دروغین) احکام ښودل شوي دي او په دې ایتونو کښې الهي حقیقي تشریع بیانه شوې ده او هم پکښې دا ښودله شوې ده چې تشریع (احکام صادرول) یوازې او یوازې د الله ﷻ حق دی او بس، چې حاصل یې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

۱_ ای پیغمبره! مشرکان پوه کړه چې د تشریع او احکام صادرونې حق په الله ﷻ پورې مختص دی، نه مشرکان د تشریع حق لري، نه شیطانان او نه بل څوک. دا ځکه چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ډول-ډول باغونه او کروندې یې د ځمکې څخه رازرغونې کړې دي لکه:

الف: ځینې باغونه یې د داسې بوټو څخه جوړ کړي دي چې په څپرو باندې د ځمکې څخه هسک (پورته) کړی شوي وي، لکه د انگورو چیلې او د نورو ډول-ډول گلانو ونې او بوټي چې په نورو لرگیو باندې پورته کړی شوي وي.

ب: ځینې باغونه په لرگیو باندې نه دي پورته کړی شوي او چیلې ترې نه دي جوړې شوې، چې یا په خپلو ډډونو باندې هسک ولاړ وي، لکه د مڼو باغونه، او یا په ځمکه باندې خواره واره پراته وي، لکه د هندوانو باغونه.

ج: همدارنگه الله ﷻ د خرما (کجورې) ونې د نورو ونو څخه په ممتاز ساختمان سره جوړې کړې دي.

د: د غلو دانو یې مختلف ډولونه او رنگونه پیدا کړي دي چې بیل خاصیتونه او خوندونه لري.

هـ: د زیتون او انار د ونو یې هم داسې باغونه پیدا کړي دي چې د ونو شکلونه یې سره یو بل ته ورته دي مگر د میوو نوعیت یې جدا دی. همدارنگه د انار ټولې ونې یو شکل لري چې یوه بلې ته ورته ده، خو په حاصلاتو کښې یې زښت ډېر اختلاف دی، لکه بې دانه انار، دانه لرونکي انار، خواږه، تروه، میخوش او داسې نور.

نو پوښتنه دا ده چې ایا د ذکر شوو شیانو څخه کوم د الله ﷻ څخه په غیر بل چا پیدا کړی دی؟

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پوره واضحه ده چې جواب منفي دی. نو د ذکرو شوو شیانو په تشریع کښې هم د الله ﷻ څخه پرته بل څوک د دې خبرې حق نه لري چې دا حلال دی او دا حرام. ایا دا عجیبه نه ده چې ټول شیان الله ﷻ پیدا کړي دي او د تحلیل او تحریم حکمونه یې مشرکان صادروي او په الله ﷻ باندې دروغ تړي؟!.

## په کروندو کښې د الله ﷻ حکم

۲_ په ذکرو شوو شیانو کښې د الله ﷻ حکم او تشریع دا ده چې: ای انسانانو! ټول میوجان تاسو ته حلال دي، دا ستاسو د استفادې دپاره دي، مګر لاندې دوه حکمونه په یاد ولرئ:

الف: د ذکرو شوو میوجاتو او حاصلاتو حق فقیرانو ته ورکړئ چې الله ﷻ پکښې په تاسو باندې فرض کړی دی او په راتلونکي کښې به یې درته اندازه وټاکله شي، نو ورکړې ته یې خپل ځانونه چمتو کړئ.

ب: مه په ورکړه کښې اسراف کوئ چې خپلو ځانونو ته هیڅ پرېنږدئ او ټول په فقیرانو باندې ووېشئ، او مه یې په خوراک او استفاده کښې اسراف کوئ چې یا د اندازې څخه اضافه وخورئ چې صحت مو خراب شي، یا یې په غیرشرعي (شیطاني) کارونو کښې مصرف کړئ، یا حلالو ته د حرامو لقب ورکړئ او یا بالعکس په حرامو باندې د حلالو نوم کښېږدئ، تاسو ته د استفادې حق درکړی شوی، نه د تشریع، الله ﷻ خو اسراف کوونکي او د شرعي حدودو څخه تېرېدونکي نه خوښوي.

## د څارویو په باره کښې هدایات

۳_ ای پیغمبره! مشرکانو ته دا هم ووایه چې په څارویو کښې هم د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک د تشریع او حکم صادرونې حق نه لري. دا ځکه چې ټول څاروي هم الله ﷻ پیدا کړي دي، چې ځینې ستاسو دپاره درانه بارونه د ځمکې څخه هسکوي او د یو ځای څخه یې بل ځای ته انتقالوي، په دغه ډول څارویو کښې الله ﷻ د حمل او نقل استعداد پیدا کړی دی چې د یو پلوه قوتناک او زورور دي او د بله پلوه ستاسو دپاره ذلیله او حکم منونکي دي، که بالفرض الله ﷻ تاسو ته نه وی تابع کړي نو یو څاروی به مو نه ایل کړی وی، نه به مو ورباندې څه شی بار کړی وی او بالآخره نه به مو د هغه د شا څخه د سورلۍ استفاده کړې وی.

او ځینې یې داسې پیدا کړي دي چې تاسو د هغوی د پوستکو او وړیو څخه د فرش او ظرف استفاده کوئ او د ذبحې په وخت کښې یې په ځمکه باندې غزوئ (څملوئ) او ستاسو زور ورباندې دپاسه دی، په اسانۍ سره یې ذبحه کولی شئ او هم ترې شوده را لوشلی شئ.

## په څارویو کښې د الله ﷻ حکم

۴_ په څارویو کښې هم الله ﷻ د لاندې دوه حکمونو هدایت او توصیه کوي چې:

الف: الله ﷻ ټول څاروي ستاسو د استفادې دپاره پیدا کړي او تاسو ته یې روزي کړې دي، نو هم ترې دنیاوي ګټه واخلئ چې غوښې او شوده یې وخورئ او نورې استفادې ترې وکړئ، او هم ترې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اخروي کتې د نظره مه غورزوئ، د فقیرانو او مسکینانو مراعات وکړئ او په شریعت کښې چې تاسو ته په صدقاتو کښې څه مقادیر وټاکل شوه هغه په عمل کښې پیاده کړئ.

ب: په څارویو کښې هم د شرعي حدودو څخه تجاوز مه کوئ، او د شیطان د قدمونو پېروي مه کوئ چې د تحلیل او تحریم حق خپلو ځانونو ته ورکړئ. او دا ځکه چې شیطان ستاسو اساسي دښمن دی، د شیطان غوښتنه دا ده چې تاسو په دنیا او آخرت کښې د خسران سره مخامخ کړي.

## د څارویو جوړې

۵ـ ای پیغمبره! مشرکان پوه کړه چې الله ﷻ په څارویو کښې نر او ښځه د دې دپاره پیدا کړي دي چې نسل یې باقي پاتې شي او تاسو ترې په دوامداره توګه استفاده وکړئ، د دې دپاره نه چې تاسو کله نر څاروي ته ګوته ونیسئ چې د دې څخه استفاده حرامه ده او د "حام" نوم ورباندې کېږدئ او کله ښځې څاروی ته دغه لقب ورکړئ او د "بحیره"، "سائبه" او "وصیله" په نومونو باندې یې ملقبې کړئ، او بالآخره کله د څارویو په هغو بچیانو باندې د تحریم او تحلیل حکمونه صادر کړئ کوم چې د مورګانو په ګېډو کښې وي او لا زېږېدلي نه وي؛ چې که دا ژوندي وزېږېده نو یوازې نارینه یې غوښه خوړلی شي او زنانه پرې ګناهګارېږي، او داسې نور.

لنډه دا چې الله ﷻ د څارویو اته جوړې پیدا کړې دي چې تفصیل یې دا دی:

الف: دوه جوړې (نر او ښځه) یې د ګډو څخه پیدا کړې دي او دوه جوړې (نر او ښځه) یې د اوزو څخه، چې ټول څلور کېږي.

نو ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه چې آیا الله ﷻ د دغو دواړو نوعو نران (ګډ، اوز) حرام کړي دي او که د دواړو نوعو ښځې (ګډه، اوزه) یې د حلالتوب څخه غورزولي دي او بالآخره یا یې د دغو دواړو بچیو (وري، سېرلي) ته د حرامتوب لقب ورکړی دی؟

بلکې د ذکرو شوو حکمونو څخه یو حکم هم الله ﷻ نه دی کړی، که تاسو یې په الله ﷻ باندې ورتپئ نو د کوم پیغمبر د خولې سند وړاندې کړئ او یا ادعا وکړئ چې دا حکم تاسو پخپله د الله ﷻ څخه اورېدلی دی.

ب: همدارنګه الله ﷻ دوه جوړې (نر او ښځه) د اوښانو څخه پیدا کړي دي او دوه جوړې یې د غوایانو څخه، چې ټول څلور جوړې کېږي.

ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه چې ایا الله ﷻ د دغو دواړو نوعو نران (اوښ، غوایه) حرام کړي دي، یا یې د دواړو نوعو په ښځو (اوښه، غوا) باندې دغه حکم کړی دی او بالآخره یا یې د دواړو بچیانو (جونګې، خوسکي) ته دغه لقب ورکړی دی؟!.

دلته هم الله ﷻ د ذکرو شوو حکمونو څخه یو حکم هم نه دی کړی، که نه نو دلیل وړاندې کړئ چې دا حکم یې ستاسو په حضور کښې کړی دی او یا تاسو ته د کوم پیغمبر د خولې څخه پاتې دی. نو کله چې ستاسو سره یو دلیل هم نشته نو معلومه شوه چې تاسو په الله ﷻ باندې بې سنده

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دې دپاره دروغ تړي ترڅو خلک تېر باسي؛ او سمه لاره ترې غلطه کړئ. او الله ﷻ عنادي ظالم قوم ته هدایت نه په نصیب کوي او توفیق نه ورکوي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ مَّعۡرُوشَٰتٖ وَغَيۡرَ مَعۡرُوشَٰتٖ ﴾ دواړه کلمې اصلًا د "عرش" څخه اشتقاقي شوي دي، عرش د کوټې چت او یا څپرکي ته وایي چې د سیوري دپاره جوړ کړی شوی وي[۱]. خو په دې مقام کښې یې مفسرینو کرامو متعدد تفسیرونه کړي دي[۲] چې که ټول هم مراد شي څه منافات سره نه لري. مګر د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) څخه لاندې دوه تفسیرونه روایت شوي دي[۳]:

الف: ﴿ مَّعۡرُوشَٰتٖ ﴾ هغه باغونه دي چې په څمکو باندې خواره واره وي، لکه د هندوانو باغ، او ﴿ وَغَيۡرَ مَعۡرُوشَٰتٖ ﴾ هغه دي چې په خپل ډډ باندې هسک ولاړ وي او د چا پورته کولو ته حاجت ونه لري، لکه د کجورو باغ.

ب: ﴿ مَّعۡرُوشَٰتٖ ﴾ هغه دي چې خلکو کرلي (کښېنولي) وي او ﴿ وَغَيۡرَ مَعۡرُوشَٰتٖ ﴾ هغه دي چې په خپل سر په ډاګونو او غرونو کښې را زرغون شوي وي.

## یادونه

۲ـ د ﴿ مُشۡتَبِهٗا ﴾ او ﴿ وَغَيۡرَ مُتَشَٰبِهٖ ﴾ دواړه کلمې مونږ د [الأنعام:۹۹] آیت لاندې د الله ﷻ په توفیق په تحقیقي توګه تحلیلي کړې دي چې بیا تحلیلولو ته یې ضرورت نه ګورو.

## حَصَاد څه معنی؟

۳ـ د "حَصَاد" کلمه د کښتونو پرېکولو او رېبلو ته وایي، برابره خبره ده چې په وخت سره وي لکه چې غلې دانې پخې شي او یا میوه جات ورسېږي او یا بې وخته وي لکه چې شنه کرونده د پخېدلو څخه وړاندې ورېبله شي[۴].

په دې مقام کښې اوله معنی مراده ده چې حاصل یې داسې کېږي چې د کښتونو او میوجاتو حق د حاصلاتو د راغونډولو په وخت کښې ورکړئ چې کله ستاسو د تصرف لاندې راشي. او داسې بې مطلب نه دی چې د رېبلو په وخت کښې یې، چې لا د بوسو او وښو څخه مو نه وي صاف کړي، حق ورکړئ[۵]. البته چې د رېبلو وخت ته یې د زیات تاکید دپاره اضافت وکړی شو ترڅو پکښې څوک سستي ونه کړي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۴۱
(۲) التفسیر الکبیر ج۱۳ ص۲۱۱
(۳) تفسیر القرطبي ج۸ ص۹۸
(۴) مفردات الراغب ص۱۱۹
(۵) روح المعاني ج۸ ص۳۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو





## د ځمکنیو حاصلاتو زکات

۴ـ د زکاتونو بحث د فقهي په کتابونو کښې ښه تفصیلوار بیان شوی دی، مګر په دې مقام کښې د آیت شریف د تفسیر په ارتباط سره لاندې معلومات محترمو لوستونکو ته وړاندې کوو:

الف: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د تفسیر په مطابق دلته د حق څخه زکات مراد دی[١]، چې په اجمالي توګه په مکه معظمه کښې فرض کړی شوی وه او مقادیر او نور تفصیلات یې په مدینه منوره کښې د هجرت څخه وروسته واضحه شوه[٢].

ب: د ځمکې د حاصلاتو د وضاحتونو څخه لاندې یو آیت او یو حدیث د مثال په توګه ولولئ:

الله ﷻ فرمایي: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا كَسَبۡتُمۡ وَمِمَّآ أَخۡرَجۡنَا لَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ﴾ [البقرة: ٢۶٧] یعنې: ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی! د هغو پاکېزه شیانو څخه په فقیرانو باندې) نفقه وکړئ چې تاسو یې په کسب سره لاس ته راوړئ او د هغو څخه هم چې مونږ درته د ځمکې څخه را بهر کړي دي.

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «فِيمَا سَقَتْ السَّمَاءُ وَالْعُيُونُ أَوْ كَانَ عَثَرِيًّا الْعُشْرُ وَمَا سُقِيَ بِالنَّضْحِ نِصْفُ الْعُشْرِ»[٣] یعنې: په هغو حاصلاتو کښې چې په باران یا چینو باندې خړوبېږي او یا سېلابي وي (د سېلاب په اوبو باندې اوبه کېږي) لسمه برخه زکات واجب دی، او هغه چې (د څاګانو څخه په راویستل شوو اوبو باندې خړوبېږي نیمایي عشر(شلمه برخه) واجبه ده.

د ذکرو شوو آیت او حدیث او هم د دغه آیت څخه چې اوس پکښې بحث روان دی لاندې نکات څرګندېږي:

اول: د ځمکنیو حاصلاتو زکات لسمه برخه او یا شلمه برخه ده او بس.

دوهم: په ځمکنیو حاصلاتو کښې نصاب شرط نه دی[۴]، بلکې په لږو کښې لږ او په ډېرو کښې ډېر لازم دی، اګر که یو من یا یو پاو وي.

دریم: په ذکر شوي زکات کښې د کال تېریدنه شرط نه ده، که بالفرض سږي ته د یوې ځمکې څخه په کال کښې څو ځله حاصلات لاس ته ورشي نو هر ځل پکښې زکات واجب دی.

څلورم: همدارنګه په نوموړي زکات کښې د حاصلاتو نوعیت څه اثر نه لري، نو هر شی چې د کروندو څخه په قصدي توګه چاته لاس ته ورشي زکات پرې واجبېږي. اما په بوسو، وښو او لرګیو کښې زکات نشته[۵]، چې دا قصدي حاصلات نه دي.

---

(١) تفسیر الخازن ج٢ ص۴٩۵
(٢) اضواء البیان ج٢ ص١٨٩
(٣) صحیح البخاري ج١ ص٢٠١
(۴) شرح معاني الآثار للطحاوي ج١ ص٣۴۶
(۵) احکام القرآن للجصاص ج٢ ص٩

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: نبي کريم ﷺ معاذ ﷺ (جليل القدر صحابي) يمن ته د والي (حاکم) په حيث استولی وه[۱]، يوه ورځې نوموړي نبي کريم ﷺ ته مکتوب ورواستاوه چې د شنو بوټو (ترکارين) پوښتنه يې ترې کوله (چې ايا په دغو کښې زکات شته او که نه؟)، نو نبي کريم ﷺ په جواب کښې وفرمايل چې: «لَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ»[۲] په دغو کښې څه شی نشته.

نو معلومه شوه چې په زکات کښې د حاصلاتو نوعيت بې اثره نه دی او په ځينو حاصلاتو کښې زکات نشته؟!

مونږ وايو چې: څرنګه چې نوموړي صحابي د حاکم په حيث پوښتنه کړې وه چې ايا زه په ترکاريو کښې زکات راغونډ کړم او که څنګه؟ نو نبي کريم ﷺ ورته اجازه ورنه کړه. دا د دې کبله نه چې په هغو کښې زکات نشته، بلکې د دې کبله چې که حکام دغه کار وکړي نو زکات به وروست او خوسا شي چې ژر يې په مستحقينو باندې نه شي ويشلی، په کار دي چې خاوندان يې پکښې پخپله زکات ورکړي[۳]. نو د نصوصو په منځکښې څه تناقض نشته.

## اسراف څه معنی؟

۶_ د ﴿وَلَا تُسْرِفُوٓاْ﴾ کلمه د "اسراف" څخه اخستله شوې ده. "اسراف" او "سرف" _لکه "شرف"_ د حد څخه تجاوز ته ويل کېږي، برابره خبره ده چې تجاوز په کيف (صفت) کښې وي او يا په کم (عدد) کښې[۴].

علماوو کرامو يې په دې مقام کښې ډېرې معناوې کړي دي[۵] خو مونږ ته دا بهتره ښکاري چې د شرعي حدودو څخه وتل، په هر ډول چې وي، ټول په ذکره شوې جمله کښې شاملېږي. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: په خپلو څارويو کښې د شريعت د اجازې څخه په غير د تحريم حکم کول اسراف دی، لکه چې مشرکانو به ځينې څاروي د بوتانو او منجاورانو په نامه وقف کول.

ب: خپل حلال مال د الله ﷻ په معصيت کښې خرڅ کول هم اسراف دی، که څه هم ډېر لږ او کوچنی مال وي.

ج: د خپل مال څخه د ورېښمو جامې اغوستل د نارينه وو دپاره هم اسراف ګڼل کېږي.

د: خپل ټول مال فقيرانو ته ورکول چې د خپل عيال فرضي نفقه يې په غاړه پاتې شي هم د اسراف څخه شمېرل کېږي او بالمقابل فرضي زکات نه ورکول هم اسراف دی.

---

۱) جامع الترمذي شريف ج۱ ص۲۴۷
۲) جامع الترمذي ج۱ ص۱۳۸
۳) بدائع الصنائع ج۲ ص۵۹
۴) مفردات الراغب ص۲۳۶
۵) المسير ج۳ ص۹۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: همدارنګه د دخل څخه اضافه خرڅ کول، یا په بل عبارت: د خپل توان څخه زیات مصرف کول، هم په اسراف کښې شامل دي.

و: په خپل عیال یا په خپل ځان باندې د توان په حالت کښې تنګي وروستل هم اسراف دی.

ز: په اوداسه کښې د شریعت د چوکاټ څخه اضافه اوبه مصرفول هم اسراف دی، لاندې احادیث ولولئ:

یوه ورځې نبي کریم ﷺ سعد ؓ ولید چې اودس یې کاوه (او اوبه یې زیاتې استعمالولې) نو ورته یې وویل چې: «مَا هَذَا السَّرَفُ» دا څه اسراف دي (چې ته وربانديې مشغول یې)؟! هغه وویلې چې ایا په اوداسه کښې هم اسراف شته؟! نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «نَعَمْ وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهْرٍ جَارٍ»[۱] یعني: هو! اګر که ته په جاري (بهیدونکې) ویالې باندې وې، (که اوبه نه ضایع کېږي نو وخت خو دې ضایع کېږي).

لنډه دا چې اسراف کول حرام دي، د ذکر شوي بیان څخه سړی بنه پوهېږي چې اسراف څه شي ته وايي؟ نو په کار دی چې سړی خپل ځان د شیطان د ورونو څخه ونه ګرځوي. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓا۟ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِ﴾ [الإسراء: ۲۷] یعني: یقینًا اسراف کوونکي د شیطانانو ورونه دي (د دوی غوندې ناشکره دي).

## 'حَمُولَةً وَفَرْشًا' څه معنی؟

۷_د ﴿حَمُولَةً﴾ کلمه جمعه ده او د خپل لفظ څخه مفرد نه لري[۲] او ﴿وَفَرْشًا﴾ کلمه مصدر ده چې د مفروش په معنی سره ده[۳]. په دې مقام کښې یې علماوو کرامو متعددې معناوې کړې دي[۴]، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: 'حَمُولَةً' هغه ځاروي دي چې درانه شیان پورته کوي او 'فَرْش' د هغه ځاروي څخه عبارت دی چې د ذبحې دپاره په ځمکه باندې غزول کېږي او یا یې د وړیو او وېښتانو څخه فرشونه جوړېږي[۵].

ب: 'حَمُولَةً' د غټو ځارویو څخه عبارت ده او 'فرش' د وړو ځارویو په معنی دی لکه جونګي او خوسکیان[۶].

مګر مونږ ته د 'لف او نشر غیر مرتب' په اعتبار سره داسې ښکاري چې 'حَمُولَةً' به د اوښانو او غوایانو څخه عبارت وي چې درانه شیان حمل کولی شي او یبوه او جغ په غاړه باندې وړلی شي چې

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۱ ص۳۴
(۲) روح المعاني ج۸ ص۳۹
(۳) مفردات الراغب ص۳۸۹
(۴) زاد المسیر ج۳ ص۹۴؛ البحر المحیط ج۴ ص۶۷۰
(۵) تفسیر الکشاف ج۲ ص۷۳
(۶) التفسیر الکبیر ج۱۳ ص۲۱۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځمکه قولبه کړي، او د "فَرْش" لقب په ګډو او اوزو ته ورکړی شوی وي چې د قد د وړوکوالي د کبله داسې ګڼل شوي دي لکه چې په ځمکه باندې خواره واره پراته وي. دا ځکه چې د ﴿ حَمُولَةً وَفَرْشًا ﴾ څخه د ﴿ ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ ﴾ کلمه بدل واقع شوه چې همدغه ذکر شوي څاروي پکښې شرحه شوي دي.

لنډه دا چې د ﴿ حَمُولَةً وَفَرْشًا ﴾ دواړه کلمې هغو دوه وو ﴿ مَّعْرُوشَٰتٍ وَغَيْرَ مَعْرُوشَٰتٍ ﴾ کلمو ورته دي کومې چې د کروندو په بیان کښې لږ څه وړاندې ذکرې شوې دي.

## "زَوج" څه معنی؟

۸_ د ﴿ أَزْوَٰجٍ ﴾ کلمه د "زوج" جمعه ده چې مونږ ترې په جوړې سره تعبیر کوو. دوه شیان چې یو د بل سره مقارنت او پیوستون ولري لکه نارینه او ښځینه، یا لکه دوه څپلۍ اودوه پښې، هر یوه ته هم زوج ویل کېږي لکه څنګه چې د دواړو مجموعې ته زوج وایي[1].

په دې مقام کښې همدغه اول استعمال په نظر کښې نیولی شوی دی، د همدې کبله د ګډو او اوزو او هم د اوښانو او غوایانو مجموعې ته ﴿ ثَمَٰنِيَةَ أَزْوَٰجٍ ﴾ ویل شوی دی، که بالفرض د دوهم استعمال مراعات شوی وی نو "أَرْبَعَةَ أَزْوَاجٍ" به نازل شوی وی.

## سوال جواب

۹_ که څوک وایي چې: الله ﷻ په وړاندینیو ایتونو کښې د مشرکانو د تحریم ټول صورتونه په مستدله توګه رد کړه چې هیڅوک د الله ﷻ څخه په غیر د تحریم او تحلیل (تشریع) حق نه لري. نو پوښتنه دا ده چې په څه منظور په وروستنیو ایتونو کښې مشرکان مخاطب کړی شوه چې ایا د څارویو د نر او ښځې د تحریم او یا د څارویو د بچیانو د تحریم حکم الله ﷻ صادر کړی دی؟

مونږ وایو چې: په دغو ایتونو کښې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته د یوې ډلې مشرکانو د مباحثې جواب وربښودلی دی چې په همدې موضوع کښې ورغلي وه. هغه دا چې یوه ورځې د مشرکانو یوه غټه ډله د مالک بن عوف په مشرۍ نبي کریم ﷺ ته ورغله او پوښتنه یې ترې وکړه چې ایا تا د حرام کړی شوو څارویو د تحلیل حکم صادر کړی دی؟ نو الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته ذکر شوی جواب ورزده کړ چې داسې-داسې ورته ووایه. نو حاصل یې دا دی:

ای مشرکانو! الله ﷻ خو دغه اته جوړه څاروي د خلکو د انتفاع دپاره خلق کړي دي او دوی ته یې روا کړي ده چې د غوښو او سورلیو څخه یې ګټه واخلي. نو کله چې تاسو د ځینو څارویو څخه استفاده حرامه بولئ او نسبت یې الله ﷻ ته کوئ چې دا د ده ﷻ حکم دی نو تاسو ته په کار دي چې جواب راکړئ چې: الله ﷻ د لاندینیو دریوو وجو څخه د کومې یوې وجې د کبله ذکر شوی حکم صادر کړی دی:

---

(۱) مفردات الراغب ص ۲۲۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: که د تحریم وجه يې ذکورت (نرتوب) گڼئ چې د همدې کبله د نر اوښ (د حام په نوم) سورلي حرامه ده، نو جواب راکړئ چې ایا په څارویو کښې همدا یو حام نر دی؟! نو په کار وه چې ناسو نر گډه، نر اوز او نر غوایه هم حرام گڼلي وی.

ب: که د تحریم وجه انوثت (ښځتوب) په نظر درځي نو د تحریم حکم ته مو په کوم دلیل په دریوو څارویو (بحیره، سائبه، وصیله) پورې اختصاص ورکړی دی؟

ج: که د تحریم وجه درته ولدیت ښکاري چې په یوازې زنانه وو باندې يې حرام بولئ نو بچیان خو یوازې په اوښه پورې اختصاص نه لري، نور څاروي هم بچیان زېږوي، په هغو باندې د تحریم حکم ولې نه صادروئ؟. یا په بل عبارت: که ولدیت د تحریم وجه وي نو په کار دی چې د هیڅ څاروي غوښه حلاله ونه گڼئ څکه چې داسې څاروی نه موندل کېږي چې هغه د څاروي بچی نه وي او د هغه څخه نه وي زېږېدلی.

نو کله چې د جرگې مشر (مالک بن عوف) ذکره شوې خطابه واورېده، ساکت پاتې شو او ﴿فَبُهِتَ ٱلَّذِى كَفَرَ﴾ [البقرة:۲۵۸] ورباندې صادق شو او بالآخره نبي کریم ﷺ يې مخاطب کړ چې: "تَكَلَّمْ وَأَنَا أَسْمَعُ"[۱] یعنې ته خبرې کوه او زه به يې اورم (ماسره د خبرو کولو توان پاتې نه دی).

نوموړی څکه متحیر شو که ویلي يې وی چې په څارویو کښې د تحریم انتخاب الله ﷻ کړی دی، نو د دې جواب يې نه شو ویلی چې آیا ته پخپله پیغمبر يې او یا د پیغمبر د خولې کوم سند لرې؟، او که ویلي يې وی چې دا زمونږ انتخاب دی نو خپل ځان به يې په لوی لاس ملامته کړی وی څکه چې دوی خو دعوه کوله چې دا انتخاب زمونږ نه دی دا د الله ﷻ د پلوه دی.

﴿قُل لَّآ أَجِدُ فِى مَآ أُوحِىَ إِلَىَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُۥٓ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُۥ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ ۚ فَمَنِ ٱضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤٥﴾ وَعَلَى ٱلَّذِينَ هَادُوا۟ حَرَّمْنَا كُلَّ ذِى ظُفُرٍ ۖ وَمِنَ ٱلْبَقَرِ وَٱلْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَآ إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَآ أَوِ ٱلْحَوَايَآ أَوْ مَا ٱخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ۚ ذَٰلِكَ جَزَيْنَٰهُم بِبَغْيِهِمْ ۖ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿١٤٦﴾ فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَٰسِعَةٍ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُهُۥ عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿١٤٧﴾﴾

[۱۴۵] (ای پیغمبره! ورته) ووایه چې زه خو په هغه شي کښې چې ماته (تر اوسه پورې) وحې کړی شوې دی، حرام کړی شوی شی نه مومم په هیڅ خوړونکي باندې چې هغه خوري (نارینه وي او

[۱] البحر المحيط ج۴ ص۶۷۱،

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که ښنځینه) مګر دا چې هغه مرداره وي یا بهیدونکې وینه وي او یا د خنزیر غوښه وي ځکه چې دا (خنزیر) بې شکه پلیت (نجس العین) دی، او (بالاخره) یا فسقي څاروی وي چې د الله ﷻ د نامه څخه په غیر پرې بل اواز پورته کړی شوی وي.

نو هغه څوک چې ناچاره کړی شي (او د لوږې مړ کېږي) په داسې حال کښې چې (په بل ناچاره باندې) بغاوت کوونکی نه وي او هم (د شرعي حد څخه) تجاوز کوونکی نه وي (چې د ضرورت څخه اضافه وخوري) نو یقینًا ستا رب ﷻ ښنونکی (او) مهربان دی (ذکر شوي شیان یې ورته حلال کړي دي).

[۱۴٦] او په هغو کسانو باندې چې په یهودیت کښې شامل دي مونږ هر نوک درلودونکی څاروی حرام کړی وه (لکه اوښ او نور)، او د غوایانو او ګډو څخه موورباندې د دغو (څارویو) وازدې (حرامې کړې وې) مګر هغه وازده چې یا د دواړو په شاګانو باندې بار وي او یا په کولمو باندې او یا هغه چې د هډوکي سره نښتې وي (لکه د لم وازده).

دا (په یهودو باندې ځکه حرام کړی شوي وه چې) دوی ته مو د دوی د بغاوت (ظلم) د کبله (دنیاوي) جزا ورکړې وه، او (یهودان ترې منکر دي مګر) یقینًا مونږ رښتیا ویونکي یاستو.

[۱۴۷] نو (اې پیغمبره!) که (د دغو دلائلو څخه وروسته هم) مشرکانو تاته د دروغو نسبت وکړ نو (ورته) ووایه چې: ستاسو رب ﷻ (اې مشرکانو) د پراخه رحمت خاوند دی (که نه نو تاسو به یې پوهنا کړي وی) او د ده ﷻ عذاب د مجرمانو (ظالمانو) د قوم څخه نه اړولی کېږي (ضرور به پرې مبتلا شي).

## ارتباط

په وړاندېنیو نژدې ایتونو کښې د مشرکانو څخه غوښتل شوي وه چې د هغه تحلیل او تحریم د ثبوت په باره کښې کوم چې تاسو یې مرتکب شوي یاست څه علمي دلیل وړاندې کړئ، چې یا درته الله ﷻ وحې کړی وي او یا مو د کوم پیغمبر څخه اوریدلی وي. کله چې هغوی ساکت پاتې شوه نو په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته امر شوی دی چې د هغوی مزخرفات په علمي دلیل سره رد کړي چې حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

۱ــ اې پیغمبره! مشرکانو ته ووایه چې زه پخپله پیغمبر یم زه په خپله وحې کښې د هغه څه تحریم نه مومم کوم چې تاسو یې د تحریم مدعیان یاست، زما وحې دا ده چې سمدستي صرف لاندې شیان په هر خوړونکي باندې حرام دي، برابره خبره ده چې نارینه وي او که زنانه:

الف: مرداره حرامه ده، چې یو څاروی پرته د شرعي ذبحې څخه مړ شي او روح ورکړي.

ب: دارې وهونکې وینه؛ چې د رګونو څخه دارې وهي او په قوت سره را بهر کېږي.

ج: د خنزیر (خوګ) غوښه او نور شیان لکه وازده او ماغزه، ځکه چې دا نجس العین دی او هرڅه یې حرام دي.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: هغه څاروي چې د ذبحې په وخت کښې ورباندې د الله ﷻ د نامه څخه په غیر د بل چا یا د بل شي نوم واخستلی شي، او ذبحه کوونکی پرې خپل ځان فاسق جوړ کړي.

د ذکرو شوو شیانو د تحریم څخه هغه څوک وتلي دي چې خوراک ته یې اړ شي او د مجبوریت د کبله یې په خوراک باندې اخته شي، خو په دې شرط چې په بل مضطر (مجبور) باندې بغاوت ونه کړي چې د ذکرو شیانو څخه کوم یو شی یې د لاسه واخلي او خپل مجبوریت پرې پورته کړي، او هم په دې شرط چې په خوراک کښې د شرعي جواز څخه تجاوز ونه کړي چې د مجبوریت د پورته کولو څخه زیات وخوري یا ورباندې ځان موړ کړي.

دا څکه چې: ای پیغمبره! ستا رب ﷻ بښونکی دی، که د کومې یوې مړې په زیادت کښې خطا شي په هغې باندې به یې ونه نیسي، او مهربان دی چې د مجبوریت په حال کښې یې ذکر شوي شیان حرام ونه ګرځول.

۲ـ ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه چې کوم څاروی چې تاسو یې حرام بولئ هغه په پخوانیو ادیانو کښې هم حرام نه وه. هو یوازې په یهودانو باندې مونږ دا شیان حرام کړي وه:

الف: د هغه څاروي غوښه مو په هغوی باندې حرامه کړې وه کوم چې نوک لرونکي وي او د پښو ګوتې یې جدا-جدا نه وي، چې یا بالکل ګوتې ونه لري لکه اوښ، او یا ګوتې ولري خو یوه د بلې سره نښتې وي لکه بطه (مرغاوۍ) او داسې نور.

ب: د غوایانو او ګډو څخه مو په هغوی باندې صرف وازده حرامه کړې وه خو لاندې وازدې د تحریم څخه وتلې وې:

اول: کومه وازده چې د ذکرو شوو دواړو څارویو په شا باندې پرته وي، هغه حلاله وه.

دوهم: کومه وازده چې د دواړو په کولمو باندې پرته وي هغه هم حرامه نه وه.

دریم: کومه وازده چې د هډوکي سره اتصال لري او وریوری نښتې وي هغه هم د تحریم څخه وتلې وه، لکه د ګډې د لم وازده.

د ذکر شوو دریواړو نوعو څخه په غیر نورې هر ډول وازدې په یهودانو باندې حرامې وې، لکه د جګر وازده او داسې نور.

۳ـ ای پیغمبره! دا هم ورته ووایه چې په یهودانو باندې هم ذکر شوي محرمات په اول وخت کښې حرام نه وه خو کله چې هغوی بغاوت وکړ نو دنیاوي جزا مو ورکړه او ذکر شوي شیان مو ورباندې حرام کړه. یا په بل عبارت: چې کله به یهودانو په ظلم او بغاوت کښې اضافه کوله مونږ به په دوی باندې د خپلو نعمتونو په تحریم کښې زیادت کاوه، ترڅو چې په هغوی باندې ذکر شوي شیان ټول حرام کړی شوه.

که څه هم یهودان ادعا کوي چې ذکر شوي محرمات یوازې په دوی (یهودانو) باندې حرام نه وه بلکې آن د ابراهیم ﷺ څخه را پاتې دي، مګر خبره دغسې نه ده، مونږ په هره خبره کښې رښتیني

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یاستو، یهودان ځکه دا خبره کوي ترڅو دوی خپل ځانونه د بغاوت د پېغوره خلاص کړي، خو الله ﷻ درته حقیقت څرګند کړ.

۴_ ای پیغمبره! په ذکر شوي بیان سره په اثبات ورسېده چې د مشرکانو انحرافي محرمات پر پیغمبر ته هم الله ﷻ نه دي وحې کړي، نه تاته او نه ستا څخه وړاندې نورو پیغمبرانو علیهم السلام ته. نو که دوی د ذکر شوي ثبوت سره‌سره ستا تکذیب کوي نو ورته ووایه چې ای مشرکانو! ستاسو رب ﷻ د پراخه رحمت خاوند دی که نه نو په کار وه چې سمدستي یې درباندې عذاب نازل کړی وی.

خو دا په یاد ولرئ! چې د عذاب د نزول تاخیر د عفوې معنی نه ورکوي، په شپو وړاندې یا وروسته به تاسو د عذاب سره مخامخ کېږئ، دا ځکه چې د مجرم قوم څخه د الله ﷻ عذاب په کلي توګه په شا نه شي وهل کیدی چې دوی ترې نجات ومومي.

## توضیحات

۱_ الله ﷻ په دې مقام کښې نبي کریم ﷺ ته د ﴿أُوحِيَ إِلَيَّ﴾ جمله تلقینه کړه او د ﴿أُنزِلَ إِلَيَّ﴾ جمله یې ورته تلقینه نه کړه ترڅو احادیثو ته هم شامله شي. نو د معنی حاصل یې داسي کېږي: کوم محرمات چې ما ته وحې شوي دي، په جلي وحې (قرآن کریم) سره او یا په خفي وحې (احادیثو) سره، هغه دا څلور شیان دي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: محرمات خو په څلورو کښې حصر نه دي بلکې په احادیثو کښې ډېر ساکښان حرام کړی شوي دي، لکه کورنی خر او داسې نور، چې ځنیو مفسرینو کرامو یې مربوط احادیث راغونډ کړي دي[1].

• مونږ وایو چې: د [البقرة:۱۷۳] آیت لاندې د دې مقام پورې مربوط په زړه پورې تحقیقات او هم د ذکر شوي سوال جوابونه لیکلی شوي دي چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، فقط همدومره وړاندې په دې مقام کښې اضافه کوو چې ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې ذکر شوی آیت شریف په مکه معظمه کښې نازل شوی دی چې تر هغه وخته پورې نور محرمات نبي کریم ﷺ ته نه وه وحې کړی شوي[2] بلکې په مدینه منوره کښې د محرماتو لست په احادیثو سره بشپړ شو. ځینو مفسرینو کرامو[3] نور جوابونه هم کړي دي چې دا کتاب یې د اوږدوالي د کبله د رانقلولو حوصله نه لري.

## یادونه

۳_ کوم څاروی چې د غیرالله په نامه باندې ذبحه شي هغه په آیت شریف کښې د ﴿فِسْقًا﴾ په

---

(۱) تفسیر الخازن ج۲ ص۵۰۰؛ احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۱۷
(۲) المحرر الوجیز ج۶ ص۱۶۸
(۳) التفسیر الکبیر ج۱۳ ص۲۲۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نامه یاد کړی شو، دا ځکه چې دا کار په فسق او کفر کښې ژورې جرړې لري، ته به وایې چې تول نسق دی او د شریعت څخه وتل دي. همدغه ډول ته الله ﷻ اشاره کوي چې فرمایي: ﴿ وَإِنَّهُۥ لَفِسْقٌ ﴾ [الأنعام: ١٢١] او یقینًا دغه کار (چې د بوتانو په نامه ذبحه وکړي او بیا یې وخوري) فسق دی او د شریعت د چوکاټه وتل دي.

## "حَوَايَا" څه معنی؟

۴ـ د "حَوَايَا" کلمه د "حَوِيَّةٌ" جمعه ده او "حَوِيَّةٌ" کولمې ته وايي[1]. ذکره شوې کلمه په ﴿ ظُهُورُهُمَا ﴾ باندې عطفه ده[2]. نو د معنی حاصل یې داسې کیږي چې هغه وازده هم په یهودانو باندې حرامه نه وه کومه چې د ذکر شوو دواړو څارویو په کولمو باندې پرته وي.

## یادونه

۵ـ یهودان شرمیږه چې په دوی باندې د جنایتونو د کبله ځینې حلال شیان حرام کړی شوي وه، نو د همدې کبله دوی د جنایتي محرماتو څخه بالکل انکار کاوه او دعوه یې کوله چې دا شیان د پخوانیو شریعتونو څخه را پاتې دي. چې پوره بحث یې د [آل عمران: ۹۳] آیت لاندې تېر شوی دی او بیا لیکلو ته یې ضرورت نه ګورو.

﴿ سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ لَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكْنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن شَىْءٍ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ حَتَّىٰ ذَاقُوا۟ بَأْسَنَا ۗ قُلْ هَلْ عِندَكُم مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوهُ لَنَآ ۖ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَخْرُصُونَ ﴿١٤٨﴾ قُلْ فَلِلَّهِ ٱلْحُجَّةُ ٱلْبَٰلِغَةُ ۖ فَلَوْ شَآءَ لَهَدَىٰكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٤٩﴾ قُلْ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ يَشْهَدُونَ أَنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَ هَٰذَا ۖ فَإِن شَهِدُوا۟ فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْـَٔاخِرَةِ وَهُم بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ﴿١٥٠﴾ ﴾

[۱۴۸] ژر دی چې هغه کسان به ووايي چې شرک یې کړی دی (داسې چې) که د الله ﷻ اراده شوې وی نو مونږ به شرک نه وی کړی او نه زمونږ پلرونو، او نه به مونږ څه شی حرام کړی وی. همدغه ډول د دروغو نسبت (پیغمبرانو علیهم السلام ته) هغو کسانو هم کړی وه چې د دوی څخه پخوا وه (د دوی پلرونه وه)، آن تر دې چې زمونږ عذاب به یې وڅاکه (او د هلاک سره به مخامخ شوه).

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۳۷

(۲) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۱۹۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


(ورته) ووایه چې ایا ستاسو په نزد څه پوهه (علمي دلیل) شته چې مونږ ته یې راوباسئ (او مونږ ته پرې قناعت راکړئ)؟.
(تاسو علمي دلیل نه لرئ ځکه چې) تاسو د بل هیڅ شي پېروي نه کوئ مګر د ګومان، او تاسو نه یاست مګر اټکلونه کوئ (او ثبوت درسره نشته).
[۱۴۹] (ورته) ووایه چې نو نهایت قوي حجت خاص الله ﷻ لره دی (او بس)، نو که اراده یې شوې وی نو تاسو ټولو ته به یې هدایت کړی وی (او مطلب ته به یې رسولي وی).
[۱۵۰] (ورته) ووایه چې خپل هغه شاهدان راولئ چې (ستاسو دپاره شاهدي ورکړي چې) یقیناً دغه (شیان چې تاسو یې حرام بولئ) الله ﷻ حرام کړي دي.
نو (ای پیغمبره) که (بالفرض) دوی (شاهدانو) شاهدي ورکړه نو ته د دوی سره شاهدي مه ورکوه (د دوی شاهدي مه قبلوه) او د هغو خلکو د خواهشاتو پیروي مه کوه چې زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي او د هغو خلکو (د خواهشاتو پیروي هم مه کوه) چې په آخرت باندې په داسې حال کښې عقیده نه لري چې د خپل رب ﷻ سره (په عبادت کښې بوتان) برابروي. (ستا امت دې نه د هغوی شاهدي مني او نه دې د کافرانو د خواهشاتو پیروي کوي).

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې په اثبات ورسېده چې مشرکان د خپلو مزخرفاتو په اثبات کښې د علمي دلایلو څخه عاجز دي، په دې ایتونو کښې الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته خبر ورکوي چې مشرکان به ډېر ژر یو بل ډول دلیل ته لاس واچوي او هغه به علمي دلیل وګڼي، چې که الله ﷻ زمونږ په کړنلاره باندې راضي نه وی نو د هغې د تحقق مخه به یې نیولې وی او مونږ به توان نه درلودی چې په هغې باندې عمل وکړو، نو معلومه شوه چې دا شرعي کړنلاره ده.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: ای پیغمبره! ژر دی چې مشرکان به په فاسد استدلال سره په خپلې شرکي کړنلارې باندې د حقیت پرده واچوي، هغه دا چې دوی به ووایي مونږ چې هرڅه کړي دي او په هر څاروي باندې مو چې د حرام کړی شوي نوم ایښی دی دا ټول مو د الله ﷻ په اراده باندې کړي دي، که د الله ﷻ اراده شوې وی نو نه به مونږ شرک کړی وی او نه زمونږ پلرونو او نه به مو په کوم څاروي باندې د تحریم حکم کړی وی؛ نو کله چې الله ﷻ د کامل قدرت سره-سره مونږ ذکرې شوې کړنلارې عملي کولو ته پرېږدي نو معلومه شوه چې په همدې باندې الله ﷻ راضي هم دی، او ته په الله ﷻ باندې دروغ تړې چې دا کار د الله ﷻ خوښ نه دی.
۲ـ ای پیغمبره! لکه څنګه چې ستا د زمانې مشرکان تاته د دروغو نسبت کوي او په خپلې کړنلارې باندې د حقې لارې نوم ږدي همدارنګه د دوی پخوانیو یا د دوی پلرونو او نیکونو هم د پیغمبرانو علیهم السلام تکذیب کړی وه او په خپلو شرکیاتو او کفریاتو باندې یې د حق نوم ایښود، نو لکه

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څنګه چې هغوی ته دغه نوم اینبودولو څه کته ونه رسوله او په الهي عذاب باندې ککړ شوه مدارنګه به دوی هم بې تعذیبه پاتې نه شي.

۳_ ای پیغمبره! د مشرکانو اصلي خطا په دې کښې ده چې د الله ﷻ اراده او د الله ﷻ شرعي امر برشي ګڼي، دوی وایي چې هر شي ته چې الله ﷻ اراده وکړي چې موجود شي نو په هغه باندې الله ﷻ امر هم کوي.

حال دا چې خبره داسې نه ده، د الله ﷻ د ارادې سره رضا او خوښي لازمه نه ده لکه چې په بدو کارونو کښې د الله ﷻ اراده شته خو ورباندې راضي (خوښ) نه دی، اما په هر شي باندې چې الله ﷻ شرعي امر وکړي نو په هغه باندې به راضې هم وي.

۴_ نو ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه چې آیا تاسو کوم علمي دلیل لرئ چې الله ﷻ ستاسو په شرکي کړنلارې باندې امر کړی دی؟ که لرئ یې نو رامېدان ته یې کړئ، که نه نو تاسو محض په اټکل روان یاست، ستاسو تخمین دا دی چې د ارادې سره رضا تړلې او لازمه ده. خو په دې تخمین کښې غلط شوي یاست.

۵_ ای پیغمبره! کله چې مشرکانو ستا په حضور کښې خپل فاسد استدلال تېر کړ او تا په ذکرې شوي توګه باندې د هغه رد وکړ نو بیا ورته ووایه چې د الله ﷻ دلایل نهایت کامل قوي دي چې په هیڅ صورت باندې یې څوک رد نه شي کولی، اما ستاسو دلایل ټول دروغین او بې اندازې کمزوري دي چې کمزوري یې د غنې جال ته ورته ده او ډېر ژر څرګندېږي.

او دا هم ورته ووایه چې که د الله ﷻ اراده وشي تاسو ټولو ته به هدایت وکړي او په سمه لاره باندې به مو برابر کړي؛ چې یا درڅخه د بدو استعداد واخلي او ملائک درڅخه جوړ کړي، یا د خپل عادت څخه مخالفت وکړي او په فاسد استعداد باندې مو فاسده نتیجه مرتبه نه کړي او بالآخره یا مو فاسد استعداد په نېک استعداد باندې بدل کړي، مګر الله ﷻ دا یو کار هم نه کوي ځکه چې هر یو د حکمت څخه مخالف دی.

۵_ ای پیغمبره! د ذکر شوو ټولو دلایلو په آخر کښې مشرکان مخاطب کړه چې کله تاسو علمي دلیل تېر نه کړی شو نو اقلاً شاهدان تېر کړئ چې همدا ستاسو په نزد حرام کړی شوي شیان د الله ﷻ په نزد باندې هم حرام دي او د تحریم حکم ورباندې د همده ﷻ د پلوه صادر شوی دی.

نو اول خو دوی دغسې شاهدان نه شي موندلی چې د عقل خاوندان وي او ذکره شوې شاهدي درکړي، او که بالفرض څه سادګان یې د همدغه دروغین شهادت دپاره ودرول نو نظر ذکرو شوو دلایلو ته د هغوی شهادت رد کړه چې ستاسو شهادت د الله ﷻ د شهادت په مقابل کښې د اعتبار وړ نه دی.

۶_ ای پیغمبره! مشرکان زښتې ډېرې هلې ځلې کوي ترڅو تا خپلو مزخرفاتو ته پیرو جوړ کړي، نو پام کوه چې نه د تکذیب کوونکو پیروي وکړې او نه د هغو خلکو چې په آخرت باندې عقیده او

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایمان نه لري، او بالآخره نه د هغو خلکو چې د خپل رب ﷻ سره بوتان برابروي او په عبادت کښې یې ورسره شریکوي، او نه دې دا کارونه ستا ا مت وکړي.

## توضیحاتْ

۱ـ په دې مقام کښې الله ﷻ غیبي خبر راکړ چې مشرکان به داسې ووایي، وروسته همدا غیبي خبر ربښتیا شو او کافرانو ذکره شوې پلمه وړاندې کړه. لکه چې الله ﷻ د همدوی څخه حکایت کوي چې: ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟ لَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا عَبَدْنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَىْءٍ نَّحْنُ وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن دُونِهِۦ مِن شَىْءٍ ﴾ [النحل:۳۵] یعني: او هغه کسان چې شرک کوي وایي چې که د الله ﷻ اراده شوې وی نو مونږ به د ده ﷻ څخه په غیر د هیڅ شي عبادت نه وی کړی.

نه مونږ او نه زمونږ پلرونو، او نه به مو د ده ﷻ (د اجازې) څخه په غیر څه شی حرام کړی وی، دا وه د قرآن کریم یوه غیبي معجزه چې واقع شوه.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایې چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ ﴾ [الأنعام:۱۱۲] یعني: که د الله ﷻ اراده شوې وی نو نه به مشرکانو شرکیات کړي وی او نه به شیطانانو یو تربله باطلې خبرې ښودلې وی. نو پوښتنه دا ده چې د ﴿ لَوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَآ أَشْرَكْنَا وَلَآ ءَابَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن شَىْءٍ ﴾ په جمله کښې خو فقط همدغه مضمون منعکس شوی دی چې هرڅه د الله ﷻ په اراده پورې تړلي دي. نو باید چې په مشرکانو باندې آفرین ویل شوی وی چې حقه خبره یې وکړه، نه دا چې د ملامتی لاندې ونیولی شي؟

مونږ وایو چې: د مشرکانو همدغه مضمون مطلب نه وه بلکې د هغوی مطلب دا وه چې الله ﷻ زمونږ د شرکیاتو اراده کړې، او د ارادې سره خوښې او رضا تړلې ده نو الله ﷻ زمونږ په کړنلاره (شرکیاتو) باندې راضي دی، او پیغمبر دروغ وایي چې الله ﷻ ورباندې ناخوښ دی بلکې اراده او امر یو شی دی، نو څرنګه چې الله ﷻ زمونږ د کړنلارې اراده کړې ده چې مونږ او تاسو ټول پرې اتفاق لرو نو ضرور یې امر هم ورباندې کړی دی او ورباندې خوښ هم دی. لاندې وضاحت ولولئ:

الف: څرنګه چې د ذکرې شوې جملې څخه د هغوی مطلب د پیغمبرانو تکذیب وه نو ځکه ذکره شوې جمله په دغې جملې سره تعقیب شوه چې: ﴿ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ یعني: همدغسې د تکذیب خبرې د دوی پخوانیو (پلرونو) هم کړې وې چې د عذاب سره مخامخ شوه.

ب: همدغه مطلب الله ﷻ د دوی څخه په صراحت سره حکایت کوي چې: ﴿ وَإِذَا فَعَلُوا۟ فَٰحِشَةً قَالُوا۟ وَجَدْنَا عَلَيْهَآ ءَابَآءَنَا وَٱللَّهُ أَمَرَنَا بِهَا ۗ قُلْ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِٱلْفَحْشَآءِ ﴾ [الأعراف: ۲۸] یعني: او کله چې مشرکان ناکاره کارونه وکړي (لکه بوت پرستي اونور) نو وایي چې مونږ په همدې باندې پلرونه موندلي دي او الله ﷻ راته پرې امر کړی دی، ورته ووایه چې یقیناً الله ﷻ په بدو کارونو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې امر نه کوي، که څه هم اراده ورته کوي او د ارادې سره رضا تړلې نه ده.
ج: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿وَلَا يَرۡضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلۡكُفۡرَ﴾ [الزمر:۷] یعنې: الله ﷻ د خپلو بندګانو دپاره د کفر د پیدا ابنیت اراده کوي مګر کفر ورته نه خوښوي اوورباندې راضي نه دی، او د دوی دپاره د ایمان اراده هم کوي او ورباندې خوښ هم دی.

لنډه دا چې د الله ﷻ د ارادې سره نه خوښي او رضا ضرور ده او نه ورسره مجبوریت ملګری دی.

د: نه وضاحت په غرض بدون د تشبیه څخه ذکره شوې مسئله په بندګانو کښې ولولئ:
د: کله داسې کېږي چې د حکومت مشر اراده وکړي چې رشوت خور مامور ته په بدله څېره کښې رشوت ورکړي، او یا اراده وکړي چې دغه کار د یوه دستوري سړي په ذریعه اجراء کړي او نوټونه ورته په نښه کړي ترڅو د جنایتکار جنایت په ډاګه شي او په اصطلاح "دز با پشتاره" متل ورباندې صادق شي. نو کله چې ذکره شوې نقشه عملي شي نو رشوت خور ضرور اعتراف کوي او دا اعتذارونه نه شي وړاندې کولی چې ووایي ای مشره! تا خو ماته د رشوت راکولو اراده کړې وه نو ته خو په دغه کار باندې خوښ وې نو په کار ده چې جزا رانه کړې. ای مشره ستا د ارادې په اثر زه مجبور وم چې رشوت مې اخستی وی، دغه جنایت مې بې اختیاره کړی دی، ایا په غیر اختیاري کار باندې څوک مجازات کېږي؟.

ه: د قیامت په ورځ به مشرکان دا ارزو کوي چې کاشکې دنیا ته بېرته واستولی شي، مګر دا اعتذار به نه شي وړاندې کولی چې ای ربه! زمونږ جنایات خو ستا په اراده موجود شوي دي او ته ورباندې راضي او خوښ وې نو نن ورځ ورباندې ولې په غضب یې؟، او نه به داسې ویلی شي چې ای ربه! مونږ خو ستا د ارادې په اثر مجبور وو چې جنایات مو کړي وی، زمونږ اختیار خو سلب شوی وه، مونږ د جزا څخه معاف کړه.

## عجیبه قیصه

و: یوه ورځې یو کوړ سترګی کیسه بر د قاضي حضور ته راوستل شو، په مجلس کښې دوه سړي هم ناست وه چې یو په جبري عقیده وه چې د الله ﷻ د ارادې سره د سړي اختیار سلب کېږي، او بل سني وه چې د أهل السنة والجماعة په عقیده وه، په دغه مجلس کښې لاندې سوال جواب وشو[۱]:
قاضي: دغه جنایت کار ته څومره جزا ورکړم؟
جبري: باید پنځلس دُرې ووهل شي.
سني: باید دېرش دُرې جزا ورکړی شي.
جبري: دا ولې؟!
سني: پنځلس د کیسه برۍ د کبله او پنځلس د دې کبله چې سترګې یې کږې دي.
جبري: د سترګو په کوږوالي کښې خو د ده اختیار نشته، دا خو د الله ﷻ کار دی.

(۱) تفسیر القاسمي ج۶ ص۷۵۹ _ ۷۷۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


سني: ستا په عقيده خو په كيسه برى كښې هم اختيار نه لري او په پنځلس ډوله باندې ډرو باندې لرته قايل يې.

جبري لا جوابه هک پک پاتې شو او حاضرينو ته خجالت شو.

## يادونه

۳_ که څوک غواړي چې په ذکره شوي موضوع کښې ښه اوږد بحث د نظره تېر کړي او ښه په زړه پورې تحقيق پکښې ولولي نو هيله ده چې ځينو اوږدو کتابونو ته مراجعه وکړي(۱).

﴿ قُلْ تَعَالَوْا۟ أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ ۖ أَلَّا تُشْرِكُوا۟ بِهِۦ شَيْـًٔا ۖ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا ۖ وَلَا تَقْتُلُوٓا۟ أَوْلَٰدَكُم مِّنْ إِمْلَٰقٍ ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ ۖ وَلَا تَقْرَبُوا۟ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۖ وَلَا تَقْتُلُوا۟ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِى حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿١٥١﴾ وَلَا تَقْرَبُوا۟ مَالَ ٱلْيَتِيمِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ ۖ وَأَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ بِٱلْقِسْطِ ۖ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۖ وَإِذَا قُلْتُمْ فَٱعْدِلُوا۟ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ۖ وَبِعَهْدِ ٱللَّهِ أَوْفُوا۟ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٢﴾ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِى مُسْتَقِيمًا فَٱتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِۦ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾ ﴾

[۱۵۱] (ورته) ووايه چې (اى خلكو!) راشئ چې هغه څه درباندې ولولم كوم چې ستاسو رب ﷻ په تاسو باندې حرام کړي دي؛ (هغه دا) چې د خپل رب ﷻ سره هيڅ شى مه شريكوئ، او د مور او پلار سره (احسان كوئ) احسان كول، او خپل اولادونه د فقر د كبله مه وژنئ (ځكه چې) مونږ تاسو ته هم روزي دركوو او هغوى ته هم (تاسو نه خپلو ځانو ته روزي وركولى شئ او نه هغوى ته)، او بدو (بې حيا) كارونو ته مه ورنږدې كېږئ، كوم يې چې ښكاره وي او كوم يې چې پټ وي، او هغه نفس مه وژنئ چې الله ﷻ (يې وژل) حرام كړي دي، مگر په حقه سره.

دا (احكام) چې دي په همدې باندې درته (خپل رب ﷻ) كلک حكم كوي، شايد چې تاسو د عقل څخه كار واخلئ (او په حكمتونو باندې يې پوه شئ).

[۱۵۲] او د يتيم مال ته مه ورنږدې كېږئ مگر په هغې طريقې سره چې نېكه وي. (همدغه خوى نه) ترهغه (ادامه وركړئ ترڅو) چې يتيم خپل قوت ته ورسېږي (او د تدبير خاوند شي).

(۱) تفسير القاسمي ج۶ ص۷۶۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او پیمانه او تله په انصاف سره پوره کوئ (مه په کاني کښې چل کوئ او مه ډنډي وهئ)، مونږ هېڅوک نه مکلف کوو مګر د هغه د وسې په اندازه (په غیر اختیاري کمبود باندې مو نه نیسو)، او کله چې تاسو خبرې کوئ (هر ډول خبرې چې وي او هرچاته چې متوجه وي) نو عدل کوئ (او د انصاف څخه مه تېرېږئ) اګر که (ستا د خبرو ذي ربط سړی) د خپلولۍ خاوند وي. او د الله ﷻ په عهد باندې وفا کوئ.

(ای خلکو!) دا احکام چې دي په همدې باندې درته خپل رب ﷻ کلکه توصیه کوي شاید چې تاسو (په لږه توجه سره) پند واخلئ.

[۱۵۳] او (بل دا چې) یقیناً دغه (اسلام چې څه احکام یې بیان شوه) زما برابره لاره ده نو پیروي یې وکړئ، او (د دې څخه په غیر) د (نورو) لارو پیروي مه کوئ چې دغه لارې به تاسو د خپل رب ﷻ د لارې څخه تیت پرک کړي.

(ای خلکو!) دا احکام چې دي په همدې باندې درته خپل رب ﷻ کلکه توصیه کوي شاید چې تاسو پرهیزګاران جوړ شئ.

## ارتباط او شان نزول

په وړاندې ایتونو کښې د مشرکانو د تحلیل او تحریم کړنلاره رد کړی شوې وه او بیا ترې غوښتل شوي وه چې که بالفرض په رد باندې یې قناعت نه لرئ نو خپله کړنلاره په علمي دلیل او یا د شاهدانو په شهادت ثابته کړئ، خو دوی د دواړو څخه عاجز شوه او ـ د ځینو روایتونو په بناـ د نبي کریم ﷺ څخه یې وغوښتل چې "أَيُّ شَيْءٍ حَرَّمَ اللهُ"[۱] هغه کوم شی دی چې الله ﷻ حرام کړی دی؟ نو دغه ایتونه نازل شوه چې: ﴿ قُلْ تَعَالَوْا ﴾ الآیات.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! ټول خلک عموماً او مشرکان خصوصاً دعوت کړه چې راشئ غوږ ونیسئ چې د هغو محرماتو نوملیک درباندې ولولم چې الله ﷻ په ټولو ادیانو کښې په دائمي توګه حرام کړي دي، هغه دا چې:

۱ـ د الله ﷻ سره په هیڅ وجه شریک مه دروئ، نه په عبادت کښې او نه د احکامو په تشریع (تحلیل او تحریم) کښې.

۲ـ د مور او پلار سره بده وضعه مه کوئ او ازار مه ورکوئ، په دې باندې علاوه د دوی سره احسان کوئ او د دوئ احسانات مه هېروئ.

۳ـ خپل اولادونه د فقیرۍ د کبله مه وژنئ چې تنګ لاسي یاست، او مه د دې څخه ډارېږئ چې د دوی په نفقه باندې به فقیران جوړ شئ او بالآخره مه یې د بوتانو د نذر د کبله او مه یې د دنیاوي عار د وجې وژنئ (چې دا به واده شي او زه به د زوم والا شم).

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۴۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او دا ځکه چې مونږ تاسو ته هم روزي درکوو او ستاسو اولادونو ته هم، تاسو لکه څنګه چې خپلو اولادونو ته روزي نه شئ ورکولای همدارنګه د خپلو اولادونو روزي ورکول هم ستاسو ذمواري نه ده، نو لکه څنګه چې خپل ځانونه نه وژنئ خپل اولادونه هم مه وژنئ.

برسیره پردې لکه څنګه چې ستاسو په زومتوب باندې ستاسو خسران نه شرمېږي نو تاسو په خپلو زومانو باندې ولې شرمېږئ؟.

۴ـ بې حیا او بدو کارونو ته مه ورنژدې کېږئ چې ځانونه به اداره نشئ کړی او پکښې واقع به شئ، د الله ﷻ سره اخلاص پیدا کړئ چې د خلکو په غیاب کښې هم د ناجائزو کارونو څخه ځانونه بچ کړئ. د مثال په ډول مه د ببرغي کچنیو سره زنا کوئ، چې د کچنیتوب اعلان یې کړی وي، او مه پټې یارانې کوئ.

۵ـ د کوم انسان وژنه چې الله ﷻ حرامه کړې ده او تاسو ته هم معلومه ده چې دا حرامه ده هغه مه وژنئ، هو که د وژلو موجبه یې موجوده شوه (چې یا مرتد شي یا زنا وکړي او بالآخره یا بل څوک ووژني) نو هغه بېله خبره ده چې په وژلو یې نه نیولی کېږئ.

ای خلکو! د ذکرو شوو محرماتو په هکله الله ﷻ تاسو ته په ډېر تاکید سره حکم کوي نو شاید چې د عقل څخه کار واخلئ او په نادانۍ سره ذکر شوي کارونه ونه کړئ.

۶ـ د یتیم مال ته هم مه ورنژدې کېږئ چې د خپل مال څخه دفاع نه شي کولی نو په حرامو کښې به اخته شئ. یا په بل عبارت: خپل ځانونه ترې ترهغه وخته پورې اداره کړئ چې ترڅو هغه قوت ته ورسېږي او د خپل مال ساتنه وکړی شي، نو بیا به د ده مال د نورو مسلمانانو د مالونو په شان حرام بولئ.

هو که دیتیم مال ته د خیر په نیت ورنژدې شئ چې د هغه وصیتوب وکړئ او یا یې پانګه په تجارت باندې واچوئ او یا مو د بل کوم خیر نیت وي نو الله ﷻ به اجر درکړي.

۷ـ په تله او پیمانه کښې نقصان مه کوئ او دواړه په انصاف سره پوره کړئ، هو که تاسو خپله وسه وکړه او بیا هم څه زیادت او کمبود پکښې واقع شو نو الله ﷻ به درته عفوه وکړي، او دا ځکه چې الله ﷻ هرڅوک د هغه د وسې په میچ مکلف کوي او بس.

۸ـ کله چې تاسو خبره کوئ، هر ډول خبره چې وي، که د اصلاح خبره وي، که د شهادت خبره او یا د نورو موضوعاتو پورې مربوطه خبره وي نو د انصاف څخه مه تېرېږئ که څه هم د خبرې پورې مربوط سړی ستاسو د خپلوانو څخه وي، او یا درسره په ګوند کښې اشتراک ولري او یا مو بله اړیکه ترمنځ موجوده وي.

لنډه دا چې د انصافي وینا څخه مه تېرېږئ که څه هم ستاسو د نژدې دوست په تاوان وي، ځکه چې د قیامت په ورځ به ستاسو په ښه باندې درنه شي.

۹ـ بې وفایي مه کوئ او په خپلو تولو عهدونو باندې کلک ولاړ اوسئ، مه د الله ﷻ سره په عهد کښې بې وفایي کوئ او مه د بندګانو سره،

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اې خلکو! د ذکرو شوو احکامو په عملي کولو باندې درته بل څوک نه بلکې الله ﷻ درته توصیه کړې، او د عملي کولو ګټې یې دومره ډېرې او څرګندې دي چې تاسو هم ورباندې په یوې وړې توجه سره پوهېږئ چې پند ترې واخلئ.

۱۰_ د مختلفو شیطاني لارو پېروي مه کوئ چې تاسو به د الله ﷻ د لارې څخه متفرق او ټوټه-ټوټه کړي، په جنګونو او جګړو باندې به اخته شئ او بالآخره دښمن به مو غښتلی شي او یو به د بل وینو ته ترې کېښنئ.

اې زما بندګانو! زما لاره خوږ دغه ده، چې سمه سیده لاره ده او هیڅ کوږوالی پکښې نشته، د دې لارې څخه پرته تولې لارې کږې وږې دي چې مطلب ته مو نه شي رسولی.

اې خلکو! دا چې ذکر شوه د الله ﷻ تاکیدي احکام دي او د دې دپاره یې درنازل کړي دي چې شاید عمل پرې وکړئ او پرهیزګاران درڅخه جوړ شي او بالآخره د دوزخ څخه ځانونه وساتئ.

## توضیحات

۱_ د ﴿تَعَالَوْا﴾ کلمه چې د "تَعَالَ" د کلمې جمعه ده اصلاً د دې دپاره وضعه شوې ده چې د لوړې څخه څوک په هغه چا باندې غږ وکړي کوم چې په ژوره کښې وي او خپل ځان ته یې راوبلي چې راپورته شه، مګر په استعمال کښې پکښې د لوړې او ژورې لحاظ د منځه تللی دی او د محض بللو معنی ورکوي[۱].

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: د ﴿أَلَّا تُشْرِكُوا﴾ جمله په اعراب کښې څه شی واقع شوې ده؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو د ذکرې شوې جملې په تعریب کښې زښت ډېر قولونه کړي دي[۲] مګر کوم قول چې په زړه پورې ښکاري هغه دا دی چې د "أَنْ" توری د ﴿مَا حَرَّمَ﴾ دپاره تفسیر دی او د "لا" توری د نهي دپاره دی. نو د معنی حاصل یې داسې راوخي: راشئ چې هغه نصوص درباندې ولولم په کومو کښې چې الله ﷻ په تاسو باندې څه اقوال او افعال حرام کړي دي، هغه دا چې د الله ﷻ سره شریک مه دروئ... تر آخره پورې.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وايي چې: په راتلونکي لسو احکامو کښې خو واجبات هم شته نو د ذکر شوي جواب په بنا یې د عطف په اعتبار سره د معنی حاصل داسې راوخي چې الله ﷻ په تاسو باندې د مور او پلار سره ښه کول هم حرام کړي دي او داسې نور، حال داچې دا خو باطله معنی ده؟

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۲ ص۷۸

(۲) تفسیر الخازن ج۲ ص۵۰۶؛ روح المعاني ج۸ ص۵۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: په اوامرو کښې ذکر شوی تحريم د هغو اضدادو ته متوجه دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې د مور او پلار سره بده ګوزاره مه کوئ، په کَيل او وزن کښې کمبود مه کوئ او بالآخره په خبرو کښې د انصاف څخه مه تېرېږئ او بد عهدي مه کوئ[1].

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په دغو څلورو احکامو کښې صرف ثبوتي (ایجابي) څنډه ذکره شوه او بس؟

مونږ وايو چې ـ والله ﷻ اعلم ـ ترڅو مونږ اشارهٔ پوه کړي چې په دغو احکامو کښې لکه څنګه چې سلبي څنډه حرامه ده همدارنګه یې ثبوتي (ایجابي) څنډه واجبه ده. د مثال په توګه لازمه ده چې سرې مور او پلار ته په ضرر نه رسولو باندې اکتفاء ونه کړي بلکې علاوه په دې احسان او ښېګڼې هم ورسره وکړي، د دوی په وړاندې دومره تواضع وکړي تر ته به وايې چې غلام (مريي) د خپل مولی (بادار) په وړاندې خدمت ته ولاړ دی.

د همدې جواب تائيد د لسم حکم څخه کېږي چې د امر ضد (نهي) هم پکښې نازله شوې ده چې ﴿ فَاتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ ﴾ يعنې زما د سمې لارې پيروي کوئ او د شيطاني لارو پيروي مه کوئ.

## املاق څه معنی؟

۵ـ د ﴿ إِمۡلَٰقٍ ﴾ کلمه په اصلي تورو کښې د "مَلَقَة" د تورو سره برابره ده، "مَلَقَة" تورې ډېرې ته وايي خو په دې مقام کښې ترې فقر مراد دی[2]، ته به وايې چې د تورو ډبرو څخه پرته نور څه نه لري. يعنې خپل اولادونه د بالفعل يا بالقوه فقيرۍ او يا د نورو وجوهو د کبله مه وژنئ.

د اولاد وژنې وجوهات مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام: ۱۳۷] آيت لاندې ليکلي دي چې ډېر لرې نه دي او په کتلو باندې یې سړی ډېر نه ستومانه کېږي، نو هيله ده چې د دې مقام د ښه پوهېدلو دپاره هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

## ظاهري او باطني ګناهونه

۶ـ که څه هم د ﴿ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَ ﴾ ته ورته کلمات په [الأنعام: ۱۲۰] آيت کښې نږدې تېر شوي دي او هم هلته مونږ خوښه کړې وه چې بايد ظاهري ګناه او باطني ګناه ته يوازې په ښکاره زنا او پټې زنا پورې اختصاص ورنه کړی شي ترڅو ټولو ګناهونو ته شامل شي، مګر په دې مقام کښې راته دا بهتره ښکاري چې د ﴿ مَا ظَهَرَ ﴾ څخه به بيرغي زنا مراده وي او ﴿ وَمَا بَطَنَ ﴾ څخه به پټه زنا مطلب وي. ځکه چې د همدې حکم څخه وړاندې حکم دا دی چې اولادونه مه وژنئ، او وروسته حکم ترې دا دی چې بې ګناه خلک مه وژنئ، نو غالبه دا ده ـ والله ﷻ اعلم ـ چې دلته به هم

(۱) تفسير ابي السعود ج۳ ص۱۹۸
(۲) المحرر الوجيز ج۶ ص۱۷۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زنا مراده وي چې دا هم د اولاد وژنې یو ډول دی څوک چې ثابت نسب ونه لري نو په اکثره وختو کښې وژل کېږي او که ژوندی پاتې شي هم په وژلو شوو کښې شمېرل کېږي او د اعتباره لویدلی وي او یا د عدم تربیې د کبله په فاسدو اخلاقو باندې رووړدی کېږي چې دا هم معنوي مرګ دی.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «وَاللهِ لَأَنَا أَغْيَرُ مِنْهُ وَاللهُ أَغْيَرُ مِنِّي وَمِنْ أَجْلِ غَيْرَةِ اللهِ حَرَّمَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ»[١] یعنې: قسم دی چې زه د ده (سعد ﷺ) څخه ډېر غیرتي یم او الله ﷻ زما څخه ډېر غیرتي دی او الله ﷻ د خپل غیرت د کبله بې شرمه کارونه (زنا ګانې) حرام کړي دي، برابره خبره ده چې څرګند وي او که په پرده کښې.

## د "أَشُدَّه" کلمه

٧ـ ځینې مفسرین کرام وایي چې د ﴿ أَشُدَّه ﴾ کلمه د "شِدَّة" جمعه ده، لکه "أنعم" او "نِعْمَة"[٢]، مګر مونږ ته په دې مقام کښې هغه قول غوره ښکاري چې ذکره شوې کلمه یې د جمعې په صورت کښې مفرده ګڼلې ده لکه "آنك" (سرپ) چې د جمعې په صورت کښې مفرده ده[٣]. او دا څکه چې دلته یې مفرد ضمیر ته اضافت شوی دی، چې د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د یتیم مال ته تر هغه مه نږدې کېږئ ترڅو چې داسې وخت ته ورسېږي چې په کارونو کښې فکر کولی شي او د بنه تصرف خاوند جوړ شي. پاتې شوه دا خبره چې دغه کوم وخت دی، نو د دې جواب د [النساء:٦] آیت لاندې د الله ﷻ په توفیق تېر شوی دی، هیله ده چې هملته وکتل شي.

## د دې ایت ارشاد

٨ـ الله ﷻ د حق څخه په مفرده کلمه باندې تعبیر کوي او باطل په جمعه ذکر کوي، لکه چې په [البقرة:٢٥٧] آیت کښې یې حق ته په ﴿ ٱلنُّورِ ﴾ او باطل ته په ﴿ ٱلظُّلُمَـٰتِ ﴾ باندې اشاره کړې ده.

په دې مقام کښې یې هم د همدې قانون په مطابق حقه لاره مفرده ﴿ عَن سَبِيلِهِۦ ﴾ ذکره کړه او د باطلو لارو یې جمعه ﴿ ٱلسُّبُلَ ﴾ نازله کړه. دا د دې دپاره چې مونږ ته ارشاد وکړي چې حقه لاره فقط یوه ده چې د الله ﷻ لاره ده او باطلې لارې زښتې ډېرې دي چې هر یو شیطان د تېر ویستلو دپاره بیل بیل چل ورانده کوي او د حقې لارې نوم وربانده ږدي.

همدا مضمون په لاندې حدیث شریف کښې په ډېره ښه توګه تفسیر شوی دی:

عبدالله بن مسعود ﷺ وایي چې: «خَطَّ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا خَطًّا ثُمَّ قَالَ هَذَا سَبِيلُ اللهِ ثُمَّ خَطَّ خُطُوطًا عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ ثُمَّ قَالَ هَذِهِ سُبُلٌ عَلَى كُلِّ سَبِيلٍ مِنْهَا شَيْطَانٌ يَدْعُو إِلَيْهِ ثُمَّ تلا ﴿ وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي ﴾ (الآية)»[٤] یعنې: یوه ورځې نبي کریم ﷺ زمونږ د پوه کولو دپاره یو مستقیم

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص١١٠٣
(٢) تفسير القاسمي ج٦ ص٧٨٤
(٣) لسان العرب ج٣ ص٢٣٦؛ تفسير القرطبي ج٨ ص١٣٥
(٤) سنن الدارمي ج١ ص٦٠

Downloded from: bawarketabtoon.com

خط، کش کړ او ویې فرمایل چې دا د الله ﷻ لاره ده، بیا یې د همدغه خط نبي خوا او چپ خوا نور خطونه کش کړه، بیا یې وویلې چې دا (د مثال په توګه) مختلفې لارې دي چې په هره یوه باندې شیطان ولاړ دی او بلل کوي. بیا نبي کریم ﷺ د استشهاد په ډول ذکر شوی آیت شریف ولوست چې: ﴿وَأَنَّ هَـٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا﴾ تر آخره پورې.

﴿ثُمَّ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَـٰبَ تَمَامًا عَلَى ٱلَّذِىٓ أَحْسَنَ وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٤﴾ وَهَـٰذَا كِتَـٰبٌ أَنزَلْنَـٰهُ مُبَارَكٌ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُوا۟ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿١٥٥﴾ أَن تَقُولُوٓا۟ إِنَّمَآ أُنزِلَ ٱلْكِتَـٰبُ عَلَىٰ طَآئِفَتَيْنِ مِن قَبْلِنَا وَإِن كُنَّا عَن دِرَاسَتِهِمْ لَغَـٰفِلِينَ ﴿١٥٦﴾ أَوْ تَقُولُوا۟ لَوْ أَنَّآ أُنزِلَ عَلَيْنَا ٱلْكِتَـٰبُ لَكُنَّآ أَهْدَىٰ مِنْهُمْ ۚ فَقَدْ جَآءَكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ ۚ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن كَذَّبَ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ وَصَدَفَ عَنْهَا ۗ سَنَجْزِى ٱلَّذِينَ يَصْدِفُونَ عَنْ ءَايَـٰتِنَا سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ بِمَا كَانُوا۟ يَصْدِفُونَ ﴿١٥٧﴾﴾

[۱۵۴] (ای پیغمبره!) بیا (خلکو ته ووایه چې:) مونږ موسی علیه السلام ته په هغه ډول باندې کتاب ورکړی وه چې هغه (په عدل او صدق کښې) پوره (او کامل) وه او د هر (ضروري) شي دپاره تفصیل وه او (د خلکو دپاره) هدایت او رحمت وه، شاید چې دوی د خپل رب ﷻ په ملاقات (د قیامت په ورځ) یقین (او باور) وکړي.

[۱۵۵] او دغه (قرآن کریم هم) داسې کتاب دی چې (بل چا نه بلکې) مونږ نازل کړی دی، د برکت څخه ډک دی، نو پیروي یې وکړئ، او (په دې کتاب سره خپل ځانونه د ګناهونو څخه) وساتئ شاید چې په تاسو باندې (د الله ﷻ د پلوه) مهرباني وکړی شي.

[۱۵۶] (دغه کتاب مو د دې امله درنازل کړ) چې وبه وایاست (تاسو د قیامت په ورځ) چې یقیناً اسماني کتاب خو زمونږ څخه وړاندې په دوه ډلو (یهودو او نصاراوو) باندې نازل کړی شوی وه (چې د هغوی په ژبه وه او په هغوی پورې مختص وه) او بې شکه مونږ د هغوی د قرائت (لوستلو) څخه ناخبره وو (چې هغوی پکښې څه مضامین لوستل).

[۱۵۷] او یا به (هلته) ووایاست که چیرې یقیناً په مونږ باندې اسماني کتاب نازل کړی شوی وی نو د دوی (یهودو او نصاراوو) څخه به مونږ غوره هدایت موندونکي وی (چې د هغوی څخه زمونږ استعداد قوي دی او په عزم کښې کلک یاستو).

نو تاسو ته هم د خپل رب ﷻ دپلوه واضحه دلایل او (هم) هدایت او رحمت درغی (چې ایمان ورباندې راوړئ او د قیامت د حسرت څخه ځانونه بچ کړئ).

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د هغه چا څخه به لوی ظالم څوک وي چې د الله ﷻ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي او اعراض کوي (د ایمان راوړلو څخه مخ اړوي). ژر به مونږ هغو کسانو ته چې زمونږ د ایتونو څخه اعراض کوي په بد عذاب سره د دې کبله جزا ورکړو چې دوی دي چې (په مستمره توګه) اعراض کوي.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی. چې خلاصه یې دا ده:

۱ـ ای پیغمبره! خلکو ته بیا دا هم ووایه چې مونږ په یوه زمانه کښې هم خپل مخلوق بې هدایته نه دی پرېښی چې د ضلالت په تورو تیارو کښې یو پلو او بل پلو څغلي، د همدې کبله مونږ موسی ﷺ ته کتاب (تورات) ورنازل کړی وه چې په ډېره بهتره توګه د عدل او صداقت د حیثه په خپل وخت کښې پوره او کامل وه، په دې کتاب کښې د هر شي تفصیل وه، د وخت ټول ضروریات پکښې بیان شوي وه، د ژوند په ټولو اړخونو کښې یې لارښوونه کوله، او بالآخره دا کتاب د خلکو دپاره د الله ﷻ یو رحمت وه شاید چې دوی د خپل رب ﷻ په ملاقات (د قیامت په ورځ) یقین او باور وکړي.

نوموړي کتاب د عدل او صداقت د حیثه تمامیت درلود او هم د خلکو دپاره هدایت او رحمت وه، خو چا چې ورڅخه استفاده ونه کړه هغوی محروم پاتې شوه او د ګمراهۍ په کندو کښې پرېوتل.

۲ـ ای پیغمبره! یو ځل بیا د خپل امت خلکو ته زمونږ پیغام ورسوه چې تاسو ته هم مونږ داسې کتاب (قرآن کریم) درنازل کړی دی چې د تورات څخه په څو چنده د عدل او صداقت د حیثه پوره او د رحمت او هدایت څخه ډک دی، بلکې دا داسې کتاب دی چې سراسري برکتونه او ښېګڼې دي، د دنیا او آخرت ټولې لارې چارې پکښې په پوره توګه شرحه شوې دي. نو راشئ د همدغه کتاب پیروي وکړئ او د الله ﷻ څخه وډار شئ، هوا پرستي مه کوئ، شاید چې په تاسو باندې د الله ﷻ د پلوه رحمت وکړی شي او د دوزخ د اوره بچ شئ.

۳ـ ای خلکو! مونږ څکه د دغه کتاب (قرآن کریم) پیروۍ ته تاسو دعوت کوو او ښېګڼې یې درته واضحه کوو او یا څکه مو دغه برکتناک کتاب درنازل کړ چې تاسو به ووایاست چې زمونږ څخه وړاندې په دوه ډلو (یهودو او نصاراوو) باندې دوه کتابونه (تورات او انجیل) نازل کړی شوي وه خو مونږ هغه دواړه نه شوه لوستلی، د هغو لغت زمونږ د لغت څخه غیر وه، د هغو د قرائت او تلاوت څخه مونږ ناخبره وو، په دې باندې علاوه دغه دواړه کتابونه د خاصو-خاصو خلکو دپاره نازل شوي وه او مونږ څه مکلفیت نه درلود چې عقیده ورباندې وکړو.

همدارنګه څکه مو د دې کتاب پیروۍ ته دعوت کوو او یا څکه مو دا کتاب درنازل کړی دی چې تاسو به د قیامت په ورځ ووایاست چې که بالفرض په مونږ باندې د یهودو او نصاراوو غوندې کتاب نازل شوی وی نو مونږ به د هغوی څخه ښه هدایت مونډونکي جوړ شوي وی او د هغوی څخه به مو ورباندې ښې منګولې ښخې کړې وی څکه چې مونږ د هغوی څخه په استعداد کښې قوي

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


یاستو، زمونږ د وطن آب او هوا ښه ده او بالآخره مونږ په عقل کښې د هغوی څخه پاخه یاستو او عزم مو د هغوی څخه کلک دی.

۴_ نو ای خلکو! دا دی تاسو ته د یهودو او نصاراوو د کتابونو څخه ښه کتاب د خپل رب ﷻ د پلوه درغی او ښه اوچت او واضحه دلایل درنازل شوه، ته به وایې چې سراسري هدایت او رحمت دی، نو راشئ د دې کتاب شکریه وکړئ او ایمان وربانديې راوړئ. که تاسو دغه مبارک کتاب ته شا کړئ نو تاسو به غټ ظالمان او غټ ناشکران اوسئ، او دا څکه څومره چې نعمت غټیږي په هغه باندې ناشکری هم غټه ناشکري جوړیږي.

نو د هغه چا څخه به بل غټ ظالم څوک وي چې د الله ﷻ په ایتونو او د ذکر شوي مبارک کتاب هدایتونو ته د دروغو نسبت وکړی او د عقیدي کولو څخه یې مخ واړوي؟!.

ژر دی چې مونږ به هغو کسانو ته چې زمونږ د ایتونو څخه انکار او اعراض کوي د ناکاره (بد) عذاب جزا ورکړو، او دا د دې کبله چې دوی ذکر شوی اعراض په دوامداره توګه کوي آن تر دې چې په همدغه حالت باندې دمرګ سره مخامخ شي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: د "ثُمّ" کلمه خو د تاخیر دپاره وضعه شوې ده او د ﴿ ثُمَّ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَـٰبَ ﴾ جمله خو په نږدې ﴿ وَصَّىٰكُم ﴾ باندې عطفه ده، نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: په دغو احکامو باندې مو تاسو ته توصیه وکړه بیا مو موسی ﷺ ته کتاب ورکړ؛ حال دا چې موسی ﷺ ته خو څو قرنه وړاندې کتاب ورکړی شوی وه؟!.

مونږ وایو چې:

الف: لکه څنګه چې د [البقرة:۲۹] آیت لاندې لیکلی شوي دي چې د "ثُمّ" کلمه کله کله په بیان کښې د تاخیر دپاره استعمالیږي، نه په واقع کښې. په دې مقام کښې همدغه استعمال په نظر کښې نیولی شوی دی[۱].

ب: ذکره شوې جمله د "قُلْ" په تقدیر سره په ﴿ قُلْ تَعَالَوْا ﴾ باندې عطفه ده[۲] نو معنی یې داسې کیږي چې ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې: ﴿ تَعَالَوْا ... ﴾ تر آخره پورې، او بیا ورته ووایه چې مونږ موسی ﷺ ته کتاب ورکړی وه... تر آخره پورې.

### "على الذي أحسَنَ" څه معنی؟

۲_ مفسرینو کرامو د ﴿ تَمَامًا عَلَى ٱلَّذِىٓ أَحْسَنَ ﴾ دپاره ډېر تفسیرونه کړي دي[۳] مګر څرګنده

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۲۰۱
(۲) تفسیر الطبري ج۸ ص۸۹
(۳) تفسیر الطبري ج۸ ص۹۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معنی یې دا بریښي چې مونږ موسی علیه السلام ته کتاب (تورات) ورکړی وه په داسې حال کښې چې دا کتاب په انصاف او صدق (ربښتینتوب) کښې په هر ښه ډول سره پوره وه او د خپل وخت د خلکو ضروریات یې په احسنه توګه پوره کول. دا ډول معنی د لاندې وجوهو د کبله بهتره ده:

الف: په عین آیت کښې ﴿ وَهُدًى وَرَحْمَةً ﴾ دواړه کلمې د کتاب د صفاتو څخه دي چې د ﴿ تَمَامًا ﴾ په کلمه باندی عطفې دي، نو باید چې دغه کلمات ﴿ تَمَامًا عَلَى ٱلَّذِىٓ أَحْسَنَ ﴾ هم د کتاب د صفاتو څخه وي، نه د موسی علیه السلام یا نورو مسلمانانو د صفاتو څخه، لکه چې مفسرین کرام یې وایي.

ب: په عدل او صدق کښې په تمامیت باندې تورات لا څه چې د الله ﷻ ټول کلمات توصیف شوي دي، لکه چې فرمایي: ﴿ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلاً ﴾ [الأنعام: ۱۱۵] یعني: او ستا د رب ﷻ (هره یوه) کلمه د صدق او عدل د حیثه پوره ده.

نو په کار ده چې دلته هم د تمامیت صفت تورات ته راجع کړی شي او دا متبادره معنی هم ده.

## یادونه

۳ـ د ځینو مفسرینو کرامو د بیان څخه معلومېږي چې ﴿ أَن تَقُولُوٓاْ ـ أَوْ تَقُولُواْ ﴾ دواړه ایتونه د مشرکانو د هغې خبرې په جواب کښې نازل شوي دي کومه به چې دوی کوله، هغه دا چې: "قَاتَلَ اللهُ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارى كَيْفَ كَذَّبُوْا أَنْبِيَائَهُمْ فَوَاللهِ لَوْ جَاءَنَا نَذِيْرٌ وَكِتَابٌ لَكُنَّا أَهْدَى مِنْهُمْ"[1] یعني: یهود او نصارا دې الله ﷻ مړه کړي، دوی څنګه خپلو پیغمبرانو علیهم السلام ته د دروغو نسبت کوي، نو په الله ﷻ مو دې سوګند وي که مونږ ته پیغمبر او کتاب راغلی وی نو مونږ به د دوی څخه ښه هدایت موندونکي وی (او د پیغمبرانو علیهم السلام تکذیب به مو نه وی کړی).

نو د جواب حاصل یې داسې راوځي چې مونږ څکه دغه مبارک کتاب درنازل کړ چې تاسو داسې-داسې خبرې کولې.

مونږ ته دا بهتره ښکاري چې په دې ایتونو کښې د قیامت د ورځې د اعتذار مخنیوی حکایت شوی دی، نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې: مونږ څکه دغه مبارک کتاب درنازل کړ چې د قیامت په ورځ به تاسو داسې-داسې اعتذارونه وړاندې کولی، خو د دې کتاب په نزول سره مو ستاسو د اعتذارونو مخنیوی وکړ، نو د دې کتاب څخه وروسته تاسو هیڅ اعتذار نه شئ وړاندې کولی.

الله ﷻ همدا مضمون په بل ځای کښې داسې فرمایلی دی چې: ﴿ وَلَوْ أَنَّآ أَهْلَكْنَٰهُم بِعَذَابٍ مِّن قَبْلِهِۦ لَقَالُواْ رَبَّنَا لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولاً فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ مِن قَبْلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخْزَىٰ ﴾ [طه: ۱۳۴] یعني: او که یقینًا مونږ کافران د دې (کتاب) څخه وړاندې په عذاب سره هلاک کړي وی نو دوی به ویلی چې ای زمونږ ربه! ولې دې مونږ ته پیغمبر نه رالیږه چې ستا د ایتونو متابعت مو د دې څخه مخکښې کړی وی چې مونږ ذلیله او یا رسوا شو.

[1] زاد المسیر ج۳ ص۱۰۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّآ أَن تَأْتِيَهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ يَأْتِىَ رَبُّكَ أَوْ يَأْتِىَ بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ يَوْمَ يَأْتِى بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَٰنُهَا لَمْ تَكُنْ ءَامَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِىٓ إِيمَٰنِهَا خَيْرًا ۗ قُلِ ٱنتَظِرُوٓا۟ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٥٨﴾ ﴾

[۱۵۸] ایا دوی (مشرکان) انتظار وباسي (بلکې انتظار نه وباسي) مګر دې ته چې (د اروا ګانو د قبض دپاره) پرښتې ورشي، او یا ستا رب ﷻ (د ده ﷻ عذاب) ورشي او یا ستا د رب ﷻ (د قدرت) ځینې نښې ورشي.

په کومه ورځ چې ستا د رب ﷻ (د قدرت) ځینې نښې ورشي (او لمر د مغرب څخه طلوع وکړي)، نو داسې هیڅ نفس ته به د ده ایمان (راوړل) څه ګټه ونه شي رسولی چې د دې څخه وړاندې یې نه ایمان راوړی وي او نه یې په خپل ایمان کښې د خیر کسب کړی وي (دغه نفس نه دی مګر کافر نفس دی).

(ای پیغمبره! ورته) ووایه چې تاسو انتظار وکړئ یقیناً مونږ هم انتظار کوونکي یاستو (وروسته به څرګنده شي چې تاسو ته خیر کېږي او که مونږ ته).

## ارتباط

د دې سورت د پیل څخه تر دې ځایه پورې لاندې مضامین په مختلفو اسالیبو سره ښه پوره شرحه شوه:

۱ــ د الله ﷻ وحدانیت، د نبي کریم ﷺ نبوت، د قیامت د ورځې حقانیت او بالآخره دا خبره چې هر شی د الله ﷻ په قدرت کښې دی او په ازل کښې لیکلی شوی دی.

۲ــ د مشرکانو مزخرف عقاید او د دوی تحلیل او تحریم رد شو.

۳ــ د دوی ټول شبهات او اعتراضات جواب کړی شوه او د بهانو انو مخه یې ونیوه شوه.

نو په ذکر شوي آیت شریف کښې د مشرکانو په حالاتو باندې یوې تبصرې ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! څرنګه چې د مشرکانو د ایمان د نه راوړلو دپاره ټولې بهانې او حیلې د منځه یوړلی شوې او ټول شبهات یې جواب کړی شوه نو چې اوس هم دوی په ایمان باندې نه مشرف کېږي معلومه شوه چې دوی کلک عناد نیولی دی، او ترڅو چې هغه څه په سترګو ونه ګوري د کومو څخه چې منکر دي ترهغه پورې به ایمان رانه وړي. نو دوی انتظار نه وباسي مګر دې ته چې:

۱ ــ ملائک ورته د ارواګانو د قبض دپاره ورشي او په سترګو وګوري چې آخرت ته روان دي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ الله ﷻ وریاندې مهلک عذاب ورنازل کړي او د فرعون غوندې ترې د نجات لاره ورکه کړي.

۳_ د قیامت د قیام ځینې نښې په خپلو سترګو وګوري او باور یې راشي چې دنیا ورانېدونکې ده او نږدې ده چې ژوند ختم شي.

د ذکرو شوو درېواړو صورتونو څخه په هر یوه صورت کښې مشرکان د ایمان راوړلو چانس د لاسه ورکوي، او دا ځکه چې په اولنیو دواړو کښې به دوی ته بالکل فرصت ورنه کړی شي چې آمَنتُ (ایمان مې راوړی دی) ووایي. او په درېم صورت کښې که څه هم دوی به د ایمان راوړلو فرصت ولري، د الله ﷻ فیصله دا ده چې په دغه وخت کښې ایمان راوړل نه قبلوي او په ایمان باندې مشرف کېدل چاته څه ګټه نه رسوي.

د الله ﷻ په نزد خو هغه ایمان د اعتبار وړ دی کوم چې بالغیب وي، او په دغه وخت کښې چې د قیامت د قیام ابتدایي نښې ښکاره شي نو ایمان راوړل د بالغیب د مرحلې څخه د بالمشاهده مرحلې ته ورتېرېږي. که ایمان بالمشاهده د الله ﷻ په نزد مقبول وی نو ټول کافران به جنتیان جوړ شوي وی ځکه چې د قیامت په ورځ خو یو کافر هم په خپل کفر باندې باقي نه پاتې کېږي.

کله چې ذکره شوې علامه څرګنده شوه نو لکه څنګه چې د هر مؤمن ایمان نه ضائع کېږي همدارنګه یې نېکي هم اوبه نه وړي، برابره خبره ده چې پخوانۍ نېکي وي او که د ذکر شوې علامې د تحقق څخه وروسته یې صورت موندلی وي (نوې نېکي وي)، مګر په نوو نېکیو کښې یوه نېکي، یعنې د فسق او ګناه څخه توبه ویستل، پخوانۍ حیثیت د لاسه ورکوي، داسې چې پخوا الله ﷻ د توبې د قبول وعده کړې وه او په دغه وخت کښې یې د قبول وعده نشته. نو که الله ﷻ په خپل فضل سره د یوه عاصي مؤمن توبه قبوله کړي او د ګناه څخه ورتېر شي، د ده ﷻ د لوی رحمت څخه څه لرې نه ده، که څه هم د توبې دروازه بنده ده. اما د دغه وخت توبه د هغو توبو د جملې څخه وتلې ده چې الله ﷻ یې د قبلولو وعده کړې ده.

نو ای پیغمبره! کافران (مشرکان) مخاطب کړه چې اوس هم ایمان نه راوړئ نو منتظر اوسئ چې وړاندې به څه مخې ته درشي او مونږ هم منتظر یو چې ستاسو حالات په سترګو وګورو.

## توضیحات

۱_ ځینې مفسرین کرام وايي چې په دې مقام کښې د ﴿ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ﴾ څخه هغه پرښتې مرادې دي کومې چې مشرکانو د فرمایشي معجزې په توګه غوښتې وې[۱].

نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې ایا مشرکانو خپل ایمان راوړل فرمایشي معجزو ته تړل کړي دي چې ملائک ورته راښکته شي.

مګر مونږ ته دا بهتره ښکاري چې دلته به د ﴿ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ﴾ څخه هغه پرښتې مرادې وي کومې چې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

(۱) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۲۰۳

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


د روح د قبض دپاره هر چاته ورځي. مونږ ځکه دغه تفسیر خوښ کړ چې د پرښتو په اول دول نزول کښې خو مشرکانو ته د ایمان راوړلو فرصت نه ورکول کیږي لکه چې فرمايي: ﴿ وَلَوْ أَنزَلْنَا مَلَكًا لَّقُضِيَ ٱلْأَمْرُ ثُمَّ لَا يُنظَرُونَ ﴾ [الأنعام:۸] یعنې: او که مونږ پرښته نازله کړې وی نو کار به فیصله شوی وی (مشرکان به مړه شوي وی) بیا به ټال نه وی ورکړی شوی.

او د دې مقام څخه څرګندیږي چې دوی به د ایمان راوړلو فرصت ولري خو ایمان به یې مقبول نه وي لکه چې فرعون د مرګ په حال کښې ایمان راووړ خو د الله ﷻ په دربار کښې مقبول ونه ګرځید: [یونس:۹۱].

## ایا د اتیان نسبت الله ﷻ ته صحت لري؟

۲ـ د همدغې جملې ﴿ أَوْ يَأْتِيَ رَبُّكَ ﴾ غوندې جمله په [البقرة:۲۱۰] آیت کښې تېره شوې ده چې ﴿ إِلَّآ أَن يَأْتِيَهُمُ ٱللَّهُ فِى ظُلَلٍ مِّنَ ٱلْغَمَامِ ﴾، چې مفصل جواب یې هلته د الله ﷻ په توفیق تېر شوی دی مګر په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې د وړاندېنیو او ببرتنیو جملو او هم د ایتونو د سوق په اعتبار سره ظاهره دا برېښي چې دلته دنیاوي حالت مراد دی او دا هم څرګندیږي چې دلته د ﴿ أَوْ يَأْتِيَ رَبُّكَ ﴾ جمله د کنایې په توګه د مهلک عذاب څخه عبارت ده، لکه چې په بل ځای کښې د مهلک عذاب څخه د ذکر شوي تعبیر سره مشابه تعبیر شوی دی چې: ﴿ قَدْ مَكَرَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى ٱللَّهُ بُنْيَـٰنَهُم مِّنَ ٱلْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ ٱلسَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ [النحل:۲۶] یعنې: بې شکه هغو کسانو (د خپلو پیغمبرانو علیهم السلام سره) چل (پټ تدبیر) کړی وه کوم چې د دوی څخه وړاندې وه نو الله ﷻ د دوی آبادۍ ته د بنیادونو د پلوه ورغی نو (د خپلې آبادۍ) چت ورباندې وړپرېووت او د داسې خوا څخه عذاب ورغی چې دوی (ورباندې) شعور هم نه درلود. یعنې کومه ځا چې دوی د پیغمبرانو علیهم السلام دپاره کنودې وه په هغې کښې پخپله ولوېده.

نو دلته یې د معنی حاصل داسې راوځي چې: مشرکان یا دې ته منتظر دي چې ای پیغمبره ستا د رب ﷻ عذاب ترې راچاپیر شي، خو په دغه وخت کښې هم د دوی ایمان د الله ﷻ په نزد مقبول نه دی.

## د قیامت په کومه یوه علامه باندې د توبې دروازه بندیږي؟

۳ـ علماوو کرامو د قیامت د علامو څخه په هغې علامه کښې چې د هغې په ظهور سره د توبې دروازه بندیږي او په آیت شریف کښې ورته په ﴿ بَعْضُ ءَايَـٰتِ رَبِّكَ ﴾ سره اشاره شوې ده لاندې تعینات کړي دي[۱]:

الف: دغه علامه یوازې د مغرب څخه د لمر راختل دي.

ب: چې لمر او سپوږمۍ دواړه د مغرب څخه راوخېژي نو د توبې دروازه بندیږي.

---

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۰۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د دغو درېوو علامو (د مغرب څخه د لمر راختل، د دابة الارض څرګندېدل، د یاجوج او ماجوج را خوشې کېدلو) څخه چې هرې یوې تحقق وموند د توبې دروازه تړله کېږي.

د: د مغرب څخه لمر راختل، دجال او دابة الارض، درېواړه د توبې دروازه بنده وي.

مګر د جمهورو علماوو په نزد د توبې دروازه فقط د مغرب څخه د لمر په راختلو باندې بندېږي او بس[1]، همدا نظر حق دی[2] ځکه چې د لمر د مغرب څخه په فوق العاده توګه راپورته کېدل د دنیاوي نظام د خرابېدلو او د دنیا د ورانېدلو څخه په ډېره ښه او څرګنده توګه نمایندګي کوي، ته به وایې چې د دنیا ځنکدن دی او په ځنکدن کښې خو د توبې دروازه بندېږي.

لاندې وضاحت ولولئ:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَيَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَا لَمْ يُغَرْغِرْ»[3] یعنې: الله ﷻ د بنده توبه ترهغه قبلوي ترڅو چې د غرغرې حالت نه وي رسېدلی (روح یې ستوني ته نه وي ورغلی او ځنکدن یې نه وي پیل شوی).

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا فَإِذَا رَآهَا النَّاسُ آمَنَ مَنْ عَلَيْهَا فَذَاكَ حِينَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ»[4] یعنې: قیامت به تر هغه قائم نه شي ترڅو چې لمر د مغرب څخه راوخېژي، نو کله چې (راوخیژي او) خلک یې وګوري نو هغه خلک به ټول ایمان راوړي چې د ځمکې په مخ باندې وي نو دا به هغه وخت وي چې هیچا ته به د ایمان راوړل ګټه ونه رسوي (مقبول به نه شي) چې پخوا یې ایمان نه وي راوړی.

درېیم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَا تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ حَتَّى تَنْقَطِعَ التَّوْبَةُ وَلَا تَنْقَطِعُ التَّوْبَةُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا»[5] یعنې: هجرت به ترهغه قطعه نه شي ترڅو چې توبه قطعه شي، او توبه به ترهغه قطعه نشي ترڅو چې لمر د خپل مغرب څخه راوخېژي.

څلورم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: الله ﷻ د مغرب د پلوه یوه دروازه په هغه وخت کښې پیدا کړې ده چې اسمانونه او ځمکې یې پیدا کړې، د دغې دروازې پراخوالی دومره زیات دی چې په پلنوالي کښې یې سور سړی څلوېښت (۴۰) کاله یا اویا (۷۰) کاله مزل کوي.

دغه دروازه د توبې دپاره بېرته ده «لَا يُغْلَقُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْهُ»[6] یعنې ترهغه به بنده نه شي ترڅو چې لمر د همدې (مغرب) طرف څخه راوخېژي.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۶ ص۷۹۷
(۲) روح المعاني ج۸ ص۶۳
(۳) سنن ابن ماجه ص۳۱۴
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۶۶۷
(۵) سنن أبي داوٗد ج۱ ص۳۳۶
(۶) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


په دغه وخت کښې ځکه د توبې دروازه بندېږي او د کفر څخه توبه تائب کېدل د اعتبار و نه دي چې ایمان د بالغیب د مرحلې څخه د بالمشاهده مرحلې ته رسېږي او ایمان بالمشاهده هیڅ‌ډا ته د دائمي دوزخ څخه نجات نه شي ورکولی.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: په دغه وخت کښې که یو مؤمن د ګناه څخه توبه وباسي ایا د الله ﷻ په نزد باندې مقبوله ده؟

مونږ وایو چې: ځینې مفسرین کرام وایي لکه د کفر څخه چې توبه ویستل اعتبار نه لري همدارنګه د ګناه څخه توبه هم د منلو قابله نه ده[۱]. او ځینې نور وایي چې د توبې د عدم قبول اختصاص په کافر پورې دی او د مؤمن توبه په دغه وخت کښې هم قبلېږي[۲].

مګر مونږ ته داسې برېښي چې د ګناه څخه په دغه وخت کښې د توبې قبلیدل د الله ﷻ په وعده کښې داخل نه دي، هو که په خپل فضل سره د کوم مؤمن توبه قبوله کړي نو دا بېله خبره ده.

د دې نظیر به داسې وي چې د قیامت په ورځ الله ﷻ د یوه کافر د کفر څخه هم نه تېرېږي، اما په دغې ورځ کښې چې هرڅه بالمشاهده ګرځېدلي دي، ځینو ګناهګارانو ته ګناهونه بښي بلکې لا په حسناتو باندې یې ورته بدلوي چې چاته یې اراده وشي.

## د مغرب څخه د لمر راختلو په اړوند څو ټکي

۵ـ ځینو مفسرینو کرامو[۳] د مغرب څخه د لمر په راختلو کښې زښت ډېر معلومات او روایات راغونډ کړي دي مګر مونږ صرف په لاندې ټکو باندې اکتفاء کوو:

الف: مشهوره دا ده چې لمر به د مغرب څخه فقط یوه ورځ را وخیژي او نورې ورځې به د خپل عادت مطابق د مشرق څخه راخېژي او په مغرب باندې به پریوزي[۴].

ب: کله چې لمر د مغرب څخه راوخیژي نو د اسمان نیمایي پورې به راپورته شي او بیا به بېرته تاو شي او په مغرب باندې به پرېوزي[۵]، په دغې ورځ کښې به طلوع او غروب د یو ځای څخه وي.

ج: د ذکر شوې غټې علامې د څرګندېدلو څخه وروسته به هم په خلکو باندې دنیا ودانه وي او آن یو سلو شل (۱۲۰) کاله به دوام وکړي، خپل عادي ژوند به کوي حتی چې د خرما ونې به هم ولري چې د نورو ونو څخه وروسته میوه ورکوي[۶].

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۱۹۵
(۲) تفسیر القرطبي ج۸ ص۱۴۸
(۳) الدر المنثور ج۳ ص۳۹۰؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۱۹۳
(۴) روح المعاني ج۸ ص۶۳
(۵) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۱۹۴
(۶) تفسیر القرطبي ج۸ ص۱۴۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶_ که څوک وایي چې: په دغو یو سلو شلو (۱۲۰) کالو کښې د لاندې کسانو ایمان مقبول دی او که نه:

الف: چې د مغرب څخه د لمر د راختلو په وخت کښې صغیر وي (خطاب ورته متوجه نه وي) او بیا بالغ شي.

ب: چې هلته لېونی یا بې هوښه وي او بیا هوښیار او یا په سد شي.

ج: چې یا د ذکرې شوې علامې د تحقق څخه وروسته وزېږېږي او د بلوغ وخت ته ورسېږي.

مونږ وایو چې: د دغو کسانو ایمان مقبول دی، ځکه چې د دوی ایمان د بالغیب څخه د بالمشاهده مرحلې ته نه وځي[1]، والله ﷻ أعلم.

## سوال جواب

۷_ که څوک وایي چې: د دغو کلماتو: ﴿لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَٰنُهَا لَمْ تَكُنْ ءَامَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِىٓ إِيمَٰنِهَا خَيْرًا﴾ د معنی حاصل خو ظاهراً داسې راوځي چې هیچاته د هغه ایمان په دوه صورتونو کښې ګټه نه شي رسولی، یو دا چې پخوایې بالکل ایمان نه وي راوړی او په دغه وخت کښې ایمان راوړي، او بل دا چې ایمان خو یې پخوا راوړی وي خو نېک عمل یې پکښې نه وي کړی او په دغه وخت کښې غواړي چې نېک عمل ورسره پیوسته کړي او د ایمان څخه نجات بښونکی ایمان جوړ کړي، که نه نو ایمان یې د الله ﷻ په نزد مقبول نه دی.

حال دا چې الله ﷻ فرمایي: ﴿فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ﴾ [الزلزال:۷] یعنې: نو هرچا چې د یوې ذرې په اندازه د خیر کار کړی وي هغه به وګوري (او اجر به یې واخلي). او معلومه ده چې بې عمله ایمان خو لوی خیر دی ایا دا به ضایع شي؟

مونږ وایو چې: دلته د "او" توری د نفي په سیاق کښې واقع شوی دی چې عموم فائده کوي. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: په دغې ورځ کښې ایمان داسې کس ته ګټه نه شي رسولی چې پخوا یې نه ایمان راوړی وي او نه یې د خیر کار کړی وي؛ او پوره څرګنده ده چې دغه حالت خو یوازې په کافر باندې تطبیقېږي نه په بې عمله ایماندار.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۸_ که څوک وایي چې: په دې تقدیر د ﴿أَوْ كَسَبَتْ فِىٓ إِيمَٰنِهَا خَيْرًا﴾ د جملې په نزول کښې څه حکمت دی، ځکه څوک چې اصل ایمان ونه لري نو په ایمان کښې ښېګنې به د کومه کړي، چرته چې ظرف نه وي هلته مظروف هم نه وي. لنډه دا چې په ذکر شوي مطلب کښې دغه جمله هیڅ اثر نه لري؟

---

(۱) روح المعاني ج۸ ص۶۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: په ذکرو شوو کلماتو کښې د لاندې دوه وو مطالبو بيان ته اشاره ده:

الف: کافرانو ته په دغې ورځ کښې ايمان او نېک عمل دواړه څه ګټه نه شي رسولی ځکه چې د دغې ورځې څخه پخوا دوی نه ايمان درلود او نه نېک عمل، او په دغې ورځ کښې يې نه ايمان مقبول دی او نه نېک عمل درلودلی شي.

ب: مؤمنانو ته پخوانی ايمان او پخوانی نېک عمل دواړه ګټور دي، برابره خبره ده چې په اجتماعي توګه وي چې باعمله ايمان ولري، او يا په انفرادي توګه وي چې يوازې ايمان ولري.

اما په همدغه انفرادي صورت کښې که د ذکرې شوې علامې د تحقق څخه وروسته وغواړي چې د پخوانيو ګناهونو څخه توبه تائب شي نو د موعود مقبوليت څخه لوېږي او د الله ﷻ په فضل پورې توقف لري اوبس.

نو که بالفرض ذکره شوې جمله په نزول کښې نه وی اضافه شوې نو دوهم مطلب به هم پوره نه وی شرحه شوی، وَالله ﷻ أعلمُ بمراده.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ فَرَّقُوا۟ دِينَهُمْ وَكَانُوا۟ شِيَعًا لَّسْتَ مِنْهُمْ فِى شَىْءٍ ۚ إِنَّمَآ أَمْرُهُمْ إِلَى ٱللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿١٥٩﴾ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦٠﴾ ﴾

[۱۵۹] بې شکه هغو کسانو چې خپل (اصلي حق) دين يې ټوټه-ټوټه کړی دی او دوی ډلې-ډلې جوړ شوي دي (چې ټول په باطله روان دي) ته (ای پيغمبره !) د دوی څخه په هيڅ شي کښې نه يې (تاته هيڅ مسؤليت نشته، ځکه چې) يقيناً د دوی کار الله ﷻ ته (مفوض، پرېښودل شوی) دی. بيا به يې (چې کله دوی د الله ﷻ په حضور کښې ودرېږي) په هغو کارونو باندې خبر کړي چې دوی (په دنيا کښې) وه چې کول به يې.

[۱۶۰] هرڅوک چې يوه نېکي راولي (وکړي) نو ده لره (اقلاً) د هغې نيکۍ لس مثله (چنده) دي، او هرڅوک چې يوه بدي راولي (وکړي) نو جزا به ورنه کړی شي مګر د هغې په مثل (يو په يو)، او دوی چې دي تېری به ورباندې ونه کړی شي.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنيو ايتونو کښې توصيه شوې وه چې د يوې (حقې) لارې پيروي وکړئ چې متحد شئ او د باطلو لارو پيروي مه کوئ چې ټول به تيت پرک شئ؛ په دې ايتونو کښې د همدې مضمون يوه مصداق ته اشاره شوې ده.

۲ـ هلته د بې وخته ايمان اهانت او عدم مقبوليت بيان شوی وه او دلته په خپل وخت سره د ايمان او نورو نېکيو قدرداني ښودل شوې ده چې حاصل يې داسې کېږي:

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! تا خو ټولو خلکو ته، یهود دي او که نصارا، مشرکان دي او که بله ډله، حقه لاره روښانه کړې ده؛ هغه لاره چې د الله ﷻ لاره ده او ټول پیغمبران علیهم السلام وربانديې تللي دي نو هر چا چې ستا خبره ونه منله او د شیطاني باطلو لارو پیروي يې وکړه او خپل ځانونه يې په متفرقو ډلو باندې وویشل نو د دوی په باره کښې تاته هیڅ مسوٴلیت متوجه نه دی، تاخو خپله غاړه په احسنه توګه فارغه کړه، د دوی ټول کارو بار الله ﷻ ته مفوض دی چې هرڅوک به په خپلو کړو وړو خبر کړي او موافقه جزا به ورکړي.

ای پیغمبره! د نېکۍ جزا او یا د بدۍ جزا ورکولو په هکله د الله ﷻ قانون دا دی چې د یوې نېکۍ په مقابل کښې اقله درجه لس چنده اجر ورکوي، او د وړېورته چندونو اندازه یوازې الله ﷻ ته معلومه ده چې ترڅو چندونو پورې به يې رسوي، اما د یوې بدۍ په مقابل کښې د یوه مثل څخه اضافه جزا نه ورکوي که بالفرض اضافه ورکړي نو دا به د بندګانو سره تېری وي او الله ﷻ د تېري څخه منزه دی.

## توضیحات

۱ـ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې دلته داهل الکتابو (یهودو او نصاراوو) تفرق او تشتت ته اشاره ده[١]، مګر مونږ ته دا بهتره ښکاري چې د آیت شریف مفهوم عام پرېښودلی شي ترڅو د دې امت ټولو ګمراه ډلو ته شامل شي، ځکه چې په نصوصو کښې د مفاهیمو عموم په نظر کښې نیول کېږي، نه خصوص د مورد. نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې: د هغو کسانو په کړو وړو باندې تاته څه مسئولیت متوجه نه دی کومو چې خپل اسماني دین چې د ابراهیم ﷺ څخه ورته پاتې وه ټوټه-ټوټه کړ، څوک مشرکان شوه څوک مجوسیان او بالآخره چا خپل ځان ته یهودیت غوره کړ او چا په نصرانیت منګولې ښخې کړې او داسې نور. همدارنګه د هغو کسانو په باره کښې هم ته مسئول نه يې چې خپل دین به (چې تا ور وړی دی) تجزیه کړي، څوک به معتزله شي، څوک جبریه او څوک بله ډله. لکه چې همداسې وشوه، دا امت هم په درې اویا ډلو باندې وویشلی شو.

## یادونه

۲ـ مونږ د [آل عمران: ۱۰۵] آیت لاندې د دې امت د ګمراه ډلو او هم د اهل الکتابو د تفرق او تشتت په باره کښې څه معلومات لیکلي دي چې د آیت تفسیر وړېورې ارتباط لري، نو هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## د حسناتو چندونه

۳ـ د حسناتو د اجرونو په باره کښې ډېر ایتونه وړاندې تېر شوي دي او ډېر راتلونکي دي، همدارنګه په همدې هکله زښت ډېر احادیث هم روایت شوي دي چې یوه مجموعه يې ځینو

---

(١) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۲۰۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

مفسرینو کرامو راغونډه کړې ده(۱) مګر مونږ د لاندې یوه اوږده حدیث د مضمون په لیکنه باندې اکتفاء کوو هغه دا چې:

نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې الله ﷻ کرام الکاتبین (پرښتو) ته امر کوي چې کله زما بنده د بد کار نیت وکړي نو هغه وربانديې ترهغه مه لیکئ چې خپل نیت ته د عمل جامه وروا‌غوندي، هر کله یې چې عملي کړ نو فقط د یوه بدکار جزا ورته ولیکئ او زیادت وربانديې مه لیکئ، او که خپل د بد کار نیت بي عملي نه کړ او زما د رضا دپاره ترې تېر شو نو یوه نېکي ورته ولیکئ (ځکه چې د بدکار ښخه مخ اړول هم یوه نېکي ده).

او که زما بنده د نېکۍ نیت وکړ نو د عملي کولو ښخه وړاندې ورته یوه نېکي ولیکئ (چې نیک کار ته نیت کول هم یو نیک کار دی)، او که دغه د خیر نیت یې عملي کړ او نېکي یې وکړه نو «فَاكْتُبُوهَا لَهُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةٍ»(۲) یعنې په لسو چندونو سره آن تر اوه سوه چنده پورې یې ورته ولیکئ.

## یادونه

که ښه هم په اصل مطلب باندې ښه فرق نه پریوزي مګر د دې سره‌سره ممکنه ده چې ﴿فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾ د کلماتو ښخه په لاندې دوه ډولو باندې تعبیر وکړو:

الف: یوه نېکي د الله ﷻ په نزد اقلًا د لسو نېکیو غوندې شمېرله کېږي نو د یوې نیکۍ په عوض نېکو کارانو ته اقلًا لس نیکۍ لیکل کېږي.

ب: یوه نېکي چې کوم اجر د الله ﷻ په نزد لري هغه ورته لس چنده لیکلی کېږي.

﴿ قُلْ إِنَّنِي هَدَىٰنِي رَبِّيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَٰهِيمَ حَنِيفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١٦١﴾ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُۥ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾ قُلْ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِي رَبًّا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ۚ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُم مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿١٦٤﴾ وَهُوَ ٱلَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَٰٓئِفَ ٱلْأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَآ ءَاتَىٰكُمْ ۗ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ ٱلْعِقَابِ وَإِنَّهُۥ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌۢ ﴿١٦٥﴾ ﴾

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۱۹۶
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۱۱۱۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۶۱] (ای پیغمبره! خپل دریځ بیان کړه او) ووایه چې: بې شکه زه چې یم خپل رب ﷻ سمې لارې ته رهنمائي کړی یم؛ (دا مستقیمه لاره) دائم او قائم دین (دی چې) د ابراهیم ؑ ملت (سیده) په داسې حال کښې چې حنیف دی (د ټولو باطلو ادیانو څخه حق دین ته په څنګ کېدونکی (دی) او د مشرکانو څخه هم نه وه.

[۱۶۲] ووایه چې یقینًا زما لمونځ او زما قربانی او (بالآخره) زما ژوند او زما مرګ خاص الله ﷻ لره دی چې د ټولو عالمونو پالونکی دی.

[۱۶۳] ده ﷻ لره هیڅ شریک نشته او په همدې باندې ماته امر کړی شوی دی او زه (د خپل رب هدایتونو ته) په ټولو غاړه ایښودونکو کښې اول نمره (غاړه ایښودونکی) یم (د هرچا څخه مخکښې بې عملي کوم).

[۱۶۴] (ورته) ووایه چې ایا زه د الله ﷻ څخه په غیر بل رب (پالونکی) ولټوم حال دا چې هغه ﷻ د هر شي رب (پالونکی) دی.

او (د بدۍ عمل) هیڅوک نه کوي مګر په خپل ځان باندې (یې کوي، چې ضرر یې همده ته راجع دی او بس)، او هیڅ (پېټی) په شا کوونکی د بل چا پېټی نه په شا کوي. بیا (نو ستاسو) خپل رب ﷻ ته ورګرځېدل دي، نو په هغه شي باندې به مو خبر کړي (او فیصله به وکړي) چې تاسو (په دنیا کښې) وئ چې اختلاف مو پکښې کاوه.

[۱۶۵] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې په ځمکه کښې خلیفه ګان جوړ کړي یاست او ستاسو ځینو ته یې په ځینو نورو باندې درجې پورته کړې دي، د دې دپاره چې په هغه شي کښې مو وآزمایي چې تاسو ته یې درکړی دی.

یقینًا ستا رب ﷻ چالاک عذابی دی، او بې شکه همدې ﷻ ضرور بښونکی (او) مهربان دی.

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندې ایتونو کښې د مشرکانو دریځ بیان او تردید شوی وه او په دې ایتونو کښې د نبي کریم ﷺ دریځ شرحه شوی دی.

۲ـ هلته د شیطان د متعددو لارو نتیجه شرحه شوي وه او دلته د الله ﷻ د واحدې لارې نتیجه شرحه کېږي.

## د مطلب خلاصه

یعنې: ای پیغمبره! کله چې تا د مشرکانو دریځ پوره شرحه کړ چې عناد نیولي دي او د شیطان د متعددو لارو پیرو دي او په مختلفو ګروپونو باندې وېشلی شوي دي او یو د بل وینو ته ناست دي، اوس ټولې دنیا ته خپل دریځ شرحه کړه چې ستا ټول تابعان سره ورونه دي او ټول په یوه واحده لاره باندې روان دي، دا لاره آن د ابراهیم ؑ څخه د پاتې ده، دریځ دادی:

Downloaded from: bawarkotabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ ټولو خلکو ته ووایه چې: ماته خپل رب هدایت کړی دی او په هغې واحدې برابرې لارې باندې یې روان کړی یم چې د همده ﷻ رضا پکښې نغښتې ده، ما هیڅوک د دې لارې څخه نه شي اړولی او نه دي راته څوک د اوښتنې تمه کوي.

۲ـ دا لاره چې ماته الله ﷻ راښودلې ده زما دین دی او همدبته مې غاړه ایښې ده، دغه لاره دائمي لاره ده، په دې کښې بدلون رابدلون نشته او نه پکښې څوک ګوتې وهلی شي.

په دې لاره باندې زما د دنیا او آخرت نظام څرخېږي. یا په بل عبارت: په دغې لاره باندې لکه څنګه چې د دنیا کارونه جوړېږي همدارنګه د آخرت د کارونو دپاره هم فقط همدا لاره کفایت کوي او بس.

۳ـ په دغې لاره باندې ټول پیغمبران علیهم السلام تللي دي، همدغه لار د ابراهیم علیه السلام لاره ده چې ټول خلک ورته په حقانیت باندې قائل دي، او دا څکه چې ابراهیم علیه السلام د ټولو باطلو ادیانو څخه مائل او په حق دین پورې نښتی وه، چې نه یهودي وه، نه نصراني او حتی نه د مشرکانو څخه وه.

زما ذکره شوې لاره هم د ټولو متعددو شیطاني لارو څخه جدا ده چې نه پکښې د شرک څه نښې شته او نه د بل کوم باطل دین اثار.

۴ـ ای پیغمبره! دا هم ورته ووایه چې: زما په درېځ کښې دا خبره شامله ده چې زما ټول کړه وړه د الله ﷻ څخه په غیر په هیڅا پورې تړلي نه دي، او ولې به تړلي وي چې الله ﷻ د ټولو عالمونو پالونکی دی، ایا د ده څخه په غیر بل پالونکی شته؟.

لنډه دا چې زما بدني عبادت او زما مالي عبادت لکه لمونځ او قرباني، او هم زما ژوند او مرګ ټول په الله ﷻ پورې اختصاص لري، زما هیله دا ده چې په همدغې درېځ باندې ژوند وکړم او په همدغه درېځ باندې مړ شم او د مرګ د وخته پورې ورباندې کلک ودرېږم.

۵ـ ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې په ذکر شوي درېځ باندې زه د الله ﷻ د پلوه مامور شوی یم او ما د خپل رب ﷻ امر ته غاړه ایښې ده، بلکې زه په اکمله توګه غاړه ایښودونکی او اول نمره مسلمان یم، په همدغه درېځ باندې پخپله ولاړ یم او نور خلک ورته هم ستاسو په شمول دعوت کوم، داسې نه ده چې خلک ورته رابلم او پخپله ورته شا کوم.

۶ـ ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې ایا ما سره دا مناسبه ده چې د الله ﷻ څخه په غیر د بل رب (پالونکي) په لټه کښې شم حال دا چې دا ﷻ د هر شي رب (پالونکی) دی، ایا د الله ﷻ څخه په غیر بل پالونکی هم چرته موجودیت لري؟ ایا بل څوک هر شي پاللی شي؟!.

۷ـ ای پیغمبره! په آخر کښې د خپل درېځ دغه څو اجتماعي احکام او لارښوونې خلکو ته د مثال په توګه بیان کړه چې دوی پکښې د مقایسې په ډول فکر وکړي:

الف: په دغې لاره کښې یو دا قانون دی چې د هر چا ګناه په خپله غاړه ده، هیڅوک خپله ګناه د بل چا په غاړه باندې نه شي وراچولی، نو د یهودانو دا عقیده غلطه ده چې څو ورځې به دوی څکه دوزخ ته داخل کړی شي چې پلرونو یې د خوسي عبادت کړی وه.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: بل دا قانون دی چې هیڅوک په خپله خوبنه د بل چا گناه په خپله غاړه نه شي اخستی، چې کفر اختیار کړه ستا گناه دې زما په غاړه وي. او یا په بل عبارت، ستا په عوض به زه دوزخ ته لاړ شم.

۸ـ ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه ټول خلک مخاطب کړه چې د دنیا د ورانبدلو څخه وروسته به تاسو ټول خپل رب ﷻ ته په خوښه او ناخوښه رجوع وکړئ او په اختلافي موضوعگانو باندې به مو خبر کړي چې تاسو په دغه او په هاغه کښې اختلاف کاوه او حق د فلاني په جانب دی او فلانی په ناحقه وه.

۹ـ او دا هم ورته ووایه چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د تېرو شوو خلکو په ځای باندې یې تاسو دروليي یاست او د ځمکې خلافت یې تاسو ته درکړی دی.

هو! ستاسو په منځکښې یې د رتبو تفاوت (ټیټ او جگ) د دې دپاره پیدا کړی دی چې تاسو د ابتلاء او ازمېښت لاندې راولي او هر چاته یې چې څومره شی ورکړی دی په هغه کښې یې وازمايي.

۱۰ـ نو ای پیغمبره! ستا رب ﷻ به د خپل کامل علم په غوښتنه د نتائجو په وخت کښې خلک په دغو گروپونو باندې ووېشي:

اول: ځینو ته به عذاب ورکړي، چې عذاب یې چالاکه راروان دی او هیڅوک ترې نه بچ کیدلی شي او نه یې مخنیوی کولی شي.

دوهم: ځینو ته به مغفرت وکړي او د گناه څخه به ورتېر شي.

دریم: بالآخره په ډېرو باندې به مهرباني وکړي، نېک اعمال به یې قبول کړي او درجې به یې لوړې کړي.

## توضیحات

۱ـ علماوو کرامو د ﴿وَنُسُكِي﴾ کلمه په ډېرو معناوو باندې تفسیره کړې ده[۱] مگر د دې مقام په اعتبار سره موږ ته بهتره ښکاري چې د "نُسُك" څخه په قرباني مطلب وي. نو د معنې حاصل به یې داسې شي چې: زما قرباني د مشرکانو د قربانیو په شان نه دي چې د بوتانو په نامه ځاروي ذبحه کوي، زما مذبوحې فقط د الله ﷻ په نامه دي او بس.

۲ـ همدارنگه دوی د ﴿وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُسْلِمِينَ﴾ جمله هم په ډېرو معناوو سره ترجمه کړې ده[۲]، مگر موږ ته بهتره ښکاري چې معنی به یې دا وي چې: زه چې څه تاسو ته وایم او ما چې څه راوړي دي هغه ته زه د هر چا څخه وړاندې غاړه ږدم او په ځان یې عملي کوم، هسې نه چې تاسو ورته دعوت کوم او پخپله ورته تسلیم نه یم.

نو ذکره شوې جمله د شعیب ﷺ (خطیب الانبیاء) جملې ته ورته ده چې الله ﷻ د ده د خولې څخه داسې حکایت کوي: ﴿وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَىٰ مَآ أَنْهَىٰكُمْ عَنْهُ﴾ [هود:۸۸] یعني: زما دا نیت نه

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۰۹

(۲) تفسیر القرطبي ج۸ ص۱۵۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی چې زه تاسو د کوم شي څخه منعه کوم همغه ته پخپله ورشم او ستاسو څخه مخالفت وکړم، بلکې زه خپلو هدایتونو ته اول نمره غاړه ایښودونکی یم.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې د دې جملې ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ﴾ مضمون خو په وړاندې جمله ﴿ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا ﴾ کښې شامل دی نو په نزول کښې یې څه حکمت وه؟

مونږ وایو چې: د دې جملې مضمون هلته نه دی شامل، ځکه چې د هغې مضمون دا دی چې هیڅوک خپله ګناه په بل چا باندې نه شي تحمیل کولی چې په زور سره یې هغه ته ورپه شا کړي. او د دې جملې مضمون دا دی چې دغه کار څوک په خوښه هم نه شي کولی چې ته جنایت وکړه او جزا به یې زه وګالم. لکه چې یوه ورځې مشرکانو نبي کریم ﷺ ته وړاندیز وکړ چې د دغه کار (دین) څخه لاس واخله نو که تاته څه مصیبت رسېږي د هغه مونږ ذموار یاستو[1]، یا لکه چې یوه ورځ مشرکانو مسلمانانو ته وویلې چې تاسو زمونږ لارې (شرک) ته را واوړئ ستاسو ګناهونه دې زمونږ په غاړه وي [العنکبوت:۱۲].

## یادونه

د دې کتاب (عزیز التفاسیر) لیکنه مونږ د الله ﷻ په توفیق په ۱۳۶۹/۶/۲هـ ش نېټه پیل کړې وه، دا دی اوس د الله ﷻ په لوی فضل او بې پایانه مهربانۍ سره د الأنعام د سورت پای ته راورسېدو او د قرآن کریم د څلورمې برخې ترجمه او تفسیر په پښتو ژبې سره بشپړ شو، چې ټول وخت ورباندې تقریبًا څلور کاله او لس میاشتې مصرف شو. الله ﷻ ته امید کوو چې د قرآن کریم د آخره پورې یې تمام کړي.

د ټولو محترمو لوستونکو او دوستانو څخه هیله مند یو چې د الله ﷻ په دربار کښې زمونږ دپاره سوال وکړي چې دا تفسیر زمونږ په لاس تکمیل کړي او هم یې په خپل نزد کښې مقبول وګرځوي او مسلمانانو ته یې ګټور واقع کړي.

اللّهُمَّ اجْعَلْ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لا شَرِيكَ لَه
آمِينَ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ.
۱۳۷۴/۵/۲۰ هـ ش (تقریبًا).

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۰۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

# الأعراف (۷)


Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


# سریزه

د دې څخه وړاندې چې مونږ د دې سورت د ایتونو په تفسیر باندې پیل وکړو لازمه ګڼو چې د محترمو لوستونکو پام لاندې مطالبو ته ورواړوو، ترڅو یې په اجمالي توګه ذکر شوی سورت په ذهن کښې ځای ونیسي او د مضامینو په فهم کښې ورسره لاس وکړي.

۱_ دا سورت د "الأَعْرَاف" په نامه باندې نومولی شوی دی چې همدغه کلمه د دې سورت په [۴۶ ، ۴۸] ایتونو کښې ذکره شوې ده. په دغه ډول نوم اینښودلو ته منطقیان "تسمیة الکل باسم الجزء" وایي، یعنې ټول سورت د یوه جزء په نامه یاد شوی دی. ذکره شوې کلمه به په خپل ځای کښې د الله ﷻ په توفیق د څېړنې لاندې ونیوه شي.

۲_ د عبدالله بن عباس رضي‌الله‌عنهما په روایت دا سورت ټول مکي سورت دی(۱). ځینې علماء کرام وایي چې همدغه خبره غوره ده(۲). مګر ځینې نور عقیده لري چې په دغه سورت کښې اته ایتونه مدني هم شته دي(۳) چې د [۱۶۳] آیت څخه پیل شوي دي.

۳_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي(۴):

الف: د دې سورت د ایتونو شمېره دوه سوه او شپږ (۲۰۶) ته رسېږي چې د وړاندې سورت (الأنعام) څخه یې ایتونه ډېر دي، نو معلومه شوه چې د سورتونو ترتیب د ایتونو په شمېره باندې بنا نه دی بلکې توقیفي دی، لکه چې د لومړي سپارې په سریزه کښې ورته څه اشاره شوې ده.

ب: د دې سورت د کلماتو شمېره درې زره درې سوه پنځه ویشت (۳۳۲۵) ده.

ج: د حرفونو شمېره یې څوارلس زره درې سوه لس (۱۴۳۱۰) ته رسېږي.

## د الأنعام او د الأعراف سورتونو تناسب

۴_ څرنګه چې ذکر شوي دواړه سورتونه د هجرت څخه وړاندې نازل شوي دي نو په لاندې نکاتو کښې سره یو تربله تناسب لري:

الف: په دواړو کښې د عقیدوي کلیاتو بحث دی لکه د الله ﷻ توحید، د نبي کریم ﷺ نبوت او بالآخره بیا ژوندي کیدل او داسې نور.

ب: مګر هلته د عقایدو په اثبات باندې زیات زور اچول شوی دی او دلته یې د دعوت څخه ډېره شرحه شوې ده چې پیغمبرانو علیهم‌السلام په دې لاره کښې د تاریخ په اوږدو کښې څومره مشکلات ګاللي دي.

---

(۱) الدر المنثور ج۳ ص۴۱۲
(۲) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۲۰۹
(۳) تفسیر المنار ج۷ ص۲۹۴
(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۹ ص۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: هلته هم د مشرکانو مزخرفات رد کړی شوي وه، لکه د څارویو تحریم. او دلته هم د دوی مزخرفات ردېږي، لکه په بربنډه باندې طواف کول.

د: هلته الله ﷻ په خپل اقدس ذات باندې د رحمت د لزوم بیان کړی وه چې: ﴿ كَتَبَ عَلَىٰ نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ﴾ [الأنعام:۱۲] یعنې: الله ﷻ په خپل اقدس ذات باندې رحمت لازم ګرزولی دی. او دلته یې هر شي ته د رحمت رسېدنه نازله کړې ده چې: ﴿ وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ﴾ [الأعراف:۱۵۶] یعنې: او زما مهرباني هر شي ته رسېدلې ده.

## د دواړو سورتونو د نږدې ایتونو ارتباط

۵ـ د هغه سورت (الأنعام) د وروستني ایتونو او د دې سورت (الأعراف) د لومړنیو ایتونو اړوند د لاندې وجوهو د کبله ذهن ته راځي:

الف: کومه لاره چې نبي کریم ﷺ هلته په خپل دریغ کښې ښودلې وه چې ﴿ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ﴾ [الأنعام: ۱۶۱]، په همغې لاره باندې دلته د ټولو امر شوی دی چې: ﴿ اتَّبِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ [الأعراف: ۳] یعنې: تاسو ټول د هغه شي پیروي وکړئ کوم چې تاسو ته د خپل رب ﷻ د پلوه درنازل کړی شوی دی.

ب: هلته واضحه شوې وه چې یوې نېکۍ ته لس اجرونه ورکول کېږي او دلته د اعمالو د تول بیان دی چې هره نېکي او هره بدي به تلله کېږي.

ج: هلته دا خبره هم څرګنده شوې وه چې د قیامت په ورځ به په اختلافي مسائلو کښې حقه فیصله وشي او دلته همدا موضوع تعقیب شوې ده چې حتی د پیغمبرانو علیهم السلام څخه به هم پوښتنه وکړی شي.

د: هلته په وروستني آیت کښې د ﴿ جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ الْأَرْضِ ﴾ جمله نازله شوې وه او دلته دوهمه رکوع د ادم ﷺ د خلافت پورې په مربوط بحث کښې نازله شوې ده چې د خلافت په اولو وختونو کښې ورته څه پېښ شوه.

## د دې سورت څو محتویات

۶ـ څرنګه چې قران کریم د الله ﷻ کتاب دی او د الله ﷻ د کامل علم څخه نمایندګي کوي نو هیڅوک نه شي کولی چې د یوه سورت ټول مضامین په ګوته کړي، نو د همدې کبله مونږ د لاندې محتویاتو نومونه د مثال په توګه اخلو چې په دې سورت کښې بیان شوي دي:

الف: د ما انزل الله اتباع (پیروي) واجبه ګرځوله شوې ده.

ب: د قیامت په ورځ د نېکو او بدو په انصاف سره تلل یقیني کار دی.

ج: د ادم ﷺ خلقت او د ابلیس ـ علیه اللعنة ـ سره د ده ﷺ قیصه.

د: په همدغې قیصې باندې ځینې تفریعي احکام.

ه: د جنتیانو او دوزخیانو یو تربله سره خبرې کول.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و: د نوح ﷺ، هود ﷺ، صالح ﷺ، شعیب ﷺ، او د موسی ﷺ قیصې، چې ټولې د عبرت ځخه ډکې دي.

ز: د اصحاب السبت قیصه او هم د عالم الذر قیصه.

ح: بالآخره د "بلعام بن باعوراء" قیصه، او د قیامت د ورځې قیام او داسې نور.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ الٓمٓصٓ ﴿١﴾ كِتَٰبٌ أُنزِلَ إِلَيْكَ فَلَا يَكُن فِى صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ لِتُنذِرَ بِهِۦ وَذِكْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢﴾ ٱتَّبِعُوا۟ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ ۗ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٣﴾ ﴾

د بې اندازې مهربان او بې اندازې بارحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

[۲] دا (قرآن کریم) داسې کتاب دی چې تاته درنازل کړی شوی دی نو ستا په سینه (زړه) کښې دې د ده ځخه څه شک نه وي (چې دا به حق نه وي). د دې دپاره (درنازل کړی شوی دی) چې ته پرې (کافرانو د الله ﷻ د عذاب ځخه) وډار کړې او مؤمنانو ته وربانديې پند ورکړې.

[۳] (نو خلکو ته ووايه چې) د هغه شي پیروي وکړئ چې تاسو ته د خپل رب ﷻ د پلوه نازل کړی شوی دی (په دې کښې د ستاسو د رب ﷻ پیروي نغښتې ده) او د خپل رب ﷻ ځخه په غیر د نورو دوستانو پیروي مه کوئ، ډېر لږ وخت تاسو پند اخلئ (پیروي مو کمه ده).

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! کوم کتاب چې تاته نازل کړی شوی دی هغه داسې کتاب دی چې پخپله په خپل ځان باندې دلیل دی. یا په بل عبارت: خپل ځان پخپله ثابتوي چې د الله ﷻ کتاب دی او دا ځکه چې دغه کتاب د هغو حرفونو ځخه ترکیب موندلی دی د کومو ځخه چې د خلکو خبرې اترې ترکیب مومي لکه: الف، لام، م، ص او داسې نور، خو د دې سره-سره ټول خلک یې د پیریانو او ملائکو په شمول د مقابلې ځخه عاجز دي او عاجز به وي، حتی ته هم د خپله ځانه د دې کتاب په مثل د یوه آیت د راوړلو ځخه عاجز یې او عاجز به یې.

۲ـ نو ای پیغمبره! د دې کتاب په حقانیت کښې خو ستا سره هیڅ شک او شبهه نشته مګر مشرکان او دښمنان غواړي چې تا پکښې داسې ښکمن جوړ کړي لکه ځنګه چې دوی پخپله پکښې شکمن دي، پام کوه چې څه شک پکښې ونه کړې او د کافرانو د خبرو پیروي ونه کړې. دا هدایت مو ځکه تاته وکړ ترڅو د هغوی تمه قطعه شي چې تا به بې لارې کړي.

نو کله چې دا کتاب (قرآن کریم) په ثبوت کښې حاجت ته نه لري او د معجزې په توګه په خلکو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې خپل ځان مني، نو ستا فقط همدا وظیفه ده چې کافران ورباندې د الله ﷻ څخه وډار کړې چې په ایمان باندې مشرف شي او مؤمنانو ته پرې پند او نصیحت وکړې چې په خپلو ټولو کړو وړو کښې بې کرنلاره جوړ کړي.

۳ـ نو ای مؤمنانو! د خپل پیغمبر نصیحت قبول کړئ او د هغه کتاب پیروي وکړئ کوم چې تاسو ته د خپل رب ﷻ د پلوه نازل کړی شوی دی او ستاسو تربیه او پالنه پکښې په اکمله توګه په نظر کښې نیولې شوې ده.

د دې کتاب پیروي ستاسو د خپل رب ﷻ پیروي ده نو د خپل رب ﷻ د پیروۍ څخه په غیر د شیطانانو او باطلو معبودانو پیروي مه کوئ چې د ضرر څخه په غیر څه ګټه پکښې نشته، مګر ډېر کم وخت تاسو دې خبرې ته متوجه کېږئ او ډېر لږ تذکر یې کوئ، تاسو ته په کار دي چې ښه زیاته توجه ورته وکړئ او د شیطانانو په لومه کښې ونه نښلئ.

## توضیحات

۱ـ د هغو حروفو په باره کښې کوم چې د سورتونو په اوائلو کښې نازل شوي دي مونږ د "البقرة" او "آل عمران" په سورتونو کښې څه ناڅه لیکلي دي چې بیا لیکلو ته یې څه اړتیا نه ګورو.

### حرج څه معنی؟

۲ـ مونږ د [الأنعام:۱۲۵] آیت لاندې د "حَرَج" د کلمې لغوي معنی بیانه کړې ده خو په دې مقام کښې یې مفسرینو کرامو په لاندې دوو ډولو باندې تفسیرونه کړي دي:

الف: جمهور علماء کرام وایي چې دلته ترې زړه تنګي او وارخطائي مراده ده[۱]، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې ای پیغمبره! دا کتاب خو په تا باندې الله ﷻ نازل کړی دی، چې هر شی یې د قدرت لاندې دی نو د دې څخه مه ډارېږه چې مشرکان به یې د پرمختګ مخه ونیسي او ستا د دعوت په مقابل کښې به خنډ واقع شي.

په همدې مضمون باندې ډېر نصوص دلالت کوي لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته خطاب کوي چې: ﴿وَلَقَدْ نَعْلَمُ أَنَّكَ يَضِيقُ صَدْرُكَ بِمَا يَقُولُونَ﴾ [الحجر:۹۷] یعنې: او یقینًا مونږ پوهېږو چې بې شکه ستا زړه هغو خبرو ته تنګېږي کومې چې مشرکان یې وایي (چې د پرمختګ مخه به یې بنده کړي).

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایي چې ما خپل رب ﷻ ته عرض وکړ چې: «إِذًا يَثْلَغُوا رَأْسِي فَيَدَعُوهُ خُبْزَةً»[۲] یعنې نو په دغه وخت کښې (چې مشرکان حق دین ته دعوت کړم) دوی به مې سر وچقوي (مات کړي) نو دوډۍ به ترې جوړه کړي (چې په غاښونو باندې میده کړی شوې وي).

(۱) تفسیر القرطبي ج۸ ص۱۶۰
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۳۸۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


ب: عبدالله بن عباس رضی‌الله‌عنهما او ځینې علماء کرام وايي چې په دې مقام کښې ترې شک مراد دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې ای پیغمبره! د دې قرآن کریم په باره کښې څه شک شبهه مه کوه چې دا به د الله ﷻ د جانبه نه وي نازل شوی.

لکه چې الله ﷻ همدا مضمون په بل ځای کښې داسې نازل کړی دی چې: ﴿فَإِن كُنتَ فِى شَكٍّ مِّمَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ فَسْـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقْرَءُونَ ٱلْكِتَـٰبَ مِن قَبْلِكَ ۚ لَقَدْ جَآءَكَ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُمْتَرِينَ﴾ [یونس: ۹۴] یعنې: ای پیغمبره! که (بالفرض المحال) ته د هغه شي څخه په شک کښې یې چې تاته مونږ درنازل کړی دی نو د هغو علماوو څخه پوښتنه وکړه چې ستا څخه وړاندې یې کتاب لوست (لکه یهود او نصارا)، یقیناً تاته د خپل رب ﷻ د پلوه حق درغلی دی نو ته هیڅکله د شک کوونکو څخه مه کېږه.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: ایا نبي کریم ﷺ _العیاذ بالله_ د قرآن کریم په حقانیت کښې شک درلود چې الله ﷻ ورته توصیه وکړه چې شک پکښې مه کوه؟!.

مونږ وايو چې: د همدغه سوال دپاره مونږ د [البقرة:۱۴۷] آیت لاندې متعدد جوابونه کړي دي چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، مګر په دې مقام کښې ورباندې همدومره اضافه کوو چې:

د منطقیانو په اصطلاح، شرطیه قضیه د خپل صدق دپاره د مقدم او تالي د امکان یا صدق غوښتنه نه کوي، بلکې کله به دواړه محال وي خو قضیه به صادقه وي. لکه چې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته توصیه کوي چې: ﴿قُلْ إِن كَانَ لِلرَّحْمَـٰنِ وَلَدٌ فَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْعَـٰبِدِينَ﴾ [الزخرف: ۸۱] یعنې ووایه که (بالفرض) مهربان الله ﷻ لره ولد وی نو زه به (د هغه) د عبادت کوونکو اول سړی وی.

مونږ ته همدغه دوهم تفسیر غوره ښکاري چې د ﴿الٓمٓ ۝ ذَٰلِكَ ٱلْكِتَـٰبُ لَا رَيْبَ ۛ فِيهِ﴾ [البقرة: ۲] آیت تفسیر ته ورته دی. ته به وايې چې دلته هم ټول خلک په غوږ وهلی شوي دي چې قرآن کریم د شک کولو ځای نه دی.

## لږ وخت تذکر څه معنی؟

۳_ د ﴿قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ﴾ جملې مضمون مونږ ته د دې جملې د مضمون سره متشابه ښکاري چې: ﴿وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِىَ ٱلشَّكُورُ﴾ [سبأ:۱۳] زما د بندګانو څخه شکر کوونکي لږ دي. نو دلته یې معنی داسې کېږي چې لږ وخت تاسو تذکر کوئ او پند اخلئ بلکې په تاسو کښې پند اخستونکي لږ دي.

﴿وَكَم مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَـٰهَا فَجَآءَهَا بَأْسُنَا بَيَـٰتًا أَوْ هُمْ قَآئِلُونَ ۝٤ فَمَا كَانَ دَعْوَىٰهُمْ إِذْ جَآءَهُم بَأْسُنَآ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ إِنَّا كُنَّا ظَـٰلِمِينَ ۝٥ فَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٦﴾ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِم بِعِلْمٍ ۖ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ ﴿٧﴾ وَٱلْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ
ٱلْحَقُّ ۚ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٨﴾ وَمَنْ خَفَّتْ مَوَٰزِينُهُۥ
فَأُو۟لَـٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُم بِمَا كَانُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا يَظْلِمُونَ ﴿٩﴾ وَلَقَدْ مَكَّنَّـٰكُمْ فِى
ٱلْأَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَـٰيِشَ ۗ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿١٠﴾ ﴾

[۴] او د ښارونو څخه څومره ډېر مونږ هلاک کړي دي، (د هلاکت وخت به یې چې نژدې شو) نو زمونږ عذاب به په داسې حال کښې ورغی چې دوی به د شپې ویده وه او یا په داسې حال کښې چې په غرمه کښې به ارام کوونکي وه.

[۵] (نو کله به چې زمونږ عذاب دوی ته وررسید) نو د دوی به بله هیڅ وینا نه وه مګر دا چې ویل به یې چې یقیناً مونږ (په خپلو ځانو باندې) ظلم کوونکي یو.

[۶] نو ضرور هرومرو مونږ به د هغو کسانو څخه هم پوښتنه وکړو چې دوی ته (پیغمبران علیهم السلام) ورلیږل شوي دي، او ضرور هرومرو به د لیږلو شوو (پیغمبرانو علیهم السلام) څخه هم پوښتنه وکړو.

[۷] نو ضرور هرومرو به په دوی (ټولو) باندې د (واقعي) علم په بنیاد (ټول کړه وړه) بیان کړو (ورته به یې واضحه کړو) او مونږ (د دوی څخه د کړو وړو په وخت کښې) غائب نه وو.

[۸] او حق (واقعي) تول هم په دغې ورځې کښې (واقع کیدونکی) دی، نو د هر چا چې تلې درنې شي نو همدغه کسان همدوی خلاصی موندونکي دي.

[۹] او د هر چا چې تلې سپکې شي نو دغه هغه کسان دي چې خپل ځانونه یې د دې کبله په تاوان کښې اچولي دي چې دوی (په دنیا کښې) زمونږ په ایتونو باندې ظلمونه کول (ترې منکر وه).

[۱۰] او یقیناً مونږ تاسو په ځمکه کښې اوسولي یاست (اوامکانیات مو د ژوند ورکړي دي) او په همدې کښې مو درته د ژوند (او ګذارې) اسباب پیدا کړي دي. (مګر) تاسو لږ وخت شکر کوئ (بلکې بالکل شکر نه کوئ).

## ارتباطونه

۱_ په وړاندېنیو ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته د کافرانو دپاره د ډارولو او د مؤمنانو دپاره د پند ورکولو توصیه شوې وه او په دې ایتونو کښې په دنیا او آخرت کښې د ذکرې شوې توصیې نتایج بیانېږي.

۲_ هلته مؤمنان مخاطب کړی شوي وه چې ﴿ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴾ تاسو ډېر لږ وخت پند اخلئ، او دلته کافرانو ته خطاب متوجه شوی دی چې ﴿ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴾ تاسو ډېر لږ وخت شکر کوئ، بلکې بالکل ناشکري کوئ.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

يعنې اى پيغمبره! خپل امت ته دې د انذار او تذكير (ډارولو او پند وركولو) نتائج لږ څه بيان كړه چې عبرت ترې واخلي، هغه دا چې:

۱ـ مونږ ډېر داسې ښارونه هلاک كړي دي چې د خپلو پيغمبرانو عليهم‌السلام انذار ته به يې اعتناء نه كوله او په خيال كښې به ورتلله چې هيڅكله به په دوى باندې الهي عذاب نازل نه كړى شي. كه څه هم دوى ته به خپل ظلم او تېرى ښه واضحه وه مگر د تكبر، غرور او بالآخره د زيات مهلت موندلو د كبله به يې خپل ځانونه په حقه گڼل.

نو كله به چې د دوى د كبر كاسه ډكه شوه او زمونږ عذاب به يا په شپه كښې ورورسېد، چې د غفلت په خوب به ويده وه، او يا به په غرمه كښې ورباندې ورنازل شو، چې د غرمې په خوب كښې به ډوب پراته وه، نو په دغه وخت كښې به يې بله خبره نه كوله بې د دې څخه چې يقيناً مونږ ظالمان وو چې د پيغمبرانو عليهم‌السلام نصائحو ته مو اعتناء نه كوله، مگر د دغه وخت اقرار او اعتراف به دوى ته هيڅ گټه ونه شوه رسولى.

همدارنگه ستا د امت په كافرانو او ظالمانو باندې هم كه الله ﷻ خپل عذاب ورنازل كړي نو دوى به هم د ذكر شوي چيغې څخه په غير بله چيغه پورته نه شي كړى، مگر بې وخته اعتراف به څه فائده وكړى؟.

۲ـ اى پيغمبره! علاوه په دنيايي عذاب، د آخرت سوال جواب هم درروان دى چې هلته به د ټولو امتونو څخه مونږ هرومرو پوښتنه وكړو چې تاسو ته پيغمبرانو عليهم‌السلام څه ويلي وه او تاسو يې په مقابل كښې څه غبرگون ښودلى وه؟. همدارنگه به پيغمبران عليهم‌السلام هم د امتونو د تخجيل دپاره د استنطاق لاندې ونيسو چې ايا ستاسو خبره خپلو-خپلو امتونو منلې وه او كه څنگه؟.

پوره واضح ده چې د يو پلوه به په ذكر شوي سوال جواب او استنطاق باندې هر څه څرگند شي او هيڅ شى به پټ پاتې نه شي او د بله پلوه به مونږ هر چاته د هغه د كړو وړو ريكارډ په مخكښې كېږدو چې تا دا كړي دي او تا دا كړي. او دا ځكه چې زمونږ څخه خو د هيچا هيڅ شى پټ نه دى او نه مونږ د دوى څخه غائب شوي ياستو.

۳ـ په دې باندې علاوه، د عدالت تلې به هم په دغې ورځې كښې ودرولى شي او حقاني تول به وكړى شي چې نتيجه به يې په لاندې ډول وي:

اول: د هرچا چې وزنونه او تلې درنې شي نو هغه فلاح مونده كړ او كامياب شو.

دوهم: او د هرچا چې وزنونه او تلې سپكې شوې نو هغوى خپل ځانونه په تاوان كښې واقع كړه او ولې به يې په تاوان كښې نه واقع كوي چې زمونږ د ايتونو په باره كښې يې په خپلو ځانونو باندې تېرى كړى وه، كه نه نو الله ﷻ خو په هيچا باندې تېرى نه كوي.

۴ـ اى پيغمبره! يو ځل بيا خپل امت مخاطب كړه چې مونږ خو تاسو ته نن ورځ په ځمكه كښې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پوره امکانیات درکړي دي او په څمکه کښې مو د معیشت او ګذارې دپاره زښت ډېر پراخه وسائل دربېرزو کړي دي چې دا ډول پراخي مو په پخوانیو قومونو باندې نه وه وراستولې، نو زمونږ د همدغو نعمتونو څخه استفاده وکړئ او شکر يې ادا کړئ چې د کفر څخه لاس واخلئ او نېکو کارونو ته مخ کړئ، که نه نو د پخوانیو قومو د بړخليک سره به مخامخ شئ.

حقیقت دا دی چې تاسو هم د هغوی غوندې غافل یاست او ډېر لږ خلک زمونږ د نعمتونو شکریه کوي او شریعت ته غاړې ږدي، بلکې بالکل شکریه نه کوي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي: چې کله په کوم ښار باندې _العیاذ بالله_ الهي عذاب ورښکته شي نو د هغه څخه وروسته هغوی پوپنا کېږي، نه دا چې اول پوپنا شي او بیا ورباندې عذاب ورنازل شي. نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنا د ﴿أَهۡلَكۡنَٰهَا فَجَآءَهَا بَأۡسُنَا﴾ په جمله کښې د ذکر شوي ترتیب مراعات ونه کړی شو او "جَآءَهَا بَأۡسُنَا فَأَهۡلَكۡنَاهَا" جمله نازله نه کړی شوه؟.

مونږ وایو چې: د همدې پوښتنې د جوابولو د پاره علماوو کرامو زښت ډېر جوابونه کړي دي چې اکثره يې غیر متبادر دي او شمیر يې تقریبًا اتو ته رسېږي[1]، مګر کوم جواب چې مونږ ته ذهن ته راځي او غیر متبادر هم نه دی هغه دا دی چې:

ترڅو دلالت وکړي چې د دوی پوپنا کول به دومره نژدې او دومره یقیني وه، تا به ویل چې د عذاب د ورښکته کېدلو څخه لا وړاندې دوی پوپنا شوي وه. دا ډول تعبیر خو په ټولو محاورو کښې عمومًا او په عربي محاوره کښې خصوصًا رواج دی.

د مثال په توګه نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مَنْ قَتَلَ قَتِيلًا لَهُ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ فَلَهُ سَلَبُهُ»[2] یعنې: هرڅوک چې وژل شوی (یعنې قریب القتل) ووژني او واضحه دلیل هم ورباندې ولري نو همغه ته د دغه وژل شوي سامان دی (نور مجاهدین پکښې د غنیمت حق نه لري). پوره څرګنده ده چې دلته د قتیل څخه قریب القتل مراد دی، نه بالفعل مقتول (وژل شوی).

## "قیلولة" څه معنی؟

۲_ د ﴿قَآئِلُونَ﴾ کلمه د "قیلولة" څخه اشتقاقه شوي ده چې یاني اجوف ده، "قیلولة" په عربي محاوره کښې په اوړي کښې د غرمې د استراحت څخه عبارت ده، برابره خبره ده چې خوب ورسره ملګرې وي او که نه[3].

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې ای مشرکانو! د امن په اسبابو باندې مه غولېږئ، د الله ﷻ عذاب ناڅاپه نازلېږي، داسې ډېر قومونه الله ﷻ هلاک کړي دي چې یا به د شپې ویده وه لکه د

---

(۱) روح المعاني ج۸ ص۷۸: التفسیر الکبیر ج۱۴ ص۲۰: تفسیر الطبري ج۸ ص۱۱۸

(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۸۵

(۳) التفسیر الکبیر ج۱۴ ص۲۱: تفسیر البغوي ج۲ ص۱۴۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لوط ﷺ قوم، او یا به د غرمې په استراحت کښې غافل پراته وه لکه د شعیب ﷺ قوم(۱)، او په خیال کښې به یې نه ګرځېده چې عذاب به نازل شي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: ایا هغه څوک چې د الله ﷻ عذاب ورباندې وربښکته شي ـ العیاذ بالله ـ دومره فرصت لري چې د ﴿إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ﴾ په جمله باندې خوله وښوروي، چې یقینًا مونږ ظالمان وو؟

مونږ وایو چې: چاته چې د عذاب د نزول په وخت کښې فرصت ورکړې شوی وي، لکه د صالح ﷺ قوم چې تر درې ورځو پورې ژوندي وو، نو هغوی د قال په ژبه ذکره شوې خبره کړې ده او چاته چې نه وي ورکړې شوی نو هغوی د حال په ژبه ذکره شوې وینا کړې ده، مګر یوه ته یې هم ګټه نه ده رسولې ځکه چې وخت به یې تېر شوی وه.

## یادونه

۴ـ دنیاوي عذابونه په تدریج سره صورت نیسي حتی چې د جنایتکارانو څخه خپل جنایات هیر وي او د غفلت په کنده کښې پربوتي وي، د دې مثال کټ مټ د شراب خوری دی چې په مدار سره بدن په مرض اخته کوي. د همدې کبله شراب خواره د خپلو ابدانو د مرض څخه بالکل غافله وي مګر هوښیاران او طبیبان ورباندې لا د وړاندې څخه پوه وي چې فلانی او فلانی مرض ورروان دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وایي چې: د دې مقام څخه څرګندېږي چې د ټولو امتونو څخه به د کافرانو په شمول پوښتنه وکړې شي، حال دا چې په بل ځای کښې الله ﷻ فرمایي چې: ﴿فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ إِنسٌ وَلَا جَآنٌّ﴾ [الرحمن:۳۹] یعنې نو په دغې ورځ کښې به نه انسان او نه پیری د ده د ګناه څخه وپوښتل شي.

مونږ وایو ـ چې ـ یوه پوښتنه دا ده چې د معلوماتو په غرض صورت ونیسي، نو دا ډول پوښتنه د کافرانو څخه منفي ده ځکه چې د دوی جنایات واضحه دي حتی پخپله د دوی څخه هم پټ نه دي. بله دا ده چې د توبیخ او شرمولو په غرض تحقق ومومي، نو دا پوښتنه خو د کافرانو څخه هرومرو صورت نیسي، د قیامت ورځ خو د دوی د شرمندګۍ ورځ ده.

په دې مقام کښې همدغه دوهم ډول پوښتنه مطلب ده، د همدې کبله د دوی د پوښتنې په څنګ کښې د پیغمبرانو علیهم السلام څخه پوښتنه هم ذکره شوه چې دا هم د کافرانو د تخجیل او شرمولو دپاره تحقق ومومي.

## د محشر د میدان تله حقه ده

۶ـ د اهل السنة والجماعة پخه عقیده دا ده چې د قیامت په ورځ به د اعمالو د تول دپاره د محشر

Downloaded from: bawarketabtoon.com

(۱) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۲۱۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په میدان کښې تله ودروله کېږي، دغه تله په زښتو ډېرو ایتونو او احادیثو سره ثابته ده چې ځینو مفسرینو کرامو⁽¹⁾ راغونډ کړي دي، نو دغو ټولو نصوصو ته تاویل ورکول او د معتزله وو غونډې په خپله عقل باندې اتکاء کول د بې عقلۍ څخه په غیر بل شی نه دی.

معتزله وايي چې: د میزان څخه عدل او انصاف مطلب دی⁽²⁾ نه دا چې د قیامت په ورځ به تله ودروله شي او اعمال به وتلل شي، دا کار ځکه نه شي کېدلی چې د یو پلوه اعمال اعراض دي او په اعراضو کښې انتقال ممکن نه دی او د بله پلوه اعمال ثقل نه لري او په تلې باندې خو اثقال څرګندولی شي.

مونږ وایو چې: د قیامت ډېر شیان د دنیا په معیارونو باندې برابر نه دي، هلته جدا معیارونه او جدا کارونه دي چې مونږ ته فقط همدومره کفایت کوي چې عقیده ورباندې وکړو او په کیفیت باندې د نه پوهېدلو د کبله یې د اصل (ثابت شي) څخه انکار ونه کړو.

په دې باندې علاوه په نني عصر کښې مونږ ګورو چې یو فیته د بلې څخه ثبتېږي او د هغې کیفیت دغې ته انتقال مومي، نو په قیامت کښې ترې په کومه موجبه انکار وکړو؟، همدارنګه په نني عصر کښې د تلو ډېر ډولونه په کار اچولی شوي دي چې د اعراضو ثقل ورباندې څرګندېږي لکه میزان الحرارة او داسې نور، نو ضرورت نشته چې صریحو نصوصو ته تاویل ورکړو.

په دې ټولو باندې د پاسه، اعراض هم څه ثقل لري چې په آخرت کښې به څرګند شي ځکه چې هلته ټول شیان د واقعیت په بنیاد ښکاره کېږي، د همدې کبله هغه څوک د قبر څخه ړوند راپورته کېږي کوم چې په زړه باندې ړوند وي او د الله ﷻ د ایتونو څخه انکار کوي [طه:۱۲۴].

د ځینو اعراضو (کیفیاتو) ثقل په دنیا کښې هم د معجزې په توګه څرګند شوی دی، لکه چې زید بن ثابت ﷺ وايي چې یوه ورځې په نبي کریم ﷺ باندې په داسې حال کښې وحې نازله شوه چې هغه ﷺ ورون زما په ورانه باندې ایښې وه نو د نبي کریم ﷺ ورون زا باندې دومره دروند شو «حَتّٰى خِفْتُ أَنْ تَرُضَّ فَخِذِي»⁽³⁾ آن تر دې چې زه وډار شوم چې ورون به مې مات شي. همدغه ثقل ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: دوه کلمې دي چې مهربان الله ﷻ ته محبوبې دي، په ژبه باندې سپکې دي، په تله کښې درنې دي (هغه دا چې) «سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ»⁽⁴⁾.

## هغه څنګه تله ده؟

۷_ د قیامت په ورځ باندې چې مونږ په کومه تله عقیده لرو د هغې په ټولو کیفیاتو باندې مونږ نه علم لرو او نه ورباندې د پوهېدلو مکلفیت لرو. د دې تلې په باره کښې مونږ په هومره کیفیت

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۷ ص۱۳؛ تفسیر المظهري ج۳ ص۳۲۶
(۲) البحر المحیط ج۵ ص۱۴
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۵۳
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۱۱۲۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سكين شو


باندې معتقد ياستو څومره چې په نصوصو کښې ثابت دي، د مثال په ډول:

الف: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې: «اَلْمِيْزَانُ لَهُ لِسَانٌ وَ كِفَّتَانِ يُوْزَنُ فِيْهِ الْحَسَنَاتُ وَ السَّيِّئَاتُ»[۱] يعنې: د قيامت د ورځې تله (د دنيا د تلو غوندې) يو موتی او دوه پلې لري چې نېکۍ او بدۍ پکښې تللی شي.

ب: د ذکرې شوې تلې د کيفياتو څخه دا هم يو کيفيت دی چې نبي کريم ﷺ به يې په شاوخوا کښې موجوديت لري او د خپل امت دپاره به شفاعت کوي.

يوه ورځې انس بن مالک رضي الله عنه د نبي کريم ﷺ څخه د خپل ځان دپاره د قيامت د ورځې د شفاعت کولو غوښتنه وکړه، نو نبي کريم ﷺ ورسره لاندې سوال جواب وکړ:

نبي کريم ﷺ: «أَنَا فَاعِلٌ» زه دې شفاعت کوونکی یم.

انس رضي الله عنه: «يَا رَسُولَ اللهِ فَأَيْنَ أَطْلُبُكَ» ای د الله ﷻ پيغمبره! نو چرته دې ولټوم؟

نبي کريم ﷺ: «اطْلُبْنِي أَوَّلَ مَا تَطْلُبُنِي عَلَى الصِّرَاطِ» اول مې چې لټوې نو په پل صراط باندې مې ولټوه.

انس رضي الله عنه: «فَإِنْ لَمْ أَلْقَكَ عَلَى الصِّرَاطِ» نو که په پل صراط باندې درسره ملاقي نه شوم؟

نبي کريم ﷺ: «فَاطْلُبْنِي عِنْدَ الْمِيزَانِ» نو د تلې سره مې ولټوه.

انس رضي الله عنه: «فَإِنْ لَمْ أَلْقَكَ عِنْدَ الْمِيزَانِ» نو که د تلې سره هم درسره پيوسته نه شوم؟

نبي کريم ﷺ: «فَاطْلُبْنِي عِنْدَ الْحَوْضِ فَإِنِّي لَا أُخْطِئُ هَذِهِ الثَّلَاثَ الْمَوَاطِنَ»[۲] يعنې: نو د حوض کوثر سره مې ولټوه ځکه چې زه دغه درې ځايونه نه خطا کوم (په دغو کښې ګرځم را ګرځم او مسلمانانو ته شفاعت کوم).

## د قيامت په ورځ څه شی تَلَل کيږي؟

۸ـ اهل السنت والجماعت ټول متفق دي چې د قيامت په ورځ په حقيقي معنیٰ کښې تله موجوديت لري، اما څرنګه چې د موزون په باره کښې مختلف احاديث روايت شوي دي نو دوی پکښې په لاندې ډول اختلاف النظر لري:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې پخپله اعمال تلل کېږي[۳]، لکه چې وړاندې په اومه توضيح کښې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما حديث وړاندې دلالت کوي.

ب: د ځينو علماوو کرامو په نظر صحيح خبره دا ده چې اعمالنامې تللې کېږي. يا په بل عبارت، هغه کاغذات د تول لاندې واقع کېږي چې اعمال پکښې ثبت شوي دي[۴]. دا ځکه چې نبي کريم ﷺ

---

(۱) الدر المنثور ج۳ ص۴۲۰
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۶۹
(۳) تفسير المراغي ج۸ ص۱۰۷
(۴) تفسير الخازن ج۲ ص۵۲۵؛ تفسير القرطبي ج۸ ص۱۶۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به یوه اورده حدیث کښې یوه قیصه بیانه کړې ده چې: د یوه سړي د ګناهونو ډېرې لویې اعمالنامې به (د قیامت په ورځ) د تلې په یوه پله کښې واچولی شي او سړی به وارخطا شي، مګر الله ﷻ به د هغه سړي د اعمالو پورې مربوط یو وړوکی کاغذ د تلې په بله پله کښې واچوي چې په هغې به لیکلي شوي وي «أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ».

«فَطَاشَتِ السِّجِلَّاتُ وَثَقُلَتِ الْبِطَاقَةُ»[۱] یعني: نو ټولې لويې اعمالنامې به سپکې شي او وړوکی کاغذ ګوټی به درونند شي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه شاید چې په ذکر شوي حدیث کښې به د توحید هغه شهادت مطلب نه وي په کوم سره چې یو کافر په ایمان باندې مشرف ګرځي. او دا ځکه چې دغه شهادت خو ګناهونه د منځه وړي، نه دا چې ورسره موازنه کېږي. بلکې دلته به هغه شهادت مراد وي کوم ته چې یو مسلمان سړی د ذکر په توګه صورت ورکوي[۲]، او پوره واضحه ده چې دا کار د حسناتو څخه یوه حسنه ده چې د ډېرو ګناهونو په موازنه کښې درنه خېژي او سړی وړباندې د عذاب څخه خلاصون او نجات مومي.

ج: ځینې علماء کرام وايي چې د قیامت په ورځ به الله ﷻ د اعمالو څخه اجسام جوړ کړي او په تله کښې به وتلل شي، د ښکو اعمالو څخه به ښائسته اجسام جوړ کړي او بد اعمال به د بدقواره او بد رنګو اجسامو په څېره واړول شي، او دا ځکه چې:

اول: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «يَجِيءُ الْقُرْآنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَالرَّجُلِ الشَّاحِبِ فَيَقُولُ أَنَا الَّذِي أَسْهَرْتُ لَيْلَكَ وَأَظْمَأْتُ نَهَارَكَ»[۳] یعني قرآن کریم به د قیامت په ورځ (قاري ته) د یوه ډنګر سړي په څېره ورشي (ته به وایې چې په قرائت سره ډنګر شوی دی) نو ورته به ووايي چې زه هغه یم چې ستا شپه مې بې خوبه کړې وه او ستا ورځ مې تږې کړې وه (زما په قرائت سره به د شپې بې خوبه وې او د ورځې به تږی وې).

دوهم: نبي کریم ﷺ په ډېر اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې مؤمن ته به په قبر کښې خپل عمل د یوه ډېر ښائسته سړي په څېره کښې ورشي او د خوشالۍ زیری به ورکوي، نو چې کله تږې مؤمن پوښتنه وکړي چې ته څوک یې؟، نو هغه به ورته ووايي چې: «أَنَا عَمَلُكَ الصَّالِحُ»[۴] زه ستا صالح عمل یم. بالمقابل کافر ته به خپل عمل په ډېره بدرنګه څېره کښې ورشي او د راتلونکې بدې ورځې څخه به یې خبر کړي نو هغه به ترې پوښتنه وکړي چې ته څوک یې؟ نو ورته به ووايي چې: «أَنَا عَمَلُكَ الْخَبِيثُ» زه ستا پلیت عمل یم.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۹۲
(۲) روح المعاني ج۸ ص۸۳
(۳) سنن ابن ماجه ص۲۶۷
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۴۳۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: ځینې علماء کرام وایي چې پخپله عمل کوونکی تَلل کېږي مګر دا معلومه نه ده چې د ده سره به په بله پله کښې څه شی اچولی کېږي[۱]- والله ﷻ أعلم. دوی ځکه دغه قول کوي چې:

اول: نبي کریم ﷺ یوه ورځې د یوه اوږده حدیث په ضمن کښې د عبدالله بن مسعود ﷺ لېنګیو ته اشاره وکړه او ویې فرمایل چې: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَهُمَا أَثْقَلُ فِي الْمِيزَانِ مِنْ أُحُدٍ»[۲] یعنې: په هغه اقدس ذات مې دې قسم وي چې زما ځان د ده ﷻ په لاس کښې دی چې دغه دواړه (نري) لېنګي (د قیامت په ورځ) په تله کښې د اُحد د غره څخه درانه دي.

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّهُ لَيَأْتِي الرَّجُلُ الْعَظِيمُ السَّمِينُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَزِنُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ»[۳] یعنې د قیامت په ورځ به ښه لوی څورب سړی راشي مګر د الله ﷻ په نزد به د ماشي د وزره په اندازه هم وزن ونه لري، بیا نبي کریم ﷺ دا آیت شریف ولوست چې: ﴿ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ وَزْنًا ﴾ [الکهف:۱۰۵] یعنې: نو دوی (کافرانو) ته به د قیامت په ورځ تله ونه دروو.

## تبصره

۹ـ مونږ ته داسې برېښي ـوالله ﷻ اعلمـ چې د ذکر شوو څلورو واړو صورتونو څخه به څلورم صورت تحقق ونه مومي او د آیت شریف معنی به دا وي چې مونږ به کافر ته په څه ارزښت باندې قائل نه شولو د حدیث معنی به داسې وي چې ښه غټ کافر چې په دنیا کښې د ېر با اعتباره وي او خلک ورته په درنه سترګه ګوري مګر د الله ﷻ په نزد به د ماشي د وزره په اندازه هم څه قدر او عزت ونه لري، بالآخره د عبدالله بن مسعود ﷺ د لېنګیو دروندوالی به هم د عزت او وقار څخه کِنایه وي.

اما لومړني دري صوتونه راته داسې برېښي چې درېواړه به متحقق شي. یا په بل عبارت: د الله ﷻ د قدرت څخه څه لرې نه ده چې اعمال هم په خپله څېره کښې وتلي، هم یې د اعمالنامو په ضمن کښې د توله تېر کړي او بالآخره هم یې مجسم وګرځوي او د تول لاندې یې راولي.

د دې نظیر دا دی چې د قیامت په ورځ به په کافرانو باندې خپل خپل پیغمبران علیهم السلام هم شاهدي وایي او ځمکه او اندامونه به هم ورباندې شاهدان تېرېږي، په دې ټولو باندې دپاسه الله ﷻ هم ورباندې عالم دی او هیڅ شی ترې پټ نه دی.

په همدې مطلب باندې په آیت شریف کښې د ﴿ مَوَٰزِينُهُۥ ﴾ کلمه دلالت کوي، البته په هغه صورت کښې چې د "میزان" د کلمې جمعه شي. نو د معنی حاصل به یې داسې وي چې: د هرچا چې درېواړه تلې درنې یا سپکې شي نو نتیجه به یې دا او هغه وي.

هو! که د "مَوَازِين" کلمه د "مَوْزُون" جمعه وي نو په دې صورت کښې به یې جمعیت د اعمالو د ډولونو ته اشاره وي او د ذکر شوي مطلب تائید به ترې ځرګند نه شي.

---

(۱) روح المعاني ج۸ ص۸۳
(۲) مسند أحمد بن حنبل ج۲ ص۱۰۲
(۳) صحیح البخاري ج۲ ص۶۹۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۱۰_ که څوک وايي چې: د قيامت په ورځ به وزن په مؤمنانو پورې مختص وي او که څنګه؟
مونږ وايو چې: د نصوصو ظاهري عبارات او د ايت شريف متبادره معنى دا ده چې ذکر شوى وزن عام دى او مؤمنانو پورې اختصاص نه لري، کافرانو ته هم تله ودروله کېږي[۱].
که څه هم کافران څه حسنات نه لري چې د جنايتونو په مقابل کښې وتلل شي مګر په تول باندې به د جنايتونو تفاوت څرګندېږي چې په همدې تفاوت باندې کافران د تعذيب لاندې نيول کېږي.
که بالفرض کافرانو په تعذيب کښې تفاوت نه درلودى نو الله ﷻ به د منافقانو په باره کښې نه وى فرمايلي چې: ﴿إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ فِى ٱلدَّرْكِ ٱلْأَسْفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ﴾ [النساء:۱۴۵] يعنې يقينًا منافقان د اور څخه په ټيټه پايه کښې پراته دي.

## په وزن کښې څه حکمت دى؟

۱۱_ که څه هم د قيامت په ورځ د الله ﷻ په علم باندې علاوه وزن ته څه حاجت نشته، د هر شي ارزښت د الله ﷻ څخه پټ نه دى، مګر علماوو کرامو يې لاندې حکمتونه ليکلي دي[۲]:
الف: ترڅو د الله ﷻ عدل على رؤس الاشهاد په ډاګه شي او هرڅوک يې وګوري.
ب: ترڅو بندګان خپل دنياوي کړه وړه په خپلو سترګو وګوري.
ج: ترڅو د سعادت او شقاوت نښې په ډاګه کړى شي.
د: ترڅو په بندګانو باندې د الله ﷻ حجت په څرګنده توګه اثبات شي.
هـ: بالآخره ترڅو په دنيا کښې ورباندې خلک د امتحان لاندې واقع کړي چې عقيده ورباندې کوي او که دا کار ورته _العياذ بالله_ دروغ ښکاري.

## معايش څه معنى؟

۱۲_ د ﴿مَعَٰيِشَ﴾ کلمه د "مَعِيشَة" جمعه ده چې د "عَاشَ يَعِيشُ" دپاره مصدر ده، مګر په دې مقام کښې ترې د ژوند ټول سببونه مطلب دي[۳] برابره خبره ده چې زراعتي وي يا تجارتي يا صنعتي او يا نور، دا ټول صرف د الله ﷻ فضل دى چې زمونږ ژوند يې ورباندې تامين کړى دى او زمونږ د استفادې دپاره يې چمتو کړي دي.

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ۝ قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَنَا۠ خَيْرٌ مِّنْهُ

(۱) روح المعاني ج۸ ص۸۵
(۲) تفسير القاسمي ج۷ ص۱۴؛ زاد المسير ج۳ ص۱۱۶
(۳) مفردات الراغب ص۳۶۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


خَلَقْتَنِي مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُۥ مِن طِينٍ ﴿١٢﴾ قَالَ فَٱهْبِطْ مِنْهَا فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا
فَٱخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿١٣﴾ قَالَ أَنظِرْنِيٓ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤﴾ قَالَ إِنَّكَ مِنَ
ٱلْمُنظَرِينَ ﴿١٥﴾ قَالَ فَبِمَآ أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَٰطَكَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَأٓتِيَنَّهُم مِّنۢ
بَيْنِ أَيْدِيهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ أَيْمَٰنِهِمْ وَعَن شَمَآئِلِهِمْ ۖ وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَٰكِرِينَ ﴿١٧﴾
قَالَ ٱخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَّدْحُورًا ۖ لَّمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٨﴾﴾

[۱۱] او بې شکه مونږ تاسو پیدا کړي یاست (وجود مو درکړی) بیا مو صورت (څېره) درجوړه کړې ده بیا مو پرښتو ته وویلې چې ادم ﷺ ته سجده وکړئ، نو ټولو سجده وکړه مګر ابلیس (سجده ونه کړه، نوموړی) د سجده کوونکو څخه ونه ګرځید (او انکار یې وکړ).

[۱۲] الله ﷻ (ابلیس ته) وویلې چې ته څه شي منعه کړې چې سجده دې ونه کړه کله چې مونږ درته (په سجده کولو باندې) امر وکړ، (په تا باندې څه باعث وه او څه شي وهڅولې)؟.

ابلیس وویلې چې زه د هغه (ادم ﷺ) څخه بهتر یم؛ چې زه دې د اوره پیدا کړی یم او هغه دې د ختې (خاورې) څخه پیدا کړی دی (زما اصل د هغه په اصل باندې ښه دی).

[۱۳] الله ﷻ وویلې چې نو د دغه (عالي) ټولګي څخه ښکته شه، تاته دا خبره نشته چې ته په دغه ټولګي کښې تکبر وکړې، نو (د دغه ټولګي څخه) بهر شه، یقیناً ته د ذلیلانو څخه یې.

[۱۴] ابلیس وویلې چې ماته د داسې ورځې پورې مهلت راکړه (ژوندی مې پرېږده) چې خلک (د قبرونو څخه) راپورته کړی شي.

[۱۵] الله ﷻ وویلې چې ته د مهلت ورکړی شوو څخه یې (البته د هغه وخته پورې چې یوازې ماته معلوم دی).

[۱۶] ابلیس وویلې: نو په دې سبب چې زه دې (د ادم ﷺ د کبله) ګمراه کړم نو هرومرو ضرور به دوی ته پټیتا په سمه لاره کښې کښېنم.

[۱۷] بیا به ضرور هرومرو دوی ته د وړاندې خوا او د دوی د شا د خوا او د دوی ښیو طرفونو څخه او د دوی د چپو طرفونو څخه ورشم (په هیڅ یوه ذریعه باندې به صرفه ونه کړم) او ته به د دوی اکثره شکر ګزاران ونه مومې.

[۱۸] الله ﷻ وویلې چې: د دې ټولګي څخه په داسې حال کښې بهر شه چې ته بد ګڼلی شوی، رټلی شوی یې. خامخا د دوی څخه چې هرڅوک ستا پیروي وکړي نو هرومرو ضرور به ستاسو ټولو څخه دوزخ ډک کړم.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

د آدم ﷺ قیصه د قرآن کریم په اوو سورتونو (البقرة، الأعراف، الحجر، الأسراء، الکهف، طه، ص) کښې ذکره شوې ده چې په هر سورت کښې خاص اسلوب او خاص ارتباط لري.
د دې قیصې اکثره مهمې نکتې او څه مهمې پوښتنې چې د سړي په زړه کښې د قرانت په وخت کښې تېرېږي مونږ د "البقرة" سورت په تفسیر کښې د الله ﷻ په توفیق لیکلي دي، که بالفرض کوم یو لوستونکي ته په زړه کښې څه پوښتنه مونده شي نو هیله ده چې هملته مراجعه وکړي، الله ﷻ ته امید دی چې پوښتنه به یې جوابه شي.
په دې مقام کښې د ذکرې شوې قیصې ارتباط دا دی چې په وړاندېنیو ایتونو کښې د انذار او تذکیر نتیجه، د انسان غفلت او په عذاب باندې اخته کېدل، د قیامت د ورځې سوال جواب او د تلو دروندوالي او سپکوالي ذکر شوی دی نو په دغو ایتونو کښې د ټولو نیمګړتیاوو اصلي سبب ته اشاره شوې ده چې د انسان ناشکري او د خپل پوخ دښمن (ابلیس) پیروي ده او بس.

## د مطلب خلاصه

یعني ای انسانانو! تاسو ته څه مناسب دي چې زمونږ د نعمتونو ناشکري کوئ او زمونږ شریعت شاته اچوئ، د بې شمېره نعمتونو څخه دغه نعمتونه درپاد کړئ چې:
الف: مونږ تاسو د نشت څخه شته کړئ او موجودیت مو در وباښه، که نه نو تاسو به بالکل موجود شوي نه وئ.
ب: دا نعمت هم د یادونې وړ دی چې تاسو ته مونږ ښې ښکلې څېرې درکړې او ستاسو په بدنونو کښې مو درته هغه ټول سامان پوره کړ کوم ته چې تاسو په ژوند کښې اړ یاست لکه ژبه، سترګې او نور.
ج: دا خبره هم هېره نه کړئ چې ستاسو بابا (آدم ﷺ) مو د پرښتو دپاره مسجود جوړ کړ او حتی هغوی ته مو امر وکړ چې آدم ﷺ ته سجده وکړئ (ورته سلامي شئ)، ته به وایې چې تاسو ټولو ته ملائک سلامي شوي دي. ذکر شوی امر مو شیطان (ابلیس) ته هم متوجه کړی وه چې ته هم ادم ﷺ ته سجده وکړه، خو د الله ﷻ په نزد ستاسو په مکرمیت او اعزاز باندې ابلیس ته کینه ورغله او د سجدې څخه یې انکار وکړ او په کُلي توګه د سجده کوونکو څخه جوړ نه شو او بالآخره د الله ﷻ سره یې لاندې سوال جواب وکړ چې د عداوت او کینې نښې پکښې د ورایه ښکاري:
الله ﷻ: ای ابلیسه! په تا باندې څه باعث شو چې آدم ﷺ ته دې سجده ونه کړه البته کله چې بل چا نه بلکې ما درته په سجده باندې امر وکړ؟
ابلیس علیه اللعنة: زه پوه شوم چې ذکره شوې سجده د احترام او اعزاز ده، نه د عبادت، ځکه چې ستا څخه پرته خو هیڅوک د عبادت لیاقت نه لري، آدم ﷺ ته هم د اعزاز سجده کول غیر مناسب کار دی ځکه چې زه خو د هغه څخه بهتر یم، په کار دی چې هغه ماته په سجده باندې

Downloded from: bawarketabtoon.com

مامور شوی وی، هسې نه چې زه پرې هغه ته مامور شم.

زه د هغه څخه ښکه بهتر یم چې ای ربه! زه دې د اوره پیدا کړی یم چې رڼا لري او هغه دې د خټې څخه پیدا کړی دی چې تیاره او خړه پړه ده.

الله ﷻ: د دغه عالي ټولګي یا جنت څخه ښکته شه ځکه چې دا مقام د متکبرینو نه دی، دا د پرښتو مقام دی چې یوه ثانیه هم د الله ﷻ د اطاعت څخه غاړه نه غړوي، بلکې د ملائکو د ټولګي څخه اوځه ځکه چې دا معزز او د الله ﷻ په نزد محترم ټولګی دی او ته د ذلیلو خلکو څخه یې.

ابلیس د دې په عوض چې په خپلې بې اطاعتۍ باندې پښیمانه شي او معذرت وغواړي ووېلې چې: ماته د هغې ورځې پورې مهلت راکړه په کومه کښې چې مخلوق بیا ژوندی کېږي او د قبرونو څخه راپورته کېږي.

الله ﷻ: یقینًا تاته د یوه ټاکلې وخته پورې مهلت درکړی شوی دی چې هغه وړاندې او بیرته نه کېږي (ستا د ژوند وخت معلوم دی تغیر نخوري).

ابلیس علیه اللعنة: نو د دې کبله چې زه دې د ادم ؑ په سبب باندې ګمراه کړم او نوموړی زما د ذلت دپاره باعث جوړ شو نو زما دې سوګند وي چې زه به د نوموړي سره داسې چال چلند وکړم:

اول: نوموړي او د نوموړي اولادی ته به ستا په سمه سیده لاره کښې کښېنم او زور به ولګوم چې یو نفر هم پرېنږدم چې په دغې لاره باندې درشي، هو که زه ستا د خاصو بندګانو لاره بنده نه کړی شم نو هغه بیله خبره ده.

دوهم: بیا به زه دوی ته د هره طرفه ورشم او په هیڅ وسیله باندې به صرفه ونه کړم، ځینې به په یوه ذریعه بې لارې کوم او ځینو ته به په بله لاره باندې خنډ واقع کېږم.

یا په بل عبارت: زه به دوی ته هم د مخې د پلوه، هم د شا د پلوه، هم د ښیو اطرافو څخه او هم د چپو طرفونو څخه ورشم، نو د دوی اکثریت به راڅخه شکر کوونکي جوړ نه شي او ته به وګورې چې اکثریت به یې ناشکره شي.

الله ﷻ: ای ابلیسه! ستا باتې او لاپې شاپې زما فیصلې ته څه تغیر نه شي ورکولی نو تاته یو ځل بیا امر کوم چې د دغه نور مقام او د دغه معزز ټولګي (پرښتو) څخه په داسې حال کښې اوځه چې نه درته پخوانی ارزښت پاتې شو او نه قدر او عزت، بلکې زما په نزد هم بد ګڼل شوی یې او هم رټلی شوی، او دا ستا ابدي حالت دی هم په دنیا کښې او هم په آخرت کښې.

علاوه په دې څوک چې ستا پیروي کوي او ستا سره دوستي لري هغه هم زما په نزد ستا غوندې مذموم او مدحور (بد ګڼلی شوی او رټلی شوی) دی.

ای ابلیسه! تا خو د ادم ؑ د اولادې په ګمراه کولو باندې سوګند کړی دی خو زه سوګند کوم چې هر څوک ستا پیروي وکړي نو زه به ستاسو ټولو څخه دوزخ ډک کړم او هیڅ کس به مو ترې نجات موندلی نه کړي.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ په ﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَٰكُمْ ﴾ کښې ټول انسانان مخاطب کړی شوي دي چې یقیناً مونږ تاسو پیدا کړئ، بیا مو څېرې درکړې، بیا مو پرښتو ته امر وکړ چې ادم ﷺ ته د تعظیم سجدې وکړئ.

نو څرنګه چې د ادم ﷺ پیدا کول او هغه ته ښائسته څېره ورکول په واقع کښې د ټولو انسانانو د پیدا کولو او ټولو ته د ښائسته څېرو د ورکولو معنی ورکوي نو ځکه الله ﷻ په ذکرو شوو کلماتو کښې (د امتنان په توګه) ټولو ته خطاب متوجه کړ.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه مونږ _لله الحمد_ د [البقرة:۷۲] آیت لاندې لیکلي دي چې په محاوراتو کښې کله کله د یوه جنس د ځینو افرادو صفات ټولو افرادو ته منسوبېږي. نو په همدې بنیاد د ادم ﷺ په خلقت او تصویر باندې ټول انسانان مخاطب وګرځولی شوه.

دا وه په دې مقام کښې زمونږ نظر چې وړاندې شو اما د مفسرینو کرامو څخه دلته متعدد اقوال رانقل کړی شوي دي چې تقریباً اته قولونو ته رسېږي[1]، نو که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

۲_ همدارنګه مونږ د [البقرة:۲۹] ایت لاندې لیکلي دي چې د "ثُمَّ" په کلمه باندې کله-کله د بیان تاخیر ته اشاره کېږي، نه د موجودیت تاخیر ته. په دې مقام کښې د ﴿ ثُمَّ صَوَّرْنَٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا ﴾ دواړو جملو کښې د "ثُمَّ، ثُمَّ" کلمې د همدغه مطلب دپاره استعمالې شوې دي چې حاصل ته یې په خلاصه مطلب کښې اشاره شوې ده، نو څوک اعتراض نه شي کولی چې ادم ﷺ خو په هغه وخت کښې د ملائکو دپاره مسجود وګرځولی شو چې اولاده یې لا هیڅ موجوده شوې نه وه او د ﴿ ثُمَّ ﴾ څخه څرګندېږي چې دا کار د ده د اولادې د پیدا ښت څخه وروسته صورت موندلی دی.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: د ﴿ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ ﴾ په جمله کښې د ﴿ أَلَّا تَسْجُدَ ﴾ کلمه د ﴿ مَنَعَكَ ﴾ دپاره مفعول واقع شوې ده. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې ای ابلیسه! ته د سجدې نه کولو څخه څه شي منعه کړې چې سجده دې وکړه؟. دا خو مطلوبه او واقعي معنی نه ده؟!.

مونږ وایو چې:

الف: دلته په ﴿ أَلَّا ﴾ کښې د "لا" کلمه زائده ده[2] نو اصلي عبارت داسې دی چې: "مَا مَنَعَكَ أَن تَسْجُدَ" لکه چې عین عبارت په بل ځای کښې نازل شوی دی چې: ﴿ مَا مَنَعَكَ أَن تَسْجُدَ ﴾ [ص:۷۵] یعنې ته څه شي ادم ﷺ ته د سجدې څخه منعه کړې؟.

---

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۱۶

(۲) اضواء البیان ج۴ ص۵۴۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر دا جواب مونږ ته خوندور نه ښکاري، باید چې تر خپلې وسې د قرآن کریم په یوه توري باندې هم د زائد حکم ونه کړی شي.

ب: په دې مقام کښې د ﴿ مَا مَنَعَكَ ﴾ کلمه د مجاز په توګه د "مَا حَمَلَكَ" او "مَا حَضَّكَ" معنی ورکوي[1] یعنې ای ابلیسه! په تا باندې څه باعث وه او ته کوم شي وهڅولې چې ادم ﷺ ته دې سجده ونه کړه؟. او په متعددو عبارتونو باندې د یوه مطلب اداء کول خو د کلام خوند او مزه اضافه کوي او څه نقص نه ګڼل کېږي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: په ﴿ فَٱهۡبِطۡ مِنۡهَا ﴾ او ﴿ قَالَ ٱخۡرُجۡ مِنۡهَا ﴾ کښې بارز ضمیرونه څه شي ته راجع دی. یا په بل عبارت: په شیطان باندې د څه شي څخه د ښکته کیدلو فرمان صادر شو؟.

مونږ وایو چې:

الف: اکثره علماء کرام وایي چې ذکر شوي ضمیرونه جنت ته راجع دي[2] که څه هم جنت وړاندې ذکر نه دی مګر څرنګه چې په هغه وخت کښې ابلیس د جنت د اوسېدونکو څخه وه نو داسې وګڼل شو لکه چې جنت حکمًا ذکر وي، نو معنی یې داسې کېږي چې د جنت څخه ښکته شه.

ب: ځینې علماء کرام وایي چې لوړې رتبې ته راجع دی[3] چې د ﴿ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ ﴾ جمله وړباندې دلالت کوي. نو معنی به یې داسې راوخي چې: د دغې لوړې رتبې څخه چې ته وړباندې افتخار کوې په تکویني توګه ښکته ولوېږه.

ج: ځینې نور علماء کرام وایي چې ذکر شوي ضمیرونه اسمان ته راجع دي[4]، که څه هم اسمان وړاندې ذکر نه دی مګر د ﴿ فَٱهۡبِطۡ ﴾ کلمه وړباندې دلالت کوي چې هبوط (ښکته کېدل) د اسمان سره مناسب ښکاري.

دغه درېواړه جوابونه متبادر نه دي او د سړي ذهن ته په تبادر سره نه ورځي، نو ښه دا ده چې:

د: ذکر شوي ضمیرونه د "ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ" کلمې ته راجع دي چې وړاندې په صراحت سره ذکره ده او جمعي ته خو د مفرد مؤنث (جماعة) په تاویل سره مفرد ضمیر راجع کېږي. نو معنی به یې داسې شي چې: د هغه معزز ټولګي څخه بهر شه کوم چې ته پکښې سمدستي شامل یې او د ﴿ ٱسۡجُدُواْ ﴾ په امر سره مخاطب کړی شوی یې.

## یو تذکر

۵_ هو! که مونږ د دې خبرې التزام وکړو چې ابلیس په ذکر شوي امر ﴿ فَٱهۡبِطۡ ﴾ باندې په داسې

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۹۶
(۲) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۲۱۷
(۳) تفسیر القاسمي ج۷ ص۲۶
(۴) تفسیر القرطبي ج۸ ص۱۷۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ولو أننا (۸) مخاطب کړی شوي وه چې ذکر شوی معزز ټولګی په جنت کښې وه او د جنت ځای خو حال کښې اسمان دی؛ نو په دې تقدیر پاسني ټول اقوال توافق مومي او اختلاف یې بالکل د منځه ځي، مګر التزام یې د نصوصو پورې موقوف دی چې مونږ ته پکښې معلومات نشته.

## یادونه

۶_ ابلیس _علیه اللعنة_ د سجدې په نه کولو سره د دوه وو شیانو سره مخامخ شو چې یو یې تکبر مات شو او بل ذلیل وګرځید، که څه هم الله ﷻ د دغو دواړو شیانو څخه په بل ځای کښې یو تعبیر کړی دی چې: ﴿فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٞ﴾ [الحجر:۳۴] یعنې نو د دې ټولګي څخه بهر شه ځکه چې ته رټلی شوی یې. مګر په دې مقام کښې یې یو ځل ترې په ﴿فَٱهۡبِطۡ﴾ (نو ښکته شه) تعبیر وکړ او د ﴿فَمَا يَكُونُ لَكَ أَن تَتَكَبَّرَ فِيهَا﴾ جمله یې په تعقیب کښې نازله کړه، او بل ځل یې ترې په ﴿فَٱخۡرُجۡ﴾ (نو بهرشه) سره تعبیر وکړ او د ﴿إِنَّكَ مِنَ ٱلصَّٰغِرِينَ﴾ جمله یې په تعقیب کښې نازله کړه، ترڅو ذکر شوو دواړو شیانو ته جدا-جدا اشاره وکړی شي.

## د دې آیت ارشاد

۷_ مونږ ته ذکر شوی آیت شریف ارشاد کوي چې باید د تکبر څخه ځانونه وساتو او تواضع اختیار کړو. تکبر دې ته نه ویل کېږي چې څوک د الله ﷻ د نعمتونو څخه استفاده وکړي او پاک سوتره لباس واغوندي بلکې د تکبر معنی دا ده چې څوک په حق باندې خېټه واچوي او خلکو ته د حقارت په نظر وګوري. د ښه وضاحت په غرض لاندې احادیث ولولی:

الف: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَمَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلَّهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللهُ»(۱)

یعنې: او هیچا د الله ﷻ د پاره تواضع ونه کړه مګر الله ﷻ پورته کړ.

ب: یوه ورځې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې وفرمایل چې د هرچا په زړه کښې چې یوه ذره کبر (لویي) وي نو جنت ته به داخل نه شي او د هرچا په زړه کښې چې یوه ذره ایمان وي نو دوزخ ته به داخل نه شي.

په ناستو خلکو کښې یوه سړي وویلې چې زما خو خوښېږي چې جامه مې ښائسته وي او پنې مې ښائسته وي (ایا دا هم کبر دی؟). نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْجَمَالَ وَلَكِنَّ الْكِبْرَ مَنْ بَطَرَ الْحَقَّ وَغَمَصَ النَّاسَ»(۲) یعنې: یقیناً الله ﷻ ښائست (او پاکي) خوښوي (نو هغه تکبر نه دی چې تا خیال کړی دی) مګر لویي د هغه چا ده چې په حق باندې لویي کوي (حق د پښو لاندې کوي) او خلک حقیر ګڼي (لکه چې ابلیس د سجدې حق د پښو لاندې کړ او ادم ؑ ته یې په حقارت وکتل).

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۳۲۱

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۲۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


## د مرګ څخه بچ کېدل غواړي

۸_ کله چې ابلیس _علیه اللعنة_ د سجدې څخه انکار وکړ او د ملکو د معزز ټولګي څخه وویستل شو نو ده ته په کار وه چې په خپلو کړو باندې پښېمانه شوی وی او د الله ﷻ په حضور کښې بې اعتذار وړاندې کړی وی او بالآخره توبه تائب شوی وی، مګر نوموړی په لعنتي کېدلو باندې خوښ شو او کینه او عداوت یې لا پسې اضافه شو، نو الله ﷻ ته یې سوال وکړ چې ماته د هغې ورځې پورې مهلت راکړه او ژوند مې اوږد کړه ترڅو چې خلک د قبرونو څخه راپورته شي او دوهمه شپېلۍ پو کړی شي.

په دې سوال کښې یې غرض دا وه چې د یو پلوه د غولونې او انتقام اخستلو دپاره وخت ولري او د بله پلوه د مرګ څخه خلاص شي، ځکه چې د مرګ سلسله د ذکرې شوې ورځې پورې نه اوږدېږي (دغه د مرګ ورځ نه ده).

نو الله ﷻ جواب ورکړ چې: ﴿إِنَّكَ مِنَ ٱلْمُنظَرِينَ﴾ [الأعراف:۱۵]، ﴿إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْوَقْتِ ٱلْمَعْلُومِ﴾ [الحجر:۳۸]، یعنې: تاته مهلت درکړی شوی دی مګر د هغه وخته پورې نه چې ته یې غواړې، بلکې د هغه وخته پورې چې ماته معلوم دی، او ضرور نه ده چې تاته هم معلوم شي.

بهتره دا ده چې د ذکر شوي وخت په ټاکنه کښې مونږ هم داسې ساکت شو لکه څنګه چې قرآن کریم پکښې ساکت دی، مګر مشهوره دا ده چې دغه وخت د اولنۍ شپېلۍ د پوکولو وخت دی[۱] چې په دغې شپېلۍ سره به شیطان هم مړ شي.

## د شیطان شپږ لارې

۶_ په آیت شریف کښې الله ﷻ د شیطان د خولې څخه حکایت کوي چې زه به هرومرو د انسان د ګمراه کولو په غرض هغه ته د څلورو خواو څخه ورشم.

مفسرینو کرامو د دغو څلورو جهاتو په هکله تقریبًا اوه تفسیره کړي دي[۲]، مګر مونږ ته دا خبره ظاهره برېښي چې څلور جهات به د مثال په توګه ذکر شوي وي او مطلب به پکښې ټول جهات وي[۳] یعنې په هره وسیله او هره لاره او بالآخره په هر سبب باندې چې زما وسه وشي د انسان په ګمراه کولو کښې به ترې استفاده وکړم او د پیروانو ټولګی به پکښې ځان ته تیار کړم. د دغه ټولګي څخه په احادیثو کښې په «بَعْثُ النَّارِ» (د اور ټولګي) سره تعبیر شوی دی چې مونږ _لله الحمد_ د [النساء: ۱۱۸] آیت لاندې ښه شرحه کړی دی.

په لاندې حدیث کښې، چې د یوه اوږده حدیث ټکړه ده، نبي کریم ﷺ زمونږ د تعلیم دپاره په ټولو جهاتو کښې د الله ﷻ حفاظت غوښتی دی چې:

---

(۱) روح المعاني ج۸ ص۹۱
(۲) زاد المسیر ج۳ ص۱۱۹
(۳) تفسیر الطبري ج۸ ص۱۳۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



«وَاحفظني مِن بَينِ يَدَيْ وَمِنْ خَلفِي وَعَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي وَمِنْ فَوْقِي وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُغتَالَ مِنْ تَحْتِي»[1] يعنې ای ربه! ما د وړاندې خوا څخه هم وساتې او د شا د خوا څخه هم، د ښي طرف څخه هم او د چپ طرف څخه هم، او د پاسه طرفه هم، او ای ربه! زه په تا باندې د دې څخه هم پنا غواړم چې په ناخبرۍ کښې د لاندې خوا څخه په بلا اخته کړی شم.

﴿وَيَـٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَـٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ
فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿١٩﴾ فَوَسْوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيْطَـٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وُۥرِىَ عَنْهُمَا مِن
سَوْءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هَـٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ
ٱلْخَـٰلِدِينَ ﴿٢٠﴾ وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّى لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّـٰصِحِينَ ﴿٢١﴾ فَدَلَّىٰهُمَا بِغُرُورٍ ۚ فَلَمَّا ذَاقَا
ٱلشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ ٱلْجَنَّةِ ۖ وَنَادَىٰهُمَا رَبُّهُمَآ
أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَن تِلْكُمَا ٱلشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَآ إِنَّ ٱلشَّيْطَـٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٢٢﴾ قَالَا رَبَّنَا
ظَلَمْنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلْخَـٰسِرِينَ ﴿٢٣﴾ قَالَ ٱهْبِطُوا۟
بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ وَلَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَـٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٢٤﴾ قَالَ فِيهَا تَحْيَوْنَ
وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ ﴿٢٥﴾﴾

[١٩] او (مونږ وویلې چې) ای آدمه! ته په جنت کښې اوسېږه او ستا جوړه (بي بي حواء) دې هم (هلته اوسېږي)، نو د کوم ځای څخه مو چې خوښه وي د همغه ځایه یې خورئ (او څښکئ)، او تاسو دواړه دغې ونې ته مه ورنژدې کېږئ نو تاسو دواړه به (په خپلو ځانو باندې) د ظالمانو څخه شمېر شئ.

[٢٠] نو دواړو ته شیطان د دې دپاره وسوسه ورواچوله چې دوی دواړو ته هغه څه ورلوڅ کړي چې د دواړو څخه پټ وه چې هغه د دواړو د عورتونو څخه عبارت دي.

او (شیطان ورته) وویلې چې تاسو دواړه خپل رب ﷻ د دغې (خاصې) ونې څخه د هیڅ شي د کبله نه یاست منعه کړي مګر د دې کبله چې دواړه به دوه پرښتې شئ (او خوراک او څښاک به نه کوئ او بعبادت ته به فارغ یاست) او یا به دواړه (په جنت کښې) د همېشه اوسېدونکو څخه وګرځئ.

[٢١] او دواړو ته یې سوګند وکړ چې یقیناً زه ستاسو دپاره د خیر د غوښتونکو څخه یم.

---

(١) سنن ابن ماجه ص٢٧٦

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۲] نو دواړه یې (د خپل کلک عزم څخه) په غولولو سره وغورزول. نو هرکله چې دواړو (ممنوعه) ونه وڅکله دواړو ته خپل عورتونه ښکاره (او بربنډ) شوه، او دواړو پیل وکړ چې په خپلو خانونو پورې یې د جنت (د ونو) پاڼې نښلولې.

او دواړو ته د دوی دواړو رب (ﷻ) غږ وکړ چې ایا تاسو دواړه ما د دغې ونې څخه نه وئ منع کړي او تاسو دواړو ته مو نه وه ویلي چې بې شکه شیطان ستاسو دواړو ښکاره دښمن دی.

[۲۳] دواړو وویلې چې ای زمونږ ربه! مونږ (پخپله) په خپلو خانونو باندې تېری کړی دی، او که ته مونږ ته ښښنه ونه کړې او مهرباني راباندې ونه کړې نو هرو مرو به مونږ د زیانکارانو څخه جوړ شو.

[۲۴] د دواړو رب (ﷻ) وویلې چې: ښکته شئ (دړواړه) په داسې حال کښې چې ستاسو ځینې ځینو نورو ته دښمنان وي، او تاسو (ټولو) لره په ځمکه کښې استقرار شته دی او د څه وخته پورې د ژوند لنډه تنګه استفاده هم.

[۲۵] د دواړو رب (ﷻ) وویلې چې: په همدغې ځمکه کښې به ژوند کوئ او په همدغې کښې به مړه کیږئ او د همدغې څخه به راویستل کېږئ (او حساب کتاب به درسره کېږي).

## د مطلب خلاصه

دغه ایتونه د وړاندېنیو ایتونو مصداقات ټاکي، چې هم پکښې د ابلیس د عداوت تمثیل شوی دی او هم پکښې د هغه د غولونې د عملي نقشې یو صورت ښودلی شوی دی چې حاصل یې داسې کېږي:

ای پیغمبره! اوس نو خپل امت ته د ابلیس د عداوت اولنۍ کړۍ بیانه کړه چې خپله د غولونې نقشه یې په څه ډول پیل کړه او په څه ډول یې پای ته ورسوله، هغه دا چې:

۱ـ الله ﷻ ادم علیه السلام او حواء رضی الله عنها ته لا زیات اعزاز ورکړ او په جنت کښې یې ورته د اوسیدانې امر وکړ، چې دلته ستاسو دپاره پوره ازادي ده، هر چرته چې ګرځئ او هر شی چې خورئ تاسو دواړو ته اختیار دی، مګر فقط د دغې مشخصې ونې څخه به څه شی نه خورئ او حتی ورنږدې کېږئ به هم نه، چې بیا به خپل خانونه اداره نه شئ کړی او په نافرمانۍ کښې به واقع شئ. دغې ونې ته تاسو څه ضرورت هم نه لرئ ځکه چې په جنت کښې هر شی شته او تاسو ته ټول جائز دي.

که بالفرض تاسو ذکره شوې توصیه عملي نه کړه نو په خپلو خانونو باندې به ظلم وکړئ او د غټو مشکلاتو سره به مخامخ شئ. یا په بل عبارت، په دې صورت کښې به مو د جنت پراخي د لاسه بهر شي.

۲ـ ابلیس وغوښتل چې ادم علیه السلام او حواء رضی الله عنها د جنت څخه وباسي، لکه څنګه چې ترې په خپله ویستلی شوی وه، او د جنتي مفت خوراک او څښاک ورباندې زهر کړي او بالاخره د جنتي فاخره لباس څخه یې بربنډ کړي ترڅو خپل عورتونه پخپله وګوري چې تر اوسه پورې ترې پټ او په پرده کښې وه. نو نوموړې خپله نقشه داسې پیل کړه.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: الله ﷻ خو تاسو د دغې ونې څخه منعه کړي یاست مګر د دې کبله نه چې تاسو به د الله ﷻ په عصیان کښې واقع شئ او الله ﷻ به ستاسو څخه ناراض شي، بلکې د دې کبله یې ترې منعه کړي یاست چې ستاسو څخه به پرښتې جوړې شي بیا به نو خوراک او څښاک ته ضرورت نه لرئ او په دائمي توګه به د الله ﷻ په عبادت کښې مشغول یاست او حتی د الله ﷻ عبادت به مو د نفس غوندې طبعي شی وګرځي او په هیڅ وخت کښې به دربانډې غفلت نه درځي. او یا به لاهمیشه ژوندي یاست او د الله ﷻ عبادت به په دائمي توګه وکړئ.

ب: ابلیس په خپله خبره بانډې د تاکید په غرض دواړو ته سوګند یاد کړ چې زه ستاسو خیر غواړم او ستاسو دوست یم، بالآخره په تاسو بانډې مې ښه پېرزو ده او د بدۍ پیرزوینه دربانډې نه لرم، ته به وایې چې خپل ځان یې ورته د الله ﷻ څخه اوچت دوست معرفي کړ چې الله ﷻ دربانډې ذکره شوي پیرزوینه نه درلوده نو ځکه یې د ونې څخه منعه کړئ او ما وربانډې خبر کړئ!.

ج: ابلیس د خپل پلان په تطبیق بانډې بریالی شو او دواړه یې وغولول، دې ته یې چمتو کړه چې د ممنوعه ونې څخه څه شی وخوري، دوی دواړو په هغه بانډې د زښتیاني خیر خواه ګومان وکړ، دهغه دروغین سوګند وربانډې اثر واچاوه او خیال یې وکړ چې ایا داسې څوک به وي چې په دروغو سوګند یاد کړي؟!.

۳_ ابلیس وکړی شو چې دواړه تېر باسي، خو محض چې د ذکر شوې ونې څخه یې لږ څکه وکړه سمدستي د شیطان خبرو معکوسه نتیجه ورکړه او د دواړو څخه جنتي جامې توی شوې، دواړه بربنډ شوه او خپل عورتونه یې پخپله ولیده، لکه څنګه چې ورته خپل ځانونه بربنډ شوه همدارنګه ورته د ابلیس دروغینې خبرې هم بربنډې شوې خو کار د کاره تېر وه.

۴_ دوی دواړه په خپله خطا بانډې پوه شوه دواړو وغوښتل چې د خطایې تلافي وکړي،په ځانو بانډې پرده واچوي او د خطا کیدلو څخه توبه تائب شي.

نو د هرڅه څخه وړاندې یې د جنت د ونو په پاڼو بانډې پیل وکړ چې په ځانو پورې یې ونښلوي او خپل عورتونه وربانډې پټ کړي. یا په بل عبارت: د هرڅه څخه وړاندې یې د هغې رسوایۍ څخه د خلاصون په چاره بانډې پیل وکړ کومه چې د هیچا څخه پټه نه وه او بیرغي رسوایي وه.

۵_ په عین وخت کښې په دواړو بانډې د دوی پالونکي (الله ﷻ) اواز وکړ چې ایا تاسو دواړه ما ددغې ونې څخه نه وئ منعه کړي؟ او تاسو دواړو ته مې نه وه ویلي چې شیطان (ابلیس) ستاسو دواړو ښکاره دښمن دی؟ حال دا چې تاسو زما دواړه توصیې شاته واچولې، چې ونې ته ورنژدې شوئ او شیطان مو په دوستۍ سره ونیوه!.

۶_ ادم ﷺ او حواء رضی الله عنها دواړه په خپلو خطا کیدلو بانډې معترف شوه او دواړو په یو اواز چیغې کړې چې ای زمونږ ربه (پالونکیه)! مونږ په خپلو ځانونو بانډې پخپله تېرى کړی دی، مونږ دلیل نه لرو او ستا په حضور کښې ملامت یاستو. نو که ته راته ښښنه ونه کړې (د خطاکیدلو څخه راتېر نه شې) او په راتلونکي کښې رابانډې رحم ونه کړې (توفیق رانه کړې) نو مونږ به یقیناً په

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دائمي توګه د زیان کارانو څخه جوړ شو او هیڅوک به ترې نجات رانه کړی شي. ای زمونږ ربه! ذکر شوي غولونه د شیطان وروستنی غولونه نه وه بلکې دایې د غولونې پیل وه، نوموړي لکه څنګه چې په مونږ باندې صرفه ونه کړه نو زمونږ په اولاده باندې به هم هیڅکله صرفه ونه کړي، زمونږ تاته التجاء ده او په تا باندې پنا اخلو.

۷_ نو الله ﷻ د دواړو توبه قبوله کړه څکه چې الله ﷻ توبه قبلوونکی او مهربان دی، خو توصیه یې ورته وکړه چې:

اول: ابلیس خو لا د وړاندې څخه مونږ ځمکې ته ورکوز کړی وه او تاسو دواړه هم وربشکته شئ. یا په بل عبارت: تاسو ټول درېواړه ځمکې ته وربښکته شئ چې همدا ستاسو د جنګ میدان دی او یو تربله به سره دښمنان یاست، چې یوه نمونه یې تاسو په خپلو سترګو ولیده.

مګر هلته دائمې نه یاست، فقط د ټاکلي وخته پورې به هلته استقرار ولرئ بیا به نو په جنت او دوزخ باندې وېشل کېږئ او همغه به ستاسو دائمي او وروستنی کور وي. دوهم ځل چې تاسو دواړه جنت ته داخل شئ نو بیا به ترې هیڅکله ونه ویستلی شئ.

دوهم: اما بیا چې تاسو دواړه او ستاسو دواړو صالح اولادونه جنت ته ننوځي نو په هغه وخت کښې به تاسو ته بل ژوند درکړی شي چې په هغه ژوند باندې زوال نه ورځي، ستاسو موجوده ژوند د جنت سره منافي دی چې د زوال سره مخامخ کېږي او جنت خو زوال نه لري.

نو د همدې کبله به تاسو په ځمکه کښې د یو وخته پورې ژوندي یاست بیا به پکښې مړه شئ او بیا به ترې د نوي قوي ژوند سره را بهر شئ او جنت ته به لاړ شئ، همدارنګه به ستاسو دښمن (ابلیس) هم د نوي قوي ژوند سره په دوزخ کښې واچولی شي چې هلته به همیشه وي.

## توضیحات

۱_ په جنت کښې د ادم ﷺ او د بي بي حواء رضي الله عنها مکلفیت بالکل په ځمکه کښې د انسانانو مکلفیت ته ورته دی، څکه چې دوی دواړو ته یې الله ﷻ د جنتي ټولو شیانو څخه د استفادې اجازه ورکړې وه مګر صرف د یوې ونې په باره کښې یې حکم دا وه چې دغې ته مه ورنږدې کېږئ.

همدارنګه الله ﷻ مونږ ته خطاب کوي چې: ﴿ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ لَكُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ﴾ [البقرة: ۲۹] یعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هغه شیان یې ټول ستاسو د استفادې دپاره پیدا کړي دي چې په ځمکه کښې دي. مګر دا فرمان یې هم رااستولی دی چې: ﴿ وَلَا تَقْرَبُواْ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ﴾ [الأنعام: ۱۵۱] یعنې او تاسو بې شرمه (ناجائزو) کارونو ته مه ورنږدې کېږئ، هغه چې څرګند وي او هغه چې پټ وي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د شیطان د خولې څخه حکایت وکړ چې

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَٰكِرِينَ﴾ [الأعراف:١٧] یعنې: او د انسانانو اکثریت به شاکران مونده نه کړې.
نو د ده مطلب خو د وسوسې اچولو څخه د دوی نافرمانه جوړول وه، نه د دوی د عورتونو لوڅول، نو
په کار وه چې د ﴿لِيُبْدِيَ لَهُمَا﴾ په عوض "لِيَكْفُرَهُمَا" نازل شوی وی، یعنې وسوسه یې د دې دپاره
ورواچوله چې دوی دواړه ناشکره جوړ کړي، او په اصطلاح کفر ته یې واړوي.
دا د یو پلوه، او د بله پلوه دا پوښتنه پیدا کېږي چې شیطان د کومې لارې پوه شوی وه چې د
نافرمانه جوړېدلو سره د عورتونو لوڅېدل تړلي دي؟.
مونږ وایو چې: ابلیس یقین درلود چې ادم علیه السلام او بي بي حواء رضي الله عنها دواړه په هغه اکثریت
کښې شامل نه دي کوم چې د کافر جوړولو امکان لري، البته چې دا کار ورته د دوی په اولاده کښې
ممکن ښکاریده، د همدې کبله الله ﷻ د ده د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿قَالَ فَبِعِزَّتِكَ
لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۝ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ ٱلْمُخْلَصِينَ﴾ [ص: ٨٢، ٨٣] یعنې: شیطان وویلې چې
ستا په عزت مې دې سوګند وي چې دوی به ټول بې لارې کړم مګر (نه) ستا مخلص بندګان. نو څکه
یې د دوی دواړو په باره کښې د خپلې وسوسې اچولو غرض د عورتونو لوڅول وښودل او بس.
پاتې شوه دا خبره چې د نافرمانۍ سره د عورت لوڅیدل ورته څنګه معلوم وه، نو د دې جواب دا
دی چې ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د ملعونیت څخه وړاندې ابلیس هم د جنت د
اوسېدونکو څخه وه[1]، نو غالبه دا ده -والله اعلم- چې نوموړي به هم جنتي نوراني جامې درلودلې
او د سُجدې په نه کولو باندې به ترې توی شوې وي او بربنډ شوی به وي، نو فکر به یې کړی وي
چې که ادم علیه السلام او حواء رضي الله عنها ګمراه کولی نه شم نو اقلاً د خپل ځان په شان خو یې بربنډولی شم.
د ابلیس دا اټکل هم ربښتیا شو چې هغوی دواړه بربنډ شوه مګر بې لارې نه شوه، چې دواړه توبه
تائب شوه او مقبولیت یې د الله ﷻ په نزد باندې د پخوا څخه اضافه شو.

## ابلیس خپله نقشه پیاده کړه

٣ـ څرنګه چې الله ﷻ د ابلیس په باره کښې زمونږ مور او پلار ته په لاندې دوه وو حکمونو
توصیه کړې وه چې:
الف: د دغې ونې څخه څکه مه کوئ او لا ورنژدې کېږئ هم مه.
ب: ابلیس ستاسو دواړو دښمن دی، زیات متوجه اوسئ چې د دوست په لباس کښې مو
ونه غولوي.
نو کله چې ابلیس ـعلیه اللعنةـ وغوښتل چې خپله د غولونې نقشه عملي کړي نو په ذکرو شوو
دواړو حکمونو کښې یې زمونږ مور او پلار ته په لاندې ډول قناعت ورکړ:
اول: په ﴿وَلَا تَقْرَبَا هَٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ کښې یې د ﴿وَلَا تَقْرَبَا﴾ نهي په تنزیهي

(١) تفسیر ابي السعود ج٣ ص٢١٧

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


نهي باندې حمله کړه چې که تاسو دواړه د دغې ونې څخه څه شی وخورئ نو ورباندې نه ګناهګاریږی بلکې دواړه به پرښتې وګرځئ، او یا به د خوراک په صورت کښې دواړه په دائمي توګه په جنت کښې پاتې شئ (حال دا چې خبره دغسي نه وه).

دا د یو پلوه، او د بله پلوه زمونږ د مور او پلار څخه ملکي صفت ته میلان پیدا شو چې که دوی د ملکو غوندې د خوراک او څښاک څخه بې غمه شي نو د الله ﷻ عبادت به یې د هغوی غوندې طبعي شی وګرځي او تل به د الله ﷻ په عبادت کښې مشغول اوسي او همدارنګه په جنت کښې به دوامداره توګه اوسېدل خو د هرڅا خوښېږي.

لنډه دا چې قناعت یې ورکړ چې ذکره شوې نهي تحریمي نه ده چې تاسو دواړه یې په خوراک سره ګناهګاران شئ او د ښه تاکید دپاره یې خپله خبره په (مَا، إلَّا) سره تائیده کړه.

دوهم: د خپلې دوستۍ په ثبوت کښې یې هم ډېره مؤکده جمله استعماله کړه چې: ﴿ إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴾، د دې جملې تاکیدات دا دي: "إنَّ، ل، إسمیه جمله". په دې ټولو تاکیداتو باندې علاوه د الله ﷻ په نامه باندې یې ورته سوګند هم یاد کړ او ادم ﷺ ګومان نه کاوه چې څوک به په دروغو سوګند وکړي[۱].

د ذکر شوي قناعت نتیجه دا شوه چې: ﴿ فَدَلَّىٰهُمَا بِغُرُورٍ ﴾ یعنې دواړه یې د خپل کلک عزم څخه ښکته کړه. ته به وایې چې دوه بوقې دي او څا ته یې ور زوړندې کړې.

د غولونې څخه وروسته الله ﷻ همدغه ذکر شوي دوه حکمونه دواړو ته وریاد کړه چې ایا ما تاسو دواړه د دغې ونې څخه نه وئ منعه کړي او دا مې درته نه وه ویلي چې شیطان ستاسو څرګند دښمن دی.

## سوال جواب

۴_ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي:

اول: د ﴿ وَلَا تَقْرَبَا ﴾ نهي خو په ﴿ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ باندې تعقیبه شوې ده چې د تحریمي نهي اراده یې تشخیصه کړې ده نو دا به څوک ومني چې ادم ﷺ په خپل اجتهاد سره د تحریمي نهي څخه تنزیهي نهي مراده کړې ده، لکه چې د [البقرة:۳۷] آیت لاندې ورته اشاره شوې ده، او یا ورته همدغه اجتهاد ابلیس تلقین کړ لکه چې په وړاندې توضیح کښې ورته اشاره وشوه؟.

دوهم: ادم ﷺ څنګه د ابلیس په دې خبره قانع شو چې زه ستاسو د پاره د ناصحانو (خیر غوښتونکو) څخه یم، حال دا چې الله ﷻ ورته په صراحت سره فرمایلي وه چې نوموړی ستاسو دښمن دی؟.

درېم: ادم ﷺ څنګه د ابلیس په سوګند باندې اعتماد وکړ حال دا چې نوموړی د سجدې په

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۵۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه کولو او انکار باندې کافر او فاسق شوی وه. ایا د فاسق او کافر په سوګند اعتماد کول مناسب وه؟
څلورم: ایا ادم ﷺ خبر نه وه چې ابلیس په سوګند سره ویلي وه چې: ﴿ لَأَحۡتَنِكَنَّ ذُرِّيَّتَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٗا ﴾ [الإسراء:۶۲] یعنې سوګند دی چې زه به د ادم ﷺ د اولادې بېخ وباسم (او ټول به بې لارې کړم) مګر لږ (کسان مخلصان به راځخه بچ شي)؟.
مونږ وایو چې: په دې موضوع کښې بهتر جواب دا دی چې ادم ﷺ ذکرې شوې نهي ته تاویل نه وه ورکړی بلکې نهي یې هېره شوې وه لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ فَنَسِيَ وَلَمۡ نَجِدۡ لَهُۥ عَزۡمٗا ﴾ [طه:۱۱۵] یعنې: نو ادم ﷺ زمونږ نهي هېره کړه او مونږ ورته ثبات مونده نه کړ (ثبات یې د لاسه لاړ).

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وایي چې: د ﴿ فَدَلَّىٰهُمَا بِغُرُورٖ ﴾ کښې د "ف" توری د هغې تراخي دپاره وضعه شوی دی کوم چې بلا مهلته وي نو په دې مقام کښې یې حاصل داسې راځېږي چې د ادم ﷺ او بي بي حواء رضي الله عنها غولېدنه د ابلیس په خبرو باندې مرتبه شوه، نه په هېرېدنه باندې؟.
مونږ وایو چې: نوموړی توری د تاخیر دپاره دی خو په اتصال باندې دلالت کوي، او نه د زمانې په لږوالي دلالت کوي. د همدې کبله عرب وایي چې: "فَلَانٌ نَكَحَ امْرَأَةً فَوَلَدَتْ لَهُ" فلاني ښځه په نکاح کړه نو هغې ورته اولاد وزېږاوه. که څه هم په اصطلاح سل کاله وروسته یې اولاد زېږولی وي.
نو په دې مقام کښې یې حاصل داسې راځېږي چې ابلیس ـ علیه اللعنة ـ ادم ﷺ او حواء رضي الله عنها ته د ونې په هکله وسوسه ورواچوله او سوګندونه یې ورته وکړه خو دوی پرې اعتماد ونه کړ مګر د دواړو په زړونو کښې د ممنوعه ونې وسوسه پاتې شوه، چې د زمانې په تېرېدلو سره د دواړو څخه د ﴿ وَلَا تَقۡرَبَا ﴾ نهي هیره شوه او وسوسه پکښې پرته وه او نه وه هیره شوې، چې آخر یې عملي کړه او هغه څه پېښ شو کوم چې په قرآن کریم کښې نازل شوي دي.
پاتې شوه دا خبره چې په دې کښې څه حکمت وه چې د ادم ﷺ څخه نهي هېره شوه او وسوسې یې په ذهن کښې دوام وکړ؟، نو د دې جواب دا دی چې دا یوه تقدیري خبره وه او تقدیر ته تدبیر نه جوړېږي.
د همدې کبله د یوه اوروده حدیث په بنیاد ادم ﷺ په موسی ﷺ باندې برلاسې شو کله چې هغه ورباندې په عالم الأرواح کښې پړه واچوله چې مونږ ستا د لاسه د جنت څخه راووتلو. ادم ﷺ جواب ورکړ چې: «أَتَلُومُنِي عَلَى أَمْرٍ قَدَّرَهُ اللهُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَنِي بِأَرْبَعِينَ سَنَةً» یعنې: آیا ته ما په هغه شي باندې ملامته کوې چې الله ﷻ په ما باندې زما د پیدایښت څخه څلوېښت کاله وړاندې لیکلی (مقدر کړی) وه؟. نو نبي کریم ﷺ درې ځله تکرار کړ چې: «فَحَجَّ آدَمُ مُوسَى»[1] یعنې: ادم ﷺ په موسی ﷺ باندې په استدلال کښې برلاسی شو.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۷۹؛ صحیح مسلم ج۲ ص۳۳۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

ځينو علماوو کرامو ذکر شوی حديث ډېر ښه شرحه کړې دی چې کتل يې ګټور دي(۱).

## په "اهْبِطُوْا" کښې څوک مخاطب دي؟

۶_ مونږ د [البقرة:۳۶] آيت لاندې د دې سوال په جواب کښې چې په ﴿ٱهْبِطُواْ﴾ سره څوک مخاطب دي، د الله ﷻ په توفيق غوره جواب ليکلی دی، مګر د دې مقام په اعتبار سره دلته راته دا جواب هم چندان لرې نه ښکاري چې په ذکره شوي کلمه کښې به ادم ﷺ، بي بي حواء رضي الله عنها، او ابليس درېواړه مخاطب وي.

که څه هم د ابليس _عليه اللعنة_ د ښکته کېدلو وخت د هغوی دواړو د ښکته کېدلو څخه وړاندې تېر شوی وه مګر اجتماع يې په حکايت کښې ده چې د مَحکِي عَنْهُ د تفرق سره هيڅ منافات نه لري، د دې نظير دادی چې الله ﷻ به د قيامت په ورځ د ټولو پيغمبرانو څخه پوښتنه وکړي چې: ﴿مَاذَآ أُجِبْتُمْ﴾ [المائدة:۱۰۹] يعني تاسو هر يوه ته په خپله-خپله زمانه کښې د خپل-خپل امت د پلوه څنګه-څنګه جواب درکړی شوی وه؟، او داسې مطلب نه دی چې تاسو ټولو ته په يو ځل د خلکو د پلوه څنګه جواب درکړی شوی وه؟.

## آدم ﷺ کوم شيان د ځانه سره را کوز کړي وه؟

۷_ ځينو مفسرينو کرامو د ډېرو شيانو نومونه اخستي دي چې ادم ﷺ د ځانه سره د جنت څخه ځمکې ته را کوز کړي وه(۲)، خو څرنګه چې ثبوت يې چندان مزه ناک نه دی نو مونږ پرې ډېره کښېنودله، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

## د آدم ﷺ او د ابليس د امتحان څرګند فرقونه

۸_ که څه هم ادم ﷺ او ابليس _عليه اللعنة_ دواړه د ا متحان لاندې واقع شوه او دواړه په امتحان کښې برياليي نه شوه مګر د ادم ﷺ قدر او عزت د الله ﷻ په نزد کمبود ونه کړ بلکې اضافه شو چې د ده د نسل څخه يو لک څلېرشت زره _زيات يا کم_ پيغمبران پيدا شوه او الله ﷻ ته اميد دی چې د خپلې پرېماني اولادې په شمول به بېرته د دوام په توګه جنت ته ورستون شي. او بالمقابل د ابليس قدر او عزت د خاورو سره برابر شو او روزمره ورباندې د الله ﷻ لعنت اضافه کېږي چې انتهاء به يې دائمي دوزخ وي. او دا څکه چې:

الف: ادم ﷺ په خپله ناکامۍ باندې اعتراف وکړ او ابليس اعتراف ونه کړ او ځان يې ګنهګار ونه باله.

ب: ادم ﷺ خپل ځان ملامته وګڼه حتی د خپلو کړو څخه يې په ظلم سره تعبير وکړ او ابليس خپل ځان ملامته نه کړ او پړه يې په الله ﷻ باندې واچوله چې غير مناسب امر يې کړی وه ايا دا مناسبه ده چې بهتر دې کمتر ته (د ده په خيال) په سجده شي؟!.

---

(۱) تفسير الخازن ج۳ ص۲۲۴؛ تفسير القرطبي ج۱۱ ص۲۵۶؛ حواشي البخاري ج۲ ص۶۹۳.
(۲) روح المعاني ج۸ ص۱۰۳

Downloaded from: bawarketabtoon.com

ج: ادم ﷺ پښېمانه او توبه تائب شو، اما ابليس پښېمانه نه شو او خپل ځان ورته په حقه ښکاره شو (تکبر يې خپل کړ).

د: ادم ﷺ د خپل رب د رحمت څخه نا امیده نه شو او شیطان ترې خپل ځان نا امیده کړ او د رحمت په لټه کښې نه شو.

ه: د ادم ﷺ ناکامي د نسيان او خطا کيدلو څخه منشأ اخستې وه نو کله چې په خپله خطا او نسيان باندې پوه شو سمدستي توبه تائب شو، او د ابليس ناکامي د تکبر د کبله وه چې د آخره پورې په خپله تګلاره باندې کلک پاتې شو او لا ورباندې کلک به وي.

نو معلومه شوه چې تکبر ډېر لوی مصيبت دی، ټولو مسلمانانو ته په کار دي چې خپل ځانونه ترې بچ وساتي. نو هرڅوک چې د ادم ﷺ په تګلاره لاړ شي هغه به سعادت حاصل کړي او هر څوک چې د شیطان په قدم باندې قدم ږدي هغه به د شقاوت سره مخامخ شي.

﴿ يَـٰبَنِىٓ ءَادَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَٰرِى سَوْءَٰتِكُمْ وَرِيشًا ۖ وَلِبَاسُ ٱلتَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ ۚ ذَٰلِكَ مِنْ ءَايَـٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿٢٦﴾ ﴾

[۲۶] ای د ادم ﷺ اولادې! بې شکه مونږ په تاسو باندې جامې نازلې کړې دي (تاسو ته مو داسې جامې پیدا کړې دي) چې ستاسو عورتونه پټوي او (هم مو درته په جامو سره) ښائست (پیدا کړی دی)، او دغه (د تقوی لباس) ډېر ښه دی (د مادي لباس څخه).

دغه (ذکر شوی مضمون) د الله ﷻ د قدرتي دلائلو څخه دی شاید چې دوی پند واخلي.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ لاندې مضامینو ته اشاره کړې وه:

۱_ د ابليس _علیه اللعنة_ عصيان (نافرماني) او د دې موجبه.

۲_ د ده عداوت او ددې سبب.

۳_ د ده په دروغینه وینا باندې د ادم ﷺ تېروتل.

۴_ د ادم ﷺ د تېروتلو نتیجه او د الله ﷻ مغفرت او بښنه.

په دغه آیت او په څو نورو راتلونکو ایتونو کښې الله ﷻ په ذکرو شوو مضامینو باندې څه تفریعي احکام نازل کړي دي ترڅو د ادم ﷺ د اولادې دپاره د عبرت درس جوړ شي او ګټه ترې واخلي، چې خلاصه يې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

۱_ يعني: ای د ادم ﷺ اولادې! مونږ په تاسو باندې ډېر لوی فضل کړی دی چې ستاسو دپاره مو په ځمکه کښې هغه شیان خلق (پیدا) کړي دي کوم چې تاسو ترې جامې جوړوئ، چې ځينې په

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښت او زراعت سره په لاس درځي لکه مالوچ، سونډ او داسې نور، او ځینې د څارویو د ښاګانو څخه ترلاسه کوئ لکه وړۍ، پوستکي او داسي نور.

۲ـ په دغو جامو باندې تاسو د يو پلوه خپل عورتونه پټوئ چې ستاسو په خټه کښې اغړل شوي دي او ستاسو فطري غريزه ده، که بالفرض الله ﷻ ستاسو د جامو بندوبس نه وی کړی نو تاسو به خپل عورتونه د خپل مور او پلار غوندې د ونو په پاڼو پټولی او د لوی جنجال سره به مخامخ وی. او د بل پلوه ذکرې شوې جامې ستاسو دپاره ډول او سنګار دی، ستاسو څخه په غیر په ځمکه کښې نور ساکنیان بربنډ ګرځي او جامې نه لري، نه یې عورتونه د ښېښتانو او ښځو څخه په غیر بله پرده لري، نه یې ستاسو غوندې په جامو سره قوارې ښائسته کړی شوې دي. او بالآخره نه یې د عورتونو پټول په خټه کښې اغړل شوي دي.

۳ـ خو په یاد ولرئ! لکه څنګه چې الله ﷻ ستاسو دپاره ذکرې شوې مادي جامې پیدا کړې دي همدارنګه یې درته د معنوي جامو بندوبس هم کړی دی چې شریعت یې درنازل کړی دی او په ګڼ شمېر کښې یې پیغمبران علیهم السلام دراستولي دي ترڅو تاسو پرهېزګاران جوړ شئ او د جنتي لباس د اغوستلو جوګه شئ. دا جامې د هغو جامو څخه بهترې دي چې هغه دنیا پورې اړه لري، هغه زړېږي او دا نه زړېږي، هغه موقتي دي او دا دوامداره دي، نو تاسو ته په کار دي چې د معنوي جامو په اغوستلو کښې پوره زيار وباسئ او په مادي جامو کښې هم د معنوي جامو مراعات هېر نه کړئ.

۴ـ ای پیغمبره! انسانانو ته د جامو بندو بس او د دوی د عورتونو پټول د الله ﷻ د قدرت د ډېرو لویو نښو څخه دي، دوی ته په کار دي چې وخت په وخت یې خپلو ځانو ته وریه زړه کړي او عبرت ترې واخلي ترڅو د ابلیس د غولونې څخه په امن کښې پاتې شي.

## توضیحات

۱ـ څرنګه چې د ادم علیه السلام او بي بي حواء رضي الله عنها عورتونه په جنت کښې په نوراني جامو باندې پټ وه او ظاهره دا ده چې لا د پټولو مکلفیت یې نه درلود، مګر د دې سره-سره کله چې د دواړو څخه جنتي جامې توی شوې نو د عورتونو د پټولو هڅې یې وکړې ترڅو خپل عورتونه د خپلو ځانونو څخه هم پټ کړي، نو دا لوی دلیل دی چې د عورت پټول د انسان په خټه کښې اغړل شوي دي او د اسلام دښمنو ټولنو دا خبره غلطه ده چې په اولو وختونو کښې انسان هم د نورو ساکنانو په څېر بربنډ ګرځېده او د جامو سره وروسته عادت شو باید د دې عادت څخه صرف نظر شي او خپل اصلي عادت ته ورتاو شي او بالآخره خپل ځان د نورو څارویو په شان لوڅ لنډغر جوړ کړي.

## سو ال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: د جامو اصل ـلکه مالوچ او وړۍـ خو د ځمکې څخه دي، نه د اسمان څخه، نو په دې کښې څه حکمت دی چې د ﴿ وَأَنزَلْنَا ﴾ په عوض د "وَخَلَقْنَا" کلمه نازله نه کړی شوه؟ مونږ وایو چې:

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دغه حکم چې د فلاني او فلاني شي څخه به جامې جوړېږي د لوح محفوظ ليکلی شوی حکم دی نو د دغه حکم په څمکه کښې پیاده کول داسې وګڼل شو لکه چې د هغه ځایه دلته نازل کړی شوی وي(۱).

ب: څرنګه چې د جامو د اصل (لکه مالوچ او وړی) وده او نمو په باران پوري اړه لري او باران د اسمانه نازلېږي نو داسې وګڼل شو لکه چې ذکر شوی اصل پخپله د اسمانه نازل کړی شوی وي(۲).

ج: که څه هم ذکر شوي دواړه جوابونه واقعیت لري مګر د آیت شریف دپاره یې د تفسیر په حیث منل غیر متبادر ښکاري، نو غوره جواب دا دی چې اکثره وخت په قرآن کریم کښې د کثیر المنفعه (ډېر ګټور) شیانو څخه په انزال (راښکته کولو) سره تعبیر کېږي لکه ﴿ وَأَنزَلْنَا ٱلْحَدِيدَ ﴾ [الحدید: ۲۵] یعنې: او مونږ اوسپنه نازله کړې (پیدا کړې) ده. او پوره واضحه ده چې د جامو د اصل پیدا کول او انسان ته یې د صنعت ښودل زښت ډېر ګټور شیان دي نو ځکه ترې په ﴿ وَأَنزَلْنَا ﴾ سره تعبیر وکړی شو، والله ﷻ اعلم.

## "ریش" څه معنی؟

۳ـ د "رِيْش" کلمه اصلاً د مرغه ښکو ته وايي مګر دلته ترې لباس مطلب دی چې انسان ورباندې داسې ډول او سینګار مونده کوي لکه څنګه چې مرغه په ښکو باندې ډولي کېږي(۳). ذکره شوې کلمه په یوه حدیث شریف کښې ډېره ښه تفسیر شوې ده چې کله به نبي کریم ﷺ نوې جامه اغوستله نو فرمایل به یې چې: «الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي رَزَقَنِي مِنَ الرِّيَاشِ مَا أَتَجَمَّلُ بِهِ فِي النَّاسِ وَأُوَارِي بِهِ عَوْرَتِي»(۴) یعنې: هغه الله ﷻ لره ستاینه ده چې د جامو (لباسونو) څخه یې هغه راپیرزو کړی دی چې په خلکو کښې ورباندې خپل ځان ډولي جوړوم او هم ورباندې خپل عورت پټوم.

## "لباسُ التقوى" د څه شي څخه عبارت دی؟

۴ـ علماوو کرامو د ﴿ وَلِبَاسُ ٱلتَّقْوَىٰ ﴾ کلمه تقریباً په لسو معناوو سره تفسیره کړې ده(۵) مګر کومه معنی چې مونږ ته ښه ښکاري او په لسو واړو معناوو باندې مشتمله ده هغه دا ده چې: د ﴿ وَلِبَاسُ ٱلتَّقْوَىٰ ﴾ څخه پخپله تقوی مراده ده او اضافت پکښې بیاني دی. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: الله ﷻ په مادي لباس باندې علاوه معنوي لباس هم نازل کړی دی چې د تقوی او پرهېزګارۍ لباس دی. یا په بل عبارت: لباس التقوی دې ته وايي چې سړی خپلې عقیدې او خپل

(۱) تفسیر الکشاف ج۲ ص۹۷
(۲) تفسیر القاسمي ج۷ ص۴۰
(۳) مفردات الراغب ص۲۱۴
(۴) مسند أحمد بن حنبل ج۱ ص۳۳۲
(۵) زاد المسیر ج۳ ص۱۲۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عمل ته شرعي جامه ورواغوندي او اسلام په خپل ځان باندې تطبيق کړي، نو څوک چې غير شرعي لباس اغوندي هغه په حقيقت کښې بربنډ او د لباس التقوى څخه لوڅ پوڅ دی.

د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

الف: نبي کريم فرمايلي دي چې: «صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا وَإِنَّ رِيحَهَا لَتُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا»[۱].

يعنې: دوه ډلې دوزخيان دي چې (تر اوسه پورې) ما نه دي ليدلي (وروسته به پيدا شي)؛ يوه ډله هغه نارينه دي چې د غوايانو د لکيو غوندې متروکې به ورسره وي او خلک به ورباندې وهي، بله ډله هغه زنانه دي چې پټې بربنډې به وي (داسې جامې به يې اغوستې وي چې بدن به يې ترې ښکاريږي چې يا به ډيرې نازکې وي يا به ډيرې تنګې وي او بالآخره يا به ډيرې لنډې وي)، دوی به راتاوونکې او راتاوېدونکې وي (نارينه به خپلو ځانونو ته په ناز او کرشمو سره راکاږي او د بيګانه وو سره به ناسته ولاړه خوښوي). دوی به خپل سرونه داسې کاږه کوږ په کړي وي لکه چې د مايه اوښانو کاږه بوکانونه، دوی به نه جنت ته داخلې شي او نه به د جنت بوی مونده کړي حال دا چې د جنت بوی د دومره-دومره (بعيدې) مسافې څخه موندلی کېږي.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دی چې: «حُرِّمَ لِبَاسُ الْحَرِيرِ وَالذَّهَبِ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي وَأُحِلَّ لِإِنَاثِهِمْ»[۲] يعنې د وريښمنو او سرو زرو اغوستل زما د امت په نارينه وو باندې حرام کړی شوي دي او زنانه وو ته يې حلال کړی شوي دي.

ج: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا يَنْظُرُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى مَنْ جَرَّ ثَوْبَهُ خُيَلَاءَ»[۳] يعنې د قيامت په ورځ به الله ﷻ هغه (نارينه) ته د رحمت نظر ونه کړي کوم چې خپله جامه د تکبر د کبله راکاږي.

د: د ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چې: «لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبْسَةَ الْمَرْأَةِ وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لِبْسَةَ الرَّجُلِ»[۴] يعنې: نبي کريم ﷺ په هغه نارينه باندې لعنت غوښتی دی چې د زنانه وو په لباس کښې ګرځي او په هغې زنانه باندې هم چې د نارينه وو لباس اغوندي، ته به وايې چې دا سړی دی.

﴿ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمۡ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنۡ حَيۡثُ لَا تَرَوۡنَهُمۡۗ إِنَّا جَعَلۡنَا

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۲۰۵
(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۳۰۲
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۳۰۳
(۴) سنن ابي داود ج۲ ص۲۱۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلشَّيَـٰطِينَ أَوْلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٧﴾ وَإِذَا فَعَلُوا۟ فَـٰحِشَةً قَالُوا۟ وَجَدْنَا عَلَيْهَآ ءَابَآءَنَا
وَٱللَّهُ أَمَرَنَا بِهَا ۗ قُلْ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِٱلْفَحْشَآءِ ۖ أَتَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾
قُلْ أَمَرَ رَبِّى بِٱلْقِسْطِ ۖ وَأَقِيمُوا۟ وُجُوهَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَٱدْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ
ٱلدِّينَ ۚ كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُودُونَ ﴿٢٩﴾ فَرِيقًا هَدَىٰ وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلضَّلَـٰلَةُ ۗ إِنَّهُمُ ٱتَّخَذُوا۟
ٱلشَّيَـٰطِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴿٣٠﴾ ﴾

[۲۷] ای د ادم ﷺ اولادې! تاسو لره دې شیطان په فتنه کښې وانچوي لکه چې ستاسو مور او پلار یې (په فتنه کښې واچول او) د جنت څخه یې وویستل، په داسې حال کښې چې د دواړو څخه یې (د جنت نوراني) جامې د دې دپاره وغورزولې چې دواړو ته خپل عورتونه ور ولیده کړي.
(څکه ترې ځانونه بچ وساتئ چې) یقیناً شیطان (بلکې) شیطان او د ده (جني) پیروان تاسو د داسې ځای څخه ګوري چې تاسو یې نه شئ لیدلی (ترڅو چې خپل اصلي شکلونه بدل نه کړي). بې شکه مونږ شیطانان د هغو کسانو دپاره دوستان ګرځولي دي چې هغوی ایمان نه راوړي (نه د مخلصو بندګانو دپاره).

[۲۸] او (برسیره په ایمان نه راوړلو باندې) کله چې بد (او بې شرمه) کار وکړي نو دوی وايي چې مونږ په همدغه (کار) باندې خپل پلرونه موندلي دي او (هم) راته پرې الله ﷻ امر کړی دی.
(ای پیغمبره! ورته) ووایه چې یقیناً الله ﷻ په بد (او بې شرمه) کار باندې امر نه کوي، ایا تاسو په الله ﷻ باندې داسې خبرې کوئ چې په هغو باندې نه پوهیږئ؟!

[۲۹] (ورته) ووایه چې ماته خپل رب ﷻ په انصاف سره امر کړی دی (او ستاسو وینا وې بې انصافي ده) او (هم یې راته امر کړی دی چې) د هر عبادت په نزد خپل مخونه (خاص الله ﷻ ته) سیده کړئ (د غیر الله څخه اعراض وکړئ) او خپل رب ﷻ په داسې حال کښې وبلئ چې خاص همده ﷻ ته په غاړو اېښودلو کښې اخلاص کوونکي یاست، لکه چې اول ځل یې (بوازې) پیدا کړي یاست همدغه حالت (پیدا کېدلو) ته به بیا ورو ګرځئ (او هیڅوک به درکښې اشتراک ونه کړي).

[۳۰] (مګر خلک په دوه وو ډلو باندې ووېشلی شوه چې) یوې ډلې ته الله ﷻ هدایت وکړ (مطلب ته یې ورسول) او په بله ډله باندې ګمراهي ثابته شوه. (څکه چې) دوی د الله ﷻ څخه په غیر شیطانان په دوستۍ سره په داسې حال کښې ونیوه چې (په خپلو ځانونو باندې) ګومان کوي چې یقیناً دوی لاره موندونکي دي.

### د مطلب خلاصه

د ادم ﷺ او د ابلیس ـ علیه اللعنة ـ د قیصو پورې د اړوند تفریعاتو څخه دا دوهمه تفریع ده، چې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د مضمون خلاصه يې داسې راوځي:

۱ـ اى د ادم ﷺ اولادې! پام کوئ چې شيطان مو داسې تېر نه باسي لکه ستاسو مور او پلار يې چې تېر ويستل او د همدغې تېرويستنې په سبب سره يې دواړه د جنت څخه رابهر او د جنتي نوراني لباس څخه يې بربنډ کړه، آن تردې چې دواړو ته يې خپل عورتونه وروښودل او دواړه يې د خجالت سره مخامخ کړه.

شيطان غواړي چې تاسو نه جنت ته داخل شئ، نه جنتي نوراني لباس واغوندئ او بالآخره د تقوى د لباس څخه بربنډ او د قيامت د ورځي د خجالت سره مخامخ شئ؛

۲ـ اى د ادم ﷺ اولادې! تاسو ته ځکه زيات پام په کار دى چې تاسو ذکر شوى دښمن او د ده لښکر په خپله اصلي څېره باندې نه شئ ليدى مگر د دې سره-سره هغوى تاسو گوري او بلکې ستاسو په رگونو کښې د وينې په شان گرځي راگرځي او زړونو ته مو وسوسې دراچوي.

نو د دغسې دښمن څخه خپل ځان بچ کول څه اسانه خبره نه ده، يوازې هغه چاته اسانه ده کوم چې ترې په الله ﷻ باندې پناه وغواړي او په اسلامي شريعت باندې منگولې ښخې کړي.

د همدې کبله زمونږ په مخلصو بندگانو باندې د شيطان سلطه نه چلېږي او د اثر لاندې يې نه واقع کېږي، که بالفرض دوى په کومه خاصه موضوع کښې وغولېږي او خطا شي نو سمدستي په الله ﷻ باندې پنا غواړي چې "أعوذ بالله من الشيطان الرجيم" او په خپله خطا باندې پښېمانه کېږي او توبه تائب جوړېږي.

شيطانانو د هغو خلکو په ځېرونو باندې لاسونه ايښې دي کومو ته چې مونږ هغوى دوستان جوړ کړي دي او د لاندې خاصيتونو خاوندان دي:

الف: هغه کسان چې ايمان نه راوړي او په قصدي توگه په ايمان باندې د مشرف کېدلو څخه ډډه کوي.

ب: هغه کسان چې بې شرمه او د حد څخه وتلي بد کارونه کوي، لکه په بربنډه باندې طواف، او دليل دا نيسي چې په همدې حالت او همدې خوى باندې مونږ خپل پلرونه موندلي دي او دا بې شرمه کار د پلرونو څخه راپاتې دئ.

ج: په دې ټولو باندې علاوه دا هم وايي چې الله ﷻ مونږ ته په ذکر شوي کار باندې امر کړى دى او زمونږ فريضه ده چې عمل ورباندې وکړو.

۳ـ اى پيغمبره! د شيطان د دوستانو ذکر شوي دلائل په لاندې ډول رد کړه:

الف: الله ﷻ خو ستاسو په هدايت کښې هيڅ قصور نه دى کړى، وخت په وخت يې پيغمبران عليهم السلام دراستولي دي، کتابونه يې درنازل کړي دي، حواس يې درکړي دي چې په دنيا کښې د الله ﷻ د قدرت دلائل وگورئ او عقلونه يې دربښلي دي چې فکر پکښې وکړئ او د منحرفو لارو څخه خپل ځان بچ کړئ او په مخلصو بندگانو کښې شامل شئ.

Downloaded from: baharketaboon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: که تاسو په رښتيانی توګه د خپلو پلرونو تقليد کوئ نو تاسو ته په کار دي چې د خپل پلار (ادم ﷺ) تقليد وکړئ چې کله شيطان خطا کړ نو دستي توبه تائب شو او چې کله يې ترې جنتي جامې وويستلې نو دستي د خپل عورت د پټولو په هڅه کښې شو او د جنت د ونو په پاڼو کښې يې خپل ځان ونغښت. عجيبه ده چې د خپل اولني پلار تقليد نه کوئ چې په سمه لار باندې روان وه او د منحرفو پلرونو تقليد ته مو ملاوې تړلې دي او په لوڅه باندې طواف کوئ.

ج: الله ﷻ خو هيڅکله او هيچاته په بې شرمه کار باندې امر نه کوي، که بالفرض تاسو په خپله خبره باندې کلک ياست نو راوښاياست چې په کومه زمانه کښې د کوم يوه پيغمبر په ذريعه تاسو ته الله ﷻ په بې شرمه کارونو باندې امر کړی دی؟! نو معلومه شوه چې تاسو دروغ واياست او په الله ﷻ باندې بې سنده دروغ تړئ.

۴ـ ای پيغمبره! دا هم ورته ووايه چې زما رب تل په انصاف باندې امر کوي، د ده ﷻ په هدايتونو کښې افراط او تفريط نشته، کوم شريعت يې چې په ما باندې نازل کړی دی هغه هم په انصاف باندې موصوف دی.

۵ـ ای پيغمبره! خلکو ته ووايه چې تاسو هم د الله ﷻ په شان په انصاف باندې ودرېږئ او عملاً بې انصافي مه کوئ چې په خپلو عبادتونو کښې خپله توجه بوتانو ته واړوئ او د کعبې شريفې په عوض کوم يو بوت ته سجده کېږدئ بلکې د خپل هر يو عبادت په وخت کښې خپله ټوله توجه کعبې شريفې ته سيخه کړئ.

همدارنګه مه عقيدةً بې انصافي کوئ چې د الله ﷻ سره په عبادت کښې بل څوک يا بل شی شريک وګڼئ بلکې د هميشه دپاره خپل رب ﷻ په اخلاص سره وبلئ او غاړه ايښودل ورته سوچه جوړ کړئ، او دا ځکه چې نه ستاسو په اول پيدا ايښت کښې د الله ﷻ سره بل څوک شريک شته او نه به ستاسو په بيا را ژوندي کولو کښې څوک شريک شي، نو معلومه شوه چې په عبادت کښې هم ورسره بل څوک استحقاق نه لري.

۶ـ ای پيغمبره! د ذکر شوي بيان څخه وروسته ووايه چې د شيطان سره د مبارزې په اعتبار خلک په لاندې دوه وو ډلو باندې وېشلي شوي دي:

الف: يوه هغه ډله خلک دي چې د الله ﷻ وصاياوو ته يې غاړې ايښې دي او د شيطان پيروي نه کوي چې الله ﷻ ورته هدايت کړی دی او په مخلصو بندګانو کښې يې شمېرلي دي.

ب: بله هغه ډله ده چې دوی د ضلالت لاندې قرار نيولی دی او په همدې باندې خوښ او راضي دي بلکې د الله ﷻ څخه په غير د شيطانانو دوستي يې غوره کړې ده، همدوی يې په دوستی سره نيولي دي او بالآخره خيال کوي چې همدوی لاره موندونکي او په سمه لاره باندې روان دي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ وَقَبِيلُهُ ﴾ کښې د "قبيل" کلمه د "قبيلة" جمعه ده، قبيله د هغه لوی ټولګي نوم دی چې يو

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تربله سره مخونه اړوي[1] او يو تربله سره ګډ اهداف ولري، مګر په دې مقام کښې ترې د شيطان اولاده مراده ده چې د ده جنې پيروان دي او بس.

## سوال جواب

۲_ كه څوک وايي چې: د آيت شريف څخه معلومېږي چې مونږ شيطانان نه شو ليدلی، حال دا چې الله ﷻ فرمايي چې: ﴿كَانَ مِنَ ٱلْجِنِّ﴾ [الكهف: ۵۰] يعنې ابليس د جنياتو د جنس څخه دی. نو شيطانان هم د همدوی د جنس څخه دي چې خلک غولوي او د ډېرو نصوصو څخه څرګندېږي چې دوی زمونږ د نظر لاندې واقع شوي دي. لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: سليمان ﷺ په پيريانو باندې حكومت او پاچايي كړې ده چې د جنايت په وخت كښې به يې بنديانول او جزا به يې وركوله، په دې باندې علاوه هغوی به ورسره په مجالسو كښې ګډون كاوه او په حكومتي كارونو كښې به يې ورسره كومک كاوه. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ﴾ [النمل:۳۹] يعنې: د پيريانو څخه يوه قوي پيري وويل چې زه به درته د بلقيس تخت د هغه څخه وړاندې راورسوم چې ته د دغه مقام څخه پاڅېږې او رسمي ناسته دې ختمه شي.

ب: همدارنګه د احاديثو كتابونو[2] د ابو هريره ﷺ نه اوږده قيصه ليكلې ده چې يو شيطان يې نيولی وه، چې بايد زيات وضاحت يې همله وكتل شي.

ج: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الْجِنِّ تَفَلَّتَ الْبَارِحَةَ لِيَقْطَعَ عَلَيَّ صَلَاتِي فَأَمْكَنَنِي اللهُ مِنْهُ فَأَخَذْتُهُ فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبُطَهُ عَلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ حَتَّى تَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ فَذَكَرْتُ دَعْوَةَ أَخِي سُلَيْمَانَ ﴿ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَهَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي ﴾ فَرَدَدْتُهُ خَاسِئًا»[3] يعنې بيګاه شپه د پيريانو څخه يو قوي پيری ناڅاپه رادمخه شو ترڅو په ما باندې خپل لمونځ ګډوډ كړي، خو الله ﷻ پرې ماته قدرت راكړ نو ومې نيوه، ما غوښتل چې د جوماټ د يوې ستنې پورې يې وتړم ترڅو يې تاسو ټول وګورئ، مګر د ورور سليمان ﷺ دعاء راپه زړه شوه چې ای ربه! ماته ښښنه وكړې او داسې واكداري راكړې چې زما څخه وروسته هيچاته د هغې وركړه مناسبه نه وي، نو د ذلت په حالت كښې مې وشاړه.

نو پوښتنه داده چې ايا ذكر شوي واقعات او نصوص د همدغه آيت شريف سره څه منافات نه لري چې سمدستي د بحث لاندې دي؟

مونږ وايو چې:

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۰۶

(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۳۱۰

(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۴۸۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: د اهل القبله وو څخه یوه ډله چې معتزله نومېږي د پیریانو د لیدلو څخه انکار کوي او څوک یې چې د لیدلو ادعاء کوي هغه دروغژن ګڼي(۱)، شاید چې ذکر شوو واقعاتو ته به د پیغمبرانو علیهم‌السلام په زمانو پورې بلا دلیله اختصاص ورکوي، که نه نو د هغو څخه خو انکار امکان نه لري، او څوک چې ترې انکار کوي نو هغه دې په خپل ایمان باندې وډار شي.

دوهم: زمونږ د أهل السنة و الجماعة عقیده داده چې ملائک، پیریان او شیطانان په خپلو اصلي څېرو کښې نه لیده کېږي اما په فرعي څېرو کښې (لکه د انسان یا بل شي شکل) لیدلي شوي دي او لیدل کېږي، لکه چې ذکر شوي واقعات وربانديې دلالت کوي(۲).

دا د عوامو دپاره، اما که خواصو (پیغمبرانو علیهم‌السلام) په خپلو اصلي څېرو کښې لیدلي وي هم څه ممانعت نشته.

همدغه جواب ته د ﴿ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ﴾ کلمات اشاره کوي، یعنې ای بنیادمانو! شیطان او د ده اولاده د هغه حیثه تاسو کتلی شي د کوم حیثه چې تاسو هغوی نه شئ کتلی، چې هغه د اصلي اشکالو حیثیت دی.

دریم: په دې باندې علاوه د﴿ لَا تَرَوْنَهُمْ ﴾ جمله د ذکرو شوو نصوصو او واقعاتو سره څکه منافات نه لري چې دلته عادي حالات بیان شوي دي او هلته استثنائي حالاتو ته اشاره شوې، د دې نظیر دا آیت دی چې فرمایي: ﴿ فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ ﴾ [الأعراف:۲۵] یعنې تاسو به په دغې ځمکه کښې په عادي توګه ژوند کوئ او په عادي توګه به پکښې مړه کېږئ. نو که څوک استثناءً څه وخت په هوا کښې ژوند وکړي او یا په هوا کښې مړ شي د آیت سره څه منافات نه لري.

## آیت په آیت تفسیر شوی

۲ـ دا جمله: ﴿ إِنَّا جَعَلْنَا ٱلشَّيَٰطِينَ أَوْلِيَآءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ په دې جمله: ﴿ إِنَّهُمُ ٱتَّخَذُوا۟ ٱلشَّيَٰطِينَ أَوْلِيَآءَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ ﴾ باندې ډېره ښه تفسیره شوې ده. یعنې مونږ ځکه کافرانو ته شیطانان د دوستانو په حیث ټاکلي دي چې همدوی پخپله په دوستۍ سره نیولی دی او لا ځانونه په حقه هم بولي او په همدې باندې کلک هم دي.

## یادونه

۳ـ ځینو علماوو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ فَٰحِشَةً ﴾ کلمه په "بربنډه توګه طواف" باندې تفسیره کړې ده چې پوره بیان یې په راتلونکو ایتونو کښې را روان دی، مګر مونږ ته دا بهتره ښکاري چې ذکره شوې کلمه په عموم سره پرېښودله شي ترڅو د مشرکانو ټولو غیر شرعي کارونو ته ورشامله شي. او دا ځکه چې مشرکانو خو یوازې په بربنډه توګه طواف کول شرعي نه ګڼل بلکو

---

(۱) تفسیر الکشاف للزمخشري المعتزلي ج۲ ص۹۸

(۲) شرح المقاصد ج۲ ص۵۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


خپلو تیولو کړو وړو ته یې د مشروعاتو لقب ورکاوه، مثلاً د حلالو څارویو تحریم یې د الله ﷻ امر ګاڼه او په خپلو ټولو شرکیاتو باندې یې همدغه لقب ایښوده لکه چې د[الأنعام:۱۴۸] آیت لاندې ورته اشاره شوې ده.

## د "مسجد" کلمه څه معنی؟

۴_ که څه هم د "مَسْجِد" د کلمې متعارفه معنی جومات ده او په دې مقام کښې یې علماوو کرامو متعددې معناوې کړې دي[1] مګر مونږ ته دا بهتره ښکاري چې دلته به د ﴿ مَسْجِد ﴾ د کلمې څخه لغوي مسجد مراد وي چې د سجدې د ځای معنی ورکوي، او نبي کریم ﷺ ورته په یوه اورېده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا فَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ فَلْيُصَلِّ»[2] یعنې: ماته ټوله ځمکه د سجدې ځای او پاکوونکې ګرځولې شوې ده، نو زما د امت څخه چې هر یوه سړي ته د لمانځه وخت ورسېږي (او په هر ځای کښې چې وي) نو لمونځ دې وکړي (او متعارف جومات ته دې نه ټالوي).

خو د دې سره-سره ذکره شوې کلمه دلته د عبادت څخه کنایه ده. نو د معنی حاصل به یې داسې راووځي چې تاسو په هریوه عبادت کښې، لمونځ وي او که طواف، خپل نیت خاص الله ﷻ ته سیده کړئ او غیر الله یا بوتانو ته پکښې ګډون مه ورکوئ په همدغې معنی باندې د آیت شریف متباقي ټکړه دلالت کوي چې: ﴿ وَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾ او د خپل رب ﷻ بلنه په داسې حال کښې وکړئ چې خاص همده ﷻ لره په غاړو ایښودلو کښې اخلاص کوونکي یاست.

﴿ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ﴿٣١﴾ ﴾

[۳۱] ای د ادم ﷺ اولادې! د هر یوه عبادت په نزد (لمونځ وي او که طواف) خپل ښائست (جامې) واخلئ (واغوندئ)، او خورئ او څښئ او د حد څخه تېری مه کوئ. (ځکه چې) یقیناً الله ﷻ (د ذکرو شوو درېوارو شیانو څخه په یوه کښې هم) د حد څخه تېرېدونکی نه خوښوي.

## ارتباط او شان نزولونه

د ذکر شوو تفریعاتو څخه دا درېمه تفریع ده چې د ادم ﷺ او د ابلیس _علیه اللعنة_ د قیصو په تعقیب کښې نازله شوې ده. د شان نزول وجوه یې زښت ډېر دي، لاندې مثالونه یې ولولئ:

۱_ د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: «كَانَتِ الْمَرْأَةُ تَطُوفُ بِالْبَيْتِ وَهِيَ عُرْيَانَةٌ

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۲۶
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۴۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَتَقُولُ مَنْ يُعِيرُنِي تِطْوَافًا»[۱] یعنې: د جاهلیت په زمانه کښې به ښځې په بربنډه باندې د بیت الله شریف طواف کاوه نو دا خبره به یې د ځانه سره تکراروله چې ماته څوک د عاریت په توګه د غلیظ عورت د پټولو دپاره "تِطْوَاف" (کپړه یا رنجاړه) راکوي؟!

"تِطْوَاف" د هغې وړې رنجاړې لقب وه چې فقط په خپل غلیظ عورت باندې به یې اچولې وه.

۲ـ د سعید بن جبیر علیه الرحمة څخه روایت دی چې: "كَانَ النَّاسُ يَطُوفُوْنَ بِالْبَيْتِ عُرَاةً"[۲] خلکو به (نارینه وه او که زنانه) په بربنډ حالت کښې د بیت الله څخه طواف کاوه.

۳ـ د اسلام د راتګ څخه وړاندې به د قریشو د قبیلې څخه پرته ـ چې ځانونو ته به یې اهل الحرم ویلې ـ هیڅوا په خپلو جامو کښې طواف نه کاوه، د دوی نارینه وو به اطرافي نارینه وو ته جامې ورکولې او زنانه وو به یې زنانه وو ته هم دغه لطف کاوه.

نو هغه څوا به چې په مکه معظمه کښې نه اشنا درلود چې جامې ورکړي او نه به یې څه مال او دارایي درلوده چې د مکیانو څخه جامې په ایجاره او کرایه واخلي، د لاندې دوه وو حالونو څخه به خالي نه وه:

الف: یا به یې خپلې جامې وغورزولې او په لوڅه به یې طواف کاوه.

ب: یا به یې د خپلو جامو سره طواف وکړ مګر د طواف څخه وروسته به یې وغورزولې او د تقی (غورزولې شوې) نوم به یې ورباندې کېښود[۳].

۴ـ ځینې علماء وایي چې: "اِنَّ نَاسًا مِنَ الْأَعْرَابِ يَطُوفُوْنَ بِالْبَيْتِ عُرَاةً، الرِّجَالُ بِالنَّهَارِ وَالنِّسَاءُ بِاللَّيْلِ"[۴] یعنې د اعرابیانو ځینو خلکو به په لوڅه طواف کاوه، نارینه وو به یې د ورځې او زنانه وو به یې د شپې (دغه عمل اجراء کاوه).

۵ـ د بنو عامر د قبیلې خلکو به د حج کولو په ورځو کښې فقط دومره روزي خوړه چې ساګاني به یې ورباندې ساتلې وې، او غوړ خو به یې بالکل نه خواړه، ترڅو د خپل حج تعظیم په ځای کړي. نو مسلمانانو نبي کریم ﷺ ته عرض وکړ چې: «نَحْنُ اَحَقُّ اَنْ نَفْعَلَ ذٰلِكَ يَارَسُوْلَ اللهِ»[۵] یعنې: ای د الله رسوله! مونږ ته ډېره بهتره ده چې دغه ډول کار وکړو او د خپل حج تعظیم وکړو. نو الله ﷻ ذکر شوی آیت شریف نازل کړ.

څه لرې نه ده چې د وخت مشرکانو (جاهلانو) به مسلمانان ملامته کړي وي چې تاسو په بربنډه باندې طواف نه کوئ. لکه څنګه چې د دې عصر جاهلان د مسلمانانو ځوانانو په ډېرو پورې خاندې او د زنانه وو مسلمانانو په پرده او حجاب باندې ملنډې وهې.

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۴۳
(۲) الدرالمنثور ج۳ ص۴۳۹
(۳) تفسیر القرطبي ج۸ ص۱۸۹
(۴) زاد المسیر ج۳ ص۱۲۷
(۵) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۵۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۶_ د عُروه ﷺ څخه روایت دی چې قریشو به په خلکو باندې (په خپل خیال) ثوابونه ګټل، نارینه وو به یې نارینه وو ته (د طواف دپاره) جامې ورکولې او زنانه وو به یې زنانه وو ته (په همدې غرض) خپلې جامې ښنلې «فَمَنْ لَمْ تُعْطِهِ الْحُمْسُ طَافَ بِالْبَيْتِ عُرْيَانًا»[۱] یعنې نو چاته به چې حُمس (قریشو) جامې ورنه کړې نو هغه به د بیت الله شریف طواف په لوڅه (بربنډه) ترسره کاوه.

په همدې هکله ځینو مفسرینو کرامو ځینې نور روایات هم لیکلي دي[۲].

نو الله ﷻ د ذکر شوو بدعتونو (بربنډ طواف کول او د خوراک او څښاک تحریم) په رد کښې ذکر شوی آیت شریف نازل کړ.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای د ادم ﷺ اولادې! پام کوئ چې شیطان درباندې خپله شومه نقشه عملي نه کړي چې یا مو بربنډ کړي او یا د ده په اشاره باندې پاکیزه حلال شیان په ځان باندې حرام کړئ.

نو جامه ستاسو دپاره ښائست او حسن دی، باید خپل ځانونه په هر وخت کښې پاکیزه او ښائسته وساتئ او د الله ﷻ د نعمتونو څخه استفاده وکړئ، خصوصاً د عبادت په وخت کښې خپل عورتونه پټ کړئ، په بربنډه باندې مه طواف کوئ او مه لمونځ.

په دې باندې علاوه د الله ﷻ د حلال کړی شوو نعمتونو څخه خورئ او څښکئ، مګر د شرعي حدودو څخه تجاوز مه کوئ چې یا حرامه جامه واغوندئ او یا خپله شتمني په غیر شرعي امورو کښې ولګوئ. ځکه چې الله ﷻ د شرعي حدودو څخه تېرېدونکي خلک نه خوښوي.

## توضیحات

۱_ د جاهلیت په زمانه کښې به عربو په طواف کښې د خپلو ځانونو د بربنډولو دپاره لاندې دلائل تراشل چې:

الف: مونږ د کعبې شریفې د احترام په خاطر په هغو جامو کښې طواف نه کوو په کومو کښې چې مونږ د ګناه مرتکب شوي یاستو[۳].

ب: مونږ خپل ځانونه تفاولا (د نېک فالۍ په توګه) بربنډوو ترڅو د ګناه څخه داسې بربنډ شو لکه د مورګانو څخه د زېږېدنې په وخت کښې چې د جامو څخه بربنډ وو[۴].

ذکر شوی حکم نبي کریم ﷺ ټولو خلکو ته د "حجة الوداع" څخه یو کال وړاندې د علي ﷺ په خوله باندې اعلان کړ چې: «وَلَا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ»[۵] یعنې د سږ کال څخه وروسته به هیڅوک په بربنډه باندې طواف نه کوي.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۲۲۶
(۲) البحرالمحيط ج۵ ص۴۰
(۳) المحرر الوجيز ج۷ ص۴۱
(۴) تفسير الكشاف ج۲ ص۱۰۰
(۵) جامع الترمذي ج۱ ص۱۷۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## "زينة" څه معنی؟

۲_ د "زِينَة" کلمه د ښائست په معنی ده چې لاندې درې ډولونه درلودلی شي[۱]:

الف: نفسي (معنوي) ښائست، لکه علم، نیک عقائد او داسې نور.

ب: بدني ښائست، لکه بدني قوت، ډولي قامت او داسې نور.

ج: خارجي ښائست، لکه د حلال مال کثرت او داسې نور.

په دې مقام کښې همدغه دریم ډول زینت مراد دی ځکه چې مفسرینو کرامو _په اجماعي توګه_ د زینت کلمه په جامو سره تفسیره کړې ده[۲] چې د بدن څخه بهر دې او د یو پلوه وربandې عورت پټېږي او د بله پلوه د الله ﷻ د نعمتونو مظهر جوړېږي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ اللهَ يُحِبُّ أَنْ يُرَى أَثَرَ نِعْمَتِهِ عَلَى عَبْدِهِ»[۳] یعنې: یقیناً الله ﷻ دا خوښوي چې د ده ﷻ (د ورکړې شوي) نعمت نښې د ده ﷻ په بنده باندې ولیدلی شي، ځکه چې د ښو جامو اغوستل د نعمتونو او غنا ډېر ښه مظهر دی.

## په لوڅه لمونځ کول جائز نه دي

۳_ احناف علیهم الرحمة د لاندې وجوهو د کبله په لمانځه کښې د عورت پټول فرض ګڼي:

الف: په احکامو کښې د نصوصو عموم ته کتل کېږي، نه د شان نزول خصوص یا د مورد خصوص ته، نو ذکر شوی آیت شریف که څه هم د طواف په باره کښې نازل شوی دی مګر د مفهوم په عموم کښې یې لمونځ هم شامل دی، نو په لمانځه کښې هم د عورت پټول لازم شوه.

ب: د "مسجد" کلمه په دې مقام کښې هغه معنی ورکوي کومه یې چې په نژدې تېر شوي [۳۰] آیت کښې ورکوله، نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې تاسو یو عبادت هم په بربنډه باندې مه کوئ، په طواف کښې هم جامې واغوندئ او په لمانځه کښې هم خپل عورتونه پټ کړئ.

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: وړاندې په دوهمه توضیح کښې تېر شوه چې د "زِينَة" کلمه په جامو سره تفسیره شوې ده، نو په کار وه چې احنافو علیهم الرحمة په لمانځه کښې د جامو اغوستل فرض ګڼلي وی نه یوازې د عورت پټول؟

مونږ وایو چې: د آیت شریف څخه یوازې همدومره فهمېږي چې په لوڅه باندې عبادت مه کوئ پاتې شوه دا خبره چې څومره لباس اغوستل ضرور دي او څومره مستحب، نو دا په احادیثو کښې واضحه شوې ده چې د عورت پټول فرض او ضروري دي او په دې باندې علاوه نوره جامه او یا

---

(۱) مفردات الراغب ص۲۲۳

(۲) تفسیر المظهري ج۳ ص۳۴۱

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۰۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

سپېڅلي او نظيفه جامه اغوستل مستحب کار دی. لاندې احاديث د وضاحت دپاره ولولئ:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا يَقْبَلُ اللهُ صَلَاةَ حَائِضٍ إِلَّا بِخِمَارٍ»[۱] يعنې الله ﷻ د هغې زنانه لمونځ نه قبلوي د کومې چې لمونځ ورباندې فرض شوی وي (بالغه وي) مگر په څپنې سره (چې د سر ويښتان يې پکښې پټ وي). ځکه چې د زنانه وو د سر ويښتان په عورت کښې شامل دي.

دوهم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دی چې: «خَيْرُ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضُ فَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ وَالْبَسُوهَا»[۲] يعنې ستاسو غوره جامې سپينې جامې دي نو په همدغو کښې مړو ته کفن ورکړئ او همدغه واغوندئ (برابره خبره ده چې په لمانځه کښې وي او که د لمانځه څخه بهر).

دریم: یوه ورځې نبي کريم ﷺ د جمعې په ورځ په ممبر باندې په عتاب آميزه لهجه دا خبره وکړه چې: «مَا عَلَى أَحَدِكُمْ لَوْ اشْتَرَى ثَوْبَيْنِ لِيَوْمِ الْجُمُعَةِ سِوَى ثَوْبَيْ مِهْنَتِهِ»[۳] يعنې: څه دي په يو ستاسو باندې چې د خپل کارو بار د جامو څخه په غير نورې دوه جامې (کميس او لنگ يا پرتوگ) د جمعې د ورځې دپاره وپېرې؟! (يعنې که د چا وسه کېږي).

که څوک ددې څخه اضافه تحقيق غواړي نو ځينو اوږدو کتابونو[۴] ته دې مراجعه وکړي.

## اسراف وپیژنئ

۴ـ د اسراف د پېژندلو په باره کښې مونږ د [الأنعام: ۱۴۱] آيت لاندې د الله ﷻ په توفيق هاغومره څه ليکلي دي چې ذکره شوې کلمه ورباندې پيژاندله کېږي، بيا ليکلو ته يې اړتيا نه وينو مگر په دې مقام کښې وربانديې لاندې معلومات ور اضافه کوو:

الف: د ﴿وَلَا تُسْرِفُوٓا۟﴾ جمله د وړاندېنيو دريواړو مضامينو سره پيوستون لري، نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې په هر عبادت کښې لباس واغوندئ او اسراف مه کوئ چې يا عورت بربنډ کړئ او يا د تکبر جامې په تن کړئ. همدارنگه خوراک او څښاک وکړئ مگر اسراف پکښې مه کوئ چې د شرعي حدودو څخه په افراط يا تفريط سره مخالفت وکړئ.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «كُلُوا وَاشْرَبُوا وَتَصَدَّقُوا وَالْبَسُوا مَا لَمْ يُخَالِطْهُ إِسْرَافٌ أَوْ مَخِيلَةٌ»[۵] يعنې: خورئ او څښئ، خيرات کوئ او اغوندئ ترڅو چې ورسره اسراف او تکبر گډ نه شي.

ج: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: «كُلْ مَا شِئْتَ وَالْبَسْ مَا شِئْتَ مَا أَخْطَأَتْكَ اثْنَتَانِ سَرَفٌ أَوْ مَخِيلَةٌ»[۶] يعنې: څه چې دې خوښه وي هغه خوره او څه چې دې خوښه وي هغه اغونده تر هغه چې دوه

---

(۱) سنن ابي داوُد ج۱ ص۹۴
(۲) سنن ابن ماجه ص۱۰۶
(۳) سنن ابن ماجه ص۷۷؛ سنن ابن ابي داوُد ج۱ ص۱۵۴
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۳۱؛ الحجة البالغه ج۱ ص۱۹۴
(۵) سنن ابن ماجه ص۳۵۷
(۶) صحيح البخاري ج۲ ص۸۶۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خوبونه تا خطا کړي (درکښې موجود نه شي) چې يو د حد څخه تجاوز دی او بل تکبر.

## يوه لنډکۍ قيصه

ع- د ښه وضاحت دپاره په دې مقام کښې يوه لنډکۍ قيصه د سوال جواب په شکل ولولئ چې د يوه نصراني طبيب او د علي بن الحسين علیه‌الرحمة ترمنځ واقع شوې ده. هغه دا چې:

نصراني: ستاسو په کتاب (قرآن) کښې د علم طب په هکله څه شی نشته حال دا چې علم په دوه ډوله دی چې يو د اديانو علم دی، او بل د ابدانو علم دی چې د طب د علم څخه عبارت دی.

علي علیه‌الرحمة: زمونږ په کتاب کښې د طب علم ټول په نيم ايت کښې نازل شوی دی.

نصراني: هغه کوم نيم ايت دی؟!

علي علیه‌الرحمة: هغه دا دی چې: ﴿ وَكُلُواْ وَٱشْرَبُواْ وَلَا تُسْرِفُوٓاْ ﴾ يعني: او تاسو خورئ او څښکئ او اسراف مه کوئ.

نصراني: ستاسو پيغمبر په طب کښې څه نه دي ويلي؟

علي علیه‌الرحمة: زمونږ پيغمبر ﷺ د طب ټول علم په ډېرو اسانو کلماتو کښې راغونډ کړی دی.

نصراني: هغه کلمات کوم دي؟

علي علیه‌الرحمة: هغه دا دي چې: «الْمَعِدَةُ بَيْتُ الْأَدْوَاءِ وَالْحِمْيَةُ رَأْسُ كُلِّ دَوَاءٍ وَأَعْطِ كُلَّ جَسَدٍ مَا عَوَّدْتَهُ» يعني: معده د مرضونو کور دی، او پرهېز د هرې دوا سر دی، او هر جسد ته هغه شی ورکړه چې ورسره دې عادت کړی وي.

نصراني: "مَا تَرَكَ كِتَابُكُمْ وَلَا نَبِيُّكُمْ لِجَالِينُوسَ طِبًّا"[1] يعني ستاسو کتاب او ستاسو پيغمبر د جالينوس دپاره په طب کښې هېڅ شی نه دی پرېښی.

جالينوس يو مشهور حکيم تير شوی دی چې په طبابت کښې يې خورا شهرت درلود.

﴿ قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِىٓ أَخْرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزْقِ ۚ قُلْ هِىَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۗ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٣٢﴾ قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّىَ ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَٱلْإِثْمَ وَٱلْبَغْىَ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ وَأَن تُشْرِكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ سُلْطَٰنًا وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾ وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ ۖ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً ۖ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٤﴾ ﴾

[۳۲] (ورته) ووايه (اې پيغمبره!) چې د الله ﷻ هغه ښائست (جامه) چا حرام کړی دی چې د خپلو

(۱) تفسير القرطبي ج۷ ص۱۹۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


بندګانو دپاره یې راویستلي (پیدا کړي) دي او (همدارنګه د روزیو څخه) پاکیزه (او لذیذه) روزۍ (چا حرامې کړې دي)؟ (هیڅا نه دي حرامې کړې).

(ورته) ووایه چې دا (نعمتونه) په نړۍ ژوند کښې د هغو کسانو دپاره دي چې ایمان یې را وړی وي (دوی ترې محروم نه دي ګرځولي شوي) حال دا چې د قیامت په ورځ (په آخرت کښې) به (د دوی دپاره دا نعمتونه) سوچه (او د عذاب څخه پاک) وي.

مونږ خپل ایتونه (او احکام) په دغه ډول (وضاحت سره) د داسې قوم دپاره تفصیلوار بیانوو چې پوهېږي (همدوی ترې ګټه اخلي).

[۳۳] (ورته) ووایه چې یقیناً زما رب ﷻ (ټول) بې شرمه کارونه حرام کړي دي، هغه چې د دغو کارونو د جملې څخه پټ دي او هغه چې ښکاره دي، او هم (یې مطلقه) ګناه (حرامه کړې ده، وړه وي او که غټه) او (هم یې په خلکو باندې) ناحقه بغاوت (ظلم حرام کړی دی) او (هم یې دا حرام کړي دي) چې تاسو د الله ﷻ سره (په عبادت کښې) هغه شی شریک ودروئ کوم چې الله ﷻ (د) هغه (په ثبوت) باندې څه دلیل نه دی نازل کړی، او دا (هم) چې تاسو په الله ﷻ باندې هغه څه (د دروغو په توګه) ووایاست چې (د هغو په ثبوت باندې) تاسو نه پوهیږئ (او علم پرې نه لرئ).

[۳۴] او د هرې ډلې (د سپکولو یا پوپنا کولو) دپاره (د الله ﷻ په نزد) ټاکلی شوی وخت دی، کله چې د دوی ټاکلی شوی وخت ورسېږي نو نه به ډېر لږ وخت دوی وروسته شي او نه به وړاندې شي (هېڅ تغیر او بدلون به ونه مومي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېني آیت مضمون تعقیب شوی دی چې الله ﷻ هغه جامې او خوراک او څښاک نه دي حرام کړي کوم چې مشرکان یې په طواف او د حج په موسم کښې په خپلو ځانونو باندې حراموي او لا په تعمیل کښې یې دا جر تمه هم لري.

۱ـ یعنې ای پیغمبره! د خلکو څخه توبیخاً او انکاراً پوښتنه وکړه چې الله ﷻ خو په خپلو بندګانو باندې نه هغه لباس اغوستل حرام کړي دي کوم چې د همدوی دپاره یې د ونو، بوټو او د حیواناتو د شاګانو څخه پیدا کړي دي، لکه مالوچ، کتان او داسې نور، او نه یې د روزیو څخه هغه پاکیزه رزق حرام کړی دی چې د همدوی دپاره یې په ځمکه کښې موجود کړی دی. نو دا راته ووایاست چې هغه څوک دی چې د ذکرو شوو شیانو په تحریم باندې یې حکم کړی دی؟ ایا د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک د تحریم او تحلیل اختیار لري؟ که تاسو ذکر شوی حکم الله ﷻ ته منسوبوئ نو په کوم پیغمبر باندې او په کوم کتاب کښې الله ﷻ ذکر شوی حکم نازل کړی دی؟.

۲ـ ای پیغمبره! کله چې مشرکان د ذکرې شوې پوښتنې د جواب څخه عاجز او چپ شوه او با یې پرې ځانونه ګونګان واچول نو ته پخپله جواب ورکړه چې: ځومره ښائسته لباسونه او ځومره پاکیزه او لذیذ خوراک او څښاک چې تاسو ته په نظر درځي هغه ټول الله ﷻ په دنیا کښې د مؤمنانو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دپاره پیدا کړي دي چې ترڅو د یو پلوه دوی ترې استفاده وکړي او د الله ﷻ شکرګذاري وکړي او د بله پلوه یې د جنت نعمتونو ته رغبت او مینه زیاته شي.

د دنیاوي نعمتونو څخه کافران هم استفاده کولی شي، نو ترڅو چې مؤمنان په دنیا کښې د الله ﷻ نوم اخلي دنیا به ودانه وي او نعمتونه به پریمانه وي او په کافرانو باندې به څه بندیز ونه لګولی شي او نه پرې لګولی شوی دی مګر دا ښیله خبره ده چې دوی به د دلیله په ځینو نعمتونو باندې د تحریم تاپه وهي.

هو! اخروي نعمتونه دغسې نه دي چې کافران به پکښې اشتراک وکړی شي بلکې هلته به ټول نعمتونه به مؤمنانو پوري ځانګړي وي او بس. یا په بل عبارت: کافرانو ته په کار وه چې دنیاوي نعمتونه یې په ځانونو باندې نه وی حرام کړي او څه لږه تنګه استفاده یې ترې کړې وی او دا ځکه چې په اخروي نعمتونو کښې خو بې د دې څخه هم څه برخه نه لري.

۳_ ای پیغمبره! مونږ خپل احکام په دغه ډول باندې په استدلالي توګه بیانوو خو هغه خلک ترې استفاده کولی شي او د هغو پرې سرونه خلاصېږي کوم چې څه پوهه ولري او د ښه او بد څه فرق وکړی شي.

## عجیبه کړنلاره

۴_ ای پیغمبره! مشرکانو ډېره عجیبه کړنلاره غوره کړې ده چې په حلالو شیانو باندې د تحریم حکم کوي او د ثوابونو تمه ورته لري، مګر بالمقابل کوم کارونه چې الله ﷻ حرام کړي دي او د عذاب خطر پکښې دی هغه ډېر په زغرده کوي او د هیڅ خطر احساس نه کوي. د مثال په توګه:

الف: ورته ووایه چې زما رب ﷻ، چې ستاسو رب هم دی، ټول بې حیا او بې شرمه کارونه حرام کړي دي چې نه به څوک په ښکاره ډول ورنږدې کېږي او نه به یې د خلکو څخه په پټه مرتکب کېږي. خال دا چې تاسو په بې حیا کارونو باندې نه په ښکاره توګه صرفه کوئ او نه په پټه.

ب: بلکې زما رب ﷻ مطلق ګناه حرامه کړې ده، هره یوه ګناه چې وي، مګر تاسو د یوې ګناه څخه هم سر نه اړوئ.

ج: زما رب ﷻ په خلکو باندې تېری او بغاوت حرام کړی دی، او تاسو په ټولو خلکو باندې عمومًا او په مسلمانانو باندې خصوصًا ډول-ډول ظلمونه کوئ او پخپله هم اقرار کوئ چې دا ظلم او ناحقه کار دی مګر لاس ترې نه اخلئ.

د: بل شی چې زما رب ﷻ حرام کړی دی هغه شرک دی چې په ټولو جنایتونو کښې اول نمره جنایت دی، حال دا چې تاسو یې بې دلیله او بې برهانه مرتکب شوي یاست.

هـ: زما رب ﷻ په تاسو باندې حرامه کړې ده چې په الله ﷻ باندې هغه دروغ وتړئ کوم چې تاسو یې د خپلو خولو څخه پرته د علمه او دلیله راوباسئ.

تاسو د یو پلوه جنایات کوئ او د بله پلوه هم دغه جنایات الله ﷻ ته منسوبوئ. یا په بل عبارت:

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ګناه څخه مو اعتذار ډېر بد دی، چې په دغو باندې راته الله ﷻ امر کړی دی. نو څرنګه چې تاسو د دغې کړنلارې څخه لاس نه اخلئ نو د عذاب انتظار وباسئ ترڅو چې وخت يې در ورسېږي، کله چې د عذاب ټاکلی وخت ورسېږي نو بیا نه وړاندې او بیرته کېږي او نه پکښې څوک د تصرف او مخنیوي توان لري.

## توضیحات

۱_ علماوو کرامو د دې جملې: ﴿ هِىَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ دپاره لاندې تفسیرونه کړي دي:

الف: عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې د الله ﷻ نعمتونه د مؤمنانو دپاره خلق کړی شوي دي مګر په دنیا کښې ترې بالتبع کافران هم استفاده کوي ترڅو چې دنیا ودانه وي، خو په آخرت کښې د دوی دپاره خالص او سوچه دي چې کافران ترې بالتبع هم استفاده نه شي کولی[۱].

ب: د الله ﷻ نعمتونه په دنیا کښې د مؤمنانو دپاره پیدا کړی شوي دي مګر د غمونو او تکلیفونو څخه سوچه نه دي، اما په آخرت کښې د دوی دپاره سوچه او خالص دي چې نه به ورسره غم ملګری وي او نه تکلیف او مشقت[۲].

ج: سعید بن جبیر علیه الرحمة وايي چې د معنی حاصل يې داسې کېږي چې د الله ﷻ نعمتونه په دنیا کښې د مؤمنانو دپاره دي په داسې حال کښې چې په آخرت کښې ورباندې دوی د عذاب سره هم نه مخامخ کېږي[۳] چې تاسو څکه معذب شوئ چې په دنیا کښې مو د نعمتونو څخه استفاده کړې ده.

مونږ ته د ایتونو د سیاق او سباق (وړاندې او بېرته) په اعتبار سره همدغه دریم تفسیر غوره ښکاري. مشرکانو خو په خپلو ځانونو باندې د الله ﷻ نعمتونه څکه حرام ګرځول ترڅو خپل ځانونه زیات تقوی دار معرفي کړي، نو الله ﷻ د دوی نظر رد کړ او ورته يې وفرمایل چې د نعمتونو تحریم که د تقوی نښه وی نو د هرچا څخه وړاندې به په مؤمنانو باندې حرام کړی شوي وی او په آخرت کښې خو به دوی د نعمتونو څخه بالکل څکه نه وی کړې، حال دا چې مؤمنانو ته پرې په دنیا کښې جنایت نشته او په آخرت کښې ورته د تعذیب موجب نه جوړېږي، بلکې په شکریه باندې الله ﷻ خپلو نعمتونو ته لا زیادت ورکوي او پریمانه يې جوړوي.

## أَجَل څه معنی؟

۲_ په ﴿ أَجَلُهُمْ ﴾ کښې د "أَجَل" کلمه د ټاکلي شوي وخت څخه عبارت ده[۴].

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: کله د کافرانو د قوت د ماتېدلو او یا پوپنا کولو وخت

---

(۱) الدر المنثور ج۳ ص۴۴۷
(۲) روح المعاني ج۸ ص۱۱۲
(۳) المحرر الوجیز ج۷ ص۴۷
(۴) مفردات الراغب ص۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راورسېږي نو نه به یوه گړۍ وروسته شي او نه به وړاندې.
رښتیا چې کله د قریشو د قوت د ماتېدلو وخت ورسېد (د مکې معظمې د فتحه کېدلو وخت راغی) نو هیڅ تغیر یې ونه خوړ او د مکیانو قوت مات شو.

## سوال جواب

که څوک وایي چې: د ټاکلي شوي وخت د رسېدلو په صورت کښې خو احتمال وه چې وخت وختلېږي خو الله ﷻ دا احتمال منفي کړ چې: ﴿ لَا يَسْتَأْخِرُونَ ﴾ دوی به وروسته نه کړی شي؛ اما د وړاندې کېدلو خو هیڅ احتمال نشته نو پوښتنه دا ده چې د ﴿ وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴾ جملې په نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې: علماوو کرامو خو ذکر شوي سوال ته ډېر جوابونه کړي دي[۱] مگر په زړه پوری جواب یې دا دی چې ذکره شوې جمله د عدم تغیر څخه د کنایې په توگه نازله شوې ده او په کنایاتو کښې خو د مبالغې دپاره محال (نه کېدونکي) مضامین هم ذکر کېږي.
د ښه وضاحت په غرض لاندې مثال ولولئ:
په راتلونکې [۴۰] آیت کښې الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلْجَمَلُ فِى سَمِّ ٱلْخِيَاطِ ﴾ یعنې کافرانو ته به د اسمان دروازې ترهغه ببرته نه شي او جنت ته به داخل نه شي ترڅو چې اوښ (من حیث اوښ) د ستنې په سوم (من حیث سوم) کښې ننوزي. حال دا چې دا محال (نه کېدونکی) کار دی، ته به وایې چې داسې ویل شوي دي چې کافران به هیڅکله جنت ته داخل نه شي.

﴿ يَٰبَنِىٓ ءَادَمَ إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِى ۙ فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٥﴾ وَٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسْتَكْبَرُوا۟ عَنْهَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٣٦﴾ ﴾

[۳۵] ای د ادم علیه السلام اولادې! که چېرې (زما د پلوه) تاسو ته همدا ستاسو د جملې څخه داسې پیغمبران علیهم السلام درشي چې زما ایتونه (او احکام) په تاسو باندې لولي نو چا چې (د شرک څخه خپل) ځان وساته او (خپل اعمال یې) اصلاح کړه نو نه به په دوی باندې (د الله ﷻ د پلوه) څه ډار وي او نه به دوی غمژن شي.

[۳۶] او هغه کسان چې زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت وکړي او (د عقیدې او عمل څخه یې) تکبر (لویې) وکړي همدغه کسان د اور (دوزخ) اندېوالان دي، دوی به پکښې همېشه وي (اندېوالي به یې ورسره پرې نه شي).

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۷ ص۷۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

د ذکرو شوو تفریعاتو څخه دا څلورمه او وروستنۍ تفریع ده چې د ادم عليه السلام اولاده خپل عاقبت ته متوجه کړې شوې ده چې د شیطان په دروغینو خبرو باندې ونه غولېږي. نو حاصل یې داسې راوځي:

۱ـ ای انسانانو! مونږ تاسو څمکې ته د ادم عليه السلام په سلسله رانبکته کړي یاست چې د شیطان سره به دلته د یوه وخته پورې لاس او ګریوان یاست مګر تاسو مو بې وسائلو او بې وسلې نه یاست پرېښې، عقلونه مو درکړي، حواس مو دربښلي او بالآخره ټول مخلوقات مو د خپل وحدانیت دپاره نښې او علامات درولي دي، نو تاسو کولی شئ چې خپل خالق ﷻ وپېژنئ او شریک ورسره جوړ نه کړئ.

یا په بل عبارت: په تاسو کښې مو د شیطان سره د مبارزې او مجادلې توان اېښی دی، تاسو په مونږ باندې د دې حق نه لرئ چې پیغمبران او کتابونه درولېږو.

۲ـ هو! که مونږ په خپل فضل او کرم سره دغه کار وکړ او پیغمبران علیهم السلام مو درواستول چې زمونږ ایتونه یې درباندې ولوستل او زمونږ وحدانیت یې درته په تکرار سره روښانه کړ، نو بیا به تاسو د دغو دوه وو حالونو څخه خالي نه یاست:

الف: که چا خپل ځان عقیدةً او عملًا اصلاح کړ نو په ده باندې نه ډار شته او نه به غمژن شي.

ب: بالمقابل که څوک د عقل څخه کار وانخلي او حواس په کار وانچوي او پیغمبرانو علیهم السلام ته هم د دروغژنانو نسبت وکړي او بالآخره د هغوی تحقیر وکړي، نو دوی به د همیشه دپاره په دوزخ کښې پراته وي. دا دی نه بدلیدونکی قانون په یاد یې ولرئ.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ ﴾ کښې د "إِمَّا" توری په اصل کښې "إِنْ مَا" دی چې د "إِنْ" توری د شرط دپاره دی او د "مَا" په توري باندې یې تاکید موندلی دی(۱).

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د عربیت د قانون په اعتبار سره د "إِذَا" توری په یقیني شرطونو کښې استعمالېږي او د " إِنْ" توری په احتمالي شرطونو کښې(۲) لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَإِن كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا ٱلنِّصْفُ ﴾ [النساء:۱۱] یعنې که مړي یوازې یوه لور درلوده نو دغې لره په مېراث کښې د ترکې څخه نیمایي برخه ټاکله شوې ده.

نو پوښتنه دا ده چې د پیغمبرانو علیهم السلام را استول خو یقیني وه نو په دې کښې څه حکمت دی چې د ﴿ إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ ﴾ په عوض "إِذَا مَا يَأْتِيَنَّكُمْ" نازل نه کړی شو؟

مونږ وایو: حکمت پکښې دا دی ـ والله اعلم ـ چې د پیغمبرانو علیهم السلام را استول په الله ﷻ باندې

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۲ ص۱۰۲

(۲) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۲ ص۲۲۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ولا انا (۸) نه دي بلکې احتمالي دي، هو! دا بیله خبره ده چې په خپل ځان باندې یې د لطف او فضل د واجب ګرځولي دي، نو که بالفرض الله ﷻ بالکل پیغمبران علیهم السلام نه وی رالیږلي هم په توحید باندې به خلک مکلف وی.

همدا د أهل السنة والجماعة عقیده ده، اما معتزله وایي چې د پیغمبرانو علیهم السلام رالیږل په الله ﷻ باندې واجب دي(۱)، العیاذ بالله ﷻ.

## یادونه

۲_ د دغو دوارو ایتونو د مضامینو غوندې مضامین په [البقرة:۳۸_۳۹] ایتونو کښې تېر شوي دي هیله ده چې زیات تفصیل یې هملته وکتل شي.

هو فقط همدومره توپیر سره لري چې هلته ادم ﷺ او بي بي حواء رضي الله عنها قصداً مخاطب کړی شوي دي او د دوی اولاده په غوږ وهلی شوې ده، اما دلته د هغوی اولادونو ته په قصدي توګه خطاب متوجه کړی شوی دی، ته به وایې چې هر امت ته په خپلو خپلو وختونو کښې ذکره شوې توصیه جدا جدا نازله کړی شوې ده.

﴿فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيبُهُم مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ قَالُوٓا۟ أَيْنَ مَا كُنتُمْ تَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ قَالُوا۟ ضَلُّوا۟ عَنَّا وَشَهِدُوا۟ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَنَّهُمْ كَانُوا۟ كَٰفِرِينَ ﴿٣٧﴾﴾

[۳۷] نو د هغه چا څخه لوی ظالم څوک دی چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي او یا د ده ﷻ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي؟!

دغه ډله (ظالمان) چې دي دوی ته به د کتاب څخه خپله برخه ورسېږي (څه چې ورته لیکل شوي دي هغه به په دنیا کښې مونده کړي) آن تردې چې کله دوی ته زمونږ استولي پرښتې ور ورسېږي چې ارواګاني یې پوره قبض کړي نو وبه وایي (دوی ته) چې هغه (باطل معبودان مو) چرته دي چې تاسو به د الله ﷻ څخه په غیر بلل (عبادت به مو کاوه)؟. دوی به (په جواب کښې) ووایې چې هغوی خو زمونږ څخه ورک شوه (زمونږ په درد باندې دوا نه شوه)، او په خپلو ځانونو باندې به شاهدي ورکړي (اقرار به وکړي) چې یقیناً دوی کافران وه (او په غلطه لار باندې روان وه).

## د مطلب خلاصه

په دې ایت کښې د وړاندېني متصل آیت وجه بیانه شوې ده چې د معنی حاصل یې داسې کېږي: کافرانو ته څکه دوزخ د دوام په توګه ټاکلی شوی دی چې دوی د ډېر لوی ظالمان دي. ایا د هغه

Downloded from: bawarketabtoon.com

(۱) روح المعاني ج۸ ص۱۱۴

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چا څخه بل لوی ظالم شته چې یا په الله ﷻ باندې دروغ تړي او ووایي چې زه پیغمبر یم حال دا چې هغه پیغمبر نه وي، او یا ووایې چې الله ﷻ مونږ ته په بدو او بې شرمه کارونو باندې امر کړی دی حال دا چې الله ﷻ هیڅکله دغسې امر نه کوي او بالآخره یا د الله ﷻ ایتونو ته د دروغو نسبت وکړي چې دا د الله ﷻ ایتونه نه دي؟!.

دغو لویو ظالمانو ته چې الله ﷻ څه ټاکلي دي، خوشالي وي او که خپګان، راحت وي او که مشقت او یا داسي نور، هغه به ورباندې تېرېږي.

۲ـ نو ای مؤمنانو! کله چې ذکر شوو ظالمانو ته خوشالي ورسیده تاسو دا ګومان مه کوئ چې هغوی د الله ﷻ د غضب څخه خلاص شوه او عفوه ورته وکړی شوه، همدارنګه کله چې هغوی ته څه سختي او مشقتونه ورسېږي هم دا خیال مه کوئ چې دا به د هغوی د شرکیاتو جزا وي او د اخروي عذاب څخه به نجات ومومي.

خبره دا ده چې هغوی ته په دنیا کښې خپله ټاکلې برخه رسېږي، څومره عمرونه چې ورته ورکړی شوي وي هغه به تېروي، هغوی ته ترهغه فرصت ورکول کېږي ترڅو چې د اروا ګانو د قبض دپاره زمونږ وراستولي شوې پرښتې وررسېږي، نو په دغه وخت کښې به د هغوی د کفر او شرکیاتو جزاګاني پیل او په لوی عذاب باندې به اخته شي، په دغه وخت کښې به د توبیخ او تخجیل دپاره مخاطب کړی شي چې ستاسو باطل معبودان څه شوه چې د دغه عذاب مخه درڅخه واړوي او نجات درکړي؟.

نو په دغه وخت کښې به د کافرانو عقلونه سرته ورشي او پوه به شي چې په غلطه لاره باندې روان وو او په حسرت سره به جواب ورکړي چې هغوی خو زمونږ څخه ورک شوه، په درک یې نه پوهېږو چې څه شوه او چرته لاړه!، بیا به نو په خپلو ځانونو باندې شاهدي ورکړي چې بې شکه دوی په دنیا کښې په باطله لاره باندې روان وه، او په خپلو کړو وړو باندې به پښېمانه شي مګر د دغه وخت پښېماني به ورته څه ګټه ونه رسوي.

## توضیحات

۱ـ علماوو کرامو د ذکر شوي آیت شریف د ﴿ نَصِيبُهُم مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ ﴾ په دوه وو کلمو کښې زښت ډېر تفسیرونه کړي دي(۱) چې د نصیب څخه په دې مقام کښې کومه برخه مطلب ده او د کتاب کلمه د کوم کتاب څخه عبارت ده.

که څه هم ټول تفسیرونه سره یو تربله څه منافات نه لري مګر مونږ ته چې د مقام په لحاظ کوم تفسیر غوره ښکاري هغه دا دی چې د نصیب څخه هغه شیان مراد دي کوم چې د هرچا دپاره د مور په ګېډه کښې لیکلی کېږي او د کتاب څخه هغه کاغذات مطلب دي کوم چې ذکر شوي شیان پکښې لیکلي شوي وي.

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۳۱؛ البحر المحیط ج۵ ص۴۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدغه تفسیر ته نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې اشاره کړې ده چې مضمون يې لاندې لوستلی شئ:
کله چې نطفه د مور په رحم کښې ځای ونیسي نو الله ﷻ ورباندې یوه ملکه مقرره کړي چې ترڅو (برسېره د الله ﷻ په ازلي علم او برسېره د لوح محفوظ په ثبت) لاندې شیان ولیکي:
الف: د دغې نطفې څخه جوړېدونکی انسان شقي دی او که سعید (بد بخت دی او که نېک بخت).
ب: نوموړی نارینه دی او که ښځینه.
ج: نوموړی به په خپل دنیاوي ژوند کښې کوم-کوم کارونه کوي.
د: نوموړی به په کومو کومو ځایونو کښې ګرځي (او په کوم کوم ځای به قدمونه ږدي).
هـ: نوموړی به کوم-کوم شیان خوري او څښکي (د ده روزي به څه شی وي) او داسې نور.
«ثُمَّ تُطْوَى الصُّحُفُ فَلَا يُزَادُ فِيهَا وَلَا يُنْقَصُ» [1] یعنې بیا لیکلي شوي کاغذات تاو کړی شي چې نه پکښې څه زیادت کېږي او نه کمبود (هیڅ تغیر نه خوري).
مونږ څکه ذکر شوی تفسیر خوښ کړ چې د آیت شریف دا ټکړه ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا ﴾ ورباندې دلالت کوي. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې د کافرانو کفري جزاګاني ترهغه نه پیل کېږي ترڅو چې خپلې هغه دنیاوي برخې پوره کړي کومې چې د مورګانو په ګېډو کښې ورته ټاکلې شوې دي، او چې هر وخت يې خپلې برخې تمامې کړې او په ځمکه باندې يې د پښو د اېښودلو ځای پاتې نه شي او بالآخره د ارواګانو د قبض دپاره پرښتې ور ورسېږي نو همدغه د دوی د کفري جزاګانو د پیل کېدلو وخت دی.

## یادونه

۲_ د ذکر شوي آیت شریف نور تفصیل د [الأنعام: ۲۲] آیت لاندې د الله ﷻ په توفیق تېر شوی دی چې بیا لیکلو ته يې اړتیا نه ګورو، په دې مقام کښې فقط لاندې سوال جواب اضافه کوو:
که څوک وايي چې: د هغه آیت څخه څرګندېږي چې کافرانو ته به ذکره شوې پوښتنه د قیامت په ورځ متوجه کړی شي چې ستاسو باطل معبودان چرته دي؟ او د دې مقام څخه سړي ته ذهن ته ورځي چې د دغه سوال سره به د ځنکدن په وخت کښې مخامخ شي؟.
مونږ وایو چې: څه لرې نه ده چې ذکر شوې پوښتنه د کافرانو څخه د دوی د تخجیل دپاره په مکرره توګه صورت ونیسي، په ځنکدن کښې، د محشر په میدان کښې او بالآخره د دوزخ په داخل کښې، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ ثُمَّ فِي ٱلنَّارِ يُسۡجَرُونَ ۝٧٢ ثُمَّ قِيلَ لَهُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡ تُشۡرِكُونَ ﴾ [غافر: ۷۲_۷۳] یعنې: بیا به دوی (کافران) په اور کښې وسوزولی شي، بیا به ورته وویلی شي چې هغه (باطل معبودان مو) چرته دي چې تاسو به (په دنیا کښې د الله ﷻ سره) شریکان ګرځول؟.

---

[1] صحیح مسلم ج۲ ص۳۳۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ قَالَ ٱدْخُلُوا۟ فِىٓ أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُم مِّنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ فِى ٱلنَّارِ ۖ كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَّعَنَتْ أُخْتَهَا ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا ٱدَّارَكُوا۟ فِيهَا جَمِيعًا قَالَتْ أُخْرَىٰهُمْ لِأُولَىٰهُمْ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ أَضَلُّونَا فَـَٔاتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ ٱلنَّارِ ۖ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَلَٰكِن لَّا تَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾ وَقَالَتْ أُولَىٰهُمْ لِأُخْرَىٰهُمْ فَمَا كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍ فَذُوقُوا۟ ٱلْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿٣٩﴾ ﴾

[۳۸] الله ﷻ به (د قیامت په ورځ ذکر شوو غټو-غټو ظالمانو ته) ووایي چې په اور کښې د هغو امتونو سره (جمعًا) ورداخل شئ کوم چې ستاسو څخه وړاندې، د پیریانو او انسانانو د جملې څخه تېر شوي وه (او تاسو ورپسې اقتداء کړې وه).

(نو) هرکله چې (د ذکر شوي فرمان په اثر) یوه ډله (دوزخ ته) داخله شي نو په خپلې سیالې (هم مسلکې) ډلې باندې به لعنت وایي آن تردې چې دوی ټول په دوزخ کښې یو تربله سره ومومي (سره غونډ شي) نو د دوی وروستنۍ ډله به د دوی اولنۍ ډلې ته (اشاره وکړي) چې ای زمونږ ربه! دغې ډلې مونږ (په دنیا کښې) بې لارې کړي یاستو. نو دوی ته د دوزخ څخه (زمونږ په نسبت) غبرګ عذاب ورکړه.

الله ﷻ به ووایې چې هرې ګمراه کوونکې ډلې ته غبرګ (عذاب) دی (چې تاسو هم په نسبت سره نورو خلکو ته ګمراه کوونکي یاست) مګر تاسو نه پوهېږئ (خانونو ته مو فکر نه دی).

[۳۹] او د دوی اولنۍ ډله به د دوی وروستنۍ ډلې ته ووایي چې (په دنیا کښې خو) تاسو لره په مونږ باندې څه بهتري نه وه (چې مونږ ته د غبرګ عذاب غوښتنه کوئ، مونږ او تاسو خو په جنایتونو کښې یو برابر وو) نو تاسو (هم زمونږ غوندې) د هغو (جنایتونو) په سبب عذاب وڅکئ کوم چې مو (په دنیا کښې) کسب کړي دي.

## ارتباط

وړاندېني ایتونه په دې خبره تمام شوي وه چې مشرکانو ته به خپل بوتان په کار ورنه شي او په عبادت باندې به یې پښېمانه شي. په دې ایتونو کښې واضحه شوې ده چې دوی به یو بل ته هم ګټه ونه شي رسولی او مشران او کشران به یو په بل لعنت وایي، چې د معنی حاصل یې داسې راوځي:

## د مطلب خلاصه

کله چې قیامت قائم شي او حساب کتاب فیصله شي نو الله ﷻ به ټولو کافرانو ته وفرمایې چې تاسو ټول وړاندېني او وروستني (پیریان یاست او که انسانان) دوزخ ته داخل شئ، نو دوی به ټول وار په وار دوزخ ته ورداخلېږي، مشران به وړاندې وي او کشران (پیروان) به ورپسې وي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په هره ډله کښې به د ذکر شوي ترتيب مراعات وکړی شي مګر د داخلېدلو په وخت کښې به هره داخلېدونکې ډله په بلې سيالې ډلې باندې لعنت وايي او يو تربله به بېزاره کېږي لنډه دا چې يوه مشرکه ډله به په بله مشرکه ډله باندې لعنت وايي، مثلاً يوه يهودي ډله به په بلې يهودي ډلې باندې په غُصه وي او بنېراوې به ورته کوي، او داسې نور.

۲_ کله چې ټول کافران په دوزخ کښې داخل شي او يوه ډله او يو فرد هم دباندې پاتې نه شي نو کشران (پيروان) به مشرانو ته اشاره وکړي او الله ﷻ ته به سوال وکړي چې ای زمونږ ربه! مونږ خو دغو بې لارې کړي او کفر ته يې هڅولي وو، که دغو زمونږ په ګمراه کولو کښې زيار نه وی ويستلی نو مونږ به په دنيا کښې کفر نه وی اختيار کړی او د دغې بدې ورځې سره به نه وی مخامخ شوي چې نن ورسره مخامخ ياستو، ای زمونږ ربه! همدغو ته زمونږ په نسبت دوچند عذاب ورکړه چې پخپله ګمراهان وه او مونږ يې ګمراه کړي ياستو.

نو الله ﷻ به کشرانو (پيروانو) ته جواب ورکړي چې مونږ هر ګمراه کوونکي ته دوه چنده يا غبرګ عذاب ټاکلی دی. يا په بل عبارت: دغه د عذاب غبرګېدل خو تاسو په حقيقت کښې د خپلو ځانونو دپاره هم غواړئ او دا ځکه چې که هغوی تاسو ګمراه کړي ياست تاسو هم نور خلک ګمراهۍ ته هڅولي دي، که هغوی ستاسو دپاره د ضلالت ډېره اېښې ده تاسو د نورو خلکو دپاره د ګمراهۍ د ډېرې اېښودونکي ياست. نو مونږ ستاسو په شمول هر ګمراه او ګمراه کوونکي ته مناسبه جزا ټاکلې ده مګر تاسو ورباندې نه پوهېږئ، ستاسو خيال دی چې تاسو به په جزا کښې تفاوت نه لرئ خو خبره داسې نه ده.

بيا به مشران يا پخواني کافران، کشران يا وروستي کافران مخاطب کړي چې:

ای کشرانو! تاسو په څه سبب زمونږ دپاره دعذاب غبرګون غواړئ؟ ايا مونږ ستاسو څخه زيات جنايت کاران وو؟ تاسو په مونږ باندې په څه وجه بهتري درلوده؟

ايا داسې وه چې مونږ عقل او حواس درلوده، بايد چې خپل رب ﷻ مو پېژندلی وی خو ومو نه پېژاند نو جنايت مو غټ شو، او تاسو نه عقل درلود او نه حواس؟

ايا يوازې مونږ ته پېغمبران عليهم‌السلام راغلي وه او کتابونه يې راوړي وه چې مونږ ترې مخالفت وکړ او تاسو ته نه پېغمبر درغلی وه او نه يې کتاب دروړی وه؟

ايا تاسو په دې بهتري لرئ چې مونږ په خوښه ګمراه شوي وو او تاسو مو په زور بې لارې کړي وئ؟ که بالفرض مونږ په تاسو باندې څه تسلط درلودی نو ستاسو زړونه خو زمونږ د تسلط لاندې نه راتله، بلکې په ذکر شوو ټولو صفاتو کښې سره يو برابر وو، نو په مونږ باندې مه د خپلو کفرياتو پړه اچوئ او مه زمونږ د عذاب د غبرګېدلو غوښتنه کوئ بلکې د خپلو کسبونو په اعتبار سره د الله ﷻ عذاب وڅکئ، هرچا ته د هغه د شرکياتو په معيار سره عذاب ټاکل شوی دی او هرڅوک په خپلو خوَلو کښې ډوب دی، که مونږ ته الله ﷻ دوه چنده عذاب راکړي او که رايې نه کړي تاسو ته څه ګټه نه رسېږي.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# توضیحات

۱_ نظر دې ته چې د کافرانو د یوه ټولګي څخه په ﴿كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ﴾ کښې د ﴿أُمَّةٌ﴾ په کلمې سره تعبیر کړي شوی دی او د ﴿أُمَّةٌ﴾ کلمه مفرده مؤنثه ده، نو د لفظي تانیث په اعتبار سره په ﴿لَعَنَتْ أُخْتَهَا﴾ کښې ورته مونث ضمیرونه راجع کړی شوه او د بلې سیالې څخه په "اخت" سره تعبیر وکړی شو. که بالفرض ذکر شوی اعتبار دلته نه وی مراعت شوی نو "لعن اخوتهم" به نازل شوی وی.

نو څرنګه چې لفظي اعتبارات په مراده معنی باندې څه تاثیر نه اچوي نو د معنی حاصل به داسې کېږي چې: هرکله چې د کافرانو یوه ډله اور ته ورداخله شي نو د دغي ډلې خلک به په خپلو مسلکي ورونو باندې لعنت وايي.

لنډه دا چې دلته نسبي وروروولي مطلب نه ده بلکې مسلکي او عقیدوي وروروولي مراده ده[۱] لکه یهودیت، نصرانیت او داسې نور. او د نسبي وروروولۍ څخه په غیر د وروروولۍ اطلاق په نورو اړیکو باندې هم د مجاز په توګه کېږي لکه قومیت، دوستي، یو کسبي، او بالآخره دین، مذهب او داسې نور[۲].

## اولنۍ ډله او وروستنۍ ډله

۲_ په دې مقام کښې الله ﷻ کافران دوزخیان په دوه ډلو باندې وېشلي دي: اولنۍ ډله او وروستنۍ ډله. چې دواړه ډلې په لاندې دوه وو ډولونو باندې تفسیر کېدلی شي:

الف: لومړنۍ ډله د آمرانو حاکمانو څخه عبارت ده او وروستنۍ ډله د تابعانو او پیروانو لقب دی، لکه چې الله ﷻ د همدوی د خولو څخه حکایت کوي چې: ﴿إِذْ تَأْمُرُونَنَآ أَن نَّكْفُرَ بِٱللَّهِ وَنَجْعَلَ لَهُۥٓ أَندَادًا﴾ [سبأ:۳۳] یعنې پیروان دوزخیان به په آمرانو دوزخیانو باندې پړه ورواچوي چې زمونږ په کفر باندې تاسو ملامته یاست ځکه چې تاسو به راته امر کاوه چې په الله ﷻ باندې کافران شو او همده ﷻ ته سیالان (شریکان) ودروو.

ب: اولنۍ ډله د اساس اېښودونکو څخه عبارت ده چې د راتلونکي نسل دپاره یې د کفر لاره هواره کړې ده، او وروستنۍ ډله د همدوی د وفادارو شاګردانو لقب دی چې په ړندو سترګو یې د هغوی تقلید کړی دی.

الله ﷻ د همدوی د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿رَبَّنَا مَن قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِى ٱلنَّارِ﴾ [ص:۶۱] یعنې ای زمونږ ربه! هر چا چې مونږ ته دغه (د کفر لاره) وړاندې کړې ده (او د دې د بنه وضاحت دپاره لاندې احادیث ولولئ:) نو هغه ته د اور څخه غبرګ عذاب ورکړې.

(۱) الدر المنثور ج۳ ص۴۵۱

(۲) مفردات الراغب ص۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: نبي كريم ﷺ د دعوت په ليک کښې هرقل پاچا ته دا خبره هم ليکلې وه چې: «أَسْلِمْ تَسْلَمْ يُؤْتِكَ اللّٰهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ فَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَإِنَّ عَلَيْكَ إِثْمَ الْيَرِيسِيِّينَ»[١] يعنې مسلمان شه چې سالم پاتې شې (او) الله ﷻ درته دوه اجرونه درکړي (يو د خپل خان او بل د رعيت)، نو که د مسلمانېدلو څخه مخ واړوې نو يقيناً په تا باندې د کاريګرو (پيروانو) ګناه هم ده.

دوهم: نبي کريم ﷺ د يوه اورېده حديث په ضمن کښې فرمايلي دي چې: «إِنَّ الدَّالَّ عَلَى الْخَيْرِ كَفَاعِلِهِ»[٢] يعنې يقيناً په خير باندې دلالت کوونکی د خير د کوونکي غوندې دی (همدارنګه د بدو امرکوونکی هم بدکار ګڼل کېږي څکه چې امر بالمنکر کوي).

درېم: نبي کريم ﷺ په اورېده حديث کښې فرمايې چې: «وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ يَتْبَعُهُ لَا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا»[٣] يعنې هرڅوک چې ګمراهی ته بلل وکړي نو په ده باندې د ګناه څخه د هغو خلکو د ګناهونو په مثل ده چې د ده پيروي يې کړې ده، دا کار د هغوی د ګناهونو څخه هيڅ شی هم نه کموي.

څلورم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَا مِنْ نَفْسٍ تُقْتَلُ ظُلْمًا إِلَّا كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا ذٰلِكَ بِأَنَّهُ أَوَّلُ مَنْ أَسَنَّ الْقَتْلَ»[٤] يعنې هيڅ نفس نه دی چې په ظلم سره ووژلی شي مګر د هغه د خون څخه د ادم ؑ په زوی (قابيل) باندې څه برخه شته، دا څکه چې نوموړی هغه اولنی انسان دی چې د وژلو ډېره يې ايښې ده.

## ضعف څه معنی؟

٣ـ "ضِعْف" ـ لکه "عِلْم" ـ په عربي ژبه کښې د يو شي يوه مثل ته وايي. او يا په عربي کلام کښې يو مثل يا زيات مثلونه د ضعف په نامه يادېږي[٥].

مونږ ته په دې مقام کښې دوهمه معنی غوره ښکاري، دا څکه چې ټول ګمراه کوونکي خو په جنايت (ګمراه کولو) کښې يو برابر نه دي، چا لږ خلک بې لارې کړي دي او چا ډېر، د چا په بده کړنلاره باندې لږ خلک تللي دي او د چا ډېر.

## "لِكُلٍّ ضِعْفٌ" څه معنی؟

٤ـ کله چې وروستنۍ ډله د لومړنۍ ډلې دپاره د عذاب د غبرګېدلو غوښتنه وکړي نو الله ﷻ به د دوی د غوښتنې په جواب کښې دا فرمان ﴿لِكُلٍّ ضِعْفٌ﴾ صادر کړي، چې لاندې تفسيرونه درلودلی شي:

---

(١) صحيح البخاري ج١ ص٥
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص٩٥
(٣) جامع الترمذي ج٢ ص٩٦
(٤) جامع الترمذي ج٢ ص٩٦
(٥) روح المعاني ج٨ ص١١٦؛ التفسير الكبير ج١٣ ص٧٤

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ستاسو د غوښتنې څخه لا وړاندې د اولنۍ ډلې هر یوه دوزخې کس ته غبرګ عذاب ټاکلی شوی دی، خو تاسو یوازې ظاهري عذاب حس کولی شئ؛ اما په باطني عذاب باندې -چې د دوی د هر یوه زړه ته متوجه دی- تاسو علم او پوهه نه لرئ، که نه نو تاسو به یې غوښتنه نه وی کړې[1].

مونږ ته دغه تفسیر، برسېره پر دې چې متبادر نه دی، خوندور نه ښکاري ځکه چې خبره په ډلو کښې راروانه ده، نه په افرادو کښې.

ب: ای وروستنۍ ډلې! تاسو د هغوی دپاره د عذاب د غبرګېدلو غوښتنه مه کوئ ځکه چې ستاسو او د هغوی هرې یوې ډلې ته غبرګ عذاب ټاکلی شوی دی مګر تاسو د خپل عذاب په غبرګېدلو باندې علم نه لرئ، ځکه لکه څنګه چې هغوی تاسو بې لارې کړي یاست همدارنګه تاسو هم هغوی بې لارې کړي دي، که بالفرض په دنیا کښې تاسو د هغوی اطاعت نه وی کړی او د هغوی لښکر مو نه وی غټ کړی نو د هغوی څخه به دومره غټ-غټ ګمراهان او ګمراه کوونکي نه وی جوړ شوي لکه چې ستاسو په پیروۍ سره ترې جوړ شوي دي[2].

مونږ ته دغه تفسیر هم په زړه پورې نه برېښي ځکه چې که څه هم د پیروانو موجودیت د ګمراهانو مشرانو په ګمراهۍ باندې اثر اچوي مګر د ګمراهۍ مؤسسین یې نه ګڼل کېږي چې دوی ته د ګمراه کوونکو لقب ورکړی شي.

ج: نو بهتر تفسیر دا دی -والله ﷻ أعلم- چې: مونږ اولنۍ هرې ډلې ته د دوی عذاب غبرګ کړی دی چې تاسو هم پکښې شامل یاست مګر تاسو نه پوهېږئ، او دا ځکه چې که هغوی ستاسو د پاره د جنایت ډېره او اساس ایښی دی نو تاسو د نورو دپاره په همدغه کار باندې اخته شوي یاست. همدارنګه که هغوی په تاسو باندې د منکراتو امر کړی دی نو ستاسو اکثریت هم نظر نورو خلکو ته همدغه عمل اجراء کړی دی، که څه هم د منکراتو په نوعه او د پیروانو په کموالي او زیاتوالي کښې به سره فرق لرئ مګر په دغه نوم (ګمراه کوونکي) کښې سره ټول شریک یاست، که بل مو هیڅوک نه وي بې لارې کړی خپل ځان او خپل اولادونه خو مو بې لارې کړي دي.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسۡتَكۡبَرُواْ عَنۡهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمۡ أَبۡوَٰبُ ٱلسَّمَآءِ وَلَا يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلۡجَمَلُ فِي سَمِّ ٱلۡخِيَاطِۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٤٠﴾ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٞ وَمِن فَوۡقِهِمۡ غَوَاشٖۚ وَكَذَٰلِكَ نَجۡزِي ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤١﴾﴾

[۴۰] یقینًا هغه کسان چې زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي او (د قبول څخه یې) سرکشي کوي، دوی ته به د اسمانو دروازې (د مرګ په وخت کښې) بېرته نه کړی شي او دوی به (د قیامت په

(۱) تفسیر المراغي ج۸ ص۱۴۹

(۲) روح المعاني ج۸ ص۱۱۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورخ جنت ته داخل نه شي ترڅو چې اوښ (من حيث اوښ) د ستنې په سُوَم (من حيث سوم) کښې ننوزي، او مونږ مجرمانو ته دغه ډول جزا ورکوو (چې د جنت څخه یې محروموو).

[۴۱] دوی لره به (په دوزخ کښې) د اور فرش وي او د پاسه به وربانديې (د اور) برستنې وي (په اور کښې به راتاو وي)، او مونږ ظالمانو ته دغه ډول جزا ورکوو.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون تعقیب شوی دی چې د ټولو کافرانو حالات عموماً او د غتو ظالمانو حالات خصوصاً په ځینو موثرو عباراتو باندې بیان شوي دي، چې لنډ مطلب یې په لاندې ډول دی:

۱_ ټول کافران او خصوصاً غټ ظالمان (چې زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کوي او د قبول څخه یې تکبر کوي) نه به د مرګ په وخت کښې د دوی ارواګانو ته د اسمان دروازې پرانستلې شي چې علیین ته پورته شي، او نه به د قیامت په ورځ پخپله دوی ته دا کار وکړی شي چې د جنت په لور څه ورنژدې شي.

یا په بل عبارت: دوی به تر هغه جنت ته داخل نه شي ترڅو چې اوښ د خپل جسامت سره-سره د ستنې په سوم کښې (د خپل باریکوالي سره-سره) ننوځي؛ نو څرنګه چې ذکر شوی عمل محال (نه کېدونکی) دی همدارنګه د دوی جنتي جوړېدل هم محال او نه کېدونکي دي. او دا ځکه چې دوی مجرمان دي او مجرمانو ته مونږ دغسې جزاوې ورکوو.

۲_ لنډه دا چې د ذکر شوو ظالمانو (او کافرانو) جزاوې د دوه وو برخو څخه مرکبې دي؛ یوه دا چې جنت ته به په ابدي توګه داخل نه شي او بله دا چې دوزخ به وربانديې د هرې خوا څخه احاطه کړې وي چې فرشونه به یې د اور فرشونه وي او برستنې به یې هم د اور برستنې وي.

او مونږ دغه ډول جزاوې بل چا ته نه بلکې ذکرو شوو ظالمانو (او کافرانو) ته ورکوو او همدغه ډول جزاوې د دوی سره موافقې دي.

## توضیحات

۱_ علماوو کرامو د آیت شریف د دې جملې ﴿ لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَٰبُ ٱلسَّمَآءِ ﴾ دپاره متعدد تفسیرونه کړي دي[۱]، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: د مجرمانو (کافرانو) نیک اعمال او طاعتونه به د الله ﷻ په نزد قبول نه کړی شي، لکه څنګه چې د مؤمنانو طاعتونه د قبول درجې ته خېژول کېږي[۲].

مګر مونږ ته دا تفسیر خوندور نه ښکاري ځکه چې کافران خو نه نیک اعمال لري او نه طاعتونه، ځکه چې سالمه عقیده نه لري.

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۳۴
(۲) تفسیر الطبري ج۵ ص۱۷۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


دخول څخه کنایه ده(۱).

ب: ذکره شوې جمله جنت ته د کافرانو د عدم دخول څخه کنایه ده[۱].

مونږ ته دا تفسیر هم په زړه پورې نه برېښي، ځکه چې همدغه مضمون په راتلونکې جمله ﴿وَلَا يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ﴾ کښې پروت دی حال دا چې د تاکید څخه تاسیس بهتر دی.

ج: ډېر بهتر هغه تفسیر دی کوم چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې بیان کړی دی هغه دا چې: کله چې د مؤمن روح قبض کړی شي نو په ډېر عزت او درناوي سره به اسمانونو او بالآخره علیین ته ورسول شي چې په اوم اسمان کښې یو عالي مقام دی. بالمقابل کله چې د کافر روح واخستلی شي نو په ډېره اهانت امیزه او بې وقاره توګه به د اسمانونو طرف ته حرکت ورکړی شي آن تردې چې لومړني اسمان ته ورسولی شي «فَيُسْتَفْتَحُ لَهُ فَلَا يُفْتَحُ لَهُ»[۲] نو د دروازې پرانیستل به ورته وغوښتل شي خو ورته بیرته به نه کړی شي بیا نبي کریم ﷺ د اشتهاد په توګه ذکر شوی آیت شریف ولوست چې: ﴿لَا تُفَتَّحُ لَهُمۡ أَبۡوَٰبُ ٱلسَّمَآءِ﴾.

نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې کافرانو ته به د اخروي سفر په اول وخت (د مرګ په وخت کښې تر هغه د اسمان دروازې بېرته نه کړی شي، او د سفر په وروستنۍ څنډه کښې به هم ورته د جنت دروازې ترهغه بېرته نه کړی شي ترڅو چې اوښ د ستنې په سوم کښې ورننوځي.

## کافران اسمان ته نه شي ختلی

۲ـ مونږ ته د آیت شریف د ذکرې شوې ټکړې څخه دا مفهوم هم ذهن ته راځي ـوالله أعلمـ چې په دنیاوي ژوند کښې امکان شته چې کافران ستورو ته وخېژي مګر اسمان ته نه شي ختلی او د اسمانو دروازې د دوی پرمخ تړلې دي. نن سبا کفري نړۍ ادعا کوي چې فلاني او فلاني ستوري ته هغه او دغه کسان ورسېده او هلته پیاده شوه، خو دا دعوه هیڅ‌ا نه ده کړې چې فلانی اسمان ته ورسېده، او نه به یې وکړی شي. نو که د کافرانو ذکره شوې ادعا رښتیا وي او واقعیت ولري نو ذکر شوی ستوری به ضرور د اسمان څخه لاندې وي او په قدرتي توګه به په خپل مدار کښې څرخېږي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: ځینو خلکو د ﴿ٱلۡجَمَلُ﴾ کلمه په هغه غټ پړي باندې تفسیره کړې ده په کوم باندې چې په سیند کښې بېړۍ تړله کېږي او یا وریاندې سرې د کجورې یوې دنګې ونې ته خېژي[۳]. نو پوښتنه دا ده چې آیا دغه تفسیر د ستنې د سوم سره ښه مناسب نه دی؟!.

مونږ وایو چې:

(۱) التفسیر الکبیر ج۱۳ ص۷۶
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۴۱۴
(۳) تفسیر القرطبي ج ص۲۰۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د همدغه تفسیر د رد دپاره عبدالله بن مسعود ﷺ ذکره شوې کلمه داسې تفسیره کړې ده چې: «هُوَ زَوْجُ النَّاقَةِ»(۱) یعنې د جَمل کلمه د اوښې د مېړه (نر اوښ) څخه عبارت ده. ته به وایې چې د هغو خلکو خبره ردوي کومو چې په پړي باندې تفسیره کړې ده.

ب: که څه هم د ستنې په سوم کښې د پړي ننوتل هم محال کار دی مګر د اوښ ننوتل پکښې ډېر زیات محال (ناشونی کار) دی چې جوړښت یې هم د ننوتلو دپاره جوړ نه دی (د مار شکل نه لري).

ج: دغه ډول جمله ﴿ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلْجَمَلُ فِى سَمِّ ٱلْخِيَاطِ ﴾ د عربو په محاورو کښې مستعمله وه او دوی ورسره اشنا وه او په اذهانو کښې یې ډېره ښه کښیناستله، لکه "حَتّٰى يَشِيبَ الْغُرَابُ" یعنې دا کار ترهغې کیدونکی نه دی ترڅو چې کارغه سپین شي.

﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٤٢﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِى صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ تَجْرِى مِن تَحْتِهِمُ ٱلْأَنْهَٰرُ ۖ وَقَالُواْ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِىَ لَوْلَآ أَنْ هَدَىٰنَا ٱللَّهُ ۖ لَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلْحَقِّ ۖ وَنُودُوٓاْ أَن تِلْكُمُ ٱلْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ ﴾

[۴۲] او هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او نېک عملونه یې کړي وي؛ مونږ څو نفس نه مکلف کوو مګر د هغه د وسې په اندازه همدغه کسان د جنت اندیوالان دي، دوی به په جنت کښې همېشه وي.

[۴۳] او مونږ به هغه شی چې د دوی په زړونو کښې وي چې د (کوچنی) کینې څخه عبارت دی (د دوی د زړونو څخه) وباسو (او حقوق به یې سره تبادله کړو)، د دوی څخه لاندې به (ځلور) ویالې بهېږي، او دوی به وایې چې هغه الله ﷻ لره حمد او ثنا ده چې دغه (جنت) ته یې زمونږ لاربښوونه وکړه او مونږ نه وو چې لاره مو (دې ته) موندلې وی که (بالفرض) مونږ ته الله ﷻ هدایت نه وی کړی، یقیناً چې (مونږ ته) زمونږ د رب ﷻ پیغمبران علیهم‌السلام په حقه راغلي وه.

او دوی ته به (په دغه وخت کښې) اواز وکړی شي چې دغه جنت مو هغه (جنت) دی کوم چې تاسو ته په دې سبب ورېیا درکړی شو چې تاسو (په دنیا کښې نېک) عملونه کول.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د کافرانو او دوزخیانو حال بیان شوی دی او په دې ایتونو کښې د مؤمنانو جنتیانو حالات بیانېږي ترڅو د مقایسې په توګه ولوستلی شي.

---

(۱) الدر المنثور ج۳ ص۴۵۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱_ یعني: لکه څنګه چې کافران د دوزخ اندېوالان دي، اندېوالي يې سره همیشه ده، همدارنګه بالمقابل هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او نېک اعمال یې کړي وي د جنت اندېوالان دي او اندېوالي یې ورسره نه پرېکېدونکې ده. حال دا چې دغه دوه کارونه (ایمان راوړل او نیک اعمال کول) د هرانسان په توان کښې شته، مونږ هیڅوک په داسې شي باندې مکلف نه ګرځوو چې د هغه د توانه بهر او تر وسې یې پورته وي.

لنډه دا چې جنت ته داخلېدل ډېر اسان کار دی او د هر چا د وسې کېږي چې ذکر شوي دوه حکمونه په خپل ځان باندې تطبیق کړي او جنت ته داخل شي.

۲_ جنتیان به د دوزخیانو غوندې یو د بل دښمن نه وي، یوه ډله به بلې ډلې ته ښیراوې نه کوي او یو تربله به سره لعنت نه وایي، بلکې ټول به سره خواږه دوستان او نژدې ورونه وي، د دوی ترمنځ چې په دنیا کښې څه شکر رنجي تېره شوې وي او یو د بل څخه څه ګیله مند وي هغه به یې هم مونږ د زړونو څخه وباسو، دا ځکه چې ګیله او چا ته په غوصه کېدل هم یو ډول عذاب دی چې د جنت سره مناسبت نه لري، جنت خو سراسري خوشالي ده.

۳_ جنتیان به په دنګو-دنګو ماڼیو کښې ناست وي او لاندې به ترې د څلورو شیانو (اوبو، شودو، شاتو او شرابو) لښتې بهېږي، دوی به وایي چې هغه الله ﷻ ته حمد او ثنا ده چې دغو نعمتونو ته یې زمونږ لارښوونه وکړه، که بالفرض د الله ﷻ هدایت نه وی نو مونږ به ورته لاره نه وی موندلې او د دوزخیانو غوندې به ترې محروم شوي وی.

۴_ الله ﷻ خو مونږ ټولو انسانانو ته پیغمبران را استولي وه چې مونږ یې په لارښوونو باندې عقیده وکړه او کافرانو دروغژن وبلل، دا دی اوس واضحه شوه چې مونږ ته پیغمبران علیهم‌السلام په حقه را استولی شوي وه او څه یې چې راته ویلي وه هغه حق وه.

۵_ نو په دغه وخت کښې به جنتیانو ته اواز وکړی شي او د دوی د خوشالۍ دپاره به ورته وویلی شي چې دا هغه جنت دی چې د خپلو اعمالو په سبب سره تاسو ته وړیا درکړی شو، ستاسو کړه وړه د ارزښت په اعتبار سره د جنت د یوې لویشتې ځای ارزښت هم نه لري مګر د الله ﷻ مهرباني (رحمتونه) ورسره ملګري شوه او تاسو یې دغه لوړ مقام ته ورسولئ.

## توضیحات

۱_ که څه هم علماوو کرامو د دې جملې ﴿ وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ ﴾ ډېر تفسیرونه کړي دي چې د ﴿ غِلٍّ ﴾ څخه د جاهلیت د زمانې کینه او عداوت مراد دی او یا د جنتیانو څخه اهل البدر او نور مشخص صحابه کرام رض مراد دي[۱]، مګر بهتره دا ده چې د ذکرې شوې جملې په تفسیر کښې په لاندې حدیث باندې اکتفاء وکړی شي او ټولو جنتیانو ته شامل وګڼل شي.

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۲٦

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: «يَخْلُصُ الْمُؤْمِنُونَ مِنَ النَّارِ فَيُحْبَسُونَ عَلَى قَنْطَرَةٍ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ فَيُقْتَصُّ لِبَعْضِهِمْ مِنْ بَعْضٍ مَظَالِمُ كَانَتْ بَيْنَهُمْ فِي الدُّنْيَا حَتَّى إِذَا هُذِّبُوا وَنُقُّوا أُذِنَ لَهُمْ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَأَحَدُهُمْ أَهْدَى بِمَنْزِلِهِ فِي الْجَنَّةِ مِنْهُ بِمَنْزِلِهِ كَانَ فِي الدُّنْيَا»[۱] يعنې: مؤمنان به د دوزخ څخه نجات مونده کړي نو دوی به په يوه پله باندې ښه تال کړی شي چې د دوزخ او جنت ترمنځ پروت دی، نو د ځينو دپاره به د ځينو نورو څخه د هغو مظالمو بدله واخستل شي کومو چې د دوی ترمنځ په دنيا کښې موجوديت درلود، آن تردې چې دوی مهذب اوصاف کړی شي نو دوی ته به د جنت د داخلېدلو اجازه ورکړی شي، نو په خپل رب ﷺ مې دې سوګند وي چې هر يو د دوی به په جنت کښې خپل کور د هغه کور څخه ډېر ښه پېژني کوم چې په دنيا کښې يې درلود.

علي ﷺ ويلي دي چې زه اميد کوم چې زه، عثمان ﷺ، طلحه ﷺ او الزبير ﷺ به د ذکر شوي آيت شريف د مصداقاتو څخه وګرځو[۲].

## يادونه

۲_ کله چې د جنتيانو د زړونو څخه دنياوي شکر رنجي او کوچني، کوچني کينې هم ووځي نو ټول به په يوه زړه خواږه ورونه جوړ شي، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَا اخْتِلَافَ بَيْنَهُمْ وَلَا تَبَاغُضَ قُلُوبُهُمْ قَلْبٌ وَاحِدٌ»[۳] يعنې د دوی ترمنځ به نه اختلاف وي او نه بغض، زړونه به يې پکښې يو زړه جوړ شي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: مشهوره خو دا ده چې د قيامت په ورځ به يو پل (پل صراط) وي چې په دوزخ باندې به ايښی وي، نه دا چې د جنت او دوزخ ترمنځ به وي؟

مونږ وايو چې: څه لرې نه ده چې دغه دوهم پل به خاص د جنتيانو دپاره وي او يا دا چې دغه پل به د مشهور پله د متمماتو څخه وي نو ځکه شهرت ته نه دی رسېدلی[۴].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې: ﴿أُورِثْتُمُوهَا﴾ کلمه خو اصلاً د ميراث څخه اخستله شوې ده او د ميراث په توګه ورکړه خو دې ته وايي چې د مړي څخه څه مال ژونديو ته پاتې شي، نو پوښتنه دا ده چې په څه ملحوظ د جنت د ورکړې څخه د ميراث د ورکړې په عبارت باندې تعبير وکړی شو؟

مونږ وايو چې: مفسرينو کرامو دې پوښتنې ته ډېر جوابونه کړي دي[۵]، مګر مونږ ته چې کوم

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۹٦۷
(۲) المحرر الوجيز ج۷ ص٦۲
(۳) صحيح مسلم ج۲ ص۳۷۹
(۴) حواشي البخاري ج۲ ص۹٦۷
(۵) زاد المسير ج۳ ص۱۳۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جواب په زړه پورې ښکاري هغه دا دی لکه څنګه چې ژوندیو ته د مړو څخه پاتې شوی مال مفت لاس ته ورځي همدارنګه جنت هم جنتیانو ته مفت دي، که څه هم سالم عقائد او نېک اعمال د جنت د داخلېدلو ظاهري سببونه دي خو حقیقي سبب یې د الله ﷻ فضل او مرحمت دی. د عوضیت په اعتبار سره د سړي ټول نېک اعمال په جنت کښې د یوې لوېشتې ځای ارزښت هم نه لري.

## د آیت شریف ماثور تفسیر

۵ـ نبي کریم ﷺ د آیت شریف وروستنۍ ټکړه په یوه اوږده حدیث کښې تفسیر کړې ده چې لنډ مضمون یې دا دی:

کله چې جنتیان جنت ته ور داخل شي هلته به دوی ته یو اواز کوونکی اواز وکړي چې:

الف: د نن څخه وروسته به تاسو همیشه روغ رمټ یاست او هیڅکله به نه ناروغه کېږئ!.

ب: تاسو به تل ژوندي یاست او د ابد دپاره به درباندې مرګ نه درځي!.

ج: تاسو به همیشه ځوانان یاست او هیڅکله به نه زړېږئ!.

د: تاسو به تل خوشاله یاست او هیڅکله به نه غمژن کېږئ!.

بیا نبي کریم ﷺ د استشهاد په توګه د ایت شریف دا ټکړه ولوسته چې: ﴿وَنُودُوٓا۟ أَن تِلْكُمُ ٱلْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾[1].

﴿وَنَادَىٰٓ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ۖ قَالُوا۟ نَعَمْ ۚ فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيْنَهُمْ أَن لَّعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبْغُونَهَا عِوَجًا وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ كَٰفِرُونَ ﴿٤٥﴾﴾

[۴۴] او د جنت اندېوالان به د دوزخ اندېوالانو ته اواز وکړي چې یقیناً مونږ خو هغه څه حق (رښتیا) وموندل چې خپل رب ﷻ راسره وعده کړې وه (او جنت ته داخل شوو) نو ایا تاسو هغه څه حق (رښتیا) وموندل چې خپل رب ﷻ درسره وعده کړې وه؟

دوی به (په جواب کښې) ووایې چې هو (نور به ساکت پاتې شي).

نو د دوی (دواړو ډلو) ترمنځ به اعلان کوونکی اعلان وکړي چې یقیناً د الله ﷻ لعنت دې په ظالمانو باندې وي.

[۴۵] هغه (ظالمان) چې د الله ﷻ د لارې (دین) څخه به یې (خلک) اړول (او منعه کول) او هم به یې (ورته) په لاره کښې کوږوالی لټاوه (شبهې به یې پکښې پیدا کولې) حال دا چې دوی په آخرت باندې کافران وه (عقیده یېورباندې نه درلوده).

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص ۳۸۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې د دوزخیانو او جنتیانو حالات په مقایسوي توګه بیان شوه د دې ځای ځنه نیولې څو متعدد ایتونه په دې هکله نازل شوي دي چې ذکرې شوې دواړه ډلې به یو تربله سره څنګه خبرې وکړي او په دواړو باندې به أهل الأعراف څنګه تبصره وکړي او څه به ورته ووایي.

## د مطلب خلاصه

یعنې: که څه هم د جنتیانو د زړونو ځنه به یو تربله کینې او عداوتونه سوچه وویستلی شي مګر دوی به په جنت کښې هم دوزخیانو ته د دښمنانو په نظر ګوري او د دوی د تخجیل په غرض به ورباندې غږ وکړي چې ای دوزخیانو! مونږ خو هغه وعده حقه وموندله کومه چې په دنیا کښې مونږ ته خپل رب ﷻ را کړې وه، ستاسو څه حال دی؟ ایا د خپل رب ﷻ وعده مو حقه وموندله؟ ایا په هغې کښې څه تخلف پېښ شو؟.

دوزخیان به د هو په ویلو باندې اکتفاء وکړي او په خجالت کښې به چپ پاتې شي.

په همدې منځکښې به یو اعلان کوونکی اعلان وکړي چې د الله ﷻ لعنت دې په ظالمانو باندې وي چې د حقو وعدو ځنه یې سترګې پټولې او د دروغو نسبت یې ورته کاوه.

دوی خو برسېره په دې چې په خپلو ځانونو باندې یې ظلم کاوه نور خلک یې هم د الله ﷻ د لارې ځنه اړول او ترخپلې وسې پورې یې په هغې کښې کوږوالی لټاوه او باطل تاویلونه یې ورکول. د دغو ټولو کړو وړو بله وجه نه وه، یوازینۍ وجه یې دا وه چې په آخرت باندې یې عقیدې نه درلودې او د دغه حالت ځنه یې انکار کاوه چې اوس پکښې را ګیر دي.

﴿وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ۚ وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلًّا بِسِيمَاهُمْ ۚ وَنَادَوْا أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَن سَلَامٌ عَلَيْكُمْ ۚ لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ ﴿٤٦﴾ وَإِذَا صُرِفَتْ أَبْصَارُهُمْ تِلْقَاءَ أَصْحَابِ النَّارِ قَالُوا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴿٤٧﴾ وَنَادَىٰ أَصْحَابُ الْأَعْرَافِ رِجَالًا يَعْرِفُونَهُم بِسِيمَاهُمْ قَالُوا مَا أَغْنَىٰ عَنكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنتُمْ تَسْتَكْبِرُونَ ﴿٤٨﴾ أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ اللَّهُ بِرَحْمَةٍ ۚ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ وَلَا أَنتُمْ تَحْزَنُونَ ﴿٤٩﴾﴾

[۴۶] او د دواړو (جنت او دوزخ) ترمنځ پرده ده (چې د لیدلو او اورېدلو مخه نه نیسي)، او د (دغې) پردې په لوړو ځوکو باندې سړي دي چې (د جنتیانو او دوزخیانو) هره یوه ډله به خپلو (خاصو) نښو سره پېژني. او دوی (اهل الاعراف) به جنتیانو ته اواز وکړي چې په تاسو

Downloaded from: bawarketab.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



باندې دې سلام وي، دوی به (لا ترغفه وخته) جنت ته نه وي داخل شوي حال دا چې دوی به ورته په تمه وي.

[۴۷] او کله چې د دوی (اعرافیانو) سترګې د دوزخ انډیوالانو خواته تاوې کړی شي نو دوی به وایي چې ای زمونږ ربه! مونږ د ظالم قوم (دوزخیانو) سره مه ګرځوې (د دوزخ څخه مو وساتې).

[۴۸] او د اعراف انډیوالان به (په دوزخ کښې) داسې سړیو ته اواز وکړي چې دوی یې په خپلو نښو باندې پیژني، (او) وبه وایي چې: (ای فلانیانو!) ستاسو څخه خو ستاسو جمعواریو (او اجتماعګانو) او هم هغه شی چې وئ تاسو چې تکبر به مو پرې کاوه (د هیڅ شي) مخه ونه نیوله (اوهلې خلې مو عبثې شوې).

[۴۹] ای دوزخیانو! ایا دغه (جنتیان) هغه کسان دي چې تاسو به سوګندونه خوړل چې دوی ته به الله ﷻ (خپل) رحمت ونه رسوي (حال دا چې همدوی ته د الله ﷻ د پلوه ویل شوي دي چې) ننوزئ جنت ته، نه به په تاسو باندې ډار وي او نه به تاسو غمژن شئ.

## ارتباط

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ هغه خطاب راحکایت کړ کوم به چې د جنتیانو دپلوه د دوزخیانو په ارتباط پیل شي، په دې ایتونو کښې هغه خطاب بیانېږي کوم به چې د اهل الاعراف د پلوه د ذکرو شوو دواړو ډلو په هکله صورت ونیسي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعني: د جنت او دوزخ په منځکښې به الله ﷻ یوه عجیبه پرده قائمه کړي چې د اوازونو او لیدلو مخه به نه نیسي خو د راحت او عذاب مخه به نیسي. د دغې پردې په لوړو څوکو باندې به داسې سړي موقعیت ولري چې جنتیان او دوزخیان به په خاصو نښو سره پېژني. دا د یو پلوه، او د بل پلوه د اهل الاعراف دنیاوي پېژندګلوي به هم د منځه نه وي تللې او پوهېږي به چې دغه دی فلانی په جنت کښې دی او هاغه دی فلانی په دوزخ کښې.

۲ـ نو اهل الاعراف به د هر شي څخه وړاندې په اهل الجنه باندې سلام واچوي او د جنت مبارکي به ورته ووایي چې: مُبارک مو شه د الله ﷻ رضا او د الله ﷻ ابدي لوی نعمت.

اهل الاعراف خو به د دوزخ څخه نجات موندلی وي مګر جنت ته به نه وي داخل شوي او په همدي تمه به ناست وي چې کله به راته اجازه وکړه شي چې جنت ته داخل شئ.

د اهل الاعراف ټوله توجه به د جنتیانو په لور وي او همغوی ته به یې سترګې نیولې وي او د لیدلو څخه به یې خوند اخلي، او کله چې دوی د دوزخیانو خوا ته وګوري (دا کتل به پرې دومره درانه تمامیږي ته به وایي چې په زور باندې یې سترګې دغې خوا ته اړولې شوې دي) نو الله ﷻ ته به په زاریو او سوالونو باندې پیل وکړي چې ای زمونږ ربه! د ظالم قوم سره مو یو ځای نه کړې، چې د دغه قوم د انډیوالۍ څخه نجات ... هم لوړه خبره ده.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳_ د ذکر شوي سوال جواب وروسته به اهل الاعراف په ځينو دوزخيانو سرېو باندې اواز وکړي (البته په هغو سرېو باندې چې په دوزخي نښو او يا دنياوي نښو باندې يې پېژني) چې: اى ظالمانو! تاسو په دنيا کښې څومره مغرور وئ او څومره تکبر مو کاوه، خو افسوس چې نن ورځ تاسو ته نه ستاسو مالونه په درد دوا شوه، نه لښکرې او نه د ګوند ملګرې او بالآخره ستاسو تکبر د خاورو سره برابر شو او د ذلت سره مخامخ شوئ.

اى ظالمانو! هاغه جنتيان ګورئ دوى هغه خلک دي چې تاسو ته حقير او سپک ښکاريده او همدا تاسو به سوګندونه خوړل چې قسم دى چې دغو خلکو ته به الله ﷻ خپل رحمت ونه رسوي، د الله ﷻ د رحمت مستحق مونږ ياستو هغوى نه دي.

اى ظالمانو! ستاسو اټکل دروغ وخوت او معکوسه نتيجه يې ورکړه چې په تاسو باندې الله ﷻ د خپل رحمت دروازې بندې کړې او په خپل غضب باندې يې اخته کړئ، او همغو خلکو ته يې خطاب وکړ چې ننوځئ جنت ته، په تاسو باندې به نه ډار وي او نه به غمژن شئ. اما تاسو باندې هم ډار دی او غمژن هم همدا تاسو ياست.

## توضيحات

۱_ د ﴿ٱلۡأَعۡرَافِ﴾ کلمه د "عُرْف" _لکه "قُفْل"_ جمعه ده، "عُرْف" په اصل کښې لوړې ځمکې ته وايي[1] چې شاوخوا ځايونه ترې ښکاري او پېژاندل کېږي. څرنګه چې د آس يال د څټ په لوړه برخه باندې ولاړ دی نو د "عرف الفرس" په نامه يادېږي او د چرګ قرقره د پوزې په لوړه برخه باندې موقعيت لري نو د "عرف الديک" په نامه بلله کېږي.

په دې مقام کښې نوموړې کلمه د هغې پردې د لوړو برخو څخه عبارت ده کومه چې د جنت او دوزخ ترمنځ د حائل په حيث واقع ده او په ﴿وَبَيۡنَهُمَا حِجَابٌ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده.

## ايا حجاب او سور يو شی دی؟

۲_ ځينې مفسرين وايي چې د "سُور" کلمه د حجاب څخه په غير بله پرده ده چې د محشر په ميدان کښې به ورباندې مؤمنان د منافقانو څخه بېل شي[2]. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿فَضُرِبَ بَيۡنَهُم بِسُورٍ لَّهُۥ بَابُۢ﴾ [الحديد:۱۳] يعنې د مؤمنانو او منافقانو ترمنځ به د محشر په ميدان کښې يو ديوال ووهلی شي چې يوه دروازه به ولري، په داخل کښې به يې راحت وي او مؤمنان به ورننوځي او دباندې به يې زحمت وي چې منافقان پکښې اخته وي.

اکثره مفسرين وايي چې دواړه د يوه حائل نومونه دي[3]، چې د محشر په ميدان کښې به د مؤمنانو او منافقانو ترمنځ حائل شي او د حساب کتاب څخه وروسته به د جنت او دوزخ تر منځ

(۱) المحرر الوجيز ج۷ ص۶۶؛ تفسير الخازن ج۲ ص۵۵۵
(۲) روح المعاني ج۲۷ ص۱۷۷
(۳) تفسير الطبري ج۵ ص۱۸۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حائل او پرده شي. خو په دغه وخت کښې به يې په څوکو باندې اهل الاعراف هم موجوديت ولري، والله ﷻ اعلم.

## اَهل الأعراف څوک دي؟

۳_ علماوو کرامو د اهل الاعراف د تشخيص په هکله زښت ډېر قولونه کړي دي چې شمېر يې تقريبًا دولسو قولونو ته رسېږي[1]، مګر کوم قول چې زيات مؤيدات لري هغه په لاندې ډول دی:

نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې د قيامت په ورځ به د عدل تلې ودرولی شي، نو نېکۍ او بدۍ به پکښې وتللی شي، نو د هرچا چې نېکۍ په بديو باندې د سپګې د هګۍ په اندازه (په ډېره لږه اندازه) زيادت وکړي نو هغه به جنت ته داخل شي او د هرچا چې بدۍ په نېکيو باندې د سپګې د يوې هګۍ په اندازه اضافه شي نو هغه به اور ته داخل شي.

د نبي کريم ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه چې د هغه چا به څه حال وي چې نېکۍ او بدۍ يې سره يو برابر وي؟ نو نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «أُولَئِكَ أَصْحَابُ الأَعْرَافِ لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ»[2] يعني: دغه ډله د اعراف خاندان دي چې ترهغه وخته به جنت ته نه وي داخل شوي خو ورته په تمه به وي.

## يادونه

۴_ ذکر شوی حديث شريف مونږ د احاديثو په کتابونو کښې د زښتې ډېرې پلټنې څخه وروسته هم مونده نه کړ خو د دې سره-سره په دې مقام کښې د اعتماد وړ دی، ځکه چې د صحابه وو کرامو ؓ او تابعينو په اقوالو کښې مؤيدات لري چې ځينو علماوو کرامو راغونډ کړي دي[3].

## سوال جواب

۵_ که څوک وايي چې: په آيت شريف کښې د ﴿رِجَالٌ﴾ کلمه نازله شوې ده، نو ايا په اهل الاعراف کښې زنانه نشته؟.

مونږ وايو چې: په ذکر شوي حديث شريف کښې، چې د آيت شريف تفسير واقع شوی دی، د "مَنْ" کلمه روايت شوې ده چې په "هرچا" باندې ترجمه کېږي او زنانه وو ته هم شاملېږي، نو معلومه شوه چې په آيت شريف کښې د "رِجَال" کلمه د مثال يا د تغليب په توګه نازله شوې ده، والله ﷻ اعلم.

## د "سيمى" د کلمې تحليل

۶_ په ﴿بِسِيمَاهُمْ﴾ کښې د "سِيمَى" کلمه[4] يا د "سَوْم" _لکه "قَوْم"_ څخه اخستله شوې ده چې په اصل کښې "سِوْمَى" وه او بيا ترې "سِيمَى" جوړه شوه، "سَوْم" په نښه کولو ته وايي. او يا د "وَسْم"

---

(۱) زاد المسير ج۳ ص۱۳۹؛ تفسير القرطبي ج۷ ص۲۱۱

(۲) المحرر الوجيز ج۷ ص۶۷

(۳) تفسير ابن كثير ج۲ ص۲۱۶؛ تفسير الطبري ج۸ ص۱۹۴؛ الدر المنثور ج۳ ص۴۶۲

(۴) تفسير القاسمي ج۷ ص۸۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ـ لکه "وَعْد" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې په اصل کښې "وِسْمَی" وه او بیا ترې په قلب مکاني او بدلون سره "سِيمَی" جوړه شوه، "وَسْم" هم نښو او علامو ته وايي.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وايي چې: اهل الاعراف خو جنتيان او دوزخيان (دواړه ډلې) پرته د نښو څخه پېژني، چې هغوی په جنت کښې ګوري او دوی ورته په دوزخ کښې ښکاري، نو پوښتنه دا ده چې د ﴿يَعْرِفُونَهُم بِسِيمَٰهُمْ﴾ جملې په نزول کښې څه حکمت دی، يعنې اهل الاعراف به جنتيان په سپينو مخونو او منورو څېرو سره پېژني او هم به دوزخيان په تورو مخونو او لوغړنو څېرو سره پېژني؟

مونږ وايو چې:

الف: د ذکرې شوې جملې په نزول کښې حکمت دا دی ـوالله ﷻ اعلمـ چې د دواړو ډلو څه کيفياتو ته هم اشاره وکړی شي. يعنې دواړه ډلی به يو ترېله داسې جدا کوونکي نښې او علامې ولري که بالفرض دوی په خپلو-خپلو ځايونو کښې موجوديت نه درلودی هم په علاماتو سره به پېژاندل شوي وی.

ب: دا هم څه لرې نه ده چې په ﴿بِسِيمَٰهُمْ﴾ کښې هغو نښو او علامو ته اشاره وي کومې چې دواړو ډلو په دنيا کښې درلودلې او د هرچا شخصيت يې د بلې څخه جدا کاوه. نو د معنی حاصل به يې داسې شي چې اهل الاعراف به هم جنتيان اوهم دوزخيان په دنياوي نښو باندې پېژني، چې دا فلانی دی او دا فلانی، او بيا به ورسره ذکره شوې مباحثه پيل کړي.

## د اهل الاعراف عاقبت

۸ـ اهل الاعراف به د لاندې وجوهو د کبله په عاقبت کښې اهل الجنه (جنتيان) جوړ شي:

الف: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ اللهَ كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ الْخَلْقَ إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي»[1] يعنې: يقيناً الله ﷻ د هغه څخه وړاندې چې مخلوق پيدا کړي يو کتاب ليکلی دی چې بې شکه زما رحمت زما په غضب باندې وړاندې دی.

نو اميد دی چې د نېکيو او بديو د مساوات په صورت کښې به د الله ﷻ رحمت جنت ته ترجيح ورکړي.

ب: هر کله چې الله ﷻ ګناهګاران مؤمنان (چې دوزخ ته داخل شوي وي) د جنت څخه په دائمي توګه نه محروموي نو اعرافيان به څنګه محروم کړي چې دوزخ ته لا بالکل نه دي داخل شوي!.

ج: زمونږ په نزد د ﴿ٱدْخُلُوا۟ ٱلْجَنَّةَ﴾ جمله د اهل الاعراف د هغو څېرو اترو يوه برخه ده کومې به چې دوی د دوزخيانو سره وکړي، يعنې ای دوزخيانو! تاسو ته خو په دنيا کښې فقيران مؤمنان حقير ښکارېده او د الله ﷻ د رحمت مستحق مو نه ګڼل خو همدوی ـپه ذکره شوې جمله باندېـ مخاطب

Downloded from: bawarketabtoon.com

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۲۷

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړی شوي دي چې جنت ته په داسې حال ورننوځئ چې نه به دربانديې ډار وي او نه به غمژن شئ.

د خينو علماوو کرامو په نزد(۱) په ذکره شوې جمله کښې اعرافيانو ته خطاب دی، يعنې دوی به د دوزخيانو سره په خبرو اترو بوخت وي چې الله ﷻ به ورته امر وکړي چې ننوځئ جنت ته په داسې حال کښې چې نه به دربانديې ډار وي او نه به غمژن شئ.

د: د لاسونو کوم نورانيت او رڼا چې الله ﷻ دوی ته د محشر په ميدان کښې ورکړې وي هغه به د دوی په اندامونو کښې پاتې وي او په اعراف کښې به هم ځلېږي(۲) که بالفرض د دوی عاقبت جنت ته نه کېدلی نو د منافقانو غونديې به يې د دوی څخه هم رڼا اخستې وی او په تياره کښې به پراته وی.

﴿وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ أَنۡ أَفِيضُواْ عَلَيۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ أَوۡ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُۚ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ۝٥٠ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَهُمۡ لَهۡوٗا وَلَعِبٗا وَغَرَّتۡهُمُ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَاۚ فَٱلۡيَوۡمَ نَنسَىٰهُمۡ كَمَا نَسُواْ لِقَآءَ يَوۡمِهِمۡ هَٰذَا وَمَا كَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ۝٥١﴾

[۵۰] او د اور (دوزخ) انډيوالان به د جنت انډيوالانو (جنتيانو) ته (لوړ) اواز وکړي چې په مونږ باندې د اوبو څخه لږ څه راتوی کړئ او يا د هغو (نعمتونو) څخه چې تاسو ته الله ﷻ درپيرزو کړي دي (لږ څه راواچوئ).

دوی (جنتيان) به (ورته) ووايي چې يقيناً الله ﷻ دا دواړه په کافرانو باندې (په ابدي توګه) حرام کړي دي.

[۵۱] (څکه چې کافران) هغه کسان دي چې خپل دين يې (په دنيا کښې) تماشې او لوبې جوړ کړی وه او حقيرې دنيا دوی تېر ويستلي وه، نو نن ورځ مونږ دوی داسې هېر کړه (د رحمت څخه مو محروم کړه) لکه څنګه چې دوی د خپلې دغې ورځې ملاقات هېر کړی وه، او لکه چې وه دوی چې زمونږ په ايتونو باندې به يې انکار کاوه.

## ارتباط

په وړاندې ايتونو کښې الله ﷻ لومړی د اهل الجنه خطاب او بيا د اهل الاعراف خطاب را حکايت کړ. په دې ايتونو کښې درېم خطاب (د اهل النار د پلوه) را حکايت شوی دی.

لکه څنګه چې اهل الاعراف د جنتيانو او دوزخيانو تر منځ واقع کېدونکي دي نو همدارنګه د هغوی حکايت او بيان هم د دوی دواړو ډلو د حکايتونو ترمنځ واقع شو.

(۱) تفسير البغوي ج۲ ص۱۶۳
(۲) المحرر الوجيز ج۷ ص۶۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: داسې وخت هم راتلونکی دی چې اهل النار به په اهل الجنه باندې غږ وکړي، مګر دا اواز او غږ به د اهل الاعراف غونديې نه وي چې یا ورباندې سلام واچوي او یا ورته د نعمتونو تبریک ووایي، بلکې د اواز کولو مضمون به یې دا وي چې ای جنتیانو! مونږ خو د لوږې او تندې څخه ډېر په تنګ یاستو، په مونږ باندې لطف وکړئ او لږ څه اوبه را باندې را توی کړئ او یا د هغو نعمتونو څخه لږ څه راواچوئ چې الله ﷻ تاسو ته در روزي کړي دي.

جنتیان به جواب ورکړي چې مونږ دغه کارونه یو هم نه شو کولی، الله ﷻ په کافرانو باندې جنتي خواړه او جنتي څښاک دواړه حرام کړي دي او څکه ترې نه شي کولی.

۲ـ ای پیغمبره! د جنتیانو جواب په حقیقت باندې ولاړ دی، مونږ څکه جنتي خوراک او څښاک په کافرانو باندې حرام کړی دی چې دوی هغه خلک دي چې خپل حقاني دین یې تماشې او لوبې جوړ کړی وه، په دین او دیندارانو باندې به یې مسخرې کولې. او یا په بل عبارت: دوی په دنیا کښې په لوبو او تماشو کښې دومره مشغول وه تا به ویل چې همدا لوبې او تماشې یې دین دی او دوی د همدې دپاره پیدا کړی شوي دي.

لنډه دا چې دوی حقیر ژوند وغولول او په فاني دنیا باندې تېر واته، نو نن ورځ (په دغې ورځ) به یې داسې هېر کړو لکه څنګه چې دوی دغه ورځ هېره کړې وه او درګرده په دوامداره توګه یې زمونږ د ایتونو څخه انکار کاوه. یا په بل عبارت: په دوی باندې به په دغې ورځ کښې خپل نعمتونه په ابدي توګه حرام کړو، لکه مونږ چې بالکل هېر کړي وي.

## توضیحات

۱ـ که څه هم اهل النار به پوهېږي چې الله ﷻ جنتي خوراک او څښاک په کافرانو باندې ابدي حرام کړی دی او د دوی استفاده کول ترې محال (نه کېدونکی) کار دی، مګر د دې سره‌سره د مؤمنانو جنتیانو په حضور کښې به د سوال کچکول وړاندې کوي. او دا څکه چې عرب وایي: "اَلْغَرِيْقُ يَتَعَلَّقُ بِالزَّبَدِ" په اوبو کښې غرق شوی سړی په خګ پورې هم نښلي. او پښتانه وایي چې: اوبو وړی هر بوټي ته لاس اچوي.

## د لرې مسافې څخه لیدل او خبرې اترې کول

۲ـ د "نَادَىٰ" د کلمې اصلي (مجرد) مصدر "نِدَاء" دی او فعلي (مزید فیه) مصدر یې "مُنَادَاة" دی. "نِدَاء" د اواز پورته کولو او ښکاره کولو ته وایي[1] نو "مُنَادَاة" د اواز د ډېرو پورته کولو او د ډېرو ښکاره کولو معنی ورکوي.

په ذکر شوو درېواړو خطابونو کښې الله ﷻ د "نَادَىٰ" کلمې استعمالې کړې دي چې په زښت ډېر

---

(۱) مفردات الراغب ص ۵۰۷

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بعد (لرېوالي) باندې دلالت کوي، نو الله ﷻ پوهېږي چې د جنت او اعراف ترمنځ به څو ملیونه فرسخه فاصله وي او هم جنت به د دوزخ څخه څو ملیارده فرسخه لرې پروت وي.

مګر د دې سره-سره ذکرې شوې دربواړه ډلې به یو تربله سره لېدلی هم شي او خبرې اترې به هم کولی شي. نو معلومه شوه چې د فاصلې لرېوالی نه د لیدلو مانع ګرځي او نه د خبرو اترو مخه نیسي، لکه په نننی عصر کښې چې د شرق خلک او غرب خلک د ویدیو فون له لارې هم سره لیدلی شي او هم سره خبرې اترې کولی شي.

﴿ وَلَقَدْ جِئْنَٰهُم بِكِتَٰبٍ فَصَّلْنَٰهُ عَلَىٰ عِلْمٍ هُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٢﴾ هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأْوِيلَهُۥ ۚ يَوْمَ يَأْتِى تَأْوِيلُهُۥ يَقُولُ ٱلَّذِينَ نَسُوهُ مِن قَبْلُ قَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِٱلْحَقِّ فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَآءَ فَيَشْفَعُوا۟ لَنَآ أَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ ٱلَّذِى كُنَّا نَعْمَلُ ۚ قَدْ خَسِرُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَفْتَرُونَ ﴿٥٣﴾ ﴾

[۵۲] او یقیناً دوی (کفارو) ته مونږ داسې کتاب ور وړی دی چې په (خپل) علم باندې مو تفصیل ورکړی دی (احکام یې واضحه دي) په داسې حال کښې چې لارښودونکی دی او د داسې قوم دپاره رحمت دی چې ایمان (ورباندې) راوړي (همدوی پرې ګټه اخلي).

[۵۳] ایا دوی (کافران) انتظار کوي (بلکې انتظار نه کوي) مګر د ده (قرآن کریم) عاقبت (او مصداق) ته، په کومه ورځ چې د قرآن کریم عاقبت (مصداق) راشي (خبرې یې تحقق ومومي او قیامت قائم شي) نو هغه کسان به ووايي چې پخوا یې هېر کړی (او پرېښی) وه چې بې شکه زمونږ د رب ﷻ پیغمبران علیهم السلام په حقه راغلي وه نو ایا مونږ لره څوک شفاعتګران شته چې مونږ ته شفاعت وکړي؟ او یا (مونږ لره دا شته چې) بیرته (دنیا ته) تاو کړی شو نو چې (هلته) عمل وکړو د هغه عمل څخه په غیر چې پخوا به مو کاوه؟ (دوی ته به دا یو هم میسر نه کړی شي).

یقیناً دوی خپل ځانونه په تاوان کښې اچولي دي او هغه شیان (بوتان) به د دوی څخه ورک شي چې (په الله ﷻ باندې) به یې دروغ تړل.

## ارتباط

د وړاندېني نژدې آیت مضمون دا وه چې کافران په دنیا باندې غولېدلي دي او د قیامت ورځ یې هېره کړې ده. په دې ایتونو کښې په دوی باندې پړه اچوله شوې ده چې مونږ د ذوی په لارښوونه کښې قصور نه دی کړی مګر دوی قاصر دي چې زمونږ هدایات یې د پښو لاندې کړي دي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ یعنې: ای پیغمبره! مونږ ټول انسانان پیدا کړي دي خو بې سرنوشته مو نه دي پرېښي برسېره

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په عقل او روغو حواسو، وخت په وخت مو پیغمبران وراستولي او کتابونه مو ورنازل کړي دي.

نو دا دی ستا امت ته مو ستا په لاس د ټولو څخه مفصل کتاب ورلېږلی دی چې د دنیا او د آخرت د علومو څخه ډک دی، څه چې د دوی ضروريات دي هغه ټول مو پکښې په ښه دقیقه توګه ځای په ځای کړي دي چې د هدايت او لارموندلو دپاره په پوره پیمانه کفایت کوي. اوس نو دا د دوی قصور دی چې د هدایت د وسائلو څخه کار نه اخلي او لا انکار ترې کوي. که بالفرض دوی ترې کار اخستی وی نو د دوی دپاره به هم د الله ﷻ رحمت ګرځېدلی وی لکه څنګه چې د مؤمنانو دپاره رحمت دی، نو دا د دوی قصور دی چې د خپلو ځانونو دپاره يې د رحمت د اسبابو څخه د عذاب اسباب جوړ کړه او بیا لا ځانونه په حقه هم بولي.

۲_ ای پیغمبره! کافران په خپل عناد او سرکشۍ کښې ډوب دي او د غفلت د خوبه نه راويښېږي، هله به راويښ شي چې د قرآن کريم د خبرو مصداقات تحقق ومومي، نو داسې ګڼل شوه لکه دوی چې همدغې ورځې ته په انتظار وي.

مګر د دوی په حال افسوس دی، چې کله د مصداقاتو د تحقق ورځ راشي نو همدغه منکران به خپل انکار ببرته واخلي او په ډېر حسرت سره به ناري کړي چې يقيناً مونږ ته د خپل رب ﷻ پیغمبران علیهم‌السلام په حقه راغلي وه خو مونږ قاصر یاستو چې هلته مو پرې عقیدې ونه کړې.

ای کاش چې یا څوک شفاعتګر موندلی شوی وی چې زمونږ دپاره يې شفاعت کړی وی، او یا ببرته دنیا ته استولي شوي وی چې د پخوانۍ کړنلارې څخه په غیر مو بله کړنلاره غوره کړې وی، البته هغه کړنلاره چې مسلمانانو غوره کړې وه. او یا زمونږ بوتان او معبودان راته په درد باندې دوا شوي وی.

ای پیغمبره! دا به د دوی بې وخته حسرت وي؛ نه به ورته شفاعتګر مونده شي، نه به بیرته دنیا ته ورتاو کړی شي او بالاخره د دروغو معبودان به ترې ورک او لا درکه شي او هیڅ په درد به يې ونه خوري.

## توضیحات

۱_ د ﴿يَنظُرُونَ﴾ کلمه د "نظر" څخه اشتقاقه شوې ده. "نظر" د سر په سترګو یا د زړه په سترګو یوه شي ته کتلو ته، او یا انتظار کولو ته وايي. په دې مقام کښې دواړه معنی مراده ده[1].

۲_ د ﴿تَأْوِيلَهُ﴾ کلمه د "أول" څخه اخستله شوې ده، "أول" رجوع کولو او بیرته تاویدلو ته وايي په دې مقام کښې د مآل او عاقبت معنی ورکوي[2].

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي: کافران چې په قرآن کريم باندې ایمان نه راوړي، بل شي ته منتظر نه دي او بل شي ته يې ایمان راوړل نه دي تال کړي فقط همدې ته يې تال کړي دي چې هغه

(۱) المحرر الوجيز ج۷ ص۷۳
(۲) مفردات الراغب ص۵۱۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي تحقق ومومي کوم ته چې قرآن کريم اشارې کړې دي. قرآن کريم چې څه ويلي دي هغه روزمره تحقق پيدا کوي، آن تر دې چې د قيامت ورځ قائمه شي نو د قرآن کريم ټول حقائق به موجود شي او هرڅوک به يې وګوري.

﴿ إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ يُغْشِى ٱلَّيْلَ ٱلنَّهَارَ يَطْلُبُهُۥ حَثِيثًا وَٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ وَٱلنُّجُومَ مُسَخَّرَٰتٍۭ بِأَمْرِهِۦٓ ۗ أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ ۗ تَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٥٤﴾ ﴾

[۵۴] يقينًا ستاسو رب ﷻ هغه الله ﷻ دی چې اسمانونه او ځمکې يې په شپږو ورځو کښې پيدا کړي دي، بيا يې په (عظيم) عرش باندې (د خپل شان سره مناسب) استقرار نيولی دی (اداره يې په خپله قبضه کښې اخستې ده، چې لږ تفصيل يې دا دی:) الله ﷻ (په مستمره توګه) په شپې باندې ورځ پټوي چې د ځغاستې په حال کښې يې تعقيبوي (همدارنګه په ورځې باندې شپه پټوي او په تعقيب کښې يې زغلي او نه ستومانه کېږي)، او (الله ﷻ) لمر او سپوږمۍ او ستوري په داسې حال کښې (پيدا کړي دي) چې د ده ﷻ امر ته ټول تابع دي (تخلف ترې نه کوي او نه يې ترې کولی شي).

خبردار خاص الله ﷻ لره پيدا کول او فرمان ورکول دي (دواړه د همده ﷻ پورې اختصاص لري)، ډېر برکتناک دی (نوم د) الله ﷻ چې د ټولو عالمونو پالونکی (او مربي) دی.

## ارتباط

تقريبًا د دې سورت د پيل څخه الله ﷻ د ادم ؑ د زوزات د پوه کولو دپاره د ابتدايي خلقت څه واقعات بيان کړه او بيا يې څو تفريعګانې نازلې کړې، او هم يې د آخرت د واقعاتو څخه د درېوو ډلو (جنتيانو، اعرافيانو، دوزخيانو) د خبرو اترو څه مضامين را حکايت کړه. دا دی د همدې آيت په پيل سره د وصاياوو مخ يو ځل بيا اصلي مضمون ته اړولی شوی دی او په يوه بل ډول باندې د ادم ؑ زوزات پوه کړی شوي دي چې خپل رب ﷻ وپېژنئ او د شيطان د پيروۍ څخه ځانونه بچ وساتئ.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې: ای د ادم ؑ اولادې! اسمانونه او ځمکې ازلي او ابدي نه دي او نه يې پخپله خپلو ځانونو ته وجود ورکړی دی، بلکې دا ټول ستاسو رب ﷻ ستاسو د استفادې دپاره په شپږو ورځو کښې پيدا کړي دي او خپل اختيار يې په کار اچولی دی، که بالفرض د الله ﷻ سره په خلقت کښې بل څوک شريک وی نو په شپږو ورځو کښې به هرومرو اختلاف واقع شوی وی او په نتيجه کښې به نه اسمانونه خلق شوي وی او نه ځمکې، او که بالفرض په اختيار سره يې نه بلکې په ايجاب سره (بې اختياره) يې اسمانونه او ځمکې موجود کړي وی نو هم د شپږو ورځو د اختصاص دپاره به څه دليل نه وی موندلی شوی.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ ای خلکو! ستاسو رب ﷻ ټوله دنیا د نشت څخه موجوده کړه، نو لکه څنګه چې د دنیا په خلقت کښې لا شریک دی همدارنګه په روزمره تکویناتو کښې یې هم هیڅاته څه واک او اختیار نه دی ورکړی، او د اسمانونو او ځمکو د خلقت څخه وروسته یې په عرش باندې داسې استقرار ونیوه کوم چې د ده ﷻ د شان سره مناسب وه او تاسو یې په کیف او څرنګوالي باندې نه پوهېږئ او نه څه ضرورت شته چې ورباندې پوه شئ، د همدې کبله الله ﷻ لاندې کارونه ټول پخپله کوي:

الف: په شپه باندې ورځ پټوي چې ځینې جزونه یې د شپې دپاره جزونه جوړېږي، او هم په ورځ باندې شپه پټوي چې ځینې جزونه یې د ورځې جزونه ګرځي، په همدغه ترتیب سره کله شپه اوږده شي او کله ورځ.

همدارنګه روزمره په شپه باندې د ورځې ځای ډکوي او بالعکس ورځ د شپې ځای ته ورولي، لکه دا چې په تلوار سره هره شپه په ورځې پسې روانه ده او همدارنګه هره یوه ورځ هم په چالاکۍ سره شپه تعقیبوي، چې د دواړو په منځکښې هیڅ فرجه او فاصله نه واقع کېږي.

ب: الله ﷻ لمر، سپوږمۍ، ستوري او نور شیان ستاسو د استفادې دپاره پیدا کړي دي او په کومه طریقه باندې یې چې ورته امر کړی دی په همغه ډول باندې چلېږي او د امر اطاعت یې کوي، نه یو د بل سره ټکر کوي او نه د ټاکلي وخت څخه وړاندې وروسته کېږي.

۳_ ای د ادم ﷺ اولاده! تاسو پوره خبر اوسئ چې پیدایښت هم خاص الله ﷻ پورې اړه لري او د امر ورکولو واک او اختیار هم د ده ﷻ پورې مختص دی.

یا په بل عبارت: تکویني اوامر هم الله ﷻ پورې خاص دي چې ټولو مخلوقاتو ته یې وظائف ټاکلي دي او هر مخلوق خپل ماموریت طوعًا او کرهًا (په خوښه او ناخوښه) ترسره کوي او هیڅکله پکښې ناغېږي نه کوي، او هم تشریعي اوامر او نواهي د الله ﷻ خاصه ده، بندګانو ته اجازه نشته چې د الهي شریعت په مقابل کښې شریعت وضعه کړي او په غیر مستقیمه توګه د الوهیت دعوه وکړي.

همدغه الله ﷻ _چې وړاندې یې څه صفات ذکر شوه_ د ټولو عالمونو پالونکی او کار سازوونکی دی، نو تاسو ته په کار دي چې خاص د همده ﷻ عبادت وکړئ او هیڅوک او هیڅ شی ورسره پکښې شریک ونه ګڼئ او بالآخره ټول احتیاجات خاص د همده ﷻ څخه وغواړئ او خاص د ده ﷻ د امر اطاعت وکړئ.

## توضیحات

۱_ د ﴿أَيَّامٍ﴾ کلمه د "يَوْم" جمعه ده، د "يَوْم" کلمه په لاندې معناوو باندې استعمالېږي:

الف: هغه وخت ته "يَوْم" ویل کېږي چې د لمر د ختلو څخه پیل او په لمر پرېوتلو باندې ختم شي، چې په پښتو کښې ورته ورځ وایي. همدغه د "يَوْم" د کلمې متعارفه معنی ده[1].

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۷۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: کله د مطلق وخت معنی ورکوي، ورځ وي او که شپه، لږ وخت وي او که ډېر. نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ بَيْنَ يَدَيْ السَّاعَةِ لَأَيَّامًا يَنْزِلُ فِيهَا الْجَهْلُ وَيُرْفَعُ فِيهَا الْعِلْمُ وَيَكْثُرُ فِيهَا الْهَرْجُ»[۱]
يعني: يقيناً د قيامت په وړاندې ضرور داسې ورځې (وختونه) دي چې ناپوهي به پکښې رابښکته شي، او پوهه به پکښې پورته (ورکه) شي، او وژنه به پکښې ډېره شي.

ج: کله يې د زرو کلونو په اندازه وخت باندې هم اطلاق کېږي، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِمَّا تَعُدُّونَ﴾ [السجدة:۵] يعني د الله ﷻ تدبيري کارونه د ځمکې او اسمان ترمنځ ښکته پورته کېږي، آن تردې چې اثار يې د زرو کلونو په اندازه پاتې کېږي، البته هغه کلونه چې تاسو يې شمېرئ او تاسو ته متعارف دي.

د: د يوم نوم په پنځوسو زرو کلونو باندې هم اېښودل شوی دی، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ﴾ [المعارج:۴] يعني الله ﷻ ته به پرښتې او جبرائيل امين ﷺ په داسې ورځې کښې د اوامرو د انتقال دپاره ورپورته کېږي چې اندازه يې پنځوس زره کاله ده، چې د قيامت ورځ ده.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: په دې مقام کښې د "يَوْم" د کلمې څخه چې په ﴿سِتَّةِ أَيَّامٍ﴾ کښې د ﴿أَيَّامٍ﴾ دپاره مفرده کلمه ده، د ذکرو شوو معناوو څخه د يوې معنی اراده کول هم واضحه نه دي. دا ځکه چې که د يوم څخه مطلق وخت مراد وی نو د ﴿فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ﴾ په عوض به "فِيْ يَوْمٍ وَاحِدٍ" نازل شوی وی، ځکه چې په مطلق وخت کښې ټول وختونه شامل دي، څه حاجت به نه وه چې جمعه نازله شي. او که د نورو درېواړو معناوو څخه هره يوه معنی اراده کړی شي نو لازمېږي چې ورځې، مياشتې او کلونه دې د اسمان او ځمکې څخه وړاندې موجوديت ولري حال دا چې دغو ټولو ترې وروسته تحقق موندلی دی؟.

موږ وايو چې:

الف: ځينې مفسرين کرام وايي چې د ﴿فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ﴾ کلمات د ځمکې د خلق پورې تعلق نيسي، نه د اسمان د خلق پورې[۲] ترڅو ذکر شوی اعتراض وارد شي. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې الله ﷻ اسمانونه پيدا کړه او په ګردش باندې يې وګمارل، چې شپو او ورځو په موجوديت باندې پيل وکړ، البته په دغه وخت کښې يې د ځمکې يواځې اصل موجود کړی وه، بيا يې د ځمکې خلقت په شپږو ورځو کښې بشپړ کړ چې غرونه او رغونه يې پکښې جوړ کړه او تخمونه يې پکښې وشيندل او داسې نور.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۱۰۴۶
(۲) البحر المحيط ج۵ ص۶۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دلته ورسره د "مِقْدَار" کلمه مراده ده[١]. نو د معنی حاصل یې داسې کیږي چې الله ﷻ اسمانونه او ځمکې په دومره وخت کښې پیدا کړه چې ستاسو د ورځو ترې شپږ ورځې جوړېدلې.

ج: د ﴿ سِتَّةِ أَيَّامٍ ﴾ څخه "سِتَّةِ أَوْقَاتٍ" مراد دی[٢]. یعنې الله ﷻ اسمانونه او ځمکې په شپږو اوقاتو کښې پیدا کړه. او مطلق هلته نه شي جمعه کولی چې ګروپونه پکښې اراده نه شي کړی، کله چې ګروپونه او ډولونه مراد کړی شي نو بیا جمعه کېږي. د همدې کبله د ﴿ قُرُبَٰتٍ ﴾ کلمه جمعه نازله شوې ده چې د "قربة" جمعه ده او د مطلق نژدیکت معنی ورکوي، الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَمِنَ ٱلْأَعْرَابِ مَن يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْآخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ قُرُبَٰتٍ عِندَ ٱللَّهِ ﴾ [التوبة: ٩٩] یعنې د اعرابو څخه ځینې هغه خلک دي چې په الله ﷻ او په وروستنۍ ورځ باندې یې ایمان راوړی دی او څه چې خرڅ کوي هغه د الله ﷻ په نزد د نژدېکتونو (ثوابونو) سبب ګڼي. نو دلته د "قُرْبَة" کلمه د ډولونو په لحاظ سره جمعه ﴿ قُرُبَٰتٍ ﴾ نازله شوه.

د: د ﴿ سِتَّةِ أَيَّامٍ ﴾ کلمه په دې مقام کښې د غیبو څخه یو غیب دی او مونږ په ټولو غیبو باندې ایمان راوړی دی، په تعین کښې یې نه څه ګټه شته او نه څه ضرورت شته چې بحث پکښې وکړی شي[٣].

مونږ ته همدغه څلورم تفسیر غوره ښکاري؛ چې د اسمانونو او ځمکو د خلقت څخه وړاندې به د یَوْم (ورځې) د حدودو د ټاکلو معیار په بل کیفیت باندې وه چې یواځې الله ﷻ پرې پوهېږي او بس.

## ثم استوى على العرش" څه معنی؟

٣ـ د ذکر شوې جملې ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ په باره کښې که د چا زړه اوږد بحث غواړي نو ځینو اوږدو کتابونو[۴] ته دې مراجعه وکړي، مونږ فقط په لاندې معلوماتو باندې اکتفاء کوو:

الف: ذکره شوې جمله په قرآن کریم کښې په لاندې اوو ایتونو کښې نازله شوې ده:

اول: په دغه آیت شریف کښې چې سمدستي پکښې بحث روان دی.

دوهم: ﴿ إِنَّ رَبَّكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ﴾ [یونس:٣].

دریم: ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِي رَفَعَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ﴾ [الرعد:٢].

څلورم: ﴿ ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱسْتَوَىٰ ﴾ [طه:٥].

---

(١) تفسیر ابي السعود ج٣ ص٢٣٢
(٢) روح المعاني ج٨ ص١٣٢
(٣) في ظلال القرآن ج٣ ص١٢٩٦؛ تفسیر المنار ج٨ ص٤٤٥
(۴) تفسیر القاسمي ج٧ ص٩۶ـ ١۴۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پنځم: ﴿ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ [الفرقان:۵۹].

شپږم: ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ مَا لَكُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِىٍّ وَلَا شَفِيعٍ ﴾ [السجدة:۴].

اوم: ﴿ هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ [الحديد:۴].

## د "استوى" معنى

ب: د ﴿ ٱسْتَوَىٰ ﴾ د کلمې پورې چې کله د "علی" توری تعلق ونیسي نو د ورپورته کېدلو او استقرار معنی ورکوي، لکه چې فرمايي: ﴿ وَٱسْتَوَتْ عَلَى ٱلْجُودِىِّ ﴾ [هود:۴۴] يعني د نوح ﷺ بیړۍ په جودي (نومي غره) باندې قرار ونیوه. او هم فرمايي: ﴿ فَإِذَا ٱسْتَوَيْتَ أَنتَ وَمَن مَّعَكَ عَلَى ٱلْفُلْكِ ...﴾ [المؤمنون:۲۸] يعني اې نوحه! کله چې تا او ستا ملګرو په بیړۍ باندې قرار ونیوه او پکښې سواره شوئ نو د الله ﷻ حمد او ثنا ووايئ؛

اما کله چې د ذکر شوې کلمې الله ﷻ ته نسبت وشي، لکه په همدې آیت شریف کښې يې چې ورته نسبت شوی دی چې بحث پکښې روان دی، نو أهل السنة والجماعة ترې د لاندې دوه وو طريقو څخه په يوه طريقه باندې معنی اخلي چې دواړه طريقې د صحابه ووکرامو ﷺ څخه روايت شوې دي(۱):

## اوله طريقه

ج: يوه طريقه دا ده چې افرادي معنی ته يې هيڅ توجه ونه کړی شي او يواځې ترکيبي معنی ته يې وکتل شي. پوره واضحه ده چې که د ذکر شوې جملې د افرادي معنی څخه نظر وشکول شي او صرف ترکيبي معنی ته يې وکتل شي نو هيڅ ډول اشتباه او پوښتنه صورت نه نيسي، ترکيبي معنی يې دا ده چې: ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ او بيا الله ﷻ د ځمکو او اسمانونو اداره په خپل بلاکيف لاس کښې ونيوه(۲) او لکه څنګه يې چې په خلقت کښې هيچاته څه برخه ورنه کړه همدارنګه يې په روزمره اجراءاتو کښې هم هيڅوک برخوال ونه ګرځاوه، نو د الله ﷻ سره نه په خلقت کښې څوک شريک شته او نه په روزمره تکويني تصرفاتو کښې، نو په همدې بنا باندې په عبادت کښې هم ورسره هيڅوک شريک نشته، نه انسان، نه ملائک او نه بل څوک يا بل شی.

د دغې ترکيبي معنی په اعتبار سره ذکره شوې جمله د متشابهاتو څخه راوځي او د محکماتو څخه ګرځي.

---

(۱) البرهان في علوم القرآن ج۲ ص۷۸

(۲) البرهان في علوم القرآن ج۲ ص۲۰۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ذکرې شوې ترکیبي معنی د مرادولو مثال په پښتو کښې دا دی چې وايي: "د فلاني خولې په غوږو کښې ولویده" په دغو کلماتو کښې هیڅوک د مفرداتو خیال نه ساتي چې ذکر شوی سړی خولی لري او که نه؟ او د غوږو څخه څه شی مطلب دی؟ بلکې ټول خلک ترې دا معنی اخلي چې فلانی سړی د ګټې په موقع وربرابر شو.

دا معنی په محاوراتو کښې بالکل صریح ګرځېدلې ده چې هرڅوک وربانديې پوهېږي، او دا څکه چې د "صَرِیح" کلمه د "صَرْح" د کلمې څخه اخستله شوې ده او "صَرْح" هغې دنګې لوړې بنګلې ته ويل کېږي چې د نورو بنګلو سره يې اختلاط نه واقع کېږي او د لرې مسافې څخه د نظر لاندې راځي[1]، نو په صريحې معنی کښې دا ضرور نه ده چې هغه دې حقیقي معنی وي، بلکې کله-کله کنايي او مجازي معناوې هم پورتني مقام ته رسېږي او د "صَرِیح" لقب څان ته ګټي (د تاویلي معنی لقب نه ورکولی کېږي).

## سوال جواب

د: که څوک وايي چې: په عربي کلام کښې داسې نظائر شته چې افرادي معنی مراده نه وي او براځې ترکیبي معنی په نظر کښې نیولی شوې وي؟

مونږ وایو چې: ټولې کنايي معناګاني د همدې قبیلې څخه دي. د ښه وضاحت دپاره لاندې څو مثالونه ولولئ:

اول مثال: "فُلَانٌ هَزِيلُ الْفَصِيلِ". د دې جملې افرادي معنی دا ده چې د فلاني سړي خوسکی ډنګر دی، مګر کومې معنی ته چې په ترکیبي لحاظ سره ذکره شوې جمله اشاره کوي هغه دا ده چې فلانی سړی سخاوت لري، څکه چې شوده په مېلمنو بانديې خرڅ کوي نو خوسکي يې ډنګر پاتې کېږي او د لوږې د کبله نه څربېږي. ذکر شوې جمله د هغه سخي سړي په باره کښې هم استعمالېږي چې نه لنګه غوا لري او نه خوسکی.

دوهم مثال: "فُلَانٌ طَوِيلُ الْيَدِ". د دې جملې افرادي معنی دا ده چې د فلاني سړي لاس اوږد دی، مګر ترکیبي معنی يې دا ده چې فلانی سړی جواد دی. دا جمله د هغه جواد دپاره هم استعمالېږي چې بالکل لاسونه ونه لري او یا يې دواړه لاسونه قطعه شوي وي.

دریم مثال: بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې: یوه ورځې نبي کریم ﷺ خپلې بیبیانې (د مؤمنانو مورګانې) مخاطبې کړې چې: «أَسْرَعُكُنَّ لَحَاقًا بِي أَطْوَلُكُنَّ يَدًا» یعنې: په تاسو کښې به هغه بي بي په ما پسې په تلوار سره پیوسته شي (د نورو څخه به مخکښې وفاته شي) کومه چې د لاس د حیثه اوږده ده.

نوموړې بي بي وايي چې بیبیانو به لاسونه سره یو تربله په اندازه کول ترڅو معلومه کړي چې د چا لاس اوږد دی؟ یا په بل عبارت: مونږ ګومان کاوه چې د نبي کریم ﷺ به د ذکرې شوې جملې افرادي

(۱) مفردات الراغب ص۲۸۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معنی مراده وي او په بېيانو کښې به د ټولو ښځه وړاندې بي بي سوده رضي الله عنها وفاته شي ځکه چې د هغې لاسونه اوږده وه، مگر وروسته پوه شوو چې زمونږ اوږد لاسې زينب رضي الله عنها وه چې د ټولو ښځه وړاندې وفاته شوه او هم پوه شوو چې د نبي کريم ﷺ د ذکرې شوې جملې ترکيبي معنی مراده وه چې سخاوت او جوادت دی «لِأَنَّهَا كَانَتْ تَعْمَلُ بِيَدِهَا وَتَصَدَّقُ»[1] ځکه چې بي بي زينب رضي الله عنها به په لاس باندې مزدوري کوله او بيا به يې خيراتوله، يعنې دغه بي بي په مونږ کښې جواده وه.

څلورم مثال: همدارنگه په عربي محاوره کښې د پښېمانه سړي څخه په "سَقَط فِيْ يَدِهِ" سره تعبير کېږي او د مفرداتو معناوو ته هيڅ التفات نه کېږي[2].

د همدې کبله الله ﷻ د موسی ﷺ په زمانه کښې د خوسي د عبادت کوونکو پښېماني په ﴿ وَلَمَّا سُقِطَ فِىٓ أَيْدِيهِمْ ﴾ [الأعراف:۱۴۹] سره تعبيره کړه.

د همدغې ترکيبي معنی اراده کول په دې مقام کښې د بديع او بيان د علم ځينو علماوو تحقيقي گڼلې دي[3].

## دوهمه طريقه

هـ: دوهمه طريقه دا ده چې د ذکرې شوې جملې افرادي معنی هم په نظر کښې ونيوله شي، چې ﴿ ٱسْتَوَىٰ ﴾ څه معنی او الله ﷻ ته يې په څه اعتبار نسبت شوی دی؟.

نو ـ لکه څنگه چې مونږ د [البقرة:۱۵] آيت لاندې ليکلي دي ـ أهل السنة والجماعة پکښې د دغې معنی په لحاظ په لاندې دوه وو ډلو باندې وېشل کېږي:

يوه ډله تاويل ورکوي او داسې معنی ترې اخلي چې د الله ﷻ د شان سره مناسبه وي او د مخلوق د صفاتو سره تشابه ونه لري، ځکه چې الله ﷻ مونږ ته په خپلو تنزيهاتو کښې داسې هم فرمايلي دي چې: ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ﴾ [الشورى:۱۱] د الله ﷻ په مثل باندې هيڅ شی نشته.

دغه تاويلونه ځينو مفسرينو کرامو راغونډ کړي دي[4] که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هلته دې مراجعه وکړي، او ځينو ليکلي دي چې علماوو کرامو پکښې څوارلس قوله کړي دي[5].

دا ډول معنی اخستل په دې اعتبار سره ښه دي چې د عوامو د اشتباهاتو مخه وړباندې نيوله کېږي مگر د دې خطره شته چې سړی د معنی په اخستلو کښې خطا شي. د مثال په توگه: که څوک د ﴿ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ څخه داسې معنی واخلي چې: ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوْلَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ يعنې "الله ﷻ بيا په عرش باندې غلبه وکړه او هغه يې د خپل تسلط لاندې راووست". دا معنی ځکه خطا ده چې

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۲۹۱
(۲) تفسير الطبري ج۶ ص۶۲
(۳) مختصر المعاني في البديع والبيان ص۴۵۷
(۴) التفسير الكبير ج۱۴ ص۱۱۵
(۵) تفسير القرطبي ج۷ ص۲۱۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په بو شي باندې تسلط پیدا کول په هغه وخت کښې صورت نیسي چې څوک په خپل مقابل کښې حریف (دښمن) ولړي او هغه ذلیل کړي او کوم ځای چې د هغه د تسلط لاندې وي هغه د خپل تسلط لاندې راولي، حال دا چې د الله ﷻ سره خو په مقابل کښې داسې حریف نشته چې هغه ورسره مقابله وکړي شي او بیا د ناکامۍ سره مخامخ شي[1].

و: او که څوک ووايي چې: مونږ د "استولی" څخه هغه "استیلاء" اخلو کومه چې د الله ﷻ سره مناسبه وي، نه د بندګانو استیلاء؟!

مونږ وايو چې: بې ضرورته مو مسافه اوږده کړه، بهتره دا ده چې ﴿ٱسْتَوَىٰ﴾ کلمه په هغې اسوی باندې حمله کړئ کومه چې د الله ﷻ سره مناسبه ده او د "اسْتولی" معنی ترې وانخلئ، لنډه دا چې په دې تقدیر خو د ذکر شوې ډلې علماوو خبره د راتلونکې ډلې علماوو خبرې ته وراوړي هغه دا چې:

بله ډله تاویل نه ورکوي او کوم شی چې الله ﷻ خپل اقدس ذات ته ثابت کړی دی هغه ورته ثابتوي مګر د کیفیت څخه سکوت کوي. نو د ﴿ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ﴾ معنی داسې کوي چې بیا الله ﷻ په عرش باندې استقرار ونیوه خو هغه استقرار چې د الله ﷻ د شان سره مناسب وه، نه هغه استقرار چې د یوه مخلوق دپلوه په تخت باندې صورت نیسي. یا په بل عبارت: الله ﷻ په عرش باندې پرته د لوازمو څخه (چې مونږ یې په ممکناتو کښې ګورو) استقرار وکړ.

ز: نو لنډه دا چې د اهل السنة والجماعة د لومړنۍ ډلې نظر ګټور دی مګر خطرناک دی او دا خطر پکښې شته چې سړی په تاویل کښې خطا شي، او د دوی د دوهمې ډلې نظر ګټور او بې خطره دی خو د عوامو د تشویش او څنګه-څنګه ویلو مخه ورباندې نه نیوله کېږي.

زمونږ په فکر، علماوو کرامو ته په کار دي چې د خپلو ځانونو دپاره دوهم بې خطره نظر خوښ کړي او د تاویل څخه ډډه وکړي، او همدارنګه د عوامو دپاره باید د همدغه نظر اسرار بیان کړي، ترڅو د هغوی په زړه کښې ځای ونیسي او د تشویشونو مخه یې بنده کړی شي، که نه نو هغوی به په باطلو تاویلونو باندې اخته شي او د ضلالت په کندو کښې به سر په ځړې ولوېږي.

## سوال جواب

ح: که څوک وايي چې: آیا دا معقوله ده چې د ﴿ٱسْتَوَىٰ﴾ څخه پرته د لوازمو استقرار مراد کړی شي؛ لوازم خو د ملزوم څخه نه جدا کېږي که څوک یې په اراده کښې شامل کړي او که په خپل زړه کښې ترې صرف نظر شي؟، واقع خو په اراده بدلون نه مومي؟.

مونږ وايو چې: داسې شیان زمونږ په محاورو کښې هم زښت ډېر شته چې معناوې یې معلومې وي او د "مضاف الیه" په اعتبار سره یې لوازم بدلون مونده کوي، مګر د چا ورته فکر نه دی.

د لاندې څو مثالونو په لیکلو سره ورته مونږ د محترمو لوستونکو پام وراړوو:

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۷ ص۱۰۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


اول: د وَجْه (مخ) معنی په شریعت او لغت کښې معلومه ده چې په خوله، پوزه، دوه سترګو او غمبورو باندې مشتمله ده او دغه ټول شیان یې لوازم دي، مګر د انسان د مخ څخه پرته په یوه مخ کښې هم ورسره ذکر شوي لوازم تحقق نه لري او نه ورباندې څوک اعتراض کوي لکه د خبرو مخ، د کتاب مخ، د جامو مخ او داسې نور.

دوهم: د طَبْخ (پوخوالي) معنی معلومه ده چې هیڅوک پکښې اشتباه نه لري مګر د اضافت په اعتبار سره یې لوازم بدلون مومي؛ چې د غوښې پوخوالی په اور سره کېږي، د مېوې پوخوالی په لمر سره، او د خبرو پوخوالی دا دی چې ګټه پکښې ډېره وي او د واقعیت سره برابرې وي، د انسان پوخوالی دا دی چې هوښیار وي (نه غولېږي) او د پوخ عمر خاوند هغه څوک دی چې د زلمیتوب څخه تېر شوی وي او بوډاتوب ته لا نه وي رسېدلی.

نو د ذکر شوي وضاحت په نظر کښې نیولو سره سړي ته جوته کېږي چې د مخلوق استقرار چې کوم لوازم درلودلی شي هغه لوازم او کیفیات په هغه استقرار کښې تحقق نه شي موندلی د کوم چې په ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ کښې الله ﷻ ته نسبت شوی دی.

یا په بل عبارت: لکه څنګه چې د الله ﷻ علم، حلم او نور صفات د مخلوق د علم، حلم او نورو صفاتو څخه بالکل جدا دي او محض په نامه کښې سره اشتراک لري همدارنګه د بندګانو استقرار هم د الله ﷻ د استقرار څخه جدا دی او محض په اطلاق کښې دواړه سره مشترک دي.

## یوه خوندوره قیصه

ط: یوه ورځې د امام مالک رحمه الله علیه څخه یوه سړي پوښتنه وکړه چې: ﴿ ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱسْتَوَىٰ ﴾ څه معنی؟.

په ذکر شوي امام باندې خولې راماتې شوې او لږ وخت یې خپل سر زوړند نیولی وه بیا یې سر راپورته کړ او داسې جواب یې ورکړ چې "الِاسْتِوَاءُ غَيْرُ مَجْهُوْلٍ وَالْكَيْفُ غَيْرُ مَعْقُوْلٍ وَالْإِيْمَانُ بِهِ وَاجِبٌ وَالسُّوَالُ عَنْهُ بِدْعَةٌ وَمَا أَظُنُّكَ إِلاَّ ضَالًّا"[۱] د استواء معنی خو مجهوله نه ده (هرڅوک پرې پوهېږي) او کیفیت یې په عقل کښې نه راځي (مونږ ترې عاجز یاستو) او عقیده ورباندې واجبه ده او پوښتنه کول ترې بدعت دی (صالحینو سلفو کښې چا ترې پوښتنه نه ده کړې) او (بالآخره) زه په تا باندې د بل چا ګومان نه کوم مګر د ګمراه سړي. نو بیا یې ورباندې امر وکړ چې را څخه وېې وباسئ نو د هغه ځای څخه ووېستلی شو.

## د پای تبصره

۴ـ زمونږ په فکر د أهل السنة والجماعة دواړه ډلې د الله ﷻ د اسماوو او صفاتو په هکله په لاندې ټکو کښې متفقې دي:

الف: دواړه ډلې دا خبره منې چې د الله ﷻ اسماء او صفات د متشابهاتو څخه دي.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۶۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دواړه ډلې باوري دي چې د متشابهاتو معناوي د محاکماتو ایتونو څخه تاکلې کېدلی شي، البته په هغه صورت کښې چې په عین موضوع کښې (محکمات) نصوص موجودیت ولري، چې پوره بیان یې ـ د الله ﷻ په توفیق ـ د [آل عمران:۷] آیت لاندې تېر شوی دی.

ج: په ځینو اسماء او صفاتو کښې دواړه ډلې په تاویل باندې متفقې دي، د مثال په توګه: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ وَلَآ أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا۟ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾ [المجادلة: ۷ ].

دلته دواړه ډلې اتفاق لري چې په دې مقام کښې علمي معیت مطلب دی، ځکه چې د ایت لومړنی جمله ﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ او وروستنی جمله ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴾ دواړه د محاکماتو څخه دي او معیت یې واضحه کړی دی چې علمي معیت دی.

نو د دواړو ډلو په نزد یې معنی داسې کېږي چې ایا ته نه ګورې چې یقینًا الله ﷻ په هغه څه باندې پوهېږي کوم چې په اسمانونو او هم په ځمکو کښې دي، د درېو کسانو هیڅ مجلس نه دی مګر الله ﷻ یې څلورم دی، او نه د پنځو کسانو مجلس (جرګه) ده مګر الله ﷻ یې شپږم دی، او نه د دغه (ذکرو شوو) څخه لاندې او نه زیات مجلس شته مګر الله ﷻ ورسره (په علم سره) معي (یو ځای) دی. بیا به الله ﷻ د قیامت په ورځ خلک په هغه شي باندې خبر کړي چې په دنیا کښې یې کړي وي، یقینًا الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی.

د: چرته چې په اسماوو او صفاتو کښې دوه نصوص منافات ولري هلته هم دواړه ډلې تقریبًا په تاویل باندې اتفاق لري. لاندې مثال ولولئ:

د ﴿ ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱسْتَوَىٰ ﴾ په بنیاد الله ﷻ په بلا کیفه توګه د عرش د پاسه دی (څنګه چې د ده ﷻ د عالي شان سره مناسبه وي)، خو نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث شریف کښې فرمایلي دي چې: «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ أَنَّكُمْ دَلَّيْتُمْ بِحَبْلٍ إِلَى الْأَرْضِ السُّفْلَى لَهَبَطَ عَلَى اللهِ»[1]؛ نو ځینو علماوو کرامو په همدغه حدیث شریف کښې د «لَهَبَطَ عَلَى اللهِ» جمله په "لَهَبَطَ عَلَى عِلْمِ اللهِ" سره معنی کړې ده، یعنې نبي کریم ﷺ په سوګند سره فرمایلي دي چې که چرته تاسو یو پړی لاندنی ځمکې ته ور زوړند کړئ نو د الله ﷻ په علم باندې به ښکته شي ځکه چې د الله ﷻ علم او قدرت په هر مکان کښې جاري دی، خو د دې سره ـ سره الله ﷻ فوق العرش ذی لکه چې په آیت شریف کښې ورباندې صراحت شوی دی.

## "حَثِيث" څه معنی؟

۵ـ د "حَثِيث" کلمه د "حِثّ" څخه اشتقاقه شوې ده او "حِثّ" تېزی ته وایي. نو د معنی حاصل

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يې داسې کېږي چې: شپه او ورځ يو په بل پسې په چالاکۍ او تېزۍ سره ځغلي او هيڅکله يې په منځکښې فرجه او وت نه واقع کېږي.

کله چې لمر په خپل محور باندې ځرخېږي نو په يوه کال يا درې سوه پنځه شپيته (۳۶۵) ورځو او شپږو ساتونو کښې خپله يوه دوره پوره کوي او د ځمکې په شاوخوا باندې ځرخېږي، مګر کوم حرکت چې شپه او ورځ وړاندې پيدا کېږي او لمر ته په قسري (جبري) توګه د ځمکې په شاوخوا دوران ورکوي هغه د فلک الافلاک حرکت دی او دومره تېز دی چې که په تلوار سره زغلېدونکې سړی د ځمکې ځخه پېنه پورته کړي او په ځغاسته کښې يې بېرته ږدي نو فلک الافلاک درې زره (۳۰۰۰) ميله مسافه طی کوي[۱].

دا هله که ځمکه ساکنه وګڼله شي، او که بالفرض ځمکه د لمر په شاوخوا ګرځي راګرځي نو په دې صورت کښې به د ځمکې وضعي حرکت همدومره تېز وي چې د شپې او ورځې د تعاقب سبب جوړېږي، والله ﷻ اعلم.

﴿ ٱدْعُوا۟ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ﴿٥٥﴾ وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَـٰحِهَا وَٱدْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا ۚ إِنَّ رَحْمَتَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾ ﴾

[۵۵] (ای د ادم ؑ اولادې!) خپل رب ﷻ ته د زاريو او پټ غوښتنې په حال کښې سوالونه کوئ (او د شرعي حد ځخه تجاوز مه کوئ) يقيناً ستاسو رب ﷻ تجاوز کوونکي نه خوښوي.

[۵۶] او په ځمکه کښې د هغې د اصلاح ځخه وروسته فساد مه کوئ او (هم) خپل رب ﷻ ته د ډار او تمې په حالت کښې عبادت وکړئ. بې شکه د الله ﷻ (ستاسو د رب ﷻ) رحمت د نېکو کارانو ځخه نژدې دی (ور رسيدونکی دی).

## ارتباط

په وړاندې آيت کښې الله ﷻ مونږ ته خپل اقدس ذات راپېژاندلی دی چې پيدا کول او امر کول ټول د همده ﷻ پورې اختصاص لري او ټول برکات او ښېګڼې د همده ﷻ پورې منحصرې دي، نو په دې ايتونو کښې راته لاندې وصايا کوي.

## د مطلب خلاصه

يعنې ای د ادم ؑ اولادې! کله چې تاسو خپل رب ﷻ وپېژاند نو درته په کار دي چې په خپلو کړووړو کښې د همده ﷻ د شان سره مناسب چال چلند وکړئ چې څو قولي او عملي مثالونه يې دا دي:

۱_ خپل رب ﷻ بلئ او د همده ﷻ ځخه خپل احتياجات غواړئ، ځکه چې دا کار د بل هيچا د وسې پوره نه دی، نه بل ځوک څه شی پيدا کولی شي او نه بل ځوک د فرمان جاري کولو حق لري.

(۱) البحر المحيط ج۵ ص۶۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر لاندې خاصیتونه هېر نه کړئ:

الف: خپل رب ﷻ په زاریو سره بلئ او په عاجزۍ او تواضع سره ترې سوال کوئ ځکه چې الله ﷻ متکبرین نه خوښوي.

ب: په سوال زاریو کښې د اخفاء مراعات وکړئ او تر وسې وسې پورې په پټه سره خپل رب ﷻ ته احتیاجات وړاندې کړئ او د مشکلاتو حل ترې وغواړئ، ترڅو د یو پلوه د ریا کارۍ څخه په امن کښې پاتې شئ او د بله پلوه مو خشوع او تواضع زیاته شي. ستاسو رب ﷻ ستاسو په زړونو باندې پوه دی او ستاسو هیڅ شی ترې پټ نه دی.

په ټولو کړو وړو کښې عمومًا او په سوال کولو کښې خصوصًا د شرعي چوکاټ څخه تجاوز مه کوئ چې یا نه کېدونکی شی وغواړئ، یا د خپلو ځانونو په نسبت د غیر مناسب شي غوښتنه وکړئ، یا د ګناهونو سوال وکړئ او یا د بل داسې عمل مرتکب شئ چې شرعًا جواز ونه لري.

۲ـ تاسو په ځمکې کښې فساد مه کوئ، الله ﷻ خو د پیغمبرانو علیهم السلام او کتابونو په دراستولو سره ځمکه اصلاح کړې ده، نو تاسو یې د فساد خوا ته مه راکاږئ او ویدې فتنې مه راویښوئ.

۳ـ تاسو د خپل رب ﷻ عبادت کوئ او د دغو دوه وو خاصیتونو پوره مراعات وکړئ:

الف: د خپل رب ﷻ څخه وډار شئ، عبادت په ډار سره کوئ، الله ﷻ ستاسو عبادت ته احتیاج نه دی او نه وړاندې د عذاب څخه نجات درکول واجب دي، خپل قصور په نظر کښې ونیسئ.

ب: او هم په عبادت کښې خپل رب ﷻ ته په تمه اوسئ چې همدا عبادت مو د نجات سبب جوړېدلی شي، او هم دا خبره په نظر کښې ونیسئ چې د الله ﷻ رحمت د هر پراخه او لوی دی. لنډه دا چې هر عبادت د ډار او تمې تر منځ اجراء کړئ چې همدا ستاسو د ایمان د ساتنې معیار دی.

ای بنیادمانو! د ذکرو شوو هدایتونو پوره څارنه وکړئ ترڅو تاسو د نېکانو د ډلې څخه وشمېرل شئ، او د الله ﷻ رحمت خو نېکانو ته نږدې دی مګر واجب نه دی نو مه د خپل رب ﷻ څخه تمه پرې کوئ او مه د زړونو څخه ډار وباسئ.

## توضیحات

۱ـ ظاهره دا ده چې په لومړني آیت کښې د ﴿ ٱدۡعُوا ﴾ د کلمې معنی دا ده چې خپل رب ﷻ ته سوال وکړئ اوپه قول سره یې بلنه وکړئ، لکه چې د ﴿ تَضَرُّعًا وَخُفۡيَةً ﴾ کلمې وړاندې دلالت کوي.
او په دوهم آیت کښې د ﴿ ٱدۡعُوا ﴾ د کلمې معنی دا ده چې خپل رب ﷻ ته عبادت وکړئ یعنې په فعل سره یې بلل وکړئ. همدې معنی ته د ﴿ خَوۡفًا وَطَمَعًا ﴾ کلمې هم اشاره کوي.

نو د دواړو حاصل یې داسې کېږي چې قولًا او عملًا د خپل رب ﷻ سره اخلاص پیدا کړئ.

## په دعاء کښې جهر بهتر دی او که خفیه؟

۲ـ که څه هم په دعاء (سوال کولو) کښې جهر او خفیه دواړه جواز لري، مګر په غوروالي کښې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بې اختلاف دی، البته هغه دعاګانې او اذکار د دې اختلاف څخه وتلي دي کوم چې جهر يې سنت وي، لکه تلبيه، اذان او داسې نور.

ځينې علماء کرام وايي چې که د ريا خوف موجود وه او يا نورو ذکر کوونکو يا لمونځ کوونکو ته د تشويش غورزېدلو خطر وه نو خفيه پټښې بهتره ده، او که د نورو خلکو تلقين او تعليم د نظر لاندې نيولی شوی وه او يا د غافلانو رابيدارول مطلب وه نو بيا جهر بهتر دی(۱)، البته دومره جهر چې ذکر شوي اغراض پرې تر لاسه شي او د چيغو اندازې ته ونه رسېږي.

مګر د احنافو ـعليهم الرحمةـ په نزد(۲) په اذکارو او دعاګانو کښې خفيه اصله او بهتره ده، ځکه چې:

الف: د زکريا ﷺ کومه دعاء چې الله ﷻ قبوله کړې او خوښه کړې وه هغه يې په خفيه سره توصيف کړې ده چې: ﴿ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ نِدَآءً خَفِيًّا ﴾ [مريم:۳] هغه وخت چې خپل رب ﷻ ته يې اواز وکړ پټ اواز. يعنې په زړه کښې او يا په داسې ځای کښې چې هلته تنها وه.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «خَيْرُ الذِكْرِ الْخَفِيُّ وَخَيْرُ الرِّزْقِ مَا يَكْفِي»(۳) يعنې: په ذکر کښې خفيه (پټ ذکر) غوره دی او په روزي کښې هغه روزي غوره ده کومه چې کفايت کوي.

ج: ابو موسى الاشعري ﷺ وايي چې مونږ د نبي کريم ﷺ سره په يوه سفر کښې ملګري وو نو مونږ به په ځينو مواقعو کښې په لوړ اواز باندې تکبيرونه ويل، نو نبي کريم ﷺ راته توصيه وکړه چې: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ فَإِنَّكُمْ لَا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا إِنَّهُ مَعَكُمْ إِنَّهُ سَمِيعٌ قَرِيبٌ»(۴) يعنې ای خلکو په خپلو ځانونو باندې لږ څه نرمي وکړئ (اوازونه مه پورته کوئ) ځکه چې تاسو خو نه د کوڼ بلنه کوئ او نه د غائب، يقيناً ستاسو بللی شوی (الله ﷻ) ستاسو سره دی (غائب نه دی، او) بې شکه ستاسو بللی شوی اورېدونکی او نژدې دی.

د: د سلفو صالحينو عادت وه چې الله ﷻ ته به يې په سوالونو کښې پوره جهد کاوه (خپل طاقتونه به يې پکښې په کار اچول) مګر چا به يې اواز نه اورېده صرف د دوی او د الله ﷻ ترمنځ به يو راز وه(۵).

که څوک ددې څخه اضافه تفصيل غواړي نو ځينو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي(۶).

## يادونه

۳ـ مونږ د الله ﷻ په توفيق سره د [البقرة:۱۸۶] آيت لاندې د دعاګانو او سوالونو په باره کښې

(۱) روح المعاني ج۸ ص۱۴۰
(۲) احکام القرآن للجصاص ج۲ ص۳۴
(۳) مسند أحمد بن حنبل ج۱ ص۳۶۴
(۴) صحيح البخاري ج۱ ص۴۲۰
(۵) الدر المنثور ج۳ ص۴۷۶
(۶) البحر المحيط ج۵ ص۶۹؛ تفسير القرطبي ج۷ ص۲۲۶

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بوره څېرنه کړې ده چې بیا څېړلو ته یې اړتیا نه کورو، یواځې په دعاء کښې د حد څخه د تېریدنې لاندې صورتونه پرې وراضافه کوو:

الف: په دعاء کښې دا! هم د حد څخه تېرېدنه ده چې بې ضرورته پرې اواز پورته کړي او چیغې ووهي[۱].

ب: دا هم د حد څخه تېرېدل دي چې مؤمنانو ته ناجائزې ښېراوې وکړي چې ای الله! په هغه او په دغه باندې لعنت وکړې[۲]، العیاذ بالله.

ج: دا هم د حد څخه تجاوز دی چې غیر مناسب او یا غیر ممکن شی وغواړي[۳] چې ای ربه! مانه د پیغمبرانو درجه راکړه او یا ما ژوندی اسمان ته پورته کړه!.

د: یو ډول اعتداء دا هم ګڼله کېږي چې په سوال کولو کښې تواضع ونه کړي او په تکبر (لوی کاری) سره سوال وکړي[۴].

## ایمان د خوف او رجا ترمنځ دی

۴_ د الله ﷻ د رحمت څخه نا امیده کېدل، چې په سړي باندې خوف (ډار) غلبه وکړي، کفر دی. او د الله ﷻ د عذاب څخه بالکل خپل ځان په امن کښې ګڼل، چې رجا (امید) وریاندې غالب شي، هم کفر دی.

عمر الفاروق ﷺ همدغه حالت څومره په ښه وجه تمثیل کړی دی چې:

که د قیامت په ورځ (بالفرض) اواز کوونکی اواز وکړي چې ټول دوزخ ته داخل شئ؛ مګر یو سړی نه، نو زه به اسید وکړم چې همدغه یو سړی به زه یم، او که اواز وکړي چې ټول جنت ته ننوځئ؛ مګر یو سړی نه، «لَخَشِیْتُ اَنْ اَکُوْنَ ذٰلِكَ الرَّجُل»[۵] نو زه به ډار شم چې همدغه یو سړی به زه یم.

مګر ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې باید په سړي باندې په روزمره ژوند کښې د خوف څنډه غالبه وي ترڅو د ګناهونو څخه د اجتناب باعث شي، او د مرګ په حالت کښې باید د سړي رجا (امید) اضافه وي ځکه چې د عمل میدان اختتام موندلی دی[۶].

## سوال جواب

۵_ که څوک وایي چې: نظر د عربیت قوانینو ته په کار وه چې د ﴿ قَرِيبٌ ﴾ د کلمې په عوض د "قَرِيبَة" کلمه نازله شوې وی، ترڅو د ﴿ رَحْمَتَ ﴾ د کلمې سره په تانیث کښې مطابقه شوې وی؟.

---

(۱) تفسیر الخازن ج۲ ص۵۶۸
(۲) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۶۶
(۳) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۲۳۲
(۴) زاد المسیر ج۳ ص۱۴۶
(۵) تفسیر المراغي ج۸ ص۱۵۹
(۶) المحرر الوجیز ج۷ ص۸۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


مونږ وايو چې مفسرينو کرامو د همدغه تطبيق په خاطر زښت ډېر جوابونه کړي دي چې تقريباً پنځلسو جوابونو ته رسيږي[۱] مګر مونږ د يوه جواب په ذکر اکتفاء کوو، هغه دا چې د ﴿ رَحۡمَتَ ﴾ کلمه مصدر ده او تانيث پکښې حقيقي نه دی نو ځکه د مطابقت مراعات د نظره غورزولی شوی دی. د دې نظير دا دی چې: ﴿ فَمَن جَآءَهُۥ مَوۡعِظَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ ﴾ [البقرة:۲۷۵] يعنې نو هرچا ته چې د خپل رب ﷻ د پلوه موعظه ورسيږي. د ﴿ مَوۡعِظَةٞ ﴾ په کلمه کښې تانيث حقيقي نه دی نو ځکه د ﴿ جَآءَهُۥ ﴾ په عوض "جَائَتْهُ" نه دی نازل کړی شوی.

﴿ وَهُوَ ٱلَّذِي يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشۡرَۢا بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَقَلَّتۡ سَحَابٗا ثِقَالٗا سُقۡنَٰهُ لِبَلَدٖ مَّيِّتٖ فَأَنزَلۡنَا بِهِ ٱلۡمَآءَ فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ مِن كُلِّ ٱلثَّمَرَٰتِۚ كَذَٰلِكَ نُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ۝٥٧ وَٱلۡبَلَدُ ٱلطَّيِّبُ يَخۡرُجُ نَبَاتُهُۥ بِإِذۡنِ رَبِّهِۦۖ وَٱلَّذِي خَبُثَ لَا يَخۡرُجُ إِلَّا نَكِدٗاۚ كَذَٰلِكَ نُصَرِّفُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَشۡكُرُونَ ۝٥٨ ﴾

[۵۷] او دا (ستاسو رب ﷻ) هغه اقدس ذات دی چې د خپل رحمت (باران) په وړاندې د بشارت (زيري ورکولو) دپاره بادونه لېږي (هوا ګانې چلوي)، آن تر دې چې کله بادونه (په باران باندې) درنه وريځ (سپکه) پورته کړي نو مونږ يې مړه ښار (وچ وطن) ته سوق کړو (بوزو) نو مونږ په همده (ښار باندې اوبه (باران) ورنازل کړو، نو په همدې (اوبو) سره (ترې) د هر ډول مېوجاتو څخه راوباسو.

د همدې (مېوجاتو د راويستلو) په شان مونږ (د قيامت په ورځ د قبرونو څخه) مړي هم را وباسو (او ژوندي کوو يې) شايد چې تاسو پند واخلئ.

[۵۸] او پاکيزه ښار (ځمکه) چې دی، شنيلی يې د خپل رب ﷻ په حکم (ښه) راووځي، او هغه (ځمکه) چې خبيثه وي (کلکه يا ښورچنه وي) شنيلی يې (ترې) نه راووځي مګر په داسې حال کښې چې خير پکښې نه وي (د چا په درد نه خوري او يا بالکل بوټی نه زرغونوي).

همدغه ډول مونږ ايتونه (دلائل) د داسې قوم دپاره (په بېلو-بېلو طريقو) اړوو راړوو چې دوی (د خپل رب ﷻ د نعمتونو) شکر کوي.

## ارتباط

په وړاندې ايتونو کښې الله ﷻ د خپلو قدرتي تصرفاتو څو مثالونه په علوياتو کښې بيان کړه د څو وصاياوو څخه وروسته په دې ايتونو کښې د کائنات الجو (هوايي شيانو) او هم د ځمکنيو تصرفاتو څو بېلګې ښودلې شوې دي چې مضمون يې داسې را اوځي:

(۱) روح المعاني ج۸ ص۱۴۱؛ البحر المحيط ج۵ ص۷۱؛ التفسير القيم لابن القيم ص۲۵۹_۲۷۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

ای بنیادمانو! خپل رب ﷻ وپیژنئ او د قدرت څو مثالونه یې په هوايي او ځمکني موجوداتو کښې واورئ:

۱ـ ستاسو رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د اسمان د طرفه یې درباندې خپل رحمت (باران) نازل کړی دی. ایا د ده ﷻ څخه په غیر بل څوک د اسمان څخه یو څاڅکی راتویولی شي؟

۲ـ د باران څخه وړاندې ستاسو د خوشالۍ او ستاسو د خبرتیا دپاره په هوا کښې بادونه چلوي. ایا د ده ﷻ څخه په غیر بل څوک هوا ته حرکت ورکولی شي او بادونه چلولی شي؟.

۳ـ د بادونو چلونه آن تر هغه جریان لري ترڅو چې هغه وریځې راپورته کړي کومې چې د باراني اوبو څخه ډکې وي او د تنونو تنونو وزن سره-سره په هوا کښې ولاړې وي او په ځمکه باندې نه راپرېوزي. ایا ستاسو د رب ﷻ څخه په غیر بل څوک ذکر شوي درانه وزن ته په هوا کښې توقف ورکولی شي؟.

۴ـ بیا مونږ (ستاسو رب ﷻ) ذکرې شوې د باران څخه ډکې وریځې ته د هغه ښار او وطن په لور حرکت ورکوو کوم چې وچ کلک پروت وي، چې نه پکښې اوبه بهېږي او نه پکښې د کومې مېوې درک لګېږي ته به وایې چې مړی دی او هیڅ ګټه ترې څوک نه شي اخستلی. ایا زمونږ څخه په غیر بل څوک ذکره شوې نقشه عملي کولی شي؟.

۵ـ نو بیا د باران څخه ډکه وریځ په مړه ښار او مړې بېدیا باندې اوروو چې ټولې لوړې ژورې یې خړوبه وو او وچ خوړونه یې په پراخه پیمانه اوبو سره جاري کوو. ایا زمونږ څخه په غیر دا کار د بل چا د وسې پوره دی؟.

۶ـ په همدغو اوبو سره په ځمکه کښې حرکت پیدا کوو او د ګېډې څخه یې د رنګارنګ ونو بوټو تېغونه راوباسو او د وخت په تېرېدو سره ترې مېوه لرونکې ونې جوړوو او ستاسو د استفادې دپاره ترې ډول-ډول مېوجات راوباسو، ایا زمونږ څخه په غیر بل څوک تاسو ته د خاورو څخه خوړې مېوې راویستلی شي؟.

۷ـ په یاد ولرئ! لکه څنګه چې مونږ مړه ځمکه را ژوندۍ کوو او نباتات ترې راوباسو همدارنګه به په ټاکلي وخت کښې مړي هم را ژوندي کړو، تاسو ته په کار دي چې عبرت ترې واخلئ او د بیرته راژوندي کولو څخه انکار ونه کړئ، دغه عبرت چندان لوی تفکر ته اړتیا نه لري بلکې په ادنی توجه باندې هم تاسو کولی شئ چې په زړه کښې یې کښېنوئ.

۸ـ ای بنیادمانو! په یاد ولرئ لکه څنګه چې مونږ ستاسو د مادي اړخ دپاره اسمانونه، ځمکې او بالآخره کائنات الجو (هوايي شیان) په کار اچولي دي همدارنګه مو ستاسو معنوي او روحي اړخ هم بې توجه نه دی پرېښی، عقلونه او حواس مو درکړي او پیغمبران علیهم السلام او کتابونه مو دراستولي دي. نو لکه څنګه چې ځمکه نظر مادي رحمت (باران) ته په دوه وو ګروپونو وېشله کېږي چې یوه

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


په تکویني امر سره ترې نباتات را زرغونېږي. او پاکیزه او حاصلناکه ځمکه ده چې د خپل رب ﷻ په تکویني امر سره ترې نباتات را زرغونېږي. او بله بنورچنه او بې کاره ځمکه ده چې د الهي رحمت (باران) څخه استفاده نه شي کولی او شنیلی نه راشین کوي مګر ناقص؛ چې پاڼې یې زېړې پېږې وي او بوټي یې کمزوري وي، او ځینې بنورچنې ځمکې لابالکل څه شی نه شي شین کولی او د یوه بوټي تبغ هم ترې نه شي راوتلی. همدارنګه نظر معنوي رحمت (الهي هدایت) ته تاسو هم په دوه وو ګروپونو باندې ویشلی شوي یاست: یوه ډله هغه خلک دي چې د الهي هدایت (قرآن) څخه استفاده کوي او د خپلو خانونو دپاره یې د دنیا او آخرت مشال جوړوي، او بله ډله مو په قرآن کریم باندې ایمان نه راوړي او عقیدهورباندې نه کوي بلکې د قرآن کریم د مزایاوو څخه بالکل بې برخې ده، چې د مشال کار ترې نه اخلي.

۹_ لنډه دا چې باران د الله ﷻ رحمت دی او په ټوله ځمکه باندې ورېږي مګر د ځمکې مختلفې برخې ترې د استعدادونو په تفاوت سره مختلفې استفادې کوي او یا د عدم استعداد دکبله ترې بې برخې پاتې کېږي.

همدارنګه قرآن کریم ټولو انسانانو ته وراستولی شوی دی او د ټولو دپاره زمینه برابره ده چې استفاده ترې وکړي، مګر دغه استفاده د استعدادونو په تفاوت سره تفاوت مومي؛ ځوک پرې عقیده کوي او د خپلو کړو وړو دپاره یې کرنلاره ګرځوي او ځینو چې خپل استعداد د خاورو سره برابر کړی دی او په زړونو باندې یې مهر وهل شوی دی هغوی ترې انکار کوي او د ګټو څخه یې محروم پاتې کېږي.

ای بنیادمانو! وګورئ چې څومره په تفصیل سره بیا-بیا مونږ تاسو ته خپل دلائل بیانوو او ایتونه درنازلوو، مګر ګټه ترې هغه قوم پورته کوي ځوک چې د نعمتونو او رحمتونو شکریه کوي.

## توضیحات

۱_ جمهور مفسرین کرام وایي چې د ﴿رَحۡمَتِهِۦ﴾ څخه په دې مقام کښې باران مراد دی[۱] لکه چې په همدې معنی باندې متباقي آیت شریف دلالت کوي.

## "اقلال" څه معنی؟

۲_ د ﴿أَقَلَّتۡ﴾ کلمه د "اقلال" څخه اخستله شوې ده، "اقلال" دې ته وایي چې سړی یو شی "قلیل" (سپک) وګڼي او زور یې ورباندې دپاسه شي[۲].

نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې کېږي چې الله ﷻ کمزورو بادونو ته دومره قوت وربښي چې په باران باندې ورته (ثقیله) وریځ هم سپکه او خفیفه ګرځي چې هر طرف ته یې زغلولی شي، لکه چې باد د مالوچو درانه بارونه روان کړي وي.

---

(۱) روح المعاني ج۸ ص۱۴۵
(۲) مفردات الراغب ص۴۲۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "نَكِدًا" معنی

۳_ د ﴿ نَكِدًا ﴾ کلمه د هغه شي نوم دی چې پلټونکي ته په ډېرې سختۍ سره لاس ته ورځي[۱] او یا هغه شی دی چې په هغه کښې څه خیر نه وي[۲]. نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د خبیثې او بنورچنې ځمکې څخه په باران سره څه شی نه زرغونېږي او که کوم بوټي پکښې زرغون شي (وټوکېږي) نو په هغه کښې هم څه خیر نه وي او چاته ترې څه ګټه نه رسېږي.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) وایي[۳] چې په دې آیت شریف کښې د مؤمن او کافر مثالونه بیان شوي دي چې حاصل یې داسې کېږي:

لکه څنګه چې ځمکه په نظر سره باران ته په دوه وو برخو وېشلې شوې ده: یوه برخه ښه ځمکه ده چې د کرهنې وړ او حاصلناکه وي، په باران باندې بوټي زرغونوي او انسانان او څاروي ترې استفاده کوي، او بله برخه هغه ده چې کلکه او بنورچنه وي چې هیڅ شی نه زرغونوي او د باران څخه هیڅ استفاده نه شي کولی، همدارنګه انسانان هم په نظر سره قرآن کریم ته (چې معنوي باران دی) په دوه وو ګروپونو وېشل کېږي چې ځینې پرې ایمان راوړي او د پلوشو څخه یې استفاده کوي او ځینې نور ترې انکار کوي او د ګټو څخه یې بې برخې پاتې کېږي.

## یادونه

۴_ په آیت شریف کښې ذکر شوی مثال نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې ډېر ښه شرحه کړی دی[۴] چې د مضمون خلاصه یې لاندې لوستلی شئ:

خلک قرآن کریم ته په نظر سره او ځمکه باران ته په نظر سره، هر یو په لاندې درېوو ګروپونو باندې وېشلی کېږي:

الف: یو ګروپ خلک هم په قرآن کریم باندې پخپله عمل کوي او هم نورو خلکو ته تعلیم کوي چې عمل پرې وکړي، همدارنګه ځینې ځمکې په باران سره ګلان او بوټي زرغونوي چې هم پرې پخپله ښه ښکاري او هم ترې انسانان او څاروي استفاده کوي.

ب: یو ګروپ خلک پخپله په قرآن کریم باندې عقیده نه لري، ترڅو په دنیا او آخرت کښې یې په درد باندې دوا شي، مګر نورو خلکو ته یې د تعلیم څخه ډډه نه کوي، لکه منافقان. همدارنګه کلکه ژوره ځمکه اوبه ساتي او ژوندي مخلوقات پرې خړوبېږي مګر څه بوټي موټي پکښې نه زرغونېږي چې خپله ورباندې ډولې ښکاره شي.

ج: یو ګروپ خلک نه په قرآن کریم باندې پخپله عقیده کوي چې ایمان پرې راوړي او نه نورو خلکو ته زمینه برابروي چې عقیده ورباندې وکړي؛ بلکې لا د نورو خلکو د عقیدې کولو مخه نیسي.

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۲۶
(۲) تفسیر الکشاف ج۱ ص۱۱۲؛ تفسیر القرطبي ج۷ ص۲۳۱
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۲۲
(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۱۸؛ صحیح مسلم ج۲ ص۲۴۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدارنګه کلکه هواره او یا ښورچنه ځمکه نه بوټي زرغونوي او نه پکښې اوبه ډنډېږي ترڅو خاروی ته په څړوبولو سره ګټه ورسوي.

﴿ لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٥٩﴾ قَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٦٠﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ لَيْسَ بِى ضَلَٰلَةٌ وَلَٰكِنِّى رَسُولٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦١﴾ أُبَلِّغُكُمْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّى وَأَنصَحُ لَكُمْ وَأَعْلَمُ مِنَ ٱللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٢﴾ أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوا۟ وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٦٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيْنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ فِى ٱلْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا عَمِينَ ﴿٦٤﴾ ﴾

[۵۹] یقیناً مونږ نوح علیه السلام خپل قوم ته استولی وه نو ورته وې ویل چې ای زما قومه! (صرف) د الله ﷻ عبادت وکړئ (ځکه چې) تاسو لره (په واقع کښې) د همده ﷻ څخه په غیر بل معبود نشته، بې شکه زه په تاسو باندې د لویې ورځې د عذاب څخه ډارېږم.

[۶۰] د ده د قوم څخه مشرانو (د نورو په وکالت) وویلې چې یقیناً مونږ هرومرو تا په ښکاره ګمراهۍ کښې ګورو (چې د پلرونو لاره دې پرېښې ده او د رسالت مدعي ګرځېدلی یې).

[۶۱] نوح علیه السلام وویلې چې ای زما قومه! په ما پورې هیڅ ډول ګمراهي نشته مګر زه د رب العالمین استولی شوی یم.

[۶۲] زه تاسو ته د خپل رب ﷻ پیغامونه دررسوم او زه ستاسو خیر غواړم او زه د الله ﷻ د پلوه په هغه شي باندې پوهیږم چې تاسو ورباندې نه پوهېږئ (چې د غېب خطر په لور روان یاست).

[۶۳] ایا (تاسو زما د رسالت څخه انکار کوئ؟) او د دې څخه په تعجب کښې یاست چې تاسو ته ستاسو د رب ﷻ د پلوه ستاسو د جملې څخه په یوه سړي باندې (چې تاسو ته یې صداقت ښه معلوم دی) څه پند (او نصیحت) درشي (د دې دپاره درواستولی شو) چې تاسو (د راتلونکي غېب خطر څخه) وډار کړي او (هم د دې دپاره چې) تاسو (د خپل رب ﷻ د مناهیوو څخه) پرهېز وکړئ او (هم د دې دپاره چې) شاید په تاسو باندې (د الله ﷻ د پلوه) مهرباني وکړی شي؟!.

[۶۴] نو (نتیجه دا شوه چې) دوی نوح علیه السلام ته د دروغو نسبت وکړ (چې پیغمبر نه یې)، نو مونږ ده ته او هغو کسانو ته چې د ده سره په بېړۍ کښې (سواره) وه نجات ورکړ، او هغه خلک مو (تول) غرق کړل چې (ده ته او) زمونږ ایتونو (او دلائلو) ته یې د دروغو نسبت کړی وه، بې شکه چې دوی (په زړونو باندې) ړوند قوم وه، (چې پوپنا کول ورته مناسب کار وه).

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباطونه

۱_ د سورت د پیل څخه د عقائدو اصول واضحه کړی شوه چې الله ﷻ واحد او لا شریک دی، د قیامت ورځ حقه ده او بالآخره جنت یا دوزخ حتمي دی. په دې ایتونو کښې د سورت د [۱۸۰] آیت د آخره پورې د څو پیغمبرانو علیهم السلام څه ناڅه حالات د لاندې مقاصدو دپاره واضحه شوي دي:

الف: د الله ﷻ د احکامو څخه یواځې د دې امت کافرانو سرغړونه نه ده کړې بلکې دا عادت آن د نوح ﷺ د امت څخه را پاتې دی، نو په کار دی چې نبي کریم ﷺ ـ په خپل وخت کښې ـ او نور اسلامي داعیان غمژن نه شي چې په مقابل کښې یې مقاومت کېږي.

ب: لکه څنګه چې پخواني کافر امتونه آخر د الله ﷻ د عذاب سره مخامخ شوه همدارنګه به د دې امت کافران هم د کیفیاتو په تفاوت سره د خپلو کړو وړو سزا وګوري، څکه چې د الله ﷻ انتقام وروسته کېږي مګر پرېښودل کېږي نه.

ج: ترڅو د دې زماني کافرانو ته یوه لویه غیبي معجزه وښودله شي چې نبي کریم ﷺ نه څه لوستي دي او نه یې د چا شاګردي کړې ده خو د دې سره‌سره پخواني تېر شوي حالات داسې په دقت سره بیانوي ته به وایې چې په ټولو واقعاتو کښې حاضر وه.

د: ترڅو دنیا ته څرګنده شي چې ټول پیغمبران علیهم السلام په اصولو او عقائدو کښې متحد دي او د دعوت په سلسله کښې د ټولو بلنې متشابه دي.

۲_ هلته الله ﷻ فرمایلي وه چې ﴿ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا ﴾ یعنې الله ﷻ څمکه د پیغمبرانو په دراستولو سره اصلاح کړې ده نو تاسو پکښې فساد مه کوئ او د الله ﷻ سره شریک مه دروئ. په دې ایتونو کښې د مفسدانو څو مثالونه ښودلی شوي دي.

۳_ هلته د مادي باران وضاحت شوی دی چې مړه څمکه وربادې را ژوندۍ کېږي، دلته د معنوي او روحي رحمتونو څو مثالونه ښودلی شوي دي، لکه نوح ﷺ او نور پیغمبران علیهم السلام، چې د کفر د مرګ څخه سړي ته نجات ورکوي.

۴_ هلته یې څمکه په نظر سره باران ته په دوه وو ګروپونو باندې وېشلې وه، او دلته عین وېش په انسانانو کښې تطبیق شوی دی چې ځینو په پیغمبرانو علیهم السلام باندې ایمان راوړی او ځینې خبیث خلک ترې محروم پاتې شوه.

۵_ بالآخره وراندې د اولني آدم (ﷺ) څه حالات بیان شوی وه او دلته د آدم ثاني (نوح ﷺ) څه حالات بیانېږي. نو خلاصه یې داسې راځېږي چې:

## د مطلب خلاصه

۱_ ای پیغمبره! د خپل امت د عبرت او د خپل خان د تسلی دپاره د څو پیغمبرانو علیهم السلام عبرتي قیصې په خلکو باندې قرائت کړه او د ټولو څخه وړاندې د نوح ﷺ د عبرت څخه ډک حالات بیان

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړه. چې يقيناً مونږ خپل قوم ته ذ يوه اولو العزم پيغمبر په صفت استولی وه چې د هغوی سره يې په دعوت کښې زښت ډېر تکاليف وګالل، چې څه کيفيت يې په لاندې سوال جواب کښې ښکاره کېږي:

نوح ؈: ای زما قومه! زما په تاسو باندې بده ورځ نه پېرزو کېږي او زما درباندې زړه ډېر سوزي نو خاص د الله ﷻ عبادت کوئ او بل شريک ورسره مه دروئ ځکه چې واقعاً تاسو بل حقيقي معبود نه لرئ، که نه نو زه په تاسو باندې د لوی ورځې : عذاب څخه ډارېږم چې په دنيا کښې به پوښنا شئ او د قيامت په ورځ به د دائمي عذاب سره مخامخ شئ.

د قوم مشران: ای نوحه! مونږ ته د توحيد وړانديز مه کوه مونږ تاته د ټول قوم په نمايندګۍ وايو چې ستا خبره د اعتماد وړ نه ده ځکه چې مونږ تا په ښکاره ګمراهۍ کښې ګورو. ايا دا ګمراهي نه ده چې ټول قوم په يوه لاره روان دی او ته بلې لارې ته دعوت چلوې؟

که بالفرض تا لاره نه وی خطا کړې نو په دغو نهه نيم سوه کاله کښې خو به تا څه ملګري پيدا کړي وی او څو نفرو خو به دې خبره منلې وی.

نوح ؈: ای زما قومه! په ما پورې په هيڅ ډول سره ګمراهي او خطايي تعلق نه دی نيولی. هو زه د رب العالمين لېږلی شوی يم، که دا درته لېونتوب او ګمراهي ښکاري نو دا بېله خبره ده. يا په بل عبارت: بې لارې به هغه څوک وي چې د رب العالمين په رالېږلي شوي بنده باندې د بې لارې سړي ګومان کوي.

ای زما قومه! تاسو په دې کښې خطا ياست چې ماته د خطا کار نسبت کوئ، ايا خطاکار او ګمراه سړی د خپل رب ﷻ پيغامونه راوړلی شي؟ ايا ګمراه سړی د خپل قوم د خير غوښتنه کولی شي؟ حال دا چې په ما کښې همدغه دواړه صفتونه شته؛ چې هم د خپل رب ﷻ پيغامونه تاسو ته دررسوم او هم ستاسو خير غواړم.

او په دې باندې علاوه، زه په هغه شي باندې پوهېږم چې تاسو ورباندې نه پوهېږئ، زه ګورم چې د الله ﷻ عذاب سات په سات تاسو ته درنژدې کېږي مګر تاسو ترې غافل ياست، زه پوهېږم چې الله ﷻ درباندې په غضب دی آخر به مو په دنيا کښې پوښنا کړي مګر تاسو پرې ځکه باور نه کوئ چې ستاسو څخه وړاندې کوم بل کافر قوم نه دی پوښنا شوی ترڅو تاسو ترې عبرت واخلئ، او هم به مو په آخرت کښې په ابدي دوزخ کښې واچوي مګر ستاسو پرې عقيده نشته.

ای زما قومه! تاسو ما ته ولې په غُصه ياست ما خو تاسو ته څه نا اشنا شی نه دی راوړی چې تاسو ورته په تعجب سره ګورئ، ايا دا عجيبه ده چې ستاسو د جملې څخه په يوه سړي باندې (چې د هغه ټول کړه وړه تاسو ته ښکاره دي او تاسو پوهېږئ چې هغه ستاسو خير غواړي) د الله ﷻ د پلوه تاسو ته څه پند او خير غوښتنه درولېږله شي ترڅو تاسو د ناکاره انجام څخه وډار کړي او ترڅو تاسو د باطلو عقائدو څخه ځانونه وساتئ او بالآخره د دې دپاره چې په تاسو باندې رحمت وکړی شي او خپل رب ﷻ درڅخه راضي شي. ايا دا عجيبه خبره ده، په دغو خبرو کښې تاسو ته کوم ضرر متوجه دی؟

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ولو اننا (٨) د ذکرو شوو تولو نصیحتونو سره‌سره د نوح ﷺ د قوم مشرانو او کشرانو په یوه خوله خپل پیغمبر دروغژن وباله او د ده په خبرو باندې یې څه باور ونه کړ بلکې خپلو کفریاتو ته یې ادامه ورکړه.

۲_ نو په نتیجه کښې مونږ نوح ﷺ او د ده د بېړۍ ملګرو ته نجات ورکړ او د دروغو نسبت کوونکي مو ټول غرق او پوپنا کړه، او دا ځکه چې د دوی زړونه ړانده وه، په نهه نیم سوه کاله کښې دوی بینا نه شوه، د ړندو سره همدغسې جزا مناسبه ده.

## توضیحات

۱_ د ادم ﷺ اولاده ترڅو سوو کلونو پورې ټول په یوه خوله مسلمانان وه او د ټولو خبره یوه وه، مګر بیا پکښې بوت پرستۍ رواج وموند او سره متفرق شوه. د بوت پرستۍ منشأ دا وه چې ځینې صالحان وفات شوه او خلکو د هغوی د یادښت دپاره د هغوی خیالي مجسمې او تصویرونه جوړ کړه چې د وخت په تېرېدلو سره همدغه مجسمې په بوتانو بدلې شوې او خلک یې په عبادت باندې مشغول شوه[1]. د همدې فاجعې د منځه وړلو دپاره نوح ﷺ د یو پیغمبر په صفت ور واستولی شو چې قیصې ته یې په ذکر شوو ایتونو کښې اشاره شوې ده.

۲_ څرنګه چې د نوح ﷺ قیصه، همدارنګه د نورو پیغمبرانو علیهم‌السلام قیصې، د قرآن کریم په یوه سورت کښې نه دي نازلې شوي بلکې د مقاماتو په تناسب سره په ډېرو سورتونو کښې ورته په مختلفو اسالیبو سره اشارې شوې دي، نو مونږ هم نه غواړو چې د مختلفو مقاماتو څخه یې یو ځای ته را غونډې کړو، مونږ غواړو چې ـ د الله ﷻ په توفیق ـ په هر مقام کښې یې هغه برخې شرحه کړو کومې چې د آیت شریف سره کلک اړوند لري، د همدې کبله د نوح ﷺ په ارتباط فقط لاندې ټکو ته اشاره کوو:

الف: نوح ﷺ ته په احادیثو کښې د "لومړني لېږلي شوي" لقب ورکړی شوی دی[2]، ځکه چې د ده څخه وړاندې پیغمبرانو، لکه ادم ﷺ، شیث ﷺ او داسې نورو، صرف د ښوونکو حیثیت درلود ځکه چې د بوت پرستۍ موجودیت نه وه، اما نوح ﷺ د ښوونې څخه علاوه د مشرکانو او کافرانو د شرک او کفر په مخنیوي کښې هم نه ستړې کېدونکی زیار ویستی دی.

ب: نوح ﷺ لومړنی پیغمبر دی چې په دنیا کښې یې په قوم باندې پوپنا کوونکی عذاب نازل شوی دی.

ج: نوح ﷺ لومړنی پیغمبر دی چې آن تر نهه نیم سوه (۹۵۰) کالو پورې یې د کفارو په مقابل کښې مقاومت کړی دی. ټول عمر یې د یو زرو څلورو سوو او پنځوسو (۱۴۵۰) کلونو په شاوخوا کښې وه چې د طوفان څخه وروسته هم دوه سوه او پنځوس (۲۵۰) کاله ژوندی وه[3].

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۲۳
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۶۸۵
(۳) روح المعاني ج۸ ص۱۴۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: نوموړی د اولو العزمو پیغمبرانو علیهم السلام څخه ـچې په [الشورى:۱۳] ایت کښې ورته اشاره شوې ده ـ لومړنی اولو العزم پیغمبر دی.

ه: بالآخره نوح ﷺ لومړنی پیغمبر دی چې د ده په زمانه کښې د خویندو او تروروګانو د نکاح تحریم نازل شو[١].

## مهتر لام څوک دی؟

۳ـ د افغانستان د لغمان په ولایت کښې یو پخوانی قبر د "مهترلام" په نامه باندې شهرت لري، خلک وایي چې دا د نوح ﷺ د پلار قبر دی. د نوح ﷺ د پلار نوم خو د تاریخ کتابونو "لمک بن متوشلخ" ښودلی دی، مګر دوی وایي چې د وخت په تېرېدنه باندې "لمک" په "لام" باندې بدل شوی دی او د "مهتر" کلمه ورسره د ا حترام دپاره زیاته شوې ده چې مهترلام ترې جوړ شوی دی.

مونږ وایو چې: نوح ﷺ خو په عراق کښې تېر شوی دی، غالبه دا ده چې پلار به یې هم هلته ښخ وي، په لغمان کښې یې په ثبوت باندې څه دلیل نشته محض د نامه یووالی د ثبوت دپاره دلیل نه شي جوړېدلی، اما دا احتمال هم شته چې د کوم سبب د کبله هلته دفن شوی وي، لکه د هجرت په دوران کښې چې د افغانستان خلک د دنیا په مختلفو مملکتونو کښې دفن شوه، الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: د "لکن" د کلمې څخه وروستـه کلام خو د هغې شبهې دپاره جواب وي کومه چې د وړاندیني کلام څخه راپورته شوې وي. نو پوښتنه دا ده چې د ﴿لَيْسَ بِي ضَلَٰلَةٌ﴾ څخه خو د عدم رسالت اشتباه نه پورته کېږي ترڅو ورته د ﴿وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ جمله جواب واقع شي؟

مونږ وایو چې: ذکره شوې اشتباه د وخت د کافرانو په نزد متحققه وه ځکه چې دوی ته ګمراهي او د رسالت دعوه کول لازم او ملزوم ښکارېده، نو کله چې نوح ﷺ د ضلالت څخه انکار وکړ څه لرې نه ده چې هغوی ته به دا اشتباه پیدا شوې وي چې د رسالت دعوه به یې هم پرېښي وي.

## په بېړۍ کښې څومره خلکو نجات وموند؟

۵ـ په دې خبره کښې اختلاف دی چې د نوح ﷺ سره څومره مسلمانانو په بېړۍ کښې نجات وموند؛ ځینې علماء کرام وایي چې لس (۱۰) کسان وه چې درې یې زامن وه (حام، سام، یافث) او پاتې نور خلک وه[٢]، او ځینو نورو نور عددونه په ګوته کړي دي[٣].

---

(١) تفسير القرطبي ج٧ ص٢٣٢
(٢) المحرر الوجيز ج٧ ص٨٩
(٣) تفسير المظهري ج٣ ص٣٦٩

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په روایت اتیا (۸۰) تنو په بېړۍ کښې نجات موندلی دی[۱].
په عربي ژبه کښې همدغه عدد ته "ثَمَانِين" وايي د همدې کبله د عراق په موصل کښې هغه ښار په "ثمانين" سره ونومول شو کوم چې د نجات څخه وروسته د بېړۍ مسلمانانو آباد کړ[۲].

مونږ وايو چې غالبه دا ده ـ والله ﷻ اعلم ـ چې د نوح ﷺ د درېوو زامنو څخه پرته نور نجات موندونکي به يا د نوح ﷺ لمسيان او کړوسيان وه او يا به د هغوی د نجات څخه وروسته نسل نه وي پاتې شوی، دا څکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَجَعَلْنَا ذُرِّيَّتَهُۥ هُمُ ٱلْبَاقِينَ ﴾ [الصافات:۷۷] يعنې د نجات څخه وروسته مونږ صرف د نوح ﷺ اولاده په ځمکه کښې باقي پرېښودله چې ټول خلک د همده ﷺ زوزات دي او بس. د همدې کبله نوح ﷺ ته د "آدَمُ الثَّانِي" لقب ورکړی شوی دی، په همدې مضمون باندې د "هُمْ" توری دلالت کوي چې په دغسې مواقعو کښې د حصر معنی ورکوي.

همدارنګه نبي کريم ﷺ په ذکر شوي ايت کښې د ﴿ ذُرِّيَّتَهُۥ ﴾ کلمه داسې تفسيره کړې ده چې: «حَامٌ وَسَامٌ وَيَافِثُ»[۳] يعنې د نوح ﷺ د زوزات نومونه حام، سام او يافث وه.

نو که زمونږ ذکر شوی استنباط درست وي نو د دنيا ټول انسانان د ادم ﷺ په زامنو کښې د قابيل اولاده دي. څکه چې نوح ﷺ د قابيل د اولادې څخه وه[۴].

﴿ وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۗ قَالَ يَـٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٦٥﴾
قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِى سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ
ٱلْكَـٰذِبِينَ ﴿٦٦﴾ قَالَ يَـٰقَوْمِ لَيْسَ بِى سَفَاهَةٌ وَلَـٰكِنِّى رَسُولٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٦٧﴾
أُبَلِّغُكُمْ رِسَـٰلَـٰتِ رَبِّى وَأَنَا۠ لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ ﴿٦٨﴾ أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ
عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ ۚ وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعْدِ قَوْمِ نُوحٍ وَزَادَكُمْ فِى
ٱلْخَلْقِ بَصْۜطَةً ۖ فَٱذْكُرُوٓا۟ ءَالَآءَ ٱللَّهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٦٩﴾ قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ ٱللَّهَ وَحْدَهُۥ
وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا ۖ فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿٧٠﴾ قَالَ قَدْ وَقَعَ
عَلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ ۖ أَتُجَـٰدِلُونَنِى فِىٓ أَسْمَآءٍ سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم مَّا

(۱) تفسير ابن کثير ج۲ ص۲۲۴
(۲) البحر المحيط ج۵ ص۸۵
(۳) جامع الترمذي ج۲ ۱۵۸
(۴) تفسير البغوي ج۲ ص۳۶۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نَزَّلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَٰنٍ ۚ فَٱنتَظِرُوٓاْ إِنِّى مَعَكُم مِّنَ ٱلْمُنتَظِرِينَ ﴿٧١﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا ۖ وَمَا كَانُواْ مُؤْمِنِينَ ﴿٧٢﴾

[۶۵] او (مونږ) عاد (نومي قوم) ته د دوی (نسبي) ورور هود ﷺ (وراستولی وه)، ده (ورته) وویلې چې ای زما قومه! (صرف) د الله ﷻ عبادت وکړئ تاسو لره د همده ﷻ څخه په غیر بل (واقعي) معبود نشته، نو ایا تاسو (د شریک درولو څخه) پرهېز نه کوئ؟!

[۶۶] نو د ده د قوم څخه (د نورو په نمایندګی) هغو مشرانو جواب ورکړ چې دوی (کلک) کافر وه (داسې جواب) چې یقیناً مونږ هرومرو تا په بې عقلۍ (ساده‌ګی) کښې ګورو او یقیناً مونږ په تا باندې اټکل کوو چې ته د دروغژنانو څخه یې.

[۶۷] هود ﷺ وویلې چې ای زما قومه! په ما پورې هیڅ ډول بې عقلي (ساده‌ګي) نشته، مګر زه د رب العالمین ﷻ د پلوه پیغام راوړونکی یم.

[۶۸] تاسو ته د خپل رب ﷻ پیغامونه در رسوم او زه ستاسو د پاره امانتګر خیرغوښتونکی یم.

[۶۹] ایا (تاسو زما څخه انکار کوئ!) او د دې خبرې څخه تعجب کوئ چې تاسو ته ستاسو د رب ﷻ د پلوه ستاسو د جملې څخه په یوه سړي باندې د دې د پاره پند (او نصیحت) درغی چې تاسو (د خپل رب ﷻ د عذابه) وډار کړي (ایا دا د تعجب خبره ده)؟!

(ای زما قومه!) او هغه وخت درپه زړه کړئ چې الله ﷻ تاسو (په ځمکه کښې) د نوح ﷺ د قوم څخه وروسته خلیفګان وګرځولئ (نو تاسو د هغوی څخه عبرت واخلئ)، او (هغه وخت هم چې) الله ﷻ ستاسو په پیدا ایښت کښې (په نورو باندې) پراخي (قوت او جسامت) زیات کړ، نو د الله ﷻ نعمتونه (په شکر سره) یاد کړئ شاید چې تاسو کامیاب شئ (او د نوح ﷺ د قوم په څېر پوپنا نه شئ).

[۷۰] دوی وویلې چې (ای هوده!) ایا ته مونږ ته د دې د پاره راغلی یې چې مونږ یواځې د یوه الله ﷻ عبادت وکړو، او هغه (معبودان) پرېږدو چې زمونږ پلرونو به یې عبادت کاوه؟! (دا کار مونږ هیڅکله نه کوو) نو هغه عذاب مونږ ته راوله (نازل کړه) په کوم باندې چې ته مونږ ته وعده راکوې (او مونږ پرې ډاروې، هله ژر کړه) که چرته ته د رښتیا ویونکو څخه یې (او دروغژن نه یې دا وکړه).

[۷۱] هود ﷺ وویلې چې بې شکه په تاسو باندې د خپل رب ﷻ د پلوه عذاب او غضب واقع شو، (په دې کښې خبره نشته خو زه تاسو ته فقط همدومره وایم چې) ایا تاسو زما سره په هغو نومونو کښې جګړه کوئ کوم چې (واقعیت نه لري او) فقط تاسو او ستاسو پلرونو (د معبودانو په نومونو باندې) نومولي دي (او هم) الله ﷻ د هغو په ثبوت باندې څه دلیل نه دی نازل کړی (که واقعیت یې درلودی نو په ما باندې به یې ضرور د هغو د ثبوت دلیل نازل کړی وی).

(او زما همدا وروستنۍ خبره ده نور) نو تاسو هم (د عذاب) انتظار وکړئ او زه هم (درته) د انتظار کوونکو څخه یم.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷۲] نو مونږ هود ﷺ او هغو کسانو ته چې د ده سره وه د خپله جانبه په لوی رحمت سره نجات ورکړ او د هغو خلکو بیخ مو پرې کړ (وویست) چې زمونږ ایتونو ته یې د دروغو نسبت کړی وه او په راتلونکې کښې هم) دوی ایمان راوړونکي نه وه (استعداد یې بالکل ختم شوی وه).

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې د نوح ﷺ د قوم برخلیک بیان شو چې په نتیجه کښې غرق شو، او په دې ایتونو کښې د هود ﷺ د قوم قیصې ته اشاره شوې ده چې د کفر او عناد په نتیجه کښې پوپنا شوه دا د دې دپاره چې د آخر الزمان پیغمبر ﷺ ټول امتیان ترې عبرت واخلي او په نتیجه کښې په لوی لاس خانونه د هلاکت کندې ته ور وانچوي.

## سوال جواب

که څوک وایي چې: د دې امت کافرانو ته خو د پوپنا کولو عذاب نه متوجه کېږي لکه څنګه چې د نوح ﷺ او د هود ﷺ دعوتي امتیانو څخه یو کافر هم ژوندی پاتې نه شو، نو پوښتنه دا ده چې د دې امنیت سره‌سره ایا دوی ته د پخوانیو کافرانو عبرتي قیصې ګټه رسوي؟

مونږ وایو چې:

۱ـ د دې امت کافران څکه د اجتماعي هلاکت څخه په امن کښې دی چې دا امت په کفر باندې اتفاق نه کوي او داسې حال په دوی باندې ـلله الحمدـ نه راځي چې ټول کافر شي. نبي کریم ﷺ فرمایي چې: «إِنَّ أُمَّتِي لَا تَجْتَمِعُ عَلَى ضَلَالَةٍ»[۱] یعنې: یقینًا زما امت په ګمراهۍ باندې نه راټولېږي.

که بالفرض دا امت د پخوانیو امتونو غوندې په اجتماعي توګه کفر ته لاس واچوي نو دوی به هم د پخوانیو قومونو د برخلیک سره مخامخ شي او ټول به پوپنا کېږي او قیامت به قائم شي.

۲ـ رښتیا ده چې الله ﷻ د دې امت بیخ نه وباسي لکه د پخوانیو زمانو ځینې قومونه یې چې د ځېرمې هلاک کړه، مګر د ډلو او اشخاصو په اعتبار سره خو د کافرانو هره یوه ډله او هر یو شخص په هر وخت کښې د خطر سره مخامخ دی، چې یا یې ځمکه کش کړي، یا وربانديې ډبرې ووربېږي، یا غرق شي او یا وربانديې زلزله مسلطه کړي. د ښه وضاحت دپاره لاندې دوه حدیثونه ولولئ:

الف: بي بي عائشه رضي الله عنها وایي چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «يَكُونُ فِي آخِرِ الْأُمَّةِ خَسْفٌ وَمَسْخٌ وَقَذْفٌ» یعنې د دې امت په اخر کښې به د ځمکې کشول او د ځېرو په بله اړول او (بالآخره) په ډبرو باندې ویشتل (چې د اسمانه پرې ووربېږي) واقع شي. ما وویلې: «يَا رَسُولَ اللهِ أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ» ای د الله رسوله! ایا مونږ به هلاکېږو حال دا چې په مونږ کښې به صالحان موجودیت ولري؟! نبي کریم ﷺ وفرمایل: «نَعَمْ إِذَا ظَهَرَ الْخُبْثُ»[۲] هو، کله چې (په تاسو کښې) پلیتي

(۱) سنن ابن ماجه ص۲۸۳

(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۴۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ډېره شي. يعنې بيا به د ګروپونو او اشخاصو په اعتبار سره ذکر شوي حالات هم پېښ شي.

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أَمَا يَخْشَى الَّذِي يَرْفَعُ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ أَنْ يُحَوِّلَ اللهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ»[1] يعنې: ايا هغه څوک چې د امام څخه وړاندې خپل سر (په رکوع يا سجده کښې) پورته کوي د دې څخه نه ډارېږي چې الله ﷻ به يې سر د خره سر جوړ کړي (او څېره به يې بدله کړي).

۳ـ په دې باندې علاوه، په دې زمانه کښې هم د جنايتونو په سبب زښت ډېر مصيبتونه صورت نيسي. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِي ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ ٱلَّذِي عَمِلُوا۟ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾ [الروم: ۴۱] يعنې د خلکو د جنايتونو د کبله په وچه او لمده کښې مصيبتونه د دې دپاره واقع کېږي او څرګندېږي ترڅو دوی د خپلو کړو وړو څه ناڅه نتيجه وڅکي شايد چې دوی د جنايتونو څخه بېرته تاو شي.

مثلاً چرته الوتکه راپرېوزي او ټولې سورلۍ يې وژلی کېږي، چرته زهرجن ګاز خوشې کېږي او د خلکو بېخ وباسي، چرته بېړۍ ډوبېږي، چرته خونړۍ کودتا پيل کېږي او ککرې پکښې خاورې کېږي او داسې نور، مګر خلک وايي چې دا د فلاني غلطي وه او يا هلته تخنيکي خرابي را منځ ته شوې وه او داسې نور. همدارنګه چرته سخته زلزله کېږي او ښارونه ورانوي، چرته د غرونو څخه اور شيندل کېږي او مخلوقات سوزي، چرته درياب طغيان کوي او ښارونه لاندې کوي او داسې نور، مګر خلک يې د خپل غفلت د کبله ساينس ته نسبتوي او زړونو ته تسله ورکوي او داسې نور. نو په کار دی چې په دې زمانه کښې هم د پخوانيو د واقعاتو څخه عبرت واخستل شي.

## د مطلب خلاصه

۱ـ يعنې: ای پيغمبره! خپل دعوتي امت ته د عاديانو قيصه ولوله چې دوی ته خپل پيغمبر (هود ؑ) څنګه دعوت ورکړ او د دوی غبرګون څه شی وه حال دا چې هود ؑ دوی ته د يوه خواخوږي ورور په توګه نصيحت وکړ او د نسب په اعتبار سره د دوی ورور هم وه او دوی ته يې صداقت او خواخوږي ښه معلومه هم وه.

هود ؑ: ای زما قومه (عزيزانو)! تاسو واقعًا د الله ﷻ څخه پرته بل حقيقي معبود نه لرئ نو د بوتانو څخه لاس واخلئ او همدغه حقيقي معبود ته رجوع وکړئ، ايا نو تاسو اوس هم د غيرالله د عبادت څخه پرهېز نه کوئ؟.

د قوم مشران: مونږ ته خو ته ډېر ساده سړی ښکارې، ايا د بوتانو پرېښودل سادګي نه ده؟ چې زمونږ پلرونه په همدې لاره باندې تېر شوي دي او ته پکښې خنډونه اچوې، ايا ته د خپلو پلرونو څخه هوښيار يې؟، که ته وايې چې همدغه لاره راته الله ﷻ راښودلې ده نو مونږ په دې باور نه شو کولی چې الله ﷻ دې يو انسان د شريعت د نماينده په توګه راواستوي، الله ﷻ په دغه کار باندې ولې پرښته نه ګمارله؟

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۹۶؛ صحيح مسلم ج۱ ص۱۸۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

لنده دا چې زمونږ په تا باندې یقین دی چې ته دروغژن یې خو تاته په مؤدبانه کلمو سره وایو چې زمونږ ګومان دی چې ته د پخوانیو دروغژنانو څخه یو دروغژن یې.

هود ﷺ: ای زما قومه! په ما پورې خو لږ بخری سادګي هم نه ده نښتې، تاسو ته خو پیغمبري او سادګي یو تربله لازم او ملزوم ښکاري مګر خبره داسې نه ده، زه ساده نه یم اما د رب العالمین ﷻ لېږلی شوی یم، د سادګۍ څخه بېزاره یم خو په رسالت کلک یم، البته تاسو سادګان یاست چې په پیغمبر باندې د ساده نوم ږدئ.

ای زما قومه! زه خو تاسو ته د خپل رب ﷻ د پلوه (چې ستاسو رب هم دی) پیغامونه دررسوم او ستاسو دپاره داسې خیر غوښتونکی سړي یم چې نه په کوم پیغام کښې خیانت کوم او نه په بل شي کښې د خیانت اراده کوم، بلکې امانت زما دائمي صفت دی.

ایا تاسو خپل انکار ته ادامه ورکوئ، او دا درته عجیبه ښکاري چې ستاسو د جملې څخه په یوه سړي باندې ستاسو د رب ﷻ د پلوه څه پند او نصیحت د دې دپاره دراستولی شوی دی چې تاسو د ناکاره انجام څخه وډار کړي؟! دا کار به په هغه وخت کښې عجیبه وی چې ذکر شوی پند یې تاسو ته د یوې پرښتې په لاس دراستولی وی، نو تاسو د دې خبرې حق درلود چې عجیبه ده چې مونږ انسانان یاستو او پیغمبر مو پرښته ده.

ای قومه! تاسو د نوح ﷺ د قوم څخه عبرت واخلئ، کله یې چې خپل پیغمبر ته همدغسې جوابونه ورکړه لکه څنګه یې چې تاسو ماته راکوئ، نو الله ﷻ هغوی پوپنا کړه او په ځای باندې یې تاسو په ځمکه کښې اباد کړئ، که تاسو همدغه خاصیت ته ادامه ورکړئ نو تاسو به هم هلاک کړي او په عوض به مو نور څوک ودروي او ځمکه به وروباندې اباده کړي.

ای قومه! دا ډېر لوی نعمت دی چې په تاسو باندې ځمکه اباده ده او د ډول-ډول نعمتونو څخه استفاده کوئ، د دې نعمت شکریه دا ده چې د الله ﷻ دراستولی شوی پیغمبر ومنئ او د شرک څخه لاس واخلئ؛ برسېره پر دې، تاسو ته الله ﷻ یو بل لوی نعمت هم درکړی دی چې په پیدایښت کښې یې درباندې ډېره پراخي کړې ده، چې بدنونه مو قوي او قدونه مو لوړ دي، درانه کارونه درته سپک دي او دښمن مو د مقابلې څخه عاجز دی، نو د دغو او داسې نورو نعمتونو شکریه وکړئ شاید چې په دنیا او آخرت کښې بریالي شئ، که نه نو عذاب ته منتظر اوسئ.

د قوم مشرانو د نورو په وکالت هود ﷺ ته جواب ورکړ او تعجب یې وکړ چې دا خو عجیبه کار دی چې مونږ یواځې د الله ﷻ عبادت وکړو او هغه بوتان ټول پرېږدو کوم چې زمونږ پلرونو به یې عبادت کاوه، مونږ خو د هغوی حلالي اولاده یاستو، مونږ به هیڅکله د هغوی کړنلاره پرېږدو، نو هغه عذاب راباندې نازل کړه چې ته وروباندې مونږ ډاروې او څه واقعیت نه لري، هله ژر شه راباندې نازل یې کړه که ته رښتیا ویونکی یې، او که نه نو مونږ ستا په دروغو باندې نه ډارېږو.

هود ﷺ: تاسو خو خپل مهربان رب ﷻ (چې د مهربانۍ د کبله یې درته لارښوونې وکړې)

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په غضب کړ، نو د خپل رب ﷻ عذاب او غضب داسې وګڼئ لکه دربانديې چې واقع شوی وي. څکه چې په وقوع کښې يې هيڅ شک شبهه نشته، ستاسو د کبر کاسه ډکه ده.

ای قومه ! په تاسو باندې به ولې د خپل رب ﷻ دپلوه غضب نه واقع کيږي چې تاسو د بل چا سره نه بلکې زما سره (چې د الله ﷻ پيغمبر يم) په هغو نومونو کښې جګړې کوئ کوم چې تاسو او ستاسو پلرونو صرف په خولو باندې ثابت کړي دي او واقعيت نه لري او الله ﷻ يې په ثبوت باندې کوم دليل نه دی نازل کړی. که بالفرض ستاسو دغو تش په نامه معبودانو څه واقعيت درلودی نو ضرور به ماته الله ﷻ په دې باره کښې هدايت کړی وی او ما به تاسو ته رسولې وی، او يا اقلاً د پخوانيو پيغمبرانو د پلوه به تاسو سره د ثبوت څه سند پاتې وی.

ای قومه! نو څرنګه چې تاسو د داسې شيانو په عبادت باندې کلک ياست چې نه پرې عقلي ثبوت لرئ او نه نقلي، نو د موعود عذاب انتظار وباسئ، زه هم همدې ته منتظر يم چې کله به دربانديې نازليږي، زما او ستاسو ترمنځ مباحثه نوره پای ته ورسيده او صرف وروستنی فيصلې ته به دواړه جانبه منتظر اوسو.

۲ـ نو ای پيغمبره! کله چې د هود ؑ او د ده د قوم خبره دغه حد ته ورسيده او د هر کلونه يې په همدغو ناندريو باندې تېر شوه‌نو مونږ هود ؑ او ورسره ملګرو (مؤمنانو) ته په خپل رحمت سره نجات ورکړ او د هغو خلکو بېخ او بنياد مو وويست چې زمونږ ايتونو ته يې په اوږدو عمرونو کښې د دروغو نسبت کړی وه.

په دوی باندې مو داسې باد ورنازل کړ چې اوه شپې او اته ورځې ورباندې وچلېده او ټول يې پوپنا کړه. او دا څکه چې دوی داسې قوم وه چې ايمان راوړونکي نه وه، خپل استعدادونه يې د خاورو سره برابر کړي وه؛ که بالفرض دوی مونږ ژوندي پرېښې وی هم، نه به يې ايمان راوړی وی او نه به يې د فاسق او فاجر څخه په غير بل څوک زېږولی وی.

## توضيحات

۱ـ لکه څنګه چې د ادم ؑ اولاده تر ډېرو کلونو پورې مسلمانان وه همدارنګه د ادم ثاني (نوح ؑ) اولاده هم تر ډېرو کلونو پورې په شريعت باندې برابر وه او عقيدوي انحراف پکښې نه وه. مګر د کلونو په تېرېدلو سره په دوی کښې هم د بوت پرستۍ مړ شوی اور بيا ولګېد او زوړ منحوس رواج بيا تازه شو. دغه رواج د عاد په قبيله کښې (چې د نوح ؑ د سام نومي زوی د اولادې څخه وه) اوج ته ورسېد، نو الله ﷻ دا ځل هود ؑ د همدې مرض د منځه وړلو دپاره ور واستاوه. هود ؑ د اوو پلرونو په توسط نوح ؑ ته رسيږي[۱].

داسې معلوميږي چې د بوت پرستۍ رواج څو کرته په دنيا کښې بروز کړی دی او الله ﷻ يې د

(۱) تفسير القرطبي ج۷ ص۲۳۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مخنیوي دپاره په زیات شمېر کښې پیغمبران علیهم السلام وراستولي دي، آن تردې چې ـ د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په روایت ـ په عربو کښې هم همغه بوتان یو ځل بیا معبود جوړ شوه د کومو چې د نوح ﷺ په زمانه کښې عبادت کېده[۱] چې دا ځل يې د مخنیوي دپاره آخر الزمان پیغمبر ﷺ راواستول شو.

## عادیان جسیم خلک وه

۲ـ الله ﷻ په دې جمله: ﴿وَزَادَكُمْ فِى ٱلْخَلْقِ بَصْۜطَةً﴾ کښې اشاره کوي چې عادیان قوي او غټ خلک وه، نو د غټوالي په اندازه کښې يې علماء کرام په لاندې دوه ګروپونو ویشلی شوي دي:

الف: د نوموړي قوم لوړ سړی سل ګزه وه او ټیټ سړی يې شپېته ګزه[۲]. او ځینو تفاسیرو لا په همدې باره کښې د غټوالي عجیبه مثالونه ښودلي دي[۳] که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

ب: عادیان د خپلې زمانې د خلکو او یا د نوح ﷺ د قومیانو په پرتله غټ-غټ وه. اما په افراطي غټوالي باندې يې نه عقلي دلیل شته او نه نقلي، بلکې ټول غرائب او عجائب چې د دوی په باره کښې لیکل شوي دي هغه عمومًا د اسرائیلیاتو څخه دي، باید چې فقط د رد دپاره رانقل کړی شي او بس، او خصوصًا لاندې دوه قیصې خو بالکل دروغې دي[۴]:

اول: د عادیانو څخه یو سړی وه چې عوج بن عنق نومېده، دغه دومره لوړ وه چې د دریاب څخه به يې ماهي په خپل لاس کښې پورته کړه او په لمر باندې به يې دوریت کولو څخه وروسته نوش جان کړ، او وربخ به يې فقط د ملا پورې رسېده او ملابند به ترې ورته جوړېده.

دوهم: د عاد یو زوی وه چې شداد نومېده (شداد بن عامر)، او په اته سوه (۸۰۰) کاله کښې يې د عدن په ببدیا کښې جنت جوړ کړی وه مګر نصیب يې پکښې نه وه او د داخلېدلو څخه وړاندې مړ شو.

## تبصره

۳ـ مونږ وایو چې د عادیانو په غټوالي باندې خو ډېر نصوص دلالت کوي، لاندې څو مثالونه يې ولولی:

الف: د آیت شریف ذکره شوې ټکړه چې اوس د بحث لاندې ده.

ب: ﴿كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ﴾ [الحاقة: ۷] یعنې کله چې په عادیانو باندې اوه ورځې او اته شپې د اندازې څخه وتلی تېز باد وچلېده نو دوی يې په ځمکه باندې داسې راغملولي وه، تا به ویل چې د خرماګانو زاړه ډډونه دي چې د بېخه وتلي پراته دي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۳۲
(۲) تفسیر القرطبي ج۷ ص۲۳۶
(۳) روح المعاني ج۸ ص۱۵۶
(۴) تفسیر القاسمي ج۷ ص۱۶۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: ﴿ ٱلَّتِى لَمۡ يُخۡلَقۡ مِثۡلُهَا فِى ٱلۡبِلَـٰدِ ﴾ [الفجر: ٨] يعني: د عاديانو قبيله هغه قبيله ده چې د دې غوندې غټ-غټ خلک د دوی څخه وړاندې په ټولو ښارونو کښې نه وه پیدا کړی شوي.

اما د غټوالي اندازه يې الله ﷻ په صراحت سره نه ده ذکره کړې، که بالفرض د اندازې ښودلو ته یې مونږ ضرورت درلودی نو رانازله کړې به يې وی چې دومره لوړ او دومره پلن وه. نو بهتره دا ده چې دغسې عجائبات پرته د شرعي دليل څخه رد نه کړو، ځکه چې الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی، او نه يې بدون د شرعي دليل څخه تصديق کړو، ځکه چې په دغسې موضوعاتو کښې عقل کار نه شي ورکولی، نو سکوت پکښې ډېر ښه دی.

## یادونه

د پخوانيو قومونو، خصوصًا د عاديانو، لکه څنګه چې بدنونه غټ او لوړ وه همدارنګه يې عمرونه هم اوږده وه. ځينې علماء کرام وايي چې په پخوانيو زمانو کښې داسې هم شوي دي چې څلور سوه کاله به تېر شوه او چا به د جنازې نوم نه اورېده[1] (چې فلاني يا فلانکۍ مړه شوې ده). او دا يې هم ليکلي دي چې ترهغه به څوک بلوغ ته نه رسېده ترڅو به چې يو سلو شل (١٢٠) کاله عمر ته ورسېده[2].

## د "أَلَآء" د کلمې تحليل

٣ـ د ﴿ ءَالَآءَ ﴾ کلمه د "إِلَيٌ" جمعه ده، لکه "ضِلَع" او "اضلاع"، يا "عِنَبٌ" او "أَعْنَاب"[3]. "إِلَيٌ" د نعمت په معنی دی. نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای عزيزانو! د الله ﷻ د نعمتونو شکريه وکړئ او پيغمبر يې ومنئ، چې نعمتونه مو نور هم اضافه کړي، ځکه چې په شکر سره نعمتونه زياتېږي او په ناشکرۍ سره د زوال سره مخامخ کېږي.

## یادونه

۴ـ څرنګه چې د هود ﷺ او د ده د قوم د قيصې جزئياتو ته د قرآن کريم په نورو سورتونو کښې ځای په ځای اشارې شوې دي نو مونږ يې هم اضافه بيان همغو ځايونو ته پرېږدو.

مونږ په دې مقام کښې همدا يوه خبره اضافه کوو چې کله د هود ﷺ قوم هلاک شو نو نوموړی پيغمبر ﷺ د خپلو مؤمنانو ملګرو سره د خپل اصلي ټاټوبي (يمن او حضرموت شاوخوا) څخه مکې معظمې ته تشريف يووړ، آن تر دې چې هلته په څلور سوه او دوه اويا (۴۷۲) کلنۍ عمر باندې وفات شو[4]. إنا لله وإنا إليه راجعون.

---

(١) الدر المنثور ج٣ ص۴٨۶
(٢) الدر المنثور ج٣ ص۵٣٢
(٣) تفسير الكشاف ج٢ ص١١٧
(۴) روح المعاني ج٨ ص١۶١

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا ۗ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ قَدْ
جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمْ ءَايَةً ۖ فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِىٓ أَرْضِ ٱللَّهِ ۖ
وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾ وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعْدِ
عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ ٱلْجِبَالَ بُيُوتًا ۖ
فَٱذْكُرُوٓا۟ ءَالَآءَ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٧٤﴾ قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ
ٱسْتَكْبَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ لِلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ لِمَنْ ءَامَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَٰلِحًا
مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِۦ ۚ قَالُوٓا۟ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلَ بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴿٧٥﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوٓا۟ إِنَّا
بِٱلَّذِىٓ ءَامَنتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ﴿٧٦﴾ فَعَقَرُوا۟ ٱلنَّاقَةَ وَعَتَوْا۟ عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوا۟ يَٰصَٰلِحُ
ٱئْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٧٧﴾ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا۟ فِى دَارِهِمْ
جَٰثِمِينَ ﴿٧٨﴾ فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰقَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّى وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَٰكِن
لَّا تُحِبُّونَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٧٩﴾﴾

[۷۳] او (مونږ) ثمودیانو ته د دوی (نسبي) ورور صالح ﷺ (وراستولی وه)، ده (ورته) وویلې چې ای زما قومه! (خاص) د الله ﷻ عبادت وکړئ، تاسو لره د همده ﷻ څخه په غیر بل (په حقه) معبود نشته. یقینًا تاسو ته ستاسو د رب ﷻ د پلوه (زما په رسالت) واضحه معجزې هم درغلې (درکړې شوي) دي، (او په دې باندې علاوه) دغه د الله ﷻ اوښه (هم) تاسو ته لویه معجزه ده (چې تاسو پخپله غوښتې وه) نو (عقیده پرې وکړئ او) پرې یې ږدئ چې د الله ﷻ په ځمکه کښې وڅري (واښه وخوري)، او هیڅ بدي ورته مه ورسوئ (که نه) نو تاسو به درد ناک عذاب ونیسي.

[۷۴] هغه وخت یاد کړئ چې الله ﷻ د عادیانو څخه وروسته تاسو خلیفه ګان جوړ کړئ او په ځمکه کښې یې (د هغوی څخه وروسته) ځای درکړ (او ځمکه یې درباندې اباده کړه آن تردې) چې د نرمو (او هوارو) ځمکو څخه مانۍ جوړوئ او په غرونو (ناهوارو ځمکو) کښې کورونه تراشئ (او سخې جوړوئ)، نو د الله ﷻ نعمتونه (په عقیدې او عمل سره) یاد کړئ او په ځمکه کښې د فساد اچولو په حال کښې حرکت مه کوئ (مفسدان مه جوړېږئ).

[۷۵] د ده ﷺ د قوم څخه هغو مشرانو چې تکبر به یې کاوه هغو خلکو ته وویلې چې کمزوري به

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېل کېده (یا په بل عبارت) هغه چاته چې د ثمودیانو د جملې څخه یې ایمان راوړی وه (داسې چې) ایا تاسو پوهېږئ چې صالح (ﷺ) د خپل رب د پلوه (مونږ ته) رالېږلی شوی دی؟

دوی (په جواب کښې) وویل چې (ولې نه پوهېږو) یقیناً مونږ په هغه شي باندې چې هغه پرې استولی شوی دی یقین کوونکي یاستو.

[۷۶] هغو خلکو چې تکبر یې کاوه (او لویي یې کوله، دوی ته) وویلې چې بې شکه مونږ په هغه شی باندې چې تاسو پرې ایمان راوړی دی کافران (بې عقیدې) یاستو.

[۷۷] نو دوی (ذکره شوې د معجزې) اوښه زخمي (او بیا مړه) کړه او د خپل رب ﷻ د فرمان څخه یې سرکشي وکړه او وې وویلې چې ای صالحه! مونږ ته هغه (عذاب) راوله (راوړه کوم) چې ته یې مونږ سره وعده کوې (او مونږ پرې ډاروې)، که ته (رښتیا) د پیغمبرانو څخه یې.

[۷۸] نو دوی لره زلزلې ونیوه چې په خپل کور (ښار) کښې په زنګنونو باندې پرېوتلي جوړ شوه (په مخونو باندې لوېدلي مړه شوه).

[۷۹] نو صالح ﷺ (د دوی د حالت د لیدلو څخه وروسته) د دوی څخه بېرته تاو شو او وېې ویل چې ای زما قومه! یقیناً ما خو تاسو ته د خپل رب ﷻ پیغام در ورساوه او نصیحت مې درته وکړ مګر تاسو خیر غوښتونکي نه خوښول (او نه به مو خوښ کړي وی که بالفرض تاسو ژوندي پاتې شوي وی).

## د مطلب خلاصه

یعنې: مونږ ثمودیانو ته، چې د دوهم عاد په نوم هم یادېږي، د دوی خواخوږی او زړه سواندی نسبي ورور صالح ﷺ وروا‌ستاوه چې د اولنیو عادیانو پېښې مه کوئ که نه نو د هغوی په سرنوشت به اخته شئ: د همدغې قیصې څیني عبرتي ټکي دا دي:

۱ـ صالح ﷺ دوی مخاطب کړه او په ډېره نرمه او خوږه ژبه یې ورته وویلې چې ای زما قومه! تاسو د الله ﷻ څخه په غیر بل حقیقي معبود نه لرئ نو د باطلو معبودانو (بوتانو) څخه لاس واخلئ او زما رسالت تسلیم کړئ.

۲ـ زما د رسالت د ثبوت دپاره تاسو ته همدا ستاسو د مهربان رب ﷻ د پلوه هغه معجزه هم را استولی شوې ده د کومې چې تاسو ماته فرمایش راکړی وه، او وعده مو کړې وه چې که دا معجزه مونږ ته راشي نو مونږ به ټول ایمان راوړو.

دغه ده همغه ستاسو فرمایشي معجزه چې د وچې کلکې ډبرې څخه همدا ستاسو د هدایت دپاره الله ﷻ اوښه را بهر کړه، د همدې کبله همدغه اوښه د ﴿ نَاقَةُ اللَّهِ ﴾ په نوم ملقبه شوه چې د الله ﷻ د قدرت یوه نمونه ده او د همده ﷻ څخه په غیر بل خاوند نه لري. که بالفرض دغه اوښه د قدرت غیبي ښه نه وی ضرور به یې کوم انسان ته نسبت شوی وی (چې د فلاني اوښه).

۳ـ تاسو د دغې اوښې احترام وکړئ، چې په خپلو خولو باندې مو غوښتې وه، او زما په رسالت

Downloded from: bawarketabtoon.com

باندې عقیده وکړئ. دغه اوښه عادي اوښه نه ده که تاسو دغې ته په سپک نظر وگورئ نو دردناک عذاب به مو محاصره کړي. د دغې اوښې احترام ښخه دا خبره هم ده چې د الله ﷻ په ځمکه کښې درته مخه خوشې کړئ چې خوري او څښکي او څه ضرر ورته مه رسوئ.

۴_ دا د یو پلوه، او د بله پلوه د الله ﷻ نعمتونه درپه زړه کړئ او د شکر په توګه یې پیغمبر رمنئ او عقیده وربانديې وکړئ. په تاسو باندې د الله ﷻ نعمتونه بې شمېره دي مګر دا مثالونه یې درپه یاد کړئ:

الف: الله ﷻ چې لومړني عادیان هلاک کړه نو تاسو یې د هغوی په ځای باندې ودرولئ، د هغوی قوت او شوکت یې تاسو ته درکړ او ځمکه یې درباندې اباده کړه.

ب: بلکې تاسو ته یې د هغوی څخه لا زیات قوت او مهارت درېبرزو کړ، د همدې کبله تاسو په هوارو ځمکو کښې دنګې او لوړې مانۍ جوړوئ، او په غرونو کښې هم کورونه جوړوئ چې ستاسو د اوږدو عمرونو سره ښه مناسب دي او ډېره زمانه دوام کوي.

۵_ نو د یو الله ﷻ نعمتونه په شکر سره یاد کړئ او په پیغمبر باندې یې عقیده وکړئ ترڅو درته نعمتونه نور هم اضافه کړي او په ځمکه کښې مفسدانه حرکت مه کوئ چې نه پخپله ایمان راوړئ او نه نور خلک ایمان راوړلو ته پرېږدئ، که تاسو همدغه چال چلند ته ادامه ورکړئ نو تاسو به هم د لومړنیو عادیانو د انجام سره مخامخ شئ او دا دنیا به الله ﷻ ستاسو په عوض په نورو خلکو باندې اباده کړي.

۶_ د قوم مشرانو او متکبرانو د دې سره-سره چې د صالح ﷺ نصائحو ته یې اعتنا ونه کړه، خپل مفسدانه حرکت یې نور هم تېز کړ او د قوم کمزوري خلک یې (چې په ایمان باندې مشرف شوي وه) مخاطب کړه چې ای غریبو خلکو! ایا تاسو پوهېږئ چې صالح ﷺ د خپل رب ﷻ دپلوه مونږ ته را استولی شوی دی؟ ایا تاسو زمونږ څخه هوښیار یاست چې دا حقیقت فقط همدا تاسو کشف کړی شو؟ تاسو په دې فکر کښې سخت خطا شوي یاست، او دا ځکه که بالفرض ذکر شوي رسالت حقیقت درلودی نو د هرچا څخه وړاندې به مونږ کشف کړی وی، مونږ خو په تاسو باندې د هرحیثه د پاسه یاستو.

۷_ مګر د دوی مفسدانه تحریک په کمزورو مؤمنانو باندې څه اثر ونه کړ او خپل ایمان یې یو ځل بیا تازه کړ، داسې چې: مونږ خو په هغه شي باندې معتقد یاستو په کوم شي چې صالح ﷺ د الله ﷻ دپلوه را استولی شوی دی؛ مونږ ستاسو په فریب باندې نه غولېږو.

۸_ مفسدانو او متکبرانو، مؤمنان مخاطب کړه چې مونږ خو ستاسو په معتقداتو باندې عقیده نه لرو (او ستاسو په اصطلاح مونږ خو کافر یاستو) مګر دا راته ووایاست چې ستاسو څخه څه جوړېږي، ایا زمونږ په مقابل کښې تاسو څه کولی شئ؟، دا دی مونږ ذکره شوې اوښه (چې صالح ﷺ یې د ناقة الله په نامه یادوي) زخمي کوو او بلکې وژنو یې، ایا تاسو هغې ته نجات ورکولی شئ؟.

۹_ ای پیغمبره! د صالح ﷺ د قوم تکبر او غرور اوج ته ورسېد، د خپل رب ﷻ د امر څخه یې

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مخالفت وکړ او بالآخره د معجزې اوښه یې د هرڅه څخه وړاندې زخمي کړه او بیا یې ووژله، او پرې یې نښودله چې د الله ﷻ په ځمکه کښې وڅري، واښه وخوري او اوبه وڅښکي.

۱۰_ بیا یې د غرور او تکبر څخه په ډکه لهجه باندې صالح علیه السلام مخاطب کړ چې ای صالحه! اوس نو هغه عذاب راباندې رانازل کړه په کوم باندې چې تا مونږه ډارولو، هله ژرشه د خپلې پیغمبرۍ اثبات دې وکړه. یا په بل عبارت، د خپلې پیغمبرۍ د اثبات دپاره دا ځل موعود عذاب نازل کړه، که دا کار دې وکړ نو ته به رښتینی پیغمبر یې.

۱۱_ صالح علیه السلام دوی ته وویلې چې زمونږ او ستاسو ترمنځ لانجه او سوال جواب ختم شو، فقط درې ورځې انتظار وباسئ نو کوم شی چې تاسو غواړئ هغه به درباندې درنازل شي.

۱۲_ درې ورځې وروسته الله ﷻ په دوی باندې زلزله ورنازله کړه او د دوی ښارونو ته یې ښه قوي جړق ورکړ، چې دوی ټول په خپلو کورونو کښې پړمخونه په زنګنونو مړه شوه او یوه ته هم دومره فرصت ورنه کړی شو چې اقلاً د خپلو کوره راووځي او ځان پوه کړي چې د دوی څه حال دی او د مسلمانانو څه حال؟

۱۳_ کله چې دوی ټول هلاک شوه او صالح علیه السلام ولیده چې ټول پړمخونه پراته دي او تکبر او غرور یې دخاورو سره برابر شو نو په دغه وخت کښې یې یو ځل بیا مخاطب کړه چې:

ای زما قومه! (چې ټول مړه پراته یاست او ټول په الهي عذاب باندې اخته یاست) زه خو په تاسو باندې د همدغې ورځې څخه ډارېدلم او ستاسو د همدغې ورځې غم مې کاوه چې تاسو مې د کفري عقیدې څخه ژغورلئ او نصیحت مې درته کاوه، ای زما قومه! ما خو _لله الحمد_ تاسو ته د خپل رب ﷻ پیغام دررساوه او ستاسو دپاره مې خیر وغوښت او ډېرې هلې ځلې مې وکړې، مګر تاسو خیر غوښتونکي نه خوښول او دا خاصیت مو په طبیعتونو کښې ایښودل شوی وه نو که بالفرض تاسو ژوندي پاتې شوي وی هم هغوی به مو نه وی خوښ کړي.

## توضیحات

۱_ مفسرینو کرامو د صالح علیه السلام د معجزې د اوښې په باره کښې ډېر اوږده بحثونه لیکلي دي، که د چا حوصله ورته نه تنګېږي نو هملته دې مراجعه وکړي[1]. مونږ فقط په لاندې معلوماتو باندې اکتفاء کوو:

الف: جمهور علماء کرام وایي چې ثمودیانو د صالح علیه السلام څخه معجزه وغوښتله او فرمایش یې ورکړ چې د دغې ښویه کلکې ډبرې څخه دې په سره غلانز اوښه راووځي چې د راوتلو سره سمه لنګه شي او جونګې وزېږوي.

ب: صالح علیه السلام د دوی څخه کلک عهد واخست چې که دا کار وشو نو تاسو به په ما باندې ایمان راوړئ؟ دوی قبوله کړه او د ایمان راوړلو وعدې یې ورسره وکړې.

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۷۵؛ تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۲۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ح: صالح ﷺ د دوه رکعته لمانځه څخه وروسته الله ﷻ ته سوال وکړ، هماغه وه چې په ګوته شوې ډبره په خوځښت او حرکت راغله لکه په کوم څاروي باندې چې د لنګوالي درد ورغلی وي، په نتيجه کښې د فرمايش په مطابق د ډبرې څخه اوښه را ووتله تا به ويل چې د لسو مياشتو بچی يې په ګېډه دی.

دغه اوښه بېره (مايه) اوښه وه چې ډېره غټه جوثه يې درلوده، حتی ځينې علماء کرام لا وايي چې برابر د سينې سور يې شپېته (۶۰) ګزه وه[1]، والله ﷻ اعلم.

د: ذکره شوې اوښه لنګه شوه او د خپل خان غونډې غټه لوړه جونګی يې وزېږوله.

هـ: د ذکرې شوې اوښې څخه د ثموديانو څاروي ډارېده، نه ورته په څړ ځای کښې ورنژدې کېده او نه په اوبه خور کښې د هغې څنګ ته ورتلای شوه.

و: ذکر شوې اوښې ډېر واښه خواره او ډېرې اوبه يې څښلې، په اوبو کښې به يې چې خوله ښکته کړه نو تر هغه به يې ترې نه پورته کوله ترڅو به چې په څاه يا چينه کښې اوبه نه وې وچې شوې.

ز: مګر په مقابل کښې يې دومره زيات شوده هم ورکول چې په اصطلاح د ټولو ثموديانو دپاره يې کفايت کاوه. يا په بل عبارت، د ذکرې شوې اوښې په ګېډه کښې څښکل شوې ټولې اوبه په شودو بدلېدلې.

ح: صالح ﷺ د همدغې اوښې او د ثموديانو د څارويو دپاره په اوبو باندې وار وتاړه؛ چې يوه ورځ به همدغه اوښه اوبه څښکې او بله ورځ به د ثموديانو څاروي څړوېږي.

ط: ثموديان د ذکرې شوې اوښې سره په تنګ شوه او د ټولو په مشوره باندې يې ورته يو بدبخت سړی د څو ملګرو سره وټاکه چې په نتيجه کښې يې اوښه زخمي او بيا يې ووژله.

ي: د اوښې جونګې د ذکرې شوې غدارې ډلې څخه وتښتېدله او د درېوو غرغړو څخه وروسته بېرته په همغې ډبره باندې ورننوتله او پکښې غيبه شوه د کومې څخه چې د مور په ګېډه کښې راوتلې وه[2]. بيا نو همغه پېښ شوه کومو ته چې الله ﷻ اراده کړې وه.

## ابو رغال څوک وه؟

۲ـ الله ﷻ ثموديان ټول هلاک کړه، د دوی وروستنی سړی چې هلاک شو "ابو رغال" نومېده، نوموړی د الهي عذاب د نزول په وخت کښې د مکې معظمې په حرم کښې وه او د حرم شريف په احترام ترهغه د عذاب لاندې رانغې ترڅو چې د حرم شريف څخه بهر شو.

د ده حال په لاندې حديث شريف کښې ډېر ښه واضحه شوی دی:

يوه ورځې نبي کريم ﷺ د طائف په لور روان وه چې په لاره کښې يې يوه قبر ته اشاره وکړه او ويې فرمايل چې دا د ابو رغال قبر دی، د دغه سړي څخه حرم شريف د عذاب مخه نيولې وه، کله چې د

---

(۱) البحر المحيط ج۵ ص۹۲

(۲) تفسير القرطبي ج۷ ص۲۴۱.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حرم شریف څخه بهر شو (او دغه مقام ته ورسېد) همغه عذاب ده ته هم ورسېده کوم چې ټولو ثمودیانو ته رسېدلی وه، نو مړ شو او په همدغه ځای کښې دفن کړی شو، د دغې خبرې نښه دا ده چې د ده سره د سرو زرو یوه لښته (یوه ټوټه) دفنه کړی شوې ده «إِنْ أَنْتُمْ نَبَشْتُمْ عَنْهُ أَصَبْتُمُوهُ مَعَهُ»[۱] یعنې که تاسو یې قبر راوسپړئ نو هغه به ورسره مونده کړئ. نو خلکو همدغه کار (قبر سپړلو) ته ورمنډې کړې او په چالاکۍ سره یې ترې د سرو زرو ټوټه راوویستله.

## ثمودیان په څه ډول عذاب هلاک شوه؟

۳ـ دثمودیانو پوپنا کوونکی عذاب په لاندې درې نومونو باندې یاد شوی دی:

الف: په همدې ایت کښې ترې په ﴿ٱلرَّجْفَةُ﴾ سره تعبیر شوی دی. "رجف" شدید او سخت اضطراب (وار خطا حرکت) ته ویل کېږي[۲]؛ نو که ځمکه د دغه ډول حرکت لاندې راشي زلزله ترې جوړېږي او که په دریاب باندې مسلط شي نو هغه ته طوفان وايي او که د انسان زړه ته دغه آفت متوجه شي نو په سکتې (زړه درېدلو) سره ترې تعبیر کوو.

ب: په بل ایت کښې نوموړی عذاب په "صَيْحَةٌ" سره تعبیر شوی دی. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَٰحِدَةً﴾ [القمر: ۳۱] یعنې: یقینًا مونږ په دوی (ثمودیانو) باندې یو اواز ورواستاوه.

ج: او په دریم آیت کښې ذکر شوي عذاب ته د "الطَّاغِيَة" لقب ورکړی شوی دی چې فرمايي: ﴿فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُواْ بِٱلطَّاغِيَةِ﴾ [الحاقة: ۵] یعنې: نو هر چې ثمودیان وه نو هغوی د حد څخه په وتلي آفت باندې هلاک کړی شوه.

## تبصره

۴ـ مونږ وايو چې څه لرې نه ده چې په ثمودیانو باندې الله ﷻ د پاسه تېز اواز مسلط کړی وي او د لاندې خوا څخه ورباندې شدیدې زلزلې صورت نیولی وي[۳]، او یا به د اواز څخه هغه اواز مطلب وي کوم چې د زلزلې سره عادةً ملګری وي مګر د دغې زلزلې سره به ډېر تېز اواز ملګری شوی وي.

اما "الطَّاغِيَة" خو د "طُغْيَان" څخه اخستله شوې ده او "طُغْيَان" د حد څخه تجاوز ته ویل کېږي چې "الصَّيْحَة، الرَّجْفَة" دواړو ته صفت واقع کېږي. نو د معنی حاصل به یې داسې راوځي چې: ثمودیان په سرکشه زلزلې او سرکشه اواز باندې هلاک کړی شوه، چې دواړو د عادي حد څخه تجاوز کړی وه.

## په یاد ولرئ!

۵ـ په یاد ولرئ چې د ﴿فَتَوَلَّىٰ﴾ د کلمې څخه معلومېږي چې صالح ﷺ د ثمودیانو سره د هغوی د هلاکت څخه وروسته ذکره شوې مخاطبه کړې ده، چې ما خو تاسو ته د الله ﷻ پیغام دررساوه.

(۱) سنن أبي داوُد ج۲ ص۸۴
(۲) مفردات الراغب ص۱۹۴
(۳) روح المعاني ج۸ ص۱۶۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه مخاطبه کښې مې هغې مخاطبې ته ورته ده چې نبي کريم ﷺ د بدر د غزا د پای ته رسیدو څخه وروسته د هغه ځاه په غاړه ودرېد په کوم کښې چې د مشرکانو مړي اچولی شوي وه او دوی یې مخاطب کړه چې ایا هغه څه مو حق وموندل چې الله ﷻ درسره وعده کړې وه؟.

نو چا ورته وویلې چې: ایا ته مړي (جواب ته) رابلې؟! نبي کريم ﷺ وفرمایل چې: «مَا أَنتُمْ بِأَسْمَعَ مِنْهُمْ وَلَكِنْ لَا يُجِيبُونَ»[۱] یعنې تاسو د دوی څخه ښه اورېدونکي نه یاست مګر دوی جواب نه کوي (په جواب کولو باندې قدرت نه لري).

## یادونه

۶ـ که د چا زړه غواړي چې د ثمودیانو اوږده قیصه ـ د پیل څخه تر پایه پورې ـ په یو ځل ولولي نو څینو اوږدو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[۲] چې دا کتاب یې د رانقلولو حوصله نه لري.

﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾ وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓا۟ أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ كَانَتْ مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿٨٣﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٨٤﴾﴾

[۸۰] او (مونږ) لوط عليه السلام (خپل قوم ته لیږلی وه)، هغه وخت چې خپل قوم ته یې وویلې چې ایا تاسو داسې بې شرمه کار ته ورتګ کوئ چې د ټولو عالمونو څخه هیڅوک دې کار ته ستاسو څخه نه دی ورمخکې شوی (هیچا ورته مخکې والی نه دی کړی).

[۸۱] (هغه دا چې) یقیناً تاسو د زنانه وو څخه په غیر سړیو (نارینه وو) ته (صرف) د شهوت دپاره ورتګ کوئ بلکې تاسو اسراف کوونکی قوم یاست (د حد څخه تجاوز ستاسو عادت دی).

[۸۲] او د ده د قوم جواب بل شی نه وه مګر دا چې دوی (خپلو لوېرانو ته) وویلې چې دوی د خپلې قریې (ښار) څخه وباسئ، بې شکه دوی (په خپل ګومان) داسې خلک دي چې پاکیزګي غواړي.

[۸۳] نو مونږ لوط عليه السلام او د ده کهول (ټبر) ته نجات ورکړ (د ښار څخه مو وویستل) مګر د ده ماندینې ته (مو نجات ورنه کړ ځکه چې) هغه (په ښار کښې) د پاتې کېدونکو څخه وه (او کافره وه).

[۸۴] او (د ده د ماندینې په شمول) مونږ په دوی (ټولو کافرانو باندې (د ډبرو) باران وکړ باران کول، نو وګوره چې د مجرمانو انجام څنګه شو (چې ټول پوپنا شوه).

---

(۱) صحیح البخاري ج۸ ص۱۸۳

(۲) تفسیر الخازن ج۲ ص۵۸۷؛ تفسیر القاسمي ج۷ ص۱۸۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د لوط ﷺ او ده د قوم قیصه بیانه شوې ده چې حاصل یې داسې راوځي:
مونږ لوط ﷺ خپل قوم ته د پیغمبر په حیث ولېږه ترڅو دوی ته په عقیدوي او عملي کارونو کښې هدایت ورکړي.
د لوط ﷺ عقیدوي دعوت او د قوم جواب په همغه شکل وه کوم چې د نوح ﷺ او د هود ﷺ په قیصو کښې وړاندې تېر شو؛ چې په عقیدوي انحراف باندې کلک شوه او د لوط ﷺ رسالت یې ونه مانه. اما عملي دعوت او د قوم جواب په لاندې ډول صورت ونیوه:

۱_ لوط ﷺ خپل قوم مخاطب کړ چې ای قومه! تاسو خو برسبره پر عقیدوي انحراف، په ډېر بې شرمه او بې حیا عمل باندې هم اخته یاست چې نارینه وو ته د شا دپلوه ورتلل کوئ، او په دې باندې علاوه تاسو داسې خلک یاست چې د همدغه بې شرمه عمل ډېره ایښودونکي یاست، نو ارتکاب یې یو جنایت دی او تاسیس یې بل جنایت.
عجیبه ده دا کار ستاسو څنګه زړه مني، دغسې کار خو ځاروي او ځناور هم نه کوي، تاسو خو د داسې بې شرمه عمل مرتکبین یاست چې ستاسو څخه په دې عمل کښې هیچا مخکې والی نه دی کړی، نه انسانانو او نه پیریانو.
الله ﷻ خو د نارینه وو په فطرت کښې زنانه وو ته میلان اغږلی دی، ایا تاسو د دغه فطري عادت څخه مخالفت کوئ او د زنانه وو څخه په غیر نارینه وو ته د شهوت د کبله ورنږدې کېږئ؟!
خبره دا ده چې تاسو مسرف (د حد څخه تجاوز کوونکي) خلک یاست چې حتی د شهوت په پوره کولو کښې هم په انساني چوکاټ باندې پښې ږدئ پاتې خو لا نور شیان.
۲_ ذکرشوی قوم په ذکر شوي بې شرمه کار باندې په دومره اندازې سره مین وه تردې چې لوط ﷺ ته یې په مقابل کښې بل جواب ورنه کړ بې د دې څخه چې یوې ډلې بلې ته امر وکړ چې د خپل کلي څخه یې وباسئ، مونږ د ده د خبرو د اورېدلو حوصله نه لرو او نه د ده سره سوال جواب ته حاضر یاستو، مونږ په څنګه د دوی سره په یوه قریه او یو ښار کښې ګذاره وکړو چې دوی (لوط ﷺ او د ده ملګري) داسې خلک دي چې مونږ ته ناپاکان وایي او زمونږ عمل پلیت ګڼي.
د دوی په ګومان زمونږ د پلیتانو د ښار څخه یې وباسئ چرته دې د پاکانو ښار ته لاړ شي.
لنډه دا چې په مسخره آمېزه توګه یې وویلې چې دوی پاکیزګي غوښتونکي خلک دي.
۳_ نو په نتیجه کښې مونږ لوط ﷺ ته او د ده ټولې کورنۍ ته نجات ورکړ، یوازې د ماندینې یې نجات په برخه نه شو، ځکه چې دا په هغه ډله کښې داخله وه کومه چې د ضلالت په لاره باندې روانه وه، دا هم د هغوی غوندې کافره وه.
۴_ نو په ذکر شوي بې شرمه کافر قوم باندې مو د اسمان څخه د ډبرو باران وکړ او ټول مو پوپنا کړ.
ای پیغمبره! وګوره چې د مجرمانو عاقبت څنګه شو، نو په کار دی چې ستا د زمانې مجرمان هم په خپلو ځانونو باندې ودار شي.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ لوط ﷺ د ابراهیم ﷺ وراره وه، کله چې دوی شام ته لاړه نو لوط ﷺ د "سدوم" او شاوخوا ښارونو ته د پیغمبر په صفت ورواستول شو ترڅو دوی سمې لارې ته راوارووي[1].

۲_ که څه هم ځینو مفسرینو کرامو د دې خبرې دپاره څه وجوه لیکلي دي چې د لوط ﷺ قوم ولې په ذکر شوي شنیع عمل باندې اخته شو[2] مګر مونږ ته د دغه عمل د ارتکاب وجه همغه ښکاري کومه چې د ﴿ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴾ د جملې څخه څرګندېږي. یعنې ذکر شوی قوم په هر شي کښې د حد څخه تجاوز کوونکی وه، حتی چې په قضای شهوت کښې هم د تجاوز مرتکب شوه او د زنانه وو څخه یې نارینه وو ته میلان زیات شو. بلکې دوی په همدغه اسراف کښې د بل اسراف مرتکب شوي وه، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: دوی په نوموړي بدکارۍ کښې نور تجاوز او اسراف هم وکړ چې د هلکانو په عوض یې د پوخ عمره سړیو سره هم مرتکب شوه. الله ﷻ چې د ﴿ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ ﴾ په عوض "إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الصِّبْيَانَ" نه دی نازل کړی شاید چې همدغې خبرې ته به اشاره وي، والله ﷻ اعلم.

ب: ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې ذکره شوې بدکارۍ په هغوی کښې عادي شی ګرځېدلې وه، حتی چې په نارینه وو باندې به یې نکاح تړله (واده به یې ورباندې جوړاوه). لنډه دا چې لکه څنګه به چې زنانه ودېدلې همدارنګه به نارینه هم ودېدل[3] او هیچا ته بد نه ښکارېده.

ج: کله چې دوی د لوط ﷺ په هغو مېلمنو باندې خبر شوه کوم چې د دوی د هلاکت دپاره د هلکانو په څېرو کښې ورغلي وه او په حقیقت کښې ملائک وه، نو په ډلېیزه توګه د لوط ﷺ کور ته وروځغلېده؛ زړو او ځوانانو ټولو هغې خوا ته وروځغاستل. الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ وَجَآءَهُۥ قَوْمُهُۥ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ ﴾ [هود:۷۸] یعنې او لوط ﷺ ته د ده قومیان په ځغاسته ورغله.

## سبحان الله

۳_ سبحان الله! د کوم شي څخه چې نبي کریم ﷺ ډارېده همغه شي د ده ﷺ په امت کښې تحقق وموند. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَى أُمَّتِي عَمَلُ قَوْمِ لُوطٍ»[4] یعنې: ډېر خطرناک شی چې زه ترې په خپل امت باندې ډارېږم هغه د لوط ﷺ د قوم عمل دی (چې دوی پرې اخته نه شي).

ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې په ځینو کفري دولتونو کښې، لکه انګلستان، د یوه نارینه بل نارینه ته نکاح کول رسمي او قانوني حیثیت لري چې نکاح خط یې په دفتر کښې ثبتېږي[5].

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۳۰
(۲) روح المعاني ج۸ ص۱۷۰
(۳) التفسیر الکبیر ج۱۴ ص۱۶۸
(۴) سنن ابن ماجه ص۱۸۴
(۵) کتاب الفقه علی المذاهب الأربعه ج۵ ص۱۴۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو


همدارنګه د مسلمانانو په ځینو وطنونو کښې، چې نوم يې نه اخلو، هم ذکرې شوې ناجائزې نکاح د ندرت په ډول سره صورت موندلی دی. فإنا لله وإنا إليه راجعون.

## ایا لواطت کوونکی په حد کېږي؟

۴_ د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه مذهب دا دی چې د ذکر شوي فاحش عمل مرتکب باید تعزیر شي، حد ورباندې نشته. که په تعزیر سره هم منعه نه شي نو باید چې اعدام شي.

د اما ابو حنيفه رحمة الله عليه دواړه ملګري (امام محمد او ابو يوسف عليهما الرحمة) وايي چې باید د ذکر شوي جنایت مرتکبین د زنا په حد باندې محدود شي. همدغه د ابو بکر الصديق ﷺ، علي ﷺ او د ډېرو نورو صحابه وو کرامو ﷺ نظر هم دی[1].

## د لوط ﷺ قوم په کوم ځای کښې تېر شوی دی؟

۵_ د لوط ﷺ قوم د فلسطین په شاوخوا کښې مېشت وه چې لوی ښار يې "سدوم" نومېده. کله چې هغوی هلاک او ښارونه يې وران شوه نو دریاب ورباندې وروخوت، چې همدغه دریاب د البحر الميت (مړ دریاب) په نوم او یا د لوط ﷺ د بحر په نامه یادېږي[2].

﴿ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ۗ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ فَأَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَٱلْمِيزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَٰحِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَلَا تَقْعُدُوا۟ بِكُلِّ صِرَٰطٍ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنْ ءَامَنَ بِهِۦ وَتَبْغُونَهَا عِوَجًا ۚ وَٱذْكُرُوٓا۟ إِذْ كُنتُمْ قَلِيلًا فَكَثَّرَكُمْ ۖ وَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٨٦﴾ وَإِن كَانَ طَآئِفَةٌ مِّنكُمْ ءَامَنُوا۟ بِٱلَّذِىٓ أُرْسِلْتُ بِهِۦ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوا۟ فَٱصْبِرُوا۟ حَتَّىٰ يَحْكُمَ ٱللَّهُ بَيْنَنَا ۚ وَهُوَ خَيْرُ ٱلْحَٰكِمِينَ ﴿٨٧﴾ ﴾

[۸۵] او (مونږ) د مدين ښار ته د دوی ورور شعیب ﷺ (لېږلی وه)، ده (ورته) وویلې چې ای زما قومه! تاسو (یوازې) د الله ﷻ عبادت وکړئ (ځکه چې) تاسو ته د ده ﷻ څخه په غیر (په حقه) بل معبود نشته (او) یقیناً تاسو ته د خپل رب ﷻ دپلوه واضحه دلیل (معجزه یا برهان هم) درغلی دی (چې زما صدق په ثبوت رسوي).

---

(۱) کتاب الفقه على المذاهب الأربعة ج۵ ص۱۴۱
(۲) تفسير القاسمي ج۷ ص۲۰۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



نو پيمانه او تله پوره کړئ او خلکو ته د هغوی شيان مه کموئ (هر شی چې وي) او په ځمکه کښې د دې د اصلاح څخه وروسته (چې زما په رسالت يې اصلاح کړې ده) فساد مه کوئ، دا (کارونه) ستاسو دپاره بهتر دي که چېرې تاسو ايمان راوړونکي ياست (چې په راتلونکي کښې مو ايمان راوړلو ته نيت وي).

[۸۶] او په هره لاره کښې مه کښېنئ چې خلک داروئ او د الله ﷻ د لارې څخه هغه څوک منعه کړئ چې هغوی وربانديې ايمان راوړي، او (هم د دې دپاره مه کښېنئ چې) د (د الله ﷻ لارې) ته کوږوالی لټوئ. او هغه وخت درپه زړه کړئ چې تاسو لږ وئ نو الله ﷻ ډېر کړئ (او قوت يې دروبانه)، او (هم) تاسو وګورئ چې د فساد کوونکو انجام څنګه شو (ترڅو ترې عبرت واخلئ).

[۸۷] او که ستاسو څخه يوه ډله (موجوده مسلمانان) په هغه شي بانديې ايمان راوړي چې زه پرې استول شوی يم (لکه چې ايمان يې راوړی دی) او يوه (بله) ډله (تاسو) ايمان را نه وړي (تاسو په خپل کفر بانديې کلک شئ) نو ترهغه صبر وکړئ (او منتظر اوسئ) چې زمونږ (د ټولو) ترمنځ الله ﷻ فيصله وکړي (او داسې عذاب نازل کړي چې تاسو پوښا کړي)، او همدی ﷻ د فيصله کوونکو بهتر (فيصله کوونکی) دی.

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د شعيب ﷺ او د ده د قوم (دعوتي امتيانو) حالات د عبرت اخستلو دپاره بيان شوي دي چې حاصل يې داسې راوځي:

مونږ د مدين ښار ته د دوی نسبي ورور (شعيب ﷺ) د پيغمبر په صفت وراستولی وه، چې ډېر نصيح او بليغ سړی وه، نو خپل قوم ته يې په لاندې ډول خطابه وکړه:

١_ ای زما قومه! زه تاسو ته د هر څه څخه وړاندې هغه خبره کوم کومه چې ټولو پيغمبرانو عليهم السلام خپلو خپلو امتونو ته کړې ده هغه دا چې د الله ﷻ سره شريکان مه دورئ او صرف (يوازې) د الله ﷻ عبادت وکړئ چې واقعاً تاسو بل حقيقي معبود نه لرئ.

٢_ بله دا چې زما رسالت قبول کړئ، ځکه چې زه تاسو ته په حقه ستاسو د رب ﷻ دپلوه دراستولی شوی يم او د ثبوت دپاره مې تاسو ته معجزات او ښکاره براهين هم ښودلي دي، چې تاسو ټولو ته څرګند دي او نومونو اخستلو ته يې حاجت نشته.

٣_ تاسو خو برسېره په عقيدوي انحراف، په اعمالو کښې هم منحرف ياست نو تاسو ته توصيه دا ده چې عملي انحراف هم اصلاح کړئ. د مثال په توګه:

الف: تاسو پيمانه او تله پوره کړئ او خلکو ته د هغوی شيان مه کموئ چې يا ډنډې ووهئ، يا سپک کاڼي د درانه په ځای استعمال کړئ او يا په پيمانه کولو کښې څه تګي برګي وکړئ او بالآخره يا په جوړه جاړه کښې د انصاف په توګه تول ونه کړئ او يا په تزکيه کښې د عدل څخه تېر شئ او داسې نور.

ب: لنډه دا چې په ځمکه کښې فساد مه کوئ او د چا په حقوقو پښې مه ږدئ، الله ﷻ د هرچا

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حقوق معلوم کړي دي، هرچا ته خپل حقوق ورکړئ، مه د چا په پوله پټي باندې تجاوز کوئ، مه د چا په ناموس باندې غرض کوئ، مه څوک په جنګ اچوئ او مه چاته سپکې سپورې خبرې کوئ او داسې نور.

ج: ای قومیانو! ستاسو عادت دی چې په هره لاره کښې کښېنئ، یا خلک داروئ او یا يې د الله ﷻ د لارې څخه اړوئ، نو دغه دواړه خویونه پرېږدئ، سه لارې شکوئ چې هیڅوک درڅخه په امن کښې نه شي تېرېدلی، او مه د خلکو مخه نیسئ چې ایمان راوړلو ته يې نه پرېږدئ، یا ورته د الله ﷻ په لاره کښې شک او شبهې وراچوئ او په لوی لاس سمه لاره کږوئ او یا په دې باره کښې د زور او ظلم څخه کار اخلئ: دغه دواړه عادتونه د شریفو خلکو عادتونه نه دي.

۴_ ای قومیانو! د الله ﷻ د نعمتونو شکریه وکړئ او په ما باندې ایمان راوړئ. دا څومره لوی نعمت دی چې ستاسو زوزات يې ډېر کړه او د ښمنان مو د مقابلې څخه عاجز دي، تاسو هغه وخت لږ درېه زړه کړئ چې ستاسو زوزات لږ وه او د کمزورۍ د کبله مو د دښمن مقابله نه شوه کولی، الله ﷻ خو تاسو بېرته هم کمزوري کولی شي اوهم مو بېخ او بنیاد ویستلی شي، تاسو خو د پخوانیو مفسدانو انجام وګورئ چې څنګه شو؟ تاسو ته خو د نوح ﷺ، هود ﷺ او لوط ﷺ د قومونو حالات بیان کړی شوي دي. نو فساد مه کوئ چې د هغوی د انجام په څېر به مو انجام شي.

۵_ ای قومیانو! زما وروستنۍ خبره تاسو ته دا ده چې که تاسو په همدغه حال باندې پاتې شئ په کوم باندې چې سمدستي یاست او د ایمان راوړونکي ډلې سره شامل نه شئ او په خپلو عنادونو باندې کلک ودرېږئ، نو دېته منتظر اوسئ چې زمونږ او ستاسو په منځکښې الله ﷻ فیصله وکړي. او همدی ﷻ بهتر فیصله کوونکی دی، امید دی چې مونږ ته نجات راکړي او تاسو په خپل غضب باندې اخته کړي.

## توضیحات

۱_ مدین د هغه ښار نوم دی کوم ته چې موسی ﷺ هلته د فرعون څخه ورتښتېدلی وه. مدین د ابراهیم ﷺ د یوه زوی نوم وه چې همدغه ښار د هغه په نامه باندې نومول شوی دی[۱].

په [الشعراء:۱۷۶] آیت کښې الله ﷻ فرمایلي دي چې: شعیب ﷺ (خطیب الانبیاء) د "الأیکة" په نوم یو ښار ته د پیغمبر په صفت استولی شوی وه. د همدې کبله د ځینو علماوو کرامو نظر دا دی چې د شعیب ﷺ په دعوت کښې دوه ښارونه شامل وه: یو "مَدیَن" چې دلته ذکر شوی دی او بل "الأیکة" چې هلته ورته اشاره شوې ده. خو ځینې مفسرین کرام وايي چې ذکر شوي دواړه نومونه د یوه ښار دپاره وضعه شوي دي چې کله په یوه نامه او کله په بل نامه یاد شوي دي، همدا (مصداقي اتحاد) ورته قوي ښکاره شوی دی[۲].

(۱) روح المعاني ج۸ ص۱۷۵
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۳۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته لومړنی نظر په زړه پوري برېښي او څه ضرورت نه ګورو چې په ترادف (مصداقي اتحاد) باندې قول وکړو.

## "بَيِّنَة" څه معنی؟

۲ـ د ﴿ بَيِّنَةٌ ﴾ کلمه د بيان څخه اخستله شوې ده او بيان وضاحت او څرګندونې ته وايي[۱]. نو کوم شی چې د بل شي په وضاحت باندې دلالت کوي، برابره خبره ده چې په سترګو باندې ليدل کېږي او که عقلي وي د نظر لاندې نه راځي، هغه ته د "بَيِّنَة" لقب ورکولی کېږي.

د همدې کبله نبي کريم ﷺ په خپله يوه خطابه کښې شاهدانو ته د "بَيِّنَة" لقب ورکړی دی چې: «اَلْبَيِّنَةُ عَلَى الْمُدَّعِي وَالْيَمِينُ عَلَى الْمُدَّعَى عَلَيْهِ»[۲] يعنې: شاهدان په دعوه کوونکي باندې دي او سوګند په دعوه کړی شوي دی. او همدارنګه د پيغمبر معجزه په "بَيِّنَة" باندې هم تعبيرېږي.

که څه هم په قرآن کريم کښې د شعيب ﷺ د معجزاتو نومونه نه دي اخستلی شوي، چې کومې-کومې معجزې به ورکړی شوي وي، مګر د هغه وخت خلکو ته معلومې وې، نو شعيب ﷺ ورته په خپله خطابه کښې د معجزو نوم ياد نه کړ خو محض د هغوی توجه يې ورجلبه کړه.

او دا هم څه لرې نه ده چې د ﴿ بَيِّنَةٌ ﴾ کلمه نورو دلائلو او براهينو ته هم شامله وي.

## په لاره کښې کښېناستل

۳ـ مفسرينو کرامو[۳] د ﴿ وَلَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ ﴾ د جملې دپاره ډېر تفسيرونه کړي دي، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: په لاره کښې د قطاع الطريق (لاره شکوونکو) په حيث مه کښېنئ.

ب: د دې دپاره لارې مه بندوئ چې د شعيب ﷺ ملاقات ته څوک ورنه شي.

ج: د لارو تېرېدونکو څخه باج مه اخلئ، د الله ﷻ لارې خلکو ته خوشې کړئ چې ځي راځي.

د: د الله ﷻ د شريعت لاره مه بندوئ چې خلک د دين څخه په شبهاتو او يا په زور باندې اړوئ، او يا څوک نه پرېږدئ چې په ايمان باندې مشرف شي.

مونږ ته داسې ښکاري چې دلته به ټرې ټولې معناوې مرادې وي. په همدې مطلب باندې د ﴿ بِكُلِّ صِرَاطٍ ﴾ کلمات دلالت کوي چې هرې لارې ته شاملېږي.

اتمه سپاره د الله ﷻ په توفيق سره ختمه شوه

۱۳۷۴/۷/۱۸ هـ ش

---

(۱) مفردات الراغب ص۶۷

(۲) جامع الترمذي ج۱ ص۲۴۹

(۳) تفسير القرطبي ج۷ ص۲۴۸؛ التفسير الكبير ج۱۴ ص۱۷۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ قَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسْتَكْبَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ لَنُخْرِجَنَّكَ يَٰشُعَيْبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَكَ مِن
قَرْيَتِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِى مِلَّتِنَا ۚ قَالَ أَوَلَوْ كُنَّا كَٰرِهِينَ ﴿٨٨﴾ قَدِ ٱفْتَرَيْنَا عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا إِنْ عُدْنَا
فِى مِلَّتِكُم بَعْدَ إِذْ نَجَّىٰنَا ٱللَّهُ مِنْهَا ۚ وَمَا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّعُودَ فِيهَآ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّنَا ۚ
وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ۚ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلْنَا ۚ رَبَّنَا ٱفْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِٱلْحَقِّ وَأَنتَ
خَيْرُ ٱلْفَٰتِحِينَ ﴿٨٩﴾ وَقَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَوْمِهِۦ لَئِنِ ٱتَّبَعْتُمْ شُعَيْبًا إِنَّكُمْ إِذًا
لَّخَٰسِرُونَ ﴿٩٠﴾ فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا۟ فِى دَارِهِمْ جَٰثِمِينَ ﴿٩١﴾ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟
شُعَيْبًا كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا۟ فِيهَا ۚ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ شُعَيْبًا كَانُوا۟ هُمُ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٩٢﴾ فَتَوَلَّىٰ
عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰقَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّى وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۖ فَكَيْفَ ءَاسَىٰ عَلَىٰ
قَوْمٍ كَٰفِرِينَ ﴿٩٣﴾ ﴾

[۸۸] د شعیب ﷺ د قوم څخه هغو مشرانو چې سرکشي (تکبر) یې کاوه وویلې چې: ای شعیبه! زمونږ دې سوګند وي چې هرو مرو به تا او هغه کسان چې ستا سره یې ایمان راوړی دی د خپلې قریې (ښار) څخه وباسو، او یا به هرو مرو تاسو زمونږ په مسلک کښې ورتاو شئ (هغه به بیرته قبول کړئ).

شعیب ﷺ وویلې چې: ایا (تاسو دا کار کوئ؟) اګر که مونږ (پرې) ناخوښه یاستو.

[۸۹] بې شکه مونږ به په الله ﷻ باندې (ستاسو غوندې) دروغ تړلې وي که (بالفرض) مونږ ستاسو په مسلک کښې د هغه څخه وروسته بیرته ورتاو شو چې الله ﷻ ترې مونږ ته نجات راکړی دی (او بچ یې ترې ساتلې یاستو).

او (برسیره په دې) مونږ ته د ا کار هیڅ نشته (لیاقت نه لري) چې ستاسو په مسلک کښې بېرته ورتاو شو، مګر هله که زمونږ رب الله ﷻ یې اراده وکړي، (ځکه چې) زمونږ رب ﷻ په هر شي باندې د علم (پوهې) د حیثه احاطه کړې ده.

مونږ خاص په الله ﷻ باندې توکل کوو (او همده ﷻ ته پنا وړو).

ای زمونږ ربه! زمونږ ترمنځ او زمونږ د قوم ترمنځ په حقه سره فیصله وکړې، او ته په فیصله کوونکو کښې بهتر فیصله کوونکی یې.

[۹۰] او د شعیب ﷺ د قوم څخه هغه مشرانو چې په کفر باندې کلک وه وویلې چې: (ای خلکو!

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که تاسو د شعیب ﷺ پیروي وکړئ نو یقینًا تاسو به په دغه وخت کښې زیان مونډونکي یاست.

[۹۱] نو دوی لره زلزلې ونیول نو په خپل کور (وطن) کښې په زنګنونو باندې پرېوتلي (مړه) جوړ شوه.

[۹۲] هغه کسان (پوپنا شوه) چې شعیب ﷺ ته به يې د دروغو نسبت کاوه (د وطن څخه به يې په ویستلو تهدیداوه).

(وطن ترې داسې خالي شو) لکه چې دوی پکښې بالکل اوږد ژوند نه وي تېر کړی (تابه ویل چې دا وطن د دوی نه وه بلکې د شعیب ﷺ وه).

هغه کسان چې شعیب ﷺ ته به يې د دروغو نسبت کاوه همغوی زیان کاران شوه (او مؤمنان کامیابان شوه).

[۹۳] نو شعیب ﷺ د دوی (د مړو) څخه مخ واړاوه او (ورته) ویې ویل: چې ای زما قومه! ما خو تاسو ته په یقیني توګه د خپل رب ﷻ پیغامونه ورسول او ستاسو دپاره مې د خیر غوښتنه وکړه (مګر تاسو ونه منله او کافر پاتې شوئ) نو زه به په کافر قوم باندې څنګه غمژن شم (او څنګه به پرې افسوس وکړم)؟.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د شعیب ﷺ او د ده د قوم پاتې قیصه ذکره شوېده چې په لاندې موادو کښې خلاصه کېږي:

۱ـ د شعیب ﷺ د بلیغې وینا په مقابل کښې د ده د قوم متکبرانو اخطار ورکړ چې (ای شعیبه!) که ته د خپلې ذکرې شوې کړنلارې (نصیحت) څخه لاس وانخلې نو زمونږ دې سوګند وي چې د لاندې دوه وو کارونه څخه به یو کار درسره وکړو:

الف: یا به تا او ستا ملګري د دې ښار څخه وباسو او هجرت ته به مو مجبور کړو.

ب: او یا به زمونږ دین ته بېرته ورتاوېږئ او څه چې مونږ کوو هغه به تاسو هم کوئ او کومه عقیده چې زمونږ ده په همغې عقیده باندې به تاسو هم معتقد کېږئ.

۲ـ شعیب ﷺ د دوی د اخطار په مقابل کښې په لاندې ټکو کښې جواب ورکړ:

الف: د وطنه (ښاره) څخه ویستل خو مونږ ته هېڅ اهمیت نه لري، ټوله دنیا زمونږ د رب ﷻ دنیا ده، په هرځای او هر وطن کښې چې مونږ اوسېږو هملته به د خپل رب ﷻ عبادت کوو. د همدې کبله مونږ د اخطار په اولنې جز کښې بالکل بحث نه کوو.

ب: اما د اخطار په دوهم جز کښې خو د هرڅه څخه وړاندې دا وایو چې مونږ خو هیڅکله ستاسو په دین باندې معتقد شوي نه یو، نه ما لارې شکولې دي، نه مې په څمکه کښې فساد کړی دی او بالآخره نه مې چرته پیمانه کمه کړې ده او نه مې ډنډۍ وهلې ده، همدارنګه زما ملګرو هم د هغه رخت څخه راپه دې خوا چې زما ملګرتیا يې اختیار کړې ده ذکر شوي کارونه یو هم نه دي کړي، نو

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو چې د ﴿ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا ﴾ جمله مونږ تولو ته استعمالوئ نو دا یو دروغ دي چې تاسو یې په مونږ باندې تړئ.

ج: یوه دین ته ور اوښتل خو د زړه کار دی، نو کله چې مونږ ستاسو د دین څخه نفرت کوو نو ایا تاسو کولی شئ چې خپل دین ته زمونږ په زړونو کښې ځای وکړئ؟

د: مونږ خو ستاسو د دین څخه نفرت کوو او نه مو خوښیږي، ځکه چې ستاسو دین په الله ﷻ باندې د دروغو تړلو څخه په غیر بل شی نه دی، نو که بالفرض مونږ ستاسو په خیال او ستاسو په الفاظو ستاسو دین ته درتاو شو نو مونږ به هم په الله ﷻ باندې دروغ تړلي وي لکه څنګه چې تاسو د دغه کار مرتکب شوي یاست چې د الله ﷻ سره په عبادت کښې بوتان شریکوئ.

هـ: الحمد لله مونږ ته خو الله ﷻ ستاسو د باطل دین څخه نجات راکړی دی او ترې پاک یې ساتلي یاستو، نو ایا مونږ ته مناسبه ده چې د الله ﷻ دغه لوی فضل ته شا کړو او ستاسو غوندې په مزخرفه عقیده کښې ورګډ شو؟

مونږ دغه کار هیڅکله نه کوو مګر دا بېله خبره ده چې زمونږ رب ﷻ راڅخه خپل فضل او توفیق بیرته واخلي او ستاسو غوندي بې توفیقه پاتې شو، زمونږ رب ﷻ خو په هرشي باندې پوه دی د توفیق د ورکولو او د بیرته د اخستلو ځایونه پیژني، نو امید دی چې زمونږ څخه به یې بیرته وانخلي.

و: مونږ په الله ﷻ باندې توکل او اعتماد کړی دی ستاسو د هیڅ ډول اخطار څخه نه داریږو، هرڅه چې زمونږ په مقابل کښې کولی شئ صرفه پرې مه کوئ.

۳ـ بیا نو شعیب ﷺ خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې: ای زمونږ ربه! د دغه کافر قوم کبر او عناد خو بالکل اوج ته رسېدلی دی او د ایمان راوړلو امید ورته نشته، د دوی ویناوې ته پخپله باندې اورې او کړه وړه یې پخپله باندې ګورې، نو ای ربه! زمونږ او د دوی په منځکښې حقه فیصله وکړې، ستا څخه بهتره فیصله بل څوک نه شي کولی.

۴ـ کله چې ذکر شوو متکبرانو د شعیب ﷺ بلیغه وینا واوریده او پوره باور یې راغی چې تهدید او اخطار ورباندې څه اثر نه کوي، نو دا ډار ورسره پیدا شو چې د مؤمنانو متانت او کلکوالی په عوامو باندې څه اثر وانچوي او نور خلک ایمان را نه وړي!

نو خپل پیروان یې مخاطب کړه چې: که بالفرض تاسو د شعیب ﷺ پیروي وکړئ او د هغه دین ته ور واوړئ نو په لوی لاس به ځانونه د زیان او خطر سره مخامخ کړئ چې یا به تاسو هم د وطنه وشړل شئ او یا به په زور سره بېرته خپل پلارني دین ته ورتاو کړی شئ او مونږ ته به ځانونه بې اعتماده کړئ.

متکبرانو په ذکره شوې وینا باندې د یو پلوه عوام وډار کړه چې د شعیب ﷺ پیروي ونه کړي او د بله پلوه یې د شعیب ﷺ پیرویان (مؤمنان) په غوږ ووهل چې تاسو خپل ځانونه په لوی لاس په خطر کښې اچولي دي نو د شعیب ﷺ د پیروۍ څخه ډډه وکړئ او ځانونه مه زیانمن کوئ.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵_ نو الله ﷻ د شعيب ﷺ سوال قبول کړ او داسې فيصله يې وکړه چې:

چې ځمکې ته يې د زلزلې يو جرق ورکړ چې د همدې يوه جرق سره ټول کافران پرمخونه په زنګونو باندې مړه ولوېده، نو کومې دوه خبرې چې دوی به پرې نورو ته اخطار ورکاوه هغه په دوی باندې پخپله تطبيق شوې، هغه دا چې:

الف: د وطن بلکې د ټولې ځمکې څخه دوی وشړل شوه تابه ويل چې دوی بالکل په خپل ښار يا ځمکه کښې نه دي اوسېدلي او هيڅ يې پکښې ژوند نه دی کړی.

ب: همدارنګه د تاوان سره هم دوی پخپله مخامخ شوه، چې په دنيا کښې يې ژوند ختم شو او په آخرت کښې د دوزخ د اور ابدي اوسيدونکي جوړ شوه.

۶_ په پای کښې شعيب ﷺ د دوی مړي مخاطب کړه چې: ای زما قومه! ما خو د خپلې وسې پورې ستاسو سره خواخوږي وکړه او د خپل رب ﷻ پيغامونه مې درته ورسول. يا په بل عبارت: ماخو ستاسو سره عزيزولي وباالله او د نجات لارې ته مې دعوت کړئ خو تاسو زما سره عزيزولي ونه کړه او ايمان مو راباندې رانه ووړ او په خپل کفر باندې کلک پاتې شوئ، نو اوس به زه ستاسو په حال باندې څنګه غمژن شم؟ زه خو به په هغه وخت کښې غمژن کېدلی چې ما ستاسو په خير غوښتنه کښې څه قصور کړی وی، ماخو ستاسو په خير غوښتنه کښې په هيڅ ډول قصور نه دی کړی.

## توضيحات

۱_ په دې مقام کښې يوه پوښتنه پيدا کېږي، هغه دا چې د ﴿ لَتَعُودُنَّ ﴾ کلمه د "عَوْد" څخه اشتقاقه شوې ده او "عَوْد" دې ته وايې چې سړی خپل پخواني حالت ته ورتاو شي (ور واوړي)، ته به وايې چې کفارو د شعيب ﷺ او د ده د ملګرو (مؤمنانو) څخه وغوښتل چې زمونږ په دين کښې داخل شئ لکه څنګه چې پخوا پکښې داخل وئ، حال دا چې پيغمبران عليهم‌السلام خو بالکل د ګناه څخه معصوم دي پاتې لا کفري عقيده؟

که څه هم مفسرينو کرامو د ذکرې شوې پوښتنې دپاره زښت ډېر جوابونه کړي دي[1]، که څوک يې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي، مګر مونږ وايو چې: د ذکرې شوې پوښتنې جوابولو ته به په هغه وخت کښې ضرورت وی چې د ﴿ لَتَعُودُنَّ ﴾ کلمې په استعمال کښې د وخت کافران رښتيني وی، حال دا چې هغوی په الله ﷻ باندې په دروغو تړلو کښې هيڅ دريغ نه وه کړی نو په شعيب ﷺ باندې به يې څه صرفه کړې وي. يا په بل عبارت: الله ﷻ مونږ ته د هغوی د خولو خبره راحکايت کړه چې شعيب ﷺ ته يې تهمت آميزه جمله ﴿ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَا ﴾ استعماله کړه او تهمت يې ورباندې ولګاوه چې د رسالت د دعوې څخه وړاندې ته هم زمونږ په کفري مسلک باندې معتقد وې نو همغه مسلک ته د خپلو ملګرو په شمول بيرته ورتاو شه.

---

(۱) تفسير القاسمي ج۷ ص۲۱۱: التفسير الكبير ج۱۴ ص۱۷۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکن شو


## سوال جواب

۲_ که څوک وايي: که دغه جواب درست وی نو شعيب ﷺ به د هرڅه وړاندې د خپل ځان څخه تهمت رد کړی وی چې زه خو ستاسو په کفري مسلک باندې هيڅکله نه يم معتقد شوی؟

مونږ وايو چې: شعيب ﷺ ځکه د هغوی د ضمني تهمت څخه سکوت وکړ ترڅو پرې خپل وخت ضائع نه کړي او هغوی ته د دعوت د نه قبلولو بهانه په لاس ورنه کړي.

د همدې کبله يې په خپلو جوابي خبرو کښې د ﴿إِنْ عُدْنَا﴾، ﴿أَن نَّعُودَ﴾ کلمې استعمالې کړې چې دواړه د هغه مصدر "عَوْدْ" څخه اشتقاقي شوې دي د کوم څخه چې د کافرانو تهمتي جمله ﴿لَتَعُودُنَّ﴾ اشتقاقه شوې ده، او بيايې همدغه مضمون د ﴿بَعْدَ إِذْ نَجَّنَا ٱللَّهُ مِنْهَا﴾ په جمله باندې تائيد کړ.

نو د معنی حاصل يې داسې کېږي چې: ای کافرانو! مونږ په هغه صورت کښې هم ستاسو مسلک ته نه ورتاوېږو چې په فرض محال سره مونږ ورباندې پخوا عقيده درلوده او بيا ترې الله ﷻ په خپل فضل سره نجات راکړ، نو په دې صورت کښې به څنګه ورتاو شو چې الله ﷻ ترې د پخوا څخه پچ ساتلي ياستو او ورباندې هيڅ ملوث شوي نه يو.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وايي چې: د شعيب ﷺ جواب خو وړاندې تمام شو چې مونږ ستاسو دين ته نه دراوړو؛ نو پوښتنه دا ده چې د دې جملې ﴿وَمَا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّعُودَ فِيهَآ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّنَا﴾ په زيادت کښې څه حکمت وه؟

مونږ وايو چې: شايد په ذکر شوي زيادت کښې به لاندې نکاتو ته اشاره شوې وي، والله اعلم:

الف: ترڅو الله ﷻ ته په خپله تواضع او عبوديت باندې اقرار وکړي چې په دين باندې کلک پاتې کېدل زمونږ توانايي او مېړانه نه ده بلکې دا د الله ﷻ په فضل پورې ارتباط لري.

د شعيب ﷺ ذکره شوې جمله کټ مټ د نبي کريم ﷺ هغې جملې ته ورته ده په کومې سره به يې چې د الله ﷻ څخه ډېر سوال کاوه چې: «يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوبِ ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ»[1] يعني: ای د زړونو تاوونکيه! زما زړه ستا په دين باندې کلک پاتې کړې.

ب: ترڅو کافران په غوږ باندې ووهي چې ستاسو دين ته زمونږ ورواوښتل نه واقع کېدونکی کار دی، دا ځکه چې مونږ خو په خپله اراده نه وراوړو، نو د وراوښتلو بله لاره نه ده پاتې بې د دې څخه چې الله ﷻ زمونږ د ضلالت اراده وکړي، او ستاسو دين ته مو په زور ورواړوي، او زمونږ اميد دی چې الله ﷻ به هم زمونږ په هکله دغسې اراده ونه کړي ځکه چې همده ﷻ ترې مونږ ته نجات راکړی دی او همدی ﷻ زمونږ مهربان رب دی.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۳۶

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د شعیب ﷺ په قوم عذاب

۴_ د شعیب ﷺ د قوم د عذاب څخه په قرآن کریم کښې په لاندې دریوکلماتو باندې تعبیر شوی دی:

الف: ﴿ٱلرَّجۡفَةُ﴾، چې د زلزلې او د ځمکې د جړق معنی ورکوي، لکه څنګه چې په همدې ځای کښې ذکره ده.

ب: ﴿ٱلصَّيۡحَةُ﴾، چې د جبرائیل ﷺ د هیبت ناکې چیغې څخه عبارت ده[۱]، الله ﷻ فرمایي چې: ﴿وَأَخَذَتِ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ﴾ [هود: ۹۴] یعنې: (مونږ شعیب ﷺ او مؤمنانو ته نجات ورکړ) او هغه کسان چې ظلم یې کړی وه (هیبت ناکې) چیغې ونیول (او هلاک شول).

ج: ﴿عَذَابُ يَوۡمِ ٱلظُّلَّةِ﴾، الله ﷻ فرمایي چې: ﴿فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمۡ عَذَابُ يَوۡمِ ٱلظُّلَّةِ﴾ [الشعراء: ۱۸۹] یعنې: نو دوی شعیب ﷺ ته د دروغو نسبت وکړ، نو دوی لره د سوري د ورځې عذاب ونیول (او هلاک شول).

ځینې علماء کرام وایي چې: شعیب ﷺ دوه وو ښارونو ته استولی شوی وه چې یو "مدین" نومیده او د بل "الأیکة" نوم وه، نو د "مدین" ښاریان په چیغه او زلزله باندې هلاک شوي دي او د "الأیکة" کافران د سوري د ورځې په عذاب باندې پوپنا شوي دي[۲].

او ځینې نور علماء کرام وایي: چې مَدیَن او الأیکة د یوه وطن نومونه دي[۳]، او څه لرې نه ده چې "الأیکة" یې د پلازمېنې نوم وي، دوی وایي چې په ذکرو شوو کافرانو باندې درېواړه عذابونه په لاندې کیفیت سره ورنازل شوي دي چې:

کله چې د شعیب ﷺ د قوم د هلاکت وخت وررسېده نو الله ﷻ په دوی باندې ډېره سخته ګرمي ورمسلطه کړه چې د دوی تنفسونه یې وربند کړه او نه ورته اوبو او نه سیوري څه ګټه رسولی شوه.

نو دوی د خپلو کورونو څخه ډاګ (بیدیا) ته وتښتېدل، نلته الله ﷻ دوی ته یوه وریځ پیدا کړه چې ښه سړه هوا ترې لاندې چلېده، نو یو تربله یې سره ناره کړه چې هلئ دلته خانونه راورسوئ، آن تردې چې ټول د ذکرې شوې وریځې د سوري څخه لاندې په دمه شوه او لږ څه ساګانې یې واخستې. په عین وخت کښې په دوی باندې ذکر شوی سوړ سوری اور وګرځیده او د ملخانو په شان یې کباب کړه[۴].

دا وه د سوري د ورځې عذاب، مګر د دې سره‌سره وریاندې ځمکه په زلزله شوه او ښه قوي جړق یې ورکړ او جبرائیل ﷺ پرې هیبتي چیغه هم وکړه[۵]، که څه هم د هلاکت دپاره یې یوه ډول عذاب

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۲ ص۲۵۲

(۲) المحرر الوجیز ج۷ ص۱۱۴

(۳) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۳۱؛ اضواء البیان ج۲ ص۲۹۳

(۴) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۸۲

(۵) تفسیر ابن کثیر ج۲ ص۲۳۲

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هم کفایت کاوه مکر الله ﷻ ورباندې د دوی د توهین او د نورو د عبرت دپاره دربواره عذابونه ورنازل کړه. فاعوذ بالله من غضب الجبار ومن عذاب النار.

مونږ ته دا غوره برېښي چې د شعیب ﷺ په قوم باندې به دربواره عذابونه په ذکر شوي تفصیل سره ورنازل شوي وي نو په یوه آیت کښې به د یوه عذاب ذکرشوی وي او په بل آیت کښې به د بل عذاب ذکر شوی وي، خو دا راته غوره نه ښکاري چې مدین او الایکه به (دواړه) د یوه وطن نومونه وي، او نه څه ضرورت شته چې په یووالي باندې یې وینا وکړو.

په همدې موضوع کښې -إن شاء الله ﷻ- د [الشعراء: ۱۸۹] آیت لاندې څه نور وضاحت هم راروان دی.

## غني څه معنی؟

۵- د ﴿لَّمْ يَغْنَوْاْ﴾ کلمه- "غِنِي" څخه اخستله شوې ده. "غِنِي" بې پروا کېدلو ته وایي[1] نو څرنګه چې په دې مقام کښې یې د "فِي" توری متعلق واقع شوی دی علماوو کرامو په بې غمۍ سره په خپلو ښارونو کښې په اوږدې اوسېدانې باندې تفسیره کړې ده[2]؛ نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: د شعیب ﷺ قوم د عذاب د نزول څخه وروسته داسې پوپنا شو تابه ویل چې دوی هېڅکله په دغه وطن کښې د بې غمۍ اوږده عمرونه نه دي تېر کړي دا وطن به د پخوا څخه راپه دې خوا همدغسې کنډواله وه لکه چې اوس کنډواله دی.

## یادونه

۶- شعیب ﷺ د خپل قوم سره د هلاکت څخه وروسته داسې مخاطبه وکړه لکه څنګه چې نبي کریم ﷺ د بدر په موقع د مشرکانو سره د مرګ څخه وروسته کړې وه، چې څه تحقیق یې د [الأعراف: ۷۹] آیت لاندې نژدې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## خطیب الانبیاء څوک دی؟

۷- د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د روایت په مطابق، کله چې به نبي کریم ﷺ شعیب ﷺ یاداوه نو د خطیب الانبیاء لقب به یې ورکاوه[3] چې په خطابه کښې یې پوره مهارت په برخه شوی وه.

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا فِي قَرْيَةٍ مِّن نَّبِيٍّ إِلَّآ أَخَذْنَآ أَهْلَهَا بِٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُونَ ﴿٩٤﴾

ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ ٱلسَّيِّئَةِ ٱلْحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَواْ وَّقَالُواْ قَدْ مَسَّ ءَابَآءَنَا ٱلضَّرَّآءُ وَٱلسَّرَّآءُ

(۱) مفردات الراغب ص۳۷۸
(۲) المحرر الوجیز ج۷ ص۱۱۵
(۳) تفسیر القاسمي ج۷ ص۲۱۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَأَخَذۡنَٰهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٩٥﴾ وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡقُرَىٰٓ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَفَتَحۡنَا عَلَيۡهِم
بَرَكَٰتٖ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذۡنَٰهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ﴿٩٦﴾ ﴾

[۹۴] او مونږ په هیڅ کلي (ښار) کښې هیڅ پېغمبر نه دی استولی مګر د هغه (ښار) خلک به مو په سختیو او مرضونو سره ونیول، شاید چې دوی (الله ﷻ ته) زاري وکړي (او همده ﷻ ته راجع شي).

[۹۵] بیا به مونږ (دوی ته) د محنت په ځای نیکي (خوشالي) بدله (عوض) کړه، آن تردې چې دوی به (د هر حیثه) پرېښودل شوه (او زيات به شوه). او دوی به ویلې چې یقیناً زمونږ پلرونو ته هم سختي (مرضونه) او خوشالی رسېدلې وې (دغه حالات په ایمان او کفر پورې ارتباط نه لري)؛ نو دوی به مونږ ناڅاپه ونیول حال دا چې دوی به پرې شعور نه درلوده (ګومان به يې نه وه چې ربه نیول شي).

[۹۶] او که چېرې یقیناً د (هلاکو کړی شوی) کلو (ښارونو) خاوندانو ایمان راوړی وی او پرهیز یې کړی وی (د شرکیاتو څخه)، نو په دوی باندې به مو د آسمان او ځمکې د پلوه برکتونه وربرانستي وی، مګر دوی تکذیب ته دوام ورکړ نو دوی مو په هغه شي باندې ونیول چې دوی به کسب کول (او پوښنا مو کړه).

## ارتباط

په وړاندې ایتونو کښې الله ﷻ د مثال په توګه د پنځو پیغمبرانو علیهم السلام د کافرو قومونو انجام بیان کړ. په دې ایتونو کښې د هغوی په شمول په ټولو هلاکو شوو کافرانو باندې یوه اجمالي تبصره نازله شوې ده چې حاصل یې داسې کېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! مونږ چې څومره کافر قومونه پوښنا کړي دي هغوی مو یو هم بې هدایته نه وه پرېښی، د یو پلوه مو هر یوه قوم ته پېغمبر استولی وه چې په ویناسره دوی ته نصیحت وکړي او د کفریاتو څخه یې را ایسار کړي، او د بله پلوه مو ورته د عبرت عملي درسونه هم ورکړي وه چې:

۱ـ په هغوی به مو سختي او مرضونه ورحواله کړه ترڅو دوی د غفلت د خوبه رابېدار شي او حقې لارې ته راواوړي او ترڅو دوی پوه شي چې د الله ﷻ څخه غیر ترې هېڅوک مشقتونه نه شي لرې کولی او د مصیبتونو مخه یې نه شي نیولی.

۲ـ کله به چې هغوی را ویښ نه شوه نو د مصیبتونو په بدل کښې به مو خو شالی او پراخی ورکړې، آن تر دې چې د هرجېته به ډېر شوه، اولادونه به یې زیات شوه، په متې کښې به قوي شوه، مالونه به یې پریمانه شوه او داسې نور، دا ټول د دې دپاره چې د نعمتونو شکریه وکړي او خپل رب ﷻ ته راجع شي او بالآخره د کفریاتو او شرکیاتو څخه لاس واخلي.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مګر هغوی به د خوشالیو په پریمانی باندې لازیات سرکشه شوه او ویلې به یې چې: نه مصیبتونه د دې کبله نازلیږي چې مونږ خپله کفري عقیده پرېږدو او نه خوشالی د دې امله راکول کېږي چې مونږ خپله کړنلاره بدله کړو، بلکې دغه دواړه د زمانو حوادث دي نه تل سړی خوشاله وي او نه تل په غم ککړ وي، دغه ډول حالتونه زمونږ په پلرونو باندې هم ورغلي دي نو لکه څنګه چې هغوی خپلې تګلارې ته تغیر نه وه ورکړی نو مونږ هم خپله تګلاره نه شو بدلولی.

نو دوی به په همدغه غفلت کښې ډوب پراته وه او خیال به یې هم نه وه چې د الله ﷻ عذاب به ورباندې نازلیږي، خو مونږ به ناڅاپه په عذاب باندې ونیول او هلاک به مو کړه.

نو باید چې ستا دعوتي امت د ذکرو شوو عبرتي درسونو څخه ګټه واخلي او د غفلت د خوبه راویښ شي چې د هغوی په سرنوشت باندې اخته نه شي.

۳ـ ای پیغمبره! که بالفرض ذکر شوي هلاک کړی شوي قومونه یا د مشکلاتو او سختیو د اثر لاندې راغلي وی او مونږ ته راجع شوي وی او یا ورباندې د نعمتونو پراخی څه اثر اچولی وی نو مونږ به په دوی باندې د هر حیثه د برکتونو دروازې ورخلاصې کړې وی چې د اسمانه به موورباندې بارانونه نازل کړي وی او د ځمکې څخه به مو ورته ډول-ډول غلې دانې رازرغونې کړې وی.

نو په دې تقدیر به دوی دنیا او آخرت دواړه ګټلې وی مګر دوی په هیڅ وجه الله ﷻ ته راجع نه شوه او د پیغمبرانو علیهم السلام تکذیب ته یې ادامه ورکړه، نو ځکه مونږ په عذابونو سره ونیول او د نعمتونو څخه مو ورته بلاګانې جوړې کړې.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ بِٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ ﴾ په باره کښې مونږ د [البقرة:۲۱۴] آیت لاندې څه بیان لیکلی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

### "عفو" څه معنی؟

۲ـ د ﴿ عَفَواْ ﴾ کلمه د "عَفْوٌ" څخه اخستله شوې ده، "عَفْو" او "عَافِیَة" پرېښودلو او ډېرېدلو ته وایي[۱] نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې «وَأَعْفُوا اللِّحَى»[۲] یعنې ږیرې پرېږدئ (او زیاتې یې کړئ).

نو د معنی حاصل یې داسې کېږي چې: مونږ چرته هم پخواني قومونه نه دي هلاک کړي مګر هله چې هغوی ته به مو د پیغمبرانو علیهم السلام په خولو باندې قولي انذار ورکړ، او په دې باندې علاوه هغوی ته به مو فعلي انذار هم ورکړ چې یو ځل به مو ورباندې سختي او مشکلات ورواستول ترڅو الله ﷻ ته راجع شي او زارۍ وکړي، خو چې دغه انذار به ورباندې اثر ونه کړ نو د سختیو په عوض به مو ورباندې اساني ورنازله کړه، د هغوی مالونه به مو د هلاک څخه پرېښودل ترڅو به چې ښه ډېر شوه، همدارنګه به مو د دوی څخه مرضونه او مشقتونه لرې کړه ترڅو د شکر د لارې څخه الله ﷻ

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۵۲: تفسیر القاسمي ج۷ ص۲۱۹.
(۲) بخاري شریف ج۲ ص۸۷۵.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه راجع شي، خو دغه ډول انذار به هم ورباندې خپل اثر د لاسه ورکړي. نو کله به چې هر ډول انذار (وارول) هغوی ته ګټور واقع نه شوه نو بیا به مو هغوی ناڅاپه هلاک کړه.

## یادونه

د ذکر شوي آیت د مضمون پورې اړوند څو احادیث مونږ د [الأنعام:۴۴] آیت لاندې لیکلي دي، هیله ده چې هلته مراجعه وکړی شي، بیا لیکلو ته یې ضرورت نه ګورو.

## بې برکته مال وپېژنئ

۳_ د ﴿بَرَكَـٰتٍ﴾ کلمه د "بَرَكَة" جمعه ده، او مونږ د [آل عمران:۹۶] آیت لاندې لیکلي دي چې د "بَرَكَة" په مفهوم کښې دوه معناوې شاملې دي: چې یو زیادت دی او بل دوام (همېشه والی) دی.
نو په دې مقام کښې یې د معنی حاصل داسې راوځي چې: که بالفرض هلاک شوو قومونو ایمان راوړی وی او د الله ﷻ څخه ډار شوي وی نو مونږ به په هغوی باندې د ځمکو او اسمانونو برکتونه ورنازل کړي وی، چې مالونو او ثروتونو به یې په دوامداره توګه زیادت کړی وی او پوپنا شوي به نه وی، مګر کله چې دوی په خپلو کفري عقائدو باندې کلک پاتې شوه ﴿فَتَحۡنَا عَلَيۡهِمۡ أَبۡوَٰبَ كُلِّ شَيۡءٍ﴾ [الأنعام:۴۴] نو د هر شي دروازې مو ورباندې ورپرانستلې، خو برکت پکښې نه وه چې د یو پلوه یې دوام ونه کړ او په هلاکت باندې ختم شوه او د بله پلوه د نیکیو اسباب جوړ نه شوه چې په شراب خوری او فسق او فجور کښې مصرف شوه.
لنډه دا چې برکتي مال هغه دی کوم چې په نېکیو کښې مصرف شي او د سړي دینداري زیاته کړي، او بې برکته مال هغه دی کوم چې په عیشیاتو او ضررونو کښې ولګیږي.
نو مونږ (مسلمانانو) ته په کار دي چې مالونو ته د اصل د نګاه څخه ونه ګورو بلکې د اثر نګاه یې د نظر لاندې ونیسو، او هم راته په کار دي چې د الله ﷻ څخه د برکتي مالونو سوالونه وکړو، ترڅو په دواړو دنیاوو کښې مو په درد باندې وخوري او د بې برکته مالونو څخه په الله ﷻ باندې پنا وغواړو چې د دارینو د لعنت غاړکۍ راته ترې جوړه نه شي.

﴿أَفَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا بَيَٰتٗا وَهُمۡ نَآئِمُونَ ۝٩٧ أَوَأَمِنَ أَهۡلُ ٱلۡقُرَىٰٓ أَن يَأۡتِيَهُم بَأۡسُنَا ضُحٗى وَهُمۡ يَلۡعَبُونَ ۝٩٨ أَفَأَمِنُواْ مَكۡرَ ٱللَّهِۚ فَلَا يَأۡمَنُ مَكۡرَ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ۝٩٩ أَوَلَمۡ يَهۡدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ أَهۡلِهَآ أَن لَّوۡ نَشَآءُ أَصَبۡنَٰهُم بِذُنُوبِهِمۡۚ وَنَطۡبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ۝١٠٠ تِلۡكَ ٱلۡقُرَىٰ نَقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآئِهَاۚ وَلَقَدۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَمَا كَانُواْ لِيُؤۡمِنُواْ بِمَا كَذَّبُواْ

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مِن قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿١٠١﴾ وَمَا وَجَدْنَا لِأَكْثَرِهِم مِّنْ
عَهْدٍ ۖ وَإِن وَجَدْنَآ أَكْثَرَهُمْ لَفَٰسِقِينَ ﴿١٠٢﴾

[۹۷] ایا نو د کلو (ښارونو) اهالي د دې څخه په امن کښې دي چې زمونږ عذاب دوی ته په داسې حال کښې ورشي چې دوی د شپې (په خواره خوب باندې) ویده وي؟.

[۹۸] ایا د کلو (ښارونو) اهالي (په کفر باندې کلک دي) او د دې څخه په امن کښې دي چې زمونږ عذاب دوی ته په څاښت (رڼا ورځ) کښې په داسې حال ورشي چې دوی لوبې کوي؟ (او یا د لوبو ننداره کوي)؟.

[۹۹] ایا نو دوی د الله ﷻ د پټو نیولو څخه په امن کښې دي؟ نو د الله ﷻ د پټ نیونې څخه نه په امن کښې کېږي (نه بې غمه کېږي) مګر زیان کار (او تاوانیان) قوم.

[۱۰۰] او ایا هغو خلکو ته چې د ځمکې وارثان جوړ شوي دي د هغې د اهالیوو (د هلاکت څخه وروسته، دې خبرې هدایت ونه کړ؟ (د عبرت درس یې ورنه کړ؟).

چې که زمونږ اراده وشي نو د خپلو ګناهونو په سبب به دوی ته هم مصیبت ورسوو (لکه چې هغوی ته مو رسولی وه) او په زړونو باندې به یې مهر ولګوو (لکه چې د هغوی په زړونو باندې مو چې مهر لګولی وه).

(په کار وه چې ذکرې شوې خبرې) د عبرت درس ورکړی وی خو ور یې نه کړ، نو څکه مو دا دی یو مصیبت ور ورساوه چې په زړونو مو ورته مهر ولګاوه) نو دوی (حقه وینا د زړه په غوږونو نه اوري (او نور مصائب هم ورروان دي).

[۱۰۱] (ای پیغمبره!) د دغو کلو (ښارونو) ځینې حالات (خبرونه) په تا باندې مونږ حکایت کوو، (که نه نو تا خو پکښې هېڅ معلومات نه درلوده).

او یقینًا دوی ته خپل پیغمبران علیهم السلام د معجزاتو سره ورغله، نو نه وه دوی چې په هغه شي باندې ایمان راوړي کوم ته به یې چې د معجزاتو څخه وړاندې د دروغو نسبت کاوه (د دوی زړونه مو مهر کړه).

دغه ډول الله ﷻ د کافرانو په زړونو باندې مهر لګوي (او د ایمان استعداد یې ترې اخلي).

[۱۰۲] او مونږ د دوی (کافرانو) اکثریت ته هیڅ عهد مونده نه کړ (چې وفا یې ورباندې کړې وی) او یقینًا مونږ د دوی اکثریت فاسقان مونده کړه.

## ارتباط

د پیغمبرانو علیهم السلام په وړاندېنیو قیصو کښې چې کوم شي ته اشاره شوې وه په همغه شي باندې په دې ایتونو کښې صراحت شوی دی، هغه دا:

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱ـ چې محمدي امت د هغوی څخه عبرت واخلي او د هغوی په تګلارې باندې لاړ نه شي، هسې نه چې په دوی باندې هم داسې عذاب نازل شي لکه څنګه چې په هغوی باندې نازل شوی وه.
۲ـ چې نبي کریم ﷺ د مشرکانو په شرکیاتو باندې د کلک پاتې کېدلو د کبله ډېر غمژن نه شي، لکه څنګه چې په دې امت کښې عنادي کافران شته همدارنګه عنادیان په پخوانیو امتونو کښې هم تېر شوي دي چې د مرګ د ورځې پورې به په کفر باندې کلک ولاړوه او په نتیجه کښې به د هلاکت سره مخامخ شوه.

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! په خپل امت باندې لاندې نکات قرائت کړه چې د یو پلوه هغوی ته د عبرت درس ورکړي او د بله پلوه ستا حوصله قوي کړي او د ډېر غمژن کېدلو مخه دې ونیسي.
۱ـ کله چې تا د خپل امت په ښاریانو باندې د پخوانیو ښاریانو قیصې ولوستلې او د هغوی کړنلارې او د کړنلارو نتائج دې ورته بیان کړه نو ایا اوس هم دوی د هغوی څخه عبرت نه اخلي حال دا چې دوی هم هغوی ته ورته عقائد لري او د هغوی پشان په خپلو مالونو او شتو باندې غره دي؟
ایا دوی ډاډه دي چې د خوب په وخت کښې به وریاندې عذاب نه ورنازلېږي، کله چې ټول غافل پراته وي؟
ایا دوی مطمئن دي چې په رڼا ورځ (په ټکنده غرمه) کښې به پرې الهي عذاب نه ورښکته کېږي؟
یا په بل عبارت: ایا دوی د الله ﷻ د عذاب مخه نیولی شي؟ نه هیڅکه دا کار نه شي کولی، حتی چې د الهي عذاب په مقابل کښې دوی د ورځې هم داسې کمزوري دي لکه څنګه چې د شپې په خوب باندې غافل پراته وي او د خانونو څخه مچ نه شي شړلی.
۲ـ ایا د پخوانیو قومونو په حالاتو باندې د پوهېدلو سره‌سره دوی د الله ﷻ د پټ تدبیر څخه خاطر جمعه دي چې په یوه مهلکه کنده کښې به یې ورګوزار کړي؟ حال دا چې د هلاک ټول اسباب یې په خپلو لاسونو باندې برابر کړي دي.
په دغسې حالت کښې بل څوک نه مطمئن کېږئ مګر هغه خلک چې تاوانیان وي او د خسران سره مخامخ وي خو په خپل خسران باندې نه پوهېږي.
۳ـ ای پیغمبره! ایا هغو خلکو ته (چې د هلاکو شوو قومونو په عوض د ځمکې وراثت په لاس کښې اخلي او د هغوی په عوض پکښې اوسېږي) دې خبرې هدایت ونه کړ چې یقیناً مونږ پخواني کفار د خپلو ګناهونو په سبب هلاک کړي دي او ځمکه مو ترې خالي کړې ده؟
که همدغې خبرې ورته هدایت کړی وی نو عبرت به یې ترې اخستی وی او په خپلو کفریاتو باندې به کلک نه وی پاتې شوي.
د عدم هدایت او د عدم عبرت وجه یې دا ده چې مونږ د کفارو په زړونو باندې مهر لګوو چې د دغه مهر د لګولو څخه وروسته حقه خبره نه اوري.

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که نه نو ایا دوی سوچ نه کوي چې دا خمکه د هغوی څخه په څه سبب خالي شوه؟ ایا دا خطره نشته چې دا خمکه د دوی څخه هم خالي کړی شي او د بل قوم د اوسېداني ځای وګرځولی شي؟

ایا دوی دا فکر نه کوي چې الله ﷻ به ورته په کفریاتو او عنادیاتو باندې په غضب شي لکه څنګه چې هغوی ته په غضب شوی وه؟ ایا دوی د اطمنان کوم سند په لاس کښې لري؟ ایا کفریات یوازې د هغوی دپاره ناکاره کار وه او بس؟

۴ـ ای پیغمبره! د پخوانیو هلاکو شوو قومونو قیصې خو مونږ تاته حکایت کوو او ته په حقه پیغمبر یې، که نه نو ته خو د هغوی سره ناست نه وې چې د هغوی حالات درته معلوم وي او نه تا د کوم استاذ څخه زده کړي دي چې هغه ورسره موجود وه او تا ته یې درزده کړي وي.

نو ای پیغمبره! خپله حوصله قوي وساته، لکه څنګه چې ته خپل امت ته د معجزاتو سره ورغلی یې او خیني خلک دې کلک مخالفت کوي همدارنګه پخوانیو قومونو ته هم پیغمبران علیهم السلام ورغلي وه او د مخالفتونو سره مخامخ شوي وه.

په هغوی باندې هم معجزاتو هېڅ اثر ونه کړ او په کوم عنادي کفر باندې چې د معجزاتو څخه وړاندې کلک وه په همغه باندې وروسته هم کلک پاتې شوه، تابه ویل چې هېڅ معجزه نه ده ورغلې.

د دغه حالت وجه همدا وه چې د ګناهونو او جنایتونو په سبب باندې الله ﷻ د دوی په زړونو باندې مهر لګولی وه، همدارنګه الله ﷻ د نورو کافرانو په زړونو باندې هم مهر لګوي چې په خپل عنادي کفر باندې کلک شي.

۵ـ ای پیغمبره! د پخوانیو قومونو د هلاکت بله وجه دا وه چې اکثرو د خپلو عهدونو ساتنه نه کوله او د همدې کبله فاسقان جوړ شوه او د هغه سرنوشت سره مخامخ شوه کوم چې د فاسقانو سره مناسب وه، نو په کار دي چې د فسق څخه هرڅوک ځان وساتي.

## توضیحات

۱ـ ﴿ مَكۡرَ ٱللَّهِ ﴾ په باره کښې مونږ د [آل عمران:۵۴] آیت لاندې څه بیان لیکلی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو او هم مو د [الأعراف:۵۶] آیت لاندې لیکلي دي چې ایمان د خوف او رجا (ډار او امید) ترمنځ دی، مګر په دې مقام کښې ورباندې لاندې معلومات وراضافه کوو[۱].

د احنافو علیهم الرحمة په نزد هغه خوف (ډار) کوم چې رجا (امید) ورسره نه وي او هغه رجا چې خوف ورسره نه وي په دواړو باندې سړی کافر کېږي، په دوهم صورت باندې همدغه آیت شریف دلالت کوي چې اوس د بحث لاندې دی او د اول صورت په باره کښې الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ إِنَّهُۥ لَا يَاْيۡـَٔسُ مِن رَّوۡحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡقَوۡمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴾ [یوسف:۸۷] یعني: یقیناً شان دا دی چې د الله ﷻ د رحمت څخه نه نا امیده کېږي مګر کافر قوم.

---

(۱) تفسیر القاسمي ج۷ ص۲۲۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوافع علیهم الرحمة وايي چې ذکر شوي دواړه صورتونه کبيره ګناهونه دي مګر کفر نه دی، او په کبيره ګناه باندې خو د کفر اطلاق کيږي.

خینو علماوو کرامو دغه مذهب شرحه کړی دی او په لاندې دوه ګروپونو باندې يې وېشلی دی(۱):

الف: که څوک د خپلو ګناهونو د ډېروالي د کبله نااميده شي او يا د الله ﷻ د رحمت د پراخۍ د کبله داسې اميدوار شي چې ډار يې ورک شي نو په دواړو صورتونو کښې ګناهکار دی مګر کافر نه دی.

ب: که څوک د الله ﷻ د رحمت څخه او يا د الله ﷻ د نبوتې څخه منکر شي نو په دواړو صورتونو کښې کفر ته رسيږي.

په هر تقدير، الحسن البصري علیه الرحمة د آيت شريف په تفسير کښې ليکلي دي چې ايماندار سړی د الله ﷻ عبادت کوي خو د دې سره-سره په ډار او خوف کښې وي او فاجر سړی ګناهونه کوي خو د دې سره-سره په امن کښې وي(۲) (او د الله ﷻ څخه نه ډارېږي).

## د عربيت يو تحليل

۲ـ مفسرينو کرامو د ﴿ أَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِينَ يَرِثُونَ ٱلْأَرْضَ ﴾ الآية په هکله ښه اوږده تحليلونه کړي دي چې مونږ يې په لاندې تکو کښې راخلاصه کوو:

الف: په ﴿ أَن لَّوْ نَشَآءُ ﴾ کښې د "أنْ" توری د مثقل (أنّ) څخه مخفف دی او اسم يې د شان مقدر ضمير (ه) دی(۳).

ب: د "لَوْ" توری د شرط دپاره دی او په ماضي کښې استعمالېږي(۴)، خو کله-کله په راتلونکې زمانه کښې هم استعمال مومي چې په دې مقام کښې همدغه استعمال مراد دی.

ج: دغه شرطيه جمله د "أنْ" دپاره خبر ده او د مفرد په تاويل سره د ﴿ أَوَلَمْ يَهْدِ ﴾ دپاره فاعل ده.

د: د ﴿ وَنَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ ﴾ جمله مستانفه جمله ده چې د وړاندېنۍ جملې ﴿ أَوَلَمْ يَهْدِ ﴾ د مضمون وجې ته پکښې اشاره شوې ده.

ه: د ﴿ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴾ جمله په همدغې مستانفې جملې باندې تفريع ده.

نو حاصل يې داسې راخېژي چې:

ايا هغو کفارو ته کوم چې د پخوانيو هلاکو شوو کفارو په ځای مېشت دي او د هغوی په تعقيب سره وربانديې څمکه اباده شوې ده، دې خبرې هدايت او لارښودانه ونه کړه چې مونږ پخواني کفار د خپلو ګناهونو په سبب هلاک کړه او د خپلو ګناهونو عذاب مو ورورساوه؟ که بالفرض دغې خبرې

---

(۱) روح المعاني ج۹ ص۱۳

(۲) تفسير ابن کثير ج۲ ص ۲۳۴

(۳) البحر المحيط ج۵ ص۱۲۱

(۴) شرح ملا جامي ص۳۸۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورته هدایت کړی وی او عبرت یې ترې اخستی وی نو په خپلو کفریاتو او جنایتونو باندې پرګلک نه وی پاتې شوي.

د عدم هدایت وجه یې دا ده چې مونږ د کفارو په زړونو باندې مهر وهو، چې د مهر د وهلو څخه وروسته نه څه اوري او نه څه ګوري بلکې د ټولو حقائقو څخه یې د زړه غوږونه کاڼه او د زړه سترګې ړندې ګرځي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایې چې: په ﴿ مِن قَبْلُ ﴾ کښې د ﴿ قَبْلُ ﴾ کلمه "مقطوع الإضافة" ده نو "مضاف الیه" څه شی دی؟

مونږ وایو چې: مفسرینو کرامو د ذکرې شوې کلمې د مضاف الیه په باره کښې زښتې ډېرې وجې لیکلې دي چې تقریباً پنځو یا شپږو ته رسیږي[1] مګر کومه وجه چې مونږ ته بهتره ښکاري او د وړاندې-بیرته سره ښه سمون خوري هغه دا ده چې مضاف الیه دلته د "الْبَيِّنَاتِ" کلمه ده چې نږدې ذکره ده. نو د معنی حاصل یې داسې راوځي چې: مونږ څو هلاکو شوو ښارونو ته د پیغمبرانو علیهم السلام او معجزاتو په وراستولو کښې قصور نه دی کړی مګر هغوی په خپل کفر باندې دومره کلک وه چې د دوی سره دا استعداد پاتې نه وه چې په هغه شي باندې ایمان راوړې په کوم باندې به یې چې د معجزاتو د وراستولو څخه وړاندې کفر اختیار کړی وه، نو د همدې کبله مو د دوی په زړونو باندې مهر لګولی وه.

د مهرلګول یوازې همدوی پورې ځانګړي نه دي بلکې الله ﷻ د عنادي کافرانو په زړونو باندې دغسې مهرونه لګوي او د ایمان راوړلو استعداد ترې اخلي.

## دلته کوم عهد مراد دی؟

۴_ که څه هم مفسرینو کرامو د ﴿ مِّنْ عَهْدٍ ﴾ کلمه په لاندې معناوو باندې تفسیره کړې ده:

الف: دلته د عهد څخه هغه عهد مراد دی کوم چې په عالم الذر کښې د ټولو انسانانو څخه اخستلی شوی وه او د [الأعراف:۱۷۲] آیت کښې ورته اشاره شوې ده.

ب: دلته هغه عهد مطلب دی چې د هر انسان په خټه کښې اغږلی شوی دی او هرڅوک د دې استعداد لري چې په ایمان باندې مشرف شي، دغه فطري عهد او د فطري عهد استعداد ته په [الروم:۳۰] آیت کښې اشاره شوې ده.

مګر ذکر شوي دواړه تفسیرونه مونږ ته د سیاق او سباق (وړاندې او بېرته) سره ښه مناسب نه ښکاري، مونږ ته داسې برېښي چې دلته به هغو عهدونو ته اشاره وي کوم چې کافرانو به د فرمایشي معجزاتو دپاره د وخت پیغمبر ته ورکول، لاندې څو مثالونه یې د نظره تېر کړئ:

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۶۰؛ تفسیر الخازن ج۲ ص۶۰۵؛ روح المعاني ج۹ ص۱۵؛ اضواء البیان ج۲ ص۲۹۴

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: د صالح ﷺ سره ثمودیانو عهد کړی وه چې که د اوښې معجزه دې راته راوړه نو مونږ به په تاباندې ایمان راوړو خو په عهد باندې یې وفا ونه کړه، لکه چې ښه اوږد بیان یې د [الأعراف:۷۳] آیت لاندې تېر شوی دی، والحمدلله.

دوهم: موسی ﷺ سره فرعونیانو څوکرته عهدونه وکړه چې د دغه آفت څخه مو خلاص کړه نو ایمان به درباندې راوړو مګر په هر کرت کښې یې عهدونه مات کړه، چې پوره بیان یې د [الأعراف: ۱۳۴] لاندې ـان شاء الله ﷻ ـ راروان دی.

نو زمونږ په تفسیر باندې یې د معنی حاصل داسې راوځي چې: هلاکو شوو قومونو د ایمان استعداد بالکل د لاسه ورکړی وه، کوم شي ته به یې چې د معجزاتو څخه وراندې د دروغو نسبت کاوه هغه تکذیب ته به یې وروسته هم ادامه ورکوله، تابه ویل چې دوی ته هیڅ معجزه نه ده ورورله شوې، حتی هغې معجزې وورباندې هم څه اثر نه غورزاوه کومه به چې دوی د عهد په ورکولو سره غوښتې وه چې که دغه ډول معجزه راته راوړله شي نو مونږ به ایمان راوړو. خو چې کله به فرمایشي معجزې صورت ونیوه نو اکثریت به خپل عهدونه مات کړه او سابقه کفر ته به یې ادامه ورکړه، مګر څینو اقلیتونو به ایمان راووړ او په خپلو عهدونو باندې به ودریده چې په نتیجه کښې به د ایماندارانو څخه په غیر نور ټول پوپنا شوه.

ډېر واضحه مثال یې د فرعون د ساحرانو دی، چې ـان شاء الله ـ نژدې د [الأعراف:۱۱۳] آیت لاندې یې بحث راروان دی.

﴿ ثُمَّ بَعَثْنَا مِنۢ بَعْدِهِم مُّوسَىٰ بِـَٔايَـٰتِنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِي۟هِۦ فَظَلَمُوا۟ بِهَا ۖ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٠٣﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ يَـٰفِرْعَوْنُ إِنِّى رَسُولٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿١٠٤﴾ حَقِيقٌ عَلَىٰٓ أَن لَّآ أَقُولَ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْحَقَّ ۚ قَدْ جِئْتُكُم بِبَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَرْسِلْ مَعِىَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٠٥﴾ ﴾

[۱۰۳] بیا مونږ د دوی (پېغمبرانو علیهم السلام) څخه وروسته موسی ﷺ د خپلو معجزاتو سره فرعون او د ده (مشرې) ډلې ته ورپورته کړ (ولېږه)، نو دوی (فرعونیانو) په معجزاتو باندې ظلم وکړ (او قبولې یې نه کړې)، نو وګوره! د مفسدانو انجام څنګه شو.

[۱۰۴] او موسی ﷺ (فرعون ته) وویلې: ای فرعونه! یقینًا زه د رب العالمین ﷻ دپلوه را استولی شوی یم (زما رسالت قبول کړه).

[۱۰۵] (زه) په دې خبره باندې حرصناک یم چې په الله ﷻ باندې ونه وایم مګر حقه وینا (نو زما خبره حقه ده زه دروغ نه وایم)، بې شکه ما تاسو ته ستاسو د رب ﷻ د پلوه (د خپل رسالت) واضحه کوونکې دلیل (هم) راوړی دی، نو زما سره بني اسرائیل خوشې کړه (چې پلارنې وطن ته لاړ شو).

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

په دې سورت کښې د پیغمبرانو علیهم‌السلام د قیصو څخه دا شپږمه قیصه ده چې د عبرت دپاره نازله شوې ده. حاصل یې داسې راوځي چې: د پخوانیو پیغمبرانو علیهم‌السلام په تعقیب موږ موسی ﷺ د معجزاتو سره فرعون او د ده اراکینو او غټانو (د شورا اعضاوو) ته ولېږه، مګر هغوی معجزات ونه منل او خپلو ظلمونو ته یې ادامه ورکړه او د فساد لمن یې لا خوره کړه، نو ته ګوره ای پیغمبره! چې د فرعون او فرعونیانو (مفسدانو) انجام څنګه شو، هغه داسې چې د هرڅه څخه وړاندې موسی ﷺ ذکر شوي عنادي کافر (فرعون) ته په لاندې ډول سره دعوت پیل کړ:

۱ـ ای فرعونه! زه د رب العالمین د پلوه را استولی شوی یم، د هغه چا د پلوه چې په ټوله دنیا باندې حاکم دی او حتی ته هم د هغه د حکم څخه لاندې یې او مقاومت ورسره نه شې کولی.

۲ـ نو کله چې زه د الله ﷻ را استولی شوی بنده یم نو زه به هېڅکله په الله ﷻ باندې دروغ ونه تړم او حتی زما سره لیاقت نه لري چې په الله ﷻ باندې د واقعیت (حق) څخه په غیر بل څه ووایم، لنډه دا چې زما خبرې ټولې حقې دي غاړه ورته کېږده!.

۳ـ په دې باندې علاوه، ما د رب العالمین څخه (چې زموږ او ستاسو ټولو رب دی) د خپل صداقت دلیل هم راوړی دی ترڅو ستاسو یقین راشي چې زه په حقه پیغمبر یم.

۴ـ زه ستا څخه لاندې دوه غوښتنې کوم او تاته په کار دي چې دواړه قبولې کړې:

الف: یوه دا چې د الوهیت دعوه مه کوه، ته هم د رب العالمین مخلوق یې د همده ﷻ عبادت ته راجع شه او خپل رعیت هم همدغې عقیدې ته ور دعوت کړه.

ب: بله دا چې بني اسرائیل زما سره خوشې کړه ترڅو د خپله خانه سره یې هغه وطن ته بوځم د کوم وطن څخه چې موږ راوتلي وو، چې د شام څخه عبارت دی.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ حَقِيقٌ ﴾ کلمه په دې مقام کښې لاندې دوه معناوې درلودلی شي:

الف: چې په معنی د "حریص" سره شي[1]، نو د معنی حاصل به یې داسې شي چې: زه دروغ نه وایم زه په الله ﷻ باندې په حق ویلو کښې زیات حرصناک یم.

ب: چې په معنی د "حَرِيٌّ" (لایق) سره شي[2]، نو د معنی حاصل یې داسې کېږي: د هرچا څخه زه د دې خبرې لیاقت لرم چې الله ﷻ ته د حق نسبت وکړم او دروغ ورپورې ونه تړم.

### د فرعون څخه د دوه وو شیانو غوښتنه

۲ـ موسی ﷺ د فرعون څخه لاندې دوه شیان وغوښتل چې قبول یې کړي:

---

(۱) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۸۵

(۲) تفسـیر ابن کثیر ج۲ ص۲۳۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د الوهیت دعوه پرېږدي او په الله ﷻ (رب العالمین) باندې ایمان راوړي مګر دا وړاندیز فرعون رد کړ، الله ﷻ د همده د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَابِدُونَ ﴾ [المؤمنون:۴۷] یعنې ایا مونږ د داسې دوه انسانانو (موسی ؑ، هارون ؑ) د کبله ایمان راوړو حال دا چې د دواړو قوم زمونږ پیروي کوونکي دي.

ب: بني اسرائیل راسره پرېږده چې مونږ ټول خپل پلارني وطن (شام) ته بېرته لاړ شو او هلته د الله ﷻ عبادت وکړو.

## مصر ته بني اسرائیل څه وخت ورغلي وه؟

۳ـ کله چې یوسف ؑ د مصر پاچا شو او خپل پلار او ورونه يې هلته وغوښتل او هلته مېشته شوه، د څه وخت پورې چې د اسباطو (د یعقوب ؑ د اولادې) حکومت وه نو هلته يې باعزته ژوند تېراوه، مګر څه وخت چې د دوی حکومت ختم شو نو بني اسرائیل (د یعقوب ؑ اولاده) د زیات توهین سره مخامخ شوه او په سپک نظر به ورته کتل کېده.

د همدې کبله موسی ؑ د فرعون څخه وغوښتل چې دغه ظلم ته هم خاتمه ورکړي او بني اسرائیل را سره پرېږدي چې بېرته خپل پلارني ټاټوبي (شام) ته لاړ شو.

په دغه منځکښې (چې یوسف ؑ مصر ته د یوه غلام په صفت ورداخل شو او بیا موسی ؑ د یو پیغمبر په صفت ورننوت) څلور سوه (۴۰۰) کاله تېر شوي وه[۱].

## د موسی ؑ د ژوند څو مراحل

۴ـ موسی ؑ د ولادت د وخت څخه تر وفاته پورې د لاندې مراحلو څخه تېر شوی دی:

الف: د تولد مرحله، چې په دریاب کښې وغورزولی شو او د فرعون په کور کښې غټ شو.

ب: د فرار (تېښتېدلو) مرحله، چې د مصر څخه د مدین ښار په لور وتښتېد.

ج: د پیغمبرۍ مرحله، چې د مدین د ښار څخه مصر ته د یوه پیغمبر په صفت ورستون شو.

د: د فرعون سره د منازعې او دعوت مرحله، چې په پای کښې يې نجات وموند.

ه: د نجات څخه وروسته د بني اسرائیلو په دعوت کښې مشکلات ګالل او په ډېر یا کښې اوسېدل.

په قرآن کریم کښې د مقاماتو په تناسب سره د موسی ؑ د پنځو دورو (مراحلو) څخه کله یوې ته او کله بلې ته په مختلفو عباراتو سره اشارې شوې دي چې په دې سورت کښې يې د وروستنیو دواړو مرحلو بیان په شپېتو (۶۰) ایتونو کښې د [الاعراف:۱۰۳] ایت څخه پیل شوی دی.

﴿ قَالَ إِن كُنتَ جِئْتَ بِآيَةٍ فَأْتِ بِهَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿١٠٦﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿١٠٧﴾ وَنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا هِيَ بَيْضَاءُ لِلنَّاظِرِينَ ﴿١٠٨﴾ قَالَ الْمَلَأُ مِن قَوْمِ

(۱) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۲۵۸

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فِرْعَوْنَ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٩﴾ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُمْ ۖ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿١١٠﴾
قَالُوٓا۟ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَأَرْسِلْ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ﴿١١١﴾ يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴿١١٢﴾

[۱۰۶] ویې ویلې (فرعون) چې: که ته یې چې معجزه دې راوړې وي (درکړه شوې وي) نو په عملي صورت کښې یې راوړه (رابنکاره یې کړه) که ته د ربنتیاویونکو څخه یې.

[۱۰۷] نو (موسی ﷺ) خپله همسا وغورزوله، نو ناڅاپه دا (همسا) ښکاره اژدها (ښامار) شوه.

[۱۰۸] او خپل لاس یې (د ګریوان څخه) رابهر کړ، نو ناڅاپه دا (لاس) ټولو کتونکو ته تک سپین وځلېد.

[۱۰۹] د فرعون د قوم څخه مشرانو وویلې: یقیناً دغه (موسی ﷺ) خامخا پوه جادوګر دی.

[۱۱۰] اراده لري (غواړي) چې تاسو د خپلې ځمکې (مصر) څخه (د جادو په زور) وباسي.

نو (فرعون د دوی څخه وپوښتل چې) هغه شی کوم دی چې تاسو (پرې ماته) مشوره راکوئ.

[۱۱۱] دوی (مشرانو) وویلې: دی (موسی ﷺ) او د ده ورور (هارون ﷺ) وروسته کړه (سمدستي یې مه وژنه) او په ټولو ښارونو کښې راغونډونکي (پولیس) ولېږه.

[۱۱۲] ترڅو تاته هر یو پوه جادوګر راولي (راغونډ کړي او د عوامو په وړاندې پرې خپله برلاسې څرګنده کړي).

## د مطلب خلاصه

۱_ یعني: کله چې فرعون د موسی ﷺ د خولې څخه واورېده چې زه په خپل رسالت باندې دلیل لرم، نو هېڅ معطل یې ونه کړ او دستي یې مخاطب کړ چې راوړه دلیل، که ربنتیا وایې.

د فرعون خیال وه چې موسی ﷺ به د دلیل (معجزې) راوړلو څخه عاجز شي او زه به پرې سمدستي برلاسی شم.

موسی ﷺ بې درنګه په پټه خوله عملاً جواب ورکړ او دیوې معجزې په عوض یې لاندې دوه معجزې ورونبودلې:

الف: د خپل لاس همسا یې وغورزوله چې سمدستي ترې لوی نر ښامار جوړ شو چې هېچا پکښې شک نه شو کولی چې دا به ښامار (اژدها) نه وي.

ب: خپل لاس یې د همسا د غورزولو څخه وروسته په خپل ګریوان کښې ننویست چې بېرته یې رابهر کړ نو ناڅاپه تک سپین جوړ شو او داسې شغلې یې وهلې چې د لمر رڼا یې تته کړه، او ټول کتونکي متیقن شوه چې دا څه مرض نه دی او نه خیالي کار دی بلکې واقعیت لري.

مګر کله چې موسی ﷺ خپل روښانه لاس بېرته ګریوان ته دننه کړ او بیا یې رابهر کړ نو خپل عادي رنګ ته واووښت.

۲_ کله چې فرعون ذکرې شوې دواړه معجزې په خپلو سترګو ولېدې او وار یې خطا شو نو په

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اضطراري توګه یې د مشرانو شورې او یا په اصطلاح د وزیرانو جرګه دایره کړه چې څه وکړي؟

په شورې کښې د جر او بحث په نتیجه کښې دوی بل هېڅ شی ونه شو کړی او بل هېڅ اتهام یې وربانديې ونه شو لګولی بې د دې چې موسی ﷺ ته یې د یوه جادوګر لقب ورکړ او ذکرې شوې دواړه معجزې یې سِحري ننداري وبللې.

مګر په عین حال کښې یې موسی ﷺ باندې د نورو جادوګرانو پشان خیال ونه کړ چې د خلکو د ساتیرۍ دپاره څه ننداري وړاندې کوي او بل کوم اساسي هدف نه لري، دوی وویلې چې دغه سړی (موسی ﷺ) غواړي چې د جادو په زور د اسباط حکومت راژوندی کړي. او یا په بل عبارت غواړي چې د یوسف ﷺ په څای کښېني او زمونږ لاسونه د دې وطن د حکومت څخه وباسي؛ نو هلئ ژر کړئ د مخنوي چاره یې وسنجوئ.

۳ـ نو کله چې د شورې اعضاوو د موسی ﷺ موضوع خطري معرفي کړه نو فرعون دوی ته مخ وروا ړاوه او ویې ویلې چې خبره دومره خطرناکه ده نو تاسو څه مشوره راکوئ. زما خو زړه دی چې دواړه ووژنم؟

نو دوی ټولو په یوه خوله فیصله ورکړه چې د وژلو خبره یې وځنډوه، د دوی وژل خو څه درنه خبره نه ده فقط دوه وروڼه دي او نور څوک ملاتړ نه لري خو که فی الحال د دوی په وژلو اقدام وکړې عوام به وایي چې بې د جنایت څخه یې ووژل او یا به وایي چې د دوی د مقابلې توان یې نه درلود. نو بهتره دا ده چې یو ځل یې په استدلال سره د خبرو قوت مات کړې بیا نو که ووژل شي هم باک یې نشته.

سمدستي ورته د خپل ټول قلمرو څخه جادوګران راغونډ کړه او د پوهو جادوګرانو په مقابله کښې یې د داسې خجالت سره مخامخ کړه چې په ټول عمر کښې بیا د پیغمبرۍ نوم په خوله باندې وانخلي.

## توضیحات

۱ـ په هېڅ وخت او په هېڅ ځای کښې داسې نه دي شوي چې د جادوګرو د مخنیوي دپاره د وزیرانو مجلس دائر شوی وي او نه داسې شوي دي چې د جادوګر څخه حکومت په ډار کښې لویدلی وي چې په وطن باندې به قبضه وکړي او غواړي خپل ځان واکدار جوړ کړي. خو د موسی ﷺ په باره کښې د لاندې وجوهو د کبله د فرعونیانو سره ذکر شوي خیالات پیدا شوه:

الف: هر جادوګر د جادوګرۍ د پیل څخه وړاندې لاسي نغاره او څه منترونه وایي او بیا په اصل مطلب باندې شروع کوي، خو موسی ﷺ سمدلاسه خپلې معجزې وړاندې کړې او هېڅ مقدمات یې ورنه کړه.

نو دوی ته تشویش پیدا شو او اضطراري مجلس یې دائر کړ او ویل یې چې دا څه عادي کار نه دی احتمال لري چې زمونږ د حکومت د زوال سبب جوړ شي.

ب: موسی ﷺ د خپلو خبرو په پیل کښې د فرعون څخه غوښتي وه چې بني اسرائیل راخوشې کړه، نو فرعونیان مشوش شوه هسې نه چې د خپلو پخوانیو پلرونو حکومت بېرته راژوندی کړي، او د خپلو

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



قومیانو په جدا کولو سره د مقاومت جبهه جوړه کړي او په نتیجه کښې په حکومت قبضه ولګوي.

## دېر خطري شی وپېژنئ!

۲ـ په یاد ولرئ کوم شی چې په بې دینۍ کښې دېر قوي اثر لري او اکثره خلکو د هغه شي د کبله یا کفر غوره کړی دی لکه فرعون او یا په جنایتونو باندې اخته شوي دي لکه چې په موجوده وخت کښې[1] د افغانستان د څوارلس کلن جهاد مشران په جنایتي لوبه کښې اخته دي، هغه د حب الریاسه او حب الجاه څخه عبارت دی. الله ﷻ دې په خپل فضل سره اسلامي حکومت قائم کړي.

## یادوني

۳ـ په دې مقام کښې باید محترم لوستونکي لاندې مطالب په نظر کښې وساتي:

الف: د ﴿ ثُعْبَانٌ ﴾ د کلمې شرحه د [الأعراف: ۱۱۷] آیت لاندې ـان شاء اللهـ راروانه ده هیله ده چې هملته وکتله شي.

ب: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په روایت د ﴿ تَأْمُرُونَ ﴾ معنی "تُشِيرُونَ" ده[2] یعنې فرعون د خپلې شورۍ څخه وغوښتل چې تاسو څه مشوره راکوئ؟. خو مونږ ته دا هم لرې نه برېښي چې فرعون به د دېرې ورخطائۍ څخه د شورۍ اعضاوو ته د آمرانو لقب ورکړی وي او ورته به یې ویلي وي چې خطر یوازې ماته متوجه نه دی بلکې ټول د خطر سره مخامخ یاستو، او هم زه ستاسو د فیصلې څخه په غیر کوم کار ته اقدام نه کوم بلکې ستاسو فیصله زه منم نو تاسو جنابان څه امر کوئ؟

## یو صرفي تحلیل

۴ـ په ﴿ قَالُوٓاْ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ ﴾ کښې د "أَرْجِهْ" کلمه په اصل کښې "أَرْجِئْهُ" وه، همزه په "ی" بدله او بیا د صرفي وقف د کبله حذفه شوې ده، او "هٗ" پکښې ضمیر دی چې موسی علیه السلام ته راجع دی او د تخفیف د کبله په سکون سره مبني ګرځېدلی دی.

دغه کلمه د "اِرْجَاء" څخه اشتقاقه شوې ده چې د تاخیر (وروسته کولو) معنی ورکوي[3] د همدې کبله هغې ډلې ته د "مُرْجِئَه" لقب ورکړی شوی دی کومه چې د دوزخ څخه د نجات په هکله عمل وروسته ګڼي او په څه ارزښت (اثر) ورته قائل نه دي.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ای فرعونه! د موسی علیه السلام او د ده د ورور (هارون علیه السلام) د وژلو خبره وروسته کړه (ټال ورکړه)، ترڅو چې د تماشه کوونکو په مخ کښې ملامته کړی شي.

په اصطلاح اول یې پره کړه او بیا یې مره کړه.

---

(۱) ۱۳۷۴/۷/۳۰ هـ ش

(۲) البحر المحیط ج۵ ص۱۳۴

(۳) لسان العرب ج۱ ص۸۴

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَجَآءَ ٱلسَّحَرَةُ فِرۡعَوۡنَ قَالُوٓاْ إِنَّ لَنَا لَأَجۡرًا إِن كُنَّا نَحۡنُ ٱلۡغَٰلِبِينَ ﴿١١٣﴾ قَالَ نَعَمۡ
وَإِنَّكُمۡ لَمِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿١١٤﴾ قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ نَحۡنُ ٱلۡمُلۡقِينَ ﴿١١٥﴾
قَالَ أَلۡقُواْۖ فَلَمَّآ أَلۡقَوۡاْ سَحَرُوٓاْ أَعۡيُنَ ٱلنَّاسِ وَٱسۡتَرۡهَبُوهُمۡ وَجَآءُو بِسِحۡرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾
وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَلۡقِ عَصَاكَۖ فَإِذَا هِيَ تَلۡقَفُ مَا يَأۡفِكُونَ ﴿١١٧﴾ فَوَقَعَ ٱلۡحَقُّ وَبَطَلَ
مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُواْ هُنَالِكَ وَٱنقَلَبُواْ صَٰغِرِينَ ﴿١١٩﴾ وَأُلۡقِيَ ٱلسَّحَرَةُ سَٰجِدِينَ
﴿١٢٠﴾ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٢١﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَٰرُونَ ﴿١٢٢﴾﴾

[۱۱۳] او جادوګران فرعون ته ورغله (ورټول شوه او ورته) وې ویلې: یقیناً مونږ ته به (ستا په نزد) څه مزدوري وي که همدا مونږ وو چې (په مقابل طرف باندې) غالب شو؟

[۱۱۴] ده (فرعون ورته) وویلې: هو (تاسو به بې مزده نه پاتې کېږئ) او (علاوه په مزد) یقیناً تاسو به (په راتلونکي کښې) د مقربینو څخه جوړ شئ (بې ایجازې به راځئ او شفاعت به مو قبلیږي).

[۱۱۵] دوی (ساحرانو) وویلې: ای موسی! یا به ته (خپله همسا) غورزوې (او مونږ به یې مقابله کوو) او یا به مونږ همدا مونږ (د پړو او همساګانو) غورزوونکي شو (او ته به یې جواب راکوې).

[۱۱۶] ده (موسی ﷺ) وویلې چې: تاسو یې وغورزوئ (لومړی نوبت دې ستاسو وي).

نو هرکله چې دوی (خپل سامان) وغورزاوه (نو) د خلکو په سترګو باندې یې جادو وکړ او ویې دار کړه او (بالآخره) لوی جادو یې (د خلکو په وړاندې) راوړ.

[۱۱۷] او مونږ موسی ﷺ ته وحي وکړه چې خپله همسا دې وړواچوه (چې همسا یې وړواچوله) نو ناڅاپه یې هغه (ټول سامان) بنویه تیرکړه کوم چې دوی پې دروغو ماران بنودلي وه.

[۱۱۸] نو حق ثابت شو او هغه څه باطل شوه چې دوی (ساحران) وه چې کول یې (لکه چې واقعاً باطل وه).

[۱۱۹] نو دوی (فرعونیان) په دغه جنګ میدان کښې مغلوب کړی شوه او خوار (ذلیل) وګرځېده.

[۱۲۰] او جادوګران سجده کوونکي وغورزول شوه (په سجده باندې ولوېده).

[۱۲۱] دوی وویلې: مونږ په رب العالمین باندې ایمان راوړی دی.

[۱۲۲] چې د موسی ﷺ او د هارون ﷺ رب دی (نه هغه څوک چې په خپل ځان باندې یې د مصریانو د رب نوم اینبی دی).

## د مطلب خلاصه

یعني: فرعون د خپلې شورې فیصله عملي کړه او د ټول مملکت څخه یې په بنه زیات تعداد

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې جادوګران را ټول کړه او د موسی ﷺ مقابلې ته یې ودرول چې څه لنډ تفصیلات یې دغه دي:

۱_ د هرڅه څخه وړاندې جادوګرانو فرعون مخاطب کړ او د غلبې په صورت کښې یې ترې څه بدله او انعام وغوښت.

۲_ فرعون د دوی وړاندیز قبول کړ او ویې ویل چې د کامیابۍ په صورت کښې به تاسو ته ښه غټ انعام درکړم، او په دې باندې علاوه تاسو به زما د مقربو ملګرو څخه جوړ شئ: چې په هر وخت کښې به زما ملاقات کولی شئ او ستاسو په تګ راتګ باندې به هېڅ ډول بندیز نه وي او بالآخره ستاسو سپارش به هم منل کېږي او پوره اعتبار به حاصل کړئ، نو په کار دي چې خپل ټول قوت په کار واچوئ او د موسی ﷺ په تخجیل کښې خپل ټول مهارت پیاده کړئ.

۳_ د ذکر شوي اعتماد اخستلو څخه وروسته جادوګرانو په ډېرې بې اعتنایۍ سره موسی ﷺ ته خطاب وکړ چې: ای موسی! تاخو څو ورځې وړاندې په خپلې همسا سره خلک ډار کړي وه چې د هغوی په سترګو کښې دې ترې اژدها جوړه کړې وه، نو هله ژر شه زمونږ په وړاندې د لاندې دوه وو صورتونو څخه یو صورت اختیار کړه:

الف: چې ته همسا وغورزوې او اژدها ترې جوړه کړې او په مقابل کښې یې مونږ جواب درکړو.

ب: او یا دا چې مونږ به خپل پړي او رسۍ په میدان کښې واچوو او د خلکو په سترګو کښې به ترې ماران جوړ کړو او ته به یې مقابله وکړې که د مقابلې توان دې درلود.

۴_ موسی ﷺ د لاندې وجوهو د کبله دوهم شق غوره کړ.

الف: که موسی ﷺ خپله معجزه د هرڅه څخه وړاندې ښودلې وی نو د جادوګرانو قوت به پټ پاتې شوی وی، که بالفرض دوی جواب ته اقدام نه وی کړی نو خلکو به ګومان کړی وی چې جادوګرانو یې جواب ورکولی شو خو بې همتې یې وکړه او د جواب څخه ساکت شوه.

ب: ترڅو خلک وګوري چې جادوګران خپله ننداره په څومره منترونو او ټپوټالاش باندې پیل کوي، او موسی ﷺ خپله معجزه په څومره بې پروائۍ سره اچوي، هوښیاران د مقابلې د پیل څخه پوهېږي چې هغه جادو دی او دا معجزه.

۵_ جادوګرانو خپلې وسې تمامې کړې او د خلکو په سترګو باندې یې جادو (کوډې) وکړې چې پړي ورته ښاماران ښکاره شوه او ټول یې وډار کړه، لنډه دا چې ډېر لوی جادو یې په میدان کښې پیاده کړ، د کتونکو خیال ته ورغله چې موسی ﷺ به یې د مقابلې څخه عاجز شي.

۶_ په عین وخت کښې مونږ موسی ﷺ ته وحې وکړه چې خپله همسا دې په میدان کښې وغورزوه. د غورزولو سره سم ترې لوی ښامار جوړ شو او د جادوګرانو پړي یې ټول ښویه تېر کړه، چې په پای کښې د همدغه یو ښامار څخه په غیر بل هېڅ مار خلکو ته په نظر نه ورته، او میدان ترې خالي شو او خلک ټول هک پک ودرېده څکه چې:

الف: ذکر شوي ښامار د جادوګرو ټول جادو تېر کړ خو ګېډه یې پړې ونه پړسېده تا به ویل چې هېڅ شی یې نه دی تېر کړی.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: کله چې موسی ﷺ لاس ور واچاوه نو سمدستي ښامار خپل پخواني حال ته واووښت او همسا ترې جوړه شوه خو د جادوګرانو پړي بالکل ورک او لا درکه شوه.

۷ـ نو د همدې کبله کوم شی چې حق وه هغه خلکو ته هم حق ښکاره شو او څه چې باطل وه هغه ټول د بطلان سره مخامخ شوه.

۸ـ نو ټول فرعونیان د کابینې په شمول مغلوب شوه او د مقابلې په میدان کښې ذلیله او خجالت وګرځیده. یا په بل عبارت: کومه کنده یې چې د موسی ﷺ د ذلت دپاره کنودې وه په هغې کښې په خپله وغورزېده.

۹ـ په نتیجه کښې جادوګران د معجزې د تاثیر لاندې راغله او الله ﷻ ته په سجده باندې په چالاکۍ سره پرېواته، تا به ویل چې څوک یې تېل وهي.

۱۰ـ نو کوم شي چې د جادوګرانو په زړونو کښې ځای ونیوه هغه یې په خولو باندې څرګند کړ چې مونږ په رب العالمین ﷻ باندې ایمان راوړی دی.

د ښه وضاحت په غرض یې ورسره دا ټکی هم زیات کړ چې زمونږ په عقیده رب العالمین د هغه اقدس ذات څخه عبارت دی چې د موسی ﷺ او د هارون ﷺ رب دی، ترڅو د یوه پلوه د فرعون تمه غوڅه کړي چې مونږ په تا باندې عقیده نه لرو، او د بله پلوه د پاکیزه کلمې په دوهم جز باندې هم اقرار وکړي، چې طیبه کلمه دوه جزونه لري: یو د الله ﷻ په وحدانیت عقیده او بل د نبوت منل.

## توضیحات

۱ـ د جادوګرانو په تعداد کښې مفسرینو کرامو مختلف اقوال لیکلي دي چې تقریباً دیارلس قولونو ته رسیږي(۱)، حتی ځینې مفسرین کرام وایي چې دا ټول اسرائیلیات دي(۲)، د همدې کبله مونږ فقط لاندې معلومات لیکو:

الف: د الله ﷻ عادت وه چې هر پېغمبر ته یې هغه ډول معجزه ورکوله کومې به چې د وخت مشهور صنعت د اعجز لاندې راوړلی شو. د همدې کبله یې نبي کریم ﷺ ته د قرآن کریم فصیحه او بلیغه معجزه هم ورکړه ځکه چې د ده په زمانه کښې فصاحت او بلاغت اوج ته رسیدلی وه. او عیسی ﷺ ته یې د خاصو مرضونو د جوړولو او د مړو د ژوندي کولو معجزې ورکړې ځکه چې هلته طبابت ډېره ترقي کړې وه خو نه یې مړي ژوندي کړی شو او نه یې د خاصو مرضونو (لکه بړګي مرض) تداوي وکړی شوه.

همدارنګه الله ﷻ موسی ﷺ ته د همسا معجزه ورکړه ځکه چې د ده په وخت کښې جادوګر ډېر مخ په وړاندې روان وه حتی چې ټول ښارونه پرې ډک وه او یو رسمي (دولتي) شکل یې درلود. نو دا خبره پوره واضحه ده چې د جادوګرو شمېر به ډېر وه او په ذکره شوې صحنه کښې به د ابتدایي شاګردانو څخه نیولې آن د عالي تحصیلاتو خاوندانو او د لوړو رتبو استاذانو هم ګډون کړی وه.

---

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۶۳؛ تفسیر القرطبي ج۷ ص۲۵۸
(۲) تفسیر المنار ج۹ ص۶۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: همدارنګه علماوو کرامو د جادو ګرانو د همساګانو او پړو په باره کښې هم ډیر څه لیکلي دي، حتی څینې لا وايي چې په دريې سوه او شپېتو (۳۶۷) اوښانو باندې بار کړې همساګانې او پړي د مقابلې میدان ته انتقال کړی شوه[1]، والله ﷻ اعلم.

ج: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما او د څو نورو علماوو کرامو څخه روايت دی چې موسی ﷺ د مقابلې څخه وړاندې د جادوګرانو مشر مخاطب کړ چې که زه درباندې غالب شوم نو ایمان به راباندې راوړې او زما د پیغمبرۍ په حقانیت باندې به شاهدي ورکوې.

هغه جواب ورکړ: نو په الله ﷻ مې دې سوګند وي که ته را باندې غالب شوې نو ضرور به درباندې ایمان راوړم او ضرور به په دې شهادت ورکړم چې تا څه راوړي دي هغه حق دي[2]. دغې مکالمې په داسې وخت کښې صورت ونیوه چې فرعون په مجلس کښې حاضر وه.

د: مونږ د سحر او جادو په باره کښې د [البقرة:۱۰۲] آیت لاندې څه معلوماتو ته اشاره کړې ده خو که څوک غواړي چې په دې هکله ښه پوره څېړنه ولولي او د دولونو معلومات یې واخلي نو څینو تفاسیرو[3] ته دې مراجعه وکړي، مونږ ته یې دلته رانقلول چندان مزه ناک ښکاره نه شوه.

## ثُعبان د کوم مار نوم دی؟

۲ ـ "ثُعْبَان" د هغه غټ مار نوم دی چې په پښتو ژبه کښې ورته "ښامار" او په دري ژبه کښې ورته "اژدها" ویل کېږي.

د موسی ﷺ د همسا څخه د معجزې په توګه په زیړ رنګ کښې ښامار جوړ شوی وه[4].

مګر مفسرینو کرامو د همدې ښامار په غټوالي کښې ډېر څه لیکلي دي الله ﷻ پوهېږي چې ثبوت ته به رسیدلي وي او که نه، لاندې څو مثالونه ولولئ:

الف: ذکر شوی ښامار دومره غټ او پلن وه چې د خولې ارتوالی یې اتیا ګزه وه[5].

ب: د ځمکې څخه د یوه میل په امتداد سره نیغ ودریده[6].

ج: خلک یې دومره ودار کړه چې په ازدحام (تېل) کښې پنځه ویشت زره (۲۵۰۰۰) کسان ووژل شوه[7]، والله ﷻ اعلم.

## سوال جواب

۳ ـ که څوک وايي چې: په ﴿وَأُلْقِيَ ٱلسَّحَرَةُ﴾ کښې خو "أُلْقِيَ" مجهوله صیغه ده، نو د معنی

(۱) المحرر الوجيز ج۷ ص۱۳۲
(۲) تفسير الطبري ج۶ ص۲۳
(۳) تفسير المنار ج۹ ص۴۷ـ۶۰؛ روح المعاني ج۹ ص۲۵
(۴) الدر المنثور ج۳ ص۵۱۱
(۵) تفسير البغوي ج۲ ص۱۸۷
(۶) روح المعاني ج۹ ص۲۰
(۷) تفسير ابي السعود ج۳ ص۲۵۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حاصل یې داسې راوځي چې: جادوګران د بل چا د پلوه په سجده باندې پریوستلي شوه. حال دا چې دوی خو په خپل اختیار سجده وکړه؟

مونږ وایو چې: ساحران د معجزې د دومره زیات تاثیر لاندې راغله چې په سجده کولو کښې یې په هېڅ ډول ټال ونه کړ حتی چې په ایمان راوړلو کښې یې بو تربله مشورې کولو هم صورت ونه نیوه، تا به ویل چې د کومې خوا څخه دوی سجدې ته ورټېل وهل کېږي.

## ایا د ساحرانو څخه په غیر بل چا ایمان راووړ؟

۴ـ ښنو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د جادوګرانو د ایمان راوړلو اثر په نورو خلکو باندې هم ولوېده او شېږ لکه خلک په ایمان مشرف شوه[۱]، والله ﷻ اعلم.

﴿ قَالَ فِرْعَوْنُ ءَامَنتُم بِهِۦ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّ هَٰذَا لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوهُ فِى ٱلْمَدِينَةِ لِتُخْرِجُوا۟ مِنْهَآ أَهْلَهَا ۖ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿١٢٣﴾ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَٰفٍ ثُمَّ لَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٢٤﴾ قَالُوٓا۟ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا تَنقِمُ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ۚ رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ ﴿١٢٦﴾ وَقَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ مُوسَىٰ وَقَوْمَهُۥ لِيُفْسِدُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَءَالِهَتَكَ ۚ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْىِۦ نِسَآءَهُمْ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَٰهِرُونَ ﴿١٢٧﴾ ﴾

[۱۲۳] فرعون ووېلې: (ایا) تاسو په ده (موسی ؑ) باندې د دې څخه وړاندې ایمان راووړ چې زه تاسوته (د ایمان راوړلو) اجازه درکړم؟ یقیناً دغه (کار) ضرور یو پټ تدبیر دی چې تاسو په ښار (مصر) کښې د دې دپاره ترتیب کړی دی چې د دې (ښار) څخه د ده اهل (اوسیدونکي) وباسئ، نو ژر دی چې پوه به شئ (چې زه ستاسو سره څه کوم).

[۱۲۴] خامخا ضررور به زه ستاسو لاسونه او پښې رد او بدل پرې کړم، بیا به تول په دار باندې زوړند کړم (چې خلک درڅخه عبرت واخلي).

[۱۲۵] دوی (تازه مسلمانانو) ووېلې: مونږ خپل (حقیقي) رب ﷻ ته رجوع کوونکي یاستو (ستا د تهدیداتو د اثر لاندې نه واقع کېږو).

[۱۲۶] او (دا یې هم ووېلې چې:) ته زمونږ څخه بل شی بد نه ګڼې مګر (فقط) همدا (درته بد ښکاري) چې مونږ د خپل رب ﷻ په ایتونو باندې (په تلوار سره) ایمان راووړ کله چې مونږ ته راغله (او ستا اجازې ته مو ټال نه کړ حال دا چې دا کار د بد ګڼلو نه دی، که ته په غصه یې نو مونږ خپل

(۱) تفسیر القرطبي ج۷ ص۲۶۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رب ﷺ ته سوال کوو چې) ای زمونږ ربه! په مونږ باندې (د) صبر (باران) وکړې او په داسې حال کښې مو واخلې (وفات کړې) چې مونږ (تا ته) غاړې اېښودونکي یاستو (د ارتداد څخه امان راکړې).

[۱۲۷] او د فرعون د قوم مشرانو (ده ته) وویلې: ایا ته موسی ﷺ او د ده قوم پرېږدې چې په ځمکه کښې فساد وکړي (خلک د دین څخه واړوي)، حال دا چې موسی ﷺ تا پرېږدي او ستا معبودان (هم پرېږدي چې اطاعت او عبادت یې نه کوي)؟

ده (فرعون) وویلې: ژر به د دوی د هر ځامن ووژنو او ښځې (لورګانې) به یې پرېږدو او یقیناً مونږ (په دوی باندې) د پاسه زورور یاستو (هېڅوک نجات نه شي ورکولی).

## د مطلب خلاصه

یعني: کله چې د مقابلې په میدان کښې فرعونیان مغلوب شوه نو په لاندې ډول سره مباحثه پیل شوه:

۱ـ د هرڅه څخه وړاندې فرعون خپل تهدید مسلمانانو جادوګرانو ته متوجه کړ چې:

الف: ای جادوګرانو! ایا تاسو زما د اجازې څخه په غیر ایمان راووړ؟ دا مو یو جنایت دی چې دومره لوی کار ته مو بې اجازې اقدام وکړ. ته به وایې چې نور خلک په غوږ باندې وهي چې په ایمان باندې مشرف نه شي، چې دا منصف سړی دی که حقیقت ورته څرګند شوی وی نو خلکو ته به یې د ایمان راوړلو اجازه ورکړې وی.

ب: ای جادو ګرانو! زه پوهېږم چې تاسو د موسی ﷺ د ښار د ورانولو پټ پلان جوړ کړی وه او هغه مو عملي کړ، تاسو په اخلاص سره جادو پیاده نه کړ او د جادو څه برخې مو پټې وساتلې. او یا په بل عبارت: تاسو هغه ته خپل ځانونه قصداً ملامته وښودل که نه نو په تاسو باندې یې کله زور رسیده؟

موسی ﷺ ستاسو مشر جادوګر دی او تاسو یې شاګردان یاست، تاسو ونه غوښتل چې خپل استاذ د مقابلې په میدان کښې ذلیله کړئ، دا د یو پلوه او د بله پلوه تاسو غواړئ چې په همدې چل او فریب سره د دې وطن واکې ترلاسه کړئ د وطن اصلي اوسیدونکي (قبطیان) ترې وباسئ او د خارجیانو (سبطیانو) حکومت پرې په دوهم ځل مسلط کړئ، د دې وطن (مصر) اصلي اوسیدونکي هوښیار دي تاسو یې نه شئ تېر ویستلی.

ج: نو ای جادوګرانو! کله چې تاسو د دې وطن په ورانولو کښې مفسدانه حرکت کوئ نو ډېر ژر به پوه شئ چې زه درسره څه کوم؟

زه به ستاسو د هر یوه یو لاس او یوه پښه رد او بدل پرې کړم. یا په بل عبارت: د فساد لاسونه به مو قطعه کړم او د مفسدانه حرکت او تګ راتګ څخه به مو وغورزوم.

په دې باندې علاوه، بیا به ستاسو ټول مړي په دار باندې زوړند کړم چې خلک درڅخه د عبرت درس واخلې او بل څوک دغسې مفسدانه عمل ته اقدام ونه کړي.

۲ـ مسلمانانو جادوګرانو په ډېره مېړانه او جرئت سره فرعون مخاطب کړ چې:

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ای فرعونه! مونږ اوس پوه شو چې مونږ ستاسو غونډې په باطله لاره باندې روان وو. الحمدلله مونږ خپل حقیقي پالونکي (رب العالمین) ته رجوع کړې ده او اصلي هدف ته رسیدلي یاستو، نو زمونږ څخه دا امید مه کوه چې مونږ به بېرته باطل مسلک ته ورتاو شو.

ب: ای فرعونه! ته خو بې ځایه مونږ ته غابن چیچې کوې او بې جنایته مونږ تهدیدوې.

ایا دا جنایت دی چې مونږ ته د خپل رب ﷻ د پلوه معجزات راورل شوه او مونږ پرې عقیده وکړه؟ په کار خو دا وه چې تا مونږ ته انعام راکړی وی چې حقیقت مو درته په ګوته کړ، که حقیقت ته متوجه شې نو په دغو معجزاتو باندې به ته هم ایمان راوړې دا جنایت نه دی بلکې ایمان نه راوړل جنایت دی.

ج: ستا د تهدید په مقابل کښې مونږ خپل رب ﷻ ته سوال کوو چې: ای زمونږ ربه! په مونږ باندې د صبر او استقامت په شیبو-شیبو باران وکړې چې په ایمان کښې متزلزل نه شو.

ای زمونږ ربه! مونږ د وروستنۍ سلګۍ پورې په اسلام (ایمان) باندې کلک ولرې.

۳ـ کله چې د مجلس حاضرینو د فرعون او د مسلمانانو ساحرانو ذکر شوی سوال جواب واورید نو د قوم مشرانو د فرعون د ډاډینې دپاره وړاندیز وکړ چې مونږ خو تاته وړاندې فیصله درکړې وه چې د موسی علیه السلام په وړنه باندې بیړه مه کوه ترڅو چې یو ځل په استدلال سره ذلیل شي او د ملامتې لاندې راشي چې په همدې اساس همدغه عام مجلس منعقد شوی وه، مګر څرنګه چې په دغه مجلس کښې ساحرانو خیانت وکړ او په لوی لاس یې ځانونه ملامت وښودل نو د هغه په ژوندي پاتې کېدلو کښې د دې څخه وروسته د ضرر څخه په غیر څه ګټه نشته.

ایا ته به موسی علیه السلام ته او د ده قوم ته ګورې او دوی به په ځمکه کښې فساد کوي (خلک به د دین څخه اړوي) او هم به ستا د اطاعت څخه غاړې غړوي چې بې اجازې به ایمان راوړي، او هم به ستا معبودانو ته (چې تا ورته ټاکلي دي) په سپک نظر ګوري او عبادت به یې نه کوي؟

ایا د دغو ټولو فسادونو سره-سره اوس هم ته د دوی په وژلو او د منځه وړلو کښې ځنډ کوې؟

۴ـ یو ځل بیا فرعون خپله خوله بېرته کړه او خپله غُصه یې یوازې په بني اسرائیلو باندې سره کړه او ورته یې وویلي چې:

ای د کابینې مجلسه! تاسو بې غمه اوسئ مونږ به بیا د بني اسرائیلو نارینه اولادونه ووژنو او یوازې لورګانې به یې ژوندی پریږدو ترڅو دوی بیا د پاچاهۍ خوبونه ونه ګوري، او کوم خیال پولاو چې دوی پوخ کړی دی هغه د خپلو دماغونو څخه وباسي، او دا کار مونږ ته اسان دی مونږ خو په دوی باندې دپاسه او زورور یاستو او دوی زمونږ د لاسه لاندې او کمزوري دي. مونږ په دوی باندې هر وخت خپله اراده تحمیولی شو.

## توضیحات

۱ـ که څه موسی علیه السلام په اول وخت کښې فرعون ته د لاس او همسا دواړه معجزې ښودلې وې او هغه د دواړو معجزو د مقابلې په خاطر جادوګران راغونډ کړي وه، مګر کله چې فرعونیانو د همسا د معجزې په مقابله کښې ماتې وخوړه نو د لاس معجزه یې بالکل یاده نه کړه، که بالفرض محال

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

دوی په دې مقابله کښې کامیاب شوي وی نو بیا به یې موسی ﷺ مخاطب کړی وی چې هغه بله معجزه هم راوړاندې کړه چې مقابله یې وکړو.

۲_ امکان لري چې فرعون به (د متکبرانو د عادت په مطابق) ساحرانو ته د زیاتو جوابونو فرصت نه وي ورکړی که نه دوی خو لاندې جوابونه هم ورکولی شوه.

الف: فرعون د مغلوبیت څخه وروسته ساحران مخاطب کړي وه چې: ﴿ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ ﴾ [طه:۷۱] یعنې: یقینًا دا (موسی ﷺ) ستاسو هغه مشر (استاذ) دی چې تاسو ته یې جادو درښودلی دی.

نو که ساحرانو ته یې موقع ورکړې وی نو فرعون به یې مخاطب کړی وی چې: ترڅو پورې چې موسی ﷺ دلته په مصر کښې وه نو هلته خو ستا په کور کښې اوسېده او بیا ستا د کوره د مدین ښار ته لاړ نو زمونږ په کوم وخت کښې استاذ جوړ شو؟

په دې باندې علاوه، که دا زمونږ مشر وی مونږ به د ده څخه د کامیابۍ په صورت کښې د انعام وعده اخستې وی حال دا چې دغه وعده مو ستا څخه اخستې وه.

ب: د مدین د ښار څخه چې راغی نو د هرڅه څخه وړاندې تاته درغی او اسلام ته یې دعوت کړې، ای فرعونه! که تا ورته مونږ نه وی راغونډ کړي نو مونږ به نه لېدلی وی او نه به مو پېژاندلی وی چې موسی ﷺ څوک دی؛ نو په کوم وخت کښې د ده سره مونږ پټه مشوره وکړه او ستا د حکومت د چپه کولو پلان مو ورسره ترتیب کړ ؟

ج: ای فرعونه! مونږ مادي خلک وو د همدې کبله مو د مقابلې څخه وړاندې ستا څخه د مادیاتو وعده واخسته چې هم به انعام او هم به مزدوري راکوې او هم به ستا په دربار کښې مقرب خلک جوړ شو، نو که بالفرض زمونږ په زړونو کښې د اسلام ډیوه نه وی بله شوې نو په کار وه چې مونږ د خپلو مادیاتو د ګټلو په غرض هم په جادو کښې زیات کوښښ کړی وی او په لوی لاس مو خانونه د انعاماتو څخه نه وی محروم کړي. نو ستا دغه اتهام بالکل بې ځایه دې چې مونږ په دستوري توګه د موسی ﷺ په ګټه کار وکړ، چا سره چې نه پیسې شته او نه نور مادیات لري.

د: ای فرعونه! مونږ ته خو ستا جابریت د وړاندې څخه څرګند وه، که مونږ ته واقعیت نه وی معلوم شوی نو ستا د ډاره به مو هم په جادوګرۍ کښې سستي نه وی کړې او د داسې کمزوري سړي اندیوالي به مو نه وی غوره کړې چې فی الحال ستا د غاښ چیچي مخنیوی هم زمونږ څخه نه شي کولی.

ه: ای فرعونه! دغه غُصه چې مونږ ته دې متوجه کړې ده دا ولې موسی ﷺ ته نه متوجه کوې، چې په یوه همسا باندې یې ستا ټولې هلې ځلې په اوبو کښې لاهو کړې؟ د دې څخه معلومېږي چې هغه ته د ډاره غُصه نه شې کولی. او په مونږ باندې د زړه براس وباسې.

## ایا ساحران د فرعون د لاسه شهیدان شوه؟

۳_ ځینې علماء کرام وایي چې فرعون ساحرانو ته غاښ چیچی وکړ او په وژلو باندې یې

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تهدید کړه مګر خپله نقشه یې وربانديې عملي نه کړه⁽¹⁾. الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ أَنتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا ٱلْغَٰلِبُونَ ﴾ [القصص:۳۵] یعنې: تاسو دواړه (موسی ﷺ او هارون ﷺ) او هغه څوک چې ستاسو پیروي کوي همدوی غالب دي.

نو که بالفرض وژلي یې وي نو بیا خو به دوی مغلوب جوړ شوي وو.

مګر قوي خبره دا ده چې ذکر شوي تازه مسلمانان یې شهیدان کړه او د دوی همدا هم لویه غلبه وه چې د خپل ایماني عزم څخه یې وانه ړولی شوه.

عبدالله بن عباس رضي‌الله‌عنهما همدې خبرې ته اشاره کوي او وايي چې: "كَانُوا فِي أَوَّلِ النَّهَارِ سَحَرَةً وَفِيْ آخِرِ النَّهَارِ شُهَدَاءَ"⁽²⁾ دوی د ورځې په اولنۍ برخه کښې جادوګران کافران وه خو د ورځې په وروستنۍ برخه کښې شهیدان جوړ شوه. فإنا لله وإنا إليه راجعون.

## یوه عجیبه اشاره

۴ـ وړاندې او بېرته ایتونه یو عجیب شي ته اشاره کوي هغه دا چې د مقابلې څخه وړاندې فرعون د موسی ﷺ د وژلو هڅه کوله لکه چې الله ﷻ د ده د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ ذَرُونِيٓ أَقْتُلْ مُوسَىٰ وَلْيَدْعُ رَبَّهُۥٓ ﴾ [غافر:۲۶] یعنې: ما پرېږدئ چې موسی ﷺ ووژنم او خپل رب دې راوبلي (چې را څخه خلاص یې کړي).

مګر د وزیرانو مجلس فیصله وکړه چې د وژلو موضوع یې لږ څه وروسته کړه [الأعراف: ۱۱۱] چې د وژلو مناسب وخت راورسید نو بیا به مونږ د وژلو مشوره درکړو.

خو چې کله یې د مقابلې په میدان کښې ماتې وخوړه او د ښامار قوت یې ولید، د وزیرانو مجلس اشارةً د وژلو مشوره هم ورکړه چې موسی ﷺ او د ده قوم نور د پرېښودلو نه دي، نو په دغه وخت کښې یې د موسی ﷺ په وژلو باندې خپل ځان کوږ واچاوه او د ده د قوم په باره کښې یې لا زیاته غُصه ښکاره کړه چې نارینه اولادونه به یې تول ووژنو چې د پاچاهۍ خیال یې د سرونو څخه ووزي، مونږ خو په دوی باندې اوس هم داسې برلاسي یاستو لکه څنګه چې پخوا وربانديې برلاسي وو. شاید چې د ښامار د ډاره به د موسی ﷺ په وژلو باندې غلي شوي وي.

## یادونه

لکه څنګه چې د [البقرة:۴۹] آیت لاندې تېر شوي دي فرعون په بني اسرائیلو باندې د نارینه اولادونو د وژلو نقشه په اول ځل عملي کړې وه، خو دا معلومه نه ده چې دوهم ځل به یې عملي کړې وي او که نه، مونږ وریسې پلټنه وکړه خو چرته مو د نظر لاندې رانغله مګر چې سړی دې ته ګوري.

---

(۱) روح المعاني ج۹ ص۲۸

(۲) تفسیر الطبري ج۶ ص۳۴؛ المحرر الوجیز ج۱۲ ص۶۰

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د همسا معجزې (ښامار) بالکل په فرعون کښې زړه‌چولی وه او ډېر دار شوی وه نو شاید چې دا خل به یې ذکره شوې نقشه وربانديې نه وي عملي کړې، والله ﷻ اعلم.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې: الله ﷻ د فرعون د خولې څخه حکایت کوي چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى ﴾ [القصص:۳۸] یعنې: ای د قوم مشرانو! زه خو ستاسو دپاره د خپل ځان څخه په غیر په بل معبود باندې علم نه لرم (تاسو بل معبود نه لرئ). او د دې آیت څخه اشارة معلومیږي چې دوی ډېر معبودان درلوده البته هغه معبودان چې فرعون ورته درولي وه او په ﴿ وَءَالِهَتَكَ ﴾ تکې کښې ورته اشاره شوې ده؟

مونږ وایو چې: د ﴿ مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى ﴾ معنی دا ده چې تاسو داسې معبود نه لرئ چې زما د اجازې څخه په غیر یې عبادت وکړئ. په همدې معنی باندې لاندې وضاحت دلالت کوي:

الف: فرعون خپل ځان ته د لوی رب لقب ورکړی وه، لکه چې الله ﷻ فرمایلي: ﴿ فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلْأَعْلَىٰ ﴾ [النازعات:۲۴] یعنې: نو فرعون خپل رعیت مخاطب کړ او ویې ویلې چې زه ستاسو لوی رب یم. او یا په بل عبارت: ستاسو او ستاسو د اربابانو (معبودانو) رب یم.

ب: ځینې علماء کرام وایې چې فرعون پخپله بوت پرست وه، خلکو به د ده عبادت کاوه (د ده مجسمو ته به په سجده لوېده) او ده به د غوا یا د بل شي عبادت کاوه چې په خپله غاړه کښې یې خوړند کړی وه[۱].

ج: ځینې وایې چې فرعون د خپل رعیت دپاره څه بوتان ټاکلي وه او امر یې ورته کړی وه چې ماته د نژدېکت دپاره د دغو عبادت کوئ[۲] (څه لرې نه ده چې خپلې مجسمې به یې ورته په ګوته کړې وي)، والله ﷻ اعلم.

﴿ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ ٱسْتَعِينُوا۟ بِٱللَّهِ وَٱصْبِرُوٓا۟ ۖ إِنَّ ٱلْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦ ۖ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٨﴾ قَالُوٓا۟ أُوذِينَا مِن قَبْلِ أَن تَأْتِيَنَا وَمِنۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ۚ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٢٩﴾ ﴾

[۱۲۸] موسی ؑ خپل قوم ته وویلې: د الله ﷻ څخه کومک وغواړئ او صبر وکړئ، یقینًا توله ځمکه خاص الله ﷻ لره ده د خپلو بندګانو څخه یې هغه چاته په میراث سره ورکوي چې اراده یې

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۷ ص ۲۶۱
(۲) روح المعاني ج۹ ص۲۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورته وشي، او (نېک) انجام خاص متقیانو لره دی.

[۱۲۹] دوی (بني اسرائیلو) وویلې: (ای موسی!) مونږ ته ستا د راتګ څخه وړاندې هم ضررونه رسولی شوي وه او ستا د راتللو څخه وروسته هم (ضررونه رارسول کېږي او پرې تهدید پروو).

ده وویلې (موسی ﷺ) چې: ستاسو رب ﷻ ته امید دی (امید ورته وکړئ) چې د ښمن مو هلاک کړي او په ځمکه کښې مو (د هغوی په ځای) خلیفه ګان جوړ کړي؛ نو (بیا) به وګوري چې تاسو څنګه عملونه کوئ (او څه ډول کړنلاره غوره کوئ).

## د مطلب خلاصه

کله چې فرعون د موسی قوم تهدید کړ نو دوی ډېر وارخطا شوه او د موسی ﷺ سره یې لاندې مباحثه وکړه:

موسی ﷺ : ای زما عزیزانو! د فرعون په تهدید باندې مه غمژن کېږئ، صرف د الله ﷻ څخه کومک وغواړئ چې د تهدیداتو یا مخه ونیسي او یا یې د زغملو توان درکړي، خپلې حوصلې مه خرابوئ د الله ﷻ نصرت را روان دی.

ټوله ځمکه د الله ﷻ ملکیت دی څنګه چې اراده وکړي همغسې کوي، د چا څخه یې اخلي او چاته یې ورکوي، ځینې خلک پوپنا کوي او ځینو ته د هغوی په خلافت سرلوړي ورکوي.

مګر په یاد ولرئ چې نېک انجام د متقیانو دپاره دی او کامیابي د همدوی په برخه ده نو زیات کوښښ وکړئ چې د خپلې تقوی ساتنه وکړئ.

بني اسرائیلو بیا خپل شکایت موسی ﷺ ته ځرګند کړ چې:

بني اسرائیل: مونږ په دې وطن (مصر) کښې ښه ورځ نه ده لیدلې، ستا د راتګ څخه وړاندې هم مونږ دلته متضرر شوي یاستو او وروسته هم دغه دی په ایذاء (ضرر رسولو) باندې تهدید پرو.

یو ځل مو پخوا نارینه اولادونه ووژل شوه چې په مونږ کښې د مصر د پاچاهۍ خیال پیدا نه شي خو د دې سره‌سره د وطن مشکل او پلیت کارونه په مونږ باندې اجراء کېدل. یا په بل عبارت: خختې جوړول او پخول او هم د تشنابونو پاکول او د لارو جارو کول زمونږ کار وه او پاکیزه او اسان کارونه به نورو ته سپارل کېده.

دا وه زمونږ د نارینه وو حال، او زمونږ په زنانه وو باندې به یې مالوچ او کتان څرخه کول او وړی به یې وربانددې وربشلې او بیا به یې اوبدل د همدوی په غاړه وه.

دا دی اوس بیا مونږ ستا په راتګ سره د زامنو په وژلو باندې تهدیدپرو او په مردارو کارونو باندې اخته یاستو او مشکلات مو لا زیات شوه.

موسی ﷺ : ای زما قومه! مه وارخطا کېږئ او خپل رب ﷻ ته امېدوکړئ چې دښمن مو هلاک کړي او په عوض کښې یې تاسو په ځمکه کښې خلیفه ګان جوړ کړي، دا کار الله ﷻ ته اسان دی.

مګر په یاد ولرئ چې کله تاسو په ځمکه کښې خلیفه ګان ودرولی شوئ بیا به الله ﷻ ستاسو کره وره هم د څارنې او مراقبت لاندې ونیسي چې څه کوئ.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که تاسو هم د فرعونیانو غوندې ناشکري وکړه نو بیا به ستاسو ځخه هم ځمکه خالي کړي او نور خلک به مو په ځای باندې اباد کړي، او که نه نو په همدا تاسو باندې به ځمکه اباده وي.

## توضیحات

۱_ موسی ﷺ یو ځل د اشارې په توګه بني اسرائیلو ته د ځمکې د وراثت وعده وکړه چې: د ځمکې وراثت الله ﷻ خپلو بندګانو ته ورکوي تاسو د الله ﷻ بندګۍ ته ادامه ورکړئ چې تاسو یې وارثان جوړ شئ.

مګر دوی په اشاره باندې پوه نه شوه او بیا یې ګیله پیل کړه چې: ﴿ أُوذِينَا ﴾ مونږ ستا د لاسه دا دوهم ځل دی چې د ضرورنو متحمل کېږو نو هغه به لا کله وي چې مونږ د ضررونو ځخه بچ کړی شو، د ځمکې وراثت خو لرې خبره ده.

نو موسی ﷺ دوهم ځل په تېرې شوې اشارې باندې صراحت وکړ چې: ﴿ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴾ یعنې: بل ځاته نه بلکې همدا تاسو ته به الله ﷻ د ځمکې خلافت درکړي خو کړنلاره به مو د څارنې لاندې وي. او یا په بل عبارت: بې قید او شرطه د ځمکې خلافت نه شئ ترلاسه کولی. د دغې ځمکې تذکر په [الأعراف:۱۳۷، ۱۴۵] ایتونو کښې راروان دی.

## یادونه

۲_ که څوک غواړي چې د هغو ضررونو نوملیک ولولي کوم به چې په بني اسرائیلو باندې په جبر او ظلم سره تحمیل کېده نو ځینو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[۱]، حتی ځینو خو لا په تورات باندې حوالې ورکړې دي[۲].

﴿ وَلَقَدْ أَخَذْنَآ ءَالَ فِرْعَوْنَ بِٱلسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾ فَإِذَا
جَآءَتْهُمُ ٱلْحَسَنَةُ قَالُوا۟ لَنَا هَٰذِهِۦ ۖ وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا۟ بِمُوسَىٰ وَمَن مَّعَهُۥٓ ۗ أَلَآ إِنَّمَا
طَٰٓئِرُهُمْ عِندَ ٱللَّهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣١﴾ وَقَالُوا۟ مَهْمَا تَأْتِنَا بِهِۦ مِنْ ءَايَةٍ
لِّتَسْحَرَنَا بِهَا فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِينَ ﴿١٣٢﴾ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ ٱلطُّوفَانَ وَٱلْجَرَادَ وَٱلْقُمَّلَ
وَٱلضَّفَادِعَ وَٱلدَّمَ ءَايَٰتٍ مُّفَصَّلَٰتٍ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ وَكَانُوا۟ قَوْمًا مُّجْرِمِينَ ﴿١٣٣﴾ وَلَمَّا وَقَعَ
عَلَيْهِمُ ٱلرِّجْزُ قَالُوا۟ يَٰمُوسَى ٱدْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِندَكَ ۖ لَئِن كَشَفْتَ عَنَّا ٱلرِّجْزَ

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۶۶
(۲) تفسیر المنار ج۹ ص۸۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٣٤﴾ فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ ٱلرِّجْزَ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُم بَٰلِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ﴿١٣٥﴾

[۱۳۰] او بې شکه موږ د فرعون تېر په وچکالۍ او د میوجاتو په کمښت باندې ونیوه، شاید چې دوی پند واخلي (او شریعت قبول کړي).

[۱۳۱] نو کله به چې دوی ته پراخي (خوشالي) ورغله دوی به وویلې چې دغه زموږ لره ده (موږ یې مستحق یاستو). او که چرته به دوی ته بدي (سختي) ورسېده نو دوی به په موسی ﷺ او په هغه چا باندې بدفالي نیوله چې ده سره به (ملګري) وه.

خبردار! د دوی بدفالي د الله ﷻ په نزد وه (د سختۍ اسباب یې د الله ﷻ سره محفوظ وه)، مګر اکثریت یې نه پوهېږي (او څوک چې پوهېږي هغوی پرې عمل نه کري).

[۱۳۲] او دوی (فرعونیانو) به (موسی ﷺ ته) ویل چې: هرهغه شی چې ته یې موږ ته راوړې، هره یوه معجزه چې وي، د دې دپاره چې په موږ باندې پرې جادو وکړې، نو موږ تا لره (په هغې باندې) یقین (باور) کوونکي نه یاستو.

[۱۳۳] نو په دوی (فرعونیانو) باندې موږ طوفان (دوامداره سخت باران) ورولېږه او ملخان او سپګې او چونګښې او وینې (مو هم) په داسې حال کښې (ورباندې ورواستول) چې واضحه معجزات وه (او) یو تربله جدا جدا وه (په منځو کښې یې د تفکر وختونه موجود وه)؛ نو دوی خپل تکبر ته ادامه ورکړه او دوی مجرم قوم وه (دا د مجرمانو خوی دی).

[۱۳۴] او هرکله به چې په دوی باندې (د ذکرو شوو عذابونو څخه یو) عذاب واقع شو (نو) دوی به ویلې: ای موسی! زموږ دپاره خپل رب ﷻ وبله (چې زموږ څخه دغه عذاب لرې کړي) د هغه شي د کبله چې ستا په نزد یې عهد کړی دی (چې سوال دې قبلوي)، یقینًا که ته زموږ څخه دا عذاب لرې کړي نو ضرور هرومرو به موږ تاته معتقد شو او ضرور هرومرو به ستا سره بني اسرائیل ولېږو (خوشې کړو).

[۱۳۵] نو هرکله به چې موږ د دوی څخه د یوې نېټې پورې عذاب لرې کړ چې دوی به هغې ته رسېدونکي وه، نو ناڅاپه به دوی (خپلې) وعدې ماتې کړې.

## ارتباط

د وړاندې ایتونو مضمون دا وه چې موسی ﷺ خپل قوم ته د تقوی په صورت کښې د ځمکې د خلافت وعده ورکړه چې الله ﷻ به مو دښمن هلاک کړي او په عوض به یې تاسو په ځمکه کښې مېشت شئ؛ په دې ایتونو کښې د همدغې وعدې د تحقق صورت واضحه شوی دی چې حاصل یې داسې راوځي:

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

۱ـ مونږ د خپل عادت په مطابق فرعونيان هم د نعمتونو په ډېروالي باندې امتحان کړه او هم مو په دوی باندې مشکلات او سختۍ وروستلې ترڅو په هغو يا په دغو د غفلت د خوبه رابېدار شي. د خوشاليو او نعمتونو دوره خو يې وړاندې تېره شوه چې تر ډېره وخته پورې په عيش او نوش کښې غرق وه او په نتيجه کښې يې د معجزې په همسا باندې د جادو نوم کېښود او موسی ﷺ يې جادوګر وباله، د همدې ځای څخه وروسته د فرعونيانو د دوهم امتحان وار راورسيده چې په لاندې ډول شرحه کېږي:

الف: مونږ په دوی باندې باران قطعه کړ او په دوی باندې وچکالي ورغله او د مشکلاتو سره مخامخ شوه.

ب: بيا مو په دوی باندې د مېوجاتو نقصان او کمښت ورنازل کړ، چې ونې به ښې ترو تازه وې مګر مېوجات به يې نه نېول او صرف په پاڼو باندې به ډکې وې.

دا ټول د دې دپاره چې عبرت واخلي او الهي پند قبول کړي او بالآخره په موسی ﷺ باندې ايمان راوړي او د کفرياتو څخه لاس واخلي. مګر دوی لکه څنګه چې د نعمتونو د ډېروالي دتاثير لاندې رانغله او بلکې ادعا يې وکړه چې مونږ د همدې نعمتونو لياقت لرو او مونږ يې مستحق ياستو، همدارنګه په دوی باندې د مشکلاتو ورښکته کېدلو هم هيڅ اثر ونه غورزاوه، او حتی موسی ﷺ او د ده په ملګرو باندې به يې بدفالي نيوله چې ستاسو د لاسه د دې مشکلاتو سره مخامخ ياستو.

۲ـ ای پيغمبره! د فرعونيانو ذکر شوی استدلال رد کړه او په لوړ اواز سره ووايه چې خبردار! هغوی په ذکره شوې وينا کښې دروغژن وه، حقيقت دا دی چې د هغوی دپاره د موسی ﷺ ورتګ سپېره نه وه او د ده د کبله ورباندې آفتونه نه وه ورغلي بلکې د هغوی دپاره خپل کړه وړه د مشکلاتو د نزول اسباب جوړ شوه چې دوی د يادو غورزولي وه خو د الله ﷻ په نزد باندې محفوظ وه مګر اکثريت يې ورباندې نه پوهېده، هو! که اقليت ورباندې پوهېده هم عمل يې ورباندې نه کاوه او د خپلو ځانونو اصلاح ته نه متوجه کېده.

۳ـ ای پيغمبره! د فرعونيانو عناد او تکبر بالکل د چوکاټ څخه وتلی وه حتی چې دوی موسی ﷺ مخاطب کړ چې ای موسی! هرکله او هر ډول معجزه چې ته مونږ ته راوړې او د جادو په زور سره راباندې فشار واچوې نو مونږ به په تا باندې عقيده ونه کړو، زمونږ څخه د ايمان راوړلو تمه قطعه کړه مونږ ايمان راوړونکي نه ياستو.

نو مونږ په دوی باندې څه آفتونه نور هم ورنازل کړه چې په عين وخت کښې معجزات هم وه، ترڅو دوی ذکر شوي تهديد ته عملي بڼه ورنه کړي او ايمان پرې راوړي او د عذاب مستحق جوړ نه شي. آفتونه لاندې شرحه کېږي:

الف: مونږ په فرعونيانو باندې طوفان ورنازل کړ چې شپه او ورځ په دوی باندې باران ورېده او پټې يې ټول جبې وګرځيده چې د کروندې ځای پکښې ورک شو.

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: څو موده وروسته مو په دوی باندې ملخان ورحواله کړه چې د دوی ټول کښتونه یې وخوړه او ټول یې پوپنا کړه.

ج: بیا مو د څه وخت وروسته په هغوی باندې سپګې ورنازلې کړې چې د کور غلې دانې یې تولې وخوړې او د فرعونیانو جامې به ترې ډکې وې او په بدنونو باندې به یې قطارونه قطارونه روانې وې.

د: بیا مو په هغوی باندې چینګښې ورمسلطې کړې چې په هرشي کښې به ورته لوېدلې، هغوی به د چینګښو څخه خالي ځای نه شو موندلی چې ارخ پکښې ولګوي او څه ارام پکښې وکړي.

ز: بیا مو په هغوی باندې د وینې آفت ورنازل کړ چې اوبه یې وینې جوړې شوې او هرکله به چې کوم یوه خولې ته اوبه ورپورته کړې نو هغه به وینې وګرځېدې، او د صفا اوبو نعمت مو ترې واخیست.

ذکر شوي آفتونه یا معجزات په فرعونیانو باندې د اتصال په توګه نه وه ورنازل شوي بلکې یو آفت به د بل څخه په کافي وخت سره جدا وه ترڅو دوی ښه فکر وکړي او الله ﷻ ته راجع شي، مګر هغوی په یو ځل هم فکر ونه کړ او خپل تکبر ته یې ادامه ورکړه او خپله وړاندېني خبره یې تصدیق کړه چې موږ په یوه معجزه باندې هم ایمان نه راوړو، ځکه چې مجرم قوم همدغسې کارونه کوي.

۴ــ اې پیغمبره! برسېره په دې چې موږ هغوی ته د آفتونو تر منځ د تفکر ښه کافي وخت ورکړی وه، د دوی څخه مو ښې کلکې وعدې هم واخستې کله چې دوی وویل: ای موسی! د خپل رب ﷻ څخه زموږ دپاره کلک سوال وکړه چې دغه آفت راڅخه پورته کړي، ستا رب ﷻ خو ستا سره وعده کړې ده چې که چیرې موږ د ایمان راوړلو وعده درکړو نو آفت به راڅخه لرې کوي.

نو ای موسی! موږ تا ته کلک عهد درکوو که دغه آفت دې را څخه لرې کړ نو موږ به ستا دواړه غوښتنې ومنو، هم به درباندې ایمان راوړو او هم به درسره بني اسرائیل پرېږدو چې درسره لاړ شي.

نو بیا به موسی ﷺ موږ ته سوال وکړ او آفت به مو ترې لرې کړ او تر ډېره وخته پورې به دوی د آفت څخه خلاص وه، که دوی ذکر شوي دواړه کارونه کولی دواړه به یې کړي وی او الله ﷻ ته به راجع شوي وی.

مګر دوی په یو وار هم په خپلو وعدو باندې وفا ونه کړه او هرکله به یې چې عهد وکړ او آفت به ترې لرې شو نو ناڅاپه (دستي) به دوی په دائمي توګه خپل عهد ماتوه.

## توضیحات

۱ــ په ﴿ يَطَّيَّرُواْ بِمُوسَىٰ ﴾ کښې د ﴿ يَطَّيَّرُواْ ﴾ کلمه په اصل کښې "يَتَطَيَّرُواْ" وه، بیا "ت" په "ط" باندې بدله او په بله "ط" کښې ادغامه شوه.

دا کلمه د "تَطَيُّر" څخه اشتقاقه شوې ده "تَطَيُّر" اصلاً په مرغانو باندې د فال نیولو معنی ورکوي، د جاهلیت په زمانه کښې د عربانو عادت وه چې کله به یې د یوه کار کولو ته اراده وکړه نو په بیدیا کښې به یې کومه مرغۍ یا مرغه د خپله ځایه والوزاوه، نو که هغه به ښي طرف ته الوتنه پیل کړه نو الوزونکي به په زړه کښې په نیول شوي کار باندې پیل کاوه چې په دې کار کښې خیر دی، او که

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بالعکس په چپ طرف به والوت نو د هغه څخه به يې صرف نظر کاوه چې په دې کار کښې خير نشته[۱].

مګر په استعمال کښې "تَطَيُّرٌ" مطلق فال نيولو ته ويل کېږي، برابره خبره ده چې د مرغانو په الوزونې سره يې صورت نيولی وي او يا په بل شي پورې ربط ورکړی شوی وي، په دې مقام کښې همدغه عامه معنی مراده ده چې فرعونيانو بدفالي ته د موسی عليه السلام په شمول په مسلمانانو پورې تعلق ورکړی وه.

۲ـ که څه هم فرعون څلور سوه کاله په عيش او عشرت کښې تېر کړه حتی چې ـ په اصطلاح ـ په سر باندې يې درد هم نه وه ورغلی[۲]، مګر کله چې د موسی عليه السلام سره د مقابلې په ميدان کښې ناکام شو او خپل عناد او تکبر ته يې لا ادامه ورکړه نو الله ﷻ د مشکلاتو او آفتونو سره مخامخ کړ چې څه نا څه تفصيل ته يې په ذکرو شوو ايتونو کښې اشارې شوې دي.

## د موسی عليه السلام نهه معجزات

۳ـ الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَىٰ تِسْعَ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ﴾ [الإسراء:۱۰۱] او يقينًا مونږ موسی عليه السلام ته نهه واضحه معجزې ورکړې وې.

که څه هم مونږ د نهو معجزاتو پوره څېړنه خپل مقام ته پرېږدو مګر دلته دومره ليکو چې په دې مقام کښې هم د موسی عليه السلام نهه معجزات پوره کېدلی شي چې شماره يې لاندې لوستلی شئ:

الف: د موسی عليه السلام د همسا څخه ښامار جوړ شو [الأعراف:۱۰۷].

ب: د ده عليه السلام لاس سپين ونږقېده البته کله يې چې د خپل ګرېوان څخه رابهر کړ [الأعراف:۱۰۸].

ج: په فرعونيانو باندې الله ﷻ وچکالي وروستله او باران ورباندې ودرېد [الأعراف: ۱۳۰].

د: د دوی ونو مېوجات نه نيول او تولې ونې يې شنډې شوې [الأعراف: ۱۳۰].

دغه دواړه بېلې ـ بېلې معجزې وې، ځکه چې وچکالي د باران د نه ورېدلو څخه عبارت ده چې ونې وچې شي او کښتونه د تندې د کبله وسوزي او حاصلات ونه کړي.

اما د فرعونيانو د مېوجاتو کمبود د دې څخه عبارت وه چې ونه به ښه تروتازه وه او ښې پاڼې به يې درلودې خو مېوجات به يې نه نيول، حتی داسې به هم پېښېده چې د کجورې غټې ونې به فقط يوه کجوره نيولې وه او بس[۳].

دا هم څه لرې نه ده چې دغه دواړه معجزې په يوه وخت کښې په هغوی باندې مسلطې شوې وي چې چراګاه او بيابانونه يې د وچکالي د کبله وچ شوي وي او د نهرونو او د چينو په اوبو باندې باغونه شنه پاتې شوي وي خو مېوجات به يې نه وي نيولي[۴].

---

(۱) التفسير الکبير ج۲۰ ص۱٦۷

(۲) الدر المنثور ج۳ ص۵۱۰

(۳) تفسير ابن کثير ج۲ ص۲۳۹

(۴) تفسير الطبري ج٦ ص۲۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: په فرعونيانو باندې الله ﷻ طوفان ورنازل کړ. د طوفان دپاره مفسرينو کرامو ډېرې معناوې کړې دي(۱) مګر کومه معنی چې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت شوې ده هغه دا ده چې په دوی باندې څو ورځې مسلسل باران ووريد(۲)، لکه چې الله ﷻ د نوح ﷺ د قوم په باره کښې فرمايلي دي: ﴿ فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴾ [العنکبوت:۱۴] يعني: نو د نوح ﷺ قوم طوفان (د اوبو ډېروالي) ونيوه حال دا چې دوی ظالمان وه.

و: بيا الله ﷻ په هغوی باندې ملخان ورمسلط کړه چې کښت يې تول وخوړ او د دروازو چولونه يې هم وخواړه چې د کورونو دروازې يې را پرېوتلې، داسې ملخان چې داوسپنې دروازې هم ورته تېنګې نه شوې(۳). او يا په بل عبارت: اوسپنه يې داسې خوړه لکه چې ونې لرګي خوري.

ز: بيا په هغوی باندې نور حشرات هم ورنازل کړی شوه چې قرآن کريم د "القُمَّل" په نوم ياد کړي دي، او مفسرينو کرامو يې تقريبًا اوه ډوله تفسيرونه کړي دي(۴)، لکه وروړې، وېنې، کونې (خمنلکې)، سپږې، کوچني ملخان چې وزر يې نه وي کړي او داسې نور.

ذکر شوې معناوې سره څه منافات نه لري ممکنه ده چې د هرې نوعې څخه به ورياندې ورنازل شوي وي، خو مونږ ته د سعيد بن جبير عليه الرحمة تفسير غوره ښکاري چې د ﴿ وَٱلْقُمَّلَ ﴾ کلمه يې په هغو حشراتو باندې تفسيره کړې ده کوم چې په کورونو کښې غلې دانې خوري(۵) چې په پښتو ژبه کښې ورته د غنمو سپږې وايي.

ح: بيا په هغوی باندې چينګښې ورمسلطې کړی شوې چې په هر شي کښې به وررپرېوتلې، که چا به د خبرو دپاره خوله وازه کړه نو چينګښې به ورټوپ کړ او په خوله کښې به يې ننبغه کښيناسته.

لنډه دا چې فرعونيان چينګښو داسې وزورول چې بل يوه شي هم دومره نه وه زورولي(۶)، الله ﷻ چينګښې دومره ډېرې کړې وې چې يو فرعوني سړی به آن د زنې پورې په دغو حشراتو کښې ډوب ناست وه(۷).

ط: بيا الله ﷻ په هغوی باندې د وينو مصيبت ورښکته کړ چې مفسرينو کرامو يې لاندې دوه تفسيرونه کړي دي:

اول: د فرعونيانو ټولې د څښلو اوبه وينې وګرځېدلې حتی د نيل اوبه د قبطيانو دپاره وينې جوړې شوې او د بني اسرائيلو دپاره به خوږې او پاکې اوبه وې(۸).

(۱) زاد المسير ج۳ ص۱٦۹
(۲) تفسير ابن کثير ج۲ ص۲۴۰
(۳) تفسير ابن کثير ج۲ ص۲۴۲
(۴) زاد المسير ج۳ ص۱٦۹
(۵) الدر المنثور ج۳ ص۵۲۳
(٦) الدر المنثور ج۳ ص۵۲۳
(۷) تفسير القرطبي ج۷ ص۲۷۱؛ تفسير البغوي ج۲ ص۱۹۲
(۸) تفسير القرطبي ج۷ ص۲۷۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: د ټولو فرعونیانو د پوزو څخه به وینې روانې وې او ټول په همدې مرض باندې اخته شوه[۱] مونږ وایو چې: څه لرې نه ده چې دواړه ډوله وینې به ورباندې الله ﷻ ورمسلطې کړې وي خو جمهورو علماوو کرامو اول تفسیر غوره کړی دی.

## د معجزاتو تفصیل څه معنی؟

۴ـ د ﴿مُفَصَّلَٰتٍ﴾ کلمه اصلاً د فصل څخه اخستله شوې ده، فصل دې ته وایي چې یو شی د بل شي څخه داسې جدا شي چې په مینځ کښې یې فرجه (خلا) صورت ونیسي[۲] او اتصال یې د منځه لاړ شي.

په دې مقام کښې الله ﷻ د موسی ﷺ معجزات یا مصیبتونه د ﴿مُفَصَّلَٰتٍ﴾ په کلمه باندې موصوف کړي دي. ځینې علماء کرام[۳] وایي چې هر یو مصیبت یا معجزې به یوه اونۍ (اوه ورځې) دوام کاوه ترڅو به چې فرعونیان زیات په تنګ شوه نو موسی ﷺ ته به یې وعده ورکړه چې که مونږ د دغه مصیبت څخه خلاص شو نو د یو پلوه به درباندې ایمان راوړو او د بله پلوه به بني اسرائیل درسره ازاد کړو.

موسی ﷺ به الله ﷻ ته سوال وکړ خو چې مصیبت یا معجزه به د هغوی څخه پورته شوه نو موسی ﷺ به د یوې میاشتې پورې هغوی ته وخت ورکړ ترڅو په خپلو وعدو وفا وکړي.

نو هغوی به خپلې وعدې ماتې کړې، نه به یې ایمان راووړ او نه به یې ورسره بني اسرائیل ازاد کړه، الله ﷻ به ورباندې بل افت ورنازل کړ او د بل مصیبت سره به یې مخامخ کړه مګر هغوی به بیا موسی ﷺ ته وعدې ورکړې او چې د مصیبت څخه به خلاص شوه نو خپلې وعدې به یې بیا ماتې کړې آن تر آخره.

که څوک د ذکرو شوو معجزاتو یا مصیبتونو بنه اوږد بیان غواړي نو ځینو اوږدو تفاسیرو[۴] ته دې مراجعه وکړي ـ الله ﷻ دې پرې رحم وکړي ـ ډېر ښه یې شرحه کړي دي.

## تبصره

۵ـ ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې موسی ﷺ په مصر کښې د مقابلې په میدان کښې د فرعون د مغلوبیت څخه وروسته د یوه کال په شاوخوا کښې وخت تېر کړ[۵] نو په دې تقدیر د مصیبتونو فاصله په یوې میاشتې باندې د سړي په ذهن کښې ځای نیسي.

اما ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې د فرعون د مغلوبیت څخه وروسته موسی ﷺ شل کاله[۶]

---

(۱) زاد المسیر ج۳ ص۱۶۹
(۲) مفردات الراغب ص۳۹۵
(۳) تفسیر ابي السعود ج۳ ص ۲۶۵
(۴) تفسیر البغوي ج۲ ص۱۹۱: تفسیر الطبري ج۶ ص۳۴ـ۴۰
(۵) المحرر الوجیز ج۷ ص۱۳۶
(۶) تفسیر ابي السعود ج۳ ص۲۶۵

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يا څلوېښت کاله(۱) په مصر کښې پاتې شو او فرعونيان يې دعوتول چې ايمان راوړي او بني اسرائيل ورسره ازاد کړي. نو که همدا مضمون واقعيت ولري نو شايد چې د معجزاتو او يا مصيبتونو ترمنځ فاصله به کال يا کلونه وي او دوی ته به د نجات موندلو دپاره ښه پوره چانس ورکړی شوی وي؛ مونږ ته همدغه بيان غوره ښکاري، والله ﷻ اعلم.

## بِمَا عَهِدَ عِندَكَ: څه معنی؟

۶ـ څرنګه چې فرعونيانو د موسی ﷺ د دعاء اجابت څوځو کرته ليدلی وه او دوی ته تجربه شوې وه چې موسی ﷺ هرڅه وغواړي الله ﷻ يې قبلوي، نو دوی دغه حالت داسې تعبير کړ لکه چې الله ﷻ ورسره عهد کړی وي چې زه به ستا غوښتنه قبلوم، نو ځکه به يې په هريوه مصيبت کښې موسی ﷺ مخاطب ګرځاوه چې: ای موسی! د خپل رب ﷻ څخه دې زمونږ دپاره د هغه شي په خاطر سوال وکړه کوم چې ستا په نزد يې عهد کړی دی، هغه دا چې زه به ستا سوال قبلوم، نو لکه څنګه چې ستا سوال د مصيبت په نزول کښې قبول شو د مصيبت په پورته کولو کښې هم قبليږي، هله مهرباني وکړه او د سوال لاسونه پورته کړه.

## يادونه

۷ـ د ﴿ إِلَىٰٓ أَجَلٍ هُم بَٰلِغُوهُ ﴾ کلمات په ﴿ كَشَفۡنَا ﴾ پورې تعلق نيسي(۲)، نو د معنی حاصل يې داسې راوزي چې: فرعونيانو ته مونږ د هر يوه مصيبت څخه وروسته نه دومره ډېر وخت ورکړ چې هغه ته نه شوه رسيدلی او مړه کيده او نه مو دومره لږ وخت ورکړ چې تفکر او سنجش يې پکښې نه شو ترسره کولی، بلکې هغوی ته مو د هر يوه آفت څخه وروسته ښه کافي وخت ورکړ چې ښه په حوصله باندې هغه ته رسيدونکي وه مګر دوی د دغه کافي وخت سره‌سره په دوام داره توګه خپل عهدونه مات کړه او په وعدو باندې يې وفا ونه کړه.

﴿ فَٱنتَقَمۡنَا مِنۡهُمۡ فَأَغۡرَقۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّ بِأَنَّهُمۡ كَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَكَانُواْ عَنۡهَا غَٰفِلِينَ ﴿١٣٦﴾ وَأَوۡرَثۡنَا ٱلۡقَوۡمَ ٱلَّذِينَ كَانُواْ يُسۡتَضۡعَفُونَ مَشَٰرِقَ ٱلۡأَرۡضِ وَمَغَٰرِبَهَا ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَاۖ وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ ٱلۡحُسۡنَىٰ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ بِمَا صَبَرُواْۖ وَدَمَّرۡنَا مَا كَانَ يَصۡنَعُ فِرۡعَوۡنُ وَقَوۡمُهُۥ وَمَا كَانُواْ يَعۡرِشُونَ ﴿١٣٧﴾ ﴾

[۱۳۶] نو د دوی (فرعونيانو) څخه مو انتقام واخيست (جزا مو ورکړه)، نو په درياب (سره بحيره) کښې مو غرق کړه چې زمونږ ايتونو ته يې د دروغو نسبت کاوه او دوی زمونږ د ايتونو

(۱) تفسير القرطبي ج۷ ص۲۶۷
(۲) المحرر الوجيز ج۷ ص۱۴۵

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه په دوامداره توګه غفلت کوونکي وه.

[۱۳۷] او مونږ هغه قوم ته چې په دوامداره توګه کمزوري کړی شوي وه د هغې ځمکې مشرقونه او مغربونه (ټول اطراف) وریا ورکړل چې په هغې کښې مونږ برکت اچولی وه (د هر ډول حاصلاتو څخه مو ډکه کړې وه).

او (په همدغه ترتیب سره) ستا د رب ﷻ ښائسته خبره (وعده) په بني اسرائیلو باندې ښکه تمامه (پوره) شوه چې دوی صبر کړی وه.

او مونږ هغه (آبادۍ تولې) خرابې کړې چې فرعون او د ده قوم به (په ډېر افتخار سره) جوړولې او هغه مانۍ (مو هم ونړولې) چې دوی به چتونه چتونه لوړولې.

## د مطلب خلاصه

یعنې: د ډېر کافي مهلت څخه وروسته مونږ فرعونیان په لایقه جزا ورسول او مناسبه سزا مو ورکړه، هغه دا چې په دریاب کښې مو غرق کړه او دا ځکه چې دوی په دوامداره توګه زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کاوه او نه د معجزاتو د اثر لاندې راغله او نه پرې خوشالیو یا مشکلاتو څه اثر وکړ، بلکې په دائمي توګه د غفلت په خوب ویده پراته وه.

بالمقابل هغو کمزورو خلکو ته مو اقتدار ورانتقال کړ د کومو څخه به چې د غلامانو کار اخستل کیده او د سړیو لا څه چې د انسانانو په سترګه به ورته هم نه کتل کیده.

دوی مو د هغوی په ځای په ځمکه کښې خلیفګان وګرځول د برکتناکې ځمکې شرقًا او غربًا ټوله واکداري مو همدوی ته انتقال کړه.

په همدې ذکر شوي تفصیل سره مو د بني اسرائیلو سره خپله ښکه وعده پوره کړه او د کومې ښائسته خبرې لوظ مو چې ورکړی وه هغه مو ورته تکمیل کړ ځکه چې دوی د فرعونیانو په نادودو او ظلمونو باندې صبر وکړ او د موسی ؑ په ملګرتیا کښې کلک پاتې شوه.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه مو د فرعونیانو هغه ټول مصنوعات د خاورو سره برابر کړه چې دوی به پرې ویاړل او د لوړو بنګلو هغه لوړ چتونه مو راوغورزول چې دوی به په تکبر سره هلته ناسته ولاړه کوله.

## توضیحات

۱ـ د فرعون د هلاک او د بني اسرائیلو د نجات پوره بیان الله ﷻ په "طه، الشعراء" او نورو سورتونو کښې نازل کړی دی چې مونږ یې هم د همغه ځای تفسیر ته پرېږدو، په دې مقام کښې د ارتباط د کبله یوازې په لاندې څو معلوماتو باندې اکتفاء کوو او بس:

الف: مونږ د [الأعراف:۱۰۴] آیت لاندې لیکلي دي چې موسی ؑ د فرعون څخه د دوه وو شیانو غوښتنه کړې وه: یو ایمان راوړل او بل د بني اسرائیلو ازادول.

د ډېر جرار بحث څخه وروسته د فرعون د پلوه اولنۍ غوښتنه په نهائي ډول باندې رد کړی شوه

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حتی چې د موسی ﷺ د موجودیت سره‌سره يې ساحران (تازه مسلمانان) شهیدان کړه او د بني اسرائیلو د اولادونو د وژلو تهدید يې وکړ، ته به وایې چې موسی ﷺ يې وژلی وي او هم يې د ده د وژلو تهدید کړی وي، څکه چې خلک وايي: "ضَرْبُ الْغُلام إِهَانَةُ الْمَوْلَى" د غلام وهل د مولا سپکاوی دی. نو د ایمان د کبله د امتي وژل او یا په مرګ سره تهدیدول داسې ګڼل کېږي لکه چې پیغمبر يې وژلی او یا يې په مرګ سره تهدید کړی وي.

ب: دوهمه غوښتنه فرعون ومنله او موسی ﷺ ته يې اجازه ورکړه چې بني اسرائیل زما د پلوه ازاد دي هرطرف ته يې چې سوق کوې سوق يې کړه[۱].

ج: موسی ﷺ پوهېده چې فرعون په خپله ژبه باندې نه ودرېږي نو د همدې کبله يې شپې د شپې په عجله سره بني اسرائیل د قلزم د درياب لورې ته ولېږدول چې د دوی د استوګنې ځای او د سینا د ټاپو وزمې بیدیا ترمنځ شرقي طرف ته واقع دی[۲].

د: موسی ﷺ او بني اسرائیل د درياب غاړې ته ورسېده او د بندر په لټه کښې وه چې د سینا ټاپو ته په شرقي طرف ورپورې وزي، خو په عین وخت کښې فرعون خپلو همکارانو پښېمانه کړ او ورته يې په ډاګه کړه چې د بني اسرائیلو ازادول ښه کار ونه شو، د دوی په تللو سره بامشقته کارونه او د تشنابونو وينځل او داسې نور خدمات بې سرپرسته پاتې شوه.

هـ: نو فرعون ښه غټ لښکر په جنګې سامان باندې سنبال کړ او د بني اسرائیلو په تعقیب يې حرکت وکړ ترڅو يې یا بېرته راستانه کړي او یا يې ووژني.

فرعون کولی شو چې ذکره شوې نقشه يې د څو جنرالانو په ذریعه عملي کړې وی او یا يې د ساحل خلکو ته امر کړی وی چې مخه يې ونیسئ او وراندې تګ ته يې مه پرېږدئ، دا څکه چې بني اسرائیل بې دفاع (تش لاس) وه او د هیڅ د مقابلې توان يې نه درلود.

مګر الله ﷻ د فرعون په زړه کښې د تعقیب ولوله واچوله تا به ویل چې خپل ځان وژل ځای ته رسوي او هم غواړي چې د مملکت با اعتباره اشخاص (د مفاسدو ملګري) ټول په اجتماعي توګه ووژني.

دا هم څه لرې نه ده چې فرعون به د ډاره یوازې خپل وسلوال نوکران د بني اسرائیلو په تعقیب نه وي تاکلي چې دوی به هم د ساحرانو غوندې په موسی ﷺ باندې ایمان راوړي او زما په مقابل کښې به یوه قوي مسلحه جبهه جوړه کړي چې بیا به يې ماتول ډېر ګران کار جوړ شي.

نو د همدغه خطر د کبله به يې د تعقیب قومنداني په خپل لاس کښې اخستې وي او د لښکر په سر کښې به روان شوی وي.

و: کله چې د بني اسرائیلو په فرعوني لښکر باندې سترګې ولګېدې نو موسی ﷺ ته يې شکایت وکړ چې اوس نو زمونږ د مرګ وخت راورسېد او د تېښتېدلو لار مو نشته څکه چې د یو پلوه فرعوني بې رحمه لښکر دی او د بله پلوه درياب.

(۱) المحرر الوجيز ج۷ ص۱۴۵
(۲) تفسير القاسمي ج۷ ص۲۳۹

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو موسی ﷺ د الله ﷻ په امر درياب په امسا باندې ووا هه چې دولس کوڅې پکښې جوړې شوې او هر يو قوم په خپله کوڅه باندې د سينا بيديا ته وربوربووت او درياب خای په خای ودريد.

ز: خو فرعوني لښکر يې تعقيب پرېښنود او درياب ته وريسې ورښکته شو ترڅو دوی هم په کوڅو کښې وربوربوزي او خانونه بني اسرائيلو ته وررسوي، مګر درياب د موسی ﷺ په اشاره حرکت وکړاو فرعونيان ټول هلاک شوه.

## "يَمّ" څه معنی؟

۲ـ د "يَمّ" کلمه د هغه درياب نوم دی چې ډېر ژور وي، برابره خبره ده چې اوبه يې خوږې وي او که تروې[١]. په قرآن کښې د ذکرې شوې کلمې اطلاق په رود نيل باندې هم راغلی دی چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي ٱلْيَمِّ ﴾ [القصص:٧] يعنې: مونږ د موسی ﷺ مور ته الهام وکړ چې که په موسی ﷺ باندې وېاره شوې چې فرعون به يې شهيد کړي نو په درياب (رود نيل) کښې يې واچوه.

اما په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه د رود نيل څخه عبارت نه ده او چا چې ترې همدغه معنی اخستې ده[٢] هغوی غلط شوي دي بلکې دلته ترې د قلزم بحيره مراده ده چې بحيرة الأحمر (سره بحيره) هم ورته وايي دا ځکه چې: موسی ﷺ غوښتل چې بني اسرائيل د شام طرف ته بوزي چې د مصر شرق خوا ته واقع دی او په منځکښې يې ذکره شوې بحيره حائله ده نو معلومه شوه چې دوی د همدې بحيرې څخه تير شوي دي او د سينا بيديا ته وربوربوتلي دي چې شاماتو پورې مربوطه ده.

که بالفرض بني اسرائيل د رود نيل څخه تير شوي وی چې د مصر په غرب ساحه کښې بهيږي نو دوی خو به د سينا څخه ډېر لرې وتلي وی هسې نه چې ور رسيدلي وی.

## دلته د "الأرض" څخه کومه ځمکه مراده ده؟

۳ـ مفسرينو کرامو د ﴿ ٱلْأَرْضِ ﴾ کلمه په دې مقام کښې په لاندې معناوو سره تفسيره کړې ده:

الف: دغه ځمکه د شام او د مصر د ځمکې څخه عبارت ده چې دواړه الله ﷻ بني اسرائيلو ته ورکړې او د دوی د حکومت لاندې وګرځېدې[٣]، البته د وخت په تېرېدلو سره.

ب: دلته د ټولې دنيا ځمکه مطلب ده ځکه چې د داود ﷺ او د سليمان ﷺ حکومتونه ټولې دنيا ته شامل وه چې دوی دواړه هم د بني اسرائيلو څخه دي[٤].

مونږ ته اوله معنی ښه برېښي ځکه چې په هغه وخت کښې د مصر ځمکه د فراعنه وو په لاس کښې وه او بني اسرائيلو به پکښې د ذلت عمر تېراوه، خو الله ﷻ هغوی هلاک کړه او څه وخت

---

(١) تفسير الخازن ج٢ ص٦٢٢: مفردات الراغب ص٥٧٧
(٢) تفسير القاسمي ج٧ ص٢٤٢
(٣) تفسير البغوي ج٢ ص١٩٤: تفسير الكشاف ج٢ ص١٤٩
(٤) تفسير القرطبي ج٧ ص٢٧٢

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وروسته بې دوی ته ورکړه، او د شام خمکه د عمالقه وو (بوت پرستانو) په لاس کښې وه او بني اسرائيل بې په مقابل کښې په جهاد کولو باندې مکلف شوه چې په نتيجه کښې د څلوېښتو کالو څخه وروسته د يوشع بن نون ﷺ په زمانه کښې الله ﷻ هغوی مغلوب کړه او د دوی حکومت يې پکښې قائم کړ ﴿وَمَنْ أَوْفَىٰ بِعَهْدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِ﴾.

﴿وَجَٰوَزْنَا بِبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱلْبَحْرَ فَأَتَوْا۟ عَلَىٰ قَوْمٍ يَعْكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصْنَامٍ لَّهُمْ ۚ قَالُوا۟ يَٰمُوسَى ٱجْعَل لَّنَآ إِلَٰهًا كَمَا لَهُمْ ءَالِهَةٌ ۚ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴿١٣٨﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيهِ وَبَٰطِلٌ مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٣٩﴾ قَالَ أَغَيْرَ ٱللَّهِ أَبْغِيكُمْ إِلَٰهًا وَهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٤٠﴾ وَإِذْ أَنجَيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ ۖ يُقَتِّلُونَ أَبْنَآءَكُمْ وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم بَلَآءٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَظِيمٌ ﴿١٤١﴾﴾

[۱۳۸] او مونږ بني اسرائيل د درياب (سرې بحيرې) څخه پوربوستل نو دوی په يو قوم باندې ورغله چې په عبادت سره خپلو بوتانو ته متوجه وه (او ترې راچاپېر وه).

(نو) هغوی (بني اسرائيلو) ووېلې چې ای موسی! مونږ ته هم دغسې يو بوت (معبود) وګرځوه (وټاکه) لکه څنګه چې دوی لره بوتان (معبودان) دي. ده (موسی ﷺ) ووېلې چې يقيناً تاسو داسې قوم ياست چې جهل (کم عقلتوب) کوئ.

[۱۳۹] بې شکه دغه خلک چې دي (د دوی) هغه (دين) د منځه تلونکی دی چې (دوی) پکښې (مشغول) دي. او هغه څه باطل دي چې دوی يې کوي (د شر څخه په غير څه خير پکښې نشته).

[۱۴۰] (بيا) ده (موسی ﷺ) ووېلې چې ايا زه تاسو ته د الله ﷻ څخه په غير بل معبود ولټوم. حال دا چې ده (الله ﷻ) تاسو ته (د خپلې زمانې) په ټولو عالمونو باندې بهتري درکړې ده.

[۱۴۱] او (دا يې هم ورته ووېلې چې) هغه وخت دريه زړه کړئ چې د فرعون د ټبر (فرعونيانو) څخه يې نجات درکړ. چې تاسو ته به يې بد (او سخت) عذاب رسناوه (هغه دا چې) ستاسو زامن به يې (په شدت سره) وژل او ښځې (لورګانې) به يې ستاسو پرېښودلې.

په دغه (نقشه) کښې ستاسو د رب ﷻ دپلوه لوی امتحان (يا لوی نعمت) دی.

## ارتباط

مونږ د [الأعراف:۱۰۳] آيت لاندې ليکلي وه چې د موسی ﷺ ژوند په پنځو مرحلو باندې وېشلی شوی وه، نو کله يې چې د څلورمې مرحلې څه بيان ختم شو د دې ايتونو څخه وروسته د دېرو ايتونو پورې د پنځمې مرحلې څه شرحه او بيان لوستل کيږي، ترځو:

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: نبي کريم ﷺ متسلي شي او د يهودو په نادودو او بې عهدۍ باندې ډېر متاثر نه شي چې دوی خو د همغو خلکو اولاده ده چې د موسی ﷺ سره يې ډېرې نادودې او بې عهدۍ کړې وې.

ب: مؤمنان بيدار شي چې د يهودانو په چلونو او مکاريو باندې تېر نه وزي او د هغوی د کړنلارې څخه ځانونه بچ وساتي.

## د مطلب خلاصه

يعنې: ای پيغمبره! بني اسرائيل خو مونږ د درياب څخه په معجزانه توګه پوريوستل، که نه نو يا به فرعوني لښکر پوپنا کړي وی او يا به يې د غلامۍ دپاره بېرته ستانه کړي وی مګر د دغه بارز نعمت د ليدلو سره‌سره کله چې دوی د درياب څخه هغې خوا ته پورېواته او په يوه بوت پرست قوم باندې يې ـ چې د غوا په شکل د يوه بوت عبادت يې کاوه ـ سترګې ولګيدې نو په ځای د دې چې د موسی ﷺ څخه شرعي احکام وغواړي چې د فرعون د ظلم څخه خلاص شوو او د شريعت د تعميل دپاره ښه پوره جوګه ياستو، د هغه څخه يې وغوښتل چې ای موسی! (لکه يوه عادي سړي ته چې خطاب کوي) مونږ ته هم يو معبود ودروه لکه څنګه چې دوی معبودان لري او په عبادت يې مشغول دي. نو موسی ﷺ ورته لاندې خطابه ورکړه:

۱ـ تاسو خو يو جاهل قوم ياست، تاسو خو د فرعون د بوت پرستۍ انجام وليد چې ستاسو د سترګو لاندې تباه شو، که بالفرض تاسو بوت پرستۍ ته واوړئ نو تاسو به هم تباه شئ.

۲ـ د ډېر جهالت خبره لا دا ده چې د بل چا څخه نه بلکې زما څخه (چې الله ﷻ د بوت پرستۍ د منځه وړلو دپاره راستولی يم) د بوت درول غواړئ، د فرعون سره خو زما جګړه په کومه پوله پټې باندې نه وه، د هغه څخه خو ما د بوت پرستۍ پرېښودل غوښتل. ايا زه اوس په خپل لاس تاسو ته د عبادت دپاره بوت ودروم؟

۳ـ ايا ستاسو خيال دی چې د فرعون بوت پرستي جائزه نه وه او نورې بوت پرستۍ جائزې دي؟

۴ـ په کار خو دا ده چې تاسو ماته وړانديز کړی وی چې دغه بوت پرستان هم د بوت پرستۍ څخه منعه کړه چې د غوا په عبادت لګيا دي.

۵ـ ای زما ناپوهه قومه! هغه دين چې دغه خلک پکښې مشغول دي د منځه تلونکی دی او دغه خلک چې څه کوي هغه باطل دي، نه ورته په دنيا کښې په درد خوري او نه په آخرت کښې، بلکې محض خپل وخت ضائع کوي او خپلو ځانونو ته د هلاکت کنده کني.

۶ـ ای قومه! تاسو ته الله ﷻ زه د دې دپاره دراستولی يم چې تاسو ته زما په ذريعه د خپلې زمانې په ټولو عالمونو باندې فضيلت درکړي او تاسو د ټولو عالمونو امامان جوړ شئ. ايا تاسو غواړئ چې بوت پرستانو پسې اقتداء وکړئ او د الهي فضيلت څخه ځانونه ښکته راوغورزوئ؟

۷ـ ای قومه! ستاسو د نجات خو ډېر وخت نه دی تېر شوی همدا پرون الله ﷻ تاسو ته د فرعونيانو څخه نجات درکړ چې په بې رحمانه توګه يې ستاسو نارينه اولادونه وژل او ستاسو

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لورګانې يې د خدمتونو دپاره پرېښودلې، چې ستاسو دپاره ستاسو د رب ﷻ د پلوه لوی امتحان وه او نجات يې لوی نعمت وه.

نو د الله ﷻ شکريه وکړئ او فرعوني خاصيتونه د مغزو څخه وباسئ چې د دې څخه وروسته غير شرعي غوښتنې ونه کړئ.

## توضيحات

۱ـ فرعون پورې د مربوطو بحثونو څخه وروسته د ذکر شوو ايتونو څخه نېولې آن تر [۱۷۱] آيت پورې الله ﷻ د بني اسرائيلو پورې مربوط بحثونه نازل کړي دي چې تقريباً نهو بحثونو ته رسېږي.

## د ايتونو ارشاد

۲ـ دا ايتونه مونږ ته ارشاد کوي چې بايد د الله ﷻ د نعمتونو شکريه وکړو چې په ايمان باندې يې مشرف کړي ياستو او د شرکياتو څخه او د شرکي رنګو شيانو څخه خانونه بچ وساتو او هم د دين په باره کښې قرآن او حديث ته مراجعه وکړو او د خلکو روند تقليد ونه کړو.

همدې ته نبي کريم ﷺ په لاندې يو حديث کښې اشاره کړې ده:

يوه ورځې نبي کريم ﷺ د حنين غزا ته روان وه چې يوه ونه ورته مخې ته ورغله چې د "ذات أنواط" په نامه يادېده. په دې ونې پورې به مشرکانو خپلې سلاګانې زوړندولې او په کال کښې به يې يو ځل د دې تعظيم کاوه[۱] نو صحابه کرامو ﷺ د نبي کريم ﷺ څخه وغوښتل چې مونږ ته هم د ذات انواط غوندې يوه ونه وټاکه چې سلاګانې ورپورې زوړندې کړو لکه څنګه چې هغوی ورپورې زوړندې کړې دي (او هم يې تعظيم وکړو).

نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: سبحان الله دا خبره خو داسې ده لکه چې د موسى ﷺ څخه خپل قوم وغوښتل چې مونږ ته هم د بوت پرستانو په شان بوتان ودروه چې عبادت يې وکړو. بيا نبي کريم ﷺ سوګند ياد کړ او ويې فرمايل چې: ﴿لَتَرْكَبُنَّ سُنَّةَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ﴾[۲] ضرور هرومرو به تاسو د هغو خلکو په لاره باندې سواره شئ (ورو خېږئ) کوم چې ستاسو څخه پخوا تير شوي دي.

## بني اسرائيلو ولې د بوتانو ورانديز وکړ؟

۳ـ څرنګه چې بني اسرائيل ډېر کلونه د فرعون د کفري او الحادي دولت لاندې پاتې شوي وه او ډېر کلونه يې د بوتانو عبادت کړی وه نو د دوی په خيال کښې بوت پرستي د هر دين جز ګڼله کېده. دوي دا فکر کاوه چې که بالفرض يو پيغمبر د خپل امت دپاره کوم يو بوت د عبادت دپاره نصب کړي نو هغه به ناجائز کار نه وي او پيغمبران به داسې کارونه هم کوي، العياذ بالله.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۷ ص۲۷۳
(۲) ترمذی شريف ج۲ ص ۴۱

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو د همدې کبله مونږ وايو چې د هغوی وړاندېز د ارتداد د کبله نه بلکې د جهالت د کبله وه. د همدې وجې څخه موسى ﷺ هغوی د ﴿ تَجۡهَلُونَ ﴾ په عوض په "تَكۡفُرُونَ" باندې مخاطب نه کړه چې تاسو کافر قوم یاست".

## يادونه

۴_ د ﴿ بَلَآءٌ ﴾ د کلمې په نعمت او هم په محنت دواړو باندې اطلاق کېږي[1].

په دې مقام کښې که د "ذٰلِكُمۡ" توري نجات ته اشاره وي نو ﴿ بَلَآءٌ ﴾ به د نعمت معنى ورکړي او که د اولادونو وژلو ته اشاره وي نو ﴿ بَلَآءٌ ﴾ به د محنت او امتحان معنى ورکړي، او که د مذکور په تاويل سره دواړو ته اشاره شي نو بيا به د ﴿ بَلَآءٌ ﴾ د کلمې څخه ما يطلق عليه البلاء مراد کړى شي چې نعمت او محنت دواړو ته شامله شي.

د الله ﷻ په توفيق د "عزيز التفاسير" څلورم ټوک په همدې ځای باندې ختم شو، والحمد لله ﷻ.

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۹

Downloaded from: bawarketabtoon.com

# د څلورم ټوک
# محتویات



Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د کفارو موالاة ........ ۶
سوال جواب ........ ۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۷
"دائرة" څه معنی؟ ........ ۸
فتحه او الهي امر څه فرق لري؟ ........ ۹
یادونه ........ ۱۰
یوولس قبیلې مرتدې شوې ........ ۱۳
د بَجَلَه مرتد عجیبه قیصه ........ ۱۳
دوهم خبر هم رښتیا شو ........ ۱۴
سوال جواب ........ ۱۴
سوال جواب ........ ۱۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۵
په دې مقام کښې رکوع څه معنی؟ ........ ۱۵
اهل التشیع څه وایي؟ ........ ۱۶
د اهل التشیع غلطیاوې ........ ۱۷
د "لعب" او "هزو" معناوې ........ ۱۹
توقه تقاله شوه ........ ۱۹
توقه په واقعیت بدله شوه ........ ۱۹
بې تکلفه توجیه ........ ۲۱
د عربیت یوه قاعده ........ ۲۲
سوال جواب ........ ۲۳
د ایتونو ارشاد ........ ۲۳
د "غُلّ" معنی ........ ۲۶
د "يَدُ اللهِ مَغْلُولَةٌ" معنی ........ ۲۶
"غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ" څه معنی؟ ........ ۲۷
یوه عجیبه قیصه ........ ۲۸
سوال جواب ........ ۲۸
یوه ډېره ضروري خبره ........ ۲۹
عداوة او بغضاء څه فرق لري؟ ........ ۳۰
د جنګ اور یعني څه؟ ........ ۳۰
"إقامَة" څه معنی؟ ........ ۳۲
سوال جواب ........ ۳۲
ایا په دینداری سره رزق پراخېږي؟ ........ ۳۲
سوال جواب ........ ۳۳
اقتصاد څه معنی؟ ........ ۳۳
نبي کریم ﷺ خپله دنده انجام کړه ........ ۳۵
روافض دروغ وایي ........ ۳۵
الله ﷻ خپل تضمین پوره کړ ........ ۳۵
سوال جواب ........ ۳۶
قرآن کریم چاته نازل شوی دی؟ ........ ۳۷
د عربیت یو قانون ........ ۳۸
بني اسرائیلو څو کرته د جنایاتو ارتکاب وکړ؟ ۴۰
د عربیت یو قانون ........ ۴۱
په یاد ولرئ ........ ۴۴
صدیق څوک دی؟ ........ ۴۵
د بني اسرائیلو ملعونیت ........ ۴۷
یادونه ........ ۴۸
دلته د کفارو څخه مشرکان مراد دي؟ ........ ۴۸
سوال جواب ........ ۵۰
سوال جواب ........ ۵۱
خو په یاد ولرئ ........ ۵۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۵۲
قسیس څه معنی؟ ........ ۵۲
راهب چاته ویل کېږي؟ ........ ۵۳
د حبشې پاچا په ایمان مشرف شو ........ ۵۶
په یاد ولرئ ........ ۵۷
"فَیض" څه معنی؟ ........ ۵۸
ارشاد ........ ۵۸
شهادت ورکوونکي څوک دي؟ ........ ۵۸
په دې امت کښې رهبانیت مشروع نه دی ........ ۶۰
په یاد ولرئ ........ ۶۱
تحریم څه معنی؟ ........ ۶۱
تبصره ........ ۶۱
اعتداء څه معنی؟ ........ ۶۲
د ایت شریف ارشاد ........ ۶۲
یوه عجیبه قیصه ........ ۶۳

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




قسم خاص د الله ﷻ په نامه ...... ۶۶
چې د الله ﷻ نوم د کنایې په توګه ذکر شي ...۶۶
سوال جواب ...... ۶۶
بو نظیر ...... ۶۷
ایا توریه په قسم کولو کښې څه اثر لري؟ ....۶۷
تبصره ...... ۶۸
ان شاء الله د قسم د انعقاد مخه نیسي ......۶۸
اطعام څه معنی؟ ...... ۶۹
سوال جواب ...... ۷۰
أوسط طعام کوم یو دی؟ ...... ۷۰
په طعام کښې کتغ ضرور نه دی؟ ...... ۷۱
په کومې جامې سره کفاره خلاصېږي؟ ......۷۱
عدم وجدان یعنې څه؟ ...... ۷۱
د کفارې په روژو کښې تتابع شرط ده ......۷۲
د شرابو د تحریم مراحل ...... ۷۴
د شرابو متعلق احادیث ...... ۷۴
انصاب او ازلام څه معنی؟ ...... ۷۴
سوال جواب ...... ۷۵
رجس څه شي ته وايي؟ ...... ۷۵
د شرابخور حد ...... ۷۵
د "طعم" معنی ...... ۷۷
د غلط تاویل یوه قیصه ...... ۷۷
سوال جواب ...... ۷۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۷۹
درې خله (تقوی) ذکره شوه ...... ۷۹
تبصره ...... ۸۰
سوال جواب ...... ۸۰
د ښکار د رانیولو ډولونه ...... ۸۴
"حرم" څه معنی؟ ...... ۸۵
ایا د احرام په جنایت کښې قصد ضرور دی؟...۸۵
سوال جواب ...... ۸۵
د محرم په جزا کښې مثلیت ضرور دی ......۸۶
عَود څه معنی؟ ...... ۸۷
صَید (ښکار) او ډولونه یې ...... ۸۸
بیت الله ته څکه کعبه وايي چې ...... ۹۱
کعبه په پښو باندې دروونکې ده ...... ۹۱
د محرم په لاس ښکار شوی حیوان پلیت دی .۹۲
پاک او ناپاک دواړه برابر نه دي ...... ۹۳
تبصره ...... ۹۵
سوال جواب ...... ۹۵
د لومړۍ جملې تفصیل ...... ۹۷
د دوهمې جملې تفصیل ...... ۹۹
سوال جواب ...... ۱۰۱
د صحابه کرامو ﷺ زمانه او پوښتنې ......۱۰۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۰۲
د دریمې جملې تفصیل ...... ۱۰۳
د پخوانیو قومونو د سوالونو مثالونه ......۱۰۴
د بحیره، سائبه، وصیله او حام تعریفونه ...۱۰۶
سوال جواب ...... ۱۰۷
سوال جواب ...... ۱۰۹
"شهادة" څه معنی؟ ...... ۱۱۴
د شاهد، مقر، مدعي، مدعی علیه او مزکي تعریفونه ...... ۱۱۴
ایا په مسلمان باندې د کافر شهادت صحت لري؟ ...... ۱۱۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۱۶
تبصره ...... ۱۱۶
"حَبس" څه معنی؟ ...... ۱۱۷
سوال جواب ...... ۱۱۷
دلته کوم یو لمونځ مراد دی؟ ...... ۱۱۷
"عُثُور" څه معنی؟ ...... ۱۱۸
سوال جواب ...... ۱۱۸
دوه نحوي تحلیلونه ...... ۱۱۸
سوال جواب ...... ۱۱۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۲۰
د پیغمبرانو استنطاق ...... ۱۲۱


Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوال جواب ........................ ۱۲۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۱۲۲
د دې پوښتنې یو نظیر ............... ۱۲۳
سوال جواب ........................ ۱۲۶
سوال جواب ........................ ۱۲۹
تبصره ............................ ۱۳۰
مائده څه معنی؟ ..................... ۱۳۰
ایا مائده نازله شوه ................... ۱۳۰
د مائدې په باره کښې څه معلومات ....... ۱۳۱
عیسی ﷺ په اسمانونو کښې ژوندی دی .. ۱۳۴
سوال جواب ........................ ۱۳۴
سوال جواب ........................ ۱۳۶
د ټولو نعمتونو څخه لوی نعمت ........... ۱۳۶

الأنعام (٦)

سریزه ............................ ۱۳۸
د دې سورت نوم .................... ۱۳۸
سوال جواب ........................ ۱۳۸
د دې سورت محتویات ................ ۱۳۹
پنځه سورتونه په "الحمد لله" پیل شوي دي. ۱۴۲
خلق او جعل څه فرق لري؟ ............. ۱۴۳
سوال جواب ........................ ۱۴۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۱۴۴
دلته عدل څه معنی؟ .................. ۱۴۴
انسان د ختو څخه جوړ شوی دی ......... ۱۴۵
دلته "اجل" څه معنی؟ ................ ۱۴۶
سوال جواب ........................ ۱۴۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۱۴۷
سوال جواب ........................ ۱۴۹
"قرن" څه معنی؟ ..................... ۱۵۱
سوال جواب ........................ ۱۵۳
د مشرکانو د اسماني کتاب غوښتنه ....... ۱۵۵
د پرښتو د نزول غوښتنه ................ ۱۵۶
د کار فیصله کېدل څه معنی؟ ........... ۱۵۷
د پرښتو لیدل او مرګ څه ارتباط لري؟ ..... ۱۵۸
د پرښتو لیدل اسان کار نه دی ........... ۱۵۹
سوال جواب ........................ ۱۵۹
په احادیثو کښې د الله ﷻ د رحمت تفسیر .. ۱۶۳
د "إلى" کلمه دلته څه معنی؟ ........... ۱۶۳
سوال جواب ........................ ۱۶۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۱۶۴
د "فاطر" معنی او یوه قیصه ............ ۱۶۵
د قیامت د ورځې لوینه کامیابي .......... ۱۶۷
خیر او شر دواړه د الله ﷻ په واک کښې دي ۱۶۷
"قهر" څه معنی؟ .................... ۱۶۸
یو نحوي تحلیل ..................... ۱۷۱
د الله ﷻ د شهادت ډولونه ............. ۱۷۱
د نبي کریم ﷺ رسالت عام دی ........... ۱۷۲
سوال جواب ........................ ۱۷۳
اهل الکتابو نبي کریم ﷺ پېژاند .......... ۱۷۳
ډېر غټ ظالم څوک دی؟ ................ ۱۷۵
سوال جواب ........................ ۱۷۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۱۷۶
په دې مقام کښې "فتنة" څه معنی؟ ....... ۱۷۶
سوال جواب ........................ ۱۷۷
عقلونه یو برابر نه دي ................ ۱۷۹
"أكنّة" څه معنی؟ .................... ۱۷۹
سوال جواب ........................ ۱۸۰
وقوف علی النار څه معنی؟ ............. ۱۸۲
سوال جواب ........................ ۱۸۲
د قیامت په ورځ به څه شی ښکاره شي؟ .... ۱۸۳
سوال جواب ........................ ۱۸۴
د عربیت یوه قاعده .................. ۱۸۴
د "السّاعة" د کلمې معنی .............. ۱۸۶
سوال جواب ........................ ۱۸۶
"وزر" څه معنی؟ .................... ۱۸۷
د "لهو" او "لعب" معناوي .............. ۱۸۷

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوال جواب ........................ ۱۸۸
څو ټکو ته اشاره؟ ................ ۱۹۳
تکذیب څه معنی؟ ................ ۱۹۳
د "کلمات الله" معنی ................ ۱۹۴
سوال جواب ........................ ۱۹۴
دلته د "الموتی" کلمه څه معنی؟ ........ ۱۹۵
سوال جواب ........................ ۱۹۸
"أمة" څه معنی؟ .................... ۱۹۹
انسان او د نورو حیواناتو سره یې مماثلت .. ۱۹۹
دلته کوم یو کتاب مطلب دی ........ ۲۰۰
سوال جواب (افراط او تفریط څه ته وایي؟ .. ۲۰۰
یادونه ........................ ۲۰۲
خاروي هم حشر کېږي ................ ۲۰۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۰۳
د "أرأیتکم" د کلمې تحلیل ........ ۲۰۴
سوال جواب ........................ ۲۰۵
یوه قیصه ........................ ۲۰۵
د "الضراء" او "البأساء" معناوې .... ۲۰۷
"تزیین" څه معنی؟ ................ ۲۰۸
د دې ایت ماثور تفسیر ............ ۲۰۸
سوال جواب ........................ ۲۰۹
د "بغتة" کلمه څه معنی؟ ............ ۲۰۹
"إبلاس" څه شي ته وایي؟ ............ ۲۰۹
دلته د "ختم" معنی ................ ۱۱۲
سوال جواب ........................ ۲۱۳
د "خزائن" معنی؟ .................... ۲۱۵
سوال جواب ........................ ۲۱۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۱۵
د "غیب" دولونه .................... ۲۱۶
یادونه ........................ ۲۱۶
سوال جواب ........................ ۲۱۷
دنیا پرستان فقیري عیب ګڼي ........ ۲۱۹
د "غداة" او "عشي" معناوې ........ ۲۲۱
د نظارو مراعات په کار دي ........ ۲۲۱
تبصره ........................ ۲۲۲
سوال جواب ........................ ۲۲۲
دلته د "سلامٌ علیکم" تفسیر ........ ۲۲۴
ګناهونه په جهالت سره ............ ۲۲۵
د عربیت څو قواعد ................ ۲۲۵
کوم شیان کفارو په عجله سره غوښتل ...... ۲۲۸
سوال جواب ........................ ۲۲۸
د "مفاتح" تحلیل ................ ۲۳۲
په یاذ ولرئ ........................ ۲۳۲
غیب څه معنی؟ .................... ۲۳۳
یادونه ........................ ۲۳۳
سوال جواب ........................ ۲۳۴
یوه عجیبه قیصه ................ ۲۳۵
سوال جواب ........................ ۲۳۵
"کتاب مبین" د کوم کتاب نوم دی؟ ........ ۲۳۶
د "توفي" د کلمې معنی ............ ۲۳۷
فوقیت څه معنی؟ ................ ۲۳۷
حفظه ملائک د کومو ملائکو نوم دی؟ ..... ۲۳۸
سوال جواب ........................ ۲۳۹
د حساب د سرعت معنی ............ ۲۳۹
دلته د "ظلمات" معنی ................ ۲۴۲
"تضرع" څه معنی؟ ................ ۲۴۲
دلته څوک مخاطب دی؟ ............ ۲۴۳
پاسني او لاندېني عذابونه ............ ۲۴۳
دلته ماثور تفسیر ................ ۲۴۴
یادونه ........................ ۲۴۴
د "مستقر" معنی ................ ۲۴۵
سوال جواب ........................ ۲۴۸
پیغمبران او د احکامو هېرېدل ........ ۲۴۹
سوال جواب ........................ ۲۵۰
"ذکری" څه معنی؟ ................ ۲۵۱
د "بسل" معنی ................ ۲۵۱

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د "لهو" او "لعب" معناوې ........................ ۲۵۲
"استهواء" څه معنی؟ ........................ ۲۵۵
د عربیت یو قانون ........................ ۲۵۵
"صُوَرْ" څه معنی؟ ........................ ۲۵۶
څو یادوني ........................ ۲۵۷
د ابراهیم ﷺ په هکله معلومات ........................ ۲۵۹
آزر څوک وه؟ ........................ ۲۵۹
سوال جواب ........................ ۲۵۹
دلته څه تطبیقونه ........................ ۲۶۰
سوال جواب ........................ ۲۶۱
سوال جواب ........................ ۲۶۳
"اِرَاءَة" څه معنی؟ ........................ ۲۶۳
سوال جواب ........................ ۲۶۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۶۴
د ابراهیم ﷺ د استدلالاتو غرض ........................ ۲۶۷
سوال جواب ........................ ۲۶۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۷۰
د عربیت یو قانون ........................ ۲۷۰
د لمر سترګه لویه ده ........................ ۲۷۰
"مُحَاجَة" څه معنی؟ ........................ ۲۷۳
یادونه ........................ ۲۷۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۷۳
په تفسیر یا مصداق د شان نزول اطلاق کول ۲۷۴
سوال جواب ........................ ۲۷۴
نیکه اولاده هم نعمت دی ........................ ۲۷۷
په "مِنْ ذُرِّيَتِهٖ" کښې د ضمیر مرجع ........................ ۲۷۷
سوال جواب ........................ ۲۷۸
عجیبه قیصه ........................ ۲۷۸
درې ضمائر ........................ ۲۷۸
سوال جواب ........................ ۲۷۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۸۰
"اقتداء" څه معنی؟ ........................ ۲۸۰
د عربیت یو قانون ........................ ۲۸۱
د الله ﷻ د شان سره مناسب تعظیم ........................ ۲۸۵
سوالونه او جوابونه ........................ ۲۸۵
"مبارک" څه معنی؟ ........................ ۲۸۷
"أُمُّ الْقُرَىٰ" د کوم ځای نوم دی؟ ........................ ۲۸۸
د عبد الله بن سعد بن ابي السرح قیصه ........................ ۲۹۲
د "غَمَرَات" معنی ........................ ۲۹۳
سوال جواب ........................ ۲۹۳
د "فُرَادَىٰ" کلمه څه معنی؟ ........................ ۲۹۴
سوال جواب ........................ ۲۹۵
شپږ دلایل ........................ ۲۹۷
د "فَلَق، حَب، نَوَىٰ" معناوې ........................ ۲۹۷
یادونه ........................ ۲۹۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۲۹۸
سوال جواب ........................ ۲۹۸
"حُسْبَان" څه معنی؟ ........................ ۲۹۹
د ستورو ګټې ........................ ۳۰۲
په یاد ولرئ ........................ ۳۰۲
ایا د علم النجوم زده کړه جواز لري؟ ........................ ۳۰۲
مستقر او مستودع څه معنی؟ ........................ ۳۰۳
تبصره ........................ ۳۰۴
سوال جواب ........................ ۳۰۵
د کجورې نومونه ........................ ۳۰۵
د عربیت یو قانون ........................ ۳۰۶
متشابه او غیر متشابه څه معنی؟ ........................ ۳۰۶
سوال جواب ........................ ۳۰۹
د "زندیق" د کلمې تحلیل ........................ ۳۱۰
"خرق" څه معنی؟ ........................ ۳۱۱
په جنت کښې د الله ﷻ دیدار حق دی ........................ ۳۱۱
د "لطیف" معنی ........................ ۳۱۳
"بصائر" څه معنی؟ ........................ ۳۱۵
د عربیت یوه قاعده ........................ ۳۱۵
د ایت شریف ارشاد ........................ ۳۱۷
سوال جواب ........................ ۳۱۸

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




یوه عجیبه قیصه ..................................... ۳۱۸
یادونه ..................................... ۳۱۸
"جهد" څه معنی؟ ..................................... ۳۲۱
سوال جواب ..................................... ۳۲۱
د "تقلیب" معنی ..................................... ۳۲۲
قلب او فؤاد څه فرق لري؟ ..................................... ۳۲۲
سوال جواب ..................................... ۳۲۳
د "قُبُلاً" د کلمې معنی ..................................... ۳۲۵
یادونه ..................................... ۳۲۵
د نورو په اشتراک سره غم سپکېږي ..................................... ۳۲۷
شیاطین الجن والانس څوک دي؟ ..................................... ۳۲۸
تبصره ..................................... ۳۲۹
"وحي" څه معنی؟ ..................................... ۳۲۹
د "زخرف" او "اقتراف" معناوې ..................................... ۳۳۰
د "الحَکَم" او "الحَاکم" معناوې ..................................... ۳۳۲
زوړ وراندیز بیا تازه شو ..................................... ۳۳۲
"تمام" څه معنی؟ ..................................... ۳۳۳
سوال جواب ..................................... ۳۳۳
د خلکو اکثریت بې لارې دی ..................................... ۳۳۴
سوال جواب ..................................... ۳۳۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..................................... ۳۳۸
یادونه ..................................... ۳۳۸
ظاهري او باطني ګناهونه ..................................... ۳۳۹
په ذبحه کښې د الله ﷻ نوم ..................................... ۳۳۹
سوال جواب ..................................... ۳۴۰
دلته د "اکبَر" او "أرذَل" معناوې ..................................... ۳۴۲
یو نحوي تحلیل ..................................... ۳۴۲
د مشرکانو حالت ..................................... ۳۴۵
سوال جواب ..................................... ۳۴۵
"صغار" څه معنی؟ ..................................... ۳۴۶
د "حرج" مُغْنی ..................................... ۳۴۶
دار السلام د جنت نوم دی ..................................... ۳۴۷
د "مَعشَر" د کلمې معنی ..................................... ۳۴۹
"استکثار" څه معنی؟ ..................................... ۳۴۹
سوال جواب ..................................... ۳۴۹
تبصره ..................................... ۳۵۰
کافران به په دوزخ کښې همېشه وي ..................................... ۳۵۱
"تولیَه" څه معنی؟ ..................................... ۳۵۲
ایا په پیریانو کښې پیغمبر تېر شوی دی؟ .. ۳۵۵
تبصره ..................................... ۳۵۶
یادونه ..................................... ۳۵۶
د "ظُلم" د کلمې دوه تفسیرونه ..................................... ۳۵۶
یادونه ..................................... ۳۵۷
دلته د "قَوۡمٍ آخَرِینَ" څخه څوک مطلب دی؟ ۳۵۷
څو نکات ..................................... ۳۵۸
د یوه کفر په داخل کښې بل کفر ..................................... ۳۶۰
د "شُرَکَائِهِمْ" معنی ..................................... ۳۶۱
د اولاد وژنې وجوهات ..................................... ۳۶۱
سوال جواب ..................................... ۳۶۲
دوه ډوله تفسیر ..................................... ۳۶۴
"ما في البطن" څه معنی؟ ..................................... ۳۶۵
سوال جواب ..................................... ۳۶۵
د "مَعْرُوشَات" او "غَیرَ مَعْرُوشَات" معناوې ..... ۳۷۰
"حَصَاد" څه معنی؟ ..................................... ۳۷۰
د ځمکنیو حاصلاتو زکات ..................................... ۳۷۱
سوال جواب ..................................... ۳۷۲
اسراف څه معنی؟ ..................................... ۳۷۲
د "حَمُولَة" او "فَرْشًا" معناوې ..................................... ۳۷۳
دلته د "زَوْج" معنی ..................................... ۳۷۴
سوال جواب ..................................... ۳۷۴
د "أُوحِيَ إِلَيَّ" د نزول حکمت ..................................... ۳۷۸
سوال جواب ..................................... ۳۷۸
یادونه ..................................... ۳۷۸
"حَوَایَا" څه معنی؟ ..................................... ۳۷۹
یادونه ..................................... ۳۷۹


Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




یوه معجزه ........ ۳۸۲
سوال جواب ........ ۳۸۲
یوه عجیبه قیصه ........ ۳۸۳
د "تَعَالَ" معنی ........ ۳۸۷
سوال جواب ........ ۳۸۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۳۸۷
سوال جواب ........ ۳۸۸
"املاق" څه معنی؟ ........ ۳۸۸
ظاهري او باطني ګناهونه ........ ۳۸۸
د "أَشُدَّهُ" د کلمې معنی ........ ۳۸۹
د دې ایت ارشاد ........ ۳۸۹
سوال جواب ........ ۳۹۲
"عَلَى الَّذِي أَحْسَنَ" څه معنی؟ ........ ۳۹۲
یادونه ........ ۳۹۳
دلته کومې پرښتې مرادې دي؟ ........ ۳۹۵
ایا د "اتیان" نسبت الله ﷻ ته صحت لري؟ .. ۳۹۶
د قیامت په کومې علامې سره د توبې دروازه بندېږي؟ ........ ۳۹۶
سوال جواب ........ ۳۹۸
د مغرب څخه د لمر د راختلو په اړوند څو ټکي ........ ۳۹۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۳۹۹
سوال جواب ........ ۳۹۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۳۹۹
متفرقې ډلې ........ ۴۰۱
د حسناتو چندونه ........ ۴۰۱
یادونه ........ ۴۰۲
د "نُسُكَ" د کلمې معنی ........ ۴۰۵
سوال جواب ........ ۴۰۶
یادونه ........ ۴۰۶


## الأعراف (۲)


سریزه ........ ۴۰۸
د "حرج" د کلمې تفسیر ........ ۴۱۱
سوال جواب ........ ۴۱۲
لږ وخت تذکر څه معنی؟ ........ ۴۱۲
سوال جواب ........ ۴۱۵
"قَيْلُولَة" څه معنی؟ ........ ۴۱۵
سوال جواب ........ ۴۱۶
یادونه ........ ۴۱۶
د محشر د میدان تله حقه ده ........ ۴۱۶
هغه څنګه تله ده؟ ........ ۴۱۷
د قیامت په ورځ څه شی تلل کېږي؟ ........ ۴۱۸
تبصره ........ ۴۲۰
سوال جواب ........ ۴۲۱
په وزن کښې څه حکمت دی؟ ........ ۴۲۱
"مَعَايِش" څه معنی؟ ........ ۴۲۱
د "ثُمَّ" کلمه د ذکري تراخي دپاره ده ........ ۴۲۵
سوال جواب ........ ۴۲۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۲۶
یو تذکر ........ ۴۲۶
یادونه ........ ۴۲۶
د دې ایت ارشاد ........ ۴۲۷
د مرګ څخه بچ کېدل غواړي ........ ۴۲۸
د شیطان شپږ لارې ........ ۴۲۸
په جنت کښې د آدم ﷺ او حواء رضي الله عنها مثال ۴۳۲
سوال جواب ........ ۴۳۲
ابلیس خپله نقشه پیاده کړه ........ ۴۳۳
سوال جواب ........ ۴۳۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۴۳۴
په "اهْبِطُوا" کښې څوک مخاطب دي؟ ........ ۴۳۶
آدم ﷺ کوم شیان د خانه سره راکوز کړي؟ . ۴۳۶
د آدم ﷺ او ابلیس د امتحان څرګند فرقونه ۴۳۶
خپل عورت پټول فطري شی دی ........ ۴۳۸
سوال جواب ........ ۴۳۸
"رِيش" څه معنی؟ ........ ۴۳۹
"لِبَاسُ التَّقْوَى" د څه شي نوم دی؟ ........ ۴۳۹


Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د قبلة معنی ........................... ۴۴۳
سوال جواب ........................... ۴۴۴
یو ایت په بل ایت سره تفسیر شوی دی ...... ۴۴۵
یادونه ........................... ۴۴۵
"مسجد" څه معنی؟ ........................... ۴۴۶
مشرکانو د دې کبله په بربنډه طوافونه کول ۴۴۸
"زینة" څه معنی؟ ........................... ۴۴۹
په بربنډه لمونځ کول جائز نه دي ........... ۴۴۹
سوال جواب ........................... ۴۴۹
"اسراف" وپېژنئ ........................... ۴۵۰
یوه لنډکی قیصه ........................... ۴۵۱
دنیاوي نعمتونه ........................... ۴۵۴
اجل څه معنی؟ ........................... ۴۵۴
سوال جواب ........................... ۴۵۵
د "أمّا" د کلمې تحلیل ........................... ۴۵۶
سوال جواب ........................... ۴۵۶
یادونه ........................... ۴۵۷
په دې مقام کښې (نصیب) څه معنی؟ ....... ۴۵۸
سوال جواب ........................... ۴۵۹
دلته د "أمّة" معنی ........................... ۴۶۲
اولنۍ ډله او وروستنۍ ډله ........................... ۴۶۲
"ضعف" څه معنی؟ ........................... ۴۶۳
د "لِکُلٍّ ضِعۡفٌ" معنی ........................... ۴۶۳
د کفارو دپاره د جنت دروازې نه بېرته کېږي ۴۶۵
کفار اسمان ته نه شي ختلی ........................... ۵۶۶
سوال جواب ........................... ۴۶۶
د "الۡجَمَل" معنی ........................... ۴۶۶
د "غِلّ" د کلمې معنی ........................... ۴۶۸
یادونه ........................... ۴۶۹
سوال جواب ........................... ۴۶۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................... ۴۶۹
ماثور تفسیر ........................... ۴۷۰
"الأعۡرَاف" معنی ........................... ۴۷۳
ایا "حجاب" او "سور" یو شی دی؟ ........... ۴۷۳
اهل الاعراف څوک دي؟ ........................... ۴۷۴
یادونه ........................... ۴۷۴
د "سیمې" د کلمې د تحلیل ........................... ۴۷۴
سوال جواب ........................... ۴۷۵
د اهل الاعراف عاقبت ........................... ۴۷۵
د لرې مسافې څخه لیدل او خبرې کول ...... ۴۷۷
د انتظار او تاویل معناوې ........................... ۴۷۹
د "أیّام" معنی ........................... ۴۸۱
سوال جواب ........................... ۴۸۲
د "اسۡتَوَىٰ عَلَى الۡعَرۡشِ" معنی ........................... ۴۸۳
"اسۡتَوَىٰ" څه معنی؟ ........................... ۴۸۴
اوله طریقه (ترکیبي معنی) ........................... ۴۸۴
سوال جواب ........................... ۴۸۵
دوهمه طریقه (افرادي معنی) ........................... ۴۸۶
سوال جواب ........................... ۴۸۷
یوه خوندوره قیصه ........................... ۴۸۸
د پایې تبصره ........................... ۴۸۸
"حَثِیث" څه معنی؟ ........................... ۴۸۹
د "ادۡعُوا" معنی ........................... ۴۹۱
په دعاء کښې جهر بهتر دی او که خفیه؟ ... ۴۹۱
یادونه ........................... ۴۹۲
ایمان د خوف او رجاء ترمنځ دی ........................... ۴۹۳
سوال جواب ........................... ۴۹۳
دلته د "رحمت" معنی ........................... ۴۹۶
"اقلال" څه معنی؟ ........................... ۴۹۶
د "نَکِدًا" معنی ........................... ۴۹۷
یادونه ........................... ۴۹۷
د بوت پرستۍ منشا ........................... ۵۰۱
نوح ﷺ لومړنی رسول دی ........................... ۵۰۱
مهترلام څوک وه؟ ........................... ۵۰۲
سوال جواب ........................... ۵۰۲
په بېړۍ کښې څومره خلکو نجات وموند ... ۵۰۲

Downloaded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوال جواب ..................... ۵۰۵
د نوح ﷺ په اولاده کښې بوت پرستي ..... ۵۰۸
عادیان جسیم خلک وه ..................... ۵۰۹
تبصره ..................... ۵۰۹
دونه ..................... ۵۱۰
آلاء د کلمې تحلیل ..................... ۵۱۰
یادونه ..................... ۵۱۰
د صالح ﷺ د معجزانه اوښې څه معلومات ۵۱۴
ابو رغال څوک وه؟ ..................... ۵۱۵
ثمودیان په څه ډول عذاب هلاک شوه؟ ..... ۵۱۶
تبصره ..................... ۵۱۶
یاد ولرئ ..................... ۵۱۶
لوط ﷺ د قوم بد عمل ..................... ۵۱۹
سبحان الله ..................... ۵۱۹
د لوط ﷺ د قوم د بد عمل څه جزا ده؟ ..... ۵۲۰
لوط ﷺ په کوم ځای کښې ښخ شوی دی؟ .. ۵۲۰
"مَدین" د کوم ښار نوم دی؟ ..................... ۵۲۲
"بَیِّنَة" څه معنی؟ ..................... ۵۲۳
په لاره کښې کښناستل ..................... ۵۶۳
"عَوج" څه معنی؟ ..................... ۵۲۷
سوال جواب ..................... ۵۲۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..................... ۵۲۸
د شعیب ﷺ قوم په کوم عذاب هلاک شو .. ۵۲۹
"غنی" څه معنی؟ ..................... ۵۳۰
یادونه ..................... ۵۳۰
خطیب الانبیاء څوک دی؟ ..................... ۵۳۰
"عفو" څه معنی؟ ..................... ۵۳۲
بې برکته مال وپېژنئ ..................... ۵۳۳
ایمان د خوف او رجاء ترمنځ دی ..................... ۴۳۶
د عربیت یو تحلیل ..................... ۵۳۷
سوال جواب ..................... ۵۳۸
دلته کوم عهد مراد دی؟ ..................... ۵۳۸
د "حقیق" معنی ..................... ۵۴۰
د فرعون څخه د دوه وو شیانو غوښتنه ..... ۵۴۰
مصر ته بني اسرائیل څه وخت ورغلي وه؟ .. ۵۴۱
د موسی ﷺ د ژوند څو مراحل ..................... ۵۴۱
د موسی ﷺ څخه فرعون ولې وډار شو؟ ... ۵۴۳
د ېر خطري شی وپېژنئ ..................... ۵۴۴
یادونې ..................... ۵۴۴
یو صرفي تحلیل ..................... ۵۴۴
د جادوګرانو ټول تعداد ..................... ۵۴۷
ثعبان د کوم مار نوم دی؟ ..................... ۵۴۸
سوال جواب ..................... ۵۴۸
ایا د ساحرانو څخه پرته بل چا ایمان راووړ؟ ۵۴۹
ساحرانو فرصت ونه موند ..................... ۵۵۲
ایا ساحران شهیدان کړی شوه؟ ..................... ۵۵۲
یوه عجیبه اشاره ..................... ۵۵۳
یادونه ..................... ۵۵۳
سوال جواب ..................... ۵۵۴
بني اسرائیلو ته د ځمکې د خلافت وعده ... ۵۵۶
یو صرفي تحلیل ..................... ۵۵۹
د فرعونیانو بدفالي ..................... ۵۵۹
د موسی ﷺ نهه معجزات ..................... ۵۶۱
د معجزاتو تفصیل څه معنی؟ ..................... ۵۶۲
تبصره ..................... ۵۶۲
"بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ" څه معنی؟ ..................... ۵۶۳
یادونه ..................... ۵۶۳
د فرعون څخه د موسی ﷺ غوښتنې ..... ۵۶۴
"یَم" څه معنی؟ ..................... ۵۶۶
دلته کومه ځمکه مطلب ده؟ ..................... ۵۶۶
د ایتونو ارشاد ..................... ۵۶۹
بني اسرائیلو ولې د بوتانو ورانديز وکړ؟ .... ۵۶۹
یادونه ..................... ۵۷۰

Downloded from: bawarketabtoon.com

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

Downloaded from: bawarketabtoon.com